بسم الله الرحمن الرحیم

مظاهر حق جدید

کندهاري پښتو

د مشکوة المصابیح پښتو شرحه

تالیف:

علامه نواب محمد قطب الدین خان دهلوی رحمه الله

ژباړه او ترتیب:

مولانا عبدالله جاوید غازي پوري

الفاضل دارالعلوم [illegible]

صداقت کتب خانه


ورګ بازار کندهار افغانستان



مظاهر حق جدید

د مشکٰوة المصابیح پښتو شرحه

لومړی جلد



تالیف:

علامه نواب محمد قطب الدین خان دهلوي رحمة الله علیه

تزئین او ترتیب:

مولانا عبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دارالعلوم دیوبند)

صداقت کتب خانه - کندهار

د کتاب پېژندنه

❁ د کتاب نوم	: مظاهر حق (د مشکواة المصابیح پښتو شرحه)
❁ تالیف	: علامه نواب محمد قطب الدین خان دهلوي رحمه الله علیه
❁ ترتیب او تزئین	: مولانا عبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دیوبند)
❁ تصحیح	: بسم الله رحیمي، مولوي عبدالکریم کریمي، مولوي عبدالجبار او محمد رسول سعید
❁ خپرندوی	: صداقت کتب خانه/ کندهار
❁ جلد	: اول
❁ کمپوزر	: محمد رسول سعید
❁ ډیزاین	: صداقت د کتاب چاپولو اداره
❁ چاپ کال	: ۱۳۹۲ ش - ۲۰۱٤ ع
❁ د چاپ شمېر	: ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو پته:

صداقت کتب خانه

ارگ بازار، کندهار - افغانستان

تلیفون: ۰۷۰۰۳۰۵٤۰۷

ایمېل ادرس: sadaqat.books@gmail.com

په هلمند کې د کتاب د تر لاسه کولو ځای:

تاج منور کتاب او قرطاسیه- لښکرگاه

انصاف مارکېټ د زاړه مرکزي ماموریت پر مخامخ

اسدالله نېکزاد

ټلیفون: ۰۷۰٤۱۲٤۲۸

د مظاهر حق اول جلد فهرست

مقدمه

د حضرت مولانا محمد سالم قاسمي شيخ الحديث دار العلوم ديوبند مقدمه

بسم الله الرحمن الرحيم

دا يو تاريخي حقيقت دى چي د حديثو د علم پر قواعدو برابر ترتيب او تدوين درسول كريم ﷺ په زمانه كي نه دى سوى، حال دا چي ددې پر خلاف د قرآن كريم پر قواعدو برابر ترتيب او تدوين او كتابت په خپله درسول الله ﷺ په حكم كيدى چي دهغه وجه ددې څخه پرته بل هيڅ نه وه چي قرآن كريم د الفاظ او معنى دواړو په اعتبار د حق تعالى جل شانه نازل سوى فرمان دى، د نوموړي ددې كتابت په توګه توجه كولو وجه هم داده چي ددې د اعجازي الفاظو بدل يا مترادف (يوه معنى درلودونكي الفاظ) راوړل د انساني طاقت څخه وتلې خبره ده، ارشاد دى:

نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الأَمِينُ عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ .

(سورة الشعراء: ۱۹۳، ۱۹۴)

ژباړه: (دا قرآن) امانتداره ملائكي جبرائيل ؑ راوړى ستا پر زړه باندي دپاره ددې چي ته سې د بيرونكو څخه.

يا ارشاد دى:

إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ .

(سورة القيامة: ۱۷...۱۹)

ژباړه: بيله شكه ددې را يو ځاى كول او تا ته لوستل زموږ كار دى نو چي موږ يې (تا ته) ولولو ته د هغه پيروي كوه بيا د هغه بيانول هم زموږ پر ذمه دي.

او حديث د رسول ﷺ كلام دى، كه څه هم د معنى په اعتبار هغه هم له طرفه د الله تعالى دى لكه څرنګه چي خپله صريح آيت پر دې شاهد دى:

وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ يُوحَى

ژباړه: او هغه د خپل ځانه خبري نه جوړوي، د هغه هره خبره يوه وحي ده چي ورته لېږل سوې ده.

او يا حضرت عبد الله بن عمر ؓ فرمايي چي ما به د نبوت د ژبي مباركي څخه يو شى اوريدى نو هغه به مي سمدستي ليكى او دا ليكل به د لوستلو لپاره وه، مګر ځينو قريشو زه ددې څخه

منعه کړم او ویل یې چي رسول الله ﷺ بشر دی، نو موږ ډیري خبري د رضا په حالت کي فرمایي او ډیري خبري د غضب په حالت کي هم فرمایي ، مګر سبا به دا ټولي خبري په دین کي شمیرل کیږي ځکه نو لیکل یې مناسب نه دي، ابن عمر ﷺ فرمایي ، ددې په اوېدو سره ما لیکل بند کړل او ددې خبري ذکر مي د رسول الله ﷺ په خدمت کي عرض کړه نو رسول الله ﷺ خپلي خولې مبارکي ته په اشاره کولو سره وَفرمایل چي قسم دی په هغه ذات چي د هغه په واک کي زما ساه ده ددې خولې څخه هیڅ خبره په هیڅ حال کي د حق خلاف نسي وتلای، دوهم شی دا هم وو چي عرب قوم د خپل ذکاوت او ذهانت په وجه چي د کوم نړیوال امتیاز خاوند وه په دې کي د هغوئ د برابري هیڅ قوم دعوه کونکی هم پیدا نه سو ، هر شی په اورېدو سره بعینه محفوظ کول د نسلونو څخه را روان وو ځکه قوت د حفظ ، فصاحت او بلاغت او ذهني بدلون یې ډېر زیات سوی وه ځکه د هغه زمانې د لحاظ څخه قوت حافظه باندي باور دنن د حفظ پر بې باوری باندي قیاس کړل سي نو دې ته عقل ته نژدې نه سي ویل کیدای، ددغه وجهي څخه په لومړنیو قومونو کي د رسول الله ﷺ د اقوالو او کارونو د ژور تحقیق او تلاش د علم مجلس یو بنیادي رکن ګرځېدلی وو.

د رواة حدیث حال د صحابه او تابعینو په زمانه کي څومره په خپله د رواة اهل شهر ته معلوم وو نورو ته ددې درجه واقفیت وسائل میسر نه وه ، او بیا په روایت کونکو کي حجازي هم وه ، شامي هم وه، عراقي هم وه او مصري هم وه ، مګر د اختلاف مساکن سربیره په هغوئ کي د هر یوه شمیر په اعیان کي کیدی .

په دې باب کي د محدثینو په نزد په حجازي اسناد د کوم اهمیت او اعتماد خاوند ګڼل سوي دي هغه بهر لحاظ د نل اسناد څخه ممتاز دي ، امام مالک رحمة الله علیه تر ټولو مخکي حجازي اسناد ته بنیادي اهمیت ورکولو سره پر احکام شرعیه باندي مشتمل حدیثونه تدوین او ترتیب سره جمع کړل چي د مؤطا امام مالک په نامه سره مشهور دی، بیا د امام المحدثین محمد بن اسماعیل بخاري دور راغلی هغوئ د خپل سختو شرطونو لګولو سره نه یوازي حجازي، عراقي او د شامي اسنادو ټول روایتونو اخیستلو سره د علم حدیث لمني ته غیر معمولي پراختیا ورکړه بلکه د سیرت او تاریخ، اخلاقیات، عقائد او عبادات، معاملات، عقوبات، تعبیر خواب، تفسیر او قرائیت وغیره پر هر موضوع باندي جمع کړل سوي روایتونه د خپل جمع لپاره وجه امتیاز جوړ کړل او د ټولو عنوانونو لپاره یې ځانګړي بابونه قائم کړل او نن

ورځ دا کتاب اصح الکتاب بعد کتاب الله ګڼل کیږي .

امام مسلم رحمة الله علیه هم د بخاري رحمة الله علیه پر نقش قدم روان سو ، البته په شرائط قبول کي د امام بخاري رحمة الله علیه په مقابله کي في الجمله تسهل او تکرار حذف کولو سره مختلف اسناد یې یو ځای راجمع کړل دا حسن ترتیب دومره مقبول سو چي ځینو حضراتو ددې حسن ترتیب په وجه مسلم ته پر بخاري ترجیح ورکړې وه ، مګر واقعه داده چي د صحت اسناد او متنوع عنوانونو او جامعیت په لحاظ سره بخاري پر مسلم ډیر فائق دی .

په دریم دور کي د علم حدیث په ممتازو خاوندانو کي کي ابوداؤد سجستاني رحمة الله علیه ، ابوعیسی ترمذي رحمة الله علیه او ابوعبدالرحمن نسائي رحمة الله علیه په لومړي صف کي شمیرل کیږي ، دې حضراتو د بخاري او مسلم په نسبت په تنقید او اسناد کي تشدد ډیر کم دی مګر ددې سربیره په دوئ کي هیڅ یو متروک العمل حدیث په خپل مصنفاتو کي هیڅکله نه دی راوړی .

دا شپږ کتابونه دي یعني صحیح بخاري، صحیح مسلم، ترمذي، ابوداؤد، مؤطا امام مالک او نسائي ، چي د علم حدیث په بنیادي او اصل کتابونو کي شمیرل کیږي ، او په طبقات اهل علم کي د صحاح ستة په نامه مشهور دي ، اود ځینو حضراتو په نزد د مؤطا امام مالک پر ځای ابن ماجه په صحاح ستة کي شمیرل کیږي .

صاحب د مشکوة علامه ولي الدین ابوعبدالله محمد ابن عبدالخطیب تبریزي رحمة الله علیه په (۷۳۷ھ) کال کي په صحاح ستة او نورو مشهور کتابونو کي چي کوم حدیثونه قابل اسناد او قابل اعتماد ګڼل سوي دي هغه یې په خپل کتاب کي په جمع کولو سره امت ته د یوه غوره علمي تحفې د استفادې موقع ورکړل، د مشکوة المصابیح د لومړنۍ زمانې څخه تر نن ورځي پوري د مقبول او متداول کېدل د مصنف د ښه اخلاقي ښکاره دلیل دی، د هندوستان په حدودو کي یو اوږد وخت هم تیر سوی دی چي دلته مدار علم حدیث یوازي پر مشکوة المصابیح او مشارق الانوار ګڼل سوي دي ، حجة الاسلام حضرت مولانا شاه ولي الله الدهلوي رحمة الله علیه چي د علم حدیث اشاعت ته توجه وفرمایل ، ارباب علم ته نور عظیم کتابونه پر حدیثو باندي اطلاع وسوه نو د هغه وخت څخه د صحاح ستة څخه وروسته د مشکوة شریف ثانوي مقام پیدا سو مګر ددې سربیره ددې درسي اهمیت هیڅکله نظر انداز نه کړل سو ، نن هم هر کله چي صحاح ستة او نور بې شمیره د علم حدیث کتابونه په هیواد کي عام دي د مشکوة د

افادیت څخه ناقابل انکار دي، دغه عامې افادې د هر دور ارباب علم ددې کتاب په خدمت مجبور کړل ، ملاعلي قاري رحمة الله علیه مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح ، شیخ عبدالحق محدث دهلوي شرح مشکوة فارسي، او لمعات تنقیح شرح مشکوة عربي ، علامه حسین ابن محمد بن عبدالله الطیبي طیبي شرح د مشکوة، او مظاهر حق شرح مشکوة (اردو) مؤلف نواب قطب الدین خان دهلوي شاګرد د شاه محمد اسحاق صاحب دهلوي د حضرت شاه عبدالعزیز دهلوي لمسی، متن مشکوة مع ترجمه لیکلو سره د شیخ عبدالحق محدث دهلوي ، شرح مشکوة خلاصه په اردو ژبه کي ولیکل، چي د هغه دور اردو ویونکو حضراتو لپاره افادیت د هغه وخت څخه تر ننه پوري ناقابل انکار دی ، د ژبي او بیان قدامت هم ډیر وخت افادیت کمزوری او نن ورځ هر کله چي ددین او علم دین څخه مخالف قوتونه د خپل قهرمان قوتونو سره مسلط دي نو داهل نظر په نظر کي د داسي خدمتونو ارزښت دوه برابر کیږي او هغوئ په دې کوښښ کي دي چي ددین حقیقتونه د وخت د هغه وسائلو په ذریعه د امت ذهن ته نژدې کړي چي هغه په یو څه نه په یو څه درجه د عوامو ذهن خپل کړی دی او په حقیقت کي د دین د خادمانو د دې جذبې د حالاتو او وخت پر خلاف د هغوئ ناقابل انکار او قابل صد هزار تعجب عظیم خدمات سرته رسولي دي، دغه کار باعث د خوشحالۍ دی چي ځوان عزیز مولانا عبدالله جاوید غازي پوري فاضل دیوبند یو ډیر لوی او عوامي علمي او دیني خدمت د احساس سره سم (مظاهر حق) ترجمه او شرح مشکوة د وخت په صافه او سلیس ژبه کي د وړاندي کولو اراده کړې ده ، الله تعالی دي د هغوئ عزم او همت کي برکت واچوي او د هغوئ دا خدمت دي قبول او مقبول کړي . آمین .

احقر

محمد سالم

مدرس دارالعلوم و ناظم اداره تاج المعارف دیوبند

بسم الله الرحمن الرحيم

(دمظاهر حق د مصنف دیباجه د برکت دپاره د هغه په ژبه کي ګنلای سی)

الحمدلله الذي ارسل رسوله الكريم ليهدينا الى الصراط المستقيم وصلى الله تعالى عليه وعلى آله واصحابه اجمعين.

وروسته تر دې! محمد قطب الدین شاه جهان آبادي صاحب عرض کوي چي مشکوة شریف د حدیثو په علم کي یو عجیب او ګټور کتاب دی چي د هر مضمون حدیثونه په دې کي ګډون لري، ددې ژباړه زما استاد حضرت حاجي محمد اسحاق نواسه او حضرت شیخ عبدالعزیز رحمهما الله تعالی په هندي ژبه کي بین السطور (تحت لفظي) لیکلې وه. مګر د لیکوالانو څخه د هغې په صحیح والي کي فرق راغلی، د محترم خوښه دا وه که دا د شرح په ډول ولیکل سي نو غوره به وي ځکه د هغه ژباړه د عربي عبارت څخه بیل کړه او وه یې لیکله او د لنډي فائدې په مناسب ځای کي د مشکوة د شروحو څخه په مثال د مرقات شرح ملا علي قاري او ترجمه دشیخ عبدالحق او حاشیه د جمال الدین رحمة الله عليه او د دوئ څخه پرته د زیاتوب په اړه مي د دوئ په خدمت کي عرض وکړ او نوموړي هم یو څه فائدې لیکلي وې د تبرک له کبله مي هغه هم پکښي ګډي کړې او ددې نوم مي (مظاهر حق) کښېښودی چي په دې کي تاریخ ددې راووزي.

اې الله! ته دا قبول کړې او موږ ټول ددې څخه په دارین کي ګټور کړې او سند ددې کتاب دادی چي دغه کتاب اضعف العباد محمد قطب الدین بن محي الدین احراري الدهلوي عزلله لهما د حضرت مخدومي معظمي مکرمي مولوي محمد اسحاق څخه او هغوئ د حضرت شیخ عبدالعزیز څخه وروایه او هغوئ ته د حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي څخه اجازه ده او هغوئ ته د شیخ ابوطاهر مدني رحمة الله عليه او هغوئ ته د شیخ ابراهیم کردي څخه او هغوئ ته د شیخ احمد قشاتسي څخه او هغوئ ته د شیخ احمد بن القدوس شنادي څخه او هغوئ ته د سید غضنفر بن سید جعفرنهرواني څخه او هغوئ ته د شیخ محمد سعید معروف بیمرکلان څخه چي په خپل وخت کي شیخ مکه وو او هغوئ ته د سید نسیم الدین میرک شاه څخه او هغوئ ته د خپل پلار سید جمال الدین عطاء الله بن سید غیاث الدین فضل الله بن سید عبد الرحمن او هغوئ ته د خپل اکا سید اصیل الدین عبدالله بن عبدالرحمن بن عبداللطیف بن جلال الدین یحیی

شیرازي الحسني ثخه او هغوئ ته د مسند وخت او محدث عصر شرف الدين عبدالرحيم الجرهني الصديقي او هغوئ ته د علامه عصر امام الدين مبارک شاه سادجي صديقي او هغوئ ته د مؤلف کتاب ولي الدين محمد عبدالله الخطيب التبريزي ثخه.

اي الله! ما او دوئ ټول و بخښې او زموږ خطاوي معاف کړې. آمين.

حسبنا الله ونعم الوكيل على الله توكلنا لاحول ولاقوة الا بالله العلى العظيم، اللهم صل على سيدنا محمد وآله واصحابه صلوة تنجينا بها من جميع الاهوال والافات وتقضي لنا بها جميع الحاجات وتطهرنا بها من جميع السيئات وترفعنا بها عندك اعلى الدرجات وتبلغنا بها اقصى الغايات من جيمع الخيرات في الحيوة و بعد اللمات ،انک على كل شئ قدير ۞.

د حديث ديني او تشريعي حيثيت او ارزښت

نبي کريم ﷺ د الله تعالی ﷻ رالیږل سوی آخري پيغمبر او رسول دی، هغوئ د الله تعالی په حکم سره د نړۍ خلک د توحيد، الله پرستی، او د ايمان او يقين دلاري څخه خبر کړل، د رسول الله ﷺ بعثت په داسي وخت کي وسو چي د دنيا څخه د الله عبادت پورته سوی وو او د بتانو د بندګۍ دور پيل وو، د الله ﷻ د بندګۍ پر ځای د تراشل سوو ډبرو په وړاندي د عزتمند انسان سر کښته کيدی، د ښه خبرو په پرېښودو سره خلک په فسق او فجور کي اخته وه، د ښه اخلاقو او نيکۍ پر ځای د ظلم او فساد دور وو، د سلوک او احسان د ظلم په وړاندي زنګنونه کښته کړې وه.

په داسي نازک او سخت وخت کي الله تعالی ﷻ رسول الله ﷺ د خپل کتاب قرآن مجيد سره د دنيا د هدايت لپاره راوليږی، رسول الله ﷺ د قرآن کريم د همیشنی رڼا سره خلکو ته صحيح لار وښودل د هغه په تعليماتو سره يې د کفر اوشرک د سرکښانو سرونه د يوه الله ﷻ په وړاندي کښته کړل، فسق او فجور يې له منځه يوړ، انسانان يې د اخلاق او احسان د ظلم او سختۍ عادي انسانان يې د نه ختمېدونکي آمن، صلحي او ميني په ګلزار کي ودرول، همدارنګه دغه رسول ﷺ په نړۍ کي يو ستر انقلاب (بدلون) رامنځته کړ، داسي انقلاب چي د ټولي نړۍ لپاره د رحمت او راحت سبب وو، او يو ستر دين يې پر دغه مځکه خپور کړ، داسي دين چي د پوره انسانيت عين فطرت او عين مزاج وو. هغه دين څه وو؟ قرآن کريم او د هغه ستر هدايت وو او هغه ستر انقلاب وو چي د رسول الله ﷺ پاک تعليمات او مقدس اخلاق چي هغه د حديث په نامه سره يادېږي.

ټول امت پر دې متفق دی چي قرآن کريم يو جامع او پوره کتاب د هدايت دی چي په هغه کي اسلامي احکام، هدايات او شريعت په اصولي او اساسي توګه باندي مذکور دی. او څرنګه چي قرآن کريم د اسلام اصولي رهنما او ددين اساسي دستور دی همداسي په ظاهره او په معنا کي يوه معجزه هم ده، مطلب دا څرنګه چي په ظاهره د قرآن کريم فصاحت او بلاغت د ژبي او بيان اعجاز، د الفاظو ترتيب د جملو ترکيب او جوړېدل، د (قل فاتوا بسورة من مثله) د دعوې د دنيا د خلکو د عقل او فهم بېکاره او د عرب فصيحانو د فصاحت او بلاغت بېکاره کېدل، چي د قرآن کريم د يو سورت يا يوې جملې يو مثال هم وړاندي کولای نه سو او نه به يې په وروسته کي وړاندي کړي، همدا رنګه ددې د معنوي پراختياوو او هر اړخيز ژور والي په وړاندي هم

انساني ذهن او فکر عاجز دی چي د قرآن کريم په ډول جامع علوم او معارف او حاوي احکام او اصول کتاب يا د هغه د يو جز په ډول وړاندي کړي او نه يې ثوک وړاندي کولای سي.

دا د قرآن کريم معجزه ده چي ددې په يوه يوه آيت او يوه يوه حرف کي د علوم د معارف بې پايه دريابونه صرف سوي دي چي د هغه د ژوروالو دا عالم دی چي د پرله پسې ثلورلسمي صدۍ ثخه د علوم معارف او د حکمتونو نکات بې پايه زخيرې پرله پسې زخيرې راوځي او اوس د هغه د ژوروالي لا هيڅ معلومات نسته چي د هغه د جامعيت دا حال دی چي د هغه د يوه يوه لفظ ثخه د بې شميره مسائل او احکام او استنباط په هر وخت کي کيږي بيا هم د هغه هر اړخيز ډول د نور نړۍ ليدني او تحقيق غوښتونکی دی.

ثرګنده ده چي دومره بې شميره او په لفظ لفظ کي د ځای سوي علوم او معارف را ايستل د آياتونو د اجمال تفصيل کول، په عموم کي تقيد کول، مراد واضح کول او ابهام ليري کول د ارکان او شرائط او اسباب او مواقع تفصيلات بيانول د هر باب د غير پايانه جزيات تعين کول، فرضونه، واجبات، مستحبات، سنتونه ټول تفصيلات او د هغه احکام بيانول د اتمام امور چي د قرآن کريم تفصيل او تشريح او د هغه توضيح لپاره ضروري وه د عوام الناس د ناقص فهم ثخه لوړ او پورته وو چي هغې ته د هغوئ رسيدل ناممکن وه.

که د ټولي نړۍ انسانان د (قل فاتوا بسورة من مثله) د دعوې جواب ځکه نسي وړکولای او د قرآن په ډول کلام يا د هغه د علومو په ډول معارف ځکه د مثال په توګه هم نسي وړاندي کولای چي د هغوئ محدود ذهن او ذکاء او علم او عقل کي هغه پراختيا او ژوروالی نسته چي د قرآن کريم په ډول د معجزانه کلام د هغوئ ثخه صادر سي نو د هغوئ تنګ فهم او د ذهن او فکر محدوديت ددې هم نسي کيدلای چي د هغوئ د قرآن کريم معجزانه بنيادي او اصولي جملو ثخه د وتلو حقائق او معارف ادراک او وجهي د معناوو ثخه د مراد او غير مراد تعين صرف د خپل فهم په زور وکړلای سي.

ثرګنده سوه چي هر کله د قرآن کريم د اجمال تفصيل او د هغه د اصول تشريح د عام انسان د عقل او فهم ثخه ليري خبره ده نو د قرآن کريم معنا او مطلبونه او د هغه مراد تر لاسه کولو لپاره د رسول الله ﷺ تشريح او د هغوئ د اشاراتو او ارشاداتو اړ کېدل او هغوئ د خپل ځان لپاره د قرآني فهم رهبر ګټل ضروري کيږي ځکه که د قرآن حيثيت ددې درجې وي چي هر کس او ناکس ته ددې معنا او مقصد پرته د يو لاربنود تر لاسه کيدلای نو د رسول الله ﷺ بعثت به

(نعوذبالله) تر یو حده پوري غیر ضروري وای ، بلکه دا به وای چي د قرآن کریم هدایت به براه راست په دنیا کي نازلیدی او هدایت غوښتونکو به په خپله ددې ځخه ګټه اخیستلای .
حقیقت دادی چي د دنیا د هدایت لپاره درسول الله ﷺ رالیږل یو ضروري او لازمي شی دی ځکه دا ناممکن ده چي د رسول الله ﷺ د لارښووني او واسطې ځخه پرته په کتاب الله پوه سي او د هدایت مقصد تر لاسه سي ځکه الله تعالی خپل کتاب پر رسول نازلوي نو د هغه مخکي د هغه مقصدونه او مطالب د ملائکي په ذریعه هغه ته واضح کوي او د هغه رموز او کنایات او حکمت د وحي په ذریعه منکشف کوي ، بیا رسول په هغه ماموره کیږي چي هغه د الله تعالی مخلوق ته د کتاب تعلیم ورکړي او د هغه تشریح او وضاحت کولو سره هدایت عام کړي ، امام ازاعي رح د حضرت حسان بن عطیه قول نقل کوي فرمایي چي:
(کان الوحي ینزل علی رسول الله صلی الله علیه وسلم ویحضره جبریل بالسنة التي تفسر ذالک) ترجمان السنة ص ۱۲۳ ج ۱.
ژباړه : پر رسول الله ﷺ به وحي راتلې او جبرائیل ؑ به رسول الله ﷺ ته د هغه سنت راوړلو سره راتلی چي د هغه تفسیر به یې کوی .
په خپله د قرآن کریم ځخه ثابته ده چي د رسول الله ﷺ د بعثت لوی مقصد دادی چي د کلام حمید خپله تلاوت وکړي او بیا د هغه د لارښونو ځخه نړیوال خبر کړي او د هغه معنا او مطلبونه نړیوالو ته ځرګند کړي . په آیت کي ارشاد دی :

لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاً مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ . (آل عمران: ۱۶۴)

ژباړه : بیشکه الله تعالی پر مؤمنانو لوی احسان او کرم وکړ چي د هغوئ ځخه یې هغوئ ته پیغمبر راولیږی چي د هغوئ په وړاندي د الله تعالی آیاتونه ووایي او هغوئ پاکوي او هغوئ ته د کتاب او عقل خبري ښیي .
یعني د رسول الله ﷺ د بعثت په مقصدو کي د کلام الله تلاوت او د هغه تعلیم او تعلم یو لوی مقصد دی ، نه یوازي مقصد بلکه حاصل نبوت دی ځکه چي نبي د امت هدایت د کتاب د تعلیم په رڼا کي کوې ، د الهي دربار ځخه چي کوم فرمان او کوم احکام د وحي په ذریعه د کتاب په شکل کي راځي هغه امت ته رسول او پر هغه په خپله عمل کولو سره پر نړیوالو باندي عمل کول په اصل کي د نبي فریضه ده ، د اصلاح کونکي او هدایت کونکي لپاره چي دا ضروري ده

چي هغه قوم ته هدايت وکړي نو دا هم ضروري ده چي وړاندي هغه په خپله هم عمل په وکړي چي د هغه په ذريعه هغه خپله فريضه ادا کوي نو بيا نورو ته د عمل کولو دعوت ورکړي ، همداسي الله تعالی ارشاد وفرمايه چي د نبي کريم ﷺ شان دادی چي زموږ د لوري څخه هر کله چي يو حکم يا فرمان ورته ورسيږي نو رسول الله ﷺ وړاندي هغه وايي او په هغه پوهيږي د الله تعالی مراد ونه ترلاسه کوي او پر هغو لومړی خپله عمل کوي بيا هغه تعليم د امت په وړاندي ايږدي د الله تعالی د لوري راغلي احکام خلکو ته رسوي او نه يوازي دا چي رسوي يې بلکه تشريح او توضيح او د هغه تفصيل په خپل عمل سره او په خپل فعل سره او په خپل وينا سره کوي چي قوم ته پر هغه عمل کول آسان سي او که داسي نه وي چي رسول د قرآن تشريح وکړي او د هغه مطلبونه او مفهوم بيانولو سره د مراد او مقصد تعين وکړي بلکه يوازي په عام انساني عقل او فهم باندي هغه پرېښودلای سي نو يقينا هغه خلک چي د هغوئ د هدايت لپاره قرآن نازل سوی وو تهول ژوند کي يې ددې مراد نه سو ترلاسه کولای ، او نه ددې مطلب او مقاصد يې ترلاسه کولای سول او قرآن کريم چي د هدايت چينه ده او يوازي د عمل کولو لپاره نازل سوی وو د محدود انسان د ذکر او فکر لپاره د دماغي هڅي مشغله په پاته سوې وای چي د هغه په نتيجه کي به نسل انساني د هغه مدارج او ترقيات څخه د هميشه لپاره محروم پاته کيدی چي د قرآن د هدايت په ذريعه د هغوئ لپاره مقدر سوی وه .

د پورتني آيت څخه څرګنده سول چي الله تعالی پر مؤمنانو باندي دا احسان او اکرام وکړ چي د ايمان په ډول دولت او د قرآن په ډول هدايت سره يې ونازول نو دا انعام يې هم پر وکړ چي په خپله پر هغوئ يې د خپل منزل د لټولو ذمه داري نه واچول بلکه د هغوئ څخه يې يو رسول ورته راوليږی چي هغه منزل ته د هغوئ لارښونه وکړي او بيا د قرآن کريم د نازليدو سره د هغوئ د مراد تعين او د هغوئ د مقصدونو د وضاحت باريې هم د انسان پر ضعيف او کمزوري فهم او عقل باندي نه واچوی بلکه د عالم د ټولو څخه ستر معلم يې هغوئ ته راوليږی چي د قرآن تعليم هغوئ ته ورکړي او د هغه د معنا او مطلب او مقصد څخه نړيوال خبر کړي چي حديث ، د قرآن کريم شرح او د هغه بيان کېدل قرآن کريم په نورزيات وضاحت سره ثابتوي ، د الله تعالی ارشاد دی :

وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ . (النحل: ۴۴)

ژباړه : او موږ پر تا باندي قرآن ځکه نازل کړ چي ته خلکو ته ددې کتاب معنا او مطالب بيان کړې چي د هغوئ د هدايت لپاره راغلی دی چي خلک په هغه کي غور او فکر وکړلای سي .

يعني اې محمد ﷺ ! موږ دغه کتاب چې پر تا نازل کړی دی هغه چې څرنګه د انبياء کرامو د صحيفو اجمالي يادونه ده همداسې هغه د شريعت اسلامي دستور هم دی چې په هغه کې د دين او شريعت احکام او مسائل او علوم او معارف اعجازي ډول سره د هغه يو يو لفظ او کرښه کې ځای سوي دي هر څوک د هغه ژوروالي او حقيقت ته نسي رسيدلای ځکه د دې د بيان او تفصيل او تشريح ذمه داري هم تا ته سپارل کيږي ځکه چې پر تا د دې ټول رموز، نکات او اسرار د وحي په ذريعه منکشف کيږي او موږ تا ته د حقيقت شناسۍ هغه توان درکړی دی چې د دې شارح ته ورکول پکار دي او ستا د ذهن او فکر او عقل او فهم تربيت موږ په خاصه توګه د دې لپاره کړې ده نو ته د دې د مشکلاتو شرح د دې د علوم تفسير د دې د مراداتو تعين د دې د مسائل او احکامو استنباط کوه او خداوندي مراداتو اظهار کولو سره د عمل لار پيدا کړه.

دا صحيح ده چې قرآن کريم په عربو کې نازل سوی وو چې د هغوئ مورنۍ ژبه هم عربي وه مګر د دې څخه دا نتيجه اخيستل چې هر کله د قرآن کريم اهل مخاطلب عرب وه او قرآن چې د چا په وړاندي خپل دعوت اېښودی هغوئ د فصاحت او بلاغت په لحاظ په اعلی درجه کې وه نو هغوئ ته د قرآن د تشريح او وضاحت لپاره د بل چا ضرورت نه وو، د ناپوهۍ خبره ده دا داسې ده لکه يو ناپوه سړی چې دا وواېي چې هر کله قانون جوړونکو په اصولي توګه سره يو اساسي قانون مرتب او منظور کولو سره پر هيواد باندي جاري کړی دی نو بيا د هغه قانون په موجودګي کې د قانون جوړونکو ادارو او د هيواد د مشر د جاري کرده هغه فرمانونو او هداياتو ته هيڅ ضرورت نسته چې په هغه سره د حکومت چاري چليږي او مستقل ځانته يو قانون نه دی بلکه د هغه اساسي قانون تشريح او وضاحت او د هغه تفصيل دی.

څرګنده ده چې داسې خبره د هغه سړي په دماغ کې راتللای سي چې نه يوازي دا چې د علم او عقل څخه په ميلونو ليري وي بلکه ماحول او حالاتو څخه قطعا ناآشنا هم وي او بيا دا خو يو مادي او انساني قانون دي چې د انساني دماغ اختراع ده مګر د آسماني قانون اساسي يعني قرآن خو د الله تعالی نازل سوی نظام حيات او قانون دی چې د هغه په اړه مخکې عرض سوی دی چې دا کتاب نه يوازي د الفاظو د لحاظه اعجازي حيثيت لري بلکه په معنوي حيثيت سره هم معجزه ده چې د هغه د يوه يوه لفظ په ژوروالي کې علوم او معارف او احکام د مسائلو هغه خزانې پټې دي چې هغه ته د انساني ذهن او فهم رسيدل ناممکن دي.

د حديث د دې صفت او بيان په اړه د امام مکحول (رح) قول د امام اوزاعي څخه نقل دی چې

(الکتاب احوج الی السنة من السنة الی الکتاب) ترجمان السنة ص۱۲۲ ج ۱.

ژباړه : د الله کتاب د سنت په لور زیات محتاج دی په نسبت د سنت د کتاب الله و لور ته.

حافظ ابو عمر (رح) د دې مقولې داسي تشریح کوي چي :

(یرید انها تقضی علیه و تبین المراد منه).

ژباړه : د دې مطلب دا دی چي سنت د قرآن کریم مراد بیانوي.

امام شاطبي (رح) د دې قول په وضاحت کولو سره په پای کي داسي لیکي چي :

(فکان السنة بمنزلة التفسیر و الشرح المعاني احکام الکتاب) ترجمان السنة ص۲۴ ج۲.

ژباړه : لکه سنت چي د کتاب الله د احکامو لپاره د تفسیر او شرحي په درجه کي دي.

د دې تفصیل څخه دا خبره څرګنده سوه چي د قرآن کریم تفصیل او تشریح چي د حدیث او سنت په صورت کي ده هغه د الله تعالی د لوري یوه فریضه ده چي په هغه سره رسول الله ﷺ ماموره کړل سوی وو چي هغه مبارک په ذمه داری سره دا فرض ادا کړه نو د نبي کریم ﷺ د دغه تفصیل او تشریح نوم که قولي وي یا فعلي د قرآن په اصلاح کي بیان دی چي (لتبین للناس ما نزل الیهم) څخه استنباط کیږي او خپله د رسول الله ﷺ په اصلاح کي حدیث او سنت دي چي د رسول الله ﷺ د ارشاد (حدثوا عني الخ، او علیکم بسنتي الخ) څخه مفهوم اخیستل کیږي ، د قرآن کریم او پورتني قولونو څخه دا ثابته سوه چي حدیث په اصل کي د قرآن کریم شارح (تشریح کونکي) دي ځکه چي قرآن کریم متن دی او حدیث د هغه شرح، قرآن اصول دي او حدیث د هغه تفصیل، نو داسي به ویل کیږي چي حدیث د قرآني مبهماتو لپاره ایضاح دي د قرآني مجملاتو لپاره تفصیل دی ، د قرآني مشکلاتو لپاره تفسیر دی او د مخفیاتو لپاره اظهار دی ، لکه د حدیث څخه پرته چي دا ناممکنه ده چي د عام ذهن او فکر رسیدل د قرآن حکیم مضمرات، مرادونه او رموزو ته وسي ځکه چي زموږ دا عقیده ده : څرنګه چي د نبي کریم ﷺ ذات اقدس د ټولي نړۍ لپاره نور او د پوره عالم لپاره رحمت دی همداسي د رسول الله ﷺ حدیث د هغه سنت او د هغه مبارک اخلاق د امت لپاره مشعل هدایت دی او د رسول الله ﷺ پر اقوالو او ارشاداتو باندي عمل د رسول الله ﷺ د اخلاق حسنه پیروي د نیکبختۍ باعث او د جنت کیلي ده.

د حديث حجت

ايمان باالله او ايمان بالرسول د اسلامي شريعت د بنيادو څخه دوې ستني دي يعني د مؤمن او مسلمان جوړېدو لپاره ځرنګه چي د الله تعالی وحدانيت او د هغه الوهيت باندي يقين او د هغه ټول صفاتو باندي راسخ اعتقاد ضروري دی همداسي پر رسول الله ﷺ باندي ايمان راوړل او د هغه د رسالت او نبوت په زړه سره تصديق کول هم لازم دي.

پر رسول الله ﷺ باندي د ايمان راوړلو مطلب دادی چي دا اعتقاد او يقين وي چي رسول الله ﷺ غوره او تر ټولو محبوب بنده دی چي الله تعالی هغه د انسانانو د هدايت لپاره په خپل کتاب ورکولو سره دې دنيا ته مبعوث کړی دی ، د ايمان د تکميل لپاره ددې عقيدې او يقين سره دا هم ضروري ده چي د رسول الله ﷺ پوره پوره فرمانبرداري او اطاعت وکړل سي هغه چي څه حکم ورکړي هغه ومنل سي ، هغه چي څه فيصله وکړي هغه تسليم کړي او د هغه ښودلي تعليمات او د هغه راوړې اسوه باندي عمل کول د نجات مدار وګڼل سي .

وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا . (الحشر :۷)

ژباړه: کوم څه چي رسول الله ﷺ درکړي دي هغه ونيسئ او د څه څخه چي يې منعه کړي ياست د هغه څخه منعه سئ.

په قرآن کريم کي چي چيري پر الله تعالی باندي د ايمان راوړلو دعوت ورکړل سوی دی هلته پر رسالت باندي ايمان راوړل هم ضروري ګرځول سوي دي ، د الله ﷻ ارشاد دی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ آمِنُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَى رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِيَ أَنزَلَ مِن قَبْلُ وَمَن يَكْفُرْ بِاللّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلاً بَعِيدًا . (النساء: ۱۴)

ژباړه : اې مؤمنانو! ايمان راوړئ (يعني پر خپل ايمان باندي ټينګ اوسئ) پر الله او د هغه پر رسول او د هغه پر کتاب کوم چي هغه پر خپل رسول باندي نازل کړ او پر هغه کتاب باندي چي مخکي نازل سوی دی او ياد لرئ څوک چي انکار وکړي د الله تعالی او د هغه د ملائکو او د هغه د کتابونو څخه او د هغه د رسولانو او د آخرت د ورځي څخه نو هغه په ليري ګمراهي کي ولويدی.

وَالَّذِينَ آمَنُواْ بِاللّهِ وَرُسُلِهِ وَلَمْ يُفَرِّقُواْ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ أُوْلَـئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيهِمْ أُجُورَهُمْ.

سورة النساء ۱۵۲.

ژباړه : او کومو کسانو چي پر الله تعالی او د هغه پر رسولانو ایمان راوړ او په هغوئ کي يې فرق ونه کړنو دغه خلک دي چي ډير ژر به الله تعالی هغوئ ته اجر ورکړي .

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ .سورة النور ۶۲

ژباړه : په تحقيق سره مؤمنان هغه کسان دي چي پر الله تعالی او د هغه پر رسول ایمان ولري .

وَمَن لَّمْ يُؤْمِن بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ فَإِنَّا أَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ سَعِيرًا ۱۳. سورة الفتح

ژباړه : او چا چي پر الله تعالی او د هغه پر رسول ایمان نه راوړ نو موږ د هغه منکرانو لپاره سور اور تیار کړی دی .

يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمُ الرَّسُولُ بِالْحَقِّ مِن رَّبِّكُمْ فَآمِنُواْ خَيْرًا لَّكُمْ. سورة النساء آية ۱۷۰

ژباړه : اې خلکو بیشکه تاسو ته په حق سره رسول راغلی نو پر هغه ایمان راوړی ځکه چي په دې کي ستاسو خیر دی .

ددغه آیاتو څخه څرګنده سوه چي څرنګه پر الله تعالی باندي او د هغه پر ملائکو ایمان راوړل ضروري دي همداسي د هغه پر رسول او د هغه پر راليږل سوي کتاب او د هغوئ تصديق کول هم لازم دي او کوم خلک چي پر الله او د هغه پر رسول ایمان نه راوړي يا د رسول تصديق نه کوي هغوئ کافران او منکران دي چي د هغوئ لپاره د الله تعالی د لوري د سخت عذاب او تل خسران او تاوان سزا ده .

او څرنګه چي د رسول الله ﷺ د رسالت تصديق او د هغوئ پر نبوت د ایمان راوړلو قرآن کريم ډير دعوت ورکړی دی همداسي د رسول الله ﷺ د طاعت او فرمانبرداری يې هم تائيد کړی دی او د رسول الله ﷺ هره فیصله او حکم منزل د ایمان لپاره ضروري ګرځول سوی دی ، د الله تعالی ارشاد دی :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلاَ تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ ۳۳.سورة محمد

ژباړه : اې مؤمنانو د الله تعالی حکم ومنئ او د هغه د رسول اطاعت وکړئ او خپل اعمال مه ضائع کوئ .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ ۲۰. الانفال

ژباړه : اې مؤمنانو ! د الله تعالی او د هغه د رسول حکم ومنئ او مخ مه ځيني اړوئ په داسي حال کي چي تاسو يې اورئ .

مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ .سورة النساء ۸۰

ژباړه: چا چې د رسول حکم ومنئ نو بلا شکه هغه د الله تعالی اطاعت وکړ.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللَّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ . سورة النساء آية ۵۹

ژباړه : اې مؤمنانو! د الله تعالی حکم ومنئ او د رسول حکم ومنئ او په خپلو کې د خپل حاکمانو حکم ومنئ که تاسو په یو خبره کې په خپل مینځ کې په جګړه سئ نو الله تعالی او د هغه د رسول په لور رجوع کوئ.

فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا ۶۵ . سورة النساء.

ژباړه : نو قسم دی ستا په پروردګار چې هغه کسان مؤمنان کیدلای نسي تر څو پورې چې هغوئ تا په خپله جګړه کې فیصله کونکی جوړ نه کړي (که هغوئ تا فیصله کونکی جوړ کړي نو د هغه نتیجه به دا وي چې) هغوئ به ستا په فیصلې سره په خپلو زړونو کې تنګي نه تر لاسه کوي او هغه به پوره پوره تسلیم کړي.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِينًا ۳۶ . الاحزاب

ژباړه: هیڅ مؤمن او مؤمنې ته دا پکار نه ده چې کله الله تعالی او د هغه رسول یو حکم وکړي نو هغوئ ته دې د خپلې معاملې اختیار پاته سي او څوک چې د الله تعالی او د هغه د رسول نافرماني وکړي نو هغه څرګند ګمراه سو.

د دغه آیاتو نو څخه څرګندیږي چې پر الله تعالی د ایمان په اړه درې شیان ضروري دي:

۱. د الله تعالی پر ذات د هغه پر ملائکو او د هغه پر کتابونو باندې د ایمان راوړلو سره دا هم ضروري ده چې د هغه د رسول رسالت او نبوت باندې پوره پوره ایمان راوړل سي که یو سړی پر رسول الله ﷺ ایمان نه راوړي یا د هغوئ د رسالت تصدیق نه کوي نو هغه مؤمن نه دی.

۲. د الله تعالی طاعت او د هغه د احکامو د فرمانبرداري سره سره د رسول الله ﷺ اطاعت او فرمانبرداري هم ضروري ده ، که یو سړی د نبي کریم ﷺ احکام مني یا اطاعت یې کوي نو لکه هغه چې د الله تعالی هم اطاعت او فرمانبرداري کوي او که څوک د رسول الله ﷺ

اطاعت نه کوي او احکام ترشا غورځوي نو ددې مطلب دادی چي هغه د الله تعالی اطاعت هم نه کوي او د الله تعالی احکام هم ترشا غورځوي ، او څرګنده ده چي کوم سړی د الله تعالی احکام نه مني یا د هغه اطاعت نه کوي نو هغه په ضلالت او ګمراهي کي دی .

۳. که په خپل مینځ کي جګړه وي یا دعوه وي نو مسلمانانو ته حکم ورکړل سو چي هغوئ الله تعالی او د هغه د رسول په لور رجوع وکړي، د الله تعالی په لور د رجوع کولو مطلب دادی چي د قرآن کریم په رڼا کي د خپلو جګړو فیصله وکړي ، او د رسول په لور رجوع کولو دا معنا ده چي رسول خپل فیصله کونکی جوړ کړي او هغه چي څه فیصله وکړي هغه تسلیم کړي او د هغه د فیصلې څخه وروسته هیڅا ته څه ویل پاته نه سي ځکه چي د ایمان غوښتنه داده چي خپله ټولي جګړې او دعوې او اختلافاتو کي نبي کریم ﷺ داسي فیصله کونکی وګرځوي چي د هغوئ د فیصلې څخه وروسته د هیڅ شک ځای پاته نه سي او د هغه په فیصلې سره په خپل زړه کي هیڅ تنګي محسوس نه کړي .

نو ددې څخه یوې خوا ته دا معلومه سوه چي د ایمان د پوره والي لپاره د الله تعالی پر ذات او د هغه پر ملائکو او د هغه پر کتابو باندي ایمان راوړلو څخه وروسته د رسول الله ﷺ پر رسالت هم ایمان راوړل ضروري دي او د بلې خوا دا هم ثابته سوه څرنګه چي د الله کتابونه د الله تعالی د لوري د بندګانو د هدایت لپاره پر رسول نازلیږي او د ملائکو وحي چي د الله تعالی پیغام پیغمبرانو ته رسوي په شریعت کي حجت (دلیل) دی همدارنګه د انبیاء کرامو ارشادات هم قطعا حجت دي ځکه چي پر کوم شي ایمان راوړل ضروري او لازم وګرځول سي هغه به حجت (دلیل) وي همدا رنګه د نبي فیصلې او احکام به هم حجت وي ځکه چي د الله تعالی په څو څو واره بندګانو ته حکمونه ورکول چي تاسو خپل اختلافات او جګړو کي رسول فیصله کونکی جوړ کړی او د هغوئ فیصلې تسلیم کړئ او هغوئ چي څه حکم درکړي په هغه عمل وکړئ .

خپله د هغوئ حجیت ثابتوي .

که د رسول الله ﷺ اقوال، افعال او احکام حجت نه وای نو د رسول پر رسالت به ایمان راوړل ضروري نه ګرځیدلای او نه به د هغوئ د احکامو پیروي د ایمان غوښتنه ښودل کیدلای او دا مخکي ښودل سوي دي چي ایمان پر هغه شي راوړل کیږي کوم چي حجت قاطعه وي او اطاعت او فرمانبرداري د هغه شي کیدلای سي چي واجب التسلیم وي که هغه شي چي پر هغه ایمان راوړل کیږي یا د هغه شي چي پیروي کیږي که هغه حجت قاطعه او واجب التسلیم نه وي نو

ځرګنده ده چې پر هغه د ایمان راوړلو یا د هغه د پیروي کولو هیڅ معنا نه سول. او که دا ومنل سي چې د نبي افعال او اقوال چې د هغه د ټولګي نوم حدیث دي په شریعت اسلام کي حجت نه وای نو هغه خلک چې نبي نه مني یا د نبي د قول او فعل پیروي نه کوي هغوئ ته کافر ویل نه دي پکار ځکه چې کوم شی حجت نه وي او د هغه واجب التسلیم کېدل یقیني نه وي د هغه د انکار څخه کفر څرنګه لازم کیدلای سي حال دا چې په قرآن کریم کي هغه خلکو ته په ځرګنده کافر او ګمراه ویل سوي دي کوم چې د نبي د احکامو پیروي نه کوي یا د هغه فیصلې چې د اقوالو په شکل کي دي واجب التسلیم نه مني.

نو ځرګنده سوه چې په قرآن کریم سره د نبي ښودل سوي احکام د هغوئ تعلیمات او هدایات او د هغوئ ارشادات چې د حدیث په نامه یادیږي په شریعت کي ځانته حجت دی. نو د هغه منل، واجب التسلیم ګڼل او په هغه عمل کول د ایمان جز دی او د هغه مخ اړول یا د هغه د حجیت څخه انکار کول یا هغه قابل رد ګڼل کفر، نفاق او ضلالت دی چې د هغه په اړه الله تعالی اعلان کوي:

فَإِنَّا أَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ سَعِيرًا. سورة الفتح.

ژباړه: بیله شکه موږ کافرانو ته سور اور تیار کړی دی.

د حدیث تدوین او کتابت

که د تاریخ او سیرت کتابونه مطالعه کړل سي نو ځرګنده به سي چې د حدیث کتابت او د هغه تدوین او ترتیب د نبي کریم ﷺ په ژوند مبارک کي پیل سوی وو، د رسول الله ﷺ اقوال او ارشادات صحابه کرامو قلمبند کول او د حدیث مبارک په لیکلو سره یې هغه د ځان سره خوندي ساتل.

حضرت ابوهریره ﷺ چې د نبوي مدرسې یو ستر زده کونکی او په دربار رسالت کي تل یو حاضر خادم وو د رسول الله ﷺ حدیثونه په زیات شمیر سره روایت کوي د هغه سره د احادیث نبوي سرمایه تر ټولو زیاته وه او هغه په خپله بیان کوي چې په صحابه کرامو کي د عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه پرته د بل چا سره زما څخه زیات حدیثونه خوندي نه دي او د هغې وجه ابو هریره ﷺ دا بیانوي چې:

(فانه کان یکتب ولا اکتب). بخاري ص۲۲ ج۱.

ژباړه: هغه به حدیثونه لیکل او ما به نه لیکل.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ په اړه د حضرت ابو هريره ﷺ يو بل بيان دی چي:

(فاني كنت اعي بقلبي وكان يعي بقلبه يكتب بيده) . طحطاوي ص۳۸۴ ج ۲.

ژباړه: عبدالله بن عمرو ﷺ به د رسول الله ﷺ حديثونه ليکل هم او هغه به يې يادول هم او ما به يوازي يادول.

د روايتونو څخه دا هم ثابتيږي چي د صحابه کرامو د حديث کتابت په خپله نه وو بلکه د رسول الله ﷺ څخه دوئ د حديث د ليکلو اجازه اخيستې وه ، هر کله چي د رسول الله ﷺ څخه اجازه تر لاسه سول او د رسول الله ﷺ ارشادات صحابه کرامو ليکل پيل کړل.د ابو هريره ﷺ د دغه روايت آخري الفاظ دادي:

(استاذن النبي صلى الله عليه وسلم في ذلك فاذن له)

ژباړه: حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ د حديثونو د ليکلو اجازه وغوښتل نو رسول الله ﷺ اجازه ورکړه.

همدارنګه په خپله د عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دي چي:

(قال رسول الله صلى الله عليه وسلم قيد العلم قلت وما تقييده؟قال الكتابة) .

مجمع الزوائد ص۶۰ ج ۱.

ژباړه: رسول الله ﷺ وفرمايل چي علم قيد کړئ ما عرض وکړ چي علم څرنګه قيد کيدلای سي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل چي هغه وليکئ (چي خوندي سي).

حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ د حديث د ليکني په اړه خپل واقعه داډول بيانوي:

كُنْتُ أَكْتُبُ كُلَّ شَيْءٍ أَسْمَعُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرِيدُ حِفْظَهُ فَنَهَتْنِي قُرَيْشٌ وَقَالُوا أَتَكْتُبُ كُلَّ شَيْءٍ تَسْمَعُهُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَشَرٌ يَتَكَلَّمُ فِي الْغَضَبِ وَالرِّضَا فَأَمْسَكْتُ عَنْ الْكِتَابِ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَوْمَأَ بِأُصْبُعِهِ إِلَى فِيهِ فَقَالَ اكْتُبْ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا يَخْرُجُ مِنْهُ إِلَّا حَقٌّ . ابوداؤد ص ۱۵۷ ج ۱.

ژباړه: ما چي به څومره خبري د رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه اوريدلې د ياد ساتلو لپاره به مي ليکلې زما د دغه کار څخه چي قريش خبر سول نو هغوئ زه منعه کړم او وه يې ويل چي ته هر څه د رسول الله ﷺ څخه اوري هغه ليکې حال دا چي رسول الله ﷺ بشر دی د غصې په حالت کي هم وي او د خوشحالی په حالت کي هم نو زه د ليکلو څخه منعه سوم او د دې يادونه مي رسول الله ﷺ

ته وکړه نو رسول الله ﷺ وفرمایل چي لیکه یې او خپل خولې مبارکي ته په اشاره کولو سره یې وفرمایل: قسم په الله! ددې څخه په هیڅ حالت کي هم غلطه او ناحقه خبره نسي وتلای.

د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه پرته نورو صحابه کرامو هم چي د رسول الله ﷺ څخه یې د حدیثونو د لیکلو اجازه وغوښتل نو رسول الله ﷺ هغوئ ته اجازه ورکړل. د یوه صحابي حضرت رافع بن خدیج رضی الله عنه بیان دی چي موږ په نبوي دربار کي درخواست وکړ چي اې د الله رسوله! موږ ستاسو د پاکي ژبي څخه ډیر څه اورو او هغه لیکو، زموږ ددې کار په اړه ستاسو څه رایه ده؟ یعني موږ ستاسو ارشادات لیکو که یا؟ رسول الله ﷺ وفرمایل (اکتبوا ولا حرج). یعني لیکئ یې هیڅ پرواه نسته.

او د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي:

یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ چي اې د الله رسوله! زما ستاسو حدیث نه په یاد کیږي نو سول الله ﷺ هغه ته حکم وکړ چي:

(استعن بیمینك) مجمع الزواید ص ۶۰ ج ۱.

ژباړه: یعني د خپل لاس څخه مرسته واخله (وه یې لیکه).

په هر حال ددې ویناوو په رڼا کي دا خبره روښانه سوه چي د رسول الله ﷺ په ژوند کي د حدیثو لیکنه پیل سوې ده او د رسول الله ﷺ د ارشاداتو او احادیث مقدسه د ساتني لپاره په زیات شمیر صحابه کرامو د هغه لیکنه پیل کړې وه، او رسول الله ﷺ چي به څه فرمایل یا احکام به یې ورکول نو صحابه کرامو به هغه په لیکني سره خوندي کول.

دا خو د صحابه کرامو عمل وو په خپله د نبي کریم ﷺ څخه نقل دي چي رسول الله ﷺ د مسائلو او احکامو ټولګي تیارولو سره خپل عمالو (دولتي کارکونکو) ته د نورو ځایونو لیږلو حکم کړی وو، د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه په ترمذي کي روایت دي چي رسول الله ﷺ د خپل ژوند په آخري ورځو کي خپلو عاملانو ته د لیږلو یو کتاب الصدقة لیکلی وو چي په هغه کي د حیوانانو د زکوة په اړه احادیث وه مګر تر اوسه لا د عاملانو لیږلو نوبت نه وو راغلی چي رسول الله ﷺ وفات سو، کله چي حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلیفه سو نو هغوئ په دغه کتاب عمل وکړ. ترمذي ص ۹۹ ج ۱.

د حضرت عبدالله بن عکیم رضی الله عنه څخه روایت دی چي:

(اتانا کتاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ان لا تنتفعوا من المیتة باهاب ولاعصب). ترمذي ص ۲۰۶ ج ۱.

ژباړه : د رسول الله ﷺ په زمانه کې د رسول الله ﷺ یو لیک زموږ قبیلې ته راورسیدی په هغه کې دا حدیث وو چې د مردار حیوان پوست او وړې څخه کار مه اخلئ .
د طحاوي شریف یو روایت دی چې :
(ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کتب الی اهل الیمن بکتاب فیه الفرائض والسنن والدیات وبعث به مع عمرو بن حزم). طحاوي ص ۴۱۷ ج ۲.
ژباړه : رسول الله ﷺ د یو کتاب لیکلو سره د عمرو بن حزام ﷺ په لاس اهل یمن ته ولیږی په هغه لیکنه کې د فرضونو ، سنتونو او د ویني تویولو مسائل وه .
د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته چې کله د صحابه کرامو زمانه راغلل نو هغه وخت د حدیثو د لیکني او ترتیب باقاعده کار پیل سو ، صحابه کرامو د رسول الله ﷺ ارشادات یو ځای کول او د هغو په ساتنه کې یې د پوره بوختیا ثبوت ورکړ ، د حضرت ابو هریره ﷺ په اړه څرګنده سوې ده چې هغه د رسول الله ﷺ په ژوند مبارک کې د حدیثو لیکنه ونه کړل مګر د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته هغه ټول حدیثونه په خپله او یا په نورو ولیکل ، د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چې :
(تحدث عند ابي هریرة بحدیث فاخذ بیدي الی بیته فارانا کتبا من حدیث للنبي صلی الله علیه وسلم وقال هذا هو مکتوب عندي) . فتح الباري ص ۱۴۸ ج ۱.
ژباړه : د ابوهریره ﷺ سره چې د حدیث په اړه خبري وسوې نو هغه زما لاس نیولو سره خپل کور ته بوتلم او د حدیث نبوي څو کتابونه ښودلو سره یې راته وفرمایل چې وګوره دا زما سره لیکلي موجود دي .
د حضرت ابو هریره ﷺ د جمع سوو احادیثو د کتابونو په اړه د بشیر ابن نهیک (د شاهدی) هم قول دی :
(کنت اخذ الکتب من ابي هریرة فاکتبها فاذا فرغت قراتها علیه فاقول الذي قراته علیك اسمعته من رسول الله صلی الله علیه وسلم فیقول نعم) . طحاوي ص ۳۸۵ ج ۲.
ژباړه : ما د حضرت ابو هریره ﷺ څخه د احادیثو کتابونه عاریتا اخیستلو سره لیکل ، د لیکلو څخه د فارغه کېدو وروسته به ما ټول ابو هریره ﷺ ته اورول او عرض به مي کوی چې ما تاسو ته څه اورولي دي هغه ټول تاسو د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي هغه به فرمایل هو .

د حضرت ابن عباس ﷺ په اړه روایت دی چې د هغه سره څو ټولګي وي چې په هغو کې د رسول الله ﷺ حدیثونه لیکل سوي وه.

د حضرت عکرمة ﷺ څخه روایت دی چې:

أَنَّ نَفَرًا قَدِمُوا عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ مِنْ أَهْلِ الطَّائِفِ بِكِتَابٍ مِنْ كُتُبِهِ فَجَعَلَ يَقْرَأُ عَلَيْهِمْ فَيُقَدِّمُ وَيُؤَخِّرُ فَقَالَ إِنِّي بَلِهْتُ لِهَذِهِ الْمُصِيبَةِ فَاقْرَءُوا عَلَيَّ فَإِنَّ إِقْرَارِي بِهِ كَقِرَاءَتِي عَلَيْكُمْ. طحاوي ص ۲۳۸ ج ۲.

ژباړه: د طائف یو ډله د حضرت ابن عباس ﷺ په خدمت کې د یو څو لیکنو سره حاضره سول (چې په هغو کې حدیثونه لیکل سوي وه)، حضرت ابن عباس ﷺ لوستل پیل کړل مګر (د هغه نظر کمزوری سوی وو) هغه یې نه سوای لوستلای نو وه یې فرمایل چې تاسو خلک یې په خپله ولولئ ستاسو اورول او زما لوستل د جواز روایت په حق کې دواړه برابر دي.

حضرت عبدالله بن محمد بن عقیل وایي چې:

(کنا ناتي جابر بن عبدالله فنسا له عن سنن رسول الله صلی الله علیه وسلم فنکتبها). طحاوي ص ۳۸۴ ج ۲.

ژباړه: موږ خلک به د حضرت جابر بن عبدالله ﷺ په خدمت کې حاضریدو او د هغوئ څخه به مو د رسول الله ﷺ د حدیثونو پوښتنه کولو سره هغه لیکل.

ددې څخه پرته نور ډیر روایتونه هم نقل دي چې د هغو څخه د ډیرو صحابه کرامو په اړه معلومیږي چې هغو د احادیث نبوي لیکنه کول او هغوئ چې د رسول الله ﷺ څخه کومې ملغلرې او ارشادات د احادیث په شکل کې حاصل کړي وه د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته هغه سرمایه یې سینه په سینه نقل کول.

د صحابه کرامو څخه وروسته چې د تابعینو زمانه راغلل نو د حدیثو لیکنه او ترتیب نور هم زیات سو، تابعینو د احادیثو ذخیرې یو ځای کولې او د هغو ترتیب او لیکنه کې یې په زیات کارکولو کې خپل توان مصرف کړ.

په تذکرة الحفاظ کې د ابو الزناد (تابعي) څخه روایت دي چې:

(کنا نطوف مع الزهري علی العلماء ومعه الالواح والصحف یکتب کلماسمع) ص ۱۰۳ ج ۱.

ژباړه: موږ به د زهري سره علماؤ ته د حدیث اورولو لپاره ورتلو، زهري به د ځان سره تختې او کاغذ ساتل او څه چې به یې اوریدل هغه ټول به یې لیکل.

د امام زهري (رح) په اړه د صالح بن کیسان بیان دی چې:

(اجتمعت أنا والزهري ونحن نطلب العلم فقال لي: تعال حتی نکتب السنن فکتبنا ما جاء عن النبي

صلی الله علیه وسلم) ، کنز العمال ص۲۳۸ ج ۵.

ژباړه : د شاګردۍ په زمانه کي زه او زهري ملګري وه ، زهري ما ته وويل چي راځه حديث وليکو نو موږ د نبي کريم ﷺ حديثونه وليکل.

د ترمذي شريف په يوه روايت کي دي چي :

قَالَ رَجُلٌ لِلْحَسَنِ عِنْدِي بَعْضُ حَدِيثِكَ أَرْوِيهِ عَنْكَ فَقَالَ نَعَمْ . ترمذي ص ۲۳۹ ج ۲.

ژباړه : يو سړی حسن بصري (رح) ته راغلی او ورته وه يې ويل چي زما سره ستاسو بيان سوي احاديث ليکل سوي دي ايا زه د هغو روايت ستاسو څخه کولای سم هغوئ ورته وفرمايل : هو.

د حضرت عمر بن عبدالعزيز (رح) په اړه ويل کيږي چي هغه د حديثو د ترتيب او ليکي لپاره يو ځانته لائحه عمل تياره کړه او د خپل خلافت په حدودو کي يې ټولو واليانو او قاضيانو ته يو فرمان وليږی چي په هغهٔ کي د حديثو د ترتيب او د هغو د يو ځای کولو حکم ورکړل سوی وو ، د فتح الباري روايت دی چي :

(کتب عمر بن العزيز الی الافاق انظروا حديث رسول الله صلی الله عليه وسلم فاجمعوه).

ژباړه : حضرت عمر بن عبدالعزيز د خپل پاچاهي ټولو سيمو ته فرمان وليږی چي د نبي کريم ﷺ ټول حديثونه دي ولټول سي او يو ځای دي کړل سي.

ابوبکر بن حزم چي په هغه وخت کي د خلافت د لوري امير او قاضي وو چي کله هغه ته دا فرمان ورسيدی نو هغه حديثونه يو ځای کول پيل کړل ددې ترتيب او ليکني څخه وروسته د احاديثو ټولګي تياري سوې مګر تر اوسه لا د خلافت دربار ته نه وې رسيدلي چي عمر بن العزيز رحمة الله تعالی عليه وفات سو.

د تابعينو د زمانې څخه وروسته د تبع تابعينو زمانه وګورئ دا هغه دور دی چي د حديثو د ترتيب او ليکني لړۍ خپل عروج ته ورسيده او محدثين په کثرت سره د حديثو د ليکني مقدسه فريضه کي بوخت وه او د رسول الله ﷺ د ارشاداتو او حديثونو د يو ځای کولو کار ډير په زور سره جاري وه او د هغو سره هم د حديثونو يوه ډيره لويه سرمايه جمع سول.

د عبدالرزاق بيان دی چي :

(کتبت من معمر عشرة الاف حديث) تذکرة الحفاظ ص۱۷۵ ج ۱.

ژباړه : ما د معمر څخه لس زره حديثونه وليکل.

په تذکرة الحفاظ کي د حضرت ابن مبارک په اړه روايت دی چي :

(وكانت كتبه التي حدث بها نحو من عشرين الف حديث) ص ۲۴۶ ج ۱ .

ژباړه : هغوئ چي خپل ليکل سوي حديثونه خلکو ته روايت کړل نو د هغو شمير شل زره و .

د عبدالسلام په اړه د ابو حاتم رازي بيان دی چي :

(کتب عنه ابونعيم الوفا من الحديث) . تذکرة الحفاظ ص ۲۴۶ ج ۱ .

ژباړه : د عبدالسلام څخه ابونعيم په زرګونو حديثونه وليکل .

ددې زمانې د حديثو د ليکني پابندي څومره وه ددې اندازه د لاندي روايت څخه معلوميدلای سي :

(قال ابراهيم بن موسى قدم الثوري الى اليمن فقال اطلبوني كتابا سريع الخط) . تذکرة الحفاظ ص ۳۱۷ ج ۱

ژباړه : ابراهيم بن موسى وويل چي کله امام ثوري يمن ته ولاړی نو د حديثو د ليکني لپاره هغه ته د يو ليکوال ضرورت وو هغه هلته وويل چي زما لپاره يو ژر ليکونکی ليکوال ولټوئ .

نو په هغه وخت کي چي هشام بن يوسف يو ژر ليکونکی او تيز خط نويس وو د هغه بيان دی چي خلکو زه د امام ثوري په خدمت کي حاضر کړم نو ما د هغوئ جمع سوي حديثونه وليکل .

همدارنګه په تذکرة الحفاظ کي د ابوداؤد روايت دی چي :

(لم يكن لحماد بن سلمة كتاب الا كتاب قيس بن سعد) ص ۱۸۳ ج ۱ .

ژباړه : د حماد بن سلمه سره د قيس بن سعد کتاب وو (چي په هغه کي د هغوئ ټول روايت سوي حديثونه وه) .

د پورتنيو روايتونو څخه څرګنده سوه چي د حديثو کتابونه او د هغود ترتيب لړۍ چي د نبي کريم ﷺ د زمانې څخه پيل سوې وه او د تبع تابعينو په زمانه کي تکميل ته ورسيده . او ډير علماء او محدثين په دغه کار کي بوخت وه نو د حديثونو د کتابونو تصنيف او تاليف هم په همدغه زمانه کي پيل سو او مختلف علماء د نبي کريم ﷺ د سيرت مبارکه پر متفرق اړخونو باندي کتابونه تصنيف کړل .

د موسى بن عقبه او د ابن اسحاق په باره کي روايت دی چي دوئ بزرګانو په هغه زمانه کي پر غزاګانو او سيرت نبوي ﷺ باندي خپل کتابونه تصنيف کړل ، د هغوئ څخه وروسته د (۱۵۷..... ۱۸۸) په درميانه وخت کي امام اوزاغي رح ، امام ابن المبارک رح ، امام سفيان ثوري رح . حماد بن سلمه او جرير بن عبدالحميد (رح) د حديثونو ستر کتابونه تصنيف کړل او تقريبا دا هغه زمانه ده چي امام مالک (رح) د حديثو عظيم کتاب مؤطا تاليف کړه ، د تذکرة الحفاظ د روايت

ثخه معلومیږي چي په هغه زمانه کي معاني ابن عمران موصلي خپل مهتم بالشان تصانیف . کتاب السنن. کتاب الزهد . کتاب الادب او کتاب الفتن وغیره ولیکل .
او د امام یوسف رحمة الله علیه تصانیف کتاب الاثار، کتاب الحج، کتاب الخراج، او د امام محمد رحمة الله علیه تصانیف کتاب الاثار ، مؤطا ، کتاب الحج وغیره هغه وخت په وجود کي راغلل . د هغه ثخه وروسته په تدریج سره د حدیثو د کتابونو تصنیف پیل سو او محدثینو په ډیر کوښښ او محنت سره نبوي حدیثونه یو ځای کړل چي نن ورځ زموږ په مخ کي د علم او عرفان نور جوړ سوي دي چي د هغو ثخه شاګردان فیض تر لاسه کوي او د خپل علم لمن د حدیثو د ګران بیه ملغلرو ثخه شتمن کوي .

د مشکوة شریف ځانګړتیا او ارزښت

د مشکوة المصابیح په نامه چي د حدیثونو کومه ټولګه سوونه کاله مخکي ترتیب سوې وه د هغه په تازګۍ او غوره والی کي تر اوسه پوري هیڅ فرق نه دی راغلی .
حدیث مبارکه په خپله یو داسي مقدس فن دی چي د دې نسبت یو داسي زنده جاوید شخصیت په لور دی چي تر څو پر دې نړۍ انسانان موجود وي او په دې کي د ژوند اثر او شعور نشو او نما مومي تر هغه وخته پوري به دا فن په تازګي او غوره والي سره پاته وي.
بیا په احادیثو کي لکه څرنګه چي څرګنده ده د مصنفاتو او کتابونو درجې دي، هر محدث د خپل ځانګړي نقطه نظر د لحاظ څخه کتاب ته ترتیب ورکړی دی مثلا امام بخاري رحمة الله عليه د حدیث د روایت اړخ په اړخ د خپل قوت فکري مجتهدانه څرګندونه کوي، امام مسلم رحمة الله عليه د یوه حدیث متعدد د طرف جمع کوي ، همداسي دنورو حدیثونو کتابونه امتیازي ځانګړتیاوي دي او د هریو انفرادي ګټې دي .
مګر د مشکوة المصابیح په نامه سره چي د حدیثونه کومه ګلدسته ده د هغه ځانګړتیاوي دادي چي نه یوازي صحاح ستة بلکه نور موثوق بها کتابونه مثلا د شعب الایمان، بیهقي، مسند احمد، مسند رزین او داسي نورو ذخیره په دې کي موجود ده .
او دوهم غوره والی چي یو وخت مخته راغي داده چي په دغه کتاب کي د هغه حدیثونه یو ځای کولو التزام نه دی سوی چي د هغه په پوهیدو کي یو عام ویونکی ستونزمن وي بلکه ځیني خلک خو په دې لور تللي دي چي دا ټولګه ابتدائي تعارف یا یو مشغول ژوند لپاره احادیث نبویه سره د علمي او عملي تعلق پیدا کولو په غرض سره معرض په وجود کي راوړل سوې وه.
نن هم په عربي مدرسو کي دغه ټولګه د صحاح ستة څخه وړاندي ویل کیږي او د دې سبب دادی چي د تعارف ابتدائي او لومړنی مرحله د یو داسي کتاب په ذریعه سره وسي چي په هغه کي نه دومره اوږدوالی وي چي د هغه څخه یوازي منتهي ګټه تر لاسه کړي او نه دومره لنډ وي چي په هغه سره عام ذهن مکدر کېدو سره پاته سي .
پر یو بل حیثیت هم نظر واچوئ چي که چیري صحیح بخاري ته دا فخر تر لاسه دی چي مشکلات پکښي ختم کیږي نو مشکوة شریف ته دا فخر تر لاسه دی چي هغه د صوفیه حلقه کي زیر درس راغلی دی ، اکابر صوفیه خپل اذکارو اشغال څخه معمور په ژوند کي د حدیث دا ټولګه په دې وجه مخته ایښې ده چي په دې کي د فن د نورو کتابونو په ډول ایجاز او اطناب نسته .

د ليري تللو ضرورت نسته د هندوستان په شمال کي چي د آزادۍ کومه لومړنۍ هڅه سوې ده او د هغه مشري د خانواده محمد يو ګل حضرت سيد احمد شهيد بريلوي کول ، د هغوئ د خپل مجاهدينو په لړۍ کي دا معمول وو چي د مشکوة شريف به لازم درس کېدی . د درس حقيقي ذمه داري خو د شاه اسماعيل شهيد پر ذمه وه مګر د نکات او حکماتو اظهار خپله د سيد مرحوم پر ذمه وه، حجة الله البالغة چي د علوم اسرار او حکمات شرعيه پر موضوع يو عديم النظير کتاب دی په دې اړه د اهل نظر دا فيصله ده چي هغه په اصل کي د مشکوة شريف شرح ده ، کوم خلک چي د ترتيب کتاب د استخراج حديث په انداز کي ژور نظر لري هغوئ پوهيږي چي شاه صاحب بالعموم د مشکوة شريف حديثونه مخته په اېښودو سره خپل جواهر د امت مخته ايښي دي .

بيا پر دغه کتاب باندي حاشې تقريبا د بخاري او مسلم څخه وروسته تر ټولو زياتي ليکل سوي دي ځيني شرح کونکو خو مشکوة شريف يوازي ددې لپاره اختيار کړ چي په دې کي هغه جامعيت دی چي د هغه پورته اشاره وسوه .

د مشکوة شريف دا هم ځانګړتيا ده چي هغه حلقې چي په څرګنده ددې د مرتب او مدون د مسلک خلاف مسلک لري دغه کتاب يې د سينې سره نيولی دی او د نن څخه نه بلکه د کله څخه چي دغه کتاب خپور سو يعني شائع سوی وو ددې د غوره والي دا کيفيت راغلی دی. په مشکوة شريف کي چي د کتاب الفتن په نامه سره کومه برخه ده هغه خو برابر د اهل نظر توجه خپل لور ته مبذول کړې ده ، که خلکو خالص پر دې موضوع باندي يو څه ليکلي دي نو غالب ګمان دادی چي د مشکوة شريف کتاب الفتن مخته اېښودو سره يې ليکلي دي په دغه باب کي د صحابه کرامو او تابعينو په زيات شمير آثار نقل دي .

عوامي يعني د عملي ژوند په باره کي به تاسو وينئ چي هغه باب ډېر تفصيلي دی چي د هغه تل شپه او ورځ ضرورت پېښيږي مثلا دعاء، استغفار، اعتصام بالکتاب والسنة ، اسماء الله او دا سي نور بابونه .

مشکوة شريف په اصل کي د (مصابيح السنة) مکمل او مدون شکل دی چي په هغه کي امام محي السنة ، قامع البدعة ابومحمد حسين بن مسعود الفراء البغوي رحمة الله عليه د فقه د کتابونو د بابونو په ترتيب باندي مهمه او عظيم الشان د حديثونو ذخيره جمع کړې وه ، امام بغوي رحمة الله عليه د مصابيح ترتيب پر دوو فصلونو باندي کړی وو ، په لومړني فصل کي هغوئ د

شیخین یعني امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله روایت سوي حدیثونه نقل کړي وه او په دوهم فصل کي د نورو امامانو او محدثینو مثلا امام ابوداؤد، امام ترمذي څخه روایت سوي حدیثونه جمع کړي وه او هغوئ یوازي د حدیثونو په نقل کولو اکتفاء وکړه نه یې د کتاب حواله ورکړې ده او نه د راوي نوم ذکر سوی دی.

د اتمي پیړۍ جلیل القدر عالم او رفیع المرتبت محدث ولي الدین ابو عبدالله الخطیب العمري التبریزي رحمة الله علیه دغه کتاب د نوي سره څخه ترتیب او د تدوین لپاره اختیار کړ، هغوئ تر ټولو وړاندي په دغه کتاب کي د یو دریم فصل اضافه وکړه او په هغه کي نه یوازي دا چي د نورو امامانو او محدثینو حدیثونه نقل کړي بلکه په خپله د شیخینو یعني بخاري او مسلم حدیثونه هم اضافه کړل کوم چي په اصل کتاب مصابیح کي امام محي السنة پرې ایښي وه.

دوهم هغوئ د هر حدیث څخه وروسته د هغه کتاب یا محدث حواله ورکړه د چا څخه چي هغه حدیث نقل سوی وو.

دریم دا چي د حدیث څخه مخکي د راوي نوم یې ذکر کړ د کوم چا څخه چي حدیث روایت سوی وو په همدې ډول د کتاب ارزښت د مخکي څخه آسمان ته ورسیدی.

مشکوة شریف ته چي کوم عظمت او رفعت تر لاسه دی د هغې اندازې ددې څخه لږ کیدلای سي چي د کوم وخت څخه دغه کتاب په وجود کي راغلی دی د هغه وخت څخه تر نن ورځي پوري په عربي مدرسو کي ددغه کتاب په نصاب کي شاملول ضروري ګڼلي دي.

نن هم په ټولو عربي مدرسو کي دغه کتاب د صحاح ستة څخه مخکي ویل کیږي.

په اصل کتاب (مصابیح السنة) کي څلور زره څلور سوه څلور دیرش (۴۴۳۴) حدیثونه نقل سوي وه، وروسته علامه خطیب تبریزي رحمة الله علیه چي د کومو حدیثونو زیاتوالی کړی دي د هغه شمیر یو زر پنځه سوه او یوو لس (۱۵۱۱) دی، په همدې ډول د مشکوة شریف د ټولو حدیثونو شمیر پنځه زره نهه سوه پنځه څلوېښت (۵۹۴۵) سو.

د مظاهر حق لیکوال او د هغه د شاګرد توب لړۍ

(ولي اللّٰهي کورنۍ) د اسلامي هند د علمي تاریخ هغه باب دی چي د هغه شغلو تر ټولو مخکي پر هندوستان باندي د علم حدیث رڼا خپره کړل، او د هغوئ وګړي په علم او معرفت کي د لمر او سپوږمۍ په شان وځلېدل، حضرت شاه ولي الله رحمة الله علیه چي د هغوئ وجود د هندوستان د محدثینو لپاره مدار سند دی او د هغوئ د فخر وړ زوی، شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه د ولي الله د

خاندان د علم د لوړوالي درجه نوره هم لوړه کړل او حضرت شاه اسحاق چي د شاه عبدالعزيز د درس مسند صدر نشين او د هغوئ جانشين وګرځيدی ددغه ستري کورنۍ هغه هستۍ دي چي د هغوئ يادوني په هندوستان او لروبر کي د خدمت حديث د هري لړي ځلانده عوان جوړيږي، او دمظاهر حق مؤلف مولانا نواب محمد قطب الدين خان دهلوي د شاګردۍ لړۍ هم داده.
ددغه سترو هستيو مختصر حالات بيانيږي:

حضرت شاه ولي الله دهلوي رحمة الله عليه

نومړی پر څلورم شوال (۱۱۱۴هـ) کال کي د چارشنبې په ورځ د صبح صادق په وخت کي وزيږيدی، د نومړي والد محترم شيخ عبدالرحيم رحمة الله عليه چي د خپل وخت يو جليل القدر عالم او ستر صوفي وو، د نومړي روزنه يې په خپل ځانګړي انداز کي وکړه تر ټولو وړاندي يې د پنځه کالو په عمر کي په مدرسه کي داخل کړ، هلته يې د قرآن کريم تعليم پيل کړ، نوموړي په فطري توګه سره د علم سره شوق درلودی او د ازل څخه په فطري رباني قابليتونو سنبال وو ځکه د اوو کالو په عمر کي يې قرآن کريم ختم کړ، بلي خوا د والد محترم ځانګړي روزني دا جوهر وښودل چي حضرت په دغه لږ عمر کي د آدب، اخلاق منزلونه قطع کړل کوم چي د لوی لوی عمرونو والا ورته په مشکله رسيږي، د هستوګني، ناستي ولاړي، او خبرو اترو آداب او طريقې يې د کم عمرۍ په حالت کي تر لاسه کړي دي، د نومړي عامه قاعده وه چي په دغه عمر کي هم د يو مشر سره به يې خبري کولې که څه هم هغه به د لوړي مرتبې او درجې سړی وو، د آدب په لحاظ به يې ستر کي کښته ساتلې د سوالونو جوابونه به يې په ډير باوقار او متين لهجه کي ورکول د دوستانو او ملګرو سره به په خبرو اترو کي د تهذيب او ښکلا د حدودو څخه تجاوز نه کوی.
د خپل عمر اووم پړاو ته چي ورسيدی نو د فارسي کتابونه يې پيل کړل په لږ وخت کي يې ټول کتابونه ختم کړل او د فارسي په علومو کي يې رسوخ تر لاسه کړ، د فارسي کتابونو د فراغت څخه وروسته د صرف او نحوي لومړني کتابونو باندي يې عبور تر لاسه کړ د لسو کالو په عمر کي يې شرح ملا ولوستل.

په سوانح نګار کي ليکي چي د لسو کالو په عمر کي د نومړي د صرف او نحوي په علومو کي داسي حاوي سوی وي چي لوی لوی صرفي او نحويان چي د خپل فضل پر بناء د عظمت او توقير نظر سره ورته کتل کېدل د نوموړي سره ددې فنون مسائلو باندي خبرو کولو څخه به يې بيره کول، ددې څخه وروسته يې د معقولاتو کتابونه پيل کړل، دلته يې د مخکي څخه همدا

طبیعت تر لاسه کړې وو د تیز ذهن او ذکاوت په وجه دا مرحله یې هم په لږ وخت کې تر سره کړه.
د څورلسو کالو په عمر یې واده وسو مګر د دې سربیره د علم د تر لاسه کولو لړۍ روانه وه، د واده په کال کې یې تفسیر بیضاوي پر خپل والد محترم ووایه او د دې سره په هغه علومو کې یې هم پوره علم تر لاسه کړ کوم چې ذ هغه وخت په علماؤو کې درس کېدل، په دغه کال کې یې د خپل والد محترم سره بیعت هم وکړ او د مشائخو نقشبندیه د وظیفو په لړۍ کې بوخت سو، تصوف پر علم یې باقاعده تحقیق وکړ او په هغه کې یې هم د پوره مهارت تر لاسه کولو وروسته په هغه کې رموز، نکات او حکمات پیدا کړل چې لوی لوی مشائخ، صلحاء او علماء د دې کم عمره صوفي په وړاندې د عقیدې مخ کښېنته کړ.

د څلورلسو کالو په عمر کې یې د ټولو علوممو متعارفه او متداوله څخه فراغت تر لاسه کړ او بلې خوا ته د سلوک او طریقت مراحل یې هم قطع کول، نو دده والد محترم شیخ عبدالرحیم رحمة الله علیه یو عام دعوت وکړ چې په هغه کې د ښار خلک او لوی لوی عالمان او فاضلان په خاصه توګه را وبلل سول او په هغه دعوت کې خپل پلار محترم د خپل لائق زوی پر سر د ستار فضیلت هم وتړی، او د عام درس اجازه یې ورکړه.

د والد صاحب د وفات څخه وروسته نوموړي د هغوئ د مسند درس ځای ناستی وګرځیدی او ددینیات او معقولات د کتابونو درس ورکول یې پیل کړل، په لږ وخت کې د نوموړي د درس شهرت خپور سو د لیرې لیرې څخه طالبان د علم لپاره راتلل او د علم د شتمنی څخه به یې خپل لمنې ډکولې.

په هندوستان کې د حدیثو د علم بنیاد که څه هم شیخ عبدالحق دهلوي رحمة الله علیه اینبی دی او څکه مؤرخین د لومړنیتوب تاج د هغه پر سر تړي مګر په برصغیر کې د علم حدیث د رواج کولو او خپرولو اصل تاج دولي اللهي کورني پر سر دی، که د هندوستان پر تاریخ رڼا واچول سي او د هغه وخت د حالاتو مطالعه وکړل سي نو څرګنده به سي چې هغه وخت پوره هندوستان باندې د جهالت او ګمراهۍ تیاره خپره سوې وه، مسلمانانو نبوي علم بالکل پرې اینبی وو تر دې چې اسلام هم په هغوئ کې یوازې د نامه اسلام پاته سوی وو، په دې کې شک نسته چې شیخ عبدالحق دهلوي رحمة الله علیه په هغه ماحول کې د حدیثو او قرآن کریم د علومو هڅې وکړې مګر حالات دومره خراب سوي وه چې هغه خرابۍ او تیاره لیرې نه سوه کومه چې د پیړیو څخه د مسلمانانو په زړونو کې ځای نیولی وو، مګر د هندوستان مځکه د علم حدیث په مقدسو شغلو

سره منور کېدل وه ځکه نو دهغوئ د وفات څخه وروسته الله تعالی د هغه مانۍ یو بل معمار را پیدا کړ د کوم بنیاد چې شیخ عبدالحق دهلوي رحمه الله اینبی وو، د شاه ولي الله رحمه الله پلار محترم شاه عبدالرحیم رحمه الله په زاړه دهلي کې په هغه ځای کې چې نن سبا د مهندیانو په نامه سره مشهور دی د رحیمیه مدرسې بنیاد کېښودی چې په هغې کې د علم حدیث تعلیم پیل سو، شاګردان په ډیر شمیر د حدیثو ویلو لپاره راتلل پیل سول او په خلکو کې د علم حدیث تر لاسه کولو ډیر شوق پیدا سو مګر حضرت شاه عبدالرحیم چې د احادیثو د علم د پراخۍ څومره زیات کوښښ وکړی هغومره کامیابي ورته نصیب نه سول.

په پای کې د شاه ولي الله د محترم پلار د وفات څخه وروسته په مدرسه رحیمیه کې چې د هغې بنیاد خپله د هغوئ پلار محترم شیخ عبدالرحیم رحمه الله اینبی وو شاګردانو ته درس ورکول پیل کړل او تر دوولسو کالو پوري په ذوق او شوق سره د علم نبوي د فیوضاتو د چینې څخه نه یوازي دا چې هندوستان بلکه د عرب او عجم شاګردان هم اوبه کړل.

که څه هم د دولسو کالو په دغه اوږدې موده کې د نوموړي علمي کمال عروج ته رسیدلی وو او په دیني او عقلي علومو کې تر حیرانونکي حده پوري یې ملکه پیدا سوې وه چې د وخت لوی لوی عالمان ورته د عقیدت څخه سر کښته کوی مګر د علم لټونکي طبعیت پر دې بس ونه کړل او د علم حدیث د نور تر لاسه کولو لپاره یې د سفر سامان وتړی او مکې معظمې ته روان سو.

په کال (۱۱۴۳) هـ کي نوموړي د حرمین شریفین د زیارت څخه فارغ سو، ددې څخه وروسته تر یوه کال پوري یې د حرم محترم او حرم نبوي په خدمت کولو سره روحاني فیوضات او برکات تر لاسه کول، او بیا د علم تر لاسه کولو لپاره د علماؤ او صالحینو په لور متوجه سو، تر ټولو وړاندي د شیخ محمد وفدالله ابن شیخ محمد بن محمد بن سلیمان المغربي په خدمت کي حاضر سو چې د خپل وخت جلیل القدر محدث او په حرمین کي استاذ العلماء بلل کېدی، استاذ ورته په ډیر عزت او احترام سره بنه راغلاست ووایه او شاه صاحب د مؤطا یحیی بن یحیی د پوره اورولو سره ددې او د شیخ محمد بن محمد ابن سلیمان د ټولو روایاتو اجازه تر لاسه کړه.

د دې څخه وروسته شاه صاحب د شیخ ابوطاهر محمد بن ابراهیم کردي مدني په خدمت کي حاضر سو چې په خپل علم، فضل، زهد، تقوا، فصاحت او بلاغت کي په اهل عربو کي د

لوی عظمت خاوند منل کیدی او په علم حدیث کي یې خپل امتیازي مقام درلودی، شاه صاحب د هغوئ څخه یوازي دا چي علم حدیث تر لاسه کړي او علمي مذاکرې سره نور هم فیض تر لاسه کړي بلکه د تصوف او سلوک اعلی منازل یې هم طی کړل ، د هغه ځای څخه د فارغ کېدو وروسته کله چي رخصت کیدی نو استاذ ورته د احادیثو اجازه ورکړه او د خلافت خرقه یې په خپل لاس اغوستلو سره پرنم سترګو سره یې په خپلو قیمتي نصائحو سره رخصت کړ.

په دې لړه کي شاه صاحب د شیخ تاج الدین قلعي حلقي په خدمت کي هم حاضر سو او د هغوئ څخه یې د بخاري شریف څخه پرته د حدیثونو نور موثوق بها کتابونو اجازه هم واخیستل.

د حرمین د جلیل القدر محدثینو او علماؤو د روحاني فیضونو څخه او د هغوئ د علم د چینې څخه په پوره توګه اوبه کېدو سره شاه صاحب په (۱۱۴۴) هـ کال کي بیا د حج په نعمت مشرف سو او د (۱۱۴۵هـ) کال په پیل کي خپل هیواد ته راستون سو ، او په (۱۲رجب ۱۱۴۵هـ کال کي د جمعې په ورځ دهلي ته راورسیدی، د حرمینو شریفینو څخه د ستنېدو وروسته د شاه صاحب د حدیثو درس یو نوی شکل اختیار کړ ، یا داسي به ووایو چي د علم حدیث کومي رڼا سره چي د نومړي زړه او دماغ پوره منور سوی وو د هغه شغلو ددهلي مدرسه رحیمیه څخه اطراف عالم منور کېدل پیل کړل ، همداسي شاه صاحب په پوره شان او شوکت او عزت او عظمت سره د حدیث په مسند درس کښېنستلو سره د حدیث نبوي علوم او معارف په ټول هندوستان کي خپاره کړل او د هغو خپرېدل یې وکړه چي هغه ترنن ورځي پوري هندوستان د نور څخه ډکوي.

د (کل نفس ذائقة الموت) سره سم کله چي د شاه صاحب د ژوند پیمانه ډکه سوه نو د (۶۲) کالو په عمر کي په کال (۱۱۷۶هـ) کي وفات سو او په دهلي کي خاورو ته وسپارل سو.

حضرت شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه

د شاه ولي الله رحمة الله علیه څلور مشهور او جلیل القدر زامن وه :

۱. شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه .
۲. شاه عبدالقادر رحمة الله علیه .
۳. شاه رفیع الدین رحمة الله علیه .
۴. شاه عبدالغني رحمة الله علیه .

که څه هم دده څلور سره زامن په علم، فضل، فهم، قوت تقریر، فصاحت، تقوا ،امانت او دیانت

کي یو ډول او بیله مثله ګڼل کیږي ، مګر په دوئ ټولو کي شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه د عظمت او منزلت او علم او فضل د لحاظ څخه ممتاز دی او دا هغه ذات دی چي خپل کورنۍ یې په ټولي نړۍ کي ځلانده کړې ده ، په دې کي هیڅ شک نسته که په دغه ستره کورنۍ کي د شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه وجود نه وای نو دغه کورنۍ به د عزت، شهرت او عظمت مرتبې ته هیڅکله نه وای رسیدلې او کوم تاریخي شهرت چي نن دوئ ته تر لاسه دی هیڅکله به نه وای تر لاسه سوی .

د نوموړي زیږېدنه په (۱۱۵۹هـ) کي وسول او د شاه ولي الله رحمة الله علیه په شان د یو عظیم پلار او مقدس ذات تر روزني لاندي یې د علم او روزني لومړنۍ مرحلې قطع کړې، د پنځو کالو په عمر کي په مدرسه کي داخل کړل سو او د قرآن کریم تعلیم یې پیل کړل، نوموړي نه یوازي په نسبي توګه بلکه په فطري توګه هم ډیر ذهین، سلیم الطبع، خوش فهم وو ، په ډیر لږ عمر کي یې د قرآن کریم تعلیم پوره کړ ، د قرآن کریم د تعلیم څخه وروسته یې د فارسي ابتدائي تعلیم پوره کړ او د هغه وروسته یې د دوو یا درو کالو په لنډه موده کي د صرف او نحو کتابونه ختم کړل ، ددې څخه وروسته د نوموړي تعلیم د شاه ولي الله رحمة الله علیه د یو قابل خلیفه تر لاس لاندي پیل سو، تقریبا د دوو کالو په وخت کي یې د عربي په مختلفو فنونو کي ترقي او کامیابي تر لاسه کړه . د دیارلسو کالو په عمر کي نوموړي د معمولي درسي تعلیم څخه پرته د صرف، نحو، فقه، اصول، منطق، عقائدو، هندسه، هیبت، ریاضي په ډول عظیم الشان فنونو څخه فراغت تر لاسه کړی وو ، ددغه علومو د تر لاسه کولو څخه وروسته نوموړي د خپل پلار شاه ولي الله رحمة الله علیه په حلقه درس کي شامل سو او د حدیث تعلیم تر لاسه کول یې پیل کړل ، په دوو کالو کي شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه د حدیثو ټول کتابونه د خپل پلار محترم څخه وویل ، د نوموړي عمر تقریبا پنځلس کاله وو چي د ټولو علومو او فنونو څخه فارغ سو .

د نوموړي په کورنۍ کي د علوم نقلیه څخه پرته د علوم عقلیوو هم رواج وو او د شاه ولي الله رحمة الله علیه په درس ګاه کي د یوې خوا د حدیث او تفسیر علوم په پوره پابندي سره ویل کېدل د بلي خوا د منطق او ریاضي تعلیم هم په لوړه کچه ورکول کیدی ، څکه شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه چي د علوم عقلیه او نقلیه د تر لاسه کولو او د باطني کمالاتو د تکمیل څخه فارغ سو نو پلار محترم یې د آخرت په سفر روان سو ، د هغوئ د وفات څخه وروسته د مسند درس جانشین شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه وګرځیدی ، که څه هم د شاه ولي الله رحمة الله علیه د وفات په وخت کي د شاه

عبدالعزیز رحمه الله علیه عمر اووه لس کاله وو مګر د خپل علمي تجربې ، علمي کمالات او باطني رسوخ پر بناء لوی لوی عالمان به د نوموړي په خدمت کي حاضرېدل او په ډیر شمیر سره به شاګردان راتلل او د نوموړي د چینې څخه به یې خپله علمي تنده ماتول .

د نوموړي په اړه د صاحب اتحاف النبلاء ګواهي ده چي په حقیقت کي د علم حدیث تخم د هندوستان په سخته مځکه کي د نوموړي پلار شاه ولي الله رحمه الله علیه وکری، او د خپل ځیګر په وینو سره یې اوبه کړی او د هغه څخه یې شنه بوټي جوړ کړل چي په لږو ورځو کي شنه او سمسوره سول، او په لږ وخت کي د لیري لیري خلک د هغه د ګلونو او میوو څخه په لمنو ډکولو سره ولاړل .

شاه عبدالعزیز رحمه الله علیه د خپلو نورو علمي کمالاتو سره د خطاطۍ په فن کي هم ملکه درلودل ، ددې سربیره نوموړي حافظه لکه د لوح تقدیر څخه نه وراښېدونکې نسخه وه کوم کتاب چي به یې یوځل ووایه یا کومه خبره به یې واورېدل نو په هغه ډول به یې تر تل پوري یاد سوه ، په هر حال د نوموړي صفات ، د ولي اللهي کورني د معدن علم هغه ملغلره وه چي د هغې رڼا د مسلمانانو زړونه منور کړل، او ددې سره د نوموړي قیمتي تصانیف د علم او فضل د هغه قیمتي ملغلرو څخه مزین دي چي هغه د ټولي نړۍ نظرونه بریښنوي .

نوموړي خپل د علم، فضل، زهد، عزت او عظمت څخه ډک ژوند په ډیر ښه شان سره پوره کړ او ۷ شوال ۱۲۴۸ هـ کال کي د یکشنبې په ورځ د سهار په وخت کي خپل روح وسپارل.

انا لله وانا الیه راجعون.

حضرت مولانا شاه محمد اسحاق مهاجر مکي رحمه الله علیه

د حضرت شاه عبدالعزیز رحمه الله علیه نارینه اولاد نه وو ، د نوموړي درې لوڼې وې د دویمي لور نکاح یې د شیخ محمد افضل صاحب سره سوې وه چي د هغې د نس څخه حضرت مولانا محمد اسحاق صاحب پیدا سو .

مولانا محمد اسحاق صاحب په ۶ ذي الحجة ۱۱۹۷ هـ کال زیږېدلی دی .

د شاه عبدالعزیز رحمه الله علیه زوی نه وو ځکه نو د هغه زیاته توجه پر ده باندې صرف کېدل او د ده روزنه هم هغوئ په خپل هغه انداز سره وکړل لکه څرنګه چي د ولي اللهي د کورنۍ د نوزو وګړو سوې وه .

نوموړی د ابتدائي تعلیم څخه وروسته د علم حدیث د تر لاسه کولو لپاره د شاه عبدالعزیز په

حلقه کي ګډون وکړ، د تعلیم څخه د پوره فراغت وروسته مسند درس ته یې په خپل تمکین سره اعزاز وبخښی او پرله پسې تر شلو کلو پورې د شاه صاحب په مخکې د نوي ذهن او فکر درلودونکو شاګردانو ته د حدیث درس په خپل خاص انداز سره ورکوی.

د سنت نبوي اتباع او د رسول الله ﷺ سره زیاته مینه د نوموړي دژوند غوره مقام وو، د نوموړي تاریخ لیکونکی لیکي چې د نوموړي څخه په هیره هم هیڅکله د سنت خلاف کارونه صادر سوي نه وه، د قدرت فیاض د حسن سیرت څخه پرته د حسن صورت په دولت هم شتمن وو ځکه د مخ تازګي د نوموړي نجابت او شرافت غمازي کول او د نوموړي مخ لیدو سره به خلکو ته یقین کیدی چې د نبي کریم ﷺ د صحبت څخه چې فیض کومو کسانو تر لاسه کړی دی نو هغه به یقینا دغه صورت او سیرت وي.

کله چې شاه عبدالعزیز رحمه الله د آخرت سفر قبول کړ نو د الله مخلوق د ولي اللهي د کورنۍ د سیادت (مشرتابه) لنګوټه د نوموړي پر سر کښېښودل او د شاه صاحب جانشین وګرځول سو، ټولو معتقدینو او شاګردانو د نوموړي په لور رجوع وکړل او د دوئ د علومو د چینې څخه یې فیض اخیستل پیل کړل.

د شاه عبدالعزیز رحمه الله د ځای ناستي کېدو په وجه دوئ ته هغه عزت او عظمت حاصل سو کوم چې د دغه ستري کورنۍ نورو امامانو ته حاصل وو مګر د دغه شان او شوکت سربیره صرف د الله تعالی د رضا او د هغه د خوشحاله کولو لپاره نوموړي د مکې مکرمې په لور هجرت اراده وکړه او سره د خپل کورنۍ حجاز ته ولاړی، هلته یې د حج فرائض ادا کړل او بیرته یې څو ورځي وروسته هندوستان ته تشریف راوړ.

دلته په را رسیدو سره د الله مخلوق پر را چاپیره سو نو د خپل وعظ او نصیحتو په ذریعه د هغوئ روحاني تربیت یې کول مګر د هندوستان پر پوره فضا باندي د رسمونو، بدعاتو او ګمراهۍ تیاره خپره وه او د اسلامي شعار پر ځای بې دیني خپره وه نو نوموړي بالکل بې زغمه سو او ددې ځای څخه یې د هجرت پخه اراده وکړه، دښار ټولو اوسیدونکو او خپله د وخت پاچا یې زارۍ وکړې چې تاسو د هندوستان څخه تشریف مه وړئ مګر حضرت ونه منل او د ټولي کورنۍ او لواحقینو سره یې مکې معظمې ته تشریف یووړ او هلته یې اوسیدل غوره کړل او هم هلته په کال (۱۲۶۲ھ) کي وفات سو.

د مظاهر حق مؤلف
علامه نواب محمد قطب الدين خان دهلوي رحمة الله عليه

نوموړی د دهلي د يو صاحب حيثيت او باعزته کورنۍ د ستر ګو تور وو، پلار او نيکه يې هميشه د سلطاني دربار مقرب راغلي وه او د خپل خدمات جليله په صله کي يې لوی لوی مناصب او عهدې تر لاسه کړې وې، نوموړي ته هم په دهلي کي د لوی عزت او عظمت په نظر سره کتل کېدل او د وخت د پاچا په نظر کي د درجې خاوند وو، د نوموړي زېږېدنه په (۱۲۱۹هـ) کال کي سوې ده، د لومړنۍ روزني څخه وروسته د علم د تر لاسه کولو لپاره حضرت شاه محمد اسحاق دهلوي رحمة الله عليه په خدمت کي ورکړل سو او د هغوئ څخه يې فيض تر لاسه کړ او د حديثو په علم کي کمال ته ورسيدی، د هغوئ څخه پرته د حرمين شريفين د علماؤ د علم د چينې څخه هم فيض ياب سوی وو.

د شريعت پيروي د نوموړي د ژوند يو امتيازي مقام وو، په وضع او قطع کي د خپل استاذ ريښتونی پيرو وو او د هغوئ سره دومره مشابه وو چي يو چا مولانا اسحاق نه وای ليدلی نو د دوئ په لېدو سره به ورته سکون تر لاسه کېدی، د علم او فضل په لوړه مرتبه کېدو څخه پرته تواضع، خاکساري، زهد، تقوا، عبادت او اخلاقو کي د اعلی درجې خاوند وو.

د نوموړي د علمي ژوند تر ټولو لويه کارنامه د مشکوة شريف اردو ترجمه او شرح په نامه د مظاهر حق ده، ددې څخه پرته د نوموړي د تصانيفو شمير هم ډير زيات دی چي د نوموړي د علم او فضل شاهکار دي، په پای کي نوموړي مکې معظمې ته تشريف يووړ او هم هلته په (۱۲۸۹هـ) کال کي وفات سو.

انالله وانا اليه راجعون.

صاحب مصابيح السنة

امام محي السنة قامع البدعة حضرت ابومحمد حسين بن مسعود الفراء البغوي رحمه الله

نوموړی د بغشور او سیدونکی وو چي په خراسان (افغانستان) کي د هرات او مرو په منځ کي یو کلی دی له دې کبله نوموړی د بغوي په نسبت سره مشهوره دی، د امام محي السنة په باره کي ویل کیږي چي نوموړی په خپله زمانه کي یو جلیل القدر عالم ، فقید المثال محدث او رفیع الشان مفسر وو ، په فقه، حدیث او تفسیر کي یې مثال نه درلودی له دې کبله د هغه وخت ټولو محدثینو، مفسرینو او علماؤ حضرت صاحب خپل پیشوا او امام ګڼی او هغه وخت د مفتي اعظم په ستر منصب هم فائز وو .

نوموړی د دغه علومو څخه پرته د قرائت په علم کي هم پوره مهارت درلودی او یو باکمال قاري تسلیم سوی وو ، نوموړی د علم او فضل په دې عظیم منصب د فائز کېدو سربیره او د خپل ټول دیني او دنیاوي عزت سربیره ډیر ساده ، بې تکلفي او انکساري درلودل .

نوموړی د زهد ، تقوا او لوړو مرتبو خاوند وو ، په زړه کي خشیت الهي او د آخرت بیره ډیره زیاته وه په عشق نبوي سره یې د ژوند هر اړخ منور وو ، د دنیا د عیش او عشرت څخه په میلونو لیري وو حال دا چي په دنیاوي توګه هم د عزت کوم مقام چي نوموړي ته حاصل وو د هغه پر بناء که حضرت غوښتلای نو د دنیا ټول نعمتونه او راحتونه به دده په قدمو کي وای ، مګر د زهد او استغناء یې دا حد وو چي نوموړي همیشه د وچي ډوډی خوړلو سره خپل ورځي پوره کړلې . د نوموړي د کمال ، زهد او استغناء دغه کیفیت لېدو سره شاګردانو ورته عرض وکړ چي تاسو وچه ډوډی خورئ داسي نه سي چي ددې په وجه ستاسو پر زړه او دماغ باندي د ضعف غلبه پیدا نسي او د دین اسلام کوم خدمت چي تاسو سرته رسوئ په هغه کي د عدم قوم او ضعف په وجه کمزوري پیداسي ، نو ددې څخه وروسته نوموړي یوازي دومره تبدیلي وکړه چي وچه ډوډی به یې د زیتون په تیلو سره لړلندول او خوړل به یې .

د محي السنة عظیم لقب نوموړي ته په خپله د رسول الله ﷺ د لوري ورکړل سوی دی. مؤرخین او محدثین لیکي چي کله نوموړي خپل مشهور کتاب شرح السنة څخه فارغ سو نو یو ځل په خوب کي د رسول الله ﷺ په زیارت مشرف سو ، هغه وخت رسول الله ﷺ په امام صاحب مخاطب کولو سره دغه دعائیه جمله ارشاد وفرمایل څرنګه چي تا زما سنت د خپل تصنیف په ذریعه ژوندي کړل همداسي دي الله تعالی تا هم ژوندی وساتي د هغه وخت څخه وروسته د

نوموړي (محي السنة) لقب سو .

د نوموړي د ژوند تر ټولو مشهوره کارنامه د نوموړي مشهور تصنيف (مصابيح السنة) دی چي د مشکوة شريف بنياد او متن دی ، نوموړي د صحاح ستة او نورو مستند او معتبرو کتابونو څخه د احاديثو دغه ذخيره جمع کولو سره د فقه د کتابونو پر بابو باندي ترتيب وفرمايل، د نوموړي دوهم عظيم تصنيف معالم التنزيل دی چي د قرآن کريم په تفاسيرو کي يو وقيع درجه لري . نوموړی په کال (۵۱۶هـ) کي وفات سو . رحمة الله عليه .

صاحب مشكوة المصابيح

علامه ولي الدين ابو عبدالله محمد بن عبدالله الخطيب العمري التبريزي رحمة الله عليه

د نوموړي اصلي نوم محمد دی ، ځينو محمود ليکلی دی مګر زيات صحيح او مشهور محمد دی، کنيت يې عبدالله او لقب يې ولي الدين دی، د پلار محترم نوم يې عبدالله دی، په نسب عمري دی او په خطيب تبريزي مشهور دی .

نوموړی د خپل وخت جليل القدر عالم ، ستر محدث د فصاحت او بلاغت امام، په زهد او تقوا سره متصف او د لوړو اخلاقو او عاداتو خاوند وو، د خپل زماني د عظيمو شيوخو او استاذانو څخه يې علم تر لاسه کړ او کوم يې شميره لائق او فائق شاګردان چي يې د خپل علم او فرعان څخه مستفيد کړل په هغوئ کي شاه سادي رحمة الله عليه په سر کي دی .

د نوموړی د علم او فضل لويه کارنامه (مشکوة المصابيح) دی چي د مشکوة شريف په نامه سره مشهور دی ، او د حديث بنيادي کتاب منل کيږي، د نوموړی دغه کتاب ته چي په دنيا کي د اعتبار او قبوليت کوم مقام نصيب سو د هغه يوه اندازه د مشکوة د تراجم پيل او حواشي ددې اوږد فهرست څخه لږ کېدلای سي مثلا :

۱. الکاشف عن حقائق السنن ، از علامه حسن بن محمد الطيبي رحمة الله عليه .
۲. شرح مشکوة از ابو الحسن علي بن محمد علم الدين بخاري رحمة الله عليه .
۳. منهاج المشکوة ، از شيخ عبد العزيز ابهري رحمة الله عليه .
۴. مرقاة شرح مشکوة، از شيخ نورالدين علي بن سلطان محمد هروي معروف به ملاعلي قاري رحمة الله عليه .
۵. شرح مشکوة ، از شيخ شهاب الدين ابو العباس احمد بن محمد بن علي بن جوهشمي.
۶. حاشيه مشکوة ، از سيد شريف علي بن محمد جرجاني رحمة الله عليه .

۷. حاشیه مشکوة از شیخ محمد سعید بن المجدد الف ثاني رحمة الله علیه.
۸. هدایة الرواة الی تخریج المصابیح والمشکوة از شیخ ابو الفضل احمد بن علي معروف به ابن حجر عسقلاني رحمة الله علیه.
۹. لمعات التنقیح، عربي.
۱۰. اشعة اللمعات فارسي، از شیخ عبدالحق محدث دهلوي.
۱۱. التعلیق الصبیح از مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمة الله علیه.
۱۲. مرغاة المفاتیح، از مولانا عبیدالله رحماني مبارکپوري رحمة الله علیه.
۱۳. ازیقة النجاة شرح مشکوة از شیخ عبدالنبي عماد الدین محمد شطاري رحمة الله علیه.
۱۴. زینة النکاة في شرح المشکوة. از سید محمد ابوالمجد محبوب عالم احمد آبادي رحمة الله علیه.
۱۵. مظاهر حق (اردو) از علامه نواب محمد قطب الدین خان دهلوي.
۱۶. ترجمه مشکوة (جلد اول) از مولانا کرامت علي جونپوري رحمة الله علیه.

د صاحب مشکوة خطیب تبریزي رحمة الله علیه د وفات کال د تحقیق څخه معلوم نه سو مګر دا یقیني ده چي د (۷۳۷هـ) کال څخه وروسته وفات سوی دی ځکه چي د جمعې په ورځ د روژې په مبارکه میاشت کي په (۷۳۷هـ) کال کي د دغه کتاب د تالیف څخه فارغ سو نو تر دې څو کاله وروسته به د نوموړي وفات سوی وي، ځینو حضراتو د اندازې څخه د وفات کال (۷۴۷هـ) ذکر کړی دی او ځیني حضراتو لیکلي دي چي په (۷۴۰هـ) کي وفات سو.

د حدیثو امامان

په مشکوة شریف کي چي د کومو امامانو د کتابونو څخه احادیث منتخب سوي دي هغوئ په ځانګړې توګه دیارلس (۱۳) دي، یعني امام بخاري، امام مسلم، امام مالک، امام ابن ماجه، امام دارقطني، امام بیهقي، امام رزین ابن معاویه د دوئ څخه پرته امام نووي او د امام ابن جوزي ذکر هم دی، د دغه ټولو امامانو احوال په لنډه توګه نقل کیږي.

د مصابیح السنة یا مشکوة شریف د یو حدیث روایت یا نقل تعلق که څه هم د حضرت امام ابوحنیفة رحمة الله علیه سره نسته او په پورتني فهرست کي د هغه نوم نسته مګر د دین د امامانو او محدثینو د ذکر جمیل هیڅ لړۍ هم زموږ په نزد تر هغه وخته پوري پوره کیدلای نسي تر څو پوري چي د حضرت امام ابوحنیفة رحمة الله علیه تذکره په هغه کي شامله نسي ځکه د حدیث د امامانو د فهرست په پای کي په اجمالي ذکر کي حضرت امام صاحب رحمة الله علیه هم شامل کړل سوی دئ.

حضرت امام بخاري رحمة الله عليه

د امام بخاري رحمة الله عليه اصلي نوم محمد بن اسماعيل بن ابراهيم بن مغيره بن بردزبه دی او د روايت په اختلاف په ۱۳ يا ۱۶ شوال (۱۹۴ھ) کال کي د جمعې په ورځ دلمانځه څخه وروسته پيدا سو، نومورى د جعفي قوم څخه مشهور دی ځکه چي د نومورې ورنيکه (دنيکه پلار) مغيره چي د کوم بزرګ په لاس سره په اسلام مشرف سو هغه د جعفي قوم څخه وو او د هغه نوم يمان جعفي وو، يمان جعفي په هغه زمانه کي د بخارا سردار وو ځکه چا به چي د هغوئ په لاس ايمان راوړ نود هغه د قوم په لوري به يې خپل انتساب کوی ځکه حضرت امام بخاري رحمة الله عليه هم په جعفي مشهور سو، د حضرت امام بخاري رحمة الله عليه بينائي د وړکتوب څخه کمېده چي په هغه سره به دده مور مبارکه ډيره غمجنه او پريشانه وه، يو وار هغې د غم او پريشانۍ په حالت کي حضرت ابراهيم عليه السلام په خوب کي وليدی چي فرمائي خوشحاله سه چي الله تعالى ستا پر فرياد او ژړا باندي رحم وکړ او ستا دعاء قبوله سوه يعني ستا دزوی بينائي بيرته ورکړل سوه، د هغه مور بي بي چي سهار راکښېنستل نو وه يې ليدل چي د خوږ زوی سترګي يې روښانه سوي دي.
د لسو کالو په عمر کي کله چي بخاري صاحب په مدرسه کي سبق وايه نو د هغه وخت څخه دا کيفيت وو چي يو حديث به يې واوريدی نو سمدستي به يې ياد کړ نو د هم هغه وخت څخه هغه حديثونه په يادول پيل کړي وه.

کله چي د مدرسې د تعليم څخه فارغ سو نو معلومه سوه چي په بخارا کي يو محدث او عالم داخلي رحمة الله عليه ډير شهرت لري نو امام بخاري رحمة الله عليه هغه ته ورتلی، په هغه ورځو کي داخلي خپل کتاب چي د حديثو په فن کي وو او په هغه کي حديثونه ليکلي وه خلکو ته لوستل.
يو وار داخلي د خلکو په مينځ کي ناست د رسول الله ﷺ حديثونه يې لوستل او د حديث بيانولو په وخت چي هغوئ د حديث سند پيل کړ نو وه يې ويل: سفيان عن ابي الزبير عن ابراهيم، امام بخاري بخاري سمدستي وويل چي ابوزبير د ابراهيم څخه روايت نه کوي، داخلي ددغه کم عمره ماشوم د ژبي څخه دا اورېدو سره هک حيران سو او کورته ولاړی کتاب يې راوړ او وه يې ويل چي واقعي زما څخه غلطي وسوه، اوس ته ووايه چي دا سند څرنګه دی؟ امام بخاري رحمة الله عليه وويل: داسي دي چي سفيان عن ابي الزبير عن عدي عن ابراهيم، داخلي کتاب وکتی او وه يې ويل چي واقعي ته ريښتيا وايي دا سند همداسي دی، هغه وخت د حضرت امام بخاري رحمة الله عليه عمر يوولس کاله وو، د داخلي د حيرت انتها نه وه چي په دغه ماشوم کي څومره قوي

حافظه او ذهين دی نو هغه خوشحاله هم سو او د امام بخاري رحمة الله عليه ډير تعريف او تحسين يې هم وکړ.

د شپاړلسو کالو په عمر کي يې د ابن مبارک او وکيع کتابونه ياد کړل او د خپل مور او ورور احمد سره د حج لپاره مکې معظمې ته ولاړی، د حج څخه د فراغت وروسته مور او وورر ځيني راغلل مګر نوموړی د حديثو زده کولو په لړه کي په حجاز کي تم سو، د اتلس کالو په عمر کي نوموړي کتابونه تصنيف کول پيل کړل، نوموړي يو کتاب د صحابه کرامو او تابعينو د عظيمو کارمانو او واقعاتو او د هغوئ اقوال او احوال باندي مشتمل تصنيف کړ چي د هغه نوم يې (کتاب التاريخ) کښېښود، نوموړي ددغه کتاب مسوده تياره او بيا يې هغه په مدينه منوره کي د نبي کريم ﷺ روضې مبارکي ته نژدې د سپوږمۍ په رڼا کي صاف کړ، جامعه ابن اسماعيل رحمة الله عليه چي د خپل زمانې رفيع المرتبت محدث وو د هغه بيان دی چي په کومه زمانه کي امام بخاري رحمة الله عليه د حديث تر لاسه کولو لپاره خپلو استاذانو ته ورتلی نو زه به هم د هغه سره اوسيدم، د امام بخاري رحمة الله عليه عادت وو چي هغه به د ځان سره قلم او مشوانۍ نه درلودل، ما هغه ته وويل چي تاسود حديث تر لاسه کولو لپاره استاذانو ته دومره په ذوق او شوق سره راځئ مګر قلم او مشوانۍ د ځان سره نه لرئ نو ددې څخه به څه ګټه تر لاسه سي، ځکه چي تر څو پوري تاسو حديث ونه ليکئ نو ياد نه پاته کيږي، که ته حديثونه ياد ساتل غواړې نو هغه ليکل پکار دي.

د حامد بن اسماعيل بيان دی چي شپاړلس ورځي وروسته امام بخاري رحمة الله عليه ما ته وويل چي په دغه وخت کي څومره حديثونه تا ليکلي دي ټول ما ته راوړه او بيا د خپل ليکل سوو حديثونو زما په ذهن کي حديثونو سره مقابله وکړه، حامد په دغه وخت کي پنځلس زره حديثونه ليکلي وه، بخاري رحمة الله عليه خپل ټول حديثونه د خپل حافظې څخه لوستل پيل کړل، حامد بن اسماعيل رحمة الله عليه وايي پکار خو داوه چي اِمام بخاري رحمة الله عليه خپل ياد کړي حديثونه زموږ د ليکل سوو حديثونو سره سم کړي وای مګر دا وسوه چي موږ خپل ليکل سوي حديثونه د هغه د حافظې او ياد د حديثونو څخه صحيح کړل، او هغه پنځلس زره حديثونه پرته د يو لفظ د فرق واورول سول، د حديثونو اورولو څخه وروسته امام بخاري رحمة الله عليه وفرمايل: ستاسو دا خيال وو چي زه خپل وخت ضائع کوم او هسي دومره هڅه کوم، احمد بن اسماعيل رحمة الله عليه وايي چي ما ته د هغه ورځي څخه يقين وسو چي دا سړی ډير هوښيار او بافضيلت دی دده برابري

هیڅوک نسي کولای .

بخاري شریف چي د امام بخاري رحمه الله تر ټولو لویه کارنامه ده چي د کتاب الله (قرآن کریم) ځخه وروسته تر ټولو زیات صحیح کتاب منل سوی دی ، ددې د تالیف وجه داسي بیانیږي چي یوه ورځ امام بخاري رحمه الله د خپل استاذ اسحاق بن راهویه رحمه الله په مجلس کي ناست وو ، د هغوئ شاګردانو په خپل مینځ کي وویل که الله تعالی یو چا ته د یو داسي کتاب د تصنیف توفیق ورکړی چي په هغه کي په لنډه طریقې سره احادیث یو ځای کړل سي او حدیثونه د صحت په اعتبار د باور وړ او د اعلی درجې وي نو ځومره ښه به وي، ددې ګټه به دا وي چي ټول صحیح، معتبر او مستند حدیثونه به یو ځای جمع سي بله دا چي د حدیثو شاګرد به پرته د یو شک او شبهې ځخه هغه تر لاسه کولای سي او عمل به په کولای سي او هغه ته به د یو حدیث په باره کي د یو عالم یا محدث ځخه د پوښتني کولو ضرورت نه وي چي دغه حدیث صحیح دی او که ضعیف .

مجلس خو پای ته ورسیدی ټول خلک ولاړل مګر د بخاري رحمه الله په زړه کي دا خواهش پیدا سو او هغه ددغه مهمي او ستري کارنامې تکمیل ته د رسولو اراده وکړل او د کتاب تصنیف یې پیل کړ .

هغه وخت د نوموړي سره د محفوظ احادیثو سرمایه تقریبا شپږ لکه په شمیر کي وه نو د هغو ځخه یې هغه حدیثونه چي د صحت او سند په اعتبار د لوړي درجې وي نوموړي په خپل کتاب کي جمع کړل او کوم حدیثونه چي د هغه په معیار صحت پوره نه وه هغه یې پرېښودل ، همداسي د ابن راهویه په مجلس کي د امام بخاري رحمه الله د ملګرو د مقدس خواهش نتیجه د جامع بخاري په شکل کي په وجود کي راغلل .

د حضرت امام بخاري رحمه الله ددغه کتاب د تالیف په وخت کي دا عادت وو چي نوموړي به لومړی غسل کوی بیا به یې دوه رکعته نفل کول او د هغه ځخه وروسته به یې یو حدیث نقل کوی او همدارنګه په بخاري شریف کي داسي یو حدیث نسته چي د هغه نقل کولو ځخه مخکي امام بخاري رحمه الله غسل او دوه رکعته نفل نه وي کړي، د شپاړلسو کالو په وخت کي نوموړي ددغه عظیم تصنیف ځخه فارغ سو ، د نوموړي په ژوند کي تقریبا نیوي زرو خلکو بلا واسطه د نوموړي ځخه د حدیثو تر لاسه کولو شرف تر لاسه کړ .

په دغه وخت کي د بخارا حاکم خالد بن احمد زعلي وو ، هغه حضرت امام بخاري رحمه الله ته

پیغام ولیږی چي تاسو زما کور ته تشریف راوړئ چي زما ماشومانو ته خپل کتاب بخاري او نور تصنیفونه مثلا کتاب التاریخ وغیره وواياست، امام بخاري رحمة الله عليه ورته وفرمایل چي دا د حدیثو علم دی زه دا کار د حدیثو د عظمت خلاف گڼم چي ستاسو کور ته د حدیث ښودلو لپاره راسم که ستا دا شوق وي نو خپل زامن زما مجلس ته راولیږه چي هغوئ هم د نورو په ډول کښېنستو سره د حدیث درس تر لاسه کړي، (ځکه چي علم خلکو ته نه ځي خلک علم ته راځي)، د بخارا د حاکم لپاره د امام بخاري رحمة الله عليه دغه جواب د غمجني د وار څخه کم نه وو. مگر بیا هم هغه دا پیغام ور ولیږی چي ښه دی زه دې ته هم تیاریم مگر دا خیال به ساتې چي کوم وخت زما ماشومان تاسو ته حاضر سي نو هغه وخت به بل څوک تاسو ته نه راځي بلکه پر دروازه به باقاعده پهره وي چي هغه نور خلک په دغه وخت کي درس راتلو څخه منعه کوي دا خبره زما لپاره بالکل د زغم وړ نه ده چي په کوم مجلس کي زما زامن وي په هغه مجلس کي دي عوام او نور کم حیثیته خلک هم راسي او د هغوئ سره دي برابر کښیني، امام بخاري رحمة الله عليه د حاکم د شرط منلو څخه انکار وکړ او وه یې فرمایل دا علم د پیغمبر اسلام ﷺ میراث دی په دې کي ټوله امت یو ډول گډون لري ددې په تر لاسه کولو کي هیچا ته پر بل چا باندي برتري تر لاسه نه ده، د بخارا حاکم د امام بخاري رحمة الله عليه ددغه جواب اوریدو سره سخت په غصه سو او دا فیصله یې وکړه چي هر ډول وي ده ته سزا ورکول پکار دي.

د داسي علماؤو په هیڅ زمانه کي کمي نه ده راغلې چي د دولت او شهرت تر لاسه کولو لپاره خپل ضمیر د وخت د حکومت پر لاس خرڅ کړي او صرف د خپل ذاتي گټي او نفساني غرضونو له کبله نه یوازي دا چي د خپل علم تندی د حکومت په ذلیله درشل کي کښیږدي بلکه د مقصد او کامیابۍ لپاره د نورو حق علماؤو په لنگوټه غورځولو کي هم هیڅ دریغ نه کوي، همداسي دامام بخاري رحمة الله عليه سره وسول، داسي علماء چي په ظاهره د امام صاحب رفیق او همدرد وه مگر د بخارا د سردار د دولت په طمع هر څه کولو ته تیار وه، سردار هغوئ ته د ځان سره ملگري کړل او د امام بخاري رحمة الله عليه په علم او فضل کي یې طعن او تشنیع پیل کړل او دامام صاحب رحمة الله عليه پر مسلک او اجتهاد یې تنقید ونه پیل کړل، په پای کي د هغه علماؤو په مرسته یو فهرست الزام یې تیار کړ چي د هغه په وجه امام بخاري رحمة الله عليه د بخارا څخه جلا وطنه کړل سو.

امام بخاري رحمة الله عليه چي کله د ښار څخه وتی نو یوازي دومره یې وفرمایل: اې الله! زه دا معامله تا ته سپارم، تر او سه لا یوه میاشت نه وه تیره سوې چي هغه حاکم خالد بن احمد د وخت

د خليفه د حكم سره معزول كړل سو نه يوازي دا بلكه د خليفه حكم وسو چي دى پر خره سپور كړي او په ټول ښار كي يې مشهور كړي نو د هغه همدا پاى سو .
همداسي يو بل عالم حريث بن ورقه چي د امام بخاري رحمه الله پر خلاف په سازش كي د حاكم ملګرى وو هغه هم په خرابي طريقې سره ذليل او خوار سو او يو بل عالم هم په دغه سازش كي شريك سو د هغه انجام هم دا سو چي د الله تعالى قهر د آفت او بلا په شكل كي هغه ونيوى او د هغه ټول ماشومان مړه سول .
امام بخاري رحمه الله د بخارا څخه ووتى او د نيشاپور ښار ته ولاړى، د نوموړي خود داري او استغناء د نيشاپور حاكم هم ناراضه كړ ځكه نيشاپور هم پرېښودل سو او په آخر كي د سمرقند څخه د شپږ كوسه په فاصله په خرتنګ نامي كلي كي يې هستوګنه اختيار كړه او هم دلته د نوموړي د ژوند پيمانه هم ډكه سوه او د رمضان المبارك د آخري نيټې د اختر په شپه په (۲۵۶هـ) كال كي د (۶۲) كالو په عمر واصل بحق سو . انالله وانا اليه راجعون .
د نوموړي د استاذانو شمير ډير دى په لويو او جليل القدر استاذانو كي په خاصه توګه اسحاق بن راهويه رحمه الله ، علي بن مديني رحمه الله ، احمد بن حنبل او يحيى بن معين رحمهم الله تعالى اجمعين نوموته په خاصه توګه د ذكر وړ دي .
خطيب ابوبكر بغدادي د خپل مسند حوالې سره د عبدالواحد طراوي دا قول نقل كړى دى چي ما نبي كريم ﷺ په خوب كي وليد چي رسول الله ﷺ د خپل صحابه كرامو د ډلي سره د يو چا په انتظار كي ولاړ دى ، ما سلام ادا كړ نو رسول الله ﷺ جواب راكړ ، ما عرض وكړ اې دالله رسوله ! تاسو دلته د چا د انتظار لپاره ولاړ ياست ،؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : موږ د محمد بن اسماعيل اتنظار كوو ، عبدالواحد وايي كله چي د امام بخاري رحمه الله د وفات خبر راورسيدى او ما چي غور وكړ نو معلومه سوه چي عين هغه وخت امام بخاري رحمه الله وفات سوى وو كوم وخت چي ما نبي كريم ﷺ په خوب كي د امام بخاري رحمه الله په انتظار كي ليدلى وو .
شيخ عبدالحق دهلوي په خپل ترجمه كي د خوب ليكلو سره دا هم ليكلي دي چي كله امام بخاري رحمه الله دفن كړل سو نو د هغه د قبر څخه د مشكو بوى راتلى او هغه خوشبوئي تر ډيره وخته پوري د قبر څخه راوتل .
ډيرو كسانو په خوب كي وليدي چي نبي كريم ﷺ بخاري شريف خپل جانب ته منسوب كړى دى، محمد بن احمد مروزي يوه ورځ د ركن او مقام ابراهيم په مينځ كي بيده وو ، په خوب

کي یې نبي کریم ﷺ ولیدی چي فرمایي : اې ابوزید ! ته به د کتاب شافعي درس تر کومه پوري ورکوې آخر زما د کتاب درس ولي نه ورکوې؟ هغه وبیریدی او عرض یې وکړ اې الله رسوله ! زه پر تاسو قربان سم ستاسو کتاب کوم دی چي د هغه درس کول پکار دي، رسول الله ﷺ وفرمایل جامع محمد بن اسماعیل، یعني بخاري شریف، د امام الحرمین څخه هم دا ډول خوب نقل سوی دی.

د امام بخاري رحمة الله علیه ډیر تصنیفات دي په هغو کي تر ټولو عظیم او جلیل القدر تصنیف خو صحیح بخاري شریف دی چي په ټوله اسلامي نړۍ کي د شهرت مقام لري، دوهم کتاب التاریخ دی، دریم کتاب الادب دی، څلورم کتاب رفع یدین، او همداسي نور هم ډیر کتابونه د امام بخاري رحمة الله علیه تصنیف سوي دي چي د هغه د علم او فضل شاهکار دي

حضرت امام مسلم رحمة الله علیه

د نوموړي نوم مبارک مسلم بن حجاج دی او کنیت یې ابو الحسین دی، د قشیري قوم څخه دی، نیشاپور د نوموړي هیواد دی، په کال (۲۰۴هـ) یا (۲۰۶) کي زیږیدلی دی، جلیل القدر محدث وو، او حدیثو امام منل کیږي، اوبو حاتم رازي ترمذي او ابوبکر بن حزیمه د نوموړي په شاګردانو کي دي، ابو حاتم رازي امام مسلم رحمة الله علیه د وفات څخه وروسته په خوب کي ولیدی او د هغه څخه یې حالات وپوښتل، امام مسلم رحمة الله علیه وفرمایل : الله تعالی په خپل فضل او کرم سره نازولی یم ما ته یې د جنت دروازې خلاصي کړي دي او د جنت وسعتونه زما لپاره وقف دي چیري چي غواړم هلته یم.

ابو علي زاغني د امام مسلم رحمة الله علیه د وفات څخه وروسته یو معتبر او متقي سړي په خوب کي ولیدی، پوښتنه یې ځیني وکړه چي ستا خلاصون د کوم شي په وجه وسو، هغه په خپل لاس کي یو څو ورقې ایښې وې د هغه په وړاندي کولو سره یې وښودل چي د دغه شي په وجه، او هغه د صحیح مسلم اجزاء وه.

په کتاب التاریخ کي لیکلي دي چي یوه ورځ د امام مسلم رحمة الله علیه په مجلس کي د یو حدیث ذکر وسو، خلکو د امام مسلم رحمة الله علیه څخه د هغه حدیث په اړه پوښتنه وکړه، امام مسلم رحمة الله علیه ته هغه حدیث یاد نه وو، ولاړ سو او سرای ته یې تشریف یووړ یوه ټوکرۍ خرماوي یې د ځان سره کښېښودلې او حدیث یې لټوی، د ټوکرۍ څخه به یې یوه یوه خرما خوړل، په پای کي هغه حدیث یې پیدا کړ مګر په دغه دوران کي د خرماوو ټوله ټوکرۍ یې ختمه کړه، د حدیث په

لټولو کي دومره غرق سو چي دا خيال يې هم نه وو چي دومره خرماوي به څنګه هضم کوي په پای کي د نوموړي وفات هم دغه سبب سو نو په ۱۴ رجب ۲۶۱ھ کي د يکشنبې په ورځ د دار فاني څخه رخصت سو او واصل بحق سو. انا لله وانا اليه راجعون.

د امام مسلم رحمة الله عليه تر ټولو لويه او عظيمه کارنامه جامع صحيح مسلم شريف دی چي د حديثو يو عظيم او د بخاري شريف په ډول تر ټولو صحيح کتاب دی، ددې څخه پرته د نوموړي تصنيفات ډير زيات دي مثلاً مسند کبير، جامع کبير، کتاب العلل، کتاب الاوهام محدثين، کتاب تميز، کتاب من ليس له الاراو واحد، کتاب لطبقات مخضريين، کتب الاسماء والکنی، کتاب الوحدان، کتاب حديث عمروبن شعيب، کتاب مشائخ مالک، کتاب مشائخ ثوري، او داسي نور ډير کتابونه دي چي نوموړي تصنيف کړي دي.

حضرت امام مالک رحمة الله عليه

د نوموړي نوم مبارک مالک دی د نسب لړۍ يې داسي ده: مالک بن انس بن مالک بن ابوعامر بن عامر بن المحارث بن غيمان بن خثيل ..الخ.

د نوموړي ور نيکه ته د رسول الله ﷺ د صحبت شرف تر لاسه وو، مګر محدث ذهبي په تجريد الصحابه کي د هغوئ په اړه ويلي دي چي ما دا منقول نه دي ليدلي چي ابوعامر صحابي وو مګر دومره ثابته ده چي د هغه زيږېدنه د رسول الله ﷺ په زمانه کي سوې ده.

د ابوعامر زوی مالک تابعي دی، د حضرت عثمان رضي الله عنه او نورو صحابه کرامو څخه د هغه منقول روايتونه راځي، شيخ محمد ابراهيم بن خليل په شرح مختصر خليل کي د ابوعامر په اړه ليکلي دي چي د امام مالک رحمة الله عليه ور نيکه ابوعامر صحابي دی او د بدر څخه پرته په ټولو غزاګانو کي د نبي کريم ﷺ سره ملګری وو، حضرت امام مالک رحمة الله عليه د اصبحي قوم څخه دی د نوموړي زيږېدنه په (۹۳ھ) کال کي سوې ده، ويل کيږي چي امام مالک رحمة الله عليه دوه يا درې کاله د حمل په حالت کي پاته سوی دی.

امام مالک رحمة الله عليه د حديثو د علم تر لاسه کولو ډير حرص او د سنت پيغمبر ﷺ پيروي د هغه د ژوند برخه وه، په پيل کي چي د علم حديث د طلب شوق يې ډير زيات وو او په کور کي دومره وسعت نه وو چي باقاعده تعليم حاصل کړلای سي نو مالک رحمة الله عليه د کور کړۍ (زېورات) خرڅي کړې او په هغه روپو يې کتابونه رانيول، وروسته د حضرت امام مالک رحمة الله عليه د شهرت ستوری چي عروج ته ورسيدی او د الله تعالی مخلوق خپل مرجع جوړ کړ نو د ژوند هر

راحت او اسانتیا د هغه قدمونه مچول پیل کړل. د نوموړي حافظه ډیره تیزه او قوي وه نوموړی په خپله فرمایي چي کوم شی یو وار یاد کړم نو بیا په ټول ژوند کي را څخه نه هیریږي، امام مالک رحمه الله علیه د اووه لس کالو په عمر کي د حدیثو درس ورکول پیل کړی دي. ویل کیږي چي د نوموړي د درس حدیث په لومړنیو ورځو کي د مدینې یوه نیکه او باعزته ښځه وفات سوه، مړي ته غسل ورکول کېدی چي او دغسل په دوران کي د غسل ورکونکي لاس د مړي شرمګاه ته ورسیدی نو هغه بدبختي وویل چي دا ښځه زناکاره وه او په خپل ژوند کي یې حرام کارونه کول، څرنګه چي هغې دا وویل نو د هغې لاس د مړي د شرمګاه سره موښتي پاته سو، غسل ورکونکې ډیره پریشانه سوه هغې چي هر څومره وغوښتل چي لاس لیري کړي مګر د هغې لاس نه لیري کیدی. دا یوه لویه او عجیبه پېښه وه. خلکو د وخت علماؤو ته رجوع وکړه او تدبیر یې وغوښتی، مګر هیڅ یو تدبیر ونه ښودی، په پای کي خلک د امام مالک رحمه الله علیه په خدمت کي حاضر سول او پېښه یې ورته بیان کړل. د امام مالک رحمه الله علیه ذهانت سمدستي علاج تجویز کړ او وه یې فرمایل: غسل ورکونکي ښځي پر یو نیکي او پاک لمني ښځي باندي زنا تهمت لګولی دی چي پر هغې عذاب الهي راغلی دی او س ددې علاج دادی چي پر دې د تهمت حد جاري کړل سي.

کله چي دغه ښځه د تهمت په توګه اتیا دوري ووهل سوه نو د هغې لاس د هغه ځایه څخه لیري سو، د هغه وخت څخه خلک د امام مالک رحمه الله علیه د علم او فضل قائل سول او د کمال او فضل آوازه یې هر لوري ته خپره سوه.

امام مالک رحمه الله علیه په خپل لاس سره زر حدیثونه لیکلي وه چي په ټولو محدثینو کي یوازي د هغه امتیاز دی. د کما آدب پر بناء نوموړي د مدینې په حرم کي هیڅکله استنجاء نه کول، د قضاء حاجت لپاره به یې دباندي تشریف وړی البته دناروغۍ په حالت کي چي به کله ډیر مجبور سو نو هم هلته به یې استنجاء کول.

په حدیث کي د نوموړي لویه کارنامه (مؤطا) زر کسانو د نوموړي څخه اوریدلې ده او په حدیث کي د حضرت څخه سند اخیستی دی، د نوموړي د وفات څخه وروسته دغه کتاب ته په اسلامي نړۍ کي بې پایه مقبولیت تر لاسه سو او اهل علم ددې څخه فیضاب سول.

حضرت امام شافعي رحمة الله عليه

د نوموړي نوم محمد او کنيت يې ابوعبدالله دى، د شافعي په نامه سره مشهور دى. د نسب لړۍ يې داسي ده : محمد بن ادريس بن عباس ابن عثمان بن شافع بن سائب بن عبيد بن عبديزيد بن هاشم بن مطلب بن عبدمناف القريشي المطلبي . شافع ته مطلبي وايي ځکه چي دده د لوړ نيکه نوم مطلب وو چي د هاشم بن عبدمناف ورور وو يو هغه هاشم چي د مطلب زوى دى د هغه په اولاد کي حضرت امام شافعي دى او هغه هاشم چي د عبدمناف زوى او د مطلب ورور دى د نبي کريم ﷺ اعلى نيکه دى ، همداسي د نبي کريم ﷺ او حضرت امام شافعي رحمة الله عليه د نسب لړۍ پر عبدمناف باندي يو ځاى کيږي .

شافع چي د امام شافعي اعلى جد (ور نېکه) دى د رسول الله ﷺ په زمانه کي وو او د هغه پلار سائب هم د نبي کريم ﷺ په زمانه کي وو بلکه په بدر کي د حق او باطل په مينځ کي د جګړې بازار ګرم سو نو د قريشو (کفارو) د لوري د بني هاشم بيرغ پورته کونکى سائب وو، د بدر په جګړه کي کله چي کفارو ماته وخوړل او بې شميره خلک بنديان سول نو په هغه بنديانو کي سائب هم وو، او هغه بيا وروسته په فديه ورکولو سره خلاص سو او د اسلام په دولت سره شتمن سو .

د حضرت امام شافعي رحمة الله عليه زيږېدنه په کال (۱۵۰هـ) کي د غزه په ځاى کي وسول. د ځينو په نزد د نوموړي زيږېدنه په عسقلان نامي ځاى کي سوې ده ، همداسي ځيني خلک په منى کي د نوموړي د زيږېدني قائل دي بيا مکې ته بوتلل سو هلته يې روزنه وسول او ددغه ځاى په مقدس چاپيريال کي د نوموړي روزنه وسوه، د اوو کالو په عمر کي نوموړي پوره قرآن کريم ياد کړ، او د لسو کالو په عمر کي مؤطا امام مالک يې ياد کړل ، د فقهي تعليم نوموړي د مسلم بن خالد څخه تر لاسه کړ چي په هغه زمانه کي مفتي وو. د پنځلس کالو په عمر کي نوموړي ته د مشاهير علماؤ او د مشائخو څخه د فتوا ورکولو اجازه تر لاسه سوې وه ، وروسته د علم د تر لاسه کولو په شوق کي يې د مدينې منورې سفر غوره کړ او هلته د امام مالک رحمة الله عليه په خدمت کي په علم تر لاسه کولو کي بوخت سو .

حضرت امام شافعي رحمة الله عليه فرمائي چي د عمر له لومړني دور کي ما ته د شعر او شاعري ډير شوق وو او ډير زيات شعرونه مي په ذهن کي ياد سوي وه چي هغه به مي هر وخت لوستل، په هغه زمانه کي يوه ورځ زه د کعبې معظمې په سايه کي يوازي ناست وم ناڅاپه د شا څخه يو آواز راغلى، امام صاحب فرمائي ما په ډير غوره سره واوريدل چي يو څوک وايي (يا محمد عليک

بالثقة ودع الشعر) يعنې اې محمده! هغه شی غوره کړه چې رېښتونی او مستحکم دی شعر او شاعرې پرېږده.

همداسې امام صاحب فرمائي چې د بالغ کېدو څخه مخکې ما يوه ورځ په خوب کې وليدل چې نبي کريم ﷺ ما ته آواز کوي، ما وويل لبيک يارسول الله، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې ته د کومې قبيلې څخه يې؟ ما عرض وکړ اې دالله رسوله! ستاسو د قبيلې څخه يم. رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايه چې ما ته نژدې راسه او خپله خوله خلاصه کړه، زه سمدستي رسول الله ﷺ ته ورغلم او خپل خوله مې خلاصه کړه رسول الله ﷺ د خپل خولې مبارکې لاړې زما په خوله کې واچولې او وه يې فرمايل ځه الله تعالى دې په برکت او سعادت سره ونازوه، امام شافعي رحمة الله عليه د دغه مبارک خوب اثر بيانولو سره فرمائي چې ددې څخه وروسته زما څخه د حديثو په علم او په عربي ادب کې هيڅکله غلطي ونه سوه.

امام شافعي رحمة الله عليه فرمائي کله چې زه د امام مالک رحمة الله عليه په خدمت کې حاضر سوم نو امام صاحب زما سره د خبرو اترو او پېژندنې وروسته پوښتنه وکړه چې ستا نوم څه شې دی؟ ما عرض وکړ زما نوم محمد دی، ددې څخه وروسته امام مالک رحمة الله عليه ارشاد وفرمايه اې محمد! تقوا اختيار کړه، د الله جل جلاله څخه بيره کوه او د ګناهونو څخه ځان ساته ځکه چې الله تعالى به په امت محمديه کې تا د لوی شان او شوکت خاوند جوړ کړي، په هر حال زه د امام مالک رحمة الله عليه په خدمت کې تر ډېره وخته پورې د علم په ترلاسه کولو کې بوخت وم د علم ترلاسه کولو د فراغت څخه وروسته چې کله ستنېدم او د امام مالک رحمة الله عليه څخه مې د ستنېدو اجازه وغوښتل نو امام صاحب د رخصت په وخت کې ما ته نصيحت وفرمايه چې: اې زلميه! الله تعالى ستا په زړه کې نور اچولی دی نو پر تا باندې واجب ده چې د دغه نور ساتنه وکړې داسې نه وي چې د ګناه تياره دغه نور پټ کړي او ولاړ سي.

د امام مالک رحمة الله عليه څخه د رخصتېدو سره نوموړي بغداد ته ورسيدی هلته يې د عالمانو څخه د حديث او فقهي نور تعليم ترلاسه کړ، د هغه ځای څخه مکې ته راغلی او د مکې څخه بيا دوهم وار يې بغداد ته تشريف يووړ، څه وخت وروسته مصر ته ولاړ او هم هلته په درس او تدريس کې بوخت سو، نوموړي هم هلته د خپل تصنيفو لړۍ پيل کړه، نوموړي پر اصول دين باندې څورلس کتابونه تصنيف کړل او د فروغ دين په بحث کې يې تقريبا د سلو څخه زيات کتابونه وليکل، د احمد بن حنبل رحمة الله عليه څخه روايت دی چې هغه به ويل ما په حديثو کې د

ناسخ او منسوخ، عام او خاص، مفصل او مجمل علم نه درلودی هر کله چي ما د امام شافعي رحمة الله عليه صحبت اختيار کړ نو ما ته دغه شیانو علم وسو .

د حضرت امام اعظم رحمة الله عليه شاګرد حضرت امام محمد رحمة الله عليه فرمائي چي امام شافعي رحمة الله عليه زما څخه د حضرت امام اعظم رحمة الله عليه تصنيف (کتاب اوسط) عاريتا واخيستی او ټول کتاب يې په يوه شپه او ورځ کي ياد کړ .

د حضرت امام شافعي رحمة الله عليه وفات د رجب په مياشت کي په (۲۰۴هـ) کال کي د جمعې په ورځ په مصر کي وسو او په هغه ورځ دفن کړل سو د نوموړي په (۱۱۴) تصنيفو کي (کتاب الامم) خاص ارزښت لري .

د نوموړي په جليل القدر استاذانو کي حضرت امام مالک رحمة الله عليه او ابوسفيان بن عينيه رحمة الله عليه وغيره زيات مشهور دي ، د دوئ څخه پرته نور استاذان ئې هم سته چي د هغوئ څخه نوموړي د حديثو علم تر لاسه کړی دی .

د نوموړي په شاګردانو کي احمد بن حنبل رحمة الله عليه او سفيان ثوري رحمة الله عليه او مزني وغيره د يادوني وړ دي، د دوئ څخه پرته نورو ډيرو شاګردانو د نوموړي څخه علم تر لاسه کړيدی.

حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه

د نوموړي نوم احمد او کنيت يې ابوعبدالله دی. د نسب لړۍ يې داسي ده : احمد بن محمد بن حنبل بن حلال بن اسد بن ادريس بن عبدالله ابن حبان بن اسد بن ربيعه بن نزار بن سعد بن عدنان... الخ .

د نوموړي د علم او فضل په باره کي د دې څخه لږ اندازه کيدلای سي چي په خپل وخت کي د فقه او حديثو امام او مقتدا منل کيدی ، ډير عابد، زاهد، متقي او پرهيزګار وو، د نوموړي په عبادت کي خشوع او خضوع ډيره زياته وه، د نوموړي روزنه په بغداد کي وسوه او هلته يې د علم د تر لاسه کولو او د حديثو د علم مراحل قطع کړل. د دې څخه وروسته د حديث سماعت او د هغه د تر لاسه کولو په غرض کوفه، بصره، مکه، مدينه، يمن، شام او د نورو اوږدو جزيرو سفر يې غوره کړ او د هر ځای د مشهورو علماؤو څخه يې د احاديثو سند تر لاسه کړ .

د نوموړي په استاذانو کي يزيد بن هارون، يحيى بن سعيد قطان، سفيان بن عينيه او امام شافعي دي ، د نوموړي خاص شاګردان امام بخاري، مسلم بن حجاج قشيري، ابوزراع او ابوداؤد سجستاني دي، دغه حضراتو د امام صاحب څخه حديثونه نقل کړي دي .

د حضرت اسحاق بن راهویه رحمة الله علیه د نوموړي په اړه رایه وه چي امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه د الله او بندګانو په مینځ کي حجت یعني دلیل دی.

د امام شافعي رحمة الله علیه شاهدي ده چي ما په بغداد کي په پرهیزګاري، تقوا او علم کي د احمد بن حنبل رحمة الله علیه څخه زیات بل څوک نه دی لیدلی.

احمد بن سعید دارمي به فرمایل چي ما د پیغمبر ﷺ حدیثونه زیات یادلرونکی د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه څخه پرته بل سړی نه دی لیدلی.

د حضرت ابوداؤد سجستاني رحمة الله علیه څخه روایت دی چي هغه به فرمایل: د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه په مجلس کي ناسته د آخرت صحبت اختیارولو مترادف ده ځکه چي د هغه په مجلس کي پرته د امور دین د ذکر او خبرو څخه بل څه نه وي.

ویل کیږي چي امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه کمال فقر غوره کړ او تر اویا کالو پوري یې په استغناء او توکل سره ژوند تیروی، سره د خپل شان او عظمت هیڅکله یې د عیش او آرام آرزو ونه کړل او نه یې هیڅکله د یو چا څخه یو څه قبول کړل.

محمد بن موسی نقل کوي چي اهل مصر د حسن بن عبدالعزیز لپاره یو لک اشرفۍ د میراث په توګه پر یو څو حیوانانو اچولو سره بغداد ته ولیږلې، حسن بن عبدالعزیز د هغه څخه یو څو کڅوړې د زر زر اشرفیو د امام احمد بن حنبل په خدمت کي ولیږلې او عرض یې وکړ چي دغه مال ما ته په حلاله طریقې سره په میراث کي راغلی دی، ددې څخه یو څه برخه تاسو هم قبوله کړئ او د خپل کورنۍ اړتیاوي په پوره کړئ، امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه انکار وکړه او یوه اشرفۍ یې هم ځیني قبوله نه کړه او وه یې فرمایل: ما ته ددې قطعا اجازه نسته. همداسي نوري ډیري پیښي نقل سوي دي چي د هغه څخه د نوموړي د صبر، توکل، استغناء، تقوا او پرهیزګارۍ اندازه لګیدلای سي.

د نوموړي زیږېدنه په کال (۱۶۴هـ) په بغداد کي وسول، او په کال (۲۴۱هـ) د جمعې په ورځ په بغداد کي وفات سو او په هغه ورځ د مازدیګر څخه وروسته خاورو ته وسپارل سو.

د نوموړي په تصنیفونو کي مشهور کتاب (مسند) دی چي د محدثینو په نزد یو ډیر ارزښتناک تصنیف دی چي په هغه کي نوموړي تر دیرش زره زیات حدیثونه نقل کړي دي.

حضرت امام ترمذي رحمة الله عليه

د نوموړي کنيت ابوعيسى او نوم يې محمد بن عيسى بن سورة بن موسى بن ضحاک ترمذي دى ، د ترمذ ښار د نسبت په وجه د ترمذي په نامه سره مشهور دى، امام ترمذي رحمة الله عليه يو ډير لوى محدث دى ، د نوموړي د جلالت علم او رفعت شان اندازه د حديثو مشهور او مستند کتاب ترمذي شريف څخه لګول کيدلاى سي چي د نوموړي تصنيف دى، ترمذي شريف د محدثينو په نزد د حديثو يو ارزښتناکه او باعظمته کتاب دى او د لانديني ځانګړتيا په وجه د صحاح سته پر نورو کتابونو باندي فوقيت لري .

۱. لومړى خو دا چي نوموړي د حديثونو په نقل کولو سره د هغه د روايت کونکو نوم ضرور ليکي چي د هغوئ څخه هغه حديثونه هغه ته تر لاسه سوي دي چي د حديث حيثيت د مشهور ،متواتر او احاد په اعتبار روښانه سي .

۲. دوهم دا چي د حديث نقل کولو سره د هغه څخه په اخيستل سوې مسئله کي د علماؤ اختلاف

او د هغوئ مذهبونه هم نقل کوي ..

۳. دريم دا چي پر هره موقع باندي د روايت کونکي احوال هم ليکلي چي دغه راوي ضعيف دى او دغه قوى دى ، همداسي د حديث حال هم بيانوي چي دغه حديث صحيح دى يا حسن دى يا غريب او يا منکر دى ، د روايت حديث په لړۍ کي د امام موصوف او نبي کريم ﷺ په مينځ کي چي کومي واسطي دي هغه کم تر کمه درې دي او زياتي لس دي، يو حديث داسي دى چي په هغه کي يوازي درې واسطې وي د کوم حديث د روايت کولو په وخت کي چي تر نبي کريم ﷺ پوري په مينځ کي درې واسطې وي هغه حديث ته ثلاثي وايي .

کومو محدثينو چي د نوموړي حديثونه روايت کړي دي په هغوئ کي قتيبه بن سعيد . محمود بن غيلان، محمد بن بشار، احمد بن منيع او محمد بن مثنى په خاصه توګه د يادوني وړ دي، د دوئ څخه پرته نور علماء او محدثين هم دي چي د هغوئ څخه نوموړي حديثونه نقل کړي دي .

د نوموړي د شاګردانو شمير زيات دى چي په هغوئ کي محمد بن احمد او حثيم بن کليب په خاصه توګه مشهور دي، نوموړي د خپل جامع ترمذي شريف د تصنيف فرمايلو سره د حجاز، عراق او خراسان علماؤ په خدمت کي وليږى او هلته د وقعت ، احترام او خوبنى په نظر سره

ورته وکتل سول . د نوموړي يو تصنيف شمائل نبوي هم دی چي په هغه کي د نبي کريم ﷺ سيرت مقدس او حليه مبارکي بيان سوی دی د نوموړي زيږېدنه په کال (۲۰۹هـ) کي وسوه او په کال (۲۷۹هـ) کي وفات سو .

حضرت امام ابوداؤد سجستاني رحمة الله عليه

د نوموړي کنيت ابوداؤد او نوم مبارک يې سليمان بن اشعث بن اسحاق بن بشير دی، نوموړي د سجستان د سيمي او سيدونکی دی ځکه د هغه په لور يې نسبت کيږي .

نوموړي د علم او حديثو د تر لاسه کولو په شوق کي د هيواد څخه په وتلو سره د ډېرو هيوادونو سفر وکړ، عراق، خراسان، شام، مصر او د حجاز د علماؤو او محدثينو په خدمت کي حاضر سو، د هغوئ څخه يې د روايت اجازه واخيستل ، نوموړي د ډيرو جليل القدر علماؤو او محدثينو څخه حديثونه روايت کړي دي لکه مسلم بن ابراهيم سليمان بن حرب يحيى بن معين او امام احمد بن حنبل ، د نوموړي څخه په روايت کونکو حضراتو کي ابوعبدالرحمن نسائي او د احمد بن محمد نوم په خاصه توګه يادېږي .

د امام ابوداؤد اصلي وطن بصره ده، وروسته يې بغداد ته تشريف يووړ او هلته يې خپل عظيم کتاب (سنن ابوداؤد) تصنف کړ، د هغه ځای خلکو چي سنن ابوداؤد امام أحمد بن حنبل رحمة الله عليه ته واوروئ نو هغه زيات خوښ کړ ، خپله امام ابوداؤد رحمة الله عليه فرمائي چي د پيغمبر ﷺ پنځه لکه حديثونه ما د علماؤو او محدثينو څخه نقل کړي دي په هغو کي يې يو زر شپږ سوه (۱۶۰۰) سوه حديثونه د خپل صحت د اعتبار په وجه په خپل کتاب کي جمع کړل، او په هغه کي هم څلور حديثونه داسي دي چي د ټولو حديثونو برابر دي يعني د دين او شريعت ټولي خبري او حکمتونه په مجمله توګه په دغه څلورو حديثونو کي راغلي دي :

۱. انما الاعمال بالنيات .
۲. من حسن اسلام المرء ترکه ما لا يعنيه .
۳. لايکون المؤمن مؤمنا حتى رضي لاخيه ما يرضى لنفسه.
۴. ان الحلال بين وان الحرام بين وبينهما مشتبهات .

د ابوبکر خلال رحمة الله عليه شاهدي د نوموړي په اړه دا وه چي امام ابوداؤد رحمة الله عليه په خپل زمانه کي پيشوا وو او ډير منصف مزاج او پرهيزګار وو، او د حديثو په فن کي ډير زيات بصيرت او کمال مهارت درلودی او د حديثو په فن کي د دغه کتاب ډير جليل القدر مرتبه لري تر دې چي د

بخاري او مسلم څخه وروسته داسي هيڅ يو کتاب نه دى ليکل سوى .
ذ امام ابوداؤد رحمة الله عليه زيږېدنه په کال (۲۰۲ھ) کي سوې ده او په ۱۶ شوال ۲۷۵ھ کال کي وفات سوى دى .

حضرت امام نسائي رحمة الله عليه

د نوموړي کنيت ابوعبدالرحمن او نوم يې احمد بن شعيب بن علي بن بحرين سنان دى، نوموړى د خراسان د يو ښار نساء اوسيدونکى وو ځکه په نسائي نامه سره مشهور دى. د نوموړي زيږېدنه په کال (۲۱۴ھ) او يا (۲۱۵ھ) کي سوې ده . ده هم د علم د تر لاسه کولو لپاره د ډيرو هيوادونو سفر وکړ او د خپل وخت د مشهورو او جليل القدر علماء کرامو او محدثينو په خدمت کي په حاضرېدو سره د علم حديث په دولت شتمن سو، په دې اړه دوئ خراسان، حجاز، جزيره شام او مصر ته ولاړل او د هغه ځای د علماؤو څخه يې علم تر لاسه کړ .

تر ټولو مخکي کله چي نوموړى د حديثو د علم لپاره د قتيبه بن سعيد په خدمت کي حاضر سو نو هغه وخت د ده عمر پنځلس کاله وو، د قتيبه بن سعيد سره تر يو کال او دوو مياشتو پاته کېدو سره يې د هغوئ څخه فيض تر لاس کړ ، امام نسائي شافعي المذهب وو لکه څرنګه چي د ده د تصنيف مناسک الحج څخه معلوميږي .

نوموړي به هميشه صوم داؤدي نيول (يعني يوه ورځ روژه نيول او بله ورځ خوړل). د روژو نيولو سربيره بيا هم نوموړى د ډير قوت خاوند وو، څلور ښځي ده په نکاح کي وې او د هري بي بي سره به يوه شپه پاته کېدى د هغوئ څخه پرته مينځي يې هم درلودې .

کله چي امام نسائي رحمة الله عليه د خپل تصنيف سنن کبرى څخه فارغ سو نو يوه ورځ د ده څخه يو امير پوښتنه وکړه چي تاسو دغه کتاب ليکلى دى او په دې کي ټول حديثونه صحيح دي ، نوموړي جواب ورکړ : نه، بلکه ځيني صحيح دي او ځيني حسن، هغه امير غوښتنه ورڅخه وکړه چي په دغه ټولو حديثونو کي چي کوم حديثونه په اعلى درجې صحيح دي تاسو هغه زما لپاره بيل نقل کړئ، نو نوموړي په دې اړه سنن مجتبىٰ تصنيف کړ .

نوموړى په ډير مظلومانه او دردمنه طريقه سره وفات سو ، ويل کيږي چي د ده په زمانه کي د بني اميه پاچاهي وه کوم چي د حضرت علي رضي الله عنه خلاف وه، نوموړي يو کتاب تصنيف کړ چي په هغه کي د حضرت علي رضي الله عنه اوصاف، مناقب او د هغه مبارک احوال بيان سوي وه، د کتاب د تصنيف د فراغت څخه وروسته دوئ د جمعې په ورځ په جامع دمشق کي د خلکو په وړاندي

ددغه کتاب لوستلو اراده وکړه چي په دې سره د عامو خلکو فکر او ذهن اصلاح سي، او د حضرت علي رضي الله عنه په اړه چي کوم غلط او گمراه کونکي خیالونه د خلکو په ذهن کي د سلطنت بني امیه په وجه پیدا سوي وه هغه لیري کړل سي.

یوه ورځ په مسجد کي د خلکو په وړاندي نوموړي هغه کتاب لوستل پیل کړل. لږ کتاب یې ویلی وو چي د خلکو څخه یو سړی را ولاړ سو او پوښتنه یې وکړه چي تاسو خو د حضرت علي رضي الله عنه اوصاف او مناقب په دغه کتاب کي ولیکل مگر دا راته ووایه چي د حضرت معاویه رضي الله عنه مناقب دي هم لیکلي دي که یا؟

امام نسائي رحمة الله علیه ورته وویل چي زه د امام معاویه رضي الله عنه عظمت او فضیلت هم تسلیموم او د هغوئ د نجات څخه انکار نسته مگر د هغه مناقب د حضرت علي رضي الله عنه په مقابله کي دومره اهمیت نه لري چي زه هغه ولیکم، ځیني حضراتو د امام نسائي رحمة الله علیه جواب داسي هم نقل کړی دی چي نوموړي وفرمایل: د حضرت معاویه رضي الله عنه مناقب او فضائل زما په نزد صحیح نه دي، د امام نسائي رحمة الله علیه په دغه جواب سره ټول خلک په غصه سول پر امام صاحب یې حمله وکړه او دومره یې ووهی چي د ولاړېدو توان پکښي پاته نه سو او بیا دده خادمانو په پورته کولو سره تر ځایه پوري بوتلی، خپل ځای ته په را رسېدو سره ده وویل چي ما مکې معظمې ته ورسوی چي زما مرگ په هغه مبارک ځای او یا د هغه په لاره کي راسي، نوموړی مکې مکرمې ته ورسول سو او هلته په ۱۳ صفر ۳۳۰ ھ کال کي د دوشنبې په ورځ د شهادت په مرتبه سره وفات سو او د صفا او مروه په مینځ کي خاورو ته وسپارل سو. رحمة الله علیه.

حضرت امام ابن ماجه رحمة الله علیه

د نوموړي کنیت ابوعبدالله او نوم یې محمد بن یزید بن ماجه دی، د قزوین اوسیدونکی دی چي د عراق او فارس په مینځ کي یو ښار دی. او د ربیعي قبیلې څخه وو کومه ربیعه چي د بالولا په طرف منسوب کیږي، د حدیثو د فن مقتدا او امام منل کیږي او د حدیثو حافظ ورته ویل کیږي، د امام مالک رحمة الله علیه د شاگردانو څخه یې د حدیثو علم تر لاسه کړ او په دې اړه یې د ډیرو هیوادونو سفر وکړ.

د نوموړي د قدر وړ تصنیف (ابن ماجه) چي د نصاب حدیث یو مهم کتاب منل کیږي، ابن ماجه شریف هم ځیني محدثینو او علماؤ د صحاح ستة څخه شمیرلې دي په دغه کتاب کي د نوموړي څخه ثلاثي حدیث هم په ډیر شمیر کي منقول دي، په ابن ماجه کي یو حدیث منکر

بلکه موضوع نقل سوی دی ځکه نو ځيني حضرات يې په صحاح ستة کي نه شميري.
د نوموړي د وطن قزوين د فضيلت په اړه خلکو ډير زيات حديثونه نقل کړي دي مګر د محققينو محدثينو په نزد هغه ټول موضوع دي.

د نوموړي زيږېدنه په کال (۲۰۹ هـ) کي سوې ده او په ۲۷ رمضان المبارک په کال (۲۷۳هـ) کي د دوشنبې په ورځ وفات سوی دی. والله تعالى اعلم.

حضرت امام دارمي رحمة الله عليه

د نوموړي کنيت ابو محمد او نوم مبارک يې عبد الله بن عبد الرحمن بن فضل سمرقندي الدارمي دی، د سمرقندي نسبت د سمرقند ښار په لور دی چيري چي د نوموړي اوسيدل وه او د دارمي قبيلې سره يې نسبت درلودی.

نوموړی يو جليل القدر محدث او عالم وو، د تقوا، تقدس او زهد و قناعت په صفتونو سره مزين وو، د ده تصنيف هم د احاديثو په کتابونو کي يو لوړ مقام لري.
د نوموړي په استاذانو کي ابن ماجه، حبان بن هلال، نضربن شمويل او حيات بن شريع دي.
دنوموړي د شاګردانو شمير زيات دی چي په هغو کي امام مسلم، امام ترمذي جليل القدر محدثين هم دي. د نوموړي زيږېدنه په کال (۱۸۱هـ) کي سوې ده او وفات يې په کال (۲۵۵هـ) کي سوی دی.

د اسحاق بن احمد بن خليفه څخه روايت دی چي زه د حضرت امام بخاري رحمة الله عليه په مجلس کي ناست وم چي د حضرت عبد الله بن عبد الرحمن الدارمي رحمة الله عليه د وفات خبر راورسيدی نو امام بخاري رحمة الله عليه د غم څخه سر کښته کړ او انا لله وانا اليه راجعون يې وويل، پر امام بخاري رحمة الله عليه باندي دومره اثر وسو چي د هغه د سترګو څخه اوښکي وبهېدلې.

حضرت امام دار قطني رحمة الله عليه

د نوموړي کنيت ابو الحسن او نوم يې علي بن عمر دار قطني دی، په علم حديث کي جليل القدر شخصيت او صاحب د فضل او کمال شميرل کېدی. په ځانګړتيا سره د حديث علت او د راويانو د احوال معرفت کي بې مثاله وو. د نوموړي مشهور تصنيف (دار قطني) دی چي د حديثو په فن کي يو معتبر او مستند کتاب منل کيږي، د نوموړي ځانګړتيا داده چي په خپل تصنيف کي يو حديث په څو څو سندونو سره بيانوي.

دوئ هم د علم تر لاسه کولو په لړه کي يې د ليري ليري هيوادونو سفر غوره کړ، کوفه،

بصره، شام، واسط، مصر او د اسلامي نړۍ نورو ښارونو ته يې هم تشريف وړى دى او د هغه ځايونو د مشهورو علماء كرامو څخه يې احاديث تر لاسه كړي دي . دارقطني د بغداد د يو سيمي نوم دى چي نوموړى د هغه اوسيدونكى وو ځكه نو په دار قطني سره مشهور دى. په عربي ژبه كي قطني پمبه ته وايي ، دغه سيمه د پمبوو منډۍ وه ځكه نو په دار قطني سره بلل كيږي .

د نوموړي په شاګردانو كي ابونعيم، ابوبكر برقاني، جوهري، قاضي ابواللطيف طبري، حاكم ابوعبدالله نيشاپوري او داسي نور مشهور عالمان دي .

د نوموړي زيږېدنه په بغداد كي په كال (۳۰۵هـ) يا (۳۰۶هـ) كي سوې ده او ځيني حضراتو د وفات نېټه ۸ ذي قعده د پنجشنبې ورځ ښوولې ده . والله تعالى اعلم .

حضرت امام احمد بن حسين بيهقي رحمة الله عليه

د نوموړي كنيت ابوبكر او نوم يې احمد بن حسين بيهقي دى، نوموړى د علماء او محدثينو په نزد د يو امام او پيشوا حيثيت لري د دوئ علمي مرتبه او فضل و كمال د علم د خاوندانو په نظر منل سوى دى . .

د نوموړي د تصنيفو شمير زركونو ته رسيږي ، د ځينو رواياتو څخه معلوميږي چي نوموړي اووه زره (۷۰۰۰) رسالې د شريعت پر مختلفو اړخونو باندي ليكلي دي چي د هغو څخه د نوموړي علمي وسعت ، تبحر فن او د فضل او كمال اندازه كيږي، د نوموړي په مشهورو تصنيفو كي خاص كتابونه دادي : كتاب مبسوط، كتاب السنن، كتاب دلائل النبوة، كتاب معرفت علوم حديث، كتاب بعث والنشور، كتاب آداب، كتاب فضائل صحابه، كتاب فضائل اوقات، كتاب شعب الايمان، كتاب اخلاقيات او داسي نور .

د نوموړي زيږېدنه د شعبان په مياشت په كال (۳۸۴هـ) كي سوې ده او وفات يې په كال (۴۵۶هـ) په نيشاپور كي سوى دى .

حضرت امام رزين معاويه رحمة الله عليه

د نوموړي كنيت ابوالحسين او نوم يې رزين بن معاويه العبدري دى، د قريشو مشهوره قبيله عبدالدار وه، رزين د همدغه قبيلې څخه وو ځكه ددې په لور د نسبت په وجه عبدري بلل كيږي . نوموړى يو جليل القدر محدث او صاحب د فضل او كمال وو ،نوموړى په كال (۵۲۰هـ) كي وفات سوى دى .

حضرت امام نووي رحمة الله عليه

د نوموړي کنيت ابوزکريا او نوم يې يحيى بن اشرف حزامي دی ، لقب يې محي الدين دی. حزام د نوموړي د نيکونو څخه د يوه نوم وو په دې نسبت سره د دوئ کورنۍ سره نوموړی او سيدی نو په په دې نسبت سره ورته نووي ويل کيږي .
نوموړی په خپل هيواد (نوو) کي د محرم په لوموړۍ لسيزه په کال (۶۲۱هـ) کي پيدا سو او په ۱۴ رجب ۶۷۷ هـ کي د چارشنبې په ورځ وفات سو .

حضرت امام ابن جوزي رحمة الله عليه

د نوموړي کنيت ابوالفرح او نوم يې عبدالرحمن بن علي بغدادي حنبلي صديقي دی. او په ابن جوزي نامه سره مشهور دی چي يو مقام د فرضة الجوز طرف ته منسوب دی .
نوموړی يو جليل القدر عالم، صاحب د فضل او کمال، فقيه او باکماله محدث وو. د نوموړي پر فضل، کمال او وسعت علم باندي د علماؤو اتفاق دی، نوموړی د حديثو، تفسير، فقه، سيرت، اخبار او مواعظ کي د بې شميره کتابونو مصنف دی، او په دغه ټولو علمونو کي د خپل وخت امام منل سوی دی ، د اهل علم په نزد د نوموړي فصاحت او بلاغت منل سوی دی .
نوموړی پر موضوعات حديث باندي يو کتاب ليکلی دی چي په هغه کي يې موضوع احاديث را جمع کړي دي ، همداسي د نوموړي يو تصنيف (تلبيس ابليس) دی چي په هغه کي پر بدعت او د سنت خلاف اعمالو باندي بحث سوی دی او د هغو رد کړل سوی دی، په دغه کتاب کي د اقوام شيطاني په زړه پوري بيان هم دی او د صوفياء، منکرينو، مبتدعينو او ضالينو رد کړل سوی دی .
امام ابن جوزي رحمة الله عليه ډير ذکي او ذهين وو، د ذهانت او ذکاوت څخه يې د سيرت او تاريخ کتابونه ډک دي، د نوموړي د ذهانت يوه واقعه د سيرت په کتابونو کي منقول ده چي يوه ورځ د يو سُني او شيعه په مينځ کي جګړه سوه ، د سني دعوه وه چي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه زيات افضل دی او شيعه د حضرت علي رضي الله عنه تفضيل ثابتوی، دغه معاملې د مباحثې او اختلاف څخه د دښمنۍ شکل غوره کړ ، په پای کي دواړه دې ته تيار سول چي ابن جوزي خپل حکم (فيصله کونکی) جوړ کړي، هغه چي څه فيصله وکړي نو هغه به منل کيږي، يوه ورځ چي ابن جوزي رحمة الله عليه پر منبر باندي وعظ او نصيحت فرمايه ، په مينځ کي د دواړو څخه يو سړی ولاړ سو او د ابن جوزي رحمة الله عليه څخه يې پوښتنه وکړه چي (من افضل الصحابة ؟) يعني په صحابه

کرامو کي څوک زيات د فضيلت خاوند دی ؟

د ابن جوزي رحمة الله عليه معامله شناس ذهن د سوال په نزاکت پوه سو ، هغه وخت حکومت د شيعه ګانو وو ، ابن جوزي په داسي انداز سره جواب ورکړ چي نه د سني خلاف وو چي د حق مخالفت لازم سي او نه شيعه دا وګڼي چي جواب زما خلاف دی او د هغه په نتيجه کي ضرر رسول يا د فتني او فساد نوبت راسي ، ابن جوزي رحمة الله عليه په ډير حکميانه او مدبرانه جواب کي وفرمايل چي :

(افضل صحابه رسول الله الذي بنته في بيته) ، يعني د رسول الله ﷺ په صحابه کرامو کي زيات فضيلت والا هغه څوک دی چي د هغه لور د هغه په کور کي وه .

امام جوزي رحمة الله عليه يوازي په دغه الفاظو ويلو سره سمدستي ولاړی چي ددې جملې د تشريح کول ونه غوښتل سي . هره ډله پر خپل ځای خوشحاله او مطمئنه سوه چي فيصله زما د عقيدې سره سم وسوه ، يعني سني دا وګڼل چي ددې جملې مطلب دادی چي زيات افضل هغه څوک دی چي د هغه لور د نبي کريم ﷺ په کور کي وه او د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه لور بي بي عائشة رضي الله عنها د نبي کريم ﷺ په کور کي وه ځکه نو حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه افضل سو ، او شيعه ددې جملې څخه دغه مطلب واخيستی چي زيات افضل هغه څوک دی چي د هغه په کور د نبي کريم ﷺ لور وه ، او د رسول الله ﷺ مبارکه لور بي بي فاطمة رضي الله عنها د حضرت علي رضي الله عنه په نکاح کي وه ځکه نو حضرت علي رضي الله عنه زيات افضل سو .

په هر حال دا د حضرت ابن جوزي رحمة الله عليه ذکي ذهن دی په جمله کي د ضميرو څخه په کار اخيستلو سره يې بليغانه جواب ورکړ چي د هغه څخه فتنه او فساد پيدا کېدو والا بحث په ښه نتيجه باندي ختم سو او د خطرناکو نيتجو ته رسيدونکی دا شر هم هلته دفع سو .

د نوموړي زيږيدنه په کال (۵۱۷هـ) کي سوې ده او وفات يې په (۵۹۷هـ) کي وسو .

حضرت امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه

د نوموړي نوم نعمان دی ، ابو حنيفة يې کنيت دی او امام اعظم يې لقب دی ، د پلار محترم نوم يې ثابت او د نيکه نوم يې زوطي دی .

زوطي د فارس (ايران) اوسيدونکی وو او مذهبًا فارسي وو ، د اسلام رڼا چي د عربو د حدودو څخه عجمو ته ورسيدل او د هغه شغلو د فارس مځکه منوره کړل نو د ډيرو فارسيانو سره زوطي هم اسلام قبول کړ ، د اسلام راوړلو څخه وروسته کله چي د کورنۍ ځينو کسانو

پریشان کړ او پر دین باندي د عمل کولو په لاره کي یې بندیزونه ورته پیدا کړل نو زوطي هم د هجرت په نیت سره هیواد پرېښودی ، د خپل بي بي او یو څه نقدي سرمایې سره د مکې معظمې په لور روان سو ، دا د حضرت علي ﷺ د خلافت زمانه وه او د کوفې ښار د ار الخلافت په حیثیت سره د اسلام د عظمت او جلالت ځای جوړ سوی وو .

زوطي د خپل سفر په دوران کي کوفې ته ورسیدی او د مکې معظمې د ارادې موقوف کولو سره یې دلته هستوګنه غوره کړه ، او د ګزارې کولو لپاره یې د ټوکرانو تجارت پیل کړ ، په کال (۴۰ھ) کي د زوطي په کور کي یو ماشوم پیدا سو چي د هغه نوم یې ثابت کښېښودی ، د ثابت په وړکتوب کي زوطي وفات سو ، اوّ بیا د ثابت په کور کي یو ماشوم پیدا سو چي مور او پلار د هغه نوم نعمان کښېښودی ، وروسته د غه ماشوم د ابو حنیفه کنیت پیدا کړ ، په د غه وخت کي د رسول الله ﷺ د تشریف وړلو تقریبا اویا کاله تیر سوي وه ، که څه هم ډېرو صحابه کرامو د دنیا څخه د سفر سامان تړلی وو مګر درې صحابه کرام : حضرت انس بن مالک ﷺ خادم رسول الله ﷺ ، حضرت سهل بن سعد انصاري ﷺ ، او حضرت ابو طفیل عامر واثله ﷺ په دنیا کي ژوندي وه ، حضرت امام اعظم رحمة الله عليه په دویٔ کي د دوو صحابه کرامو حضرت انس ﷺ او حضرت ابو طفیل عامر ﷺ سره ملاقات وکړ او د هغویٔ د صحبت شرف تر لاسه کولو سره د تابعیت په مرتبه مشرف سو چي په څلورو امامانو کي یوازې د امام اعظم رحمة الله عليه امتیاز دی .

امام اعظم رحمة الله عليه ابتدائي تعلیم په خپل کور کي تر لاسه کړ ، کله چي هوښیار سو نو پلار محترم د تجارت په کار کي ولیږی ، تر دا مهاله د امام اعظم رحمة الله عليه عمر شپاړلس کاله وو چي پلار محترم یې وفات سو، د ټول تجارتي کاروبار ذمه داري د نوموړي پر اوږو راغلل، د طبیعت څخه ډېر ذهین او محنتي وو ، ځکه نو ډېر ژر یې په کاروبار کي پرمختګ وکړ ، د دوکان سره د ټوکرانو یوه کارخانه یې هم جوړه کړه او ژوندیې په ډېر آرام او راحت سره تیریدی ، د شلو کالو عمر څخه وروسته د علم تر لاسه کولو شوق یې را پورته سو ، کله چي په یو کار پسې تلی نو په لاره کي د کوفې د یو مشهور عالم او قاضي علامه شعبي سره یې ملاقات وسو ، علامه صاحب پوښتنه ځیني وکړه چي زویه تا د چا څخه سبق ویلی دی ؟ ابو حنیفه رحمة الله عليه په افسوس سره جواب ورکړ چي زه د چا څخه سبق نه وایم، علامه شعبي د مینې په انداز کي ورته وویل زه په تا کي د قابلیت جوهر وینم ، ته د علماؤ په صحبت کي کښینه ، دغه نصیحت د امام ابو حنیفه رحمة الله عليه په زړه کي ډېر اثر وکړ ، کورته راغلی او مور بي بي ته یې ټول حال بیان کړ، او

د علم تر لاسه کولو لپاره یې مدرسې ته د تللو اجازه وغوښتل، مور بي بي یې د مخکې څخه د علم او اهل علم قدردانه وه ، د دې اورېدو سره ډېره خوشحاله سوه او اجازه یې ورکړه، امام صاحب ابتدائي تعليم په خپل کور کي تر لاسه کړی وو، د حدیث او فقه تر لاسه کولو لپاره د خپل استاذ په لټه کي سو او د کوفې تر ټولو مشهور عالم او استاذ حضرت حماد په شاګردی کي داخل سو ، قابل استاذ د لائق شاګرد فطري جوهر پيژندو سره خاصه پاملرنه او توجه ورته وکړه ، او امام ابو حنيفه رحمة الله عليه پوره دوه کاله د حضرت حماد رحمة الله عليه په درس کي شامليدو سره د فقهي پوره تعليم تر لاسه کړ،

په دغه لنډه زمانه کي امام صاحب د غير معمولي ذهانت طبع په وجه نه يوازي دا چي په فقه کي پوره علم تر لاسه کړ بلکه د خپل اجتهادي قابليت مظاهره یې هم کول، د فقهي د تعلیم سره د حدیثو ویلو لړی یې هم پیل کړې وه ځکه چي امام صاحب ښه پوهيدی چي د مسائل فقه مجتهدانه تحقيق د حدیث د تکمیل څخه پرته نا ممکن دی نو د کوفې د محدثینو په لور متوجه سو او د علم نبوت د دغه عظیم مرکز هیڅوک داسي محدث پاته نه وو چي د هغه شاګردي یې نه وي کړې ، په محدثين کوفه کي په خاصه توګه سره امام شعبي رحمة الله عليه ، سلمه بن کهيل، محارب بن وثار، ابواسحاق سبعي، عون بن عبدالله، سماك بن حرب ، ابراهيم ابن محمد ، عدي بن ثابت او موسی بن ابي عائشة رحمة الله تعالى عليهم اجمعين ډير مشهور دي. د دوئ څخه امام صاحب د حدیثو علم تر لاسه کړ ، د کوفې څخه وروسته یې بصرې ته تشريف یووړ، هلته یې د مشهور امام حدیث او تابعي حضرت قتاده او امير المؤمنين في الحديث حضرت شعبه رحمة الله عليه په درس کي د شاملیدو سره د هغوئ د فیض صحبت څخه ډیره لویه ګټه پورته کړه، د بصرې په محدثینو کي د دغه دواړو حضراتو څخه پرته د امام صاحب په استاذانو کي د عبدالکریم بن امیه او عاصم بن سلیمان نومونه هم یادیږي.

د کوفې او بصرې څخه د فارغه کېدو سره امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د حرمين شريفين لپاره د سفر سامان وتړی، په دغه وخت کي د نوموړي عمر تقريبا (۲۴) کاله وو، مخکي مکې معظمې ته ورسيدی او د حضرت عطاء بن ابي رباح رحمة الله عليه په درس کي شريک سو ، دغه حلقه درس ډيره وسيع او مشهوره وه او په خاص عظمت او شهرت سره د اعتبار وړ وه، ځکه چي حضرت عطاء رحمة الله عليه ته د دوو سوو صحابه کرامو د خدمت او صحبت شرف تر لاسه وو چي د هغوئ فيض په درجه اجتهاد فائز کړی وو، امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د حضرت عطاء رحمة الله عليه څخه پرته په مکه

معظمه كي د نورو محدثينو څخه هم د حديثو سند تر لاسه کړ، چي په هغوئ کي د حضرت عكرمة رحمة الله عليه نوم ډير ځلانده دی، په مکې معظمې كي د فارغ کېدو څخه وروسته د مدينې منورې په لور روان سو او د رسول الله ﷺ د روضې مباركي په شرف برخمن کېدو سره د مدينې منورې د علماؤو او شيوخو په خدمت کي حاضر سو، په خاصه توګه د حضرت امام باقر رحمة الله عليه او د هغه زوی حضرت امام جعفر صادق رحمة الله عليه د درس او مجلس څخه يې زيات علم او فيض تر لاسه کړ او د حضرت سالم بن عبدالله او حضرت سليمان رحمة الله عليه څخه يې د روايت حديث شرف تر لاسه کړ، په حديثو کي د حضرت امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د استاذانو او شيوخو فهرست ډير اوږد دی او ځيني حضراتو تر څلور زرو پوري بيان کړی دی.

په ځينو خلکو کي دا خبره هم مشهوره ده چي د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د حديثو په فن کي هيڅ يو تصنيف نسته او له دې وجه هغه اهل الرايه وو ددې مطلب دادی چي د حديث سره يې څه تعلق نه وو، نو حقيقت دادی چي دا شهرت بې بنياده دی او دا پر غلطۍ باندي مبني دی. في الواقع امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته چي په علم حديث کي کومه مرتبه تر لاسه وه د هغه اندازه ددې څخه کيدلای سي چي په کوم کثرت سره د هغه مسندونه ليکل سوي دي دومره د هيچا څخه نه دي ليکل سوي دي او هغه د وخت امامانو او دحديثو حافظانو ليکلي دي چي خپله ددې قابل وه چي د هغوئ مسندونه ليکل سوي وای، په دغه ځانګړتيا کي که يو څوک د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه هم مثله کيدلای سي نو هغه يوازي امام مالک رحمة الله عليه دی، دا ټول مسندونه د کتاب الاثار څخه علاوه دي چي په علم حديث کي د امام اعظم رحمة الله عليه ډير مشهور او د لوړې مرتبې تصنيف دی، ددې څخه پرته دا خبره ټولو تسليم کړې ده چي مجتهد هغه سړی کيدلای سي چي قرآن كريم، حديث، آثار، تاريخ لغت او قياس، پر دغه پنځو شيانو باندي پوره غبور ولري، ښکاره ده چي د امام اعظم رحمة الله عليه مجتهد مطلق کېدل يو داسي حقيقت دی چي په هغه کي د امت اجماع ده، په داسي صورت کي پر هغوئ د قلت حديث طعن لګول د ناپوهۍ څخه پرته بل هيڅ نسي کيدلای.

حافظ ذهبي د امام اعظم رحمة الله عليه د درس د ملګري مسعر بن كرام قول نقل کړی دی چي ما او امام ابوحنيفه رحمة الله عليه يو ځای د حديثو علم تر لاسه کړ مګر هغه پر ما غالب سو او په زهد کي پر ما فائز سو.

امام جرح وتعديل حضرت يحيى بن سعيد قطان رحمة الله عليه فرمائي قســـــم په خدای امام

ابو حنیفه رحمة الله علیه په دغه امت کې د هغه امت تر ټولو لوی عالم دی چې الله او د هغه رسول څخه وارد سوی دی ، مکي بن ابراهیم رحمة الله علیه امام ابو حنیفه رحمة الله علیه اَعلَمِ اهل زمانه بنودلی دی . ابو المحاسن شافعي رحمة الله علیه د خپل کتاب په یو باب کې د امام صاحب د لوړ حیثیت په بنه ډول اندازه کیدلای سي .

حضرت امام صاحب په (۱۴۲هـ) کال کې بغداد ته تشریف یووړ او دریم عباسي خلیفه منصور د امام صاحب په خدمت کې د قضا دنده وړاندي کړه ، په پیل کې امام صاحب د دغه دندي قبلولو څخه انکار وکړ مګر د منصور د لوري د زیات جبر کېدو په وجه امام صاحب دغه جلیل القدر دنده قبوله کړه او بیا په لومړۍ ورځ د داز القضاء څخه په ولاړېدو سره منصور ته راغلی او هغه ته یې صاف صاف وویل چې زه دا کار نسم کولای ، پر منصور دغه خبره ډیره ګرانه پریوتل او هغه وخت یې بندیخانې ته ولیږی ، پر له پسې څلور کاله امام صاحب په بندیخانې کې وو ، ددغه بند په دوران کې منصور په کال (۱۵۰هـ) کې امام صاحب ته زهر ورکړل ، کله چې امام صاحب د زهرو اثر محسوس کړ نو سمدستي پر سجده پریوتی او په همدې حالت کې وفات سو ، د نومورې د وفات نیټه ۱۵ رجب ۱۵۰هـ ده ، او مزار مبارک یې نن هم د بغداد په ښار کې د خلکو د ورتلو ځای دی .

د حدیثو اصطلاحات او د هغو تعریفونه

د حدیثو تعریف

تر ټولو وړاندې په دې پوهېدل پکار دي چې د حدیث تعریف څه شی دی؟ یعنې د علماؤ په نزد حدیث څه ته وائي ؟

د علماؤ او محدثینو په اصطلاح کې د نبي کریم ﷺ قول، فعل، سیرت، احوال او تقریر ته حدیث وایي . د قول او فعل معنا خو څرګنده ده یعنې د نبي کریم ﷺ ارشادات او د هغه ﷺ افعال مقدسه. سیرت: یعنې د نبي کریم ﷺ عادتونه او د هغه ﷺ د شکل او صورت تفاصیل . احوال : یعنې د رسول الله ﷺ د ژوند حالات او واقعات .

تقریر دې ته وایي چې یو صحابي د رسول الله ﷺ په مخکې یو کار یا یو خبره وکړه نو نبي کریم ﷺ پر هغه سکوت (چپ والی) وفرمایه او نه یې د هغه توثیق وفرمایه همدې ته د محدثینو په اصطلاح کې تقریر ویل کیږي ، د دغه ټولو شیانو ټولګي ته حدیث ویل کیږي، او د حدیث په ټولو کتابونو کې پر دغه شیانو باندې مشتمل روایتونه دي، د ځینو علماؤ او محدثینو په نزد د صحابه کرامو او تابعینو قول ، فعل او تقریر ته هم حدیث وایي .

صحابي : هغه بختور انسان ته صحابي وایي چې هغه د ایمان په حالت کې د نبي کریم ﷺ د ملاقات شرف حاصل کړی وي او د ایمان په حالت کې وفات سوی وي .

تابعي : هغه بختور انسان ته تابعي وایي چې هغه ته د ایمان په حالت کې د یو صحابي د ملاقات شرف تر لاسه سوی وي او پر ایمان باندې وفات سوی وي .

تبع تابعي : هغه حضراتو ته ویل کیږي چې هغوئ د ایمان په حالت کې د یو تابعي سره ملاقات سوی وي او پر ایمان باندې وفات سوی وي .

حدیث د الفاظو په اعتبار پر دوو شیانو باندې مشتمل دي (۱) سند یا اسناد ، (۲) : متن .

سند یا اسناد : د متن حدیث لړۍ روات یعنې د نبي کریم ﷺ څخه تر صاحب کتاب پورې د حدیث روایت کونکو لړۍ ته سند یا اسناد وایي .

متن : د حدیث هغه الفاظو ته وایي چې د نبي کریم ﷺ څخه تر اوسه پورې بجنسه نقل راغلی دی مثلا : (حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ

أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ) .
په دغه حديث شريف کي د (حدثنا څخه تر ابي هريرة) پوري اسناد دی، او ددې څخه وروسته ،
تر ايه پوري متن دی .
د اسناد په لحاظ د حديث درې ډوله دي (۱): مرفوع (۲) موقوف (۳) مقطوع .
مرفوع : د کوم حديث د روايت لړۍ چي نبي کريم ﷺ ته رسيږي هغه حديث ته مرفوع وايي لکه
چي وويل سي چي نبي کريم ﷺ ارشاد وفرمايه ، نبي کريم ﷺ دا کار وکړ، يا نبي کريم ﷺ پر هغه
قول او فعل باندي تقرير وفرمايه ، يا سکوت يې وفرمايه ، يا داسي وويل سي چي د غه حديث
د نبي کريم ﷺ څخه مرفوعا ثابت دی ، يا حضرت ابن عباس ﷺ دغه حديث رفع کړ، نو داسي
حديث چي د هغه سند نبي کريم ﷺ باندي ختم سوی وي هغه ته حديث مرفوع ويل کيږي .
موقوف : د کوم حديث د روايت لړۍ چي يو صحابي ته په رسيدو سره ختميږي نو هغه حديث ته
موقوف وايي ، مثلا داسي ووايي چي ابن عباس ﷺ وفرمايل ، يا ابن عباس ﷺ داسي وکړل ، يا
داسي وويل سي چي دغه حديث پر ابن عباس ﷺ باندي موقوف دی .
مقطوع : همدارنګه که د يو حديث سند تر تابعي پوري په رسيدو سره ختم سي نو هغه ته حديث
مقطوع وايي ، د ځينو حضراتو په نزد موقوف او مقطوع ته اثر هم وايي يعني د داسي حديث
اطلاق خو به يوازي د نبي کريم ﷺ پر اقوال، افعال او تقرير کيږي او د صحابي او تابعي اقوال،
افعال او تقرير ته به اثر ويل کيږي .
د روات په اعتبار د حديث پنځه ډوله دي :
(۱): متصل، (۲): منقطع ، (۳): معضل ، (۴): معلق، (۵): مرسل .
حديث متصل : هغه حديث ته وائي چي د هغه راويان د پيل څخه تر پايه پوري پوره وي او په
مينځ کي يې يو راوي هم نه وي پاته سوی .
حديث منقطع : هغه حديث ته ويل کيږي چي د هغه د اسناد څخه يو يا ډير راويان د متفرق مقام
څخه ساقط سوي وي .
حديث معضل : هغه حديث ته ويل کيږي چي د هغه د اسناد څخه دوه يا زيات روايت کونکي د يو
مقام څخه د مصنف له طرفه يا بغير د مصنف له تصرفه پرېښودی سوی وي .
حديث معلق: هغه حديث ته وايي چي د هغه د اول سند له طرفه د مصنف يو يا ډير روايت
کونکي پرېښودل سوي وي .

حدیث مرسل . هغه حدیث ته ویل کیږي چي د هغه د آخر سند څخه د تابعي څخه یو څوک راوي ساقط وي لکه یو راوي چي د تابعي په روایت کولو سره ووایي: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم..... الخ.

د مرتبې او درجې په لحاظ د حدیث درې ډوله دي:

۱. صحیح: چي د اعلی مرتبې حدیث وي.

۲. حسن چي د اوسط مرتبې حدیث وي.

۳. ضعیف چي د ادنا درجې حدیث وي.

صحیح حدیث : هغه حدیث دی چي د هغه ټول راویان د مصنف د کتاب څخه تر رسول الله ﷺ پوري ټول صاحب عدالت او صاحب ضبط او د حدیث د روایت پر وخت مسلمان، عاقل او بالغ وي. د صاحب عدالت مطلب دادی چي هغه صاحب د تقوا او تقدس وي دروا غ نه وائي، د ګناه کبیره مرتکب نه وي که د بشریت پر تقاضا یو لویه ګناه ځیني وسي نو د هغې څخه توبه کاږي؛ د کوچني ګناهو څخه تر خپل وس پوري پرهیز کوي او پر هغو دوام نه کوي، د فسق او فجور د اسبابو څخه پرهیز کوي، صاحب مروت وي یعني داسي کار نه کوي چي په اسلامي ټولنه کي معیوب ګڼل کیږي مثلا په بازار کي لوڅ سر ګرځېدل، په لاره کي د خلکو په مخ کي تشي بولي کول، پر لاره تلو کي او یا په بازار کي په ولاړه سره خوراک او څښناک کول او داسي نور....

د صاحب ضبط: معنا داده چي ډیر هوښیار او پوه وي، قوي حافظه لري د حدیث الفاظ بجنسه یاد ساتلای سي او د روایت حدیث په وخت ډ هیڅ ډول هیري یا شک او شبهې ګنجائش ځیني نه وي.

د مصنف کتاب څخه تر رسول الله ﷺ پوري چي څومره راویان وي که دوئ پر دغه صفاتو او خصوصیاتو باندي پوره وي نو د هغوئ روایت سوی حدیث به صحیح بلل کیږي.

اوس که دغه ټول صفتونه په یو راوي کي پوره پوره تر لاسه سي نو د هغه روایت سوی حدیث ته به صحیح لذاته وایو مګر په راوي کي په دغه صفاتو کي څه کمي یا قصور وي او هغه کمي او قصور په کثرت طرق سره پوره کیږي نو هغه روایت سوی حدیث ته به صحیح لغیره وایو.

حدیث حسن : د کتاب د مصنف څخه تر رسول الله ﷺ پوري په دغه راویانو کي که یو راوي د پورتنیو صفاتو څخه څه کمي یا قصور وي او هغه په کثرت طرق سره هم نه پوره کیږي نو د هغه روایت سوی حدیث ته حدیث حسن ویل کیږي.

حديث ضعيف : د حديث صحيح او حديث حسن د پورتنيو شرطونو څخه که يو يا زيات شرطونه په راوي کي مفقود (نيستي) وي ، مثلا د حديث راوي صاحب عدالت نه وي . يا صاحب ضبط نه وي نو د هغه روايت سوی حديث ته به ضعيف ويل کيږي .

په دې حيثيت سره چي موږ ته رسيږي د حديث څلور ډوله دي :

(۱): متواتر ، (۲) مشهور ، (۳): عزيز (۴) : غريب .

متواتر هغه حديث دی چي د پيل څخه تر پايه پوري يو ډول د حديثو د کتابونو د شمېر د تعين څخه ماسوا دومره راويانو روايت کړی وي چي د هغوئ پر دروا غو متفق کېدل يا د هغوئ څخه په اتفاق سره هم درواغ صادر کېدل عقلا محال (ګران) وي .

مشهور : هغه حديث غير متواتر چي د هغه راوي په هره طبقه کي کم تر کمه درې يا زيات وي . د ځينو محدثينو په نزد مشهور ته مستفيض هم وايي .

عزيز : هغه حديث دی چي د هغه راوي په هره طبقه کي کم تر کمه دوه خامخا وي .

غريب : هغه حديث دی چي د هغه په اسناد کي يو ځای يوازي يو راوي وي چي د هغه يو ملګری نه وي ،غريب ته (فرد) هم وائي .

د اختلاف په اعتبار د حديث څلور ډوله دي :

(۱): شاذ ، (۲): محفوظ ، (۳): منکر ، (۴): معروف .

شاذ : هغه حديث دی چي د هغه راوي خو ثقه (معتبر) وي مګر د يو داسي ثقه راوي د حديث خلاف وي چي په ضبط وغيره وجوه ترجيح کي زيات وي .

محفوظ : هغه حديث دی چي د هغه راوي اوثق وي مګر هغه د داسي راوي د حديث خلاف وي چي په ضبط وغيره وجوه ترجيح کي تر هغه کمتر وي .

منکر : هغه حديث دی چي د هغه راوي ضعيف وي او هغه د داسي راوي د حديث خلاف وي چي قوي راوي دی .

معروف : هغه حديث دی چي د هغه راوي قوي وي او هغه د داسي راوي د حديث خلاف وي چي ضعيف دی .

د حديثو د اصطلاحاتو دغه اجمالي پيژندنه ده. هسي خو د حديث اصطلاحات ډير زيات دي چي د حديث مختلف قسم باندي مبني دي مګر د هغه ټولو دلته ذکر کول به د طوالت (اوږدوالي) باعث وي او بله دا چي يوازي پر دغه اصطلاحاتو باندي اکتفاء وکړل سي چي په

دغه کتاب د پوهیدلو او د حدیث حقیقت پیژندلو لپاره کافي وي، په نورو ټولو اصطلاحاتو پوهیدل د عوامو لپاره هم ډیر مشکل وي ځکه دلته دد غه اصطلاحاتو پر تعریف باندي اکتفاء وکړل سول.

صـــــحاح ســـــتة

د حدیث د فن هغه شپږ کتابونه چي د نقل حدیث په اعتبار د لوړي درجې دي او د هغه نقل سوي حدیثونه د محدثینو د تحقیق په نظر تر ټولو اعلی او د صحیح مرتبې ثابت سوي دي هغه ته (صحاح ستة) ویل کیږي:

۱. بخاري شریف.
۲. مسلم شریف.
۳. ترمذي شریف.
۴. ابوداؤد شریف.
۵. نسائي شریف.
٦. ابن ماجه شریف.

یعني دغه شپږ سره د حدیثو کتابونه په صحاح سته کي شامل دي.

ځینو حضراتو د ابن ماجه شریف پر ځای مؤطا امام مالک په صحاح ستة کي شمیري، د بخاري او مسلم څخه پرته په نورو کتابونو کي صحیح، حسن او ضعیف دري سره حدیثونه وي چي د هغه تشریح او وضاحت هر یو صاحب کتاب پر خپل خپل ځای کړی ده.

د مشکوة شريف مقدمة

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَ نَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ

ټول تعريفونه الله تعالی ته ښائي موږ د هغه تعريف کوو او د هغه څخه مرسته او بخښنه غواړو .

تشريح : د الله ﷻ تعريف او د هغه توصيف لکه څرنګه چې د هغه د شان مناسب او وړ دی هيڅ بنده نه سي ادا کولای ځکه نو مصنف د الله تعالی څخه د مرستي غوښتونکی دی چي د هغه ژبي او بيان ته دومره طاقت او قوت ورکړي چي په هغه سره هغه د خپل پروردګار حقيقي تعريف او توصيف وکړلای سي که د بشريت په غوښتنه د هغه په تعريف او توصيف کي کوتاهي وسي چي د شان الوهيت خلاف وي نو د هغه څخه مصنف د بخښني او معافی غوښتونکی دی .

وَنَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا

او موږ د خپل نفس د بديو څخه او د خپلو بدو اعمالو څخه د الله تعالی پناه غواړو .

تشريح : يعني دا چي زموږ دغه حمد او تعريف چي يوازي د الله لپاره او د سعادت تر لاسه کولو لپاره دی داسي نه وي چي په دې کي د نفس شرارت سره د ريا دخل وسي . همداسي هغه خراب اعمال چي د بشريت په غوښتنه صادريږي لکه باطل کلام خرابي خبري د الله تعالی د ياد څخه غفلت ، په طاعت او عبادت کي سستي ، د حرام او مکروه کارونو کېدل ، نو دغه ټولو شيانو څخه موږ د الله تعالی پناه غواړو .

مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلاَ هَادِيَ لَهٗ

چا ته چي الله تعالی سيده لار وښيي نو هغه بيا څوک ګمراه کولای نسي او الله تعالی چي يو څوک ګمراه کېدو ته پريږدي نو هغه ته هيڅوک سيده لار ښودونکی نسته .

وَاَشْهَدُ اَنْ لاَّاِلٰهَ اِلاَّاللّٰهُ شَهَادَةً تَكُوْنُ لِلنَّجَاةِ وَسِيْلَةً وَلِرَفْعِ الدَّرَجَاتِ كَفِيْلَةً وَاَشْهَدُ اَنْ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهُ الَّذِيْ بَعَثَهٗ وَطُرُقُ الْاِيْمَانِ قَدْ عَفَتْ آثَارُهَا وَخَبَتْ اَنْوَارُهَا وَهَنَتْ اَرْكَانُهَا وَجُهِلَ مَكَانُهَا

او زه شاهدي ادا کوم چي د الله ﷻ څخه پرته بل معبود نسته هغه شاهدي چي د نجات لپاره وسيله او د درجو د لوړتيا لپاره ضامن ده او زه شاهدي ورکوم چي محمد ﷺ د الله ﷻ بنده او د هغه رسول دی چي الله تعالی هغه وخت په خپل رسول جوړولو سره راوليږی چي د ايمان د لارو نښي خرابي سوي دي د هغې رڼاوي مړې سوي

وې د هغه آثار کمزوري سوي وه او د هغه ښودل سوي منزل د نظرونو څخه غائب سوي وو .

تشریح : د ایمان د لاري څخه مراد انبیاء کرام او د هغوئ پیروان یعني علماء او صلحاء دي . د هغه رڼاوي مړې کېدل او د هغه آثار کمزوري کېدل څخه مراد دادی چي د ایمان او دین رڼا خپرونکي هغه تعلیمات او هدایت چي انبیاء کرامو دې دنیا ته راوړي وه هیر کړي وه ، د هغه ریښتوني تعلیمات او هدایات حاصل علماء او صلحاء وجود له مینځه تللی وو ، که په شمیر یو څو عالمان او نیکان انسانان هم وه نو په ټولنه کي هغو ته ارزښت نه ورکول کیدی هغو چي به خلکو د نیکۍ او خیر نصیحت کوی او د ښو خبرو تعلیم به یې ورکوی نو د هغه اورېدو ته هیڅوک هم تیار نه وه، همداسي د دین او دنیا څخه کرکه د ګناه او معصیت ډېر والی او د ظلم او جهالت تیاره د انسان پر پوره کائنات باندي داسي خپره سوې وه چي دنیاوي فلاح او سعادت او اخروي نجات هغه منزل د عام نظرونو څخه پناه سوی وو کوم چي د بني ادم د تخلیق مقصد او ددین او ایمان اصلي مقصد دی .

فَشَيَّدَ صَلَوَاتُ اللهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِ مِنْ مَعَالِمِهَا مَا عَفٰى وَشَفٰى مِنَ الْعَلِيْلِ فِيْ تَأْيِيْدِ كَلِمَةِ التَّوْحِيْدِ مَنْ كَانَ عَلٰى شَفَا

نو نبي کریم ﷺ هغه نړېدلي نښې د نوي سره جوړي کړې او دکلمه توحید سره یې هغه ناروغو ته شفاء ورسول کوم چي د هلاکت غاړې ته رسیدلي وه .

تشریح : یعني ټول انسانیت د کفر او شرک، معصیت او بدو اعمالو په ګناه کي په اخته کېدو سره په روحاني توګه ناروغ سوي وه او نژدې وه چي د هلاکت کندې ته لویدلي وای چي نبي کریم ﷺ د ایمان او توحید د تعلیم په ذریعه هغه د پوره تباهۍ څخه وژغورل او د فلاح او نجات پر لاره یې ولېږل .

وَ اَوْضَحَ سُبُلَ الْهِدَايَةِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يَّسْلُكَهَا وَاَظْهَرَ كُنُوْزَ السَّعَادَةِ لِمَنْ قَصَدَ اَنْ يَّمْلِكَهَا.

او د هغه سړي لپاره یې د هدایت لار ځلانده کړه چي پر هغه د تلو اراده وکړي او د هغه لپاره د نیک بختۍ خزانې ښکاره کړې چي د هغه د مالک کېدو قصد وکړي.

تشریح : د نیک بختۍ د خزانې څخه مراد ایمان، نیک اعمال، عبادات او معارف دي چي د آخرت لپاره د خزانو درجه لري څوک چي دغه خزانه تر لاسه کړي نو هغه په دغه دولت سره مشرف کېږي او ددې په بدله کي دآخرت ابدي سعادت یعني د الله ﷻ رضا او د جنت حقدار کېږي .

اَمَّا بَعْدُ! فَاِنَّ التَّمَسُّكَ بِهَدْيِهٖ لاَ يَسْتَتِبُّ اِلاَّ بِالْاِقْتِفَاءِ لِمَا صَدَرَ مِنْ مِشْكٰوتِهٖ وَالْاِعْتِصَامَ بِحَبْلِ اللهِ لاَ يَتِمُّ بِبَيَانِ كَشْفِهٖ

د دې څخه وروسته، په تحقيق سره د نبي كريم ﷺ نمونه (هغه صحيح لار چي ده موږ ته ښودلې ده) اختيارول هغه وخت معتبر كيدلای سي چي د هغه شي پوره اتباع وكړل سي چي د رسول الله ﷺ د سينې مباركي څخه څرګند سوي وه، يعني د رسول الله ﷺ ارشــــادات او احكام، همداسي د الله ﷻ رسۍ يعني پر قرآن كريم باندي اعتماد او پر هغه عمل هلته ممكن كيدلای سي چي د هغه شرح او وضاحت د احاديث نبوي څخه وي.

تشريح: د نبي كريم ﷺ سنت او د هغه پر لاره تلل تر هغه وخته پوري ممكن نه دي تر څو پوري چي د هغوئ د احكامو او هداياتو پيروي ونه كړل سي او د هغه ﷺ په حديثو يې پوره عمل نه وي كړى، كه د هغه د احكامو پيروي نه وي، په ارشاداتو يې عمل نه وي، نقش قدم يې اختيار نه كړل سي نو د هغه ﷺ پر لاره تلل څرنګه نصيب كيدلای سي، او كوم سړى چي د رسول الله ﷺ پر لاره روان نه سي هغه ته سنت نبوي او د اسوه رسول د پيروي مقام نسي تر لاسه كيدلای، همداسي د قرآن كريم تعليمات او د هغه احكامو باندي عمل او په هغه پوهېدل هلته ممكن دي چي رسول الله ﷺ د قرآن كريم د احكامو او فرمانونو كومه تشريح او توضيح په خپل اقوالو او افعالو سره فرمايلي دي لومړى په هغه ځان پوه كړي، په قرآن كريم كي احكامات په اجمالي او اصولي طريقې سره بيان سوي دي او د هغه اجمال تفصيل او د اصولو تشريح نبي كريم ﷺ كولای سي ځكه نو ضروري ده چي لومړى د حديثو علم تر لاسه كړل سي او بيا د هغه په ذريعه د قرآن پاك د تعليماتو څخه كتېه او په هغه عمل وكړل سي:

وَكَانَ كِتَابُ الْمَصَابِيْحِ الَّذِيْ صَنَّفَهُ الْاِمَامُ مُحْيِ السُّنَّةِ قَامِعُ الْبِدْعَةِ اَبُوْمُحَمَّدِ الْحُسَيْنِ ابْنُ مَسْعُوْدِ الْفَرَّاءُ الْبَغَوِيُّ رَفَعَ اللهُ دَرَجَتَهٗ اَجْمَعَ كِتَابٍ صُنِّفَ فِيْ بَابِهٖ وَاَضْبَطَ لِشَوَارِدِ الْاَحَادِيْثِ وَاَوَابِدِهَا،

او كتاب المصابيح هغه چي امام محي السنة (سنت ژوندی كونكى) قامع البدعة (د بدعت ليري كونكى) ابو محمد حسين الفراء بغوي الله دي دده درجات لوړ كړي، تاليف فرمايلي دی هغه د خپل فن يو جامع كتاب وو چي په هغه كي نوموړي ډير په ښه او غوره طريقه سره پاشلي او متفرق حديثونه را جمع كړي وه.

تشريح: شوارد د شارد جمع ده، او د هغه معنا ده تښتېدونكى اوښ، همداسي د اوابد معنا د

وحشي حيوان ده، دلته دغه الفاظ د استعارې په توګه استعمال کړل سوي دي ، د شوارد څخه مراد هغه حديثونه دي چي د اصولو په کتابونو کي نقل وه او هغه کتابونو ته د هر شاګرد رسېدل مشکل وه ځکه د يو حديث په باره کي دا معلومول چي په کوم کتاب کي او په کوم ځای کي نقل دی ډېر مشکل کار وو ، يعني هغه حديث د شاګرد د نظر څخه تښتېدلی يعني پټ وو ځکه هغه يې د (شوارد) په لفظ سره تعبير کړل، همداسي د (اوابد) څخه مراد هغه حديثونه دي چي د هغه معنا او مقصد د شاګرد د فهم څخه ډېر لوړ وو او په هغه پوهېدل د شاګردانو لپاره مشکل وه ځکه دغه حديثونه د (اوابد) په لفظ سره تعبير کړل سول، دغه مشکلات د يو شاګرد لپاره ډېر پريشان کونکي وه او په دې وجه حديث تر لاسه کول د هر سړي د وس کار نه وو ځکه امام محي السنة دغه پاشلي حديثونه راجمع کړل او په خپل کتاب مصابيح کي چي د کوم باب مناسب کوم حديث وو هلته يې نقل کړ چي د حديثو يو شاګرد د يو حديث په لټولو کي د اصول لوی لوی کتابونو کي سرګردان نسي او د هغه معنا او مقصد پوهېدو کي ورته اساني وي .

وَلَمَّا سَلَكَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ طَرِيْقَ الْاِخْتِصَارِ وَحَذَفَ الْاَسَانِيْدَ تَكَلَّمَ فِيْهِ بَعْضُ النُّقَّادِ .

او کله چي مصنف (د حديث د نقلولو په وخت کي) د اختصار طريقه غوره کړه او اسناد يې حذف کړل نو پر دې باندي ځينو محدثينو او فاقدينو اعتراض وکړ .

تشريح : د اسناد څخه مراد دادی چي کله حديث بيانيږي يا نقل کيږي نو د حديث څخه مخکي د هغه صحابي نوم ياديږي کوم چي د حديث روايت کړی دی همداسي د صحابي څخه تر مصنف پوري چي څومره روايت کونکي وي د هغوئ لړۍ ته هم سند او اسناد ويل کيږي. مصنف په مصابيح کي د حديثونو په جمع کولو د اختصار (لنډوالي) څخه کار اخيستی وو او يوازي د حديث پر نقل کولو يې بس والی کړی وو او د حديث سند يې پرې ايښی وو ، د محدثينو د خوا اعتراض پر وسو ځکه چي د حديث د پېژندلو دار او مدار يوازي پر سند باندي وي تر څو پوري چي سند ونه کتل سي چي دغه حديث کوم راوي روايت کړی دی تر هغو پوري د حديث په اړه دا حکم کول چي دا صحيح دی ، حسن دی او که ضعيف ډېر مشکل دی .

وَاِنْ كَانَ نَقْلُهٗ وَاِنَّهٗ مِنَ الثِّقَاتِ كَالْاَسْنَادِ لٰكِنْ لَيْسَ مَا فِيْهِ اِعْلَامٌ كَالْاَغْفَالِ فَاسْتَخَرْتُ اللّٰهَ تَعَالٰى وَاسْتَوْفَقْتُ مِنْهُ فَاَوْدَعْتُ كُلَّ حَدِيْثٍ مِنْهُ

که څه هم د مصنف د حديثونو بغير سند نقل داسي دي لکه په سند سره چي يې نقل کړي وي ځکه چي هغه د حديث د نقل کولو په معامله کي د ثقه او معتمدو محدثينو څخه شمېرل

فِيْ مَقَرِّهِ فَاعْلَمْتُ مَا اَغْفَلَهُ كَمَا رَوَاهُ الْاَئِمَّةُ الْمُتْقِنُوْنَ وَالثِّقَاتُ الرَّاسِخُوْنَ مِثْلُ اَبِيْ عَبْدِاللهِ مُحَمَّدِ بْنِ اِسْمَاعِيْلَ الْبُخَارِيُّ وَاَبِيْ الْحُسَيْنِ مُسْلِمِ بْنِ الْحُجَّاجُ الْقُشَيْرِيِّ وَاَبِيْ عَبْدِاللهِ مَالِكِ بْنِ اَنَسِ الْاَمْلَجِيْ وَاَبِيْ عَبْدِاللهِ مُحَمَّدِ بْنِ اِدْرِيْسِ الشَّافِعِيِّ وَاَبِيْ عَبْدِاللهِ اَحْمَدِ بْنِ حَنْبَلِ الشَّيْبَانِيِّ وَاَبِيْ عِيْسٰى مُحَمَّدِ بْنِ عِيْسٰى التِّرْمِذِيِّ وَاَبِيْ دَاوُدَ سُلَيْمَانَ ابْنِ الْاَشْعَثِ السَّجِسْتَانِيِّ وَاَبِيْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ اَحْمَدَ بْنِ شُعَيْبِ النَّسَائِيِّ وَاَبِيْ عَبْدِاللهِ مُحَمَّدِ بْنِ يَزِيْدَ ابْنِ مَاجَةَ الْقَزْوِيْنِيْ وَاَبِيْ مُحَمَّدِ عَبْدِاللهِ بْنِ عَبْدِالرَّحْمٰنِ الدَّارْمِيِّ وَاَبِيْ الْحَسَنِ عَلِيِّ ابْنِ عُمَرَ الدَّارَ قُطْنِيِّ وَاَبِيْ بَكْرِ اَحْمَدَ بْنِ الْحُسَيْنِ الْبَيْهَقِيِّ وَ اَبِيْ الْحَسَنِ رَزِيْنَ ابْنِ مُعَاوِيَةَ الْعَبْدَرِيِّ وَغَيْرِهِمْ وَقَلِيْلٌ مَّا هُوَ.

کیږي مګر بیا هم کوم شی چي بې نښې وي هغه د نښې والا شی په درجه کي نسي کیدلای ځکه نو ما د الله تعالی څخه مرسته وغوښتل او د هغه د توفیق غوښتونکی سوم ، ما هر حدیث چي د کوم باب سره د هغه تعلق وو په هغه باب کي نقل کړ او علماء او محدثین چي څرنګه هغه روایت کړ ما هم هغسي د سند او حواله کتاب ذکر وکړ مثلاً امام بخاري، امام مسلم، امام مالک، امام شافعي، امام احمد بن حنبل، امام ترمذي، امام ابوداؤد، امام نسائي، امام ابن ماجه ، امام دارمي، امام دارقطني، امام بیهقي، امام رزین بن معاویه عبدري، دغه امامانو او محدثینو چي څرنګه په خپلو کتابونو کي حدیث نقل کړی دی همداسي ما د هغه کتابونو څخه په اخیستلو سره په دغه کتاب کي جمع کړل ، ددغه امامانو او محدثینو څخه پرته نور محدثین هم سته چي د هغوئ د کتابونو څخه حدیثونه نقل کړل سوي دي مګر د هغوئ شمیر ډیر کم دی .

تشریح : لکه څرنګه چي وړاندي وښودل سول چي د مصابیح لیکوال په خپل کتاب کي د حدیثونو یو ځای کولو په وخت کي د هغه سند او د کتاب د حوالو ذکر کول پرې ایښي وه نو پر دې باندي ځینو محدثینو او ناقدینو اعتراض وکړ ، ځکه صاحب مشکوٰة چي په مصابیح کي د نورو حدیثونو اضافه وکړه نو هغوئ دا کار هم وکړ چي د هر حدیث سند یې خامخا ولیکی د هر حدیث سره د هغه کتاب حواله یې هم ولیکل ، او دا طریقه یې هم غوره کړه چي د هغه کتابونو مصنفینو مثلاً امام بخاري، امام مسلم او داسي نورو اختیار کړې وه همداسي په نوي ترتیب سره دغه کتاب معرض په وجود کي راغلی چي د مشکوٰة په اوسني شکل کي موجود دی .

وَ اِنِّيْ اِذَا نَسَبْتُ الْحَدِيْثَ اِلَيْهِمْ كَاَنِّيْ اَسْنَدْتُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَنَّهُمْ قَدْ فَرَغُوْا مِنْهُ وَاَغْنَوْنَا عَنْهُ

او حقيقت دادی چي هر كله ما ددغه حديثونو نسبت د هغه امامانو او محدثينو په لور وكړ نو لكه د هغه سند چي مي تر رسول الله ﷺ پوري رسولی دی ځكه چي دغه امامانو په خپلو كتابونو كي د سند ذكر كولو سره موږ ددې څخه مستغني كړي يو .

تشريح : دلته شك پيدا كيدی چي محدثينو پر صاحب مصابيح باندي دغه اعتراض كړی وو چي هغوئ د حديث د نقل كولو په وخت كي د ټول سند ذكر ونه كړ نو اوس هم هغه خبره پاته سوه ځكه چي صاحب د مشكوة هم د صحابي او د كتاب د حوالې ذكر كافي ګڼلی دی ټول سند يې نه دی ذكر كړی ، ددې جواب مصنف وركړی دی چي د كومو امامانو او محدثينو څخه دغه حديثونه را اخيستل سوي دي هغوئ خپل د سند په لړه كي د لټې او هڅو څخه وروسته دغه مرحله قطع كړې وه او هغه حضراتو په خپلو كتابونو كي دغه اسناد كړی دی ځكه د هغوئ ذكر سوی سند كافي ګڼلو سره اوس موږ د ټول اسناد ذكر كولو ضرورت پاته نه سو .

وَسَرَدْتُ الْكُتُبَ وَالْاَبْوَابَ كَمَا سَرَدَهَا وَاقْتَفَيْتُ اَثَرَهٗ فِيْهَا

او ما دغه كتاب ته هغه ترتيب وركړ كوم چي صاحب د مصابيح اېښی وو او په دې اړه مي د هغه پيروي كړې ده .

تشريح : عامه طريقه داده چي په كوم كتاب كي مختلف موضوعات او مباحث سره اړوند مضامين وي هغه د هغه موضوعات او مباحث د اعتبار څخه په كتاب او بابونو كي ويشل كيږي، د لفظ (كتاب) په ذريعه چي كوم عنوان اېښودل كيږي تر هغه لاندي مختلف بابونه وي كه څه هم د يوې موضوع سره اړه لري مګر د هغه د مضامينو او مباحثو نوعيت او تفصيل بيل بيل وي، مثلا طهارت يوه موضوع ده او ددې موضوع سره اړوند مختلف صورتونه او د هغه احكام او مسائل دي لكه اودس، غسل، تيمم او داسي نور، نو د ټولو څخه مخكي د (كتاب الطهارت) عنوان قائميږي بيا تر هغه لاندي د هغه مختلف صورتونه او د هغه احكام او مسائل باندي مشتمل مضامين باندي نقل كولو لپاره بابونه قائميږي لكه (باب الوضوء) ، باب الغسل، باب التيمم او داسي نور .

نو د مصابيح ليكوال په خپل تصنيف كي چي په كوم ترتيب سره د كتاب او بابونو عنوان قائم كړی وو په هغه ترتيب سره صاحب د مشكوة هم د كتاب او بابونو عنوان قائم كړی دی.

وَقَسَّمْتُ كُلَّ بَابٍ غَالِبًا عَلٰى فُصُوْلٍ ثَلاثَةٍ اَوَّلُهَا مَا اَخْرَجَهُ الشَّيْخَانِ اَوْ اَحَدُهُمَا وَاكْتَفَيْتُ بِهِمَا وَاِنِ اشْتَرَكَ فِيْهِ الْغَيْرُ لِعُلُوِّ دَرَجَتِهِمَا فِي الرِّوَايَةِ

او ما هر باب پر درو فصلونو باندي ويشلی دی. په لومړي فصل کي مي هغه حديثونه جمع کړي دي چي د شيخينو يعني امام بخاري او امام مسلم روايت کړي دي يا په دوئ دواړو کي يو چا روايت کړی دی که څه هم په هغه حديثونو کي ځيني داسي هم دي چي نورو محدثينو هم روايت کړي دي مګر په دغه فصل کي ما يوازي د شيخينو ذکر باندي اکتفاء کړې ده ځکه چي د شيخينو درجه پر ټولو محدثينو باندي لوړه ده.

تشريح: په مشکوة شريف کي د (متفق عليه) اصطلاح د هغه حديث لپاره ده چي د يو صحابي څخه په بخاري او مسلم دواړو کي ذکر وي، که د صحابي اختلاف وي يعني په بخاري کي د يو صحابي څخه منقول وي او په مسلم کي د بل صحابي څخه نو داسي روايت ته به (متفق عليه) نه وايو که څه هم حديث يو وي.

وَثَانِيُهَا مَا اَوْرَدَهُ غَيْرُ هُمَا مِنَ الْاَئِمَّةِ الْمَذْكُوْرِيْنَ، وَثَالِثُهُمَا مَا اشْتَمَلَ عَلٰى مَعْنَى الْبَابَ مُلْحَقَاتٍ مُنَاسِبَةٍ مَعَ مُحَافَظَةٍ عَلَى الشَّرِيْطَةِ وَاِنْ كَانَ مَاْثُوْرًا عَنِ السَّلَفِ وَالْخَلَفِ

او په دوهم فصل کي مي هغه حديثونه جمع کړي دي چي د شيخينو يعني بخاري او مسلم څخه پرته په نورو ذکر سوو امامانو کي يو چا روايت کړی وي، او په دريم فصل کي د حديثو څخه پرته د صحابه کرامو او تابعينو هغه اقوال او آثار مي هم جمع کړي دي چي د باب مناسب او وړ وه، مګر د آثار او خبر شاملولو سره د حديث شرائط په نظر کي ساتل سوي دي.

تشريح: په مصابيح کي دوه فصلونه وه مګر دريم فصل صاحب د مشکوة زيات کړی دی. صاحب د مصابيح د حديثونو جمع کولو په وخت کي دغه ترتيب غوره کړی وو چي په لومړي فصل کي هغوئ د صحاح حديثونه جمع کړي وه او صحاح هغه حديثونه دي چي په بخاري او مسلم کي مذکور دي، په دوهم فصل کي هغوئ (حسان) يعني هغه حديثونه چي د بخاري او مسلم څخه پرته نورو مستندو، ثقه او معتبرو امامانو روايت کړي وي لکه ترمذي، ابوداؤد،

نسائي او داسي نور، د حديثو دغه اصطلاح يوازي د صاحب مصابيح په نزد ده، د نورو محدثينو او علماؤو په نزد دغه اصطلاح نسته.

دريم فصل صاحب د مشکوة زيات کړی دی په دغه فصل کي صاحب دمشکوة ددې التزام نه دی کړی چي مرفوع حديث د رسول الله ﷺ څخه نقل کړل سي بلکه د صحابه کرامو او تابعينو داسي اقوال او افعال او تقرير هم په دغه فصل کي نقل کړی دی چي مخکي يې د راوي نوم خامخا ليکلی دی که هغه صحابي وي او يا تابعي، همداسي د حديث په پای کي يې د کتاب حواله هم ورکړې ده چي د کوم کتاب څخه دغه حديث اخيستل سوی دی.

ثُمَّ اِنَّكَ اِنْ فَقَدْتَّ حَدِيْثًا فِيْ بَابٍ فَذَالِكَ عَنْ تَكْرِيْرِ اُسْقِطُهُ	بيا که چيري په يو باب کي يو حديث ته نسې تر لاسه کولای نو داسي ګڼه چي هغه ما د تکرار په وجه نه دی نقل کړی.

تشريح: يعني که چيري داسي وي چي حديث د مصابيح په يو باب کي خو موجود وي مګر په مشکوة کي په هغه باب کي نسته نو دا ځکه چي صاحب مشکوة هغه حديث په يو بل باب کي د ذکر کېدو په وجه دلته نه دی نقل کړی.

وَاِنْ وَجَدْتَ آخَرَ بَعْضَهُ مَتْرُوْكًا عَلَى اِخْتِصَارِهِ اَوْ مَضْمُوْمًا اِلَيْهِ تَمَامُهُ فَعَنْ دَاعِيْ اِهْتِمَامٍ اَتْرُكُهُ وَ اَلْحِقُهُ	او که ته يو حديث ووينې چي د هغه ځيني برخه د اختصار په وجه حذف کړل سوې ده يا په هغه کي د بل حديث يو برخه يو ځای کړل سوې ده نو دغه حذف کول او يو ځای کول د يو خاص مقصد لپاره دي.

تشريح: مطلب دا چي د يو خاص مقصد لپاره په يو ځای کي حذف او الحاق ضروري ګڼل سوی دی نو هلته داسي وکړل سول مثلا يو لوی حديث دی د هغه يو څه برخه خو اخيستل سوې ده چي د باب مناسب ده نو هغه هلته نقل کړل سوه او ځيني برخه داسي ده چي د باب مناسبه نه وه نو هغه پرېښودل سول يا د يو حديث يوه ټوټه د هغه باب مناسب ده او دويمه ټوټه د بل باب سره مناسب ده نو په داسي شکل کي هلته حديث د اختصار سره چي د باب متعلق وي بيان کړل سوی دی، په دغه حالت کي هم د صاحب مصابيح پيروي کړل سوې ده مګر چيري چي په دواړو صورتونو کي هيڅ يو صورت نسته نو پوره حديث نقل کړل سوی دی که څه هم هلته صاحب د مصابيح د اختصار څخه کار اخيستی دی.

وَاِنْ عَثَرْتَ عَلَى اِخْتِلَافٍ فِي الْفَصْلَيْنِ مِنْ ذِكْرِ غَيْرِ الشَّيْخَيْنِ فِي الْاَوْلِ وَ ذِكْرِهِمَا فِي الثَّانِيْ فَاعْلَمْ اَنِّيْ بَعْدَ تَتَبُّعِيْ كِتَابَيْ الْجَمْعِ بَيْنَ الصَّحِيْحَيْنِ لِلْحُمَيْدِيِّ وَ جَامِعِ الْاُصُوْلِ اِعْتَمَدْتُ. عَلَى صَحِيْحَيْ الشَّيْخَيْنِ وَ مَتْنَيْهِمَا

او كه په دواړو فصلونو كي اختلاف ووينې يعني د شيخينو پرته نور حديثونه په اول فصل كي ذكر سوي دي او د شيخينو حديثونه په دوهم فصل كي نقل سوي وي نو پوهېدل پكار دي چي دغه اختلاف د غلطۍ يا غفلت په وجه نه دى سوى بلكه دغه ما د حميدي كتاب جمع بين الصحيحين او په كتاب جامع الاصول كي ډيره پلټنه او تحقيق ښخه وروسته كړي دي او په دې لړۍ كي ما د بخاري او مسلم پر نسخو او د هغو پر متن اعتماد كړى دى.

تشريح: صاحب د مصابيح خو دا طريقه غوره كړې وه چي په اول فصل كي هغه حديثونه نقل كړل چي شيخين يعني امام بخاري او امام مسلم ښخه د هغوئ په كتاب كي روايت سوي دي او په دوهم فصل كي هغه حديثونه جمع كړي دي چي د شيخين ښخه پرته نور امامانو ښخه ذكر دي مگر په مشكوة كي ځيني ځايونه داسي هم دي چي په اول فصل كي هغه حديثونه چي صاحب مصابيح د شيخينو طرف ته په منسوب كولو سره نقل كړي دي ، صاحب مشكوة هغه د نورو امامانو په لور منسوب كولو سره نقل كړي دي لكه د باب سنن وضوء په اول فصل كي يا باب فضائل القرآن كي ، همداسي ځيني ځايونه د دوهم فصل حديثونه يې شيخينو ته منسوب كړي دي لكه باب ما يقرا لتكبير يا باب الموقوف او داسي نورو كي ،

نو ددغه رد او بدل او فرق په باره كي صاحب مشكوة وايي چي دا زما غلطي يا سهوه نه ده بلكه ما په كتاب جمع بن الصحيحين او كتاب جامع الاصول او د بخاري او مسلم د اصلو نسخو او د هغه په متن كي پوره پلټنه او تحقيق وكړ په هغه كتابونو كي چي كوم حديثونه د شيخينو طرف ته منسوب كړل نسوي نه دي او صاحب مصابيح په اول فصل كي د شيخينو طرف ته منسوب كړي دي نو ما هغه حديثونه په مشكوة كي د شيخينو طرف ته د منسوب كولو پر ځاىَ د هغه اصل راوي او ناقل طرف ته منسوب كړي دي ، همداسي كوم حديثونه چي صاحب مصابيح د شيخينو ښخه پرته امامانو ته په منسوب كولو سره په دوهم فصل كي نقل كړي وه او هغه حديثونه ما په پورتني ذكر سوو كتابونو كي د شيخينو طرف ته منسوب پيدا كړل نو ما هغه د شيخينو طرف ته منسوب كړل او ما ته پر خپل تحقيق او پلټني باور وو ځكه ما په دې فكر كولو سره د مصابيح د نقل خلاف داسي كړي دي چي كيداى سي د صاحب مصابيح ښخه د نقل

کولو په وخت کي سهوه سوې وي.

وَاِنْ رَاَيْتَ اِخْتِلاَفًا فِي نَفْسِ الْحَدِيْثِ فَذَالِكَ مِنْ تَشَعُّبِ طُرُقِ الْاَحَادِيْثِ

او که په اصل حدیث کي اختلاف ووینې نو دا به د حدیثونو په اسناد کي د اختلاف په وجه وي.

تشریح: یعني صاحب د مصابیح یو حدیث روایت کړ او هغه حدیث چي صاحب مشکوة نقل کړ نو د دواړو په الفاظو کي فرق راغلی یعني د صاحب مصابیح د روایت سوي حدیث الفاظ نور دي او د صاحب مشکوة د روایت سوي حدیث الفاظ نور دي نو په دې اړه صاحب مشکوة وایي چي دا فرق په اصل کي د سندونو د اختلاف پر بناء سوی دی یعني صاحب مصابیح ته هغه روایت چي په کوم سند سره رسیدلی دی په هغه کي هغه الفاظ دي چي هغوئ نقل کړي دي او ما ته چي په کوم سند سره دغه روایت را رسیدلی دی په هغه کي دغه الفاظ دي چي زه یې نقل کوم.

وَلَعَلِّيْ مَا اطَّلَعْتُ عَلٰى تِلْكَ الرِّوَايَةِ الَّتِيْ سَلَكَهَا الشَّيْخُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَقَلِيْلاً مَا تَجِدُ اَقُوْلُ مَا وَجَدْتُ هٰذِهِ الرِّوَايَةَ فِيْ كُتُبِ الْاُصُوْلِ اَوْ وَجَدْتُ خِلاَفَهَا فَاِذَا وَقَفْتَ عَلَيْهِ فَانْسُبُ الْقُصُوْرَ اِلَيَّ لِقِلَّةِ الدِّرَايَةِ لاَ اِلٰى جَنَابِ الشَّيْخِ رَفَعَ اللّٰهُ قَدْرَهُ فِي الدَّارَيْنِ حَاشَا لِلّٰهِ مِنْ ذَالِكَ

او کیدای سي چي کوم روایت شیخ رحمة الله علیه نقل کړی دی هغه ما ته نه وي تر لاسه سوی مګر داسي کم پېښیږي چي روایت دي ما ته نه وي تر لاسه سوی یا ما ته د اصولو په کتابونو کي د شیخ نقل سوي روایت خلاف هغه رعایت حاصل سوی وي مګر دغه اختلاف که معلوم وي نو د خطا او قصور نسبت دي زما طرف ته د کوتاهۍ په وجه وکړل سي او شیخ رحمة الله علیه دي ددغه غلطۍ څخه پاک وګڼل سي، الله تعالی دي د شیخ صاحب قدر په دواړو جهانو کي لوړ کړي او الله تعالی لره پاکي ده.

تشریح: د اصولو د کتابونو څخه مراد دغه پورتني کتابونه یعني بخاري او مسلم دي. یعني که چیري داسي وي چي په یو روایت صاحب مصابیح نقل کړی دی او ما هغه روایت نه دی تر لاسه کړی یا د هغه په نقل سوي روایت کي څه اختلاف ولیدل سي نو په هغه کي دي د غلطۍ او قصور نسبت ما ته وکړل سي، صاحب د مصابیح دي د غلطۍ او خطا مرتکب نسي ګرځول کیدلای او د صاحب مشکوة دا ویل چي د غلطۍ او قصور نسبت دي ما ته وکړل سي د خلوص نیت او د اعتراف حقیقت پر بنا دی. په دې کي د ریاء وغیره دخل نسته لکه څرنګه چي په (حاشا

لله من ذالک) کي يې ارشاد کړی دی.

رَحِمَ اللّٰهُ مَنْ اِذَا وَقَفَ عَلٰى ذَالِكَ نَبَّهْنَا عَلَيْهِ وَ اَرْشَدْنَا طَرِيْقَ الصَّوَابِ

پر هغه سړي دي د الله ﷻ رحمت وي چي هغه ته روايت معلوم وي او موږ په خبرولو سره حقه لار وښيي.

تشريح: يعني که چيري يو چا ته هغه روايت معلوم وي چي صاحب مصابيح نقل کړی دی او ما ته معلوم سوی نه وي نو هغه ته پکار ده چي که چيري زموږ په ژوند کي هغه ته معلوم سي نو موږ ته دي يې وښيي او که زما د مرګ څخه وروسته ورته معلوم سي نو زموږ په کتاب کي دي اضافه وکړي.

وَلَمْ آلَ جُهْدًا فِي التَّنْقِيْرِ وَ التَّفْتِيْشِ بِقَدْرِ الْوُسْعِ وَالطَّاقَةِ وَ نَقَلْتُ ذَالِكَ الْاِخْتِلَافُ كَمَا وَجَدْتُ

ما په خپل تحقيق، پلټني او هڅي کي هيڅ کمي نه ده پرې ايښې او د خپل وس او توان سره سم پوره پلټنه مي وکړه او دغه اختلاف چي مي څرنګه تر لاسه کړ هم هغسي مي نقل کړ.

تشريح: يعني ما چي د اصولو په کتابونو کي څه تر لاسه کړل او څنګه مي نقل وليدی د شيخ رحمة الله تعالى عليه د تقليد څخه آخوا کېدو سره هم هغسي مي دلته ذکر کړ که څوک دغه اعتراض وکړي چي که چيري صاحب د مشکوة زياته تابع داري کړې وای نو هيڅ وجه نه وه چي هغه ته به دغه روايتونه نه تر لاسه کېدلای نو ددې جواب په خپله صاحب مشکوة ورکړ چي تر څو پوري زما وس او توان وو ما د هغه څخه زيات تحقيق او پلټنه وکړه او د خپل طرف څخه مي هيڅ کوتاهي نه ده کړې.

وَمَا اَشَارَ اِلَيْهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مِنْ غَرِيْبٍ اَوْ ضَعِيْفٍ اَوْ غَيْرِهِمَا بَيَّنْتُ وَجْهَهُ غَالِبًا وَمَا لَمْ يُشِرْ اِلَيْهِ مِمَّا فِي الْاُصُوْلِ فَقَدْ قَفَّيْتُهُ فِيْ تَرْكِهِ اِلاَّ فِيْ مَوَاضِعِ لِغَرْضٍ

او پر کوم حديث باندي چي شيخ رحمة الله تعالى عليه د ضعيف يا غريب وغيره حکم کړی دی نو ما د هغه سبب بيان کړی دی او د کوم حديث او اصول امور جانب ته چي شيخ يو اشاره نه ده کړې نو ما هم د شيخ پيروي کولو سره هغه پرې ايښې دی مګر پر څينو ځايونو باندي د مجبوری په وجه ما د هغه وضاحت کړی دی.

تشريح: يعني صاحب د مصابيح د څينو حديثونو په باره کي نقل کړي وه چي فلانی حديث غريب دی او فلانی ضعيف دی، او يا د شاذ او منکر حکم يې پر کړی وو، نو صاحب د مشکوة په مشکوة کي د هغه وضاحت کړی دی او ښودلي يې دي چي دغه حديث ولي غريب دی يا

ضعيف ولي دی او هغه حديث ته شاذ يا منکر ولي ويل سوي دي او يو څو داسي حديثونه هم وه چي صاحب مصابيح ورته ضعيف ، غريب، شاذ او يا منکر نه وه ويلي بلکه هغه يې همداسي پرې ايښي وه نو صاحب مشکوة هم د هغوئ پيروي کولو سره د هغه وضاحت ونه کړ بلکه هم هغسي يې نقل کړ البته د ځينو مجبوريو په وجه پر يو څو داسي ځايونو باندي صاحب مشکوة هم وضاحت کړی دی چيري چي صاحب مصابيح سکوت اختيار کړی دی ، مثلا ځينو خلکو خبري کولې او تهمت يې وايه چي فلانی حديث موضوع دی يا باطل دی نو د مجبوری له کبله صاحب د مشکوة د هغه الزام د ترديد کولو په وجه د هغه شرح او وضاحت د ترمذي وغيره حوالې سره وکړ چي دغه حديث ضعيف يا حسن دی او يا دا حديث ضعيف او غريب دی .

وَ رُبَّمَا تَجِدُ مَوَاضِعَ مُهْمَلَةً وَذَالِكَ حَيْثُ لَمْ اَطَّلِعْ عَلٰى رِوَايَةٍ فَتَرَكْتُ الْبَيَاضَ فَاِنْ عَثَرْتَ عَلَيْهِ فَالْحِقْهُ بِهِ اَحْسَنَ اللّٰهُ جَزَاءَكَ،	او يو څو داسي ځايونه به هم وي چي هلته د حديث څخه وروسته ما د کتاب حواله نه ده ورکړې ځکه چي د پلټني او تحقيق سربيره زه د راوي د نوم څخه خبر

نه سوم نو ځکه هغه ځای ما پرېښو دی که تاسو ته د راوي نوم معلوم وي نو په هغه ځای کې د هغه حواله ورکړئ پر دې به الله تعالى د خير جزا درکړي .

وَ سَمَّيْتُ الْكِتَابَ بِمِشْكٰوةِ الْمَصَابِيْحِ	او ما د دغه کتاب نوم مشکوة المصابيح ايښی دی

تشريح : مصابيح د مصباح جمع ده او مصباح څراغ ته وايي او د مشکوة معنا (سرتاخ) ده لکه څرنګه چي سرتاخ کي څراغ ايښودل کيږي همداسي د مصابيح کتاب په مشکوة کي ايښودل سوی دی .

وَاَسْاَلُ اللّٰهَ التَّوْفِيْقَ وَالْاِعَانَةَ وَالْهِدَايَةَ وَالصِّيَانَةَ وَتَيْسِيْرَ مَا اَقْصُدُهُ	او د دغه کتاب د تصنيف لپاره زه د الله تعالى څخه نيک توفيق د هغه مرسته او د هدايت غوښتونکی

يم او ذ خپل مقصد د تکميل لپاره د خطا او سهو ساتنه او د مشکلاتو د آسانی لپاره دعاء کوم .

وَاَنْ يَّنْفَعَنِيْ فِي الْحَيٰوةِ وَبَعْدَ الْمَمَاتِ وَجَمِيْعِ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ وَلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلاَّ بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ .	او دعاء کوم چي الله تعالى دي په ژوند کي او د مرګ څخه وروسته ما ته هم او هر مسلمان نارينه او ښځينه ته ګټه ورسوي او الله تعالى زما لپاره کافي او غوره کار ساز دی او د بدی څخه د ژغورني طاقت او د

نیک کار کولو قدرت د الله تعالی د لوري دی چي پر
ټولو کارونو باندي غالب او د حکمت خاوند دی.

تشریح: د ژوند ګټه خو داده چي الله تعالی د دغه کتاب د مطالعې او د دې څخه د ګټې اخیستلو توفیق راکړي او پر دغه حدیثونو باندي د عمل کولو توفیق راکړي او د مرګ څخه وروسته ګټه داده چي الله تعالی د دغه کتاب په برکت سره هغه په بخښني او د جنت په نعمتونو سره ونازوي او د خپل بې پایه رحمت دروازې ورته خلاصي کړي.

د مشکوة شریف لومړنی حدیث

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللّٰهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللّٰهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ. متفق عليه.

د حضرت عمر[۱] بن خطاب ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د ټولو کارونو دار او مدار په نیت پوري دی (یعني د عمل ثمره پر نیت باندي ورکول کیږي) نو چا چي د الله ﷻ او د هغه د رسول لپاره هجرت وکړ نو د هغه هجرت به د الله ﷻ او د رسول ﷺ لپاره وي او که د چا هجرت د دنیا ټر لاسه کولو لپاره وي نو هغه به تر لاسه کړي او که د چا هجرت د ښځي سره دنکاح کولو لپاره وي نو ښځه به په نکاح کړي نو د هغه هجرت د هغه شي لپاره وي د کوم لپاره چي هغه اراده کړې وي . بخاري او مسلم.

تشریح : د مشکوة شریف مصنف دغه حدیث د باب څخه مخکي راوړی دی ددې څخه د هغه مقصد دې ته اشاره ده چي یو طالب د علم ته پکار ده چي دی د علم تر لاسه کولو لپاره خپل نیت یوازي د الله ﷻ لپاره کړي او بیا ددې په تر لاسه کولو کي بوخت سي ، د دغه حدیث پر فضیلت او اهمیت باندي د محدثینو اتفاق دی بلکه ځینو علماؤ دغه حدیث ته نصف علم (د نیمائي علم) درجه ورکړې ده .

د هجرت مطلب دادی چي یوازي د الله تعالی د رضا لپاره دار الکفر خپل هیواد پرېښودلو سره دارالاسلام خپل وطن جوړ کړي او هلته هستوګنه غوره کړي که هجرت کونکی په خپل نیت خالص وي او د هغه هجرت یوازي د الله تعالی لپاره وي نو ثواب به تر لاسه کړي او د هغه دغه عمل به د الله تعالی په نزد مقبول وي ، مګر که په نیت کي یې خیرنتوب وي او د هجرت څخه د هغه مقصد د دنیا تر لاسه کول کوي نو یقینا هغه به د ثواب څخه محروم وي مګر که د دنیا د غوښتني او خواهش نفس سره یې د رضائي حق نیت هم وي نو ثواب به تر لاسه کړي . په دغه

---

[۱] د نوموړي نوم عمر، کنیت یې ابو حفص او لقب یې فاروق اعظم دی، نوموړی د قریش شام د عدي قبیلې څخه دی، د نبي کریم ﷺ او حضرت عمر فاروق ﷺ د نسب لړۍ پر کعب بن لوی باندي یو ځای کیږي ، د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ څخه وروسته په اتفاق سره دوهم خلیفه وټاکل سو ، د هجرت په دیرشم کال په ۲۷ ذي الحجة د چارشنبې په ورځ په مسجد نبوي کي د سهار لمونځ یې ورکوی چي یو بدبخت نصراني ابولؤلؤ په خنجر سره حمله پر وکړل او د شهادت درجه یې تر لاسه کړه، د نوموړي عمر ۶۳ کاله وو .

حديث كي هغه واقعې ته اشاره ده چي يو سړی مدينې منورې ته د يوې ښځي په نكاح كولو په غرض په هجرت راغلی وو د هغه ښځي نوم ام قيس وو، ددې كبله هغه سړي ته مهاجر ام قيس وويل سول، څرنګه چي د ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي يو سړي ام قيس ښځي ته د واده پيغام وليږی، ام قيس په دې شرط قبول كړ چي هغه دي مدينې ته په هجرت راسي نو بيا واده كيدلای سي ، نو هغه سړی مدينې ته په هجرت راغلی او د ام قيس سره يې واده وكړ . ددې وروسته هغه سړی په مهاجر ام قيس سره مشهور سو .

په دغه حديث كي لفظي اختلاف دی چي په ډيرو نسخو كي په څو ډوله راغلی دی، په ځينو ځايو كي (انما الاعمال بالنيات او انما الاعمال بالنية) روايت دی، په هر حال دا اختلاف لفظي دی چي د هغه اثر پر معنا او مفهوم باندي هيڅ نه لويږي .

د حديث د لومړنيو دوو جملو مطلب يو دی او په اصل كي د (انما لامرئ ما نوی) څخه تاكيد كيږي ، د لومړنۍ جملې چي عمل پرته د نيت څخه معتبر نه وي يعني كوم سړی چي څرنګه نيت وكړي هغسي اجر به تر لاسه كوي په يوه عمل كي كه څومره نيتونه كوي هغومره ثواب به هغه ته تر لاسه كيږي ، مثلا :

۱. د يو سړي قريب غريب او مفلس دی ، او دی د هغه غريب په دې نيت سره مرسته كوي چي د الله لپاره د يو غريب مرسته كول د ثواب كار دی نو هغه ته به ددې ثواب وركول كيږي، مګر كه هغه ددې سره د صله رحمی نيت هم وكړي چي د هغه سره د الله تعالی لپاره مرسته كول د ثواب كار دی او ددې سره به زما د يو قريب پريشاني هم ليري سي نو اوس يوازي په دغه نيت كولو سره به هغه ته دوه برابر ثواب تر لاسه كيږي .

۲. همداسي مسجد ته د تللو څو نيتونه كيدلای سي او د هر يوه بيل بيل ثواب تر لاسه كيږي، مثلا يو سړی مسجد ته راځي هغه دي نيت وكړي چي فرمايل سوي دي چي مسجد د الله تعالی كور دی دلته راتلونكی لكه د الله تعالی زيارت ته چي راځي او الله تعالی كريم دی او د كريم لپاره د ميلمه ميلمستيا ضروري ده زه هم ددې اميد لرم نو هغه ته به دا ثواب هم تر لاسه كيږي .

او جماعت د انتظار نيت دي وكړي چي فرمايل سوي دي كوم سړی چي د جماعت انتظار كوي هغه لكه د لمانځه په حالت كي چي وي نو په دغه نيت سره به هغه ته ثواب تر لاسه كيږي او دا نيت دي وكړي چي غوږونه، سترګي او ټول د بدن اعضاء په سړک او بازار كي په ګناه اخته

کېږي او دلته مسجد ته په راتلو سره به خوندي سي ، مسجد ته په راتلو سره د اعتکاف نيت دي وکړي ځکه چي علماؤ ليکلي دي چي هر کله په مسجد کي داخل سئ نو پکار ده چي د اعتکاف نيت وکړئ او د کومو علماؤ په نزد چي د اعتکاف وخت کم تر کمه يو ساعت دی نو د هغوئ په نزد هغه اعتکاف به معتبر وي ، نو دا ثواب يې هم تر لاسه کړي او په مسجد کي د داخلېدو پر وخت د اعتکاف نيت کول او بيا پر هغه ثواب تر لاسه کول په حقيقت کي د الله تعالی د لوري د مسلمانانو لپاره يو نعمت دی چي پرته د محنت څخه نه تر لاسه کيږي ، مګر افسوس چي مسلمانان ددې څخه غافل دي، او يا مسجد ته د ننوتلو په وخت او يا د وتلو په وخت کي مسنونه دعاوي ويل يا پر نبي کريم ﷺ باندي درود شريف ويل د سعادت باعث دی ، که مسجد ته د داخلېدو په وخت کي ددې هم نيت وکړي نو ددې ثواب به هم تر لاسه کوي .

او دا نيت دي وکړي چي په مسجد کي يوازيوالي او سکون په برخه کيږي ، هلته د الله ﷻ ذکر ، د قرآن کريم تلاوت او يا وعظ او نصيحت په اطمينان سره کيدلای سي نو ددې ثواب به هم تر لاسه کوي ، ځکه چي په حديث شريف کي راغلي دي چي کوم سړی سهار مسجد ته د ذکر او وعظ لپاره ځي نو هغه د مجاهد في سبيل الله په مرتبه کي دی ، يا يو څوک په مسجد کي ناست د قرآن کريم په تلاوت کي بوخت وي او په خپل مينځ کي تذکير او نصيحت کوي نو پر هغه ډله باندي د الله تعالی ملائکي را ټوليږي او د الله ﷻ د رحمت سايه پر کوي .

داسي نيت دي هم وکړي چي په اودس کولو سره مسجد ته د لمانځه لپاره په تللو کي د حج او عمرې ثواب حاصليږي .

او داسي نيت دي وکړي چي په مسجد کي خلکو د اجتماع څخه د علم ګټه، امر بالمعروف او نهي عن المنكر مواقع ميسر کيږي ، هلته د مسلمانانو وړونو سره د ملاقات کولو او پر هغوئ د سلام او رحمت ليږلو نيت دي هم وکړي .

او د محاسبه نفس او تفکر في الاخرت او د خپلو ګناهونو څخه د استغفار نيت دي وکړي ځکه چي په مسجد کي په سکون او آرام سره دا کار کيدلای سي کوم چي په بل ځای کي دا کار کول مشکل وي .

په هر حال مسجد ته د راتلو عمل يو دی مګر نيتونه بيل بيل کيدو سره ډېر زيات دي ځکه ثواب به د دغه ټولو نيتونو ورته تر لاسه کيږي ، عمل يو دی او د نيت په سبب ثواب دومره زيات دی . او بيا مسجد خو د عبادت ځای دی او ددغه کارونو تعلق هم د عبادت او آخرت سره

دی نو پر دې باندې ثواب تر لاسه کیږي مګر که چیرې په هغه شیانو کې هم نیک نیت وکړي چې د هغه تعلق زینت جسماني یا د دنیاوي کارونو سره وي نو د الله تعالی د دغه بې پایه رحمت څخه هلته هم ثواب ورکول کیږي، مثلاً د جمعې په ورځ یا په بله ورځ خوشبوئي ولګوي او په هغه سره دا نیت وکړي چې نبي کریم ﷺ به خوشبوئي ډیره خوښول ځکه نو زه هم خوشبوئي لګوم.

او دا نیت دې وکړي چې کوم سړی زما سره کښیني نو په خوشبوئي محسوس کېدو سره به خوشحاله سي، او نیت دې وکړي چې کوم سړی زما د خوشبوئي نه لګولو په وجه زما د بد بوی په وجه زما غیبت کوي او زه په خوشبو لګولو سره هغه د غیبت د ګناه څخه وساتم. او نیت دې وکړي چې په خوشبوئي سره زما دماغ تازه وي او زه چې د وعظ او نصیحت په مجلس کې کښېنم نو د دې په وجه به خبرې په ښه ډول سره په ذهن کې راسي.

دلته هم د خوشبوئي لګولو عمل یو دی چې د هغه اړه صرف د انساني جذبې او خواهش او د دنیاوي کارونو څخه یو کار دی مګر چیرې د دې سره دا ټول نیتونه وکړل سي نو پر هغه به هم د هر یوه بیل بیل ثواب ورکول کیږي، همداسې په هر عمل کې مختلف نیتونه کیدلای سي چې پر هغه د بې شمیره ثواب ثمره مرتب کیږي.

او که یو عمل یوازې د جسماني لذت او نفساني خواهش لپاره وي نو د ثواب د دولت څخه به محروم وي بلکه د ملامتیا او عتاب وړ به وي.

نو څرګنده سوه چې د عمل دار او مدار یعني پر هغه ثواب تر لاسه کول یوازې په نیت پورې اړه لري څرنګه چې نیت وکړي هم هغسې به ثواب ورکول کیږي.

د نیت مسائل

مسئله: په دغه حدیث کې چې د کومو عملونو په باره کې نیت ضروري ګرځول سوی دی د هغو څخه اعمال مقصوده مراد دي، یعني داسې عملونه چې د هغه کول په شریعت کې مطلوب او مقصود وي لکه لمونځ، روژه، زکوة، حج، نو دا ډول عملونه به د نیت څخه پرته معتبر نه وي او نه د الله ﷻ په نزد مقبول او صحیح دي. مثلاً که یو سړی لمونځ بیله نیته کوي نو نه خو د هغه لمونځ صحیح کیږي او نه د الله ﷻ په نزد مقبول کیږي همداسې بیله نیته نه زکوة ادا کیږي او نه بیله نیته روژه او حج صحیح کیږي، نو څرګنده سوه چې د نیت ضرورت او اړتیا به په اعمال مقصوده کې وي ځکه چې بیله نیته د غه عملونه هیڅ اعتبار نه لري.

د اعمال مقصوده په مقابل کې اعمال غیر مقصوده دي یعني داسې عملونه چې د هغو

کول مقصد نه وي بلکه د هغو کول د يو خارجي امر پر بناء ضروري وي لکه غسل، اودس چي دا في نفسه او بذاته مقصود نه دي بلکه د غسل ضرورت د پاکۍ لپاره وي او د اوداسه ضرورت د لمانځه لپاره وي.

اوس په دې کي د علماؤ اختلاف دی چي ايا په دغه اعمال غير مقصوده يعني غسل، اودس وغيره کي نيت کول ضروري دي که نه، د امام شافعي رحمه الله په نزد په اوداسه او غسل کي نيت ضروري دی ځکه چي د هغه په نزد دا فرض دي که چيري غسل او يا اودس يې بيله نيته وکړ نو هغه به د اعتبار وړ نه وي، د امام اعظم رحمه الله په نزد غسل او اودس بيله نيته معتبر دی ځکه چي د هغه په نزد نيت فرض نه دی بلکه سنت او مستحب دی که چيري اودس او يا غسل بيله نيته وکړي نو ادا کيږي.

په شريعت کي د نيت څخه مراد د (قرب الی الله) قصد کول دي يعني کوم کار چي کوي يوازي د الله تعالی د رضا لپاره دي يې کوي او د هغه د حکم پر ځای کول او د هغه د رضا تر لاسه کولو لپاره دي يې کوي.

د نيت معنا په زړه سره قصد کول دي، په نيت کي يوازي په زړه سره قصد کول کافي کيږي په ژبه سره ويل شرط نه دي، په عباداتو کي که چيري يوازي په ژبه سره يې وويل او په زړه کي يې نيت ونه کړ نو عبادت به اعتبار نه لري. په کتاب مجمع کي ليکلي دي چي يوازي په ژبه سره د ويلو اعتبار نسته، او د علماؤ په دې کي اختلاف دی چي په زړه سره قصد او په ژبه سره نيت کول هم سنت دي يا مستحب يا مکروه دي.

او همداسي په دې کي درې قوله دي: په فتح القدير کي چي د نيت په ژبي سره ويل نه د نبي کريم ﷺ څخه منقول دي او نه د صحابه کرامو څخه او په دې اړه يو صحيح حديث هم ثابت نه دی، او نه هم څلور سره امامان د دې قائل دي.

په کتاب مفيد کي دي چي ځينو مشائخو دې ته مکروه ويلي دي او ځينو مستحب. چا چي مستحب ورته ويلي دي د هغوئ په نزد هم يوازي دومره ويل مستحب دي چي اللهم اني اريد صلوة کذا فيسرها لي وتقبلها مني، مگر دا ډول هم په حديث شريف کي يوازي د حج نيت منقول دی د نورو عباداتو لپاره دا ثابت او منقول نه دي.

په هر حال د نيت دغه مقدمه او بيان په کتاب اشتباه کي په مفصله توگه ليکل سوی دی، په دې اړه د مترجم (ژباړونکي) پلټنه داده چي هر کله د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو او امامانو

څخه په لمانځه یا روژه کي د نیت په ژبي سره ویل منقول نه دي او وروسته د علماؤ په دې کي اختلاف سوی دی چي ایا دا سنت دی، مستحب دی، مکروه دی، او که بدعت دی، نو د فقه قاعده داده چي هر کله د یو شي په سنت یا بدعت کېدو کي د علماؤ اختلاف وي یعني ځیني وایي چي دا بدعت دی او ځیني وائي چي دا سنت دی نو احتیاط په دې کي دی چي د داسي شي پرېښودل پکار دي.

په فتاوی عالمګیریه کي هم داسي نقل سوي دي، همداسي که په سنت او مستحب کېدو کي اختلاف وي نو پرېښودل یې غوره دي، شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله د مشکوة شریف په ترجمه کي فرمایلي دي چي علماء پر دې متفق دي چي په لمانځه کي د نیت په زوره ویل مشروع نه دي او فرمائي چي محدثینو ویلي دي چي د حدیث د یو روایي څخه دا ثابت نه دي چي رسول الله ﷺ نیت په ژبه سره ویلی دی.

نو د رسول الله ﷺ د سنت اتباع په دې کي ده چي نیت په زړه سره وکړل سي او پر هغه اکتفاء وکړل سي لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ د کړي فعل اتباع کول اطاعت رسول دی، همداسي دا هم د رسول الله ﷺ اطاعت او پیروي ده چي کوم کار نبي کریم ﷺ هیڅکله نه وي کړی نو په هغه دي عمل نه کیږي او پکار ده چي پر هغه دوام او ټینګار و نه کړل سي کوم چي د شارع څخه ثابت نه وي.

مسئله: د نیت اثر پر عباداتو مرتب کیږي، په حرام کار کي د نیت اعتبار نه وي او نه د هغه ثمره مرتب کیږي که په یو مباح کار کي د عبادت نیت وکړي یا په هغه شي کي نیت وکړي چي د عبادت لپاره وسیله وي نو پر هغه د نیت ثمره مرتب کیږي او ثواب تر لاسه کیږي.

مسئله: په اوداسه کي نیت کول سنت دي، اوس په دې کي اختلاف دی چي د اوداسه لپاره دي نیت کله وکړل سي، د ځینو علماؤ په نزد د مخ پریوللو په وخت کي نیت کول پکار دی، مګر غوره داده چي د اوداسه په پیل کي د لاسو پریوللو په وخت کي نیت وکړل سي، تر څو د مخ پریوللو څخه مخکي هم ثواب تر لاسه سي، په غسل کي هم نیت سنت دی، مناسب داده چي په د اوداسه پیل کولو په وخت کي نیت وکړي، په تیمم کي نیت کول فرض دی کله چي د تیمم لپاره لاسونه پر خاورو ایږدي نو هغه وخت نیت کول پکار دی او د هغه وروسته دي لاسونه پر مخ راتیر کړي.

مسئله: د نیت لپاره یو څو شیان شرط دي:

۱. اسلام: ځکه چي د مسلمانانو عبادت مقبول وي د کافرانو عبادت نه خو صحیح وي او نه

مقبول وي .

۲. تمیز : یعني دومره عقل باید ولري چي د عبادت او غیر عبادت په فرق پوهیږي ځکه چي د لیوني او تمیز نه لرونکي ماشوم عبادت معتبر نه دی .

۳. علم : یعني کوم شی چي کوي د هغه حقیقت او اهمیت باید پیژني، یو سړی د لمانځه د اهمیت او د هغه د فرضیت څخه خبر نه دی که څه هم نیت کوي مګر د هغه لمونځ نه صحیح کیږي .

۴. څلورم دا چي د نیت منافي دي هیڅ شی نه کوي مثلا یو چا اسلام راوړ او د عبادت کولو څخه وروسته نعوذ باالله مرتد سو نو د هغه ټول عمل او عبادت ضائع کیږي او د هغه څخه هیڅ ګټه نه تر لاسه کیږي .

۵. همداسي که یو چا لمونځ پیل کړ یا روژه یې ونیول مګر په مینځ کي یې ماته کړه نو لمونځ او روژه یې دواړه باطل کیږي ځکه چي د عبادت د مینځ څخه بیله پوره کېدو ختمول د نیت خلاف دي .

مسئله: په فرض لمانځه کي د څلورو شیانو نیت کیږي :

۱. لومړی د لمانځه نیت.

۲. دوهم د فرض لمانځه ادا کولو نیت .

۳. دریم د وخت ټاکل مثلا د ماپښین، مازدیګر یا ماښام لمونځ .

۴. څلورم که چیري مقتدي وي نو د اقتداء نیت دي کوي .

دغه څلور شیان دي د لمانځه پیل کولو په وخت کي په زړه کي ساتي او نیت دي وکړي که په دغه څلورو شیانو کي د یوه خیال هم په زړه کي پاته نه سو نو لمونځ نه صحیح کیږي .

مسئله: په واجب عبادت کي د نیت حکم د فرض په ډول دی یعني د واجب متعین کول ضروري دي .

مسئله: سنت د مطلق لمانځه په نیت سره او د نفل په نیت سره صحیح کیږي که سنت مؤکده وي او که غیر مؤکده وي په دې کي دواړه برابر دي .

مسئله: د رمضان المبارک روژه که چیري د نفل روژې نیت سوی وي یا د واجب یا بالکل نیت یې نه وي کړی نو بیا هم د رمضان روژه ادا کیږي ، یعني یو خو دا چي د رمضان روژه ده او نیت هم د رمضان د روژې دی په دې کي خو په ادائي روژه کي هیڅ اشکال نسته مګر که یو سړی داسي کوي چي روژه خو د رمضان په میاشت کي نیسي مګر نیت یې د نفل روژې وکړ او د یو واجب روژې لکه نذر وغیره ، یا دا چي بالکل نیت یې ونه کړ نو په داسي شکل کي هم فقهاء

ليکي چي د رمضان روژه به اداسي .

مسئله: د رمضان د روژې نيت د شپې څخه هم کولای سي او په پيشلمي کي هم، تر غرمې پوري يعني نصف النهار (د ورځي دنيمايي) څخه مخکي نيت کيدلای سي، په پيل کي د ورځي د ابتداء صبح صادق راختلو او انتهاء يعني لمر لوېدلو باندي کيږي نو نيت د ورځي په لومړني نيمه برخه کي کولای سي ، همداسي د نفل او نذر معين روژې نيت هم په شپه کي او په ورځ کي د نصف النهار څخه مخکي کيدلای سي ، مګر د رمضان د قضا او نذر مطلق او د کفارې د روژو نيت يوازي په شپه کي کول پکار دی ، د دغه روژو نيت په ورځ کي معتبر نه دی .

د نذر معين شکل دادی چي يو سړي يو خاصه ورځ د روژې لپاره ټاکلې وي يعني دا اراده وکړي چي په فلانی جمعه يا دوشنبه او يا په فلاني تاريخ به زه روژه نيسم، يعني هغه د يوې ورځي په ټاکلو سره روژه پر خپل ځان لازم کړه نو دغه صورت ته نذر معين ويل کيږي .

د نذر مطلق صورت دادی چي پر يو سړي باندي يوه يا څو ورځي واجب وي يا دا ووايي چي که چيري زما فلانی کار تر سره سو يا زما فلانی قريب روغ سو نو زه به روژه نيسم نو په دغه شکل کي چي هغه کله غواړي روژه نيولای سي په دې کي د يو ورځي ټاکل نسته نو دې ته نذر مطلق ويل کيږي .

مسئله: د زکات د نيت دوه صورته دي يو خو دا چي کله د زکوة مال ورکوي نو هغه وخت د زکوة ادا کولو نيت دي وکړي ، دوهم صورت دادی چي د خپل مال څخه د زکوة لپاره يو برخه بيلوي چي د هغه څخه به زکوة ورکوي نو په دغه صورت کي د مال بيلولو په وخت کي د زکوة ادا کولو نيت پکار دی ، د زکات د مال ورکولو په وخت کي نيت ضروري نه دی .

مسئله: يو چا مستحق ته د زکوة مال ورکړی مګر د ورکولو په وخت کي هغه د زکوة نيت نه وو کړی نو که چيري وروسته هغه د زکوة نيت کوي نو هغه نيت به هغه وخت معتبر وي چي کله د مستحق سره هغه مال موجود وي او هغه مصرف کړی نه وي مګر که چيري د مستحق څخه هغه مال مصرف سوی وي او د هغه سره موجود نه وي نو بيا وروسته د زکوة نيت معتبر نه دی او زکوة به ادا نه وي .

مسئله: صدقه فطر د نيت او مصرف په اعتبار د زکوة په ډول ده ، مګر دا فرق دی چي صدقه فطر ذمي يا کافر ته ورکول کيدلای سي مګر زکوة ذمي او کافر ته هيڅکله هم ورکول صحيح نه دي .

مسئله: د یوه عبادت په مینځ کي د دوهم عبادت نیت کول صحیح دی، مثلا یو سړی فرض یا نفل لمونځ کوي او د لمانځه کولو په دوران کي هغه د روژې نیت هم وکړ نو دا نیت به معتبر وي او لمونځ به فاسد نه وي.

مسئله: په عباداتو مثلا لمونځ وغیره کي یوازي په پیل کي نیت کول پکار دی. د هغه د هر هر جزاو رکن لپاره نیت ضروري نه دی ځکه چي په دې سره په لمانځه کي خلل لوېږي.

مسئله: یو سړي فرض لمونځ پیل کړ، په مینځ کي خیال ورته راغلی چي دا نفل دی او بیا په نیت کولو سره یې نفل لمونځ پوره کړ، نو په دغه صورت کي د هغه فرض لمونځ ادا کیږي ځکه چي د لمانځه په مینځ کي شبه واقع کېدل معتبر نه دي، په دې اړه په کتاب اشتباه کي د نهایه څخه داسي منقول دي.

مسئله: ځیني عبادتونه داسي دي چي په هغه کي یوازي په زړه سره نیت کول کافي نه دي تر څو پوري چي په ژبه سره هم نیت ونه کړل سي مثلا نذر، که یو سړی د نذر لمونځ کوي یا روژه نیسي او نیت یوازي په زړه سره وکړي نو داسي نذر نه ادا کیږي تر څو پوري چي په ژبه سره ونه وایي چي دومره لمنځونه د نذر زما پر ذمه دي، یا دومره روژې پر ما نیول پکار دي یا مثلا وقف، یو سړی هم خپل ملکیت د الله تعالی په لار کي وقف کوي نو که هغه یوازي په زړه سره نیت وکړي چي زما فلانی شی د الله تعالی په لار کي وقف دی، نو دا وقف به معتبر نه وي تر څو پوري چي هغه په ژبه سره ادا نه کړي چي زه دغه شی د الله تعالی په لار کي وقف کوم.

د عبادت څخه پرته ځیني شیان داسي دي چي په هغه کي په زړه سره د نیت کولو هیڅ اعتبار نسته بلکه د هغه په ژبه سره د ویلو اعتبار به وي او یوازي په ژبه سره ویل به کافي او ضروري وي.

مسئله: که یو سړی یو شی د ځان د استعمال لپاره رانیسي، مثلا مینځه یې د خپل خدمت لپاره رانیول، یا یو حیوان یې د خپل سپرلۍ لپاره رانیوی یا جامه یې د خپل اغوستلو لپاره رانیول یا د ویلو لپاره یې کتاب رانیوی او په زړه کي یې دا خیال هم دی چي که چیري ددغه شیانو بیه زیاته په لاس راسي او ګټه وسي نو زه به دا خرڅ کړم نو په داسي صورت کي به پر هغه شیانو باندي زکوة نه وي.

مسئله: یو سړي د رمضان د میاشتي لیدو پلټنه ونه کړای سول، په سبا کي هغه ته شک سو چي ایا نن روژه ده او که یا، نو اوس هغه نیت کوي که چیري نن د رمضان لومړۍ ورځ وي نو زما روژه ده او که د شعبان آخري ورځ وي نو روژه مي نه ده، نو د روژې لپاره به د هغه دغه نیت

صحیح نه وي ، هو که چیري هغه ته د روژې په وصف کي شک وي یعني هغه داسي نیت وکړي چي که چیري نن د شعبان ورځ وي نو د نفل روژې نیت کوم او که د رمضان ورځ وي نو د فرض روژې نیت کوم نو داسي نیت معتبر او صحیح دی ، که چیري هغه ورځ د رمضان وي نو د هغه فرض روژه به ادا سي .

مسئله: د یو مباح کار وصف د نیت په اعتبار او قصد سره مختلف وي ، که چیري یو مباح د اطاعت په نیت وکړل سي نو هغه مباح هم په اطاعت کي شامل دی، مثلاً خوړل ، بېده کېدل، د حلال مال گټه، یا د خپل بي بي سره کوروالي کول، نو په دغه کارونو کي چي کوم کار مباح وي نو د هغه د کولو په وخت کي د عبادت او د الله تعالی د اطاعت او رضا نیت وکړل سي نو دغه مباح شیان عبادت گرځي او پر هغه ثواب تر لاسه کیږي، مگر که چیري په یو مباح کار کي د اطاعت او د الله د رضا نیت نه کوي نو بیا پر هغه ثواب نسته .

مسئله: یو سړي خپل ښځي ته په کنایه الفاظو سره طلاق ورکوي نو په هغه کي د نیت اعتبار کیدای سي یعني که چیري د هغه نیت د طلاق وو نو طلاق به واقع سي او که د طلاق نیت یې نه وو نو طلاق به نه واقع کیږي او که چیري په صراحت سره د طلاق الفاظ ادا کوي نو بیا په هغه کي د نیت ضرورت نسته او طلاق بیله نیته واقع کیږي .

مسئله: د جنابت په حالت کي د قرآن کریم تلاوت کول بیله اراده یوازي د ذکر په نیت سره ویل صحیح دي، مگر په ارادې سره بیله نیته تلاوت صحیح نه دی بلکه حرام دی .

مسئله: که چیري د تجارت نیت په داسي چاپیریال کي وکړي چي د مځکي حاصلات دي نو که هغه مځکه عشري وي یا خراجي یا د کرائې وي یا عاریتا وي نو په داسي مال کي زکوٰة نه واجب کیږي .

مسئله: د تجارت نیت که یو سړی په داسي جنس کي کوي چي هغه ته د یو مال د عوض څخه پرته تر لاسه سوی وي مثلاً یو چا هغه ته تحفه کړی وي یا صدقه یې ورکړې وي یا هغه ته د خلع یا مهر په ذریعه تر لاسه سوی وي نو په هغه کي زکوٰة نه واجب کیږي که څه هم چي پر هغه کال تیر سي ، مگر هر کله چي هغه مال خرڅ سي او د هغه په عوض کي یو بل شي تر لاسه سي که هغه د نقدو په صورت کي وي یا د جنس په صورت کي وي نو پر هغه بندي د کال په تیریدو سره زکوٰة واجب کیږي .

مسئله: د یو سړي په ملکیت کي داسي حیوانان وي چي د کال اکثر برخه په ځنگل کي پیول

کېږي نو که د هغه حیوانانو څخه مقصد شیدې او یا بچي تر لاسه کول وي نو په هغه کي د حیوانانو زکوة واجب کېږي او که په هغه حیوانانو کي د تجارت نیت وي نو په هغه به د تجارت زکوة وي په دې شرط چي کله هغه حیوانان رانیول نو د تجارت نیت یې پکښې کړی وو ځکه د هغه حیوانانو رانیولو په وخت کي د هغه نیت د سپرلۍ وغیره وي نو بیا په هغه کي زکوة واجب نه دی.

مسئله: که یو سړی په خوښۍ سره زکوة نه ورکوي نو زکوة اخیستونکی ته کوم چي د امام یا خلیفه د خوا ټاکل سوی وي د هغه څخه په زور زکوة اخیستلو حق نه لري که چیري هغه په زور سره زکوة تر لاسه کړ نو زکوة نه ادا کېږي ځکه چي په زکوة کي اختیار شرط دی، مګر هغه سړی چي په خپله زکوة نه ورکوي نو زکوة اخیستونکی بندي کولای سي چي هغه په زکوة ورکولو باندي راضي او زکوة په خپله ادا کړي.

د ځینو روایتو څخه دا هم څرګندیږي چي حاکم دي په زور سره زکوة تر لاسه کړي او هغه دي د زکوة په مصرف کي خرڅ کړي نو زکوة ادا کېږي مګر داسي روایتونه ضعیف دي، معتمد او معتبر روایت دا دی چي په زور زکوة اخیستلو سره زکوة نه ادا کېږي.

مسئله: د جمعې د خطبې لپاره نیت ضروري دی که یو سړی د خطبې لپاره پر منبر ودریدی او د دریدو وروسته هغه ته ترچی راغلی او الحمد لله یې وویل نو دا الحمد لله ده د ترچي لپاره ویلې ده او د خطبې نیت یې نه دی کړی ځکه هغه به په خطبه کي نه شمیرل کېږي.

همداسي د اخترونو په خطبه کي هم نیت ضروري دی که په اخترونو کي پر منبر باندي د دریدو سره د الله تعالیٰ حمد او ثناء یې بیان کړه نو خطبه نه ادا کېږي تر څو پوري چي د خطبې نیت و نه کړي.

مسئله: یو سړی د انګورو تجارت کوي چي د هغه څخه شراب جوړیږي که چیري د هغه نیت یوازي د تجارت وي او د هغه مقصد د تجارت څخه دا نه وي چي هغه د دې څخه شراب جوړ کړي نو دا تجارت به صحیح وي او که د هغه نیت دا وي چي د هغه څخه شراب جوړ کړل سي نو دا تجارت به حرام وي. همداسي که یو سړی د انګورو تاکونه ولګوي او د هغه نیت دا وي چي خلک به انګور وخوري یا د انګورو تجارت به کوم نو دا صحیح دی او که هغه د انګورو تاکونه په دې نیت سره لګولي وي چي د دې څخه به شراب جوړیږي نو دا به حرام وي.

مسئله: یو سړی د یو مسلمان سره د ناراضګۍ او یا جنګ په وجه ملاقات نه کوي نو دا د هغه لپاره حرام دی مګر که چیري د هغه ملاقات نه کول په دې وجه وي نه وي نو که ډیر وخت هم

ملاقات ونه کړي نو څه پروا نه لري.

مسئله: که چیري یوه ښځه د خپل خاوند څخه پرته د بل مړي د ماتم او غم په وجه د درو ورځو څخه زیات زیب او زینت او سنګار کول پرېږدي نو دا د هغې لپاره حرام دي، مګر که دا مقصد نه وي بلکه هسې یې سنګار کول پرې ایښي وي نو څه پرواه نسته.

مسئله: د یو مړي په وجه مباح (رواه) شیان پرېښودل مثلا: څرخه نه کول، دال نه پریول، پر کټ باندي نه بېدېدل یا تر څلوېښتې پوري واده، نکاح، عقیقه، او داسي نور نه کول، نو دا ټول صرف رسمونه دي چي داسي کول حرام دي البته د هغه په پرېښودلو کي که دا نیت نه وي بلکه د یو بل شي په وجه یا همداسي د هغه څخه پرهیز وکړل سي نو څه پرواه نسته، مګر په نکاح او واده کي په هیڅ ډول سره تاخیر (زنډ) کول مناسب نه دي ځکه چي دا یو سنت کار دی او سنت چي څومره ژر اداسي هغومره ښه دي او د ثواب باعث دي.

مسئله: د جنازې د لمانځه نیت داسي کیږي چي زه د جنازې لمونځ د الله تعالی لپاره او د عاء د دغه مړي لپاره کوم.

مسئله: په سجده تلاوت کي تعین کول چي دا د فلاني تلاوت سجده ده ضروري نه ده.

مسئله: د مقتدي لمونځ د امام د نیت څخه پرته نه صحیح کیږي، مګر امامت پرته د نیت څخه صحیح کیږي یعني که یو سړی په یو امام پسي لمونځ کوي نو د هغه لپاره ضروري ده چي هغه د امام د اقتداء نیت وکړي، ددې څخه پرته د هغه لمونځ نه صحیح کیږي مګر د امام لپاره ددې ضرورت نسته چي هغه دي د مقتدي د امام نیت وکړي، هو که چیري امام ته معلومه وي چي تر شا ښځي هم زما په اقتداء کي لمونځ کوي نو بیا د هغه لپاره ضروري ده چي هغه د ښځو د امامت نیت وکړي که امام د ښځو د امامت نیت ونه کړ نو د ښځو لمونځ نه صحیح کیږي. ځیني علماؤ د جمعې او اخترونو لمونځ ددې حکم څخه ایستلی دی یعني که چیري امام د جمعې او اخترونو په لمانځه کي د ښځو د امامت نیت ونه کړي نو د ښځو اقتداء صحیح ده او د هغوئ لمونځ ادا کیږي.

مسئله: یو سړي قسم وکړ چي زه به د چا امامت نه کوم، هغه لمونځ پیل کړ وروسته یو سړی راغلی او د هغه په اقتدائ کي یې لمونځ پیل کړ نو د هغه اقتداء صحیح ده او لمونځ یې ادا کیږي، او س پاته سو د قسم سوال چي ایا هغه مات سو که یا، نو د هغه قسم خو قضاءً مات سو مګر دیانةً مات نه سو، یعني قاضي به د هغه د قسم ماتولو حکم کوي مګر عندالله به هغه ګناه

کار نه وي او که هغه سړی د لمانځه څخه مخکي یو څوک پر خپل قسم شاهد جوړ کړ نو بیا قضاءً هم نه ماتیږي ، که هغه قسم اخیستونکی سړی د جمعې په لمانځه کي د خلکو امام جوړ سو نو لمونځ به صحیح سي مګر قضاءً د هغه قسم مات سو ، که دغه سړی د جنازې د لمانځه امامت وکړ نو قسم بالکل نه ماتیږي همداسي په سجده تلاوت کي هم نه ماتیږي .

یو سړی قسم وکړ چي زه به د فلاني سړي امام نه جوړیږم ، په لمانځه کي د نورو خلکو امامت یې وکړ او نیت یې دادی چي د هغه سړی امام نه یم بلکه د نورو خلکو امام یم مګر هغه سړی دده په قسم خبر نه دی او د هغه اقتداء یې وکړه نو د هغه امام قسم به مات سي که څه هم هغه اقتداء د هغه په ناخبرۍ کي کړې وي .

مسئله: د تحفې لپاره نیت شرط نه دی که یو سړي یو چا ته د مخصرو په توګه یو شی و بخښي نو هغه شی به د هغه ملکیت سي او تحفه به صحیح سي .

مسئله: که یو چا یو ناخبر سړي ته د بخښني الفاظ وښودل او هغه ته معلومه نه وه چي په دغه الفاظو سره تحفه کیږي نو که هغه سړي د هغه الفاظو تلفظ وکړي نو داسي تحفه به نه صحیح کیږي ، مګر د تحفې نه صحیح کېدل په دې وجه نه دي چي دلته نیت نه وو بلکه ځکه چي دلته د تحفې شرط مفقود دی او هر کله چي شرط نه وي نو تحفه هم صحیح نه سول او د تحفې شرط خوښي او رضامندي ده .

مسئله: که یو سړي د یو چا سره زور وکړ چي فلانی شی ما ته راکړه او په زور یې د هغه څخه واخیستې نو دغه تحفه به هم نه صحیح کیږي ، په خلاف د طلاق او عتاق چي په زور سره هم طلاق او عتاق صحیح کیږي یعني که د یو چا څخه په زور طلاق واخلي نو طلاق به واقع سي (عتاق، د مینځو او مریانو آزادلو ته وایي) .

مسئله: د جنازې په لمانځه کي که مقتدی سورة فاتحه د ذکر په نیت سره ووایي نو دا حرام کار نه دی ، که څه هم د امام اعظم رحمه الله په نزد په امام پسي د مقتدي قرائت ویل حرام دی ، مګر دلته هغه سورة فاتحه د قرائت په نیت نه وایي بلکه د ذکر په نیت یې وایي ځکه نو پر هغه د حرمت حکم نسي کیدلای ، همداسي دا مسئله هم پر دې بناء ده که یو جنب سړی یا ښځه یا حیض او نفاس والا ښځه د قرآن کریم آیت د ذکر او دعاء په اراده ووایي نو صحیح دی او که چیري د قرائت په اراده یې ووایي نو دا صحیح نه ده .

مسئله: یو سړی د یو شي رانیولو لپاره دوکان ته راغلی دوکاندار خپل سامان مثلا ټوکر یا د

غلې بورۍ وغيره د هغه په مخکي خلاص کړل او هغه خريدار ته د شوق ورکولو لپاره د خپل سامان په لېدو سره سبحان الله وويل يا درود شريف يې وواېه نو دا مکروه دی .

مسئله: يو سړی د خپل معمولي خوراک څخه زيات خوراک کوي نو که چيري دده زيات خوراک د نفساني خواهش په وجه وي نو دا مناسب نه دی هو که چيري دی په دې نيت سره زيات خوراک وکړي چي سبا روژه نيسم يا د هغه مقصد دا وي چي زما سره کوم ميلمه خوراک کوي هغه هم زما په ډول زيات خوراک وکړي او وږی پاته نسي نو دا مستحب دی .

مسئله: يو مسلمان د سپر جوړولو لپاره يو کافر مخته ودروي ، يو بل مسلمان چي د کافر سره په مقابله کي دی غشي ولي نو د هغه څخه که دده اراده د مسلمان قتل وي نو دا حرام دی او که د هغه مقصد د هغه کافر هلاک کول وي نو دا حرام نه دی .

مسئله: که يو سړی په لاره کي يو شی پيدا کړي ، نو که چيري هغه سړی دغه شی په دې نيت پورته کړي چي د هغه مالک په لټولو سره به يې ورکړي او که په دې نيت يې پورته کړی چي د هغه مالک ته به يې نه ورکوم بلکه د ځان سره به يې ايږدم نو دا ناجائز دی او دغه سړی د هغه شي په اخيستلو سره غاصب او ګناه کار دی .

مسئله: که يو څوک کتاب د ساتني په نيت تکيه جوړوي نو دا مکروه نه دی او که د ساتني نيت نه وي دا مکروه دی .

مسئله: که يو سړی پر خورجين [2] باندي کښېنستی او په هغه کي قرآن کريم وو ، نو که چيري هغه سړی د قرآن کريم د ساتني په نيت پر هغه کښيني نو دا مکروه نه دی او که د ساتني نيت نه وي نو دا مکروه دی .

مسئله: يو سړی خوراک پرېږدي د هغه دغه خوراک پرېښودل که د پرهيز او دواء په وجه وي يا دا چي هغه ته خواهش او لوږه نسته نو ځکه يې خوراک پرېښودی نو په دغه صورتو کي به د ثواب مستحق نه وي او که چيري هغه د روژې په اراده خوراک پرېښودی نو پر دې به هغه ته ثواب ورکول کيږي .

مسئله: يو سړی که په مسجد کي يوازي د آرام لپاره ناست وي نو پر دې هيڅ ثواب نسته او که د لمانځه د انتظار په نيت يا د اعتکاف په نيت ناست وي نو پر دې ثواب سته .

[2] خورجين هغه کڅوړي ته وايي چي په هغه کي غلدا چول کيږي او پر آس يا خره باندي اېښودل کيږي .

مسئله: يو حيوان كه يوازي د خوراک په نيت حلال كړل سي نو دا به مباح كار وي مګر كه هغه حيوان د عبادت په نيت ذبح كړل سي مثلا قرباني وغيره نو د ثواب باعث دی، او كه يو حيوان د مړي يا ژوندي سړي د تعظيم په نيت حلال كړل سي نو دا حرام بلكه د يو قول سره سم كفر دی.

مسئله: په لمانځه كي د ركعتونو شمير او د سجدو د شمير نيت ضروري نه دی او نه به د هغه نيت اعتبار وي مثلا يو سړی د ماپښين لمونځ كوي او نيت كوي چي زه د ماپښين دري ركعته لمونځ كوم نو د هغه د ماپښين لمونځ صحيح كيږي او د درو ركعتو نيت به لغو سي.

مسئله: كه يو څوک د يو ټاكلي امام د اقتداء نيت وكړي مګر وروسته هغه ته معلومه سوه چي دا هغه امام نه دی بلكه بل امام دی نو لمونځ صحيح كيږي په دې كي څه پرواه نسته.

مسئله: كه يو چا امام وليدی او د اقتداء نيت يې وكړ چي زه په دغه امام پسي چي دده نوم زيد دی لمونځ كوم مګر وروسته معلومه سوه چي دا زيد نه دی نو بيا هم لمونځ صحيح دی. دغسي مقتدی د امام څخه ډېر ليري دی چي امام نسي ليدلای او نيت داسي وكړي چي په امام پسي چي د هغه نوم زيد دی لمونځ كوم ليكن وروسته ورته معلومه سول چي هغه زيد نه دی نو بيا هم لمونځ صحيح دی.

مسئله: يو سړي نيت وكړ چي زه په دغه زلمي پسي لمونځ كوم مګر هغه سپين ږيری وو نو لمونځ نه صحيح كيږي البته كه ددې برعكس وي چي نيت خو د سپين ږيري وكړي مګر هغه ځوان وي نو لمونځ صحيح كيږي ځكه چي زلمي ته هم په اعتبار د هغه د علم او فضل او بزرګۍ شيخ ويل كيږي پر خلاف د سپين ږيري چي د هغه لپاره د زلمي لفظ نسي استعماليدلای.

مسئله: يو سړي خاص د الله تعالى لپاره لمونځ پيل كړ، په مينځ كي د ريا خيال پيدا سو نو د هغه لمونځ د لومړني نيت سره معتبر وي، ريا داده چي كه چيري يوازي وي نو لمونځ نه كوي او كه د خلكو سره وي نو لمونځ كوي. يا همداسي كه يوازي لمونځ كوي نو په ښه ډول يې نه كوي او كه د خلكو سره وي نو لمونځ په ښه ډول سره كوي، په هر حال هغه ته به د اصل لمانځه ثواب وركول كيږي مګر د حسن نماز ثواب به نه وركول كيږي.

مسئله: كه چا ته د لمانځه په اړه شک سو چي لمونځ يې كړی دی يا نه، نو هغه ته په وخت كي دننه دوهم وار لمونځ كول پكار دي او كه شک واقع سي چي ركوع يا سجده يې كړې ده يا نه، او هغه د لمانځه په حالت كي دی نو هغه ته پكار ده چي ركوع يا سجده دوهم وار وكړي او كه دا شک د لمانځه څخه وروسته وسي نو د ويم وار كولو ضرورت نسته.

یا داسي شک پیدا سو چي خبر نه دی چي تکبیر تحریمه یې ویلې ده او که نه، یا اودس یې ستة که یا، یا یې شک پیدا سو چي پر جامو یې نجاست لویدلی دی که یا، یا داسي تردد پیدا سو چي پر سر باندي یې مسح کړې ده که یا، نو په دغه ټولو صورتونو کي به د شک واقع کېدل په لومړني وار دي یا په څو څو واره داسي شک پیداکیږي ، که چیري په لومړي ځل شک ورته پیدا سوی وي نو لمونځ د سره بیرته وکړي او که دغه شک زیات وختونه ورته پیدا کیږي نو دوهم وار د لمانځه کولو ضرورت نسته.

مسئله: د یو معصیت او ګناه صرف په زړه کي د خیال راتلو پنځه درجې دي :

۱. هاجس : یعني په زړه کي د یو ګناه خیال اضطرارا راتلل.
۲. خاطر : یعني په زړه کي د یو ګناه خیال قصدا راتلل.
۳. حدیث نفس: یعني د یو ګناه په باره کي تردد کېدل چي ایا دا ګناه وکړي او که یا.
۴. هم : یعني په دغه تردد کي یو جانب ته ترجیح ورکول.
۵. عزم : یعني د ګناه قصد ته تقویت ورکول.

نو په شریعت کي پر هاجس، خاطر او حدیث نفس باندي هیڅ مؤاخذه (نیول) نسته، او نه به ورته څه عذاب ورکول کیږي، پر هاجس باندي که څه هم مؤاخذه نه وي چي په زړه کي د خیال راتلل یا په زړه کي وسوسه پیداکېدل د انسان په اختیار کي نه دی بلکه په دې اړه انسان مجبور دی نو ځکه پر هغه مؤاخذه نسته.

پر خاطر او حدیث نفس باندي مؤاخذه نه کېدل د امت محمدیه د ځانګړتیاوو څخه دی یعني پر دې امت باندي د الله تعالی چي کوم نور ډیر فضل او کرم دی نو د هغه سره دا هم یو لوی فضل دی چي پر دې امت باندي پر دغه دواړو مؤاخذه ختم کړل سوې ده.

په (هم) کي فرق دی یعني که چیري د خیر طرف ته ترجیح ورکوي نو پر هغه به یوه نیکي لیکل کیږي او که بدۍ ته ترجیح ورکوي نو پر هغه به مؤاخذه نه وي دا هم پر دې امت باندي د الله تعالی احسان دی.

د عزم په باره کي د محققینو علماؤ قول دادی چي پر دې به مؤاخذه (نیوکه) کیږي،

بسم الله الرحمن الرحيم

كِتَابُ الاِيْمَانِ

(د ایمان بابونه)

د ایمان مطلب : د ایمان معنا ده یقین کول، تصدیق کول او منل، د شریعت په اصطلاح کې د ایمان مطلب دا دی چې دا حقیقت تسلیمول او منل چې الله ﷻ یو دی د هغه څخه پرته هیڅ معبود او پروردګار نسته د هغه ټول ذاتي او صفاتي کمالات پر حق دی، محمد ﷺ د الله تعالی آخري رسول او نبي دی د هغوئ ذات صادق او مصدوق دی او دا چې د رسول الله ﷺ د کتاب او سنت په صورت کې د الله آخري دین او شریعت سره دې دنیا ته راغلی دی د هغوئ حقانیت او صداقت د شک او شبهې څخه ډیر لیري دی.

تکمیل ایمان : د محدثینو په نزد د ایمان درې اجزاء دي:

۱. تصدیق بالقلب: یعني د الله تعالی وحدانیت، د رسول الله ﷺ رسالت او د دین په حقانیت کې په زړه سره یقین درلودل او پر هغه یقین او اعتماد باندې د زړه او دماغ مطمئن کېدل.
۲. اقرار باللسان: یعني د زړه د یقین او اعتماد په ژبه سره اظهار، اعتراف او اقرار کول.
۳. اعمال بالجوارح: یعني د دین او شریعت د احکامو او هدایاتو د بدن په ذریعه د زړه یقین او عقیدې عملي ښکاره کول.

د دغه درو اجزاؤ په یو ځای کېدو سره د ایمان تکمیل کیږي او کوم سړی چې د دغه ایمان لرونکی وي هغه ته مؤمن او مسلمان ویل کیږي.

ایمان او اسلام : ایا په ایمان او اسلام کې فرق سته او که دواړه لفظونه یو ډول دي؟ د دې سوال تفصیلي جواب د تفصیلي بحث متقاضي دی چې د هغه بحث دلته موقع نسته، د خلاصې په توګه دومره ښودل بس دي چې د ظاهري مفهوم او مصداق په اعتبار سره دواړه لفظونه تقریبا یو ډول مفهوم لپاره استعمالیږي مګر په دې اعتبار سره چې د دغه دواړو په مینځ کې فرق دی چې د ایمان څخه په عامه توګه باندې تصدیق قلبي او احوال باطني مراد اخیستل کیږي، دې ته داسي هم ویل کیدلای سي چې وحدانیت، رسالت او د شریعت منلو او تسلیم کولو چې کوم باطني تعلق د زړه او دماغ سره قائم دی دا په ایمان سره تعبیر کوي، د یو محقق عالم قول دی چې د تصدیق قلبي په خپریدو سره پر اندامونو باندې څرګند سي نو د دې نوم اسلام دی او

اسلام چي زړه ته کښته سي نو د ایمان په نامه سره ونومول سي، خلاصه دا چي حقیقت یو دی د مواطنو په اعتبار سره دې ته کله ایمان ویل کیږي او کله اسلام، ځکه ایمان او اسلام د یو بل لپاره لازم او ملزوم دي نه ایمان بیله اسلامه معتبر وي او نه د اسلام څخه پرته د ایمان تکمیل کیږي، مثلا یو سړی پنځه وخته لمونځ هم کوي، هر کال زکوة هم ادا کوي، که توان یې وي نو حج هم کوي او په داسي نورو نیکو کارونو سره یې خپل ظاهري ژوند د اسلام مظهر جوړ کړی وي مګر د هغه باطن د قلبي تصدیق او انقیاد څخه بالکل خالي وي او د کفر او انکار څخه ډک وي نو د هغه دغه ټول اعمال بیکاره دي، همداسي که یو سړی ایمان یعني قلبي تصدیق او انقیاد خو لري مګر په عملي ژوند کي د اسلام مظهر کېدو پر ځای د سرکښۍ او نافرمانۍ ښکارندوی او د کافرانه او مشرکانه اعمالو مجسمه جوړیږي نو د هغه ایمان به د باور وړ نه وي.

ځینو د نظر خاوندانو د ایمان او اسلام مثال د شهادتینو سره ورکړی دی یعني څرنګه چي په کلمه شهادت کي لیدل کیږي چي شهادت وحدانیت بیل دی او شهادت رسالت بیل دی، مګر ددغه دواړو ارتباط او اتحاد ددې درجې دی چي د رسالت د شهادت څخه پرته شهادت د وحدانیت بیکاره دی او د شهادت وحدانیت څخه پرته د شهادت رسالت اعتبار نسته، همداسي ایمان او اسلام ته چي وکتل سي نو په ځیني اعتبار سره فرق محسوس کیږي مګر د دواړو ارتباط او اتحاد ددې درجې دی چي د اعتقاد باطني (یعني ایمان) څخه پرته یوازي اعمال ظاهره (اسلام) څرګندول نفاق وي او د اعمال ظاهره څخه پرته اعتماد باطن د کفر یو صورت دی ځکه ویل کیږي چي د ایمان او اسلام د دواړو د مجموعې نوم (دین) دی.

د ایمان دار او مدار پر پوهېدلو نه بلکه پر منلو دی

د ایمان په اړه دا حقیقت هم په ذهن کي ساتل پکار دی چي تصدیق یعني د منلو نوم ایمان دی نه چي محض علم یا معرفت، یعني پیژندل، مطلب دا چي یو سړی پوهیږي چي الله ﷻ سته او یوازي یو دی هغه پروردګار او معبود دی، محمد ﷺ د الله تعالی ریښتونی بنده او د هغه رسول دی، هغه ﷺ چي کوم دین شریعت او تعلیمات دنیا ته راوړي دي هغه مبني پر صداقت او حقیقت دي مګر هغه سړی په زړه سره دا خبره نه مني او پر دې اعتماد نه لري، د هغه زړه ددغه خبرو د قبلولو څخه خالي دی نو په هغه سړي کي به د ایمان وجود نه منل کیږي او هغه ته مؤمن نه ویل کیږي، مؤمن خو هغه سړی کیدلای سي چي دغه خبري ریښتیا او حق وګڼي او په زړه سره یې ومني او تسلیم یې هم کړي، کله چي داعي حق ﷺ د اسلام بلنه وړاندي کړل نو ټولو اهل

عرب په خاصه توګه اهل كتاب يهود او نصارا د الوهيت قائل هم وه او په دې خبره هم ښه پوهېدل چې محمد ﷺ د الله تعالی رېښتونی او آخري رسول دی او كوم دين او شريعت چې وړاندې كوي هغه هم حق او رېښتونی دی مګر په دوئ كې چې كومو خلكو د حسد او عناد په سبب دغه حقيقتونه نه تسليمول او د هغوئ په زړه او دماغ كې ايمان داخل نه سو او هغوئ پر كفر پاته سول نو په دغه حقيقتونو پوهېدل د هغوئ په كار نه راغلل.

په ځينو صورتو كې د اقرار باللسان قيد ضروري دی

كوم حقائق چې په ايمان سره تعبير كيږي د هغو په ژبه سره اقرار كول كه څه هم د وجود ايمان لپاره ضروري دي مګر په ځينو حالتونو كې ژبنی اقرار (اقرار باللسان) ضروري نه وي مثلاً يو سړی ګونګی دی او د هغه په زړه كې تصديق خو موجود وي مګر په ژبه سره د لفظ ادا كولو توان نه لري نو د داسې سړي په باره كې دا حكم دی چې د هغه ايمان به د ژبني اقرار څخه پرته هم معتبر ګڼل كيږي، همداسې يو سړی د ځان د بيرې يا د يو مجبورۍ په وجه په ژبه سره د خپل ايمان اقرار نسي كولای نو د هغه ايمان به هم د ژبني اقرار څخه پرته معتبر وي.

د اعمالو حيثيت: د ايمان د وجود د تكميل (پوره والي) لپاره اعمال هم لازمي شرط دی ځكه چې د زړه تصديق او د ژبې تصديق د صداقت د ثبوت (عملونو) واقعي ثبوت اعمال دي، دغه عملي ثبوت په ظاهري ژوند كې د دې فيصلې بنياد جوړيږي چې هغه ته مؤمن او مسلمان وويل سي، له دې كبله دا حكم دی كه يو سړی د ايمان او اسلام د دعوې سربېره داسې اعمال كوي چې د كفر علامت او د ايمان او اسلام خلاف وي يا د هغه په اختيارولو سره د كافر كېدو يقين كيږي نو هغه سړی به كافر ګڼل كيږي او د ايمان او اسلام دعوه به يې غير معتبر منل كيږي.

الفصل الاول

د جبرائیل علیه السلام حدیث

﴿ ۱ ﴾: عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّاب قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعْرِ لَا يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ وَلَا يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ حَتَّى جَلَسَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ وَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَخْبِرْنِي عَنِ الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْإِسْلَامُ أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ وَتَصُومَ رَمَضَانَ وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنْ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلًا قَالَ صَدَقْتَ قَالَ فَعَجِبْنَا لَهُ يَسْأَلُهُ وَيُصَدِّقُهُ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِيمَانِ قَالَ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ قَالَ صَدَقْتَ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِحْسَانِ قَالَ أَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنِ السَّاعَةِ قَالَ مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنْ أَمَارَتِهَا قَالَ أَنْ تَلِدَ الْأَمَةُ رَبَّتَهَا وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ قَالَ ثُمَّ انْطَلَقَ فَلَبِثْتُ مَلِيًّا ثُمَّ قَالَ لِي يَا عُمَرُ أَتَدْرِي مَنِ السَّائِلُ قُلْتُ اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ (رواه مسلم)

د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه څخه روایت دی چې یوه ورځ موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کې وو چې ناڅاپه یو کس را څرګند سو چې وربښتان یې تک تور وه او تکې سپینې جامې یې اغوستې وې د سفر څه نښې پر نه وې او نه په موږ کې هغه چا پیژندی هغه د رسول الله ﷺ د زنګنو مبارکو سره خپل زنګنونه جخت کړه او کښېښې یې ښودل خپل دواړه لاسونه پر خپلو ورنو او کښېناست او وه یې ویل اې محمدﷺ! ما د اسلام د حقیقت څخه خبر کړه، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل اسلام دادی چې ته ددې خبرې اقرار او شاهدي وکړې چې د خدای ﷻ څخه پرته بل معبود نسته او محمدﷺ د خدای رسول دی، او بیا ته لمونځ ادا کړې زکوة ورکړې د رمضان د میاشتې روژې ونیسې او که ستا سره د لارې توښه وې نو د خانه کعبې حج وکړې ، هغه سړي ددې په اورېدو سره ووېل تاسو رښتیا وفرمایل ، ددې په لیدو سره موږ حیران سو چې دا سړی پوښتنه هم کوي او تصدیق هم کوي بیا هغه سړي پوښتنه وکړه د ایمان حقیقت را ته بیان کړه نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : ایمان دادی چې ته په الله، د هغه په ملائکو، د هغه په کتابو، د هغه په رسولانو، د قیامت په ورځې او د تقدیر په خیر او شر ایمان ولرې چې دا دالله د لورې

وَرَوَاهُ اَبُوْهُرَيْرَةَ مَعَ اِخْتِلَافٍ وَفِيْهِ وَ اِذَا رَاَيْتَ الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الصُّمَّ الْبُكْمَ مُلُوْكَ الْاَرْضِ، فِيْ خَمْسٍ لَايَعْلَمُهُنَّ اِلَّااللّٰهُ ثُمَّ قَرَاَ : اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ... الاية (متفق عليه)

دي . ددې په اوربدو سره هغه سړي وویل تاسو رښتیا وفرمایل. بیا یې پوښتنه وکړه د احسان په اړه را ته څه وفرمایاست، نبي کریم ﷺ وفرمایل احسان دادی چي ته د خدای ﷻ داسي عبادت وکړې لکه ته چي هغه وینې او که ته هغه نه وینې نو هغه خدای ﷻ بیشکه تا وینې . بیا هغه سړي پوښتنه وکړه د قیامت په اړه مي خبر کړه، رسول الله ﷺ وفرمایل د قیامت په اړه زما علم د پوښتني کونکی د علم څخه زیات نه دی (یعني څومره چي ته په خبر یې هغومره زه هم خبر یم) بیا یې پوښتنه وکړه د قیامت څه نښي راته وښیه، رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت د نښو څخه یوه داده چي وینځه خپل مالك زېږوي او دوهمه نښه داده چي لوڅ پښي او لوڅ بدني مفلس او فقیر رمه څروونکي خلك به ته په لوړو او ښو ماڼیو کي د فخر او غرور ژوند تیرونکي وویني . حضرت عمر ؓ فرمایي چي ددې وروسته هغه سړی ولاړی او تر یو وخته پوري زه پته خوله ناست وم بیا نبي کریم ﷺ ما ته وفرمایل اې عمره ! څه پوه سوې چي دا سړی څوك وو، ما عرض وکړ الله او د هغه رسول ښه پوهیږي نو نبي کریم ﷺ وفرمایل دا جبرائیل علیه السلام وو تاسو ته ستاسو ددین ښودلو لپاره راغلی وو. (مسلم) د ابوهریرة ؓ څخه چي کوم حدیث نقل سوی دی په هغه کي د څو الفاظو اختلاف دی یعني په هغه کي دا الفاظ دي چي هر کله ته لوڅي پښې لوڅ بدني کاڼه او ګونګیان د مځکي پاچاهان وویني (او دا الفاظ هم دي چي) د پنځو خبرو علم یوازي خدای لره دی بیا نبي کریم ﷺ دا ایت تلاوت کړ : ان الله عنده علم الساعة و ینزل الغیث الخ . یعني د قیامت حال خدای ته معلوم دی (چي کله به وي) او دا هم خدای پاك ته معلومه ده چي باران به کله کیږي. دا آیت تر آخري پوري ولوستی بخاري او مسلم.

تشریح: دغه حدیث ته حدیث جبرائیل ؑ ویل کیږي ځکه چي دغه حدیث پر هغه سوال او جواب باندي مشتمل دی چي د هغه په ذریعه حضرت جبرائیل ؑ په ډېره ښه طریقه سره د اسلام او ایمان حقیقت او ددین د بنیادي خبرو د پېژندګلوۍ طریقه د رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه د نړیوالو په وړاندي وفرمایل.

په حدیث کي یې تر ټولو ترمخه د ایمان او اسلام حقیقت بیان کړی دی چي د هغه څخه د ایمان او اسلام دا فرق هم ثابتیږي چي د ایمان تړاو خو د باطن یعني د زړه د تصدیق او اعتقاد سره وي او د اسلام تړاو د ظاهر یعني جسماني اعمالو د اطاعت او پیروۍ سره وي .

د (الله ﷻ د منلو) مطلب په دې خبره كي يقين او اعتقاد ساتل چي الله ﷻ په مختلفو دورونو كي او پر خپلو پيغمبرانو عليهم السلام كوم كتابونه نازل كړي دي چي د هغو شمير يو سل او څلور دی هغه ټول د الهي كلام او احكامو او الهي فرمانو ټولګه ده او په هغو كي څلور كتابونه تورات، انجيل، زبور او قرآن كريم دي، او بيا په هغه څلورو كي تر ټولو لوړ او افضل قرآن كريم دی.

د (رسولانو دمنلو) مطلب پر دې خبره يقين او اعتقاد ساتل چي د اول نبي حضرت آدم ؑ څخه تر خاتم النبيين حضرت محمد ﷺ پوري ټول نبيان او رسولان د الله تعالى رينښتوني تر ټولو محبوب او تر ټولو غوره بندګان دي چي هغوئ ته په خپل احكام او هدايات وركولو سره په مختلفو زمانو ، مختلفو سيمو او مختلفو قومونو كي راولېږل ، او هغوئ د الله تعالى احكام او هدايات نړيوالو ته د ابدي صداقت او خلاصون لار ښودلو او د نيكۍ خپرولو خپله فريضه په پوره توګه سره ادا كړل، او دا چي ددغه ټولو نبيانو او رسولانو سردار پيغمبر آخر الزمان حضرت محمد ﷺ دی چي په يو خاص زمانه او په يو خاص سيمه او يو خاص قوم په لوړ نه دی لېږل سوی بلكه د الله تعالى ابدي دين (اسلام) سره ټولي نړۍ او پوره كائنات ته راليږل سوی دی او تر قيامته پوري به د هغه ﷺ نبوت او شريعت جاري او نافذ وي.

د (يوم آخر) يعني د قيامت د ورځي څخه مراد هغه وخت دی چي د مرګ څخه وروسته قائميږي او بيا په جنت كي د داخلېدو پوري مشتمل دی، د قيامت د ورځي منلو مطلب پر دې خبره يقين او عقيده درلودل دي چي شريعت او شريعت ښودونكی چي د مرګ څخه وروسته يې د اخرت په اړه ښودلي دي او دآخرت په باره كي چي څه ښودلي دي يعني د مرګ څخه وروسته راتلونكي احوال مثلا قبر، دوږخ، نفخ صور (د شپيلۍ پوه كول) قيامت، حشر او نشر، حساب او كتاب، بيا د جزا او سزا او جنت او دوږخ دا ټول حقيقتونه دي چي د هغو واقع كېدل او پيښېدل لازمي دي او په دې كي هيڅ شك او شبه هم نسته.

پر (تقدير د ايمان لرلو) مطلب دا حقيقت په زړه سره منل دي چي په دغه كائناتو كي څه كيږي هغه ټول د ليكل سوي تقدير سره سم پر خپل خپل وخت باندي كيږي ، نن چي كوم عمل واقع كيږي كه هغه د نيكۍ وي او يا د بدۍ وي د خالق كائنات په علم او تقدير كي د ازل څخه موجود دي مګر ددې دا مطلب نه دی چي بنده مجبور او مكلف دی ، د تقدير كاتب انسان مختار پيدا كړی دی يعني د هغه په وړاندي د نيكۍ او بدۍ د دواړو لارو خلاصېدو سره هغه

ته اختيار ورکول سوی دی که غواړي د نيکۍ پر لار روان سي او که غواړي د بدۍ پر لار روان سي، او دا هم څرګنده سوې ده چي د نيکۍ پر لار ځي نو په جزاء او انعام به ونازول سي چي د الله تعالی فضل او کرم به وي، او که د بدۍ پر لار ځي نو د سزا او عذاب مستحق به سي او په دوږخ کي به واچول سي چي د الله ﷻ د عدل سره سم به وي.

د (احسان) څخه مراد هغه اخلاص دی چي په هغه سره د ايمان او اسلام ظاهري صورت يعني د الهي عبادت صحيح معيار او حسن قائميږي او د عبادت دا صحيح معيار او حسن په حقيقت کي بنده ته د معبود کامل تقرب او د بندګۍ حقيقي مقام په برخه کوي، بنده خپل عبادات په دغه جوهر سره په ښه ډول ادا او ښکلي کړي، ددې طريقه دا ښودل سوې ده چي هر کله تاسو د خپل پروردګار عبادت کوئ نو داسي يې کوئ لکه څرنګه چي يو مزدور يا غلام د خپل بادار او مالک په خدمت کي د هغه په خپل مخ کي ليدو سره کوي، دا يوه نفساتي نکته ده که شفيق بادار د نظر مخکي وي او غلام هغه ويني نو د هغه د فرض د انجام کيفيت به بل وي، هغه وخت غلام نه يوازي دا چي په پوره توګه سره مؤدب او پابند وي بلکه د کار کولو او د هغه انداز هم په پوره توګه سره مخلصانه وي، ددې پر خلاف که د بادار تر نظر لاندي نه وي نو غلام که څه هم ورته فرمايل سوی خدمت سر ته رسوي مګر په دې صورت کي نه دومره ښه کار کوي او نه دومره مؤدب او پابند وي او نه د هغه د کار کولو په انداز کي دومره عاشقانه او مخلصانه مضبوطوالي کيفيت وي، نو ددې سره سم که بنده د عبادت په وخت کي داسي کيفيت او حالت تر لاسه کولو کي کامياب سي چي هغه الله ﷻ ويني نو د خشوع او خضوع او د تضرع ټول کيفيات به په خپله د هغه په عبادت کي پيدا کيږي او د هغه عبادت د حقيقي عبادت درجه پيدا کوي، او د عبادت بنيادي مقصد هم حاصلوي، د عبادت دغه مرتبې ته حقيقي احسان ويل سوي دي چي ارباب تصوف يې په مشاهده او استغراق سره تعبير کوي.

ښکاره ده چي د عبادت دا تر ټولو لوړه مرتبه او مقام دی چي هغه ته رسيدل دومره آسان نه دي ځکه نسبتا آسانه طريقه دا ښودل سوې ده چي هر کله تاسو عبادت کوئ نو دا خيال پکښي وساتئ چي د کوم ذات تاسو عبادت کوئ د هغه په مخکي ولاړ ياست او که تاسو هغه نسئ ليدلای نو هغه خو خامخا تاسو ويني ستاسو پر هره خبره د هغه نظر دی او ستاسو ټول حرکات او سکنات هم د هغه څخه پټ نه دي په دغه يقين او اعتقاد سره هم ستاسو په عبادت کي خشوع او خضوع او تضرع تر ډيره حده پوري پيدا کيږي او د عبادت حق ادا کيږي، په حديث شريف

کي د عبادت دا کيفيت په احسان سره تعبير کړل سوی دی چي حقيقي احسان يعني د مشاهده او استغفراق ثانوي (دوهمه) درجه ده.

په حديث شريف کي ددغه ځلورو فرضو هم ذکر سوی دی چي پر هر مسلمان او مؤمن باندي په دې تفصيل سره عائد کيږي چي لمونځ او روژه خو دوه بدني فرض عبادتونه دي چي د هغه ترڅو د هر عاقل او بالغ مسلمان سره دی کوم سړی چي ايمان او اسلام سره متصف دی (يعني ايمانداره وي) که هغه سړی وي يا ښځه پر هغه فرض دي چي پنځه وخته لمونځونه په پابندي سره ادا کوي او هر کله چي رمضان راسي نو ددې مياشتي پوره روژې ونيسي، او پاته دوه نور فرض عبادتونه يعني زکوة او حج نو هغه مالي عبادتونه دي چي د هغه ترڅو يوازي د هغه مؤمن او مسلمان سره دی چي د هغه مالي توان او حيثيت ولري مثلا زکوة پر هغه مسلمان فرض دی چي خاوند د نصاب وي او حج پر هغه مسلمان باندي فرض دی چي يوازي د نصاب خاوند نه وي بلکه خپل ټول ضروريات د ژوند څخه د فارغه کېدو وروسته دومره سرمايه لري چي پرته د يو تنګۍ او پريشانۍ د تګ راتګ او د سفر ټول مصرف برداشت کولای سي، او ددې څخه پرته د حج د سفر په ټول وخت کي به د خپل اهل او عيال او لواحقينو ټول ضروري اخراجات د نقدو په ډول يا سامان او اسباب هغوئ ته په ورکولو سره تللای سي (يعني د هغوئ د مصارفو توان هم ولري)، د لاري توښه او د فرضيت حج داسي نور فرايض پوره سي نو پاته مشکلات لکه د سفر اوږدوالی او د تکليفو پيښېدل، په مينځ کي د سمندر يا درياب حائل کېدل وغيره د حج فرضيت نسي ساقط کولای

د قيامت يو څو مهمي نښي ښودل سوي دي چي هر کله دغه آثار ځرګند سي او دا نښي وليدل سي نو پوهېدل پکار دي چي ددې عالم د ختمېدو وخت نژدې راغلی دی او دا دنيا د خپل وجود آخري دور څخه تيريږي، لومړنۍ نښه خو دا ښودل سوې ده چي مينځه خپل بادار وزيږوي.. ددې يو مطلب خو د غلامۍ په زمانه کي او د سياق په رواج کي اخيستل کيدای سي چي خلک به ډيري مينځي ساتي او د هغو مينځو به اولادونه هم ډير پيدا کيږي بيا د هغو د اولادو څخه کوم خلک چي په لوی کېدو سره د مال او جائيداد او حکومت او طاقت مالکان جوړ سي هغوئ به په ناخبري کي خپل هغه ميندي چي د هغوئ څخه پيدا سوي وي د مينځو په توګه رانيسي او په خپل خدمت کي يې ساتي، ددې جملې دوهم مطلب دا هم کيدای سي چي هر کله په ټولنه کي جنسي اړيکي عامي سي، سړی او ښځه ټول اخلاق او انساني پابندۍ ماتولو

سره ناجائز تعلقات پیدا کړي او د هغه په نتیجه کي ناجائز ماشومان ډیر پیدا کیږي چي د هغوئ نه د پلار خبر وي او نه خپل مور پیژني او بیا هغه ماشوم په لوی کېدو سره په ناخبري کي خپل هغه میندي مزدوري جوړي کړي چي د هغوئ څخه پیدا سوی وو، نو پوه سئ چي قیامت نژدې راغلی دی.

د قیامت دوهمه نښه د لوڅو پښو او لوڅو بدنو، مفلس او فقیر او رمې پیونکو خلکو د حکومت او لوړو ماڼیو مالک کېدل ښودل سوې ده، ددې مطلب دادی چي هر کله تاسو ووینئ چي شریف النسل، لوړه کورنۍ او معزز خلک د انقلاب عالم ښکاره کېدو سره د غربت او مفلسۍ او بې کارۍ کي اخته وي، خپل حیثیت او عزت یې د لاسه ورکړی دی او په ټولنیزه توګه باندي د اثر او رسوخ خاوند نه دي پاته سوي او د هغوئ په مقابله کي هغه خلک چي تر پرون پوري د حسب او نسب، شرافت او نجابت نسل او کورنۍ تهذیب او ښکلا په اعتبار ډیر بې حیثیته او بې عزته وه، په تعلیمي او اخلاقي توګه کم او تر شا ګڼل کېدل، د غیر منصفانه سیاست او انقلاب په وجه د حکومت او اقتدار خاوندان جوړ سوي دي د فریب او چم په ذریعه د مال او دولت او لوی لوی ماڼیو باندي قبضه کونکي او په لوړ او غوره ماڼیو کي هستوګن سوي دي نه یوازي دا بلکه طاقت او حکومت او د عیش څخه ډک ژوند هغوئ مغرور او متکبر جوړ کړي دي، د حقیقي شرافت او نجابت لرونکو غریب او مفلس خلکو هغوئ مخصرې کوي هغوئ ذلیل کوي او د هغوئ د تباهۍ او رسوائۍ د بدتر حالاتو پیدا کولو هڅه کوي نو پوه سئ چي اوس ددې د نیا د خاتمې وخت نژدې راغلی دی چي هغه ته قیامت ویل کیږي.

خلاصه د خبري دا چي په دغه حدیث شریف کي د شریعت محمدي او د دین بنیادي خبري ښودل سوي دي یعني د ایمان تعریف بیان سوی دی چي دا د هغه عقائدو او نظریاتو څخه پرته دي چي په هغه د پوهېدو او منلو څخه وروسته کوم سړی په دائره د اسلام کي داخلیږي او مؤمن جوړیږي، د اسلام په اړه وښودل سوه چي ددې څخه هغه عملي ذمه داري یعني د فرضونو سرته رسولو پیروي اسلام یعني مسلمان جوړوي، ددې څخه وروسته د احسان وضاحت وسو چي هغه په اخلاص سره (یا تصوف سره هم) تعبیر کړل سو، دا د هغه کیفیت نوم دی چي په صحیح عقائدو او نظریاتو سره تړون او د شریعت اتباع او فرمانبرداري څخه وروسته د توجه الی الله ذریعه پیدا کوي او بنده ته د خپل معبود تقرب په برخه کوي، په حقیقت کي دغه درې سره شیان د یو بل لپاره لازم او ملزوم دي، د الله تعالی قرب او د هغه رضا تر هغه وخته پوري نسي تر لاسه

کیدلای ترڅو پوري چې د الله او د الله د رسول جاري او نافذ کړي احکام او هدایاتو باندي پوره عمل ونه وکړل سي او عمل د الله او رسول په نزد تر هغه وخته پوري د حسن قبول درجه نسي تر لاسه کولای تر څو پوري چې د الله په لور پوره توجه نه وي، او پر پوره داخلي او خارجي وجود باندي د خوف او خشیت الهي او حضور قلب کیفیت خپور نسي او ددې دواړو تر هغه وخته پوري اعتبار نه کیږي تر څو پوري چې فکر او عقیده صحیح نه وي او زړه او دماغ په ایمان او یقین سره روښانه نه وي نو کامل مؤمن یا کامل مسلمان به هغه سړی منل کیږي چې د هغه زړه او دماغ کي ایمان یعني صحیح اسلامي عقائد او د نظریاتو نور موجود وي ، بیا هغه فرضونه په پوره توګه سره ادا کړي او د هغه احکاماتو او هدایاتو پوره اطاعت وکړي کوم چې الله ﷻ د خپل رسول په ذریعه جاري او نافذ کړي دي او بیا ریاضت او مجاهده یعني ذکر او شغل او د اوراد او وظائف په ذریعه د اخلاص توجه الیٰ الله او د رضا مولی د حصول هڅي وکړي چې په هغه سره په ایمان او اسلام کي حسن کمال او لوړي تر لاسه کیږي .

د اسلام بنسټ پر پنځو شیانو دی

﴿ ۲ ﴾ :عَنْ اِبْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: قَالَ : رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ متفق عليه

د حضرت ابن عمر[۱] ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل د اسلام بنسټ پر پنځو شیانو دی : ۱- ددې شاهدي ورکول چې د الله څخه پرته بل معبود نسته او محمد ﷺ د الله ﷻ بنده او رسول دی. ۲- لمونځ کول ۳- زکوة ورکول ۴- حج کول ۵- د رمضان د میاشتي روژې نیول . مسلم او بخاري .

تشریح: د (اسلام) مثال په ماڼۍ سره ورکړل سوی ده ، لکه څرنګه چې یو لوړه او ښکلې ماڼۍ تر هغه وخته پوري نسي قائم کېدلای تر څو چې تر هغه لاندي بنیادي ستني نه وي، همداسي د اسلام پنځه ستني دي چې د هغه څخه پرته هیڅ سړی خپل اسلام ته وجود او بقا نسي ورکولای ، دغه پنځه ستني په حدیث شریف کي ذکر سوي دي او هغه دادي : (۱) د توحید او رسالت عقیده (۲) لمونځ (۳) زکوة (۴) حج (۵) روژه . کوم څوک چې ځان مؤمن او مسلمان جوړول

[۱]- نوموړی د اسلام د دوهم خلیفه راشد حضرت عمر فاروق ﷺ زوی او د نبي کریم ﷺ جلیل القدر صحابي دی ، د نوموړي زیږېدنه د نبوت د کال څخه مخکي په مکه معظمه کي سوې ده ، په کال (۷۳) یا (۷۴هـ) کي وفات سو .

او قائم ساتل غواړي نو د هغه لپاره لازم دی چي هغه د خپل اعتقادي او فکري او عملي او اخلاقي ژوند بنیاد دغه پنځه ستني وګرځوي، بیا څرنګه چي د یو ماڼۍ شان او شوکت او ښکلا ، د دیوالو نقش او نګار او غوره والي باندي منحصر وي همداسي د اسلام د حسن او کمال انحصار هم پر دغه اعمالو دی چي هغه په واجباتو او مستحباتو سره تعبیر کیږي، دلته په حدیث شریف کي د اسلام د بنیادي شیانو ذکر مقصد وو ځکه پر دې موقع د هغه واجباتو او مستحباتو ذکر ونه کړل سو .

د ایمان ښاخونه

﴿ ۳ ﴾ : وَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلم اَلْاِيْمَانُ بِضْعٌ وَ سَبْعُوْنَ شَعْبَةٌ فَاَفْضَلُهَا قَوْلُ لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وَ اَدْنٰهَا اِمَاطَةُ الْاَذٰى عَنِ الطَّرِيْقِ وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِّنَ الْاِيْمَانِ (متفق علیه).

د حضرت ابوهریرة[1] ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د ایمان د اویا څخه زیاتي څانګي دي په هغو کي د ټولو څخه غوره ددې خبري اقرار کول دي چي د خدای ﷻ څخه پرته بل معبود نسته او د ټولو څخه کمي درجې ایمان د یو ضرري شي د لاري څخه لیري کول دي او حیا د ایمان یوه څانګه ده (بخاري اومسلم).

تشریح : په دغه حدیث شریف کي د ایمان د څانګو او برخو شمیر ښودل سوی دی ، یعني هغه شیان چي په یو ځای کېدو سره یو ځوک د ایمان او اسلام پوره پیروي او غوره مظهر جوړوي ، دلته خو د هغه څانګو شمیر ښودل سوی دی مګر په ځینو حدیثونو کي د هغو تفصیل هم نقل دی او هغه داسي ذی :

لومړنی شی خو بنیادي دی یعني ددې حقیقت په زړه او دماغ کي عقیده او یقین او په ژبه سره اقرار او اظهار چي د الله ﷻ څخه پرته بل معبود نسته د هغه ذات او صفات پر حق دي ، هغه همیشه دی او همیشه به وي ، بقا او دوام یوازي د هغه ذات لپاره دي هر کله چي د کائناتو ټول شیان فنا کیدونکي دي . همداسي د الله ﷻ د رسولانو. د هغه د کتابونو او ملائکو په اړه ښه عقیده او حسن ظن ساتل او هغوئ حق ګڼل ، د آخرت عقیده درلودل چي د مرګ څخه وروسته په قبر کي پر خرابو او ګناه کارو خلکو به د الله تعالی عذاب وي او پر ښه او نیکو خلکو به د هغه

[1] – اصل نوم یې عبدالرحمن بن صحر دی ، کنیت یې ابوهریره دی ، په کال (۵۷هـ ، یا ۵۸ هـ) کي په مدینه منوره کي وفات سو .

انعام او اکرام وي ، قیامت به راځي او د هغه وروسته به حساب او کتاب ضرور وي، هغه وخت به د هر چا اعمال په ترازو کي تلل کیږي د چا چي عملونه ښه او نیک وي هغه ته به عمل نامه د جنت په راسته لاس ورکړل سي ، د چا اعمال چي خراب وي د هغوئ فرد جرم به په چپه لاس ورکړل سي، ټول خلک به پر پل صراط باندي تیریږي ، مؤمنان او صالحان به د ذات باري عالی په دیدار سره مشرف کیږي ، نیک او ښه خلک به جنت ته ورسول سي او ګناه کار به دوږخ ته واچول سي، لکه څرنګه چي مؤمن به په جنت کښي همیشه د الله تعالی په انعام او اکرام او رضا سره خوشحاله وي همداسي دوږخیان به همیشه همیشه د الله ﷻ په مسلط کړي عذاب کي اخته وي.

د ایمان د ځانګو څخه دا هم دی چي د الله ﷻ سره هر وخت مینه وساتي او که د غیر الله سره مینه کوي نو هغه هم د الله ﷻ لپاره کوي ، یا د چا سره دښمني کوي نو د الله ﷻ لپاره یې کوي، د نبي کریم ﷺ سره پوره مینه او د هغوئ عظمت او فضیلت باندي پوره یقین ولري، د رسول الله ﷺ په سنت عمل کول، د هغه ﷺ پر ښودل سوو طریقو باندي تلل ، د هغوئ ﷺ ارشادات او تعلیمات خپل رواج جوړول او خپرول هم د رسول الله ﷺ سره د میني دلیل دی، د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ مینه داسي ځای سي چي دده مینه په مقابل کي د دنیا د هیڅ شی او هیڅ قرابت مینه ارزښت ونه لري. او دده مینه علامه اتباع شریعت دی، که یو سړی د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د فرمان تعمیل کوي او د شریعت په احکامو عمل کوي نو دده مطلب به دا وي چي هغه د خپل الله ﷻ او رسول ﷺ سره مینه کوي، مګر کوم سړی چي د الله ﷻ او د رسول ﷺ د احکامو تابعداري نه کوي نو د هغه مطلب به دا وي چي نعوذبالله د هغه زړه د الله تعالی او د هغه د رسول د میني څخه خالي دی.

دا هم د ایمان څانګه ده چي کوم عمل وکړل سي که هغه بدني وي یا مالي وي او یا قولي یا فعلي یا اخلاقي نو هغه یوازي د الله تعالی د رضا او خوښۍ لپاره وي د نوم ښوونې او یا د نیاوي مقصد لپاره نه وي، نو تر څو پوري چي کیدای سي په اعمالو کي د اخلاص پیدا کولو هڅه کول پکار ده ، کنه نو د نفاق او ریا اثر دعمل حسن (نیکي)، کمال او تاثیر ختموي، د مؤمن زړه دي هر وخت د الله تعالی د خوف او خشیت الهي څخه ډک وي، او د هغه د فضل او کرم او د رحمت د امیدونو څخه معمول کېدل پکار دي که د انسانیت په غوښتنه یو خراب کار یا خبره ځیني وسي نو پر هغه باندي سمدستي د زړه په اخلاص سره د توبې څخه وروسته د

راتلونکي لپاره د ګناهونو څخه د پرهيز وعده دي وکړي او د الله تعالی د عذاب څخه دي وبيربږي او په خپل ښه او نيک عمل کي دي د الله تعالی د رحمت او د هغه د انعام او اکرام اميد ولري، په حقيقت کي دا د ايمان يوه لويه غوښتنه ده چي کله يو ګناه په قصد او يا بيله قصده وسي نو سمدستي د شرمندګی او پښيماني په احساس سره د الله تعالی په حضور کي د خپل ګناه څخه توبه وکاږي او د معافی او بخښني غوښتونکی دي سي ځکه چي د ګناه کولو څخه وروسته توبه کښل شرعا ضروري او لازم دي .

د الله تعالی د ورکړل سوو نعمتونو شکر دي ادا کوي او که الله تعالی اولاد ورکړي نو سمدستي دي عقيقه وکړي ، که نکاح يې وکړه نو وليمه دي وکړي ، که قرآن کريم په حفظ يا ناظره ختم کړي نو د خوشحالی اظهار دي وکړي که الله مال ورکړی وي نو زکوة دي ادا کړي ، د آختر په مناسبت کي دي سرسايه ورکړي او په لوی اختر کي دي قرباني وکړي .

دا هم د ايمان غوښتنه ده چي وعده وکړي نو هغه دي پوره کړي ، پر مصيبت دي صبر وکړي، د اطاعت او فرمانبرداری لپاره دي هره ستونزه وزغمي، د ګناهونو څخه دي ځان وژغوري، د الله تعالی پر تقدير او خوښی دي راضي سي، پر الله ﷻ دي توکل کوي، د مشرانو او بزرګانو تعظيم او احترام دي کوي، د ماشومانو سره دي مينه او شفقت کوي ، او د کبر، غرور او لوئي په پرېښودو سره دي کسرنفسي، تواضع او حلم اختيار کړي .

د حسن اسلام او تکميل ايمان په درجو کي دا هم دي چي د کلمه توحيد او کلمه شهادت ورد دي کوي، قرآن کريم دي وايي ، که جاهل وي نو د عالم څخه دي د علم دولت تر لاسه کړي، که عالم وي نو جاهلانو ته دي تعليم ورکړي ، په خپل مقصدونو کي دي د الله تعالی څخه د کاميابۍ غوښتونکی وي او دعاء دي غواړي او د هغه ذکر دي کوي ، د خپلو ګناهونو څخه استغفار دي کوي او د فحش خبرو څخه دي ځان ساتي ، په هر وخت کي دي د ظاهري او باطني ګناهونو څخه ځان پاک ساتي .

لمنځونه کول که فرض وي يا نفل او پر وخت ادا کول ، روژه نيول که نفل وي او که فرض، ستر پټول، صدقه ورکول که نفلي وي او که لازمي، غلامان آزادول، سخاوت او ميلمستيا کول، په اعتکاف کي کښېنستل، په شب قدر او شب برات کي عبادت کول، حج او عمره کول، طواف کول، د دارالحرب يا داسي هيواد څخه چي د فسق او فجور ، فحش او بې حيائي ، منکرات او بدعاتو زور وي د دار الاسلام په لور هجرت کول، د بدعتونو څخه ځان ساتل، خپل

دين د خرابو خبرو څخه خوندي ساتل، نذرونه پوره كول، كفارې ادا كول، د حرام څخه د ځان ساتني لپاره نكاح كول، د اهل او عيال حقوق په پوره توګه ادا كول، د مور او پلار خدمت كول او په هر ډول سره د هغوئ مرسته كول، خپل اولاد ته د شريعت سره سم ترتيبيت وركول، د خپل ماتحت (لاس لانديو) كسانو سره ښه چلن كول، د خپلو حاكمانو، او مسلمان سردارانو او مشرانو پيروي كول، په دې شرط چي هغوئ د شريعت څخه د خلاف كارونو حكم ور نه كړي، د غلام او مينځو سره نرمي كول، كه چيري د اقتدار خاوند او حاكم يا قاضي وي نو انصاف كولو سره په خلكو كي صلح كول، د اسلام څخه د بغاوت كونكو او ددين څخه د اوښتونكو كسانو سره قتل او قتال (جنګ او جګړې) كول، د ښه خبرو تبليغ كول، د خرابو خبرو څخه خلك منعه كول، د الله تعالی د لوري د ټاكل سوو سزاګانو جاري كول، په اسلام كي د غلطو خبرو پيداكونكو او د الله او رسول انكار كونكو سره د خپل توان سره سم په قلم، ژبه او توري سره جهاد كول، د اسلامي هيوادونو د سرحدونو ساتنه كول، امانت ادا كول، د غنيمت د مال پنځمه برخه په بيت المال كي جمع كول، د وعدې سره سم فرض پوره كول، د همسايه خيال ساتل او د هغه سره ښه چلن كول، د خلكو سره غوره معامله كول، په حلاله طريقه سره مال ګټل او د هغه ساتنه كول، مال او دولت په غوره مصرف كي او په ښه ځای كي خرڅ كول، اصراف نه كول، سلام كول او د سلام جواب وركول، ځا ته چي ترچى راسي نو يرحمك الله ويل، د تهذيب خلاف او خرابو مجلسونو څخه پرهيز كول، خلكو ته تكليف نه وركول، د لاري څخه د تكليف رسونكو شيانو ليري چي تلونكو ته تكليف ونه رسوي دا ټول شيان د ايمان څانګي او ښاخونه دي.

د لاري څخه د تكليف رسونكي شي ليري كولو مطلب دادی كه په لاره كي ډبره، ازغی، وغيره پروت وي چي په هغه سره پر لاره تلونكي ته تكليف رسيږي يا نجاست او مرداري پراته وي يا يو داسي شی پروت وي چي په هغه سره پر لاره تلونكي ته تاوان رسيږي نو د مؤمن دا فريضه ده چي د انساني او اخلاقي همدردۍ په وجه هغه ليري كړي او لار پاكه كړي، او همداسي په خپله هم داسي يو شی په لار كي ونه غورځوي چي هغه پر لار تلونكو لپاره د تكليف سبب سي، او د عارفينو په نظر كي ددې مطلب دادی چي انسان خپل نفس د هغه ټولو شيانو څخه پاك كړي كوم چي توجه الی الله او د معرفت په لار كي خنډ جوړيږي او د خپل زړه څخه د بدۍ او معصيت خيال ليري كړي.

د اسلام تكميل او حسن په دغه شيانو سره پيدا كيږي، كه يو سړی ددغه شيانو څخه خالي

وي او ژوند يې په دغه شغلو سره منور نه وي نو پوهېدل پكار دي چي د هغه د ايمان تكميل نه دی سوی ځكه نو هغه ته پكار ده چي د الله ﷻ په مرسته او د هغه په توفيق غوښتلو سره دا ارزښتناكه خبري غوره كړي .

د مؤمن او مسلم مفهوم

﴿ ۴ ﴾ : وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَم: اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَ يَدِهٖ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَمَا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِ وَمُسْلم قَالَ اِنَّ رَجُلاً سَاَلَ النَّبِي ﷺ اَيُّ الْمُسْلِمِيْنَ خَيْرٌ ؟ قَالَ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ . متفق عليه.

د حضرت عبدالله بن عمرو [1] ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل (پوره) مسلمان هغه دی چي د هغه د ژبي او لاسونو څخه مسلمان ساتلی او په امان وي او مهاجر هغه دی چي هغه ټول شيان يې پرې ايښي وي د كومو څخه چي خدای پاك منعه فرمايلې وي (دا الفاظ د بخاري دي او په مسلم كي دا الفاظ دي) چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه په مسلمانانو كي تر ټولو غوره سړی كوم دی رسول الله ﷺ وفرمايل هغه سړی چي د ژبي او لاسونو څخه يې مسلمان په امان وي . بخاري اومسلم.

تشريح : د حديث شريف په لومړني برخه كي دې ته اشاره ده چي مؤمن او مسلمان يوازي د دې نوم نه دی چي سړی محض كلمه ووايي او يو څو ټاكلي عملونه او اركان ادا كړي بلكه اسلامي شريعت د خپلو پيروانو څخه د يو داسي ژوند غوښتنه كوي چي د هغه حامل يوې خوا ته د عقائدو او اعمالو د لحاظ څخه د الله تعالى د حقيقي بنده ويل كېدو وړ وي نو بلې خوا ته هغه د انسانيت په تعلق سره په پوره توګه د امن او صلح نمونه او د مينې مظهر وي، امن او امانت، غوره اخلاق په خپل عملي ژوند كي داسي اظهار وكړي چي د دنيا هر انسان د هغه څخه د ېيرېدو پر ځای هغه خپل همدرد او مشفق وګڼي او د مال، ځان او عزت په اړه پر هغه پوره باور او اطمينان ولري . په دغه حديث شريف كي د لاسو او ژبو ځانګړتيا ځكه ده چي په عامه توګه سره د ضرر رسولو دغه دوې ذريعې دي، كنه دلته هر هغه شی مراد دی چي د هغه څخه تكليف رسيدلای سي كه هغه لاس وي يا ژبه او يا بل يو اندام وي .

---

[1] حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ يو جليل القدر صحابي ، ستر عالم ، او د لوړي مرتبې مجاهد ، متقي او عابد وو ، نوموړی مهاجر دی، د نوموړي د وفات په كال كي ډېر اختلاف دی، د تذكرة الفاظ د روايت سره سم نوموړی په مصر كي په كال (۷۵هـ) كي وفات سوی دی .

د حديث په دوهمه برخه کي د حقيقي مهاجر تعريف سوی دی، هسي خو مهاجر هر هغه سړي ته وايي چي د الله تعالی په لار کي خپل وطن، خپل کور او خپل هيواد پرېښودو سره دارالاسلام خپل هيواد جوړ کړي، دغه قرباني ته اسلام د عزت او رفعت په نظر سره ګوري د دې لپاره د ډېري جزا او انعام حقدار يې ګڼي، مګر د دغه حديث شريف څخه څرګند سوه چي د دغه هجرت څخه پرته يو بل هجرت هم دی چي د هغه د ژوند سره هميشني تعلق دی او هغه دا دی چي الله ﷻ د کومو شيانو څخه منعه فرمايلې ده مؤمن د هغه څخه پرهيز کوي او د الله تعالی د رضا تر لاسه کولو لپاره نفساني خواهشات بالکل پرېښودلو سره پاک نفسي اختيار کړي ، او همداسي سړی د حقيقي مهاجر ويل کېدو وړ دی .

د ميني درجې

﴿۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّٰى أَكُوْنَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَلَدِهٖ وَوَالِدِهٖ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ (متفق عليه).	د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تر هغه وخته پوري څوك پوره مؤمن نه سي کيدلای تر څو چي د هغه په نزد زه د هغه د پلار، زوی او ټولو خلګو څخه زيات محبوب نه سم. بخاري ومسلم.

تشريح : مينه خو يو طبعي وي لکه د اولاد سره مينه، د پلار سره مينه، يا د پلار د اولاد سره مينه، د دغه ميني بنياد په طبعي توګه وي ، په دې کي د داخلي يا خارجي ضرورت او زور داخل نه وي، د دې پر خلاف يو عقلي مينه وي چي د يو طبعي او فطري تعلق او غوښتني لاندي نه وي بلکه د يو عقلي ضرورت او مناسبت او خارجي تعلق لاندي کيږي، د دغه مثال ناروغي او دواء ده، يعني ناروغ سړی دوا ځکه نه خوښوي چي ذواء رانيول د هغه طبعي او فطري غوښتنه ده بلکه په اصل کي د عقل غوښتنه وي، که چيري ناروغي ختمول وي او روغتيا يې خوښه وي نو دواء به استعمالوي که څه هم د هغه دواء تريخوالی ناخوښ وي، همداسي که د يو سړی د بدن يو اندام د فاسدې مادې څخه ډک وي نو هغه د عمليات لپاره خپل ځان يو ماهر ډاکټر ته ځکه نه سپاري چي د هغه په نظر کي د جراحي د آلاتو ځلا ښه معلوميږي يا د هغه طبعيت د خپل بدن پر هغه برخه لګېدل خوښوي بلکه دا د عقل او پوهي غوښتنه وي چي بدن د فاسدې مادې څخه پاکول پکار دي، نو ځکه خپل ځان ډاکټر ته سپارل ضروري دي ، يو شی په عقلي توګه سره د غوښتلو او خوښولو هغه کيفيت چي هغه (په عقلي مينه) سره تعبير کيږي په ځيني حالاتو کي

دومره تینګ او ارزښتناک جوړیږي چي د لوی څخه لوی طبعي مینه او د لوی څخه لوی فطري غوښتنه باندي هم غالب سي ، نو دغه حدیث چي د رسول اکرم ﷺ سره د کومي مینه او ترون غوښتنه کوي هغه د حدثینو په نزد عقلي مینه ده، مګر د کمال ایمان او یقین پر بناء دا عقلي مینه دومره د اثر څخه ډکه او دومره جذباتي سره وي چي پر طبعي مینه باندي غالب سي، په دې باندي داسي پوهیدلای سي چي که چیري د رسول الله ﷺ یو هدایت او د شرعي حکم تعمیل کي یو قرابت لکه د پلار مینه، د اولاد مینه یا یو بل طبعي تعلق بندیز واچوي نو هغه د رسول هدایت او شرعي حکم پوره کولو لپاره د هغه قرابت او طبعي غوښتني نظر اندازه کول پکار دي. د ایمانیات او شریعت په نقطه نظر کي دا ډیر لوی مقام دی او دا مقام په دې صورت کي تر لاسه کېدلای سي هر کله چي ایمان او اسلام او د حب رسول دعوه کونکي خپل نفس په احکام شریعت او ذات رسالت کي فنا کړي ، د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د رضا څخه پرته د هغه بل هیڅ مقصد د ژوند نه وي، د مثال په توګه د نبي کریم ﷺ فرمان جاري کیږي چي د ایمان خاوندان دي د جهاد لپاره ووځي، ددې حکم تعمیل د ایمان خاوندان ددین دد ښمنانو سره د جنګ لپاره د جنګ ډګر ته رسوي، هر کله چي د دواړو خواوو څخه صفونه جوړیږي او مقابل فوځونه مخته راځي یو مسلمان خپل زوی دد ښمن په صف کيویني او ځوک خپل پلار ویني، یوې خوا ته طبعي مینه وي چي څه ډول خپل توره پر خپل پلار یا خپل زوی باندي په وینو رنګ کړي او بلي خوا ته د رسول حکم دی چي دد ښمن هیڅ یو کس دي هم د توري د وار څخه خلاصون نه مومي، که څه هم هغه پلار وي یا زوی وي، د تاریخ نه رد کېدونکی صداقت شاهدي ورکوي چي په داسي نازکه موقع باندي د ایمان خاوندان د سترګو د رپ په اندازه هم په شک کي نه اخته کیږي، هغوئ ته په دې پریکړه کولو کي یوه لحظه هم زنډ نه کیږي چي د رسول د حکم په وړاندي د پلار او زوی مینه څه معنا لري، او بیا د جنګ په ډګر کي د پلار توره د اولاد په وینه بهېدلې لیدل کیږي او زوی خپل پلار ته موقع نه ورکوي چي هغه خلاصون ومومي .

په هر حال د حدیث حاصل دادی چي د ایمان د تکمیل دار او مدار پر حب رسول (د رسول سره مینه) باندي دی ، په کوم سړي کي چي د رسول الله ﷺ سره ددې درجې مینه نه وي چي د هغه په مقابله کي نژدې خپلوی ، لوی لوی ترونونه او د لوی څخه لوی شي مینه هم بې معنا وي ، هغه کامل مسلمان نسي کیدلای که څه هم په ژبه او قول سره هغه د خپل ایمان او اسلام هر څومره لوی دعوه کوي .

د حضرت عمر فاروق ﷺ په اړه نقل سوي دي چي کله هغه دغه حديث شريف واوريدی نو عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! په دنيا کي يوازې د خپل ځان څخه پرته ما ته تاسو زيات محبوب ياست، يعني د دنيا د نورو ټولو قرابتونو او شيانو څخه ستاسو مينه ما ته زياته ده خو د خپل ځان څخه را ته زياته نه ده، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : په هغه ذات دي مي قسم وي د چا په واک کي چي زما روح ده ، ته اوس هم پوره مؤمن سوی نه يې، ځکه چي دا مرتبه هغه وخت تر لاسه کيدلای سي هر کله چي زه تا ته د خپل ځان څخه هم زيات خوږ سم، دغه الفاظو د حضرت عمر ﷺ د زړه او دماغ دنيا بدله کړه او بې اختياره يې وويل : اې دالله رسوله ! پر تاسو دي زما ځان قربان وي، اوس تاسو ما ته تر خپل ځان هم زيات محبوب ياست، رسول الله ﷺ بيا هغه ته دا زيری واوری چي اې عمر ! اوس ستا ايمان پوره سو او ته پوخ مؤمن سوې، يوازي حضرت عمر ﷺ نه بلکه ټول صحابه کرام په دې کيفيت او حب رسول سره آباد وه، د هغوئ د ژوند مقصد د رسول الله ﷺ په يوه اشاره باندي خپل ځانونه قربانول وه، بيشکه د دنيا هيڅ مذهب د خپل رهنما او پيروي کونکو د خپل منځي تعلق او ميني داسي مثال نسي وړاندي کولای .

د رسول الله ﷺ مبارک ذات بيشکه د صحابه کرامو لپاره د شمع په ډول وو چي پر هغه د پتنگ په ډول قربانېدل خپل نيک بختي گڼل، د اسلام ددغه دور ستر تاريخ په خپل لمن کي داسي بې شميره پېښې ساتلي دي چي د رسول الله ﷺ سره د صحابه کرامو د جذباتي او عاشقانه ميني او تعلق ستره غمازي کوي .

د احد د غزا پېښه ده چي د جنگ په ډگر کي کله چي سخت جنگ پيل وو او د حق ډلي د باطل پر لښکر باندي په قهرماني طاقت سره حمله وکړه نو وليدل سول چي د يوې انصاري ښځي خاوند، پلار او ورور درې سره د شهادت جام وڅښی او د رسول الله ﷺ پر ذات باندي قربان سول، دا خبر چي هغې ښځي ته ورسيدی نو د ايمان د پوخوالي او د رسول الله ﷺ سره د ميني د اثر په وجه ددې پر ځای چي هغه ښځي د خپل قريبانو پر شهادت غم او فرياد کړی وای نو هغې تر ټولو وړاندي دا پوښتنه وکړه : د الله په خاطر ما ته دا وواياست چي زما بادار او سردار رسول الله ﷺ (زما ځان دي پر قربان سي) په خير خو دی ؟

خلکو ورته وويل : هو، رسول الله ﷺ سلامت دی مگر په دې سره د هغې ډاډ ونه سو او په بې تابۍ يې وويل : راځئ چي زه يې په خپلو سترگو ووينم نو يقين به مي راسي، هر کله چي هغې په خپلو سترگو سره د رسول الله ﷺ د مبارک مخ ديدار وکړ نو هغې وويل : (کل مصيبة

بعدک جلل) يعني هر كله چي رسول اللهﷺ سلامت دی نو هر مصيبت آسان دی .

يو ځل يو سړی د رسول اللهﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وكړ چي اې دالله رسوله ! تاسو ما ته د خپل كورنۍ او مال ټولو څخه زيات محبوب ياست كله چي تاسو را ياد سئ نو صبر مي نه كيږئ تر څو پوري چي په راتلو سره ستاسو د مخ مبارک په زيارت سره خپل ستركي يخي نه كړم، مګر اوس دا غم اخيستی يم چي د وفات څخه وروسته به تاسو د انبياء عليهم السلام سره ياست هلته به زما ستركي ستاسو ديدار څنګه كوي ؟ نو دغه آيت كريمه نازل سو :

وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَـٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَـٰئِكَ رَفِيقًا . سورة النساء آية ۶۹.

ژباړه : كوم خلک چي د اللهﷻ او رسولﷺ حكم مني هغوئ به (په آخرت كي) د هغه كسانو سره وي چي پر هغوئ د الله تعالى انعامات دي چي نبيان، صديقين، شهيدان او نيک خلک دي او د دغه خلكو صحبت لوی غنيمت دی . رسول اللهﷺ هغه صحابي ته دغه زيری واوروئ .

عبدالله بن زيد بن عبدربهؓ چي د صاحب اذان په لقب سره مشهور وو، په خپل باغ كي كار كوی په دغه حالت كي د هغه زوی راغلی او دغه د غم خبر يې راوړی چي رسول اللهﷺ وفات سو، په عشق نبوي سره سمسور او د رسولﷺ په مينه كي مست دغه صحابي د دغه وژونكي خبر تاب نه راوړی . بې تابه يې لاس په فضا كي پورته كړ او د ژبي څخه يې دغه د حسرت الفاظ ووتل: اې الله ! اوس ما د ليدلو څخه محروم كړې چي دا ستركي د رسول اللهﷺ په ديدار سره مشرف سوي دي او اوس بل څوک ونه ليدلای سي . ترجمان السنة .

د دغه پېښو څخه څرګنده سوه چي د صحابه كرامو د نبي كريمﷺ سره د مينه او تعلق هغه مقام وو كوم چي د دغه حديث منشا ده، ځكه د هر مسلمان لپاره ضروري ده كه چيري هغه د ايمان سلامتي او په خپل اسلام كي ټينګوالی پيدا كول غواړي نو د نبي كريمﷺ په مينه او عقيدت سره دي خپل زړه سمسور كړي او د هغوئﷺ په لاربښوونو دي عمل كول د خپل نجات ذريعه وګڼي چي رسول اللهﷺ سره د ميني معيار اتباع شريعت او تبارع رسول دی، كوم سړی چي په شريعت باندي عمل نه كوي او د رسول اللهﷺ پر لاربښوونو نه چليږي نو هغه دغه خبره ثابتوي چي نعوذبالله د هغه د رسول اللهﷺ سره مينه نسته .

د ایمان خوند

﴿ ۶ ﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلٰثٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ وَجَدَ بِهِنَّ حَلَاوَةَ الْإِيْمَانِ مَنْ كَانَ اللهُ وَرَسُوْلُهُ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَمَنْ أَحَبَّ عَبْدًا لاَ يُحِبُّهُ إِلاَّ لِلّٰهِ وَمَنْ يَكْرَهُ أَنْ يَعُوْدَ فِي الْكُفْرِ بَعْدَ أَنْ أَنْقَذَهُ اللهُ مِنْهُ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُلْقٰى فِي النَّارِ .(متفق علیه).

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل درې شیان داسي دي چي په یو چا کي پیدا سي نوهغه به د ایمان خوند تر لاسه کړي ۱- هغه سړی چي خدای او رسول د ټولو څخه زیات عزیز او محبوب ګڼي ۲- هغه سړی چي د یو بنده سره یوازي د الله د رضا لپاره محبت لري ۳- هغه سړی چي د کفر د تیارو وروسته خدای پاك ورته د اسلام نورانیت په برخه کړی وي او هغه بیا کفر ته ستنېدل داسي بد ګڼي لکه څرنګه چي دا خبره بده ګڼي چي هغه په اور کي وغورزول سي . مسلم اوبخاري

تشریح : د ایمان د پوره والي غوښتنه داده چي د مؤمن په زړه کي د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ مینه دومره ځای سي چي د هغوئ څخه پرته ټوله دنیا د هغه په وړاندي هیڅ هم نه وي.

همدا رنګه دا ډول هم پوره مؤمن کیدلای سي چي هغه د چا سره مینه کوي نو یوازي د الله تعالی د رضاي او د هغه د خوښی لپاره مینه ورسره کوي، او که د چا سره بغض او دښمني کوي نو هغه هم د الله تعالی په لار کي کوي، مقصد دا چي د هغه هر عمل وي هغه یوازي د الله تعالی لپاره وي او د هغه د حکم په تعمیل کي وي، همداسي د ایمان په ټینګوالي سره په زړه کي کښېنستل او پر اسلام باندي په ټینګه قائم اوسیدل او د کفر او شرک څخه دومره نفرت او بیزاري کول چي د هغه د تصور او خیال څخه هم زړه پاک وي نو دا د ایمان د پوره کېدو دلیل دی.

همدا رنګه په دغه حدیث شریف کي وفرمایل سول چي د ایمان د دولت حقیقي خاوند او پر دې باندي د جزا او انعام وړ هغه سړی دی چي په دغه درې سره صفتونو سره په پوره توګه متصف وي، او د ایمان خوند هم هغه سړی څکلای سي .

د ایمان خوند

﴿ ۷ ﴾ : وَعَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ذَاقَ طَعْمُ الإِيْمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّبِالإِسْلاَمِ دِيْنًا وَّبِمُحَمَّدٍ رَّسُوْلاً. رواه مسلم

د حضرت عباس [1] ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل کوم سړی چي په دې خبره راضي سو چي خدای ﷻ د هغه رب، اسلام د هغه دین او محمد ﷺ د هغه رسول دی نو هغه د ایمان خوند و څکی. مسلم

تشریح : د الله تعالی ربوبیت او د هغه پر ذات او صفاتو باندي ایمان ، د محمد عربي ﷺ پر رسالت او نبوت باندي یقین او اعتقاد ، ددین او شریعت حقانیت او صداقت باندي پوره باور ، د اسلامي لارښوونو او احکامو پیروي په دې کیفیت سره کېدل پکار دي چي د زړه او دماغ په هیڅ یو کونج کي د یوې ذرې په اندازه شک او بوج محسوس نسي، رضا، شوق او اطمینان او ددماغي او ذهني سکون څپې د هغه په وجود کي ځای نیولی وي کوم چي د یو غوره شي په تر لاسه کېدو باندي زړه او دماغ او د بدن ټول وجود په خوښي او هوسي سره سمسور کوي ، دا ډیره ازرښتناکه خبره ده او دا په هر حالت کي مدنظر ساتل پکار ده ، په دغه ایمان او یقین او عمل کي که د یو ډول انقباض (یو قسم خرابوالي) او چټلوالی پیداسي نو پوه سئ چي د ایمان روح رخصت سو، پر داسي سړي باندي که څه هم په ظاهري توګه سره د ایمان او اسلام احکام نافذ وي مګر د اخلاص څخه د خالي کېدو په سبب نه د هغه ایمان کامل ګڼل کیږي ، نه د هغه د اسلام نیکیاني په برخه کیږي او نه د ایمان او یقین حقیقي لذت څخه هغه خوند اخیستلای سي .

اسلام د خلاصون ذریعه ده

﴿ ۸ ﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لاَ يَسْمَعُ بِيْ أَحَدٌ مِّنْ هٰذِهِ الأُمَّةِ يَهُوْدِيٌّ وَلاَ نَصْرَانِيٌّ ثُمَّ يَمُوْتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِيْ أُرْسِلْتُ بِهِ إِلاَّ كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهریرة ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په واك کي د محمد(ﷺ) روح ده چي په دې امت کي کوم څوك که یهودي وي او یا نصراني چي زما د رسالت خبر واوري او دخدای ﷻ کوم پیغام چي ما راوړی دی پر هغه ایمان را نه وړي او مړ سي نو هغه یقینا دوږخي دی . مسلم .

[1] - حضرت عباس ﷛ د عبد المطلب زوی دی او د نبي کریم ﷺ سکه اکا وو، په ۱۲ رجب په کال (۳۲هـ) کي د جمعې په ورځ وفات سو .

تشريح : اسلام يو آفاقي (علمگير) مذهب دی چي د هغه د اطاعت په دائره کي د ټول کائنات راتلل ضروري دي او د الله تعالی د لوري رالیږل سوی يو داسي بين الاقوامي قانون دی چي د هغه پيروي د دنيا پر هر انسان لازم ده ، همداسي د پيغمبر ﷺ رسالت او نبوت هم نړيوال او بين الاقوامي دی، د هر دور لپاره د هر قوم لپاره او د هري طبقې لپاره په دې کي د چا استثناء نسته ځکه د رسول الله ﷺ پر رسالت باندي ايمان راوړل او پر شريعت باندي عمل کول پر ټولو باندي يو ډول فرض دی که هغه څوک د هر قوم د هر وطن او هري طبقې وي.

په دغه حديث شريف کي د يهودي او نصراني يعني عيسائي ذکر په دې وجه سوی دی چي دغه دواړو قومونو خپل يو دين او يو شريعت درلودی د هغوئ خپل خپل آسماني کتابونه وه چي د هغه د عمل او خلاصون منلو هغوئ ته الهي حکم وو، ځکه د هغوئ په ذکر کولو سره دې ته اشاره سوې ده چي هغه قومونه چي خپله د خپلو پيغمبرانو راوړی شريعت او د الله تعالی د لوري د رالیږل سوو کتابونو تابع دي، او د هغوئ دين هم آسماني دين دی، چي د الله تعالی نازل کړل سوی دی ، نو د الله تعالی د آخري دين اسلام نفاذ او د خاتم النبيين ﷺ د همه گير بعثت (يعني د ټولي نړۍ دپاره رالیږل سوي) څخه وروسته ددغه قومونو لپاره د آخري پيغمبر ﷺ رسالت تسليم کېدو څخه پرته چاره نسته او د شريعت اسلام په دائره کي دِ راتلو څخه پرته د هغوئ خلاصون ممکن نه دی نو بيا هغه قومونه د پيغمبر اسلام او شريعت اسلام باندي د ايمان او عمل پرته ابدي خلاصون څنگه تر لاسه کولای سي چي د صحيح آسماني دين پابند هم نه دي چي د هغوئ سره د يو پيغمبر راوړی يو کتاب هم نسته او د الله تعالی د رالیږل سوي يو نبي او رسول پيرو هم نه دي.

يوه بله خبره هم ده چي يهودو او عيسايانو به ويل چي د الله تعالی د غوره پيغمبر موسی عليه السلام او عيسی عليه السلام پيروان او د الله تعالی د رالیږل سوي کتابو تورات او انجيل د تابع کېدو په وجه موږ په خپله نجات موندونکي يو، جنت زموږ پيدائشي حق دی موږ ته څه ضرورت دی چي محمد ﷺ خپل رسول ومنو، او اسلام خپل دين ومنو، ددې حديث په ذريعه د هغوئ ددغه غلطي عقيدې او خيال هم ترديد سوی دی او هغوئ ته څرگنده سوې ده چي د پيغمبر اسلام د بعثت څخه وروسته نجات به د هغه خلکو وي چي اسلام خپل دين ومني او پر هغه عمل کوي ځکه چي د محمد عربي ﷺ د بعثت يو بنيادي مقصد دا هم دی چي پخواني شريعتونه منسوخ سي ټول مذهبونه نيستي سي او ټول کائنات يوازي د يو مذهب دين اسلام په دائره کي راټول

سي چي د الله تعالی تر ټولو آخري او تر ټولو جامع او پوره دین دی .

دوه برابر ثواب تر لاسه کوونکي

﴿ ۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَهُمْ أَجْرَانِ رَجُلٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمَنَ بِنَبِيِّهِ وَآمَنَ بِمُحَمَّدٍ وَّالْعَبْدُ الْمَمْلُوْكُ إِذَا أَدَّى حَقَّ اللهِ وَحَقَّ مَوَالِيْهِ وَرَجُلٌ كَانَتْ عِنْدَهُ أَمَةٌ يَّطَؤُهَا فَأَدَّبَهَا فَأَحْسَنَ تَأْدِيْبَهَا وَعَلَّمَهَا فَأَحْسَنَ تَعْلِيْمَهَا ثُمَّ أَعْتَقَهَا فَتَزَوَّجَهَا فَلَهُ أَجْرَانِ . (متفق عليه)

د حضرت ابوموسی الاشعري [1] ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دري کسانو ته به دوچنده ثواب ورکول کیږي : ۱- هغه اهل کتاب ته چي اول يې پر خپل نبي ایمان راوړی او اوس پر محمد ﷺ باندي ۲- هغه غلام چي د چا په ملکیت کي وي او د خدای ﷻ حق هم ادا کوي او د خپلو مالکانو حق هم ادا کوي ۳- هغه سړي ته چي د هغه سره يوه وینزه وي دی د هغې سره مباشرت هم کوي او هغې ته ادب هم ښيي بیا چي هغې ته ښه ادب وښيي او ښه تعلیم ورکړي آزاده يې کړي او د هغې سره نکاح وکړي نو هغه ته به دوه برابر اجر ور کول کیږي . بخاري او مسلم.

تشریح : د دغه حدیث شریف مقصد دري ډوله خلکو ته زیری ورکول دي چي هغوئ ته به د نورو په مقابله کي د نیک عمل دوه برابر اجر ورکول کیږي، په دې کي لومړی ډول خلک هغه اهل کتاب (یهود او عیسایان) دي چي مخکي پر خپل دین وه او بیا د اسلام د دعوت په تر لاسه کولو سره د اسلام فرمانبردار سول دوئ ته د دوه برابر اجر (زیری) په دې ور کړل سوی دی چي د هغوئ د مخکي نبي په پاخه یقین سره منل، د هغه نبي راوړي کتاب او شریعت باندي عمل کول او د هغه نبي سره اعتقادي تړون او تعلق ساتل او بیا د خاتم النبیین ﷺ رسالت او نبوت او د الله تعالی د آخري دین اسلام دعوت تر لاسه کېدو سره د زړه په صدق سره د هغه فرمانبردار کېدل نه یوازي دا چي د هغوئ د کمال انقیاد او اطاعت او د هغوئ د فکري او ذهني سلامتیا ښنبه ده بلکه په دې معنا کي د هغوئ د قلبي او عملي قرباني ښنبه هم ده چي د خپل پخواني نبي او پخواني دین سره عقیدت او تعلق سربېره هغوئ د اسلام دعوت او د الله تعالی د حکم په تعمیل کي خپل ژوند تیر کړ او اوس د خپل اعتقاد وا ګي يې دین اسلام ته وسپارلې تر څو پوري چي د هغوئ په وړاندي د اسلام دعوت نه وو راغلی نو هغوئ خپل پخوانی دین د الله تعالی دین ګڼلو

[1] نوموړی یو جلیل القدر صحابي دی، د حبشې په لومړني هجرت کي شریک وو، نوموړی د ذي الحجې په میاشت کي په کال (۴۴هـ) په مکه مکرمه کي وفات سوی دی.

سره د هغه فرمانبردار وه او هر کله چي د اسلام د عوت د هغوئ مخته راغلی نو هغوئ هغه د الله تعالی آخري دين ګڼلو سره خپل پخواني دين پرېښودلو کي ضد او تعصب ونه کړ بلکه د سليم فطرت پر آوازيې په لبيک ويلو سره د محمد عربي ﷺ په غلامانو کي شامل سول نو الله تعالی د خاص انعام په توګه د هغوئ هر نيک او بد باندي د دوه برابر اجر ورو ګرځول يو اجر خو پر خپل مخکني نبي باندي د ايمان لرلو په سبب او دوهم اجر پر پيغمبر آخر الزمان ﷺ د ايمان راوړلو .
دلته دا خبره په ذهن کي ساتل پکار ده چي د دنيا په ټولو مذهبونو کي دا ځانګړتيا او امتياز يوازي اسلام ته تر لاسه دی چي هغه د خپل تصورات او اعتقادات او خپل تعليمات بنياد پر انکار باندي نه بلکه پر اقرار باندي لري يعني هغه په آسماني دينونو کي رقابت يا په رسولانو کي د هيڅ فرق حائل نه کوي هغه د ټولو آسماني کتابونو پر تصديق باندي زور ورکوي او د الله تعالی د لوري د ټولو راليږل سوو رسولانو پر رسالت باندي د ايمان راوړلو تاکيد کوي، د اسلام پر خلاف د نورو مذهبو منونکو اعتقادات او نظريات چي وکتل سي نو په دې خبره سره د پوهېدلو وخت نه لګيږي چي د هغوئ په نزد هيڅ سړی تر هغه وخته پوري د مذهب رېښتوني پيرو او حقيقي تابعدار کيدلای نسي تر څو پوري چي هغه ددې څخه پرته د نورو مذهبونو د اعتقاد او تصوراتو بنيادونه بالکل ختم نه کړي او د نورو رسولانو او پيغمبرانو د رسالت بالکل انکار ونه کړي، اسلام خو د ايمان او اعتقاد څخه مخکي مرحله کي د خپل پيروانو څخه ددې خبري اقرار اخلي چي په دنيا کي څومره رسولان د الله تعالی د لوري د مخلوق د هدايت لپاره راغلي دي په هغوئ کي دي هيڅ ډول فرق ونه کړل سي د هغوئ راوړي شريعتونه د خپل خپل زمانې لپاره حق او واجب التسليم ومنل سي ، هغه خپل منونکي ته د احساس صداقت دا شعور بخښي چي په آسماني مذهبونو کي هيڅ پارټي بندي نسته ټول د يوه صداقت دي او هغه خپل منونکي په واضحه توګه سره خبروي چي د ايمان تکميل هلته کيږي چي د نورو آسماني مذهبونو تصديق هم وکړل سي او د پخواني ټولو انبياء صداقت ومنل سي .
ددغه حديث څخه دا خبره هم څرګنده سوه که يو يهودي يا عيسائي ايمان راوړي او د رسول الله ﷺ د رسالت په زړه په صدق سره اقرار وکړي نو پر خپل نبي باندي د هغه لومړی راوړی ايمان به نه ضائع کيږي بلکه پر هغه به د اجر او ثواب ورو وي مګر که هغه د پيغمبر اسلام ﷺ د رسالت تصديق نه کوي او د هغوئ راوړی شريعت باندي ايمان نه راوړي نو نه يوازي دا چي هغه به ددې کفر او انکا پر بنا د دائمي عذاب مستحق وګرځول سي بلکه د هغه پر خپل لومړني

نبي ايمان راوړل او د هغوئ د رسالت تصديق كول لازم دي ، همداسي عمل او پيروي د پيغمبر اسلام ﷺ د شريعت هم ضروري ده او د خلاصون لار يوازي د اسلام پر اطاعت او فرمانبرداري باندي دی .

د دوهم كس لپاره د دوهم اجر د زيري سبب هم څرګند دی يعني دا چي د يو غلام لپاره نه يوازي په ټولنيز او دنياوي حيثيت دا ضروري ده چي هغه د خپل بادار او مالک اطاعت او فرمانبرداري وكړي او د هغه د احكامو پوره پوره تعميل وكړي بلكه د اسلامي ښوونې غوښتنه هم داده چي هغه د مالک او بادار حقوق ادا كولو كي هيڅ كوتاهي يا سستي ونه كړي هر كله چي يو غلام د خپل بادار د حقوقو پوره كولو پوره پابندي كوي او د حقوقو د ادا كولو ټولي غوښتني پوره كوي او د هغه سره سره هغه د خپل حقيقي بادار او پروردګار رب العالمين د احكامو پر ځای كول هم په پوره توګه سره ادا كوي او د هغه په ټولو فرضونو ادا كولو كي كوتاهي نه كوي نو هغه د دوه برابر اجر او ثواب حق پيدا كوي .

اوس پاته سو دريم سړی، نو هغه هم د دوه برابر اجر وړ په دې وجه ګرځول سوی دی چي لومړی خو هغه يوه مينځه آزاده كړه چي نه يوازي دا چي د انسانيت او فطرت غوښتنه پوره كوي بلكه د اسلامي اخلاق اعلی اصول باندي عمل كول هم دي ، دوهم دا چي هغه د مينځي په آزادولو سره او بيا د هغې سره د واده كولو هغه د انسان همدردي ، اسلامي اخلاق او لوړ اخلاق داسي ثبوت كړ چي يوه داسي ښځه چي په ټولنيز حيثيت سره يوه كمتره او بې حيثيته وه ، نو ده د ښه ترتبيت، اعلی تعليم او بيا د آزادي او واده كولو په لوړ دولت نازولو سره د دنيا عزتمنده او د ټولني شريفو ښځو سره برابره ودرول ، همداسي كه هغه يوې خوا ته د اسلامي تعليم روح يې هم را ژوندی كړل نو د هغه ددغه قرباني په وجه شريعت هغه ته هم د دوه برابر اجر حق ور كړ .

شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله ددغه حديث په وضاحت كولو سره د دوه برابر اجر په باره كي ليكلي دي چي ددغه خلكو په اعمال نامه كي د جزاء او ثواب دا دوه برابر زياتوب به داسي وي چي هغوئ ته به پر هر عمل باندي د نورو په مقابله كي دوه برابر ثواب وركول كيږي، مثلا كه يو څوک لمونځ كوي ، روژه نيسي يا يو بل نيک كار كوي نو هغه ته به د عمومي زيري سره سم لس برابر ثواب وركول كيږي مګر په عمل كولو سره دغه دري كسانو ته به پر هر عمل باندي شل شل ثوابونه وركول كيږي .

د كفارو سره د جګړې حكم

﴿۱۰﴾: وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: قَالَ : رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰى يَشْهَدُوْا أَنْ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ وَيُقِيْمُوْا الصَّلاَةَ وَيُؤْتُوْا الزَّكَاةَ فَإِذَا فَعَلُوْا ذٰلِكَ عَصَمُوْا مِنِّيْ دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلاَّ بِحَقِّ الإِسْلاَمِ وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللّٰهِ . إِلاَّ أَنَّ مُسْلِمًا لَمْ يَذْكُرْ إِلاَّ بِحَقِّ الإِسْلاَمِ . متفق عليه .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :ما ته (د خدای د لوري) داحكم راكول سوی دی چي زه تر هغه وخته پوري د خلګو سره و جنګيږم تر څو چي هغوئ ددې خبري په ژبه او زړه سره اقرار نه وي كړی چي د الله څخه پرته بل معبود نسته او محمد ﷺ دخدای رسول دی او بيا هغوئ لمونځ كوي او زكوة وركوي بيا چي هغوئ داسي كوي نو زما څخه به خپل ځانونه او مالونه خلاص كړي او بيا به پر هغوئ يوازي د اسلام حقوق وي او دهغوئ حساب د خدای پر ذمه دی هغه به يې اخلي او په مسلم كي ددې الفاظو (الا بحق الاسلام) يعني په هغوئ كي به د اسلام حق وي، ذكر نسته . بخاري او مسلم.

تشريح : دا دنيا د الله تعالى حقيقي ملكيت دی هغه ددې مځكي پاچا او د ټولو كائناتو حاكم مطلق دی د هغه پر مځكه د اوسېدو حق هغه چا ته تر لاسه دی چي د هغه حاكميت ته په تسليمولو سره د هغه د قوانينو پيروي كوي، د هغه د احكامو تابعداري كوي ، د هغه د نازل سوي نازل نظام شريعت سره سم ژوند تيروي او د هغه د راليږل سوي رسول اطاعت او فرمانبرداري كوي ، په دې دنيا كي د پيغمبرانود راليږلو اصل مقصد پر مځكه د حقيقي پاچا او حاكم مطلق (الله تعالى) د حاكميت نفاذ كول دي د پيغمبر فريضه وي چي هغه ددين او شريعت په صورت كي د حاكميت الهي كوم عمليات راوړي دي هغه د هري ممكني هڅي په ذريعه خپور كړي ، د خلكو د خپل دين په دائره كي د راويستلو پوره پوره هڅه وكړي او دا خبره يقيني جوړه كړي چي د هغه ددغه هڅي او سعي په نتيجه كي كومه ټولنه جوړه سوې ده په هغې دنيا د يو غير ديني روايت او قانون او د يو سړي او د يو ډلي حكمراني قائمه نسي بلكه يوازي خدايي حكمراني يعني ددين او شريعت حكومت قائم وي او بيا چا ته ددې خبري اجازه نه وي چي هغه ددين او شريعت دښمن جوړېدو سره په هغه ټولنه (اسلامي امارت) كي پاته سي .

كوم خلك چي سركښي اختيار كړي او د خدايي حكمرانانو لاندي د راتلو څخه منكر وي د هغوئ پر خلاف هغه كاروائي وكړل سي چي په يو ټولنه كي د آئين او حكومت د باغيانو پر

خلاف کیږي ، دا حقیقت رسول اللهﷺ په دغه حدیث کي بیان کړی دی چي ما ته الله تعالی حکم کړی دی چي زه د خدائي حکمرانو د باغیانو او ددین او شریعت ددښمنانو پر خلاف تر هغه وخته پوري جنګ جاري وساتم تر څو پوري چي هغوئ خپله سرکښي او دښمني په پرېښودلو سره زموږ په ټولنه (یعني اسلامي امارت) کي د اوسیدو حق تر لاسه نه کړي او هغوئ ته ددې حق تر لاسه کېدو یو ا صورت دادی چي هغوئ د کفر او عناد پر ځای ایمان او اسلام اختیار کړي یعني د زړه په په صدق سره د دې خبري اقرار او په ژبه سره اظهار وکړي چي د الله تعالی څخه پرته بل معبود نسته او محمد ﷺ د الله تعالی رسول دی ، یا په خپل عمل سره دا ثابته کړي چي د هغوئ دغه اقرار او اظهار مخلصانه دی یعني د الله او د هغه د رسول د ټولو حکمونو پیروي وکړي ، په خاصه توګه په پابندي سره لمونځ کوي، زکوة ورکوي او په نورو فرضونو عمل کوي ، دوهم صورت (چي د هغه یادونه په دغه حدیث کي نسته لیکن د نورو ځایو څخه ثابته ده) دادی که هغه خلک د ایمان او اسلام په دائره کي راتلل نه غواړي لیکن په اسلامي ریاست کي خپله هستوګنه جاري ساتل غواړي نو د هغوئ لپاره ضروري ده چي هغوئ په دیني او مذهبي توګه سره نه بلکه په ټولنیز توګه باندي د اسلامي ریاست تابعدار او امن خوښونکي په اوسیدو سره اقرار وکړي چي د هغوئ څخه د هغوئ د جزیې ادا کول په اسلامي حکومت کي د یو غیر مسلم د ټول انساني ټولنیز او ښاري حقوق د تحفظ ضمانت دی ، که یو سړی جزیه ورکول نه غواړي نو د هغه متبادل صورت دادی چي هغه د خپل محکومیت او مغلوبیت اقرار کولو سره د یو خاص معاهدې سره سم د ریاست سره صلح وکړي او په پناه اخیستلو سره په اسلامي ریاست کي اوسي، اسلامي قانون به د خپل خاص رحم او کرم په وجه د هغه د ځان ،مال او عزت د ساتني ذمه داري واخلي .

په هر حال د حدیث شریف څخه څرګنده سوه چي کوم سړی د ایمان او اسلام په دائره کي داخل سي یا په جزیه ادا کولو سره او په پناه اخیستلو سره د اسلامي ریاست اوسیدونکی وي نو د هغه د ځان او مال او د عزت د ساتني ذمه داري به پر ریاست وي او ریاست به د خپل اسلامي قانون سره سم د هغه ټول انساني، ټولنیز او د ښاري حقوقو ساتنه کوي، مګر تر څو پوري چي د قانوني جرمونو ، ټولنیز بې عدالتۍ او بشري خطاو تعلق دی نو د هغوئ څخه به په هر حال کي پوښتنه کیږي، که څه هم د هغه کونکی مسلمان وي یا ذمي که یو څوک په ناحقه قتلوي نو هغه به قصاص کیږي، یا همداسي که یو څوک زنا وکړي نو پر هغه به حد جاري کیږي

او هغه ته به پوره سزا ورکول کيږي، يا د يو چا مال يې په زور واخيستى نو د هغه څخه به د هغه مال خاوند ته ورکول کيږي، لکه د قانون عمل کول چي به په هر حال کي قائميږي، کوم سړی چي بې قانوني وکړي هغه ته به ضرور سزا ورکول کيږي، د اسلامي حقوقو او قوانينو د نفاذ په اړه د يو خاص او رعايت سوال نه پيدا کيږي.

د حديث شريف په آخر کي دې خبري ته هم اشاره وسوه چي شريعت د خپل قانون په نفاذ کي په ظاهري توګه سره حکم کوي او باطن حالت الله تعالى ته سپاري، يعني که يو سړی د سر او مال ساتنه يا د يو غرض په وجه په ظاهره مسلمان جوړ سي او په زړه کي يې کفر او عناد وي نو اسلامي قانون به د هغه مسلماني تسليموي د زړه معامله الله تعالى ته حواله ده، که واقعي د هغه په زړه کي کدورت (چټلي) وي نو په آخرت کي به هغه ته د دغه نفاق سزا يقينا ورکول کيږي هلته به د الهي مؤاخذې څخه خوندي نسي.

دغه حديث شريف د دې مسئلې هم دليل دی چي د ملحدينو او زنديقو توبه قبليدلای سي يعني که ملحد او زنديق دا ووايي چي زه د الحاد او زندقه څخه توبه کوم نو د هغه توبه قبلولو سره د هغه د وژلو څخه به پرهيز کوي.

همدارنګه په دغه مسئله کي ډير قولونه دي، په هغو کي ظاهري قول دادی که يو سړی د الحاد اظهار وکړي او په خپل ژبه دا الفاظ ووايي چي د هغه څخه د هغه منکر کېدل د الله تعالى څخه او منکر کېدل د دين څخه معلوم سي مګر بيا هغه ژر د الحاد او زنديقي څخه بيزاري وکړي او په رضا او شوق يې توبه وکښل نو د هغه توبه به مقبول وي او که د هغه توبه يوازي د ځان خلاصولو لپاره او د اسلامي قانون د سزا څخه د ساتني لپاره وي نو بيا د هغه توبه نه قبليږي.

مسلمان څوک دی؟

﴿ ۱۱ ﴾: وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى صَلاَتَنَا وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا وَأَكَلَ ذَبِيْحَتَنَا فَذٰلِكَ الْمُسْلِمُ الَّذِيْ لَهُ ذِمَّةُ اللّٰهِ وَذِمَّةُ رَسُوْلِه فَلاَ تُخْفِرُوا اللّٰهَ فِيْ ذِمَّتِهِ. رواه البخاري

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي زموږ په شان لمونځ کوي زموږ په شان قبلې ته مخ کوي او زموږ حلال سوی (حيوان) وخوري هغه مسلمان دی او هغه د خدای او د خدای د رسول په عهد او امان کي دی نو (خدای ﷻ چي څوك په خپل امان کي اخيستی دی تاسو د هغه عهد مه ماتوئ. بخاري.

تشريح: اصل ايمان که څه هم د زړه د تصديق نوم دی مګر دا يو دننی کيفيت او قلبي صفت دی

چي د هغه تعلق د باطن سره دی، همداسي اقرار كه څه هم دژبې سره تعلق لري مګر هغه هم يو وختي شی دی نو په دوو دينونو کي څرګند امتياز د هغوئ د بيلو بيلو شعار په ذريعه کيدلای سي ، په اسلامي شعار کي لمونځ کول، او بيت الله شريف ته مخ کولو سره عبادت کول د اهل کتاب په مقابله کي تر ټولو زيات امتيازي عمل دی همداسي په ټولنيز لحاظ سره کوم عمل او طريقه کي چي اهل کتاب مسلمانانو څخه په ښرګند پرهيز کولو هغه د هغوئ ذبيحه وه چي د مسلمانانو ذبحه کړې غوښه اهل کتابو نه خوړل، نو په دغه حديث کي وښودل سول که په عباداتو کي هغوئ زموږ په ډول قبلې ته مخ کول پيل کړي او په ټولنيز لحاظ هغوئ موږ ته دومره نژدې سي چي زموږ د لاس ذبيحه خوړل پيل کړي نو دا به ددې خبري دليل وي چي هغوئ زموږ دين په پوره يقين سره قبول کړی دی او ايمان د هغوئ دغه حد ته رسيدلی دی چي د هغه اظهار نه يوازي دا چي په ژبه سره بلکه د هغوئ د عمل څخه هم کيږي نو اوس مسلمانانو ته پکار ده چي د هغوئ سره هيڅ ډول بد يا خراب چلن ونه کړي ، نه هغوئ ته تکليف ورکړي او نه د هغوئ سره داسي ژوند وکړي چي په هغه سره په هغوئ کي يو ډول بيره يا د زړه ماتېدل پيداسي، د هغوئ سره بد چلن کول په حقيقت کي د الله تعالی د عهد ماتولو او د هغه عهد ماتونکي الزام به پر الله تعالی د عائد کېدو مترادف وي.

جنت ته بيونکي عملونه

﴿ ۱۲ ﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ أَعْرَابِيًّا جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ قَالَ تَعْبُدُ اللَّهَ لَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ وَتُؤَدِّي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ وَتَصُومُ رَمَضَانَ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا شَيْئًا أَبَدًا وَلَا أَنْقُصُ مِنْهُ فَلَمَّا وَلَّى قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا. (متفق عليه).

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي يو صحرايي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ : تاسو ما ته يو داسي عمل راو ښياست چي زه يې وکړم او جنت ته داخل سم نبي ﷺ ورته وفرمايل : د الله عبادت کوه څوك هغه لره شريك مه نيسه ، فرض لمونځ ادا کړه، فرض زکوة ورکړه او د رمضان د مياشتي روژې نيسه ، صحرايي چي دا واوريدل نو وه يې ويل قسم دی په هغه ذات چي د هغه په واك کي زما روح ده زه به ددې څخه نه څه زيات کوم او نه به څه کم کوم، کوم وخت چي هغه سړی ولاړی نو رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د يو جنتي سړي د ليدو خوشحالي تر لاسه کول غواړي نو هغه دي دا صحرايي سړی ووينې . بخاري اومسلم

تشریح : دلته شکلونه پیدا کېدلای سي چي رسول الله ﷺ هغه صحرائي د اسلامي تعليماتو څخه خبر کړ مګر د شهادتين يادونه يې ونه کړه حال دا چي پرته د شهادتينو په جنت کي داخلېدل ناممکن دي ، ددې جواب دادی چي لومړی خو به هغه صحرائي مسلمان وو چي د ايمان راوړلو څخه وروسته په جنت کي د داخلونکي عمل په باره کي يې پوښتنه کول ، دوهم دا چي په دې ټول پوهيږي چي پرته د شهادتين ټول اعمال بيکاره دي او ددې څخه پرته په جنت کي دخول ممکن نه دي ځکه د شهادتين ذکر ضرور ونه ګڼل سو .

دلته يوازي درې فرضونه ذکر سوي دي د پاته فرضونو ذکر ونه کړل سو کوم چي هغه وخت صحرائي پوښتنه کړې وه تر هغه وخته پوري به دا درې شيان فرض سوي وه او پاته فرضونه وروسته مشروع سوي وي، د زياتي او کمي نه کېدو عهد په حقيقت کي د هغه صحرائي د اعتقاد پوخوالی او قلبي تصديق د ټېنګېدو دليل وو ، لکه چي د هغه مقصد دا وو چي زما په زړه کي د ايمان او اسلام لذت او د هغه د حقانيت او صداقت کيفيت او د رسول الله ﷺ د احکامو او فرمان د ساتني دا يه هغه ټينګي او پوخوالی سره وه چي نه خو په هغه پوښتنه د يو ډول د کمي رواه دار دی نو د هغه صحرائي او د يقين هغه کيفيت او هغه د احکام او شريعت د هغه جذبه اطاعت ليدو سره لسان نبوت د هغه مخلص انسان د جنتي کېدو زيری واوروی او اعلان يې وکړ که د چا دا خواهش وي چي جنتي سړی ويني او د يو جنتي په ليدو سره خوښي او سعادت تر لاسه کول غواړي نو دغه سړي ته دي وګوري .

پوره ايمان

﴿ ۱۳ ﴾: وَعَنْ سُفْيَانَ ابْنِ عَبْدِ اللهِ الثَّقَفِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ قُلْ لِيْ فِي الإِسْلَامِ قَوْلاً لاَ أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَدًا بَعْدَكَ وَفِيْ رِوَايَةٍ غَيْرُكَ قَالَ قُلْ آمَنْتُ بِاللهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ . رواه مسلم .	د حضرت سفيان ﷺ څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي د اسلام په اړه ما ته يو داسي خبره وښيه چي ستاسو څخه وروسته زه د هغې په اړه د هيچا څخه پوښتنه ونه کړم په يو بل

روايت کي دي دا الفاظ دي چي بيا ستاسو څخه ماسوا د بل هيچا څخه پوښتنه ونه کړم . رسول الله ﷺ وفرمايل په ژبه او زړه سره ددې خبري اقرار وکړه چي ما په خدای ايمان راوړی او بيا پر دې اقرار ټينګ اوسه. مسلم .

تشریح : يعني تر ټولو لومړی مرتبه خو داده چي د الله تعالی د وحدانيت او د هغه د الوهيت شاهدي وکړي او د هغه پر ذات او صفاتو باندي د زړه په صدق سره ايمان راوړي دا د ايمان

باالله اعتقادي صورت دی او ددې عملي صورت دادی چي الله تعالی د خپل رسول په ذریعه چي کوم شریعت نازل کړی دی د هغه صداقت او حقانیت باندي پوره یقین وساتي او د هغه په قبلولو سره د احکام رسول اطاعت او فرمانبرداري وکړي ، الله او د هغه رسول چي د کوم شي د کولو حکم وکړی په هغه عمل کوي او د کوم شي څخه چي یې منعه وکړه د هغه څخه منعه سي بیا دا چي اعتقاد یو عارضي شی نه وي بلکه پر دې پوخوالي باندي قائم او دائم اوسي او د ژوند په هیڅ یوه لحظه کي ددې څخه مخ کرځول ونه کړي .

د اسلام فرضونه

﴿۱۴﴾: وَ عَنْ طَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللّٰهِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ ثَائِرُ الرَّأْسِ نَسْمَعُ دَوِيَّ صَوْتِهِ وَلَا نَفْقَهُ مَا يَقُولُ حَتَّى دَنَا مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ فَقَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُنَّ فَقَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصِيَامُ شَهْرِ رَمَضَانَ قَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ فَقَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ وَذَكَرَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الزَّكَاةَ فَقَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا فَقَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ قَالَ فَأَدْبَرَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَقُولُ وَاللّٰهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هٰذَا شَيْءٍ وَلَا أَنْقُصُ مِنْهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ (متفق علیه)

د حضرت طلحة بن عبيدالله [1] ﷺ څخه روايت دی چي د نجد یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو د هغه د سر ورېښتان ګډ وډ وه د هغه آواز خو زموږ غوږو ته راتلي خو د هغه په خبره نه پوهیدو . کله چي هغه رسول الله ﷺ ته نژدې سو نو موږ واورېدل چي هغه د اسلام د فرائضو پوښتنه کوي . رسول الله ﷺ (په جواب کي) وفرمایل : په شپه او ورځ کي پنځه لمنځونه فرض دي ،هغه عرض وکړ ددې څخه پرته ایا نور لمنځونه هم فرض دي ؟ رسول ﷺ ورته وفرمایل : نه، خو د نفل کولو تاته اختیار دی ، بیا رسول الله ﷺ ورته وفرمایل او د رمضان د میاشتي روژې (فرض دي) هغه وویل ایا ددې څخه پرته نوري روژې هم پر ما فرض دي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : نه . خو د نفلي روژو تاته اختیار دی، طلحه بن عبیدالله وایي ددې وروسته رسول الله ﷺ د هغه سړي په وړاندي د زکوة یادونه وکړه هغه پوښتنه وکړه ایا ددې پرته نور زکوة هم پر ما فرض دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : نه. خو د نفل

[1] د نوموړي کنیت ابو محمد قریشي وو او لقب یې طلحة الخیر دی ، د (۲۴) کالو په عمر کي په کال (۳۶ھ) کي وفات سوی دی .

خیرات کولو تاته اختیار دی ، د طلحه بیان دی چې ددې وروسته هغه (نجدي) سړی ولاړی او داسې یې وویل: قسم په خدای نه به ددې څخه زیات کوم او نه کم ، ددې په اورېدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل: که دې سړي دا وینا رښتیا کړې وي نو کامیاب سو. بخاري ومسلم.

تشریح : څرنګه چې په مخکې یو حدیث شریف کې تیر سول دلته هم هغه ویل کیږي چې کله هغه سړي پوښتنه کړې وه نو تر هغه وخته پورې هغو مره فرضونه مشروع سوي وای، همداسې وتر او د اختر لمنځونه وغیره به هم واجب سوي نه وای ځکه هغه سړي په هغه کې د زیاتي او کمي نه کولو وعده وکړه ، یا دا ویل کیدای سي چې هغه سړی د یو نمائنده کېدو سره د اسلام حقیقت او فرضونه پېژندلو لپاره راغلی وو چې بیرته ولاړ سي او خپل قوم هم د اسلامي تعلیم او فرضونه څخه خبر کړي، ځکه چې هغه د ستنېدو په وخت کې وویل چې نه خو به زه په دې کې زیاتوب کوم او نه کمي، یعني رسول الله ﷺ چې څه فرمایلي دي یا کوم احکام او فرمان چې یې ورکړی دی هغه به هم هغسې خپل قوم ته ورسوم په هغه کې به د خپل ځان څخه نه څه زیاتي او نه څه کمي کوم.

په اسلام کې د مبلغ مقام

﴿ ۱۵ ﴾:وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ لَمَّا اَتَو رَسُول اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ الْقَوْمُ ؟ اَوْ مَنِ الْوَفْدُ؟ قَالُوا رَبِيعَةَ قَالَ مَرْحَبًابِالْقَوْمِ اَوْ بِالْوَفْدِ غَيْرَ خَزَايَا وَلَانَدَامٰى قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّا لَانَسْتَطِيْعُ اَنْ نَّاْتِيْكَ اِلَّا فِي الشَّهْرِ الْحَرَامِ وَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ هٰذَا الْحَيُّ مِنْ كُفَّارِ مُضَرَ فَمُرْنَا بِاَمْرٍ فَصْلٍ نُخْبِرُ بِهِ مَنْ وَرَاءَنَا وَنَدْخُلَ بِهِ الْجَنَّةَ وَسَاَلُوْهُ عَنِ الْاَشْرِبَةِ، فَاَمَرَهُمْ بِاَرْبَعٍ وَنَهٰهُمْ عَنْ اَرْبَعٍ اَمَرَهُمْ بِالْاِيْمَانِ بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ قَالَ اَتَدْرُوْنَ

د حضرت ابن عباس [1] ؓ څخه روایت دی چې د عبدالقیس د قبیلې یو ډله د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سول ، نو رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دا ډله یا وفد د کومي قبیلې دی؟ هغو وویل موږ د ربیعه د قبیلې څخه یو ، رسول ﷺ وفرمایل :ستا ډلي یا وفد ته دي ښه راغلاست وي نه به تاسو کله رسوا سئ او نه به پښېمانه، هغو خلګو وویل: اې د الله رسوله ! زموږ او ستاسو په منځ کې د مضر قبیلې کفار حائل دي په دې چې موږ ژر ژر نه سو حاضرېدلای یوازې د اشهر حرم (ذیقعده، ذالحجة، محرم او رجب) په

---

[1] د رسول الله ﷺ د سکه اکا حضرت عباس ؓ زوی دی چې د خیر الامت په لقب سره مشهور دی ، د (۷۰) کالو په عمر کې په طائف نامي ځای کې وفات سوی دی.

ماالايمان باالله وحده ؟ قَالُوْا اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ اَعْلَمُ، قَالَ شَهَادَةُ اَنْ لَا اِلَهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ وَاِقَامِ الصَّلَاةِ وَاِيْتَاءِ الزَّكَاةِ وَصِيَامِ رَمَضَانَ وَاَنْ تُعْطُوْا مِنَ الْمَغْنَمِ اَلْخُمُسَ وَنَهٰهُمْ عَنْ اَرْبَعٍ عَنِ الْحَنْتَمِ وَالدُّبَّاءِ وَالنَّقِيْرِ وَالْمُزَفَّتِ وَقَالَ احْفَظُوْهُنَّ وَاَخْبِرُوْابِهِنَّ مَنْ وَّرَآءَكُمْ (متفق عليه) .

مياشتو كي موږ ته د حاضريدو موقع په لاس راځي په دې وجه تاسو موږ ته (د حق او باطل په منځ كي) پريكړه كونكي احكام او هدايات وښياست چي هغه خلك هم موږ اګاه كړو كوم چي موږ په كورونو كي پرې ايښي دي او په هغې عمل كولو سره موږ په جنت كي داخل سو ، ددې وروسته هغه خلګو د څښلو پـــــــه اړه هم لاربښووني و غوښتلې ، نبي كريم ﷺ هغو خلګو ته د څلورو خبرو حكم وركړ او د څلورو خبرو څخه يې منعه كړل، حكم يې وركړ هغوئ ته پر يوه خداى دايمان راوړلو حضرت ورته وفرمايل تاسو پوهيږئ چي پر يو خداى د ايمان راوړلو څه مطلب دى ؟ هغو وويل : الله او د هغه رسول ښه پوهيږي ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : ددې خبري شاهدي وركول چي د خداى څخه پرته بل دعبادت وړ نسته او محمد ﷺ د الله رسول دى او لمونځ كول ، زكوة وركول د رمضان د مياشتي روژې نيول او د غنيمت د مال څخه پنځمه برخه وركول ، بيا نبي كريم ﷺ هغوئ د څلور ډوله لوښو د استعمال څخه منعه كړل يعني : لاك سوې مرتبانه يا منګى، د كدو لوښي، د ونو د بيخو څخه جوړ سوي لوښي او په تيلو وهل سوي لوښو څخه . ددې څخه وروسته نبي كريم ﷺ هغوئ ته وفرمايل دا خبري په ياد لرئ او هغه خلك خبر كړئ كوم چي تاسو وروسته پرې ايښي دي . بخاري او مسلم . (دغه څلور ډوله لوښو څخه په هغه وخت كي د شرابو جوړولو او ساتلو كار اخيستل كيدى نو په دغه سبب يې منعه ځيني فرمايلې وه) .

تشريح : د اسلام آواز چي د مكې او مدينې د چار ديوالو څخه په وتلو سره نورو سيمو ته ورسيدى نو د مختلفو ځايونو او قومونو خلك د وفد په شكل كي د اسلامي لاربښونو حقيقت او د پيغمبر اسلام ﷺ د دعوت صداقت پيژندلو او پوهېدلو لپاره حاضريدل پيل سول ، ددغه وفدونو ديني تعليمات او د اسلامي فرضونو د نبي كريم ﷺ څخه تر لاسه كولو او په خپلو سيمو او قبيلو كي په ستنېدو سره د اسلام تبليغ به يې كوى .

په حديثونو كي د داسي ډير وفدو ذكر راغلى دى چي په ددې لپاره د رسالت په دربار كي حاضر سول او د سلام آواز يې تر ليري ليري سيمو او قبيلو ته رسولو ذريعه جوړل سول، همداسي يو وفد د عبدالقيس دى چي د هغه يادونه په دغه حديث كي كيږي ، عبدالقيس په اصل كي د وفد د مشر نوم وو او د هغه په نسبت سره دا وفد مشهور سو، دغه خلك د بحرين

اوسیدونکي وه او د رسول الله ﷺ په خدمت کي دوه واره حاضر سول ، په لومړي ځل د مکې مکرمې د فتح څخه مخکې په (۵) هجري کال کي چي د هغوئ شمیر ۱۳ یا ۱۴ وو، په دوهم ځل په ۸ ھ یا ۹ ھ کال کي چي د هغوئ شمیر ۴۰ وو، دا هغه وفد دی چي د هغوئ د قبیلې په مسجد کي د مسجد نبوي څخه وروسته تر ټولو لومړی جمعه قائمه سوې ده ، د بخاري شریف روایت دی :

إِنَّ أَوَّلَ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ بَعْدَ جُمُعَةٍ فِي مَسْجِدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَسْجِدِ عَبْدِ الْقَيْسِ بِجُوَاثَى مِنَ الْبَحْرَيْنِ

ژباړه : د مسجد نبوي څخه وروسته تر ټولو لومړۍ جمعه د بحرین په جواثي نامي ځای کي د عبدالقیس په مسجد کي سوې ده .

ددغه وفد د راتلو په اړه نقل دي چي یوه ورځ رسول الله ﷺ خپل صحابه کرامو ته وفرمایل چي تاسو ته اوس یو داسي ډله راتلونکې ده چي په اهل مشرق کي تر ټولو غوره ده . حضرت عمر ؓ د هغوئ د لېدو لپاره ودریدی نو د دیارلسو (۱۳) کسانو یوه قافله ورته را روانه معلومه سوه ، کله چي قافله نژدې راغله نو حضرت عمر ؓ هغوئ ته د رسول الله ﷺ زیری واوروئ او د قافلې سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول، د قافلې د خلکو نظر چي پر نوراني مخ ولګېدی نو ټولو بې تابه رسول الله ﷺ ته ور منډې کړې او د ډیره شوقه یې خپل سامان همداسي پرېښودی د رسول الله ﷺ لاس مبارک یې مچ کړی ، عبدالقیس چي د قافلې امیر وو، که څه هم د لږ عمر وو مګر تر ټولو وروسته پاته سوی وو هغه تر ټولو وړاندي اوښان وتړل بیا خپل صندوق یې خلاص کړ او د سفر جامې یې وکښلې او دوهمه جامه یې واغوستل او بیا په آرامه او وقار سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي په حاضرېدو سره یې د هغوئ ﷺ لاس مبارک مچ کړ، سړی بد شکل وه ، رسول الله ﷺ چي هغه ته وکتل نو هغه عرض وکړ اې دالله رسوله ! د سړي مینه یوازي د هغه د صورت سره نه کیږي بلکه د قدر او قیمت د هغه دوه کوچني اندامونه ښیي چي هغه ژبه او زړه دي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : په تا کي دوه عادتونه دي چي الله تعالی او رسول ته خوښ دي یعني دانائي او بردباري ، هغه عرض وکړ اې دالله رسوله! ایا دغه عادتونه په ما کي پیدائشي دي او که کسبي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : پیدائشي .

ددغه قبیلې خلکو د خپل هیواد څخه مدینې ته د راتلو لپاره د کفار مضر پر قبیله باندي تیریدل وسول، او ددغه قبیلې په اړه ویل کیږي چي هغوئ ډیر جنګیان وه د هغوئ د سیمي

نژدې چي به څوک تيريدى نو د هغوي سره جنګ کول ضروري وه ځکه نو هغه وفد وويل چي زموږ لپاره په عامو ورځو کي ډير مشکل ځکه په وار وار نسو راتللاى يوازي په هغه مياشتو کي راتلاى سو چي په عربو کي اشهر حرام ګڼل کيږي ، د وفد خلکو ته چي د کومو شيانو تعليم ورکړل سو هغه څلور دي : پر الله او د هغه پر رسول باندي ايمان راوړل، لمونځ، روژه، زکوة، د حج ذکر ونه کړل مګر ځينو محدثينو په دغه حديث کي د حج البيت الفاظ هم ذکر کړي دي چي حافظ ابن حجر شاذ ګرځولي دي .

دغه خلکو ته وروسته يو حکم په خاصه توګه ورکړل سو هغه د غنيمت د مال پنځمه برخه ادا کول او هغوئ ته دا حکم ورکړل سوى وو چي دغه خلکو زيات وخت جهاد کوى او د کفارو سره د مقابلې په نتيجه کي به يې د غنيمت مال تر لاسه کوى، د کومو څلورو شيانو څخه چي دغه خلک منعه کړل سوي وه هغه څلور لوښي وه چي د هغو استعمال په هغه ورځو کي منعه وو، په اصل کي هغه خاص لوښي وه چي په عربو کي د شراب جوړلو او شراب اېښودلو لپاره استعمالېدل ، شراب حرام سوي وه ځکه د هغه لوښي د استعمال څخه هم منعه وفرمايل سوه چي په هغه سره د شراب د موجودګی يا د شراب د استعمال شبه پاته نسي، بيا هر کله چي د شرابو حرمت د مسلمانانو په زړونو کي ټينګ سو او د هغه لوښو په اړه دا احتمال پاته نه سو چي دا لوښي په خاصه توګه د شرابو لپاره جوړيږي نو بيا د هغه استعمال رواه وګرځول سو ، نو دا حکم به اوس منسوخ ګڼل کيږي .

د اسلام حکمونه

﴿۱۶﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَوْلَهُ عِصَابَةٌ مِّنْ أَصْحَابِهِ بَايِعُوْنِيْ عَلٰى أَنْ لاَّ تُشْرِكُوْا بِاللهِ شَيْئًا وَّلاَ تَسْرِقُوْا وَلاَ تَزْنُوْا وَلاَ تَقْتُلُوْا أَوْلاَدَكُمْ وَلاَ تَأْتُوْا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُوْنَهُ بَيْنَ أَيْدِيْكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ وَلاَ تَعْصَوْا فِيْ مَعْرُوْفٍ فَمَنْ وَفٰى مِنْكُمْ فَأَجْرُهُ عَلَى اللهِ وَمَنْ

د حضرت عباده [1] ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د صحابه کرامو هغه ډلي ته کوم چي شاوخوا ناست وه وفرمايل : په دې خبره زما سره بيعت وکړئ چي تاسو به د خداى سره هيڅوك نه شريکوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ، خپل اولاد به نه وژنئ (د مفلسى ډ بيري)، پر چا به د ځانه تهمت نه واياست چي درواغ جوړوئ

[1] د مشهورو انصاري صحابه کرامو څخه دى چي په بيعت عقبه اولى او ثانيه کي شريک وو ، د اهل صفه معلم وو، د (۷۲) کالو په عمر کي په کال (۴۳هـ) کي وفات سو .

أَصَابَ مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا فَعُوْقِبَ بِهٖ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا ثُمَّ سَتَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ إِلَى اللّٰهِ إِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ وَإِنْ شَاءَ عَاقَبَهٗ فَبَايَعْنَاهُ عَلٰى ذٰلِكَ . (متفق عليه)

مخامخ (يعني خاى پر خاى) او په نيكو كارونو كي به نافرماني نه كوئ، نو كوم سړى چي په تاسو كي دا عهد پوره كړي د هغه ثواب د الله پر ذمه دى او چا چي ددې خلاف وكړل او په دنيا كي هغه ته ددې سزا وركړل سول نو دا سزا د هغه كفاره ده او چا چي په دې كي د يو خبري خلاف عمل وكړ او خداى ﷻ پر هغه پرده واچول نو هغه د خداى خوښه ده كه يې معاف كوي يا د هغې سزا وركوي ، عباده ﷺ وايي موږ ټولو په دې بيعت وكړ . بخاري او مسلم

تشريح : د اهل سنت والجماعت دا مسلک دى چي جزا او سزا د الله تعالى اختياري افعال دي، يعني كه د يو گناه څخه هغه معافي وكړي نو دا د هغه فضل او كرم دى او كه چا ته د هغه پر گناه سزا وركړي نو دا به د هغه د وصف عدل مظهر وي هغه په خپل خوښي كي بالكل مختار دى څرنگه چي غواړي چا ته چي غواړي بخښنه وكړي چا ته چي غواړي سزا وركړي يعني معتزله وايي چي گناه كار ته سزا وركول او نيكان ته اجر او انعام سره نازول د الله ﷻ لپاره ضروري دي .

د ښځو لپاره نبوي فرمان

﴿۱۷﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيْ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ أَضْحٰى أَوْ فِطْرٍ إِلَى الْمُصَلّٰى فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ فَإِنِّي رَأَيْتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ فَقُلْنَ وَبِمَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيْرَ مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِيْنٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ مِنْ إِحْدَاكُنَّ قُلْنَ وَمَا نُقْصَانُ دِيْنِنَا وَعَقْلِنَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ؟ قَالَ أَلَيْسَ شَهَادَةُ الْمَرْأَةِ مِثْلُ نِصْفِ شَهَادَةِ الرَّجُلِ؟ قُلْنَ بَلٰى قَالَ فَذَالِكَ مِنْ نُقْصَانِ عَقْلِهَا ، قَالَ أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ قُلْنَ بَلٰى، قَالَ

د حضرت ابوسعيد[1] ﷺ څخه روايت دى چي د لوى اختر او يا كوچني اختر په ورځ رسول الله ﷺ عيدگاه ته تشريف راوړ او د ښځو د يو ډلي سره نژدې تيريدو سره يې هغوئ ته وفرمايل: اې د ښځو ډلي! تاسو صدقه او خيرات كوئ ځكه چي ما ته ښودل سوي دي چي په تاسو كي زياتي دوږخياني دي، ښځو عرض وكړ اې دالله رسوله ! ددې سبب څه دى؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو لعنت ډير واياست د خاوند ناشكري كوئ او په تاسو كي يوه هم داسي نسته چي سربيره د كم عقلي او كم ديني يو

[1] د نوموړي اصلي نوم سعد بن مالک بن شيبان دى ، ابوسعيد يې كنيت دى او د خدري په نسبت سره مشهور دى ، په كال (۷۴هـ) كي د جمعې په ورځ د (۸۴) كالو په عمر كي وفات سو .

فَذَالِكَ مِنْ نُقْصَانِ دِيْنِهَا (متفق عليه) . | هوښيار سړی بې عقل نه کړئ ، ښځو عرض

وکړ اې د الله رسوله ! زموږ په دين او عقل کي څه کموالی دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا د يوې ښځي شاهدي د سړي په پرته نيمه شاهدي نه ده ، ښځو عرض وکړ اې دالله رسوله ! دا صحيح ده ، رسول الله ﷺ وفرمايل : دا خو ستاسو د عقل کموالی دی او هر کله چي تاسو د حيض په حالت کي ياست نو نه لمونځ کوئ او نه روژه نيسئ . ښځو عرض وکړ هو . نو رسول الله ﷺ وفرمايل : دا د هغې په دين کي د نقصان وجه ده . بخاري اومسلم .

تشريح : د اسلام په پيل کي به ښځو هم د خلکو سره په مسجد کي لمونځ ادا کوی ځکه د کوچني يا لوی اختر د لمانځه لپاره بيباني عيدګاه ته راتلې هغوئ به بيلې په يو کونج کي ناستي وې او د خطبې آواز به هغوئ ته نه رسيدی ځکه نو ضروري سوه چي د دين احکام او ضروري خبري هغوئ ته ورسول سي نو رسول الله ﷺ هغوئ ته تشريف يوړ او هغوئ ته يې وعظ او نصيحت وفرمايه .

د اکثر ښځو عادت وي چي يو دوې سره کښيني يا ډيري سره يو ځای سي نو د يو بل غيبت د دنيا بدي او نيکي بيانول او لعنت ويل پيل کړي ، نو زيات وخت يې په دغه خرافاتو کي تيريږي ، همدارنګه دا يو لوی نقص هم دی چي په ښځو کي تر سترګو کيږي ، د هغوئ خاوندان د هغوئ د آرام او راحت لپاره څومره تکليفونه تيروي ، څومره په محنت او مشقت سره د هغوئ ضروريات پوره کوي او د هغوئ خوشحاله ساتلو لپاره څومره مصيبتونه پر ځان وړي ، مګر د هغوئ د ژبي څخه هيڅکله هم د خاوندانو شکر نه ادا کيږي هميشه د ناشکرۍ الفاظ يې د ژبي څخه راوځي ، پاته سوه د خاوندانو د نافرمانۍ خبره نو دا خرابي په ښځو کي هم کمه نه ده ، ظاهره ده چي دا ټولي خبري د يو لوی عيب غمازي کوي چي په هغه سره د هغه آخرت تباه کيږي چي هغوئ ته د الله تعالی عذاب مستوجب کيږي ځکه نبي کريم ﷺ د هغوئ د دغه خاص عيب ښودنه وفرمايل او هغوئ ته يې وفرمايل چي په تاسو کي دا ډول خبري دي او تاسو يې معمولي مه ګڼئ بلکه دا هغه ګناهونه دي چي د هغه په وجه به پر تاسو د الله تعالی عذاب وي او تاسو به د الله تعالی په قهر کي راګير سئ او دوږخ ته به واچول سئ او تاسو د دې خبرو په سبب په دوږخ کي ستاسو د ښځو اندازه به د خلکو په نسبت زياته وي نو تاسو صدقه او خيرات کوئ چي يوې خوا ته د هغه په برکت په تاسو کي د دغه خبرو کمی راسي او د دغه عيب در څخه ولاړ سي بلي خوا ته د الله رحمت ستاسو په لور متوجه سي چي ستاسو د ګناهونو بخښنه وسي .

د لعنت کولو معنا داده چي د الله تعالی د رحمت څخه ليري کېدل ، د حديث شريف څخه دا خبره ثابته سوه چي پر چا باندي لعنت ويل ډير بد عمل دی ، د شريعت حکم دی چي يو څوک د يو سړي په ټاکلو سره پر هغه لعنت ويلو باندي په دې وجه دي نسي ويل کيدلای چي کيدای سي هغه ته د ايمان او اسلام توفيق ورکړل سي او هغه د کفر او شرک د لعنت څخه په وتلو سره د الله تعالی د رحمت تر سايې لاندي راسي ، هو کوم سړی چي د کفر په حالت کي مړ سي او د هغه پر کفر باندي مړ کېدل په يقيني توګه سره څرګند سي نو پر هغه باندي لعنت ويل کيدلای سي ، همدارنګه پر خراب کار باندي لعنت ويل کيدلای سي يا داسي ويل کيدلای سي چي پر کفر دي د الله تعالی لعنت وي يا دا چي پر کافر دي د الله تعالی لعنت وي .

په ښځو کي د عقلي کمی يا د هغوئ د ديني نقصان اظهار د ښځو د تحقير (سپکتيا) لپاره هيڅکله نه دی بلکه د قدرت د هغه تخليقي توازن په لور اشاره کولو لپاره دي چي د خلکو او ښځو په منځ کي د بدني او طبعي فرق صنفيت بنياد دی او دا فرق صنفيت په اصل کي د فطرت غوښتنه ده چي د هغه څخه پرته د انساني ذاتي او ټولنيز ژوند اعتدال نسي پاته کېدلای ، خالق کائنات په بدني ، طبعي ، عقلي او ديني توګه سره خلکو ته د ښځي په نسبت چي کوم غوره والي ورکړی دی او د هغه ثبوت د دغه حديث څخه څرګند سو نو هغه د انساني ټولني د اعتدال او توازن برقراري لپاره دی نه دا چي په شرف انسانيت کي د فرق د اظهار لپاره دی ، په شرف کي ښځه او سړی دواړه يو ډول حيثيت لري او د دواړو مساوي درجه ده .

انسان ته سرکښي نه ښائي

﴿۱۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللهُ كَذَّبَنِي ابْنُ آدَمَ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذٰلِكَ وَشَتَمَنِيْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذٰلك فَأَمَّا تَكْذِيْبُهُ إِيَّايَ فَقَوْلُهُ لَنْ يُعِيْدَنِيْ كَمَابَدَانِيْ وَلَيْس أَوَّلُ الْخَلْقِ بِأَهْوَنَ عَلَيَّ مِنْ إِعَادَتِهِ وَأَمَّا شَتْمُهُ إِيَّايَ فَقَوْلُهُ اتَّخَذَ اللهُ وَلَدًا وَأَنَا الأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِيْ لَمْ أَلِدْ وَلَمْ أُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لِّيْ كُفُوًا أَحَدٌ وفي رواية ابن عباس وأما شتمه إِيَّايَ فَقَوْلُهُ لِيْ وَلَدٌ وَسُبْحَانِيْ أَنْ أَتَّخِذَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله ﷻ فرمايلي دي د آدم زوی ما د روغجن کوي او دا کار د هغه سره مناسب نه دی او ما ته بد وايي او دا د هغه سره نه ښايي . او انسان لره زما دروغجن کول دادي چي هغه دا وايي چي خدای زه څنګه پيدا کړی يم د مرګ څخه وروسته مي دغسي هيڅکله نه سي ژوندی کولای حالنکه د هغه په لومړي وار پيداکول ما ته د هغه د دوهم وار پيداکولو په نسبت زيات

صَاحِبَةً أَوْ وَلَدًا . (رواه البخاري) | آسان دي او د هغه بد ويل دادي چي

هغه دا وايي چي خداى ﷻ خپل ځان لره زوى غوره كړى دى حال دا چي زه يوازي يم نه زه د چا پيدا يم او نه زما څخه څوك پيدا دى او نه څوك زما سيال سته او د حضرت عباس ؓ څخه چي كوم روايت نقل دى په هغه كي دا الفاظ دي د انسان ما ته بد ويل داسي دي چي هغه زما په باره كي دا وايي چي د خداى زوى سته حالنكه زه د ښځي يا زوى درلودلو څخه پاك يم . بخاري.

تشريح : كوم خلك چي دا وايي چي قيامت به نه راځي او دا ممكن نه ده چي په يو وار پيدا كېدو سره مړكېدونكو او د دې دنيا څخه د خپل وجود ختمېدونكو ته دوهم وار ژوند تر لاسه سي او د يوې نوي دنيا (آخرت) لپاره دې د هغوئ وجود بيا په عمل كي راسي يا داسي كوم خلك چي د الله تعالى لپاره زوى ثابتوي او دا عقيده لري لكه څرنګه چي عيسايان وايي چي حضرت عيسى ؑ د الله زوى دى يا يهوديانو ويل چي حضرت عزير ؑ د الله تعالى اولاد (زوى) دى، دا په حقيقت كي يوازي د فكر او عقيدې بې لاري كېدل نه دي بلكه د الله تعالى په لور د دروا غو نسبت كول او د هغه پر ذات باندي بهتان تړل دي، د دروا غو نسبت خو په دې اعتبار سره دى چي الله تعالى د خپل ريښتوني كتابونو او پيغمبرانو په ذريعه د قيامت څرګند خبر وركړى دى او ښودلي يې دي چي هر روح لرونكى به مړ كيږي او بيا په آخرت كي په دوهم وار ژوندي كېدو سره به يو نوى ژوند تر لاسه كوي چي ابدي به وي اوس كه يو سړى د قيامت څخه انكار كوي يا د مرګ څخه وروسته ژوند ممكن نه ګڼي نو په اصل كي هغه (نعوذبالله) الله تعالى درواغجن ګڼي چي موږ ته يې د غلطو خبرو خبر راكړى دى ، او همدارنګه دا تصور قائمول او ويل چي كوم سړى د يو ځل پيدا كېدو سره نيست او نابود سوى دى هغه دوهم وار په وجود كي نسي راتلاى ، دا په اصل كي د الله تعالى د قادريت صفت څخه انكار كول دي ، ددغه ناپوهو په عقل كي دا لويه خبره نه راځي چي كوم خالق يو شى د عدم څخه په پيدا كېدو سره د وجود لباس ور اغوستى دى هغه هغه شى هر كله چي د هغه په ماتولو سره خپل قالب ضائع كړى وي دوهم قالب او وجود نسي وركولاى ، محدود قدرت لرونكى انسان هم د يو شى په تخلق كي كه دقت او مشكل محسوسوي نو په لومړي ځل تخليق كي يې محسوسوي هر كله چي د هغه شي دوهم وار جوړول د هغه لپاره دومره مشكل نه دى ، نو بيا لامحدود طاقت او قدرت لرونكى خلاق عالم خپل تخليق ته په دوهم وار وجود وركولو كي څه دقت كيداى سي ، څرګنده دي وي چي د لومړي ځل او دوهم ځل دا تفصيل د انسان د اعتبار څخه محض د پوهېدلو لپاره دى ددې تعلق

د حق تعالى د ذات سره هيڅ كله نه دى هغه خو قادر مطلق دى د يو شي پيدا كول د هغه لپاره نه په لومړي ځل مشكل دي او نه په دوهم ځل.

د الله تعالى په اړه د بد ويلو ذريعه د هغه پر ذات باندي بهتان تړل په دې وجه دي چي هر كله هغه په څرګنده توګه ښودلي دي چي هغه يوازي بې نيازه او بې سياله دى او دا چي نه هغه د چا څخه پيدا دى نو بيا ثوك د هغه زوى جوړول يا هغه ته د چا پلار ويل د هغه پر ذات بهتان نه دي نو نور څه دي، دا د انسان ذهني كموالى او د فكر او خيال د كمزورۍ خبره ده چي هغه د خپل خالق او خپل پروردګار په لور د داسي شيانو نسبت وكړي چي د هغه څخه د هغه ذات پاك او بې نيازه دى.

زماني ته بد مه واياست

﴿۱۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى يُؤْذِيْنِيْ ابْنُ آدَمَ يَسَبُّ الدَّهْرُ وَأَنَا الدَّهْرُ بِيَدِيْ الأَمْرُ أُقَلِّبُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ .(متفق عليه)	د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى فرمايي: د آدم زوى (انسان) زماني ته بد وايي نو ما ته تكليف راكوي حال دا چي زمانه زه يم هر څه زما په واك كي دي زه شپه او ورځ بدلوم را بدلوم. بخاري او مسلم.

تشريح: د جاهلانو عادت دى چي هغوئ د انسانانو خپل پيدا كړي پريشانۍ او مصيبتونه د بدۍ په صورت كي د زمانې او وخت پر سر تپي او په خپل ژبه سره داسي الفاظ وايي چي زمانه خرابه ده، هغه وخت ډير خراب دى، وخت او زمانې ته بد ويل سخته غلطي ده ځكه چي زمانه او وخت خو خو هيڅ شى نه دى، اصل متصرف خو د الله تعالى ذات دى چي د هغه په واك كي د شپې او ورځ ګرځېدل دي او د شپې او ورځ ددغه ګرځېدو نوم زمانه او وخت دى، كه زمانه او وخت په متصرف ګڼلو سره ورته بد وويل سي نو متصرف حق تعالى دى ځكه هغه بدي د الله تعالى طرف ته ګرځي.

د الله ﷻ صبر او تحمل

﴿۲۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى الأَشْعَرِي قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَحَدٌ أَصْبَرَ عَلٰى أَذًى يَسْمَعُهُ مِنَ اللهِ يَدْعُوْنَ لَهُ الْوَلَدَ ثُمَّ يُعَافِيْهِمْ وَيَرْزُقُهُمْ . (متفق عليه)	د حضرت ابو موسى ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د تكليف رسونكو خبرو په اوريدو د خداى ﷻ څخه زيات صبرناك بل ثوك نسته خلك الله لره زوى ګڼي مګر الله هغوئ روغ جوړ لري او هغوئ ته رزق وركوي. بخاري او مسلم.

تشریح : د الله تعالی ذات ددې څخه پاک او لوړ دی چې يو انسان په خپل قول او فعل سره هغه ته تکليف رسول وغواړي نو هغه دي کامياب سي يا يو څوک هغه ته تاوان رسول غواړي نو هغه ته دي تاوان ورسوي ځکه نو دلته دا ګڼل نه دي پکار چې واقعي هغه ته د انسان د قول او فعل څخه تاوان رسيږي او هغه صبر او تحمل کوي او نه ددې حديث مقصد دا خبره څرګندول دي ، اصل مقصد انساني زړه او دماغ او شعور بيداره کول دي چې هر کله د الله تعالی خپل جوړ سوی مخلوق د هغه پيدا کړی انسان د هغه د قدرت د خزانو څخه ګټه اخيستونکي خلک په خپل قول او فعل سره الله تعالی ته د تکليف رسولو سامان تياروي هغه ته د تکليف ورکولو اراده کوي لکه د هغه نافرماني کول د هغه د احکامو او هداياتو او د هغه ددين مخصرې کول او هغه ته د هغه شيانو نسبت کول چې د هغه څخه د هغه ذات بالکل پاک دی مثلاً يو څوک د هغه زوی بلل ، يو څوک د هغه ښځه بلل ، نو دا داسي خبري دي که چيري په دې سره د هغه غضب راوپاريږي نو نه يوازي د هغه خلکو ټول نظام به تباه کړي بلکه پوره کائنات به د سترګو په رپ کي نيست او نابود کړي خو د هغه پرداشت او زغم ته خو وګوري چې هغه پر هر شي د قدرت لرلو سربيره يو انتقامي کاروائي نه کوي د چا رزق او ډوډۍ نه بندوي څوک د ژوند د وسائلو او ذرائعو څخه نه محروم کوي ، څرنګه چې د هغه نيک او فرمانبردار بندګان د هغه د فضل او کرم په سايه کي دي همداسي بدکاره او سرکښان خلک هم د خزانه رحمت څخه پالل کيږي او د هغه د نعمتونو څخه ګټه اخلي .

د توحيد ارزښت

﴿۲۱﴾: وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى حِمَارٍ لَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ إِلَّا مُؤْخِرَةُ الرَّحْلِ فَقَالَ يَا مُعَاذُ: هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ اللّٰهِ عَلَى الْعِبَادِهِ وَ مَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللّٰهِ؟ قُلْتُ اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّ حَقَّ اللّٰهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَحَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللّٰهِ اَنْ لَّايُعَذِّبَ

د حضرت معاذ[۱] ﷛ څخه روايت دی چې يو ځل زه د رسول الله ﷺ سره پر خره شاته سپور وم او زما او د رسول الله ﷺ په منځ کي د زين لرګی وو ، نبي ﷺ وفرمايل : اې معاذ! ايا تاته څرګند ده چې د الله حق پر بندګانو او د بندګانو حق پر الله څه دی ؟ ما وويل الله او د هغه

[۱] د نوموړي کنيت ابو عبد الرحمن دی مګر د معاذ بن جبل په نامه سره مشهور صحابي دی د (۴۸) کالو په عمر کي په کال (۱۸ھ) کي وفات سوی دی .

مَنْ لاَ يُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا ، فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ اَ فَلاَ اُبَشِّرُ بِهِ النَّاسَ؟ قَالَ لاَ تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوْا (متفق عليه)

رسول ښه پوهيږي ، نبي كريمﷺ وفرمايل : پر بندګانو دالله حق دادى چې هغوئ يوازې د هغه عبادت وكړي او هيڅوك د هغه سره شريك ونه نيسي او پر الله د بندګانو حق دادى چې هغه چا ته سزا ورنه كړي كوم چا چې د هغه سره شريك نه دى نيولى. معاذ وايي ددې په اوريدو سره ما وويل : اې دالله رسوله ! ايا زه خلګو ته ددې خبر ورکړم چې په اوريدو سره يې خوشحاله سي . نبي ﷺ وفرمايل : نه په داسي كولو سره به خلك سست سي په دې به تكيه كوي او عمل كول به پرېږدي (حضرت معاذ له دې كبله چې ګناه كار نه سم) د وفات پر وخت دا حديث بيان كړ . بخاري ومسلم.

تشريح : د عربو خرونه زموږ تر آسانو هم زيات تيز او طاقتور دي ځكه نو هلته به د سپرلۍ لپاره خرونه هم استعمالېدل او پر هغوئ به يې سپرتيا كول، ددغه حديث شريف څخه ثرګندېږي چې يو څوک الله تعالى ومنى او د هغه پر ربوبيت او د هغه پر رالېږل سوي رسالت يې ايمان راوړ او د هغه په عبادت كي ورسره څوک شريک نه كړي نو پر هغه به د الله تعالى عذاب نه وي مګر ددې دا مطلب نه دى كه يو سړى پر اللهﷻ او د هغه پر رسولﷺ ايمان راوړ او د كفر او شرك مرتكب نه سو نو پر هغه به د دوږخ اور بالكل حرام سي كه څه هم هغه هر څومره بدعمله او بدكاره وي بلكه ددې دا مطلب دى چې د مشركينو او كفارو په ډول به هغه هميشه لپاره په عذاب كي نه وي او نه به هميشه په دوږخ كي پاته كيږي بلكه د خپلو ګناهونو د سزا خوړلو څخه وروسته به په پاى كي په جنت كي داخل كړل سي .

د دوږخ څخه خلاصون

﴿ ٢٢﴾: وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ رَدِيفُهٗ عَلَى الرَّحْلِ قَالَ يَا مُعَاذُ قَالَ لَبَّيْكَ رَسُوْلَ اللّٰهِ وَسَعْدَيْكَ قَالَ يَا مُعَاذُ قَالَ لَبَّيْكَ رَسُوْلَ اللّٰهِ وَسَعْدَيْكَ قَالَ يَا مُعَاذُ قَالَ لَبَّيْكَ رَسُوْلَ اللّٰهِ وَسَعْدَيْكَ قَالَ مَا مِنْ اَحَدٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ صِدْقًا مِّنْ قَلْبِهٖ إِلَّا حَرَّمَهُ اللّٰهُ عَلَى النَّارِ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَفَلَا أُخْبِرُ بِهِ النَّاسَ فَيَسْتَبْشِرُوا؟ قَالَ إِذًا يَتَّكِلُوا، فَأَخْبَرَ بِهَا مُعَاذٌ عِنْدَ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چې يو ځل رسول اللهﷺ پر سپرلي سپور وو او حضرت معاذ وروسته ورسره ناست وو ، نبي كريم ﷺ معاذ ته مخاطب سو او ورته وه يې فرمايل: اې معاذ! نو معاذ عرض وكړ زه حاضر يم اې دالله رسوله ! ستاسو په خدمت مبارك كي حاضر يم، نبي ﷺ بيا وفرمايل اې معاذ! نو معاذ عرض وكړ زه حاضر يم اې دالله رسوله ! ستاسو په خدمت مبارك كي حاضر يم، نبي كريم ﷺ بيا وفرمايل اې معاذ! نو معاذ عرض وكړ زه حاضر يم اې دالله

مَوْتِهٖ تَأَثُّمًا (متفق عليه). | رسوله! ستاسو په خدمت مبارك كي حاضر يم

نبي ﷺ درې ځله دغسي وفرمايل: كوم سړى چي په رښتوني زړه سره ددې امر شاهدي وركړي چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او محمد د الله رسول دى نو الله پاك پر هغه باندي د دوږخ اور حرام كړى دى، معاذ وايي چي ددې په اورېدو سره ما عرض وكړ اې دالله رسوله! ايا په دې خبره خلك خبر كړم چي هغوئ په دې زيري اورېدو سره خوښ سي، نبي كريم ﷺ وفرمايل: نه. ځكه چي هغوئ دا واوري نو په دې به تكيه وكړي، د وفات په وخت كي معاذ ﷺ د گناه كار كېدو په خيال سره دا حديث بيان كړ. بخاري ومسلم.

تشريح رسول الله ﷺ حضرت معاذ ﷺ په وار وار ځكه مخاطب كړ چي د هغه په زړه او دماغ كي د مضمون ارزښت او عظمت كښيني او هغه پوه سي چي كومه خبره ويونكې ده هغه داسي نه ده چي په سرسري توگه واوريدل سي بلكه د هغه د عظمت غوښتنه ده چي هغه په پوره توجه سره واوريدل سي او د زړه او دماغ بيخ ته ورسيږي.

وفرمايل سول چا چي د الله تعالى د وحدانيت او د رسول د رسالت اقرار د زړه په صدق سره وكړ پر هغه د دوږخ اور حرام سو، مگر يوازي دا تصديق او اقرار د اور د حرمت لپاره كافي نه دى بلكه ضروري ده چي ددې شهادت او تصديق سره سره ددې غوښتني هم پوره كړل سي يعني ددين او شريعت پوره پيروي وكړل سي او د الله تعالى د احكامو او د رسول ﷺ د فرمان فرمانبرداري وكړل سي او دغه شهادت او تصديق چي كوم فرضونه عائد كوي په هغه عمل وكړل سي، همداسي د الله تعالى فضل او كرم به يې د دوږخ د اور څخه وساتي، ځكه حضرت معاذ ﷺ چي د رسول الله ﷺ څخه ددې خبري زيرى عامو خلكو ته د رسولو اجازه وغوښتل نو رسول الله ﷺ ددې فرمايلو سره منعه كړ چي ددې زيري په اوريدو سره به خلك پر دې تكيه وكړي او عمل كول به پرېږدي چي د هغه نتيجه به د الله تعالى عذاب وي يا بيا هغه به تاويل كيږي كوم چي مخكي ذكر سوى دى چي د توحيد او رسالت عقيده د دوږخ د ابدي عذاب څخه د خلاصون ضامن ده يعني څرنگه چي به كفار او مشركين د دوږخ په اور كي هميشه لپاره سوځل كيږي همداسي د توحيد او رسالت باندي ايمان او يقين لرونكي به د دوږخ په اور كي هميشه لپاره نسي اچول كيدلاى په هغوئ كي چي كوم سړي په شريعت عمل نه وي كړى او فرضونه او واجبات يې پوره كړي نه وي نو هغه به تر هغه وخته پوري چي الله غواړي په دوږخ كي وي او كله چي خپل سزا پوره كړي نو بيا به هغه د هميشه لپاره جنت ته وليږل سي.

خاتمه پر ايمان د جنت ضمانت دى

﴿ ۲۳ ﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ عَلَيْهِ ثَوْبٌ أَبْيَضُ وَهُوَ نَائِمٌ ثُمَّ أَتَيْتُهُ وَقَدْ اسْتَيْقَظَ فَقَالَ مَا مِنْ عَبْدٍ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ ثُمَّ مَاتَ عَلَى ذٰلِكَ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ قَالَ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ عَلَى رَغْمِ أَنْفِ أَبِي ذَرٍّ وَكَانَ اَبُوْ ذَرٍ إِذَا حَدَّثَ بِهٰذَا قَالَ وَإِنْ رَغِمَ أَنْفُ أَبِي ذَرٍّ (متفق عليه).

د حضرت ابو ذر[1] ﷛ څخه روايت دي چي يوه ورځ زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم ، نبي كريم ﷺ په دغه وخت كي په سپينه جامه كي بيده وو او زه بيرته ولاړم كله چي دوهم وار راغلم نو رسول ﷺ ويښ سوى وو ، نبي كريم ﷺ چي زه وليدم نو راته وه يې فرمايل : كوم سړى چي (په ربنتوني زړه) لااله الاالله ، ووايي او پر همدې باندي وفات سي نو هغه به جنت ته داخليږي ، ابوذر وايي ددې په اوريدو سره ما نبي كريم ﷺ ته وويل: كه هغه سړى زنا او غلا وكړي نو هم . ما بيا عرض وكړ كه چيري هغه زنا او غلا وكړي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل كه څه هم هغه زنا او غلا وكړي ، ما بيا (دريم وار) عرض وكړ كه څه هم هغه زنا او غلا وكړي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : هو، كه څه هم هغه زنا او غلا وكړي د ابوذر پزه دي په خاورو لړلې وي، كله چي به ابوذر ﷛ دا حديث بيانوى نو د رسول الله ﷺ دا جمله چي (د ابوذر پزه دي په خاورو وي) هم بيانوله . بخاري ومسلم.

تشريح : بيله شكه د الله تعالى ذات بې نيازه دى او د هغه رحمت بې پايه دى د هغه د فضل او كرم څخه هيڅ ليري نه ده چي هغه سړى په جنت كي داخل كړي كوم چي د كبيره گناه كونكى وي مگر د مرگ په وخت كي د هغه زړه په ايمان او يقين سره منور وي، بيا هم محدثين ددغه شريف په تشريح كي ليكي چي د هغه بخښنه او مغفرت به د ايمان پر بناء خو په هر حال وي يعني هغه به په ابدي نجات سره مشرف كړل سي مگر په دنيا كي چي هغه كوم گناهونه كړي وي او د كومو بدو اعمالو مرتكب سوى وي مخكي به د هغه سزا څكي ، ابوذر غفاري ﷛ ته ځكه تعجب كيدى چي هغه په وار وار پوښتني كولې چي ايا يو څوك به محض د الله تعالى په وحدانيت او د هغه د رسول پر رسالت د ايمان او اقرار څخه وروسته جنتي كړل سي كه څه هم هغه د شريعت اطاعت نه وي كړى او د لويو لويو گناهو كونكى وي ، مگر په حقيقت كي د نبوت نظر د الله

[1] د نوموړي اصلي نوم جندب بن جناده دى او د ابوذر غفاري په لقب سره مشهور دى ، په مكه مكرمه كي د اسلام په ابتداء كي په ايمان سره مشرف سو ، په كال (۳۲هـ) كي وفات سوى دى .

وسیع او بې پایه رحمت لیدلو چي لوی لوی سرکښه او بدکاره انسانان چي هغوئ ټول ژوند د الله او رسول د احکامو څخه په سرکښۍ کي تیر کړ چي د هغوئ د عمر هیڅ برخه د شریعت په اطاعت کي تیره نه سو هغوئ په آخر کي ندامت او شرمندګي او د زړه په اخلاص سره توبه وکاږي او د مرګ په وخت کي د هغه توبې او ایمان او یقین په برکت چي په رښتیا او اخلاص سره د هغوئ دننه په دنیا کي یو انقلاب راپورته کړی وو د هغوئ د پوره ژوند سرکښي او بدکاری یې معاف کړې او د خپل فضل او حسان په سایه کي اخیستلو سره یې هغوئ په ابدي خلاصون سره مشرف کړل.

د خلاصون دار او مدار څه دی؟

﴿ ۲۴﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ وَأَنَّ عِيسَى عَبْدُ اللّٰهِ وَابْنُ أَمَتِهِ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ وَ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ حَقٌّ أَدْخَلَهُ اللّٰهُ عَلَى مَا كَانَ مِنَ الْعَمَلِ. (متفق علیه).

د حضرت عباده ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم سړی چي ددې خبري شاهدي وکړي چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نشته او محمد ﷺ د الله بنده او رسول دی، او دا چي عیسی علیه السلام د الله بنده د هغه رسول د هغه د وینزي زوی او د خدای کلمه ده (عیسی علیه السلام ته ځکه کلمه د خدای وایي چي دی په کلمه د کُنْ سره پیداسو)، چي خدای د بي بي مریم د لوري پیداکړ او د خدای را لیږل سوی روح دی (عیسی علیه السلام ته ځکه روح د خدای وایي چي ده به مړي ژوندي کول په ایمان سره) او دا چي جنت او دوزخ حق دي، نو خدای ﷻ به داسي کس جنت ته داخل کړي که څه هم د هغه عمل هر ډول وي. بخاري او مسلم.

تشریح: ددغه حدیث شریف خلاصه داده چي د ابدي خلاصون دار او مدار ایمان او د عقائدو پر اصلاح ده، په دې کي کوتاهي د معافۍ وړ نسي کیدلای مګر هو د اعمالو کمزوري د الله تعالی په رحمت سره معاف کیدلای سي.

د ایمان بنیاد توحید منل او د هغه شاهدي ورکړل دي ځکه تر ټولو مخکي دا ضروري ګرځول سوې ده چي د الله تعالی وحدانیت او د هغه الوهیت او ربوبیت باندي د زړه په صدق سره یقین وکړل سي، بیا ددې څخه وروسته د رسالت درجه ده نو ضروري ده چي د رسول پر رسالت ایمان راوړل سي همداسي د ټولو رسولانو پر رسالت باندي ایمان راوړل هم د خلاصون لپاره ضروري ده.

دلته یوازي د حضرت عیسی علیه السلام یادونه د نبي په توګه هم ده او د یو خاص وجې په وجه هم ، په اصل کي د هغه په باره کي د یوې ډلي (یعني عیسایانو) دا عقیده ده چي عیسی ابن الله (د الله زوی) دی ، ددې باطلي عقیدې د تردید لپاره د هغه ذکر وکړل سو او وضاحت وکړل سو چي عیسی علیه السلام نه خو د الله زوی دی او نه یې په هغه کي حلول کړی دی بلکه هغه د الله تعالی بنده او د هغه رسول دی چي هغه د خپلي یوې مینځي مریم علیها السلام د نس څخه پیدا کړ ځکه هغه ته کلمة الله ویل کیږي چي د هغه زیږېدنه د پلار څخه پرته یوازي د الله تعالی په حکم (د کن په کلمه) سره وسو ، روح الله هغه ته ددې لپاره نه دي ویل سوي دي چي په هغه کي دننه د الله تعالی یو جز یا د الله تعالی روح شامل ده بلکه روح الله د هغه لقب ځکه وګرځول سو چي هغه به د الله تعالی په حکم سره مړي ژوندي کول او د خاورو مرغۍ به یې جوړلو سره په هغه کي ساه پوه کول او هغه به الوتی ، د توحید او رسالت د عقیدې څخه وروسته د آخرت د تصور عقیده هم بنیادي ده یعني په دې خبره ایمان او یقین راوړل چي د مرګ څخه وروسته دوهم وار ژوندي کېدل حق دي او جنت او دوږخ واقعي شیان دي دا هغه عقیدې دي چي د هغو منل د زړه په صدق سره پر هغه ایمان راوړل او په خاص نیت سره هغه تسلیمول د ابدي خلاصون ضامن دي ، د عقیدو منلو سره که په اعمالو کي کوتاهي هم وي نو په دغه صورت کي هم په دې حدیث کي د جنت زیری ورکړی دی مګر تر ټولو پوري چي د مسئلې په اړه دا خبره فیصله ده چي کوم عملي کوتاهي او بدعملي د الله تعالی په رحمت سره معاف نسي نو پر هغه به خامخا سزا ورکول کیږي مګر د سزا پوره کولو څخه وروسته به هغه هم په جنت کي داخل کړل سي ، نو ددې حدیث څخه دا مفهوم اخیستل پکار دي چي که چیري د عقیدو منلو څخه وروسته چا نېه اعمال وکړل د شریعت په پیروي کولو سره ټول احکام یې پر ځای کړل او د شریعت خلاف کار یې ونه کړ نو د عذاب څخه پرته به هغه په جنت کي داخل کړل سي او که چا ددغه عقیدو منلو څخه وروسته نیک اعمال ونه کړل او د شریعت پابندي یې ونه کړل ، د الله جل جلاله او د هغه د رسول د احکامو فرمانبرداري یې ونه کړل نو هغه به د خپلو ګناهونو سزا خوري مګر آخر به په جنت کي داخل کړل سي .

د اسلام په قبلولو سره پخواني ګناهونه بخښل کيږي

﴿ ۲۵ ﴾: وَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ ابْسُطْ يَمِينَكَ فَلْأُبَايِعْكَ فَبَسَطَ يَمِينَهُ فَقَبَضْتُ يَدِي قَالَ مَا لَكَ يَا عَمْرُو قُلْتُ أَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِطَ قَالَ تَشْتَرِطُ مَاذَا؟ قُلْتُ أَنْ يُغْفَرَ لِي قَالَ أَمَا عَلِمْتَ يا عَمْرُو أَنَّ الْإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ وَأَنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهَا وَأَنَّ الْحَجَّ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ (رواه مسلم) وَلحَدِيْثَانِ الْمَرْوِيَّانِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى اَنَا اَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ وَالْاٰخَرُ الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِيْ سَنَذْكُرُ هُمَا فِيْ (بابي الرياء والكبر)

د حضرت عمرو [1] ﷛ څخه روايت دی چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او عرض مي وکړ چي : تاسو خپل لاس راوړاندي کړی چي زه ستاسو په لاس د اسلام بيعت وکړم (يعني اسلام راوړم) رسول الله ﷺ خپل راسته لاس را وړاندي کړ نو ما هغه دم خپل لاس را ايسته کړ . رسول الله ﷺ وفرمايل : عمرو! څه وسول (يعني خپل لاس دي ولي ايسته کړ) ما عرض وکړ زه دا غواړم چي زما (هغه) ګناهونه (چي د اسلام وړاندي ما کړي دي) و بخښل سي، نبي کريم ﷺ وفرمايل : عمرو! ايا تاته څرګند نه ده چي اسلام هغه ټولي خبري (ګناهونه) ليري کوي چي د اسلام څخه وړاندي يې کړي وي ، او هجرت هغه ټول شيان ليري کوي چي د هغه څخه وړاندي يې کړي وي او حج هغه ټول ګناهونه رژوي چي د حج څخه وړاندي يې کړي وي. (مسلم) په مصابيح کي په دې اړه دوه نور حديثونه د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه نقل سوي دي : ويلي دي الله ﷻ چي زه بې پروا يم د شريکانو څخه او د شرك څخه ، او بل دادی چي لويي زما څادر دی چي ژر دی موږ به يې د ريا او کبر په بابونو کي ذکر کړو .

تشريح : يو سړی که د خپل ژوند ډيره برخه په کفر او شرک کي د تېرولو څخه وروسته د اسلام په دولت سره مشرف کيږي نو ايا د هغه د اسلام راوړلو څخه مخکي ګناهونو باندي به نيول وي ، يعني کفر، شرک او ګناه چي د هغه څخه مخکي سوي دي پر هغه به عذاب وي او که يا؟

حديث شريف دا مسئله روښانه کړه چي د اسلام رڼا پخوانۍ تياره که څه هم هغه تياره د کفر او شرک وي يا د ګناه او معصيت تياره وي بالکل ختموي او يوازي د يوې کلمې په برکت چي د زړه په اخلاص سره وويل سي د انسان زړه او دماغ بالکل منور کوي او بيا د شرک د تيارو هيڅ نښه نه پاتيږي او نه پر ګناه او معصيت باندي د عذاب څه پاته کيږي مګر په دې خبره

[1] نوموړی يو مشهور او معروف صحابي دی کنيت يې ابوعبدالله يا ابو محمد بيان سوی دی ، په کال (۴۳هـ) کي وفات سوی دی .

پوهېدل پکار دي چې د بخښنې او معرفت تعلق د ګناهونو سره دی د هغه حقوقو سره نه دی چې پور، امانت، عاريت او رانيولو او پلورلو په اړه د هغه پر ذمه تر او سه پاته وي ځکه چې اسلام د هغه ادا کول نه معطل کوي چې د هغه تعلق د حقوق العباد (د بندګانو د حقوقو) سره دی بلکه د اسلام راوړلو څخه وروسته پر هغه لازمه ده چې هغه غوښتنې پوره کړي کوم چې پر هغه د اسلام راوړلو څخه مخکې واجب سوي وي، البته دد حديث لاندي داسې حقوق العباد راتلای سي چې زناء، غلا او قتل په صورت کې د اسلام د زمانې څخه مخکې ناحق ضائع کړل سوی وو د اسلام څخه وروسته به پر هغه نيول نه وي.

د اسلام په دولت سره د مستفيد کېدو وروسته هم يو مسلمان د انساني غوښتني سره سم په ګناه سره اخته کيدلای سي ځکه نو د هغه دکفارې لپاره په دغه حديث شريف کې حج او هجرت دوه داسې عملونه وښودل سول که دا دواړه کارونه په خپل ټولو شرطونو سره پوره کړل سي نو دا د حقوق الله لپاره کفاره کيږي بلکه د حج په اړه خو دا هم ويل سوي دي چې د الله تعالی په فضل او کرم سره دا د حقوق العباد لپاره هم کفاره جوړيږي او الله تعالی پر دې قادر دی چې د خپل قدرت د خزانو څخه صاحب حق ته د هغه حقوق ورکولو سره هغه بنده ته د خپل حقوق څخه برخه ورکړي او هغه معاف کړي. (ترجمان السنة).

الفصل الثاني

د دين اركان

﴿۲۶﴾: وَعَنْ مُعَاذٍ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ وَيُبَاعِدُنِيْ عَنِ النَّارِ قَالَ لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْ اَمْرٍعَظِيْمٍ وَإِنَّهُ لَيَسِيْرٌ عَلىٰ مَنْ يَّسَّرَهُ اللهُ عَلَيْهِ تَعْبُدُ اللهَ وَلاَ تُشْرِكْ بِهِ شَيْئًا وَّتُقِيْمُ الصَّلاَةَ وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ وَتَصُوْمُ رَمَضَانَ وَتَحُجُّ الْبَيْتَ ثُمَّ قَالَ أَلاَ أَدُلُّكَ عَلَى أَبْوَابِ الْخَيْرِ ؟ اَلصَّوْمُ جُنَّةٌ وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيْئَةَ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ وَصَلاَةُ الرَّجُلِ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ قَالَ ثُمَّ تَلاَ (تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ

د حضرت معاذ ﷺ څخه روايت دی چې يو ځل ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چې تاسو ما ته يو داسې عمل را وښياست کوم چې ما جنت ته بوزي او د دوږخ د اور څخه مې خلاص کړي، رسول الله ﷺ وفرمايل: تا يوه لويه خبره وپوښتل مګر دا پر هغه چا اسانه وي کوم چا ته چې الله ﷻ توفيق ورکړي او دا پر اسانه کړي. نو يوازې د الله ﷻ عبادت کوه د هغه سره ځوک شريك مه نيسه، لمونځ کوه، زکوة ورکوه، د رمضان د مياشتي روژې نيسه، او د بيت الله شريفې حج وکړه، معاذ وايي ددې وروسته رسول

الْمَضَاجِعِ) حَتّٰى بَلَغَ (يَعْمَلُوْنَ) ثُمَّ قَالَ أَلاَ أَدُلُّكَ بِرَأْسِ الأَمْرِ وَعُمُوْدِهِ وَذِرْوَةِ سَنَامِهِ؟ قُلْتُ بَلٰى يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ رَأْسُ الأَمْرِ الإِسْلاَمُ وَعُمُوْدِهِ الصَّلاَةُ وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الْجِهَادُ ثُمَّ قَالَ أَلاَ أُخْبِرُكَ بِمِلاَكِ ذٰلِكَ كُلِّهِ قُلْتُ بَلٰى يَا نَبِيَّ اللهِ؟ فَأَخَذَ بِلِسَانِهِ فَقَالَ كُفَّ عَلَيْكَ هٰذَا فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ وَإِنَّا لَمُؤَاخِذُوْنَ بِمَا نَتَكَلَّمُ بِهِ فَقَالَ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا مُعَاذُ! وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسُ فِي النَّارِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ أَوْ عَلٰى مَنَاخِرِهِمْ إِلاَّ حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ . رواه أحمد والترمذي وابن ماجه

الله ﷺ وفرمایل : ایا زه تا ته د نیکۍ طریقې ونه ښیم (واوره) روژه ډال دی (چي سړی د دوږخ د اور د حملو څخه ساتي) او صدقه ګناهونه داسي رژوي لکه اوبه چي اور وژني او په شپه کي د انسان لمونځ کول ګناهونه روژي ، معاذ وايي ددې وروسته رسول الله ﷺ دا آیت (تتجافی جنوبهم عن المضاجع تر یعملون پوري تلاوت کړ، او ددې وروسته يې وفرمایل : ایا زه تا ته ددې مهمي خبري بنیاد ، ستن او لوړوالی ونه ښیم، ما عرض وکړ چي اې د الله رسوله ! هرومرو. نبي کريم ﷺ وفرمایل : ددې امر بنیاد اسلام دی، ستن يې لمونځ ده او لوړوالی يې جهاد دی، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا زه تــاته ددې ټولو خبرو بنسټ ونه ښیم؟ ما عرض وکړ:هو، نو رسول الله ﷺ خپله مبارکه ژبه ونیول او وه يې فرمایل: ته دا په واك کي ساته، ما عرض وکړ اې د الله نبي! ایا موږ به (د هغو الفاظو لپاره هم) جواب ورکونکي یو کوم چي په خپله ژبه سره وایو؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل : اې معاذ! (موږ دي در باندي بوره سي) خلك به په دوږخ کي د خولې یا پزي له کبله وغورزول سي، یعني دوږخ ته به يې الله تعالی پرمخ وړ واچوي .احمد ، ترمذي او ابن ماجه.

تشریح : په دغه حدیث شریف کي د دین تصور په یو لوی نفسیاتي انداز کي څرګند کړل سوی دی ، مطلب دا چي څرنګه د بدني وجود دار او مدار پر سر وي که چیري سر پرې کړل سي نو وجود هم نه پاته کیږي همداسي ایمان او اسلام یعني د توحید او رسالت عقیده هم د دین لپاره د سر په درجه کي ده که چیري د توحید او رسالت اعتقاد او اقرار لیري کړل سي نو د دین وجود هم نه پاته کیږي ، بیا څرنګه چي د بدني وجود برقرار ساتلو لپاره ستن د لومړني ارزښت خاوند وي همداسي د دين ستن لمونځ دی ، لمونځ هغه بنیادي طاقت دی چي د دین وجود قائم لري که چیري لمونځ لیري کړل سي نو د دین وجود به د خپل أصلي حالت څخه محروم پاته سي او بیا څرنګه چي یو جسماني وجود باعظمت جوړولو او د هغه عظمت او شوکت او پرمختګ او وسعت انحصار دی که جهاد (که هغه په قلم سره وي یا ژبه او یا توره سره وي) د اهل اسلام د ملي وصف څخه لیري کړل سي نو دین به به یو بې شکوه او بې اثره قالب پاته سي .

د حدیث آخري برخه د ژبي سره اړوند پر هغه هدایاتو مشتمل ده چي دین د کمزورۍ او ددیني چټلۍ د د ساتلو لپاره د یو لوی نفساتي نکتې غماز ده ، مطلب دا چي ددین وجود ددین د بقاء او ددین عظمت او شوکت ته د تاوان رسولو ریښه ژبه ده ، ژبه په واک کي ساتل ددین او دنیا د فلاح او خلاصون ذریعه ده او د ژبې بې واکه پرېښودل خپله ددین او دنیا د تباهۍ په لور تلل دي، نو لازمه ده چي ژبه بنده وساتل سي یعني د خولې څخه داسي الفاظ ونه ایستل سي چي د خرابۍ فحش وي، یا د یو چا غیبت کول ، درواغ ویل، الزام ویل او داسي نور دا داسي خرابۍ دي که د هغه څخه د ژبې او ذهن ساتنه ونه کړل سي نو نو پوه سئ چي د دوږخ عذاب په وړاندي دی ، ددین او دنیا خیر غوښتونکی او ابدي خلاصون او سعادت غوښتونکی ځکه پر خپل ژبه واک لري چي معلومه نه ده کله کول لازم سي او بیا د هغه په بدله کي الله تعالی عذاب ورکړي، په حقیقت کي ژبه د سعادت یوه لویه وجه جوړېدلای سي ، هر کله چي د هغه څخه ښه خبري ، د ښېګڼي الفاظ او د وعظ او نصیحت جملې ووځي نو په دنیا او آخرت کي د هغه انسان مرتبه لوړه وي چي د ژبي عظمت او تقدیس په هر حال کي خوندي ساتي ، د بد کلامۍ او بدو خبرو څخه په هر صورت کي پرهیز کوي .

کامل ایمان څه شي دی ؟

﴿۲۷﴾ : وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحَبَّ لِلّٰهِ وَأَبْغَضَ لِلّٰهِ وَأَعْطَى لِلّٰهِ وَمَنَعَ لِلّٰهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الإِيْمَانَ . رواه أبو داود و رواه الترمذي عَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ مَعَ تَقْدِيْمٍ وَتَأْخِيْرٍ وَفِيْهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ إِيْمَانَهُ .متفق علیه

د حضرت ابي امامه [۱] ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چاچي د الله ﷻ لپاره مینه وکړل او د الله ﷻ لپاره یې بغض وکړ او د الله ﷻ لپاره یې ورکړه وکړه او د الله ﷻ لپاره یې بندیز وکړ نو هغه خپل ایمان پوره کړ (ابوداؤد) او په ترمذي شریف کي په الفاظو کي تقدیم او تاخیر دی او د هغه آخري الفاظ دادي : نو هغه یقینا خپل ایمان پوره کړ .

تشریح : مطلب دا چي بنده کوم کار کوي نو خاص د الله تعالی د خوښۍ او د هغه د رضا تر لاسه کولو لپاره یې وکړي ، د هغه هیڅ فعل او عمل په دغه فاسد عمل سره نه وي چي د ریا او ځان

[۱] اصل نوم یې صدي بن عجلان بن حارث دی، مګر په خپل کنیت ابو امامه سره مشهور دی او د باهله د قبیلې د سهم د ښاخ سره یې تعلق درلودی ځکه په باهلي او سهمي سره مشهور دی. په (۸۱هـ) کال کي وفات سوی دی.

ښوونې په غرض وي، مثلاً که هغه د چا سره مينه او تعلق لري يا د يو چا سره عداوت او دښمني کوي نو د هغه بنياد دي يوازې د نفس خواهش يا يو دنيا وي مقصد او غرض نه وي بلکه دا دي ګوري چې د کوم سړي سره مينه کول د الله په نزد غوره دي او د کوم سړي سره نفرت او دښمني کول الله ته مطلوب دي، څرګنده ده چې د الله تعالی نيک او صالح بندګانو سره مينه کول د الله تعالی په نزد غوره دي ځکه نو د هغه چا سره دي مينه او تعلق ساتي چې هغه نيک، صالح، فرمانبردار او مخلص مؤمن وي او د داسي سړي سره بغض او عداوت ساتل الله ﷻ ته مطلوب دي چې سرکښه او نافرمان وي ځکه نو د هغه سره بغض او عداوت کول پکار دي، او د هغه سره دي د ميني تعلق نه قائموي، همدارنګه د خپل مال په مصرف کولو او د نه مصرف کولو په اړه هم د الله تعالی د رضا او خوښي خيال دي ساتي يعني که مصرف کوي نو په داسي ځای کي دي يې خرڅ کړي چيري چې الله تعالی د خرڅ کولو حکم کړی دی او په کوم ځای کي چې خرڅ کول الله تعالی ته مطلوب او خوښه نه وي نو هلته مصرف نه کول نه يوازې دا چې د ثواب کار نه دی بلکه ګناه لازميږي نو هلته د خرڅ کولو څخه دي ځان وساتي، او د يو داسي سړي يا ډلي سره دي مالي مرسته او کومک نه کوي کوم چې د الله تعالی په نزد مقبول او خوښ نه وي دا هغه شيان دي چې د ايمان د تکميل باعث ګرځول سوي دي.

تر ټولو غوره عمل

﴿۲۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الأَعْمَالِ اَلْحُبُّ فِيْ اللهِ وَالْبُغْضُ فِي اللهِ. رواه ابو داؤد.	د حضرت ابوذر ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره عمل دادی چې د الله لپاره مينه وسي او د الله لپاره د يو چا سره بغض وسي.

تشريح: که چيري د بنده احساس دومره لطيف او د هغه جذبه دومره پاکه سي نو څرګنده ده چې په قدم قدم به دغه رڼا د هغه لارښوونه کوي او نتيجه به دا وي چې هغه به د خرابو خبرو او ګناهونو څخه خوندي وي او ښه خبري او نيک کارونه به کوي.

ریښتونی مؤمن څوک دی؟

﴿۲۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ وَالْمُؤْمِنُ مَنْ أَمِنَهُ النَّاسُ عَلٰى دِمَائِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ.رواه الترمذي و النسائي. وَزَادَ الْبَيْهَقِيْ فِيْ شُعْبِ الإِيْمَانِ. بِرَوَايَةِ فَضَالَةَ وَالْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِيْ طَاعَةِ اللهِ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ الْخَطَايَا وَالذُّنُوْبَ .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کامل مسلمان هغه دی چي د هغه د ژبي او لاس څخه مسلمان ساتلی وي او کامل مؤمن هغه دی چي خلگ دی امين وګنيي په وينو او په مالونو خپلو کي . ترمذي او نسائي، او بيهقي په کتاب (شعب ايمان) کي د فضاله څخه چي کوم حديث نقل کړی دی په هغه کي دا الفاظ هم دي (او کامل مجاهد هغه دی چي هغه د خدای په عبادت کي د خپل نفس سره جهاد وکړي او کامل مهاجر هغه دی چي هغه کوچني او لوی ګناهونه پرېږدي) .

تشريح : په صحيح معنا کي مؤمن هغه دی چي د هغه وجود د الله تعالی د مخلوق لپاره د اطمينان او راحت باعث وي د خلکو پر هغه پوره باور او اعتماد وي، د هغه امانت،ؤ ديانت، عدالت ، صداقت، او اخلاق داسي څرګند وي چي نه چا ته د هغه څخه د خپل مال قبضه کولو ېيره وي او نه چا ته د هغه د لوري د خپل ځان او عزت د تاوان انديښنه وي او نه د چا په زړه کي د هغه د لوري يو بل ډول ېيره او خوف وي .

حقيقي مجاهد هغه نه دی چي د دښمن سره جګړه کوي بلکه مجاهد هغه دی چي د خپل نفس اماره سره جهاد کوي او د الله تعالی په لار کي د لوی څخه لوی قرباني وړاندي کولو لپاره او د هغه د اطاعت او فرمانبرداری په خاطر د نفس ټول خواهشات تر پښو لاندي کړي .

همدارنګه حقيقي مهاجر هم هغه دی چي هغه ټول هغه شيان پرې ايښي وي د کوم څخه چي هغه الله تعالی او د هغه رسول منعه کړې ده ځکه د هجرت حکمت دادی چي مؤمن په طاعت الهي کي پرته د يو بنديز څخه مصروف وي او الله تعالی چي کوم شيان منعه کړي دي د هغه څخه ځان وساتي د مهاجر حقيقي شان هم دادی .

د امانت او وعدې پوره کولو ارزښت

﴿۳۰﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَلَّمَا خَطَبَنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلاَّ قَالَ لاَ إِيْمَانَ لِمَنْ لاَ أَمَانَةَ لَهُ وَلاَ دِيْنَ لِمَنْ لاَ عَهْدَ لَهُ .رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت انس ﷜ څخه روایت دی چي ډېر کم داسي پېښ سوي دي چي رسول الله ﷺ زموږ په وړاندي خطبه ویلې وي او په هغې کي یې دا نه یې فرمایلي چي کوم سړی امانت دار نه وي د هغه ایمان پوره نه دی او کوم سړی چي د وعدې پابند نه وي د هغه دین پوره نه دی .بیهقي.

تشریح : امانت، دیانت او د وعدې پوره کول هغه صفتونه دي چي د هغه په هر مسلمان او مؤمن کي راتلل ضروري دي، ددغه صفتونو د ارزښت اندازه ددغه حدیث شریف څخه کیږي چي نبي کریم ﷺ به کله وعظ او نصیحت فرمایه یا خطبه به یې ورکول نو د امانت او دیانت او د وعدې پوره کولو په اړه به یې خامخا تاکید کوی، ځکه چي د مؤمن فطرت د امانت او دیانت په قالب کي جوړ سوی وي په هغه کي دغه صفتونه په فطري توګه سره وي چي د ژوند په هر اړخ کي د نیکۍ او ښېګڼي په لور لارښونه کوي، همدارنګه وعده پوره کول هم د سلیم فطرت او ایمان خاصه ده ځکه وفرمایل سول چي په کوم سړي کي دا صفتونه نه وي نو هغه ددین او ایمان د حقیقي خوند څخه خوند نسي اخیستلای ، مګر بیا هم ددې حدیث مطلب دا نه دی چي د هغه ایمان بالکل ختم دی بلکه ددغه صفتونو د ارزښت او عظمت په وجه د مبالغې څخه کار واخیستل سو او په تاکید سره داسي وفرمایل سول چي د هغه ازرښت په زړونو کي ځای ونیسي :

الفصل الثالث

د همیشني خلاصون ضمانت

﴿۳۱﴾: وَ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ صَامِتٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ النَّارَ .رواه مسلم.

د حضرت عباده ﷜ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي فرمایل یې : کوم سړی چي (په ژبه او زړه سره) ددې امر شاهدي ورکړي چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او محمد ﷺ د الله ﷺ رسول دی نو پر هغه د دوږخ اور حرام دی . مسلم.

د توحید ارزښت

《۳۲》: وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ (رواه مسلم).

د حضرت عثمان [1] ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي مړ سي او په دې یقین لري چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته هغه به جنت ته داخلیږي.

د جنت او دوږخ واجب کونکي خبري

《۳۳》: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثِنْتَانِ مُوْجِبَتَانِ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ما الْمُوجِبَتَانِ؟ قَالَ مَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ وَمَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ. مسلم

د حضرت جابر [2] ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دوې خبري دي چي جنت او دوږخ واجب کوي، یو سړي پوښتنه وکړه کومي خبري دي چي جنت او دوږخ واجبوي، نبي ﷺ وفرمایل: څوک چي د شرک په حالت کي مړ سي نو هغه به دوږخ ته داخلیږي او څوک چي په داسي حال کي مړ سي چي د خدای ﷻ سره څوک شریك نه گڼي نو هغه به جنت ته ځي. مسلم.

تشریح: د دغه حدیثونو مطلب دادی که یو سړي ایمان راوړ او د الله تعالی د وحدانیت او ددې سره سره د رسول د رسالت وعده او اقرار یې وکړ او بیا ددې وعدې او اقرار ټولي غوښتني یې پوره کړې یعني د شریعت او ددین پوره پوره پیروي یې وکړه او بیا پر همدغه عقیدې او طاعت باندې ده ته مرگ راغلی نو هغه یقیني جنتي دی د هغه په خلاصون کي به په څرګنده هیڅ شبه نه وي مگر د ایمان او اسلام څخه وروسته که د هغه څخه د عمل کوتاهي سوې وي یا پر شریعت باندې یې عمل ونه کړ نو خاتمه ئې پر ایمان سول نو د هغه ابدي خلاصون به هم یقیني وي مگر که چیري د هغه څخه په دنیا کي گناه سوې وي پر هغه به په آخرت کي سزا خوري، د سزا څخه

---

[1] حضرت عثمان بن عفان ﷛ د رسول الله ﷺ دریم خلیفه او مشهور او پیژندلی صحابي دی، د رسول الله ﷺ دوې لوڼې پرله پسې د نوموړي په نکاح کي راغلې له دې کبله یې لقب ذي النورین دی، د واقدي د بیان سره سم نوموړی د ذي الحجې پر (۸) نېټه په کال (۳۵ھ) کي د جمعې په ورځ د باغیانو د لاسه په مدینه منوره کي شهید کړل سو.

[2] نوموړی یو مشهور او معروف صحابي دی د پلار نوم یې عبدالله او کنیت یې ابو عبدالله بیان سوی دی، نوموړیٚ د ۹۴ کالو په عمر کي په کال (۶۲ھ) کي وفات سوی دی.

وروسته به د همیشه لپاره جنت ته داخل کړل سي ، ددې څخه څرګندہ سوه چي د ابدي خلاصون دار او مدار پر ایمان دی، که ایمان صحیح وي او په دغه حالت کي مرګ واقع سوی وي نو په ابدي خلاصون کي هیڅ شک او شبه نسته او که پر شریعت باندي عمل ونه کړي ، د الله تعالی او د هغه د رسول د احکامو پیروي یې نه وي کړې نو هغه ته سزا ورکول هم یقیني دي مګر ددې سزا تعلق به تر یو ټاکلي وخت پوري وي ، د سزا ورکولو څخه وروسته به هغه په ابدي خلاصون سره ونازول سي .

د مؤحد لپاره د جنت زیری

﴿۳۴﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: كُنَّا قُعُودًا حَوْلَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ مَعَنَا أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ فِي نَفَرٍ فَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ أَظْهُرِنَا فَأَبْطَأَ عَلَيْنَا وَخَشِينَا أَنْ يُقْتَطَعَ دُونَنَا وَفَزِعْنَا فَقُمْنَا فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ فَخَرَجْتُ أَبْتَغِي رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَيْتُ حَائِطًا لِلْأَنْصَارِ لِبَنِي النَّجَّارِ فَدُرْتُ بِهِ هَلْ أَجِدُ لَهُ بَابًا فَلَمْ أَجِدْ فَإِذَا رَبِيعٌ يَدْخُلُ فِي جَوْفِ حَائِطٍ مِنْ بِئْرٍ خَارِجَةٍ (وَالرَّبِيعُ الْجَدْوَلُ) فَاحْتَفَزْتُ كَمَا يَحْتَفِزُ الثَّعْلَبُ فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ نَعَمْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ مَا شَأْنُكَ قُلْتُ كُنْتَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا فَقُمْتَ فَأَبْطَأْتَ عَلَيْنَا فَخَشِينَا أَنْ تُقْتَطَعَ دُونَنَا فَفَزِعْنَا فَكُنْتُ أَوَّلَ مِنْ فَزِعَ فَأَتَيْتُ هَذَا الْحَائِطَ فَاحْتَفَزْتُ كَمَا يَحْتَفِزُ الثَّعْلَبُ وَهَؤُلَاءِ النَّاسُ وَرَائِي فَقَالَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ وَأَعْطَانِي نَعْلَيْهِ فَقَالَ اذْهَبْ بِنَعْلَيَّ هَاتَيْنِ فَمَنْ لَقِيكَ مِنْ وَرَاءِ هَذَا الْحَائِطِ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ شاوخوا ناست وو او زموږ سره ابوبکر او عمر هم وه چي رسول الله ﷺ زموږ د مینځ څخه ولاړ سو او دباندي ولاړی او هر کله چي یې په راتلو کي ځنډ وکړ نو زموږ سره دا بیره سوه چي خدای مه کړه رسول الله ﷺ ته کوم تکلیف نه وي رسېدلی موږ و بیریدو او د ټولو څخه لومړی سړی زه وم چي په دې بیره کي ولاړ سوم او د رسول الله ﷺ په لټون کي ووتم زه د مبارك ﷺ په لټون کي د بني نجار انصارو باغ ته ورسیدم زه د باغ په څلورو طرفو په دروازې پسي وګرځېدم مګر هیڅ دروازه مي پیدا نه کړه ناڅاپه زما نظر په یو لښتي ولوېدی چي د دباندي څاه څخه دننه باغ ته تللی وو ما ځان را ټول کړ او د لښتي په موری باغ ته ننوتلم رسول الله ﷺ هلته تشریف فرما وو ، رسول الله ﷺ چي زه ولیدم نو وه یې فرمایل : ابوهریرة (ته یې)؟ ما عرض وکړ هو ، نبي کریم ﷺ وفرمایل څه حال دی ستا ، یعني ته ولي راغلې ؟ ما وویل : تاسو زموږ سره ناست واست او بیا ولاړ سواست او

فَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ لَقِيتُ عُمَرُ فَقَالَ مَا هَاتَانِ النَّعْلَانِ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ هَاتَانِ نَعْلَا رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَنِي بِهِمَا مَنْ لَقِيتُ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشَّرْتُهُ بِالْجَنَّةِ فَضَرَبَ عُمَرُ بَيْنَ ثَدْيَيَّ فَخَرَرْتُ لِاسْتِي فَقَالَ ارْجِعْ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ فَرَجَعْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَجْهَشْتُ بُكَاءً وَرَكِبَنِي عُمَرُ فَإِذَا هُوَ عَلَى أَثَرِي فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ قُلْتُ لَقِيتُ عُمَرَ فَأَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي بَعَثْتَنِي بِهِ فَضَرَبَ بَيْنَ ثَدْيَيَّ ضَرْبَةً خَرَرْتُ لِاسْتِي قَالَ ارْجِعْ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ يَا عُمَرُ مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا فَعَلْتَ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي أَبَعَثْتَ أَبَا هُرَيْرَةَ بِنَعْلَيْكَ مَنْ لَقِيَ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشَّرَهُ بِالْجَنَّةِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَلَا تَفْعَلْ فَإِنِّي أَخْشَى أَنْ يَتَّكِلَ النَّاسُ عَلَيْهَا فَخَلِّهِمْ يَعْمَلُونَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَلِّهِمْ. رواه مسلم

په ستنبهدو کي مو څنډ وکړ نو زموږ سره اندېښنه سوه چي کوم تکليف نه وي رسيدلی په دې خيال سره موږ و بيرېدو او د لټولو لوړي سړی زه وم چي په بيره را ولاړ سم او دې باغ ته راغلم زه د ګبدړې په شان دې باغ ته راغلم او هغه پاته خلك په ما پسي را روان دي، نبي کريم ﷺ (د دې په اوربدو سره) ما ته خپل مبارکي څپلۍ راکړې او بيا يې وفرمايل: زما دا څپلۍ يوسه او کوم سړی چي ددې باغ څخه د باندي ويني او هغه ددې خبري (په ژبه او زړه سره) شهادت وکړي چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او په زړه سره يې په دې يقين هم وي نو هغه ته د جنت زيری ورکړه (د باغ د باندي) د ټولو لومړی زما سره حضرت عمر ﷺ يو ځای سو او زما څخه يې پوښتنه وکړه دا څپلۍ در سره څنګه دي ؟ ما ورته وويل : دا څپلۍ د رسول الله ﷺ دي د دې په را کولو سره رسول الله ﷺ دا فرمايلي دي چي کوم سړی ستا سره يو ځای سي او هغه ددې خبري شاهدي وکړي چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او په زړه سره يې ددې يقين هم وي نو زه دې هغه ته د جنت زيری ورکړم (د دې په اوربدو سره) عمر ﷺ زه په سينه (په لاس سره) ووهلم چي زه پر کوناټو پرېوتم (يعني پر شا غوزار سوم) او بيا يې را ته وويل ابوهريرة بيرته ولاړ سه ، زه بيرته راغلم د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او په زوره زوره په ژړا سوم، عمر ﷺ هم په ما پسې وو، (کله چي يې زه په ژړا وليدم) رسول الله ﷺ وفرمايل : ابوهريرة ! ستا څه حال دی ؟ ما عرض وکړ (په لاره کي) زما سره عمر ﷺ يو ځای سو ما هغه د دې خبري څخه خبر کړ چي تاسو زه په امر کړی وم (زما د خبرې په اوربدو سره) هغه زه په سينه کي ووهلم چي پر شا ولوېدم بيا يې ما ته وويل بيرته ولاړ سه ، رسول الله ﷺ (د دې په اوربدو سره) وفرمايل : عمر ! تا داسي ولي وکړل ؟ عمر ﷺ عرض وکړ : اې د الله رسوله ! الله دې

زما مور او پلار تر تا قربان کړي ایا تاسو ابوهريرة ته څپلی د دې لپاره ورکړي وي چي کوم سړی درسره يو ځای سي او د دې خبري شاهدي وکړي چي د خدای څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او په زړه سره یې په دې یقین هم وي نو هغه ته د جنت زيری ورکړه ؟ نبي کريم ﷺ وفرمایل : هو، عمر ﷺ عرض وکړ : اې د الله رسوله ! داسي مه کوئ زما سره بيره ده چي دا خلك به (د دې په اورېدو سره) په دې تکيه وکړي (او سست به سي) دوئ پرېږدئ چي عمل وکړي ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ښه ده، دوئ پرېږدئ چي عمل کوي .مسلم.

تشريح : رسول الله ﷺ چي د جنت کوم زيری د حضرت ابوهريره ﷺ په ذريعه خلکو ته رسول غوښتل د هغه تعلق د توحيد او ايمان بالله کي اخلاص او ټينګوالی سره وو، مطلب دا چي کوم چا په دغه کيفيت سره الله تعالی يو او خپل معبود او پروردګار ومنی او پر همدغه عقيده تر پايه پوري قائم پاته سو چي نه خو هغه په خپل زړه او دماغ کي يو ډول تنګي محسوسوي او نه په دغه عقيده کي د څه شک او شبې ښکار کيږي بلکه د هغه زړه او ذهن او د احساس او فکر دنيا يقين اعتماد او اطمينان سره سمسور وي ، د يو دنياوي مقصد او ګټي يا د ريا او ځان ښوووني او نفاق پر ځای د خلصو او الهي رضا په جذبه او غوښتنه د هغه د ايمان او عقيدې بنياد دی نو داسي سړي به يقينا د جنت د ابدي سعادتونو وړ وي .

پاته سو د حضرت عمر ﷺ سوال چي هغه د رسول الله ﷺ قاصد حضرت ابوهريره ﷺ د هغه زيري د خپرولو څخه ولي منعه کړ او دا چي د هغه رويه د رسول الله ﷺ د حکم په تعميل کي د بنديزاچولو او د ذات رسالت پناه د عظمت د حرمت خلاف طرز عمل اختيارولو برابر وو که يا، نو په دې اړه دا کتل پکار دي چي ددغه زيري تعلق د دين او شريعت د يو حکم او مسئلې نفاذ او خپرېدلو سره وو يا د يو خاص جذبې او احساس د اظهار سره ، ظاهره ده چي هغه د يو مسئلې د مشروعيت خبره نه وه د يو حلال يا حرام حکم بيانول نه وه ، فرض يا واجب نافذ کول نه وه بلکه هغه خو محضي د رحمت دوعالم ﷺ د زيات شفقت او ميني يوه جذبه وه چي د اهل ايمان لپاره بې اختياره راپورته سوې وه او هغه يې د زيري په صورت کي يوه يوه مؤمن ته رسول غوښتل، دغه زيری چي حضرت عمر ﷺ ته ورسيدی نو هغه سمدستي محسوس کړه چي دا زيری پر خپل ځای يو ارزښتناک حقيقت دی مګر د مصلحت غوښتنه داده چي په دغه لومړنی مرحله کي هغه عامو مسلمانانو ته ونه رسيږي او د رسول الله ﷺ په خدمت کي په حاضرېدو سره ددغه حکمت اظهار وکړل سي پر کوم چي د رسول الله ﷺ د زيات شفقت او ميني جذبه غالبه سوې ده ، نو هغه

لو مړنی کار دا وکړ چي حضرت ابوهریره ﷺ یې ستون کړ او بیا سمدستي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو ، د پیښي د پلټني ځخه وروسته هر کله چي دا اطمینان وسو چي حضرت ابوهریره ﷺ د رسول الله ﷺ د لوري مامور وو او رسول الله ﷺ دا زیری ورکړی وو نو هغه د خپل محسن او رسول ده غه کاز د کامیابۍ او د مقصد د پوره کېدو لپاره د یو مخلص او بیداد خادم په حیثیت په خپله مشوزه کي دغه حکمت ته توجه وکړل ، نو په خپله د رسول الله ﷺ ذهن هم په دې لور منتقل سو او رسول الله ﷺ خپله هم فرمایلي وه چي که چیري دا ډول زیری عامو مسلمانانو ته ورسیږي نو هغوئ به پر دې باور کولو سره کښني او عمل کول به پرېږدي، نو رسول الله ﷺ د خپل یو صاحب الرایه مشاویر او مخلص خادم د مشورې قدرداني وکړل او ددغه زیري حکم یې بیرته واخیستی .

په دې کي شک نسته که چیري ددغه زیري پر ځای د یو شرعي حکم د خپرېدو معامله وای یا د یو فرض یا واجب شي د نافذ کېدو خبره وای نو حضرت عمر ﷺ به د هغه په منځ کي د خنډ جوړېدو هیڅکله جرئت نه وای کړی او نه به هغه حضرت ابوهریره ﷺ په ستنولو سره د هغه خپرېدل بندولای ، بلکه د یو ریښتوني او مخلص مؤمن او فرمانبردار په حیث تر ټولو مخکي به یې هغه قبول کړی وای او د هغه فرمان په خپرېدو کي به په خپله لګیدلای وای، او که چیري حضرت عمر ﷺ په داسي معامله کي هم هغه رویه اختیارولای نو بیا د رسول الله ﷺ په خدمت کي به نه هغه ددغه رویې ځخه ستر ګي پټولای او نه به د هغه یو مشورې او رایې ته د ارزښت او قبولیت درجه تر لاسه کیدلای ځکه په دیني احکامو او شرعي هدایاتو کي نه د یو مشورې ځای وي او نه د چا رایه او مشورې ته ارزښت ورکول کیږي ، نو دا خبره چي رسول الله ﷺ د حضرت عمر ﷺ ته ارزښت ورکړ او د هغه مشوره یې قبوله کړه خپله ددې خبري رد عمل دی چي د هغه مذکوره رویې سره نه د هغوئ پر شان صحابیت باندي ځه فرق راغلی او نه د رسول الله ﷺ حکم عدولي وسول، ددې حدیث ځخه که یو ځوک داسي خبره ثابتوي نو دا د هغه خپله ناپوهي ده بلکه حقیقت خو دادی چي په دغه حدیث کي د یوې خوا ځخه د الله تعالی د بې پایه رحمت او د امت لپاره د رسول الله ﷺ د زیاتي میني او شفقت اظهار کیږئ نو بلي خوا ته د حضرت عمر ﷺ اصابت رایه هم او فراست او بصیرت او دانائي کي د هغوئ صاف ګوئي او د اظهار خیال جرئت باندي هم رڼا لویږي چي د هغه ځانګړی صفت دی .

د جنت کیلي

﴿ ۳۵ ﴾ : وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَفَاتِيْحُ الْجَنَّةِ شَهَادَةُ اَنْ لاَّ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ . رواه أحمد .

د حضرت معاذ ﷺ څخه روایت دی چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل: د جنت کیلیاني د دې خبري شاهدي ورکول دي چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته .

د توحید کلمه د خلاصون ذریعه

﴿ ۳۶ ﴾ : وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ اِنَّ رِجَالاً مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ تُوُفِّيَ حَزِنُوْا عَلَيْهِ حَتّٰى كَادَ بَعْضُهُمْ يُوَسْوِسُ قَالَ عُثْمَانُ وَكُنْتُ مِنْهُمْ فَبَيْنَا أَنَا جَالِسٌ مَرَّ عَلَيَّ عُمَرَ وَسَلَّمَ فَلَمْ أَشْعُرْ بِهِ فَاشْتَكٰى عُمَرُ اِلٰى اَبِيْ بَكْرَ ثُمَّ اَقْبَلاَحَتّٰى سَلَّمَا عَلٰى جَمِيْعًا فَقَالَ اَبُوْبَكْرُ مَا حَمَلَكَ عَلٰى اَنْ لاَّ تَرُدُّ عَلٰى اَخِيْكَ عُمَرَ سَلاَمَهُ؟ قُلْتُ مَا فَعَلْتُ ،فَقَالَ عُمَرُ بَلٰى وَاللهِ لَقَدْ فَعَلْتَ، قَالَ قُلْتُ وَاللهِ مَا شَعَرْتُ اَنَّكَ مَرَرْتَ وَ لاَ سَلَّمْتَ، قَالَ اَبُوْبَكْرِ:صَدَقَ عُثْمَانُ قَدْ شَغَلَكَ عَنْ ذَالِكَ اَمْرٌ، فَقُلْتُ اَجَلْ قَالَ مَاهُوَ؟ قُلْتُ تُوُفِّيَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ نَبِيَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ اَنْ نَسْأَلَهُ عَنْ نَجَاةِ هٰذَا الأَمْرِ، قَالَ أَبُوْبَكْرِ قَدْ سَأَلْتُهُ عَنْ ذٰلِكَ فَقُمْتُ اِلَيْهِ وَقُلْتُ لَهُ بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ أَنْتَ أَحَقُّ بِهَا قَالَ أَبُوْبَكْرِ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا نَجَاةُ هٰذَا الأَمْرِ فَقَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قَبْلِ مِنِّيْ الْكَلِمَةَ الَّتِيْ عَرَضْتُ عَلٰى عَمِّيْ فَرَدَّهَا فَهِيَ لَهُ نَجَاةٌ . رواه أحمد .

د حضرت عثمان بن عفان ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په وفات سره ځیني صحابه کرام ډیر غمجن وه، او د ځیني په زړو کي (ډول ډول) وسوسې پیداکېدې او زه هم په دغه خلګو کي وم (په دې حال کي) ناست وم چي عمر زما په خوا کي تیر سو او ما ته یې سلام ادا کړ مګر زه خبر نه سوم ، عمر ﷺ زما ددې بې پروایي ابوبکر ﷺ ته شکایت وکړ ، بیا دواړه ما ته راغلل او دواړو ما ته سلام ادا کړ د دې وروسته ابوبکر ﷺ وویل . عثمان ! څه خبره ده تا د خپل ورور عمر د سلام جواب ولي ور نه کړ ؟ ما ورته وویل : ما خو داسي نه دي کړي ، عمر وویل : قسم په خدای تا داسي کړي دي ، ما ورته وویل : په خدای دې مي قسم وي نه خو زما ستا په دې لور تلل یاد دي او نه مي ستا سلام کولو ته خیال سوی دی ، ابوبکر وویل : (اې عمر!) عثمان رښتیا وایي ته یو شغل د سلام د جواب ورکولو څخه منعه کړی وې ، ما ورته وویل : هو، ابوبکر ﷺ پوښتنه وکړه ته په کوم خیال کي وې ؟ ما ورته وویل : الله ﷻ خپل نبي وفات کړ د دې څخه وړاندي چي موږ د هغه څخه د دې خبري (یعني د خطرو او وسوسو) څخه د خلاصون لار معلومه کړو ، ابوبکر ﷺ وویل : ما په دې اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کړې ده (د دې په اوربدو

سره) زه ولاړ سوم او ورته وه مي ویل : زما مور اوپلار دي تر تاسو قربان وي تاسو د دې خبري د پوښتني کولو په هر ډول حقداره واست ، ابوبکر ﷺ وويل : ما (یوه ورځ) رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! د دې خبري څخه د خلاصون څه ذریعه ده ؟ نو رسول الله ﷺ راته وفرمایل : کوم سړی چي زموږ څخه دا کلمه قبوله کړي کومه چي ما د خپل اکا ابوطالب په مخکي وړاندي کړې وه او هغه د دې د قبلولو څخه منعه کړې وه نو دا کلمه د هغه د پاره د خلاصون ذریعه ده . (احمد)

تشریح : د توحید کلمې دا فضیلتونه او برکتونه دي چي کړم سړی دغه کلمه د زړه په صدق سره او په پخه عقیدې سره قبوله کړي او ددې غوښتني پوره کولو سره ددین په فرضونو عمل وکړي نو دا کلمه به په آخرت کي د هغه د خلاصون ضامن وي او کلمه ویونکی به ددې د برکتونو په وجه ونازول سي ، که ددې کلمې ورد (وظیفه) وکړل سي او زیاته وویل سي او په پابندي سره ددې ذکر وکړل سي نو په دنیا کي به هم ددې په برکت داسي څرګند سي چي ددغه کلمې د برکته به په فکر او خیال او عمل باندي شیطان ته تسلط نه تر لاسه کیږي چي نه به یې وهمونه او وسوسې پیدا کیږي نه به دلمانځه او عبادت په دوران کي خیالات خرابیږي او نه به په زړه او دماغ کي شکونه او شبهې پیدا کیږي بلکه ددغه مبارک ذکر په وجه به د الله تعالی معرفت ورته تر لاسه کیږي ، د آخرت سره به یې مینه او د رسول الله ﷺ سره به یې د میني او تعلق یو خاص کیفیت پیدا کیږي .

ټولي نړۍ ته د کلمې رسېدو وړاندوینه

﴿۳۷﴾ : وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا يَبْقٰى عَلٰى ظَهْرِ الْأَرْضِ بَيْتُ مَدَرٍ وَّلَا وَبَرٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ اللّٰهُ كَلِمَةَ الْإِسْلَامِ بِعِزِّ عَزِيْزٍ وَ ذُلِّ ذَلِيْلٍ إِمَّا يُعِزُّهُمُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ فَيَجْعَلُهُمْ مِنْ أَهْلِهَا أَوْ يُذِلُّهُمْ فَيَدِيْنُوْنَ لَهَا، قُلْتُ فَيَكُوْنُ الدِّيْنُ كُلُّهُ لِلّٰهِ. رواه أحمد.

د حضرت مقداد[1] ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چي فرمایل یې : د مځکي پر مخ به هیڅ یو خام کور، یا دخیمو کور پاته نه سي چي په هغه کي به د اسلام کلمه داخله نه سي ، الله به دا کلمه (په هر کور کي) عزتمند لره په عزت وزکولو سره او ذلیل لره په ذلت ورکولو سره داخله کړي یعني الله چي څوک

[1] - نوموړی په مقداد بن اسود کندي نامه سره مشهور دی او د مخکنیو اسلام راوړونکو څخه دی ، د مدینې منورې څخه په درې میله فاصله سره په حرف نامي ځای کي د (۷۰) کالو په عمر وفات سو ، ده مبارک مړی د هغه ځای څخه راوړل سو او په جنت البقیع کي دفن کړل سو .

عزت مند کړي هغوئ به د دې کلمې اهل وي او چا ته چې ذلت ورکړي نوهغوئ به د دې کلمې ماتحت وي ، ما وویل نو سي به دین خاص خدای ﷻ لره . احمد

د جنت کیلي

《۳۸》: وَعَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ قِيْلَ لَهُ أَلَيْسَ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ لَيْسَ مِفْتَاحٌ إِلاَّ لَهُ أَسْنَانٌ فَإِنْ جِئْتَ بِمِفْتَاحٍ لَهُ أَسْنَانٌ فُتِحَ لَكَ وَإِلاَّ لَمْ يُفْتَحْ لَكَ . رواه البخاري في ترجمة باب .(متفق عليه)

حضرت وهب بن منبه [1] ؓ ته وویل سول : ایا لااله الاالله د جنت کیلي نه ده ؟ (یعني جنت ته د تلو لپاره یوازي دا اقرار بس نه دی) هغه ورته وویل : هو ، مګر هیڅ کیلي داسي نه وي چي په هغې کي غاښونه نه وي . که ته غاښو والا کیلي راوړې نو د جنت دروازه به ستا لپاره خلاصه سي او که د غاښو والا کیلي را نه وړې نو دروازه به خلاصه نه سي . بخاري او مسلم .

تشریح : د (مځکي) ځخه مراد جزیره عرب ده، همداسي د خاوري او د خیمې د کور ځخه مراد د جزیره عرب ښار او کلی دی یعني په ټول عرب کي به یوازي د یو دین اسلام کلمه لوړه وي او یوازي د دې تابعین به د عرب پر مځکه وي ، داسي یو ځای که په ښار کي وي او که په کلي کي وي داسي پاته نه سي چي هغه ته به د الله تعالی د اسلام کلمه ونه رسیږي ، که یو سړی په خوښي او شوق سره ایمان راوړي او اسلام قبول کړي نو د الله تعالی په نزد به د هغه مرتبه لوړه سي او الله تعالی به په دنیا او آخرت دواړو کي هغه په عزت او شرف سره ونازوي ، مګر کوم خلک چي غرور او سرکښي اختیار کړي یعني د دې کلمې په قبلولو سره د اسلام په دائره کي داخل نسي او په رضا او شوق سره د دین تابعدار نسي نو هغوئ به د ذلت طوق خپل غاړې ته اچوي ، په داسي توګه چي پر ټول جزیره عرب باندي به د دین اسلام عمل کول راسي نو هغه کافر او سرکښ خلک به د جزیې (محصول) ادا کولو په صورت کي د اسلامي حکومت تابعدار کېدو باندي مجبوز وي، او دا به یوازي په دنیا کي نه وي چي الله تعالی هغوئ بې حیثیته جوړ کړي بلکه په آخرت کي به هم هغوئ د خپل رحمت ځخه لیري کړي او په سخت عذاب کي به یې په اخته کولو سره ذلیل او خوار کړي.

---

[1] - وهب بن منبه تابعي دئ کنیت یې ابو عبدالله دی په کال (۱۱۴ه) کي وفات سو .

د نیکۍ اجر

﴿۳۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا أَحْسَنَ أَحَدُكُمْ إِسْلَامَهُ فَكُلُّ حَسَنَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ لَهُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ وَكُلُّ سَيِّئَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ بِمِثْلِهَا حَتَّى يَلْقَى اللّٰهَ (متفق علیه)

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم سړی چي خپل اسلام راوړل ښه جوړ کړي (یعني د اسلام کارونه په صدق او اخلاص سره ادا کوي) نو د هغه د هري نیکۍ اجر په لس چنده ولیکل سي تر دې چي د هغه یوه نیکي به د اوو سوو نیکیو برابره وي او هره بدي به په خپل مثل (یوچند) ولیکل سي تر دې چي هغه د خدای ﷻ سره یو ځای سي. بخاري ومسلم.

تشریح: دا امت چي الله تعالی په خپل فضل او کرم او په خاص احسان سره په کومو خاصو انعامونو سره نازولی دی په هغو کي یو ډیر لوی انعام دا هم دی چي هر کله یو مخلص او صادق مؤمن نیک عمل کوي نو د الله تعالی بې شمیره رحمت د هغه پر اجر یوازي د هغه د عمل په اندازه ثواب ورکولو باندي اکتفاء نه کوي بلکه د هغه په ډول د لسو عملونو ثواب هغه ته ورکول کیږي او پر هغه لس کیږي نه بلکه څومره چي په ایمان کي صدق او استقامت او په عمل کي اخلاص او نیک نیت زیاتیږي په هغه اندازه اجر او انعامونه هم زیاتیږي، پر یو نیک عمل باندي تر اووه سوه پوري بلکه ددې څخه هم زیات اجر ورکول کیږي بلکه په ځیني حالاتو کي خو دا زیاتوب د سوونو او زرګونو د شمیر څخه زیاتوب کوي، لکه چي ویل کیږي که یو څوک په حرم شریف کي یو نیک عمل وکړي نو د هغه مقدس ځای په برکت د هغه عمل تر یو لک پوري لیکل کیږي، ددې پر خلاف که یو د یو مؤمن څخه د بشریت په غوښتني یو بدي وسي نو د هغه ګناه زیاتوب نه لیکل کیږي بلکه څومره بدي چي ځیني سوې وي بس هغومره ګناه یې لیکل کیږي، د الله تعالی ددغه احسان او کرم که هر څومره شکر ادا کړل سي نو بیا هم کم دی.

د ایمان عظمت

﴿۴۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا الإِيْمَانُ؟ قَالَ إِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ وَسَاءَتْكَ سَيِّئَتُكَ فَأَنْتَ مُؤْمِنٌ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَمَا الإِثْمُ؟ قَالَ إِذَا حَاكَ فِيْ نَفْسِكَ شَيْءٌ فَدَعْهُ. رواه احمد.

د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روایت دی چي یو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ایمان څه ته وایي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هر کله چي ستا نیکي تا ته ښه خرګنده سي او ستا بدي تا ته بده محسوس سي نو بیا ته مؤمن یې، بیا

هغه پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! ګناه څه شي ده ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هر کله چي يو شى ستا په زړه کي شك پيدا کړي او مشتبه درته معلوم سي نو هغه پرېږده . احمد.

تشریح : د پوښتني مقصد دا وو چي يو داسي څرګنده نښه وښودل سي چي د هغه په ذريعه د ايمان د سلامتۍ او استقامت اندازه ولګول سي نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل که ته په ځان کي دغه کيفيت وويني چي کله ته يو نيک کار کوې نو ستا زړه او دماغ د هغه کار خير خپله محسوس کوي او يو ډول اطمينان تر لاسه کوې ، د احسان او شعور د الله تعالى د لوري د نيکۍ توفيق او مرسته تر لاسه کېدو باندي خوښي او د الله تعالى د رضا او قربت اميدواره کېږې يا دا چي هر کله د بشريت په غوښتنه ستا څخه يو داسي کار صادر سي چي په څرګنده توګه د ګناه او معصيت کار ګڼل کېږي نو سمدستي ستا په زړه کي د الله تعالى بيره پيدا سي او د پروردګار د نارضاګۍ احساس کولو سره شرمناک او پښيمان کېږې نو پوه سه چي ايمان ستا په زړه او دماغ کي ځاى سوى دى او ته پوخ مؤمن سوى يې ځکه چي د نيکۍ او بدۍ په مينځ کي فرق نه کول او د ثواب او ګناه احساس او شعور پيدا کېدل يوازي د ايمان خاصه ده ، د اخروي جزا او سزا عقيده چي د مؤمن په زړه کي وي هغه د غير مؤمن په زړه کي نه وي .

د دوهمي پوښتني اصلي مقصد دا وو چي مؤمن ته په خپل ورځني ژوند کي ځيني داسي شيانو سره تعلق کېږي چي د هغه په اړه په څرګنده توګه باندي علم نه وي چي ايا دا شى د شريعت په نظر د بدۍ په حکم کي دى او په هغه سره يو ګناه لازمېږي يا د هغه په اختيارولو کي بدوالي نسته ، نو د داسي شکمن عمل د بدۍ يا نيکۍ پيژندلو نښه څه ده ؟ ددې په جواب کي رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادى چي د ريښتوني مؤمن زړه په اصل کي د فطرت يو داسي پاک لوح دى چي پر هغه يوازي د اسلامي اطاعت او فرمانبردارۍ او د نيکۍ او ښېګڼې نقشونه راتللاى سي که د ګناه او معصيت معمولي داغ هم ور ورسيږي نو هغه ته هيڅ ځاى نسي تر لاسه کيدلاى او هغه د تردد او شبهې په صورت کي ګرځي راګرځي، بيا د کوم عمل او شي په اړه چي دا کيفيت څرګند سي چي فطرت سليم د هغه قبلولو ته نه تيارېږي نو زړه د هغه بار محسوس کوي او په دماغ کي تردد پيدا کړل سي نو پوه سه چي هغه عمل د بدۍ خاوند دى او ګناه او معصيت لازمونکى دى او خلاصون په دکي دى چي هغه شى سمدستي پرېښودل سي ، همدا وجه ده چي ارباب باطن او اولياء الله د زړه او دماغ د صفائي او پاکوالي په وجه د يو عمل پټه بدي هم پيژني او هيڅ يو داسي شى ځان ته نژدې نه پرېږدي چي د ګناه او معصيت د بوي

ذرې شبه هم لري، د هغوئ په نزد د (مشتبه عمل) څخه هم د هغه درجې پرهيز كوي كوم پرهيز چې هغوئ د ځرګند بد عمل څخه كوي ځكه چې د هغوئ زړه او دماغ او د بدن شائبه هم پيژني او هغوئ ته د زړه اطمينان او د عمل خوښي يوازې په هغه صورت كې تر لاسه كيږي هر كله چې د هغوئ هيڅ يو قدم د سيده لارې څخه آخوا سوى نه وي او د هغوئ هيڅ يو كار د دين او شريعت مخالف نه وي.

د ايمان او اسلام خبرې

《۴۱》: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ قَالَ أَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَنْ مَّعَكَ عَلَى هٰذَا الأَمْرِ؟ قَالَ حُرٌّ وَّعَبْدٌ، قُلْتُ مَا الإِسْلَامُ؟ قَالَ طِيْبُ الْكَلَامِ وَإِطْعَامُ الطَّعَامِ، قُلْتُ مَا الإِيْمَانُ؟ قَالَ اَلصَّبْرُ وَالسَّمَاحَةُ، قَالَ قُلْتُ أَيُّ الإِسْلَامِ أَفْضَلُ؟ قَالَ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، قَالَ قُلْتُ أَيُّ الإِيْمَانِ أَفْضَلُ؟ قَالَ خُلُقٌ حَسَنٌ، قَالَ قُلْتُ أَيُّ الصَّلَاةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ طُوْلُ الْقُنُوْتِ، قَالَ قُلْتُ أَيُّ الْهِجْرَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ أَنْ تَهْجُرَ مَا كَرِهَ رَبُّكَ، قَالَ قُلْتُ فَأَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ؟ قَالَ مَنْ عُقِرَ جَوَادُهُ وَأُهْرِيْقَ دَمُهُ، قَالَ قُلْتُ أَيُّ السَّاعَاتِ أَفْضَلُ؟ قَالَ جَوْفُ اللَّيْلِ الآخِرِ رواه أحمد

د حضرت عمرو[1] ﷺ څخه روايت دى چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر سوم او عرض مې وكړ اې د الله رسوله! ستا سره (د اسلام په پيل كې) په دې (دين) كې څوك وو؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل: يو آزاد (سړى) او يو غلام (يعني ابوبكر صديق ﷺ او حضرت بلال ﷺ) بيا ما پوښتنه وكړه اسلام څه ته وايي؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل: ښه خبرې او په خلكو ډوډۍ خوړل، وروسته ما پوښتنه وكړه ايمان څه ته وايي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: صبر او سخاوت. بيا ما پوښتنه وكړه چې د ټولو څخه غوره اسلام د چا دى؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه سړي چې د هغه د ژبې او لاس څخه مسلمان ساتلى وي. بيا ما پوښتنه وكړه چې په ايمان كې څه شي ښه دى؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: ښه خوى، بيا ما پوښتنه وكړه په لمانځه كې تر ټولو ښه كوم يو دى؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: اوږده ولاړه كول، بيا ما پوښتنه وكړه د ټولو څخه غوره هجرت كوم يو دى؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه كارونو پرېښودل چې هغه ستا د رب خوښ نه وي، وروسته ما پوښتنه وكړه چې په جهاد كونكو كې تر ټولو غوره كوم يو دى؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه سړى چې د هغه آس په جهاد كې مړ سي او دى هم شهيد سي، بيا ما پوښتنه وكړه په

[1] د نوموړي نوم عمرو دى د عنبسه زوى دى او ابونجيح يې كنيت دى، د حضرت علي ﷺ د خلافت په زمانه كې وفات سوى دى.

ساعتونو کي تر ټولو غوره کوم ساعت دی؟ (یعني په شپه او ورځ کي تر ټولو غوره وخت کوم دی) رسول الله ﷺ وفرمایل: د شپې د آخري برخي منځنۍ برخه.

پر ایمان او سلام قربانېدونکی جنتي دی

﴿۴۲﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ لَقِيَ اللهَ لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا يُصَلِّي الْخَمْسَ وَيَصُوْمُ رَمَضَانَ غُفِرَ لَهُ قُلْتُ أَفَلاَ أُبَشِّرُهُمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ دَعْهُمْ يَعْمَلُوْا . رواه أحمد

د حضرت معاذ ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي فرمایل یې: کوم سړی چي د الله پاك سره یو ځای سي (وفات سي) او په خپل ژوند کي تر آخري وخته پوري یې د خدای سره څوك شریك نه وي نیولی پنځه وخته لمونځ یې کړی وي د رمضان د میاشتي روژې یې نیولي وي هغه بخښل کیږي ، د دې په اورېدو سره ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! ایا دا زیری خلګو ته واوروم ، نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: نه. پرېږده چي هغوئ عمل وکړي .

تشریح: ددغه بخښني اړه د صغیره (کوچني) ګناهونو سره ده مګر د الله تعالی په رحم او کرم سره ددې هم امید دی که هغه وغواړي نو لوی ګناهونه به هم وبخښي کنه نو د ګناه کبیره کولو سزا تیرولو څخه وروسته به د بخښني او جنت وړ سي ځکه حضرت معاذ بن جبل ﷺ ددې زیری عام کولو اجازه وغوښتل، مګر رسول الله ﷺ منعه کړ چي داسي نه خلك پر دغه زیري باندي تکیه او اعتماد وکړي او عمل کول پرېږدي یا په بدو کارونو کي اخته سي او ګناه او معصیت پیل کړي او بیا د عذاب وړ سي .

په دغه حدیث شریف کي د حج او زکوة یادونه ځکه ونه کړل سول چي ددغه فرضونو اړه په خاصه توګه سره د صاحب استطاعت (د توان خاوند) او شتمنو خلکو سره ده ، په عامه توګه باندي هر سړی د زکوة او حج د ادا کولو توان نه لري ځکه یوازي هغه فرضونه ذکر کړل سوي دي د کوموا اړه چي د هر سړي سره وي لکه لمونځ، روژه چي په دې کي د امیر او غریب د هیڅ خاصوالی نسته او دا پر ټولو باندي فرض دي .

﴿۴۳﴾: وَعَنْ مُعَاذٍ أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَفْضَلِ الإِيْمَانِ قَالَ أَنْ تُحِبَّ لِلَّهِ وَتُبْغِضَ للهِ وَتُعْمِلَ لِسَانَكَ فِيْ ذِكْرِ اللهِ قَالَ وَمَاذَا يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ وَأَنْ تُحِبَّ لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ

د حضرت معاذ ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه د ایمان د غوره خصلتونو په اړه پوښتنه وکړه، نبي کریم ﷺ وفرمایل: (غوره) ایمان دادی چي ته (یوازي) د الله لپاره د یو چا سره مینه

لِنَفْسِكَ وَتَكْرَهُ لَهُمْ مَا تَكْرَهُ لِنَفْسِكَ . رواه أحمد | وکړي او دالله لپاره (دښمني) او بغض وکړې او جاري کړې خپله ژبه په ذکر د خدای ﷻ سره ، معاذ ﷛ وويل نور څه دي، رسول الله ﷺ وفرمايل: او دا چي ته خوښوې د نورو خلگو لپاره کوم چي د ځان لپاره خوښوې او د خلگو لپاره بد گڼې کوم چي د ځان لپاره بد گڼې .احمد .

تشريح : د ايمان غوره خبري دادي چي په هر حالت کي د الله تعالى خوښي او د هغه رضا مقصد وي يعني کوم کار چي کول کيږي که هغه مالي وي يا بدني او يا اخلاقي وي نو يوازي د الله تعالى د خوښي او د هغه د رضا تر لاسه کولو لپاره وکړل سي ، ددې څخه پرته د مؤمن لپاره ضروري ده چي هغه د اخلاص او انسانيت د لوړي درجې درلودونکی وي چي په دا ډول سره د هر يوه خيرغوښتونکی جوړ سي او د پوره انسانيت خير او بهتري داسي ښه وگڼي لکه څرنگه چي د خپل ځان خير ښه گڼي او د نورو لپاره هغه شی خوښوي کوم چي د خپل ځان لپاره خوښوي ، همداسي کوم شی چي د ځان لپاره تاواني گڼي او نه يې خوښوي نو د نورو لپاره يې هم نه خوښوي او تاواني يې گڼي .

بَابُ الْكَبَائِرِ وَ عَلَامَات النِّفَاق

د لويو گناهونو او د نفاق د نښو بيان

د (گناه کبيره) معنا ده لوی گناهونه ، د شريعت په اصطلاح کي گناه کبيره هغه خراب کار او بدي ته وايي چي د هغه کونکی د حد يعني د شريعت د ټاکل سوي سزا وړ بلل کيږي يا د هغه پر کولو باندي په قرآن کريم او حديث کي سخته سزا او زورونه راغلې وي يا د هغه کول شريعت د مبالغې په توگه په کفر سره تعبير کړی وي لکه په قصد سره لمونځ پرېښودلو باندي دا سزا راغلې ده : (من ترک الصلوة متعمدا فقد كفر) کوم چا چي په قصد سره لمونځ پرېښودی نو هغه کافر سو، يا د هغه فساد او نقصان د گناه کبيره د فساد او نقصان برابر يا د هغه څخه زيات وي ، يا د هغه منعه په دليل قطعي سره ثابت وي او د هغه اختيارول د حرمت دين د سپکاوي موجب وي په کوم فعل او خبره کي چي ددې څخه يو شي هم تر لاسه سي هغه ته به گناه کبيره يعني لويه گناه وايو، او په کوم فعل او خبره کي چي ددې څخه هيڅ شی نه پيدا کيږي او هغه د اسلامي لارښونو او ديني غوښتنو خلاف وي هغه ته به گناه صغيره يعني کوچنۍ گناه ويل کيږي، دا خبره په ذهن کي ساتل پکار ده چي په ځيني اعتبار سره که څه هم د گناه کبيره مختلف

درجې دي چي ځيني کبيره ګناوي خو ډيري خرابي او د نفرت وړ دي او ځيني ګناهونه نسبتا د کمي درجې دي مګر د شريعت په نظر کي د نيولو وړ او عذاب موجب کېدو په اعتبار ټول يو ډول دي .

په حديثونو کي پر يو ځای د ټولو لويو ګناهونو تاکل او تفصيل موجود نه دی بلکه د موقع او محل په مناسبت سره يا د يو پوښتنه کونکي په جواب کي د رسول الله ﷺ د لوري د بيان سوي ګناه کبيره څو څو ځايه په حديثونو او رواياتو کي نقل دي او يو څو پر نورو مواقعو باندي مذکور دي ، ځيني علماؤ مثلا مولانا جلال الدين دواني چي د لويو ګناهونو کوم فهرست ترتيب کړی دی هغه په لنډه توګه دادی :

۱. د الله تعالی سره شريک نيول يعني يو څوک د هغه په عبادت يا صفاتو کي د هغه سره شريکول ، مثلا په مرسته غوښتلو کي ، په علم کي، په قدرت کي ، په تصرف کي ، په تخليق کي ، په بللو کي، په نوم اېښودو کي ، په ذبح کولو کي، په نذر منلو کي، او د خلکو په امور سپارلو کي يو چا ته هغه درجه او حيثيت ورکول چي يوازي الله تعالی ته وړ دي .
۲. پر ګناه باندي د دوام او هميشګي نيت کول .
۳. په ناحقه يو څوک وژل .
۴. زنا کول .
۵. لواطت کول . (د هلک سره بدکاري کول ، بچه بازي کوي) .
۶. غلا کول .
۷. جادو زده کول او جادو کول .
۸. شراب څښل او نشه کونکي شيان استعمالول .
۹. د محارم يعني مور ، لور ، خور ، عمه ، انا او خاله وغيره سره نکاح کول .
۱۰. خمار زده کول او خمار کول .
۱۱. د دارالحرب څخه هجرت نه کول . (دارالحرب : هغه هيواد چي په هغه کي د کفارو حکومت وي او مسلمان پکښي د خپل مذهبي فرضونو د ادا کولو څخه منعه کيږي) .
۱۲. د دين د دښمنانو سره ناروا قرابت او تعلق ساتل .
۱۳. د طاقت او توان او غالب حيثيت لرلو سربيره د دين د دښمنانو سره جهاد نه کول .
۱۴. سود خوړل .

۱۵. د خنزیر او مردارو حیوانانو غوښه خوړل.
۱۶. د نجومي او کاهن تصدیق کول.
۱۷. په ناحقه د یو چا مال خوړل.
۱۸. پر پاک لمن سړي یا ښځه باندي د زنا تهمت لګول.
۱۹. درواغ ویل.
۲۰. د یو شرعي عذر څخه پرته په قصد سره د رمضان روژې نه نیول یا روژه ماتول.
۲۱. په درواغو سره قسم خوړل.
۲۲. قطع تعلق (یعني د قرابت ختمول).
۲۳. مور او پلار ته تکلیف ورکول او د هغوئ نافرماني کول.
۲۴. د جنګ په وخت کي د دین د دښمنانو د مقابلې څخه تښتېدل.
۲۵. په ناحقه د یتیمانو مال خوړل.
۲۶. په ناپ او تللو کي خیانت کول.
۲۷. لمونځ پر وخت نه ادا کول.
۲۸. د مسلمانانو سره په ناحقه جګړه کول.
۲۹. پر رسول الله ﷺ باندي درواغ تړل.
۳۰. پر رسول، کتاب الله او د ملائکو څخه انکار کول یا پر هغوئ مخسرې کول.
۳۱. د دین د احکامو او د شریعت د مسئلو څخه انکار کول.
۳۲. پر فرضو باندي عمل نه کول، یعني لمونځ نه کول، زکوة نه ادا کول، د رمضان روژې نه نیول او د قدرت لرلو سربېره حج نه کول.
۳۳. په صحابه کرامو یا یو صحابي پسې بد ویل.
۳۴. بیله عذره شاهدي پټول.
۳۵. رشوت اخیستل.
۳۶. د ښځي او خاوند په مینځ کي نفاق پیدا کول.
۳۷. د حاکم په وړاندي د یو چا چغل ګري کول.
۳۸. غیبت کول.
۳۹. په اسراف کي اخته کېدل، (اسراف: بې ځایه مصرف او پالتو خرڅ کول).

۴۰. لاري شکول، يعني په لاره کي درېدل او د خلکو څخه غلاوي کول يا کورو ته اوښتل.
۴۱. ددين په نامه يا د يو دنياوي مقصد په وجه د مځکي پر مخ فساد او فتنه خپرول.
۴۲. پر کوچني ګناهونو باندي دوام او اصرار اختيارول.
۴۳. يو چا ته د ګناه شوق ورکول او ياد ګناه په کار کي مرسته کول.
۴۴. هارمونيم، ډول او نور منعه سازونه ږغول.
۴۵. د لمبېدلو په وخت کي د نورو خلکو په وړاندي سېتر لوڅول.
۴۶. په مالي غوښتنو او اداکولو کي بخل کول.
۴۷. د ځان وژل.
۴۸. د خپل بدن د اندامونو څخه يو اندام ضائع کول او تلف کول.
۴۹. د مني او بولو د مرداری څخه پاکي نه تر لاسه کول.
۵۰. تقدير دروا غ ګڼل.
۵۱. د خپل مشرَاو حاکم سره وعده خلافي کول.
۵۲. يو چا ته د هغه په ذات او نسب سره پېغور ورکول.
۵۳. د غرور او تکبر په وجه پايڅې تر بجلکو کښته کول.
۵۴. خلک د ګمراهی په لور را بلل.
۵۵. پر مړي باندي ماتم او غم کول.
۵۶. خرابي طريقې او ناروا رسمونه رواج کول.
۵۷. په يو هارداره آلې سره د يو مسلمان په لور اشاره کول.
۵۸. يو څوک خصي کول.
۵۹. د خپل بدن يو برخه پرې کول، مثلا ږيره خريل، پزه وغيره لرپرې کول.
۶۰. د خپل احسان کونکي احسان هېرول.
۶۱. د حرم شريف په حدود کي هغه کارونه کول چي د هغه منعه فرمايل سوې ده.
۶۲. د حرم شريف په حدود کي جاسوسي کول.
۶۳. نرد (زمري) لوبه کول او يا داسي لوبه کول چي هغه په اتفاق سره حرامه وي.
۶۴. يو مسلمان ته کافر ويل يا هغه په داسي الفاظو سره مخاطب کول چي يوازي د کافر لپاره استعماليږي.

۶۵. که د یوې ښځې زیاتي ښځې يې وي نو د هغوئ په مینځ کي عدل او انصاف نه کول.
۶۶. موټ وهل (یعني په لاس سره د مني ایستل او خوند اخیستل).
۶۷. د غلې وغیره په ګران بیه کېدو سره خوشحاله کېدل.
۶۸. د حیوانانو سره بدکاري کول.
۶۹. د عالم په خپل علم سره عمل نه کول.
۷۰. د دنیا په مینه کي اخته کېدل.
۷۱. آمرد ته په بد نظر کتل (امرد: هغه هلک ته وایي چي نابالغه او ږیره او بریت يې نه وي).
۷۲. د خلکو کورو ته کتل.
۷۳. د کور د خاوند څخه پرته د هغه په کور کي دننه کېدل.
۷۴. دیوسي او قرم ساقي (بړوه توب) کول.
۷۵. امر بالمعروف او نهي عن المنکر، یعني د نیکو کارونو د تبلیغ او تلقین او د خرابو کارونو څخه د منعه کولو فریضه د قدرت سربیره نه ادا کول.
۷۶. د قرآن کریم د زده کولو څخه وروسته د هغه هیرول.
۷۷. حیوانان په اور کي سوځل.
۷۸. د ښځي د یو شرعي عذر څخه پرته د خپل خاوند نافرماني کول.
۷۹. د سړي پر ښځي ظلم کول.
۸۰. د الله تعالی د رحمت او بخښني څخه نا امیده کېدل.
۸۱. د الله تعالی د عذاب څخه نه بېرېدل.
۸۲. د عالمانو او حافظانو سپکاوی او توهین کول.
۸۳. د ښځي سره ظهار کول (ظهار: خپل ښځي ته په مور یا خور سره ویل د طلاق په نیت).

ځیني علماؤ د لویو ګناهونو په فهرست کي د نورو ګناهونو یادونه هم کړې ده مګر دلته د لنډوالي په وجه پر همدې فهرست بسوالی وسو.

الفصل الاول

تر ټولو لوی ګناهونه

﴿۴۴﴾: عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ :قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَيُّ الذَّنْبِ أَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ قَالَ أَنْ تَدْعُوَ لِلّٰهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ، ثُمَّ أَيٌّ قَالَ أَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ خَشْيَةَ أَنْ يَطْعَمَ مَعَكَ قَالَ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ أَنْ تَزْنِيَ حَلِيلَةَ جَارِكَ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ تَصْدِيقَهَا وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللّٰهِ إِلٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّٰهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ..... الاية (متفق عليه)

د حضرت عبدالله بن مسعود[۱] ؓ څخه روایت دی چي یو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! د الله په نزد کومه ګناه ډیره لویه ده؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: کوم خدای چي ته پیدا کړې یې د هغه سره شریك نیول. بیا یې پوښتنه وکړه ددې وروسته کومه لویه ګناه ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : دا چي ته خپل اولاد له دې کبله وژني چي هغه به ستا سره خوراك کوي (یعني په روزي کي به مي کمتوب راولي) ، بیا هغه پوښتنه وکړه ددې وروسته ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : دا چي ته د خپل همسایه ښځي سره زنا وکړې ، او وروسته د نبي کریم ﷺ په تصدیق کي الله تعالی دا ارشاد نازل کړ چي : کوم خلك د الله څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نه بولي او د کوم چا وژل چي الله حرام کړي دي هغه نه وژني مګر پر حق باندي (مثلا قصاص یا شرعي حد) او زنا نه کوي .... بخاري او مسلم .

تشریح : په دغه حدیث شریف کي یو څو داسي خبري په نښه سوي دي چي د اخلاق او انسانیت په اعتبار هم د ډیري بې غیرتۍ او رزالت نښه ده او شریعت هم هغه تر ټولو لوی ګناهونه شمیرلي دي او د هغه کونکی د الله تعالی د سخت عذاب وړ ګرځي ، تر ټولو لویه ګناه چي کومه خبره ګرځول سوې ده هغه د خپل خالق او پروردګار سره شرک کول .

او د (ان تدعوا لله اندادا) په شرح کي علماؤ لیکلي دي چي د شریک ګرځولو مطلب په ذات او صفاتو او عبادت کي یو څوک د الله تعالی سیال او برابر جوړول دي ، مثلا په عبادت او بندګۍ کي او د اظهار عبدیت چي کومي طریقې او افعال د الله تعالی څخه پرته د بل چا لپاره اختیار کړل سي یا څرنګه چي الله تعالی په یا الله ویلو سره یادیږي همداسي بل څوک د الله

---

[۱] د نوموړي نوم عبدالله بن مسعود او کنیت یې ابو عبدالرحمن دی، رسول الله ﷺ د جنت زیری ورکړی دی ، په (۲۳هـ) کال کي تقریبا د (۶۰) کالو په عمر کي په مدینه منوره کي وفات سو .

تعالی څخه پرته بلل او یادول، یا څرنګه چې الله تعالی د حاجتونو پوره کونکی دی همداسې بل څوک هم حاجت پوره کونکی ګڼلو سره داسې فریاد کول چې اې فلانیه! زما دا حاجت پوره کړه، یا زما مرسته وکړه او داسې نور.

دوهمه لویه ګناه دا ښوول سوې ده چې یو څوک خپل اولاد د بیرې څخه مړ کړي چې هغه به زما پر سر بار سي د هغه خوراک او څښناک به پر ما سي او د هغه د روزنې او ټولنیز ذمه دارۍ به زغمل وي څرنګه چې د جاهلیت په زمانه کې ظالمانه طریقه رواج وه چې خلکو به د غربت په وجه خپل اولاد ونه وژل.

دریمه لویه ګناه دا ښودل سوې ده چې یو څوک د خپل همسایه ښځې سره زنا وکړي، هسې خو مطلقا زنا کول یوه لویه ګناه ده او پر دې باندې سخته سزا ټاکل سوې ده مګر د همسایه ښځې سره زنا کول خو ډیره لویه ګناه ده لکه څرنګه چې په ناحقه قتل کول یوه لویه ګناه ده مګر خپل اولاد قتل کول بیخي لویه ګناه ده.

د مور او پلار نافرماني او د درواغو قسم

﴿۴۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَبَائِرِ الْاِشْرَاكُ بِاللّٰهِ وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ وَقَتْلُ النَّفْسِ وَالْيَمِيْنُ الْغُمُوْسُ (رواه البخاري) و في رواية انس وَشَهَادَةُ الزُّوْرِ بدل اليمين الغموس. (متفق عليه)

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: لویې ګناوې دادي: د الله سره څوك شريك نيول، د مور اوپلار نافرماني كول، څوك په ناحقه وژل، په درواغو قسم اخيستل، د بخاري او د حضرت انس په روايت كې د درواغو قسم پر ځای د درواغو شاهدي راغلې ده. بخاري او مسلم.

تشریح: د عقوق یوه معنی د تکلیف ورکولو هم ده مګر په شریعت کې نه یوازې دا چې د مور او پلار نافرماني لویه ګناه ګرځول سوې ده بلکه دا حکم هم دی چې مسلمان مور او پلار ته دې تکلیف نه ورکول کیږي او نه دې په ناحقه تنګ کړل سي، همداسې کافر مور او پلار ته تکلیف ورکولو څخه هم منعه راغلې ده مګر د هغوئ د کفر څخه را ایستلو او پر اسلام قبلولو باندې اماده کولو لپاره د هغوئ سره د لږ سختې کولو اجازه ده، په دې شرط چې هغه سخت چلن په قطعي توګه باندې ډیر بد نه وي او د اخلاق او انسانیت څخه وتلي نه وي.

په تفسير عزيزي کې د دغه قرآني آيت (و بالوالدين احسانا) په تفسير کې ليکلي دي چې د مور او پلار سره احسان او ښه چلن کول په خاصه توګه پر درو خبرو شامل دي:

۱. لومړی دا چي هغوئ ته هيڅ ډول تکليف ونه رسول سي که هغه په لاس سره وي يا په ژبه سره وي يعني نه خو دي هغوئ ته د وهلو تکليف ورکړل سي او نه دي د هغوئ سره بدسلوک او بد کلامي کوي.

۲. دوهم دا چي تر څو پوري ممکن وي په سر او مال دي د هغوئ خدمت کوي.

۳. او دريم دا چي د هغوئ اطاعت او فرمانبرداري دي کوي او هغوئ چي کوم وخت او کوم ضرورت لپاره راوبلي سمدستي دي ورته حاضر سي.

مګر بيا هم علماؤ دا وضاحت کړی دی چي د والدين د خدمت حکم په دې شرط سره دی که مور او پلار د اولاد محتاج وي او اولاد دومره قوت او توان ولري چي د هغوئ هر ډول خدمت وکړلای سي نو د هغوئ خدمت پر واجب دی او که دا صورت وي چي نه خو يې مور او پلار محتاج وي او نه اولاد پر دې قادر وي نو پر هغه باندي د هغوئ خدمت واجب نه دی، همداسي د مور او پلار د حکم پر ځای کولو مسئله هم په دغه وضاحت سره ده که هغوئ د ښه کار حکم وکړي يا د شريعت خلاف شيانو څخه يې منعه کړي يا د شريعت خلاف حکم نه ورکوي نو د هغوئ اطاعت کول ضروري دی او که هغوئ د شريعت خلاف شيانو حکم ورکوي مثلا واجبات پرېښودلو لپاره ورته ووايي يا د فرض حج کولو څخه يې منعه کړي نو په دغه شيانو کي د هغوئ اطاعت کول نه دی پکار، که چيري د سنت مؤکده پرېښودو لپاره ورته ووايي مثلا په جماعت سره د لمانځه کولو څخه يې منعه کړي يا د عرفات د ورځي د روژې څخه يې منعه کړي نو په دې کي صحيح قول دا دی چي دغسي يو حکم يو دوه واره منلو او د هغوئ په اطاعت کولو کي څه پرواه نسته مګر که چيري ددغه شيانو عادت وي يا هميشه يې منعه کوي نو د هغوئ حکم دي نه مني، مګر که چيري هغوئ يې د يو نفلي عبادت څخه منعه کوي او ورته وايي چي د دې پر ځای زما خدمت کوه نو د هغوئ حکم به مني.

(يمين غموس): هغه دروغ قسم ته وايي چي د هغه تعلق د تير سوي شي سره وي مثلا يو سړی د يو کار په اړه داسي قسم وخوري چي قسم په خدای ما فلانی کار نه دی کړی حال دا چي هغه دا کار کړی وي نو دې ته يمين غموس ويل کيږي، ددې سخت منعه راغلې ده ځکه چي دا ډيره لويه ګناه ده، همداسي د دروغو شاهدي ورکول هم ډيره لويه ګناه ده چي د الله ﷻ د سخت عذاب وړ ګرځي.

د هلاکونکو خبرو څخه ځان وساتئ

﴿۴۶﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَا هُنَّ قَالَ الشِّرْكُ بِاللّٰهِ وَالسِّحْرُ وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللّٰهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَأَكْلُ الرِّبَا وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ وَقَذْفُ الْمُحْصِنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ الْغَافِلَاتِ (متفق عليه)

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د اوو هلاکونکو شيانو څخه ځان وژغورئ، خلګو پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! هغه کوم شيان دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله سره شريك نيول، جادو کول، د هغه چا وژل چي د هغه وژل الله حرام کړي دي مګر په حق سره، سود خوړل، د يتيم مال خوړل، د جګړې په ورځ پر شا تلل، پر پاك لمنو ښځو او ناخبره ښځو باندي د زنا تور لګول .بخاري او مسلم

تشريح : اسلامي عقائد، نظريات او ښکاره منل سوي خبري په زړه سره منل، په ژبه سره اقرار کول او مقرر سوي فرضونو باندي عمل کول ايمان دی او ددغه منل سوو خبرو څخه د يوې څخه هم انکار کول کفر دی ، اوس که ددغه خبرو معلومات وکړل سي نو معلومه به سي چي د ايمان يوازي يو صورت دی چي ددين منل سوي خبري په ژبه او زړه سره ومنل سي او پر هغه عمل وکړي ددې پر خلاف د کفر څو صورتونه دي او ددين بديهيات (هغه خبري چي د دليل اړتيا نه وي) که د يوې خبري څخه هم انکار وکړل سي که څه هم د پاته ټولو اقرار موجود وي نو هم کفر بلل کيږي ، بيا د علماؤ وضاحت دی چي کفر يوازي په قول سره خاص نه دی بلکه ځيني کارونه هم د کفر سبب کيدلای سي فقهاؤ پر داسي کارونو باندي هم د کفر حکم کوي چي د قلبي او اعتقادي کفر صحيح ترجمان ګڼل کيږي .

هسي خو د کفر هر ډول د انسانيت پر لمن تر ټولو زيات بد داغ دی مګر ددې تر ټولو بد قسم شرک دی يعني د الله تعالی په ذات د هغه په صفاتو او عباداتو کي او د هغه د عظمت په حدودو کي يو څوک شريک جوړول نه يوازي په اعتقادي حيثيت سره د ايمان او اسلام څخه د بيزارۍ اظهار دی بلکه په فطري توګه باندي يو ډير لوی ظلم او په عقل سره تر ټولو لوی بغاوت هم دی ځکه چي الله تعالی د انسان پيدا کولو سره د هغه فطرت د کفر او شرک د هر ډول چټلۍ څخه پاک کړی دی اوس که انسان خپل فطرت د شرک په نجاست سره خرابول غواړي نو څرګنده ده چي هغه د خپل فطرت او ضمير د صداقت غاړه خفه کولو سره د مذهب او انسانيت دواړو حيثيتو څخه د تباهۍ او بربادۍ په غار کي لويږي .

ځکه نو د پروردګار عالم ټينګه فيصله ده چې د هغه په دربار کې هره کوتاهي او خطا د معافي وړ کيدلای سي مګر د شرک جرم هيڅکله د معافی وړ نه دی چې پر هغه به مشرک ته سخته سزا ورکول کيږي او د الله تعالی په جنت کي به د هغه لپاره هيڅ ځای نه وي . د الله تعالی ارشاد دی :

إِنَّ اللَّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاء. سورة النساء ۴۸

ژباړه : بيله شکه الله تعالی هغه ګناه نه بخښي چې د هغه سره يو څوک شريک جوړ کړل سي او بخښي ددې څخه پرته کومه ګناه چې وغواړي .

شرک د انسان د فطرت څخه د سعادت او نيک بختۍ تخم د بيخه باسي او د انسان د روحاني پرمختګ ټول استعداد د مرګ په په کنده کي اچوي ، په خپله د قرآن کريم په نظر کي د الله تعالی سره شرک نيول تر ټولو لويه افتراء (تهمت) او تر ټولو زياته بې دليله او د ضمير خلاف خبره او د انساني نفس لپاره ابدي مرګ دی ځکه په حديث شريف کي چې کوم د هلاکت شی په ګوته سوی دی په هغه کي د شرک جرم د فهرست په سر کي دی .

د شرک تعريف او ډولونه

دلته مناسب ده چې د شرک تعريف او د هغه د ډولونو تفصيل بيان کړل سي ، په شرح عقائد کي دي چې شرک د شريعت په اصطلاح کي دې ته وايي چې په خدائي اختياراتو کي غير الله شريک کړي څرنګه چې مجوسيان اهرمن او يزدان مني (مجوسيانو (د اور عبادت کونکو) په دوه خدايان منل يو د نيکۍ خدای چې هغه ته به يې يزدان ويل او بل د بدۍ خدای هغه ته به يې اهرمن ويل)، يا د خدای ﷻ څخه پرته بل څوک هم د عبادت وړ ګڼل لکه څرنګه چې د بت پرستو عقيده ده ، دا خبره مخکي ښودل سوې ده چې شرک د کفر يو ډول دی ځکه په شريعت کي شرک د کفر په معنا کي هم راځي ، شيخ عبدالحق د مشکوة شريف په ترجمه کي د عقائدو په شرح کي د شرک د دواړ ډولونو په ذکر کولو سره ليکلي دي چې دلته د شرک څخه مراد کفر دی ، په خيالي کي هم ددې تصريح ده او د مولانا عصمت الله رح څخه هم دا نقل دي .

حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمة الله عليه فرمائي چې شرک د شريعت په اصطلاح کي دې ته وايي چې کوم صفات خاص د الله تعالی سره خاص دي هغه د الله تعالی څخه پرته په يو بل چا کي هم ثابت کړي لکه د الله تعالی څخه پرته بل څوک هم عالم الغيب وګڼي يا څرنګه چې د دنيا پر هر شي باندي الله تعالی قادر مني همداسي بل څوک هم قادر وګڼي يا څرنګه چې الله

تعالی په خپل اراده سره د دنیا پر ټولو شیانو متصرف ګڼي همداسي بل ځوک هم متصرف وګڼي ، یا مثلا د چا په اړه دا عقیده ولري چي د فلاني په نظر او کرم سره زما سره چلن وکړ ځکه نو ما ته د مال وسعت او خوشحالي تر لاسه سووه ، یا فلاني راته بنیرا وکړه د هغه په وجه زه ناروغ سوم یا زما مقدر خراب سو او داسي نور.

د الله تعالی په ذات او صفاتو کي او په خدایي اختیاراتو کي د شرک څخه پرته په تفسیر عزیزي کي چي د شرک نور ډولونه ذکر سوي دي په هغو کي یو دادی چي په عبادت کي د الله تعالی سره یو ځوک شرک کړل سي یا د یو چا نوم د تقرب او فضیلت په طریقه د الله تعالی د نامه په ډول واخیستل سي او هغه د الله تعالی سیال وګرځول سي ، مثلا یو ځوک په ولاړېدو او کښېنستلو او مصیبتونو او تکلیفونو کي د هغه د نامه اخیستلو سره هغه یاد کړي همدارنګه د یو چا نوم د عبدالله یا عبدالرحمن پر ځای بنده فلان یا عبد فلان کښېښودل سي دې ته شرک في التسمیة وایي یا د غیر الله پر نامه ذبح وکړل سي او د هغه نذر ومنل سي یا بیله وجي د شرک دفعیه او حصول منفعت لپاره د الله تعالی څخه پرته بل ځوک یاد کړل سي او د هغه په لور رجوع وکړل سي ، یا په علم او قدرت کي د الله تعالی د نامه سره بل ځوک شریک کړل سي لکه یو ځوک ووایي چي (ماشاء الله وشئت) ژباړه: یعني څه چي الله غواړي او ته یې غواړې هغه به کیږي.

نقل سوي دي چي یو وار یو ناپوه سړی د رسول الله ﷺ په وړاندي دغه الفاظ وویل، نو رسول الله ﷺ په سخته غصه سو او وه یې فرمایل تا زه د الله ﷻ سره شریک کړم او وه یې فرمایل چي داسي وایه (ماشاء الله وحده) یعني څه چي الله تعالی غواړي هغه به کیږي.

ځیني لویو ګناهونو ته شرک هم ویل سوي دي لکه څرنګه چي په حدیث شریف کي دي چي کوم سړی د الله تعالی څخه پرته د بل چا قسم وکړي نو هغه یقینا شرک وکړ، یا ویل سوي دي چي بدفالي کول هم شرک دی ، یا منقول دي چي ریاکاري شرک دی ، یا داسي نقل سوي دي چي کومه ښځه د خپل خاوند دمیني لپاره ټوټکي (یعني د خاوند دپاره قسم قسم شیان دود کول چي په شریعت کي ناروا دي) کوي دا هم شرک دی لکه دا ګناهونه چي د خپل خطرناکو اثراتو په وجه د شرک په ډول دي ځکه ددې څخه پرهیز کول دومره ضروري دی لکه څومره چي د شرک څخه پرهیز کول ضروري دي.

همدارنګه هغه کارونه که څه هم د شرک په دائره کي نه راځي مګر د مشرکینو او بت پرستو

د کارونو او اعمالو مشابه او د هغه هم مثل ګڼل کیږي نو د هغو څخه هم د شرک په ډول پرهیز کول ضروري دی لکه علماؤ او پاچا په مخکې تندی مړل یا د هغوئ په وړاندي راتلو سره مځکه مچول یا هغوئ ته د تعظیم سجده کول دا کارونه حرام او لوی ګناهونه دي، ځکه ددې کونکی به هم ګناه کار او د عذاب وړ وي او کوم خلک چې په داسي کارونو سره خوشحاله کیږي او د قدرت سربیره ددغه کارونو بندولو هڅه نه کوي نو هغوئ به هم ګناه کار وي.

دلته دا وضاحت ضروري دی که دعلماؤ ، پاچاهانو یا پیرانو په مخکې تندی مړل او مځکه مچول د عبادت او تعظیم په نیت وي نو دې ته به صریحا کفر ویل کیږي او که د عبادت او تعظیم په نیت نه وي بلکه محضې د ادب د اظهار لپاره وي نو پر دې د کفر اطلاق نه کیږي بلکه لویه ګناه به ضرور ورته ویل کیږي.

په دغه حدیث شریف کې دوهم هلاکونکی شی سحر (جادو) ښودل سوی دی، د سحر په اړه علماء وایي چې څرنګه سحر او جادو کول حرام او هلاکونکی شی دی همداسي جادو زده کول او د سحر علم تر لاسه کول هم حرام دی چې په آخرت کې د هلاکت سبب جوړیږي.

د شرح عقائد په حاشیه (خیالي) کې لیکلي دي چې سحر کول کفر دی او د صحابه کرامو یو ډله خو پر دې متفق دي چې ساحر (جادوګر) سمدستي وژل پکار دي، نو هر کله چې د ځینو رایه داده که ساحر دا ډول وي چې د هغه څخه کفر نه لازمیږي او ساحر د هغه څخه توبه نه کاږي نو هغه قتلول پکار دی ، همدارنګه نجوم، کهانت او رمل تعلیم تر لاسه کول او ددې شیانو اختیارول او په هغه روزي او روپۍ تر لاسه کول او د نجومي او کاهن وغیره څخه پوښتني کول او د هغوئ پر ښودلو خبرو باندي عقیده ساتل هم حرام دي.

په حدیث شریف کې د دښمن د مقابلې څخه د تېښتي کولو بدفعل هم د هلاکت سبب ښودی سوی دی ځکه کوم سړی چې دومره بې غیرتي او بزدلي وښیي چې پر هغه موقع باندي چې هلته د هغه د ایماني میړاني او شجاعت څرګندول پکار وه نو ده دښمن ته شا کولو سره وتښتیدی او هغه په اصل کې ددغه بد حرکت په ذریعه د اهل اسلام د رسوائي سبب جوړ سو نو هغه به د آخرت په عذاب او هلاکت وړ وګرځول سي ، په دې اړه چې د تفصیلي مسئلې تعلق دی هغه دادی که د یو مسلمان په مقابله کې دوه کافران وي نو هغه ته د هغوئ د مقابلې څخه تښتېدل ګناه کبیره ده مګر که چیري په مقابله کې د دښمن شمیر د دوو څخه زیات سو نو بیا تښتېدل حرام نه دي بلکه جائز دي ، مګر په دې کې هم غوره خبره داده چې په هغه صورت کې هم

ونه تبنتي بلكه مقابله وكړي كه څه هم خپل سر وبايلي.

هغه بده ګناه چي د كولو په وخت كي ايمان نه پاته كيږي

﴿۴۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَا يَسْرِقُ السَّارِقُ حِينَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَا يَشْرَبُ الْخَمْرَ حِينَ يَشْرَبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَا يَنْتَهِبُ نُهْبَةً يَرْفَعُ النَّاسُ إِلَيْهِ فِيهَا أَبْصَارَهُمْ حِينَ يَنْتَهِبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَا يَغُلُّ أَحَدُكُمْ حِيْنَ يَغُلُّ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَإِيَّاكُمْ إِيَّاكُمْ (متفق عليه) وَفِيْ رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ لَا يَقْتُلُ حِيْنَ يَقْتُلُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ. قَالَ عِكْرَمَةُ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ كَيْفَ يُنْزَعُ الإِيْمَانُ مِنْهُ؟ قَالَ هٰكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ ثُمَّ أَخْرَجَهَا قَالَ فَإِنْ تَابَ عَادَ إِلَيْهِ هٰكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ وَقَالَ أَبُوْ عَبْدِ اللهِ لَا يَكُوْنَ هٰذَا مُؤْمِنًا تَامًّا وَلَا يَكُوْنُ لَهُ نُوْرُ الإِيْمَانِ. هذا لفظ البخاري.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زنا كونكی د زنا پر وخت پوره مؤمن نه پاته كيږي، غلا كونكی د غلا پر وخت پوره مؤمن نه پاته كيږي، شراب چښونكی د شراب چښلو پر وخت پوره مؤمن نه پاته كيږي. د نورو مال لوټونكی د لوټولو پر وخت چي پورته كوي خلك ده ته په هغه كي سترګي خپلي چي هغه لوټ كوي پوره مؤمن نه پاته كيږي، او په تاسو كي چي كوم سړی خيانت كوي هغه د خيانت په وخت كي پوره مؤمن نه پاته كيږي نو تاسو خلك د دې ټولو شيانو څخه ځان وژغورئ،(بخاري اومسلم) او د ابن عباس په روايت كي دا الفاظ هم دي او قاتل كوم وخت چي هغه څوك وژني مؤمن نه پاته كيږي، د عكرمه راوي بيان دی چي د دې روايت پــه اوريدو سره ما د ابن عباس څخه پوښتنه وكړه چي ايمان څنګه (د خلكو د زړونو) څخه وځي؟ ابن عباس په خپلو ګوتو كي ګوتي ننه ايستلې او بيا يې را وايستلې او وه يې فرمايل نو كه توبه يې وكښله بيا به راسي ايمان ده ته داسي او په يو بل كي يې ننه ايستلې ګوتي خپل، د دې وروسته ابن عباس وفرمايل: او هر كله چي سړی د دې ټولو ګناهونو څخه توبه وكړي نو دا ډول ايمان په زړونو كي بيرته راسي او ابوعبدالله (يعني امام بخاري) وايي چي دا سړی پوره مؤمن نه پاته كيږي او د ايمان نور په هغه كي نه پاته كيږي د ا الفاظ د بخاري دي.

تشريح: څرنګه چي مخكي وښودل سول چي د مؤمن زړه د يو داسي حساس او پاك لوښي په ډول وي چي په هغه كي يوازي د ايمان نور ځائيدلای سي، د ايمان خلاف كوم شی چي په هغه كي د دننه كېدو هڅه كوي نو نه د مؤمن زړه هغه ته ځای وركوي او نه د ايمان نور هغه زغملای

سي، نو هغه بدترينه او درنه ګناه چي د هغه په پورتني حديث کي ذکر وسو داسي د ايمان خلاف خبري دي چي د هغه تحمل د ايمان نور په هيڅ حالت کي نسي کولای، آخوا انسان د يو ګناه ارتکاب پيل کوي چي بلي خوا ته د ايمان نور د زړه څخه رخصتيږي او بيا تر څو پوري چي پر هغه ګناه شرمنده او پښيمانه کېدو سره په راتلونکي کي د زړه په اخلاص سره توبه ونه باسي د ايمان هغه نوراني کيفيت چي د ارتکاب ګناه څخه مخکي هغه ته حاصل وو د هغه زړه ته بيرته نه راځي، دا صورت حال حضرت ابن عباس رضی الله عنه د خپلو ګوتو د مثال په ذريعه ښکاره کړ هغه لومړی د خپل لاس پنجه د دوهم لاس په پنجه کي داخله کړه او وه يې ښودل چي دا د ګناه کولو څخه مخکي حالت دی چي د ايمان نور د مؤمن په زړه کي دی بيا هغه دواړي پنجې د يوې بلي څخه بيلولو سره وښودل چي څرنګه يوه پنجه د دوهمي پنجې څخه بيله سوې ده همداسي د ګناه کولو په وخت کي د ايمان نور د مؤمن د زړه څخه بيليږي او بيا هغوئ دواړي پنجې په يوې بلي کي داخلي کړي او وه يې ويل څرنګه چي دا پنجې بيا په يوې بلي کي داخلي سوي دي همداسي که مؤمن د ګناه کولو څخه وروسته توبه وکړي نو د هغه د ايمان نور د مخکي په ډول خپل ځای ته بيرته راځي.

امام ابن ابي شيبه (رح) ليکلي دي چي د ګناه کولو په وخت کي د ايمان نه پاته کېدو مطلب دادی چي ګناه کونکی کامل مؤمن نه پاته کيږي د هغه ايمان ناقص کيږي. (ترجمان السنة)، او د امام بخاري رح د قول حاصل دادی چي د روايت د د آخرني برخي څخه ښکاره سو.

د منافق نښي

﴿۴۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ وَزَادَ مُسْلِمٌ وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى وَ زَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ ثُمَّ اتَّفَقَا إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د منافق علامې درې دي، او د مسلم په روايت کي دا الفاظ هم دي که څه هم هغه سړی روژه نيسي، لمونځ کوي او د خپلي مسلمانۍ دعوا هم کوي، که په هغه کي ددغه علامو څخه يو علامه پيدا سي نو هغه منافق دی، د دې وروسته د بخاري او مسلم دواړو متفق الفاظ دادی چي: خبري کوي نو درواغ وايي، چي وعده وکړي نو ماته يې کړي او که امانت ورسره کښېښودل سي نو خيانت پکښي کوي. بخاري او مسلم.

تشریح : هر کله چي يو اصلاحي تحریک د انقلابي رفتار څخه ورانديي کیږي او پر تولنه باندي د هغه تسلط خپرېږي نو د هغه د پلویانو او مخالفینو په مینځ کي يوه دریمه ډله هم پیدا کیږي يعني يو خو هغه خلک وي چي د هغه تحریک پوره همنوا او پیروان جوړ سي او په پوره ذهني او بدني تړون سره د هغه د اثر او اطاعت په دائره کي داخل سي ، د هغوئ په مقابله کي دوهمه ډله د مخالفینو وي چي په خپل پوره طاقت او ټول وسائلو سره په عامه توګه د تحریک د داعیانو او حامیانو مقابل طرف وي ، او ددې دواړو په مینځ کي چي دریمه ډله پیدا کیږي نو هغه پر هغه لومړی صفت خلکو باندي مشتمل وي چي نه د هغه تحریک په زړه سره حامي جوړیږي او نه په ښکاره مخالفت باندي ځان قادر بولي ، دا ډول خلک خپل ذهني او قلبي تړون د پخواني عقیدو او نظریاتو سره لري مګر په جسماني توګه باندي د حامیانو د تحریک په صفونو کي شاملیږي ، همدا صورت حال اسلام ته هم پیښ سو د پیغمبر اسلام د مکي ژوند څخه وروسته چي مدني ژوند پیل سو او د هغه سره ددعوت اسلام تحریک په انقلابي رفتار سره پر مخ سو او اهل اسلام ته هم طاقت او شوکت په برخه سو نو دا دریمه ډله پیدا سوه ،

مخکي په مکه کي يو طرف ته خو هغه خوشبخته خلک وه چي هغوئ په پوره صدق او اخلاص سره د اسلام دعوت قبول کړ د اسلام او پیغمبر اسلام فدایان او خادمان جوړ سول ، دا خوشبخته کسان په شمیر کي هم کم وه او مادي وسائل او ذرائع څخه هم محروم وه د هغوئ په مقابله کي هغه خلکو ته طاقت او شوکت هم تر لاسه وو او ټول مادي وسائل او ذرائع د هغوئ په لاس کي وه ، دلته هغوئ ته د اسلام په ښکاره دښمني کي هیڅ شی مانع نه وو او د اهل اسلام مخالفت په عامه توګه سره د يو خطرې یا تاوان باعث هم نه وو مګر اوس مدینې ته د دعوت اسلام ماحول نقل سو ، تحریک په بریالیتوب سره په وړاندي روان وو ، د پلویانو او همنواوو په شمیر کي په تیزي سره اضافه کېدل او په طاقت او شوکت کي هم زیاتېدل او په عامه توګه سره اهل اسلام ته غلبه هم تر لاسه کېده اوس د اسلام مخالفینو او معاندینو ته هم د عداوت شکل بدلیدل پکار سول هغوئ دا مستقله پالیسي جوړه کړه چي په ظاهره خو د اسلام ملګري سئ او مسلمانانو سره اوسیږئ مګر په دننه کي د اسلام مخالفین يعني د کافرانو ملګري اوسئ او د د خفیه کارونو په ذریعه د اسلام ددعوت په لار کي ازغي پاشئ ، نو ددې ځای څخه د نفاق بنیاد قائم سو او دغه ډول خلکو ته په اسلام کي منافق وویل سول ، په دې کي هیڅ شک نسته چي ښکاره د يو تحریک لپاره نفاق تر ټولو لوی خنډ جوړیږي همداسي د اسلام په حق کي د

منافقانو دا ډله تر ټولو زیاته تاوان رسونکې ثابته سوه ، په پیل کي خو ددغه منافقانو مکر او دومخي د مسلمانانو په مخکي پټ وه مګر هر کله چي د هغوئ منافقانه پالیسی او کارونو مسلمانانو ته تاوانونه رسول پیل کړل او د اسلام پر خلاف د هغوئ د خفیه نقل او حرکت عام سو نو د هغوئ پیژندنه مخته راتلل پیل سول او بیا خو ددې ډلي دومره ازښت محسوس کړل سو چي د هغوئ په نامه یو ځانګړی سورت (المنافقین) نازل کړل سو ، ددې څخه پرته هم په قرآن کریم کي ځای پر ځای د منافقانو خبرداری ورکړل سوی دی او د هغو د بدو او تباه کارونو څخه مسلمانان خبر کړل سول .

د نفاق ډولونه :

لکه څرنګه چي د ایمان او کفر مختلف ډولونه او صورتونه دي همدرانګه د نفاق هم څو ډولونه دي ، یو خو اعتقادي نفاق دی او همدا حقیقي نفاق دی یعني په ظاهره د الله تعالی د توحید ، رسالت، ملائکو او د حشر او نشر د عقیدې دعوه کول مګر په دننه کي ددې ټولو عقیدو څخه پوره انکار او انحراف مضمر (پټ) وي، دا هغه نفاق دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي وو ، دغه نفاق ته قرآن کریم کفر هم ویلي دي او ددې نفاق په اړه دا سزا راغلې ده چي په دوږخ کي به د منافقانو ځای به تر کافرانو هم لاندي وي ، بیا داسي وسول چي ددغه منافقانو کوم عادات او خصلتونه او طریقې وي نو پر هغه د نفاق اطلاق کېدل پیل سول ځکه چي په هغه کي اکثر خبري هغه دي چي د انسان اخلاقي او عملي ژوند عیب داره جوړوي چي د اسلام د لاربښوونو اعلی انساني اقدار او امانت او دیانت څرګند خلاف کېدو په وجه د ایمان او اسلام سره د ذرې په اندازه هم جوړښت نه خوري ، هر کله چي د مسلمانانو په دیني ژوند کي د انحطاط (پسی) زمانه راغلل او هغوئ هغه خبري اختیارول پیل کړل چي د منافقانو خاصه وه نو د اصطلاح اربابو د نفاق یو بل ډول هم وټاکی او د هغه نوم یې عملي نفاق کښېښودی .

نو په پورتني حدیث کي چي د کوم شي پر خلاف خبرداری ورکول مقصد دي د هغه څخه همدغه عملي نفاق مراد دی ، مطلب دا چي په خبرو کي درواغ ویل اختیارول د حیرانتیا څخه کم نه دی ، که مسلمان په خبرتیا یا ناخبری سره په دې کي د یو خراب عادت ښکار سي نو هغه ته سمدستي احتساب کول پکار دي او ددغه خراب عادت څخه خلاصون تر لاسه کول پکار دي کنه نو په آخرت کي به په سخت عذاب کي اخته سي .

﴿۴۹﴾ : وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا إِذَا ائْتُمِنَ خَانَ، وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ. وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ (متفق عليه)

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په كوم سړي كي چي څلور خبري پيدا سي نو هغه خالص منافق دی او په چا كي چي ددغه څلورو خبرو څخه يوه پيدا سي نو په هغه كي د منافقت خصلت پيدا سو. تر څو چي هغه دا پرې نه ږدي (هغه څلور خبري دادي) : كه امانت ورسره كښېښودل سي نو په هغه كي خيانت كوي، چي خبره كوي نو درواغ وايي، چي وعده وكړي نو ماته يې كړي، او كه د چا سره په جګړه سي نو ښكنځل ورته كوي .بخاري او مسلم.

تشريح : دلته هم د نفاق څخه مراد عملي نفاق دی، په دې كي كه چيري يو مؤمن ددغه څلورو خبرو ښكار سي نو مطلب به دا وي چي هغه په پوره توګه سره په عملي نفاق كي اخته دی او عملا منافق سوی دی او كه په دغه څلورو كي يو عادت پكښي پيدا سوی وي نو خبر دار كېدلای سي، په يو چا كي كه دغه څلور سره عادتونه جمع سوي وي يا يو عادت وي نو هغه دي پوه سي چي اوس د هغه د ژوند نقشه د منافق سره سميږي كه هغه د ايمان دعوه كوي نو په هغه كي ددغه عادتونو پيدا كېدل مناسب نه دي او كه هغه د دنيا او آخرت خير غواړي نو د هغه لپاره ضروري ده چي دا كارونه سمدستي پريږدي.

د منافق مثال

﴿۵۰﴾ : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلُ الْمُنَافِقِ كَالشَّاةِ الْعَائِرَةِ بَيْنَ الْغَنَمَيْنِ تُعِيْرُ إِلىٰ هٰذِهِ مَرَّةً وَإِلَى هٰذِهِ مَرَّةً . رواه مسلم .

حضرت ابن عمر ﷺ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د منافق مثال د هغه بزې په ډول دی چي په منځ د دوو رمو كي ځي د نر ليواله وي او د دې خواهش پوره كولو لپاره كله يوې رمې ته منډه كړي او كله بلي رمې ته . مسلم .

تشريح : د منافق مثال د هغه پسه سره وركړل سوی دی چي د خپل نارينه په لټه كي آخوا دېخوا ګرځي راګرځي همداسي د منافق حالت وي چي د هغه په وړاندي يوازي د دنيا حرص او د مال او ځان د ساتني مقصد وي ځكه هغه ماده صفته جوړېدو سره كله د مسلمانانو په غيږ كي پناه اخلي او كله د كافرانو ډلي ته په تللو سره خپل مقصد تر لاسه كول غواړي، د نفاق څخه د نفرت

پيدا كولو لپاره څرګنده ده چي دا تشبيه ډيره مؤثره ده .

الفصل الثاني

﴿۵۱﴾ : عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ قَالَ قَالَ يَهُوْدِيٌّ لِصَاحِبِهِ اِذْهَبْ بِنَا إِلىٰ هٰذَا النَّبِيِّ فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ لاَ تَقُلْ نَبِيٌّ إِنَّهُ لَوْ سَمِعَكَ كَانَ لَهُ أَرْبَعَة أَعْيُنٍ فَأَتَيَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلاَهُ عَنْ تِسْعِ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تُشْرِكُوْا بِاللهِ شَيْئًا وَّلاَ تَسْرِقُوْا وَلاَ تَزْنُوْا وَلاَ تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ وَلاَ تَمْشُوْا بِبَرِيْءٍ إِلى ذِيْ سُلْطَانٍ لِيَقْتُلَهُ وَلاَ تَسْحَرُوْا وَلاَ تَأْكُلُوا الرِّبَا وَلاَ تَقْذِفُوْا مُحْصَنَةً وَلاَ تُوَلُّوْا لِلْفِرَارِ يَوْمِ الزَّحْفِ وَعَلَيْكُمْ خَاصَّةً الْيَهُوْدُ أَنْ لاَّ تَعْتَدُوْا فِي السَّبْتِ . قَالَ فَقَبَّلاَ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ وَقَالَ نَشْهَدُ أَنَّكَ نَبِيٌّ قَالَ فَمَا يَمْنَعُكُمْ أَنْ تَتَّبِعُوْنِي قَالُوْا إِنَّ دَاوُدَ دَعَا رَبَّهُ أَنْ لاَ يَزَالَ مِنْ ذُرِّيَّتِهِ نَبِيٌّ وَإِنَّا نَخَافُ إِنْ تَبِعْنَاكَ أَنْ يَقْتُلَنَا الْيَهُوْدُ . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي .

د حضرت صفوان بن عسال [1] ﷛ څخه روايت دى چي يو يهودي خپل ملګري ته وويل چي موږ دې نبي ﷺ ته ورسوه ، هغه ملګري ورته وويل ده ته نبي مه وايه كه هغه دا الفاظ واوري نو سترګي به يې څلور سي (يعني ډير به خوشحاله سي) نو هغه دواړه يهوديان د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سول او د ده مبارك څخه يې د هغو نهو څرګندو علامو پوښتنه وكړه (د كوم ذكر چي په قرآن مجيد كي راغلى دى) نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : هيڅوك د الله سره شريك مه جوړوئ، غلا مه كوئ، زنا مه كوئ، په ناحقه څوك مه وژنئ مګر په حقه سره، يو بې ګناه په الزام لګولو سره حاكم ته مه بياياست چي هغه ته د قتل سزا وركړي، جادو مه كوئ، سود مه خورئ، پر هيڅ يو پاك لمني تهمت مه واياست، د كفارو سره د جنګ پر مهال مه تښتئ، د دې وروسته نبي كريم ﷺ وفرمايل او اې يهودو ! ستاسو ذپاره دا خاص حكم دى چي د شنبې په ورځ قانون ماتونه مه كوئ (يعني د شنبې په ورځ ښكار وغيره مه كوئ) د راوي بيان دى كله چي د نبي كريم ﷺ خبري هغه يهوديانو واورېدې نو د نبي كريم ﷺ لاسونه او پښې يې مچ كړې او عرض يې وكړ موږ شاهدي وايو چي تاسو په حقه نبي ياست، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : نو تاسو زما اطاعت ولي نه كوئ؟ هغوي وويل : داؤد عليه السلام د الله ﷻ څخه دا دعاء غوښتې ود

---

[1] صفوان بن عسال ﷛ د مرادي په نسبت سره مشهور دى ، نو موږى د حضرت علي ﷛ د خلافت په زمانه كي وفات سوى دى .

چي نبي دي همیشه د هغه په اولاد کي وي په دې وجه زموږ سره اندېښنه ده که موږ ستاسو اطاعت ومنو نو یهود به موږ قتل کړي .ترمذي،ابوداؤد او نسائي.

تشریح : حضرت موسی علیه السلام د بني اسرائیلو د هدایت لپاره د الله تعالی د لوري دنیا ته تشریف راوړی وو، د نبوت د دلیل په توګه هغه ته چي کومي دوې معجزې ورکړل سوي وې په هغو کي یوه لکړه وه، لکړه د حضرت موسی علیه السلام تر ټولو لویه معجزه وه چي د هغه په ذریعه هغه لوی لوی کارونه سرته رسول، هر کله چي د فرعون د لوري د هغوئ او د هغه د زمانې د مشهورو ساحرانو او جادوګرانو په مینځ کي مقابله وسوه نو الله تعالی هغه ته د لکړي په ذریعه دا بریالیتوب ورکړ چي جادوګرانو په خپل سحر او جادو سره رسۍ په مارانو جوړولو سره پر مځکه وغورځولې، نو حضرت موسی علیه السلام خپل لکړه د الله تعالی په حکم سره وغورځول چي د هغه په لیدو سره د یو لوی افعي مار شکل اختیارولو سره ټول ماران وخوړل.

همدارنګه د هغه علیه السلام دوهمه لویه معجزه (ید بیضاء) وه، هر کله چي به حضرت موسی علیه السلام خپل لاس مبارک په بغل کي ننه ایستی نو د راکښلو سره به هغه د لمر په ډول ځلانده سو، د دومره لویو معجزو سربیره هر کله چي د هغه قوم پر سیده لار نه راغلی نو الله تعالی هغوئ په عامه بلا اخته کړل چي پر هغوئ وچ کالي راغلل او د هغوئ د میوو په حاصلاتو کي کمي راغلل، بیا چي د هغوئ سرکښي او نافرماني نوره زیاته سوه نو پر هغوئ مختلف عذابونه راتلل پیل سول مثلا باران دومره ډیر و اورول سو چي طوفان هغوئ راګیر کړل، د هغوئ پر فصلونو ملخان اخته سول چي د هغه په وجه د هغوئ فصلونه تباه او برباد سول، د هغوئ په غلو کي چینجیان پیدا سول چي د هغوئ غلې ختمول یې پیل کړل، پر هغوئ د چنګښو عذاب راولیږل سو چي د هغوئ په خوراک، څښاک بلکه په هر شي کي به چنګښي وې، بیا د هغوئ او به ویني سوې کله چي به دوئ او به څښلې نو هغه به د ویني شکل اختیار کړ، په هر حال دا نهه شیان د حضرت موسی علیه السلام معجزې او د هغه د نبوت خاصي نښې وې.

په دغه حدیث شریف کي چي هغه دوو یهودویانو د کوم نهو څرګنده احکامو په اړه پوښتنه وکړه د هغه څخه یا خو هغه احکام مراد وه چي رسول الله ﷺ هغوئ ته ارشاد وفرمایل، یا د هغوئ مراد د حضرت موسی علیه السلام د هغه نهه معجزو او نښو په اړه چي د رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه خبر او توثیق تر لاسه کول وو، په دې صورت کي ویل کیدای سي چي یا خو په خپله رسول الله ﷺ د هغه ذکر ځکه ونه کړ چي هغه په قرآن کریم کي په تفصیل سره موجود دي او

كوم چي ضروري احكام وه د هغه حكم يې هغوئ ته وښودی ، يا دا چي د هغوئ د سوال په جواب كي د هغه نهه شيانو ذكر فرمايلو سره بيا هغوئ ته د خپل طرف څخه دا احكام وركړل او راوي د هغه د مشهور كېدو په جه د د هغه يادونه ونه كړل، پاته سو هغه حكم چيَ رسول الله ﷺ د پورتني نهه احكامو څخه پرته په خاصه توګه يهوديانو ته وركړ د هغه تفصيل دادی چي ځرنګه د ټولو قومونو لپاره هم د شنبې ورځ د عبادت لپاره ټاكل سوې وه او هغوئ ته حكم وركړل سوی وو چي په دغه ورځ دي د الله تعالى په عبادت كي بوخت اوسي ، دغه قوم د ښكار خاص شوق درلودی ځكه نو هغوئ په دغه ورځ هم د ښكار كولو څخه منعه كړل سوي وه ، مګر قوم دې حكم ته څه ارزښت ور نه كړ او د سخت منعه كېدو سربيره يې په دغه ورځ د ماهيانو وغيره ښكار كول پيل كړل، د الله تعالى د لوري هغوئ په وار وار خبر كړل سول مګر كله چي هغوئ ونه منل نو په پای كي په سخت عذاب اخته كړل سول ، ځكه رسول الله ﷺ هغه يهوديانو ته د هغه په اړه په خاصه توګه تاكيد وكړ چي تاسو په دې اړه د الله تعالى قائم كړل سوي حد څخه تجاوز مه كوئ او تاسو په دغه ورځ د ښكار كولو څخه منعه كړل سوي ياست ځكه په دې منعه عمل وكړئ او ددې حكم نافرماني مه كوئ ،

هغه يهوديانو د رسول الله ﷺ څخه د احكامو په اورېدو سره د رسول الله ﷺ د رسالت شاهدي وركول د زړه په صدق سره نه وه بلكه د خپل علم د اظهار او اعتراف په توګه وو ، مطلب دا چي يهوديانو په خپل مذهبي كتابونو كي د رسول الله ﷺ نبي مرسل كېدل ويلي وه او هغوئ ښه پوهېدل چي محمد ﷺ واقعتا د الله تعالى راليږلی نبي او رسول دی مګر دا د هغوئ بد بختي وه چي ددغه صحيح علم سربيره هغوئ ته د اسلام قبلولو توفيق نصيب نه سو او تعصب هغوئ دومره پر مخ بيولي وه چي بالكل حقه لار ورته نه معلومېدل، هغه دواړو يهوديانو بس همدومره وكړل چي د خپل علم اقرار يې وكړ او شاهدي يې وركړل چي تاسو په واقعت كي د الله تعالى نبي او رسول ياست ، ظاهره ده چي محض علم كېدل يا د خپل علم اعتراف كول د وجود ايمان لپاره نسي كافي كېدلای ، پاته سول د هغه دواړو يهوديانو دا وينا چي حضرت داؤد ﷺ دا دعاء كړې وه چي د هغوئ اولاد كي دي هميشه يو نبي وي او د هغوئ دا دعاء به يقينا قبوله سوې وي ځكه د هغه په اولاد كي د يو چا نبي كېدل هم يقيني دي او هر كله چي هغه نبي ظاهر سي او ټول يهوديان به د هغه نبي تابع او مطيع كېدو سره شوكت او غلبه تر لاسه كړي نو بيا به زموږ وخت راسي يعني ټول يهوديان به زموږ په دغه جرم كي ووژني چي موږ د رسول الله ﷺ دين

ولي قبول کړ ، ددې بيري څخه موږ پر تاسو ايمان نه راوړو ، ظاهره ده چي ددغه دواړو يهوديانو حضرت داؤد ﷺ طرف ته د يوې غلطي خبري نسبت کول او په يقيني توګه سره يوه مفروضه او واهمه وه ، حضرت داؤد ﷺ هيڅکله دا دعاء نه وه کړې او هغوئ به داسي دعاء څنګه کول ، هغوئ خو په خپله په تورات او زبور کي لوستي وه چي محمد ﷺ خاتم النبيين دی او د هغه دين د ټولو دينونو نسخ کونکی دی .

هغه درې خبري چي د ايمان بنياد دی

﴿۵۲﴾: وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلاَثٌ مِنْ أَصْلِ الإِيْمَانِ اَلْكَفُّ عَمَّنْ قَالَ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ لاَ تُكَفِّرْهُ بِذَنْبٍ وَلاَ تُخْرِجْهُ مِنَ الإِسْلاَمِ بِعَمَلٍ وَالْجِهَادُ مَاضٍ مُنْذُ بَعَثَنِيَ اللهُ إِلىٰ أَنْ يُّقَاتِلَ آخِرُ هٰذِهِ الأُمَّةِ اَلدَّجَّالَ لاَ يُبْطِلُهُ جَوْرُ جَائِرٍ وَلاَ عَدْلُ عَادِلٍ وَالإِيْمَانُ بِالأَقْدَارِ . رواه أبو داود

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :درې شيان د ايمان بنسټ دي:۱- چا چي په ژبه سره لااله الاالله ويلي وي نه خو د ګناه په وجه هغه کافر ګرځي او نه د يو عمل په وجه هغه د اسلام څخه وځي ،۲- د کومي ورځي څخه چي زه الله پاك راليږلی يم جهاد به هميشه جاري وي تر دې چي ددې امت آخري (ډله يا سړی) به د جال و وژني . نه به يو ظالم جهاد بند کړي او نه به يې د يو منصف انصاف ، ۳-او په تقدير باندي ايمان راوړل . ابوداؤد .

تشريح : يو مسلمان ته د کافر ويلو منعه دغه حديث په ښکاره توګه سره ثابت کړی دی، مطلب دا چي څرنګه ښه کار کونکي کافر ته مسلمان ويل منعه دي تر څو پوري چي هغه د توحيد او رسالت اقرار ونه کړي همداسي يو مسلمان ته يوازي د هغه د بدو عملونو په وجه کافر ويل سخت جُرم دی تر څو پوري چي هغه د کفريه عقيدې اعلان ونه کړي نو د (لاتکفره بذنب) يعني د يو ګناه په وجه هغه ته کافر مه واياست، په دغه الفاظو کي خو د خارجيانو ترديد دی چي د هغوئ وينا ده که مؤمن د ګناه مرتکب سي که څه هم هغه کوچنۍ ګناه وي نو هغه کافر کيږي او د (ولاتخرجه من الاسلام بعمل) يعني د يو عمل په وجه د اسلام څخه خارج نه ګرځوي، په دغه الفاظو کي د معتزله ترديد دی چي وايي بنده په ګناه کبيره سره د اسلام څخه وځي که څه هم کافر کيږي نه، د ګناه کبيره لپاره هغوئ يوه درميانه درجه مني يعني نه خو هغه ته مسلمان وايي او نه کافر، په هر حال د خارجيانو او معتزله څخه پرته د اوسنۍ زمانې هغه مسلمانانو ته هم ددغه حديث په هنداره کي خپل مخ کتل پکار دي چي د کفر ټاپې لګوي او د خپل ځان څخه پرته

نور ټول مسلمانان كافران ګرځوي، د اشقى القلب خلک محضې د ذاتي غرض او نفساني خواهش په وجه نه يوازې عام مسلمانانو ته بلكه علماء حق او اولياء الله ته په كافر ويلو سره يوه ذره هم خطره نه محسوس كوي، داسې خلكو ته په يخ زړه او دماغ سره فكر كول پكار دي چې هر كله نبوي ژبې ګناه كار مسلمان ته هم د كافر ويلو څخه سخته منعه فرمايلې ده نو بيا هغه ددين بزرګان او امامانو ته كافر ويل چې د هغوئ د ژوند ټوله برخه د مذهب په خدمت او خپرېدو كې تيرېږي او څوک چې دوئ ته كافر نه وايي هغه ته هم كافر ويل د احكام شريعت او فرمان رسالت سره مضحكه معامله ده چې د هغه نتيجه ښكاره ده چې د عذاب الهي او د آخرت د تاوان څخه پرته بل هيڅ نه راوځي.

په حديث شريف كې چې كومو خبرو ته د ايمان بنياد ويل سوي دي په هغه كې لومړۍ خبره خو هغه ده چې د هغې وضاحت وسو، دوهمه خبره د جهاد ده، په دې اړه د نبوي ارشاد مطلب دادی چې اوس د مځكې پر مخ حق دين ښكاره سي او د رسول الله ﷺ د رسالت اعلان كېدو څخه وروسته تر دې وخته پورې چې په آخر كې قيامت ته نږدې تر څو پورې دجال ونه وژل سي، ياجوج او ماجوج په ښكارېدو سره فنا نه سي او د مځكې مخ د دين د يوه يوه دښمن او منكر څخه پاكه نسي نو تر هغه وخته پورې به جهاد جاري وي، د جهاد فرضيت او ارزښت په هغه صورت كې هم نه ختميږي هر كله چې يو اسلام مشر د هيواد ظالم او جابر وي مګر ددين ددښمنانو خلاف هغه د جهاد اعلان وكړي نو هغه منل او د هغه سره په جهاد كې ګډون كول په شرعي توګه سره ضروري دي، دا نه چې د هغه د ظلم او جبر په بهانې سره په جهاد كې د ګډون او مرستيال جوړېدو څخه انكار وكړل سي، همداسې كه د دين د دښمنانو د قوم مشر او پاچا په اتفاق سره عادل او منصف وي نو هر څومره كه د پاچا عدل د امن او انصاف باعث كيږي مګر د اسلام د شوكت او شان زياتولو او ددين د كلمې د لوړتيا لپاره د هغه عدل پاچا د قوم پر خلاف هم جهاد غير ضروري نسي ګڼل كيدلای.

دريمه خبره پر تقدير باندې عقيده او يقين درلودل دي يعني د ايمان د سلامتۍ لپاره سخته ضروري ده چې په كائناتو كې څه كيږي او څه چې پېښې او واقعات پيښيږي هغه ټول د قضا او قدر الهي سره سم كيږي.

د زنا کولو په وخت کې ایمان وځي

﴿۵۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا زَنَى الْعَبْدُ خَرَجَ مِنْهُ الْإِيْمَانُ فَكَانَ فَوْقَ رَأْسِهِ كَالظُّلَّةِ فَإِذَا خَرَجَ مِنْ ذٰلِكَ الْعَمَلِ رَجَعَ إِلَيْهِ الْإِيْمَانُ . رواه الترمذي وأبو داود .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي بنده زنا کوي نو ايمان د هغه څخه وځي پر سر يې د سايې په ډول ولاړ وي او کوم وخت چي هغه د هغه بد عمل څخه فارغ سي نو ايمان بيرته راسي .ترمذي او ابوداؤد

تشريح : حافظ ابن تيميه (رح) پر دې باندي يو ډير ښه مثال ورکړی دی هغه فرمائي چي د يو ګناه کار مثال داسي دی لکه د سترګو بندولو څخه وروسته نه يو ويني او نه دوه، مګر فرق دادی چي د نابينا سترګي رڼا نه لري او بينا که څه هم رڼا خو لري مګر د سترګو د غلاف په وجه هغه رڼا کار نه کوي، همداسي د يو مؤمن نور بصيرت باندي چي د بې لارۍ او ګمراهی پرده ولويږي نو هغه هم د کافر په ډول د معصيت او طاعت فرق نه پيژني ځکه دا ويل بالکل پر ځای دي چي مؤمن په کوم حالت کي زنا کوي د هغه نور ايماني د بهيمت او معصيت د تاريکۍ سره داسي کمزوری سي چي هغه ته هم په معصيت کولو کي څه پرواه پاته نسي، او هر کله چي هغه بنده د هغه معصيت څخه وروسته د زړه په صدق سره توبه کاږي نو هغه د بهيمت پرده بيا وشکيږي او په ايماني نور سره بيا ځليدل پيل کړي . ترجمان السنة .

الفصل الثالث

حضرت معاذ ﷺ ته د لسو خبرو وصيت

﴿۵۴﴾ : عَنْ مُعَاذٍ قَالَ أَوْصَانِيْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَشْرِ كَلِمَاتٍ قَالَ لاَ تُشْرِكْ بِاللهِ شَيْئًا وَإِنْ قُتِلْتَ وَحُرِّقْتَ وَلاَ تَعُقَّنَّ وَالِدَيْكَ وَإِنْ أَمَرَاكَ أَنْ تَخْرُجَ مِنْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ وَلاَ تَتْرُكَنَّ صَلاَةً مَكْتُوْبَةً مُتَعَمِّدًا فَإِنَّ مَنْ تَرَكَ صَلاَةً مَكْتُوْبَةً مُتَعَمِّدًا فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ ذِمَّةُ اللهِ وَلاَ تَشْرَبَنَّ خَمْرًا فَإِنَّهُ رَأْسُ كُلِّ فَاحِشَةٍ وَإِيَّاكَ وَالْمَعْصِيَةَ فَإِنَّ بِالْمَعْصِيَةِ حَلَّ سَخَطُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَإِيَّاكَ وَالْفِرَارَ

د حضرت معاذ ﷺ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ ما ته د لسو خبرو وصيت کړی دی يعني فرمايلي يې دي : (۱) هيڅ شی د الله سره شريك مه نيسه که څه هم ته په دې خبره ووژل سې يا وسوځل سې (۲) د مور او پلار نافرماني مه کوه که څه هم هغوئ تا ته دا حکم درکړي چي ته ووځه د خپل اهل (يعني کور څخه) او مال و دولت پريږده (۳) په قصد سره فرض لمونځ مه پريږده ځکه چا چي په قصد سره فرض لمونځ

مِنَ الزَّحْفِ وَإِنْ هَلَكَ النَّاسُ وَإِذَا أَصَابَ النَّاسُ مَوْتٌ وَأَنْتَ فِيهِمْ فَاثْبُتْ وَأَنْفِقْ عَلَىٰ عِيَالِكَ مِنْ طَوْلِكَ وَلَا تَرْفَعْ عَنْهُمْ عَصَاكَ أَدَبًا وَأَخِفْهُمْ فِي اللهِ .رواه أحمد .

پرېښودي نو داالله ذمه د هغه څخه ايسته ده. (۴) شراب مه څښه ځکه شراب څښل د ټولو ګناهونو رېښه ده (۵) د ګناهو څخه ځان ساته ځکه په ګناه سره د الله غضب نازلیږي (۶) په جهاد کي ځان د تښتي څخه ژغوره که څه هم خلك پکښي مري (۷) هر کله چي په خلګو کي ناروغي (وباء) خپره سي او ته په هغو خلګو کي موجود يې نو دمرګ د بيري مه تښته او هلته پاته سه (۸) په خپله کورنۍ د خپل وس سره سم خرڅ کوه (۹) خپل کورنۍ ته ادب وښيه که څه هم د دې لپاره د وهلو ضرورت سي (۱۰) خپله کورنۍ د الله څخه وبیروه . احمد.

تشریح : شرک د خپل خرابۍ په وجه ثومره خطرناک دی او په اُخروي حيثيت سره ثومره د هلاکت لري، ددې اندازه ددې خبري څخه کيدلای سي چي رسول الله ﷺ حضرت معاذ ؓ ته وصيت وفرمايه که چيري ستا د مرګ هم خطره وي يا په اور کي واچول سې نو بيا هم د توحيد په اړه د خپل عقيدې څخه يوه ذره هم مه تر شا کيږه بلکه د مرګ پرواه کولو پرته پر خپل عقيدې باندي په ټينګۍ سره قائم اوسه او کوم چي د مرګ د مسئلې تعلق دی نو ويل کيږي چي حضرت معاذ ؓ د خپل فطرت په اعتبار سره د شريعت په پيروۍ کي ډير سخت وو، او هري مسئلې هغه اړخ به يې غوره کوئ کوم چي به اولی وو، ځکه نو رسول الله ﷺ د هغه د مزاج او شوق سره سم په دومره ارزښت سره هغه ته حکم ورکړ کنه نو پر داسې موقع باندي هر کله چي د خپل ايمان او اسلام اظهار د خپل مرګ دعوت ورکونکي او د کفر او شرک په ژبه سره ادا کولو څخه پرته ځان نه ژغورل کيږي نو ددې اجازه ده چي د کفر او شرک کلمه په ژبه سره ادا کړي په شرط ددې چي په زړه کي ايمان په پوره توګه سره موجود وي .

د مور او پلار د اطاعت او فرمانبردارۍ ارزښت او تاکيد هم د مبالغې په توګه وفرمايل سو که چيري مور او پلار ستا د کورنۍ څخه د بيلېدو يا ستا د مال او اسباب څخه د جلا کېدو حکم وکړي نو د دغه حکم اطاعت کوه، ددې لپاره هم اصل مسئله داده چي د مور او پلار دا حکم منل واجب نه دي چي په خرڅ او تاوان کي اخته کېدل لازم نسي ، د فرض لمانځه ارزښت ښودلو لپاره وفرمايل سول که ته په قصد سره لمونځ پريږدې نو بيا خپل ځان په دنيا او آخرت کي د الله تعالى د ذمه دارۍ څخه وتلی وګڼه په دنيا کي خو په دې اعتبار سره چي د اسلامي نظام او اسلامي حکومت د قانون سره سم چي د هغه کومه سزا مستوجب وګرځول سي په هغه کي د الله تعالى د

لوري به هیڅ امن او بخښنه تا ته نه تر لاسه کیږي او په آخرت کي په دې اعتبار سره چي هلته د لمانځه د پرېښودلو په وجه به ته په عذاب کي اخته سې، د ښمن ته د شا کولو په اړه دا مسئله ده که دښمن زیات وي یعني د یو مسلمان په مقابله کي دوه ددین دښمنان وي نو په دې صورت کي د مقابلې څخه مخ اړول او تېښته کول مسلمان ته هیڅ جائز نه ده، مګر که چیري د یوه مسلمان په مقابله کي د دوو څخه زیات وي نو بیا د تباهۍ خطرې لېدو په وجه مقابله نه کول او د ځان ژغورلو لپاره تېښته اختیارول جائز ده، رسول الله ﷺ حضرت معاذ ﷺ ته دا حکم د مبالغې په توګه ورکړ چي ته په هیڅ صورت کي دښمن ته شا مه کوه که څه هم ستا ټول ملګري شهیدان سي او د دښمن مقابلې ته ته یوازي پاته سې.

په دغه حدیث شریف کي یوه عقیدوي کمزوري هم په ګوته سوې ده او د هغه پر خلاف حضرت معاذ ﷺ خبردار کړل سوی دی یعني اکثر داسي کیږي چي هر کله یو اباد‌ۍ کي یو وباء خپره سي او مرګونه زیات کیږي نو عام خلک په بیره کېدو سره خپل کور او ځای پرېږدي او د هغه ځایه څخه تښتي، ددې لپاره هم اصله مسئله داده چي کوم خلک په هغه اباد‌ۍ کي د مخکي څخه مقیم نه وي بلکه په نورو ځایونو کي وي نو د هغوئ لپاره جائز ده چي د هغه اباد‌ۍ څخه لیري اوسي او هلته رانسي، مګر کوم خلک چي د مخکي څخه په هغه اباد‌ۍ کي مقیم وي نو د هغوئ لپاره جائز نه ده چي د مرګ د بیري څخه هغه ځای پرېږدي او د هغه ځای څخه وتښتي ځکه چي د وباوهلي ځای څخه تښتېدل داسي ګناه ده لکه څرنګه چي د کافر د مقابلې څخه تښتېدل، بلکه کوم سړی چي په دې عقیدې سره وتښتي چي وایي که چیري دلته پاته سم نو مړ به سم او د دغه ځای څخه په تښتېدو سره به د مرګ څخه خوندي سم نو هغه کافر کیږي.

اوس کفر دی که ایمان؟

﴿۵۵﴾ :وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ إِنَّمَا كَانَ النِّفَاقُ عَلٰى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَّا الْيَوْمَ فَإِنَّمَا هُوَ الْكُفْرُ اَوِ الْإِيْمَانُ . رواه البخاري .	د حضرت حذیفه[1] ﷺ څخه روایت دی چي منافقت د نبي کریم ﷺ په زمانه کي وو، او اوس خو یا کفر دی یا ایمان. بخاري

تشریح: د رسول الله ﷺ په زمانه کي د ځینو حکمتونو په وجه منافقین د مسلمانانو په حکم کي

[1] د نوموړي نوم حذیفه بن یمان دی او کنیت یې ابوعبدالله عیسی دی، د حضرت نعمان ﷺ د شهادت څخه څلویښت ورځي وروسته په کال (۳۶هـ) کي وفات سوی دی.

ساتل کېدل او د هغوئ پر د سیسو به سترګي پټېدلې ، مګر اوس دا حکم پاته نه دی ، فرض کړئ که د یو مسلمان په اړه دا څرګنده سي چي دا سړی مخلص مؤمن نه دی بلکه حقیقي منافق دی نو پر هغه به د کفر او ارتداد حکم جاري کیږي او اسلامي حکومت به هغه ته د مرګ سزا ورکوي .

بَاب فِيْ الْوَسْوَسَةِ

(دغه باب د وسوسې په بیان کي دی)

وسوسه د ګناه یا کفر په اړه هغه خیال ته وایي چي په زړه کي راسي ، یا شیطان یې په زړه او دماغ کي واچوي ، ددې په مقابله کي الهام هغه ښه او نیک خیال ته وایي چي د الله تعالی د لوري په زړه او دماغ کي واچول سي .

د وسوسې ډولونه

د وسوسې مختلف صورتونه او نوعیتونه دي او په دې اعتبار سره علماؤ ددې بیل بیل ډولونه ټاکلي دي ، د وسوسې یو ډول خو ضروري یعني اضطراري دی او دوهم ډول اختیاري دی ،

ضروري یا اضطراري وسوسه هغه ته وایي چي د یو ګناه یا ایمان او یقین خلاف د یو خبري خیال ناڅاپه او بې اختیاره په زړه او دماغ کي راسي ، دا په اصطلاحي توګه سره په هاجس سره تعبیر کیږي ، ددغه هاجس معافي په تیرو امتونو کي هم راغلې ده او په دې امت کي هم ده ، او که چیري هغه خراب خیال په زړه او دماغ کي ځای ونیسي او شکمن کیفیت پیداسي نو هغه په خاطر سره تعبیر کیږي او خاطر هم دغه امت ته معاف دی ،

اختیاري وسوسه هغه ته وایي چي د یو ګناه یا ایمان او یقین خلاف د یو خبري خیال په زړه او دماغ کي پیداسي او پر له پسې وي مستقل شکمني کوي ، د طبیعت خواهش هم د هغه د کولو وي او یو ډول لذت او مینه هم د هغه سره محسوس کیږي ، د اختیاري وسوسې دغه صورت ته (هم) ویل کیږي او دا (هم) هم دې امت ته معاف دی پر دې باندي څه نیول نسته او تر څو پوري چي عملي صورت اختیار نه کړي پر دې څه ګناه په عمل نامه کي نه لیکل کیږي بلکه که چیري د عمل قصد وسي او بیا خپل ځان د عمل څخه وساتي نو د هغه په عوض کي نیکي لیکل کیږي د (هم) په مقابله کي د اختیاري وسوسې د دوهم صورت نوم (عزم) دی ، یعني د

انساني طبيعت او نفس يو خراب خيال او خرابه خبره د خپل ځان سره كول او جم كول او نه يوازي دا چي ددې خيال څخه نفرت او كراهت نه وي بلكه پر دې د عمل كولو داسي پخه اراده كول كه يو خارجي مانع نه وي او اسباب او ذرائع برابر وي نو هغه به يقيني توګه باندي عملي صورت اختياروي نو د وسوسې دا صورت داسي دی چي د نيولو قابل دی مګر ددغه نيولو نوعيت په عملي توګه باندي د كيدونكي نيوني څخه سپک وي، مطلب دا چي دا وسوسه هر كله چي د دننه څخه په وتلو سره عملي صورت اختيار كړي نو ګناه به زياته وي.

دلته دا وضاحت ضروري دی چي د وسوسې پورتني ډولونه د هغه كارونو او عملونو نسبت نه دی چي د هغه د وقوع او كېدو تعلق د بدن د ظاهري اندامونو سره دی لكه زنا، غلا او داسي نور، كومو خبرو ته چي د زړه او دماغ فعل ويل كيږي لكه خرابه عقيده، حسد او داسي نور نو هغه په دغه وېش كي داخل نه دي او د هغه پر هميشتوب باندي به نيونه وي.

الفصل الاول

دوسوسې معافي

﴿۵۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللهَ تَعَالٰى تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِيْ مَا وَسْوَسَتْ بِهِ صُدُوْرُهَا مَا لَمْ تَعْمَلْ بِهِ أَوْ تَتَكَلَّمْ. (متفق عليه)	د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د امت په زړه كي چي كومي وسوسي پيدا كيږي الله ﷻ هغه معاف كړي دي تر څو چي د هغې مطابق عمل ونه كړي يا په ژبه سره څه ونه وايي.

وسوسه بدګڼل د ايمان نښه ده

﴿۵۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ جَاءَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلُوْهُ إِنَّا نَجِدُ فِيْ أَنْفُسِنَا مَا يَتَعَاظَمُ أَحَدُنَا أَنْ يَتَكَلَّمَ بِهِ قَالَ وَقَدْ وَجَدْتُمُوْهُ قَالُوا نَعَمْ قَالَ ذَاكَ صَرِيْحُ الْإِيْمَانِ (روه مسلم)	د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي د اصحابو څخه ځيني د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سول او عرض يي وكړ اې دالله رسوله! زموږ په زړونو كي (كله ناكله) داسي خبري وي

چي هغه موږ په ژبه نه سو راوړلای، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ايا تاسو رښتيا هم هغه خبري په ژبه ويل بد ګڼي؟ هغوئ وويل: هو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: هم دغه ښكاره ايمان دی. مسلم

کله چې شیطان وسوسه پیدا کړي نو د الله ﷻ پناه غواړئ

﴿۵۸﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي الشَّيْطَانُ أَحَدَكُمْ فَيَقُولُ مَنْ خَلَقَ كَذَا وَكَذَا حَتَّى يَقُولَ مَنْ خَلَقَ رَبَّكَ؟ فَإِذَا بَلَغَهُ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللّٰهِ وَلْيَنْتَهِ (متفق علیه)

د حضرت ابوهریرة ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي چا ته شیطان راځي او ورته وایي چې دا (مثلا آسمان) چا پیدا کړ او دا (مثلا مځکه) چا پیدا کړه ؟ تر دې چې هغه دا وایي چې ستا رب چا پیدا کړ؟ هر کله چې د چا په زړه کي دا ډول وسوسې پیدا سي نو د الله څخه پناه غواړئ او دا خیال د زړه څخه لیري کړئ .بخاري او مسلم.

تشریح : شیطان د انسان د روحاني ارتقاء تر ټولو لوی دښمن دی د هغه بنیادي نصب العین دادی چې د الله تعالی بندګان چې د الله تعالی پر ذات او صفاتو باندي یقین لري د هغوئ په ګمراه کولو کي لګیدلی دی دا نه چې هغه د چم بازۍ په ذریعه د انسان په نیک عمل او ښه کارونو کي د بندیز او زنګ پیدا کولو هڅه کوي بلکه د هغه زورور قوت په تکیه چې حق تعالی د تکوین د حکمت سره سم هغه ته ورکړی دی د وسوسې په ذریعه د انسان سوچ او فکر او په خیالاتو کي د مختلف ډول شبهات او خرابۍ پیدا کولو هڅه کوي مګر د کومو خلکو سوچ او فکر او د خیالاتو پر بنیاد باندي چې د ایمان او یقین صحیح واک وي هغوئ د خپل ایمان د فکري او شعوري طاقت سره د شیطان وسوسې بیکاره کوي ،

په دغه حدیث شریف کي چې ځیني شیطاني وسوسې په ګوته سوي دي نو هلته دې ته هم اشاره سوې ده چې ددغه وسوسو د غیر مؤثر او بیکاره کېدو سره تعلق لري ، فرمایلي یې دي چې لومړی خو شیطان د الله تعالی د مخلوقات او موجوداتو په اړه وسوسه اندازي کوي مثلا په فکر او خیال کي دا خبره وراچوي چې د انسان وجود چا جوړ کړی ، ددغه مځکي او آسمان پیدا کول د چا کار دی، د الله تعالی پر ذات او صفاتو باندي د ایمان لرونکو عقل سلیم د کائناتو د ټول مخلوقات او موجوداتو د تخلیقي او تکویني نوعیت په بدیهي شعور او ادارک سره لري ځکه د مخلوقات تر حد پوري د شیطان وسوسه زیات ارزښت نه لري، مګر معامله هلته نازکه سي ، هر کله چې دا لړۍ په نازک کېدو سره الله تعالی ته ورسیږي او شیطاني وسوسه د زړه او دماغ څخه پوښتنه کوي چې هر کله دا مځکه او آسمان او ټول مخلوقات د الله تعالی پیدا کړي دي نو بیا خپله الله تعالی چا پیدا کړی دی؟ وفرمایل سول چې څرنګه دا وسوسه پیدا سي نو د الله تعالی څخه پناه غواړئ او د خپل ذهن څخه دا فاسد خیال سمدستي

لیري کړئ چي د شیطاني وسوسې لړۍ پرې سي، د الله تعالی د پناه غوښتلو مطلب صرف په ژبه سره د یو څو لفظونو ویل نه دي بلکه دا چي یوې خوا ته خپل فکر او خیال یو ځای کولو سره ددې عقیدې او یقین په نیولو کي ورکړی چي د الله تعالی ذات قدیم دی هغه واجب الوجود دی هغه چا نه دی پیدا کړی دی هغه همیشه دی او همیشه به وي او بلي خوا ته ریاضت او مجاهده او د ذات باري تعالی د ذکر او استغراق په ذریعه د خپل نفس تزکیه او د ذهن او فکر تحفظ او سلامتي په لور متوجه سئ، د وسوسې منعه کولو یو سمدستي مؤثره طریقه علماؤ دا هم لیکلې ده چي مجلس بدل کړل سي یعني کوم ځای چي ناست یا پروت وي او هلته دا وسوسه پیدا سي نو سمدستي دي د هغه ځای څخه لیري سي او یو بل ځای په تلو سره دي په یو کار او مشغله کي بوخت سي همدارنګه خیال به یې سمدستي لیري سي او د وسوسې لاره به بنده کړل سي.

﴿۵۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ النَّاسُ يَتَسَاءَلُوْنَ حَتّٰى يُقَالَ هٰذَا خَلَقَ اللّٰهُ الْخَلْقَ فَمَنْ خَلَقَ اللّٰهَ؟ فَمَنْ وَجَدَ مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا فَلْيَقُلْ آمَنْتُ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهِ (متفق عليه)

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: همیشه به خلك پوښتني کوي تر دې چي هغوئ ته دا وویل سي چي دا ټول مخلوقات خدای پیدا کړي دي نو خدای چا پیدا کړی دی ؟ د چا په زړه کي چي دا ډول وسوسې پیدا سي نو هغه دي سمدستي دا ووایي چي ما په خدای او دهغه په رسولانو ایمان راوړی دی .بخاري او مسلم

تشریح : د شیطاني د وسوسې اچولو او ګمراه کونکو خیالونو د حملو څخه د ژغورني لپاره یوه طریقه دا هم ښودل سوې ده چي پر داسي موقع باندي (آمنت باالله ورسوله) یعني ما پر الله تعالی او د هغه پر رسول ایمان راوړ، ویل پکار دي ، ددغه کلمې د ورد په ذریعه چي ژبه دا اقرار او اعتراف کوي چي زه د الله ﷻ پر ذات او د هغه پر ریښتوني رسول ایمان لرم چي هغه موږ خبر کړي یو چي د هغه ذات واجب الوجود دی هغه همیشه دی او همیشه به وي نو د خرابو خیالونو څخه به خلاصون او سلامتیا تر لاسه سي چي د هغه په سبب به شیطان په خپل مقصد کي کامیاب نسي.

د هر انسان سره یو شیطان او یوه ملائکه ټاکل سوې ده

﴿۶۰﴾ : وَعَنْ اِبْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ وَقَدْ وُكِّلَ بِهِ قَرِيْنُهُ مِنَ الْجِنِّ وَقَرِيْنُهُ مِنَ الْمَلَائِكَةِ . قَالُوْا

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله وفرمایل : په تاسو کي هیڅوك داسي نسته چي د هغه ملګری پیریان او ملائکه نه وي

وَإِيَّاكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ وَإِيَّايَ وَلٰكِنَّ اللهَ أَعَانَنِيْ عَلَيْهِ فَأَسْلَمَ فَلاَ يَأْمُرَنِيْ إِلاَّ بِخَيْرٍ . رواه مسلم .

تاکل سوي ، صحابه کرامو د دې په اوربدو سره پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! ایا ستا لپاره هم ؟

رسول الله ﷺ وفرمایل : هو ، مګر الله ﷻ (په خپل مرسته سره) پر هغو باندي ما ته غلبه زاکړې ده هغه زما تابع سوي دي او هغه ما نه امر کوي مګر په خير سره . مسلم .

تشریح : د دغه حدیث شریف مطلب دادی چي د هر انسان سره مؤکل (سپارونکی ، ساتونکی ، روح او یا پیری چي عابدانو په واک کي کړی وي) ، د هغو څخه یو خو ملائکه وي چي د نیکی او خیر په لور لارښوونه کوي او انسان ته ښه خبري او نیک کارونه ښيي او د هغه په زړه کي د خیر او ښېګڼي شیان اچوي او هغه ته ملهم وايي ، دوهم جن (شیطان) وي د هغه کار داوي چي انسان د بدۍ پر لار روانوي د ګناه او معصیت خبري ورته ښيي او په زړه کي خراب خیالونه او غلطي وسوسې پیدا کوي او د هغه نوم وسواس دی .

شیطان د انسان په رګو کي ځغلي راځغلي

﴿۶۱﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِيْ مِنَ الإِنْسَانِ مَجْرَىَ الدَّمِ .(متفق عليه)

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : شیطان د انسان په رګونو کي داسي ګرځي لکه وینه چي ګرځي. بخاري اومسلم.

تشریح : مطلب دا چي شیطان د انسان د خطاء ایستلو پوره قدرت لري ، یوازي دا نه چي هغه په مختلف ظاهري صورتونو کي د نیکو انسانانو او نیکو بندګانو د نیکۍ پر لار په تلو کي خنډ پیدا کوي بلکه د انسان په داخلي کائناتو کي په ننوتلو سره د هغه د ذهن او فکر او د هغه د زړه او دماغ د خطاء ایستلو هم هڅه کوي .

د زیږېدني پر وخت د ماشوم ژړا د شیطاني عمل نتیجه وي

﴿۶۲﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْ بَنِيْ آدَمَ مَوْلُوْدٌ إِلاَّ يَمَسُّهُ الشَّيْطَانُ حِيْنَ يُوْلَدُ فَيَسْتَهِلُّ صَارِخًا مِنْ مَسِّ الشَّيْطَانِ غَيْرَ مَرْيَمَ وَابْنِهَا .(متفق عليه)

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله وفرمایل : هيڅ یو انسان داسي نه دی پیدا سوی چي د پیداکېدو په وخت شیطام مسه کړی نه وي کوم وخت چي يې شیطان مسه کوي نو هغه د (تکلیف څخه) چغه کړي ، مګر بي بي مریم او د هغې زوی حضرت عیسی علیه السلام شیطان نه دي مسه کړي .بخاري او مسلم .

تشریح : د شیطان د مسه کولو مطلب دادی چي هغه د زيږيدني پر وخت د ماشوم په تشي کي

خپلي ګوتي داسي وهي چي سړی تکليف محسوسوي او په چغو چغو ژړا پيل کړي ، هر ماشوم ددغه تکليف ښکار کيږي ، يوازي بي بي مريم او د هغه زوی حضرت عيسی ﷺ ددغه شيطاني عمل څخه خوندي سوي دي ، د دوئ دواړو محفوظ کېدل په ظاهره د هغه دعاء د قبوليت نتيجه وه چي د بي بي مريمي مور کړې وه او قرآن کريم داسي نقل کړې ده :

وإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ٣٦. سورة آل عمران

ژباړه : (اې الله!) زه دا مريم او ددې اولاد د شيطان رټل سوي څخه ستا په پناه کي درکوم.

په حديث شريف کي د بي بي مريم او حضرت عيسی ﷺ يادونه په خاصه توګه ځکه سوې ده چي د هغوئ د مور څخه صراحتا دعاء منقوله ده ځکه رسول الله ﷺ هم صراحتا د هغه قبليدل ظاهر کړي دي نو دا نه لازميږئ چي نور انبياء هم د زيږيدني پر وخت شيطان مس کړي وي او هغوئ ته يې تکليف رسولی وي.

دلته دا مشکل هم نسي کيدلای که شيطان ته دومره قدرت وي نو هغه به ټول هلاک کړي ځکه چي شيطان ته يوازي دومره قدرت ورکړل سوی دی هغه ددې څخه زيات نور هيڅ نسي کولای او نه د هغه په اختيار کي دي چي هغه چا ته تر دې زيات تکليف رسولو سره هلاک کړي ، دوهمه خبره دا چي د شيطان په مقابله کي ملائکه هم وي چي ساتنه کوي ځکه نو دا څرنګه ممکن ده چي هغه ته څومره قدرت ورکړل سوی وي نو د هغه څخه تجاوز او زياتوب وکړي او په خپل يو مهلک اراده کي کامياب سي .

﴿۶۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: صِيَاحُ الْمَوْلُوْدِ حِيْنَ تَقَعُ نَزْغَةٌ مِنَ الشَّيْطَانِ . (متفق عليه)	د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د پيدا کېدو پر وخت د کوچني چغي او ژړا له دې کبله وي چي شيطان هغه په

ګوته په تشي کي وهي . بخاري او مسلم.

د خاوند او ښځي په منځ کي د شيطان خوښ کار

﴿۶۴﴾ : وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ إِبْلِيْسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ يَفْتِنُوْنَ النَّاس فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً يَجِيْءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُوْلُ فَعَلْتُ كَذَا	د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : شيطان خپل تخت د اوبو سربيره ايښی دی چي په هغه کي کښيني او خپلو ځواکونو ته حکم ورکوي چي ولاړ سئ خلک ګمراه کړئ او په فتنه کي يې واچوئ، د شيطان د دې ډلي ادنا

وَكَذَا فَيَقُوْلُ مَا صَنَعْتَ شَيْئًا قَالَ ثُمَّ يَجِيْءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُوْلُ مَا تَرَكْتُهُ حَتّٰى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ قَالَ فَيُدْنِيْهِ مِنْهُ وَيَقُوْلُ نَعَمْ أَنْتَ قَالَ الْأَعْمَشُ أُرَاهُ قَالَ فَيَلْتَزِمُهُ . رواه مسلم .

شيطان هغه دی چي د لوړي درجې فتنه خپره کړي، په دوئ کي يو شيطان خپل سردار ته راسي او ورته وايي ما دا دا (د فتنې کارونه) وکړل، سردار يې ورته وايي تا خو هيځ ونه کړل ، د دې وروسته نبي کريم ﷺ وفرمايل : بيا يو بل شيطان راسي او وايي ما انسان تر هغه وخته نه پرېښودی تر څو چي د هغه او د هغه د ښځي په منځ کي مي بيلتون را نه وستی ، نبي کريم ﷺ وفرمايل : مشر شيطان چي دا واوري نو د خپل ځان سره نژدې ځای ورکړي او ورته وو ايي تا ډير ښه کار وکړی . اعمش ؒ وايي زما دا خيال دی چي جابر دا الفاظ ويلي دي چي د دې په اوريدو سره شيطان هغه سره په غاړه سي . مسلم .

تشريح : د بيلوالي راوستلو څخه مراد جنګ او جګړې په ذريعه د ژبي څخه په ناپوهۍ کي داسي الفاظ ادا کول چي په هغه سره د هغه پر ښځه طلاق بائن لويږي ، په طلاق بائن کي ښځه پر سړي حراميږي، ددې څخه د شيطان مقصد داوي چي سړی د خپل جهالت په سبب د هغه ښځه په خپل نکاح کي داخله ګڼلو سره د هغې سره کوروالي کوي چي دا کار په اصل کي حرام دی او همداسي د خلکو د حرام کار په نتيجه کي ناجائز اولاد پيدا کيږي چي په هغه سره د مځکي پر مخ د ناجائز اولاد شمير زياتيږي او هغه ناجائز پيدا سوي خلک په دنيا کي فسق او فجور او ګناه او معصيت زيات خپروي .

په جزيره عرب کي د توحيد د ټينګ نظام په وجه د شيطان نااميدي

﴿۶۵﴾ : وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يَّعْبُدَهُ الْمُصَلُّوْنَ فِيْ جَزِيْرَةِ الْعَرَبِ وَلٰكِنْ فِي التَّحْرِيْشِ بَيْنَهُمْ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دی چي ما د نبي کريم ﷺ څخه واوريدل چي فرمايل يې : شيطان د دې امر څخه نا اميده سو چي د جزيره عرب عبادت کونکي (مؤمن) د هغه عبادت وکړي (يعني په بت پرستي کي اخته سي) مګر د هغوئ په منځ کي د جنګ جګړې پيدا کولو څخه نا اميده نه سو (دا کار هغه جاري ساتي) . مسلم .

تشريح : مطلب دا چي په جزيره عرب کي د ايمان او اسلام بنياد دومره ټينګ سوی دی او د توحيد کلمه ددغه ځای د خلکو په زړه او دماغ کي داسي ټينګه سوې ده چي اوس په دغه ځای

كي به د بت پرستۍ لعنت هيڅكله هم ونه ليدل سي ، په دې اړه شيطان هم خپله ماته تسليم كړې ده او هغه ددې خبري څخه بالكل نا اميده سوى دى چي ددغه ځاى مؤمن مسلمان د هغه په واک كي راتلو سره په بت پرستۍ او نورو څرګندو مشركانه حركاتو كي اخته كيداى سي ، مګر په هر صورت په واک كي كول او خطاء كول د شيطان فطرت دى ځكه هغه د جزيرة عرب په خلكو كي خپل كاروائي نه ده ختم كړې او په دې خبره كي اميدوار دى چي د هغوئ په منځ كي ډول ډول جذباتو په راپارولو سره هغوئ په خپل منځ كي په جګړه اخته كړي هغوئ د بيلوالي ، افتراق او انتشار په فتنو كي اخته كيدلاى سي .

ددغه حديث شريف په رڼا كي دا خبره د يادوني وړ ده چي د رسالت د زمانې څخه تر ننه پوري هيڅكله هم په جزيرۀ عرب كي بت پرستي ونه سوه د څرګندو مشركانه اعمالو هيڅكله ليدنه ونه سول ، دا بيله خبره ده چي شيطان د كمزوري عقيدو خلكو د ايمان او اسلام څخه په اړولو كي به كامياب سوى وي مګر په هغوئ كي هيچا هم بت پرستي نه ده كړې .

الفصل الثاني

د شيطاني وسوسو څخه په خوندي پاته كېدو باندي د الله شكر ادا كړئ

﴿۶۶﴾ : عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ إِنِّيْ أُحَدِّثُ نَفْسِيْ بِالشَّيْءِ لأَنْ أَكُوْنَ حُمَمَةً أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَتَكَلَّمَ بِهِ . قَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ رَدَّ أَمْرَهُ إِلَى الْوَسْوَسَةِ . رواه أبو داود

حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي چي يو سړى د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ : زما په زړه كي داسي خبري (وسوسې) پيدا كيږي چي د هغو د ادا كولو پر ځاى زه دا غوره ګڼم چي زه (وسوځم او) سكاره سم، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه الله لره شكر دى چي هغه د ده خبره د وسوسې طرف ته منتقل كړه .ابوداؤد.

تشريح : شيطان به د هغه صحابي ﷺ په زړه كي يو خراب خيال اچولى وي چي په هغه سره د هغه د ايمان كيفيت بې ارامه سوى وي او هغه په تلوار سره د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو، رسول الله ﷺ داډ وركړ چي پر دې خبره د پريشان كېدو ضرورت نسته دا خو د الله تعالى لوى فضل دى چي ستا ايماني احساس او شعور په پوره توګه سره بيدا دى او دا خراب خيال خپله ستا زړه او دماغ قبول نه كړ او هغه د وسوسې د حدودو څخه وړاندي نه سو ، پر داسي وسوسه باندي نيونه نسته او نه د يو تاوان بيري سته دا خو الله تعالى معاف كړې ده ، مګر كه چيري هغه

د وسوسې خراب خیال د حد څخه په زیاتېدو سره ستا په ژبه یا په عمل سره څرګند سوی وای نو بیا به ستا لپاره د خطرې خبره وای .

په خپل ځان کي د نیکۍ پر تحریک د الله ﷻ شکر ادا کړه او د شیطاني وسوسو څخه د الله ﷻ پناه غواړه

﴿۶۷﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلشَّيْطَانِ لَمَّةً بِابْنِ آدَمَ وَلِلْمَلَكِ لَمَّةً فَأَمَّا لَمَّةُ الشَّيْطَانِ فَإِيْعَادٌ بِالشَّرِّ وَتَكْذِيْبٌ بِالْحَقِّ وَأَمَّا لَمَّةُ الْمَلَكِ فَإِيْعَادٌ بِالْخَيْرِ وَتَصْدِيْقٌ بِالْحَقِّ فَمَنْ وَجَدَ ذٰلِكَ فَلْيَحْمِدَ اللهَ وَمَنْ وَجَدَ الأُخْرٰى فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ ثُمَّ قَرَأَ (اَلشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ .الآية) أخرجه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب .

د حضرت ابن مسعود ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : شیطان هم پر انسان باندي تصرف کوي او ملائکي هم. د شیطان تصرف خو دادی چي هغه د انسان سره د بدۍ وعده کوي او د حق په درواغو کولو یې آماده کوي ، او د ملائکو تصرف دادی چي هغه د نیکۍ وعده ورکوي او د حق تصدیق پر کوي نو د چا په زړه کي چي د نیکۍ خیال پیدا سي هغه د الله د لوري ګڼل پکا ردي، او پر هغه د الله شکر ادا کول پکار دي او د چا په زړه کي چي د بدۍ وسوسه پیداسي نو هغه د رټل سوي شیطان د لوري ګڼل پکار دي او د خدای پناه غوښتل پکار دي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ : شیطان تاسو ته د مفلسۍ او فقر وعده او خرابو خبرو حکم درکوي . ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دی .

تشریح : د ملائکي د اماده کولو مطلب خو دادی چي هغه د نیکۍ ازرښت او نیکي تر لاسه کولو باندي د اجر او انعام څرګندونه کوي او د انسان په احساس او شعور کي دا خبره اچوي چي د الله تعالی ریښتونی دین د انسانیت د بقاء او پرمختګ ضامن دی ، د الله رسول ﷺ چي کوم شریعت راوړی دی په هغه کي د انسان دنیاوي او اُخروي خلاصون پټ دی که خپل خلاصون غواړي نو د بدۍ د لاري څخه ځان وساتئ او د نیکۍ لار اختیار کړئ .

د شیطان پارول دادي چي هغه د حق لاره تاریک (تیاره) کولو سره ښیي، د وسوسو اچولو په ذریعه د دین د بنیادي خبرو مثلا توحید، نبوت، آخرت او نورو عقائدو کي تردد او شک پیدا کوي ، نیکي د بدۍ په صورت کي او بدۍ په ښکلي شکل او صورت کي وړاندي کوي، په انساني دماغ کي د دې خبرو کېښنولو هڅه کوي که دا شیان اختیار کړي کوم چي په نیکۍ سره تعبیر کېږي (یعني نېک کارونه وکړي) نو پریشاني او تکلیفونه به زغمي ، مثلا د توکل او

قناعت ژوند اختيار كړي او خپل وختونه د دنيا په جوړلو كي د مصرف كولو پر ځاى د الله تعالى په عبادت او د دين په خدمت كي ولګوي (د شيطانو په خبرو) نو نه به مال او دولت تر لاسه كړي او نه به د دنيا يو راحت او آرام تر لاسه كړي بلكه په فقر او اړتيا كي به اخته سي

كه وسوسه پيدا سي نو شيطان شړئ او د الله تعالى پناه غواړئ

﴿۶۸﴾ : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لاَ يَزَالُ النَّاسُ يَتَسَاءَلُوْنَ حَتّٰى يُقَالُ هٰذَا خَلَقَ اللهُ الْخَلْقَ فَمَنْ خَلَقَ اللهَ ؟ فَإِذَا قَالُوْا ذٰلِكَ فَقُوْلُوْا اللهُ أَحَدٌ اَللهُ الصَّمَدُ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ ثُمَّ لِيَتْفُلْ عَنْ يَسَارِهِ ثَلاَثًا وَلْيَسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ . رواه أبو داود . و سنذكر حديث عمرو بن الاحوص في باب خطبة يوم النحر انشاء الله تعالى .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خلك به هميشه د يو بل څخه پوښتني كوي تر دې چي يوه ورځ به داسي وويل سي چي دا ټول مخلوق الله پيدا كړى دى نو الله چا پيدا كړى دى ، هر كله چي خلك داسي ووايي نو بيا تاسي داسي وايا ست چي الله يوازي دى الله بې نيازه دى نه چا پيدا كړى دى او نه څوك ځيني پيدا دى او نه څوك د هغه سيال سته، بيا په داسي ويلو سره چپه اړخ ته درې واره تُو كړي او د رټل سوي شيطان د چم څخه د الله پناه وغواړي، (ابوداؤد) د عمرو بن احوص روايت به موږ د يوم النحر د خطبې په باب كي ذكر كړو . انشاء الله .

الفصل الثالث

د شيطاني وسوسو څخه بيدار اوسئ

﴿۶۹﴾ : عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يَّبْرَحَ النَّاسُ يَتَسَاءَلُوْنَ حَتّٰى يَقُوْلُوْا هٰذَا اللهُ خَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَمَنْ خَلَقَ اللهَ عَزَّوَجَلَّ . رواه البخاري . وَلِمُسْلِمٍ قَالَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّ أُمَّتَكَ لاَ يَزَالُوْنَ يَقُوْلُوْنَ مَا كَذَا ؟ مَا كَذَا ؟ حَتّٰى يَقُوْلُوْا هٰذَا اللهُ خَلَقَ الْخَلْقَ فَمَنْ خَلَقَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خلك به هميشه د يو بل څخه (دول دول) پوښتني كوي تر دې چي خلك به وايي الله هر شى پيدا كړى دى نو بزرګي او عزت والا خداى چا پيدا كړى دى؟ دا د بخاري روايت دى او په مسلم شريف كي دا روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله پاك ارشاد فرمايي ستا امت به هميشه داسي وايي چي دا څه دئ ؟ دا څه دى؟ تر دې چي خلك به داسي ووايي چي الله دا ټول مخلوقات پيدا كړي دي نو الله چا پيدا كړى دى ؟

د لمانځه په دروان کې د شيطان خلل

﴿۷۰﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِيْ الْعَاصِ قَالَ : قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بَيْنِيْ وَبَيْنَ صَلاَتِيْ وَبَيْنَ قِرَاءَتِيْ يُلْبِسُهَا عَلَيَّ فَقَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خِنْزَبٌ فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْهُ وَاتْفُلْ عَلَىٰ يَسَارِكَ ثَلاَثًا فَفَعَلْتُ ذٰلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللهُ عَنِّي .مسلم

حضرت عثمان بن ابوالعاص[1] ﷺ وايي ما (يو خل) رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې د الله رسوله ! شيطان زما او زما په لمانځه کې حائل کيږي او کوم وخت چې زه قرائت وايم نو ما په شك کې اچوي ، د دې په اورېدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : دا هغه شيطان دی چې خنزب ورته ويل کيږي هر کله چې ته د دې ډول وسوسو څخه يو شی حس کړې نو د الله څخه پناه غواړه او درې واره چپه لوري ته تُو کړه ، عثمان ﷺ وايي ما همدغسې وکړل او الله پاك دا ډول وسوسې راڅخه لېرې کړې .مسلم.

دوسوسې پرواه نه کولو سره خپل لمونځ کوئ

﴿۷۱﴾ : وَعَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٌ أَنَّ رَجُلاً سَأَلَهُ فَقَالَ إِنِّيْ أَهِمُ فِيْ صَلاَتِيْ فَيَكْبُرُ ذٰلِكَ عَلَيَّ فَقَالَ لَهُ امْضِ فِيْ صَلاَتِكَ فَإِنَّهُ لَنْ يَّذْهَبُ عَنْكَ حَتّٰى تَنْصَرِفُ وَأَنْتَ تَقُوْلُ مَا أَتْمَمْتُ صَلاَتِيْ . رواه مالك

حضرت قاسم بن محمد[2] ﷺ وايي يو سړی د هغه څخه پوښتنه وکړه چې ما ته په خپل لمانځه کې وهم پيدا کيږي او دا خبره پر ما ډيره سخته سي ، ما هغه ته وويل : ته خپل لمونځ برابر کوه او دا وهم ستا څخه هيڅکله نه سي لېرې کيدای تر څو پورې ته په دې ويلو سره د لمونځ څخه فارغ نه سې چې ما خپل لمونځ پوره نه کړو . مالك .

[1] د عثمان ابن ابي العاص ﷺ کنيت ابوعبدالله دی، د ثقيف قبيلې سره تعلق لري ځکه ثقفي ورته ويل کيږي ، د خپل قبيله ثقيف د وفد سره د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو او د رسول الله ﷺ په لاس مبارک يې د اسلام په قبلولو سره په هدايت مشرف سو ، د دې وروسته رسول الله ﷺ هغه د خپل قبيلې امير وټاکی ، د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته چې کله اهل طايف د ارتداد په خوا مائل کېدل پيل سول نو د عثمان بن ابي العاص ﷺ ذات وو چې هغوئ يې د ارتداد څخه وژغورل ، نوموړی په بصره کې په (۵۱هـ) کال کې وفات سو .

۲ د حضرت ابوبکر صديق ﷺ لمسی او د محمد بن ابوبکر ﷺ زوی دی، د مدينې منورې د اوو مشهورو فقهاؤ څخه دی ، په اکابر او جليل القدر تابعينو کې شميرل کيږي ، د يحيى بن سعيد رحمة الله عليه قول دی چې موږ د قاسم بن محمد رحمة الله عليه څخه زيات افضل هيڅوک نه دی ليدلی ، نوموړی د اويا (۷۰) کالو په عمر په (۱۰۱هـ) کال کې وفات سوی دی .

تشریح: لمونځ تر ټولو اهم عبادت دی چي په هغه کي د الله تعالی د نیکو بندګانو د خطاء کولو او پارولو شیطان خپل هڅه او کوشش تر ټولو زیات صرف کوي، دا د شیطان تخریب کاري وي چي عام خلک د لمانځه په جریان کي د ذهني توجه څخه محروم ساتي، د هغه نتیجه دا وي چي دلمانځه نیت کولو سره په زړه او دماغ کي د دنیا د خیالاتو جمع کېدل پیل سي هغه خبري چي هیڅکله نه یادیږي دلمانځه په جریان کي په ذهن کي راتلل پیل سي، شیطان ډول ډول وسوسې او خیالونه پیدا کوي کله ورته دا خیال راولي چي لمونځ پوره سوی نه دی بلکه یو یا دوه رکعته پاته سوي دي، کله ورته دا وهم واچوي چي لمونځ صحیح سوی نه دی فلانی رکن پاته سوی دی، په قرآئت کي فلانی آیت پاته سوی دی، ددغه وسوسو اچولو څخه د شیطان مقصد دا وي چي لمونځ کونکی د خپل لمانځه لړۍ پرې کړي او نیت مات کړي، د شیطان ددغه تخریبی څخه د خوندي کېدو طریقه دا ښودل سوې ده چي هر کله شیطاني اثر سره داسي وهمونه او شکونه پیدا سي نو د خپل لمانځه لړۍ مه پرې کوئ (یعني لمونځ جاري وساتئ) نیت مه ماتوئ بلکه لمونځ پوره کړئ او شیطان ته ووایاست چي هو زه غلطي کوم زما لمونځ نه صحیح کیږي مګر زه به لمونځ کوم او ستا په وینا به عمل نه کوم، علماؤ لیکلي دي چي دا طریقه د شیطاني اثراتو څخه د خوندي کېدو ډېره غوره طریقه ده ځکه چي په دې ډول سره شیطان د لمونځ کونکي څخه نا امیده سي او هر کله چي هغه په دې پوه سي چي دی زما په قبضه کي راتلونکی نه دی نو د هغه څخه لیري سي.

مګر دا خبره هم په ذهن کي ساتل پکار ده چي دا حکم هغه وخت دی هر کله چي لمونځ کونکی ته یقین وي چي زه سم لمونځ کوم، دلمانځه ارکان افعال او په قرائت کي څه کوتاهي یا غلطي نه واقع کیږي، او که واقعي د هغه په لمانځه کي څه کوتاهي واقع کیږي یا د ارکانو په ادا کولو کي غلطي کیږي او د هغه احساس کیږي نو د هغه غلطۍ او کوتاهۍ لیري کولو او د لمانځه صحت او درست والي په لور متوجه کېدل ضروري دي، په اصل کي ددې حکم (چي شیطاني خلل څخه یوازي په نظر کولو سره خپل لمونځ پوره کړي) بنیادي مقصد په دې طرف متوجه کول دي چي شیطان ته بیدار اوسي هغه ته د اثر انداز کېدو موقع مه ورکوئ، خپل زړه او دماغ دومره پاک وساتئ چي شیطاني وسوسو او وهمو ته لار خلاصه نسي، لمونځ په دومره ذهني توجه او د زړه په حضور سره کوئ چي شیطان د راتلو بالکل اراده هم و نه کړي، ددې حکم دا مطلب نه دی چي غیر صحیح عمل مه صحیح کوئ او هوساینه ځرګنده کړئ.

بَابُ الْاِيْمَانِ بِالْقَــدْرِ

(پر تقدير د ايمان راوړلو بيان)

پر تقدير باندي ايمان راوړل فرض او لازم دي ، يعني د ايمان د وجود لپاره دا عقيده لرل ضروري ده چي د بندګانو ټول عملونه که نيک وي او که بد د هغه د پيدا کېدو څخه مخکي په لوح محفوظ کي ليکل سوي دي ، بنده چي کوم عمل کوي هغه د الله تعالى د علم او اندازې سره سم کيږي مګر الله تعالى انسان د عقل او پوهي په دولت سره نازولو سره د هغه په وړاندي د نيکۍ او بدۍ دواړي لاري څرګنده کړي دي او پر هغو يې د تللو اختيار ورکړی دی او ورته ښودلي يې دي که د نيکۍ لار اختياروئ نو د الله تعالى د رضا باعث به وي چي پر هغه به جزا او انعام سره ونازول سي او که د بدۍ لار اختياروئ نو دا به د الله تعالى د غضب او د هغه د ناراضګي باعث وي چي د هغه په وجه به د سزا او عذاب وړ کيږي .

اوس ددغه وضاحت او هدايت څخه وروسته چي کوم سړی د نيکۍ او ښېګڼي لار اختياروي نو هغه به د الله تعالى په فضل او کرم سره ونازول سي او پر هغه به د الله تعالى د لوري د فلاح او سعادت دروازې خلاصي سي او که يو څوک د عقل ړوند په خپل کسب او اختيار سره د بدۍ لار اختياروي نو هغه به د عدل سره سم د سزا وړ وي او هغه به د عذاب او تباهۍ په غار او دوږخ کي واچول سي .

دا خبره په ذهن کي راوستل پکار ده چي د تقدير مسئله د عقل او فکر د رسيدو څخه وتلې ده ځکه چي دا د الله تعالى يو داسي راز دی چي د هغه په انساني عقل کي راتلل خو ليري خبره ده ، دا نه خو يو ملائکي باندي ظاهر کړل سوی دی او نه ددغه راز يو پيغمبر او رسول ته معلوم دی ځکه په دې مسئله کي زيات غور او فکر کول او په دې ميدان کي د عقل آسونه ځغلول جائز نه دي بلکه د تحقيق او پلټنو د ټولو لارو څخه آخوا کېدو سره يوازي دا عقيده درلودل د خلاصون او سعادت ضامن دی چي الله تعالى دا مخلوق پيدا کولو سره دوئ يې په دوو ډلو کي ويشلي دي : يوه هغه ډله ده چي د نيکو اعمالو او نيکو کارونو په وجه به د الله تعالى د جنت او د هغه د نعمتونو وړ وي چي محضي د هغه په فضل او کرم به وي، او دوهمه ډله هغه ده چي د خرابو عملونو کولو په وجه په دوږخ کي به واچول سي چي عين عدل او انصاف به وي .

نقل سوي دي چي یو سړي د حضرت علي ﷺ څخه د قضاو قدر په اړه پوښتنه وکړه، حضرت علي ﷺ ورته وفرمایل: دا یوه لویه لار ده پر دې مه ځه، هغه سړي بیا دا پوښتنه وکړه نو هغه ورته وفرمایل: دا یو ژور دریاب دی په دې کي مه ننوزه، هغه سړي ونه منل او بیا یې پوښتنه وکړه نو حضرت علي ﷺ ورته وفرمایل: دا د الله تعالی یو راز دی چي ستا څخه پټ دی ځکه نو د دې په تحقیق او پلټنه کي مه لوېږه.

نو اُخروي سعادت په دې کي دی چي د دې مسئلې په اړه الله تعالی او د هغه رسول څه ښودلي دي او د کومو عقیدو منلو په اړه چي یې ویلي دي پر هغو عمل وکړي او د خپل عقل غشي مه چلوئ، په حقیقت کي د ګمراهۍ لار اختیارول د تباهۍ او بربادۍ پر لار تلل دي.

الفصل الاول

﴿۷۲﴾: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ اللّٰهُ مَقَادِيْرَ الْخَلَائِقِ قَبْلَ أَنْ يَّخْلُقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ بِخَمْسِيْنَ أَلْفَ سَنَةٍ قَالَ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ. رواه مسلم.

د عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د آسمانو او مځکو پیدا کولو څخه پنځوس زره کاله تر مخه الله تعالی د مخلوقاتو تقدیرونه لیکلي دي کوم وخت چي د هغه تخت (عرش) پر اوبو وو. مسلم.

تشریح: څرګنده ده چي د الله تعالی ذات د اجسام ظاهري او مادیات د تفاوت څخه پاک دی ځکه داسي خو نسي ویل کیدلای چي الله تعالی په خپل لاس سره تقدیرونه لیکلي دي بلکه د دې مطلب دادی چي الله تعالی د ټولو مخلوقاتو د پیدا کولو څخه وړاندي د هغوئ تقدیرونه قلم ته د جاري کېدو په حکم ورکولو سره د هغه په ذریعه په لوح محفوظ کي ثبت کړي وه، یا دا چي ملائکو ته په حکم ورکولو سره په هغوئ یې تقدیرونه لیکلي وه.

دلته د پنځوس زره کالو وخت د تحدید لپاره نه دی بلکه د دې څخه د وخت زیاتوب مراد دی چي د مخلوق د پیدائش څخه ډیر مخکي د دې ټولو تقدیرونه په لوح محفوظ کي لیکل سوي دي.

نقل سوي دي چي مځکه او آسمان او د ټول مخلوق د پیدا کېدو څخه مخکي ټولي اوبه وې، او ویل کیږي چي د اوبو استقرار پر هواء وو او هواء د الله تعالی په قدرت قائمه وه ځکه وفرمایل سول چي په دې عالم کي د ازل څخه تر ابد پوري کیدونکي ټول واقعات او اعمال هغه

وخت د الله تعالى په علم كي وه ، هر كله چي دا مځكه او آسمان هم نه وه پيدا سوي او د هغه عرش پر اوبو وو چي د هغه په منځ كي هيڅ دوهم شى حائل نه وو .

﴿۷۳﴾ : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ شَيْءٍ بِقَدَرٍ حَتَّى الْعَجْزُ وَالْكَيْسُ . رواه مسلم .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر شى پر تقدير موقوف دى تر دې چي ناداني او دانايي . مسلم .

﴿۷۴﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: احْتَجَّ آدَمُ وَمُوْسٰى عَلَيْهِمَا السَّلَامُ عِنْدَ رَبِّهِمَا فَحَجَّ آدَمُ مُوْسٰى قَالَ مُوْسٰى أَنْتَ آدَمُ الَّذِيْ خَلَقَكَ اللهُ بِيَدِهِ وَنَفَخَ فِيْكَ مِنْ رُّوْحِهِ وَأَسْجَدَ لَكَ مَلَائِكَتَهُ وَأَسْكَنَكَ فِيْ جَنَّتِهِ ثُمَّ أَهْبَطْتَ النَّاسَ بِخَطِيْئَتِكَ إِلَى الأَرْضِ فَقَالَ آدَمُ أَنْتَ مُوْسٰى الَّذِيْ اصْطَفَاكَ اللهُ بِرِسَالَتِهِ وَبِكَلَامِهِ وَأَعْطَاكَ الأَلْوَاحَ فِيْهَا تِبْيَانُ كُلِّ شَيْءٍ وَقَرَّبَكَ نَجِيًّا فَبِكَمْ وَجَدْتَ اللهَ كَتَبَ التَّوْرَاةَ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ؟ قَالَ مُوْسٰى بِأَرْبَعِيْنَ عَامًا قَالَ آدَمُ فَهَلْ وَجَدْتَ فِيْهَا (وَعَصٰى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوٰى) قَالَ نَعَم قَالَ أَفَتَلُوْمُنِيْ عَلىٰ أَنْ عَمِلْتُ عَمَلاً كَتَبَهُ اللهُ عَلَيَّ أَنْ أَعْمَلَهُ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِيْ بِأَرْبَعِيْنَ سَنَةً قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَجَّ آدَمُ مُوْسٰى . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : حضرت آدم ؑ او حضرت موسى ؑ (په عالم ارواح كي) د خپل رب په وړاندي بحث وسو، او حضرت آدم ؑ پر حضرت موسى ؑ غلبه تر لاسه كړل ، موسى ؑ وفرمايل: ته هغه آدم يې چي خداى ﷻ ته په خپل لاس سره جوړ كړى يې خپل روح يې په تا كي پوه كړې وه او په ملائكو يې تاته سجده كړې وه او په جنت كي يې ته ساتلى وې بيا تا د گناهو په سبب خلك مځكي ته راكښته كړل، آدم ؑ ورته وويل : او ته هغه موسې يې چي الله په خپل رسالت سره مشرف كړى وې په خپل كلام سره يې ته نازولى وې او تا ته يې هغه صحيفې دركړې وې چي په هغو كي د هر شي بيان وو، او بيا الله ﷻ تا ته په غوږ كي د خبرو كولو عزت دركړى وو نو تا تورات زما د پيداكېدو څخه څومره عمر وړاندي ليكلى موندلى وو، موسى ؑ ورته وويل تورات ستا د زيږيدني څخه څلوېښت كاله وړاندي ليكل سوى وو، نو آدم ؑ پوښتنه وكړه ايا تا په تورات كي دا الفاظ هم ليدلي وه، (عصى آدم ....) او آدم ؑ د خپل رب نافرماني وكړه او هغه و غوليدى، موسى ؑ ورته وويل : هو ،(دا الفاظ په تورات كي موجود وه) آدم ؑ ورته وويل : نو بيا ته ما ولي په داسي خبرو ملامت كوي كوم چي د هغو په كولو زه د خداى په ليكلو سره مجبور وم او خداى ﷻ زما د پيداكېدو څخه څلوېښت كاله وړاندي دغه ليكلي وه، نو

رسول الله ﷺ وفرمايل: همدارنگه حضرت آدم ؑ پر حضرت موسی ؑ غلبه تر لاسه کړل. مسلم.

تشريح : حضرت آدم ؑ چي د حضرت موسی ؑ کوم دليل وړاندي کړ د هغه څخه مطلب دا نه دی چي الله تعالی زما د پيدا کېدو څخه څلوېښت کاله مخکي هم دا ليکلي وه چي زه به د شيطان د ګمراه کولو په وجه وغولول سم او د الله تعالی د حکم نافرماني کولو سره شجر ممنوع (منعه درخته) استعمال کړم نو په دې کي زما کسب او اختيار ته هيڅ دخل نسته بلکه دا ګمراهي (بې لاري کېدل) زما په مقدر کي ليکل سوي وه ځکه نو دا زما څخه صادر کېدل لازم او ضروري وه نو زه ملزم نسم ګرځيدلای.

علامه توربشتي (رح) فرمائي چي ددې مطلب دادی چي الله تعالی دا ګمراهي زما د پيدا کېدو څخه هم مخکي زما لپاره په لوح محفوظ کي مقدر فرمايلې وه د هغه دا مطلب وو چي هغه به ضرور پر خپل وخت واقع کيږي، کله چي مقدر وخت راورسيدی نو دا څنګه ممکن وه چي د امر مقدر او د الله تعالی د علم خلاف هغه منعه عمل سوی نه وای نو ته پر ما باندي دا الزم خو لګوې او تا ته سبب ظاهري يعني زما کسب او اختيار خو ياد وو مګر اصل شی يعني مقدر ته دي نظر نه وکړ.

د حضرت آدم او موسی عليهما السلام بحث په دغه دنيا کي نه دی سوی چي هلته د اسباب څخه قطع نظر صحيح نه دی بلکه دا مناظره په لوړ عالم کي د هغوئ دواړو روحونو په منځ کي سوې وه ځکه دلته دا خبره په خاصه توګه په ذهن کي راوستل پکار ده که يو عاصي او ګناه کار د دا ډول دليل بهانه کوي نو هغه په کار نه ورځي ځکه چي د حضرت آدم ؑ معامله د هغه جهان وه چيري چي هغوي د اسباب مکلف نه وه او بيا د هغوئ دا خطا د الله تعالی په دربار کي معاف سوې هم وه نو دلته به د کسب او اختيار او ابواب په وجه مؤاخذه وي.

ويل کيږي چي پر حضرت موسی ؑ باندي کومي تختۍ نازل سوي وې هغه د زمردو وې او د هغو شمير دومره زيات وو چي اويا اوښانو باندي به وړل کيدې، په هغه تختيو کي د هغه د قوم لپاره د الله تعالی د لوري احکام او مسائل ليکلي وه، په هغه کي چي کوم مضامين مذکور وه هغه قديم دي نو د څلوېښتو کالو تحديد به د هغه مضامين په باره کي نه وي بلکه داسي به ويل کيږي چي هغه مضامين چي پر هغه تختيو باندي ليکل سوي وه د هغه د ليکلو وخت د آدم ؑ د پيدا کېدو څخه څلوېښت کاله مخکي وو.

﴿۷۵﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ اَنَّ خَلْقَ أَحَدِكُمْ يُجْمَعُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا نُطْفَةً ثُمَّ يَكُونُ عَلَقَةً مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مِثْلَ ذٰلِكَ، ثُمَّ يَبْعَثُ اللّٰهُ اِلَيْهِ مَلَكًا بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ فَيَكْتُبُ عَمَلَهُ وَاَجَلَهُ وَ رِزْقَهُ وَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ ثُمَّ يُنْفَخُ فِيْهِ الرُّوْحُ فَوَالَّذِي لَا إِلٰهَ غَيْرُهُ إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتّٰى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتّٰى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا. متفق عليه

د حضرت ابن مسعود ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ چي رښتونی او رښتون کړل سوی دی موږ ته دا بیان وفرمایه: په تاسو کي د هر یوه د زیږیدني صورت دادی چي څلوېښت ورځي نطفه په نس کي دننه وساتل سي بیا (دا نطفه) د یخی وینو په شکل کي بدله سي تر څلوېښتو ورځو پوري (همدغسي وي) بیا څلوېښت ورځي د غوښي یوه ټوټه وي، د دې وروسته الله ﷻ هغه د غوښو ټوټې ته یوه ملائکه را ولیږي چي د هغه اعمال، د مرګ نېټه، د رزق ذریعه او د هغه نیک بخت او بخت کېدل ولیکي، بیا په هغه ټوټه کي روح پوه کړي، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه څخه پرته بل د عبادت وړ نسته په تاسو کي یو څوك د جنتیانو په شان کارونه کــوي تر دې چي د هغه او جنت په مینځ کي یوازي د یوه لاس اندازه فاصله پاته سي چي د هغه د تقدیر لیکلي پر هغه غالب سي او هغه د دوږخیانو په شان کارونه پیل کړي او په تحقیق سره په تاسو کي یو سړی د دوږخیانو په شان کارونه کوي تر دې چي د هغه او دوږخ په منځ کي یوازي د یوه لاس اندازه فاصله پاته سي چي د هغه تقدیر لیکي پر هغه غالب سي او هغه د جنیاتو په شان کارونه پیل کړي او په جنت کي داخل سي. بخاري او مسلم.

تشریح: داسي ګمان کیږي چي خلک د نیکۍ لار پرېښودو سره د بدۍ لار اختیاروي مګر د الله تعالی د رحمت په برکت زیات وخت داسي کیږي چي کومو خلکو د بدبختۍ او بدۍ لار اختیار کړي وي هغوئ د نیکۍ په لور راسي او د نیکۍ لار اختیاروي.

په دغه حدیث شریف کي دې ته اشاره ده چي د ابدي خلاصون او عذاب دار او مدار پر خاتمه باندي دی، که د یو چا ټول ژوند په ګناه او معصیت یا کفر او شرک کي تیر سي مګر هغه په آخر وخت کي د زړه په صدق سره پر خپلو بدو عملونو او ګمراهۍ باندي په پښیمانه کېدو سره د نیک بختۍ او سعادت لار اختیار کړي نو هغه به خلاصون تر لاسه کړي.

همدارنګه که یو سړی ټول عمر نیکۍ کوي او ټول ژوند د الله تعالی او د رسول په اطاعت او

فرمانبرداری کي تیر کړي مګر په آخر وخت کي هغه د شیطان په ګمراهۍ سره یا د خپل نفس په شرارت سره ګمراه سي او هغه د خپل ژوند آخري لحظې په بدۍ او بدبختۍ کي تیري کړي نو هغه به د ټول عمر د نیکیو سربیره د الله تعالی په عذاب کي اخته سي.

نو ددغه حدیث شریف څخه څرګنده سوه چي نیکي، بهتري او اُخروي خلاصون په دې کي دی چي بنده همیشه د اطاعت الهي او د فرمان نبوي پر ځای راوړلو کي مصروف وي، د هغه د ژوند هیڅ لحظه هم د شریعت د حدونو څخه تجاوز ونه کړي او په هر راتلونکي لحظه کي دا فکر وکړي چي کیدای سي دا زما د ژوند آخري لحظه وي، په نیکۍ کي یې صرف کوي چي د خاتمه بالخیر په سعادت سره ونازول سي.

دلته باید دا خبره په ذهن کي وي چي کومو خلکو د قضا او قدر د مسئلې لیدو سره دا نظریه قائمه کړې ده چي هر کله خلاصون او عذاب، نیک بختي او بدبختي، جنت او دوږخ تر لاسه کېدل تقدیري شی دی نو بیا د عمل څه ضرورت دی نو هغوئ په سخته ګمراهي کي اخته دي، ځیني صحابه کرام هم ددې مسئلې په حقیقت نه وه پوه سوي، د رسول الله ﷺ په وړاندي یې دا ډول خبره وکړه، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: تاسو عمل کوئ ځکه د چا په مقدر کي چي څه لیکل سوي دي پر هغه باندي هغه ته اختیار ورکړل سوی دی.

یعني پر قضا او تقدیر باندي په باور کولو سره ستاسو په عمل کي توقف کول یا د عمل څخه انکار کول به هیڅ کارآمد نه وي ځکه احکام د شارع د لوري وارد سوي دي او د هغه سره تاسو ته د فکر کولو قابلیت او په نیکۍ او بدۍ کي د امتیاز کولو صلاحیت هم درکړل سوی دی، په تاسو کي د قصد او جهد ماده هم پیدا کړل سوې ده چي تاسو ددغه اسبابو په ذریعه عمل وکړلای سئ اوس که تاسو د قضا او تقدیر په سبب د اسبابو څخه قطع نظر وکړئ او عمال پرېږدئ نو د تباهۍ او بربادۍ په غار کي به ولوېږئ، مګر هو په دې کي به د الله تعالی یقینا یو حکمت وي چي د هغه په حقیقت او حکمت باندي هغه ښه پوهیږي چي یوې خوا ته خو هغه د قضا او تقدیر مسئله رامخکي کړه او بلي خوا ته د عملونو کولو حکم یې ورکړ او بیا په دغه مسئله کي د تحقیق او پلټني کولو څخه هم منعه وفرمایل، او که د قضا او تقدیر په سبب د عملونو د ضرورت څخه انکار وکړل سي نو ددې به څه جواب وي چي د الله تعالی د لوري د شریعت نازلیدل، احکام رالیږل او د رسولانو رالیږل چي د هغوئ مقصد د الله تعالی پر احکامو باندي د عمل کولو ترغیب ورکول وو بیله وجي سو ځکه چي کله پر محض تقدیر باندي باور

وي چي د چا په مقدر كي جنت ته تلل ليكلي وي هغه به يقينا جنت ته ځي او د چا په مقدر كي چي دوږخ ليكلى وي نو هغه به يقينا دوږخ ته ځي نو ددغه رسولانو بعثت او د احكامو او اعمالو پر ځاى راوړلو د تاكيد ضرورت نه پاته كيږي نو په دې حيثيت سره كه دا هم وكتل سي نو دا خيال غلط ثابتيږي ، په هر حال څرنګه چي نور ډېر الهي اسرار دي چي په هغه سره بندګان خبر نه دي ، همداسي دا هم يو راز دی چي د بندګانو څخه پټ ساتل سوی دی ځكه د يو چا په ظاهري عمل ليدو سره د هغه د جنتي يا دوږخي كېدو حكم نسي كيدلاى بلكه د الله تعالى پر رضا موقوف دی چي (يعذب من يشاء ويرحم من يشاء) يعني هغه چي چا ته غواړي (د بدو عملونو په سبب) په عذاب كي يې اخته كړي او چا ته چي وغواړي نو په خپل فضل او كرم سره به يې وبخښي .

﴿۷۶﴾ : وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ وَإِنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَإِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَإِنَّمَا الاَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيْمِ .(متفق عليه)

د حضرت سهل بن سعيد[1] ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو بنده د دوږخيانو په ډول كارونه كوي او (په حقيقت كي) هغه جنتي وي او همدا شان هغه د جنتيانو په شان كارونه كوي او هغه دوږخي وي نو د اعمالو اعتبار به آخره خاتمه سره دی بخاری ومسلم

تشريح : دغه حديث شريف د لومړني حديث توثيق وكړ چي د اعمالو سابق اعتبار به وي چي پر هغه خاتمه سوې وي ځكه نو د خلاصون او عذاب دار او مدار به د هغه پر خاتمه وي كه خاتمه بالخير وي نو د الله تعالى د نعمتونو او د جنت د سعادت سره به ونازول سي ، او كه خداى مه كړه خاتمه په خير نه وي نو بيا به په عذاب كي اخته كړل سي .

دغه حديث شريف په څرګنده دا خبره واضحه كړه چي بنده ته پكار ده چي د خپل ژوند يوه يوه لحظه د الله تعالى په اطاعت كي مصرف كړي او هر وخت د ګناه څخه ځان ساتي ځكه دا معلومه نه ده چي آخر وخت به كله راځي او هغه په يو ګناه كي اخته وي چي ناڅاپه د مرګ پنجه د هغه غاړه خفه كړي او هغه ته د توبې مهلت هم تر لاسه نسي چي د هغه په نتيجه كي به هغه په دائمي خسران او عذاب كي اخته سي .

[1] د سهل بن سعيد بن مالك لومړني نوم حزن وو مګر وروسته رسول الله ﷺ د سهل نوم پر كېښود . كنيت يې ابو العباس او څينو ابو يحيى هم ليكلى دی، په مدينه منوره كي د (۹۶) كالو په عمر په (۸۸هـ) كال كي وفات سو .

﴿۷۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دُعِيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلٰى جَنَازَةِ صَبِيٍّ مِنَ الأَنْصَارِ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ طُوْبٰى لِهٰذَا عُصْفُوْرٌ مِنْ عَصَافِيْرِ الْجَنَّةِ لَمْ يَعْمَلِ السُّوْءَ وَلَمْ يُدْرِكْهُ قَالَ أَوْ غَيْرَ ذٰلِكَ يَا عَائِشَةَ إِنَّ اللهَ خَلَقَ لِلْجَنَّةِ أَهْلاً خَلَقَهُمْ لَهَا وَهُمْ فِيْ أَصْلاَبِ آبَائِهِمْ وَخَلَقَ لِلنَّارِ أَهْلاً خَلَقَهُمْ لَهَا وَهُمْ فِيْ أَصْلاَبِ آبَائِهِمْ . رواه مسلم .

د حضرت عائشې[1] رضي الله عنها څخه روايت دی چي : رسول الله ﷺ د يو انصاري کوچنی جنازې ته و غوښتل سو، ما نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ: اې د الله رسوله ! د دې کوچنی لپاره خوشخبري ده چي د جنت د مرغانو څخه يوه مرغه دی چي نه يې څه بد کار کړی او نه د بدۍ حد ته رسيدلی دی، (د دې په اورېدو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل : اې عائشې! ايا ستا دا خيال دی (يعني ستا دا خيال درست نه دی) د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : د جنت او دوزخ لپاره الله تعالی ډلي پيدا کړي دي کوم وخت چي هغوئ د خپلو پلرو په ملاوو کي وي. مسلم.

تشريح : ددغه حديث څخه په ظاهره خو دا معلومه سوه چي په جنت او دوزخ کي داخلېدل پر نيک او بد عمل باندي موقوف دي بلکه دا تقديري معامله ده ، الله تعالی د يو ډلي لپاره د ازل څخه جنت ليکلی دی ځکه هغه به جنت ته ځي که څه هم هغه نيک عملونه وکړي يا يې ونه کړي، همداسي يوه ډله يې د دوزخ لپاره پيدا کړې ده چي يقينا به هغه دوزخ ته ځي که څه هم د هغوئ عملونه بد وي يا نه وي ، نو دا ماشوم که د دوزخ لپاره پيدا سوی وو نو يقينا به دوزخ ته ځي که څه هم د هغه څخه تر اوسه بد عملونه نه دي سوي .

مګر د دې خبري پر خلاف اکثر آياتونه او حديثونه او د علماؤ متفق عليه قولونه داسي دي چي د هغه څخه دا خبره ثابته سوې ده چي که چيري مسلمان ماشوم د کم عمرۍ په حالت کي وفات سي نو هغه يقينا جنتي دی بلکه د کفارو او مشرکينو د کم عمر ماشومانو په اړه هم صحيح مسئله دا ده چي هغوئ به هم په جنت کي داخل کړل سي .

اوس به د دې حديث ترجيح هم کيږي چي بي بي عائشې رضي الله عنها د هغه په جنتي کېدو په داسي يقين

[1] ام المؤمنين حضرت بي بي عائشة صديقه (رض) د حضرت ابوبکر صديق ﷺ لور او د رسول الله ﷺ تر ټولو زيات خوښه او محبوبه بي بي مبارکه وه چي د هغې لقب صديقه دی ، د رسول الله ﷺ د وفات په وخت کي د بي بي عائشې صديقې (رض) عمر يوازي اتلس (۱۸) کاله وو، نوموړې په کال (۵۷هـ) يا (۵۸هـ) کي وفات سوې ده او د جنت البقيع په هديره کي دفن سوې ده.

سره حکم کړې وو لکه هغې ته چي د غیب علم سته او د الله تعالی د حکمت او مرضی رازداره ده ځکه نو رسول الله ﷺ د هغې پر دغه یقین تنبیه وفرمایل چي ته د خپل دغه وثوق په وجه د عیب دانی اقرار کوې چي هیڅ بنده ته مناسب نه دهٔ ، یا زیاته صحیح توجیه ددې حدیث دا کیدای سي چي د رسول الله ﷺ دا ارشاد به د هغه وخت وي هر کله چي د ماشومانو د جنتي کېدو حکم د وحي په ذریعه معلوم سوی نه وو . والله اعلم .

﴿۷۸﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ وَمَقْعَدُهُ مِنَ الْجَنَّةِ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ أَفَلاَ نَتَّكِلُ عَلٰى كِتَابِنَا وَنَدَعُ الْعَمَلَ ؟ قَالَ اعْمَلُوْا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ أَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ اَهْلِ السَّعَادَةِ فَسَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ السَّعَادَةِ وَأَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ اَهْلِ الشَّقَاوَةِ فَسَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ الشَّقَاوَةِ ، ثُمَّ قَرَءَ: (فاما من أعطى واتقى وصدق بالحسنى) (متفق علیه)

د حضرت علي[1] ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي هیڅوك داسي نسته چي د هغه ځای جنت یا دوزخ نه وي لیکل سوي ، خلکو عرض وکړ: اې د الله رسوله ! نو بیا موږ د خپل تقدیر په دې نوشته باور وکړو او اعمال ولې نه پرېږدو؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل : عمل کوئ ځکه چي کوم سړی د کوم کار لپاره پیدا سوی دی هغه شی د هغه لپاره آسان کړل سوی دی یعني کوم سړی چي نیك بخت دی د هغه دپاره د نیك بختی کارونه آسان کیږي او څوك چي بد بخت وي د هغه لپاره د بد بختی کارونه آسانه کیږي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ دا آیت ووایه : (فاما من اعطی ..) (کوم سړي ته چي بخشش ورکړل سو نو پرهیزګاري یې اختیار کړل او د خیر عمل یې ښه وګڼی ...الخ) بخاري او مسلم .

تشریح : د نبي کریم ﷺ د جواب مقصد دا وو چي تاسو خلك پر تقدیر یقین وکړئ او عمل پرېږدئ دا صحیح نه ده ، ځکه چي جنت په اول وار کي لیکل او د هر یوه لپاره معلومول چي څوك نیك بخت او څوك بدبخت نو دا د عملونو پرېښودو وجه نسي کیدای ، ددې لپاره چي الله تعالی د خپل خدائي او د قدرت دښکاره کېدو لپاره چي کوم حکمونه کړي دي او کوم

[1] امیر المؤمنین حضرت علي ﷺ د رسول کریم ﷺ د اکا زوی دی ، د رسول الله ﷺ د خوږې لور بي بي فاطمې رضي الله عنها خاوند او څلورم خلیفه راشد دی ، کنیت یې ابوالحسن او ابوتراب دی ، د رمضان المبارك په آخري لسیزه کي په کال (۳۰هـ) کي یې د شهادت درجه تر لاسه کړه ، د نوموړي هغه وخت عمر د واقعي پلټنې سره سم (۶۳) کاله وو ، درې ورځې کم پنځه کاله نوموړی خلیفه وو .

فرضونه یې پر بندګانو ټاکلي دي پر هغو باندي عمل کول او د احکامو تابعداري کول د بندګۍ د ضرورت سره سم پر بندګانو لازم او ضروري دي ځکه چي یوازي عمل د نیک بختۍ او بد بختۍ نښه ګرځول سوې ده چي کوم سړی عمل کوي هغه به نیک بخت ګڼل کیږي او کوم چي عمل نه کوي نو هغه به بدبخت ګڼل کیږي او بیا دا هم تقدیري معامله ده چي الله تعالی د چا په قسمت کي نیک بختي لیکلې وي هغه به یقینا عملونه کوي او د چا په نصیب کي چي بدبختي لیکلې وي هغه به عمل پریږدي او په ګمراهۍ کي به اخته کیږي ، تر کومه حده چي د ثواب او عذاب معامله ده نو هغه د الله تعالی په خوښه او د هغه پر حکمت باندي منحصر ده هغه چي څه معامله کوي هغه ته اختیار دی او په هغه کي د چا زور او زیاتي نه چلیږي .

﴿۷۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ كَتَبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَا أَدْرَكَ ذٰلِكَ لاَ مَحَالَةَ فَزِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ وَزِنَا اللِّسَانِ الْمَنْطِقُ وَالنَّفْسُ تَمَنّٰى وَتَشْتَهِيْ وَالْفَرْجُ يُصَدِّقُ ذٰلِكَ وَيُكَذِّبُهُ (متفق عليه) وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ كُتِبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ نَصِيْبُهُ مِنَ الزِّنَا مُدْرِكٌ ذٰلِكَ لاَ مَحَالَةَ اَلْعَيْنَانِ زِنَاهُمَا اَلنَّظَرُ وَالْأُذُنَانِ زِنَاهُمَا اَلإِسْتِمَاعُ وَاللِّسَانُ زِنَاهُ الْكَلَامِ وَالْيَدُ زِنَاهَا اَلْبَطْشُ وَالرِّجْلُ زِنَاهَا اَلْخطَا وَالْقَلْبُ يَهْوٰى وَيَتَمَنّٰى وَيُصَدِّقُ ذٰلِكَ الْفَرْجُ وَيُكَذِّبُهُ .

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله پاك چي د انسان په تقدیر کي د زنا کومه برخه لیکلي ده هغه به ضرور د هغه څخه کیږي ، نو د سترګو زنا داده چي نامحرم چا ته وګوري، د ژبي زنا د نامحرم ښځو سره خبري کول (یعني د شهوت خبري کول) او نفس خواهش کوي او شرم ګاه دغه خواهش رښتیا کوي یا یې دروا‌غ کوي، بخاري اومسلم، او د مسلم په یوه روایت کي د ا الفاظ دي: رسول الله ﷺ وفرمایل : پر انسان د هغه د زنا برخه په تقدیر کي لیکل کي سوې ده چي هغه به هرومرو په عمل کي راولي د دواړو سترګو زنا پردیو ښځو ته (په بد نظر) کتل دي او د غوږو زنا (د پردیو ښځو خبري په شهوت سره) اوریدل دي، او د ژبي زنا د هغې سره (په شهوت) خبري کول دي او د لاس زنا ښځي ته (په بد نیت) لاس ور وړل دي او د پښو زنا د هغې په لور ورتلل دي او زړه خواهش کوي او شرمګاه د هغې تصدیق یا تکذیب کوي .

تشریح : اصل زنا خو داده چي د یو نامحرمي ښځي سره بدکاري کي اخته سي ، مګر د شریعت په اصطلاح کي هغه حرکات او عملونو ته هم مجازا زنا ویل کیږي چي د حقیقي زنا لپاره د اسبابو درجه لري یا دا چي زنا ته یې رسوي ، مثلا د یو پردۍ ښځي سره د شهوت ډکي خبري

کول، یا په بد نظر ورته کتل یا په خرابي ارادې سره د هغې لاس مس کول یا همداسي په ناپاک خیال سره یو پردۍ ښځي ته ورتلل، دا ټول شیان د حقیقي زنا محرک جوړیږي چي په وړاندي تلو سره په بدکارۍ کي اخته کیږي ځکه دې ته هم مجازاً زنا ویل کیږي چي ددې حرکات او اسبابو نفرت او کراهت په زړونو کي کښېني او خلک ددې څخه ځان وساتي.

په هر حال د حدیث شریف څخه څرګنده سوه چي د کوم سړي په تقدیر کي د زنا څومره برخه لیکلي وي هغه به په عمل کي راولي، اوس که چیري د هغه په مقدر کي مجازي زنا لیکلي وي یا حقیقي مګر الله تعالی چي یو څوک دده بدکار څخه خوندي ساتي نو هغه ددې څخه منعه ساتي او د هغه شیانو څخه هم پرهیز کوي چي د هغه په موجودګۍ کي د یو معصیت او ګناه د خیال هم شک او شبه پیدا کیږي چي د ګناه او معصیت په لور د بیولو سبب جوړیږي، د شرمګاه د تصدیق او تکذیب مطلب دادی چي هر کله انساني نفس د هواء او هوس غلام جوړ سي او د هغه د غلط او حرام کار خواهش کوي نو که چیري شرمګاه د هغه غلط او ناجائز خواهش باندي عمل کوي او په زنا کي اخته کیږي نو دا د هغه تصدیق وي او که د یو چا احساس او شعور او ضمیر د الله تعالی د عذاب څخه لړزیدونکی او د هغه د بیري څخه ډک وي نو شرمګاه د نفس د خواهش د تکمیل څخه انکار کوي او هغه په بدکارۍ کي نه اخته کیږي نو دا د هغه تکذیب کوي.

﴿۸۰﴾ : وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ اَنَّ رَجُلَيْنِ مِنْ مُزَيْنَةَ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! أَرَأَيْتَ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ الْيَوْمَ؟ وَيَكْدَحُوْنَ فِيْهِ أَشَيْءٌ قُضِيَ عَلَيْهِمْ وَمَضٰى فِيْهِمْ مِنْ قَدَرٍ سَبَقَ أَوْ فِيْمَا يَسْتَقْبِلُوْنَ بِهِ مِمَّا أَتَاهُمْ بِهِ نَبِيُّهُمْ وَثَبَتَتِ الْحُجَّةُ عَلَيْهِمْ فَقَالَ لاَ بَلْ شَيْءٌ قُضِيَ عَلَيْهِمْ وَمَضٰى فِيْهِمْ وَتَصْدِيْقُ ذٰلِكَ فِيْ كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ (وَنَفْسٍ وَّمَا سَوَّاهَا فَأَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوَاهَا) .رواه مسلم

د حضرت عمران[1] ﷺ څخه روایت دی چي د مزینې د قبیلې دوه خلك د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او عرض یې وکړ : اې دالله رسوله ! موږ د دې امر څخه خبردار کړئ څه چي خلك نن سبا کوي او محنت برداشت کوي، ایا دا هغه شی دی چي د دوئ په تقدیر کي لیکل سوی دی او د هغوئ د تقدیر څخه تیر سوی دی. یا دا هغه شی دی چي آئنده راتلونکی دی او هغه د هغوئ نبي راوړي دي او په دلیل سره پر هغوئ

[1] د نوموړي نوم عمران ابن حصین او کنیت یې ابونجید دی، د فتح خیبر په کال د اسلام په نعمت سره مشرف سوی دی، نوموړی په بصرې کي په کال (۵۱ھ) کي وفات سوی دی.

دا ثابت سوی دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : نه، بلکه دا هغه شی دی کوم چي تاکل سوی دی او پر هغوئ تیر سوی دئ او ددې تصدیق د کلام الله د دې آیت څخه کیږي : (ونفس وماسواها...) یعني قسم دی د نفس او د هغه ذات چي هغه نفس برابر او یو ډول پیدا کړو او بیا یې په زړه کي ورته بدي او نیکي واچول. مسلم.

تشریح : پوښتنه دا وه چي اې دالله رسوله ! دا وښیاست چي په دنیا کي خلک څومره عملونه کوي که هغه عملونه ښه وي یا بد وي ایا دا هغه دي چي د هغوئ لپاره په ازل کي مقدر سوي دي او اوس پر خپل وخت تر سره کیږي او که دا هغه شیان دي چي په ازل کي خو د هغوئ لپاره لیکنه په تقدیر کي نه وه سوې بلکه اوس چي رسول راغلی او هغوئ د الله تعالی د لوري د ورکړل سوي معجزو په ذریعه د خپل صداقت اعلان او د هغه احکام او اعمال د کولو حکم وکړ نو دا عملونه تر سره کېدل پیل سول نو په داسي شکل کي ایا داسي ویل کیدای سي چي دغه عملونه د بندګانو په مقدر کي مخکي نه وه لیکل سوي بلکه په خپل اختیار سره دا عملونه کوي که هغه ښه عملونه وي او یا خراب عملونه وي.

﴿۸۱﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ رَجُلٌ شَابٌ وَأَنَا أَخَافُ عَلٰى نَفْسِيْ الْعَنَتَ وَلاَ أَجِدُ مَا أَتَزَوَّجُ بِهِ النِّسَاءَ، كَأَنَّهُ يَسْتَأْذِنُهُ فِيْ الاِخْتِصَاءِ قَالَ فَسَكَتَ عَنِّيْ ثُمَّ قُلْتُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَسَكَتَ عَنِّيْ ثُمَّ قُلْتُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَسَكَتَ عَنِّيْ ثُمَّ قُلْتُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا أَنْتَ لاَقٍ فَاخْتَصِ عَلٰى ذٰلِكَ أَوْ ذَرْ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي : یو ځل ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه زلمی سړی یم او زما سره بیره ده چي په زنا اخته نه سم او نه زما سره څه شتمني سته چي یوه ښځه په نکاح کړم ،لکه چي ابوهریرة د خپل عذر په بیانولو سره د دې اجازه غوښتل چي خپل ځان خصي کړي، ابوهریرة وایي رسول الله ﷺ چي زما دا عذر واورېدی نو چپ سو او هیڅ جواب یې رانه کړ ما دوهم وار عرض وکړ خو رسول الله ﷺ چپ وو په دریم وار ما بیا عرض وکړ مګر نبي ﷺ چپ وو په څلورم وار چي ما خپل الفاظ وویل نو رسول الله ﷺ وفرمایل : څه چي تا ته پېښېدونکي دي قلم (د هغه په لیکلو) وچ سوی دی اوس که څه هم ته نا مرد سي یا نه. بخاري.

تشریح : د رسول الله ﷺ د جواب خلاصه داده چي ستا په مقدر کي څه لیکل سوي دي هغه به پوره کیږي ، که خدای مه کړه په یو بدکارۍ کي ستا لپاره لیکنه تقدیر جوړ سوی وي نو هغه بد عمل به ضرور ستا څخه کیږي او که تقدیر ستا پر پاک لمنۍ جوړ سوی وي او ستا د معصیت څخه

يې ساتنه کړې وي نو که څه هم ته خپل مردانه قوت ختمولو سره نامرد جوړ سې یا ددغه کار څخه منعه سې نو ستا نفس تا نسي غلولای او ته به پاک لمنې یې، دې ته په (جف القلم) یعني قلم وچولو سره ارشاد وفرمایل سو، په دې حدیث کي دې خبري ته خبرداری او تنبیه ورکول مقصد دي چي اسباب او تقدیر د تقدیر په مقابله کي راوړل او د تقدیر د لیکني څخه بې پرواه کېدو سره د هغه څخه تېښته او تبدیل جائز نه دي.

﴿۸۲﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ قُلُوْبَ بَنِيْ آدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ الرَّحْمٰنِ كَقَلْبٍ وَّاحِدٍ يُصَرِّفُهُ كَيْفَ يَشَاءُ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلٰى طَاعَتِكَ . رواه مسلم

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د ټولو انسانانو زړونه د الله تعالی د دوو ګوتو په منځ کي دي هغه په خپلو ګوتو سره څنګه چي و غواړي زړونه اړوي را اړوي، وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل: أې د زړونو ګرځونکې خدایه زموږ زړونه خپل د طاعت او بندګۍ په لور وګرځوې. مسلم

تشریح: ددغه حدیث شریف څخه د الله تعالی د قدرت د کمال اظهار مقصد دی چي هغه پر ټولو شیانو قادر دی او پر ټولو متصرف دی تر دې چي د زړونو اړخونه او د لړزېدلو پوري هم د هغه په اختیار کي دي، د الله تعالی لپاره د ګوتو استعمال دلته مجازا سوی دی ځکه چي د هغه پاک ذات مادیات او د اجسامو د کثافت څخه پاک دی.

د حدیث مطلب دادی چي ټول زړونه د الله تعالی په واک او تصرف کي دي هغه چي کوم طرف ته غواړي زړونه ګرځوي، د چا زړه د ګناه او معصیت په لور مائل کول هم د هغه صفت دی او یو زړه د عصیان او سرکښۍ د جال څخه د را ایستلو سره د اطاعت، فرمانبردارۍ او د نیکو پر لار راوستل هم د هغه کار دی، هغه چي چا ته غواړي د ګمراهۍ او ضلالت په تیارو کي یې غورځوي او چا ته چي غواړي د هدایت او راستۍ په باغچه کي یې پرېږدي.

﴿۸۳﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مَوْلُوْدٍ إِلَّا يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ كَمَا تُنْتِجُ الْبَهِيْمَةُ بَهِيْمَةً جَمْعَاءَ هَلْ تُحِسُّوْنَ فِيْهَا مِنْ جَدْعَاءَ ثُمَّ يَقُوْلُ (فِطْرَةَ اللّٰهِ

د حضرت ابوهریرة ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم یو کوچنی چي زیږي هغه پر فطرت پیداکیږي (یعني په هغه کي د حق دین قبلولو صلاحیت وي) خو د هغه مور اوپلار د هغه څخه یهودي جوړ کړي یا نصراني یا مجوسي، څرنګه چي

الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لاَ تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللهِ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ) (متفق عليه).

یو حیوان پوره حیوان بچی راوړي ایا تاسو په هغه کي څه نقصان موندلای سي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ : فطرة الله ...(د الله فطرت دادی چي په هغه یې خلك پیدا کړي دي د خدای په پېدائښت کي هیڅ بدلون نه سي کیدلای او دا حق دین دی) مسلم وبخاري .

تشریح : الله تعالی د انسان خلقت پر فطرت کړی دی او فطرت یوازي حق یعني ایمان او اسلام قبلولای سي ، هر کله چي یو ماشوم پیدا کیږي نو هغه پر دې فطرت وي مګر په خارجي اثر سره هغه د فطرت د غوښتنو څخه لیري سي او د اصولو خلاف د فطرت پر طریقو باندي تلل پیل کړي یعني که چیري د هغه مور او پلار یهودي وي نو هغه هم یهودي کیږي او که د هغه مور او پلار عیسائي وي نو هغه هم عیسائي کیږي او که چیري د هغه مور او پلار مجوسي وي نو هغه هم د هغوئ په مذهب کي رنګ کیږي .

نو د یو مثال په توګه یې وفرمایل چي څه ډول د یو حیوان بچی پیدا کیږي نو هغه په خپل اصلي حالت کي پیدا کیږي په هغه کي هیڅ ډول کمي یا تاوان نه وي ، مګر که چیري په خارجي توګه سره یو څوک د هغه لاسونه او پښې پرې کړي یا د هغه پر بدن یو بل عیب پیدا کړي نو هغه خپل اصلي او تخلیقي حالت ضائع کړي ، همداسي انسان د پیداکېدو پر وخت پر خپل اصلي فطرت یعني اسلام باندي پیدا کیږي مګر د هغه ماحول د هغه ټولنه یعني مور او پلار وغیره د هغه احساسات او شعور او د هغه پر عقیدو باندي د خپل مذهب رنګ اچولو سره د هغه ذهن، فکر ، زړه او دماغ پر غلطه لاره باندي واړوي چي د هغه په وجه هغه پر خپل اصلي او تخلیقي فطرت باندي قائم نه پاته کیږي بلکه کافر سي هو که چیري داسي نه کیږي او د هغه مور او پلار مسلمانان وي نو هغه هم مسلمان پاته سي .

﴿۸۴﴾ : وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَامَ فِيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَمْسِ كَلِمَاتٍ فَقَالَ :إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لاَ يَنَامُ وَلاَ يَنْبَغِيْ لَهُ أَنْ يَّنَامَ يَخْفِضُ الْقِسْطَ وَيَرْفَعُهُ يُرْفَعُ إِلَيْهِ عَمَلُ اللَّيْلِ قَبْلَ عَمَلِ النَّهَارِ وَعَمَلُ النَّهَارِ قَبْلَ عَمَلِ اللَّيْلِ حِجَابُهُ النُّوْرُ، لَوْ كَشَفَهُ

حضرت ابوموسی ﷺ وايي مونږ ته رسول الله ﷺ خطبه راکړه او د پنځو خبرو یادونه یې وفرمایل ، رسول الله ﷺ وفرمایل : الله خوب نه کوي او خوب ورته مناسب هم نه دی هغه تله (رزق) کښته کوي او هم یې پورته کوي ، هغه ته د شپې عمل د ورځي د کار څخه وړاندي او د ورځي عمل د شپې د عمل څخه وړاندي وړل کیږي، د

لَاَحْرَقَتْ سُبُحَاتُ وَجْهِهٖ مَا انْتَهٰى اِلَيْهِ بَصَرُهٗ مِنْ خَلْقِهٖ .رواه مسلم .

هغه حجاب (پرده) نور دی كه هغه خپل حجاب پورته كړي نو د هغه د ذات نور كه مخلوقاتو ته را ورسيږي نو ټول به وسوځي .مسلم .

تشريح : د ترازو د لوړ او كښته كولو مطلب دادی چي الله تعالى پريو بنده باندي د رزق پراختيا كوي او هغه په مال او شتمنۍ سره نازوي او پر چا باندي د معيشت د اسبابو او د رزق دروازي تنګولو سره هغه په محتاجۍ او اړتيا كي اخته كوي ، همداسي هغه يو بنده ته د اطاعت، فرمانبرداۍ او نيكو كارونو په وجه عزت، عظمت ، شرف او فضيلت سره نازوي او يو ګناه كار بنده د هغه د سركښۍ، نافرمانۍ او بد كارۍ په وجه ذليل او خوار كوي او هغه د تباهۍ او بربادۍ په كنده كي اچوي ، همداسي د ورځي د عمل څخه مخكي د شپې عمل او د شپې د عمل څخه مخكي د ورځي عمل هغه ته د رسولو مطلب دادی چي د بنده څخه كوم عمل كيږي هغه سمدستي بيله ځنډه الله تعالى ته رسيږي يعني تر اوسه لا لمر نه وي راختلی او يو عمل نه وي صادر سوی چي د شپې عمل چي د بنده څخه سوی وي پورته رسيدلی وي ، همداسي د شپې پيل لا نه وي سوی چي د ورځي عمل هلته رسيږي ، اوس كوم عمل چي نيك او ښه وي هغه د قبوليت په شرف نازولو سره پر هغه د جزاء او انعام پروانه صادر كيږي او كوم عمل چي بد وي پر هغه د عذاب او سزا حكم وركول كيږي .

﴿۸۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَدُ اللهِ مَلْئٰ لَا تَغِيْضُهَا نَفَقَةٌ سَحَّاءُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ أَرَأَيْتُمْ مَا أَنْفَقَ مُذْ خَلَقَ السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ ؟ فَإِنَّهٗ لَمْ يُغِضْ مَا فِيْ يَدِهٖ وَكَانَ عَرْشُهٗ عَلَى الْمَاءِ وَبِيَدِهِ الْمِيْزَانُ يَخْفِضُ وَيَرْفَعُ (متفق عليه) وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ يَمِيْنُ اللهِ مَلْئٰ قَالَ ابْنُ نُمَيْرَ مَلْآنُ سَحَّاءُ لَا يَغِيْضُهَا شَيْءٌ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله ﷻ لاس (خزانه) ډكه ده په خرڅ كولو سره په هغې كي كمي نه راځي په نفقه كولو سره، شپه او ورځ هغه همدارنګه كوي او وركړه كوي ايا تاسو وينئ د څه وخت څخه چي هغه مځكه او آسمان پيداكړي دي هغه خومره نفقه كړي ده، مګر د هغه په خزانې كي څه كمي نه ده راغلې، د هغه تخت (عرش) پر اوبو وو او د هغه په لاس كي د رزق تله ده هغه پورته او كښته كوي . بخاري او مسلم، د مسلم په يوه روايت كي دا الفاظ دي : د خدای پاك راسته لاس ډك دی او ابن نمير چي د امام مسلمؒ استاذ دی داالفاظ نقل كړي دي چي د خدای لاس (خزانه) ډكه ده هغه هميشه وركړه كونكې دی ، په شپه او ورځ خرڅ كولو سره په هغې كي څه كمي نه راځي .

تشریح : ابن نمیر (رح) د حضرت امام مسلم (رح) استاذ دی، د هغه په سند سره چي حدیث دی په هغه کي د (ملاي) پر ځای د (ملان) لفظ دی او په الفاظو کي تقدیم او تاخیر هم سته، او د لغت په نظر د (تلاي) لفظ صحیح دی او دا لفظ مناسب دی.

﴿۸۶﴾ : وَعَنْهُ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَرَارِيِّ الْمُشْرِكِيْنَ قَالَ اللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا عَامِلِيْنَ (متفق عليه) .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه د مشرکانو د ماشومانو په اړه پوښتنه وسول ، نبي کریم ﷺ وفرمایل :الله ﷻ بنه پوهیږي چي هغوئ به څه کول . بخاري او مسلم.

تشریح : یعني دا خو الله تعالی ته معلومه ده که چیري هغه د وړکتوب په حالت کي نه وي مړ سوی او ژوندی پاته سوی وي نو په لوی کېدو سره یو عمل به یې کوی ، اوس د هغه سره چي کومه معامله کیږي نو د هغه سره سم به وي ، یا دا چي الله تعالی ته معلومه ده چي هغوئ به جنت ته ځي یا دوږخ ته، د هغه ځای حالت یو بنده ته څه معلوم دی.

ځیني حضرات وايي چي رسول الله ﷺ به دا هغه وخت فرمایلي وي هر کله چي د مشرکانو د اولاد په باره کي د وحي په ذریعه څه معلوم سوي نه وه، په دې مسئله کي د علماؤ اقوال مختلف دي مګر صحیح او غوره قول دادئ چي په دې باره کي توقف کول پکار دی یعني هغه ته دې نه دوږخي ویل کیږي او نه جنتي.

الفصل الثاني

﴿۸۷﴾ : وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَوَّلَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ الْقَلَمَ فَقَالَ لَهُ اكْتُبْ فَقَالَ مَا أَكْتُبُ: قَالَ اكْتُبِ الْقَدَرَ فَكَتَبَ مَا كَانَ وَمَا هُوَ كَائِنٌ إِلَى الْأَبَدِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب إسنادا .

د حضرت عباده ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ فرمایل : تر ټولو اول چي الله کوم شی پیداکړی دی هغه قلم دی، نو الله ورته وویل ولیکه ، قلم عرض وکړ څه ولیکم ؟ الله ورته وفرمایل : تقدیر ولیکه نو قلم ولیکل څه چي(د رسو ل الله تر زماني پوري) سوي وه او څه چي به آئنده کیدونکي وي . ترمذي وايي دا حدیث د سند په اعتبار غریب دی.

﴿۸۸﴾ : وَعَنْ مُسْلِمِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ سُئِلَ عُمَرُ بْنَ الْخَطَّابِ عَنْ هٰذِهِ الآيَةِ (وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ

د حضرت مسلم بن یسار ﷺ څخه روایت دی چي عمر بن خطاب ﷺ څخه د دې آیت مطلب و پوښتل

بَنِيْ آدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ ..الاية) قَالَ عُمَرُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُ عَنْهَا فَقَالَ : اِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ آدَمَ ثُمَّ مَسَحَ ظَهْرَهُ بِيَمِيْنِهِ فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ ذُرِّيَّةً فَقَالَ خَلَقْتُ هٰؤُلَاءِ لِلْجَنَّةِ وَبِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ يَعْمَلُوْنَ ثُمَّ مَسَحَ ظَهْرَهُ بِيَدِهِ فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ ذُرِّيَّةً فَقَالَ خَلَقْتُ هٰؤُلَاءِ لِلنَّارِ وَبِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ يَعْمَلُوْنَ ،فَقَالَ رَجُلٌ فَفِيْمَ الْعَمَلُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ إِذَا خَلَقَ الْعَبْدَ لِلْجَنَّةِ اسْتَعْمَلَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتّٰى يَمُوْتَ عَلٰى عَمَلٍ مِّنْ أَعْمَالِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيُدْخِلَهُ بِهِ الْجَنَّةَ وَإِذَا خَلَقَ الْعَبْدَ لِلنَّارِ اسْتَعْمَلَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيُدْخِلَهُ بِهِ النَّارِ . رواه مالك والترمذي وأبو داود .

سو (و اذ اخذ ربك من بني ادم من ظهور هم.....) ما د رسول الله ﷺ څخه د دې آیت مطلب اوربدلی دی حضور ﷺ وفرمایل : الله پاك چې آدم ﷺ پیدا کړ بیا یې د هغه پر شا خپل راسته لاس را تیر کړ بیا یې د هغه څخه د هغه اولاد وایستل او وه یې فرمایل : ما دا د جنت لپاره پیداکړل دوئ د جنتیانو کارونه کوي ، بیا یې د آدم ﷺ پر شا لاس را تیر کړ او د هغه څخه یې نور اولادونه راوستل او وه یې فرمایل : ما دوئ د دوزخ لپاره پیداکړل داخلك به د دوزخیانو کارونه کوي ، د رسول الله ﷺ د دې ارشاد په اورېدو سره یو سړي عرض وکړ اې دالله رسوله ! نو بیا د عمل کولو څه ګټه سوه ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چې الله تعالی یو سړی د جنت لپاره پیداکوي نو په هغه د جنتیانو کارونه کوي تر دې چې تر مرګه پورې هغه د جنتیانو په شان کارونه کوي او الله پاك د هغه اعمالو په سبب هغه په جنت کې داخل کوي همدارنګه کله چې یو بنده د دوزخ لپاره پیداکوي نو په هغه د دوزخیانو په شان کارونه کوي تر دې چې تر مرګه پورې هغه د دوزخیانو په شان کارونه کوي ، او الله پاك د هغه کارونو په سبب هغه په دوزخ کې داخل کړي . مالك، ترمذي او ابوداؤد .

تشریح : دغه وعده میثاق په عالم ارواح کې سوی وو، لکه څرنګه چې په نورو حدیثونو کې راغلي دي چې الله تعالی ټول روحونه چې د ازل څخه تر ابد پورې په دنیا کې څومره انسانان پیدا کیږي د ټولو د ملا څخه د هغوئ اولادونه را ایستلي وه ، مثلا د رسول الله ﷺ د ملا څخه د هغوئ اولاد را ایستلی او د هغوئ د اولاد د ملا څخه د هغوئ اولاد او همداسې تر قیامته پورې چې څومره انسانان پیدا کیږي د ټولو د ملا څخه د هغوئ اولاد را وایستل سو .

د راسته لاس د ګرځولو مطلب دادی چې الله تعالی ملائکو ته د راسته لاس ګرځولو حکم ورکړی وو کنه د الله تعالی نوراني ذات د لاس او پښو د ظاهري ثقالت څخه پاك دی ، یا به دا وویل سي چې ددې څخه د خپل قوت او قدرت اظهار مقصد دی .

﴿۸۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِيْ يَدَيْهِ كِتَابَانِ فَقَالَ أَتَدْرُوْنَ مَا هٰذَانِ الْكِتَابَانِ؟ قُلْنَا لاَ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ إِلاَّ أَنْ تُخْبِرَنَا فَقَالَ لِلَّذِيْ فِيْ يَدِهِ الْيُمْنٰى هٰذَا كِتَابٌ مِّنْ رَّبِّ الْعَالَمِيْنَ فِيْهِ أَسْمَاءُ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَأَسْمَاءُ آبَائِهِمْ وَقَبَائِلِهِمْ ثُمَّ أُجْمِلَ عَلٰى آخِرِهِمْ فَلاَ يُزَادُ فِيْهِمْ وَلاَ يُنْقَصُ مِنْهُمْ أَبَدًا، ثُمَّ قَالَ لِلَّذِيْ فِيْ شِمَالِهِ هٰذَا كِتَابٌ مِّنْ رَّبِّ الْعَالَمِيْنَ فِيْهِ أَسْمَاءُ أَهْلِ النَّارِ وَأَسْمَاءُ آبَائِهِمْ وَقَبَائِلِهِمْ ثُمَّ أُجْمِلَ عَلٰى آخِرِهِمْ فَلاَ يُزَادُ فِيْهِمْ وَلاَ يُنْقَصُ مِنْهُمْ أَبَدًا، فَقَالَ أَصْحَابُهُ فَفِيْمَ الْعَمَلُ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ إِنْ كَانَ أَمْرٌ قَدْ فُرِغَ مِنْهُ فَقَالَ سَدِّدُوْا وَقَارِبُوْا فَإِنَّ صَاحِبَ الْجَنَّةِ يُخْتَمُ لَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَإِنْ عَمِلَ أَيَّ عَمَلٍ وَإِنَّ صَاحِبَ النَّارِ يُخْتَمُ لَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ وَإِنْ عَمِلَ أَيَّ عَمَلٍ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيْهِ فَنَبَذَهُمَا ثُمَّ قَالَ: فَرَغَ رَبُّكُمْ مِنَ الْعِبَادِ فَرِيْقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيْقٌ فِي السَّعِيْرِ . رواه الترمذي.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ بیان دی چي (یوځل) رسول الله ﷺ دباندي تشریف راوړ او دهغه په لاس کي دوه کتابونه وه، رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو ته څرګنده ده چي دا دوه کتابونه څنګه دي ؟ موږ عرض وکړ اې دالله رسوله ! موږ ته نه ده څرګنده تاسو وفرمایي چي راته څرګنده سي ، رسول الله ﷺ د راسته لاس کتاب ته اشاره وکړه او وه یې فرمایل : دا کتاب د پروردګار له لوري دی په دې کي د جنتیانو نومونه د هغوئ د پلرو نومونه او د هغوئ د قبیلو نومونه درج دي او په آخر کي د هغوئ جمع بندي سوې ده اوس نه په هغه کي څه زیاتوب کیږي او نه کمي کیدلای سي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ د چپه لاس کتاب ته اشاره وکړه او وه یې فرمایل : دا کتاب د پروردګار د لوري دی او په دې کي د د دوږخیانو نومونه د هغوئ د پلرو نومونه او د هغوئ د قبیلو نومونه درج دي او په پای کي جمع بندي سوې ده اوس په دې کي نه څه زیاتوب کیږي او نه کمي ، صحابه کرامو عرض وکړ : اې دالله رسوله ! هر کله چي هر څه تر مخه څخه لیکل سوي دي نو بیا د عمل کولو څه ګټه ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : عمل درست کړئ او حقه لاره ټینګه ونیسئ د خدای قربت لټوئ ځکه چي د جنتیانو د آخري عهد (وخت) کارونه به د جنتیانو په شان وي اګر که (ټول عمر) هر څنګه ښه یا بد کارونه کړي وي د دوږخي د آخري وخت کارونه به د دوږخیانو په شان وي اګر که هغه ټول عمر هر څنګه عمل کړی وي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ دواړو لاسو ته حرکت ورکړ او کتابونه یې کښېښودل او وه یې فرمایل : ستاسو رب د بندګانو د کار څخه فارغ سو (یعني حکم یې وکړ) چي یوه ټولی به جنت ته ځي او بله ټولی به دوږخ ته . ترمذي.

تشریح : کتابونه وروسته ایښودل د سپکاوي په توګه نه وه بلکه دې ته اشاره کول مقصد ده چي

د الله تعالى څخه په دې معامله کي چي دوزخي او جنتي کوم کوم خلک دي په ازل کي ددې حکم سوی دی چي ليکل سوی تقدير جوړ سوی دی.

په څرګنده خو ددې حديث څخه دا معلومه سوه چي د رسول الله ﷺ په لاس مبارک کي واقعي کتابونه وه چي صحابه کرامو ته يې ښودلي هم وه مګر په هغه کي دننه چي مضامين ليکلي وه هغه يې نه وه ښودلي، مګر ځيني حضرات فرمائي چي په حقيقت کي کتابونه نه وه بلکه رسول الله ﷺ د مثال په توګه په دغه انداز سره وفرمايل چي دا مسئله د صحابه کرامو په ذهن کي کښيني.

﴿۹۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ خِزَامَةَ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَأَيْتَ رُقًى نَسْتَرْقِيْهَا وَدَوَاءً نَتَدَاوٰى بِهِ وَتُقَاةً نَتَّقِيْهَا هَلْ تَرُدُّ مِنْ قَدَرِ اللهِ شَيْئًا ؟ قَالَ هِيَ مِنْ قَدَرِ اللهِ . رواه أحمد والترمذي وابن ماجه

د حضرت ابن خزامه[1] ؓ د خپل پلار څخه روايت کوي چي هغه رسول الله ﷺ ته عرض وکړ: اې د الله رسوله! دا راته وښيه چي کوم دم او منتر چي موږ کوو او کوم دارو يا درمل چي موږ کوو او خپل د خلاصون تدبيرونه (مثلا په غزا کي سپر وغيره) موږ کوو آيا دا شيان د الله ﷻ تقدير بدلوي، رسول الله ﷺ وفرمايل: دا شيان هم په تقدير کي ګډ دي. احمد، ترمذي او ابن ماجه:

تشريح: د جواب مطلب دادی چي څرنګه ناروغي وغيره يو مقدر امر دی همداسي د هغه علاج او د هغه څخه د ساتني اسباب هم د تقدير د ليکني سره سم دي يعني څرنګه چي د يو سړي په مقدير کي يو ناروغي ليکل سوې وي نو د هغه سره دا هم ليکل سوي وي چي دا ناروغ به په فلاني وخت د خپل ناروغۍ علاج کوي او دا هم فيصله سوې وي چي د هغه علاج سره به هغه ګټه رسيږي که نه، که فائده ليکلې وي نو ګټه به ورته وسي او که ګټه کېدل نه وي ليکل سوي نو ګټه به ورته ونه کړي، له دې کبله که يو ناروغ د خپل ناروغۍ علاج وکړي او هغه ته ګټه ونه رسيږي نو هغه ته پوهېدل پکار دي چي په تقدير کي شفاء نه وه ليکل سوې نو معلومه سوه چي په ناروغۍ کي علاج کول يا د خپل ساتني لپاره د خارجي اسبابو مرسته اخيستل د تقدير خلاف نه دي.

[1] حضرت ابي خزامه تابعي دی چي د پلار نوم يې يعمر دی چي صحابي دی او د هغه څخه ابوخزامه روايت کوي او ابي خزامه څخه زهري روايت کوي.

د تعویذ، دم او چف مسئله داده چي تعویذ گناه ده مگر که چیري د قرآن کریم د آیاتونو او حدیثونو ددعاوو سره سم وي یا دم او چف د اسماء او صفات الهي او قرآن او حدیث سره سم وي او د هغه د مؤثر گڼلو عقیده هم نه وي یعني دا یقین نه لري چي په دغه شیانو سره به یقنا کټه وسي که څه هم د الله مرضي وي یا نه وي بلکه دا عقیده وي چي د شفاء او صحت ورکونکی خو الله تعالی دی دا یوازي د اسباب او تبرک په درجه کي دي نو په داسي شکل کي دا شیان جائز دي، او که دد خلاف وي یعني دچف او چف او تعویذ وغیره غیر شرعي وي یعني په هغه کي د غیر الله څخه مرسته غوښتل وي نو دا حرام دي.

﴿۹۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَتَنَازَعُ فِي الْقَدَرِ فَغَضِبَ حَتَّى احْمَرَّ وَجْهُهُ حَتَّى كَاَنَّمَا فُقِئَ فِي وَجْنَتَيْهِ حَبُّ الرُّمَّانُ فَقَالَ اَبِهٰذَا اُمِرْتُمْ اَمْ بِهٰذَا اُرْسِلْتُ اِلَيْكُمْ؟ اِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حِيْنَ تَنَازَعُوا فِي هٰذَا الْاَمْرِ عَزَمْتُ عَلَيْكُمْ اَلَّا تَتَنَازَعُوا فِيْهِ (رواه الترمذي) و روى ابن ماجة نحوه عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده.

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي موږ موږ ناست وو او د تقدیر پر مسئله مو خبري کولې چي رسول الله ﷺ تشریف راوړ او د غصې څخه د رسول الله ﷺ مبارک مخ داسي سور سو لکه چي د انار دانې یې دده مبارک په مخ کي نښتیږلي دي بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا تاسو ته حکم سوی دی چي زه تاسو ته د دې لپاره رالیږل سوی یم، ستاسو څخه وړاندي چي کوم قومونه تیر سوي دي هر کله چي هغوئ په دې مسئلِه مناقشه (جگړه) وکړه نو هغوئ هلاک کړل سوه، زه تاسو ته قسم درکوم او دوهم ځل قسم درکوم چي آئنده په دې مسئله کي جگړه مه کوئ، ترمذي، ابن ماجه هم دا ډول روایت د عمرو بن شعیب څخه روایت کړی دی چي هغه د خپل پلار او پلار یې د نیکه څخه نقل کړی دی.

تشریح: صحابه کرامو په خپل منځ کي د تقدیر پر مسئله بحث کوئ. ځیني صحابه کرامو دا ویل چي ټول شیان د الله تعالی د لوري د لیکلي تقدیر سره سم دي نو بیا د ثواب او عذاب ترتیب ولي کیږي لکه څرنگه چي د معتزله مذهب دی، او ځینو حضراتو دا ویل چي په دې کي د الله تعالی یو حکمت او مصلحت دی چي ځیني انسانان یې د جنت لپاره پیدا کړل او ځیني انسانان یې د دوږخ لپاره پیدا کړي دي، ځینو صحابه کرامو دد جواب ورکړ چي داسي ځکه دي چي انسانانو ته څه اختیارات هم د عملونو کولو او نه کولو ورکړل سوي دي، چا ویل چي دا اختیار چا ورکړ.

په هر حال دا ډول بحث کيدی او د خپل عقل او پوهي په ذريعه د الله ﷻ د دغه راز او حکمت حقيقت ته د رسيدو هڅه کېدل چي رسول الله ﷺ دوئ په دغه بحث کولو سره وليدل نو د غصې او غضب څخه يې مخ مبارک سور سو ځکه صحابه کرامو ته وښودل سول چي د تقدير مسئله د الله تعالی يو راز دی چي پر هيچا نه دی ظاهر کړل سوی نو په دې کي عقل جنګول او غور او پلټنه کول د ګمراهۍ لار اختيارول دي، رسول الله ﷺ وفرمايل زه ددې لپاره دنيا ته نه يم رالېږل سوی چي د تقدير په اړه څه وښيم او تاسو په دې کي بحث او مباحثه وکړئ زما د رالېږلو مقصد يوازي دادی چي د الله تعالی احکام خلکو ته ورسوم او د اطاعت او فرمانبرداری پر لار مو روان کړم، ددين او شريعت د فرضونو او عملونو د کولو تاسو ته حکم درکړم نو د هغه پر ځای راوړلو کي بوخت اوسئ او د تقدير په مسئله کي مه لوېږئ، بس دومره عقيده ستاسو لپاره کافي ده چي تقدير د الله تعالی يو راز دی چي ددې په حقيقت او حکمت هغه ښه پوهيږي دا د هغه وخوښي ته پرېږدئ.

د حديث شريف په پای کي صاحب د مشکوة د ابن ماجه د دا ډول روايت سوي حديث او سند ذکر کړی دی، د هغه مطلب دادی چي هغه حديث شعيب د خپل نيکه څخه نقل کړی دی چي عبدالله بن عمرو بن العاص دی او شعيب څخه د هغه زوی عمرو روايت کوي، همداسي د (عن ابيه) ضمير عمرو بن شعيب ته راجع کيږي ځکه چي عمرو د خپل نيکه څخه روايت کوي د هغه نيکه محمد بن عبدالله څخه هغه روايت منقول نه دی دا د نسب لړۍ داسي ده: عمر بن شعيب بن محمد بن عبدالله بن عمرو بن العاص، ددې شرح ځکه دلته ضروري ده چي په نورو حديثونو کي په دا ډول عبارت کي د (عن جده) ضمير عمرو ابن شعيب ته راجع کيږي مګر دلته د هغه پر خلاف دی.

﴿۹۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللهَ خَلَقَ آدَمَ مِنْ قَبْضَةٍ قَبَضَهَا مِنْ جَمِيْعِ الأَرْضِ فَجَاءَ بَنُوْ آدَمَ عَلٰى قَدْرِ الأَرْضِ مِنْهُمْ الأَحْمَرُ وَالأَبْيَضُ وَالأَسْوَدُ وَبَيْنَ ذٰلِكَ وَالسَّهْلُ وَالْحَزْنُ وَالْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ. رواه أحمد والترمذي وأبو داود.

د حضرت ابوموسی ؓ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي فرمايل يې: الله ﷻ آدم ؑ د يو موټ (خاورو) څخه پيدا کړ چي هغه د ټولي مځکي څخه اخيستل سوې وه نو د آدم ؑ اولاد يې د هغې مځکي موافق يعني کوم ډول چي خاوره وه په هغه ډول پيدا کړ، ځيني په هغوئ کي سور رنګه، ځيني سپين رنګه او ځيني نور او ځيني درميانه او ځيني په دوئ کي نرم مزاجه او

ځیني سخت مزاجه او ځیني په دوئ کي ناپاک او ځیني پاک دي. احمد، ترمذي او ابوداؤد.

تشریح: د حضرت آدم علیه السلام د پیدا کېدو پر وخت یوې ملائکي حضرت عزرائیل علیه السلام ته حکم وسو چي هغه یو موټ خاوره راوړي نو هغه د ټولي مځکي د مخ د هري سیمي هر ځای څخه لږ لږ خاوره په موټ ډکولو سره راوړه او په هغه سره د حضرت آدم علیه السلام پیدا ئښنت وسو ځکه نو د آدم علیه السلام په اولاد کي د مختلف رنګونو او نسل او مختلف طبیعتونو انسانان پیدا کیږي، ځوک تور وي، ځوک سور، ځوک غنم رنګه وي، همداسي ځیني انسانان د خپل طبیعت او مزاج په اعتبار نرم او خوش اخلاقه او خواږه ژبي وي، د ځیني خلکو طبیعت سخت او غیر معتدل وي، ځیني انسانان فطرتا پاک وي او ځیني د نجارت سره ملوث وي او دا فرق او اختلاف د هغه بنیادي مادې په وجه دی چي د هغه څخه د حضرت آدم علیه السلام تخلیق سوی دی.

﴿۹۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللهَ خَلَقَ خَلْقَهُ فِيْ ظُلْمَةٍ فَأَلْقٰى عَلَيْهِمْ مِنْ نُوْرِهِ فَمَنْ أَصَابَهُ مِنْ ذٰلِكَ النُّوْرِ اهْتَدٰى وَمَنْ أَخْطَأَهُ ضَلَّ فَلِذٰلِكَ أَقُوْلُ جَفَّ الْقَلَمُ عَلٰى عِلْمِ اللهِ. رواه أحمد والترمذي

حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه فرمایي چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي الله تعالی خپل مخلوق په تیاره کي پیدا کړ او بیا یې خپل نور ور باندي و غورځوی، پر چا چي هغه نور پریوت نو د هغه د هدایت لار په برخه سوه او چا ته چي نور نه ورسید هغه ګمراه سو، په دې اړه زه وایم چي قلم د خدای په حکم وچ سو. احمد او ترمذي.

تشریح: د تیارې څخه مراد د نفس اماره تیاره ده دی چي د انسان په طبیعت کي د نفساني خواهشاتو او غفلت ماده اېښودل سوې ده، د چا زړه او دماغ چي د ایمان او احسان په رڼا سره منور سو او هغه په طاعت الهي سره د الله تعالی د ذات عرفان تر لاسه کړ نو هغه د نفس اماره د مکر او فریب او د هغه د تیارو څخه ووتی او د خداپرستۍ او نیک کارۍ ګلزار ته راغلی او ځوک چي د نفس په مکر او فریب کي په لوېدو سره د اطاعت الهي د نور څخه محروم سو نو هغه په ګمراهي کي پاته سو.

﴿۹۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ أَنْ يَّقُوْلَ يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلٰى دِيْنِكَ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ آمَنَّا بِكَ وَبِمَا جِئْتَ بِهِ فَهَلْ تَخَافُ عَلَيْنَا؟ قَالَ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به زیات وخت دا دعاء کول: اې د زړونو ګرځونکي خدایه! زما زړه پر خپل دین قائم ولرې، ما (یوځل) عرض وکړ اې د الله رسوله! موږ پر تا ایمان راوړی

نَعَمْ إِنَّ الْقُلُوْبَ بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ اللهِ يُقَلِّبُهَا كَيْفَ يَشَاءُ . رواه الترمذي وابن ماجه .

دی او کوم احکام چي تا سو راوړي دي په هغه مو هم ایمان دی نو ایا په داسي حالت کي هم زموږ په معامله کي بیریږئ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل :«د بندګانو زړونه د الله د دوو ګوتو په قبضه کي دي څنګه چي هغه غواړي حرکت کي یې راولي ترمذي او ابن ماجه

تشریح : د حضرت انس ﷺ د وینا مطلب دادی چي رسول الله ﷺ خو بالکل معصوم او خوندي دی ، نعوذبالله د یو ګمراهۍ سایه هم په رسول الله ﷺ کي نسي راتلای، ظاهره ده چي دا دعاء رسول الله ﷺ زموږ لپاره کوي چي موږ ددنیا په په ځلا کي په لوېدو سره د خپل دین او ایمان څخه ګمراه نه سو ، نو ایا تاسو په داسي شکل کي چي رسول الله ﷺ زموږ په منځ کي موجود دی او مو ږ د رسول الله ﷺ د رسالت او د هغه د راوړل سوي شریعت د صداقت عقیده لرو او زموږ زړونه د ایمان او ایقان حقیقي په کیفیت سره سمسور دي زموږ د ګمراه کېدو څه بیره کېدای سي ، پر دې باندي رسول الله ﷺ جواب ورکړ چي د زړونو رُخ د الله تعالی په لاس کي دی هغه چي څنګه غواړي هغه ګرځوي، معلومه نه ده چي د چا زړه کله د ګمراهۍ طرف ته سي ځکه نو دعاء غوښتل پکار ده چي الله تعالی مو زړه همیشه د سلامتۍ پر لار کړي او د ګمراهۍ په لوري یې وا نهړوي .

﴿۹۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْقَلْبِ كَرِيْشَةٍ بِأَرْضٍ فَلَاةٍ يُقَلِّبُهَا الرِّيَحُ ظَهْرًا لِبَطْنٍ . رواه أحمد .

د حضرت ابوموسی ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زړه د بڼکي په شان دی چي په آوار میدان کي پرته ده او هواګاني یې آخوا دېخوا اړوي رااړوي . احمد

تشریح : همداسي د زړونو حال دی چي کله هغه د بدۍ څخه د نیکۍ طرف ته رخ کوي او کله د نیکۍ څخه د بدۍ پر لار ځي .

﴿۹۶﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتّٰى يُؤْمِنَ بِأَرْبَعٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ بَعَثَنِيْ بِالْحَقِّ وَيُؤْمِنُ بِالْمَوْتِ وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ وَيُؤْمِنُ بِالْقَدْرِ . رواه الترمذي وابن ماجه .

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : بنده تر هغه وخته مؤمن کیدلای نه سي تر څو چي په دې څلورو خبرو یقین ونه لري : ۱- د دې شاهدي ورکول چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او زه (محمد ﷺ) د الله رسول یم زه الله په حقه رالیږلی یم ۲- مرګ حق وګڼي ۳- د مرګ څخه وروسته بیرته ژوندي کیدل حق وګڼي

۴- او په تقدير باندي ايمان ولري .ترمذي، ابن ماجه.

تشريح : پر مرگ باندي د ايمان راوړلو مطلب دادی چي دا خبره يقيني وگڼي چي ددې دنيا ټول ژوند عارضي او فاني دی چي پر خپل وخت به ختم سي او په دې دنيا کي چي څه دي هغه ټول به يوه ورځ فنا سي ، يا ددې څخه دا مراد دی چي په دې خبره د زړه په صدق سره يقين او عقيده وکړل سي چي د مرگ يوه ورځ ټاکلې ده او هغه د الله تعالی په حکم سره راځي ، هيڅ يو ناروغي ، پېښنه يا تکليف وغيره د مرگ حقيقي سبب نه دی بلکه دا شيان ظاهري اسباب دي ، د يو انسان ژوند او مرگ پوره پوره د الله تعالی په لاس کي دی هر کله چي د هغه حکم وسي نو ژوند او کله چي غواړي په مرگ ليږلو سره ژوند ختم کړي .

﴿۹۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صِنْفَانِ مِنْ أُمَّتِي لَيْسَ لَهُمَا فِيْ الإِسْلَامِ نَصِيْبٌ اَلْمُرْجِئَةُ وَالْقَدَرِيَّةُ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په امت کي دوې ډلي داسي دي چي د هغوئ به په اسلام کي هيڅ برخه نه وي: مرجيه او قدريه ، ترمذي وايي دا حديث غريب دی.

تشريح : په اسلام کي يوه ډله په مرجيه نامه سره مشهوره ده ، دا ډله د اعمالو په اړه د اسبابو قائل نه ده بلکه دوئ وايي چي د يو عمل او فعل نسبت بنده ته داسي دی لکه د يو فعل نسبت چي جمادات ته وکړل سي يعني څرنگه چي يو لرگی او ډبره جماد دی چي هغه کومي خوا ته وغورځول سي نو هغه ته په دې غورځولو کي هيڅ دخل او اختيار نسته بلکه هغه د غورځونکي په قبضه او قدرت کي دي ، همداسي يو بنده دی چي هغه ته په خپل هيڅ عمل او فعل کي داخل او اختيار نسته بلکه هغه مجبور محض او بې اختياره دی ، قدرت چي د هغه څخه کوم عمل صادروي هغه کوي هغه نه د يو عمل په خپله کولو باندي قادر دی او نه د يو عمل څخه منعه کېدل د هغه په اختيار کي دي، ددې مقابل دوهمه ډله قدريه ده چي د تقدير څخه بالکل منکر دي، ددې ډلي مسلک دادی چي د بنده په عملونو کي د تقدير الهي هيڅ دخل نسته بلکه بنده خپله د خپل اعمالو خالق او په خپل اعمال کي مختار او قادر دی هغه چي څه عمل کوي د خپل قدرت او اختيار په وجه يې کوي او دا مسلک د معتزله او روافض هم دی .

دا دواړي ډلي د اسلامي نقطه نظر څخه په خپل خپل مسلک کي د اعتدال دلاري څخه ليري سوي دي ، که چيري د مرجيه عقيدې ومنل سي نو د هغه مطلب به دا وي چي هر کله د بنده څخه د اختيار او قدرت او اراده او مشيت نفي کولو سره هغه د جنبتي، ډبري او لرگي او

غيراراده مخلوق په ډول ومنل سي او د بنده په هر كار كي اختيار او قدرت كليه د الله تعالى ومنل سي يا په ښكاره الفاظو دا وويل سي لكه صفات فاعل چي مخته په اېښودو سره د صفات عبد څخه انكار وكړل سي نو په قدرتي توګه سره دا خبره منل پكاريږي چي د بنده څخه سوي كارونو ته به خپله د بنده كارونه نسي ويل كيدلاى بلكه هغه ته به د الله تعالى كارونه ويل كيږي كه څه هم هغه كار هر ډول وي او د كوم اندام څخه چي صادر سوى وي ، هر كله چي بنده يېويني نو ويل كيږي به چي هغه نه ويني بلكه الله تعالى ويني ، هر كله چي بنده خوراک كوي نو منل به پكار وي چي هغه يې نه خوري بلكه الله تعالى يې خوري ، هر كله چي بنده اوري نو تسليم كول به پكار وي چي هغه يې نه اوري بلكه الله تعالى يې اوري ، كله چي بنده بيده كيږي نو داسي به ويل پكار وي چي هغه خوب نه كوي بلكه الله تعالى خوب كوي ، يعني د بنده څخه به هيڅ كار نه صادر كيږي، نو دا به ويل وي چي هغه د بنده څخه نه دي بلكه په حقيقت كي د الله تعالى څخه صادريږي ، دا ټول د وجود آثار دي چي د هغه څخه د غافل د موجود كېدو معلومات كيږي ، نو خلاصه دا سوه چي بنده كه څه هم موجود دى مګر په حقيقت كي د هغه هيڅ وجود نسته بلكه هغه د خالق او افعالو په منځ كي يوه داسي ذريعه ده چي د هغه افعالو د اظهار لپاره واسط جوړيږي بلكه موجود خو يوازي د الله تعالى ذات دى كنه نو ټول كالعدم دي .

دا ټول دليلونه د وحدت الوجود او كثرت موجودات پر نفي ختميږي چي ځينو جاهلو صوفيانو په اصطلاح كي همه اوست ورته وايي چي د هغه حاصل د كثرت موجودات او اعيان ثابت څخه په ډاګه انكار او د ټولو كثرتونو يوه فرضي او وقتي كارخانه تصور كول راوځي او ثابتيږي چي په دغه كائناتو كي هر شى په موجود كېدو سره كالعدم او معدوم دى ، موجود يوازي ذات واحد دى بل هيڅوک نسته ددې نتيجه په اصطلاحي الفاظو كي دا دي چي په دائره وجود كي د وجود يوازي يو نوع پاته سي چي هغه ته واجب الوجوب وايي او د ممكن الوجود هيڅ نښه پاته نسي بلكه هغه د هميشه لپاره په معدوم محض كېدو سره پاته سي ، اوس ښكاره ده چي الله تعالى ايجاد يا فيضان وجود چي هغه ته تخليق وايي پر ممكن باندي كيداى سي ځكه چي په هغه كي د قبول وجود صلاحيت دى مګر هغه معنًا معدوم محض سوى دى چي پر هغه آثار وجود او د ژوند آثار نسي ښكنديدلاى نو اوس ايجاد پر چا واقع سي او تخليق د كوم شي په عمل كي راسي او د ايجاد څخه وروسته بقاء خداوندي يعني تدبير او تصرف او ربوبيت وغيره داسي هغه ټول حق صفتونه چي د هغه تعلق د مخلوق سره وو پر چا واقع كيږي او چيري به

خپل تجليات ښيي هر كله چي د ذات خداوندي څخه پرته د بل چا معلومات نسته چي هغه د دغه صفاتو مورد او مظهر جوړ سي نو په دې شكل منل پكار دي چي د ايجاد او بقاء ټول صفتونه معاذالله معطل او بيكاره ثابت سوي دي او تعطل كه عدم نه دى نو كالعدم ضروري دى، په نورو الفاظو كي د افعال باري عدم دى چي انتهائي نقص دى .

او هر كله چي دا ټول فعلي كمالات د صفاتو وجود آثار وه چي ذات حق څخه منتفي سول نو بلا شبه وجود خداوندي د هغه نفي سره ناقص وګرځيدى او د الله تعالى بې عيب ذات ځومره كمالات مثلا ظهور صفات او افعال څخه خالي پاته سو چي په هغه د معبوديت كارخانه قائمه وه او ظاهره ده چي نفس صفات او نقص افعال سره خداى جمع كيداى نسي نو داسي ناقص ذات ته خداى نسي ويل كيدلاى ، نيتجه دا سوه چي نه خالق پاته سو او نه مخلوق پاته سو .

فكر وكړئ چي د مرجيه ډلي نظريات بنده مجبور محض او بې اختياره تصور كړ او د هغه د ټولو كارونو او عملونو ذمه داري د تقدير الهي پر سر واچول نتيجه دا راووتل چي هغوئ د بنده د اختيار ، قدرت او اراده مشيت فعل او عمل په دغه درجه كي مستقل او آزاد وښووى چي په هغه كي د الله تعالى اراده ، قدرت او اختيار ته هيڅ دخل نسته حتى چي ځيني عاليه قدريه خو تر دې پوري وايي چي الله ته د بنده د افعالو علم هغه وخت كيږي هر كله چي بنده هغه وكړي لكه د بنده د استعمال اختيار چي تر حد پوري په الله تعالى كي اراده سته نه قدرت ته اختيار دى نه مشيت حتى چي نه سابق علم سته او نه خبر .

نو مرجيه خو تقدير مثلا صفات خالق، اراده علم او قدرت اختيار وغيره د الله تعالى سره وابسته كولو سره بنده يې د هغه څخه خالي كړ او قدريه هغه صفات د بندهٔ سره مستقلا وابسته كولو سره الله تعالى يې د هغه څخه خالي ومنى ، فكر وكړئ ددې نتيجه هم هغه (نعوذبالله) عدم محض تعطل خالص او د خداى په ذات كي سخت نقصان او د هغه په صفات كي كوتاهي راووتل ځكه چي دومره خبره خو څرګنده ده چي بنده په يوه دقيقه كي په سوونو ښه او بد عملونو او حركاتو د مختلف انداز څخه تيريږي او د ټول عمر د دغه كارونو او عملونو شمير خو ناممكن دى بيا د انساني تصرفات حدورو تر دې عالم پوري نه دى ځكه چي ځيني داسي متعدي افعال هم دي چي په هغه كي انسان نور اشياء كائنات مفعول جوړوي ، ظاهره ده چي هغه شيان په عالم كي چي د هغه په تسخير او تصرف كي راځي د مځكي څخه تر آسمان پوري ټول مخلوق داخل دي .

نو د ټولو انسانانو دا ټول کارونه چي په ټول عالمونو کي خپاره سوي دي او دقدريه په قول دا د انسانانو داسي مخلوقات دي چي د هغه ايجاد او تخليق کي د الله تعالی داخل به څه وي چي څخه د هغه زور چليږي او نه هغه ته د هغه د پيدا کېدو څخه مخکي د هغه علم وي يعني انسان په خپله خپل تخليق کي بې بسه دی هغه ته خو د هغه د تخليق د ارادې کولو وخت علم کيږي چي هغه ته څه او کله پيدا کول دي خو نعوذبالله، الله دومره ناخبره او لاعلم چي هغه د دغه څخه هم خبر نه وي چي کوم شی کله پيدا سو او کوم کار کله صادر سو.

په دې صورت کي يقينا د انسان د تخليقاتو شمير به د الله تعالی د مخلوقاتو د شمير څخه زيات سي ځکه چي الله تعالی خو د انسان خالق دی او انسان د ټولو کارونو او شيانو خالق دی او ظاهره ده چي د انسان نسبت سره د هغوئ افعال بلا شبه په کرړونو زيات وي ځکه هيڅ وجه نسته چي انساني مخلوقات د الله تعالی د مخلوقاتو څخه زيات نسي او بيا مخلوقات هم داسي چي د خدائي سرحد څخه بالکل وتلي چي پر هغه د هغه هيڅ وس نه وي بلکه علم قديم هم نه وي نو په دې معامله کي ويل پکار وي چي الله تعالی خو بې وسه سو او انسان مختار کل سو، بنده خو په خدايي حدود کي راغلی او خداي د بندګانو په صف کي راغلی يعني د بنده زور خو د خداي پر خدايي وچليدی چي هغه د افعالو او شيانو تخليقات وکړل او د خداي وس خپل خدائي باندي هم پاته نه سو چي هغه ته د هغه مخلوقاتو په وجود کي دراتلو علم هم ونه سو او دې مقام ته په راتلو سره د هغه اراده، قدرت، مشيت او اختيار وغيره ټول بيکاره او معطل کېدو سره پاته سوه، (ماخوذ از مسئله تقدير، مصنف حکيم الاسلام مولانا محمد طيب مدظله).

ددغه دواړو ډلو مسلک حقيقت او ددې انجام ظاهر دی چي دغه دواړي نظريې پر خپل خپل ځای د اسلامي نقطه نظر څخه نه يوازي دا چي د اعتدال څخه ليري سوي دي بلکه د ګمراهۍ په لور وړاندي سوي هم دي چي د هغه نتيجه د خدای ﷻ د عذاب او د آخرت د تاوان څخه پرته نور هيڅ نه دي، د دغه دواړو ډلو په مقابله کي د اهل سنت والجماعة مسلک بالکل صاف او صحيح دی، علماء د حق وايي چي د ټولو کارونو او عملونو خالق الله تعالی دی، د نورو ټولو بنده دی يعني په دنيا کي چي څومره شيان واقع کيږي يا کيدونکي دي هغه ټول د الله تعالی په حکم او د هغه په اراده او علم سره کيږي همداسي بندګانو څخه چي کوم کارونه کيږي که هغه نيک کارونه وي او که بد ټول د تقدير سره سم پر خپل وخت واقع کيږي مګر بنده ته د

عقل او پوهي او فهم او په نیک او بد کي د امتیاز پیدا کولو صلاحیت ورکولو سره د هغه په وړاندي دواړي لاري څرګنده سوي دي او ورسره یې دا اعلان هم وکړ که چیري د نیکۍ لار اختیار کړي نو د عذاب خداوندي څخه به خلاصون تر لاسه کړي او که د بدۍ او شر لار اختیار کړي نو د الله تعالی په عذاب کي به ونیول سي، نو بنده د اسباب او کسب د اعتبار څخه په خپل هر عمل او کار کي مختار دی یعني اهل سنت والجماعت بنده ته په یو وخت کي مختار هم وایي او مجبور هم، مګر په دې درمیانه انداز سره چي هغه نه مختار مطلق ګڼي او نه مجبور محض، یعني یوې خوا ته هغه په مختار منلو سره د تقدیر په زنځیر سره تړلی هم ورته وایي او بلي خوا ته هغه ته په مجبور ویلو سره د خبنتي، ډبري او لرګي په ډول بې حس یې هم نه تسلیموي.

په هر حال ددغه حدیث شریف څخه په ډاګه معلومیږي چي دغه دواړي ډلي مرجیه او قدریه کافر دي یعني د حضرت شیخ عبدالحق محدث دهلوي (رح) د تحقیق سره سم د علماؤ قول مختار دادی چي دا دواړي ډلي کافر نه دي البته فاسق دي ځکه چي دا ډلي هم قرآن او حدیث څخه تمسک کوي او په خپل نظریاتو کي تاویل او په توضیح کولو سره د کفر د دائرې څخه خپل ځان ساتي، نو ددغه حدیث په اړه به ویل کیږي چي ددې څخه ددغه ډلو زجر او ملامتیا مقصد دی او د هغوئ د غلطو عقائدو ګمراهۍ واضحه کول دي چي په هغه کي دومره شدت او سختي سره د هغوئ د مذهب رد کیږي، ځیني حضراتو ددغه حدیث په صحت کي هم کلام کړی دی.

د حضرت شاه اسحاق رحمه الله تحقیق ددې خلاف دی هغه فرمائي چي محققین علماء ددغه ډلو د کفر حکم کوي او د اسلام څخه خارج یې ګڼي مګر په دې کي اختلاف دی چي د هغوئ کفر تاویلي دی او که ارتدادي دی.

﴿۹۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ يَكُوْنُ فِيْ أُمَّتِيْ خَسْفٌ وَمَسْخٌ وَذٰلِكَ فِي الْمُكَذِّبِيْنَ بِالْقَدْرِ.

رواه أبو داود وروى الترمذي نحوه.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل: زما په امت کي به خسف (په مځکه کي ژوندي ښخیدل) او مسخ (شکل بدلیدل) دواړه وي او په دې کي به هغه خلک اخته وي چي د تقدیر څخه انکار کوي، ابوداؤد او ترمذي هم دا ډول روایت بیان کړی دی.

تشریح: په مځکه کي غرقیدل او د شکلونو مسخ کیدل د الله تعالی د لوري ډیر سخت عذاب دی چي ددې امت څخه مخکي پر نورو امتونو باندي د هغوئ د سرکښۍ او د حد څخه د زیاتۍ

او نافرمانی په وجه سوی وو، په دې امت کي هم په اخره زمانه کي د الله تعالی څخه چي سرکښی او نافرمانی د حد څخه زیاته سي نو پرهغه ډلو باندي هم دا عذاب راتلای سي مګر ځیني حضرات وایي چي ددې حدیث مطلب دادی که د مسخ او خسق په ډول درناک عذاب زما پر امت راسي نو پر دغه دوو ډلو به وي.

﴿۹۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْقَدَرِيَّةُ مَجُوْسُ هٰذِهِ الأُمَّةِ إِنْ مَرِضُوْا فَلاَ تَعُوْدُوْهُمْ وَإِنْ مَاتُوْا فَلاَ تَشْهَدُوْهُمْ. رواه أحمد وأبو داود.

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: قدریه ډله د امت مجوس دي که هغوئ ناروغ وي نو پوښتني ته مه ورځئ او که مړه سي نو جنازه یې مه کوئ.احمد او ابوداؤد.

تشریح: ددغه حدیث شریف څخه د قدریه ډلي څرګنده ګمراهي او د هغوئ ضلالت واضح دی چي هغوئ ددغه امت مجوسیان وګرځول سول، مجوسیان د اور عبادت کونکي قوم دی چي دوه خدایان مني، یو هغه خدای چي نیکي او خیر پیدا کونکی دی هغه ته یزدان وایي او دوهم هغه خدای چي بدي او شر پیدا کونکی دی هغه ته اهرمن یعني شیطان وایي.

څرنګه چي مجوسیان د ډیرو خدایانو قائل دي همداسي قدریه هم د ډیرو خالقانو قائل دي ځکه چي د هغوئ په نزد هر بنده د خپل افعالو خالق دی همداسي څومره بندګان چي وي هغومره خالق به هم وي او څرنګه چي قدریه خلق خیر جدا او خالق شر جدا مني همداسي قدریه هم وایي چي د خیر او نیکۍ پیدا کونکی خو الله تعالی دی او د شر او بدۍ پیدا کونکی شیطان او انساني نفس دی.

ددغه حدیث څخه معلومه سوه چي مسلمانانو ته ددغه ډلي څخه کلیة اجتناب کول ضروري دی که هغوئ ناروغ سي نو پوښتني ته ورتلل نه دي پکار، که مړه سي نو په جنازه کي یې ګډون نه دی پکار، په غم او خوشحالي کي د هغوئ سره ګډون نه دی پکار او نه د هغوئ سره د یو ډول ټولنیز تعلق ساتل جائز دی.

کوم حضرات چي دا ډله د کافرانو په ډله کي داخلوي او دغه حدیث پر خپل ظاهري معنا باندي محمول کوي یعني مسلمانان د دوئ سره د تعلق ساتلو څخه منعه کوي.

او کوم حضرات چي هغوئ ته کافران نه وایي بلکه فاسق ورته وایي هغوئ ددې حدیث تاویل دا کوي چي ددې حدیث مقصد ددغه ډلي ګمراهي او ضلالت بیانول او زجر او ملامتیا کي د شدت اظهار کول دی. مګر حضرت شاه محمد اسحاق دهلوي (رح) فرمائي چي د محققینو

قول دادی چي نه دی د هغوئ په ناروغی کي پوښتنه کوي او نه دی په جنازه کي ګډون کوي او تر څو پوري چي کيدای سي د هغوئ سره دي تعلق قطع کړي.

﴿۱۰۰﴾ : وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تُجَالِسُوْا أَهْلَ الْقَدَرِ وَلاَ تُفَاتِحُوْهُمْ رواه أبو داود .

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :د قدريه ډلي خلګو سره مه کېنئ او مه د هغوئ څخه محاکمه غواړئ . ابوداؤد .

تشريح : د قدريه ډلي سره ناسته ولاړه د هغوئ سره مجلس کول او کېنېنستل منعه ګرځول سوي دي ، د هغوئ سره د ناستي ولاړي او په مجلس کي د ګډون څخه دا څرګنديږي چي د هغوئ سره مينه ده او دا مسلمانانو ته مناسب نه ده چي د يو ګمراه ډلي سره تعلق قائم کړي او د هغوئ سره د ميني چلن وکړي، ځکه که چيري د هغوئ ناسته ولاړه او تعلق قائم کړل سي نو د هغوئ د غلطو نظريات او ګمراه عقيدو اثر به د هغوئ سره پر ناستو خلکو هم ولويږي او د هغوئ ګمراهي به د اهل مجلس پر عقيدو او عملونو هم نظر انداز کيږي او کيدای سي چي شيطاني مکر او فريب کي په راتلو سره د هغوئ عقيدې تسليم کړي ځکه نو په بنيادي توګه سره د هغوئ د مجلس او ميني څخه منعه فرمايل سوې ده .

همدارنګه د حديث څخه دا هم څرګنده سوه چي مسلمانانو ته پکار ده چي هغوئ په خپل تنازع کي د قدريه ډله خپل حاکم جوړ نه کړي او نه هغوئ دخپل دريم په توګه وټاکي ، د (لاتفاحوهم) معنا ځيني حضرات دا هم بيانوي چي ددې مطلب دادی چي دغه خلکو ته وړاندي سلام مه ادا کوئ او نه په خپله د هغوئ سره خبري اتري پيل کوئ . والله اعلم .

﴿۱۰۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةٌ لَعَنْتُهُمْ وَلَعَنَهُمُ اللهُ وَكُلُّ نَبِيٍّ يُجَابُ الزَّائِدُ فِيْ كِتَابِ اللهِ وَالْمُكَذِّبُ بِقَدَرِ اللهِ وَالْمُتَسَلِّطُ بِالْجَبَرُوْتِ لِيُعِزَّ مَنْ أَذَلَّهُ اللهُ وَيُذِلَّ مَنْ أَعَزَّهُ اللهُ وَالْمُسْتَحِلُّ لِحَرَمِ اللهِ وَالْمُسْتَحِلُّ مِنْ عِتْرَتِيْ مَا حَرَّمَ اللهُ وَالتَّارِكُ لِسُنَّتِيْ . رواه البيهقي في المدخل وَرَزِيْنٌ في كتابه .

د حضرت عائشي رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : شپږ ډوله خلك دي چي زه پر هغوئ لعنت وايم او خدای هم لعنت پر کوي او د هر نبي دعاء قبليږي : ۱- هغه خلك چي د خدای په کتاب کي زياتوالی کوي ۲- د خدای تقدير درواغجن ګڼي ۳- په زور غلبه حاصلونکی چي هغه سړي ته عزت ورکړي کوم چي خدای ذليل کړی وي او هغه چا ته ذلت ورکړی کوم چي خدای ﷻ عزت مند کړی وي ۴- د الله حرام حلالونکی (يعني حرم مکه کي چي کومي خبري

خدای منعه کړي دي هغه حلال وګڼي، ۵- زما د اولاد په اړه هغه شی حلال ګڼونکی کوم چي الله حرام کړی دی ۶- او چا چي زما سنت پرې ایښي وي .بیهقي په مدخل کي او رزین په خپل کتاب کي .

تشریح : په حدیث کي چي د کوم سړي یادونه سوې ده هغه د خپل غلط عقیدې او ګمراه کونکي عملونو په وجه د شریعت په نظر کي دومره مجرم دی چي رسول الله ﷺ پر هغه لعنت ویلی دی او نه یوازي دا چي رسول الله ﷺ پر هغه لعنت ویلی دی بلکه د هغه د دربار څخه هم شړل سوی دی ، یو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي تاسو پر دغه خلکو لعنت ولي وایاست ؟ رسول الله ﷺ دا جواب ورکړ چي الله تعالی هغوئ د خپل غلط عملونو په وجه لعنتي ګرځولي دي ځکه هغوئ ددې ور دي چي رسول هم هغوئ لعنتي وګرځوي او ظاهره ده چي پر چا رسول الله ﷺ لعنت ووایي نو د هغه دنیا هم برباد سوه او دین یې هم برباد سو ، همداسي د (کل نبي یجاب) په فرمایلو سره اشاره سوې ده .هسي خو په دغه حدیث کي چي په کوم ترتیب دا جمله معترضه واقع کیږي او ددې مقصد په لعنت کي شدت دی .

۱. لومړی سړی چي هغه لعنتي ګرځول سوی دی هغه په قرآن کریم کي زیاتي کونکی دی که هغه په قرآن کریم کي د الفاظو زیاتي وکړي یا د قرآن کریم د آیاتو داسي معنا بیان کړي چي د کتاب الله د مفهوم خلاف او د منشا الهي برعکس وي .

۲. دوهم هغه سړی چي تقدیر الهي درواغ ګڼي ځکه چي د تقدیر عقیده لرل د وجود ایمان لپاره ضروري دی ځکه کوم سړی چي د تقدیر څخه انکار کوي هغه د لعنت مستحق دی .

۳. هغه سړی دی چي په زور سره غلبه تر لاسه کړي او د خپل ظاهري شان او شوکت په ذریعه هغه خلک معزز کړي چي د الله تعالی په نظر کي ذلیل دی او هغه خلک ذلیل کړي چي د الله تعالی په نزد د لوی مرتبې والا وي او ددغه دریم سړي څخه مراد داسي پاچاهان او ظالمان حاکمان دي چي د خپل مقصد په وجه د حکومت او دولت په نشه کي د الله تعالی هغه صالح او نیک بندګان او مسلمانان ذلیل کوي چي د الله تعالی په نزد د لوی عزت او عظمت خاوندان وي او داسي کافران، جاهلان او بدکار خلک عزیز کوي چي د الله تعالی په نظر کي سخت ذلیل وي .

۴. څلورم سړی هغه دی چي د الله تعالی د قائم کړي حدودو څخه تجاوز کوي یعني هغه شیان حلال ګڼي چي د الله تعالی د لوري حرام کړل سوي دي مثلا په بیت الله شریف کي چي کومي خبري الله تعالی منعه کړي دي لکه د حیوانانو ښکار کول ، درختي وغیره پریکول ،

پرته د احرام څخه مکې ته داخلیدل او هغه دا شیان حلال ګڼي یا داسي د رسول الله ﷺ د اولاد په باره کي چي کوم شیان حرام کړي دي هغه حلال ګڼي یعني د رسول الله ﷺ د اولاد عزت او تعظیم کول ضروري دی مګر یو سړی یې نه کول جائز ګڼي یا هغوئ ته تکلیف رسول حرام ګرځول سوي دي مګر یو سړی هغوئ ته تکلیف رسول حلال ګڼي نو پر ده هم لعنت ویل سوی دی . یا ددې مطلب دادی چي کوم سړی زما د اولاد څخه د کېدو سربیره دا کارونه حلال ګڼي کوم چي الله تعالی حرام کړي دي ، همداسي ددې مقصد سیدانو ته تنبیه ورکول دي چي دا خلک د رسول الله ﷺ د کورنۍ څخه د کېدو په سبب د ګناه او معصیت څخه ځان نه ساتي ځکه چي د نورو قومونو په مقابله کي ددغه قوم ګناه او معصیت د زیاتي بربادۍ باعث دی ځکه چي د هغوئ نسبتي تعلق د رسول الله ﷺ سره دی .

۵. پنځم لعنتي سړی هغه سړی ګرځول سوی دی چي هغه شیان حرام ګڼي کوم چي الله تعالی حلال کړي دي .

۶. شپږم لعنتي هغه سړی ګرځول سوی دی چي نبوي سنت پرېږدي ، ددې مسئله داده چي کوم سړی د سستۍ په وجه سنت پرېږدي هغه ګناه کار دی او د کوم سړی چي سنت نعوذبالله د اعتبار وړ نه ګڼلو سره پرېږدي نو هغه کافر دی مګر په دغه لعنت کي دواړه شریک دی ، مګر دا به ویل کیږي چي کوم سړی د سستۍ په وجه سنت پرېږدي پر هغه لعنت کول د زجر او توبیخ لپاره دي او کوم سړی چي یې د اعتبار وړ نه ګڼلو سره پرېږدي پر هغه به حقیقتا لعنت وي ، هو که یو سړی په یو وجه یو وخت سنت پرېږدي نو پر هغه به ګناه نه وي مګر دا هم مناسب نه دي ، حضرت شاه محمد اسحاق دهلوي (رح) فرمائي چي دغه سزا د سنت مؤکده پر پرېښودلو باندي دی .

د حضرت مطر[۱] ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي الله د یو چا مرګ په یو هیواد کي تاکلی وي نو د هغه هیواد په لوري د هغه حاجت هم پیدا کړي او هلته د مرګ ښکار سي .احمد او ترمذي،

﴿۱۰۲﴾: وَعَنْ مَطَرِ بْنِ عُكَامِسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَضَى اللهُ لِعَبْدٍ أَنْ يَمُوْتَ بِأَرْضٍ جَعَلَ لَهُ إِلَيْهَا حَاجَةً . رواه أحمد والترمذي .

[۱] د مطربن عکامس اسلمي شمیر د کوفیانو څخه کیږي ، ددې څخه یوازي دغه یو حدیث نقل دی ، دده په صحابي کېدو کي اختلاف دی .

﴿۱۰۳﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ ذَرَارِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ؟ قَالَ مِنْ آبَائِهِمْ . فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ بِلاَ عَمَلٍ ؟ قَالَ اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا عَامِلِيْنَ . قُلْتُ فَذَرَارِيُّ الْمُشْرِكِيْنَ ؟ قَالَ مِنْ آبَائِهِمْ . قُلْتُ بِلاَ عَمَلٍ ؟ قَالَ اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا عَامِلِيْنَ . رواه أبو داود

د حضرت عائشې رض څخه روايت دی چي (يوځل) ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي اې دالله رسوله ! د مؤمنانو د ماشومانو څه حکم دی ، نبي کريم ﷺ وفرمايل : هغوئ د خپلو پلرو تابع دي . ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! د عمل څخه پرته ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : الله ډير ښه پوهيږي چي دغه ماشومانو به څه کول ، بيا ما عرض وکړ : د مشرکانو د ماشومانو څه حکم دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هغوئ هم د خپلو پلرو تابع دي ما عرض وکړ : د عمل څخه پرته ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : الله ښه پوهيږي چي هغوئ به څه کول .

تشريح : د بي بي عائشې رضي الله عنها مقصد د هغه مؤمنانو او مشرکانو د ماشومانو په اړه معلومول وو چي په کم عمری کي ددې دنيا څخه سفر کړی وو او د هغوئ څخه د خير يا شر يو عمل صادر سوی نه وو .

د رسول الله ﷺ د جواب څخه وروسته بي بي عائشې ته تعجب وسو چي د مسلمانانو ماشومان به د يو عمل څخه پرته په جنت کي څنګه داخل سي پر دې باندي رسول الله ﷺ په (الله ښه پوهيږي چي هغوئ به څه عمل کوئ) ويلو سره د قضاء او تقدير طرف ته اشاره وفرمايل چي هغوئ به څه عمل کونکی وه هغه د تقدير په ليکنه کي محفوظ سوي دي که څه هم هغه وخت بالفعل د هغوئ څخه عمل نه صادر کيږي مګر کوم عمل چي به هغوئ د ژوند په حالت کي کوی هغه به د الله تعالی په علم کي وي ځکه د هغوئ پر جنتي کېدو باندي تعجب مه کوه .

د مشرکانو د ماشومانو په اړه علامه توربشتي (رح) فرمائي چي دلته د رسول الله ﷺ د جواب مطلب دادی چي هغوئ په دنيا کي د خپلو پلرونو تابع دي ، د آخرت په اړه الله تعالی ته حواله دي ، هغه ښه پوهيږي چي هلته به د هغوئ سره څه چلن کيږي ځکه په دې اړه هيڅ يقيني حکم نسي کيدلای .

﴿۱۰۴﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْوَائِدَةُ وَالْمَوْؤدَةُ فِي النَّارِ . رواه أبو داود والترمذي .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ژوندي (بچي) ښخونکي (ښځه) او هغه چي ښخ کړل سوی وي دواړه به په دوږخ کي وي . ابوداؤد او ترمذي .

تشریح: د جاهلیت په زمانه کې د ژوندیو ماشومانو د دفن کولو دردناکه طریقه جاري وه، په خاصه توګه د انجونو خو به په پیدا کېدو سره د خاورو لاندې په دردناکه طریقه سره ښخېدلې، هر کله چې د اسلام مقدسې رڼا د ظلم او جهل ټولې تیارې لیرې کړې نو دا غیر انساني طریقه هم ختمه کړل سوه، په دې باره کې دا حدیث شریف سزا ده او د ژوندي ماشومانو دفن کونکي دوږخیان ګرځوي.

د (الوائدة) څخه مراد هغه ښځه ده چې ماشوم په مځکه کې ښخ کړي مثلا دائي، مزدوره وغیره.

د (موؤدة) څخه مراد هغه ښځه ده چې د هغې څخه هغه ماشوم پیدا سوی وي د هغه ماشوم مور چې د هغې په حکم سره د هغې ماشوم په مځکه کې دفن کړی وي.

یا ددې څخه مراد هغه ماشوم وو چې دفن کړل سوی وي څرنګه چې د هغه مور او پلار دوږخي دي همداسې هغه هم چې د کم عمرۍ په حالت کې د دنیا څخه ختم کړل سو نو د خپل پلار په ډول به دوږخي وي څرنګه چې ددې څخه مخکې حدیث څخه معلومه سوه چې په کم عمرۍ کوم ماشوم د دنیا څخه ځي هغه د خپل پلار تابع وي.

الفصل الثالث

﴿۱۰۵﴾: عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ فَرَغَ إِلىٰ كُلِّ عَبْدٍ مِّنْ خَلْقِهِ مِنْ خَمْسٍ مِنْ أَجَلِهِ وَعَمَلِهِ وَمَضْجَعِهِ وَأَثَرِهِ وَرِزْقِهِ. رواه أحمد.

د حضرت ابوالدرداء[1] ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی د هر بنده په اړه د پنځو خبرو څخه فراغت حاصل کړی دی (یعني دا پنځه خبرې د هغه په تقدیر کې لیکل سوي دي) ۱- د هغه مرګ ۲- د هغه (نیک او بد) عمل ۳- د هغه د هستوګنې ځای ۴- د هغه د ستنېدو ځای ۵- د هغه رزق. احمد.

تشریح: د هر انسان د پیدا کېدو څخه ډېر مخکې په ازل کې د هغه په تقدیر کې پنځه شیان لیکل سوي دي چې په هغه کې اوس هیڅ کمې او زیاتوب نسي کېدلای او نه په هغه کې تغییر او

[1] د نوموړي نوم عویمر دی مګر په دې کې ډېر اختلاف دی ځینو ویلي دي چې اصل نوم یې عامر ابن مالک دی او عویمر یې لقب دی مګر په خپل کنیت ابودرداء سره مشهور دی، د حضرت عثمان ﷛ د شهادت څخه دوه کاله مخکې په دمشق کې وفات سوی دی.

تبديل ممكن دى ، د هر انسان په تقدير كي دا ليكل سوي دي چي د هغه عمر څومره دى او مرګ به ورته كله راځي او كوم وخت چي د مرګ ليكل سوى وي په هغه كي يوه ثانيه هم تقديم او تاخير نسي كيدلاى ، همداسي د يو انسان نيک او بد عملونه هم د هغه د پيدا كېدو څخه مخكي په تقدير كي ليكل سوي دي چي د هغه څخه به څه عملونه صادريږي څومره نيک عملونه چي ليكلي وي هغه به خامخا ځيني صادريږي او څومره بد عملونه چي ليكلي وي هغه به هم پر خپل وخت باندي واقع كيږي ، د هر انسان د قيام ځاى او د هغه د حركاتو او سكناتو مقام هم د مخكي څخه ټاكل سوى دى چي پر كومه مځكه به د هغه وجود او قيام وي ، د مځكي پر كومه برخه به د هغه د ژوند عملونه او كارونه صادريږي ، د انسان رزق هم د هغه د تقدير سره سم تر لاسه كيږي د چا په مقدر كي چي څومره او د كوم ډول رزق ليكلى وي هغه به خامخا هغه ته رسيږي كه لږ رزق ليكلى وي نو لږ او كه زيات رزق ليلكى وي نو زيات رزق به په لاس ورځي ، همداسي د چا په مقدر كي چي حلال رزق ليكل سوى وي هغه به حلال رزق خوري او كه د چا په مقدر كي حرام رزق ليكل سوى وي نو هغه به حرام رزق خوري ، يا د رزق څخه مراد دادى چي بنده ته د هغه په ژوند كي كومي ګټي، آساني او راحت رسيدونكى وي نو دا ټول د هغه په تقدير كي د مخكي څخه ليكل سوي دي .

﴿۱۰۶﴾:وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ تَكَلَّمَ فِيْ شَيْءٍ مِّنَ الْقَدْرِ سُئِلَ عَنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ لَّمْ يَتَكَلَّمْ فِيْهِ لَمْ يُسْأَلْ عَنْهُ . رواه ابن ماجه .

د حضرت عائشي رض څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدل څوك چي د تقدير په مسئله كي بحث كوي د هغه څخه به د قيامت په ورځ د هغه پوښتنه كيږي او كوم سړى چي پټه خوله سي د هغه څخه به هيڅ پوښتنه نه كيږي . ابن ماجه .

تشريح : ددغه حديث شريف مقصد د تقدير په مسئله كي د غور، فكر، پلټني او تجسس كولو څخه منعه كول مراد دي چي د الله تعالى په دغه راز كي چي پر بندګانو باندي په نه ښكاره كولو كي د الله تعالى حكمت دى زيات بحث او مباحثه كول يا د خپل عقل پيروي كول د آخرت لپاره هيڅ د كار شى نه دى بلكه په دې مسئله كي د يو ډول غور او فكر يا تحقيق او تجسس تاوان په آخرت او قيامت كي د پوښتني باعث دى، ځكه فلاح او سعادت په دې كي دى چي پر تقدير باندي ايمان راوړل سي او پټه خوله اختيار ولو سره په عمل كي مصروف اوسي .

﴿۱۰۷﴾: وَعَنِ ابْنِ الدَّيْلَمِيِّ قَالَ اَتَيْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ فَقُلْتُ لَهُ قَدْ وَقَعَ فِيْ نَفْسِيْ شَيْئٌ مِّنَ الْقَدْرِ فَحَدِّثْنِي لَعَلَّ اللّٰهَ أَنْ يُذْهِبَهُ مِنْ قَلْبِيْ فَقَالَ لَوْ أَنَّ اللّٰهَ عَذَّبَ أَهْلَ سَمَاوَاتِهِ وَأَهْلَ أَرْضِهِ عَذَّبَهُمْ وَهُوَ غَيْرُ ظَالِمٍ لَهُمْ وَلَوْ رَحِمَهُمْ كَانَتْ رَحْمَتُهُ خَيْرًا لَهُمْ مِنْ أَعْمَالِهِمْ فَلَوْ اَنْفَقْتَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ مَا قَبِلَهُ مِنْكَ حَتَّى تُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ فَتَعْلَمَ أَنَّ مَا أَصَابَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَكَ وَأَنَّ مَا أَخْطَأَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيبَكَ وَ لَوْ مُتَّ عَلَى غَيْرِ هٰذَا لَدَخَلْتَ النَّارَ، قَالَ ثُمَّ اَتَيْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مَسْعُوْدٍ فَقَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ قَالَ ثُمَّ اَتَيْتُ حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ فَقَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ اَتَيْتُ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ فَحَدَّثَنِيْ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذٰلِكَ. (رواه احمد وابوداؤد وابن ماجة)

حضرت ابن ديلمي [1] ﷛ وايي زه ابی بن کعب [2] ته راغلم او ورته وه مي ويل د تقدير په اړه زما په زړه کي څه شبهات پيدا سوي دي ما ته داسي يو حديث بيان کړه چي د هغه په اورېدو سره که الله وغواړي نو شايد زما شبهات لیري سي ، هغه وويل که الله پاك آسمانو او مځکو والا په عذاب کړي نو هغه به پر هغوئ هيڅ ظلم کونکی نه وي او که پر هغوئ رحم وکړي نو د هغه رحمت به د هغوئ د اعمالو څخه غوره وي ، که ته د اُحد برابر هم د خدای په لاره کي زر مصرف کړي نو ستا دا عمل تر هغو نه قبليږي تر څو چي ته پر تقدير پوره عقيده او ايمان ونه لرې او په دې خبره بنه پوه سه چي څه تا ته رسيدلي دي هغه بندېدونکي او خطاکېدونکي نه وو او کوم شی چي تا ته رسيدونکی نه وو هغه هيڅ کله تا ته نه سو رسيدلای يعني څه چي تا ته حاصل سي هغه ستا د کوښښ نتيجه نه ده بلکه په تقدير کي داسي وه او کوم شی چي تا ته حاصل نه سو هغه ستا په کوښښ سره هم تا ته نه سو تر لاسه کيدلای ځکه چي تقدير الهي دغسي وو ، که ته د دې اعتقاد خلاف عقيده ولرې او په دې حالت کي مړ سي نو يقينا دوږخ ته به ځې ، ابن ديلمي وايي د ابی بن کعب د دې بيان اورېدو وروسته زه عبدالله بن مسعود ته ورغلم هغه هم داسي بيان وکړ بيا حذيفه بن اليمان ته ورغلم هغه هم داسي بيان وکړ بيا زيد بن ثابت ته ورغلم هغه هم دا ډول حديث د رسول الله ﷺ څخه روايت کړ . احمد ، ابوداؤد او ابن ماجه .

تشريح : د حديث شريف د الفاظو (أَنَّ مَا أَصَابَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَكَ... الخ) مطلب دادی چي څه تر لاسه سي د هغه په باره کي داسي مه وايه چي دا ما په خپل سعي او هڅي سره تر لاسه کړي دي ،

---

[1] حضرت ابن ديلمي تابعي دی ، نوم يې ضحاك بن فيروز ديلمي دی ، دی د يمن په تابعينو کي شميرل کيږي .

[2] حضرت ابی بن کعب ﷛ انصاري، خزرجي او صحابي دی ، کنيت يې ابوالمنذر دی چي رسول الله ﷺ ورکړی وو ، د حضرت عثمان ﷛ د خلافت په زمانه کي وفات سوی دی .

او که یو شی تا ته تر لاسه نسي نو داسي مه وایه که ما کوښښ او هڅه کړې وای نو دا شی به ما ته ضرور تر لاسه سوی وای، ځکه تا ته چي څه رسیدلي دي په هغه کي ستا د سعي او کوښښ دخل نه وو بلکه هغه د تقدیر د لیکني سره سم تا ته رسیدلي دي او کوم شی چي تا ته تر لاسه سوی نه دی نو په دې پوهېدل پکار دي چي د یو شي تر لاسه کېدل او نه تر لاسه کېدل ټول د تقدیر الهي سره سم کیږي.

﴿۱۰۸﴾: وَعَنْ نَافِعٍ أَنَّ رَجُلاً أَتَى ابْنَ عُمَرَ فَقَالَ إِنَّ فُلاَنًا يَقْرَأُ عَلَيْكَ السَّلاَمَ فَقَالَ إِنَّهُ بَلَغَنِيْ أَنَّهُ قَدْ أَحْدَثَ فَإِنْ كَانَ قَدْ أَحْدَثَ فَلاَ تُقْرِئْهُ مِنِّي السَّلاَمَ فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ يَكُوْنُ فِيْ هٰذِهِ الأُمَّةِ أَوْ فِيْ أُمَّتِيْ خَسْفٌ أَوْ مَسْخٌ أَوْ قَذْفٌ فِيْ أَهْلِ الْقَدْرِ . رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح غريب .

د حضرت نافع[1] ﷺ بیان دی چي یو سړی ابن عمر ﷺ ته راغلی او ورته وه یې ویل چي فلاني سړي پر تا سلام وایه ، ابن عمر ورته وویل ما ته دا خبر را رسیدلی دی چي دې سړي په دین کي نوې خبرې پیدا کړې ده که واقعي هغه داسي کړي وي نو زما د طرفه څخه ورته د سلام جواب مه رسوه ځکه چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي زما د امت څخه خسف او مسخ یا قذب به د هغه خلګو وي چي د تقدیر څخه منکر وي ، (خسف په مځکه کي ننوتلو ، مسخ د شکل بدلېدلو او قذف ډبري اورېدلو ته وایي) ، او ترمذي ویلي دي چي دا حدیث حسن صحیح او غریب دی .

تشریح : ابن عمر ﷺ ته چي د کوم سړي سلام راوړل سوی وو د هغه په باره کي به حضرت ابن عمر ﷺ ته معلومه سوې وي چي هغه د خپل ځان څخه په دین کي نوې خبرې پیدا کړي دي یعني هغه د تقدیر څخه انکار کوي نو حضرت ابن عمر ﷺ وفرمایل چي د هغه د سلام په جواب کي زما سلام هغه ته مه رسوه ځکه چي موږ ته ددې خبري حکم راکړل سوی دی چي موږ د داسي خلکو سره سلام او کلام ونه کړو او نه د هغوئ سره تعلقات قائم وساتو کوم چي بدعتي وي او د الله تعالی او د هغه رسول په قائم کړي حدودو کي تجاوز کوي .

نو علماء کرام ددغه حدیث شریف په سبب د دې خبري حکم کوي چي د فاسق ، فاجر او بدعتي سړي د سلام جواب ورکول واجب نه دي بلکه سنت هم نه دي او د هغوئ سره دا معامله د تنبیه په غرض ده ځکه د هغوئ سره د ملاقات پرېښودل هم جائز دي .

[1] حضرت نافع رحمة الله تعالی علیه یو جلیل القدر تابعي دی ، په (۱۱۰هـ) کال کي وفات سوی دی .

﴿۱۰۹﴾ :وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَأَلَتْ خَدِيْجَةُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَلَدَيْنَ مَاتَا لَهَا فِيْ الْجَاهِلِيَّةِ فَقَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُمَا فِي النَّارِ قَالَ فَلَمَّا رَأَى الْكَرَاهَةَ فِيْ وَجْهِهَا قَالَ لَوْ رَأَيْتِ مَكَانَهُمَا لَأَبْغَضْتِهِمَا قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَوَلَدِيْ مِنْكَ قَالَ فِي الْجَنَّةِ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمُؤْمِنِيْنَ وَأَوْلَادَهُمْ فِي الْجَنَّةِ وَإِنَّ الْمُشْرِكِيْنَ وَأَوْلَادَهُمْ فِي النَّارِ ثُمَّ قَرَأَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ ....) رواه احمد

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي بي بي خدیجې[1] رض د رسول الله ﷺ څخه د خپلو هغه دوو زامنو په اړه پوښتنه وکړه چي د جاهلیت په زمانه کي مړه سوي وه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هغه دواړه په دوزخ کي دي، حضرت علي ﷺ فرمایي هر کله چي رسول الله ﷺ ولیدل چي د دې په اورېدو سره د بي بي خدیجې رنګ بدل سو او هغه خفه سول نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: که ته د هغوئ ټېکانه او حال ووینې نو دهغوئ څخه به نفرت وکړې ، د دې په اورېدو سره بي بي خدیجې رض وویل اې دالله رسوله! او زما اولاد کوم چي ستاسو څخه پیدا دي (یعني قاسم او عبدالله) رسول الله ﷺ وفرمایل هغوئ په جنت کي دي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل چي : مؤمنان اود هغوئ اولاد په جنت کي دي او مشرکین او د هغوئ اولاد په دوزخ کي دي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ دغه آیت تلاوت کړ : (والذین آمنوا واتبعتهم ذریتهم) (کومو خلګو چي ایمان راوړ او د هغوئ اولاد چي د هغوئ اطاعت یې وکړ موږ به یې د هغو سره ساتو) .احمد .

﴿۱۱۰﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ آدَمَ مَسَحَ ظَهْرِهِ فَسَقَطَ مِنْ ظَهْرِهِ كُلُّ نَسَمَةٍ هُوَ خَالِقُهَا مِنْ ذُرِّيَّتِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَجَعَلَ بَيْنَ عَيْنَيْ كُلِّ إِنْسَانٍ مِّنْهُمْ وَبِيْصًا مِّنْ نُوْرٍ ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى آدَمَ فَقَالَ أَيْ رَبِّ مَنْ هٰؤُلَاءِ قَالَ ذُرِّيَّتُكَ فَرَأَى رَجُلًا مِّنْهُمْ فَأَعْجَبَهُ وَبِيْصُ مَا بَيْنَ عَيْنَيْهِ قَالَ أَيْ رَبِّ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي الله ﷻ آدم ﷺ پیدا کړ نو دهغه پر شا یې لاس راتیر کړ نو د هغه د شا څخه ټول ارواح راووتل کوم چي د آدم ﷺ په اولاد کي الله پاک تر قیامته پوري پیداکونکی وو، بیا الله تعالی د هغوئ څخه د هر یوه د دوو سترګو په منځ کي نور کښېښود او بیا یې هغه ټول د آدم ﷺ په وړاندي ودرول ، آدم ﷺ پوښتنه وکړه پاکه ربه دا

[1] بي بي خدیجة بنت خویلد قریشي او اسدیه ده ، د رسول الله ﷺ تر ټولو لومړنۍ بي بي مبارکه ده ، ددې مبارکي تر ټولو لوی امتیازي شرف دادی چي د ټولو ښځو او نارینو څخه مخکي یې په لومړي ځل اسلام راوړی دی ، د هجرت څخه درې کاله مخکي په مکه مکرمه کي د رمضان المبارك په میاشت کي د (۶۵) کالو په عمر وفات سوه

مَنْ هٰذَا ؟ قَالَ دَاوُدُ، فَقَالَ اَيْ رَبِّ كَمْ جَعَلْتَ عُمُرَهُ؟ قَالَ سِتِّيْنَ سَنَةً قَال رَبِّ زِدْهُ مِنْ عُمْرِيْ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً، قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا انْقَضٰى عُمرُ آدَمَ اِلاَّ اَرْبَعِيْنَ جَاءَهُ مَلَكُ الْمَوْتِ فَقَالَ آدَمُ أَوَلَمْ يَبْقِ مِنْ عُمْرِيْ أَرْبَعُوْنَ سَنَةً؟ قَالَ أَوَلَمْ تُعْطِهَا اِبْنَكَ دَاوُدَ؟ قَالَ فَجَحَدَ آدَمُ فَجَحَدَتْ ذُرِّيَّتُهُ وَنَسِيَ آدَمُ فَاَكَلَ مِنَ الشَّجَرَةِ فَنَسِيَتْ ذُرِّيَّتُهُ وَخَطِئَ آدَمُ وَخَطِئَتْ ذُرِّيَّتُهُ . رواه الترمذي .

ثوك دي ؟ الله ﷻ ورته وفرمايل دا ټول ستا اولاد دي، آدم ؑ چي د هغو څخه د يوه د سترګو په منځ كي څه ډير نور وليدی نو حيران پاته سو او د الله ﷻ څخه يې پوښتنه وكړه پاكه ربه دا ثوك دی ؟ الله ﷻ ورته وفرمايل : دا داؤد ؑ دی ، آدم ؑ پوښتنه وكړه اي زما ربه اوده عمر تا څومره ټاكلی دی ؟ الله ﷻ ورته وفرمايل شپېته كاله ، آدم ؑ وويل : اي زما ربه ا دده په عمر كي زما د عمر څخه څلوېښت كاله زيات كړه ، راوي وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل كله چي د آدم ؑ څلوېښت كاله پاته سوه نو دمرګ ملائكه راغله نو آدم ؑ ورته وويل ايا زما په عمر كي څلوېښت كاله پاته نه دي ؟ د مرګ ملائكي ورته وويل : ايا تا د اخپل عمر څلوېښت كاله خپل زوی داؤد ته نه وه وركړي ؟ آدم ؑ د هغه څخه انكار وكړ او د هغه اولاد هم انكار كوي ، او آدم ؑ خپل قول هير كړ او هغه د ممنوعه ونې ميوه يې وخوړل او د هغه اولاد هم هيره كوي او آدم ؑ خطا كړې ده او د هغه اولاد هم خطا كوي : ترمذي .

﴿۱۱۱﴾ : وَعَنْ أَبِيْ الدَّرْدَاءِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَلَقَ اللهُ آدَمَ حِيْنَ خَلَقَهُ فَضَرَبَ كَتِفَهُ الْيُمْنٰى فَأَخْرَجَ ذُرِّيَّةً بَيْضَاءَ كَأَنَّهُمُ الذَّرُّ وَضَرَبَ كَتِفَهُ الْيُسْرٰى فَأَخْرَجَ ذُرِّيَّةً سَوْدَاءَ كَأَنَّهُمُ الْحُمَمُ فَقَالَ لِلَّذِيْ فِيْ يَمِيْنِهِ إِلَى الْجَنَّةِ وَلاَ أُبَالِيْ وَقَالَ لِلَّذِيْ فِيْ كَتِفِهِ الْيُسْرٰى إِلَى النَّارِ وَلاَ أُبَالِيْ . رواه أحمد .

د حضرت ابو درداء ؓ څخه روايت چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله پاك چي كله آدم ؑ پيدا كړ نو د هغه په راسته اوږه يې لاس ووهلو او د هغې څخه يې سپين اولاد پيداكړ لكه چي هغه ميږي وي بيا په چپه اوږه يې (لاس) ووهلو او د هغې څخه تور اولاد پيداسوه لكه هغه چي سكاره وي او د هغه وروسته الله پاك وفرمايل : د راسته طرف اولاد به جنت ته ځي او زما په دې څه پروا نسته او دچپ طرف اولاد به دوږخ ته ځي او زما په دې څه پروا نسته . رواه احمد.

﴿۱۱۲﴾ : وَعَنْ أَبِيْ نَضْرَةَ أَنَّ رَجُلاً مِّنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَالُ لَهُ أَبُوْ عَبْدِ اللّٰهِ دَخَلَ عَلَيْهِ أَصْحَابُهُ يَعُوْدُوْنَهُ وَهُوَ يَبْكِيْ فَقَالُوْا لَهُ مَا يُبْكِيْكَ ؟ أَلَمْ يَقُلْ لَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذْ مِنْ شَارِبِكَ ثُمَّ أَقِرَّهُ حَتّٰى تَلْقَانِيْ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ قَبَضَ بِيَمِيْنِهِ قَبْضَةً وَأُخْرٰى بِالْيَدِ الْأُخْرٰى وَقَالَ هٰذِهِ لِهٰذِهِ وَهٰذِهِ لِهٰذِهِ وَلاَ أُبَالِيْ وَلاَ أَدْرِيْ فِيْ أَيِّ الْقَبْضَتَيْنِ أَنَا . رواه أحمد .

د حضرت ابو نضره[1] ؓ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ یو صحابي چي نوم یې ابوعبدالله و د هغه دوستان چي د هغه پوښتني ته ورغلل نو هغه ژړل، دوستانو ورته وویل ولي ژاړې ایا تاته رسول الله ﷺ نه وو فرمایلي چي د خپلو شونډو وریښتان غچي کوه یا خریه، او پر دې قائم اوسه تر څو چي زما سره (په جنت) کي یوځای سې ، ابوعبدالله ورته وویل مګر ما د رسول الله ﷺ څخه دا هم اوریدلي دي چي الله تعالی د خپل ژاسته لاس موټ ډک وهو او دوهم موټ يې د چپه لاس (ډک کړلو) او وه يې فرمايل : دا (یعني د راسته موټ) د جنت دپاره او زما په دوئ هیڅ پروا نسته ، د دې وروسته ابوعبدالله وویل زه نه سم ویلای چي په دې دواړو موټانو کي په کوم یوه کي زه یم .احمد.

تشریح : حضرت ابوعبدالله ؓ ناروغ سو د هغه ملګري د پوښتني لپاره د هغه په خدمت کي حاضر سول نو وه يې ليدل چي هغه ژاړي ، خلکو ددې ليدو سره هغه ته وويل چي تا ته د رسول الله ﷺ د صحابيت شرف حاصل دی او بيا دا هم چي رسول الله ﷺ تا ته فرمايلي وه چي ته خپل بريت کوچني کړه او پر دې قائم اوسه تر دې چي په حوض کوثر يا په جنت کي زما سره ملاقات وکړې نو لکه تا ته چي رسول الله ﷺ د جنت زيری هم درکړی دی او ښکاره ده چي په جنت کي داخلېدل او ددې عظيم سعادت څخه برخمن کېدل د اسلام څخه پرته نسي کيدلای نو معلومه سوه چي ستا خاتمه بالخير به وي او ته به د ايمان او اسلام سره د دې دنيا څخه سفر کوې ، نو بيا ته ولي ژاړې او دا فکر او غم ولي کوې ؟ ددې په جواب کي هغه دا وفرمايل چي صحيح او پر ځای خبره ده او ددغه زيري د صداقت عقيده هم سته مګر الله تعالی بې نيازه دی هغه چي څه غواړي هغه به کوي د هغه په خوښي کي چا ته دخل نسته او بيا الله تعالی خپله فرمايي چي زه چا ته وغواړم د جنت په سعادت سره يې نازوم او څوک چي غواړم دوږخ ته يې حواله کوم او زه

[1] د حضرت ابو نضره بن منذر بن مالك العبدي شمير د بصرې د جليل القدر تابعينو څخه کيږي ، د حضرت حسن بصري رحمة الله عليه څخه څو ورځي مخکي وفات سوی دی .

ددې هيڅ پرواه نه كوم نو زما سره دا بيره ده چي معلومه نه ده چي زما حشر به څنګه وي او زړه مي ددغه بيري څخه په لړزه او سترګي مي د بيري څخه ژړا كونكي دي چي معلومه نه ده چي الله تعالى زما په مقدر كي څه ليكلي دي ، دا خو د هغه د جواب خلاصه سوه مګر دا هم كيداى سي چي د آخرت تصور او د الله تعالى د خوف په غلبې سره هغه زيرى ځيني هير سوى وي او دا احسان ورته ياد نه وي چي نبي كريم ﷺ زه په دغه عظيم زيري سره نازولى يم .

علامه طيبي ددې حديث په شرح كي فرمايي چي په دغه حديث كي دې ته اشاره ده چي بريتونه كوچني كول سنت مؤكده دي او پر دغه عمل قائم اوسيدل او هميشه دا كوچني كول په جنت كي ددخول او هلته د رسول الله ﷺ د سايې لاندي كېدو ذريعه ده .

نو ددې څخه معلومه سوه چي ددغه يوه سنت په پرهېبنودلو سره داسي عظيم سعادت او دومره لوى خلاصون د لاسه وځي نو څه معنا سنت هميشه پرهېبنودل، ځكه چي د سنت پر پرهېبنودو باندي اصرار كول الحاد او زندقه ته رسيږي . (نعوذبالله منه).

﴿۱۱۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَخَذَ اللّٰهُ الْمِيْثَاقَ مِنْ ظَهْرِ آدَمَ بِنَعْمَانَ يَعْنِيْ عَرَفَةَ فَأَخْرَجَ مِنْ صُلْبِهٖ كُلَّ ذُرِّيَّةٍ ذَرَأَهَا فَنَثَرَهُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ كَالذَّرِّ ثُمَّ كَلَّمَهُمْ قُبُلاً قَالَ (أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلٰى شَهِدْنَا أَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا غَافِلِيْنَ أَوْ تَقُوْلُوْا إِنَّمَا أَشْرَكَ آبَاؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنْ بَعْدِهِمْ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُوْنَ) رواه احمد

حضرت ابن عباس ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د عرفات ميدان ته نژدې په نعمان نامي ځاى كي الله تعالى د آدم ﷺ د هغه اولاد څخه چي د هغه په ملا كي وو عهد واخيست نو د آدم ﷺ د شا څخه يې ټول اولاد راوكښى او هغه يې د آدم ﷺ په وړاندي د ميږيانو په شان خپاره كړه بيا د هغوئ سره الله تعالى دا خبري وكړې ايا زه ستاسو رب نه يم؟ د آدم ﷺ اولاد ورته وويل بې شكه ته زموږ رب يې، بيا الله پاك ورته وفرمايل دا شهادت ما ستاسو څخه ځكه واخيست چي د قيامت په ورځ چيري دا ونه وايي چي موږ د دې څخه غافله وو يا داسي ونه واياست چي زموږ پلرو او نيكو زموږ څخه وړاندي شرك كړى وو او موږ د هغوئ اولاد وو نو ايا ته د باطل پرستو د اعمالو په وجه موږ هلاك كوې . احمد .

تشريح : د الله تعالى د ارشاد مطلب دادى چي تاسو په قيامت كي دا دليل نسئ وركولاى چي زموږ پلرونو او نيكونو شرك كړى وو ځكه نو موږ هم د هغوئ سره وو يا موږ خو د پلار او نيكه

پيروان وو نو ددغه كفر او شرک ذمه دار زموږ پلرونه او نيکونه دي چي هغوئ موږ پر دغه لار روان کړي وو، او په دې اعتبار سره هغوئ د الزام مورد گرځېدل چي موږ د هغوئ په وجه د دوږخ د عذاب مستحق کيدای نه سو ځکه د عذاب حقيقي مستحق خو هغه خلک دي چي ددغه لاري لارويان وه.

نو اې كفر او شرک کونکو! پوه سئ چي د قيامت په ورځ دا دليل ستاسو لپاره په کار نسي راتللای ځکه نو موږ ستاسو څخه د توحيد اقرار د مخکي څخه اخيستی دی او تاسو په دې شهادت کړی دی او ددې وعدې او اقرار توثيق او ددې د يادوني لپاره په هره زمانه کي د دنيا ټولو برخو او ټولو طبقو کي انبياء عليهم السلام تشريف راوړ چي هغوئ انسانانو ته خپل عهد او اقرار ور ياد کړي او هغوئ پر صحيح لار روان کړي.

﴿۱۱۴﴾: عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ فِيْ قَوْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ (وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيْ آدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ) قَالَ جَمَعَهُمْ فَجَعَلَهُمْ أَزْوَاجًا ثُمَّ صَوَّرَهُمْ فَاسْتَنْطَقَهُمْ فَتَكَلَّمُوْا، ثُمَّ أَخَذَ عَلَيْهِمُ الْعَهْدَ وَالْمِيْثَاقَ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنْفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلٰى قَالَ فَإِنِّيْ أُشْهِدُ عَلَيْكُمُ السَّمٰوَاتِ السَّبْعَ وَالْأَرَضِيْنَ السَّبْعَ وَأُشْهِدُ عَلَيْكُمْ أَبَاكُمْ آدَمَ أَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَمْ نَعْلَمْ بِهٰذَا اِعْلَمُوْا أَنَّهُ لَا إِلٰهَ غَيْرِيْ وَلَا رَبَّ غَيْرِيْ وَلَا تُشْرِكُوْا بِيْ شَيْئًا إِنِّيْ سَأُرْسِلُ إِلَيْكُمْ رُسُلِيْ يُذَكِّرُوْنَكُمْ عَهْدِيْ وَمِيْثَاقِيْ وَأُنْزِلُ عَلَيْكُمْ كُتُبِيْ، قَالُوْا شَهِدْنَا بِأَنَّكَ رَبُّنَا وَإِلٰهُنَا لَا رَبَّ لَنَا غَيْرُكَ وَلَا إِلٰهَ لَنَا غَيْرُكَ فَأَقَرُّوْا بِذٰلِكَ وَرُفِعَ عَلَيْهِمْ آدَمُ يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ فَرَأَى الْغَنِيَّ وَالْفَقِيْرَ وَحَسَنَ الصُّوْرَةِ وَدُوْنَ ذٰلِكَ فَقَالَ رَبِّ لَوْلَا سَوَّيْتَ بَيْنَ عِبَادِكَ قَالَ إِنِّيْ أَحْبَبْتُ أَنْ أُشْكَرَ وَرَأَى الْأَنْبِيَاءَ فِيْهِمْ مِثْلَ السُّرُجِ عَلَيْهِمُ النُّوْرُ خُصُّوْا بِمِيْثَاقٍ آخَرَ

د حضرت ابی بن کعب ﷺ څخه د دې آيت په تفسير كي نقل دي (وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيْ آدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ) چي الله پاك هغوئ (د آدم اولاد) راجمع کړل او هغوئ يې ډول ډول وگرځول (يعني څوك يې شتمن او څوك يې غريب کړل) بيا يې هغوئ ته شكل او صورت ورکړ بيا يې د اوريدلو قوت ورکړل او هغوئ خبري وکړې بيا يې د هغوئ څخه عهد او اقرار واخيست بيا يې شاهدان کړل پر خپلو ځانو او پوښتنه يې ځيني وکړه ايا زه ستا رب نه يم؟ هغوئ ورته وويل :هو، بيا الله تعالى هغوئ ته وفرمايل : زه اووه آسمانونه او اووه مځکي او ستاسو پلار ادم (عليه السلام) پر تاسو شاهد کوم ځکه چي د قيامت په ورځ تاسو دا ونه واياست چي موږ ددې څخه ناخبره وو تاسو ښه پوه سئ چي زما څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او نه بل رب سته ، تاسو زما سره څوك مه شريك كوئ، زه به

فِيْ الرِّسَالَةِ وَالنُّبُوَّةِ وَهُوَ قَوْلُهُ تَعَالٰى (وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّيْنَ مِيْثَاقَهُمْ ... إِلٰى قَوْلِهِ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ) كَانَ فِيْ تِلْكَ الْأَرْوَاحِ فَأَرْسَلَهُ إِلٰى مَرْيَمَ فَحُدِّثَ عَنْ أُبَيٍّ أَنَّهُ دَخَلَ مِنْ فِيْهَا . رواه أحمد .

پر تاسو ژر خپل رسولان راولیږم چي تاسو ته به زما عهد او اقرار در يادوي او پر تاسو به خپل كتابونه هم نازل كړم ، د دې په اورېدو سره د آدم ﷺ ټول اولاد وويل موږ شاهدي وركوو چي ته زموږ رب يې او زموږ خداى يې ستا څخه پرته نه زموږ بل رب سته او نه بل خداى ، د آدم ﷺ ټول اولاد د دې اقرار وكړ آدم ﷺ لوړ كړل سو او هغه دا منظر وليدى چي د هغه په اولاد كي شتمن هم سته غريب هم سته ، ښكلى هم سته او بد رنگه هم سته ، د دې په ليدو سره آدم ﷺ الله تعالى ته عرض وكړ چي اې پروردگاره ! تا خپل بندگان يو شان ولي پيدا نه كړل ؟ الله ورته وفرمايل : زه غواړم چي زما بندگان زما شكر ادا كړي بيا آدم ﷺ (په دې ډله كي) انبياء وليدل چي د څراغ په شان ځلانده وه او نور (روښنائي) هم باندي وو د هغوئ څخه په خاصه توگه د رسالت او نبوت عهد واخيستل سو لكه چي د الله تعالى په قول كي ذكر دي : (و اذ اخذنا من النبيين ميثاقهم..... عيسى ابن مريم) په دې ډله كي عيسى بن مريم وو ، الله پاك د هغه روح بي بي مريم ته وليږل ، حضرت أبى وايي چي روح د بي بي مريم د خولې د لوري د هغې په بدن كي داخل سو . احمد

تشريح : حضرت آدم ﷺ په دغه ارواحو كي فرق وليدى چي د هغه په اولاد كي څوك شتمن او صاحب دولت دي او څوك غريب او مفلس دي نو هغه ته حيران سو ، نو د الله تعالى په دربار كي يې عرض وكړ چي اې الله ! دا ټول زما د اولاد څخه دي او ټول ستا بندگان دي نو بيا په دوئ كي دا فرق ولي دى چي څوك صاحب د حيثيت دى او څوك بې چاره، چا ته دي عزت او دولت وركړى دى او چا ته غربت او مفلسي .

ددې جواب دا وركړل سو چي په دوئ د فرق پيدا كولو يو حكمت دى او هغه دا كه دوئ ټول مي يو ډول پيدا كړي واى نو دوئ به شكر نه ادا كوى او هر كله چي په يو انسان كي هغه صفات او خصلتونه پيدا كړل سي چي په نورو انسانانو كي نه وي نو هغوئ د يو بل په ليدو سره شكر ادا كوي مثلاً په مفلس كي تقوا د اطاعت الهي ماده ، د زړه او دماغ سكون او د دنيا څخه بې فكري وي چي په يو شتمن او مالدار كي نه وي ، همداسي شتمن او مالدار ته د دولت پراخوالى او د اسباب معيشت آساني حاصل وي كوم چي غريب ته ميسر نه وي .

نو په چا كي چي كوم خصلتونه وي نو هغه به د هغه د لذت څخه اشنا وي په نورو كي د هغه په كمي ليدو سره پر هغه نعمت به شكر كونكى وي چي د هغه په وجه به د الله ﷻ د نعمت مستحق گرځي .

﴿۱۱۵﴾ : عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَتَذَاكَرُ مَا يَكُوْنُ إِذْ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَمِعْتُمْ بِجَبَلٍ زَالَ عَنْ مَكَانِهِ فَصَدِّقُوْهُ وَإِذَا سَمِعْتُمْ بِرَجُلٍ تَغَيَّرَ عَنْ خُلْقِهِ فَلاَ تُصَدِّقُوْا بِهِ فَإِنَّهُ يَصِيْرُ إِلَى مَا جُبِلَ عَلَيْهِ . رواه أحمد .

د حضرت ابو درداء ؓ څخه روايت دی چي مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو د راتلونکو واقعاتو په اړه مو خبري اتري کولې چي رسول الله ﷺ (زمونږ د خبرو په اورېدو سره) وفرمايل : هر کله چي تاسو واورئ چي يو غر د خپل ځای څخه آخوا سوی دی نو هغه رښتيا وګڼئ مگر هر کله چي تاسو واورئ چي د يو سړي عادت بدل سوی دی نو په دې هيڅکله يقين مه کوئ ځکه چي انسان د هغه شي په لور ګرځي پر کوم چي پيدا کړل سوی دی . احمد .

تشريح : صحابه کرام په خپل منځ کي ناست وه دا بحث يې کوی چي کوم شی په راتلونکي کي پيدا کېدونکی يا کومي خبري واقع کيدونکي دي ايا هغه د تقدير سره سم وي يا په خپله پرته د قضا او تقدير څخه واقع کيږي ، رسول الله ﷺ هم په هغه مجلس کي ناست وو د هغوئ د بحث په اورېدو سره يې وفرمايل : هر شي د تقدير د ليکني سره سم کيږي او د مثال په توګه يې وفرمايل چي يو انسان پر خپل کوم فطرت او خلقت باندي پيدا کيږي پر هغه هميشه قائم وي او د هغه په لور د هغه حقيقي ميلان وي مثلا الله تعالی چي يو ثوک عقلمند او پوه پيدا کړي او د هغه په فطرت کي يې د عقل او پوهي ماده کښېښودل او د هغه په تقدير کي يې د فهم او فراست جوهر کښېښودی نو هغه هيڅکله بې عقل او احمق کيدای نسي ، همداسي د کوم سړي فطرت چي د حماقت په قالب کي اچول سوی وي او فطرتا بې عقل او پليت پيدا سوی وي نو هغه عقلمند او پوه نسي کيدای .

هو داسي کسان چي په خپل رياضت او شفقت او د ذاتي محنت او هڅي په وجه د عقل دولت تر لاسه کوي يا د عقل د خاوندانو صحبت اختيارولو سره ددې صفتونو خاوند کيږي نو هغوئ ددې څخه مستثنی دي ځکه چي دلته بحث د فطرت او خلقت دی چي کوم انسان يې په کوم خصلت او فطرت پيدا کړی دی هغه د هغه څخه بيليدلای نسي او نه په هغه فطرت او خلقت کي تغير او تبديل ممکن دی ، پاته سو په خپل ذاتي محنت او کوښښ يا د عقل د خاوندانو د فهم او صحبت نو دا يو بل شی دی ځکه چي دا هم د تقدير د ليکني سره سم کيږي يعني د کوم سړي په تقدير کي چي ليکل سوي وي چي دی به د خپل محنت او هڅي يا د يو عقلمند او پوه د

صحبت او قربت په وجه د عقل خاوند جوړیږي نو هغه به یقینا هغه صفت تر لاسه کوي مګر د چا په تقدیر کي چي بې عقل کېدل لیکلي دي یا د چا په فطرت کي چي حماقت لیکلی وي په هغه کي نه خپل محنت او هڅه کار کوي او نه د یو عقلمند قربت او صحبت کار کوي.

﴿۱۱۶﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ يَارَسُوْلَ اللهِ! لَا يَزَالُ يُصِيْبُكَ فِيْ كُلِّ عَامٍ وَجَعٌ مِنَ الشَّاةِ الْمَسْمُوْمَةِ الَّتِيْ أَكَلْتَ قَالَ مَا أَصَابَنِيْ شَيْءٌ مِّنْهَا إِلاَّ وَهُوَ مَكْتُوْبٌ عَلَيَّ وَآدَمَ فِيْ طِيْنَتِهِ. رواه ابن ماجه

د حضرت ام سلمه [۱] (رض) څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي: اې د الله رسوله! تاسو چي زهرجن پسه خوړلی وو (چي په خیبر کي یو یهودي ښځي په خوړلی وه) هر کال تاسو ته د هغه څخه تکلیف وي، نبي کریم ﷺ وفرمایل: کوم شی (یعني تکلیف، ناروغي چي ما ته راسي) هغه زما لپاره هغه وخت لیکل سوې ده کله چي آدم ﷺ په خاورو کي دننه وو (یعني زما په تقدیر کي همدا سي لیکلي وه). ابن ماجه.

بَابُ اِثْبَاتِ عَذَابِ الْقَبْرِ

(د قبر د عذاب د ثبوت بیان)

د قبر عذاب په قرآن کریم او حدیثونو کي ثابت دی او په دې کي هیڅ شک او شبه نسته، دا خبره په ذهن کي راوستل پکار ده چي دلته د قبر څخه مراد یو نیم یا دوه ګزه کنده نه ده بلکه د قبر مطلب عالم برزخ دی چي د آخرت او دنیا په منځ کي یو عالم دی او دا عالم هر ځای کیدای سي، لکه ځیني خلک ډوب سي، ځیني وسوځل سي، که الله تعالی غواړي نو پر هغوئ عذاب مسلط کوي دا نه ده چي کوم خلک په مځکه کي دفن کړل سي یوازي پر هغوئ عذاب وي او کوم خلک چي نوري طریقې اختیار وي نو هغوئ د عذاب څخه خلاصیدای سي.

د قبر د عذاب د تصدیق په درجاتو کي صحیح او اولی مرتبه د دې خبري یقین او عقیده ساتل ضروري دي چي په قبر کي د دفن کولو څخه وروسته د الله تعالی پر نیکو بندګانو د الله تعالی بې شمیره رحمتونه نازلیږي او کوم خلک چي بدکار او ګناه کار وي پر هغوئ د الله تعالی سخت عذاب نازلیږي، په دې اړه د نکیر او منکر عذاب ورکوونکي ملائکي، ماران او لړمان چي پر بدکارو خلکو باندي مسلط کیږي او د هغو وجود د حدیثو څخه ثابت دی دا ټول صحیح

[۱] ام المؤمنین ام سلمه رضي الله عنها قریشي او مخزومیه ده، د رسول الله ﷺ بي بي مبارکه ده. په (۵۹هـ) کال کي وفات سوې ده او په جنت البقیع کي دفن سوې ده.

او واقعي شیان دي پر دې ایمان راوړل ضروري دی.

په دې پوهېدل پکار دي چې د یو شي لیدل او د هغه په مشاهده کې راتلل د هغه د صداقت دلیل نه دی ځکه ددې شیانو په اړه دا خبره په زړه کې راځي نو ددې اعتبار څنګه وکړل سي بالکل غلط او خلاف عقل دی ځکه چې دومره خبره خو څرګنده ده چې د عالم بالا شیانو مشاهده کول عالم ملکوت په سترګو لیدل ددې ظاهرو سترګو د وس خبره نه ده د هغه د مشاهده کولو لپاره د حقیقت د سترګو ضرورت دی دا خبره هم نا ممکن نه ده که الله تعالی غواړي نو په دغه دواړو ظاهري سترګو سره هر عالم ملکوت ښودلای سي.

دوهم دا چې په دې دنیا کې موږ وینو چې اکثر شیان داسي دي چې هغه په ظاهره نه وینو او نه په سترګي د هغو مشاهده کوي مګر ددې سربیره د هغه ادراک هم کیږي او د هغه حقیقت هم تسلیم کیږي مثلا یو سړی په خوب کې د دنیا شیانویني او اوري، هر ډول غم او مصیبت، لذت او ارام محسوس کوي مګر دوهم یې نسي لیدلای یا همدارنګه یو سړي ته تکلیف رسیږي یا هغه ته لذت حاصلیږي یا هغه د غم او آرام احساس کوي مګر د هغه سره ناست دوهم سړی د هغه څخه ناخبره وي او هغه د هغه ادارک او احساس نسي کولای.

د نبوت په زمانه کې به رسول الله ﷺ ته وحي راتلې او حضرت جبرائیل علیه السلام به پیغام اخیستلو سره به رسول کریم ﷺ ته راتلو مګر په هغه مجلس کې ناست صحابه کرامو به نه لیدل او نه د هغوئ ظاهري سترګو د حضرت جبرائیل علیه السلام مشاهده کول مګر ددې سربیره صحابه کرامو به پر هغه ایمان راوړی.

بالکل همداسي د قبر د عذاب معامله ده هلته چې د بنده سره څه کیږي په دې دنیا کې د هغه ادراک نسي کیدلای او نه په دغه سترګو سره هغه لیدل کیدای سي بس یوازي د ایمان راوړل ضروري دي چې د قبر د عذاب په اړه الله تعالی او د هغه رسول ﷺ څه ښودلي دي هغه ټول پر حقیقت ولاړ او یقیني شیان دي.

الفصل الاول

﴿۱۱۷﴾: عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلْمُسْلِمُ إِذَا سُئِلَ فِي الْقَبْرِ يَشْهَدُ أَنْ لاَّ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ فَذٰلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: (يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ ، نَزَلَتْ فِيْ عَذَابِ الْقَبْرِ يُقَالُ لَهُ مَنْ رَّبُّكَ ؟ فَيَقُوْلُ رَبِّيَ اللهُ وَنَبِيِّيْ مُحَمَّدٌ . (متفق عليه)

حضرت براء [1] ﷛ د نبي كريم ﷺ څخه روايت دى چي ده مبارك وفرمايل : كوم وخت چي په قبر كي د مسلمان څخه پوښتنه وسي نو هغه شاهدي وركوي چي د الله څخه ماسوا بل معبود نسته او محمد ﷺ د الله رسول دى او دا مطلب د الله د دې ارشاد هم دى (يثبت الله .....) (الله د دنيا په ژوند كي او په آخرت كي هغه خلك ثابت قدم لري چي پر ېخه خبره يې ايمان راوړى دى) او د رسول الله ﷺ څخه په يو روايت كي نقل دي چي ده مبارك وفرمايل : چي دا آيت (يثبت الله ....) د قبر په بيان كي نازل سوى دى نو (په قبر كي مړي ته) وويل شي چي ستا رب څوك دى ؟ نو هغه ورته وايي زما رب الله ﷻ دى او زما نبي محمد ﷺ دى .بخاري او مسلم

تشريح : په پورتي آيت كريمه كي د (بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ) څخه مراد كلمه شهادت ده يعني هر كله چي د مؤمن څخه په قبر كي پوښتنه كيږي چي ستا پروردګار څوك دى، ستا نبي څوك دى او ستا دين كوم يو دى نو ددې درو سره پوښتنو جواب په كلمه شهادت كي دى ، د آيت د دوهم جز مطلب دادى چي كوم خلك د ايمان او يقين په رڼا سره خپل زړونه منور كړي او د هغوئ په زړونو كي د ايمان او اسلام حقانيت پوخ او راسخ سي نو د الله تعالى د لوري په دنيا كي هم او په آخرت كي هم دواړه ځايه پر هغوئ د رحمت دروازې خلاصيږي .

په دنياوي ژوند كي د هغه فضل خو دادى چي هغه خپل نيك بندګان د كلمه اسلام د حقانيت پر عقيدې قائم لري او د هغوئ زړونه د ايمان او اسلام د هغه رڅ څخه ډكوي چي د دنياوي امتحان او ازموينې په سخته موقع هم د هغوئ په استقلال كي ښوئيدل نه راځي هغوئ خپل ځان قربانول او په اور كي اچول خوښوي مګر په خپل ايمان او عقيده كي د ذرې په اندازه

[1] دنوموړي نوم براء بن عازب او كنيت يې ابوعماره دى د مديني اوسيدونكى او انصاري دى، د بدر په جنګ كي ددې كبله شريك سوى نه وو چي د كم عمرى په وجه رسول الله ﷺ منع كړى وو، او د اُحد په غزا كي تر ټولو وراندي شريك سوى دى .

شک او شبه کول نه مني، د آخرت په ژوند کي د هغه رحمت داسي وي چي هغوئ د الله تعالیٰ د بې شمیره نعمتو سره پالل کیږي، په عالم برزخ کي چي په قبر کي د هغوئ څخه پوښتنه کیږي نو هغوئ سم سم جوابونه ورکوي او د هغه په نتیجه کي به هغوئ د همیشه نجات او اکرام مستحق وګرځي.

﴿۱۱۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا وُضِعَ فِيْ قَبْرِهِ وَتَوَلّٰى عَنْهُ أَصْحَابُهُ إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ أَتَاهُ مَلَكَانِ فَيُقْعِدَانِهِ فَيَقُوْلَانِ مَا كُنْتَ تَقُوْلُ فِيْ هٰذَا الرَّجُلِ لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ فَيَقُوْلُ أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ اللهِ وَرَسُوْلُهُ فَيُقَالُ لَهُ انْظُرْ إِلٰى مَقْعَدِكَ مِنَ النَّارِ قَدْ أَبْدَلَكَ اللهُ بِهِ مَقْعَدًا مِنَ الْجَنَّةِ فَيَرَاهُمَا جَمِيْعًا، وَأَمَّا الْمُنَافِقُ وَالْكَافِرُ فَيُقَالُ لَهُ مَا كُنْتَ تَقُوْلُ فِيْ هٰذَا الرَّجُلِ فَيَقُوْلُ لَا أَدْرِيْ كُنْتُ أَقُوْلُ مَا يَقُوْلُ النَّاسُ فَيُقَالُ لَهُ لَادَرَيْتَ وَلَا تَلَيْتَ وَيُضْرَبُ بِمَطَارِقَ عَنْ حَدِيْدٍ ضَرْبَةً فَيَصِيْحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا مَنْ يَّلِيْهِ غَيْرُ الثَّقَلَيْنِ (متفق علیه) ولفظه للبخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي بنده په قبر کي دننه کښېښودل سي او خلک ځیني ولاړ سي نو هغه مړی د تلونکو د څپلیو آواز اوري او هغه لره دوې ملائکي راسي هغه کښېنوي او پوښتنه ځیني کوي چي تا به د هغه سړي (محمد ﷺ) په اړه څه ویل؟ مؤمن بنده په جواب کي ورته وایي زه د دې شاهدي ورکوم چي هغه د الله بنده او د هغه رسول دی، بیا هغه ته وویل سي چي ته خپل ځای په دوږخ کي وګوره چي الله پاک بدل کړی دی او د هغې په بدله کي یې تا ته په جنت کي ځای در کړی دی، نو مړی دواړه ځایونه (جنت او دوږخ) ویني، کوم مړی چي منافق یا کافر وي نو د هغه څخه هم دغه پوښتنه کیږي چي ستا د هغه سړي په اړه څه خیال دی؟ هغه په جواب کي ورته وایي زه په هیڅ نه پوهیږم څه چي به نورو خلګو ویل ما هم هغه ویل، بیا هغه ته وویل سي ایا تا په عقل سره ونه پیژندی او نه دي (قرآن مجید) وایه، د دې په ویلو سره به هغه د اوسپني په ګرز ووهل سي او د هغه د چغو آوازونه به د پیریانو او انسانانو ماسوا نور ټول نژدې شیان اوري. بخاري او مسلم او الفاظ دبخاري دي.

تشریح: هر کله چي انسان د دغه عارضي دنیا په ژوند ختمولو سره دوهمي دنیا ته ورسیږي نو د هغه د ټولو څخه لومړی منزل قبر وي چي هغه ته عالم برزخ هم وایي، مړی په قبر کي د کښېنته کولو څخه وروسته چي د هغه قریبان ستنیږي نو هغه ته د الله تعالیٰ د لوري د اورېدو قوت ورکړل سي چي د هغه په ذریعه هغه د ستنېدونکو د څپلیو آواز هم اوري، د هغه څخه وروسته منکر او نکیر قبر ته راځي او د هغه څخه د نورو پوښتنو څخه پرته د رسول الله ﷺ په اړه هم

پوښتنه کوي چي د ده په اړه ستا څه عقيده ده ، که مؤمن سړی صادق وي نو هغه به صحيح جواب ورکوي او که هغه کافر وي نو جواب به نسي ورکولای، وروسته به نتيجه ور واورول سي چي صحيح جواب ورکونکی به د الله تعالی د رحمت او د هغه د نعمتونو وړ وګرځول سوي د هغه د آخري منزل د جنت په لور د هغه رهنمائي کوي ، غلط جواب ورکونکی به د الله تعالی د غضب مستوجب وګرځول سي او هغه ته د هغه د آخري منزل دوږخ لار ښودل کيږي .

په حديث شريف کي چي دا فرمايل سوي دي چي د مړي څخه پوښتني کيږي چي تا به دد غه سړي (محمد ﷺ) په اړه څه ويل ، نو ددې مطلب يا خو دادی چي د رسول الله ﷺ د شهرت په وجه رسول الله ﷺ ته معنوي اشاره کيږي يا بيا دا چي هغه وخت رسول الله ﷺ په مثالي صورت کي د مړي په مخکي وړاندي کيږي ددغه صورت په اړه ويل کيږي چي د مؤمن لپاره د مرګ آرزو به تر ټولو لوی نعمت وي ځکه چي هغه به ددې په وجه ددغه عظيم سعادت څخه برخمن وي او د رسول کريم ﷺ په ديدار به منور او مشرف سي او حقيقت خو دادی چي د رسول کريم ﷺ د عاشقانو د بې تابه او بې آرامه زړونو لپاره په دې کي ستر زيری دی ، په قول د شاعر :

شب عاشقان بې دل چه قدر دراز باشد　　تو بيا که اول شب در صبح باز باشد

ژباړه : د عاشقانو د بيلتون شپه څومره اوږده وي دا اوله شپه ده داسي نه وي چي سهار سي .

ددغه سوال او جواب څخه وروسته کامياب مړی يعني مسلمان ته دوه ځايه يعني د جنت او دوږخ وښودل سي او هغه دواړه ځايونه ويني چي هغه ته دا معلومه سي که د الله تعالی رحمت د هغه شامل حال نه وای او هغه د اهل دوږخ څخه وای نو هغه به په دوږخ کي اچول سوی وای چي هلته به د الله تعالی په دردناک عذاب کي اخته سوی وای ، مګر هغه په دنيا کي نيک کارونه وکړل او ريښتوني او مخلص مؤمن وو ، د هغه په نتيجه کي د الله تعالی په فضل او کرم سره هغه د جنت په نعمت عظمی سره ونازول سي ، يوې خوا ته هغه دوږخ او د هغه هيبت ناک منظر ويني او بلي خوا ته جنت او د هغه ښه او خوشحاله کونکې فضا ته نظر وکړي چي د هغه په زړه کي د جنت د نعمت قدر وي .

په دغه حديث شريف کي فرمايل سوي دي چي هر کله په قبر کي د معذب مړي عذاب نازليږي ، يعني ملائکي د اوسپني په ګرزنو سره هغه وهي نو دده د چغو او نعرو آواز پيريان او انسانان نه اوري ، ددې حکمت دادی چي جن او انس د غيب پر شيانو باندي د ايمان راوړلو مکلف دي که هغوئ ته دا آواز واورول سي يا د هغه ځای حالات په دنيا کي ورته معلوم سي نو

بیا ایمان بالغیب پاته نه سو او که د قبر د حالاتو احساس انسانانو ته وسي نو د خوف او هیبت په وجه به د دنیا په کاروبار کي خنډ پیدا سي او د معشیت لړۍ به پرې سي.

په صحیح حدیثونو کي د مؤمنانو د خلاصون او د کافرانو او منافقانو د عذاب په اړه دا فرمایل سوي دي چي د دغه نجات تعلق د صالح مؤمنانو سره دی مګر د فاسق او ګناه کار مؤمنانو په باره کي په حدیثونو کي څه مذکور نه دي چي ایا پر هغوئ به عذاب وي یا هغوئ ته به هم خلاصون وي ، البته علماء وایي چي فاسق مؤمن په جواب کي خو د صالح مؤمن شریک دی مګر د نعمتونو زیری، د جنت دروازې خلاصولو وغیره کي د هغوئ شریک نه دی ، یا که چیري په دغه شیانو کي هم د هغوئ شریک وي نو بیا په مرتبه او درجه کي به د هغوئ څخه کم وي بلکه پر هغه لږ عذاب هم کیدای سي ، که چیري الله تعالی وغواړي نو هغه فاسق او ګناه کار به هم وبخښي او بخښنه به یې په برخه کړي.

﴿۱۱۹﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مُقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ إِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ فَيُقَالُ هٰذَا مَقْعَدُكَ حَتّٰى يَبْعَثَكَ اللّٰهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . (متفق علیه)

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي ستاسو څخه یو څوک مړ سي نو (په قبر کي) سهار او ماښام هغه ته خپل ځای ښودل کیږي، یعني جنتي ته جنت او دوږخي ته دوږخ ښودل کیږي او هغه ته ویل کیږي چي دا ستا ځای دی ته تر هغه وخته پوري انتظار کوه چي الله پاک دي د قیامت په ورځ راپورته کړي او هلته دي واستوي . بخاري او مسلم.

﴿۱۲۰﴾:وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ يَهُوْدِيَّةً دَخَلَتْ عَلَيْهَا فَذَكَرَتْ عَذَابَ الْقَبْرِ فَقَالَتْ لَهَا أَعَاذَكِ اللّٰهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ فَسَأَلَتْ عَائِشَةُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَذَابِ الْقَبْرِ فَقَالَ نَعَمْ عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ قَالَتْ عَائِشَةُ فَمَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدُ صَلّٰى صَلَاةً إِلَّا تَعَوَّذَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ .(متفق علیه)

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي یوه یهودي ښځه دې ته راغله هغې د قبر د عذاب یادونه وکړه بیا یې وویل (عائشې !) الله دي تا د قبر د عذاب څخه وساتي ، نو عائشې (رض) د رسول الله ﷺ څخه د قبر د عذاب په اړه پوښتنه وکړه ، رسول الله ﷺ وفرمایل : هو، د قبر عذاب حق دی، بي بي عائشة (رض) فرمایي د دې پېښې وروسته ما هیڅکله رسول الله ﷺ نه دی لیدلی چي ده مبارک دي یو لمونځ کړی وي او په هغه کي دي یې د قبر د عذاب څخه پناه نه وي غوښتې . بخاري او مسلم.

تشریح: بي بي عائشې رضي الله عنها ته به د قبر د عذاب حال معلوم نه وو ځکه يهودۍ ښځي چي هغه ته ذکر وکړ نو هغه ډيره حيرانه سوه او د رسول الله ﷺ څخه يې په دې اړه پوښتنه وکړه، د هغه جواب ورکړل سو چي د قبر عذاب حق او يقيني دی، يعني ددې خبري عقيده درلودل ضروري ده چي په قبر کي به پر ګناه کارو خلکو باندي د الله تعالی د لوري ډول ډول عذاب مسلط کيږي او د هغه احساس او ادراک په دې دنيا کي نسي کيدای، د رسول الله ﷺ د پناه غوښتلو په اړه احتمال دی، کيدای سي چي رسول الله ﷺ ته هم مخکي د قبر د عذاب حال معلوم نه وو، د هغه څخه وروسته د وحي په ذريعه رسول الله ﷺ ته معلوم سوی وي چي د هغه څخه وروسته رسول الله ﷺ پناه غوښتل پيل کړل، او څرګنده وه چي (نعوذبالله) د رسول الله ﷺ سره خو په قبر کيددا ډول معاملې کېدو سوال هم نه پيدا کيږي ځکه نو دا به وويل سي چي د رسول الله ﷺ پناه غوښتل د امت د تعليم لپاره وه چي هر کله د الله تعالی محبوب او غوره بنده او د هغه خوږ رسول هم د قبر د عذاب څخه پناه غواړي نو د امت ټولو خلکو ته پکار ده چي د قبر د عذاب څخه پناه غواړي.

يا دا وويل سي چي د قبر د عذاب حال رسول الله ﷺ ته د مخکي څخه معلوم وو مګر په پټه توګه سره يې د هغه څخه پناه غوښتل چي په هغه سره بي بي عائشه خبره نه وه، وروسته د بي بي عائشې د پوښتني کولو څخه رسول الله ﷺ په څرګنده پناه غوښتل پيل کړي وي چي نور خلک هم خبر سي او د قبر د عذاب څخه پناه وغواړي.

﴿۱۲۱﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ بَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَائِطٍ لِبَنِيْ النَّجَّارِ عَلَىٰ بَغْلَةٍ لَهُ وَنَحْنُ مَعَهُ إِذْ حَادَتْ بِهِ فَكَادَتْ تُلْقِيْهِ وَإِذَا أَقْبُرٌ سِتَّةٌ أَوْ خَمْسَةٌ فَقَالَ مَنْ يَّعْرِفُ أَصْحَابَ هٰذِهِ الأَقْبُرِ؟ قَالَ رَجُلٌ أَنَا، قَالَ فَمَتٰى مَاتُوْا ؟ قَالَ فِي الشِّرْكِ فَقَالَ إِنَّ هٰذِهِ الأُمَّةَ تُبْتَلٰى فِيْ قُبُوْرِهَا فَلَوْلاَ أَنْ لاَ تَدَافَنُوْا لَدَعَوْتُ اللّٰهَ أَنْ يُسْمِعَكُمْ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ الَّذِيْ أَسْمَعُ مِنْهُ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَقَالَ تَعَوَّذُوْا بِاللّٰهِ مِنْ عَذَابِ

د حضرت زيد بن ثابت[1] رضي الله عنه څخه روايت دی چي (يوځل) رسول الله ﷺ د بني نجار په باغ کي پر غاتري سپور وو او موږ هم ورسره وو، ناڅاپه د رسول الله ﷺ غاتره بې واکه سوه او نژدې وو چي رسول الله ﷺ بې غورزولی وای، ناڅاپه پنځه شپږ قبرونه څرګند سول، رسول الله ﷺ وفرمايل: په دې قبرو کي چي کوم خلک دي په تاسو کي دوئ څوک پيژني؟ يوه سړي وويل: زه يې پيژنم، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دوئ په کوم حال کي مړه سوي دي؟ هغه سړي وويل د شرک په حالت کي، رسول الله

[1] زيد بن ثابت انصاري او خزرجي دی، نومړی د وحي کاتب دی په (۴۲هـ) (۴۵هـ) کي وفات سوی دی.

النَّارِ قَالُوْا نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ قَالَ تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ قَالُوْا نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ قَالَ تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ قَالُوْا نَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ قَالَ تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ قَالُوْا نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ . رواه مسلم .

ﷺ وفرمايل : دا امت په خپلو قبرو کي په آزمائش کي دی ، که زما سره دا بيره نه وای چي تاسو به (مړي) ښخول پريږدئ نو ما به خامخا د الله ﷻ څخه دا دعاء غوښتې وای چي تاسو ته هم د قبر عذاب واوري لکه څرنگه چي زه يې اورم (وينم) د دې وروسته رسول الله ﷺ زموږ په لور متوجه سو او وه يې فرمايل : د الله څخه پناه غواړئ چي د اور د عذاب څخه مــــو وژغوري ، صحابه کرامو عرض وکړئ موږ د الله څخه د اور د عذاب پناه غواړو . رسول الله ﷺ بيا وفرمايل : د قبر د عذاب څخه د الله پناه وغواړئ ، صحابه کرامو عرض وکړ موږ د الله څخه د قبر د عذاب پناه غواړو ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د الله څخه د ظاهري او باطني فتنو پناه وغواړئ ، صحابه کرامو وويل : موږ د الله څخه د ظاهري او باطني فتنو پناه غواړو ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د دجال د فتنې څخه پناه وغواړئ ، صحابه کرامو وويل : موږ د الله ﷻ څخه د دجال د فتنې څخه پناه غواړو . مسلم.

تشريح : د نبي احساس، شعور او د هغه قوت ادراک د دنيا د ټولو خلکو څخه ډير زيات قوي وي ، د هغه احساس په ظاهر او باطن کي هغه قدرتي طاقت وي چي د هغه په وجه هغه د دې دنيا څخه مخکي هم د عالم غيب د شيانو ادراک کوي ځکه د هغه د ظاهري سترگو سره سره باطني سترگي هم دومره توانا وي چي هغه د غيب هغه شيان هم ويني کوم چي الله تعالى ورته ښودل وغواړي . رسول الله ﷺ په يو سفر روان وو، کله چي د يوې هديرې سره تيرېدل نو هلته د بصيرت سترگو يې ادراک وکړ چي په دغه قبرونو کي پر مړو باندي عذاب کيږي ، بيا رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته تلقين وکړ چي هغوئ د قبر د عذاب څخه پناه غواړي .

د قبر د عذاب د شدت اندازه د دې څخه کيدای سي چي رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل که ستاسو سترگي دا وويني او ستاسو غوږونه دا واوري نو تاسو به د خپل عقل او پوهي څخه لاس پريولئ او تاسو به د دې د شدت او سختۍ محض احساس کولو سره بې هوشه سئ او د هغه نتيجه به دا وي چي تاسو به د دغه خوف او هيبت په وجه مړي ښخول پريږدئ ، که ما ته د دې بيره نه وای نو ما به يقينا پر تاسو د دغه عذاب مشاهده هم کړې وای او تاسو ته به مي اورولې هم وای .

الفصل الثاني

﴿۱۲۲﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قُبِرَ الْمَيِّتُ أَتَاهُ مَلَكَانِ أَسْوَدَانِ أَزْرَقَانِ يُقَالُ لِأَحَدِهِمَا الْمُنْكَرُ وَالْآخَرُ النَّكِيرُ فَيَقُولَانِ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ؟ فَإِنْ كَانَ مُؤْمِنًا فَيَقُولُ هُوَ عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُولُهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ فَيَقُولَانِ قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ هَذَا ثُمَّ يُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا فِي سَبْعِينَ ثُمَّ يُنَوَّرُ لَهُ فِيهِ ثُمَّ يُقَالُ لَهُ نَمْ فَيَقُولُ أَرْجِعُ إِلَى أَهْلِي فَأُخْبِرُهُمْ فَيَقُولَانِ نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوسِ الَّذِي لَا يُوقِظُهُ إِلَّا أَحَبُّ أَهْلِهِ إِلَيْهِ حَتَّى يَبْعَثَهُ اللّٰهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ وَإِنْ كَانَ مُنَافِقًا قَالَ سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ قَوْلاً فَقُلْتُ مِثْلَهُ لَا أَدْرِي فَيَقُولَانِ قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ ذَلِكَ فَيُقَالُ لِلْأَرْضِ الْتَئِمِي عَلَيْهِ فَتَلْتَئِمُ عَلَيْهِ فَتَخْتَلِفُ فِيهَا أَضْلَاعُهُ فَلَا يَزَالُ فِيهَا مُعَذَّبًا حَتَّى يَبْعَثَهُ اللّٰهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ

(رواه الترمذي)

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله وفرمايل : كله چي مړى په قبر كي كښېښودل سي نو هغه ته دوې ملائكي تور رنگي او شنو سترگو والا راسي ، په هغوئ كي د يوې نوم منكر او د بلي نكير دى، هغوئ دواړي د مړي څخه پوښتنه كوي چي تا به د هغه سړي (محمد ﷺ) په اړه څه ويل ؟ هغه مړى به په جواب كي وايي هغه د الله بنده او د هغه رسول دى او زه شاهدي ادا كوم چي نسته بل معبود پر حق مگر يو الله ﷻ او محمد ﷺ د الله رسول دى، د دې په اوربدو سره هغه دواړي ملائكي وايي : موږ ته څرگنده وه چي ته به دا جواب راكوې د دې وروسته د هغه قبر اويا اويا گزه په اوږدوالي او بروالي پراخ كړل سي ، بيا په قبر كي رڼا سي او هغه ته وويل سي بيده سه ، مړى هغوئ ته وايي زه خپل كورني ته بېرته تلل غواړم چي هغوئ زما د حال څخه خبردار كړم ، ملائكي بيا ورته وايي چي اوس ته بيده سه لكه څرنگه چي ناوې بيده كيږي چي هغه ناوې يوازي خپل ميړه وېښولاى سي كوم چي د هغې په آند تر ټولو زيات محبوب وي تر هغو چي الله ﷻ تا د دې ځاى څخه راپورته كوي (دا كيفيت خو د مؤمن مړي دى) او كوم مړى چي منافق وي هغه د ملائكو په جواب كي وايي چي ما د خلگو څخه څه اورېدل هغه به مي ويل مگر زه د دې حقيقت څخه ناخبر وم ، دواړي ملائكي چي د هغه جواب واوري نو وايي چي موږ خبر وو چي ته به دغسي جواب وايي مځكي ته به حكم وركړل سي چي پر ده راټوله سي نو مځكه به داسي راټوله سي چي د هغه پښتۍ به د يوې خوا څخه بلي خوا ته تير وبيري سي او هغه به هميشه په دغه عذاب كي وي تر څو چي الله ﷻ يې د هغه ځايه څخه را پورته كړي ۔ ترمذي ۔

تشريح : په قبر کي ملائکي په هيبت ناک او خوفناک شکل کي راځي چي د هغوئ د خوف او هيبت په وجه پر کافرانو هيبت خپور سي او هغوئ په جواب ورکولو کي بد حواسه سي مګر دا د مؤمنانو لپاره ازموينه او امتحان وي چي په هغه کي الله تعالى هغوئ ثابت قدمه لري او د هغوئ څخه د بيرېدو سره صحيح جواب ورکوي چي د هغه په وجه هغوئ کامياب وي ځکه چي هغوئ په دنيا کي د الله تعالى څخه بيرېږي د هغه نتيجه به دا وي چي هغوئ په قبر کي د هر ډول خوف او هيبت څخه بې خوفه وي.

د مړي په جواب کي د ملائکو دا ويل چي (موږ پوهېدو) چي ته به يقينا داسي وايي يا خو په وجه به وي چي د پروردګار عالم د لوري به هغوئ ته خبر ورکول کيږي چي فلانى مړى به دا جواب ورکوي او فلانى به دا ، يا هغوئ د مړي د تندي څخه او د هغه د اثارو څخه دا معلوموي چي د مؤمن پر تندي د نور ايماني ځلا او د سعادت او نيک بختۍ نښه وي او د کافرانو او منافقانو پر تندي لعنت اوريږي.

کله چي مؤمن صحيح جواب ورکوي پر هغه د الله تعالى رحمت او د هغه د نعمتونو دروازې خلاصې سي نو د هغه دا خواهش وي چي هغه خپل کورنۍ د دغه ښه معاملې او عظيم نعمت څخه خبر کړي ، لکه څرنګه چي يو مسافر په يو ځاى کي په راحت او سکون وي او هلته د عيش او آرام سامان هغه ته حاصليږي نو د هغه خواهش دا وي چي کاش هغه وخت خپل کورنۍ او خپلوانو ته ورسيږي چي د خپل آرام، راحت او سکون څخه يې خبر کړي ځکه نو مؤمن مړى خپل کورنۍ ته د بيرته تللو د خواهش اظهار کوي.

﴿۱۲۳﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ عَنْ رَّسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَأْتِيْهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُوْلاَنِ لَهُ مَنْ رَّبُّكَ؟ فَيَقُوْلُ رَبِّيَ اللهُ فَيَقُوْلاَنِ لَهُ مَا دِيْنُكَ؟ فَيَقُوْلُ دِيْنِيَ الإِسْلاَمُ، فَيَقُوْلاَنِ لَهُ مَا هٰذَا الرَّجُلُ الَّذِيْ بُعِثَ فِيْكُمْ؟ فَيَقُوْلُ هُوَ رَسُوْلُ اللهِ، فَيَقُوْلُ قَرَأْتُ كِتَابَ اللهِ فَآمَنْتُ بِهِ وَصَدَّقْتُ فَذَالِكَ قَوْلُهُ (يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ) الآية قَالَ فَيُنَادِيْ مُنَادٍ مِّنَ السَّمَاءِ أَنْ صَدَقَ عَبْدِيْ

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مړي ته دوې ملائکي راځي هغوئ دى راکښېنوي او پوښتنه ځيني کوي چي ستا رب څوک دى ؟ هغه په جواب کي وايي زما رب الله دى، بيا ملائکي پوښتنه کوي ستا دين کوم دى؟ هغه وايي زما دين اسلام دى ، بيا پوښتنه کوي کوم سړى چي تاسو ته راليږل سوى وو هغه څوك وو؟ هغه ورته وايي چي هغه د الله رسول دى ، بيا ملائکي پوښتنه کوي دا

فَأَفْرِشُوْهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَأَلْبِسُوْهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَافْتَحُوْا لَهُ بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ فَيُفْتَحُ قَالَ فَيَأْتِيْهِ مِنْ رَوْحِهَا وَطِيْبِهَا وَيُفْسَحُ لَهُ فِيْهَا مُدَّ بَصَرِهِ وَأَمَّاالْكَافِرُ فَذَكَرَ مَوْتَهُ قَالَ وَيُعَادُ رُوْحُهُ فِيْ جَسَدِهِ وَيَأْتِيْهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُوْلاَنِ مَنْ رَّبُّكَ فَيَقُوْلُ هَاهْ هَاهْ لاَ أَدْرِيْ فَيَقُوْلاَنِ لَهُ مَا دِيْنُكَ فَيَقُوْلُ هَاهْ هَاهْ لاَ أَدْرِيْ فَيَقُوْلاَنِ مَا هٰذَا الرَّجُلُ الَّذِيْ بُعِثَ فِيْكُمْ فَيَقُوْلُ هَاهْ هَاهْ لاَ أَدْرِيْ فَيُنَادِيْ مُنَادٍ مِّنَ السَّمَاءِ أَنْ كَذَبَ فَأَفْرِشُوْهُ مِنَ النَّارِ وَأَلْبِسُوْهُ مِنَ النَّارِ وَافْتَحُوْا لَهُ بَابًا إِلَى النَّارِ قَالَ فَيَأْتِيْهِ مِنْ حَرِّهَا وَسَمُوْمِهَا قَالَ وَيُضَيَّقُ عَلَيْهِ قَبْرُهُ حَتّٰى تَخْتَلِفَ فِيْهِ أَضْلاَعُهُ ثُمَّ يُقَيَّضُ لَهُ أَعْمٰى أَصَمُّ مَعَهُ مِرْزَبَةٌ مِنْ حَدِيْدٍ لَوْ ضُرِبَ بِهَا جَبَلٌ لَصَارَ تُرَابًا فَيَضْرِبُهُ بِهَا ضَرْبَةً يَسْمَعُهَا مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ إِلاَّالثَّقَلَيْنِ فَيَصِيْرُ تُرَابًا ثُمَّ يُعَادُ فِيْهِ الرُّوْحُ . رواه أحمد وأبو داود .

خبره تا ته ځنگه معلومه سوه؟ هغه ورته وايي ما د الله کتاب وايه پر هغه مي ايمان راوړی دی او دهغه مي تصديق کړی وو، رسول الله ﷺ فرمايي دا معنی د الله پاك ددغه قول ده (يثبت الله الذين ...) رسول الله ﷺ وفرمايل : بيا به يو ږوك د آسمان څخه آواز وکړي چي زما بنده رښتيا وويل دده لپاره د جنت فرش آوار کړی د جنت جامې ور واغوندی او دده لپاره د جنت د لوري څخه يوه دروازه خلاصه کړئ ، نو د جنت لوري ته به دروازه خلاصه کړل سي چي د هغه هوا او خوشبويي به ورته راځي او دنظر تر حده پوري به ورته قبر پراخ کړل سي ، مگر کافر نو رسول الله ﷺ د هغه د مرگ يادونه وکړه او وه يې فرمايل : بيا د هغه روح د هغه په بدن کي واچول سي او هغه ته دوې ملائکي راځي هغه راکښېنوي او پوښتنه ځيني کوي چي ږوك دی رب ستا ؟ هغه ورته وايي هاه هاه ما ته نه دی معلوم، بيا ورته وايي ستا دين څه شي دی؟ دی به ورته وايي هاه هاه زه نه يم خبر ، بيا پوښتنه کوي هغه سړی ږوك دی چي تاسو ته راليږل سوی وو؟ هغه به وايي هاه هاه زه په دې نه پوهيږم بيا به يو آواز کونکی د آسمان څخه آواز وکړي چي دی دروغجن دی د ده لپاره د اور فرش و غوړوئ د اور جامې ور واغوندئ او د دوږخ لوري ته يوه دروازه ورته را خلاصه کړئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د دوږخ څخه به هغه ته گرمي او تودې هواوي راځي او د هغه قبر به پر هغه تنگ کړل سي تر دې چي د هغه پښتی به يوې خوا څخه بلي خوا ته ووزي ، بيا به پر هغه يوه ړنده او کڼه ملائکه و ټاکل سي او دهغې سره به د اوسپني گرز وي داسي گرز که غر په ووهل سي نو هغه به ريزه ريزه سي ، هغه ملائکه به يې په گرز سره وهي چي د هغه آواز به د لوېديځ څخه تر ختيځ پوري ټول مخلوقات اوري خو پيريانان او انسانان يې نه اوري، (او د گرز په وهلو سره به) هغه ريزه ريزه سي او بيرته به روح پکښي واچول سي . احمد او ابوداؤد .

تشریح: هاه هاه یو لفظ دی چي په عربي ژبه کي د حیران او بیري اخیستی سړي یې وایي لکه په پښتو ژبه کي چي د حیرت او بیري په وخت کي آه ، اف، وای وای، وغیره وایي، ویل کیږي چي مطلب دادی چي هغه وخت کافر دومره بېرول کیږي چي د هغه د ژبي څخه د هیبت په وجه د خوف او حسرت الفاظ وځي او هغه صحیح جواب نسي ورکولای او وایي چي زه نه پوهیږم ، د هغه پر دې جواب باندي د غیب څخه هغه دروا غجن وګرځول سي ځکه چي ددین اسلام آوازه د مشرق څخه تر مغرب پوري ورسیده او رسول کریم ﷺ خپل دعوت د دنیا په څلورو کنجانو کي خپور کړ او دنیا ددغه آفاقي او آسماني مذهب څخه خبره و ، ددې سربیره د هغه دا ویل چي زه نه پوهیږم بالکل کذب او درواغ دي. په قبر کي د عذاب کومي ملائکي چي تاکل سوي دي هغه ړندې او کڼې وي ، ددې حکمت دادی چي هغوئ د چغو وهونکو آواز نه اوري او نه د هغوئ حال ویني چي رحم پر وکړي او ددې حدیث څخه دا معلومه سوه چي د معذب په مړه بدن کي په وار وار روح اچول کیږي چي عذاب پر سخت سي او دا د هغه شي انجام دی چي هغه په دنیا کي د قبر د عذاب څخه په انکار کولو سره هغه یې درواغ ګڼي. (نعوذبالله).

﴿۱۲۴﴾ : وَعَنْ عُثْمَانَ أَنَّه كَانَ إِذَا وَقَفَ عَلَى قَبْرٍ بَكَى حَتَّى يَبُلَّ لِحْيَتَهُ فَقِيْلَ لَهُ تَذْكُرُ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ فَلاَ تَبْكِيْ وَتَبْكِيْ مِنْ هٰذَا فَقَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلَ مَنْزِلٍ مِّنْ مَنَازِلِ الآخِرَةِ فَإِنْ نَّجَا فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ قَالَ وَقَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا رَأَيْتَ مَنْظَرًا قَطُّ إِلاَّ الْقَبْرَ أَفْظَعُ مِنْهُ.

رواه الترمذي وابن ماجه . وقال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت عثمان رضی الله عنه څخه روایت دی چي کله به هغه د یو قبر سره ودرېدی نو (بې اختیاره) به یې ژړل تر دې چي د هغه ږیره به په اوښکو لنده سول ، د هغه څخه پوښتنه وسول چي تاسو د جنت او دوزخ یادونه کوئ نو دهغو په یادونه سره نه ژاړئ او په دې ځای کي ژاړئ ، حضرت عثمان رضی الله عنه ورته وویل: رسول الله ﷺ فرمایلي دي چي قبر د آخرت د منزلو څخه لومړنی منزل دی چا چي د دې منزل څخه خلاصون تر لاسه کړی نو د دې وروسته آساني ده او چا چي د دې منزل څخه خلاصون تر لاسه نه کړی نو د دې وروسته تر دې سختي ده ، حضرت عثمان رضی الله عنه وویل چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي چي ما هیڅ یو منظر تر قبر زیات سخت نه دی لیدی. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی.

تشریح: یعني د قبر سره پر درېدو باندي د انسان عیش او عشرت هیر سي او د دنیا پر بې ثباتی باندي د هغه ایمان ټینګ سي چي هغه د الله تعالی د خوف څخه خپل زړه رېږدونکی مومي او د

آخرت سره مینه محسوس کوي ، قبر یې د عیش او عشرت څخه متنفر کوي او په محنت ، مشقت او یاد الهي کي یې مصروف ساتي ، په دې وجه یې فرمایلي دي چي تر ټولو زیات سخت ځای قبر دی .

﴿۱۲۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَرَغَ مِنْ دَفْنِ الْمَيِّتِ وَقَفَ عَلَيْهِ فَقَالَ اسْتَغْفِرُوْا لِأَخِيْكُمْ ثُمَّ سَلُوْا لَهُ بِالتَّثْبِيْتِ فَإِنَّهُ الْآنَ يُسْأَلُ . رواه أبو داود .

د حضرت عثمان ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به کله د مړي د ښخېدو څخه فارغ سو نو د قبر سره به ودرېدی او فرمایل به یې (خلکو ته) د خپل ورور لپاره استغفار کوئ (بخښنه غواړئ) او د هغه د ثابت قدمی لپاره دعاء غواړئ ځکه چي په دې وخت کي دده څخه پوښتني کیږي . ابوداؤد .

تشریح : د دغه حدیث څخه معلومه سوه چي د ژوندو د لوري د مړي لپاره د استغفار دعاء کار کونکې او ګټوره ده ، د هل اسنت والجماعة دا مسلک دی .

دا دعاء د مړي د استقامت او ثابت قدمی لپاره د مړي د دعاء تلقین څخه پرته ده چي د دفن کولو څخه وروسته کیږي ، د مړي د تلقین مسئله دا وه چي دا تلقین اکثر د حنفیه په نزد ثابت نه دی مګر د اکثر شافعیه او حنفیه په نزد مستحب دی ، د دفن کولو څخه وروسته د تلقین میت په اړه یو حدیث د ابوامامه ﷺ څخه وارد سوی دی چي علامه سیوطي رحمه الله علیه په جمع الجامع کي د طبراني څخه ذکر کړی دی او ابن نجار ، ابن عساکر او دیلمي هم ذکر کړی دی چي رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایه هر کله چي په تاسو کي یو څوک وفات سي او هغه دفن کړئ نو یو سړی دي د قبر سرته ودرېږي او دا دي ووایي اې فلان ابن فلان، مړی دا جواب اوري مګر جواب نه ورکوي هغه سړی دي بیا ووایي اې فلان بن فلان ، دا ځل مړی وایي الله دي پر تا رحم وکړي ارشاد وفرمایه مګر تاسو هغه نه اورئ ، ددې څخه وروسته هغه سړي ته ویل پکار دي چي اې فلان دا کلمه یاد کړه چي په هغه سره ته په دې دنیا کي آزاسته سوې او هغه د (لااله الاالله وان محمدا عبده ورسوله) شهادت دی او ته پر دې راضي سوې چي الله تعالی ستا پرودرګار دی ، محمد ﷺ ستا پیغمبر دی او اسلام ستا دین دی او قرآن کریم ستا رهبر امام دی ، هر کله چي دا وویل سي نو منکر نکیر د یو بل لاس نیولو سره وایي راځه چي وځو ددې بنده دمخ څخه دباندي وځو دده سره زموږ څه کار دی، د حق تعالی د لوري ده ته تلقین کیږي .

یو صحابي عرض وکړ اې دالله رسوله ! که موږ ته دمړي د مور نوم نه وي معلوم نو څه

ووایو، د هغه نسبت کوم طرف ته وکړو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ښه ښي حواء ته يې نسبت کوئ ځکه چې هغه د ټولو مور ده.

د مړي د تلقين په اړه ددې شخه پرته د قبر سر ته په دريدو سره د سورة بقرة تر (مفلحون) پوري او امن الرسول پوري لوستل هم منقول دي او که قرآن کريم ټول ولوستل سي نو دا تر ټولو غوره ده، ځيني علماؤ خو دا ويلي دي که هلته د يو مسئلې ذکر هم وکړل سي نو دا هم د فضيلت باعث او د خدای ﷻ د رحمت د نزول سبب ګرځي.

﴿۱۲۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُسَلَّطُ عَلَى الْكَافِرِ فِيْ قَبْرِهِ تِسْعَةٌ وَّتِسْعُوْنَ تِنِّيْنًا تَنْهَسُهُ وَتَلْدَغُهُ حَتّٰى تَقُوْمَ السَّاعَةُ لَوْ أَنَّ تِنِّيْنًا مِّنْهَا نَفَخَ فِي الْأَرْضِ مَا أَنْبَتَتْ خَضِرًا . رواه الدارمي وروى الترمذي نحوه وقال سبعون بدل تسعة وتسعون .

د حضرت ابوسعيد ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پر کافر باندي په قبر کي نهه نيوي ماران و ټاکل سي چې تر قيامته پوري هغه چيچي، او هغه داسي ماران دي که د هغو څخه يو هم پر مځکه پوه کړي نو مځکه به د کرلو څخه محرومه سي (دارمي) او ترمذي هم دا ډول روايت کړی دی مګر په هغه کي د نهه نيوي پر ځای د اويا شمير دی.

الفصل الثالث

﴿۱۲۷﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلٰى سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ حِيْنَ تُوُفِّيَ فَلَمَّا صَلَّى عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوُضِعَ فِيْ قَبْرِهِ وَسُوِّيَ عَلَيْهِ سَبَّحَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَبَّحْنَا طَوِيْلاً ثُمَّ كَبَّرَ فَكَبَّرْنَا فَقِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ لِمَ سَبَّحْتَ ثُمَّ كَبَّرْتَ قَالَ لَقَدْ تَضَايَقَ عَلٰى هٰذَا الْعَبْدِ الصَّالِحِ قَبْرُهُ حَتّٰى فَرَّجَهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عَنْهُ . رواه أحمد .

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دی چې کله سعد بن معاذ ؓ وفات سو نو موږ د رسول الله ﷺ سره د هغه جنازې ته ورغلو کله چې رسول الله ﷺ د هغه د جنازې لمونځ ادا کړ او هغه يې قبر ته کښته کړی او خاوري پر برابري کړل سوي نو رسول الله ﷺ تسبيح (سبحان الله) وويل او موږ هم ډير خله سبحان الله وويل بيا رسول الله ﷺ تکبير (الله اکبر) وويل او موږ هم تکبير ووايه، بيا د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چې تاسو تسبيح او تکبير ولي ووېل؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: د دې نيک بنده قبر پر ده تنګ کړل سو بيا الله ﷻ زموږ په تسبيح او تکبير سره هغه پراخ کړ. احمد

تشريح : په تسبيح او تكبير سره د الله تعالى غضب په رحمت او د هغه غصه په شفقت بدليږي او هلته د ځېل مقدس كلمو په بركت د خپل رحمت او نعمت دروازې خلاصوي .
ځكه نو د خوف يا بيرې پر موقع يا د يو خوفناك شي په ليدو سره تكبير ويل مستحب دى ، د تسبيح او تكبير چې څومره ورد وكړل سي هغومره د الله تعالى رحمت ته نژدې كيږي او د دنياوي آفات او غضب الهي ځيني ليرې كيږي .

﴿۱۲۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا الَّذِيْ تَحَرَّكَ لَهُ الْعَرْشُ وَفُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَشَهِدَهُ سَبْعُوْنَ أَلْفًا مِّنَ الْمَلَائِكَةِ لَقَدْ ضُمَّ ضَمَّةً ثُمَّ فُرِجَ عَنْهُ . رواه النسائي .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل : دى (يعني سعد) هغه سړى دى چې دده لپاره عرش په حركت كې راغلى دى او دده لپاره د آسمان دروازې خلاصې سوې دي او دده په جنازه كې اويا زره ملائكې حاضرې سوې او دده قبر تنګ كړل سو بيا دا تنګي ليرې كړل سوه (قبر پراخ كړل سو). نسائي .

﴿۱۲۹﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِيْ بَكْرٍ قَالَتْ قَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطِيْبًا فَذَكَرَ فِتْنَةَ الْقَبْرِ الَّتِيْ يُفْتَنُ فِيْهَا الْمَرْءُ فَلَمَّا ذَكَرَ ذٰلِكَ ضَجَّ الْمُسْلِمُوْنَ ضَجَّةً . رواه البخاري هكذا وَ زَادَ النَّسَائِيُّ حَالَتْ بَيْنِيْ وَبَيْنَ أَنْ أَفْهَمَ كَلَامَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا سَكَنَتْ ضَجَّتُهُمْ قُلْتُ لِرَجُلٍ قَرِيْبٍ مِّنِّيْ أَيْ بَارَكَ اللهُ فِيْكَ مَاذَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ آخِرِ قَوْلِهِ ؟ قَالَ قَدْ أُوْحِيَ إِلَيَّ أَنَّكُمْ تُفْتَنُوْنَ فِي الْقُبُوْرِ قَرِيْبًا مِّنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ .

د بي بي اسماء [1] بنت ابي بكر (رض) څخه روايت دى : يوه ورځ رسول الله ﷺ ودريدى او خطبه يې وويل رسول الله ﷺ د قبر د فتنې يادونه يې وكړه چې په دې كې د انسان ازموينه اخيستل كيږي، د دې يادوني سره مسلمانانو (د بيرې له كبله) تر ډيره وخته پورې ژړل ، دا روايت د بخاري دى او نسائي دا الفاظ زيات بيان كړي دي چې د خلګو د ژړا له كبله (بي بي اسماء وايي) ما د رسول الله ﷺ الفاظ نه واوريدل كوم وخت چې دا شور كم سو نو ما د هغه سړي څخه كوم چې ما ته نژدې ناست وو پوښتنه وكړه الله دي بركت دركړي په پاى كي

[1] نوموړې د حضرت ابوبكر صديق ﷺ لور ، د حضرت زبير بن عوام بي بي مباركه او د حضرت عبدالله بن زبير والده محترمه ده چې د خپل خور بي بي عائشې رضي الله عنها څخه لس كاله مشره وه ، په مكه مكرمه كي يې اسلام راوړ او په مكه كي د سلو (۱۰۰) كالو په عمر وفات سوه .

رسول الله ﷺ څه وفرمایل ؟ هغه وویل رسول الله ﷺ وفرمایل چي ما ته دا وحي سوي دي چي تاسو به د قبرونو په اړه په فتنه کي واچول سئ یعني تاسو به امتحان کړل سئ او دا فتنه به د دجال د فتنې نژدې نژدې وي.

تشریح: مطلب دا چي څرنګه د دجال فتنه به د خپلي تباهۍ او تاوان په وجه سخته هلاکونکې او تباه کونکې وي همداسي د قبر فتنه به هم د سخت والي او شدت په وجه ډېره زیاته بېرونکې وي نو د الله تعالی څخه دعاء غوښتل پکار ده چي هغه په داسي سخت دردناک وخت کي د خپل رحمت دروازې خلاصي کړي او په دغه امتحان کي مو ثابت وساتي

﴿۱۳۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُدْخِلَ الْمَيِّتُ الْقَبْرَ مُثِّلَتْ لَهُ الشَّمْسُ عِنْدَ غُرُوْبِهَا فَيَجْلِسُ يَمْسَحُ عَيْنَيْهِ وَيَقُوْلُ دَعُوْنِيْ أُصَلِّيْ . رواه ابن ماجه .

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم وخت چي مړی په قبر کي ښخ کړل سي نو دهغه په وړاندي د لمر لوېدو وخت وړاندي کړل سي (که هغه مؤمن وي) نو هغه په لاسو سره سترګي موږي او کښیني او وایي ما پرېږدئ چي لمونځ وکړم.

تشریح: باعمله مؤمن مړی چي کله په قبر کي دفن کړل سي نو څرنګه چي هغه په دنیا کي پر ایمان او اسلام باندي قائم وو او د اسلام د فرضونو د ادا کولو څخه هیڅ وخت غافل نه وو همداسي په قبر کي هم هغه ته تر ټولو مخکي لمونځ یادېږي، هر کله چي منکر او نکیر هغه ته په قبر کي حاضرېږي نو هغه د سوال او جواب څخه مخکي د لمانځه ادا کولو لپاره وایي چي مخکي زه لمونځ وکړم د هغه څخه وروسته چي تاسو څه ویل وایاست وه یې وایاست ، یا د سوال او جواب څخه وروسته هغه دا الفاظ وایي او هغه دا خیال کوي چي زه د خپل کورنۍ په منځ کي ناست یم د هغه په شعور او احساس کي تر ټولو مخکي لمونځ راځي ، دا حالت دلالت کوي چي هغه لکه چي اوس هم په دنیا کي دی او د خوب څخه اوس راکښېنستلی دی .

ددې څخه معلومه سوه چي کوم سړی په دنیا کي پوخ (دائمي) لمونځ کونکی او لمونځ ځیني قضا سوی نه وي نو په قبر کي هم د عادت سره سم هغه ته مخکي لمونځ را یادېږي .

د ښخولو څخه وروسته د مړي په مخکي د لمر لوېدو وخت (لکه په حدیث کي چي وویل سول) وړاندي کول د هغه د حالت مسافرت او د یوازیوالي د مناسب په وجه دی هر کله چي یو مسافر یو ښار ته ماښام ورسیږي نو هغه د حیرانۍ او پریشانۍ په حالت کي څلور خواوو ته ګوري چي چیري ولاړ سم او څه وکړم ، لکه چي شام غریبان مشهور دی چي :

تو زلف را کشادي وتاریک شد جهان
اکنون فتا و شام غریبان کجا روند
نماز شـام غـریبان چوگریه آغازم
بهائي هائي غریبانه گر به پردازم

﴿۱۳۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمَيِّتَ يَصِيْرُ إِلَى الْقَبْرِ فَيَجْلِسُ الرَّجُلُ فِيْ قَبْرِهٖ غَيْرَ فَزِعٍ وَلاَ مَشْغُوْفٍ ثُمَّ يُقَالُ لَهُ فِيْمَ كُنْتَ فَيَقُوْلُ كُنْتُ فِي الإِسْلاَمِ فَيُقَالُ لَهُ مَا هٰذَا الرَّجُلُ فَيَقُوْلُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَنَا بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ فَصَدَّقْنَاهُ فَيُقَالُ لَهُ هَلْ رَأَيْتَ اللّٰهَ فَيَقُوْلُ مَا يَنْبَغِيْ لِأَحَدٍ أَنْ يَّرَى اللّٰهَ فَيُفَرَّجُ لَهُ فُرْجَةٌ قِبَلَ النَّارِ فَيَنْظُرُ إِلَيْهَا يَحْطِمُ بَعْضُهَا بَعْضًا فَيُقَالُ لَهُ انْظُرْ إِلَى مَا وَقَاكَ اللّٰهُ ثُمَّ يُفَرَّجُ لَهُ قِبَلَ الْجَنَّةِ فَيَنْظُرُ إِلَى زَهْرَتِهَا وَمَا فِيْهَا فَيُقَالُ لَهُ هٰذَا مَقْعَدُكَ وَيُقَالُ لَهُ عَلَى الْيَقِيْنِ كُنْتَ وَعَلَيْهِ مُتَّ وَعَلَيْهِ تُبْعَثُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ وَيَجْلِسُ الرَّجُلُ السُّوْءُ فِيْ قَبْرِهٖ فَزِعًا مَشْغُوْبًا فَيُقَالُ لَهُ فِيْمَ كُنْتَ فَيَقُوْلُ لاَ أَدْرِيْ فَيُقَالُ لَهُ مَا هٰذَا الرَّجُلُ فَيَقُوْلُ سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُوْلُوْنَ قَوْلاً فَقُلْتُهُ فَيُفَرَّجُ لَهُ فُرْجَةٌ قِبَلَ الْجَنَّةِ فَيَنْظُرُ إِلَى زَهْرَتِهَا وَمَا فِيْهَا فَيُقَالُ لَهُ انْظُرْ إِلَى مَا صَرَفَ اللّٰهُ عَنْكَ ثُمَّ يُفَرَّجُ لَهُ فُرْجَةٌ إِلَى النَّارِ فَيَنْظُرُ إِلَيْهَا يَحْطِمُ بَعْضُهَا بَعْضًا فَيُقَالُ لَهُ هٰذَا مَقْعَدُكَ عَلَى الشَّكِّ كُنْتَ وَعَلَيْهِ مُتَّ وَعَلَيْهِ تُبْعَثُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تعالى . رواه ابن ماجه .

د حضرت ابوهریرة ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي مړی قبر ته ورسي نو (نیك بنده) په قبر کي کښیني نه هغه خوفزده وي او نه بیري اخیستی وي د هغه څخه پوښتنه کیږي چي ته په کوم دین وې ؟ هغه به وایي زه د اسلام پر دین وم، د هغه څخه بیا پوښتنه کیږي دا سړی (حضرت محمد ﷺ) څوك دی ؟ هغه به وایي د الله رسول دی چي د الله د لوري یې موږ ته څرگند دلیلونه راوړي دي او موږ یې تصدیق وکړ بیا دهغه څخه پوښتنه وسي ایا تا خدای لیدلی دی ؟ هغه به وایي خدای خو هیڅوك نه سي لیدلای . د دې وروسته یو کلکین د دوږخ په لور خلاص کړل سي هغه چي وگوري نو داسي اور به ووینی چي یوه لمبه به یې بله لمبه رانغاړي او هغه ته به وویل سي چي دې ته وگوره چي الله ته ځیني خلاص کړی یې ، بیا یوه کلکین د جنت په لور خلاص کړل سي او هغه به د جنت تازگي او دهغه شیان ویني او هغه ته به وویل سي دا ستا ځای دی له دې کبله چي ستا عقیده ټینگه وه او پر دې ستا پوره یقین وو او ته په دې (یقین) کي مړ سوې او که الله و غواړي نو په دې حالت کي به تا د قبر څخه راپورته کړي ، او

هر کله چي خراب بنده په قبر کي کښیني نو هغه خوفزده او بیریدلی وي د هغه څخه پوښتنه کیږي چي ته په کوم دین وې ؟هغه ورته وایي چي زه نه پوهیږم (چي په کوم دین وم) بیا د هغه څخه پوښتنه وسي دا کوم سړی وو ؟ هغه به وایي ما چي به د خلگو څخه څه اوریدل هغه به مي ویل . بیا

د جنت په لور یو کلکین را خلاص کړل سي او هغه د جنت تازګي او شیان ویني او هغه ته وویل سي د دغه شیانو په لور وګوره چي الله ﷻ ستا څخه اړولي دي بیا د دوږخ د لوري یو کلکین خلاص کړل سي او هغه به ویني چي د اور تیزي لمبې یوه بله خوري او هغه ته به وویل شي چي د هغه شك له کبله چي ته پکښي اخته وې او پر هغه مړ سوې دا ستا ځای دی او پر دې به ته د قبر څخه را پورته کړل سې که الله تعالی وغواړي .ابن ماجه.

بَابُ الْاِعْتِصَامِ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ

(پر کتاب او سنت باندي د باور بیان)

د کتاب څخه مراد کتاب الله یعني قرآن کریم دی او د سنت څخه مراد د رسول الله ﷺ اقوال، افعال او احوال دي چي د هغه د ټولګي نوم حدیث دی او دې ته شریعت ، طریقت او حقیقت وایي.

الفصل الاول

﴿۱۳۲﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحْدَثَ فِيْ أَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ . (متفق علیه) .

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي زموږ په دین کي یو نوې خبره پیدا کړه کوم چي په دین کي نه وي نو هغه خبره مردوده ده . بخاري او مسلم .

تشریح : د مؤمن او مسلمان کېدو مطلب دادی چي د هغه عقیده او ایمان دومره پوخ او کامل وي چي قرآن کریم او سنت کومه لار ښوولې ده پر هغه په پوره یقین سره تلل او شریعت چي کوم حدود قائم کړي دي په هغه کي دننه په پوره یقین سره اوسیدل په یقین سره فلاح او سعادت وګڼي ، د خپل لوري داسي لاري پیداکول چي د شریعت سراسر خلاف وي یا داسي طریقې اختیارول چي د قرآن کریم او سنت د صحیح لاري څخه بیلي دي نه یوازي دا چي د ایمان او عقیدې تر ټولو لویه کمزوري ده بلکه د اسلام د دعوې خلاف هم ده .

په دغه حدیث شریف کي هغه خلک مردود (رټل سوی) ګرځول سوي دي چي د خپل نفساني خواهشاتو او ذاتي مقصدونو په وجه په دین او شریعت کي نوي نوي طریقې رواج کوي او د داسي غلطو خبرو نسبت شریعت ته کوي چي د هغه په اسلام کي هیڅ وجود نه وي.

مثلا یو سړی د خپل عقل آسونه ځغلوي او د خپل فهم سره سم په اسلام کې داسي نوي شیان پیدا کوي چې د هغه ثبوت نه خو په قرآن کریم او نه په سنت کې ظاهرا او معنا وي او نه د هغه سند د یو اسلامي نظریې سره برابر وي نو هغه به مردود ګرځول کیږي ، د حدیث الفاظ (مالیس منه) دې خبرې ته اشاره کړې ده چې داسي شیان پیدا کول یا داسي نظریې قائمول چې د کتاب الله او سنت د منشا ځخه خلاف او د هغه برعکس نه وي نو پر هغه ځه مؤاخذه (نیونه) نسته او نه پر هغه یو نکیر قائمیدای سي .

﴿۱۳۳﴾ : وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ خَيْرَ الْحَدِيْثِ كِتَابُ اللهِ وَخَيْرُ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ وَشَرَّ الْأُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷺ ځخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د الله د حمد ځخه وروسته دي معلومه وي چې د ټولو ځخه غوره خبره د الله کتاب دی او غوره لار د محمد ﷺ لار ده او بد ترین په شیانو کي هغه شی چې هغه په دین کي نه وي او پیدا کړل سي او هر بدعت ګمراهي ده .

تشریح : کیدای سي رسول الله ﷺ خطبه فرمایلې وي او تر ټولو مخکي يې د الله حمد او تعریف بیان کړ وي او بیا د ما بعد ویلو سره دا حدیث داسي ارشاد فرمایلی وي ، بدعت هغه شیانو ته وایي چې د هغه وجود د رسول الله ﷺ په زمانه کي نه وو بلکه د هغه ﷺ ځخه وروسته په مختلفو زمانو کي پیداسوی وي ، د بدعت دوه ډولونه دي : بدعت حسنه او بدعت سیئه، یعني که داسي شیان پیدا سي چې د اسلامي اصول او قواعد سره سم وي او د قرآن کریم او حدیث خلاف نه وي نو هغه ته بدعت حسنه وایي او کوم شیان چې د شریعت برعکس او د قرآن او حدیث خلاف وي هغه ته بدعت سیئه وایي ، او دا بدعت ګمراهي او ضلالت او د الله تعالی او د هغه د رسول د ناراضګی باعث دی ، په حدیث کي د بدعة ضلالة ځخه مراد بدعت سیئه دی د داسي بدعت ځخه پرهیز ضروري دی ، پوهېدل پکار دي چې ځیني بدعت داسي وي چې واجب هم وي مثلا د علم نحو تعلیم چې ددې ځخه پرته په کلام الله پوهېدل ناممکن دي ځکه قرآني علوم او معارف بآندي پوهېدو لپاره علم حاصلول ضروري دی ، ددې پر خلاف ځیني بدعتونه حرام دي مثلا د قدریه او جبریه مذهب او د هغوئ افکار او نظریات چې د قرآن او سنت بالکل خلاف دي بلکه د هغوئ د مذهبونو رد کول بدعت واجبه دی .

ځیني بدعات مستحب دي لکه خانقاه قائمول او هلته معرفت الله لپاره د خلکو زړونه پر حق باندي قائمول ، یا مدرسې جوړول او هلته د مسلمانانو ماشومانو ته دیني تعلیم او تربیت ورکول یا داسي ټول د خیر کارونه او ښه شیان چي د هغه في الوقت ضرورت مسلم وي او هغه د رسول الله ﷺ په زمانه کي موجود نه وي پاته سوی .

ځیني بدعتونه مکروه هم دي مثلا پر کلام الله او مسجدو باندي نقش او نګار جوړول او د هغو د تزئین او ښکلا لپاره غیر مسنون طریقې اختیارول ، ځینو بدعتونه مباح هم وي لکه د سهار څخه وروسته مصافحه کول، مګر دا د امام شافعي صاحب مذهب دی او د حنفیه په نزد د سهار څخه وروسته مصافحه کول مکروه ده .

﴿۱۳۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْغَضُ النَّاسِ إِلَى اللهِ ثَلَاثَةٌ مُلْحِدٌ فِيْ الْحَرَمِ وَمُبْتَغٍ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ وَمُطَّلِبُ دَمِ امْرِءٍ بِغَيْرِ حَقٍّ لِيُهْرِيْقَ دَمَهُ رواه البخاري .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د الله په نزد تر ټولو زیات غضب وهلي درې کسان دي ۱: په حرم کي الحاد کونکی ۲: اسلام د جاهلیت د زمانې پر طریقه طلب کونکی ۳: په ناحقه د یو مسلمان د وینې غوښتونکی چي د هغه وینه توی کړي .بخاري.

تشریح : په دغه حدیث شریف کي درې کسان د الله تعالی په نزد تر ټولو زیات ناخوښه او مغضوب ګرځول سوي دي ، لومړنی هغه دی چي هغه ته الله تعالی په خپل کور کي د حاضرۍ سعادت ورکړ مګر هغه د بیت الله عظمت نه کوي او نه د حرم په حدود کي د منعه شیانو څخه پرهیز کوي بلکه په هغه حرامو کي کوړوالی کوي یعني داسي شیان اختیاروي چي یوې خوا ته خو ددغه مقدس ځای د عظمت د شان خلاف وي او بلي خوا ته د شریعت د احکامو څخه په ښکاره د خلاف ورزۍ برابر وي، مثلا هلته جګړه کول، ښکاره کول او مطلق ګناه کول او د قانون شریعت خلاف ورزي کوي .

دوهم سړی هغه دی چي الله تعالی د ایمان او اسلام په دولت سره ونازوی او د هغه زړه یې د یقین او عقیدې په رڼا سره منور کړ مګر هغه په اسلام کي هغه شیان اختیاروي چي خالص د جاهلیت د زمانې طریقه او غیر اسلامي رسمونه وي لکه نوحه کول (په مړي پسي ژړاوي کول) یا د مصیبت او تکلیف په وخت کي ګریوان شکول ، نوروز لمانځل او داسي رسمونه کول چي د کفر نښه وي (لکه د اولیاء الله پر مزار میله جوړول او هلته ډیوې بلول ، پر قبرونو باندي د رڼا

انتظام کول ، هلته د الله په نامه نذر او نیاز کول ، د محرم او شب برات پر وخت غلط رسمونه ادا کول او داسي نور) .

دریم سړی هغه دی چي د یو مسلمان د ناحق وژني طلب ګار وي یعني د یو مسلمان د قتل مقصد یې یوازي وینې تویول وي او بل مقصد نه وي که محض قتل یو کوچنی جرم نه دی پر دې هم لویه سزا ده مګر هر کله چي مقصد یوازي وینې تویول وي نو دا جرم د شریعت په نظر کي نور زیات د نفرت وړ کیږي .

د دې څخه معلومه سوه چي هر کله محض د وینې تویول دومره لوی جرم دی نو دا جرم کول یعنې په حقیقت کي ناحقه وینه بیول به څومره لوی جرم وي او د هغه به څومره سخته سزا وي .

﴿۱۳۵﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ أُمَّتِيْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ إِلاَّ مَنْ أَبٰى . قِيْلَ وَمَنْ أَبٰى ؟ قَالَ مَنْ أَطَاعَنِيْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ أَبٰى .رواه البخاري .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زما د امت هر کس به جنت ته ځي خو نه هغه کس چي هغه زما څخه انکار کړی وي ، پوښتنه وسول چي هغه کوم کس دی چي انکار یې وکړ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم سړي چي زما پیروي وکړل هغه به په جنت کي داخل سي او چا چي زما نافرماني وکړه هغه زما څخه انکار وکړ .

تشریح : صحابه کرامو پوښتنه وکړه چي نه قبلونکی او سرکښي کونکی څوک دی ؟. رسول الله ﷺ وضاحت وفرمایه چا چي زما اطاعت ونه کړ او زما د احکامو او فرمان یې مخ واړوی نو هغه سرکښ دی د جنت مستحق به نه وي بلکه د خپل سرکښۍ او نافرمانۍ په وجه به د الله تعالی د عذاب مستوجب وګرځول سي .

﴿۱۳۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ جَاءَتْ مَلاَئِكَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ نَائِمٌ فَقَالُوْا إِنَّ لِصَاحِبِكُمْ هٰذَا مَثَلاً فَاضْرِبُوْا لَهُ مَثَلاً قَالَ بَعْضُهُمْ إِنَّهُ نَائِمٌ وَقَالَ بَعْضُهُمْ إِنَّ الْعَيْنَ نَائِمَةٌ وَالْقَلْبَ يَقْظَانٌ فَقَالُوْا مَثَلُهُ كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنٰى دَارًا وَجَعَلَ فِيْهَا مَأْدُبَةً وَبَعَثَ دَاعِيًا فَمَنْ أَجَابَ الدَّاعِيَ دَخَلَ الدَّارَ وَأَكَلَ مِنَ الْمَأْدُبَةِ وَمَنْ لَمْ يُجِبِ الدَّاعِيَ لَمْ يُدْخِلِ الدَّارَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنَ الْمَأْدُبَةِ فَقَالُوْا أَوِّلُوْهَا

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي د ملائکو یو ډله د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سول کوم وخت چي رسول الله ﷺ بیده وو ، او هغو په خپلو کي خبري کولې په هغوئ کي یوې ملائکي وویل ستا د دې دوست په اړه یو مثال دی هغه دده په وړاندي بیان کړئ نورو ملائکو وویل هغه خو بیده دی ، په هغو کي ځیني وویل چي سترګي خو یې بېشکه بیدې دي مګر زړه یې بیدار دی بیا هغه ملائکي وویل د دې سړي مثال د هغه سړي په ډول

لَهُ يَفْقَهُنَّهَا فَقَالَ بَعْضُهُمْ إِنَّهُ نَائِمٌ قَالَ بَعْضُهُمْ إِنَّ الْعَيْنَ نَائِمَةٌ وَالْقَلْبَ يَقْظَانُ فَقَالُوْا اَلدَّارُ الْجَنَّةُ وَالدَّاعِيْ مُحَمَّدٌ فَمَنْ أَطَاعَ مُحَمَّدًا فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصٰى مُحَمَّدًا فَقَدْ عَصَى اللهَ وَمُحَمَّدٌ فَرْقٌ بَيْنَ النَّاسِ . رواه البخاري

دی چي کور یې جوړ کړ او خلګو ته یې دسترخوان وغوړاوه بیا یې د خلګو را بللو لپاره یو سړی ولیږی نو کوم سړي چي د دې بلونکي خبره ومنل هغه په کور کي داخل سو او هغه د دسترخوان څخه ډوډۍ وخوړل او چا چي انکار وکړ هغه نه په کور کي داخل سو او نه یې د دسترخوان څخه ډوډۍ و خوړل . ملائکو د دې مثال په اورېدو سره وویل ددې تاویل بیان کړه چي دا سړی په پوه سي (د دې په اورېدو سره ځیني ملائکو وویل ، هغه خو بیده دی ، نورو ملائکو وویل بېشکه سترګي خو یې بیدې دي مګر زړه یې بیدار دی بیا هغوئ د دې مثال تاویل بیان کړ او وه یې ویل : د کور څخه مراد جنت دی او د بلونکي څخه مراد حضرت محمد ﷺ دی کوم چا چي د محمد ﷺ اطاعت وکړ هغه د الله اطاعت وکړ چا چي د محمد ﷺ نافرماني وکړه هغه د الله نافرماني وکړه او محمد ﷺ د خلګو په منځ کي فرق کونکی دی (یعني څوک په هغوئ کي کافر دی او څوک مؤمن او دا فرق د رسول الله ﷺ په اطاعت او نافرماني سره معلومیږي) .بخاري

تشریح : د هغه سړي څخه مراد چا چي کور جوړ کړ او دسترخوان یې وغوړوی ، د الله تعالی ذات دی ، همداسي د دسترخوان څخه مراد د جنت نعمتونه دي ، دا په څرګنده په فهم کي راتلي ځکه نو ددې وضاحت ونه کړل سو ، په پای کي ښودل سوي دي چي د رسول الله ﷺ ذات مبارک د خلګو په منځ کي فرق کونکی دی یعني د کافر او مؤمن حق او باطل، صالح او فاسق په منځ کي رسول الله ﷺ فرق کونکی دی .

﴿۱۳۷﴾ : وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ جَاءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ إِلٰى أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُوْنَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أُخْبِرُوْا بِهَا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوْهَا فَقَالُوْا أَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ فَقَالَ أَحَدُهُمْ أَمَّا أَنَا فَأُصَلِّي اللَّيْلَ أَبَدًا وَقَالَ الاٰخَرُ أَنَا أَصُوْمُ النَّهَارَ أَبَدًا وَلَا أُفْطِرُ وَقَالَ

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي درې خلك د رسول الله ﷺ په خدمت کي د دې لپاره حاضر سول چي هغوئ د رسول الله ﷺ د عبادت د حال پوښتنه وکړي، کوم وخت چي هغوئ ته د رسول الله ﷺ د عبادت حال بیان کړل سو نو هغوئ د رسول الله ﷺ عبادت کم وګڼی او په خپلو کي یې وویل د رسول الله ﷺ په مقابله کي موږ څه یو، الله پاك خو د هغه مخکي او وروسته ګناهونه معاف کړي دي (د دې

الْآخَرُ أَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلَا أَتَزَوَّجُ أَبَدًا فَجَاءَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِلَيْهِمْ فَقَالَ أَنْتُمُ الَّذِيْنَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا أَمَا وَاللهِ إِنِّيْ لَأَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ لٰكِنِّيْ أَصُوْمُ وَأُفْطِرُ وَأُصَلِّيْ وَأَرْقُدُ وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ. (متفق عليه)

په اوربدو سره په هغوئ كي) يوه وويل اوس به زه هميشه ټوله شپه لمونځ كوم ، دوهم كس وويل او زه به هميشه د ورځي روژه نيسم او هيڅكله به يې نه ماتوم، دريم كس وويل زه به د ښځو څخه بيل اوسم او هيڅ كله به نكاح نه كوم ، (په خپلو كي يې دا خبري كولې چي) رسول الله ﷺ تشريف راوړ او هغوئ ته يې وفرمايل : ايا تاسو داسي ويلي دي تاسو ته دي معلومه وي چي ستاسو څخه زيات زه د الله څخه بيريږم او ستاسو څخه زياته تقوا كوم سره د دې روژه هم نيسم او ماتوم يې هم ، د شپې لمونځ هم كوم او بيده كيږم هم او د ښځو سره نكاح هم كوم. نو كوم سړى چي زما د طريقې څخه مخ اړوي هغه زما څخه نه دى . بخاري او مسلم .

تشريح : دري صحابه كرام يعني حضرت علي ﷺ، حضرت عثمان بن مظعون ﷺ او حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ د رسول الله ﷺ د مباركو بيبيانو په خدمت كي حاضر سول چي د رسول الله ﷺ حال ځيني معلوم كړي ، هغوئ ته چي د رسول الله ﷺ د عبادت حال معلوم سو نو هغوئ په كم خيال كولو سره وويل چيري موږ او چيري رسول الله ﷺ ، يعني د عبادت په اړه زموږ د رسول الله ﷺ سره څه نسبت كيداى سي ، رسول الله ﷺ ته خو د دومره عبادت هم ضرورت نسته ځكه چي هغه مبارك سر تر پايه معصوم او مغفور دى مخكني او وروستني ټول ګناهونه يې بخښل سوي دي لكه چي د الله تعالى ارشاد دى :

لِيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ . سورة الفتح

ژباړه : چي الله تعالى ستا مخكني او وروستني ټول ګناهونه و بخښي .

هغه درو سره د طبيعت سره سم يو يو شى پر خپل ځان لازم كړ او دا خيال يې وكړ چي په عبادت كي دومره زياتوب د عرفان حق باعث او د تقرب الى الله يوازينى ذريعه ده مګر رسول الله ﷺ هغوئ ځكه منعه كړل چي عبادت هغه معتبر او قابل تحسين دى چي د الله تعالى او د هغه د رسول په حدودو كي دننه وي او د څومره عبادت لپاره چي بنده مكلف كړل سوى دى هغومره عبادت د تقرب الى الله باعث وي ، رسول الله ﷺ وفرمايل زه د الله تعالى څخه تر تاسو زيات بيريږم ، تقوا مي تر تاسو زياته اختيار كړې ده ، د الله تعالى خوف زما په زړه كي تر تاسو زيات دى مګر د دې سربيره زما عبادت او رياضت په هغه حدودو كي دننه دى كوم چي الله تعالى قائم

كړي دي ځكه نو زه روژې هم نيسم او ماتوم يې هم ، لمونځ هم كوم او د بېده كېدو پر وخت بېده كيږم او د فطرت د غوښتني سره سم د ښځو سره نكاح هم كوم.

كمال د انسانيت دا دى چي بنده د دنيا د خالق سره تعلق ساتي ، د ښځو سره نكاح هم كوي مگر په داسي ډول چي يوې خوا ته خو د هغوئ په حقوقو كي د يوې اندازې هم كمي نه وي او بلي خوا ته په حقوق الله كي هم فرق رانسي او نه د توكل لمن د لاس څخه ووځي، دا شی رسول الله ﷺ په پوره كمال او عملي حيثيت سره د دنيا په مخكي وړاندي كړ چي امت هم پر دې طريقه ولاړ سي. بيا په پاى كي رسول الله ﷺ په څرگنده اعلان وكړ چي دا زما طريقه ده او دا زما سنت دي او س كوم سړى چي زما د سنت څخه مخ اړوي ، زماد ښودلو حدودو څخه تجاوز كوي د هغه مطلب به دا وي چي هغه زما د سنت او طريقې څخه بيزاره او بې رغبته دى نو د هغه نتيجه به دا وي چي داسي سړى زما د ډلي څخه وتلى دى ، د هغه سړي زما او د زما د ډلي سره هيڅ تعلق نسته.

دغه ارشاد دې ته هم اشاره وكړه چي د دنيا څخه بالكل مخ اړول او د رهبانيت طريقه اختيارول جائز نه ده ځكه چي په دې سره يوازي د انساني ژوند ترتيب خرابيږي بلكه د حقوق الله په ادا كولو كي هم كوتاهي كيږي او د عبادت چي اصلي حق دى هغه هم نه ادا كيږي.

حضرت مولانا شاه محمد اسحاق صاحب فرمايلي دي چي د دې حديث څخه ځيني علماء دا نتيجه اخلي چي په دغه حديث كي د هغه خلكو رد دى چي د بدعت حسنه قائل دي ځكه چي دغه درې سره صحابه كرامو چي كوم شيان پر ځان د لازم كولو اراده كړې وه هغه د عبادت د ډول څخه وه مگر د سنت طريقې خلاف او د هغه څخه زيات وه ځكه نو رسول الله ﷺ هغه خوښ نه كړل او د هغه څخه يې منعه وفرمايل ، نو غوره داده چي كوم عبادت د رسول الله ﷺ څخه نقل دى او څرنگه چي ثابت وي هم هغسي ادا كړل سي او په هغه كي د خپل ځان څخه كمي او زياتوب ونه كړي.

﴿۱۳۸﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ صَنَعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا فَرَخَّصَ فِيْهِ فَتَنَزَّهَ عَنْهُ قَوْمٌ فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَطَبَ فَحَمِدَ اللّٰهَ ثُمَّ قَالَ مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَتَنَزَّهُوْنَ عَنِ الشَّيْءِ أَصْنَعُهُ فَوَاللهِ إِنِّيْ لَأَعْلَمُهُمْ بِاللهِ	د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ (د روژې په حالت كي) يو كار وكړ او د هغه اجازه يې وركړل مگر يو څو خلكو د هغه څخه پرهيز وكړ ، كوم وخت چي رسول الله ﷺ ته د دې حال معلوم سو نو رسول الله ﷺ خطبه وفرمايل : د

وَأَشَدُّهُمْ لَهُ خَشْيَةً . (متفق علیه)

الله د حمد څخه وروسته يې وفرمايل چې د خلګو حال دادی چې هغوئ د هغه شي څخه پرهيز کوي کوم چې زه يې کوم، نو قسم په خدای چې زه د الله تعالی رضا د هغوئ څخه زياته پيژنم او دهغوئ څخه زيات د الله تعالی څخه بيريږم .بخاري او مسلم

تشریح: په روژه کي به رسول الله ﷺ خپله بي بي ښکل کړې وي يا په سفر کي به يې روژه نه وي نيولې ځکه چې ددې شيانو اجازه او شريعت ددې رخصت ورکړی دی نو رسول الله ﷺ په خپله هم په دې عمل وکړ او خلکو ته يې هم ددې اجازه ورکړه چې هغوئ داسي کولای سي مګر ځينو خلکو به د احتياط په وجه دا جائز نه ګڼل ، هرکله چې رسول الله ﷺ په دې خبر سو نو رسول الله ﷺ پر دې ناخوښي ښکاره کړل او وه يې فرمايل ددې سربيره چې زه په خلکو کي د الله تعالی څخه زيات بيريږم او کمال اخلاق په ما کي موجود دي مګر زه د شريعت د لوري په راکړل سوي آساني۔ او رخصت باندي عمل کوم نو هغه کوم خلک دي چې د رخصت سربيره پر دغه اجازه باندي عمل نه کوي .

که چيري په معنوي حيثيت سره ددغه آسانيو او رخصت پر حقيقت غور او فکر وکړل سي کوم چې شريعت په داسي ځايونو کي ورکړي دي نو په دې کي ډير عجيبه حکمتونه معلوميږي مثلا دا چې په داسي موقع کي په اصل کي دبنده د عجز او ناچاري۔ او بشريت د کمزوري۔ او د نفس سکون اظهار کول دي چې د الله تعالی په نزد ډير محبوب شی دی ، همداسي د رسول الله ﷺ ارشاد مبارک دی چې الله تعالی دا خوښوي چې پر رخصتونو باندي يعني آسانيو باندي عمل وکړل سي لکه څرنګه چې هغه پر اولی او غوره شيانو باندي عمل کول خوښوي .

﴿۱۳۹﴾: وَعَنْ رَّافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ قَدِمَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ يُؤَبِّرُوْنَ النَّخْلَ فَقَالَ مَا تَصْنَعُوْنَ قَالُوْا كُنَّا نَصْنَعُهُ قَالَ لَعَلَّكُمْ لَوْ لَا تَفْعَلُوْا كَانَ خَيْرًا فَتَرَكُوْهُ فَنَقَصَتْ قَالَ فَذَكَرُوْا ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ إِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ مِّنْ دِيْنِكُمْ فَخُذُوْا بِهِ وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ مِّنْ رَّأْيِيْ فَإِنَّمَا أَنَا

د حضرت رافع[1] بن خديج ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ مديني ته تشريف راوړ هغه وخت د مديني خلکو د خرماوو د درختو تابير (پيوند) کاوه، رسول الله ﷺ (چي خلك په دې کولو وليدل) نو پوښتنه يې وکړه دا تاسو څه کوئ ؟ خلکو عرض وکړ موږ هم داسي طريقه کوو . رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : که تاسو داسي ونه

[1] حضرت رافع بن خديج انصاري اوسي دی ، کله چې د حق او باطل په منځ کي لومړنۍ جګړه د بدر وسول نو هغه وخت دی ډير کم عمره وو . د (۵۶) کالو په عمر په کال (۴۲هـ) کي وفات سو . اسد الغابة.

بَشَرٌ . رواه مسلم .

كړئ نو شايد چي غوره به وي (د رسول الله ﷺ د ارشاد اورېدو سره) خلكو دا عمل پرېښود نو (په هغه كال) ميوه كمه وسول ، رسول الله ﷺ ته د دې ذكر وكړل سو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : زه هم يو بشر (انسان) يم هر كله چي زه تاسو ته يو ديني حكم دركړم نو قبول يې كړئ او كه د خپل عقل څخه تاسو ته څه خبره وښيم نو تاسو پوه سئ چي زه هم يو انسان يم .مسلم .

تشريح : د خرماوو په درختو كي يوه درخته نارينه وي او دوهمه ښځينه ، د مدينې اوسيدونكو به دا كول چي د نارينه درختي ګل پر ښځينه درختو باندي څنډي يا په هغه كي يې پيوند كوي ، ددې څخه د هغوئ خيال دا وو چي زياته ميوه كوي او دې ته تابيركول وايي ، دِ حديث په پاى كي د رسول الله ﷺ د ارشاد معنا داده چي زه هم يو انسان يم د دنياوي اسبابو په اړه زما څخه هم خطا واقع كيداى سي او صحيح هم ، كه چيري زه د يو دنياوي معاملې په اړه د خپل اجتهادي رايي اظهار وكړم چي د وحي سره سم نه وي نو په هغه عمل كول ضروري نه دي ، په دې معامله كي چي رسول الله ﷺ وليدل چي دا شى د جاهلت د كارونو څخه دى او ددې تاثير د ميوو په كمي او زياتوب كي يو معقول شى نه دى او ددې خيال يې ونه كړ چي كيداى سي ددې يو تاثير د الله تعالى د طرفه څخه وي ، ځكه نو رسول الله ﷺ د هغه د پرېښودلو لپاره وفرمايل مګر حكم يې ونه كړ بلكه دا يې وفرمايل كه چيري تاسو دا عمل ونه كړئ نو غوره به وي ، هر كله چي د تجربې څخه وروسته رسول الله ﷺ وليدل چي دا خو يو قدرتي شى دى چي د نارينه درختي ګلونه په ښځينه درختي كي لګول نو په دې سره په ميوو كي زياتوب راځي او ددې عمل خلاف د الله تعالى د لوري يو سزا هم نه ده راغلې نو رسول الله ﷺ سكوت وفرمايه .

دا حديث شريف پر دې دلالت كوي چي د رسول الله ﷺ د دنيا په لور التفات او توجه نه وه او نه يې دنيا غرض وه بلكه د اخرت د امورو د مسائلو او احكامو او په ديني معاملو كي رسول الله ﷺ زيات اهتمام كاوه .

په ځيني نورو حديثونو كي ددې پېښې د بيان په اړه داسي الفاظ راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : (انتم اعلم بامور دنياكم) يعني تاسو د خپل دنيا په كارو ښه پوهيږئ ، ددې مطلب هم دادى چي د دنيا كارونو په لور زما التفات نسته كنه تر څو پوري چي د رايي او عقل معامله ده نو په دې كي د ذرې شبه هم نسته چي د رسول الله ﷺ په ديني او دنياوي دواړو معاملاتو كي ترټولو زيات عقلمند او صاحب د رايي وو .

﴿۱۴۰﴾ : وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا مِثْلِيْ وَمِثْلُ مَا بَعَثَنِيَ اللّٰهُ بِهٖ كَمَثَلِ رَجُلٍ أَتٰى قَوْمًا فَقَالَ يَا قَوْمِ إِنِّيْ رَأَيْتُ الْجَيْشَ بِعَيْنِيْ وَإِنِّيْ أَنَا النَّذِيْرُ الْعُرْيَانُ فَالنَّجَاءَ النَّجَاءَ فَأَطَاعَهُ طَائِفَةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ فَأَدْلَجُوْا فَانْطَلَقُوْا عَلٰى مَهْلِهِمْ فَنَجَوْا وَكَذَّبَتْ طَائِفَةٌ مِّنْهُمْ فَأَصْبَحُوْا مَكَانَهُمْ فَصَبَّحَهُمُ الْجَيْشُ فَأَهْلَكَهُمْ وَاجْتَاحَهُمْ فَذٰلِكَ مَثَلُ مَنْ أَطَاعَنِيْ فَاتَّبَعَ مَا جِئْتُ بِهٖ وَمَثَلُ مَنْ عَصَانِيْ وَكَذَّبَ بِمَا جِئْتُ بِهٖ مِنَ الْحَقِّ. متفق عليه

د حضرت ابوموسی ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله وفرمایل : بیشکه زما مثال او د هغه مثال چي د هغه ورکولو سره زه الله رالیږلی یم د هغه سړي په ډول دی چي یو قوم ته راغلی وي او هغه قوم ته وایي اې قوم ! ما په خپلو سترګو سره یو لښکر لیدلی دی او زه بې غرضه بیرونکی یم، تاسو ته پکار ده چي د خلاصون په لټه سئ او خپل خلاصون تر لاسه کړئ ، نو یوې ډلي خو د هغه اطاعت وکړ او شپه په شپه کرار کرار ووتل او خلاصون یې تر لاسه کړ ، او یوې ډلي د هغه خبره ونه منل او په خپلو کورونو کي پاته سول په سهار کي لښکر راغلی او هغوئ یې ونیول او د هغوئ نسل یې ختم کړ نو هم دا کیفیت د هغه کس دی چي زما اطاعت یې ومنی او کوم احکام چي ما راوړي دي د هغو پیروي یې وکړه او هم دا مثال د هغه چا دی چي زما نافرماني یې وکړل او کومه حقه خبره چي ما راوړې ده د هغې څخه یې انکار وکړ . بخاري او مسلم .

تشریح : د لغړ (لوڅ) بیرونکي اصل دادی چي په عربو کي دا قاعده وه چي کله به یو سړي یو لښکر پر خپل قوم باندي حمله کونکی ولیدی نو جامې یې وکښلې او پر سر به یې کښېښودلې او لوڅ لغړ به سوه او په چغو به د خپل قوم خوا ته راغلی چي خلک خبر سي او د دښمن دناڅاپه حملې څخه د ژغورني یو صورت پیدا کړل سي نو دې ته به یې لوڅ (څرګند) بیرونکی ویل، د هغه څخه وروسته د یو ناڅاپه او خوفناکه حادثې پر پېښېدو باندي دا یو متل جوړ سو ، نو پر رسول الله ﷺ باندي دا متل بالکل صحیح او صادق دی چي رسول الله ﷺ فرمانبردار او اطاعت کونکي ډلي ته د جنت او رضاء مولی زیری او نافرمانو او سرکښو ته د الله تعالی د عذاب او غضب خبر ورکولو کي بالکل ریښتونی او صادق وو .

﴿۱۴۱﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلِيْ كَمَثَلِ رَجُلٍ اِسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهَا جَعَلَ الْفَرَاشُ وَهٰذِهِ الدَّوَابُّ الَّتِيْ تَقَعُ فِي النَّارِ يَقَعْنَ فِيْهَا وَجَعَلَ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زما مثال د هغه سړي په شان دی چي هغه اور بل کړ هر کله چي څلورو خواوو ته د اور رڼا خپره سول نو پتنګان او نور شیان چي په اور کي لویږي راتلل شروع سول او په اور کي

يَحْجُزُهُنَّ وَيَغْلِبْنَهُ فَيَتَقَحَّمْنَ فِيْهَا فَأَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِ وَأَنْتُمْ تَقَحَّمُوْنَ فِيْهَا . هٰذِهِ رِوَايَةُ الْبُخَارِيْ وَلِمُسْلِمٍ نَحْوُهَا وَقَالَ فِيْ آخِرِهَا قَالَ فَذٰلِكَ مَثَلِيْ وَمَثَلُكُمْ أَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِ هَلُمَّ عَنِ النَّارِ هَلُمَّ عَنِ النَّارِ فَتَغْلِبُوْنِيْ تَقَحَّمُوْنَ فِيْهَا .(متفق عليه)

لوېدل او روښانه کونکي سړي هغوئ منعه کول پيل کړه خو هغوئ نه منعه کيږي او د هغه په هڅه غالب کيږي او په اور کي لويږي ، همدارنګه زه هم تاسو په اور کي د لوېدو څخه ژغورم او تاسو په اور کي د لوېدو هڅه کوئ ، دا روايت د بخاري دی، په مسلم شريف کي هم دغسي روايت دی البته د مسلم په روايت کي آخري الفاظ دادي : رسول الله ﷺ وفرمايل : بيخي همدا زما او ستاسو مثال دی ما تاسو د ملا څخه نيولی ياست چي تاسو د اور څخه و ژغورم او درته وايم چي د دوږخ څخه ځان وساتئ او زما پر پله راځئ ، مګر تاسو پر ما غالب کيږي او په اور کي لويږي .بخاري او مسلم.

تشريح : د رسول کريم ﷺ د ارشاد مبارک مطلب دادی چي ما خرام او منعه شيان ستاسو په مخکي څرګند بيان کړي دي مګر څرنګه چي يو سړی اور بل کړي او د هغه سړي د منل کولو سربيره پتنګان په اور کي لويږي همداسي ددې سربيره چي زه تاسو د غلطي لاري څخه ليري کوم او د بدو کارو څخه مو منعه کوم مګر تاسو هغه منعه او ناخوښ کارونه کوئ همداسي د دوږخ په اور کي د لوېدو هڅه کوئ.

﴿۱۴۲﴾ : وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ مَا بَعَثَنِيَ اللهُ بِهِ مِنَ الْهُدٰى وَالْعِلْمِ كَمَثَلِ الْغَيْثِ الْكَثِيْرِ أَصَابَ أَرْضًا فَكَانَتْ مِنْهَا طَائِفَةٌ طَيِّبَةٌ قَبِلَتِ الْمَاءَ فَأَنْبَتَتِ الْكَلَاءَ وَالْعُشْبَ الْكَثِيْرَ وَكَانَتْ مِنْهَا أَجَادِبُ أَمْسَكَتِ الْمَاءَ فَنَفَعَ اللهُ بِهَا النَّاسَ فَشَرِبُوْا وَسَقَوْا وَزَرَعُوْا وَأَصَابَ مِنْهَا طَائِفَةٌ أُخْرٰى إِنَّمَا هِيَ قِيْعَانٌ لَا تُمْسِكُ مَاءً وَلَا تُنْبِتُ كَلَاءً فَذٰلِكَ مَثَلُ مَنْ فَقُهَ فِيْ دِيْنِ اللهِ وَنَفَعَهُ مَا بَعَثَنِيَ اللهُ بِهِ فَعَلِمَ وَعَلَّمَ وَمَثَلُ مَنْ لَّمْ يَرْفَعْ بِذٰلِكَ رَأْسًا وَلَمْ يَقْبَلْ هُدَى اللهِ الَّذِيْ أُرْسِلْتُ بِهِ . (متفق عليه)

د حضرت ابوموسى ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه شي مثال چي د هغه سره زه الله رالیږلی يم ، يعني علم او هدايت د ډير باران په ډول دی چي پر مځکه سوی وي د مځکي يوې ښې برخي اوبه قبولي کړې (يعني جذب يې کړې) او وچ واښه په هغه سره شنه سول او په هغه سره ډير نوي واښه پيداسول ، او د مځکي يوه ټوټه داسي سخته وه چي اوبه پر هغه ځای جمع سوې او الله ﷻ د هغه څخه خلکو ته ګټه ورسول خلکو هغه و چښلې او په هغه يې فصلونه اوبه کړل او د باران دا اوبه د مځکي يو بلي داسي ټوټې ته ورسيدې چي وچ ميدان وو نه

يې اوبه راګرزولې او نه يې وابنه زرغونه کړل نو دا هر څه د هغه چا مثال دی چې هغه په علم دين کې پوه سو او کوم شی چې زما په ذريعه الله ﷻ راليږلی وو د هغه څخه يې ګټه تر لاسه کړل نو خپله يې هم زده کړه او خلکو ته يې هم وښودل. او دا د هغه سړي مثال دی چې هغه خپل سر د علم دين لپاره پورته نه کړ او نه يې هغه هدايت قبول کړ چې زما په ذريعه ورته رسيدلی وو. بخاري او مسلم

تشريح: په دغه حديث شريف کې دوه ډول خلک ذکر سوي دي يو خو ددين څخه ګټه اخيستونکی او دوهم ددين څخه ګټه نه اخيستونکی، همداسي په پورتني مثال کې د مځکي دوه ډوله بيان سوي دي د مځکي اول ډول خو دادی چې د اوبو څخه ګټه اخلي او دوهم هغه چې د اوبو څخه هيڅ ګټه نه خلي، بيا دا ګټه اخيستونکي هم دوه ډوله دي اول مځکه زرغونه کونکی او دوهم نه کونکی.

بالکل همداسي د دين د علم څخه ګټه اخيستونکی پر دوه ډوله دی، لومړی هغه سړی چې عالم، عابد، فقيه او معلم هم وي نو پر ده د مځکي د هغه ټوټې مثال صادق راځي چې هغه اوبه په ځان کې جذب کړي خپله يې هم ګټه واخلي او نورو ته يې هم ګټه ورسول، وابنه يې شنه کړل. همدارنګه هغه سړي هم د دين د علم څخه خپله هم ګټه واخيستل او نور يې هم د خپل علم څخه ګټور کړل، دوهم هغه سړی دی چې عالم او معلم وي مګر عابد او فقيه نه وي نه خو هغه نفلونه وغيره کې مشغول اوسي او نه هغه په خپل علم کې پوهه پيدا کړل، د هغه مثال د هغه برخې په ډول دی چې په هغه کې اوبه جمع سوې او خلکو د هغه څخه ګټه پورته کړه يا د مځکي د هغه ټوټې چې هغه اوبه جذب هم کړي او وابنه يې هم شنه کړل. د هغه مجتهدينو مثال دی چې هغوئ علم حاصل کړ بيا د ډيرو مسائلو څېړنه يې وکړل د هغه څخه په خپله يې هم ګټه واخيستل او نورو ته يې هم ګټه ورسول.

او د مځکي د هغه برخي مثال چې په هغه کې اوبه جمع سوې محدثين دي چې هغوئ علم حديث تر لاسه کړ او دا علم يې بعينه نورو خلکو ته ورسوی ددغه دواړو په مقابله کې دوهم سړی هغه دی چې هغه د غرور او تکبر په وجه د الله تعالی ددين په وړاندي خپل غاړه کښته نه کړه نه هغه د علم دين په لور څه توجه وکړل او نه هغه د الله تعالی او د هغه د رسول پيغام واوريدی او نه يې په هغه عمل وکړ او نه يې د علم رڼا نورو ته ورسول، اوس پکار دي چې هغه په دين محمدي کې داخل سي او که نسي او يا کافر وي، د هغه مثال د ډبريني مځکي دی چې نه يې اوبه په ځان کې جذب کړې او نه يې اوبه جمع کړې او نه يې څه شنه کړل.

﴿۱۴۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ تَلاَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (هُوَ الَّذِيْ أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُّحْكَمَاتٌ) وَقَرَأَ إِلَى (وَمَا يَذَّكَّرُ إِلاَّ أُولُو الْأَلْبَابِ) . قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا رَأَيْتَ وَعِنْدَ مُسْلِمٍ رَأَيْتُمُ الَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ فَأُوْلٰئِكَ الَّذِيْنَ سَمَّاهُمُ اللّٰهُ فَاحْذَرُوْهُمْ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ (هوالذي انزل...) (دا هغه الله دی چي پر تا يې كتاب نازل کړ په دې كي محكم (ټينګ) آياتونه دي ....) بي بي عائشة فرمايي (د دې آيت په ويلو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي ته ووينې (او د مسلم په يوه روايت كي دي) هر كله چي تاسو ووينئ چي خلك په متشابه آياتونو پسې دي (متشابه هغه آياتونه دي چي د هغه معنا يوازي الله تعالى ته معلومه وي) نو ته پوه سه چي دا هغه خلك دي چي د هغوئ نوم الله ﷻ (ګمراه) ايښی دی او د دوئ څخه ځان ساته . بخاري ومسلم

تشريح : د آيت كريمه پاته برخه داده :

هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاء الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاء تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلاَّ اللّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلاَّ أُوْلُواْ الألْبَابِ ۷ سورة آل عمران.

ژباړه : او دغه (آيات محكمات) اصل كتاب وي او ځيني آيتونه متشابه دي داسي خلک چي د هغوئ په زړونو كي كوږوالی دی هغوئ د متشابهاتو اتباع كوي چي فتنه خپره كړي او اصلي مراد تر لاسه كړي حال دا چي اصلي مراد د الله تعالى څخه پرته هيڅوک نه پيژني او كوم خلک چي په علم كي كامل پوهه لري هغوئ دا وايي چي موږ پر دې ايمان راوړ دا ټول زموږ د پروردګار د لوري دي او نصيحت خو عقلمند خلک قبلوي .

ددغه حديث شريف څخه څرګنده سوه چي كوم خلک په آيات متشابهات پسي لګيدلي دي او د هغه اصلي مقصد تر لاسه كولو لپاره د خپل عقل غشي چلوئ هغوئ ته الله تعالى كاږه يعني ګمراه ويلي دي څرنګه چي د پورتني آيت (فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ) څخه معلومه سوه .

حاصل د كلام دادی چي په قرآن كريم كي دوه ډوله آياتونه دي لومړی آيات محكمات ، دا هغه آياتونه دي چي د هغه معنا او مطلب څرګند وي په هغه كي ابهام او پټه خبره نه وي ، دوهم : آيات متشابهات دي چي د هغه معنا څرګنده نه وي بلكه د هغه د حقيقي مراد علم يوازي الله ﷻ

ته وي لکه (ید الله فوق ایدیهم) او داسي نور.

نوکوم خلک چي صالح او نیک دي او د هغوئ زړونه د ایمان او یقین په رڼا سره په پوره توګه منور دي نو هغوئ د آیات محکمات په معنا او مطلب هم پوهیږي او ایمان هم پر راوړي او پر آیات متشابهات باندي په پوره رسوخ او ایمان سره د ایمان سره د هغه معنا او مطالب د حقیقي مراد علم الله تعالی ته حواله کوي چي هغه غوره پوه دی.

﴿۱۴۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنَ عَمْرٍو قَالَ هَجَّرْتُ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا قَالَ فَسَمِعَ أَصْوَاتَ رَجُلَيْنِ اخْتَلَفَا فِيْ آيَةٍ فَخَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْرَفُ فِيْ وَجْهِهِ الْغَضَبُ فَقَالَ إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِاخْتِلَافِهِمْ فِي الْكِتَابِ . رواه مسلم .

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چي یوه ورځ زه د عرفات په وخت کي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم نو رسول الله ﷺ د دوو کسو آوازونه واورېدل چي په یو (متشابه) آیت کي یې بحث کاوه. رسول الله ﷺ زموږ لوري ته تشریف راوړ او دغه وخت د رسول الله ﷺ پر مبارک مخ د غصې نښې ښکاره وې ، رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو څخه وړاندي چي کوم خلك وه هغوئ د الله په کتاب کي اختلاف کاوه له دې کبله هغوئ هلاك سول .مسلم.

تشریح: د دې څخه مراد هغه اختلاف دی چي د هغه په وجه زړونه په شک او شبه کي اخته وي ، یا په ایمان کي کمزوري پیدا وي او په خپل منځ کي د فتنې، فساد او دښمنۍ سبب او د کفر او بدعت باعث وي لکه په نفس قرآن کي اختلاف کول، د دې په معنا او مطالبو کي فرق کوي .

ښکاره ده چي په دغه شیانو کي نه خو اجتها جائز دی او نه اختلاف کول ، مګر د علماؤ او مجتهدینو اختلاف جائز دی چي د الله تعالی د رحمت باعث او په دین او شریعت کي د وسعت ذریعه ده ، د صحابه کرامو څخه دا ډول اجتهادي اختلاف چي ګڼ وي منقول دي چي جائز وه او د هغه په وجه د بې شمېره مسائلو پلټنه وسول او امت د هغه ګټي څخه برخمن سو .

﴿۱۴۵﴾:وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَعْظَمَ الْمُسْلِمِيْنَ فِي الْمُسْلِمِيْنَ جُرْمًا مَنْ سَأَلَ عَنْ شَيْءٍ لَمْ يُحَرَّمْ عَلَى النَّاسِ فَحُرِّمَ مِنْ أَجْلِ مَسْأَلَتِهِ .(متفق علیه)

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په مسلمانانو کي تر ټولو لوی ګناهکار هغه څوك دی چي د یو شي په اړه پوښتنه وکړي کوم چي پر خلکو حرام نه وي مګر د هغه د پوښتني کولو له کبله هغه حرام کړل سي . بخاري او مسلم .

تشريح : دا سزا د هغه خلكو لپاره ده چي د رسول الله ﷺ څخه به يې د سركښۍ په وجه پوښتني كولې يا د هغوئ پوښتنه كول به يوازي د تصنع (ځان ښودني) په وجه وه لكه څرنگه چي بني اسرائيلو د بقره (غوا) په اړه د حضرت موسى عليه السلام څخه پوښتني كولې، مگر كه چيري د خلكو پوښتني كول د علم تر لاسه كولو يا د يو ضرورت په وجه وي نو هغه په دې كي داخل نه دي ځكه چي هغوئ ته خو به د خپل صحيح سوالونو په وجه ثواب تر لاسه كيدى.

﴿۱۴۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكُوْنُ فِيْ آخِرِ الزَّمَانِ دَجَّالُوْنَ كَذَّابُوْنَ يَأْتُوْنَكُمْ مِنَ الْأَحَادِيْثِ بِمَا لَمْ تَسْمَعُوْا أَنْتُمْ وَلَا آبَاؤُكُمْ فَإِيَّاكُمْ وَإِيَّاهُمْ لَا يُضِلُّوْنَكُمْ وَلَا يَفْتِنُوْنَكُمْ .رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :په آخره زمانه كي به داسي ټگان او درواغجن خلك وي چي تاسو ته به داسي حديثونه راوړي كوم چي نه به تاسو اوريدلي وي او نه به ستاسو پلرونو او نيكه گانو، نو د داسي خلكو څخه ځان وژغورئ او ځان ته يې نژدې مه پريږدئ چي نه تاسو گمراه كړي او نه مو په فتنه كي واچوي. مسلم .

تشريح : د حديث شريف مطلب دادى چي په آخره زمانه كي به داسي چم باز او دوكه وركونكي خلك پيدا سي چي د زهد او تقوا د لباس په اغوستلو سره به خلك غلوي، عوامو ته به وايي چي موږ د علماؤو او شيوخو څخه يو او تاسو د الله تعالى د دين په لور رابولو او د درواغو حديثونه به د خپل ځان څخه په جوړوي او د خلكو په وړاندي به يې بيانوي، يا د تيرو بزرگانو په اړه غلطي خبري منسوب كولو سره خلكو ته دوكه وركوي، باطل حكمونه به ښيي او غلطي عقيدې به په خلكو كي خپروي، نو مسلمانانو ته پكار ده كه داسي خلك ويني نو د هغوئ څخه دي ځان ساتي، داسي نه چي هغوئ په خپل مكر او فريب سره خلك په فتنه كي واچوي، يعني په شرك او بدعت يې اخته كړي

د دې حكم مطلب دادى چي د دين په تر لاسه كولو كي احتياط پكار دى او د بدعت او داسي خلكو د صحبت څخه ځان ساتل پكار دي چي د ذاتي مقصدونو او نفساني خواهشاتو په وجه د دين او مذهب په نامه خلكو ته دوكه وركوي او د هغوئ سره ارتباط او تعلق ساتل نه دي پكار.

چون بسا ابليس آدم روئي هست — پس بهر دستي نبايد داد دست

﴿۱۴۷﴾ : وَعَنْهُ قَالَ كَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يَقْرَؤُوْنَ التَّوْرَاةَ بِالْعِبْرَانِيَّةِ وَيُفَسِّرُوْنَهَا بِالْعَرَبِيَّةِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تُصَدِّقُوْا أَهْلَ الْكِتَابِ وَلاَ تُكَذِّبُوْهُم وَ(قُوْلُوْا آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا الآية . رواه البخاري .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي اهل کتابو به تورات په عبراني ژبه لوستی او د مسلمانانو په مخکي به يې د هغه ژباړه او تفسير په عربي ژبه کول، رسول الله ﷺ ته چي دا څرګنده سوه نو وه يې فرمايل : تاسو اهل کتاب رښتني مه ګڼئ او مه يې درواغجن ګڼئ او دا واياست چي موږ پر الله او پر هغه شی چي الله پر موږ نازل کړی دی ايمان را وړی دی . بخاري .

تشريح : پوره آيت دادی :

قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَقَ وَيَعْقُوبَ وَالأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَى وَعِيسَى وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ۱۳۶ .

سورة البقرة.

ژباړه : (اې مؤمنانو !) وواياست چي موږ پر الله تعالى ايمان راوړ او پر هغه کتاب چي پر موږ نازل سوی دی او پر هغه صحيفو چي پر ابراهيم، اسماعيل، او يعقوب (عليهم السلام) او د هغوئ پر اولاد نازل سوي دي او پر هغه کتابونو چي موسی ﷺ او عيسی ﷺ ته ورکړل سوی دي او چي نورو پيغمبرانو ته د هغوئ د پروردګار د لوري حاصل سول پر هغو ټولو مو ايمان راوړ موږ په هغه پيغمبرانو کي په هيڅ يوه کي فرق نه کوو او موږ د هغه (يوه الله ﷻ) فرمانبرداريو .

د رسول کريم ﷺ د ارشاد مطلب دادی چي هر کله ستاسو په وړاندي اهل کتاب (يهوديان) د تورات د يو عبارت ترجمه او تفسير وکړي نو تاسو درواغ مه ورته واياست او مه يې رښتيا ګڼئ بلکه دا آيت واياست او هغوئ رښتوني ځکه مه ګڼئ چي دا خلک په کتاب الله کي رد او بدل کوي ځکه نو کيدای سي چي ستاسو په وړاندي هغوئ د کوم عبارت ترجمه او تفسير کوي هغه يې بدل کړی وي، او درواغجن ورته ځکه مه واياست که څه هم هغوئ په تورات کي رد او بدل کړی دی مګر بيا هم هغه الهي کتاب دی او حق دی ځکه نو کيدای سي چي شايد هغوئ رښتوني او صحيح عبارت نقل کړی وي .

﴿۱۴۸﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَفٰى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د انسان د درواغو ويلو لپاره دا خبره بس ده چي کومه خبره واوري هغه نقل کړي . (يعني

تحقیق یې ونه کړي) . مسلم .

تشریح : مطلب دادی چې که دروا‌غ نه وایي مګر د هغه عادت دا دی چې څه واوري نو پرته د تحقیق او پلټنې څخه هغه نقل کوي او په خلکو کې هغه مشهوره کوي نو د درواغ ویلو لپاره داکافي دي ځکه چې پر اوریدلې خبرې باندې باور کول او بې پلټنې هغه خپرول د درواغو لومړنی زینه ده ، کوم سړی چې په داسې عادت کې اخته وي هغه به یقینا د درواغو په لعنت کې ګرفتار وي ځکه چې هغه څه اوري په هغه کې ټول رښتیا نه وي څه درواغ هم پکښې وي او هر کله چې هغه په رښتیا سره درواغ نقل کوي نو هغه درواغ وي ، په اصل کې ددې مقصد ددې خبرې څخه منعه کول دي چې د کوم شی حقیقت معلوم نه وي نو هغه بیانول یا د هغه نشر کول باید ونه سي .

﴿۱۴۹﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ نَبِيٍّ بَعَثَهُ اللّٰهُ فِيْ أُمَّتِهٖ قَبْلِيْ إِلاَّ كَانَ لَهُ مِنْ أُمَّتِهٖ حَوَارِيُّوْنَ وَأَصْحَابٌ يَأْخُذُوْنَ بِسُنَّتِهٖ وَيَقْتَدُوْنَ بِأَمْرِهٖ ثُمَّ إِنَّهَا تَخْلُفُ مِنْ بَعْدِهِمْ خُلُوْفٌ يَقُوْلُوْنَ مَا لاَ يَفْعَلُوْنَ وَيَفْعَلُوْنَ مَا لاَ يُؤْمَرُوْنَ فَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِيَدِهٖ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِلِسَانِهٖ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِقَلْبِهٖ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَيْسَ وَرَاءَ ذٰلِكَ مِنَ الْإِيْمَانِ حَبَّةُ خَرْدَلٍ . رواه مسلم .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : زما څخه وړاندې په هیڅ یو قوم کې الله یو نبي داسې نه دی رالیږلی چې د هغه قوم څخه د هغه مرستیالان او دوستان نه وي (داسې مرستیالان او دوستان) چې د هغه د طریقو پیروي او د هغه د احکامو پوره اطاعت کوي ، بیا د هغو وروسته داسې نالائقه خلك پیداسول هغو خلکو به داسې خبره کوله چې خپله به یې عمل نه په کاوه ، او هغه کار به یې کاوه چې د هغه حکم به نه وو ورکړل سوی ، نو چا چې (ستاسو څخه) د دې خلکو سره د لاس جهاد وکړ هغه مؤمن دی او چا چې په ژبه ورسره جهاد وکړ هغه مؤمن دی او چا چې په زړه ورسره جهاد وکړ هغه مؤمن دی او ددې وروسته (یعني څوك چې د هغوئ پر خلاف دومره هم ونه کړي چې په زړه جهاد ورسره وکړي) په هغه کې د اوري د دانې په اندازه هم ایمان نسته .مسلم.

تشریح : د لاس د جهاد څخه مطلب خو څرګند دی ، د ژبې د جهاد معنا دا ده چې خلکو ته د غلطو عقیدو او عملونو په وجه تنبیه ورکړي او د هغه څخه یې منعه کړي او د هغه خرابي بیانوي ، همدارنګه په زړه سره د جهاد معنا داده چې داسې غلط شیان بد وګڼي کوم چې ددین او شریعت خلاف وي او په زړه سره د هغه د کونکو سره بغض و نفرت وکړي .

په پای کي وفرمایل سول چي د کوم سړي احساس دومره مړ سي چي هغه غلط شیان په زړه سره هم بد ونه ګڼي نو د هغه واضح مطلب به دا وي چي د هغه په زړه کي د ایمان معمولي رڼا هم موجود نه ده ځکه یو غلطه عقیده او بد عمل بد نه ګڼل لکه چي دديې خبري اظهار کول دي چي هغه په دغه خرابي راضي او خوشحاله دی او ښرګنده ده چي دا د کفر خاصیت دی.

﴿۱۵۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُوْرِ مَنْ تَبِعَهُ لاَ يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شَيْئًا وَمَنْ دَعَا إِلىٰ ضَلاَلَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلَ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ لاَ يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د هدايت دعوت ورکړي هغه ته به دومره ثواب ورکول کیږي څومره چي په هغه عمل کونکي ته ورکول کیږي او د هغه (اطاعت کونکي) د اجر څخه به هیڅ هم نه کمیږي، او څوك چي د ګمراهۍ دعوت ورکړي د هغه به هغومره ګناه وي څومره چي په هغه د عمل کونکي وي او د هغه د ګناه څخه به هیڅ نه کمیږي . مسلم .

تشريح : يعني کوم سړی چي د یو نیکۍ باعث وي نو هغه ته به هم هغومره ثواب تر لاسه کیږي څومره چي پر هغه نیکۍ باندي عمل کونکي ته ورکول کیږي ، مګر د هدایت او نیکۍ په لور بلونکي ته چي کوم ثواب تر لاسه کیږي د هغه په وجه د هغه د پیروي کونکي په ثواب کي هیڅ کمي نه کیږي ځکه چي اطاعت کونکو ته چي کوم ثواب ورکول کیږي د هغه د عمل صالح په وجه ورته تر لاسه کیږي او کوم ثواب چي د نیکۍ بلونکي ته ورکول کیږي هغه به د هغه د دعوت او تبلیغ په وجه وي ، او همدا حال د هغه خلکو د ګناه هم دی چي خلک د غلطو عقېدو او غلطو اعمالو په لور رابولي او شریعت پر خلاف طریقو باندي عوام روانوي .

﴿۱۵۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَأَ الْإِسْلَامُ غَرِيْبًا وَسَيَعُوْدُ كَمَا بَدَأَ فَطُوْبٰى لِلْغُرَبَاءِ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :اسلام په غریبانو کي پیل سو او په پای کي به هم (يعني په پای کي هم اسلام په غریبانو کي پاته سي) نو د غریبانو لپاره زیری دی . مسلم .

تشريح : مطلب دادی چي د اسلام پیل د غریبانو (مسکینانو) څخه وسو او په پای کي به هم اسلام په غریبانو کي پاته سي ، يعني د اسلام په پیل کي مسلمانان غریب او کم وه چي د هغه په وجه هغوئ خپل هیواد پرېښودو سره د نورو هیوادونو په لور هجرت وکړ ، همداسي په پای کي به هم داسي وي چي اسلام به دغریبانو په لور بیرته راسي نو د غریبانو لپاره چي د هغوئ زړونه د ایمان

او اسلام په رڼا سره پوره منور وي زيرى او سعادت دى ، ځکه چي په آخره زمانه کي به دا غريبان پر اسلام ثابت قدمه وي او د کتاب او سنت علوم او معارف سره به خپل ژوند روښانه کړي .

﴿۱۵۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْإِيْمَانَ لَيَأْرِزُ إِلَى الْمَدِيْنَةِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا (متفق عليه) وَ سَنَذْكُرُ حَدِيْثَ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ذَرُوْنِيْ مَا تَرَكْتُمْ فِيْ كِتَابِ الْمَنَاسِكِ وَحَدِيْثَيْ مُعَاوِيَةَ وَجَابِرٍ لَا يَزَالُ مِنْ اُمَّتِيْ وَلَايَزَالُ طَائِفَةٌ مِّنْ اُمَّتِيْ، فِيْ بَابِ ثَوَابِ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايمان به د مدينې په لور داسي را ټول سي لکه څرنګه چي مار خپل سوري ته را ټوليږي (بخاري اومسلم) موږ به د حضرت ابوهريرة حديث (ذروني ماترکتم) په کتاب المناسك کي راوړو او دوه حديثونه د حضرت معاويه او جابر چي (لايزال من امتي ...) څخه شروع کيږي په باب ثواب هذه الامة کي انشاء الله ذکر کړو.

تشريح : د اسلام د دښمنانو د مصيبتونو او ظلمونو څخه د اهل اسلام تښتېدل او پر ايمان ثابت قدم اوسيدو مثال رسول الله ﷺ په مار سره ورکړى دى ځکه چي د نورو حيوانانو په مقابله کي مار تښتي او په ډېر راټولېدو سره په خپل غار کي ننوځي ، بيا هغه په مشکل سره د غار څخه را ايستل کيږي ، د رسول الله ﷺ وړاند وينه يا خو د هجرت د پيل د وخت لپاره وه او يا د آخري زمانې په باره کي ده ، هر کله چي مسلمانان به ډېر کم پاته سي او ټول به په راټولېدو سره مدينې منورې ته ولاړ سي .

الفصل الثاني

﴿۱۵۳﴾: عَنْ رَّبِيْعَةَ الْجُرَشِيِّ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقِيْلَ لَهُ لِتَنَمْ عَيْنُكَ وَلْتَسْمَعْ اُذُنُكَ وَلْيَعْقِلْ قَلْبُكَ قَالَ فَنَامَتْ عَيْنَايَ وَسَمِعَتْ اُذُنَايَ وَعَقَلَ قَلْبِيْ قَالَ فَقِيْلَ لِيْ سَيِّدٌ بَنٰى دَارًا فَصَنَعَ فِيْهَا مَاْدُبَةً وَأَرْسَلَ دَاعِيًا فَمَنْ أَجَابَ الدَّاعِيَ دَخَلَ الدَّارَ وَأَكَلَ مِنَ الْمَاْدُبَةِ وَ رَضِيَ عَنْهُ السَّيِّدُ وَمَنْ لَمْ

د حضرت ربيعة[1] الجرشي ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ ته په خوب کي ملائکي وښودل سوې هغه ملائکو ده مبارك ته وويل پکار دي چي ستاسو سترګي بيدې وي او ستاسو غوږونه اوري او ستاسو زړه پوهيږي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : نو زما سترګي بيدې وي او زما غوږونو واورېدل او زما زړه په پوه سو بيا رسول

[1] د نوموړى نوم ربيعه بن النمار دى او ځيني خلکو ربيعه بن عمرو هم ليکلى دى ، د نوموړي په صحابي کېدو کي اختلاف د ، نوموړى د خرج راهط په ورځ وفات سوى دى .

يُجِبِ الدَّاعِيَ لَمْ يُدْخِلِ الدَّارَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنَ الْمَادُبَةِ وَ سَخِطَ عَلَيْهِ السَّيِّدُ قَالَ فَاللّٰهُ السَّيِّدُ وَمُحَمَّدٌ الدَّاعِيُ وَالدَّارُ الْإِسْلَامُ وَالْمَادُبَةُ الْجَنَّةُ . رواه الدارمي

الله ﷺ وفرمايل د مثال په ډول ملائكو زما په وړاندي بيان وكړ چي يو سردار كور جوړ كړ او ميلمستيا يې تياره كړه او يو بلونكى يې ولیږی نو چا چي د هغه بلونكي بلنه ومنل نو هغه كور ته داخل سو او پر دسترخوان يې خوراك وخوړی او سردار د هغه څخه خوشحاله سو او چا چي د بلونكي خبره ونه منل هغه نه دغه كور ته داخل سو او نه يې د دسترخوان څخه خوراك وكړ او سردار هم د هغه څخه ناخوښ سو ، رسول الله ﷺ وفرمايل په دې مثال كي د سردار څخه مراد الله تعالى دى او د بلونكي څخه مراد محمد ﷺ دى د كور څخه مراد اسلام دى او د دسترخوان څخه مراد جنت دى . دارمي .

تشريح : پكار دي چي ستاسو ستركي بيدې سي يعني په خپلو ستركو سره نور هيڅ مه وينئ مد پر يو خبره غوږ ايږدئ او په مه په زړه كي يو بل سوال پيدا كوئ ، د ملائكو د ويلو مطلب دا وو چي په ښه غور او فكر او د زړه په حضور سره دا مثال واوره كوم چي موږ بيانوو ، يو دا چي په ښه ډول په ذهن كي راسي په دې سره رسول الله ﷺ جواب وركړ چي (فنامت عيناي) يعني زما ستركي بيدې سوي دي ... الخ،. د دې مضمون په هغه حديث كي چي په مخكي فصل كي تير سو ، په ذكر سوي مثال كي د كور څخه مراد جنت او د غلې څخه مراد ذ جنت نعمتونه اخيستل سوي دي په دغه حديث كي د كور څخه مراد اسلام او د غلې څخه مراد جنت اخيستل سوى دى ځكه چي مكان د جنت د داخلېدو دپاره سبب او ذريعه ده ځكه نو دې ته په كور سره تمثيل وركړل سوى دى د (مادبة) معنا د ميلمه د خوراک ده ، په دواړو حديثو كي د دې څخه مراد د جنت نعمتونه دي .

﴿۱۵۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ رَافِعٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ مُتَّكِئًا عَلَىٰ أَرِيْكَتِهِ يَأْتِيْهِ الْأَمْرُ مِنْ أَمْرِيْ مِمَّا أُمِرْتُ بِهِ أَوْ نَهَيْتُ عَنْهُ فَيَقُوْلُ لَا أَدْرِيْ مَا وَجَدْنَا فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ اِتَّبَعْنَاهُ . رواه أحمد وأبو داود

د حضرت ابورافع[1] ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه دي هيڅوك په تاسو كي په دې حال ونه وينم چي هغه په چپركټ كي تكيه وهلې وي او زما د هغه احكامو چي د هغو ما حكم وركړى وي يا د كوم څخه چي مي منعه كړى وي يو حكم هغه ته راسي ا و هغه دا وايي چي زه په هيڅ

[1] د نوموړي نوم اسلم او كنيت يې ابورافع دى د بدر په غزا كي شريك سوى نه دى ، د علامه سيوطي رح د قول سره سم د حضرت علي ﷺ د خلافت په زمانه كي وفات سوى دى .

والترمذي وابن ماجه والبيهقي في دلائل النبوة. | نه پوهیږم څه چي مو د الله په کتاب کي پیدا کړل د هغه اطاعت وکړه. احمد، ابوداؤد، ترمذي او بیهقي په دلائل النبوة کي.

تشریح: پر چپرکټ باندي د تکیه کولو مطلب دادی چي یو سړی د غرور او تکبر په وجه بې فکره ناست وي او نه په طلب د علم او حصول د حدیث کي کوتاهي وکړي او نه دیني علم پرېږدي او د جهالت او نافرمانۍ له مخي زما د یو داسي حکم په باره کي چي په قرآن کریم کي په صراحت سره موجود نه وي دا ووایي چي د کتاب الله څخه پرته زه نور په هیڅ نه پوهیږم او نه د هغه څخه پرته د یو بل شي پیروي کوم، په حدیث شریف کي رسول الله ﷺ د هغه جاهلو او متکبرو بې پروا خلکو په باره کي وړاند وینه فرمایلې ده چي هغه پر احکامو باندي په عمل کولو کي د شک او شبهې اظهار وکړي یا د هغه په اطاعت کي سستي ښکاره کړي چي په صراحت سره په قرآن کریم کي موجود نه وي او د هغوئ ښکاره نظرونه د قرآني د قرآني علومو او اسرارو او معانیو د حقیقت ته رسیدو څخه قاصر وي.

هغه خلک دا خیال کوي چي د دین او شریعت احکام او مسائل یوازي په قرآن کریم کي منحصر او مذکور دي حال دا چي هغوئ د عقل ړانده په دې نه پوهیږي چي ډېر مسایل او احکام په قرآن کریم کي موجود نه دي هغه یوازي په حدیث کي په صراحت سره ذکر سوي دي ځکه نو د علماء اهل سنت والجماعة عقیده داده چي څرنګه چي د شریعت د احکامو لپاره قرآن کریم دلیل او حجت دی همداسي حدیث هم دلیل او حجت دی، ځکه څرنګه چي قرآن کریم پر رسول الله ﷺ نازل سوی دی همداسي د حدیثو علوم او معارف هم د الله تعالی د لوري نازل سوي دي او دا دواړه وحي دي.

﴿۱۵۵﴾: وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيْ كَرِبَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا إِنِّي أُوْتِيْتُ الْقُرْآنَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ أَلَا يُوْشِكُ رَجُلٌ شَبْعَانُ عَلَى أَرِيْكَتِهِ يَقُوْلُ عَلَيْكُمْ بِهٰذَا الْقُرْآنِ فَمَا وَجَدْتُمْ فِيْهِ مِنْ حَلَالٍ فَأَحِلُّوْهُ وَمَا وَجَدْتُمْ فِيْهِ

د حضرت مقدام[1] بن معدیکرب څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: خبردار! ما ته قرآن او ددې په مثل راکړل سوي دي خبردار اوسئ چي ډېر ژر به یو ډک نسی پر خپل چپرکټ پروت وي او وایي به چي بس هم دا قرآن لازم وګڼئ کوم شی چي تاسو په قرآن کي حلال پیدا کړي هغه حلال وګڼئ

[1] د نوموړي نوم مقدام بن معدیکرب او کنیت یې کریم دی، نوموړی صحابي دی د (۹۱) کالو په عمر په شام کي په کال (۸۷هـ) کي وفات سوی دی رضي الله عنه.

مِنْ حَرَامٍ فَحَرِّمُوْهُ وَإِنَّ مَا حَرَّمَ رَسُوْلُ اللهِ كَمَا حَرَّمَ اللهُ أَلاَ لاَ يَحِلُّ لَكُمُ الْحِمَارُ الْأَهْلِيُّ وَلاَكُلُّ ذِيْ نَابٍ مِّنَ السِّبَاعِ وَلاَ لُقَطَةُ مُعَاهِدٍ إِلاَّ أَنْ يَّسْتَغْنِيَ عَنْهَا صَاحِبُهَا وَمَنْ نَزَلَ بِقَوْمٍ فَعَلَيْهِمْ أَنْ يَّقْرُوْهُ فَإِنْ لَّمْ يَقْرُوْهُ فَلَهُ أَنْ يُّعْقِبَهُمْ بِمِثْلِ قِرَاهُ .
رواه أبو داود، وروى الدارمي نحوه وكذا ابن ماجه إلى قوله كَمَا حَرَّمَ اللهُ .

او کوم چي حرام پیداکړئ هغه حرام وګڼئ . حالنکه واقعیت دادی چي رسول الله ﷺ څه حرام کړي دي هغه په دا ډول دي لکه الله تعالی چي حرام کړي دي ، خبردار اوسئ ! چي ستاسو لپاره کورنی خر حرام دی او همداسي هر څیروونکی حیوان (زمری، لیوه، سپی ....) حرام دي، او ستاسو لپاره د معاهد شی (یعني د هغه قوم شی چي د هغوئ سره معاهده سوې وي) حرام دی خو هغه شی چي د مالك څه پروا پر نه وي او څوك چي د یو قوم میلمه سي نو پر هغه قوم لازم دي چي د هغه مېلمستیا وکړي او که هغوئ یې مېلمستیا ونه کړي نو هغه لره جائز ده چي د مېلمستیا مطابق (خوراك او څیښاك) د هغه څخه تر لاسه کړي . ابوداؤد او دارمي هم داسي روایت کړی دی او همدا ډول ابن ماجه تر (څنګه چي الله حرام کړي دي) پوري روایت کړی دی .

تشریح : د قرآن مثل حدیث دي یعني څرنګه چي قرآن کریم پر ما نازل سوی دی همداسي حدیث هم ما ته د الله تعالی څخه راکړل سوي دي، مګر فرق دادی چي قرآن وحي ظاهر دی او حدیث وحي پټ، نو واجب العمل دواړه دي، د (الا لایحل) څخه د مثال په توګه رسول الله ﷺ وفرمایل چي ددغه شیانو حرمت په قرآن کریم کي مذکور نه دی او ما ددې حرمت بیان کړی دی چي په هغه عمل کول واجب او ضروري دي .

کورنی خر هغه ته وایي چي په کور کي اوسیږي دا حرام دی ، وحشي (ځنګلي) خر چي هغه ته ګور خر هم وایي ددې تولو حراموالی د احادیثو څخه ثابت دی ، معاهد هغه کافر ته وایي د چا سره چي د مسلمانانو معاهده ، صلحه او امان سوی وي که هغه کافر ذمي وي یا غیر ذمي وي، د هغه په اړه وفرمایل سول چي دد هغه لقطه حلاله نه ده مګر که چیري لقطه (ایله سوی شی) داسي شی وي چي د هغه څخهٔ د هغه شي مالك بې نیازه او بې پرواه وي لکه هډوکي، پوستکي، زردکي، مولی یا داسي حقیر شی نو د هغه اخیستل جائز دي ، لقطه هغه شي ته وایي چي په لار کي غورځول سوی پیداسي .

په پای وفرمایل سول چي کوم سړی د چا سره میلمه سي نو پر کوربه باندي د هغه میلمستیا لازمه ده ، علماء وایي چي دا حکم فرض نه دی بلکه داسي کول مستحب او غوره دي

او داسي حكم وركول كه كوربه ميلمستيا ونه كړي نو ميلمه ته جائز ده چي د هغه كوربه څخه د ميلمستيا عوض تر لاسه كړي يعني د هغه څخه روپۍ واخلي.

په دې اړه ويل كيږي چي دا مسئله خو به يا په داسي شكل كي جائز وي چي كله ميلمه داسي لاچاره وي كه چيري د كوربه څخه هغه شی نه واخلي نو د هغه د هلاكېدو خطره وي، يا داسي ويل كيږي چي د جواز دغه حكم د اسلام په پيل كي وو او اوس منسوخ دی.

﴿۱۵۶﴾: وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ قَالَ قَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيَحْسَبُ أَحَدُكُمْ مُتَّكِأً عَلَى أَرِيْكَتِهِ يَظُنُّ أَنَّ اللهَ لَمْ يُحَرِّمْ شَيْئًا إِلاَّ مَا فِيْ هٰذَا الْقُرْآنِ أَلاَ وَإِنِّيْ وَاللهِ قَدْ أَمَرْتُ وَوَعَظْتُ وَنَهَيْتُ عَنْ أَشْيَاءَ إِنَّهَا لَمِثْلُ الْقُرْآنِ أَوْ أَكْثَرُ وَإِنَّ اللهَ لَمْ يُحِلَّ لَكُمْ أَنْ تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلاَّ بِإِذْنٍ وَّلاَ ضَرْبَ نِسَائِهِمْ وَلاَ أَكْلَ ثِمَارِهِمْ إِذَا أَعْطَوْكُمُ الَّذِيْ عَلَيْهِمْ. رواه أبو داود، وفي إسناده أشعث بن شعبة المصيصي قَدْ تُكُلِّمَ فِيْهِ.

د حضرت عرباض[1] بن ساريه ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ (د خطبې لپاره) ودرېدی او وه يې فرمايل: ايا په تاسو كي يو څوك پر خپل چپركټ تكيه لګولی دا خيال كوي چي الله تعالی كوم شيان حرام كړي دي هغه دي په قرآن كي موجود وي، خبردار اوسئ! په الله دي مي قسم وي چي ما حكم وركړ، نصيحت مي وكړ او د څو شيانو څخه مي منعه وكړل او هغه د قرآن په ډول دي بلكه زيات او البته الله تعالی دا نه دي حلال كړي چي تاسو د هغوئ كورو ته بې اجازې ور سئ او نه ستاسو لپاره د هغوئ ښځي وهل جائز دي او نه د هغوئ ميوې خوړل جائز دي هر كله چي اهل كتاب خپله هغه مطالبه ادا كړي چي د هغوئ پر ذمه وه. ابوداؤد.

تشريح: په (وَإِنَّ اللهَ لَمْ يُحِلَّ.... الخ) كي رسول الله ﷺ څو احكام وركړي دي هغه دا چي د اهل كتابو په كورونو كي د هغوئ د اجازې څخه پرته په داخلېدو سره هغوئ ته تكليف مه وركوئ او مه هغوئ پريشان كوئ او مه د هغوئ كورنۍ په تكليف كوئ او مه يې تنګوئ، همداسي د هغوئ مال مه اخلئ هر كله چي هغوئ جزيه ادا كوي.

د ارشاد مقصد دادی چي دا احكام په قرآن كريم كي موجود نه دي بلكه ما دركړي دي او ددغه شيانو څخه ما منعه كړې ده او پر هغه عمل كول واجب او ضروري دي، ددغه احكامو څخه په دې وجه مخ نسي اړول كيدای چي دا په قرآن كريم كي موجود نه دي ځكه نو واجب

[1] د نوموړي كنيت ابونجيح دی او اسلمي دی، نوموړی د اهل صفه څخه وو، د هغه څخه د تابعينو يو لوی ډلي حديثونه روايت كړي دي. په كال (۷۵هـ) كي وفات سوی دی.

العمل نه دي ، په آخر روايت كي د لفظ (رواه) څخه وروسته د مشكوة په اصلي نسخه كي ځاى خالي دى ځكه چي صاحب مشكوة ته به ددې حديث د راوي علم نه وو مگر وروسته ميرک شاه صاحب مذكور عبارت ليكلى دى .

﴿۱۵۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَوَعَظَنَا مَوْعِظَةً بَلِيْغَةً ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُوْنُ وَوَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوْبُ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَأَنَّ هٰذِهِ مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ فَأَوْصِنَا فَقَالَ أُوْصِيْكُمْ بِتَقْوَى اللهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا فَإِنَّهُ مَنْ يَّعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِيْ فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيْرًا فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ تَمَسَّكُوْا بِهَا وَعَضُّوْا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُوْرِ فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ . رواه أحمد وأبو داود والترمذي وابن ماجه إلاَّ أَنَّهُمَا لَمْ يَذْكُرَا الصَّلَاةَ .

د حضرت عرباض بن ساريه ﷺ څخه روايت دى يوه ورځ رسول الله ﷺ زموږ سره لمونځ وكړ بيا رسول الله ﷺ زموږ لوري ته مخ كړ كښېناست او موږ ته يې په ډيرو اثرناكو الفاظو كي نصيحت وكړ چي زموږ د سترگو څخه اوښكي رواني سوې او په زړونو كي مو بيره پيدا سول . نو په موږ كي يو سړي عرض وكړ اې دالله رسوله ! (شايد) دا آخري وصيت دى تاسو موږ ته څه نور وصيت وفرماياست، رسول الله ﷺ وفرمايل : زه تاسو ته وصيت كوم چي د الله څخه و بيريږئ او تاسو ته د اوريدو او اطاعت كولو وصيت كوم اگر كه تاسو ته د يو حبشي غلام اطاعت كول سي په تاسو كي چي څوك زما وروسته ژوندى پاته سي هغه به لوى اختلاف ويني په داسي حالت كي پرتاسو لازمه ده چي زما د نورو هدايت يافته خلفاء راشدينو طريقه په ټينگه ونيسئ پر هغه (طريقه) يقين ولرئ او هغه د زامي په غاښونو سره ټينگه ونيسئ او تاسو په دين كي د نوي شي پيدا كولو څخه ځان وژغورئ ځكه چي هر نوې خبره بدعت دى او هر بدعت گمراهي ده . احمد ، ابوداؤد ، ترمذي، ابن ماجه مگر په دغه روايت كي ترمذي او ابن ماجه د لمانځه ذكر نه دى كړى .

تشريح : د راوي دا قول (كَأَنَّ هٰذِهِ مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ) لكه چي د رخصت كونكي آخرت نصيحت دى، مطلب دا چي څرنگه يو سړى سفر كونكى وي نو د رخصت په وخت كي د وعظ او نصيحت په بيان كي پوره هڅه كوي چي يو اړخ محروم پاته نسي، همداسي رسول الله ﷺ هغه وخت په داسي انداز سره وعظ او نصيحت بيان فرمايلى دى لكه چي د رسول الله ﷺ د وفات كېدو وخت نژدې دى نو ددې څخه مخكي چي دى مبارک ددې دنيا څخه تشريف يوسي موږ ته داسي وصيتونه

وفرمايل چي په دين او دنيا دواړو كي زموږ لپاره رهبر دي.

د حديث شريف څخه معلومه سوه چي د مسلمان مشر، حاكم او سردار اطاعت او فرمانبرداري په هر حال كي ضروري ده مګر دا چي د شريعت د خلاف خبرو حكم نه وركوي نو د مبالغې په توګه يې وفرمايل كه څه هم هغه مشر حبشي غلام وي نو د هغه اطاعت او فرمانبرداري ضروري ده، په غاښونو سره د ټينګ نيولو مطلب دادی چي يو شی په پوره عزم او يقين سره پر خپل ځان لازم كړي.

﴿۱۵۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ خَطَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطًّا ثُمَّ قَالَ هٰذَا سَبِيْلُ اللهِ ثُمَّ خَطَّ خُطُوْطًا عَنْ يَمِيْنِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ وَقَالَ هٰذِهِ سُبُلٌ عَلَى كُلِّ سَبِيْلٍ مِّنْهَا شَيْطَانٌ يَّدْعُوْ إِلَيْهِ وَ قَرَأَ (اَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ) الآية . رواه أحمد والنسائي والدارمي .

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ (يو ځل زموږ د پوهولو لپاره) يو خط (سيده ليكه) وكښل او بيا يې وفرمايل: دا خو د الله تعالى لار ده بيا رسول الله ﷺ د هغه خط سره راسته او چپه طرف ته څو نور خطونه وكښل او وه يې فرمايل: دا هم لاري دي چي په دې لارو كي پر هر يوه باندي شيطان ناست دی چي وه خپل لوري ته دعوت كوي، بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت كړ: (ان هذا صراطي مستقيما فاتبعوه) يعني دا زما سيده لاره ده د دې پيروي كوئ. احمد، نسائي او دارمي.

تشريح: مستقيم خط (سيده ليكه) چي رسول الله ﷺ كښلې وه هغه د الله تعالى د لاري مثال دی چي د هغه څخه صحيح عقيدې، نيک او صحيح اعمال مراد دي او نوري كوچني ليكي (كرښي) د شيطان د لارو مثال دی چي د هغه څخه د ګمراهۍ او ضلالت لاري مراد دي.

﴿۱۵۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّٰى يَكُوْنَ هَوَاهُ تَبَعًا لِّمَا جِئْتُ بِهِ. رواه في شرح السنة وَقَالَ النووي في أربعينه هذا حديث صحيح رويناه في كتاب الحجة بإسناد صحيح

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو كي هيڅوک تر هغه وخته پوري پوره مؤمن نه سي كيدلای تر څو چي د هغه غوښتني د هغه شي تابع نه سي كوم چي ما راوړی دی (يعني دين او شريعت) دا روايت په (شرح السنة) كي دی او امام نووي په خپل كتاب (اربعين) كي ليكلي دي چي دا حديث صحيح دی چي موږ په كتاب (الحجة) كي په صحيح سند سره روايت كړی دی.

تشريح: د حديث شريف مطلب دادی چي پوره ايمان د هغه سړي وي چي د دين او شريعت پوره

پیروي او د هغه د صداقت او حقانیت تر یقین او اعتقاد پوري رسوخ لري او د هغه د ژوند په هر اړخ کي که عقائد وي او که عبادات یا اعمال او عادات په ټولو کي کمال رضا ، رغبت او په خوښي سره د شریعت فرمانبردار وي او ظاهره ده چي روحاني پاکي او لطافت او د عرفاني عروج دا مرتبه هغه سړي ته تر لاسه کیږي چي د هغه زړه او دماغ د نفساني خواهشاتو د ټولو مرداریو او ثقالت څخه پاک سي او د نور الهي په مقدسه رڼا سره وځلیږي لکه اولیاء الله او صالحین چي د حقیقت او معرفت په دې عظیمه مرتبه سره فائز کیږي .

﴿۱۶۰﴾ : وَعَنْ بِلَالِ بْنِ الْحَارِثِ الْمُزَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَحْيَا سُنَّةً مِّنْ سُنَّتِيْ قَدْ أُمِيْتَتْ بَعْدِيْ فَإِنَّ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلَ أُجُوْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ غَيْرِ أَنْ يَّنْقُصَ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شَيْئًا وَّمَنِ ابْتَدَعَ بِدْعَةً ضَلَالَةً لَا يَرْضَاهَا اللهُ وَرَسُوْلُهُ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ عَمِلَ بِهَا لَا يَنْقُصُ ذَالِكَ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْئًا . رواه الترمذي . و رواه ابن ماجة عن كثير ابن عمرو وعن ابيه عن جده .

د حضرت بلال[1] بن الحارث المزني ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي زما یو داسي سنت ژوندی (رواج) کړ کوم چي ز ما وروسته پرېښودل سوی وي نو هغه ته به په هغه ډول ثواب رسیږي څومره چي به هغه خلکو ته رسیږي کومو چي عمل په کړی وي، او د هغه عمل کونکو په ثواب کي به هیڅ کمي نه راځي . او چا چي د ګمراهۍ یو شی رواج کړ کوم چي د الله او د هغه د رسول ناخوښ وي نو پر هغه به هغومره ګناه ورکول کیږي څومره چي پر دغه بدعت کونکي باندي وي خو د دغه عمل کونکي د ګناه څخه به هیڅ هم نه کمیږي ، ترمذي او دا روایت ابن ماجه د کثیر بن عبدالله بن عمرو څخه او عمرو د خپل پلار څخه او هغه د خپل نیکه څخه روایت کړی دی .

تشریح : مطلب دا دی چي پر سنت باندي د عمل کونکو په ثواب کي هیڅ کمي ونه سول او سنت رواج کونکي ته هم د هغه په اندازه ثواب تر لاسه کیږي، همداسي پر بدعت باندي د عمل کونکو په ګناهونو کي څه کمي نه کیږي او د بدعت پیدا کونکو په عمل نامه کي ګناه لیکل کیږي .

دلته د سنت څخه مراد مطلق د دین خبره ده که هغه فرض وي، واجب وي او داسي نور وي، لکه د جمعي لمونځ چي خلکو پرې ایښی وي او هغه د تبلیغ او ارشاد په ذریعه قائم کړل سي. یا داسي مصافحه او نور مسنون شیان چي متروک العمل سوي دي (یعني عمل نه په کیږي) دا

[1] د نوموړي نوم بلال بن حارث او کنیت یې ابوعبدالرحمن دی ، په پای کي یې په بصره کي هستوګنه اختیار کړه ، د حضرت معاویه ﷺ په آخره زمانه کي د اتیا کالو په عمر په (۹۰هـ) کال وفات سوی دی .

ټول رواج کول د بې شميره حسناتو ذريعه ده.

﴿۱۶۱﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ الدِّيْنَ لَيَأْرِزُ إِلَى الْحِجَازِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا وَلَيَعْقِلَنَّ الدِّيْنَ مِنَ الْحِجَازِ مَعْقِلَ الْأَرْوِيَّةِ مِنْ رَأْسِ الْجَبَلِ إِنَّ الدِّيْنَ بَدَأَ غَرِيْبًا وَسَيَعُوْدُ كَمَا بَدَأَ فَطُوْبٰى لِلْغُرَبَاءِ وَهُمُ الَّذِيْنَ يُصْلِحُوْنَ مَا أَفْسَدَ النَّاسُ مِنْ بَعْدِيْ مِنْ سُنَّتِيْ. رواه الترمذي

د حضرت عمرو بن عوف ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دين (اسلام) به د حجاز په لور داسي را يوځای سي لکه څرنګه چي مار خپل سوريٖ ته را يوځای کيږي او دين به په حجاز کي داسي ځای ونيسي لکه څرنګه بزه چي د غره په څوکه کي ځای نيسي، او دين په پيل کي د غريبانو څخه پيل سوی دی او په پای کي به هم داسي سي، نو خوشخبري دي وي غريبانو ته هغوئ زما د دين هغه شيان سم کړي کوم چي به زما څخه وروسته خلکو خراب کړی وي. ترمذي

﴿۱۶۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَيَأْتِيَنَّ عَلٰى أُمَّتِيْ كَمَا أَتٰى عَلٰى بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ حَذْوَ النَّعْلِ بِالنَّعْلِ حَتّٰى إِنْ كَانَ مِنْهُمْ مَنْ أَتٰى أُمَّهُ عَلَانِيَةً لَكَانَ فِيْ أُمَّتِيْ مَنْ يَصْنَعُ ذٰلِكَ وَإِنَّ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ تَفَرَّقَتْ عَلٰى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ مِلَّةً وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِيْ عَلٰى ثَلَاثٍ وَسَبْعِيْنَ مِلَّةً كُلُّهُمْ فِي النَّارِ إِلَّا مِلَّةً وَاحِدَةً قَالُوْا وَمَنْ هِيَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِيْ. رواه الترمذي. وفي رواية أحمد وأبي داود عن معاوية ثِنْتَانِ وَسَبْعُوْنَ فِي النَّارِ وَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَهِيَ الْجَمَاعَةُ وَإِنَّهُ سَيَخْرُجُ فِيْ أُمَّتِيْ أَقْوَامٌ تَتَجَارٰى بِهِمْ تِلْكَ الْأَهْوَاءُ كَمَا يَتَجَارٰى الْكَلْبُ بِصَاحِبِهِ لَا يَبْقٰى مِنْهُ عِرْقٌ وَلَا مَفْصِلٌ إِلَّا دَخَلَهُ.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په امت کي به داسي زمانه راسي لکه څرنګه چي په بني اسرائيلو کي راغلې وه بالکل داسي درست او سم لکه څرنګه چي خپلې په دواړو پښو برابري وي تر دې چي په بني اسرائيلو کي که يو چا په څرګنده د خپلي مور سره بدفعلي کړې وي نو زما په امت کي به هم داسي خلک وي چي داسي به کوي او د بني اسرائيلو قوم به په دو اويا ډلو کي ويشلی وي او زما قوم به پر درو اويا ډلو ويشلی وي چي په هغو کي به يوه ډله جنتي او پاته ټولي ډلي به دوږخي وي، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اي دالله رسوله! جنتي ډله به کومه يوه وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هغه ډله پر کوم چي زه او زما اصحاب دي (ترمذي) احمد او ابودرداء چي د معاوية څخه کوم روايت کړی دی په هغه کي دا الفاظ دي چي دو اويا ډلي به دوږخ ته ځي او يوه ډله

به جنت ته ځي، او جنتي ډله جماعت دی او البته زما د امت څخه به څو قومونه جوړ سي چي په هغوئ کي به خواهشات داسي رواج وي لکه څرنګه چي لیونی سپی په ناروغي کي چي جاري وي چي هیڅ رګ او بند د هغه څخه نه ساتل کیږي.

تشریح : د بني اسرائیلو او د هغو د امت مماثلت د څپلیو د برابري سره تشبیه ورکړل سوې ده لکه څرنګه چي بني اسرائیلو په خپل زمانه کي په بدو عملونو اخته وه همداسي یوه زمانه راتلونکې ده چي ددې امت خلک هم بالکل مطابقت پیدا کړي.

دلته د مور څخه حقیقي مور مراد نه ده بلکه د پلار ښځه (میره) مراد ده ځکه چي د حقیقي مور سره دا ډول معامله بالکل لیري خبره ده ځکه چي په دې کي د شرعي بندیز سره سره طبعي خنډ هم وي، همداسي د امتي څخه مراد اهل قبله دي یعني کوم چي مسلمان ګڼل کیږي، په دې شکل کي (کلهم في النار) یعني هغه ټولي ډلي به دوږخي وي، معنا دا چي هغوئ ټول به د خپل غلطو عقیدو او بدو عملونو په وجه په دوږخ کي داخل کړل سي د چا اعمال او عقائد چي تر دې حد پوري فاسد نه وي چي هغه د کفر په دائره کي راځي نو د الله تعالی په رحمت سره به هغوئ د خپل سزا پوره کولو څخه وروسته د دوږخ څخه را وایستل سي، د حدیث په پای کي جنتي ډلي ته (جماعت) ویل سوي دي او ددې څخه مراد اهل علم د معرفت او صاحب فقه حضرات دي دوئ یې د جماعت په نامه سره ونومول، چي دا حضرات پر کلمه حق باندي جمع دي او پر دین او شریعت باندي متفق دي په دغه ځای کي مناسب ده چي په حدیث کي د درو اویا (۷۳) ډول تفصیل وکړل سي:

په اهل اسلام کي لوی ډلي اته دي: (۱) معتزله (۲) شیعه (۳) خوارج (۴) مرجیه (۵) بخاریه (۶) جبریه (۷) مشبهه (۸) ناجیه. او بیا دا اته ډلي پر کوچنی کوچنی ډلو ویشل سوي دي:

(۱) د معتزله شل ډلي دي (۲) د شیعه دوه ویشت ډلي دي (۳) د خوارج شل ډلي دي (۴) د مرجیه پنځه ډلي دي (۵) د بخاریه درې ډلي دي (۶) جبریه (۷) شبهه یوازي یوه ډله ده او په دوئ کي څو ډلي نسته او (۸) اتمه ډله ناجیه هم یوازي یوه ډله ده او هغه اهل سنت والجماعة ده چي جنتي ده، په دې ځای کي ددغه ډولو پر عقائدو هم په اجمالي توګه سره بیان کیږي:

معتزله : وایي چي بنده د خپل ټول اعمالو خالق دی، کاسب نه دی د هغوئ عقیده ده چي صالح بنده ته ثواب دنیا او بدکار بنده ته عذاب دنیا پر الله واجب او ضروري دی، همداسي ددې ډلي

خلک د الله تعالی د دیدار څخه انکار کوي ،
د **مرجیه** عقیده داده چي څرنګه د کافرانو لپاره د هغه صالح او نیک اعمال په کار نه راځي، همداسي مؤمن ته د هغه بداعمال هیڅ تاوان او ضرر نسي رسولای او نه د هغه په ایمان کي څه نقص پیدا کیږي .
بخاریه د الله تعالی د ټولو صفاتو څخه انکار کوي او کلام الهي حادث ګڼي .
د **جبریه** عقیده داده چي بنده مجبور محض دی هغه ته پر خپل هیڅ عمل باندي هیڅ اختیار نسته.
مشبه د الله تعالی ذات د مخلوق مشابه کوي او د ذات باري تعالی د جسمیت قائل دي د هغوئ دا هم عقیده ده چي الله تعالی په مخلوق کي حلول کوي .
د **شیعه او خوارج** عقائد مشهور دي یعني شیعه د حضرت علي ﷺ د فضیلت قائل دي ، اوس په دوئ کي هم څو ډلي دي د شیعه ځیني ډلي خو یوازي حضرت علي ﷺ ته پر شیخینو یعني حضرت ابوبکر صدیق ﷺ او حضرت عمر فاروق ﷺ باندي فضیلت او فوقیت ورکوي مګر د شیخینو تکفیر نه کوي مګر نوري ډلي د حضرت صدیق ﷺ او حضرت فاروق ﷺ د تکفیر هم قائل دي (نعوذبالله) ، ذ ځینو شیعه ګانو دا هم عقیده ده چي قرآن کریم په خپل مکمل صورت کي موجود نه دی بلکه دده ځیني هغه آیاتونه چي د حضرت علي ﷺ په منقبت (صفت) کي وه حذف کړل سوي دي . خوارج د حضرت علي ﷺ دښمن ډلي ته وایي دا خلک د حضرت علي ﷺ د تکفیر قائل دي . (نعوذبالله)، په دې ځای کي د یو خاص اشکال په لور اشاره کول هم ضروري ده :

یو داسي سړی چي جاهل وو د اسلام په دولت سره مشرف سو د هغه په وړاندي د اهل السنت والجماعة هم دي او د شیعه ډله هم ده ، دواړه د هغه په وړاندي خپل پر حق کېدو باندي دلائل په قرآن او سنت سره وړاندي کوي هغه نوی مسلمان حیران دی چي په دواړو کي کوم پر حق وګڼي او د کوم یوه د دلائلو تصدیق وکړي هر کله چي هغه د علم څخه خالي دی نو دده سم حل دادی چي ځیني شیان داسي دي چي په صراحت سره د اهل سنت والجماعة د حق کېدو دلیلونه وړاندي کوي او هغه شیان داسي صاف او ظاهر دي چي د هغه مشاهده عام خلک هم کولای سي هغه که په دې کي فکر وکړي نو د هغه په وړاندي به د اهل سنت والجماعة حقانیت څرګند سي .

مثلا تر ټولو څرګنده نښه چي نن د ټولو په وړاندي مشاهده ده هغه داده چي قرآن کريم د الله ﷻ يو عظيم نعمت دی او هغه د اهل سنت والجماعة په برخه کي دی ، يعني د قرآن کريم چي څومره حافظان دي هغه سُني دي تر ننه پوري هيڅ يو حافظ شيعه نه دی ليدل سوی ځکه چي د هغوئ په قسمت کي ددغه عظيم نعمت څخه محرومي ليکل سوې ده ، کيدای سي چي په لکونو کي يو شيعه حافظ پيداسي نو دا نادره ده چي د هغه اثر پر کليه نه لويږي ځکه چي النادر کالمعدوم ، يعني نادر د نه کېدو (نيستي) په درجه کي دی .

دوهم دا چي دا هم يو څرګنده خبره ده چي ددين محمدي او شريعت مصطفوي امامان او رکن دين چي څومره عالمان او اولياء وه هغوئ ټول سني وه او په هغوئ کي او په هغوئ کي د ځينو امامانو او علماؤ شيعه هم معتقد دي که د اهل سنت والجماعة په مسلک کي څه نقص وي نو هغه حضراتو به يقينا دا مسلک نه اختياروی .

دريم اسلامي شعار مثلا جمعه، جماعت، اخترونه وغيره علی الاعلان (په ښکاره) يوازي سني کوي او شيعه ددغه نعمتونو څخه محرومه دي .

څلورم مکه او مدينه چي ددين اسلام بنياد او مرکز دي او د هغه ځای اوسيدونکي د خپل بزرګي او عظمت د لحاظ څخه ضرب المثل دي د هغه ځای خلک هم ددې مسلک پابند دي که شيعه مسلک ښه وای نو هغه خلک به يقينا سني نه وای بلکه د شيعه د مسلک پابند به وای .

همداسي نوري ډلي هم دخپل حقانيت دعوا کوي مګر د هغوئ جواب دادی چي پر حقانيت او بطلان باندي محض دعوی څه حقيقت نه لري تر څو پوري چي د هغه دعوې قوي دليل نه وي .

د اهل سنت والجماعة د حقانيت دليل دادی چي دا دين اسلام چي موږ ته رسيدلی دی په نقل سره را رسيدلی دی په دې کي محض عقل کافي نه دی ، په تواتر اخبار ، حديثونو او آثارو کي پلټنه او تحقيق او تنقيع څخه وروسته دا خبره متقين سوې ده چي صحابه کرام او تابعين پر دې مسلک او عقيدې باندي وه نوري باطلي ډلي تر ټولو وروسته پيدا سوي دي نه خو صحابه کرامو ددغه باطلو ډلو د مسلک پابند وه او نه نور نيک او صالح خلک ددغه ډلو سره وه ، که د صحابه کرامو او تابعينو په زمانه کي په هغوئ کي ځيني باطلي ډلي پيدا سوې نو دغه خلکو د هغوئ څخه د انتهائي نفرت او بيزارۍ اظهار کړی دی تر دې چي داسي غلط عقائد او مسلک لرونکو خلکو سره هغه حضراتو ټول تعلق او رابطې منقطع کړې ، د صحاح ستة حضرات

مصنیفین او نور محدثین، علماء ربانیین او اولیاء کاملین ټول د اهل السنت والجماعة دعقائدو او مسلک پابند وه.

د دې څخه معلومه سوه که چیري د اهل سنت والجماعة مسلک حق نه وي او عقیدې یې صحیح نه وي نو په کرړونو خلک به د دې حق مسلک پابند نه وای چي په هغه کي صحابه کرام او تابعین، لوی لوی اولیاء الله، علماء محدثین او عقلاء او پوهان هم وه او عوام هم وه.

په هر حال د اهل سنت والجماعة مسلک د حق کېدو دا یو څو مثالونه دي د دې څخه پرته نور بې شمیره مثالونه سته چي د اهل سنت والجماعة پر حقانیت باندي شاهد عادل دي، که د نفساني خواهشاتو او ذاتي غرضونو څخه په ایسته کېدو سره تلاش حق په حقیقي جذبې سره د اهل حق د دې ډلي عقیدې وکتل سي نو د دوئ حقانیت به ورته څرګند سي کنه نو په قول دشاعر:

هوشیار کو ایک حرف نصیحت هي کافي نادان کو کافي نهي دفتر نه رساله

دغه حدیث هغه ټولو باطلو ډلو ته د لیوني سپي والاو سره مشابهت ورکړل سوی دی ځکه چي څرنګه پر چیچل سوي کس باندي د لیوني سپي زهر غالب سي نو د اوبو څخه د تیښتي په نتیجه کي هغه تږی سي همداسي درواغجن مذهبونه او باطل مسلک والاوو باندي هم د نفساني خواهشاتو غلبه وي هغوئ د علم او معرفت د ګلزار څخه په تېښتېدو سره د جهل او ګمراهی په شیلو کي لوېږي، نتیجه یې داسي چي د هغوئ روحاني مرګ واقع کیږي او هغوئ په دین او دنیا دواړو کي د الله تعالی د رحمت څخه محروم سي:

﴿۱۶۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ لاَ يَجْمَعُ أُمَّتِيْ أَوْ قَالَ أُمَّةَ مُحَمَّدٍ عَلَى ضَلاَلَةٍ وَيَدُ اللهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ وَمَنْ شَذَّ شُذَّ فِي النَّارِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی به زما (یا داسي یې وفرمایل چي دمحمد امت) پر گمراهی نه جمع کوي او دالله لاس پر جماعت دی او څوك چي د جماعت څخه بیل سو هغه په دوزخ کي ولویدی. ترمذي

تشریح: د (الله تعالی لاس) څخه مراد دادی چي د الله تعالی د لوري څخه توفیق او تائید، ساتنه او مرسته پر هغه ډله وي، پر دې امت مرحومه د الله تعالی د لوري د دې سره چي نور ډېر احسانونه دي دا هم ډیر لوی کرم دی چي د دې امت ټول خلک هیڅکله پر ناحقه او غلطه خبره نه جمع کیږي کله چي دوئ پر یو شي اتفاق کوي نو هغه حق خبره وي.

﴿۱۶۴﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّبِعُوْا السَّوَادَ الْأَعْظَمَ فَإِنَّهُ مَنْ شَذَّ شُذَّ فِي النَّارِ . رواه ابن ماجه من حديث أنس .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :د ګنې ډلې پيروي کوئ نو څوك چي د جماعت څخه بيل سو هغه په اور کي ولويدی . ابن ماجه

تشريح : د دغه ارشاد مطلب دادی چي دوئ ته د هغه عقيدو پيروي کول پکار ده کوم چي د اکثرو علماؤ په نزد حق وي همداسي هغه اقوال او افعال قبلول پکار دي چي د جمهورو علماؤ څخه ثابت وي ، په دې حديث کي د لفظ رواه څخه وروسته په اصلي مشکوة کي ځای خالي وو ځکه چي صاحب مشکوة ته د هغه کتاب نوم معلوم سوی نه وو چي هغه ته دا حديث نقل کړل سوی دی وروسته ميرک شاه مذکور عبارت نقل کړی دی .

﴿۱۶۵﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا بُنَيَّ إِنْ قَدَرْتَ أَنْ تُصْبِحَ وَتُمْسِيَ وَلَيْسَ فِيْ قَلْبِكَ غِشٌّ لِأَحَدٍ فَافْعَلْ ثُمَّ قَالَ يَا بُنَيَّ وَذٰلِكَ مِنْ سُنَّتِيْ وَمَنْ أَحَبَّ سُنَّتِيْ فَقَدْ أَحَبَّنِيْ وَمَنْ أَحَبَّنِيْ كَانَ مَعِيْ فِي الْجَنَّةِ . رواه الترمذي .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې زما بچيه! که ستا په وس کي وي نو د سهار څخه تر ماښام پوري په داسي حالت کي اوسه چي ستا په زړه کي د هيچا کينه او خيري نه وي نو ته دغسي کوه ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : اې زما بچيه ! دا زما طريقه او سنت دي نو چا چي زما طريقه خوښه کړل هغه زه دوست کړم او څوك چي محبت کوي زما سره هغه به په جنت کي زما سره وي .ترمذي.

تشريح : په دغه حديث کي دې ته اشاره ده چي د رسول الله ﷺ سنت د ملګرتيا په ډول د لوی نعمت تر لاسه کولو ذريعه ده ، دا د فکر خبره ده چي هر کله د رسول الله ﷺ پر سنت خوښولو باندي دا زيری دی نو پرسنت نبوي باندي عمل کول به څومره د لوی سعادت او نيک بختۍ خبره وي، لږ فکر کول پکار دي چي د رسول الله ﷺ د سنت خوښونکي څومره لويه مرتبه ده او د معيت شرف تر لاسه سي حقيقت دادی که د دواړو جهانو نعمتونه يوې خوا ته وي او بلي خوا ته دا نعمت وي نو يقينا د سعادت او خوښۍ په اعتبار دا نعمت به زيات سي ، الله تعالی دي موږ ټولو ته د رسول الله ﷺ د مقدس سنت مخبوب ګڼلو او په هغه د عمل کولو توفيق راکړي چي موږ ټول په دې نعمت سره برخمن سو .

﴿۱۶۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِيْ عِنْدَ فَسَادِ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي زما د امت د خرابېدو په

أُمَّتِيْ فَلَهُ أَجْرُ مِائَةِ شَهِيْدٍ .رواه البيهقي في كتب الزهد له من حديث ابن عباس .

وخت كي زما سنت خپل کړل نو هغه ته به د سلو شهيدانو ثواب ورکول کيږي .

تشريح : د داسي عظيم اجر تر لاسه کولو وجه داده چي څرنګه يو شهيد د دين اسلام د ژوندي ساتلو او د هغه د شان او شوکت زياتولو په خاطر د دنيا ټول مصيبتونه زغمي تر دې چي خپل ځان هم قربانوي ، همداسي هر کله چي په دين کي خبري پيل سي او د فتنې او فساد دورسي نو په سنت رواج کولو او خپرولو کي بې شميره مصيبتونه او تکليفونه پيښيږي.بلکه ډير واره تر دې هم زيات مشقتونه زغمل وي ځکه د دې اجر عظيم زيری ورکول سوی دی ، په دې حديث کي هم د لفظ رواه څخه وروسته د مشکوة په ځينو نسخو کي ځای خالي دي مګر مذکوره عبادت ميرک شاه صاحب زيات کړی دی .

﴿۱۶۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ أَتَاهُ عُمَرُ فَقَالَ إِنَّا نَسْمَعُ أَحَادِيْثَ مِنْ يَهُوْدَ تُعْجِبُنَا أَفَتَرٰى أَنْ نَكْتُبَ بَعْضَهَا ؟ فَقَالَ أَمُتَهَوِّكُوْنَ أَنْتُمْ كَمَا تَهَوَّكَتْ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰى، لَقَدْ جِئْتُكُمْ بِهَا بَيْضَاءَ نَقِيَّةً وَلَوْ كَانَ مُوْسٰى حَيًّا مَّا وَسِعَهُ إِلاَّ اتِّبَاعِيْ . رواه أحمد والبيهقي في كتاب شُعَبِ الإيمان .

حضرت جابر ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چي حضرت عمر ﷺ رسول الله ﷺ ته راغلی او وه يې ويل : موږ د يهوديانو خبري اورو او هغه موږ ته ښه معلوميږي ايا تاسو موږ ته اجازه راکوئ چي موږ د هغوئ (خبري) ځيني وليکو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا ته هم داسي حيران يې (په خپل دين کي) څرنګه چي يهود او نصارا حيران دي ، ما تاسو ته صفا او ځلانده شريعت راوړی دی که حضرت موسی ﷺ ژوندی وای نو هغه به هم زما په پيروي مجبور وای . احمد او بيهقي.

تشريح : د رسول کريم ﷺ د جواب مطلب دادی چي څرنګه يهود او نصارا حيران دي چي هغوئ د الله کتاب او د خپل پيغمبر حقيقي تعليم پرې ايښی دی او د خپل خود غرضه علماؤ د خواهشاتو تابع سوي دي ايا هغه ته هم په متحير کېدو سره خپل دين ناقص او نامکمل ګڼلو سره د نورو د دين او شريعت اړ کيږي حال دا چي زما راوړی شريعت دومره مکمل او واضح دی که نن موسی ﷺ ژوندی وای نو هغه به هم زما د شريعت پابند او زما د احکامو تابع وای .

﴿۱۶۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَكَلَ طَيِّبًا

د حضرت ابوسعيد الخدري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي پاک خواړه

وَعَمِلَ فِيْ سُنَّةٍ وَّأَمِنَ النَّاسُ بَوَائِقَهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ هٰذَا الْيَوْمَ لَكَثِيْرٌ فِي النَّاسِ قَالَ وَسَيَكُوْنُ فِيْ قُرُوْنٍ بَعْدِيْ . رواه الترمذي .

وخوړل، پر سنت طريقه يې عمل وکړ او د هغه د زيان څخه خلك په امان کي سول هغه به جنت ته ځي ، يوه سړي پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! داسي خلك خو نن سبا ډير دي ، رسول الله ﷺ وفرمايل او زما وروسته به هم داسي خلك وي . ترمذي .

تشريح : د حلال رزق مطلب دادی که چيري تجارت وي يا مزدوري يا د معاش يو بله ذريعه وي په هرځای کي د ايمان دارو او ديانت دارو لمن نيولې لرئ او د شريعت د حدودو څخه تجاوز مه کوئ داسي هيڅ يو صورت مه اختياروئ چي په هغه سره ګټه حرامه سي ، لکه يو سړی په تجارت کي د رانيولو او پلورلو په وخت کي داسي طريقې اختياروي چي د شريعت په نظر کي جائز نه دي نو د هغه ګټلی مال پاک او حلال نه دي ، مګر که چيري د هغه طرز عمل د شريعت خلاف نه وي نو د هغه ګټه به حلاله وي .

د شريعت د نظره په تجارت کي د حلالي ګټي لپاره دا شرط دی چي د يو مال خرڅولو په وخت کي نه خو د عقيد بيع څخه مخکي نه د عقيد بيع په وخت او نه د عقيد بيع څخه وروسته يو داسي شکل اختيار کړي چي په شرعي توګه باندي مفسد بيع وي نو د هغه ګټلی مال به حلال او طيب وي او که د دې پر خلاف عمل يې وکړ نو د هغه ګټه به حلاله نه وي مثلا يو تاجر د يو شی د پلورلو اراده وکړه او د عقد بيع څخه مخکي د دوکې او فريب ورکولو خيال يې وکړ لکه يو شی خرڅوي په هغه کي يو عيب دی مګر د هغه د نه ظاهرولو اراده يې وکړه که څه هم د عقد بيع په وخت کي ايجاب او قبول په شرعي توګه سره وسو مګر د هغه د فاسد نيت په وجه د هغه ګټلی مال به حلال نه وي همداسي د پلورلو په وخت کي چي عقد بيع واقع کيدی يا د هغه بيع څخه وروسته تاجر يو داسي فاسد شرط کښيږدي چي جائز نه دی نو په دې صورت کي هم د هغه ګټلی مال به حلال نه وي لکه يو دوکاندار يو شی خرڅ کړ او رانيونکي ته يې وويل چي بيع وسوه مګر شرط دادی چي يو بوتل شراب به ماته راکوې نو دا په شرعي توګه سره جائز نه ده ځکه نو د هغه حاصل کړی مال به حلال نه وي .

په هر حال مطلب دادی چي د رانيولو او پلورلو په اړه په دغه درو سره وختونو کي داسي طريقه اختيارول پکار نه ده چي د شريعت خلاف وي ترڅو چي د هغه مال حلال پاته سي ، او بيا دا مسئله پر تجارت باندي موقوف نه ده بلکه د مزدورۍ ، زراعت او داسي نورو هم دا معامله

ده چي هلته داسي طريقې اختيار نه كړل سي چي د حلال رزق په حصول كي خنډ جوړ سي.

په حديث شريف كي د جنت د داخلېدو لپاره دوهم صفت دا ګرځول سوى دى چي د سنت پوره پوره پيروي كوي يعني كوم كار چي وكړل سي يا كومه خبره چي وكړل سي هغه د سنت نبوي مطابق وي يعني د انساني ژوند چي كوم اړخ وي كه هغه د عبادت وي يا معاملات يا د ټولني په ټولو كي د سنت نبوت رڼا او د اتباع رسول جذبه موجوده وي.

د كومو اعمالو په اړه چي حديثونه وارد سوي دي چي د هغه سره سم عمل وكړل سي تر دې چي بيت الخلاء ته د تلو او د لاري څخه د يو تكليف وركونكي شى ليري كولو په باره كي چي كوم حديثونه وارد سوي دي يا كوم سنت چي منقول دي په هغه عمل وكړي او د هغه احكام پر ځاى راوړي، د حديث په پاى كي د صحابي د قول مطلب دا دى چي زموږ په زمانه كي خو داسي خلك زيات موجود دي چي د مذكوره اوصافو سره په متصف كېدو په وجه ددې زيري وړ دي مګر زموږ څخه وروسته به داسي خلك پيدا سي او كه نه په دې الله تعالى غوره عالم دى.

د دې په جواب كي رسول الله ﷺ وفرمايل: زموږ څخه وروسته به هم داسي خلك وي يعني د دې امت څخه به خير او نيكي بالكل نه ختميږئ مګر هو دا كېداى سي چي په آخره زمانه كي هر كله چي د فتنې او فساد دور وي د داسي خلكو كمي وي مګر بيا هم داسي نېك خلك به په دنيا كي اوسيږي چي د حديث او سنت پر طريقه به خپل ژوند تيروي او هغوئ به د ايمان او دين باندي په پوره يقين سره قائم او دائم وي.

﴿۱۶۹﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّكُمْ فِيْ زَمَانٍ مَّنْ تَرَكَ مِنْكُمْ عُشْرَ مَا أُمِرَ بِهِ هَلَكَ، ثُمَّ يَأْتِيْ زَمَانٌ مَنْ عَمِلَ مِنْهُمْ بِعُشْرِ مَا أُمِرَ بِهِ نَجَا . رواه الترمذي .	د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو په داسي زمانه كي ياست كه په تاسو كي څوك د الله د احكامو لسمه برخه هم پريږدي نو هلاك به سي مګر يوه زمانه به

داسي راسي كه څوك د احكامو لسمه برخه هم پر ځاى كړي نو خلاصون به تر لاسه كړي. ترمذي.

تشريح: د دې حديث څخه د رسالت د زمانې او د وروسته فرق معلوميږي، د نبي كريم ﷺ په زمانه كي د امر بالمعروف او نهي عن المنكر اوازه دومره په شدت او كثرت سره وه چي لږ بنوئيدل د هلاكت او تباهۍ باعث جوړيداى سو مګر په آخره زمانه كي هر كله چي امر بالمعروف او نهي عن المنكر كي كمزوري پيدا سي نو هغه وخت به دومره فرق وسي كه يو سړى د احكامو په لسمه برخه هم عمل وكړي نو د هغه د خلاصون لپاره به كافي وي.

﴿۱۷۰﴾: وَ عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا ضَلَّ قَوْمٌ بَعْدَ هُدًى كَانُوْا عَلَيْهِ إِلاَّ أُوْتُوْا الْجَدَلَ . ثُمَّ قَرَأَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذِهِ الآيَةَ (مَا ضَرَبُوْهُ لَكَ إِلاَّ جَدَلاً بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُوْنَ) . رواه احمد والترمذي وابن ماجة .

د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :د هدایت تر لاسه کولو او پر هدایت باندي قائم پاته کېدو وروسته هیڅ یو قوم گمراه سوی نه دی ، ددې وروسته رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ : (ما ضربوه لك الا جدلا....) هغوئ ستا لپاره مثال نه بیانوي خو دجگړې لپاره بلکه هغه جگړه کونکی قوم دی. احمد ،ترمذي، او ابن ماجه.

تشریح : د دې حدیث شریف څخه معلومه سوه چي په دیني معاملو او شرعي مسائلو کي جگړه نه ده پکار او نه هر چا ته په دې کي د خپل عقل غشي چلول پکار دي ځکه چي په تیره زمانه کي د هدایت ورکړل سوو قومونو د گمراهۍ زیات سبب دا وو چي خلکو به په دیني معاملو کي جگړې کولې او دا کار به علماء سوء او د نفساني خواهشاتو تابع خلکو کوي، د دې څخه د هغوئ مقصد دا وو چي په دیني معاملو کي تفرق پیداسي او خلک په خپلو کي په جگړه اخته سي چي غلطو عقیدو او باطل مذهبونو ته ځای ورکړي او د حق او صداقت بنیادونه ختم کړي.

رسول الله ﷺ چي د کوم آیت تلاوت وکړ د هغه شان نزول دادی چي کله دا آیت :

إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ . الانبياء ۹۸

ژباړه : (اې مشرکانو !) تاسو هغه غیر الله چي تاسو یې عبادت کوئ د دوږخ پیلوزي دي .

نازل سو نو مشرکین ډېر خوشحاله سول او ویل یې چي د دې آیت څخه معلومه سوه چي څومره غیر الله معبود دي هغه ټول به دوږخ ته ځي او حضرت عیسی ﷺ هم د نصارا معبود دی چي د هغه عبادت کوي نو هغه به هم د دې آیت سره سم دوږخ ته ځي او زموږ بتان د حضرت عیسی ﷺ څخه په هر حال غوره نه دي ځکه موږ په دې راضي یو چي زموږ بتان هم د حضرت عیسی ﷺ سره دوږخ ته ولاړ سي .

د مشرکینو د دغه غلطي نظریې په رد کي مذکوره آیت : (مَا ضَرَبُوْهُ لَكَ إِلاَّ جَدَلاً بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُوْنَ) نازل سو ، د دې مطلب دادی چي اې محمد ! ﷺ دا مشرکین د دې آیت په اورېدو سره چي ستا سره کوم بحث کوي او د خپل لوري غلطي معناوي اخلي دا محض د دوئ ناپوهي او ضد دی او د مخاصمت او مجادلت په توگه داسي غلطه خبره کوي حال دا چي دوئ صاحب

زبان دي او د عربي ژبي اصول او قواعد دوئ ته معلوم دي او دوئ په دې هم پوهيږي چي د (ما تعبدون) څخه ډبري وغيره بتان مراد دي ځکه لفظ د ما پر دې دلالت کوي چي دا حکم غير ذوي العقول معبودانو يعني ډبري وغيره بتانو په باره کي دى نه چي د حضرت عيسى عليه السلام او د الله تعالى د نورو نيکو بندګانو په اړه.

﴿۱۷۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ لاَ تُشَدِّدُوْا عَلَى أَنْفُسِكُمْ فَيُشَدِّدَ اللهُ عَلَيْكُمْ فَإِنَّ قَوْمًا شَدَّدُوْا عَلَى أَنْفُسِهِمْ فَشَدَّدَ اللهُ عَلَيْهِمْ فَتِلْكَ بَقَايَاهُمْ فِيْ الصَّوَامِعِ وَالدِّيَارِ (رَهْبَانِيَّةَ ابْتَدَعُوْهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ) . رواه ابوداؤد.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم به فرمايل : تاسو پر خپلو ځانونو سختي مه کوئ بيا به الله پاك هم سختي در باندي وکړي ، په تحقيق سره يو قوم (بني اسرائيلو) پر خپلو ځانونو سختي کړې وه نو الله هم پر هغوئ سختي وکړه او نن چي کوم خلك په صوامعو او ديارونو (د نصارا او يهودو عبادت خانو) کي دي دا د هغه خلکو يادګارونه دي رهبانيت (دنيا پرهېښودل) دغه خلکو منځته راوړى وو موږ پر فرض کړې نه وو . ابوداؤد

تشريح : مطلب دادى چي خپل ځانونه خامخا په زيات محنت ، مشقت او تکليف کي مه اخته کوئ يعني په رياضت او مجاهده کي داسي طريقې مه اختياروئ چي ستاسو قوي يې د زغملو اهل نه وي او نه ستاسو نفس دومره محنت او مشقت زغملاى سي او همدارنګه هغه شيان پر ځان مه حراموئ کوم چي الله تعالى ستاسو لپاره مباح ګرځولي دي ځکه که تاسو د خپل لوري پر ځانونو سختي کوئ او په زيات محنت او مشقت کي لويږئ نو الله تعالى به هغه شيان پر تاسو فرض کړي مګر په تاسو کي به دومره طاقت نه وي چي تاسو د هغه حقوق ادا کړي په نتيجه کي به د آخرت تباهي او هلاکت پر خپل ذمه واخلئ.

صومعه هغه ځاى ته وايي چيري چي عيسان عبادت کوي چي هغه ته کليسا ويل کيږي او ديار د يهودو د عبادت ځاى ته وايي ، رهبانيت دې ته وايي چي په عبادت او رياضت کي زياتوب وکړل سي خپل ځان په تکليفونو او مشقتونو کي واچول سي او د دنيا څخه بالکل بې تعلقه سي د ټولو خلکو څخه ځان جلا کړي ، د ټاټ قميص استعمال کړي په غاړه کي زنځير وتړي او د قوتي مردانګي ختمولو لپاره د نفساني خواهشاتو وژلو لپاره بالکل په غير فطري توګه سره جنسي محرکات قطع کړي او په دنياوي ژوند کي ځان يوازي پرېښودو سره ځنګل او غره ته ولاړ سي هلته هستوګنه کوي ، څرنګه چي رهبانيت اهل کتابو پر خپل ځان ضروري کړى

وو او د هغوئ عابدانو او زاهدانو خلکو داسي کول مګر رهبانیت د اسلام د اصولو څخه بالکل بیل شی دی ځکه چي شریعت هیڅکله دا جائز نه دی ګرځولی .

رسول الله ﷺ رهبانیت په اسلام کي ناجائز ګرځولی دی او فرمایلي يې دي : (لا رهبانية في الاسلام) یعني په اسلام کي رهبانیت جائز نه دی، بلکه د دې حدیث څخه معلومه سوه چي رهبانیت هیڅکله په یو آسماني دین کي ضروري نه وو بلکه خپله ددې دین منونکو رهبانیت د خپل دیني او دنیاوي خلاصون او کامیابۍ ذریعه ګڼل ، نو په یهودو او نصارا کي خلکو په خپله ددغه شیانو اختراع کړې وه او دا مشقتونه او تکلیفونه یې پر ځان لازم کړي وه چي د شریعت د لوري پر هغوئ فرض سوي نه وه مګر دا قومونه فطرتا غیر مستقل مزاج د خواهشات نفساني پابند او آزاد طبع واقع سوي دي ځکه هغوئ پر خپل ځان باندي حرام کړي شیان هم پوره نه کړلای سول د هغوئ د ذهن او قوت د هغوئ حقوق ادا نه کړل او نه پر هغه باندي په مستقل مزاجي سره قائم پاته سول ، تر دې چي د رسول الله ﷺ زمانه یې تر لاسه کړه او پر هغه یې ایمان راوړ .

په هر حال د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادی چي تاسو رهبانیت مه اختیاروئ او مه په غیر شرعي او غیر فطري توګه سره ځانونه په تکلیفونو او ستونزو کي اخته کوئ بلکه شریعت چي کوم حدونه ټاکلي دي په هغه کي دننه خپل ژوند تیروئ او د الله تعالی او د هغه د رسول ښودل سوي دي فرضونه ادا کوئ .

﴿۱۷۲﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ الْقُرْآنُ عَلىٰ خَمْسَةِ أَوْجُهٍ حَلَالٌ وَحَرَامٌ وَمُحْكَمٌ وَمُتَشَابِهٌ وَأَمْثَالٌ .فَأَحِلُّوا الْحَلَالَ وَحَرِّمُوا الْحَرَامَ وَاعْمَلُوْا بِالْمُحْكَمِ وَآمِنُوْا بِالْمُتَشَابِهِ وَاعْتَبِرُوْا بِالْأَمْثَالِ .هٰذَا لَفْظُ الْمَصَابِيْحِ . وَرَوَى الْبَيْهَقِيُ فِي شُعَبِ الإِيْمَانِ وَلَفْظُهُ فَاعْمَلُوا بِالْحَلَالِ وَاجْتَنِبُوا الْحَرَامَ وَاتَّبِعُوا الْمُحْكَمَ .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : قرآن کریم په پنځو ځانګو (یا پنځه ډوله حکمو سره) نازل سوی دی ۱: حلال ۲: حرام ۳: حکم ۴: متشابه ۵: امثال ، نو تاسو حلال ، حلال وګڼئ حرام حرام وګڼئ په محکم عمل وکړئ په متشابه ایمان راوړئ او د امثالو څخه عبرت تر لاسه کړئ ، د حدیث الفاظ په مصابیح کي دي او بیهقي په (شعب الایمان) کي چي کوم روایت لیکلي دی د هغه الفاظ دادی نو .
په حلال عمل وکړئ د حرام څخه ځان وساتئ او د محکم پیروي وکړئ .

تشریح : قرآن کریم د خپل اسلوب او بیان په اعتبار پر پنځه ډوله آیاتونو باندي مشتمل دی :

۱. داسي آياتونه چي په هغو کي د حلال ذکر سوی دی او د هغه احکام يې ښودلي دي.
۲. داسي آياتونه چي په هغه کي د حرامو ذکر سوی دی او د هغه احکام يې ښودلي دي.
۳. داسي آياتونه چي د هغه په معنا او مطلب کي ابهام او شک نسته بلکه هغه خپل مقصد او مراد صاف او واضح ثرگندوي لکه : اقيموا الصلوٰة و آتوا الزکوٰة ، يعني لمونځ کوئ او زکوٰة ورکوئ ، په دې حديث کي د غه ټولو آياتونو ته محکم ويل سوي دي.
۴. داسي آياتونه چي د هغه مراد واضح نه وي او نه د هغه معنا او مطلب پر هر چا ظاهر کړل سوی دی مثلاً : يد الله فوق ايديهم ، يعني د الله تعالى لاس د هغوئ پر لاسونو سربيره دی، په حديث کي داسي آياتونو ته متشابه ويل سوي دي ، په دې اړه فرمايل سوي دي چي د داسي آياتونو د معنا او مطالب په لټون کي مه لګيږئ بلکه پر هغه يوازي ايمان راوړئ او يقين وکړئ چي د الله تعالى په نزد د هغه کومه معنا مراد وي هغه حق او صحيح ده که څه هم زموږ رسيد نه هغه ته نسته.
۵. داسي آياتونه چي په هغه کي د وروستني آياتونو د حالات او واقعاتو ذکر وسی دی يعني د نيک قومونو د فلاح او کاميابۍ او د بدو قومونو د تباهۍ او بربادۍ واقعې ښودل سوي دي د هغه په باره کي فرمايل سوي دي چي د دې پېښو څخه تاسو عبرت واخلئ او وګورئ چي الله تعالى پر خپل نيکو بندګانو باندي د خپلو رحمتونو او نعمتونو څنګه باران وکړ او بدکاره او سرکښان قومونه يې د تباهۍ او بربادۍ او هلاکت په شيلو کي څنګه په عبرتناک طريقې سره واچول.

﴿۱۷۳﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْأَمْرُ ثَلَاثَةٌ أَمْرٌ بَيِّنٌ رُشْدُه فَاتَّبِعْهِ وَأَمْرٌ بَيِّنٌ غَيُّهُ فَاجْتَنِبْهُ وَأَمْرٌ اُخْتُلِفَ فِيْهِ فَكِلْهُ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ) (رواه احمد)

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د شريعت احکام پر درې ډوله دي ۱: يو حکم چي د هغه هدايت ظاهر دی د هغه پيروي کوئ ۲: دوهم حکم چي د هغه ګمراهي ثرگنده ده د هغه څخه ځان وساتئ ۳: دريم حکم مختلف فيه دی او دا الله ﷻ ته وسپارئ .احمد.

تشريح : هغه امر چي د هغه هدايت ثرگند دي داسي شيان دي چي د هغه حق او صحيح کېدل په ثرگنده توګه د آياتونو او حديثونو څخه ثابت وي لکه د لمانځه، روژې، زکوٰة، حج وغيره فرض او واجب کېدل ، په دې اړه فرمايل سوي دي چي د دې پيروي کوئ.

همدارنګه هغه امر چي د هغه ګمراهي ښکاره ده داسي شیان دي چي د هغه باطل او فاسد کېدل په څرګنده توګه معلوم وي لکه د کفارو رسمونه او د هغوئ پر طریقو باندي عمل کول او د هغو څخه د ځان ساتني حکم ورکول سوی دی . دریم امر مختلف فیه دی یعني داسي شیان چي د هغه حکم په څرګنده توګه ثابت نه دی بلکه پټ او مشتبه وي ځینو خلکو د هغه تعریف داسي کړی دی چي امر مختلف فیه هغه شیان دي چي د هغه احکام الله او د هغه رسول نه وي ښودلي بلکه خلک د هغه په تعین کي اختلاف کوي لکه آیت متشابهات او د قیامت د وخت ټاکل وغیره ، په دې باره کي حکم ورکړل سوی دی چي په داسي شیانو کي د خپل لوري هیڅ مه وایاست بلکه د هغه د حقیقي مراد او مفهوم تعین الله تعالی ته حواله کړئ هغه غوره عالم دی .

الفصل الثالث

﴿۱۷۴﴾ : عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ ذِئْبُ الْإِنْسَانِ كَذِئْبِ الْغَنَمِ يَأْخُذُ الشَّاذَةَ وَالْقَاصِيَةَ وَالنَّاحِيَةَ وَإِيَّاكُمْ وَالشِّعَابَ وَعَلَيْكُمْ بِالْجَمَاعَةِ وَالْعَامَّةِ . رواه أحمد .

د حضرت معاذ بن جبل ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : شیطان د انسان شرمښ دی لکه د پسو چي شرمښ وي چي هغه پسونه تښتوي کوم چي د رمې څخه تښتېدلي وي یا د رمې څخه لیري تللي وي یا د رمې پر غاړه وي او تاسو د غره د کندوونو (ګمراهیو) څخه ځان وساتئ او د جماعت او عوامو سره اوسئ .احمد.

تشریح : مطلب دادی چي څرنګه شرموښ یوازي پسه ویني چي د رمې څخه بیل سوی دی نو پر هغه ډېر زړوه ور وي او هغه تښتوي ، همداسي هر کله چي یو سړی د علماء دین د ډلي او د هغوئ د ډلي څخه په مخ ګرځولو سره بیل سي او د خپل عقل او فهم په طاقت نوي نوي مذهبونه راباسي او نوي نوي مذهبونه پیدا کوي نو پر هغه د شیطان په پوره توګه سره اختیار او تسلط وي ، نتیجه به دا سي چي داسي سړی د شیطان په ځنګل کي په پوره توګه سره راتلو سره د ګمراهۍ په انتهائي ژور کندو کي لوېږي .

ځکه نو د حدیث په پای کي وفرمایل سول چي د غره د کندو څخه ځان وساتئ یعني د اسلام د سیده لاري پرېښودو سره په داسي کندو کي مه کښینئ چي د ضلالت او ګمراهۍ څخه ډک وي .

﴿۱۷۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ . رواه أحمد وأبو داود .

د حضرت ابوذر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د جماعت څخه يوه لوېشت بېل سو نو هغه د اسلام پړی د خپلي غاړي څخه ايسته كړ .احمد او ابوداؤد.

تشريح : كوم سړی چي په كومه مرحله كي هم د ډلي څخه بيل سوی وي هغه به ددې خبري نښه وي چي هغه به اوس د اسلام د قيود او احكامو د پابندۍ څخه هم آزاد سي او خپل ذهني او فكري او عملي طاقتونه به داسي خوا ته كرځوي چيري چي نه يو قيد وي او نه يو پابندي بلكه هغه به آزاد او د دين شريعت غير پابند جوړ سي .

﴿۱۷۶﴾ : وَعَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ مُرْسَلاً قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوْا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا كِتَابُ اللهِ وَسُنَّةُ رَسُوْلِهِ . رواه في الموطأ .

حضرت مالك بن انس ﷛ په مرسل طريقه بيان كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما په تاسو كي دوه شيان پرې ايښي دي تر څو پوري چي هغه مو په ټينګه نيولي وي نو ګمراه به نه سئ ۱: د الله كتاب ۲: او دوهم د رسول الله ﷺ سنت . مؤطا .

﴿۱۷۷﴾: وَعَنْ غُضَيْفِ بْنِ الْحَارِثِ الثُّمَالِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا أَحْدَثَ قَوْمٌ بِدْعَةً إِلاَّ رُفِعَ مِثْلُهَا مِنَ السُّنَّةِ فَتَمَسُّكٌ بِسُنَّةٍ خَيْرٌ مِّنْ إِحْدَاثِ بِدْعَةٍ. رواه احمد

د حضرت غضيف[1] بن حارث الشمالي ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم قوم چي (په دين كي) يو نوې خبره پيداكړي د هغه په مثل يو سنت ځيني پورته كړل سي نو سنت ټينګ نيول تر نوي خبري پيداكولو غوره دي . احمد

تشريح : پر سنت باندي عمل كول كه څه هم د معمولي درجې وي تر بدعت پيدا كولو او پر بدعت باندي د عمل كولو څخه غوره دي كه څه هم هغه بدعت حسنه وي ځكه چي د سنت نبوي اتباع او پيروي سره په روح كي ځلا پيدا كيږي چي په نور سره زړه او دماغ روښانه كيږي ، ددې پر خلاف بدعت د تاريكۍ او ګمراهۍ سبب دی مثلا بيت الخلاء ته د آدابو او سنت او شريعت سره سم تلل تر سرايونو او مدرسو جوړولو غوره دي، ځكه كه يو سړی د هغه آدابو رعايت كولو

[1] د نوموړي نوم غضيف بن حارث شمالي دی او كنيت يې ابواسماء دی ، نوموړی صحابي او د انصارو څخه دی.

سره بیت الخلاء ته ځي کوم چي د حدیث څخه منقول دي نو هغه ته به پر سنت باندي عمل کونکي ویل کیږي ، ددې پر خلاف که څه هم مدرسې او خانقاه جوړول ډېر لوی کار دی مګر هغه بدعت حسنه دی ځکه نو پر دغه معمولي سنت باندي عمل کونکی به د دومره لوی کارکونکی څخه افضل وي ځکه چي د آداب سنت خیال کونکی او د سنت پیروي کونکي مقام عروج او قرب الهي ته ترقي کوي مګر سنت پرېښودونکی د مقیام علیا څخه لاندي رالویږي ، نتیجه به داسي چي داسي شیان چي افضل او اعلی وي هغه ترک کوي تر دې چي یو داسي مقام راسي چي هغه د زړه د سختوالي مرتبې ته ورسیږي چي هغه دین او طبع وایي .

د سید جمال الدین افغاني رحمة الله علیه څخه دا منقول دي چي هغه لیکي په دې کي حکمت دا دی چي چا د آداب سنت رعایت وکړ مثلا د هغه بیت الخلاء ته تلل هم د سنت د آدابو سره سم وي نو د الله تعالی دلوري دا توفیق ورکول کیږي چي هغه ددې څخه پر اعلی سنت باندي عمل وکړي نو د توفیق الهي هغه نور اعلی مقامات ته د هغه رهنمایي کوي او په آخر کي هغه منزل مقصود ته رسیږي او کوم سړی چي معمولي سنت هم پرېږدي نو نتیجه به دا وي چي په هغه کي به دا نقص پیدا کیږي چي هغه نور اعلی او افضل شیان هم پرېږدي او د هغه د زړه سلامتي په پرېښودلو د سنت په تاریکۍ کي د مبتلېدو سره تنزل کوي تر دې چي هغه په مقام رین او طبع کي لویږي .

ملا علی قاري رحمة الله علیه پر دې ځای یو ډېره ښه خبره کړې ده چي ایا تاسو دا نه وینئ چي د سستۍ په وجه سنت ترک کول د ملامتیا او عتاب باعث دی او د سنت ناقابل اعتبار ګڼلو سره پر هغه عمل نه کوي معصیت او د عذاب خداوندي سبب دی او د سنت څخه انکار د بدعتي کېدو اظهار دی مګر که یو بدعت که څه هم هغه بدعت حسنه وي ترک کړل سي نو دا ټول خبري نه لازمیږي ،لکه سنت پرېښودل چي د بې شمیره تاوانونو او فساد باعث دي مګر بدعت پرېښودل څه اثر نه اچوي ځکه نو دا معلومه سوه چي پر سنت باندي عمل کول که څه هم هغه معمولي وي د فلاح او سعادت او بهترۍ باعث دی او پر بدعت باندي عمل کول که څه هم هغه بدعت حسنه وي د هغه په مقابله کي غوره نه دي .

﴿۱۷۸﴾ : وَ عَنْ حَسَّانَ قَالَ مَا ابْتَدَعَ قَوْمٌ بِدْعَةً فِيْ دِيْنِهِمْ إِلاَّ نَزَعَ اللّٰهُ مِنْ سُنَّتِهِمْ مِثْلَهَا ثُمَّ لاَ يُعِيْدُهَا إِلَيْهِمْ إِلىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ . رواه الدارمي .

د حضرت حسان [1] بن ثابت ﷺ څخه روایت دی کوم قوم چي په خپل دین کي یوه نوې خبره پیداکړل نو الله تعالی د هغوئ څخه په هغه ډول سنت پورته کوي او بیا هغه سنت تر قیامته پوري نه را گرځي . دارمي .

﴿۱۷۹﴾: وَعَنْ إِبْرَاهِيْمَ بْنِ مَيْسَرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ وَقَّرَ صَاحِبَ بِدْعَةٍ فَقَدْ أَعَانَ عَلَى هَدْمِ الْإِسْلاَمِ . رواه البيهقي فِي شعب الإيمان مُرْسَلاً .

د حضرت ابراهیم بن میسرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي د بدعتي عزت وکړ هغه د دین په نړولو کي مرسته وکړه ، بیهقي په شعب الایمان کي مرسلا روایت کړی دی .

تشریح : د دې وجه داده هر کله چي یو سړی د یو بدعتي عزت کوي نو د هغه مطلب به داوي چي د هغه په مقابله کي هغه ته د سنت د عزت او احترام هیڅ خیال نسته همداسي د هغه د سنت تحقیر (بې عزتي) باعث کیږي او ښکاره ده چي د سنت تحقیر د اسلام عمارت نړوي ، په دې داهل سنت تحقیر هم قیاس کیدای سي که یو سړی د یو پابند شریعت او سنت توهین کوي نو هغه د دین او سنت عمارت ته تاوان رسوي د هغه پر خلاف که یو سړی د یو بدعتي تحقیر او تذلیل کوي نو دا به ددې خبري اظهار وي چي د هغه د سنت سره مینه ده چي د دین اسلام او د بنیادونو ټینګولو سبب دی چي پر هغه د بې شمیره حسناتو مستحق ګرځي .

﴿۱۸۰﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَنْ تَعَلَّمَ كِتَابَ اللّٰهِ ثُمَّ اتَّبَعَ مَا فِيْهِ هَدَاهُ اللّٰهُ مِنَ الضَّلاَلَةِ فِي الدُّنْيَا وَ وَقَاهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ سُوْءَ الْحِسَابِ . وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ مَنِ اقْتَدٰى بِكِتَابِ اللّٰهِ لاَ يَضِلُّ فِي الدُّنْيَا وَلاَ يَشْقٰى فِي الْآخِرَةِ ثُمَّ تَلاَ هٰذِهِ الْآيَةَ (فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلاَ يَضِلُّ وَلاَ يَشْقٰى) رواه رزين.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چا چي د الله د کتاب علم تر لاسه کړ او بیا څه چي په کتاب الله کي دي د هغه پیروي یې وکړل نو الله پاك به یې په دنیا کي د ګمراهۍ څخه وساتي او دهدایت پر لاره به یې لري، او د قیامت په ورځ به یې د خراب حساب څخه وساتي ، پـــــه یوه

[1] د نوموړي نوم حسان بن ثابت او کنیت یې ابوالولید دی نوموړی انصاري او خزرجي دی ، ځینو حضراتو ویلي دي چي کنیت یې ابوالحسام دی ، حضرت حسان ﷺ د حضرت علي ﷺ د خلافت په زمانه کي په کال (۴۰هـ) کي وفات سوی دی او ځیني خلك وايي چي په (۵۰هـ) کي وفات سوی دی .

روايت كي دا الفاظ دي چا چي د الله ﷻ د كتاب پيروي وكړه هغه به په دنيا كي نه گمراه كيږي او نه به په آخرت كي بدنصيب وي . د دې وروسته ابن عباس دا آيت تلاوت كړ : فمن اتبع هداى .. رزين.

تشريح : د قرآن كريم لوستل د سعادت باعث او پر دې عمل كول د خلاصون ذريعه ده ، كوم سړى چي قرآن كريم په پوهه سره وايي او د پوهېدو چي كوم شرطونه دي د هغه سره سم د هغه علوم او معارف تر لاسه كړي بيا قرآن كريم چي كوم احكام ښودلي دي په هغه عمل وكړي او د هدايت كومه لار چي يې ټاكلې ده پر هغه ځي نو پر هغه د دين او دنيا دواړو د سعادت او رحمت دروازې خلاصيږي ، په دنيا كي به پر هغه د الله تعالى د لوري دا رحمت وي چي هغه به قرآن كريم خپل رهبر جوړ كړي ځكه گناه او معصيت څخه به خوندي وي د بدۍ لار به پرېږدي ، د هغه نتيجه به په آخرت كي دا وي چي هلته به د الله تعالى د بې شميره رحمتونو په سايه كي وي او نه به ورسره د حساب او كتاب سختي وي او نه به په عذاب كي اخته وي او دا د بنده په حق كي تر ټولو لوى خلاصون او سعادت دى .

﴿۱۸۱﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ضَرَبَ اللهُ مَثَلاً صِرَاطًا مُسْتَقِيْمًا وَعَنْ جَنْبَتَيْ الصِّرَاطِ سُوْرَانِ فِيْهِمَا أَبْوَابٌ مُفَتَّحَةٌ وَعَلى الْأَبْوَابِ سُتُوْرٌ مُرْخَاةٌ وَعِنْدَ رَأْسِ الصِّرَاطِ دَاعٍ يَقُوْلُ اسْتَقِيْمُوْا عَلَى الصِّرَاطِ وَلاَ تَعْوَجُّوْا وَفَوْقَ ذٰلِكَ دَاعٍ يَدْعُوْ كُلَّمَا هَمَّ عَبْدٌ أَنْ يَفْتَحَ شَيْئًا مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ قَالَ وَيْحَكَ لاَ تَفْتَحْهُ فَإِنَّكَ إِنْ تَفْتَحْهُ تَلِجْهُ . ثُمَّ فَسَّرَهُ فَأَخْبَرَ أَنَّ الصِّرَاطَ هُوَ الْإِسْلاَمُ وَأَنَّ الْأَبْوَابَ الْمُفَتَّحَةَ مَحَارِمُ اللهِ وَأَنَّ السُّتُوْرَ الْمُرْخَاةَ حُدُوْدُ اللهِ وَأَنَّ الدَّاعِيَ عَلىٰ رَأْسِ الصِّرَاطِ هُوَ الْقُرْآنُ وَأَنَّ الدَّاعِيَ مِنْ فَوْقِهِ وَاعِظُ اللهِ فِيْ قَلْبِ كُلِّ مُؤْمِنٍ . رواه رزين وأحمد . والبيهقي في شعب الإيمان عن النواس بن سمعان وكذا الترمذي عنه إلا أنه ذكر أخصر منه .

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله ﷻ يو مثال بيان كړى دى يوه سيده لاره ده او د هغې دواړو خواوو ته دوه ديوالونه دي په دې ديوالو كي خلاصي دروازې دي او پر دروازو پردې پرتې دي او د لارې په سر كي دعوت وركونكى ولاړ دى چي په لوړ آواز سره وايي پر سيده لار راځئ آخوا دېخوا مه ځئ او دهغه بلونكي لوړ يو بل بلونكى ولاړ دى هر كله چي يو بنده په دې دروازو كي يوه دروازه خلاصول غواړي نوهغه دوهم بلونكى ورته په لوړ آواز وايي پر تا افسوس دى دا مه خلاصوه كه ته دا خلاصه كړې نو په دې كي به دننه داخل سې ، د دې مثال په بيانولو سره رسول الله ﷺ د دې تفسير داسي وفرمايه : چي سيده لار اسلام دى او په ديوالو كي چي كومي دروازې خلاصي دي د هغه څخه

مراد هغه شيان دي چي الله تعالى حرام كړي دي او كومي پردې چي پر دروازو دي هغه دالله تعالى حدود دي او هغه بلونكى چي دسيده لاري پر سر ولاړ دى هغه قرآن دى او هغه بلونكى چي د دغه پورته ولاړ دى هغه د الله واعظ (نصيحت كونكى) دى چي د هر مؤمن په زړه كي موجود دى (رزين او احمد) بيهقي دا روايت د نواس بن سمعان څخه نقل كړى دى او ترمذي هم د هغه څخه روايت كړى دى خو ترمذي په لنډو الفاظو بيان كړى دى.

تشريح : شرعي احكام زيات وخت د دوو ډولونو سره متعلق دي يعني حلال او حرام، او دا دواړه شريعت په وضاحت سره بيان كړي دي كوم شيان چي حلال دي د هغه په اړه هم اعلان سوى دى او كوم شيان چي حرام دي د هغه هم وضاحت سوى دى او ښودل سوي دي چي د داسي شيانو په اختيارولو سره د سزا وړ ګرځي ، كوم شيان چي حرام ګرځول سوي دي د هغه او بندګانو په مينځ كي الله تعالى د خپل احكامو سره حدونه قائم كړي دي چي بندګان د هغه څخه په تجاوز كولو سره د محرماتو د كولو مجرم نسي، دا حرام شيان او حدود چي الهي احكام دي په مثال كي د دروازو او پردو سره تشبيه وركړل سوې ده.

همداسي په پورتني مثال كي فرمايل سوي دي چي د هر مؤمن پر زړه يوه ملائكه وي چي د زړه ساتونكې وي د هغې كار دا وي چي هغه بنده د نيكۍ پر لار بيولو څخه كوي دې ته تائيد الهي او توفيق الهي وايي ، كه د يو بنده سره تائيد الهي او توفيق خداوندي نه وي نو انسان هر څومره كه غواړي د هدايت پر لار نسي تلاى ، په مثال كي قرآن كريم رهبر ښودل سوى دى خو دې طرف ته هم اشاره سوې ده چي د قرآن كريم هدايت هم هغه وخت په كار كيږي هر كله چي د بنده سره تائيد الهي او توفيق خداوندي هم شامل حال وي ، قرآن كريم خو لار ښيي او پر سيده لار باندي د تلو هدايت كوي د دې څخه نصيحت حاصلول او پر هغه لار تللو سره منزل مقصود ته رسيدل هغه وخت كيداى سي هر كله چي د بنده په زړه كي د الله ﷻ د لوري هدايت واچول سي.

﴿۱۸۲﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ مَنْ كَانَ مُسْتَنًّا فَلْيَسْتَنَّ بِمَنْ قَدْ مَاتَ فَإِنَّ الْحَيَّ لَا تُؤْمَنُ عَلَيْهِ الْفِتْنَةُ . أُوْلٰئِكَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانُوْا أَفْضَلَ هٰذِهِ الْأُمَّةِ أَبَرَّهَا قُلُوْبًا وَأَعْمَقَهَا عِلْمًا وَأَقَلَّهَا تَكَلُّفًا اِخْتَارَهُمُ اللّٰهُ لِصُحْبَةِ نَبِيِّهٖ وَلِاِقَامَةِ دِيْنِهٖ فَاعْرِفُوْا لَهُمْ فَضْلَهُمْ وَاتَّبِعُوْهُمْ عَلٰى آثَرِهِمْ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دى : څوك چي د يوې طريقي پيروي كوي نو هغه ته پكار دي چي د هغو خلګو پيروي وكړي كوم چي مړه سوي دي ځكه چي ژوندي د فتنې څخه خوندي نه وي او هغه (وفات سوي) د محمد ﷺ صحابه كرام دي چي ددې امت غوره خلك وه د زړونو په

وَتَمَسَّكُوْا بِمَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ أَخْلَاقِهِمْ وَسِيَرِهِمْ فَإِنَّهُمْ كَانُوْا عَلَى الْهُدَى الْمُسْتَقِيْمِ . (رواه رزین)

اعتبار د علم په اعتبار پوره او ډیر کم تکلیف کونکی خدای د خپل نبي د صحبت لپاره او دخپل دین د قائم ساتلو لپاره خوښ کړي وه نو تاسو د هغوئ بزرگي و پیژنئ او تر څو پوري چي ممکن وي د هغو عادات او اخلاق غوره کړئ متابعت یې وکړئ د دوئ پر قدمونو منگولي ښخي کړئ په هغو چي په وس کي مو وي له خویونو د هغوئ او له طریقو د هغوئ او همدغه خلك پر صراط مستقيم باندي وه . رزین .

تشریح : د مړو سوو خلکو څخه مراد صحابه کرام او د ژوندیو خلکو څخه د ابن مسعود ﷺ د زماني خلک او تابعین مراد دي، ابن مسعود ﷺ دا ارشاد د تابعین په مخکي د نصیحت لپاره وفرمایه، او کیدای سي چي په هغه دور کي د باطل ډلي پیدا سوي وي چي د صحابه کرامو پر پاکو لمنو یې د نجاست او غلاظت څاڅکي اچول، څرنگه چي د رافضي او ملحدینو ډلي په دې ناپاکه بوختیا کي لگیدلي وه ځکه ابن مسعود ﷺ د هغوئ غلط الزامات (درواغو) او پر صحابه کرامو باندي د تړلي بهتان په رد کي د صحابه کرامو د بزرگۍ او فضیلت اظهار وکړ .

ابن مسعود ﷺ شهادت ورکوي چي صحابه کرام د امت غوره او د انتهائي درجې نیک خلک وه ، یعني د هغوئ زړونه د ایمان او اسلام په رڼا سره په پوره توگه منور سوي وه د خلوص او استقامت په صفتونو سره متصف وه د ایمان کامل په دولت مشرف وه او د زهد، تقدس او خشیت الهي څخه د هغوئ زړونه ډک وه .

بیا دوهمه خبره داده چي دا هغه مقدسه ډله وه چي تر ټولو مخکي د رسول الله ﷺ پر آواز یې لبیك ووایه او د الله تعالی د دین په خپرولو کي معین او مرستیالان وه ، د هغه په نتیجه کي چي کوم مصیبتونه هغوئ زغملي دي او د ظلم او ستم او تشدد زمانه تیره سوه او د اسلام د اشاعت او بقاء په لړۍ کي چي کومي قرباني هغوئ ورکړي دي نو هغه د تاریخ اسلام تر ټولو تابناك باب دی .

په اسلامي تاریخ پوهیدونکي پوهیږي چي دغه مقدسو حضراتو د رسول الله ﷺ معاونت او رفاقت او د دین اسلام په تبلیغ او خپرولو کي د څومره سختیو او مشکلاتو مقابله وکړه ، د ژوند هیڅ یو داسي تکلیف نه وو چي په هغه کي دوئ اخته نه سول هیڅ یو داسي امتحان نه وو چي پر هغه دوئ تیر نه سول، او دا ټول د الله تعالی د لوري یوازي د دې لپاره وه چي د هغوئ زړونه ښه معلوم کړل سي او وکتل سي چي د کوم عظیم مشق چلولو لپاره هغوئ تاکل کیږي او

د کوم رسول د رفاقت په شان عظیم منصب لپاره هغوئ تاکل کیږي د هغوئ ذهن، فکر او دماغ د هغه اهل دی که یا.

د هغوئ زړونه د سختیو زغملو قابل او پر مشکلاتو باندي صبر کونکي او شکر کونکي دي که یا، هغوئ په امتحان کي واچول سول ازموینه پر وکړل سول خو هغه حضرات د امتحان او ازمویني په هره مرحله کي کامیاب سول او د مصیبت او سختی د هري بتی څخه راووتل، د هغوئ د صبر او رضا چي امتحان واخیستل سو نو داسي صابر او شاکر وختل چي د لوی څخه لوی سختی باندي هم د هغوئ په قدم کي د لړزېدو پر ځای نور استقامت پیدا سو او هغوئ پر خپل ایمان او یقین باندي په پوره یقین او اعتماد سره قائم او ټینګ پاته سول. د هغوئ ددغه عظیم وصف شاهدي قرآن کریم داسي ورکړې ده:

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَىٰ . سورة البقرة ۴

ژباړه: دا (صحابه کرام) هغه کسان دي چي الله پاک د هغوئ زړونه د تقوا لپاره ازمویلي دي.

که د علم او فضل دا ازموینه وکتل سي نو بلا مبالغه نتیجه به دا وي چي هر صحابي د علم او معرفت، فهم او فراست، تدبر او تفکر، عقل او پوهي د نور مینارونه وه چي د هغوئ څخه دنیا د ظلم او جهل په دې ماحول کي د تعلیم او ترقی، تهذیب او شرافت او د انسانیت رڼا تر لاسه کړه، څوک په حدیث او تفسیر کي بې مثاله وو، څوک د فقه او قرائت امام وو، په چا کي د تصوف او فرائضو علم په پوره کمال سره وو، په چا کي د معاني او آدابو بحر څپې وهونکی وو، غرض دا چي هر یو پر خپل ځای په علمي حیثیت سره هم کامل او اکمل وو، او بیا دا چي د رسول الله ﷺ د شرف صحبت اثر کمال هم وو چي نه یوازي نارینه صحابه کرام بلکه ښځینه صحابیه هم پر خپل خپل ځای د علم او معرفت لمر او سپوږمی د هدایت وې چي د هغوئ څخه لویو لویو صحابه کرامو رڼا تر لاسه کړه،

د روحاني او اُخروي عظمت او سعادت په دې عظیمه مرتبه کېدو سره د دې مقدس حضراتو د بې تکلفی دا حال وو چي په علمی نړۍ کي هم د دولت، حکمرانی او ملک او وجاهت سربېره نه هغوئ ته لوځي پښې تلل پیغور وو نه پر مځکه او فرش باندي د لمانځه کولو ناسته او ولاړي څه شرم محسوس کېدی، د سادګی حدود چي د خاورو او لرګیو په لوښو کي خوراک او څښاک هیڅ تکلیف نه وو د نورو خلکو پاته سوي شیان خوړل د هغوئ په نزد هیڅ عیب نه وو، د خبرو اترو او ادب یې دا کیفیت وو چي په ذاتي خبرو اترو کي هم د شرافت او

تهذیب لمن پرې نه ښودل .

د بیکاره خبرو لایعني او پالتو بحثونو څخه به ډېر لیرې اوسیدل ، کلام او خبرې به یې هغه وخت کولې چې ضروري او بالمقصد به وې ، صاف ویانده د دې درجې وه چې کومه مسئله به ورته معلومه نه وه په ډېره صفائي سره به یې ویل چې موږ ته دا معلومه نه ده چې د نن سبا په ډول خامخا په تکلف سره په تقریرونو سره مسئله به یې نه بیانول بلکه شوک چې به یې د ځان څخه غوره گڼي نو په ډېر خلوص سره به یې مسائل هغه ته لیږل ، د استفادې لپاره هغه ته په ورتلو کې به هغوئ ته هیڅ شرم نه محسوس کیدی .

څرنگه چې ښودل سوې دي چې د هغوئ ډ ژوند په هیڅ برخه کې تصنع (ځان ښودني) نوم قدرې هم نه وو ، تر دې چې هغه خلکو به قرآن کریم لوستی نو هغه به یې د ریاء او ځان ښودني بغیر په پوره حقوق او اداب محلوظ ساتلو سره خالص په عربي لهجه کې به یې ساتی دا نه چې خامخا په آواز جوړولو سره راگ او سُر به یې لوستی .

همدا حال د هغوئ د باطن هم وو هغوئ د رسول کریم ﷺ د قرب او صحبت شرف حاصل وو څکه د هغوئ زړونه په پوره توگه سره روښانه او صفا کېدو سره هر وخت په یاد الهي او ذکر الله کې مصروف وه ، د هغوئ افکار د عرفان او حقیقت پر انتهائي لوړتیا باندې وه .

د نن زمانې جاهل صوفیانو او پیرانو په شان هغوئ د ښودنې لپاره په حال کې راتلو سره رقص نه کوی او نه به یې هو هو شور او غالمغال کوی او نه هغوئ د خپلو زړونو د صفائي لپاره د هارمونیم ساز او ډول او قوالۍ سره د حصول معرفت دعوه کول ، څرنگه چې په نن زمانه کې د اهل الله پر مزارونو د دې لغویات سره د تصوف او طریقت په نامه سر او کیف حاصلول کیږي او نه هغوئ د یو سکیم او تنظیم په اړه یو حلقه وغیره جوړولو سره په مسجد او کورونو کې په زوره ذکر کوی بلکه په ډېره سادگۍ سره چیرې چې به موقع وه په یاد الهي کې به په ډېر صبر او سکون سره بوخت کېدل ، د هغوئ د دې سادگۍ او خلوص په وجه په ظاهره خو د هغوئ بدنونه پر فرش معلومېدل مگر د هغوئ روحونو به د عرش سیل کوی ، د هغوئ ظاهري بدن به د خلکو سره وو مگر د هغوئ زړونه به د مقام مقرب په انتهائي لوړتیا کې وه ، د صحابه کرامو ټولنیز ژوند هم د تصنع او تکلف څخه بالکل صاف وو هغوئ ته به چې څه حاصل سول هغه به یې خوړل څه چې به یې پیدا کړل هغه به یې اغوستل که غټه جامه به وه هغه به یې واغوستل او که ښه به ورته ترلاسه سول نو هغه به یې استعمال کړل دا نه چې دنیا ته د ښوونې لپاره یا د خپل زهد او

تقدس رعب كولو لپاره داسي جامې يې پرځان لازمي كړي وي ، مگر هو چا ته چي به دا جامه تر لاسه سوه نو دا به يې هم استعمالول ، په خوراک او څښاک کي به دا تامل وو چي حلال رزق به څرنګه وو خوړی به يې ، خوندور شيان مثلا غوښه، شيدې او ميوه وغيره د الله تعالى نعمتونه که به ورته حاصل سول نو هغه به يې په خوند سره خوړل او که سپيره دال وغيره به الله تعالى ورکړل نو هغه به يې په ډير صبر او شکر سره خوړل، په هر حال عبادات وي يا معاملات ، اخلاق وي که عادات يا معيشت او معاشرت د ژوند په هر اړخ کي به هغوئ كي خلوص، بې تكلفي او سادګي وه .

هغوئ خپل د ژوند نظام په يو داسي قالب كي اچولی وو چي خالص اسلامي دين او اخلاقي وو او دا ټول د نبوت پيرزوينه وه او د هغه د مبارک ذات د صحبت اثر وو چي خپله د خپل قول سره سم (ادبني ربي فاحسن تاديبي) يعني الله تعالى ما ته ادب وښودل او د ادب انتهائي درجې ته يې ورسولم ، د دې سره سم اخلاق او آداب ، تهذيب او شرافت ټول جواهر چي د ازل څخه په ځان كي ځای کړي وه چي کوم قوم د دنيا د ټولو څخه زيات غير مهذب، غير متمدن او غير ترقي يافته وو ، د اصلاح او تربيت په ذريعه هغه د تهذيب او تمدن، او اخلاق او احسان هغه رفيع مقام ته ورسوی چي هلته نه يوازي دا چي هغوئ خپله يو كامل او عظيم قوم ثابت سو بلكه د دنيا نورو قومونو د هغوئ نقش قدم د ځان لپاره جائز منزل جوړ لو سره د تهذيب او تمدن انتهائي لوړتياوو باندي تكيه وكړل.

په دغه حديث كي ابن مسعود ﷺ خلكو تــــه دا هدايت كوي چي كه چيري تاسو هدايت غواړئ ، د فلاح د منزل غوښتونكي ياست ، عرفان الهي او د حب رسول انتهائي مقام ته رسيدل غواړئ نو ستاسو لپاره ضروري ده چي د دې مقدس ډلي لار اختيار كړئ د دوئ اخلاق او عادت د ځان لپاره د منزل لار وګرځوئ د دوئ پيروي د كاميابى ذريعه وګڼئ او د دوئ عقيدت او محبت سره د ژوند هر اړخ منور كړئ .

دلته بايد په دې پوه سو چي د ابن مسعود ﷺ د ارشاد څخه په څرګنده دا معلوميږي چي كوم صحابه كرام وفات سوي دي د هغوئ پيروي او اطاعت كول پكار دي حال دا چي مقصد دادی چي د پيروي لائق د صحابه كرامو ډله ده كه هغه ژوندي وي يا ددې دنيا څخه رخصت سوي وي ، د خلكو خاصوالی ځكه سوی دی چي اكثر صحابه كرام هغه وخت وفات سوي وه كنه نو دلته ژوندي او مړه دواړه مراد دي .

د دې حدیث څخه د صحابه کرامو د ډیر عظمت او فضل و کمال اظهار کیږي ، په ټول مخلوق او انسانانو کي (د پیغمبرانو څخه پرته) دوئ تر ټولو افضل دي او د حق او صداقت د قبلولو صلاحیت په هغوئ کي په پوره توګه موجود وو ، ځکه نو الله تعالی هغوئ د خپل نبي د ملګرتیا لپاره خوښ کړل او په قرآن کریم کي په دې توګه د هغوئ د فضل او کمال شاهدي ورکړل سوې ده: وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوَى وَكَانُوا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا. سورة الفتح ۲۶

ژباړه : او دا (صحابه کرام) یې د پرهیزګارۍ پر خبره قائم وساتل او هغوئ ددې مستحق او اهل دور وه . په ځینو آثارو کي راغلي دي چي پروردګار عالم د ټولو بندګانو پر زړونو باندي نظر وفرمایه نو د رسول الله ﷺ زړه مبارک تر ټولو زیات منور او روښانه وو نو ځکه نور نبوت یې په هغه کي ودیعت (سپارلو) وفرمایه ، او د صحابه کرامو زړونه هم ډیر زیات پاک او صاف او اهل لائق وه نو هغوئ یې د خپل نبي د ملګرتیا لپاره غوره کړل .

او په دې خبره خو نن سبا موږ په خپله هم پوهیږو چي یو سړی هر کله د یو پیر پر حق مرید سي نو د دې سربیره چي هغه د مخکي څخه خالي وي مګر د پیر د صحبت او د هغه د خدمت او پیروي په وجه هغه څومره اعلی مقام حاصلوي نو ایا دا ممکن ده چي صحابه کرام خپل ژوند د رسول الله ﷺ په مینه کي او خپل عمر د رسول الله ﷺ په خدمت کي صرف کړي او فضل او کمال دي تر لاسه نه کړي.

﴿۱۸۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَتَى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنُسْخَةٍ مِّنَ التَّوْرَاةِ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ هٰذِهٖ نُسْخَةٌ مِّنَ التَّوْرَاةِ فَسَكَتَ فَجَعَلَ يَقْرَأُ وَوَجْهُ رَسُوْلِ اللهِ يَتَغَيَّرُ فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ ثَكِلَتْكَ الثَّوَاكِلُ أَمَا تَرٰى مَا بِوَجْهِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَظَرَ عُمَرُ إِلٰى وَجْهِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ غَضَبِ اللهِ وَغَضَبِ رَسُوْلِهٖ رَضِيْنَا بِاللهِ رَبًّا وَّبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا وَّبِمُحَمَّدٍ نَّبِيًّا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ لَوْ

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي : (یوځل) حضرت عمر ﷺ رسول الله ﷺ ته د تورات نسخه راوړل او عرض یې وکړ اې دالله رسوله ! دا د تورات نسخه ده، رسول الله ﷺ پټه خوله سو ، بیا حضرت عمر تورات ویل پیل کړل او درسول الله ﷺ مخ مبارک متغیر کیدی ، د دې په لیدو سره ابوبکر صدیق ﷺ وویل اې عمر ! پر تا دي ویر کونکي ښځي ویر وکړي (مور دي در باندي بوره سي) ایا ته د رسول الله ﷺ مخ مبارک نه وینې . حضرت عمر ﷺ چي رسول الله ﷺ ته وکتل نو وه یې ویل : زه د الله او د هغه د رسول د ناراضګۍ څخه

بَدَا لَكُمْ مُوْسٰى فَاتَّبَعْتُمُوْهُ وَتَرَكْتُمُوْنِيْ لَضَلَلْتُمْ عَنْ سَوَاءِ السَّبِيْلِ وَلَوْ كَانَ مُوْسٰى حَيًّا وَأَدْرَكَ نُبُوَّتِيْ لَاتَّبَعَنِيْ. (رواه الدارمي)

په الله تعالى پناه غوارم موږ د الله په رب كېدو پر دين اسلام او د محمد ﷺ پر نبوت راضي يو . نو رسول الله ﷺ وفرمايل : په هغه ذات دي مي قسم وي د چا په واك كي چي د محمد ﷺ روح ده كه تاسو ته موسى ﷺ ښكاره سي نو تاسو به د هغه اطاعت قبول كړى واى او زه به مو پرېښى واى (او ددې نتيجه به دا واى چي) تاسو به د سيده لاري څخه گمراه سوي واى حال دا چي كه موسى ﷺ ژوندى واى او زما د نبوت زمانه يې تر لاسه كړې واى نو يقينا به يې زما پيروي كولاى . دارمي .

تشريح : جمله د (ثَكِلَتْكَ الثَّوَاكِلُ) يعني وركونكى دي تا ورک كړي، د خپل معنا او مفهوم په اعتبار د مرگ لپاره ښيرا ده ، مگر دا د اهل عربو يوه محاوره ده چي په خپل اصلي معنا او مفهوم كي نه استعماليږي بلكه پر داسي موقع باندي ويل كيږي هر كله چي د يو بې تكلفه ملگري سره د يو تعجب اظهارول مقصد وي لكه څرنگه چي يو سړى بې تكلفه مخاطب ته پر داسي موقع باندي چي هغه په يو څرگنده خبره هم نه پوهيږي نو دا ورته ووايي چي ما ته ډير تعجب دى چي ته په دې څرگنده خبره هم نه پوهيږې .

د دغه حديث څخه معلومه سوه چي د كتاب او سنت په پرېښودو سره د يهودو او نصاراوو د حاكمانو او فيلسوفانو طرف ته بې ضرورته رجوع كول او هغه خوا ته التفات كول مناسب نه دي بلكه دا د گمراهۍ خبره ده .

﴿۱۸۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلَامِيْ لَا يَنْسَخُ كَلَامَ اللهِ وَكَلَامُ اللهِ يَنْسَخُ كَلَامِيْ وَكَلَامُ اللهِ يَنْسَخُ بَعْضُهُ بَعْضًا .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما كلام (خبري) كلام الله نه سي منسوخ كولاى او كلام الله زما كلام منسوخ كوي او د كلام الله ځيني برخه ځيني نوري برخي هم منسوخ كولاى سي .

تشريح : د نسخ معنا په لغت كي د يو شي نړول يا په نقل او تحويل كي راتلل دي لكه چي ويل كيږي : (نسخت الريح آثار القوم) يعني هواء د خلكو د پښو نښي خرابي كړې ، يا داسي ويل كيږي : (نسخ الكتاب الى كتاب) يعني د يو ځاى څخه كتاب بل ځاى ته نقل كړه .

د علماؤ په اصطلاح كي نسخ دې ته وايي چي په يو شرعي حكم كي د دين د اصلاح په خاطر د دوهم حكم په ذريعه تغير او تبديل وكړل سي يا يو داسي حكم نافذ كول چي د هغه

وروسته د هغه مخکنی حکم چي مقدم وو لوړ سي ، لومړی حکم ته منسوخ او دوهم حکم ته ناسخ وايي .

د نسخ څلور ډولونه دي : (۱): د کتاب الله نسخ په کتاب الله سره . (۲) د حديثو نسخ په حديث سره . (۳) :د کتاب الله نسخ په حديث سره . (۴) : د حديث نسخ په کتاب الله سره .

د دې وضاحت دادی چي مثلا مخکي يو حکم په قرآن کريم کي د الله تعالی د لوري نازل سو مګر وروسته د يو خاص حکمت په وجه د قرآن کريم د دوهم آيت په راتلو سره هغه حکم منسوخ کړ ، اوس ددې دوه صورتونه دي يا خو هغه آيت په قرآن کريم کي پاته سو او يوازي تلاوت يې کيږي مګر د هغه حکم کالعدم (لکه نيستي) وګرځول سو يا دا چي د حکم سره آيت هم منسوخ کړل سو ، او همداسي د نسخ دوهم صورت دادی چي د حديث يو حکم د حديث په ذريعه منسوخ کړل سوی وي ، دريم شکل د نسخ دادی چي د قرآن کريم يو حکم د حديث په ذريعه رسول الله ﷺ منسوخ فرمايلی وي مګر په هغه کي دا اشکال نسي پيدا کيدای چي رسول يو انسان دی او هغه حکم الهي څرنګه کالعدم ګرځولای سي ، دا اشکال هلته رفع سوی دی چيري چي دا ښودل سوي دي چي حديث خو په ظاهره د رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه د وتلو الفاظو د ټولګي نوم دي مګر په حقيقت کي حديث هم وحي من الله دي ، فرق يوازي دومره دی چي قرآن کريم داسي وحي دی چي د هغه تلاوت نه کيږئ او د هغه مضمون د الله تعالی د دربار څخه نازليږي مګر الفاظ د رسول وي په دې صورت کي دا حديث متعارض معلوميږي چي د هغه څخه معلوميږي چي حديث د قرآن کريم حکم منسوخ کولای نسي نو ددې جواب به دا وي چي په حديث کي د لفظ کلامي څخه مراد د رسول الله ﷺ ذاتي رايه او د جتهاد پر طريقه وارد وي نه دا چي هغه ارشاد چي د وحي په توګه د رسول الله ﷺ پره زړه القاء کړل سوی دی ، ددې تاويل څخه وروسته دا تعارض رفع کيږي يا دا تاويل به دا کيږي چي دا حديث خپله منسوخ دی نو په دې سره پر هغه کليه باندي اثر نه لويږي .

څلورم صورت د نسخ دادی چي د حديث يو حکم د کتاب الله په ذريعه منسوخ کړل سوی وي چي دلته په دې خبره هم پوهېدل پکار دي چي په يو قانون کي تبديلي يا د يو حکم منسوخ کېدل په دوو وجو سره کيږي لومړی خو دا چي قانون جوړولو په وخت کي د قانون جوړونکي څخه کوتاهي يا غلطي سوې وي چي د هغه په وجه وروسته په هغه قانون کي تبيدلي او منسوخي ضروري ګرځول سوې وي .

ځرګنده ده چي په کلام الله کي دا محال ده ځکه چي د الله تعالى عليم او خبير ذات د هيڅ ډول غلطۍ او هيري څخه بالکل پاک او صاف دى ځکه نو کوم قانون چي جوړوي يا کوم حکم ورکوي هغه به بالکل کامل او صحيح وي په هغه کي د غلطۍ امکان نسي کيدلاى ، همدارنګه د رسول په ښودل سوو احکامو کي هم دا شي نسي کيدلاى ځکه چي داسي احکام چي د هغه تعلق د ديني امورو سره وي هغه د الله تعالى د لوري نازليږي او د الله تعالى د لوري د هغه جاري کېدل په عمل کي راځي ، لکه هغه چي خپله هم د احکام الله په مرتبه کي وي دا وجه ده چي ځرنګه د قرآن په احکامو عمل کول فرض دي همداسي د حديث د احکامو پيروي کول هم ضروري او لازم دي نو د حديث په احکامو کي هم د يو حکم د تبديلۍ سبب دا نسي کيدلاى ، د يو تاوان او حکم د تبديلۍ او منسوخ کېدو دوهمه وجه دا وي چي د محکوم حالت پر بدليدو باندي نسخه هم بدلولاى سي .

مثلا يو قانون جوړ سو يا يو حکم ورکړل سو هغه وخت ماحول د هغه ډول قانون غوښتونکى وو يا د محکوم ذهن او مزاج د هغه حکم وړ وو مګر وروسته هر کله چي په ماحول کي تبديلي راغلل د محکوم ذهن او مزاج هم دوهم قانون اختيار کړ ، اوس د پاته قانون حکمت هم بدل سو نو هغه د محکوم او ماحول د خير او اصلاح په خاطر د هغه څخه مخکي قانون بدل کړ او د هغه پر ځاى يې يو بل دوهم قانون جاري کړ ، ځرګنده ده چي داسي نسخ به صحيح او جائز وي په دې کي د هيڅ ډول غلطۍ او نقلي اشکال نسي پيدا کيداى او دا تبديلي او تغير او نسخ د قرآن کريم او حديثو په احکامو کي کيږي نو په دې کي هيڅ شبهه نسي کيدلاى .

﴿۱۸۵﴾: وَعَنْ اِبْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اَحَادِيْثَنَا يَنْسَخُ بَعْضُهَا بَعْضًا كَنَسْخِ الْقُرْاٰنِ .

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زموږ ځيني حديثونه ځيني منسوخ کوي لکه ځرنګه چي قرآن (د قرآن ځيني برخي) منسوخ کوي

﴿۱۸۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ فَرَضَ فَرَائِضَ فَلاَ تُضَيِّعُوْهَا وَحَرَّمَ حُرُمَاتٍ فَلاَ تَنْتَهِكُوْهَا وَحَدَّ حُدُوْدًا فَلاَ تَعْتَدُوْهَا وَسَكَتَ عَنْ أَشْيَاءَ مِنْ غَيْرِ نِسْيَانٍ فَلاَ تَبْحَثُوْا عَنْهَا .رَوَى الأَحَادِيْثَ الثَّلاَثَةَ الدَّارَقُطْنِيُّ .

د حضرت ابو ثعلبة[1] الخشني ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی ځو خبري فرض کړي دي تاسو هغه مه ضائع کوئ او ځو شیان الله پاك حرام کړي دي هغه ته مه نژدي کیږئ او ځو حدونه یې ټاکلي دي د هغو څخه تجاوز مه کوئ او د ځو شیانو په بیانولو کي یې سکوت اختیار کړی دی بې له هیروالي نو تاسو په دغه شیانو کي بحث مه کوئ .(ذکر سوي) دري سره احادیث دار قطني روایت کړي دي) .

[1]- د نوموړي په نامه کي ډیر اختلاف دی ځینو جرهم بن ثابت وایي او ځیني جرثوم بن ثابت او عمر ابن جرثوم لیکلي دی ، په هر حال دی په خپل کنیت ابوثعلبه سره مشهور دی ، د عبدالملك بن مروان په زمانه کي په کال (۷۵هـ) کي وفات سوی دی .

بسم الله الرحمن الرحيم

كِتَابُ الْعِلْمِ

(علم او د هغه د فضيلت بيان)

علم څه شي دی ؟ دا هغه عظيم وصف دی چي انسان ته نه يوازي دا چي د شرافت او تهذيب سرمايه وربخښي بلکه د عزت او عظمت په دولت سره يې هم نازوي، په اخلاق او عاداتو کي ځلا پيدا کوي او انسانيت ډيري لوړی ته رسوي بلکه انساني زړه د عرفان الهي په مقدسه رڼا سره منور کوي ، ذهن او فکر ته د صحيح عقيدې معراج بخښي او زړه او دماغ د خدا پرستی او اطاعت پر لاره مستقيم روانوي .

اسلام چي د انسان لپاره د پرمختګ او عظمت په لار کي تر ټولو عظيم د نور مينار دی ، هغه دا عظيم وصف د انسانيت لپاره ضروري ګرځوي او د دې تر لاسه کول د ديني او دنياوي ترقی او کاميابی زينه جوړوي، دا خبره په ذهن کي کښېنول پکار ده چي اسلام هر هغه علم ته د قدر په نظر ګوري چي د اسلامي عقيدو او عمل سره د مزاحم کېدو پرته د انساني معراج ضامن وي ، اسلام د هيڅ علم د تر لاسه کولو څخه منعه نه کوي مګر د داسي علم څخه د بيزاری اظهار هم کوي چي ذهن او فکر د ګمراهی په لور اړوي يا انسان د الله تعالی او د رسول څخه په نا اشنا کولو سره د الحاد او دهريت پر لار روانوي .

دلته د کتاب العلم د عنوان ورکولو سره چي د کوم علم ضرورت او فضيلت باندي مشتمل د حديثو بيان جاري دی هغه علم دين دی چي په شريعت کي بنيادي او ضروري حيثيت لري ، ديني علم د نورو علومو په مقابله کي د اسلام په نظر کي تر ټولو مقدم او ضروري دی ، د دې تر لاسه کول د هر مسلمان لپاره ضروري ګرځول سوی دی لکه چي ارشاد دی :

(طلب العلم فريضة على كل مسلم)

ژباړه : د علم تر لاسه کول پر هر مسلمان باندي فرض دی، ښکاره ده چي اسلام د کوم ژوند غوښتنه کوي او انسان د عبوديت په کوم معراج ليدل غواړي هغه پر علم دين باندي موقوف دی د علم دين په وجه انسان انسان جوړېږي او بنده د خپل حيثيت پيژندلو سره د ذات حق عرفان تر لاسه کوي او د عقيدې او عمل ټولي لاري د دې څخه راوځي چي پر هغه تللو سره بنده د خپل پروردګار حقيقي اطاعت کونکی او د رسول فرمانبردار او د دين او شريعت پابند جوړېږي .

د دین علم چي پر کتاب الله او سنت رسول الله باندي مشتمل دی ، د دې دوه ډوله کيږي :
لومړی مبادي يعني وسائل ، دوهم مقاصد .
مبادي هغه علم ته وايي چي د هغه پر حصول باندي د کتاب او سنت معرفت موقوف وي يعني تر څو پوري چي دا علم تر لاسه نه کړي ذ قرآن او حديث د علوم د معارف عرفان نسي تر لاسه کيدای مثلاً ، لغت، صرف ، نحو او داسي نور، تر څو چي دا حاصل نه کړي او په دې نظر نه وي چي د کتاب او سنت علم په صحيح توګه باندي نسي راتلای او نه د هغه حقيقي منشا او مقصد تر لاسه کيدای سي .
مقاصد هغه علم دی چي د عقائدو ، اعمالو او اخلاقو سره متعلق وي يعني دا هغه علم دی چي مقصود بالذات او في نفسه ضروري وو ، او د دې حاصلولو سره د دین او شريعت د پابندۍ سيده لار مخته راځي دې ته لو ته علم معاملت هم وايي ، همدارنګه يو علم مکاشفه هم وي ، دا په اصل کي هغه نور وي چي پر علم ظاهر باندې په عمل کولو سره په زړه کي پيدا کيږي چي د هغه په مقدسه رڼا سره د هر شي حقيقت څرګنديږي او د حق تعالی ذات او صفات او د احوالو معرفت پيدا کيږي ، دغه علم مکاشفه ته علم حقيقت او علم وراثت هم وايي څرنګه چي د رسول الله ﷺ ارشاد دی : من عمل بما علم ورثه الله ما لم يعلم .
ژباړه : کوم سړی چي په علم باندي عمل کوي الله تعالی هغه ته هغه علم په برخه کوي چي نه پيژندل کيږي او نه لوستل کيږي .
په هر حال د علم ظاهر او علم باطن چي کوم ډولونه مشهور دي هغه هم دادی چي د يو بل لپاره لازم او ملزوم دي او په دغه دواړو کي د بدن او روح او د پوست او مغز نسبت دی او د علم په فضيلت کي چي کوم آياتونه راغلی دي يا کوم حديثونه منقول دي هغه ټول اقسام د مراتبو د درجاتو په تفاوت سره شامل دي .

الفصل الاول

﴿۱۸۷﴾: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلِّغُوْا عَنِّيْ وَلَوْ آيَةً وَحَدِّثُوْا عَنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ وَلاَ حَرَجَ وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ . رواه البخاري	د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د لوري ورسوئ که څه هم يو آيت وي او ذ بني اسرائيلو څخه چي کومي قصې واورئ هغه د خلکو په وړاندي بيان

کړئ په دې کې څه ګناه نسته او څوک چې په قصد سره ما ته د دروا غو خبره منسوبه کړي نو هغه دې خپل ځای په دوږخ کې ولټوي . بخاري .

تشریح : د آیت کریمه څخه مراد هغه حدیث دی چې په ظاهره خو ډیر کوچنې کوچنې دي مګر د ګټې د لحاظه د علوم او معارف بحر وي لکه چې یو کوچنی حدیث دی :

(من صحبت نجا) یعني څوک چې پټه خوله سو هغه خلاصون تر لاسه کړي، یا دا رنګه نور مختصر مګر جامع حدیثونه لکه چې ددې جملې مطلب دا سو که څه هم تاسو زما څخه یو حدیث اورئ چې د الفاظو او جملې په اعتبار ډیر کوچنی او مختصر وي خو هغه نورو ته ضرور رسوئ او د هغه د ګټې څخه نور خلک ګټور کړئ ، علماء لیکي چې ددې حدیث اصل مقصد علم خپرول او نور خلک د علم په رڼا سره منور کولو سره ترغیب ورکول دي تر څو پوري چې کیدای سي په علم خپرولو او ددین د خبرو رسولو کې سعي او هڅه کول پکار ده ، کیدای سي چې تاسو کومه خبره نورو ته ورسوئ که څه هم هغه ډیره مختصره وي نو څه تعجب چې په هغه سره به د هغه دنیا هم سمه سي او دین به یې هم جوړ سي او هغه به د هدایت لار تر لاسه کړي چې د هغه په نتیجه کې نه یوازي دا چې یو سړي ته هدایت وسي او هغه پر سیده لار روان سي بلکه د هغه په وجه تا ته هم علم تر لاسه سي او په بې شمیره نیکیو سره ونازول سې .

په حدیث کې دوهمه خبره دا ښودل سوې ده که تاسو د بني اسرائیلو څخه یو قصه واورئ یا تاسو ته د هغوئ څخه یو واقعه معلومه سي نو تاسو هغه خلکو ته بیانولای سئ مګر د هغوئ د احکامو وغیره نقل کولو اجازه نسته لکه چې په تیر حدیث کې تیر سوي دي ځکه چې یو واقعه او یا قصه صرف د خبر په توګه بیانول په شرعي امورو کې څه تاوان نه پیدا کوي مګر د هغوئ احکام نقل کول یا د هغوئ تبلیغ کول د شریعت محمدي د بنیادي اصولو خلاف دي ، هر کله چې په دې دنیا کې د شریعت محمدي نفاذ سوی دی نو اوس ټول نور شریعتونه منسوخ او کالعدم ګرځول سوي دي ، د شریعت محمدي پرېښودو سره د بل شریعت د احکامو او اعمالو د تبلیغ اجازه نسي ورکول کیدای

د حدیث په پای کې رسول الله ﷺ ته د یو غلطي خبري پر نسبت کولو باندي په سختو الفاظو کې زجر او توبیخ فرمایل سوی دی . فرمایلي یې دي کوم سړی چې ما ته د یو غلطي خبري انتساب وکړي او پر ما باندي بهتان وتړي نو هغه ته پکار ده چې د جهنم په اور کې د سوځېدو لپاره تیار سي ، داسي بدبخت چې د دنیا د ترټولو لوی صادق او مصدوق ذات باندي

بهتان تړي ددې سزا مستحق دی چي هغه د جنهم شغلو ته حواله کړل سي .

په دې اړه تر ټولو پوري چي د مسئلې تعلق دی علماؤ په اتفاق سره دا ليکلي دي چي د رسول الله ﷺ د ذات اقدس په لور د داسي خبري يا عمل نسبت کول چي واقعتا د رسول الله ﷺ څخه ثابت نه وي حرام او ګناه کبيره ده او داسي درواغجن انسان به د الله په سخت عذاب کي اخته سي او ځيني علماء مثلا امام محمد جويني رحمة الله عليه خو دا جرم دومره قابل نفرت او سخت بولي چي هغه د داسي سړي په باره کي د کفر حکم کوي .

د (مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ) يعني کوم سړی چي په قصد سره ما ته د درواغ خبري نسبت وکړي نو هغه ته پکار ده چي خپل ځای په دوږخ کي ولټوي، د دې په باره کي ويل کيږي چي ډير لوی او د لوړي درجې حديث دی او د دې شمير په متواتر کي کيږي بلکه نور متواتر حديثونه دې مرتبې ته نه رسيږي ځکه دا حديث د صحابه کرامو د يو لوی ډلي څخه نقل دی ، ځينو محدثينو ليکلي دي چي دا حديث دو شپيته (۶۲) صحابه کرامو روايت کړی دی چي په هغو کي عشره مبشره هم شامل دي .

﴿۱۸۸﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ وَالْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالاَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَدَّثَ عَنِّي بِحَدِيْثٍ يَرٰى أَنَّهُ كَذِبٌ فَهُوَ أَحَدُ الْكَاذِبِيْنَ . رواه مسلم .

د حضرت سمرة[۱] بن جندب او مغيرة بن شعبة څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي زما يو داسي حديث بيان کړئ چي د هغه په اړه دهغه دا خيال وي چي هغه درواغ دی نو هغه د درواغجنانو څخه يو درواغجن دی . مسلم .

تشريح : مطلب دا که يو سړی داسي حديث د خلکو په مخ کي بيان کړي او هغه خپور کړي چي واقعتا زما حديث نه وي او بيا هغه ته دا معلومه هم وي چي زه کوم حديث بيانوم هغه په حقيقت کي د رسول الله ﷺ حديث نه دی بلکه جوړ کړل سوی دی نو هغه سړی چي دا د درواغو حديث يې جوړ کړی دی ځکه درواغجن دی چي هغه نبي کريم ﷺ ته د غلطي او درواغ خبري نسبت کړی دی نو دا سړی چي هغه حديث بيانوي ځکه درواغجن دی چي هغه په اشاعت کولو سره او په دې پوهېدو سره هم چي دا غلط حديث دی نورو ته په رسولو سره د هغه سړي مرسته کوي او ښرګنده ده چي څرنګه د درواغو حديث جوړونکي به د الله تعالی په عذاب کي اخته وي

[۱] د نوموړي نوم سمره بن جندب او کنيت يې ابوسعد يه دی ، په کال (۵۸هـ) يا (۵۹هـ) کي وفات سوی دی

همداسي د هغه بيانونکی ته به هم په آخرت کي عذاب ورکول کيږي او هغه ته به سخته سزا ورکول کيږي.

﴿۱۸۹﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ وَاللّٰهُ يُعْطِيْ. (متفق عليه)

د حضرت معاوية [1] ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا سره چي الله پاك د نيکی اراده کوي نو هغه ته د دين پوهه په برخه کړي او زه خو ويشونکی يم ورکونکی الله تعالی دی. بخاري او مسلم

تشريح: د دغه حديث څخه د علم او د عالم د فضيلت اظهار کيږي، الله تعالی چي کوم سړی د خير او ښيګڼي پر لار روانول غواړي نو هغه ته د علم دولت ورکړي، او څرګنده ده چي دا د الله تعالی ډير لوی نعمت دی چي هغه يو سړي ته ديني امورو يعني د احکام شريعت او د طريقت لار او حقيقت پوهه ورکړي چي د هدايت او راستی او د خير او فلاح د ټولو څخه لويه لار ده، د حديث د دوهم جز مطلب دادی چي د علم حقيقي مبداء خو د الله جَلَّ جَلَالُهٗ ذات دی زما کار خو صرف دادی چي زه ديني مسائل او شرعي احکام خلکو ته رسوم او حديث بيان کړم اوس مخته د الله تعالی خوښه ده هغه چي چا ته څومره غواړي په هغه د عمل کولو توفيق او د غور او فکر صلاحيت ورکوي.

﴿۱۹۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلنَّاسُ مَعَادِنُ كَمَعَادِنِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقِهُوْا. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خلك کانونه دي لکه څرنګه چي د سرو او سپينو (زرو) کانونه وي کوم خلك چي د جاهليت په زمانه کي غوره وه نو هغوئ په اسلام کي هم غوره دي که هغوئ دين و پيژني. مسلم.

تشريح: انسان ته په کان (د معځکي ذخيرو) سره تشبيه ورکړل سوې ده او دا تشبيه د نيکو اخلاقو او عاداتو او صفاتو او کمالاتو د استعداد او صلاحيت په تفاوت کي ورکړل سوې ده چي څرنګه په يو کان کي لعل او ياقوت پيدا کيږي او په بل کان کي سره زر، او په ځينو کانو کي چونه، رانجه، ډبري وغيره پيدا کيږي همداسي د انسان ذات دی چي ځينو خو د خپل اخلاق

[1] د نوموړي نوم مغيره بن شعبه دی او کنيت يې ابوعبدالله دی او د ځينو حضراتو د قول سره سم ابوعيسی دی. په کال (۵۰هـ) کي وفات سوی دی. اسد الغابة.

او عادات او صفاتو په وجه د عظمت او شان خاوندان وي ځيني د هغوئ څخه د کمي درجې وي او ډير داسي هم وي چي په دغه صفاتو کي ډير کم او بې وقعته وي.

د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي کوم خلک د ايمان راوړلو څخه مخکي د کفر په حالت کي د غوره اخلاقو او عاداتو مالک وه مثلا په سخاوت، ميړانه او اخلاقو او ديانتداری سره متصف وه نو هغوئ د اسلام راوړلو څخه وروسته هم د هغه صفاتو په وجه غوره ګرځول سوي دي.

بالکل همداسي څرنګه چي سره زر او سپين زر په کان کي دننه پراته وي چي هغه په خاورو کي د ننه کېدو په وجه په خپل اصلي حالت کي وي هر کله چي د کان څخه راوکښل سي او په بټۍ کي په اچولو سره ګرم کړل سي نو نه يوازي دا چي هغوئ په خپل اصلي حالت کي راسي بلکه د هغوئ په ښکلا کي هم زياتوب کيږي همداسي تر څو پوري چي يو سړی د کفر په تيارو کي پټ وي نو هغه که هر څومره بااخلاقه وي او په هغه کي هر څومره سخاوت او ميړانه وي غوره والی نه ورته حاصليږي مګر کله چي د کفر د پردو شکولو سره د تاريکۍ څخه راووځي او د ايمان او اسلام په قبلولو سره په علم د دين کي کمال تر لاسه کوي او بيا خپل په رياضت، مجاهده او ديني محنت او مشقت ته حواله کوي نو ددې څخه وروسته نه يوزي دا چي هغه په خپل اصلي حالت کي راسي بلکه د علم او معرفت په رڼا سره د هغه زړه او دماغ منور کيږي او هغه د عزت او عظمت و لوړو درجو او مرتبو ته رسيږي.

﴿۱۹۱﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ حَسَدَ إِلاَّ فِي اثْنَتَيْنِ رَجُلٌ آتَاهُ اللّٰهُ مَالاً فَسَلَّطَهُ عَلىٰ هَلَكَتِهِ فِي الْحَقِّ وَرَجُلٌ آتَاهُ اللّٰهُ الْحِكْمَةَ فَهُوْ يَقْضِيْ بِهَا وَيُعَلِّمُهَا. (متفق عليه)

د حضرت ابن مسعود ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوو کسانو سره حسد کول صحيح دي يو هغه کس چي هغه ته الله پاك شتمني ورکړې وي او بيا يې هغه ته د الله ﷻ په لاره کي د خرڅولو توفيق هم ورکړی وي او دوهم هغه کس چي هغه ته الله پاك حکمت ورکړی وي او هغه د حکمت سره سم پريکړي کوي او د هغه تدريس هم کوي. بخاري او مسلم.

تشريح: حسد دې ته وايي چي د دوهم سړي سره يو نعمت ووينې نو دا آرزو وکړل سي چي کاشکي دا نعمت ما ته راسي او د هغه څخه ختم سي څرګنده ده چي دا ډير خراب خصلت او د ډير ذلت خبره ده، اسلام چي د اخلاقو د پاکۍ تر ټولو لوی بيرغ لرونکی دی دا غير اخلاقي او ذليل خصلت نه خوښوي او د دې څخه د ځان ساتني حکم ورکوي، د حسد په مقابله کي غبطه

ده ، غبطه دې ته وايي چې د چا سره د يو نعمت په ليدو سره دا آرزو وكړي چې څرنګه دا نعمت د هغه سره دى په دې نعمت سره الله تعالى ما هم مشرف كړي ،شريعت دا جائز ګرځوي مګر دا هم د نيكو خبرو مثلا نيك اخلاق او عادتونه ، غوره خصلتونه او فضل او كمال په باره كي جائز دي ، په دې حديث كي چې كوم حسد فرمايل سوى دى هغه غبطه ده .

﴿۱۹۲﴾:وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ اِنْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاَثَةٍ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ أَوْعِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُوْ لَهُ) . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چې انسان مړ سي نو د هغه د عمل (د ثواب) لړۍ پرې سي مګر د درو شيانو ثواب يې بيا هم جاري وي ۱: صدقه جاريه ۲: علم چې د هغه څخه ګټه تر لاسه سي ۳: نيك اولاد چې د مرګ وروسته هغه ته دعاء كوي . مسلم .

تشريح : داسي اعمال چې د هغه تعلق د دنياوي ژوند سره وي د هغه اثرات د مرګ څخه وروسته په دنيا كي ختم سي مثلا لمونځ، روژه وغيره، داسي اعمال دي چې د انسان په ژوند كي ادا كيږي كه څه هم د هغه ثواب په دې توګه باقي وي چې هغه د آخرت ذخيره سي او د مرګ څخه وروسته پر هغه جزا وركول كيږئ مګر د هغه لړۍ د مرګ څخه وروسته جاري نه پاته كيږي ځكه چې په ژوند كي تر څو پوري دا اعمال كول د هغه ثواب ورته حاصليدى هر كله چې ژوند ختم سو نو دا اعمال هم ختم سول او هر كله چې دا اعمال ختم سول نو پر هغه د جزا او سزا ترتيب هم ختم سو .

مګر ځيني اعمال داسي هم دي چې د هغه د ثواب لړۍ نه يوازي دا چې په ژوند كي حاصليږي بلكه د مرګ څخه وروسته هم باقي او جاري وي د داسي اعمالو په اړه په دې حديث كي ارشاد فرمايل سوى دى ،درې اعمال داسي دي چې د ژوند ختميدو څخه وروسته هم د هغه د ثواب لړۍ جاري وي او مړى د هغه څخه منتفع كيږي .

لومړنى شى صدقه جاريه ده يعني كه يو سړى د الله تعالى په لار كي مځكه وقف كړي ، يا څاه ، تالاب وغيره يې جوړ كړى وي يا داسي د مخلوق د ګټي لپاره يو بل شى يې تر شا پرې اينبى وي نو تر څو پوري چې هغه شيان قائم وي او خلك د هغه څخه ګټه اخلي هغه ته به يې ثواب رسيږي .

دوهم شى علم نافع دى ، يعني داسي عالم وفات سي چې په خپل ژوند كي هغه خلكو ته د خپل علم څخه ګټه ورسول او بيا يې خپل علوم او معارف د كتاب په ذريعه محفوظ كړل چې

همیشه د خلکو لپاره کټور او د رشد او هدایت سبب جوړیږي یا یو داسي سړی یې شاګرد جوړ کړي چي د هغه د علم صحیح وارث دی چي د هغه څخه خلک ګټه اخیستلای سي نو دا ټول شیان داسي دي چي د ژوند ختمېدو څخه وروسته به د هغه لپاره سرمایه او سعادت وي او د هغه ثواب به هغه ته رسیږي

دریم شی صالح اولاد دی ، ظاهره ده چي د انسان لپاره تر ټولو لوی سعادت او د افتخار وړ شی صالح اولاد دی ، ځکه چي صالح اولاد نه یوازي دا چي د مور او پلار لپاره په دنیا کي د سکون او راحت باعث جوړیږي بلکه د هغوئ د وفات څخه وروسته د هغوئ لپاره د نجات وسیله او فلاح ذریعه هم جوړیږي او هغه داسي چي نیک او لائق زوی د خپل مور او پلار قبرونو ته ځي هلته فاتحه خواني کوي ،د مغفرت دعا کوي ، په قرآن کریم ویلو سره هغوئ ته یې بخښي او د هغوئ د لوري خیرات او صدقې کوي ، او څرګنده ده چي دا ټول شیان د مړي لپاره د ثواب باعث دي چي په هغه سره هغه په اُخروي ژوند کي کامیاب کیږي .

﴿۱۹۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِّنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ يَّسَّرَ عَلٰى مُعْسِرٍ يَّسَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ .وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللّٰهُ فِيْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِيْ عَوْنِ أَخِيْهِ وَمَنْ سَلَكَ طَرِيْقًا يَلْتَمِسُ فِيْهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللّٰهُ لَهُ بِهِ طَرِيْقًا إِلَى الْجَنَّةِ وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِيْ بَيْتٍ مِّنْ بُيُوْتِ اللّٰهِ يَتْلُوْنَ كِتَابَ اللّٰهِ وَيَتَدَارَسُوْنَهُ بَيْنَهُمْ إِلاَّ نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِيْنَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَذَكَرَهُمُ اللّٰهُ فِيْمَنْ عِنْدَهُ وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهریرة ﷜ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي یو مسلمان د دنیا د سختیو او ستونزو څخه خلاص کړي نو الله تعالی به هغه د قیامت په ورځ د قیامت د سختیو څخه خلاص کړي او چا چي د یو تنګدست مشکل آسان کړ نو الله به په دنیا او آخرت کي پر هغه آساني راولي او چا چي د یو مسلمان عیب پټ کړ نو الله تعالی به په دنیا او آخرت کي د هغه پرده پوشي وکړي او الله پاك تر هغه وخته پوري د بنده مرسته کوي تر څو چي هغه د خپل مسلمان وررور مرسته کوي ، څوك چي د علم په لټه کي وي الله پاك به پر هغه د جنت لار آسانه کړي او کوم خلك چي د الله کور (مسجد یا مدرسه) کي را ټول سي د الله کتاب وایي او نورو ته یې ښیي تو پر هغوئ دالله پاك تسکین نازلیږي د الله رحمت پر هغوئ خپور سي او ملائکي شاوخوا پر را ټولي سي

او الله پاك د هغو خلكو يادونه د هغه ملائكو په وړاندې كوي كوم چې د هغه سره وي او چا چې په عمل كې كوتاهي وكړه نو د هغه نسب به د هغه پكار ور نه سي . مسلم .

تشريح : د دغه حديث څخه د اسلام د اخلاقي تعليماتو د عظمت او غوره والي معلومات كيږي ، اسلام د خپلو تعليماتو په ذريعه د پوره انسانيت په منځ كي د ميني او مروت انساني همدردي ، مرسته او معاونيت، او د حسن سلوك اعلی روح پيدا كول غواړي چي انسان د اخلاق او ميني په يو كړۍ كي په منسلك كېدو سره په پوره امن او سكون او راحت سره د بندګۍ حقوق ادا كړي.

فرمايل سوي دي كه تاسو د قيامت د ورځي د سختۍ څخه ځان ساتل غواړئ نو تاسو د خپل هغه ورور خبر اخلي چي د دنيا په سختۍ كي موښتی وي كه پر هغه يو سخت وخت راغلی وي نو د هغه مرسته وكړئ كه هغه په ژوند كي په يو مشكل كي وي نو خلاصون وركړئ ، كه په مصيبت او تكليف كي اخته وي نو هغه ځيني ليري كړئ ځكه چي د حسن سلوك دا هغه لار ده چي پر هغه باندي په تلو سره تاسو د آخرت د سختيو څخه په ډيره اساني سره تيريدای سئ ، اعلان كيږي كه تاسو د دين او دنيا دواړه ځايونو آساني غواړئ او ددې خواهشمند ياست چي د دنيا كاميابي ستاسو قدمونه مچ كړي او د اخرت فلاح او سعادت ستاسو په برخه كي راسي نو د خپل ورور مرسته وكړئ كوم چي تنګدست وي ، د مفلسۍ په جال كي موښتی وي ، د بې كارۍ او تباه حالۍ په چكر كي وي كه هغه پوروړی وي او الله تعالى تاسو وسعت دركړی دی نو د هغه قرض ادا كړئ كه څوك خپله ستاسو پوروړی وي او تاسو پوهيږئ چي هغه پر قرض ادا كولو باندي قادر نه دی نو قرض ورته معاف كړئ كه څوك ډير پريشان وي نو د هغه مرسته كولو سره هغه خلاص كړئ ، كه يو څوك د خپل مفلسۍ په وجه خپل ضرورت نسي پوره كولای نو تاسو د هغه ضرورت پوره كړئ ، بيا وګورئ چي الله تعالى څرنګه زيات تاسو خپل په رحمت كي پټوي، د دنيا عزت او عظمت به ستاسو په قدمونو كي لوبي كونكي ووينئ او د ژوند هره آساني به ستاسو لپاره تياره وي او نه يوازي په دنيا كي بلكه په آخرت كي به هم د الله تعالى رحمت ستاسو سره وي د هغه ځای په هره سختۍ او ازموينه كي به ستاسو حسن سلوك ستاسو مرستيال او معاون وي او تاسو به د هغه ځای په هر امتحان كي كامياب ياست، همداسي فرمايل سوي دي كه تاسو په دنيا او آخرت كي پر خپل عيبونو باندي پرده اچول غواړئ نو په دنيا كي د خپل ورور پرده پټوئ يعني د يو چا عيب د خلكو په مخكي په بيانولو سره هغه مه

رسوا او ذليل كوئ يا كه د يو چا څخه يو ګناه وسي نو هغه د خلكو په مخكي په څرګندولو سره هغه مه شرمنده كوئ ځكه چي دا د الله تعالى معامله ده كه هغه غواړي نو په دنيا كي يا په آخرت كي به سزا وركړي كنه په خپل رحمت سره به يې معاف كړي.

يا د پردې پټولو مطلب دادى چي يو څوک د خپل نادارۍ او مفلسۍ په وجه د جامې د نعمت څخه محروم دى او دومره غريب دى چي خپل ستر هم نسي پټولای نو پكار ده چي د خپل دغه ناچار ورور پرده پټه كړل سي ځكه چي څوک د خپل ورور پرده پټه كړي نو الله تعالى به په دنيا او قيامت كي د هغه د عيبونو او ګناهونو پرده پټه كړي، او په پای كي په عامه توګه سره دا كليه ښودل سوې ده چي تر څو پوري يو بنده د خپل ورور په مرسته كي لګيدلى وي او د الله تعالى د مخلوق په خبر اخستلو كي مصروف وي نو د هغه سره د الله تعالى مرسته او نصرت وي.

په حديث شريف كي د طلب علم او طالب علم فضيلت څرګند سوى دى لكه چي ارشاد دى: كوم سړى چي د علم دين د حصول لپاره خپل هيواد او ښار پرېښودو سر د خپل قريبانو څخه په بيليدو سره د عيش او آرام د ژوند پرېښودو سره د حصول علم د جذبې سره ووځي او د علم د تر لاسه كولو لپاره د مسافرۍ پر لار روان سي نو الله تعالى د هغه ددغه رياضت او تكليف او پريشانۍ په وجه پر هغه د جنت لار آسانه كوي يعني د طالب علم د هڅو په بدله كي هغه په جنت كي داخلوي يا دا چي هغه ته به د الله تعالى د لوري د هغه عظيم سعادت توفيق وركړي چي هغه د كوم علم په لټه كي دومره مصيبتونه او تكليفونه زغمي او پر دې هغه نيک عمل هم وكړي چي په جنت كي د داخليدو سبب او باعث دي.

همدارنګه كوم خلک چي په مسجدونو او مدرسو كي د علم په تر لاسه كولو كي بوخت وي او د قرآن كريم د علوم او معارف څخه په استفاده كولو او نورو ته په ښودلو كي بوخت وي پر هغوئ د الله تعالى د لوري د بې پايه رحمت دروازې خلاصيږي او پر هغوئ د الله تعالى د لوري د تسكين نزول كيږي يعني د علم د طلب په لړ كي اطمينان او د زړه سكون وي چي د هغه په وجه د هغوئ زړونه د دنيا د عيش او عشرت، راحت او آرام او د غير الله د خوف څخه پاک صاف كېدو سره هر وخت د الله تعالى په لوري په محبت كي لګيدلي وي او د هغه نتيجه دا وي چي د هغوئ زړونه د نور الهي په مقدسه رڼا سره ځليږي، ملائكي د هغوئ عزت او توقير كوي او فرط عقيد څخه پر هغه خلكو چاپيره وي، بيا الله تعالى د هغه مقدسي ډلي چي په درس او

تدريس كي بوختي وي د خپلو هغه ملائكو په مينځ كي يادوي كوم چي د هغه سره وي دا د هغه ډلي د ډير عظمت او فضيلت دليل دی.

د حديث په پای كي دې خبري ته اشاره وفرمايل سول چي د آخرت كاميابي ، فلاح او سعادت دار او مدار پر عمل باندي دی كه په دنيا كي د خير په عمل كي كوتاهي ونه كړي نو په آخرت كي به د عزت او عظمت حقدار وي او كه په دنيا كي يو چا په عمل كي كوتاهي وكړه كه څه هم په دنيا كي هر څومره بااقبال او باعظمت وي او هر څومره لوی حسب او نسب والا وي په آخرت كي به د هغه څخه پوښتنه كيږي او هلته به د دنيا عالي نسبي او دبدبه هيڅ په كار نه ورځي. شعر :

بنده عشق شدي ترک نسب کن جامي ‏ ‏ ‏ كه درين راه فلان ابن فلان چيزي نيست

﴿١٩٤﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضٰى عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ فَأُتِيَ بِهٖ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا فَقَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ قَالَ قَاتَلْتُ فِيْكَ حَتّٰى اسْتُشْهِدْتُ قَالَ كَذَبْتَ وَلٰكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُّقَالَ جَرِيْءٌ فَقَدْ قِيْلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهٖ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهٖ حَتّٰى أُلْقِيَ فِي النَّارِ وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ فَأُتِيَ بِهٖ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا؟ قَالَ تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيْكَ الْقُرْآنَ قَالَ كَذَبْتَ وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ عَالِمٌ وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ هُوَ قَارِئٌ فَقَدْ قِيْلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهٖ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهٖ حَتّٰى أُلْقِيَ فِي النَّارِ وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهٖ فَأُتِيَ بِهٖ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ قَالَ مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيْلٍ تُحِبُّ أَنْ يُّنْفَقَ فِيْهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيْهَا لَكَ قَالَ كَذَبْتَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :تر ټولو لومړی كس چي پر هغه به د قيامت په ورځ (د خلوص نيت د پرېښودلو) حكم ولګول سي هغه وي چي شهيد سوی وي ، هغه به د قيامت ميدان ته راوستل سي او الله به هغه ته خپل نعمتونه ور ياد كړي او هغه به ټول هغه ته ور ياد سي بيا به الله پاك وفرمايي تا د هغه نعمتو په شكر كي څه وكړل هغه به وايي ما ستا په لار كي غزا وكړل تر دې چي شهيد سوم الله تعالى به ورته وفرمايي ته درواغجن يې ته خو د دې لپاره جنګېدلی وې چي خلك تا ته زړه ور ووايي نو تا ته زړه ور وويل سول بيا به حكم وركړل سي چي دی دي پړمخی په اور كي وغورزول سي ، بيا به هغه كس وي چي هغه علم تر لاسه كړی وي او بل ته يې ښودلی وي او قرآن يې ويلی وي هغه به د الله تعالى په حضور كي راوستل سي او الله تعالى به هغه ته خپل نعمتونه ور ياد كړي هغه ته به ور ياد سي بيا به الله تعالى د هغه څخه پوښتنه وكړي تا

وَلٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ هُوَ جَوَادٌ فَقَدْ قِيْلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهٖ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ . رواه مسلم

ددې نعمتو شکر څنګه ادا کړ يعني څه کار دي وکړ هغه به و ايي ما علم زده کړ او نورو ته مي هم

وښودی او ستا لپاره مي قرآن کريم ووايه ، الله تعالی به ورته وفرمايي ته درواغجن يې تا خو علم د دې لپاره زده کړی وو چې خلك تاته قاري او عالم ووايي نو تاته عالم او قاري وويل سول بيا به بغ وکړل سي چې دی دي پرمخی و غورزول سي او په اور کي دي واچول سي ، بيا به هغه کس راسي چې هغه ته الله پاك پراخي ورکړې وه د هغه روزي يې زياته کړې وه او ډول ډول مال او دولت يې ورکړی وو هغه به د الله تعالی په حضور کي حاضر کړل سي او الله به هغه ته خپل نعمتونه ور ياد کړي هغه به دغه نعمتونه ياد کړي بيا به الله تعالی پوښتنه وکړي ددې نعمتو په شکر کي تا څه کار وکړ هغه به وايي ما په هيڅ يو داسي لاره کي خرڅ کول نه دي پرې ايښي په کوم کي چې خرڅ کول پکار وه او ستا د رضا لپاره مي په هغه کي خرڅ کاوه ، الله تعالی به ورته وفرمايي ته درواغجن يې تا خو ددې لپاره خرڅ کړی وو چې تا ته سخي وويل سي نو تاته سخي وويل سول حکم به ورکړل سي او هغه به پرمخی وغورزول سي او په اور کي به واچول سي . مسلم.

تشريح : په اعمالو کي د نيت کومه درجه ده او د خلوص څومره ضرورت دی ؟ په دې حديث کي په ښه ډول واضح کيږي ، بنده که هر څومره لوی د خير عمل وکړي او لويه نيکي وکړي مګر د هغه نيت که پر خير نه وي نو د هغه عمل او نيکي به هيڅ په کار نه راځي ، الله تعالی ته هغه عمل خوښ دی چې په هغه کي صرف د الله تعالی رضا او د هغه خوښي نيت وي او د اطاعت جذبه د خلوص څخه ډکه وي کنه کوم عمل چې پرته د اخلاص او پرته د خير دنيت څخه وکړل سي که هغه هر څومره عظيم عمل وي د الله تعالی د دربار څخه رد کيږئ او پر هغه هيڅ کټوره نتيجه نه مرتب کيږي بلکه په عذاب الهي کي نيول کيږي څرنګه چې د دې حديث څخه معلومه سوه .

﴿۱۹۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَقْبِضُ الْعِلْمَ اِنْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهٗ مِنَ الْعِبَادِ وَلٰكِنْ يَّقْبِضُ الْعِلْمَ بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ حَتّٰى إِذَا لَمْ يُبْقِ عَالِمًا اِتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوْسًا جُهَّالًا فَسُئِلُوْا فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ فَضَلُّوْا وَأَضَلُّوْا . (متفق عليه)

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : الله پاك به علم (په آخري زمانه کي) داسي نه پورته کوي چې هغه علم به د خلکو د زړو او دماغ څخه وکاږي بلکه علم به داسي پورته کړل سي چې علماء به واخيستل سي (يعني عالمان به وفات سي) تر

دې چې هيڅ يو عالم به پاته نه سي نو خلك به جاهلان خپل پېشوا جوړ کړي د هغوئ څخه به ددين

خبري پوښتي او هغوئ به بېله علمه فتوا ورکوي هغوئ به په خپله هم گمراه وي او نور به هم گمراه کوي بخاري او مسلم

﴿۱۹۶﴾ : وَعَنْ شَقِيْقٍ قَالَ كَانَ عَبْدُاللهِ يُذَكِّرُ النَّاسَ فِيْ كُلِّ خَمِيْسٍ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا أَبَا عَبْدِالرَّحْمٰنِ لَوَدِدْتُ أَنَّكَ ذَكَّرْتَنَا فِيْ كُلِّ يَوْمٍ قَالَ أَمَا إِنَّهُ يَمْنَعُنِيْ مِنْ ذٰلِكَ أَنِّيْ أَكْرَهُ أَنْ أُمِلَّكُمْ وَإِنِّيْ أَتَخَوَّلُكُمْ بِالْمَوْعِظَةِ كَمَا كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَوَّلُنَا بِهَا مَخَافَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا .(متفق عليه)

د حضرت شقيق[۱] ﷺ څخه روايت دی چي حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ به هره پنجشنبه خلکو ته نصيحت کاوه (يوه ورځ) يو سړی هغه ته وويل اې ابوعبدالرحمن زه غواړم چي تاسو هره ورځ موږ ته نصيحت وکړئ ، عبدالله بن مسعود ﷺ ورته وفرمايل زه داسي څکه نه کوم چي ستاسو به زړه موړ سي ، زه د نصيحت په اړه تاسو ته دا پاملرنه درکوم لکه څرنگه چي رسول الله ﷺ زموږ پاملرنه کول او زموږ د تنگيو خيال به يې ساته . بخاري او مسلم

تشريح : د دغه حديث څخه دا خبره واضح سول چي د وعظ او نصيحت په معامله کي د ميانه روۍ څخه کار اخيستل پکار دي هر وخت او په هر ځای کي وعظ او نصيحت کول پکار نه دی څکه چي په دې سره د خلکو زړونه تنگيږي ، نتيجه به داسي چي هغوئ به هيڅکله خبره په سکون او د زړه په اخلاص سره نه اوري بلکه پر هغوئ به يو ښه اثر هم نه مرتب کيږي همداسي په دې معامله کي رټل، لعنت ويل، بدمزاجي او بداخلاقي کول هم نه دي پکار څکه چي په دې سره د مخاطب په ذهن کي خراب اثر لويږي چي په هغه سره پر ځای د دې چي هغه يو نيک اثر قبول کړي نور زيات خلاف سي، کوم نصيحت چي پر خپل وخت باندي او په ډير اخلاق او مينه او شفقت سره کيږي په اصل کي هغه د مخاطب په زړه کي اثر کوي او هغه غوره ثمره مرتب کيږي .

﴿۱۹۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَعَادَهَا ثَلاثًا حَتّٰى تُفْهَمَ عَنْهُ وَإِذَا أَتٰى عَلٰى قَوْمٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثَلاثًا . رواه البخاري .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به يو خبره کول نو درې واره به يې هغه تکرارول تر څو چي خلک به ښه په پوه سول او کله چي به رسول الله ﷺ يو ډلي ته نژدې تيريدی او هغوئ ته به يې د سلام کولو اراده کول نو درې واره به يې ورته سلام کاوه . بخاري

[۱] د نوموړي نوم شقيق ابن مسلمه او کنيت يې ابو وايل دی ، نوموړی تابعي دی د حجاج په زمانه کي وفات سوی دی څيني وايي چي په (۹۹هـ) کال کي وفات سوی دی .

تشریح : د دې دا مطلب نه دی چي رسول الله ﷺ به د هري خبري په وخت کي داسي عمل اختیاروئ بلکه مطلب دادی چي کله به رسول کریم ﷺ یوه ډیر مهمه خبره کول یا د یو خاص مسئلې وضاحت به مقصود وو یا یو دیني حکم به یې بیانوي او دا اراده به یې وه چي دا خبره په خاصه توګه بیانول دي یا دا خیال به یې وو چي خلکو به په ښه ډول سره خبره نه وي اوریدلې نو رسول الله ﷺ به درې ځله هغه خبره تکرارول او هغه خبره به یې په ځو واره کول چي خلک یې ښه واوري او پوه سي.

همدارنګه درې ځله سلام به یې ځکه کوی چي یو سلام خو به رسول الله ﷺ هغه وخت کوی هر ګله چي یو ځای ته دننه د ورتلو اجازه به یې غوښتل، دوهم سلام تحیة به یې کوی (دا سلام د ملاقات په وخت کي کیږي) او دریم سلام به یې د رخصت پر وخت کوئ.

﴿۱۹۸﴾ : وَعَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّهُ أُبْدِعَ بِيْ فَاحْمِلْنِيْ فَقَالَ مَا عِنْدِيْ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَنَا أَدُلُّهُ عَلَى مَنْ يَحْمِلُهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ . رواه مسلم.

د حضرت ابومسعود[۱] الانصاري ﷛ څخه روایت دی چي یو سړی د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ چي زه د سپرلۍ څخه عاجزه سوی یم تاسو یو سپرلۍ راته راکړئ . رسول الله ﷺ وفرمایل : زما سره سپرلۍ نسته یو بل سړي وویل اې دالله رسوله ! زه داسي سړی درته وښیم چي سپرلۍ ورکړي ، رسول الله ﷺ وفرمایل څوک چي د نیکۍ په لور لارښوونه وکړي نو هغه ته هم دومره ثواب رسیږي څومره چي نیکي کونکي ته رسیږي.

﴿۱۹۹﴾: وَعَنْ جَرِيْرٍ قَالَ كُنَّا فِي صَدْرِ النَّهَارِ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَهُ قَوْمٌ حُفَاةٌ عُرَاةٌ مُجْتَابِي النِّمَارِ أَوْ الْعَبَاءِ مُتَقَلِّدِي

د حضرت جریر[۲] ﷛ څخه روایت دی چي موږ د ورځي په پیل کي د رسول الله ﷺ په خدمت کي ناست وو ، د رسول الله ﷺ په خدمت کي څو خلک

---

[۱] د نوموړي نوم عقبه ابن عمره دی مګر دی هم په ابومسعود انصاري کنیت سره مشهور دی ، د حضرت علي ﷛ د خلافت په زمانه کي وفات سوی دی ځیني خلک وایي چي په (۴۱) یا (۴۲هـ) کال کي وفات سوی دی ﷛.

[۲] د نوموړي نوم جریر بن عبدالله دی او کنیت یې ابوعمرو یا ابوعبدالله دی د قبیله بجیله سره تعلق لري د رسول الله ﷺ د وفات څخه څلوېښت ورځي مخکي د اسلام په نعمت مشرف سو او د قرئیسیا په ځای کي په کال (۵۱هـ) یا (۵۲هـ) کي وفات سوی دی ﷛.

السُّيُوفِ عَامَّتُهُمْ مِنْ مُضَرَ بَلْ كُلُّهُمْ مِنْ مُضَرَ فَتَمَعَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَا رَأَى بِهِمْ مِنَ الْفَاقَةِ فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ فَأَمَرَ بِلاَلاً فَأَذَّنَ وَأَقَامَ فَصَلَّى ثُمَّ خَطَبَ فَقَالَ (يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا) وَالْآيَةَ الَّتِي فِي الْحَشْرِ (اتَّقُوا اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ) تَصَدَّقَ رَجُلٌ مِنْ دِينَارِهِ مِنْ دِرْهَمِهِ مِنْ ثَوْبِهِ مِنْ صَاعِ بُرِّهِ مِنْ صَاعِ تَمْرِهِ حَتَّى قَالَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ بِصُرَّةٍ كَادَتْ كَفُّهُ تَعْجِزُ عَنْهَا بَلْ قَدْ عَجَزَتْ قَالَ ثُمَّ تَتَابَعَ النَّاسُ حَتَّى رَأَيْتُ كَوْمَيْنِ مِنْ طَعَامٍ وَثِيَابٍ حَتَّى رَأَيْتُ وَجْهَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَهَلَّلُ كَأَنَّهُ مُذْهَبَةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا بَعْدَهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ وَمَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً كَانَ عَلَيْهِ وِزْرُهَا وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ بَعْدِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ (رواه مسلم)

حاضر سول چي لوڅ وه او پر بدن يې کمبلي وغيره اچولي وې او په غاړو کي يې توري زړېدلې په هغو کي زيات بلکه ټول د مضر د قبيلې خلك وه هغوئ يې وړي وليدل نو د رسول الله ﷺ د مخ رنگ بدل سو ، رسول الله ﷺ چي دوئ په لوږه کي وليدل نو کور ته يې تشريف يووړ کله چي راووتی نو بلال ته يې د آذان کولو حکم ورکړ نو تکبير وسو لمونځ ادا سو او په وعظ کي يې دا آيت تلاوت کړ : ياايهاالناس اتقوا ربکم الذين .... الخ (اې خلکو د خپل پروردگار څخه و بيرېږئ چي تاسو يې د يوه نفس (آدم ﷺ) څخه پيدا کړي ياست) د آيت تر پايه پوري . چي د هغه آخري برخه داده البته الله ستاسو ساتونکی دی بيا يې هغه آيت تلاوت کړ کوم چي په سورة حشر کي دی يعني د الله څخه و بيرېږئ او هر چا ته پکار ده چي هغه پر هغه شي نظر وساتي کوم چي يې د سبا (قيامت) لپاره ترمخه استولی دی ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : سړی دي د خپل دينار څخه د خپل درهم څخه د خپلو جامو څخه د خپلو غنمو د پيمانو څخه د خپلو خرماوو څخه تر دې چي رسول الله ﷺ وفرمايل خيرات دي کړي که څه هم د خرما يوه ټوټه وي ، د راوي (جرير) بيان دی چي (د دې په اورېدو سره) يو انصاري سړي يوه هميانی راوړل چي د هغې د درونډوالي له کبله نژدې وه چي لاس يې ستړی سي بلکه د هغه لاس ستړی سوی وو بيا خلکو شيان راوړل پيل کړل تر څو چي ما وليدل چي د غلو او جامو دوې کوټنی جوړي سوې بيا مي وليدل چي د رسول الله ﷺ مخ مبارك ځلانده سو ،بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي په اسلام کي د يو نيکي طريقه رواج کړي هغه ته به د هغې ثواب رسيږي او د هغه ثواب هم د هغه وروسته به پر هغه عمل کيږي مگر د عمل

کونکو په ثواب کي به هيڅ کمي نه راځي او چا چي په اسلام کي يوه خرابه طريقه رواج کړل نو پر هغه به د هغه گناه هم وي او د هغه کس گناه به هم وي چي د هغه وروسته عمل په کوي مگر د عمل کونکي په گناه کي به هيڅ کمي نه راځي .مسلم شريف .

تشريح : رسول الله ﷺ چي مخکي آيت تلاوت کړ هغه په سورة النساء کي دی ، په دې آيت کي د خيرات کولو او د قريبانو سره د ښه چلن او د هغوئ د حقونو د ادا کولو په باره کي ذکر سوی دی چي په هغه سره رسول کريم ﷺ صحابه کرامو ته د خيرات کولو او د راغلي ډلي پر مرسته او اعانت باندي ترغيب ورکړ .

د حديث په پيل کي د راوي بيان دی چي راغلي ډلي کمبل يا عبا اچولي وه ، د راوي اشتباه ده چي يا خو په حديث کي لفظ د النمار دی يا العباء دی ، په هر حال دواړه د کمبل ډولونه دي او د دواړو معناه يوه ده .

﴿۲۰۰﴾: وَ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تُقْتَلُ نَفْسٌ ظُلْمًا إِلاَّ كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ الْأَوَّلَ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا لِأَنَّهُ أَوَّلُ مَنْ سَنَّ الْقَتْلَ . وَسَنَذْكُرُ حَدِيْثَ مُعَاوِيَةَ لاَ يَزَالُ مِنْ أُمَّتِيْ فِيْ بَابِ ثَوَابِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى .

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي يو څوك په ظلم سره ووژل سي نو د آدم ؑ پر لومړني زوی (قابيل) باندي د هغه يوه برخه راځي ځکه چي هغه لومړنی سړی دی چي د قتل طريقه يې رواج کړل (بخاري او مسلم) او د معاويه هغه حديث چي د هغه پيل دادی : لايزال من امتي .... هغه به موږ انشاء الله په باب د (ثواب هذه الامة) کي ذکر کړو .

تشريح : د انساني ظلم او ستم تاريخ د حضرت آدم ؑ د لومړني زوی قابيل د ژوند څخه پيل کيږي چي هغه د خپل يو معمولي نفساني خواهش د پوره کولو لپاره خپل حقيقي ورور هابيل قتل کړ ، څرنگه چي مخکي بيان سوي دي هر کله چي يو څوک يوه نيکه طريقه رواج کوي نو هغه ته د هغه نيک کار ثواب هم ورکول کيږي همداسي خرابه طريقه رواج کونکي ته خپله د هغه عمل او د هغه طريقې باندي د عمل کونکي هم گناه ورکول کيږي ، ځکه چي دلته فرمايل سوي دي چي کله يو سړی د ظلم په طريقه قتل کيږي نو د هغه د خون يوه برخه پر قابيل هم وي ځکه چي د ناحقويني تويولو او ظلم او ستم سره د قتل اول موجد (پيدا کونکی) هغه دی .

الفصل الثاني

﴿۲۰۱﴾: عَنْ كَثِيْرِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا مَعَ أَبِي الدَّرْدَاءِ فِيْ مَسْجِدِ دِمَشْقَ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا أَبَا الدَّرْدَاءَ إِنِّيْ جِئْتُكَ مِنْ مَدِيْنَةِ الرَّسُوْلِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَدِيْثٍ بَلَغَنِيْ اَنَّكَ تُحَدِّثُهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا جِئْتُ لِحَاجَةٍ قَالَ فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ سَلَكَ طَرِيْقًا يَطْلُبُ فِيْهِ عِلْمًا سَلَكَ اللّٰهُ بِهِ طَرِيْقًا مِنْ طُرُقِ الْجَنَّةِ وَاَنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا رِضًا لِطَالِبِ الْعِلْمِ وَإِنَّ الْعَالِمَ لَيَسْتَغْفِرُ لَهُ مَنْ فِي السَّمٰوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ وَالْحِيْتَانُ فِيْ جَوْفِ الْمَاءِ وَإِنَّ فَضْلَ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ عَلٰى سَائِرِ الْكَوَاكِبِ وَإِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ وَإِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوْا دِيْنَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَإِنَّمَا وَرَّثُوْا الْعِلْمَ فَمَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ. رواه أحمد والترمذي وأبو داود وابن ماجه والدارمي وسماه الترمذي قيس بن كثير.

د حضرت کثیر بن قیس ﷛ څخه روایت دی چې زه په دمشق کې د ابودرداء ﷛ سره ناست وم یو سړی هغه ته راغلی او ورته وه یې ویل اې ابودرداء! زه د رسول الله ﷺ د مدینې د ښار څخه ددې لپاره راغلی یم چې ستاسره یو حدیث دی چې ته یې د رسول الله ﷺ څخه روایت کوې او ددې پرته بل څه غرض نه لرم، ابودرداء ﷛ ورته وویل ما درسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي څوک چې د علم د تر لاسه کولو لپاره سفر غوره کړي نو الله تعالی هغه د جنت پر لار روانوي او ملائکې د هغه د رضامندۍ لپاره په خپلو وزرونو سره پر هغه سایه کوي او د عالم لپاره هر هغه شی چې په آسمانونو کې وي لکه (ملائکې) او څه چې په مځکه کې وي (لکه انسان، پیریانان، حیوانان وغیره) ټول مخلوقات د هغه لپاره بخښنه غواړي تر دې چې ماهیان په اوبو کې دننه د هغه لپاره د بخښنې دعاء کوي او عالم ښېګڼه پر عابد داسې ده لکه د څورلسمې شپې د سپوږمۍ ښېګڼه چې پر ستورو ده، او عالمان د پیغمبرانو وارثان دي او د انبیاؤ میراث درهم او دینار نه دي بلکه د هغوئ میراث علم دی چې د هغه وارث (هغوئ) عالم جوړ کړی دی نو چا چې علم تر لاسه کړ هغه پوره برخه تر لاسه کړل. احمد، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه او دارمي.

تشریح: د صحابي په خدمت کې د راتلونکي د علمي طلب او د حصول دین د حقیقي جذبې اظهار کیږي چې هغوئ په راتلو سره تر ټولو مخکې دا ویلي وه چې تاسو ته زما د راتلو غرض یو دنیوي ګټه یا صرف ملاقات نه دی بلکه زه خو د علم دین د حصول د حقیقي او د خلوص څخه ډکې جذبې سره راغلی یم او زما خواهش دی چې ستاسو د ژبې څخه د رسول الله ﷺ د مقدس

حدیثونو په اوریدو سره خپل زړه او دماغ د علوم نبوي په رڼا سره منور کړم، کیدای سي چي ذکر سوی طالب علم د یو حدیث د اوریدو طلب کړی وي او هغه حدیث په اجمالي توګه سره اوریدلی وي اوس د هغه خواهش دا وو چي هغه په تفصیلي توګه سره هم واوري یا دا چي هغه حدیث هغه په تفصیل سره اوریدلی وي مګر د دې جذبې سره د حضرت ابودرداء ﷺ په خدمت کي حاضر سو چي حدیث بلا واسطه د صحابي څخه واوري.

ابودرداء ﷺ چي د سوال کونکي په جواب کي کوم حدیث بیان کړ کیدای سي چي هغه دا حدیث وي او دا حدیث د هغه مطلوب وي مګر دا هم احتمال سته چي دا حدیث کوم چي دلته نقل سوی دی هغه د طالب مطلوب نه وي بلکه طالب په ډېر مشقت او پریشاني زغملو او د لیري سفر کولو سره د طلب علم او حصول حدیث په خاطر راغلی وي ځکه د هغه د سعادت او خوش بختۍ د اظهار په توګه د هغه ثواب یې بیان کړ او د هغه مطلوب حدیث چي هغه بیان کړ هغه ددې باب مناسب نه وي ځکه مصنف د کتاب هغه دلته نقل نه کړ، په حدیث کي فرمایل سوي دي چي هر کله طالب علم د علم په خاطر د خپل کور څخه ووځي او سفر اختیاروي نو ملائکي د هغه د رضا مندۍ لپاره خپل وزر غوړوي، د دې په شرح کي ویل کیږي چي یا خو واقعي د طالب د شرف او عزت په خاطر ملائکي خپل وزر خپروي یا دا چي د طالب علم د عزت او عظمت او هغه طرف ته د الله تعالی د رحمت د نزول لپاره دا کنایه ده.

او فرمایلي یې دي چي په آسمانونو او ځمکو کي چي د الله تعالی څو مره مخلوق دي ټول د عالم د بخښني لپاره دعاء غواړي (الحمد لله) د دې څخه وروسته بیا صراحت سوی دی چي په اوبو کي دننه اوسیدونکي ماهیان هم د هغه لپاره استغفار کوي، څرګنده ده چي د ځمکي په مخلوق کي ماهیان هم شامل دي د هغوئ په بیل ذکر کولو کي ضرورت نه وو مګر په دې نکته داده چي د دې څخه په اصل کي د عالم د ډېر فضیلت او عظمت اظهار مقصود دی او دې ته اشاره ده چي د اوبو اوریدل چي د الله تعالی د رحمت نښه او د نعمت الهي علامه ده او د دنیا اکثر آسانۍ او راحتونه چي د دې څخه حاصلیږي او ټول خیر او نیکۍ چي د دې څخه پرته دي ټول عالم د برکته دي تر دې چي د ماهیانو په اوبو کي دننه ژوندي اوسیدل چي خپله د قدرت خداوندي یوه نښه ده د علماء د برکت په وجه دي.

په دغه حدیث کي د عالم او عابد فرق څرګندولو سره پر عابد باندي د عالم فوقیت او غوره والی ورکړل سوی دی او ددې وجه داده چي د عالم ګټه متعدي ده یعني د هغه فیضان

يوازې د هغه خپل ځان پورې محدود نه دى ځکه چې عالم او عابد ته د سپوږمۍ او ستورو سره مشابهت ورکړل سوى دې ځرنګه چې د څورلسمې شپې سپوږمۍ په خپل پوره روښنايي سره پر آسمان باندې ښکاره کيږي نو د دنيا ټول مخلوق په هغه سره روښانه کيږي او د هغه رڼا هر ځاى ته رسيږي چې د هغه څخه دنيا ګټه تر لاسه کوي ، ستورې خپله پر خپل ځاى خو روښانه او منور وي مګر د هغه فيضان دومره عام نه وي چې د هغه رڼا په هر ځاى کې خپره سي او ټولو ته ګټه ورسولاى سي .

که يو څوک دا شک رامخته کړي چې په عالم او عابد کې څه فرق نه وي ځکه که عالم پر يوازې علم باندې باور کوي او پر علم باندې عمل نه کوي نو ظاهره ده چې د هغه هيڅ فضيلت نسته همداسې عابد پرته د علم څخه عابد کيداى نسي ځکه چې د عبادت حقيقي او اصلي روح په علم کې پټه ده ، عبادت پرته د علم څخه په صحيح توګه نسي ادا کيداى نو معلومه سوه چې کوم عالم باعمل وي هغه به عابد هم وي او څوک چې عابد وي هغه به عالم هم وي ځکه نو په واړو کې فرق څه فرق سو؟ د دې جواب دادى چې د عالم څخه مراد هغه سړى دي چې د علم تر لاسه کولو څخه وروسته پر عبادات ضروريه مثلاً فرضونه، واجبات، سنن او مستحبات باندې په اکتفاء کولو سره د خپل پاته وختونو برخه په درس او تدريس کې مشغول ساتي يعني د هغه کار درس او تدريس ، دعوت او تبليغ او د دين ترويج او خپرول وي .

او د عابد څخه مراد هغه سړى دى چې د علم تر لاسه کولو څخه وروسته د خپل ژوند ټوله برخه يوازې په عبادت کې تيروي نه خو د هغه د علم د خپرولو سره زړه وي او نه تعليم او تعلم د هغه مقصد وي بلکه هغه ټول وخت په عبادت کې بوخت وي .

او ځرګنده ده که د علم د خپرېدو او تعليم او تعلم د فضيلت ژوره کتنه وسي نو معلومه به سي چې دا عمل د فائدې په اعتبار تر ټولو لوړ مقام لري چې په هر حال کې د عبادت څخه افضل دى ځرنګه چې د اکثرو حديثونو څخه ثابت ده ، نو معلومه سوه چې په عالم او عابد کې په دې اعتبار سره فرق دى او پر عابد باندې عالم ته لوټيا او فضيلت تر لاسه دى .

په شرح السنة کې د حضرت سفيان ثوري رحمة الله عليه څخه نقل سوي دي چې هغه فرمايي : زه دنن ورځې د طالب علم څخه غوره هيڅ دوهم شى نه پيژنم، خلکو عرض وکړ ايا د خلکو په خلوص نيت کې فضيلت نسته ، هغه وفرمايل طالب علم خپله د نيت سبب دى يعني نيت د هغه سره خپله سميږي، د ځيني علماؤ قول نقل کيږي چې هغوئ ويلي دي موږ علم د غير الله لپاره

حاصل کړ مګر وروسته هغه د الله تعالی لپاره سو يعني زموږ نيت مخکي مخلص او صاف نه وو مګر کله چي د طالب علم حقيقي جذبه پيدا سوه او د علم رڼا زړه منور کړ نو نيت مخلص او صحيح سو .

د علم د فضيلت د دې څخه هم اندازه کيدای سي چي حضرت امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي د علم طلب کول د نفل لمانځه څخه غوره دی ځکه چي هغه علم چي طلب يې کيږي يا خو به فرض عين وي يا فرض کفايه وي او ظاهره ده چي دواړه د نفل څخه په هر حال کي افضل دي .

﴿۲۰۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ قَالَ ذُكِرَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا عَابِدٌ وَالْآخَرُ عَالِمٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِيْ عَلَىٰ أَدْنَاكُمْ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ وَأَهْلَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ حَتَّى النَّمْلَةَ فِيْ جُحْرِهَا وَحَتَّى الْحُوْتَ لَيُصَلُّوْنَ عَلَىٰ مُعَلِّمِ النَّاسِ الْخَيْرَ . رواه الترمذي وَرَوَاهُ الدَّارِمِي عَنْ مَكْحُوْلٍ مُرْسَلاً وَلَمْ يَذْكُرْ رَجُلَانِ وَقَالَ فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِيْ عَلَىٰ أَدْنَاكُمْ ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ (إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ) . وَسَرَدَ الْحَدِيْثَ إِلَى آخِرِهِ

د حضرت ابوامامه الباهلي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ته د دوو خلکو ذکر وسو چي په هغوئ کي يو عابد وو او دوهم عالم (يعني دا پوښتنه وسوه چي په دوئ کي کوم يو غوره دی) رسول الله ﷺ وفرمايل : عالم پر عابد داسي فضيلت لري لکه څرنګه چي زه په تاسو کي پر يو ادنا صحابي فضيلت لرم د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : يقينا الله او د هغه ملائکي او په آسمانو او مځکو کي ټول مخلوقات تر دې چي ميږيان په خپلو سوريانو کي او ماهيان د هغه لپاره د خير دعاء کوي چي خلکو ته نيکي ښيي . (ترمذي) او دارمي په مرسل طريقې سره د مکحول څخه روايت نقل کړی دی چي په هغه کي د دوو خلکو ذکر نسته او ويلي يې دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل عالم پر عابد دومره فضيلت لري لکه څرنګه چي زه په تاسو کي پر يو ادنا صحابي فضيلت لرم بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ : انما يخشى الله ...... (د الله په بندګانو کي عالمان د الله څخه زيات بيريږي) بيا يې تر پايه پوري حديث بيان کړ .

تشريح : د دغه حديث څخه معلومه سوه چي عالم ته ډير زيات عظمت او فضيلت حاصل دی او هغه ته پر عابد باندي لوړتيا او غوره والی تر لاسه دی ، رسول الله ﷺ په عابد او عالم کي دا فرق ښکاره کړی دی چي څرنګه زه په تاسو کي پر هغه سړي فضيلت لرم کوم چي په تاسو کي تر ټولو د ادنا درجې وي همداسي يو عالم هم پر عابد باندي فضيلت لري .

ځرګنده ده چي رسول الله ﷺ ته پر يو ادنا سړي باندي كوم فضيلت حاصل دى د هغه اندازه نسي كيداى همداسي اوس د دې اندازه هم كيداى سي چي يو عالم ته پر عابد باندي فضيلت او فوقيت به د كومي مرتبې او درجي وي .

د حديث په پاى كي ويل سوي دي چي دا حديث دارمي د مكحول ځخه په مرسل طريقې سره نقل كړى دى او په دې كي د هغه حديث د ابتدائي الفاظو (رجلان) ذكر يې نه دى كړى يعني د هغوئ په روايت كي دا الفاظ نسته كوم چي د رسول الله ﷺ په مخكي د دوو خلكو ذكر وسو چي په هغوئ كي يو عابد وو او دوهم عالم بلكه د هغوئ روايت د قال رسول الله ﷺ ځخه پيل كيږي .

﴿۲۰۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ النَّاسَ لَكُمْ تَبَعٌ وَإِنَّ رِجَالاً يَأْتُوْنَكُمْ مِنْ أَقْطَارِ الْأَرْضِ يَتَفَقَّهُوْنَ فِي الدِّيْنِ فَإِذَا أَتَوْكُمْ فَاسْتَوْصُوْا بِهِمْ خَيْرًا . رواه الترمذي .

د حضرت ابوسعيد الخدري ﷺ ځخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خلك ستاسو تابع دي او البته ډير خلك به تاسو ته د مځكي د لوري ځخه په علم دين د پوهېدلو لپاره راځي هر كله چي هغوئ تاسو ته راسي نو تاسو د هغوئ په اړه د نيكۍ وصيت قبلوئ .ترمذي.

تشريح : د دغه ارشاد مقصد صحابه كرامو ته دا ښودل دي چي زما ځخه وروسته به ستاسو ذات د دنيا لپاره رهبر او رهنما وي او تاسو به د خلكو امامان جوړيږي ځكه د ټولي نړۍ خلك به تاسو ته د علم دين د طلب او زما د حديثو د تر لاسه كولو لپاره راځي نو تاسو ته پكار ده چي كله هغوئ راسي نو تاسو د هغوئ سره د خير او ښيګڼي معامله كوئ او د هغوئ په روزنه كي كوتاهي مه كوئ او د هغوئ سره د شفقت او محبت چلن كوئ او د هغوئ زړونه د علم دين د هغه مقدسي رڼا ځخه چي په هغه سره ستاسو زړونه فيضاب سوي دي منور كړئ .

﴿۲۰۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْكَلِمَةُ الْحِكْمَةُ ضَالَّةُ الْحَكِيْمِ فَحَيْثُ وَجَدَهَا فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا . رواه الترمذي وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث غريب وإبراهيم بن الفضل الراوي يضعف في الحديث .

د حضرت ابوهريرة ﷺ ځخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ګټه وركونكې خبره د عقلمند سړي ورك سوى شى دى كوم ځاى چي يې تر لاسه كړي د هغه حقدار دى (ترمذي او ابن ماجه) ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى او ددې حديث راوي ابراهيم بن فضل د حديث په روايت كي ضعيف ګڼل كيږي .

تشریح : دا حدیث پوه او صاحب فهم انسان ته دا احساس او شعور بخښي چي هرکله د یو چا شخه د دین یو ګټوره خبره واوریدل سي نو د عقل دا غوښتنه کېدل پکار ده چي سمدستي د هغه په قبلولو سره په هغه عمل وکړل سي ځکه د عقل دا تقاضا د انسان د معراج (لوړي مرتبې) ضامن کیږي .

دا د ډیري بې عقلي او کم ظرفۍ خبره ده چي یو غوره او ګټوره خبره د یو چا شخه واورېدل سي چي د ځان شخه یې کم رتبې والا وي نو هغه ځکه ناقابل اعتبار او ناقابل عمل وګرځول سي چي هغه غټه خبره او کوچنۍ خوله ده پر دې علماؤ لیکلي دي که یو سړی هغه غوره او حق خبره خو قابل قبول او قابل عمل وګڼي چي د حضرت بایزید بسطامي رح په ډول صاحب عقل او تقدس شخه منقول وي مګر هر کله چي هغه خبره د خپل مینځي شخه واوري نو هغه ناقابل اعتبار وګڼي نو هغه سړي ته به مغرور او متکبر ویل کیږي .

مرد باید که ګیرد اندر ګوش ګرنوشت ست پند بر دیوار

﴿۲۰۵﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقِيْهٌ وَاحِدٌ أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ أَلْفِ عَابِدٍ . رواه الترمذي وابن ماجه)

د حضرت ابن عباس ﷺ شخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : یو فقیه (د دین عالم) پر شیطان تر زرو عابدانو زیات سخت دی .

تشریح : د مقابلې دا مُسَلم (مضبوط) اصول دي چي کامیابي د هغه سړي په برخه وي چي د خپل مقابل د حال شخه په ښه ډول خبر وي او د هغه دفع کول پیژني .

موږ په خپله وینو چي د مقابلې په میدان کي هغه سړی چي د خپل ظاهري قوت او جسم په اعتبار اهمیت نه لري نو خپل هغه مقابل را غورځولای سي چي د بدن او جسم په اعتبار د هغه شخه څو برابر زیات طاقتور وي ځکه چي هغه کله مقابلې ته راځي نو د هغه دماغ په بنیادي توګه سره د مقابل د هر وار شخه د ساتني شکل او د هغه د هر ګزار په خزانه (فکر) کي لري نتیجه به دا وي چي کامیابي به د هغه وي .

په دنیا کي په باطني توګه باندي د هر انسان تر ټولو لوی دښمن شیطان دی چي د خپل مکر او فریب شخه خبر نه وي او د هغه د طاقت او قوت جواب نه لري هغوئ ګمراه سي مګر داسي خلک چي د هغه د هري حملې جواب لري او د هغه د طاقت او قوت باندي د هغوئ لاس وي هغوئ نه یوازي دا چي په خپله د هغه د ګمراهۍ شخه خوندي وي بلکه نور خلک هم ځیني خوندي ساتي او دا خلک هغه عالمان دي چي د هغوئ زړه او دماغ د نور الهي په مقدس رڼا

سره منور او د هغوئ ذهن او فكر د علم او معرفت د طاقت څخه ډک وي .

ځکه نو په حديث کي فرمايل سوي دي چي د شيطان په مقابله کي زر عابدان چي څومره طاقت لري هغومره طاقت يوازي د يوه عالم سره وي ځکه چي هر کله شيطان پر خلکو باندي د خپل مکر او فريب جال اچوي او هغوئ په خواهشات نفساني کي را وستلو سره د گمراهۍ پر لار روانول غواړي نو عالم د هغه په چال پوه سي نو هغه پر خلکو د شيطان گمراهي څرگندوي او داسي تدبيرونه هغوئ ته ښيي چي په هغه عمل کولو سره هغوئ د شيطان د هزي حملې څخه خوندي وي.

د دې پر خلاف هغه عابد چي يوازي عبادت كول غواړي او د علم او معرفت څخه په ميلونو ليري وي هغه خو يوازي په خپل رياضت، مجاهده او عبادت کي بوخت وي هغه ته دا خبر هم نه وي چي شيطان د کومي دروازې څخه د هغه په عبادت کي خلل اچوي او د هغه ټول سعي او کوښښ برباد وي ، نتيجه داسي چي په ظاهري توگه سره خو هغه په عبادت کي بوخت وي مگر د بې علمي کېدو په وجه د شيطان په مکر او فريب کي موښتی وي ځکه نه هغه خپله د شيطان د گمراهۍ څخه خوندي وي او نه نور خلک خوندي ساتلای سي .

﴿۲۰۶﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلىٰ كُلِّ مُسْلِمٍ وَوَاضِعُ الْعِلْمِ عِنْدَ غَيْرِ أَهْلِهِ كَمُقَلِّدِ الْخَنَازِيْرِ الْجَوْهَرَ وَاللُّؤْلُؤَ وَالذَّهَبَ . رواه ابن ماجه وروى البيهقي في شعب الإيمان إلى قوله مسلم . وقال هذا حديث متنه مشهور وإسناده ضعيف وقد روي من أوجه كلها ضعيف

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د علم تر لاسه کول پر هر مسلمان فرض دی او نا اهل ته علم ښودل داسي دي لکه څوك چي د خنزير په غاړه کي د جواهراتو ، ملغلرو او سروزرو پټۍ واچوي (ابن ماجه) دا حديث بيهقي په شعب الايمان تر (كل مسلم) پوري ليكلي دی او ويلي يې دي چي ددې حديث متن مشهور دی او اسناد يې ضعيف دي او دا حديث په ډول ډول طريقو سره بيان سوی دی او دا ټولي طريقي ضعيفي دي .

تشريح : ددغه حديث څخه د علم ارزښت او عظمت او د هغه ضرورت څرگندېږي چي هر مسلمان سړی او ښځي لپاره د علم تر لاسه کول ضروري دي ځکه چي انسان د کوم مقصد لپاره خليفة الله جوړولو سره دې دنيا ته راليږل سوی دی هغه پر ته د علم څخه نسي پوره کېدلای

انسان پرته د علم څخه نه د الله تعالی ذات پيژني او نه د خپل حقيقت عرفان تر لاسه کولای سي.

ځرنګه چي مخکي هم ښودل سوي دي دلته د علم څخه مراد علم دين دی چي د هغه ضرورت د ژوند په هر وخت او هره لحظه کي وي مثلا کله چي سړی مسلمان سي يا د احساس او شعور منزل ته ورسيږي نو هغه ته ددې خبري ضرورت وي چي هغه د خپل پيدا کونکي ذات او د هغه د صفاتو معرفت تر لاسه کړي او د عرفان الهي په مقدسه رڼا سره د زړه او دماغ هره تياره ختم کړي. همداسي د رسول د نبوت او رسالت پيژندل يا د داسي شيانو علم تر لاسه کول چي پر هغه د ايمان او اسلام بنياد وي د هغه لپاره ضروري دي.

بيا چي د علمي ژوند سره د هغه واسطه سي نو هغه ته ضرورت وي چي د اعمالو د احکامو علم ورته تر لاسه سي يعني هر کله چي د لمانځه وخت راسي نو پر هغه د لمانځه د احکامو او مسائل زده کول واجب دي که الله تعالی هغه ته مالي وسعت ورکړی وي او صاحب نصاب وي نو د زکوة مسائل پيژندل ورته ضروري دي هر کله چي واده يې وکړ او ښځه يې کور ته راوستل نو د حيض او نفاس مسائل، طلاق وغيره داسي شيان چي د ښځي او خاوند د ژوندي سره تعلق وي د هغه تر لاسه کول واجب کيږي.

همداسي تجارت، زراعت د رانيولو او پلورلو احکام او مسائل زده کول يا عبادات او معاملات وي يا تعلقات چي د ټولو شيانو بصيرت تر لاسه کول او په هغه پوهېدل او زده کول پر هغه فرض دي که هغه داسي ونه کړي نو د دې په وجه به هغه په هر ځای کي د شريعت د حدودو څخه تجاوز کوي او د ديني احکامو او مسائلو څخه د ناخبرتيا په وجه د هغه هر فعل او عمل به د شريعت خلاف وي چي د هغه په وجه به سخت ګناه کار وي، ځيني حضراتو دا هم ويلي دي چي دلته د علم څخ مراد علم اخلاص او د آفات نفس معرفت دی يعني هر د هر مسلمان نارينه او ښځينه لپاره ضروري دي چي هغه د نفس ټول بدی مثلا حسد، بغض، کينه او دښمني و پيژني او د هغه ټولو شيانو علم تر لاسه کړي کوم چي دا اعمال خير فاسد کوي.

د حسد څخه دا هم معلومه سوه چي د علم مقدس رڼا خو د هغوئ نصيب کيږي چي ددې اهل وي او د هغوئ د صلاحيت طبع ميلان همدې خوا ته وي او د چا چي څومره استعداد او صلاحيت وي هغه ته د علم هغومره برخه تر لاسه کيږي نو په علم ښودلو کي د دې خبري خيال په خاصه توګه ساتل پکار دي چي د چا څومره استعداد وي او د کوم معيار صلاحيت لري د هغه

په اعتبار سره هغه ته علم وښودل سي داسي نه دي پکار چي د يو سړي استعداد او صلاحيت خو د ډيري کمي درجې وي مګر علم هغه ته د ډيري لوړی او اعلی درجي وښودل سي ، همداسي د هر علم د ښودلو موقع او محل وي کوم علم چي پر کوم موقع باندي ضروري وي او د کوم علم چي محل وي د هغه سره سم علم دي ورته وښودل سي مثلا که يو سړی د عوام او جاهلانو په مخکي د تصوف اسرار او معاني او د هغه باريکی بيانول پيل کړي نو د هغوئ د دې څخه ګټه اخيستل خو پريږده بلکه زيات ګمراه به سي.

﴿۲۰۷﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَصْلَتَانِ لاَ تَجْتَمِعَانِ فِيْ مُنَافِقٍ حُسْنُ سَمْتٍ وَّلاَ فِقْهٌ فِي الدِّيْنِ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دوه عادتونه داسي دي چي په يو منافق کي نه سي يو ځای کيدلای يو نيک خصلت (اخلاق) او دوهم ديني پوهه .

تشريح : په دې حديث کي د دې خبري ترغيب ورکول کيږي چي دا دوه صفتونه داسي دي چي د مخلص مؤمن برخه ده ځکه هر مسلمان ته پکار ده چي دا دواړه عادتونه په ځان کي پيدا کړي يعني نيک عادتونه ښه اخلاق او د غوره صفتو جوهر په ځان کي پيدا کړي او د علم تر لاسه کولو سره ديني پوهه هم پيدا کړي .

علامه تورپشتي رحمه الله فرمايي د تفقه في الدين يعني د ديني پوهي حقيقت دادی چي په زړه کي د دين معرفت ځای سي او بيا په ژبه سره د هغه اظهار کوي او د هغه سره سم عمل کوي چي د هغه په وجه خوف الهي او تقوا تر لاسه سي .

﴿۲۰۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَرَجَ فِيْ طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَرْجِعُ . رواه الترمذي والدارمي .

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د علم د تر لاسه کولو لپاره د کور څخه ووزي نو هغه تر هغه وخته پوري تر څو چي کور ته راستنيږي د الله په لار کي دی .

تشريح : د دغه ارشاد مطلب دادی چي کوم سړی خپل قريبان پريږدي ، د مور او پلار د ميني او شفقت څخه زړه صبر کړي او د کور ټول راحتونه پرېښودو سره د علم دين تر لاسه کولو لپاره خپل هيواد او ښار څخه ووځي که څه هم هغه علم فرض عين وي يا فرض کفايه ، يعني د ضرورت او اړتيا څخه زيات نو هغه طالب علم د مجاهد في سبيل الله په مرتبه کي وي ، کوم

ثواب چي د الله تعالى په لار كي د جهاد كونكي لپاره وي هغه ثواب هغه طالب علم ته هم تر لاسه كيږئ ځكه چي ځرنګه يو مجاهد پر سر كفن تړلو سره محض په دې جذبې سره ميدان جنګ ته ځي چي هغه د الله تعالى دين سرلوړى كړي او د الله تعالى او د هغه د رسول دنامه خبره لوړه كړي همداسي طالب علم محض ددې مقصد لپاره د علم دين تر لاسه كولو لپاره د كور څخه وځي چي د خپل نفس ټول خواهشات ختمولو سره او كسر نفسي اختيارولو سره د علم الهي په مقدسه رڼا سره د ظلم او جهل ټولي تيارې ليري كړي د الله تعالى دين په ټول عالم كي خپور كړي او د شيطان د مكر او فريب څخه خلك په خوندي ساتلو سره شيطان ذليل او خوار كړي تر څو پوري چي د دې علم د تر لاسه كولو سره خپل كور ته راستون نسي نو هغه ته د جهاد د ميدان ثواب وركول كيږي .

په دغه حديث كي دې ته هم اشاره ده چي طالب علم دعلم د تر لاسه كولو څخه د فارغه كېدو سره خپل كور ته راستون سي نو د هغه څخه هم زياته مرتبه او درجه تر لاسه كوي هر كله چي د تعليم په مكمل كولو سره راستنيږي نو په دنيا كي د علم او معرفت رڼا خپرولو ، خلكو ته د تعليم وركولو ، د انساني ژوند په عمل سره د كامل كولو لپاره د يو مصلح او معلم په حيثيت راځي چي د هغه په وجه د وارث الانبياء په معزز او مقدس لقب سره نازول كيږي .

﴿۲۰۹﴾ : وَعَنْ سَخْبَرَةَ الْأَزْدِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ كَانَ كَفَّارَةً لِّمَا مَضٰى . رواه الترمذي والدارمي وقال الترمذي هذا حديث ضعيف الإسناد وأبو داود الراوي يضعف

د حضرت سخبرة[1] الازدي ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي علم تر لاسه كوي (نو د هغه دا طلب) د هغه د ګناهو كفاره كيږي كوم چي تر دې وړاندي يې كړي وي (ترمذي او دارمي) ترمذي ويلي دي چي د دې حديث اسناد ضعيف دي او ددې راوي ابوداؤد ضعيف ګڼلى دى .

﴿۲۱۰﴾ : وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِي قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يَّشْبَعَ الْمُؤْمِنُ مِنْ خَيْرٍ يَّسْمَعُهُ حَتّٰى يَكُوْنَ مُنْتَهَاهُ الْجَنَّةَ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوسعيد الخدري ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مؤمن نس د نيكى (يعني علم) څخه نه ډكيږي هغه دا اوري تر څو چي جنت ته ورسيږي .

[1] د نوموړي نوم سخبرة او كنيت يې عبد الله دى ، نوموړى ازدي دي او ځيني خلك وايي چي اسدي دى .

تشريح : د علم تر لاسه کول د ايمان خاصه ده او ايمان نور دى ځکه هغه علم چي نور الهي دى په پوره توګه سره په خپل ځان کي جذب کول غواړي ځکه نو فرمايل سوي دي چي د انسان زړه او دماغ د ايمان په رڼا سره منور کيږي نو هغه د علم او معرفت په نور سره د انسان معراج لوړتيا ته رسيدل غواړي ، دا وجه ده چي د مؤمن نس هيڅکله په علم نه ډکيږئ هغه چي څومره د علم لوړوالي ته رسيږي د هغه خواهش او آرزو دا وي چي هغه ددې منزل آخري حدودو ته ورسيږي که څه هم د علم ميدان دومره وسيع او پراخ وي که انسان خپل لوى ژوند سره هم يوه لحظه تيرولو پرته په دې کي ځغلي نو هغه ددې انتهائي حدودو ته نسي رسيدلاى خو ددې سربيره مؤمن ټول عمر د علم په تلاش کي وي او د هغه د عمر تر آخري برخي پوري د علم لمن پرېښودل نه غواړي تر دې چي د هغه ژوند پر خپل ټاکلي وخت باندي ختم سي او هغه د علم دې صادق طلب او رېښتوني فکر په عوض کي چي په هغه کي ټول ژوند مصروف وو د جنت په ابدي سعادتونو سره نازول کيږي . الحمد لله.

په حيقيت کي په دې حديث کي د طالب علم او اهل علم لپاره عظيم زيرى دى چي دا خلک د دنيا څخه په ايمان رخصتيږي او د رضائي مولا سره د هغوئ لمن ډکه وي دا وجه ده چي اکثر اهل الله د خپل ژوند آخري لمحې پوري د علم په تر لاسه کولو کي بوخت وي د دې سربيره چي د هغوئ علمي فضيلت او عظمت د انتهائي درجې وي مګر هغوئ ددې سعادت د تر لاسه کولو په خاطر تل د علم په تر لاسه کولو کي بوخت وي .

په دې اړه بايد دا خبره په ذهن کي وي چي د علم دائره ډيره وسيع او پراخه ده او په خپلو ډيرو کونجانو (قسمونو) شامل ده ځکه هغه حضرات چي په تصنيف او تاليف او ترجمه او تعليم او تعلم کي بوخت وي هغوئ ته هم د طالب علم او تکميل علم ثواب ورکول کيږي او هغوئ هم په دې زُمره کي شميرل کيږي . الحمد لله .

﴿۲۱۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ عَلِمَهُ ثُمَّ كَتَمَهُ أُلْجِمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِّنْ نَّارٍ . رواه أحمد وأبو داود والترمذي . ورواه ابن ماجه عن أنس .

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د يو چا څخه چي د علم يو داسي پوښتنه وسي چي هغه ته معلومه وي او هغه يې پټه کړي نو د قيامت په ورځ به د اور قيزې (په خوله کي) ور واچول سي . احمد ، ابوداؤد ، ترمذي او ابن ماجه د انس ﷛ څخه روايت کړى دى .

تشریح : په دې حدیث کې د داسې علم په اړه وعید (سزا) بیانیږي چې د یو دیني خبرې د معلومېدو سربیره هغه خلکو ته نه ښیي او پوښتنه کونکي ته جواب نه ورکوي مګر دا وعید د داسې علم په اړه دی چې د هغه تعلیم ضروري او واجب وي مثلا یو سړی د اسلام راوړلو اراده وکړي او یو عالم ته ووایي چې د اسلامي تعلیماتو څخه ما خبر کړه چې اسلام څه شی دی یا هغه د لمانځه په اړه د عالم څخه پوښتنه وکړي چې د لمانځه کوم احکام او مسائل دي د هغه څخه ما خبر کړه، یا د یو حلال او حرام شي یو فتوا معلومول غواړي نو ددې ټولو شیانو جواب ورکول او تر څو پورې چې هغه ته معلومه وي صحیح خبره ښودل د عالم لپاره ضروري او واجب دي البته د نوافلو او مباح شیانو په اړه به دا حکم نه وي .

﴿۲۱۲﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُجَارِيْ بِهِ الْعُلَمَاءَ أَوْ لِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَاءَ أَوْ يَصْرِفَ بِهِ وُجُوْهَ النَّاسَ إِلَيْهِ أَدْخَلَهُ اللّٰهُ النَّارَ . رواه الترمذي . ورواه ابن ماجه عن ابن عمر .

د حضرت کعب بن مالك ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چې علم د دې لپاره تر لاسه کوي چې په دې سره په علماؤ فخر وکړي یا د جاهلانو سره جګړه وکړي یا خلك د ځان په لورې متوجه کړي نو الله به هغه په اور کې داخل کړي ترمذي او ابن ماجه .

تشریح : علم د خپل نورانیت او لطافت په سبب ریاکاري ، غرور تکبر او بې ځایه فخر او غلاظتونه نسي زغملای ، هر کله چې د علم اولین پلوشه دا غواړي چې هغه د انسان د زړه او دماغ څخه د ظلم او جهل تیاره لیرې کړي نو دا څنګه زغمل کېدای سي چې یو عالم چې د هغه دماغ د علم د مقدسې رڼا څخه ډک وي د غیر اسلامي اخلاقو مظاهره وکړي ، د علم غوښتنه خو داده چې یو انسان د تهذیب، شرافت او د تعلیم او پرمختګ لوړو درجو رسیدو سربیره سر تر پایه انکسار او متواضع جوړ سي ، د ریاکارۍ او ځان ښووني څخه لیرې وي او د اخلاق او احسان ژوند اختیار کړي او سیږي .

څکه نو فرمایل سوي دي که یو علم صرف د دنیوي ګټې او ذاتي دبدبې او عزت په خاطر تر لاسه کوي که د هغه مقصد دا وي چې د علم تر لاسه کولو څخه وروسته به ځیني خلک زموږ په لور متوجه سي د عوامو څخه د خپل علم په وجه د هغوئ څخه مال او دولت تر لاسه کړل سي ، علم د دنیا د کاروبار او نفساني خواهشاتو د تکمیل لپاره آله جوړ کړل سي او نه یوازي دا بلکه د علم تر لاسه کولو څخه وروسته هغه د علماء حق سره د غرور او تکبر معامله کوي د جاهلانو

سره موښلي د خلکو په مخکي بې ځایه فخر او غرور کوي نو داسي عالم په خلاصو غوږونو سره اوریدل پکار دي که څه هم هغه په دنیاوي اعتبار سره کامیاب هم سي او تقدیر الهي د هغه خواهشاتو او مقاصدو تکمیل هم وکړي مګر په آخرت کي د هغه ددې نیت په وجه به د هغه څخه سختي پوښتني کیږي هلته به یې نه علم پکار راسي او نه د هغه سرداري او غرور بلکه هغه ته به د عوامو د اخلاص سزا په دې توګه سره ورکول کیږئ چي هغه به د جهنم شغلو ته حواله کړل سي.

مګر هو داسي سړی چي مخکي په خپل نیت کي مخلص وو د هغه په اراده کي کوږوالی نه وو او د هغه مقصد د علم تر لاسه کولو څخه صرف اعلاء کلمة الله او د الله تعالی رضا وه، وروسته د فطرت په غوښتني او انساني طبیعت د هغه په نیت کي کوږوالی پیدا کړ او په هغه کي د نمود او ښووني او ریاکارۍ اثر پیدا سو نو هغه به په دې حکم کي داخل نه وي ځکه چي په دې اړه هغه په هر حال کي معذور دی.

﴿۲۱۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَعَلَّمَ عِلْمًا مِمَّا يُبْتَغٰى بِهِ وَجْهُ اللهِ لاَ يَتَعَلَّمُهُ إِلاَّ لِيُصِيْبَ بِهِ عَرَضًا مِنَ الدُّنْيَا لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . يَعْنِيْ رِيْحَهَا . رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي هغه علم تر لاسه کړ چي په هغه سره د الله رضا طلب کیږي مګر که د دې لپاره یې تر لاسه کړ چي په هغه سره د دنیا متاع تر لاسه کړي نو د قیامت په ورځ به پر ده د جنت خوشبویي هم ونه لګیږي. احمد، ابوداؤد او ابن ماجه.

تشريح: خوک چي علم دین صرف د دې لپاره تر لاسه کړي چي د دې په ذریعه د دنیا دولت او عزت راجمع کړي او دا حصول د دنیا لپاره وسیله جوړه کړي نو د هغه لپاره دا وعید (سزا) بیانیږي.

مګر که چیري علم دیني نه وي بلکه دنیاوي وي نو د هغه لپاره دا مقصد چي د دنیا د تر لاسه کولو لپاره یې وسیله او ذریعه معاش جوړ کړي هیڅ پرواه نسته مګر په دې کي هم دا شرط دی چي هغه علم داسي نه وي چي د هغه تر لاسه کولو شریعت صحیح نه ګڼي مثلا علم نجوم یا داسي نور علوم چي پر عقیده او عمل باندي اثر اچوي.

په دغه حدیث کي دا ویل چي داسي عالم چي د هغه نیت د حصول علم په اړه خالص لله ﷻ نه وي هغه ته به د جنت خوشبويي هم تر لاسه نه سي دا کنایه ده په جنت کي د نه داخلېدو او

مبالغه ده د جنت څخه د محرومۍ او د دې څخه مراد دادی چي داسي سړی به د مخلص او مقرب بندګانو سره پرته د عذاب څخه په جنت کي نه داخليږي .

﴿۲۱۴﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَضَّرَ اللّٰهُ عَبْدًا سَمِعَ مَقَالَتِيْ فَحَفِظَهَا وَ وَعَاهَا وَأَدَّاهَا فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ غَيْرُ فَقِيْهٍ وَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ إِلٰى مَنْ هُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ . ثَلَاثٌ لَا يُغِلُّ عَلَيْهِنَّ قَلْبُ مُسْلِمٍ إِخْلَاصُ الْعَمَلِ لِلّٰهِ وَالنَّصِيْحَةُ لِلْمُسْلِمِيْنَ وَلُزُوْمُ جَمَاعَتِهِمْ فَإِنَّ دَعْوَتَهُمْ تُحِيْطُ مِنْ وَّرَائِهِمْ . رواه الشافعي والبيهقي في المدخل . ورواه أحمد والترمذي وأبو داود وابن ماجه والدارمي عن زيد بن ثابت . إلا أن الترمذي وأبا دواد لم يذكرا ثلاث لا يغل عليهن . إلى آخره .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله دي هغه بنده تازه (خوشحاله او با عزته) ولري چي هغه زما يو خبره اورېدلې وي هغه يې ياد ساتلې وي او د هميشه لپاره يې ياد ساتلې وي او هغه يې خلکو ته ورسول ځيني حامل فقه (يعني د علم دين عامل يا ددينې خبرې محافظ) پوهه لرونکي نه وي او ځيني د پوهې خاوندان يې هغو خلکو ته ورسوي چي د هغوئ څخه زيات د پوهې خاوندان وي ، درې خبرې داسي دي چي په هغه کي د مسلمان زړه خيانت نه کوي ۱: يو عمل خاص د الله لپاره کول . ۲: دوهم د مسلمانانو خير خواهي کول ۳: او دريم د مسلمانانو جماعت لازم نېول (يعني د مسلمانانو په ډله کي شامېلېدل) د هغوئ دعاء د څلور طرفه څخه راچاپېريږي .شافعي، بيهقي په مدخل کي، او احمد، ترمذي ، ابوداؤد ، ابن ماجه او دارمي د زيد بن ثابت څخه روايت کړی دی مگر ترمذي او ابوداؤد دا الفاظ (ثَلَاثٌ لَا يُغِلُّ عَلَيْهِنَّ....) نه دي ذکر کړي .

تشريح : مطلب دا چي حديث محفوظ او ياد ساتونکي ځيني خو داسي وي چي خپله زيات پوه نه وي او ځيني پوهه لري مگر داسي هم کيږي چي د چا په مخکي حديث بيانوي هغه د هغوئ څخه زيات پوه وي نو پکار ده چي حديث څرنګه واوري هم هغسي يې نورو ته ورسوي چا ته چي حديث رسول کيږي او د چا په مخکي بيانيږي هغوئ د حديث په مطلب ښه پوه سي ، په دې حديث کي دې ته اشاره ده چي د حديث روايت کونکو ته پکار ده چي هغوئ حديث په کومو الفاظو کي واوري بعينه په هغه الفاظو کي يې نقل کړي .

(يَغُلُّ) که د ياء په زور او د غين په زير سره وي نو د هغه معنا د حِقد يعني کينه کيږي ، او که د ياء په پيښ او د غين په زور سره وي يا د حرف ياء زور او غين په پيښ سره وي نو ددې معنا د خيانت کيږي ، فرمايل سوي دي چي مؤمن په دغه درو شيانو کي خيانت نه کوي يعني په

مؤمن كي دا درې شيان ضرور تر لاسه كيږي او هر كله چي د مؤمن څخه دا درې اعمال صادريږي نو په هغه كي كينه نه داخليږي چي هغه د دې شيانو څخه منحر كړي .

د خلوص عمل مطلب او د هغه انتهائي درجه داده چي بنده كوم عمل كوي هغه صرف د الله تعالى د رضا او خوښي لپاره وكړي د دې څخه علاوه د هغه بل هيڅ مقصد نه وي نه يو دنيوي مقصد يې په نظر كي وي او نه يو اخروي ګټه يوازي د مولا رضا يې مخته وي او هغه يې مقصد وي ، بيا په هغه كي دوې درجي كيږي د عامو خلكو چي خلوص عمل وي هغه خاص يعني د الله د خلوص عمل څخه د كمتر درجې وي ځكه چي دا خلک د رياضت او مجاهدې او د تعلق مع الله په وجه د خلوص انتهائي درجو ته رسيدلي وي .

د مسلمانانو سره د نيكۍ كولو طريقه داده چي د خپل وس سره سم خپلو نورو وړونو ته د خير او نيكۍ نصيحت كوي او هغوئ پر سيده لار روانولو كي هڅه كوي او په دنياوي اعتبار سره د هغوئ مرسته وكړي او په هر مشكل او ستونزه كي د هغوئ خبر واخلي .

د مسلمانانو ډله لازم نيولو معنا داده چي د ژوند په هره مرحله باندي د اجتماعيت پر اصول كاربند اوسي او خپل ځان هيڅكله د انفراديت پر لار روان نه كړي ، د علماء دين او علماء امت د متفقه عقائدو او اعمال صالحه موافقت كوي او د هغوئ سره اوسي مثلا د جمعې لمونځ ، جماعت وغيره كي د هغه خلكو سره په پاته كېدو سره اجتماعيت ته فروغ وركړي چي په اسلامي طاقت او قوت كي هم اضافه وي او د رحمت الهي د نزول سبب هم وي ځكه چي پر جماعت د الله تعالى رحمت وي ،

د (من ورائهم) لفظ د مشكوة په ځينو نسخو كي د ميم په زير سره دى او په ځينو نسخو كي په زور سره دى ، د دې معنا داده چي د شيطان د مكر او فريب څخه د ځان ساتلو لپاره د جماعت سره د مسلمانانو دعاوې چي د هغه په وجه هغوئ د شيطان د ګمراهۍ څخه خوندي كيږي ، په دې كي دا خبره مقصد ده چي څوک د علماء دين او نېكو بندګانو د جماعت څخه ځان بيلوي هغه ته نه د جماعت بركت تر لاسه كيږي او نه ورته د مسلمان دعاء په برخه كيږي .

﴿٢١٥﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ نَضَّرَ اللهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا شَيْئًا فَبَلَّغَهُ كَمَا سَمِعَهُ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعَى لَهُ مِنْ سَامِعٍ . رواه الترمذي وابن ماجه . ورواه الدارمي عن أبي الدرداء .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي : الله د هغه بنده تازه (خوشحاله او باعزته) لري چي هغه زموږ څخه يو خبره واوري او څرنګه چي يې

اوريدلې وي هغسې يې وړاندي ورسوي نو اكثر هغه خلك چي هغوئ ته (خبره ورسول سي) د اوريدونكي څخه زيات ياد لرونكي وي. ترمذي، ابن ماجه او دارمي د ابودرداء څخه روايت كړی دی.

تشريح: د رسول الله ﷺ مقدس حديثونه اوريدل د هغه پر احكامو عمل كول او د هغه حديثونه نورو خلكو ته رسول د سعادت او بركت او په دين او دنيا كي د كاميابۍ ذريعه ده، پر دې د پوره امت عقيده او ايمان دی چي د حديث نبوي تعليم او تعلم د دواړو جهانو خوش بختي او د الله تعالی د رضا سبب دی مګر د دې سربيره علماء ليكي كه چيري د حديث په تر لاسه كولو او د هغه په ياد ساتلو او نورو ته په رسولو كي كه بالفرض څه ګټه نه وي نو د حديثونو د عظمت او رفعت په وجه د دين او ددنيا دواړو ځايو كي د حصول بركت او رحمت لپاره د رسول الله ﷺ دا مباركه دعاء په كافي وي.

﴿۲۱۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اتَّقُوْا الْحَدِيْثَ عَنِّيْ إِلاَّ مَا عَلِمْتُمْ فَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ . رواه الترمذي . ورواه ابن ماجه عن ابن مسعود وجابر وَلَمْ يَذْكُرِ اتَّقُوْا الْحَدِيْثَ عَنِّيْ إِلاَّ مَا عَلِمْتُمْ .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د لوري د حديث بيانولو څخه ځان وساتئ. خو (يوازي هغه حديثونه بيانوئ) كوم چي تاسو ته معلوم وي (يعني چي ربښتوني وي) چا چي په قصد سره پر ما دروغ وويل هغو ته پكار دي چي خپل ځای په دوږخ كي و لټوي، (ترمذي) او ابن ماجه د حضرت ابن مسعود ﷺ او حضرت جابر ﷺ څخه روايت كړی دی چي په هغه كي د (اتقو الحديث عني الا ماعلمتم) الفاظ نه دي بيان سوي.

تشريح: مقصد دادی چي د حديثو په بيانولو كي د احتياط څخه كار اخيستل پكار دی او د كوم حديث په اړه چي په يقين سره دا معلوم نه وي چي دا حديث واقعي د رسول كريم ﷺ دی نو هغه د خلكو په مخكي بيانول نه دي پكار، هغه حديثونه بيانول پكار دي چي د هغه په اړه په يقين سره يا په غالب ګمان سره دا معلوم وي چي هغه د رسول الله ﷺ حديث دی، تر څو د رسول الله ﷺ ذات اقدس ته د غلط حديث نسبت ونه كړل سي او نه د رسول الله ﷺ و لوري ته د دروغ خبري نسبت وي چي په هغه د الله تعالی د لوري د سخت عذاب قيد دی.

﴿۲۱۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِهِ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ . وفي رواية مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِغَيْرِ عِلْمٍ فَلْيَتَبَوَّأْ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي په قرآن كريم كي د خپلي رايي څخه څه وويل نو هغه ته پكار دي

مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ. رواه الترمذي

چي خپل ځاى په دوږخ كي و لټوي او په روايت كي دا الفاظ دي : چا چي بېله علمه په قرآن كريم كي څه وويل نو هغه ته پكار دي چي خپل ځاى په اور كي و لټوي .ترمذي .

تشريح : څرنګه چي په حديثونو بيانولو كي د احتياط څخه د كار اخيستلو هدايت سوى دى همداسي د قرآن كريم په ترجمه او تفسير بيانولو كي هم د احتياط څخه د كار اخيستلو هدايت سوى دى چي د آيت كريمه هغه تفسير بيان كړل سي كوم چي د حديث څخه ثابت او علماء د امت څخه منقول سوى وي او پر هغه نقلا سند موجود وي ، داسي نه ده پكار چي د آياتونو تفسير او د هغه مطالب او مقاصد بيانولو كي خپل عقل او خپل رايي ته دخل وركړل سي ځكه چي داسي د قرآن كريم په معنا او مفهوم كي فرق پيدا كيږي چي د عذاب الهي موجب دى .

﴿۲۱۸﴾ : وَعَنْ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِهٖ فَأَصَابَ فَقَدْ أَخْطَأَ . رواه الترمذي وأبو داود .

د حضرت جندب[1] ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي په قرآن كريم كي د خپلي رايې څخه څه وويل او د هغه رايه د حقيقت مطابق سوه نو بيا يې هم غلطي وكړه . ترمذي او ابوداؤد.

تشريح : يعني كوم سړى چي د يو آيت تفسير داسي بيان كړي چي نه په حديثونو ثابت وي او نه د علماء د امت څخه منقول وي بلكه صرف په خپل رايه او عقل باندي په باور كولو سره د آيت تفسير بيان كړي مګر په اتفاق سره د هغه بيان كړى تفسير صحيح او واقعي بالكل مطابق سو چي د هغه څخه د آيت په معنا او مطالب كي څه غلطي ونه سوه نو د هغه په اړه فرمايل سوي دي چي ده هم هغه غلطي وكړه ځكه چي تفسير كه څه هم صحيح سو مګر هغه په قصد سره خپل عقل او رايي ته د قرآن په تفسير كي دخل وركړ او د تفسير چي كومه شرعي قاعده او طريقه ده د هغه څخه يې مخ وګرځوى ځكه نو هغه به هم د خطاكارو په حكم كي شامل سي ، د مجتهد معامله د دې برعكس ده كه څه هم مجتهد په خپل اجتهاد كي غلطي وكړي نو پر هغه نه يوازي دا چي مؤاخذه نسته بلكه هغه ته ثواب هم وركول كيږي .

تفسير دې ته وايي چي د آيت كومه معنا او مطالب بيان كړل سي د هغه په باره كي دا يقين وي چي د آيت مراد او د هغه حقيقي مطلب دادى او دا خبره پرته د اهل تفسير د نقل څخه چي د

[1] د نوموړي نوم جندب ابن عبد الله ابن سفيان بجلي عقلي دى . د عبد الله بن زبير او د يزيد په حاميانو كي چي كومه جګړه كېدل نو هغه وخت ژوندى وو د دې فتنې څخه څلور ورځي وروسته وفات سوى دى .

هغه سند رسول الله ﷺ ته رسيدلى وي صحيح نه ده، يعني داسي يقين او اطمينان به په هغه تفسير صحيح وي چي معتبرو علماء او مستند مفسرين څخه منقول وي ځکه چي هغوئ هغه معنا او مطالب بيان کړي دي کوم چي د رسول الله ﷺ څخه منقول دي او واسطه بالواسطه هغوئ ته رسيدلي دي.

تاويل دې ته وايي چي د يو آيت معنا او مطالب بيانولو سره د احتمال په طريقه دا وويل سي چي زه کومه معنا بيانوم او د آيت کوم تفسير کوم کيداى سي چي د هغه اصلي مراد دا وي. دا سي کول صحيح دي مگر دا به هم هلته صحيح وي چي بيان سوى تفسير د قواعد عربي او شريعت سره سم وي.

﴿۲۱۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمِرَاءُ فِي الْقُرْآنِ كُفْرٌ. رواه أحمد وأبو داود.	د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په قرآن کريم کي جگړه کول کفر دى. احمد او ابوداؤد.

تشريح: هغه خلک د کفر دائرې ته نژدې سوي دي چي د قرآن معنا او مطالب او د مقاصدو او مراد په تعين کي جگړې کوي او د چا په عقل کي چي څه رايه راځي هغه په حق او صحيح گڼلو سره د ثابت کولو کوښښ کوي او داسي کم فهم خلکو ته چي په ظاهري توگه سره د قرآن کريم په آياتونو کي د معنا او مقصد د لحاظ څخه فرق په نظر راځي نو هغه څخه د يو آيت ناقابل اعتبار، ناقابل قبول او ناقابل استشهاد گرځولو سره دوهم آيت راجح کوي نو لکه هغوئ چي د قرآن په يوه آيت سره بل آيت ساقطوي.

ظاهره ده چي داسي کول د شريعت له نظره انتهائي جرم دى بلکه په داسي شکل کي هر کله چي په دوو آياتونو کي په خپل منځ کي اختلاف او تضاد معلوميږي نو حتى الامکان په دواړو کي د تطابق او توافق پيدا کولو هڅه کول پکار ده که د چا لپاره دا ممکن نه وي نو هغه ته دا عقيده ساتل پکار ده چي دا زما د کم علمۍ او بدفهمۍ په وجه ده او د حقيقي مفهوم او مراد علم دي الله تعالى او د هغه رسول ته وسپاري چي هغوئ بنه پوهيږي.

د مثال په توگه د اهل سنت والجماعة عقيده ده چي خير او شر ټول د الله تعالى د لوري دي او هغه د خپل عقيدې بنياد پر دې آيت لري چي:

(قل کل من عند الله) ژباړه: يعني (اې محمد ﷺ) وفرمايه چي هر څه د الله تعالى د لوري دي.

د اهل السنت والجماعة دا عقيده او د هغوئ دليل بالكل صحيح، صاف او واضح دى مګر اهل قدر ددې ترديد کوي او ددې پر خلاف خپل عقيده يې دا قائمه کړې ده چې د خير خالق الله تعالى دى او د شر خالق خپله انسان دى او د خپلي عقيدې بنياد پر دې آيت کريمه وايي چې په څرګنده د لومړني آيت متضاد دى يعني:

مَّا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللَّهِ وَمَا أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ. سورة النساء ۷۹

ژباړه: کوم ډول نيکي چې تاسو ته رسيږي هغه د الله تعالى د لوري ده او څه ډول بدي چې تاسو ته رسيږي هغه ستا د نفس د لوري ده.

په هر حال د دې ډول اختلاف او په آياتونو کي تضاد پيدا کول منعه دي بلکه دا پکار ده چې په داسي آياتونو کي پر داسي يو آيت باندي عمل وکړل سي چې پر هغه د مسلمانانو اتفاق او اجماع وي او په دوهم آيت کي داسي تاويل وکړل سي چې د شريعت سره سم وي څرنګه چې په پورتني دواړو آياتو کي ليدل کيږي چې پر لومړني آيت باندي د مسلمانانو اجماع ده چې خير او شر ټول د الله تعالى د لوري دي او هر شي د تقدير سره سم کيږي نو پر دې عمل پکار دي، او د دوهم آيت دا تاويل وکړل سي چې په اصل کي د دې آيت تعلق د ماقبل آيت سره دى چې په دې کي د منافقانو بدي او د هغوئ عقيده بيانيږي چې دغه منافقانو ته څه سوي دي چې کوم شى صحيح او واضح دى په هغه نه پوهيږي بلکه دا وايي چې نيکي او بدي خو د الله تعالى د لوري دي او بدي خپله د بنده د نفس د لوري ده لکه چې په داسي دواړو آياتو نو کي به تطبيق وسي ،همداسي په نورو آياتونو کي هم مطابقت پيدا کول پکار دي.

﴿۲۲۰﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْمًا يَتَدَارَؤُوْنَ فِي الْقُرْآنِ فَقَالَ إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِهٰذَا ضَرَبُوْا كِتَابُ اللهِ بَعْضَهُ بِبَعْضٍ وَإِنَّمَا نَزَلَ كِتَابُ اللهِ يُصَدِّقُ بَعْضُهُ بَعْضًا فَلاَ تُكَذِّبُوْا بَعْضَهُ بِبَعْضٍ فَمَا عَلِمْتُمْ مِنْهُ فَقُوْلُوْا وَمَا جَهِلْتُمْ فَكِلُوْهُ إِلَى عَالِمِهِ. رواه أحمد وابن ماجه.

حضرت عمرو بن شعيب[1] د خپل پلار څخه روايت کوي او هغه د هغه د نيکه څخه هغه وويل: رسول الله ﷺ د ځيني خلکو په اړه واوريدل چې هغوئ په قرآن کريم کي يو د بل سره جګړه کوي، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو څخه وړاندي خلک په دې سبب هلاک سول چې هغوئ د الله د کتاب ځيني برخي د ځيني خلاف وګرځولې او حال دا چې د الله ﷻ

[1] نوموړى تابعي دى او د عمرو بن العاص د کورنۍ څخه دى.

كتاب يوه برخه د بلي برخي تصديق كوي ، تاسو د قرآن كريم يوه برخه په بله برخي مه درواغ كوئ او په قرآن كريم كي چي څومره تاسو پوهيږئ هغه بيانوئ او په كومه برخه چي نه پوهيږئ هغه پوهېدونكو ته پريږدئ . احمد او ابن ماجه .

تشريح : څرنګه چي د دې څخه په مخكي حديث كي تير سوي دي چي د كومو خلكو علم ناقص وي او د هغوئ په ناقص ذهن او فكر كي چي كوم مفهوم راځي هغه بيانوي او پر هغو د خپل نظرياتو او اعتقاداتو بنياد هم ايږدي چي د هغه مثال په مخكي حديث كي بيان سوى دى .

په دې اړه دلته فرمايل سوي دي كه تاسو ته په ځيني آياتونو كي اختلاف معلوم سي نو په هغه كي د يو بل په ذريعه مه ساقط كوئ او مه د هغه تكذيب كوئ بلكه تر څو پوري چي ستاسو علم مرسته كولاى سي په هغه كي تطبيق پيدا كړئ كه داسي نسئ كولاى نو بيا تاسو د دې پر ځاى چي د خپل عقل او پوهي غشي وځغلوى نو دهغه حقيقي معنا او مفهوم الله تعالى او د هغه رسول ته وسپارئ بيا داسي علماء او صلحاء چي د علم په اعتبار ستاسو څخه اعلى او افضل او پر تاسو فوقيت لري هغوئ ته رجوع وكړئ .

﴿۲۲۱﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُنْزِلَ الْقُرْآنُ عَلٰى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ لِكُلِّ آيَةٍ مِّنْهَا ظَهْرٌ وَبَطْنٌ وَلِكُلِّ حَدٍّ مُطَّلَعٌ. رواه في شرح السنة .

د حضرت ابن مسعود ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قرآن كريم په اوو طرزو (يعني د عربو په اوو لغتو) نازل سوى دى په دې كي د هر يوه آيت يوه ظاهري معنا ده او يوه باطني معنا او د هر حد لپاره يو ځاى د خبردارى دى .

تشريح : د دنيا په هره ژبه كي د فصاحت، بلاغت او لهجې په اعتبار مختلف اسلوب او مختلف لغات وي همداسي د عربي ژبي هم اووه لغات په عربو كي مشهور وه ، په دې اړه فرمايل سوي دي چي قرآن كريم اووه شان يعني اووه لغات كي نازل سوى دى ، د دې اوو لغاتو تفصيل داسي دى : (۱) لغت قريش (۲) لغت طى (۳) لغت هوازن (۴) لغت اهل يمن (۵) لغت ثقيف (۶) لغت هزيل (۷) لغت بني تميم .

قرآن كريم تر ټولو وړاندي د قريشو د لغت سره سم نازل سوى وو چي د رسول الله ﷺ لغت وو ، هر كله چي په ټولو عربو كي د دې لغت سره سم قرآن كريم ويل مشكل سول ځكه چي د هري قبيلې او هر قوم خپل يو مستقل لغت او د ژبو د لهجو بيل بيل انداز وو نو رسول الله ﷺ په دربار الهي كي درخواست وكړ چي په دې اړه وسعت وكړل سي نو حكم وسو چي هر سړى قرآن كريم د

خپل لهجې سره سم ویلای سي ، د حضرت عثمان ﷛ تر زمانې پوري همداسي روان وو او خلکو به د خپل خپل لغت په اعتبار قرآنکریم وایه .

کله چي حضرت عثمان ﷛ قرآن کریم یو ځای کړ او د هغه کتابت یې د اسلامي سلطنت هري سیمي ته ولیږی نو هغوئ هغه لغت مستقل وګرځوی چي پر هغه حضرت زید بن ثابت ﷛ د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ او د حضرت عمر فاروق ﷛ د مشورې سره سم قرآن کریم جمع کړی وو او هغه لغت قریش وو ، او حضرت عثمان ﷛ دا حکم هم وکړ چي نور ټول لغات دي منسوخ کړل سي یوازي دا یو لغت دي پاته سي ، د حضرت عثمان ﷛ د حکم په وجه د یو لوی فتنې ریښې هم ختم کړل سوې او فتنه دا وه چي د لغات د اختلاف په وجه مسلمانانو په خپلو کي جګړې کولې او نوبت دې ځای ته رسیدلی وو چي یو سړي به بل سړی د خپل لغت خلاف قرآن کریم ویلو باندي ولیدی نو په دا ګڼلو سره چي یوازي زما د قبیلې لغت صحیح دی هغه ته به یې کافر ویل نو د لغت قریش څخه پرته چي په هغه قرآن کریم نازل سوی وو پاته ټول لغات ختم کړل سول او که یو لغت باقي هم پاته سو نو هغه چي پر هغه به د صحابه کرامو اتفاق وو او د سند متصل او تواتر سره په آخر کي قراء سبعه ته رسیدل د دې څخه پرته په لغت کي مکرر یعني د اماله او ادخام وغیره اختلاف هم باقي پاته سو چي تر ننه پوري په قراء سبعه کي موجود دي .

ځیني علماء وایي دا چي فرمایل سوي دي چي قرآن کریم پر اووه ډوله باندي نازل سوی دی نو د اووه ډوله څخه مراد هغه اووه قرائتونه دي چي قراء سبعه یې وایي ، بیا علماؤ دا هم ویلي دي که څه هم قرائتونه تر اوو زیات دي مګر دلته د اوو تهدید ځکه سوی دی چي دا اختلاف هم اووه ډوله دی چي هغه ته دا اووه قرائتونه راجمع دي لکه :

۱. په کلمه د ذات کي اختلاف یعني په کلمه کي امر زیاتي .
۲. د جمع او مفرد اختلاف .
۳. د مذکر او مؤنث اختلاف .
۴. صرفي اختلاف یعني د تخفیف او تشدید ، فتح او کسره وغیره اختلاف لکه مَیْتٌ او مَیِّتٌ ، یَقْنُطُ او یَقْنَطُ .
۵. د اعراب اختلاف .
۶. د حروفو اختلاف لکه په لکن الشیطین کي د نون تشدید او تخفیف .
۷. د لغات د ادا کولو اختلاف لکه تفخیم ، اماله او داسي نور .

د حدیث په پای کي فرمایل سوي دي چي هر آیت ظاهر دی او باطن دی د دې مطلب دادی چي د هر آیت یو ظاهري معنا ده چي ټول اهل زبان په پوهیږي او یو باطني معنا ده چي یوازي د الله تعالی هغه خاص بندګان په پوهیږي چي هغوئ زړه او د ماغ د معرفت د رڼا څخه ډک وي .

بیا فرمایل سوي دي چي د هر حد لپاره یو ځای د خبرداري دی ، د حدق معنا د طرف او نهایت ده مطلب دادی چي د هر ظاهر او باطن یو حد او نهایت دی او د حد او نهایت لپاره یو مطلع یعني داسي مقام وي چي هغه ته رسیدو او د هغه د حاصلولو څخه وروسته سړی په هغه حد او نهایت باندي مطلع کیږي .

د ظاهر مطلع یعني هغه مقام چي هغه ته په رسیدو سره حد او نهایت معلومیږي دادی چي عربي ژبه او د هغه اصول او قواعد زده کړل سي د صرف او نحو علم تر لاسه کړل سي چي د قرآن کریم ظاهري معنا د هغه سره متعلق ده او د هر آیت شان نزول او د ناسخ او منسوخ علم حاصل کړي یا داسي هغه نور شیان دي چي پر هغه د قرآن کریم د ظاهري معنا پوهېدل منحصر دي .

د باطن مطلع داده چي ریاضت او مجاهده وکړل سي ، د قرآن کریم د ظاهري معنا او د هغه د احکامو اتباع او په هغه عمل وکړل سي ، نفس د ټولو خرابۍ ، ګناه او معصیت څخه پاک کړل سي ، زړه ته د عبادت الهي او رضائي الهي د نور څخه ځلا وبخښل سي او داسي نور ، دا هغه شیان دي چي د هغه د حصول څخه وروسته باطني علوم او د هغه د اسرار او معارف د انسان زړه کي کشف کیږي ، امام محي السنة رحمة الله علیه په خپل تفسیر معالم التنزیل کي لیکلي دي چي د حدیثو د الفاظو (ظهر) څخه مراد د قرآن الفاظ دي او د بطن څخه مراد د الفاظو تاویل دی ، د مطلع څخه مراد فهم یعني پوهه ده چي د هغه په وجه په قرآن کریم کي غور او فکر کونکي باندي د قرآن کریم د کومو علومو او معناوو د تاویل انکشاف کیږي هغه پر نورو نه کیږي .

﴿۲۲۲﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْعِلْمُ ثَلاثَةٌ آيَةٌ مُحْكَمَةٌ أَوْ سُنَّةٌ قَائِمَةٌ أَوْ فَرِيْضَةٌ عَادِلَةٌ وَمَا كَانَ سِوٰى ذٰلِكَ فَهُوَ فَضْلٌ . رواه أبو داود وابن ماجه .

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د دین علم دري ډوله دی : ۱: یو آیت محکمه (ټینګ او غیر منسوخ) ۲: دوهم سنت قائمه (یعني مستند حدیثونه) ۳: او دریم فریضه عادله (یعني اجماع امت او قیاس) او ددې څخه پرته څه چي دي هغه زیات دی: ابوداؤد او ابن ماجه.

تشريح : مطلب دادی چي د دين علم درې ډوله دی يا دا چي د علم دين بنياد پر درو شيانو دی . آيت محكم هغه آياتونه دي چي ټينګ او غير منسوخ دي د دې څخه مطلب كتاب الله ته اشاره ده چي اصل قرآن آيات محكمات دي ځكه دلته يوازي هغه ذكر كړل سوي دي او هغه نور علوم چي د هغه لپاره وسيله دي هغه هم د هغه سره متعلق دي ، سنت قائمه يعني هغه حديث چي متن او د اسناد د محافظت سره ثابت دي .

د فريضه عادله څخه مطلب قياس او اجماع ته چي د كتاب او سنت څخه مستنبط كيږي دې ته فريضه ځكه ويل سوي دي چي پر قياس او اجماع باندي عمل كول هم داسي واجب دي لكه پر كتاب الله او سنت رسول باندي ، د عادله معنا داده چي داسي فريضه چي د كتاب او سنت مثل او عديل وي .

په هر حال د حديث وضاحت دا وسو چي د دين اصول څلور دي چي پر هغه د دين او شريعت پوره بنياد دی (۱) كتاب يعني قرآن كريم (۲) سنت يعني احاديث ، (۳) اجماع ، (۴) قياس ، او د دې څخه پرته چي كوم علوم دي هغه به زائد او د ديني حيثيت څخه بې معنا وي .

﴿۲۲۳﴾ : وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكِ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقُصُّ إِلَّا أَمِيْرٌ أَوْ مَأْمُوْرٌ أَوْ مُخْتَالٌ . رواه أبو داود . ورواه الدارمي عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده وفي روايته أَوْ مُرَاءٍ بَدَلَ أَوْ مُخْتَالٌ .

د حضرت عوف[1] بن مالك الاشجعي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قصه نه بيانوي (يعني نصيحت نه كوي) مگر حاكم يا محكوم او يا مغرور او متكبر (په دې درو كي دوو لومړنيو كسانو لره خو نصيحت كول جائز او مغرور او متكبر لپاره ناجائز او ممنوع دي) . ابوداؤد او دارمي .

تشريح : د قصې بيانولو څخه مطلب وعظ او نصيحت كول او حكايات او قصې بيانول دي ، مطلب دا چي وعظ او تقرير په عامه توګه درې ډوله خلک کوي ، په هغوئ كي دوه پر حق دي يعني حاكم او محكوم ، دې خلكو ته وعظ بيانول پكار دي ، دريم سړی متكبر دی هغه ته وعظ كول نه دي پكار ځكه چي هغه د وعظ كولو اهل نه دی .

لكه چي د حديث مفهوم دا سو چي وعظ كول لومړی خو د امير يعني حاكم حق دی ، ځكه چي هغه پر رعيت تر ټولو زيات مهربان وي او د رعايت د اصلاح امور په ښه ډول پيژني كه حاكم

[1] د نوموړي نوم عوف بن مالك اشجعي او كنيت يې ابوعبدالرحمن دی . ځيني حضراتو ابوحماد او ځيني عمرو هم ليكلی دی . په دمشق كي په كال (۷۳هـ) كي وفات سوی دی . اسد الغابة .

خپله وعظ نه کوي نو په علماء کي چي کوم عالم په تقوا او تقدس کي تر ټولو افضل او اعلی وي او دنیاوي طمع نه لري هغه دي وټاکي چي خلکو ته وعظ او نصیحت کوي نو د مامور څخه مراد دوهم هغه سړی دی چي د الله تعالی د لوري د مخلوق د هدایت او اصلاح لپاره مامور کړل سوی وي لکه علماء او اولیاء الله چي د خلکو په مخکي وعظ بیانوي او د مخلوق په اصلاح او هدایت کي لګیدلي وي نو په دې حدیث کي پر داسي خلکو باندي زورونه او توبیخ (غصه) مقصد دی چي د دولت او عزت په خاطر نصیحت کوي حال دا چي هغوئ په علمي حیثیت سره د دې عظیم منصب اهل نه وي او نه په عملي توګه سره د دې وړ وي چي د خلکو اصلاح وکړلای سي، وعظ کول یوازي د دوو خلکو برخه ده او هغوئ یې مستحق او اهل دي، د هغوئ څخه پرته چي څوک وعظ کوي نو د هغه مطلب به دا وي چي هغه د فخر او تکبر په وجه او د عزت حاصلولو په خاطر دا کار کوي کوم چي د الله تعالی د عذاب باعث دی.

﴿۲۲۴﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أُفْتِيَ بِغَيْرِ عِلْمٍ كَانَ إِثْمُهُ عَلَى مَنْ أَفْتَاهُ وَمَنْ أَشَارَ عَلَى أَخِيْهِ بِأَمْرٍ يَعْلَمُ أَنَّ الرُّشْدَ فِيْ غَيْرِهِ فَقَدْ خَانَهُ . رواه أبو داود .

د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کومه فتوا چي بېله علمه ورکړل سي د هغه ګناه به پر فتوا ورکونکي وي او چا چي یو ورور ته غلطه مشوره ورکړه نو هغه خیانت وکړ. ابوداؤد.

تشریح : د مثال په توګه یو جاهل سړی یو عالم سړي ته د یو مسئلې پوښتلو لپاره راسي، عالم پوښتني کونکي ته د هغه د سوال صحیح جواب ور نه کړ بلکه د کم علمی یا بلي وجي څخه غلطه مسئله یې ورته وښودل او هغه جاهل په دې نه پوهیدی چي دا مسئله غلطه ده نو په هغه یې عمل وکړ نو د هغه ګناه به پر هغه جاهل سړي نه وي بلکه پر هغه عالم به وي چي هغه ته یې غلطه مسئله ښودلو سره هغه یې په غلط عمل کولو مجبور کړ، مګر شرط دادی چي عالم په خپل اجتهاد کي غلطي کړې وي.

د حدیث د دوهمي برخي مطلب دادی که یو سړی د خپل یو ورور بدخواهي داسي وغوښتل چي هغه ته یې د هغه شي مشوره ورکړل د کوم په اړه چي هغه ته معلومه ده چي په هغه کي د هغه خیر نسته بلکه په دوهم کار کي دی نو دا د هغه خیانت دی هغه به د خپل غیر اخلاقي او غیر شرعي عمل په وجه خائن (خیانت کونکی) ګڼل کیږي.

﴿۲۲۵﴾ : وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْأُغْلُوْطَاتِ . رواه أبو داود .

د حضرت معاوية ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د هغه مسئلې د پوښتني څخه منعه کړې ده چي عالمان په شك او شبه کي اچوي . ابوداؤد .

تشريح : د دې ارشاد مقصد د دې خبري خبرداری دی چي د علماؤو څخه د داسي مسائلو پوښتني کول چي د مشکل او پيچيده کېدو په وجه هغوئ په مغالطه (شک او شبهې) کي لويږي يا د هغه څخه د سائل مقصد علماء پريشان کول او هغوئ په مغالطه کي اچول وي ځکه چي اکثر داسي کيږي چي ځيني حضرات چي د هغوئ زړه او دماغ د علماؤ د عظمت او عزت څخه خالي وي هغوئ په امتحان اچولو کي يا د خلکو په مخکي د هغوئ د سپکاوي کولو لپاره داسي مسئلې جوړوي چي هغوئ په مغالطه او چکر کي واچوي .

په دې اړه تر څو چي د مسئلې تعلق دی هغه دادی که که يو چا په پيل کي داسي سوال وکړ نو دا حرام دی ځکه چي په دې سره د يو مؤمن د ضرر رسولو او د ذهني تکليف سامان برابريږي او دا د فتنې او فساد او عداوت او نفرت سبب دی، دوهم دا چي پر داسي ځای باندي د فخر او تکبر په وجه د خپل فضيلت او قابليت اظهار مقصود وي او څرګنده ده چي دا ټول شيان حرام دي . مگر که داسي صورت وي چي دوهم د هغه څخه سوال وکړ او هغه د هغه په جواب کي التزاما داسي سوال وکړ نو دا حرام نه دی .

﴿۲۲۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَالْقُرْآنَ وَعَلِّمُوْا النَّاسَ فَإِنِّيْ مَقْبُوْضٌ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو فرضونه او قرآن کريم زده کړئ او خلکو ته يې و ښياست ځکه چي زه به پورته کړل سم

﴿۲۲۷﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَخَصَ بِبَصَرِهِ إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ قَالَ هٰذَا أَوَانٌ يُخْتَلَسُ فِيْهِ الْعِلْمُ مِنَ النَّاسِ حَتّٰى لاَ يَقْدِرُوْا مِنْهُ عَلٰى شَيْءٍ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوالدرداء ﷺ څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره ملګري وو چي رسول الله ﷺ د آسمان په لور وکتل بيا يې وفرمايل : دا وخت دی چي علم به د خلکو څخه پورته کړل سي تر دې چي هغوئ به د علم په ذريعه په هيڅ شي قدرت نه لري (د علم څخه مراد وحي ده او د خپل وفات په لور د مبارك اشاره وه) . ترمذي .

تشريح : دلته د علم څخه مراد وحي دي او اشاره ده د خپل وفات په لور ، يعني رسول الله ﷺ

آسمان ته وكتل لكه چي د وحي منتظر وو ، د الله تعالى د دربار څخه وحي نازلې سوي او خبر وركړل سو چي اوس ستاسو اجل راغلى دى او تاسو ددې دنيا څخه په رخصتېدو سره واصل بحق كېدونكي ياست ځكه نو رسول الله ﷺ وفرمايل : اوس وخت راغلى دى چي د دې دنيا څخه وحي منقطع سي.

﴿۲۲۸﴾:وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رِوَايَةً يُوْشِكُ أَنْ يَضْرِبَ النَّاسُ أَكْبَادَ الْإِبِلِ يَطْلُبُوْنَ الْعِلْمَ فَلاَ يَجِدُوْنَ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْ عَالِمِ الْمَدِيْنَةِ . رواه الترمذي في جامعه . قال ابن عيينه إنه مالك بن أنس ومثله عن عبد الرزاق قال إسحق بن موسى وسمعت ابن عيينه أنه قال هو العمري الزاهد واسمه عبد العزيز بن عبد الله

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي هغه زمانه نژدې ده چي خلك به د علم د تر لاسه كولو لپاره د اوښانو ځيگر ځيري كړي (يعني د ليري ليري ځايو سفرونه به كوي) مگر په هيڅ يو ځاى كي به د مدينې د عالم څخه زيات عالم پيدا نه كړي (ترمذي او جامع ترمذي كي د ابن عيينه څخه منقول دى چي د مدينې هغه عالم . مالك بن انس دى او عبدالرزاق هم داسي ليكلي دي او د اسحاق بن موسى بيان دى چي ما د ابن عيينه څخه دا اوريدلي دي چي د مدينې هغه عالم عمري (يعني د حضرت عمر ﷺ كورنۍ څخه) زاهد دي او د هغه نوم عبدالعزيز بن عبدالله دى).

تشريح : د (روايةً منقول) مطلب دادى چي حضرت ابوهريره ﷺ دا حديث د رسول الله ﷺ څخه مرفوعا روايت كړى دى مگر د ابوهريره ﷺ شاگرد ته د ابوهريره ﷺ الفاظ ياد نه دي ځكه هغه دا حديث همداسي نقل كړ . د اوښانو ځيگر شكولو مطلب دادى چي هر كله د خلكو په منځ كي د علم آوازه او د علم تر لاسه كولو شوق زيات سي نو خلك به ليري ليري سفر كوي او د علم په خاطر به په تهوله نړۍ كي گرځي يا دا چي علم ته د ژر رسيدو لپاره به اوښان په تيزي سره شړي او په تيزي سره به د علم منزل مقصود ته رسيږي . د حديث د الفاظو په مصداق كي كلام دى رسول الله ﷺ چي دا فرمايلي دي چي د مدينې د عالم څخه زيات عالم به بيا نه پيدا كيږي نو د مدينې عالم څخه مراد څوک دى ؟ سفيان بن عيينه چي د امام مالک د اصحاب او د امام شافعي د شيوخ څخه دى فرمايي چي د رسول الله ﷺ د ارشاد څخه مراد د امام مالک رحمه الله ذات محترم دى ، همداسي حضرت عبدالرزق چي د حديثو جليل القدر او مشهور امام دى دا فرمايي چي په حديث كي د كوم عالم مدينه ذكر سوى دى د هغه څخه مراد حضرت امام مالک رحمة الله عليه دى .

مګر د ابن عينيه يو شاګرد اسحاق بن موسى فرمايي چي ما دابن عينيه څخه دا اوريدلي دي چي د عالم مدينه څخه مراد عمري زاهد دی د هغه نوم عبدالعزيز بن عبدالله دی چي د حضرت عمر فاروق ﷺ د کورنۍ څخه دی ځکه ورته عمري وايي او زاهد د هغه صفت دی ځکه چي دی د مديني يو جليل القدر عالم کېدو سره سره يو لوی زاهد او متقي هم وو، د هغه نسب داسي دی : عبدالعزيز بن عبدالله بن عمرو بن حفص بن عاصم بن عمر فاروق ﷺ.

په هر حال امام ترمذي چي د يحيی واسطي سره د ابن عينيه کوم قول نقل کړی دی هغه د هغه قول مخالف دی چي ابن عينيه څخه اسحاق بن موسی نقل کوي همداسي د ابن عينيه په اقوالو کي اختلاف دی او ددې وجه داده چي دغه دواړو حضراتو د عينيه څخه کوم قول نقل کړی دی هغه باعتبار ظن (شکمن) دی په يقيني او حتمي توګه سره هغه د خلکو څخه نه دی نقل کړی.

په دې خبره هم پوهېدل پکار دي چي د رسول الله ﷺ دا ارشاد اصحابو او تابعينو د زمانې په اعتبار دی چي د هغو په زمانه کي د مديني د عالم څخه زيات عالم به په بل ځای کي نه وي ځکه چي صحابه کرامو او تابعينو څخه وروسته هر کله چي د علم مقدسه رڼا د مديني څخه په وتلو سره په شاوخوا نړۍ کي خپره سوه نو د هغه په نتيجه کي په نورو هيوادونو او ښارونو کي داسي عالمان او فاضلان پيدا سول چي د خپل علم او فضل او ديني فهم او فراست په اعتبار د مديني د عالمانو څخه زيات سوي دي.

د دغه حديث ظاهري معنی چي ارشاد نبوي ته زيات نژدې او مناسب ده، داده چي د رسول الله ﷺ مقصد د دې ارشاد څخه ددې خبري خبر ورکول دی چي په آخره زمانه کي به علم د خپل وسعت او پراخۍ سربېره يوازي په مدينه منوره کي منحصر سي څرنګه چي په نورو حديثونو کي دا خبره په صراحت سره معلومېږي. والله تعالى اعلم.

﴿۲۲۹﴾: وَعَنْهُ فِيْمَا أَعْلَمُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبْعَثُ لِهٰذِهِ الْأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِيْنَهَا. رواه أبو داود.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه چي څه ما ته معلوم سوي دي هغه دادي چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي الله پاك د دې امت لپاره په هره صدۍ (پيړۍ) کي يو سړی رالېږي چي د هغه دين به تازه کوي. ابوداؤد.

تشريح : اکثرو علماؤ د دې حديث څخه دا مراد اخيستی دی چي په هره زمانه کي په هر امت کي

د خپل علم او فضل په اعتبار په ټولو كي ممتاز يو داسي سړى موجود وي چي دين ځلوي او تازه كوي يې هغه ته مجدد وايي ، مجدد په خپله زمانه كي هره پيدا سوې بده خبره او خرابي ليري كوي بدعت او د رواجونو ژوري پردې چي د دين پر حقيقت لوېږي هغه د خپل علم او معرفت په قوت سره پرې كوي او دامت په مخكي پوره دين په صاف او پاك كولو سره په خپل اصلي شكل كي وړاندي كوي .ځينو حضراتو تعين هم كړى دى چي په فلانى پيړۍ كي فلانى مجدد پيدا سوى وو او په فلانى پيړۍ كي فلانى مجدد موجود وو ، ځيني علماؤ د حديث معنا پر عموميت باندي محمول كړې ده يعني كه چيري د دين تجديد كونكى يو سړى وي يا يوه ډله وي چي په دين كي پيدا سوي بدۍ او خرابۍ ختم كړي .

﴿۲۳۰﴾: وَعَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْعُذْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْمِلُ هٰذَا الْعِلْمَ مِنْ كُلِّ خَلَفٍ عُدُوْلُهُ يَنْفُوْنَ عَنْهُ تَحْرِيْفَ الْغَالِيْنَ وَانْتِحَالَ الْمُبْطِلِيْنَ وَتَأْوِيْلَ الْجَاهِلِيْنَ . رواه البيهقي في كتاب المدخل من حديث بقية بن الوليد عن معان بن رفاعة عن ابراهيم بن عبدالرحمن العذري و سنذكر حديث جابرفانما شفاء العي السوال في باب التيمم ان شاء الله تعالى .

د حضرت ابراهيم بن عبدالرحمن العذري ﵁ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دا علم (د كتاب او سنت) به هر راتلونكي ټولى څخه د هغه نيك خلك تر لاسه كوي چي دد ې څخه به د حد څخه د تيريدونكو خلكو تحريف د باطلو خلكو درواغ تړل او د جاهلانو تاويلات لري كوي ، بيهقي په مدخل كي دا حديث د بقيه بن وليد ، معان بن رفاعه او هغوئ د ابراهيم بن عبدالرحمان عذري چي د هغه پيل دادى : فانما شفاء العي السوال . به مورد تيمم په باب كي ذكر كړو

الفصل الثالث

﴿۲۳۱﴾: عَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلاً قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَاءَهُ الْمَوْتَ وَهُوَ يَطْلُبُ الْعِلْمَ لِيُحْيِيْ بِهِ الْإِسْلَامَ فَبَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّبِيِّيْنَ دَرَجَةٌ وَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ . رواه الدارمي .

د حضرت حسن[1] (بصري) ﵁ څخه مرسلا روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي په داسي حال كي مړ سي چي هغه په دې غرض علم تر لاسه كاوه چي په هغه سره اسلام ته تازه ژوند وركړي نو په جنت كي به د هغه او د انبياؤ په منځ كي يوازي د يوې درجې فرق وي . دارمي .

[1] حسن بصري تابعي دى ، په مدينه كي پيدا سوى دى او په كال (۱۱۰هـ) كي وفات سوى دى .

﴿۲۳۲﴾ : وَعَنْهُ مُرْسَلاً قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ رَجُلَيْنِ كَانَا فِيْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ أَحَدُهُمَا كَانَ عَالِمًا يُصَلِّيْ الْمَكْتُوْبَةَ ثُمَّ يَجْلِسُ فَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْخَيْرَ وَالْآخَرُ يَصُوْمُ النَّهَارَ وَيَقُوْمُ اللَّيْلَ أَيُّهُمَا أَفْضَلُ؟ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضْلُ هٰذَا الْعَالِمِ الَّذِيْ يُصَلِّيْ الْمَكْتُوْبَةَ ثُمَّ يَجْلِسُ فَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْخَيْرَ عَلَى الْعَابِدِ الَّذِيْ يَصُوْمُ النَّهَارَ وَيَقُوْمُ اللَّيْلَ كَفَضْلِيْ عَلٰى أَدْنَاكُمْ . رواه الدارمي .

د حضرت حسن بصري ﷺ ځخه مرسلاً روايت دي چي رسول الله ﷺ ته د بني اسرائيلو د ددو خلکو حال بيان کړل سو چي په هغوئ کي يو عالم وو چي فرض لمونځ به يې کاوه بيا به کښېناست خلکو ته به يې علم ښودی او دوهم سړی به د ورځي روژه نيول او ټوله شپه به يې عبادت کاوه ،د رسول الله ﷺ ځخه پوښتنه وسول چي په دوئ کي کوم يو غوره دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د هغه عالم چي فرض لمونځ به يې کاوه او خلکو ته به يې علم ښودئ پر دغه عابد چي د ورځي به يې روژه نيول او ټوله شپه به يې عبادت کاوه داسي فضيلت لري لکه زما فضيلت چي ستاسو پر يو ادنا صحابي دی. دارمي .

تشريح : د بني اسرائيلو ذکر سوي دواړه عالمان خو د خپل علم او فضل په اعتبار هم په رتبه کي يو شان وه مګر فرق دا وو چي عابد خو د خپل ژوند مقصد يوازي عبادت الهي جوړ کړی وو ، شپه، ورځ او هر وخت به په عبادت کي بوخت وو، د بندګانو د اصلاح او تعليم يې ځه غرض نه وو مګر عالم به فرض عبادت هم په پوره توګه سهر ادا کول او د خپل وخت پاته برخه به يې د خلکو په اصلاح او تعليم کي صرف کول نو په دواړو کي افضل هغه سړی ګرځول سوي دی چي خپله يې هم پر خپل علم عمل کوی او نورو ته يې هم په علم ښودلو سره د هدايت لاره ښودل .

﴿۲۳۳﴾ : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَ الرَّجُلُ الْفَقِيْهُ فِي الدِّيْنِ إِنِ احْتِيْجَ إِلَيْهِ نَفَعَ وَإِنِ اسْتُغْنِيَ عَنْهُ أَغْنٰى نَفْسَهُ . رواه رزين .

د حضرت علي ﷺ ځخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د دين هغه عالم ښه دی چي هغه ته که يو حاجت راوړل سي نو هغه ګټه رسوي او که د هغه ځخه بې پرواهي وکړل سي نو هغه هم خپل ځان بې پروا ساتي .

تشريح : د دغه حديث مطلب دادی چي د يو عالم دا شان کېدل پکار دي چي خپل ځان د نورو محتاج کولو سره خپل حيثيت کم نه کړي او د غلط اغراضو او مقاصدو په خاطر د عوام د مصاحبت طرف ته ميلان ونه کړي او نه د هغوئ ځخه د يو دنيوي غرض او ګټي طمع کوي .

مګر د دې مطلب دا هم نه دی چي خپل ځان د عوامو ځخه بالکل بې تعلقه کړي او د خپل علم ځخه د الله تعالی مخلوق محروم کړي که عوام د دين د ضروریاتو په اړه يوازي د هغه

محتاج وي او د هغه شخه پرته د بل عالم نه کېدو په وجه د خلکو رجوع هغه ته وي نو هغه ته پکار ده چي د خلکو په مينځ کي ورسي او د هغوئ ديني او اسلامي ضروريات پوره کولو سره هغوئ ته گټه ورسوي.

که چيري عوام خپله د هغه شخه بې پرواهي کوي چي نه هغوئ ته د هغه شخه د گټې اخيستلو خواهش وي او نه د هغه محتاج وي نو پکار ده چي هغه هم د هغوئ شخه بې پرواه وي او د هغوئ سره تعلق قطع کولو سره خپل وخت په عبادت کي مشغول ساتي يا د خدمت علم دين په خاطر د ديني کتابونو مطالعه او تصنيف او تاليفه او ترجمه کي مصروف کېدو سره په دې ذريعه د علم رڼا خپره کړي.

﴿۲۳۴﴾ : وَعَنْ عِكْرِمَةَ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ حَدِّثِ النَّاسَ كُلَّ جُمُعَةٍ مَرَّةً فَإِنْ أَبَيْتَ فَمَرَّتَيْنِ فَإِنْ أَكْثَرْتَ فَثَلاَثَ مَرَّاتٍ وَلاَ تُمِلَّ النَّاسَ هٰذَا الْقُرْآنَ وَلاَ أُلْفِيَنَّكَ تَأْتِيْ الْقَوْمَ وَهُمْ فِيْ حَدِيْثٍ مِّنْ حَدِيْثِهِمْ فَتَقُصُّ عَلَيْهِمْ فَتَقْطَعَ عَلَيْهِمْ حَدِيْثَهُمْ فَتُمِلُّهُمْ وَلٰكِنْ أَنْصِتْ فَإِذَا أَمَرُوْكَ فَحَدِّثْهُمْ وَهُمْ يَشْتَهُوْنَهُ وَانْظُرِ السَّجْعَ مِنَ الدُّعَاءِ فَاجْتَنِبْهُ فَإِنِّيْ عَهِدْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ لاَ يَفْعَلُوْنَ ذٰلِكَ .رواه البخاري

د حضرت عکرمه رضي الله عنه شخه روايت دی چي ابن عباس رضي الله عنه (يوه ورځ) عکرمه ته وويل چي ته هره جمعه خلکو ته حديث بيانوه، که چيري دا لږ وي نو بيا په اونۍ کي دوې ورځي او که تر دې زيات ضرورت سي نو په اونۍ کي درې ځله د قرآن (نصيحت ورته کاوه) او تر دې يې زيات مه تنگوه ، د دې وروسته ابن عباس وويل او داسي هم مه کوه چي خلك په خپلو خبرو کي بوخت وي او ته د هغو په خبرو کي ور ولوېږې او نصيحت پيل کړې او هغوئ تنگ کړې په داسي حال کي تا ته پکار ده چي پټه خوله پاته سې البته که چيري هغوئ ستاځخه د نصيحت غوښتنه وکړي نو د هغوئ په وړاندي تر څو پوري چي هغوئ د دې غوښتونکي وي حديث بيانوه او په دعاء کي قافيه دار عبارت مه استعمالوه . څرگنده سوې ده چي رسول الله ﷺ او د هغوئ صحابه کرامو به داسي نه کول. بخاري.

تشريح : څرنگه چي په مخکني مخونو کي تير سوي دي په دې حديث کي هم پر دې زور اچول سوی دی چي د وعظ او نصيحت په معامله کي د اعتدال ، ځای او ماحول رعايت کول ضروري دی او د آثر اندازې د دعوت او تبليغ دا بنيادي بنسټ دی چي پر دې د تبليغ د کاميابۍ پوره دارمدار دی.

په دې اړه په خاصه توگه دا ښودل سوي دي که خلک په يو خبره يا په خپل منځ کي په خبرو

بوخت وي نو داسي موقع ته په رسيدو سره وعظ او نصيحت پيل کول نه دي پکار، که څه هم هغه خبري دنياوي امورو سره تعلق لري يا پر ديني خبرو باندي مشتمل وي، که هغوئ د دين په خبرو کي بوخت وي نو ظاهره ده چي په درجه اولی د هغوئ خبره قطع کول مناسب نه دي، او که د خبرو اترو موضوع يوازي د دنيا وي نو داسي کول مناسب نه دي.

ځکه کله چي يو سړی په خپل يو ضروري خبره کي بوخت وي او هلته په رسيدو سره وعظ او نصيحت پيل کړل سي نو په خبرو اترو کي د خلل په وجه کيدای سي چي هغوئ د بشريت په غوښتنه هغه ونه زغمي او پر داسي موقع د قرآن او حديثو خبري اوريدل خوښ نه کړي چي د هغه په وجه نه يوازي دا چي هغه په خپله په ګناه کي اخته سي بلکه د هغه پر زړه د دين د عظمت او اهميت نقش هم قائم نسي. هو که چيري د حکمت غوښتنه وي چي هغوئ د هغه خبرو څخه منعه کړل سي نو بيا د داسي انداز او طريقي اختيارول پکار دي چي هغوئ ته ناخوښه هم نه وي او هغوئ د هغه خبرو څخه منعه هم سي، مقصد دا چي حکمت او ضرورت پر وخت بآندي ساتل پکار دي.

او تر څو چي د ابن عباس ﷺ د قول تعلق دی نو په دې اړه دا ويل سوي دي چي د هغوئ عکرمه ﷺ ته حکم ورکول د اکثر په اعتبار وو يعني دا د هغه وخت خبره ده هر کله چي اکثر او ډير خلک به صرف په دنياوي خبرو کي بوخت وه.

په دعاء کي د مقفی عبارت مطلب دادی چي دعاء د تاثير په اعتبار هغه غوره وي چي پرته د تصنع (ځان ښودني) په ساده الفاظو کي وي او د زړه د کومي وتلې وي، ځکه چي د دعاء عبارت ته د شعر او شاعری په رنګ ورکولو الفاظو کي قافيه او تکليف کول نه دي پکار، د دې سره د رسول الله ﷺ پر هغه دعاګانو اعتراض نسي کيدای چي مقفی او مسجع ثابت وي او په هغه کي قافيه بندي هم وه ځکه چي دا شيان خود رسول الله ﷺ څخه بې تکلفه او بې زحمته د خپله ځانه صادريدل په هغه کي د رسول الله ﷺ د تکلف او کوښښ دخل نه وو.

﴿۲۳۵﴾: وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ فَأَدْرَكَهُ كَانَ لَهُ كِفْلَانِ مِنَ الْأَجْرِ فَإِنْ لَمْ يُدْرِكْهُ كَانَ لَهُ كِفْلٌ مِّنَ الْأَجْرِ. رواه الدرامي.

د حضرت واثلة بن الاسقع ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي علم طلب کړ او تر لاسه يې کړ نو هغه ته به دوچنده ثواب ورکول کيږي او که يې علم تر لاسه نه کړ نو يو ثواب به ورته ورکول کيږي. دارمي.

تشريح : دوه ثوابه به داسي وركول كيږي چي يو ثواب خو به د طلب علم او د هغه د محنت او مشقت وي چي هغه د علم په تر لاسه كولو كي پر ځان ګاللي وي او دوهم ثواب د علم د تر لاسه كېدو او بيا نورو ته د علم ښودلو به وي، يا دوهم ثواب به د عمل وي چي هغه په علم كړي وي ، مګر هو هغه سړي ته چي د طلب او هڅي سربيره علم ورته تر لاسه نه سو يوازي يو ثواب به د هغه د محنت او مشقت ورته تر لاسه كيږئ ، په هر حال دا خبره خو سوې ده چي په هر تقدير د علم په طلب كي لګېدل پكار دي كه علم حاصل سو نو نور على نور چي هغه ته به دوه ثوابه حاصليږي او كه علم ورته حاصل نه سو نو دا څه كمه خبره ده چي په طلب علم كي مړ كېدل هم سعادت دى .

ګرچه نه توان بد دست راه برون شرط ياري ست درطلب مردن

﴿۲۳۶﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِمَّا يَلْحَقُ الْمُؤْمِنَ مِنْ عملِهِ وحسناتِهِ بَعْدَ مَوْتِهِ عِلْمًا عَلِمَهُ وَنَشَرَهُ وَوَلَدًا صَالِحًا تَرَكَهُ اَوْمُصْحَفًا وَرَّثَهُ أَوْ مَسْجِدًا بَنَاهُ أَوْ بَيْتًا لِابْنِ السَّبِيْلِ بَنَاهُ أَوْ نَهْرًا أَجْرَاهُ أَوْ صَدَقَةً أَخْرَجَهَا مِنْ مَّالِهِ فِيْ صِحَّتِهِ وَحَيَاتِهِ تَلْحَقُهُ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهِ .

رواه بن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مؤمن ته د هغه عمل يا نيكيو چي د مرګ وروسته ثواب رسيږي په هغو كي يو علم دى چي هغه زده كړ او خپور يې كړ او دوهم نيك اولاد دى چي پاته سي او دريم قرآن كريم دى چي د وارثانو لپاره يې پرېښود څلورم مسجد چي په خپل ژوند كي يې جوړ كړى وي پنځم سراى يا مسافرخانه چي هغه يې جوړه كړې وي شپږم وياله ده چي هغه يې جاري كړې وي اووم هغه خيرات دى چي هغه په خپل روغتيا او ژوند كي د خپل مال څخه كړى وي ، د دې ټولو ثواب د هغه د مرګ وروسته هم هغه ته رسيږي . ابن ماجه او بيهقي .

تشريح : د قرآن كريم په حكم كي شرعي كتابونه هم داخل دي ، همداسي د مسجد په حكم كي د علماؤ قائم سوي مدرسې او خانقاوي چي د ذكر الله او تزقيه (پاكوالي) نفس لپاره دي هم شاملي دي يعني د دې ټولو ثواب د مرګ څخه وروسته ورته رسيږي .

﴿۲۳۷﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ أَوْحَى إِلَيَّ أَنَّهُ مَنْ سَلَكَ مَسْلَكًا فِيْ طَلَبِ الْعِلْمِ سَهَّلْتُ لَهُ طَرِيْقَ الْجَنَّةِ وَمَنْ سَلَبْتُ

د حضرت بي بي عائشې (رض) څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي فرمايل يې : الله تعالى ما ته دا وحي راليږلې ده چي څوك د علم د تر لاسه كولو لپاره لار پرې كړي نو پر هغه به د جنت لار آسانه كړم او د چا څخه چي ما دواړې سترګي

كَرِيْمَتَيْهِ أَثَبْتُهُ عَلَيْهِمَا الْجَنَّةَ . وَفَضْلٌ فِيْ عِلْمٍ خَيْرٌ مِّنْ فَضْلٍ فِيْ عِبَادَةٍ وَمِلاَكُ الدِّيْنِ الْوَرَعُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان .

اخيستي دي زه به د هغه په بدل كي جنت وركړم او په علم كي زياتوالى په عبادت كي تر زياتوالي غوره دى او د دين رښته پرهيزگاري ده . بيهقي .

تشريح : د ارشاد مقصد دادى چي كوم سړى د علم دين د حصول لپاره يو لار غوره كړي نو الله تعالى به پر هغه د جنت لار آسانه كړي يعني په دنيا كي به يې په معرفت او حقيقت ونازوي او د عبادت خداوندي توفيق به وركړل سي چي د دې په سبب به په جنت كي داخل سي يا دا معنا ده چي پر داسي سړي باندي به په آخرت كي د جنت د روازې او په جنت كي چي كوم محل د اهل علم لپاره مخصوص دي د هغه لار به ورته آسانه سي .

دلته دې طرف ته اشاره ده چي په دنيا كي د علم كومه لار ده هغه په آخرت كي د جنت لار هم ده او د علم د دروازو څخه پرته د جنت ټولي لاري بندي دي يعني پرته د علم څخه په جنت كي داخلېدل مشكل دي مگر شرط دادى چي علم په خلوص نيت او د الهي جذبې سره تر لاسه كړل سوى وي او بيا پر هغه د عمل توفيق هم وي كنه علم پرته د خلوص او پرته د عمل څخه هيڅ حقيقت نه لري او داسي به وي لكه : چارپايه بروكتا بې چند . د حديث په پاى كي فرمايل سوي دي چي د دين اصل او بنياد ورع (پرهيزگاري) ده ، ددې مطلب دادى چي د حرامو ، منكراتو او طمع څخه ځان ساتل پكار دي چي په عبادت كي ريا او عدم اخلاص پيدا نسي .

﴿۲۳۸﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ تَدَارُسُ الْعِلْمِ سَاعَةً مِّنَ اللَّيْلِ خَيْرٌ مِّنْ إِحْيَائِهَا . رواه الدارمي

د حضرت ابن عباس ﷠ څخه روايت دى چي لږ وخت درس وركول تر ټوله شپه عبادت غوره دى . دارمي

تشريح : يعني ټوله شپه په لمانځه كولو او عبادت كي د بوختيا څخه دا ډېر زيات غوره دى چي تر لږ وخته پوري په خپل منځ كي د تعليم او تعلم او درس او تدريس كي بوخت سي ، په دې حكم كي د حصول مقصد لپاره د علم ليكل يعني تصنيف ، تاليف او ترجمه او ديني او علمي كتابونو مطالعه هم داخل دي .

﴿۲۳۹﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِمَجْلِسَيْنِ فِيْ مَسْجِدِهِ فَقَالَ كِلاَهُمَا عَلَى خَيْرٍ وَّأَحَدُهُمَا أَفْضَلُ مِنْ

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷠ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ پر دوو مجلسو تير سو چي په مسجد كي راجمع سوي وه رسول الله ﷺ وفرمايل دواړي ډلي د نيكۍ دي مگر په دې كي يوه ډله

صَاحِبِهِ أَمَّا هٰؤُلَاءِ فَيَدْعُوْنَ اللهَ وَيَرْغَبُوْنَ إِلَيْهِ فَإِنْ شَاءَ أَعْطَاهُمْ وَإِنْ شَاءَ مَنَعَهُمْ . وَأَمَّا هٰؤُلَاءِ فَيَتَعَلَّمُوْنَ الْفِقْهَ أَوِ الْعِلْمَ وَيُعَلِّمُوْنَ الْجَاهِلَ فَهُمْ أَفْضَلُ وَإِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا ثُمَّ جَلَسَ فِيْهِمْ . رواه الدارمي

تر بلي غوره ده ، په دې دواړو ډلو کي يوه په عبادت کي مصروف ده او د الله څخه دعاء غواړي او هغه ته د خپل رغبت او خواهش اظهار کوي که خوښه يې سي ور به يې کړي او که خوښه يې سي منعه به وکړي او دوهمه ډله فقه يا علم تر لاسه کوي او جاهلانو ته علم ښيي نو دا خلك غوره دي او زه هم معلم راليږل سوی يم او بيا په دا دوهمه ډله کي کښيناست. دارمي .

تشريح : يو وار رسول الله ﷺ مسجد نبوي ته تشريف راوړ او وه يې ليدل چي صحابه کرامو په دوو ډلو کي بيل بيل ناست دي يوه ډله په ذکر او دعاء کي بوخت وه او بله ډله په مذاکره علم کي بوخت وه، رسول کريم ﷺ په هغه دواړو کي يوه ډله غوره وګڼل کوم چي په مذاکره د علم کي بوخت وه او بيا نه يوازي دا چي په ژبه سره يې د هغوئ د فضيلت اظهار وکړ بلکه خپله هم د علماء په مجلس کي په کښينستو سره نور عزت او شرف يې ورکړي .

د علم او عالمانو تر دې زيات فضيلت نور څه کيدای سي چي سردار انبياء ﷺ د عابدانو مجلس پريښودو سره د عالمانو ناسته يې اختيار کړه او خپل ځان يې په هغوئ کي وشماری .

ګدايان را ازين معنی خبر نيست ... که سلطان جهان باماست امروز

﴿۲۴۰﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا حَدُّ الْعِلْمِ الَّذِيْ إِذَا بَلَغَهُ الرَّجُلُ كَانَ فَقِيْهًا ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَفِظَ عَلٰى أُمَّتِيْ أَرْبَعِيْنَ حَدِيْثًا فِيْ أَمْرِ دِيْنِهَا بَعَثَهُ اللهُ فَقِيْهًا وَكُنْتُ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَافِعًا وَشَهِيْدًا . (بيهقي)

د حضرت ابودرداء ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي د علم اندازه څه ده چي هغومره علم تر لاسه کولو سره څوك فقيه جوړ سي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي زما امت ته د ګټي رسولو لپاره د دين دکار څلوېښت حديثونه ياد کړي (وښيي) نو الله ﷻ به د قيامت په ورځ هغه فقيه را پورته کړي او د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کونکی او شاهد يم. بيهقي

تشريح : علماء کرام ليکي چي د دې څخه مراد څلوېښت حديثونه نورو خلکو ته رسول دي که څه هم هغه يې ياد نه وي ، د دې حديث په رڼا کي ډيرو علماؤ څلوېښت حديثونه په جمع کولو سره خلکو ته رسولي دي او همدارنګه په قيامت کي د رسول کريم ﷺ د شفاعت او شاهدی اميدوار سوي دي .

﴿۲۴۱﴾: وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ تَدْرُوْنَ مَنْ أَجْوَدُ جُوْدًا ؟ قَالُوْا اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . قَالَ اللهُ تَعَالَى أَجْوَدُ جُوْدًا ثُمَّ أَنَا أَجْوَدُ بَنِيْ آدَمَ وَأَجْوَدُهُمْ مِنْ بَعْدِيْ رَجُلٌ عَلِمَ عِلْمًا فَنَشَرَهُ يَأْتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمِيْرًا وَّحْدَهُ أَوْ قَالَ أُمَّةً وَّاحِدَةً .(بيهقي)

د حضرت انس بن مالك ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا تاسو پوهيږئ چي تر ټولو زيات سخي څوك دى ؟ صحابه كرامو عرض وكړ الله او د هغه رسول ښه پوهيږي . رسول الله ﷺ وفرمايل: په سخاوت كي الله تر ټولو زيات دى بيا د آدم ﷺ په اولاد كي تر ټولو زيات زه سخي يم او زما وروسته زيات سخي هغه څوك دى چي هغه علم زده كړ او خپور يې كړ دا كس به د قيامت په ورځ يوازي د يو امير يا يو ډلي (د شان او شوكت) په شان راځي . بيهقي .

تشريح: د روايت په پاى كي راوي ته شک سوى دى چي رسول الله ﷺ (اميرا وحده) وفرمايل او كه (أمه واحدة) يې وفرمايل، يعني داسي سړى چي هغه علم زده كړ او هغه يې د خلكو په منځ كي خپور كړ په دې اړه رسول الله ﷺ وفرمايل چي هغه به په آخرت كي د يو امير په مثال راځي چي هغه به د چا تابع نه وي بلكه د هغه سره به تابع او خادمان وي ، يا رسول الله ﷺ داسي وفرمايل چي هغه يوازي سړى به د يو ډلي او جماعت په مثل وي ددې مطلب به دا وي چي هغه به د مخلوق خدا په مينځ كي معزز او مكرم وي او په آخرت كي به په شوكت او دبدبې سره راځي .

﴿۲۴۲﴾ : وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْهُوْمَانِ لَا يَشْبَعَانِ مَنْهُوْمٌ فِي الْعِلْمِ لَا يَشْبَعُ مِنْهُ وَهُوَ مَنْهُوْمٌ فِي الدُّنْيَا لَا يَشْبَعُ مِنْهَا . روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإيمان وقال قال الإمام أحمد في حديث أبي الدرداء هذا متن مشهور فيما بين الناس وليس له إسناد صحيح .

د حضرت انس بن مالك ﷛ څخه روايت دى چي نبي كريم ﷺ وفرمايل : دوه حريصان داسي وي چي د هغوئ نس هيڅكله نه ډكيږي ۱: يو د علم حريص چي په علم حاصلولو هغه هيڅكله نه مړيږي او دوهم د دنيا غوښتونكى چي په دنيا هغه هيڅكله نه مړيږي، ذكر سوي درې سره حديثونه بيهقي په شعب الايمان كي روايت كړي دي او ددې حديث اسناد صحيح نه دى.

تشريح: امام نووي رحمة الله عليه فرمايي چي دا حديث ضعيف دى مګر ددې طرق متعدد دي چي په هغه كي ځينو ته د ځينو نورو په وجه تقويت حاصل دى مګر په دې خبره پوهيدل پكار دي چي د علماؤ پر دې خبره اتفاق دى چي د اعمالو د فضائلو په اړه پر ضعيف حديث باندي هم عمل كول جائز دي .

﴿۲۴۳﴾: وَعَنْ عَوْنٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ مَنْهُوْمَانِ لاَ يَشْبَعَانِ صَاحِبُ الْعِلْمِ وَصَاحِبُ الدُّنْيَا وَلاَ يَسْتَوِيَانِ أَمَّا صَاحِبُ الْعِلْمِ فَيَزْدَادُ رِضًى لِلرَّحْمٰنِ وَأَمَّا صَاحِبُ الدُّنْيَا فَيَتَمَادٰى فِي الطُّغْيَانِ . ثُمَّ قَرَأَ عَبْدُ اللهِ (كَلاَّ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغٰى أَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰى) قَالَ وَقَالَ الْآخَرُ (إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓاءُ . رواه الدارمي .

حضرت عون ﷺ د عبدالله بن مسعود ﷺ څخه بیان کوي چي دوه حریصان دي چي هیڅکله نه مړیږي ۱: اهل دنیا، ۲: اهل علم، او دا دواړه برابر نه دي علم خو د الله رضامندي زیاتوي او دنیادار په سرکښي کي زیاتیږي . بیا عبدالله بن مسعود ﷺ دا آیت تلاوت کړ : ان الانسان لیطغی ان راه استغنی. (البته انسان سرکښي کوي څکه چي ځان بې پروا ګڼي) حضرت عون وایي چي عبدالله بن مسعود د عالم په حق کي دا آیت تلاوت کړ : انما یخشی الله من عباده العلماء (د الله په بندګانو کي عالمان د الله څخه زیات بیریږي) دارمي

﴿۲۴۴﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أُنَاسًا مِّنْ أُمَّتِيْ سَيَتَفَقَّهُوْنَ فِيْ الدِّيْنِ وَيَقْرَءُوْنَ الْقُرْآنَ يَقُوْلُوْنَ نَأْتِي الْأُمَرَاءَ فَنُصِيْبُ مِنْ دُنْيَاهُمْ وَنَعْتَزِلُهُمْ بِدِيْنِنَا وَلاَ يَكُوْنُ ذٰلِكَ كَمَا لاَ يُجْتَنٰى مِنَ الْقَتَادِ إِلاَّ الشَّوْكُ كَذٰلِكَ لاَ يُجْتَنٰى مِنْ قُرْبِهِمْ إِلاَّ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ كَأَنَّهُ يَعْنِي الْخَطَايَا . رواه ابن ماجه .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :زما په امت کي به ډیر خلك علم تر لاسه کړي او قرآن به وایي او وایي به چي موږ امیرانو ته ورځو چي د هغوئ د د نیا څخه خپله برخه تر لاسه کړو او خپل دین به د هغو څخه بیل ساتو مگر داسي نه ده څرنګه چي د ازغني درختي څخه یوازي ازغي تر لاسه کیږي همدغسي د امیرانو د صحبت څخه ګناه تر لاسه کیږي ، په دې موقع باندي محمد بن صباح ویلي دي چي هغه د دې څخه مراد ګناهونه اخیستل دي

تشریح : د حدیث د الفاظو څخه څرګندیږي چي رسول کریم ﷺ د (الا) څخه وروسته یو لفظ ونه فرمایه ، محمد بن صباح چي یو جلیل القدر محدث او د حضرت امام بخاري او امام مسلم په ډول امامانو استاد دی د دې وضاحت فرمایي چي د رسول الله ﷺ مراد دلفظ الا څخه وروسته خطایا دي مګر رسول الله ﷺ هغه حذف کړ او د هغه تکلم یې ونه کړ ، نو په دې سره به د حدیث آخري الفاظ داسي سي : (لا یجتنی من قربهم الا الخطایا) یعني د امیرانو د صحبت څخه به د ګناه څخه پرته نور څه نه تر لاسه کیږي، اوس پاته سو دا سوال چي رسول الله ﷺ لفظ د خطایا ولي حذف کړ نو په دې کي یوه نکته ده او هغه دا چي په دې کي دې ته اشاره مقصد ده چي د امیرانو د صحبت نقصان دومره زیات دی چي هغه په ژبه سره نسي ویل کیدای .

په هر حال د حديث مطلب دادی چي په دې امت كي به هم داسي عالمان پيداسي چي ځان ته به سيد، صاحب حق او مفتي وغيره وايي مګر د هغوئ مطلب به د حصول علم څخه محض دا وي چي هغوئ په علم حاصلولو سره او قرآن لوستلو سره اميرانو ته ورسيږي او د هغوئ په مخکي د خپل بزرګي او فضيلت اظهار وکړي و مال او دولت ځيني ترلاسه کړي او د علم چي کومه حقيقي منشا او مدعا وي يعني د مخلوق هدايت او د عوام الناس پرته د يو طمع څخه ديني رهبري او د هغه سره به يې قطعا يو مطلب نه وي او هر کله چي هغوئ ته وويل سي چي دا څرنګه ممکن ده چي په يو وخت تفقه في الدين او د اميرانو قرب او صحبت جمع کيدای سي نو هغوئ به په جواب کي وايي چي موږ به د هغوئ څخه مال او دولت حاصل کړو مګر خپل دين به د هغوئ څخه وساتو حال دا چي دا کار محال (ناممکن) دی.

﴿۲۴۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ لَوْ أَنَّ أَهْلَ الْعِلْمِ صَانُوْا الْعِلْمَ وَوَضَعُوْهُ عِنْدَ أَهْلِهِ لَسَادُوْا بِهِ أَهْلَ زَمَانِهِمْ وَلٰكِنَّهُمْ بَذَلُوْهُ لِأَهْلِ الدُّنْيَا لِيَنَالُوْا بِهِ مِنْ دُنْيَاهُمْ فَهَانُوْا عَلَيْهِمْ سَمِعْتُ نَبِيَّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ جَعَلَ الْهُمُوْمَ هَمًّا وَّاحِدًا هَمَّ آخِرَتِهِ كَفَاهُ اللهُ هَمَّ دُنْيَاهُ وَمَنْ تَشَعَّبَتْ بِهِ الْهُمُوْمُ أَحْوَالُ الدُّنْيَا لَمْ يُبَالِ اللهُ فِيْ أَيِّ أَوْدِيَتِهَا هَلَكَ. رواه ابن ماجه . ورواه البيهقي في شعب الإيمان عن ابن عمر من قوله من جعل الهموم إلى آخره .

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايلي دي چي اهل علم د علم ساتنه وکړي او ددې اهل ته يې و ښيي نو هغوئ به د خپلي زمانې سرداران جوړ سي مګر که اهل علمو داسي ونه کړل بلکه هغوئ علم پر شتمنو خرڅ کړ چي د هغې په ذريعه د هغوئ څخه دنيا تر لاسه کړي نو هغوئ د دنيادارو په نظر کي ذليل سول ، ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چا چي په خپلو مقصدو کي يوازي يو مقصد يعني د آخرت اختيار وکړ نو الله به د هغه دنياوي مقصدونه خپله پوره کړي او د چا مقصد چي متفرق وي څنګه چي د دنيا حالات دي نو بيا دالله په دې هيڅ پروا نسته که په شيله د دنيا کي هلاك سي او يا په شيله د غمو کي هلاك سي . ابن ماجه او بيهقي.

تشريح : دا حديث علماؤ ته د احساس او شعور دولت بخښي او د علم او د علم د مرتبې تر ټولو د اعلى او لوړ مقام په ګوته کوي، د ابن مسعود ﷺ د ارشاد مقصد دادی چي علماء خپله مرتبه او مقام وپيژني او هغوئ چي پر کوم عرفاني مقام باندي فائز دي د هغه د اهميت او نزاکت احساس وکړي ځکه چي علم دين د کوم لوړ او اعلى احساساتو حامل دی همداسي هغه خپل لوبنی هم لوړ او اعلى غواړي ، د علم شان عظمت دادی چي هغه د قدر کونکو او باشعور

اشخاصو سره وي که چیري د حصول جلال او عزت په خاطر علم د دنیا د سردارانو او ظالمانو د دربار سجده کونکي جوړ کړل سي نو دا د علم تر ټولو لوی سپکاوی او د عالم تر ټولو لوی ذلت دی.

حضرت ابن مسعود ﷺ تر دې یو لویه خبره هم فرمایي هغه وایي چي په دنیاوي اعتبار سره سرداري شوکت او حشمت او عزت او عظمت هیڅ یو لوی شی نه دی بلکه اصل او حقیقي سرداري او امارت خو هغه دی چي د فضل او کمال برزګۍ په اعتبار وي، دا وجه ده چي علماء دا شان نه وي چي هغوئ خو د علم، فضل او بزرګۍ د طاقت سره د دنیا روحاني تاجدار وي او د خلکو په زړه او دماغ حکمرانان وي او د هغوئ څخه پرته د هغوئ زیر قدم، زیر قلم او د هغوئ د عقل او احکامو تابعدار وي څرنګه چي قرآن کریم شاهد دی:

یَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِیْنَ آمَنُوا مِنکُمْ وَالَّذِیْنَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ. سورة المجادلة آیة ۱۱

ژباړه: الله تعالی په تاسو کي د هغه چي ایمان یې راوړی دی او علم یې ورکړې دی درجات لوړوي.

د رسول الله ﷺ د ارشاد مقصد دادی چي د بنده احساس او د هغه شعور دومره پاک او لطیف کېدل پکار دي چي د هغه د زړه او دماغ په یوه یوه کونج کي د یوه مقصد رېا وي او هغه مقصد آخرت دی د دې څخه پرته د هغه هیڅ مقصد او غرض نه وي نو بیا د الله تعالی د لوري پر هغه د دنیاوي پراخۍ دروازې هم په خپله خلاصیږي.

مګر که چیري د بنده زړه او دماغ دومره چټل وي چي هر وخت د دنیا په شیانو کي لګیدلی وي او د دنیا په کفر کي ډوب وي نو د الله تعالی د لوري د هغه سره څه معامله نه کیږئ تر دې چي الله تعالی د هغه څخه دومره بې تعلقه سي که هغه بنده د دنیا په یو تکلیف او مصیبت کي هلاک سي نو الله تعالی د هغه هیڅ پرواه نه لري، نه په دنیاوي او نه په دیني اعتبار سره د رحمت خداوندي نظر او کرم پر هغه کیږي همدا سي هغه په دنیا او آخرت کي په تاوان او خسران کي مبتلا کیږي.

﴿۲۴۶﴾: وَعَنِ الْأَعْمَشِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آفَةُ الْعِلْمِ النِّسْيَانُ وَإِضَاعَتُهُ أَنْ تُحَدِّثَ بِهِ غَيْرَ أَهْلِهِ. رواه الدارمي مرسلا.

د حضرت اعمش ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د علم آفت هیربدل دي او علم ضائع کول دادي چي ته هغه د نااهل په وړاندي بیان کړي. دارمي مرسلا.

تشریح: د علم تر لاسه کېدو څخه مخکي خو ډیر آفات او مصیبتونه وي (لکل شئ آفة وللعلم

آفات) يعني د هر شي يو آفت وي مګر د علم ډير آفات دي ، مګر د علم تر ټولو ستره آفت چي کوم له کبله علم ورک شي نسيان دی او هغه هیره ده او يقينا د يو شي د حاصليدو څخه وروسته زائل کېدل او په ذهن کي د راتلو سره بيا محوه کېدل يو ډير سخت روحاني اذيت دی .

په اصل کي د دې حديث څخه په دې خبره باندي تنبيه ورکول مقصد ده چي طالب علم او اهل علم ته پکار ده چي هغوئ د داسي خبرو څخه پرهيز وکړي کوم چي دهيري سبب دي يعني د ګناه او معصيت څخه ځان وساتي او په هغه شيانو کي زړه ونه لګوي کوم چي ذهن او فکر غافل کوي لکه د دنيا په مزو او چرچو او خواهشات نفساني کي زړه لګول .

امام شافعي رحمة الله عليه دا مضمون په دې شعر کي فرمايلی دی :

شکوت الی وکیع سوء حفظي فاوصاني الی ترک المعاصي

ژباړه : ما خپل استاذ (وکيع) ته د خپل حافظې د کمزورۍ شکايت وکړ نو هغه ما ته د معصيت د پرېښودو نصيحت وکړ .

فان الفضل مـــــن اله وفضل الله لا يعطی العاص

ژباړه : ځکه چي علم خو د الله تعالی يو فضل دی او د الله تعالی فضل ګناه کار په برخه کي نه وي.

د حديث په پای کي فرمايل سوي دي چي علم د نااهل او قدردان په مخکي وراندي کول په اصل کي د علم ضائع کول دي او نااهل هغه سړی دی چي نه په علم پوهيږي او نه د علم قدر پيژني ، هر کله چي هغه ته علم وراندي کړل سي نو هغه علم ضائع سي ځکه علم هغه چا ته ښودل پکار دي چي د هغه اهل او قدردان وي يعني هغه په علم د پوهيدو صلاحيت هم لري او په هغه د عمل کولو جذبه هم په هغه کي موجود وي .

﴿۲۴۷﴾ : وَعَنْ سُفْيَانَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَالَ لِكَعْبٍ مَنْ أَرْبَابُ الْعِلْمِ ؟ قَالَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ بِمَا يَعْلَمُوْنَ . قَالَ فَمَا أَخْرَجَ الْعِلْمَ مِنْ قُلُوْبِ الْعُلَمَاءِ ؟ قَالَ الطَّمْعُ . رواه الدارمي .

حضرت سفيان وايي چي عمر بن الخطاب ﷺ د کعب ﷺ څخه پوښتنه وکړه (ستا په نزد) د علم خاوندان څوك دي ؟ کعب ﷺ جواب ورکړ هغه چي د خپل علم موافق عمل وکړي بيا حضرت عمر ﷺ پوښتنه وکړه د عالمانو د زړونو څخه کوم شی علم کاږي ؟ کعب ﷺ جواب ورکړ : حرص . دارمي

تشريح : د حضرت عمر ﷺ د سوال مطلب دا وو چي د علماؤ د زړونو څخه د علم نور او د علم عظمت او برکت ایستونکی کوم شی دی او هغه کوم شی دی چي د هغه شتون د علم خلاف دی؟ کعب ﷺ وفرمايل : حرص، دا هغه خراب عادت دی چي د علم نور د عالم د زړه څخه ضائع

كوي هر كله چي په عالم كي د عزت او جلال طمع او د دنياوي اسبابو د عيش او عشرت طمع پيدا سي نو بيا د علم نور او د علم بركت خپل ځای پرېږدي او د عالم زړه او دماغ د علم د حقيقي رڼا څخه منور كېدلای نه سي .

﴿۲۲۸﴾: وَعَنِ الْأَحْوَصِ بْنِ حَكِيْمٍ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ سَأَلَ رَجُلُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الشَّرِّ فَقَالَ لَا تَسْأَلُوْنِيْ عَنِ الشَّرِّ وَسَلُوْنِيْ عَنِ الْخَيْرِ يَقُوْلُهَا ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ أَلَا إِنَّ شَرَّ الشَّرِّ شِرَارُ الْعُلَمَاءِ وَإِنَّ خَيْرَ الْخَيْرِ خِيَارُ الْعُلَمَاءِ . رواه الدارمي

حضرت احوص بن حكيم د خپل پلار څخه روايت كوي چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه د شر په اړه پوښتنه وكړه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د شر په اړه زما څخه پوښتنه مه كوه ، بلكه د خير په اړه زما څخه پوښتنه كوه رسول الله ﷺ د دې وروسته درې واره وفرمايل : خبردار اوسئ ! چي د شر بد ترين شكل بد علماء دي او د خير بهترين شكل ښه علماء دي . دارمي .

تشريح : د صحابي د سوال مقصد يا خو د نفس د خرابۍ په باره كي پوښتنه كول وو ، څرنګه چي د ترجمې څخه معلومه سول ، يا هغه دا معلومول غوښتل چي بدترين كوم سړی دی او په جواب اوريدو سره دا مقصد زيات څرګند دی، رسول الله ﷺ د داسي سوال كولو څخه منعه وفرمايل او وجه د دا ظاهره ده چي د رسول الله ﷺ ذات مبارك سر تر پايه رحمت او سر تر پايه خير وي نو ځكه دا خبره مناسب نه ده چي د رسول الله ﷺ څخه صرف د بدۍ او شر پوښتنه سوې وای ، رسول الله ﷺ د خير او شر دواړو په باره كي په جواب وركولو سره دې ته اشاره وفرمايل .

د حديث مطلب دا دی چي د علماؤ ذات په عامو خلكو كي يو معيار او نمونه وي نو خلك د هغه تابع او معتقد وي ، د عالم هر صفت د هغه په خپل ذات پوري محدود نه وي بلكه د هغه اثرات نورو ته هم رسيږي عالم كه نيک اخلاقه او ښه خصلتونه ولري نو د هغه منونكي او د هغه اتباع كونكي هم د نيک اخلاقو او عاداتو خاوندان وي او كه خدای مه كړه عالم بد اخلاقه او بدكرداره سي نو بيا د هغه جراثيم نورو ته هم رسيږي او د هغه منونكي هم د هغه په رنګ كيږي .

﴿۲۴۹﴾ : وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللّٰهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَالِمٌ لَا يَنْتَفِعُ بِعِلْمِهِ . رواه الدارمي .

حضرت ابودرداء ﷺ وايي چي د الله ﷻ په نزد د قيامت په ورځ د مرتبې په اعتبار تر ټولو بدتر بنده هغه عالم دی چي هغه د خپل علم څخه ګټه تر لاسه نه كړي . دارمي .

تشريح : يا خو د هغه څخه مراد هغه عالم دی چي داسي علم يې زده كړ چي ګټه رسونكی نه دی يعني غير شرعي علوم يې حاصل كړل چي ګټور نه دي يا بيا هغه عالم مراد دی چي هغه علم

شرعي او ديني خو تر لاسه کړ مګر عمل يې په ونه کړ.

د داسي عالم په اړه ويل کيږي چي د قيامت په ورځ به د مرتبې په اعتبار هغه د الله تعالی په نزد تر ټولو بدتر وي يعني د جاهل شخصه به هم زيات خراب وي دا وجه ده چي پر هغه کوم عذاب وي هغه به د جاهل د عذاب شخصه زيات سخت وي لکه چي نقل دي : (ويل للجاهل مرة و ويل للعالم سبع مرات) يعني جاهل لپاره يو وار بربادي ده او د عالم لپاره اووه واره بربادي ده ، او ويل سوي دي چي د قيامت په ورځ به تر ټولو زيات او شديد عذاب پر داسي عالم وي چي الله تعالی علم ورکړ او ګټه ئيني وا نه خستل .

﴿۲۵۰﴾ : وعَنْ زِيَادِ بْنِ حُدَيْرٍ قَالَ قَالَ لِيْ عُمَرُ هَلْ تَعْرِفُ مَا يَهْدِمُ الْإِسْلَامَ ؟ قَالَ قُلْتُ لاَ . قَالَ يَهْدِمُهُ زَلَّةُ الْعَالِمِ وَجِدَالُ الْمُنَافِقِ بِالْكِتَابِ وَحُكْمُ الْأَئِمَّةِ الْمُضِلِّيْنَ . رواه الدرامي .	حضرت زياد بن حدير ؓ وايي زما شخه حضرت عمر ؓ پوښتنه وکړه ايا تا ته معلومه ده چي د اسلام تباه کونکی کوم شی دی ؟ ما ورته وويل ما ته نه ده معلومه. نو حضرت عمر ؓ وويل د عالم ښويېدل يعني د هغه غلطي يا ګناه او د منافق د کتاب الله په اړه جګړه کول او د ګمراه سردارانو حکم جاري کول اسلام تباه کوي.

تشريح : د اسلام د ماڼۍ نړولو مطلب دادی چي د اسلام کوم پنځه بنيادي اصول دي يعني کلمه توحيد ، لمونځ ، روژه، زکوة او حج، هغه بيکاره پاته سي ، هر کله چي عالم د خپل حقيقي فرضونو امر بالمعروف او نهي عن المنکر ادا نه د خپل هوا هشات نفساني نذر کړي نو په دغه شيانو کي سستي او فساد واقع کيږي .

همدا رنګه منافق يعني هغه سړی چي په ظاهره د اسلام ساه اخلي مګر په دننه کي د کفر او بدعت په پوره توګه سره همنوا وي چي په قرآن کريم کي جګړه کوي نو په دې توګه چي هغه د قرآن د معنا او مفهوم غلط تاويلات کولو سره احکام شرعيه رد کوي نو په دې سره د اسلام په ارکانو کي سستي او په دين کي فساد پيدا کيږي ، په دې لړ کي هغه روافض او خوارج او داسي نور د باطل عقيدو خلک هم داخل دي چي د خپل نفساني خواهشاتو او ذاتي اغراضو په خاطر غلط تاويلونو کولو سره په دين او شريعت کي د شک او شبهې تخم کري .

﴿۲۵۱﴾ : وَعَنِ الْحَسَنِ قَالَ الْعِلْمُ عِلْمَانِ فَعِلْمٌ فِي الْقَلْبِ فَذَاكَ الْعِلْمُ النَّافِعُ وَعِلْمٌ عَلَى اللِّسَانِ فَذَاكَ حُجَّةُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى ابْنِ	حضرت حسن بصري ؓ وايي علم پر دوه ډوله دي يو هغه علم چي په زړه کي وي او دا علم ګټه ورکوي او دوهم هغه چي په ژبه کي وي او دا پر بني آدم باندي د

آدَمَ . رواه الدارمي . | الله تعالى حجت او دليل دى . دارمي .

تشريح : حضرت حسن بصري رحمة الله عليه چي د علم دوه ډوله کړي دي په هغه کي لومړني ته علم باطن وايي او دوهم ته علم ظاهر، تر څو پوري چي د ظاهر اصلاح نه وي سوې د علم باطن څخه هيڅ نه تر لاسه کيږي همداسي تر څو پوري چي د باطن اصلاح نه کيږي د علم ظاهر تکميل نه کيږي .

ابو طالب مکي رحمة الله عليه وايي دا دواړه علمه اصل او بنيادي دي او په دې دواړو کي د دې درجې ارتباط دى چي په دې کي يو د بل څخه بيليداى نسي څرنګه چي ايمان او اسلام د يو بل څخه پرته نه صحيح کيږي يا څرنګه چي زړه او بدن د يو بل څخه بيليداى نسي ، بالکل همداسي د دغه دواړو علمونو په منځ کي ارتباط او تعلق دى . ملا علي قاري .

شيخ عبدالحق محديث دهلوي ليکلي دي چي ګټه ورکونکى علم هغه دى چي هر کله د هغه په رڼا سره زړه منوړ سي نو د زړه هغه پردې ليري سي چي د حقائق اشياء د معرفت او فهم لپاره مانع دي.

د علم نافع دوه ډوله دي : (۱) يو خو علم معامله چي د عمل باعث وي ، (۲) او دوهم علم مکاشفه چي د عمل اثر وي، الله تعالى په خپلو بندګانو کي چي چا ته غواړي د هغه په زړه کي دا د علم نور اچوي او حسن بصري چي کوم علم نافع ګرځولى دى هغه دا علم دى او کوم علم چي يوازي پر ژبه وي دا هغه علم دى چي نه خو تاثير لري او نه په زړه کي نورانيت پيدا کوي .

علم چون بر درل زنده باى شود   نه علم چون بر تن زنده ماري شود

دې علم ته ويل کيږي چي دا پر بندګانو د الله تعالى د لوري حجّت او دليل دى چي الله پاک به بندګانو ته په الزام ورکولو سره فرمايي چي ما خو تاسو ته علم درکړى وو تاسو په هغه عمل ولي ونه کړ او ځکه ويل سوي دي چي د جاهل لپاره يو ځل بربادي ده او د عالم لپاره اووه ځله ځکه چي دى پوه او په قصد سره ګمراه سو .

﴿۲۵۲﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ حَفِظْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وِعَاءَيْنِ فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَبَثَثْتُهُ فِيكُمْ وَأَمَّا الْآخَرُ فَلَوْ بَثَثْتُهُ قُطِعَ هٰذَا الْبُلْعُوْمُ يَعْنِي مَجْرَى الطَّعَامِ رواه البخاري .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه دوې خبري (يعني دوه ډوله علم) ، ياد کړى دى چي په هغو کي خو يو (علم ظاهر) ما ستاسو په منځ کي خپور کړى دى او دوهم (علم باطني) که هغه زه بيان کړم نو زما دا غاړه به پرې کړل سي . بخاري.

تشریح : د لومړني علم څخه مراد علم ظاهر دی چي د هغه تعلق د احکامو ، اخلاقو وغیره سره دی ، د دوهم علم څخه دوه مفهومه اخیستل کیږي لومړی دا چي د دې څخه مراد هغه علم باطن دی چي د هغه اسرار او معاني د عوام څخه د هغوئ د نیګمړي پوهي په وجه پټ وي او هغه علم خواص علماء او عارفینو سره مخصوص دی ، یا دوهمه معنا دا کیدای سي چي ابوهریره ؓ ته رسول الله ﷺ ښودلي وه چي زما څخه وروسته به د یو ډلي د خوا څخه یوه لویه فتنه پورته کیږي چي په هغه سره به د بدعاتو بنیاد ولویږي ، ابوهریره ؓ ته هغه قوم او د هغه د کسانو نومونه هم په علم کي وه ، کیدای سي چي د دې څخه د ابوهریره ؓ مراد هغه علم وي چي د هغه په باره کي د هغه دا خیال وو که زه دا د خلکو په وړاندي بیان کړم نو زما سره به په خطره کي ولویږي .

﴿۲۵۳﴾ : وَعَنْ عَبْدِاللهِ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ مَنْ عَلِمَ شَيْئًا فَلْيَقُلْ بِهِ وَمَنْ لَمْ يَعْلَمْ فَلْيَقُلْ اَللهُ أَعْلَمُ فَإِنَّ مِنَ الْعِلْمِ أَنْ تَقُوْلَ لِمَا لاَ تَعْلَمُ اَللهُ أَعْلَمُ . قَالَ اللهُ تَعَالٰى لِنَبِيِّهِ (قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ) (متفق علیه)

د حضرت عبدالله بن مسعود ؓ څخه روایت دی چي هغه خلکو ته وویل : اې خلکو ! په تاسو کي چي څوك په یو خبره پوهیږي هغه دي د هغې په اړه ووایي چي الله ښه پوهیږي ځکه چي د کوم شي هغه ته علم نسته . په هغه الله ښه پوهیږي او داسي ویل هم د علم یو ډول دی الله پاك د خپل نبي لپاره فرمایلي دي : قل ما اسئلکم علیه من اجر وما انا من المتکلفین (زه په دې قرآن ستاسو څخه څه مزدوري او یا بدل نه غواړم او زه د تکلیف ورکونکو څخه نه یم) بخاري او مسلم .

تشریح : د دغه آیت په ذریعه رسول الله ﷺ ته حکم ورکول کیږي چي خلکو ته ووایه چي الله تعال یما ته څه علم راکړ او څومره یې چي ما ته وښودل او بیا د هغه د خپرولو او خلکو ته د ښودلو حکم یې راکړ هغه خلکو ته رسوم او هغوئ ته یې ښیم د دې څخه پرته د یو بل شي دعوه زه د خپل ځان څخه نه کوم او نه پر هغه شیانو بحث کوم چي مشکل او د سخت کېدو په وجه د عوامو د فهم څخه لوړ دي ځکه چي داسي کول تکلف کول دي .

﴿۲۵۴﴾: وَعَنِ ابْنِ سِيْرِيْنَ قَالَ إِنَّ هٰذَا الْعِلْمَ دِيْنٌ فَانْظُرُوْا عَمَّنْ تَأْخُذُوْنَ دِيْنَكُمْ . رواه مسلم .

حضرت ابن سیرین ؓ فرمایلي دي چي دا علم (یعني د کتاب او سنت علم) دین دی هر کله چي دا تر لاسه کوئ نو وګورئ چي د چا څخه خپل دین تر لاسه کوئ. مسلم .

تشریح : د دغه ارشاد څخه اصل خبره پر دې خبري باندي تنبیه ورکول مقصد دي چي هر کله د علم تر لاسه کولو اراده مو وکړه ، حدیث تر لاسه کوئ نو د دې خبري ښه فکر وکړئ چي تاسو د

چا څخه علم تر لاسه كوئ هغه كوم ډول سړي دي ايا هغه د باور وړ دي كه نه ، هر كله چي تاسو ته د هغه عالم يا راوي د حالاتو پوره علم وسي چي هغه واقعي ديندار، پرهيزګار او قوي الحافظه دی نو د هغه څخه علم تر لاسه كړئ ، هر كس او ناكس خپل استاد مه جوړوئ او مه د هر سړي څخه حديث روايت كوئ ، په خاصه توګه د اهل بدعت، د نفساني خواهشاتو غلام او غير ديندارو خلكو څخه په دې باره كي ځان ساتئ.

﴿۲۵۵﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ يَا مَعْشَرَ الْقُرَّاءِ اسْتَقِيْمُوْا فَقَدْ سَبَقْتُمْ سَبْقًا بَعِيْدًا وَإِنْ أَخَذْتُمْ يَمِيْنًا وَشِمَالاً لَقَدْ ضَلَلْتُمْ ضَلاَلاً بَعِيْدًا . رواه البخاري .

حضرت حذيفة ﷺ قاريانو ته وويل اي قاريانو ! سيده اوسئ يقينا تاسو مختنه والى وړى دى او كه تاسو د صراط مستقيم څخه آخوا د ښخوا سواست نو په لوی ګمراهي كي به ولويږئ .بخاري .

تشريح : دا هغه صحابه كرامو ته خطاب دى چي په پيل كي د اسلام په دولت سره مشرف سوي وه، دغه خلكو په پيل كي كتاب او سنت په ټينګه نيولي وه ځكه چي د خپل فضل او كمال په وجه هغوئ د هغه خلكو څخه مخكي سوي دي كوم چي وروسته مسلمانان سوي دي كه څه هم د هغوئ اعمال هم د هغوئ په ډول دي مګر وروسته خلک د مخكي خلكو مرتبې او درجې ته د هغوئ د سبقت اسلام په وجه نسي رسيدلای .

په هر حال دا مقدس حضرات ، حضرت حذيفه ﷺ مخاطب فرمايي چي تاسو خلک د شريعت او طريقت پر لار مستقيم اوسئ ځكه چي استقامت د كرامت څخه غوره دی .

د استقامت معنی داده چي پر ښه عقيده په ټينګه قائم اوسئ ، ګټه وركونكی علم او عمل صالح باندي هميشتوب اختيارول پكار دي ، اخلاص دي خالص ساتي او د الله تعالی څخه پرته د ټولو شيانو خيال آخوا كولو سره د حق تعالى سره تعلق قائم ولرئ .

﴿۲۵۶﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ جُبِّ الْحُزْنِ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَا جُبُّ الْحُزْنِ ؟ قَالَ وَادٍ فِيْ جَهَنَّمَ يَتَعَوَّذُ مِنْهُ جَهَنَّمُ كُلَّ يَوْمٍ أَرْبَعَمِائَةِ مَرَّةٍ . قُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَنْ يَدْخُلُهَا قَالَ الْقُرَّاءُوْنَ الْمُرَاؤُوْنَ بِأَعْمَالِهِمْ . رواه الترمذي وكذا ابن ماجه وزاد فيه وإن من أبغض القراء إلى الله تعالى الذين يزورون الأمراء . قال المحاربي يعني الجورة .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د الله په مرسته د غم د څاه څخه پناه غواړئ . صحابه كرامو عرض وكړ اي دالله رسوله ! د غم څاه څه شي دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د دوږخ يوه شېله ده چي د هغې څخه دوږخ په ورځ كي څلور سوه خله پناه غواړي، صحابه كرامو عرض وكړ چي

په دې كي به څوك وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د قرآن هغه ويونكى چي خپل اعمال د ښودلو (ريا) لپاره كوي (ترمذي) ابن ماجه او د ابن ماجه په يوه روايت كي دا الفاظ زيات دي چي د الله په نزد مبغوض ترين هغه قاريان دي چي د اميرانو سره ملاقات كوي . د دې حديث راوي محاربي ويلي دي چي د اميرانو څخه مراد ظالم اميران دي .

تشريح : (جب الحزن) د دوزخ د يوې شيلې نوم دی چي ډيره ژوره ده او د څاه مشابه ده، دا دومره هيبت ناكه او بېرونكې ده چي دوزخي خو پرېږده خپله دوزخ په ورځ كي څلور سوه واره پناه غواړي، ويل كيږي چي هغه قاري چي خپل عمل يعني قرآن كريم لوستل صرف د ښوونې او ريا لپاره كوي نو هغه به دغه وحشت ناكه شيلې ته ور لويږي ، په دې حكم كي رياكار عالم او عابد هم داخل دي ځكه چي د علم اصل بنياد خو قرآن دی همداسي عبادت هم د قرآني احكامو سره سم وي ځكه داسي عالم او عابد چي ريا كونكي وي هغه هم د دغه قاريانو سره د دې شيلې ګوله جوړيږي .

د سردارانو د ملاقات مطلب دادی چي كوم قاري د سردارانو سره محض د د نياوي مطلب ، عزت او دنياوي طمع په حرص په خاطر يو ځای كيږي هغه د الله تعالى په نزد مبغوض ترين دی ، مګر كه چيري د سردارانو سره يو ځای كېدل د امر بالمعروف او نهي عن المنكر لپاره وي يا د زور په طريقه سره وي او يا د هغوئ د شر د دفع لپاره وي نو په دې كي څه پرواه نسته .

دلته د سردارانو څخه هغه مشران مراد دي چي ظالم او جابر وي ، نيک سردار يا عادل امير او حاكم لپاره دا حكم نه دی ځكه چي داسي اميران او مشران چي د الله تعالى نيک بندګان وي د هغوئ سره ملاقات كول په عبادت كي داخل دي .

﴿۲۵۷﴾ : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُوْشِكُ أَنْ يَّأْتِيْ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لاَ يَبْقٰى مِنَ الْإِسْلاَمِ إِلاَّ اِسْمُهٗ وَلاَ يَبْقٰى مِنَ الْقُرْآنِ إِلاَّ رَسْمُهٗ مَسَاجِدُهُمْ عَامِرَةٌ وَهِيَ خَرَابٌ مِّنَ الْهُدٰى عُلَمَاؤُهُمْ شَرُّ مَنْ تَحْتَ أَدِيْمِ السَّمَاءِ مِنْ عِنْدِهِمْ تَخْرُجُ الْفِتْنَةُ وَفِيْهِمْ تَعُوْدُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت علي ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نژدې ده چي پر خلكو به داسي وخت راسي چي په اسلام كي به يوازي د هغه نوم پاته سي او په قرآن كي به يوازي د هغه نقوش پاته سي د هغوئ مسجدونه به په څرګنده آباد وي مګر په حقيقت كي به د هدايت څخه خالي وي ، د هغوئ علماء به د آسمان لاندي مخلوق كي تر ټولو بد تر وي د هغوئ څخه به په دين كي فتنه را پورته كيږي او هم هغوئ ته به دا راګرځي . بيهقي .

تشریح: دا حدیث هغه زمانه په گوته کوي هر کله چي په عالم کي خو به اسلام موجود وي مګر د مسلمانانو زړونه به د اسلام د حقیقي روح څخه خالي وي په خوله به هغوئ ته مسلمانان ویل کیږئ مګر د اسلام چي کوم حقیقي مدعا او منشا ده د هغه څخه به په میلونو لیري وي، قرآن کریم چي د مسلمانانو لپاره یو مستقل ضابطه حیات او نظام عمل دی او ددې یو یو لفظ د دیني او دنیاوي ژوند لپاره راهنما دی یوازي د برکت لپاره د لوستلو یو کتاب پاته سوی وي، دلته د رسم قرآن څخه مراد دادی چي په تجوید او قرائت سره به قرآن ویل کیږئ مګر ددې د معنا او مفهوم څخه به ذهن قطعا نا اشنا وي د دې په اوامرو او نواهي به عمل هم کیږي مګر زړونه به د اخلاص د دولت څخه محروم وي.

مسجدونه به زیات وي او آباد به هم وي مګر په دې شکل سره به آباد وي چي مسلمانان به مسجد ته راځي مګر عبادت الهي، ذکر الله او درس او تدریس چي د مسجد اصلي مقصد دی هغه به په پوره توګه سره حاصل نه وي، همداسي کوم علماء چي خپل ځان ته روحاني او دیني پیشوا وایي د خپل مذهبي فرائضو څخه په آخوا کېدو سره د مذهب په نامه په امت کي تفرقې پیدا کوي، د ظالمانو او جابرانو مرسته او حمایت به کوي همداسي په دین کي د فتنې او فساد تخم کرلو سره د خپل ذاتي اغراضو تکمیل به کوي.

﴿۲۵۸﴾: وَعَنْ زِيَادِ بْنِ لَبِيْدٍ قَالَ ذَكَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا فَقَالَ ذَاكَ عِنْدَ أَوَانِ ذَهَابِ الْعِلْمِ . قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ وَكَيْفَ يَذْهَبُ الْعِلْمُ وَنَحْنُ نَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَنُقْرِئُهُ أَبْنَاءَنَا وَيُقْرِؤُهُ أَبْنَاؤُنَا أَبْنَاءَهُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَقَالَ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ زِيَادُ إِنْ كُنْتُ لَأَرَاكَ مِنْ أَفْقَهِ رَجُلٍ بِالْمَدِيْنَةِ أَوَلَيْسَ هٰذِهِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰى يَقْرَءُوْنَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيْلَ لَا يَعْمَلُوْنَ بِشَيْءٍ مِمَّا فِيْهِمَا . رواه أحمد وابن ماجه وروى الترمذي عنه نحوه . وكذا الدارمي عن أبي أمامة .

د حضرت زیاد بن لبید ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د یو شی ذکر وکړ (یعني د ابتلاء او فتنې) بیا یې وفرمایل دا به هغه وخت وي هر کله چي علم ولاړ سي، د دې په اورېدو سره ما عرض وکړ اې د الله رسوله! علم به څنګه ولاړ سي حال دا چي موږ قران وایو او خپلو اولادو ته یې ښیو او هغوئ به یې خپلو اولادو ته ښیي دغسي دا لړۍ به تر قیامته پوري جاري وي. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: زیاد! مور دې در باندي بوره سي ما خو ته په مدینه کي پوه سړی ګڼلې ایا دا یهود او نصارا تورات او انجیل نه وایي؟ مګر څه چي په دې کتابو کي دي په هغه کي په هیڅ شي باندي عمل نه کیږي. احمد، ابن ماجه او ترمذي.

تشریح : رسول کریم ﷺ زیاته تنبیه (خبرداری) ورکړ چي تا زما د خبري د مقصد پوهېدو څخه پرته دا خیال وکړ چي یوازي د قرآن کریم لوستل او ددې علم حاصلول کافي دي یعني چا چي قرآن کریم ووایه او ددې علم یې حاصل کړ لکه هغه چي عمل هم په وکړ حال دا چي داسي نه ده څکه چي صرف قرآن کریم لوستل کافي نه دي بلکه اصل شی خو د هغه اتباع او د هغه په احکامو عمل کول دي او دا شی به هغه وخت متصور وي ، قرآن کریم به مسلمانان وایي او ددې علم به هم تر لاسه کوي مګر د هغه عمل به د قرآن کریم سره سم نه وي څرنګه چي یهود او نصارا چي هغوئ هم خپل خپل کتابونه یعني تورات او انجیل وایي او د هغه علم هم تر لاسه کوي مګر د هغه په احکامو د یوې ذرې برابر هم عمل نه کوي .

﴿۲۵۹﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ وَعَلِّمُوْهُ النَّاسَ تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَعَلِّمُوْهُ النَّاسَ تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ وَعَلِّمُوْهُ النَّاسَ فَإِنِّيْ امْرُؤٌ مَقْبُوْضٌ وَالْعِلْمُ سَيُقْبَضُ وَيَظْهَرُ الْفِتَنُ حَتّٰى يَخْتَلِفَ اثْنَانِ فِيْ فَرِيْضَةٍ لاَ يَجِدَانِ أَحَدًا يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا . رواه الدارمي والدارقطني .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل : علم زده کړه او وښیه او د فرضو علم هم زده کړه او خلکو ته یې و ښیه، زده کوئ قرآن او خلګو ته یې وښیاست نو زه خو یو سړی یم چي پورته به سم (یعني وفات به سم) او علم به هم پورته کړل سي او فتنې به څرګندي سي تر دې چي دوه کسه به په یوه فرض خبره کي اختلاف کوي او داسي هیڅ به بیا تر لاسه نه کړي چي د هغوي په منځ کي پریکړه وکړي .دارمي او دار قطني .

﴿۲۶۰﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ عِلْمٍ لاَ يُنْتَفَعُ بِهِ كَمَثَلِ كَنْزٍ لاَ يُنْفَقُ مِنْهُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ . رواه احمد والدارمي .

د حضرت إبوهريرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د هغه علم مثال چي ګټه څیني وا نه خیستل سي د هغه خزانې په مثل دی چي د هغې څخه د الله په لار کي هیڅ خرڅ نه کړل سي. احمد او دارمي .

بسم الله الرحمن الرحيم

كِتَـــابُ الطَّهَارَةِ

(د پــاکۍ بـيــان)

طهارت په لغت کي نظافت او پاکۍ ته وايي چي د نجاست ضد دی، طُهور: د طاء په پيښ سره مصدر دی او هغه شيانو ته هم طهور وايي چي پاکوالی راولي لکه اوبه او خاوري، طَهور: د طاء په زور سره د مصدر په توګه استعماليږي، د شريعت په اصطلاح کي د طهارت مفهوم دا دی چي نجاست حکمي يعني حدث د نجاست حقيقي څخه يعني د خبث څخه پاکي تر لاسه کول.

الفصل الاول

﴿۲۶۱﴾: عَنْ اَبِيْ مَالِكِ الْاَشْعَرِيِّ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِيْمَانِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَأُ الْمِيزَانَ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَآنِ أَوْ تَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالصَّلَاةُ نُوْرٌ وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ كُلُّ النَّاسِ يَغْدُو فَبَايِعٌ نَفْسَهُ فَمُعْتِقُهَا أَوْ مُوبِقُهَا (رواه مسلم) وَ فِيْ رِوَايَةٍ لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ تَمْلَآنِ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ لَمْ اَجِدْ هٰذِهِ الرِّوَايَةَ فِي الصَّحِيْحَيْنِ وَ لَا فِيْ كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ وَ لَا فِي الْجَامِعِ وَلٰكِنْ ذَكَرَهَا الدَّارِمِيُّ بَدَلَ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ

د حضرت ابومالك[۱] اشعري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پاك اوسيدل نيم ايمان دی او الحمدلله ويل (د اعمالو) تله ډکوي او سبحان الله او الحمدلله ويل د آسمانو او مځکي منځ ډکوي او لمونځ نور دی او صدقه دليل دی او صبر رڼا ده او قرآن ستا لپاره يا پر تا دليل دی هر سړی چي سهار راکښيني نو خپل ځان په خپلو کارو کي بوخت کړي بيا خپل ځان آزاد کړي يا يې هلاك کړي (مسلم) او په يوه روايت کي دي چي لااله الاالله او الله اکبر ويل مځکه او آسمان ډکوي او ما دا روايت په صحيحين حميدي او جامع الاصول کي پيدا نه کړ مګر دارمي دا د سبحان الله او الحمدلله پر ځای ذکر کړی دی.

[۱] د نوموړي په نامه کي اختلاف دی، ځينو ويلي دي چي نوم يې کعب بن مالك دی او ځيني وايي چي کعب بن عاصم دی، عبيده حارث او عمرو هم بيان سوي دي، کنيت يې ابومالك دی، مشهور صحابي دی د حضرت عمر فاروق ﷺ د خلافت په زمانې کي وفات سوی دی.

تشريح : د دغه حديث څخه د پاکۍ او طهارت ډير عظمت او فضيلت معلوميږي چي په اسلام کي طهارت ته کوم مقام حاصل دی ، نو فرمايل سوي دي چي پاک اوسيدل نيم ايمان دی او وجه ښکاره ده چي په ايمان سره کوچني او لوی ټول ګناهونه بخښل کيږي او په اوداسه سره يوازي کوچني ګناهونه بخښل کيږي ځکه نو طهارت ته د ايمان نيمه درجه تر لاسه ده .

د روايت په مينځ کي راوي ته شک کيږي چي رسول کريم ﷺ لفظ د تملاء مفرد فرمايلی دي او که تملان يعني تثنيه يې فرمايلی دی ځکه هغوئ دواړه نقل کوي د دې جملې مطلب دادی چي سبحان الله والحمدلله ويل او ددې ورد کول دومره د فضيلت خبره ده او ددې دومره ارزښت دی که دا دواړې کلمې يو سي نو دا دومره عظيم دي چي د آسمان او ځمکي درمياني برخه به ډکه کړي .

لمانځه ته نور فرمايل سوي دي ځکه چي لمونځ هغه شی دی چي د قبر په تياره او د قيامت په تيارو کي د رڼا باعث دی يا دا چي لمونځ د يو رڼا په ډول دی چي مؤمن د ګناهونو او خرابو خبرو څخه ساتي او د نيکۍ او خير او د ثواب کارونو ته يې رهنمائي کوي ، يا لمانځه ته نور ځکه ويل سوي دي چي د مؤمن زړه د الله تعالی د ذات د عرفان په رڼا سره منور کوي او عبادت خداوندي د ادا کولو او د اطاعت الهي په وجه د لمانځه کونکي پر مخ د سعادت او نيک بختۍ ځلا پيدا کوي .

صدقه يعني د الله تعالی په لار کي خرڅ کولو ته دليل ځکه ويل سوي دي چي دا د مؤمن د ايمان دعوا او صداقت او د پروردګار عالم سره پر مينې باندي دلالت کوي يا دا معنا چي هر کله په قيامت کي د شتمن څخه الله تعالی پوښتنه وکړي چي موږ تا ته په مال او دولت کي دومره وسعت درکړی وو تا هغه مال او دولت په کوم ځای خرڅ کړ؟ او د هغه مصرف څه وو؟ يعني تا زموږ بخښلې نعمت په ښه لاره کي خرڅ کړ او که په بده لاره کي دي ضائع کړ؟ نو ددې په جواب کي به صدقه د دليل په توګه وړاندي کيږي چي الله تعالی ما ستا راکړی مال په خرابه لاره کي نه دی خرڅ کړي بلکه ستا په لار کي او ستا د رضا لپاره مي خرڅ کړی دی .

صبر دې ته وايي چي د ګناهونو څخه ځان وساتي، پر طاعات باندي اماده سي او د مصيبت او تکليف پر موقع ژړا او فرياد ونه کړي ، په دې اړه فرمايل سوي دي چي دا د کاملي رڼا سبب دی ځکه چي د صابر زړه او دماغ د ايماني عزت او يقين په رڼا سره هميشه منور وي او هغه د دين او دنيا په هره مرحله کي کامياب وي . د قرآن کريم په اړه ارشاد دی چي دا ستاسو

لپاره یا ستاسو سربیره دلیل دی یعني تاسو قرآن وایاست او په هغه عمل کوئ نو قرآن به درته ګټه ورسوي او که عمل په ونه کړئ نو ستاسو لپاره به د ضرر باعث وي.

د ځان مصرفولو معنا داده چې د کوم کار په لور سړی متوجه وي په هغه کي خپل ذات خرڅ کړي د دې جملې مطلب دادی چې هر کله یو سړی د خوب څخه راکښیني نو په خپل کار کي مصروف سي او په دنیا کي مشغول سي که چیري هغه ددغه کار په بدله آخرت رانیوی په دې توګه چي پر هغه کار یې آخرت ته ترجیح ورکړه نو هغه خپل نفس د آخرت د عذاب څخه آزاد کړ او که خدای مه کړه هغه دنیا او ددنیا هغه کار د آخرت په بدله کي رانیوی یعني ددنیا کار ته پر آخرت باندي ترجیح ورکړي نو هغه خپل ځان هلاک کړ او خپل نفس یې په عذاب کي واچوی.

به دنیا تواني که عقبی خری بخرجان من ورنه حسرت بري

﴿۲۶۲﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللّٰهُ بِهِ الْخَطَايَا وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ وَكَثْرَةُ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ وَانْتِظَارُ الصَّلاَةِ بَعْدَ الصَّلاَةِ فَذَلِكُمْ الرِّبَاطُ . وَفِيْ حَدِيْثِ مَالِكِ بْنِ انَسٍ فَذَالِكُمُ الرِّبَاطُ فَذَالِكُمُ الرِّبَاطُ رَدَّدَ مَرَّتَيْنِ. رواه مسلم و في رواية الترمذي ثلثا .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا زه تاسو ته هغه شی و نه ښیم چي ستاسو څخه ګناهونه لیري کړي او ستاسو درجي لوړي کړي، صحابه کرامو عرض وکړ چي هو اې د الله رسوله! نو رسول الله ﷺ وفرمایل د ناروغی یا تکلیف په وخت کي اودس پوره کول د مسجد په لور ډیر قدمونه اېښودل او د یوه لمانځه څخه وروسته تر بل لمانځه پوري انتظار کول دا رباط دی، د مالك بن انس په حدیث کي د رباط لفظ دوه واره راغلی دی او په ترمذي کي درې واره.

تشریح : په دې حدیث کي د هغه شیانو ذکر سوی دی چي د هغه په وجه الله تعالی پر خپلو بندګانو باندي داسي فضل او کرم فرمائي چي د هغوئ د عمل نامې څخه ګناهونه لیري کوي او په جنت کي د هغوئ په مرتبو او درجو کي ترقي ورکوي، نو تر ټولو لومړی شی اودس دی، هسي خو اودس د لمانځه لپاره شرط او ضروري دی نو ځوک چي لمونځ کوي هغه به اودس هم کوي که هغه هر وخت او هر ډول موسم وي، مګر دلته یو خاص خبري ته اشاره ده هغه دا چي ډیر واره داسي کیږي چي په یو سخت وخت کي مثلا د ناروغی په حالت کي یا د سخت یخ په موسم کي په خاصه توګه د اوداسه په معامله کي سستي کیږي اول خو د زور او د صحت خلاف

طریقې اختیارولو سره دوه او درې وخته د اودس پاته ساتلو کوښښ کولای سي بیا که اودس کولای سي نو په داسي طریقه سره چي نه خو په هغه کي د اوداسه آداب او د هغه د سنتو او مستحباتو خیال ساتل کیږي او نه اودس په پوره طریقې سره مکمل کیږي.

د داسي موقع لپاره فرمایل سوي دي چي په دا سخت او شدید وخت کي که د اوداسه پوره آداب او طریقې لحاظ او د ټولو سنتونو او مستحباتو خیال وساتل سي او ټولو اندامونو ته اوبه په ښه ډول سره ورسول سي او هغه درې درې واره پریولل سي نو دا به د فضل خداوندي سبب وي.

دوهم شی د مسجد په لور ډیر قدمونه اخیستل دي یعني داسي مسجد ته د لمانځه کولو لپاره ځي چي د کور څخه لیري وي ځکه چي څومره زیات قدمونه د مسجد په لور اخیستل کیږي هغومره زیات ثواب به تر لاسه کیږي.

د یوه لمانځه څخه وروسته د دوهم لمانځه انتظار دادی چي په مسجد کي د یوه لمانځه کولو سره د دوهم لمانځه په انتظار کي ناست وي، یا که د مسجد څخه ووځي نو په زړه کي یې د دوهم لمانځه کولو فکر وي د دې ډیر زیات فضیلت او عظمت بیانیږي او دې ته رباط ویل کیږي.

(رباط) دې ته وایي که یو مسلمان د اسلامي هیواد پر سرحد د دښمنانو مقابلې ته د ساتني لپاره ناست وي چي د ښمن د سرحد څخه په اوښتلو سره په اسلامي هیواد کي داخل نسي د دې ثواب او لوی فضیلت دی، خپله په قرآن کریم کي د دې حکم هم فرمایل سوی دی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اصْبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ

ژباړه: اې مؤمنانو! (پر تکلیفونو باندي) صبر کوئ او په مقابله کي صبر کوئ او د مقابلې لپاره تیار اوسئ. سورة النساء.

دلته دا ښودل سوي دي چي د لمانځه په انتظار کي ناسته په اصل کي رباط دی څرنګه چي هلته د کفارو په مقابله کي کښیني همداسي دلته د شیطان په مقابله کي کښیني چي د دین تر ټولو لوی دښمن دی، څرنګه فضیلت او سعادت چي په رباط کي دی همداسي فضیلت او سعادت د لمانځه په انتظار کي هم دی، په دې حدیث کي د اوداسه ذکر راغلی دی ځکه د هغه په اړه دلته بیان مناسب دی:

په اوداسه کي څلور شيان فرض دي :

۱. د ټول مخ پريولل .
۲. د لاسونو تر څنګلو پوري پريولل .
۳. د سر د څلورمي برخي مسحه کول .
۴. د پښو تر بجلکو پوري پريولل .

په اوداسه کي د پوره مخ پريولل فرض دي او په دې کي ږيره هم داخله ده ، البته د ږيري په تعين کي لږ اختلاف دى ، په متنو کي ليکلي دي چي د ږيري د هغه وريښتانو مسحه کول چي د مخ د پوست سره لګيدلي وي فرض دي ، په فتاوى عالمګيريه او درمختار کي صحيح او مفتى به قول دا ليکل سوي دى چي د پوره ږيري پريولل چي د مخ د پوست سره موښتي وي فرض دي او د زړېدلي برخي پريولل فرض نه دي بلکه سنت دي ..والله اعلم .

په اوداسه کي دا شيان سنت دي :

۱. د لاسونو تر مړوندو پوري پريولل .
۲. د اوداسه په پيل کي بسم الله ويل .
۳. مسواک وهل .
۴. په خوله اوبه لغړول .
۵. په پزه کي اوبه اچول .
٦. د ږيري او ګوتو خلالول .
۷. هر اندام درې واره پريولل .
۸. نيت کول .
۹. په هغه ترتيب سره اودس کول کوم ترتيب چي په قرآن کريم کي ذکر دى .
۱۰. د ټول سر مسحه کول .
۱۱. د اوداسه اندامونه پرله پسې پريولل .
۱۲. د سر په اوبو سره د غوږونو مسحه کول ، يعني هر کله چي پر سر مسحه وکړل سي نو په هغه اوبو سره دي غوږونه هم مسحه کړي د غوږونو د مسحه لپاره د نورو اوبو ضرورت نسته.

د اوداسه مستحبات دادي :

۱. د اوداسه د اندامونو پريوللو لپاره د راسته اندام څخه پيل کول، مثلا اول دي راسته لاس پريولي او بيا چپه .
۲. د غاړي مسحه کول .
۳. د اوداسه لپاره مخ پر قبله کښېنستل .
۴. اندامونه د پريوللو پر وخت په اول وار موږل .
۵. غير معذور ته د وخت څخه مخکي اودس کول .
۶. ګوتمۍ وغيره ښورول او همداسي په غسل کي قرظ يعني والي اړول را اړول ، مګر په دې اړه دومره خبره ياد ساتل پکار ده که د غسل او اوداسه په وخت کي ه دې شيانو په اړه دا خيال وي چي د هغوئ لاندي پوست ته اوبه رسيږي نو بيا دا عمل به مستحب وي او که په دې پوه سي چي د هغو لاندي پوست ته اوبه نه رسيږي نو بيا د هغه ښورول فرض دي .
۷. په خپله اودس کول مستحب دي په بل چا دي او دس نه کوي (يعني د اوداسه پر وخت دي د بل څخه کومک نه غواړي) .
۸. د اوداسه په وخت کي دنياوي خبري کول نه دي پکار ، مګر که مجبوري وي چي پرته د خبرو کولو څخه د مقصد او حاجت فوت کېدو بيره وي نو کولای يې سي .
۹. د هر اندام د پريوللو او مسحه کولو پر وخت بسم الله ويل .
۱۰. د هغه دعاوو ويل چي د هر اندام د پريوللو پر وخت يې ويل منقول دي .
۱۱. د اوداسه پوره کولو څخه وروسته پر رسول الله ﷺ باندي درود او سلام ويل .
۱۲. د اوداسه څخه وروسته شهادتونه او هغه دعاوي چي په حديث کي راغلي دي ويل، په راتلونکي حديث کي دا دعاګاني راځي .
۱۳. د اوداسه پاته اوبه مخ پر قبله په ولاړه يا ناسته څښل ،
۱۴. د ورځو، بريتونو، باڼوګانو او د پښو پوندو ته د اوبو رسولو لپاره کتل چي دا برخي وچي پاته نه سي .

د اوداسه مکروهات په لاندي ډول دي :

۱. پر مخ باندي په زور سره او به پاشل .
۲. اسراف کول یعني د ضرورت او اړتیا څخه زیاتي اوبه بیول .
۳. اندامونه تر دريٍ واره زیات پریولل .
۴. په نوو اوبه را اخیستلو سره دريٍ واره مسحه کول .

د اوداسه منهیات (منعه شیان) په لاندي توګه دي :

۱. د ښځي د اوداسه څخه په پاته شوو اوبو سره اودس کول نه دی پکار .
۲. په چټل ځای کي اودس کول نه دی پکار چي د اوداسه د اوبو بې حرمتي نه وي.
۳. په مسجد کي اودس کول نه دی پکار، البته په یو لوښي کي یا د اوداسه لپاره پر ټاکل سوي ځای کي اودس کول صحیح دی .
۴. ناوړي او د پزي سوڼ د اوداسه په اوبو کي اچول نه دي پکار .

﴿۲۶۳﴾ : وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ حَتّٰى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ (متفق علیه)

د حضرت عثمان ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي اودس وکړي او په ښه ډول اودس وکړي نو د هغه (ټول) ګناهونه د هغه د بدن څخه وزي تر دې چي د نوکانو د لاندي څخه هم . بخاري او مسلم .

تشریح : په دغه حدیث کي هم د اوداسه فضیلت او د پاکۍ لوی والی بیان سوی دی او دا ښودل سوي دي چي اودس کول په حقیقت کي خپل ګناهونه د خپل بدن څخه پریولل دي څومره چي ښه اودس وکړي هغومره ګناهونه ختمیږي او بیا د مبالغې په توګه فرمایل سوي دي چي د اودس کونکي د نوکونو لاندي ګناهونه هم په اودس کولو سره پاکیږي یعني د اوداسه کولو څخه وروسته هغه ته نه یوازي دا چي ظاهري پاکي او طهارت تر لاسه کیږي بلکه هغه د ګناهونو څخه هم ښه پاک سي ، دا جمله بالکل داسي ده څرنګه چي په موږ کي دا محاوره ویل کیږي چي ستا شیخي به ستا د پزي پر لار ووځي .

﴿۲۶۴﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُسْلِمُ أَوْ الْمُؤْمِنُ فَغَسَلَ وَجْهَهُ خَرَجَ مِنْ وَجْهِهِ كُلُّ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي یو مسلمان یا مؤمن بنده د اودس کولو اراده وکړي او خپل مخ پریولي نو په اوبو سره د هغه ټول ګناهونه چي د هغه

خَطِيئَةٍ نَظَرَ إِلَيْهَا بِعَيْنَيْهِ مَعَ الْمَاءِ أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ فَإِذَا غَسَلَ يَدَيْهِ خَرَجَ مِنْ يَدَيْهِ كُلُّ خَطِيئَةٍ كَانَ بَطَشَتْهَا يَدَاهُ مَعَ الْمَاءِ أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ فَإِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ خَرَجَ كُلُّ خَطِيئَةٍ مَشَتْهَا رِجْلَاهُ مَعَ الْمَاءِ أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ حَتَّى يَخْرُجَ نَقِيًّا مِنَ الذُّنُوبِ (رواه مسلم)

سترګو کړي وي توئیږي یا د هغه اوبو د آخري ځاځکي سره وزي بیا چي هغه خپل دواړه لاسونه پریولي نو د لاسو هغه ټول ګناهونه چي هغو کړي وي په اوبو یا د اوبو په آخري ځاځکي سره توئیږي بیا چي کله هغه خپل دواړي پښې پریولي نو د هغه د پښو هغه ټول ګناهونه چي د هغه په لور تللي وي په اوبو یا د اوبو په آخري ځاځکي سره توئیږي تر دې چي هغه د ګناهونو څخه پاك سي .مسلم

﴿۲۶۵﴾ : وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنِ امْرِئٍ مُسْلِمٍ تَحْضُرُهُ صَلَاةٌ مَكْتُوبَةٌ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهَا وَخُشُوعَهَا وَرُكُوعَهَا إِلَّا كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوبِ مَا لَمْ يُؤْتِ كَبِيرَةً وَذَلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ (رواه مسلم)

د حضرت عثمان ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي یو مسلمان د لمانځه د وخت په راتلو سره په ښه اوداسه او خشوع او په رکوع سره لمونځ وکړي نو د هغه دا عمل د هغه د مخه ګناهونو کفاره کیږي تر څو پوري چي هغه لوېه ګناه ونه کړي نو داسي به ټول وخت کیږي .مسلم .

تشریح : د لمانځه اصل روح خشوع او خضوع (د زړه عاجزي او زاري) ده ځکه لمونځ هغه عبادت دی چي د بنده ډیره بې چاري او د هغه عجز ښکاره کوي ، په لمانځه کي څومره خشوع او خضوع وي نو هغه د حسن قبول لپاره هغومره د اعلی درجې وي ، په لمانځه کي د خشوع مطلب دادی چي هر یو سړی لمونځ وکړي د لمانځه چي څومره ظاهري او باطني آداب دي ټول پر ځای راوړي او د ټولو رعایت وکړي چي زړه بیره کونکی وي ، هر کله چي د لمانځه لپاره ودریږي نو په ډیر سکون سره دي ولاړ وي ، نظر دي د سجدې پر ځای وي پرته د لمانځه څخه په بل هیڅ شي کي دي بوخت نه وي ، د بدن، جامې، ږیري وغیره سره دي لوبي نه کوي ، راسته او چپه خوا ته دي نه ګوري او سترګي دي نه بندوي ، دا ټول شیان که په لمانځه کي حاصل سي نو بیا انشاء الله د حضور قلب دولت هم میسر کیږي چي د الله ﷻ په نزد د لمانځه د مقبولیت سبب دی .

په حدیث کي یوازي د رکوع ذکر سوی دی د سجدې ذکر نه دی سوی ددې وجه داده چي رکوع یوازي د مسلمانانو لپاره مخصوص ده او د هغوئ په لمانځه کي مشروع ده ، د یهودو او نصارا په لمانځه او عبادت کي علی العموم رکوع نه وي ځکه نو د دې بیانولو سره ددې

امتيازي حيثيت يې څرګند کړې دی ، په پای کې د دې وضاحت سوی دی چې داسې لمونځ يوازې د کوچنيو ګناهونو لپاره کفاره کيږي .

﴿۲۶۶﴾ :وَ عَنْهُ اَنَّهُ تَوَضَّأَ فَاَفْرَغَ عَلٰى يَدَيْهِ ثَلَاثًا ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُمْنٰى اِلَى الْمِرْفَقِ ثَلَاثًا ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُسْرٰى اِلَى الْمِرْفَقِ ثَلَاثًا ثُمَّ مسحه رَأْسَهُ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى ثَلَاثًا ثُمَّ الْيُسْرٰى ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوْئِي هٰذَا ثُمَّ قَالَ مَنْ تَوَضَّأَ وُضُوْئِي هٰذَا ثُمَّ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ لَا يُحَدِّثُ نَفْسَهُ فِيْهِمَا بِشَيْءٍ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ. متفق عليه و لفظه للبخاري.

حضرت عثمان ﷺ وايي چې ده اودس وکړ (داسي چې) درې ځله يې پر خپلو لاسونو اوبه واچولې بيا يې خوله پريولل او پزه يې په اوبو پاکه کړه بيا يې درې ځله مخ پريولی بيا يې درې ځله راسته لاس تر څنګلي پورې پريولی او بيا يې چپه لاس درې ځله تر څنګلو پورې پريولی بيا يې د سر مسحه وکړل بيا يې درې ځله راسته پښه پريوله او بيا يې درې ځله چپه پښه پريوله ، بيا حضرت عثمان ﷺ وويل ما رسول الله ﷺ دغسې په اودس کولو ليدلی دی بيا يې وفرمايل :څوك چې زما د اوداسه په ډول اودس وکړي بيا دوه رکعته نفل لمونځ وکړي او په لمانځه کي د خپل زړه سره خبري ونه کړي (يعني دنياوي خيالات په زړه کي را نه ولي) نو د هغه مخکنبي ټول ګناهونه بخښل کيږي . بخاري او مسلم .

تشريح : د اوداسه اندامونه تر درې واره زيات پريولل د ټولو علماؤ په نزد مکروه دي ، ددې مطلب دادی که پوره اندام يې درې واره پريولی وي نو بيا دي پر هغه زياتوب نه کوي يعني تر درې واره دي يې زيات نه پريولي ، که داسي شکل وي چې په يوه لپه سره يې نيم اندام پريولي او بيا په دوهمه لپاره يې نيم پريولی نو دې ته به يو وار ويل کيږي مثلا يو اندام يې په درې لپو پريوللو سره درې واره پوره کړ نو دا به زياتي نه وي بلکه درې واره به وي .

د اوداسه څخه وروسته دوه رکعته لمونځ کول لوړه درجه نه ده بلکه دا کمه درجه ده که زيات وکړل سي نو ښه دي، په هر حال دا حديث پر دې خبري باندي دلالت کوي چې د اوداسه څخه وروسته لمونځ يعني تحية الوضوء کول مستحب دي که فرض يا سنت مؤکده وکړي نو دا هم کافي دي. د حديث په پای کې دې ته اشاره ده چې په لمانځه کي حضور قلب، خشوع او خضوع ډير زيات مطلوب دي، د آخري جملې مطلب دادی چې هر کله لمونځ پيل کړي نو بيا خپل زړه دي په لمانځه کي ولګوي خپل خيالات دي د لمانځه دباندي بلې خوا ته نه اړوي او په

زړه كي دي دنياوي خيالونه او داسي فكر كول چي دلمانځه خلاف وي نه كوي ، خيال دي د الله تعالى په لور ساتي كه خطرات او وسوسې په زړه كي راسي نو هغه دي دفع كړي ، كه چيري په زړه كي داسي خطرات پيدا كيږي چي په لمانځه كي زړه د حضور خلاف نه وي نو دا بيا تاواني نه دي .

﴿۲۶۷﴾ : وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوْءَهُ ثُمَّ يَقُوْمُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ مُقْبِلٌ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ إِلاَّ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ. (رواه مسلم)

د حضرت عقبه[۱] بن عامر ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم مسلمان چي اودس وكړي او په ښه ډول اودس وكړي بيا ودريږي دوه ركعته لمونځ وكړي زړه او مخ (يعني ظاهر او باطن) سره متوجه سي نو د هغه لپاره جنت واجب سي . مسلم .

تشريح : فرمايل سوي دي هر كله چي په ښه ډول اودس وكړي ودريږي او دوه ركعته لمونځ وكړي نو دا درېدل يا خو حقيقتا وي يعني په واقعي درېدو سره لمونځ وكړي او يا درېدل حكما وي مثلا په ناسته لمونځ وكړي په خاصه توګه هر كله چي مجبوري او عذر وي او په ولاړه سره لمونځ نسي كولاى نو دا دواړه صورتونه مراد دي .

﴿۲۶۸﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ أَوْ فَيُسْبِغُ الْوَضُوْءَ ثُمَّ يَقُوْلُ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ وَ فِيْ رِوَايَةٍ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ إِلاَّ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ. هكذا رواه مسلم في صحيحه والحميدي في افراد مسلم و كذا ابن

د حضرت عمر بن الخطاب ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي چي څوك اودس وكړي (يا يې دا وفرمايل چي پوره اودس وكړي) او بيا ووايي چي زه ددې خبري شاهدي وركوم چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته هغه يوازي دى شريك نه لري او شاهدي وركوم چي محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دى او په يوه روايت كي داسي دي چي زه ددې خبري شاهدي وركوم چي د يوه الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته هيڅوك د هغه شريك نسته او ددې خبري

---

[۱] د نوموړي نوم عقبه ابن عامر جهني دى او په كنيت يې زيات اختلاف دى ځيني وايي ابوحماد وو ځيني ابو لبيد ، ابوعمر وغيره هم ويل سوي دي ، په مصر كي په كال (هـ) كي وفات سوى دى .

الاثير في جامع الاصول و ذكر الشيخ محي الدين النووي في آخر حديث مسلم على ما رويناه و زاد الترمذي اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين والحديث الذي رواه محي السنة رحمه الله في الصحاح من توضا فاحسن الوضوء الى آخره رواه الترمذي في جامعه بعينه الا كلمة اشهد قبل ان محمدا .

شاهدي ورکوم چي محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دی نو د هغه لپاره د جنت اته دروازې خلاصي سي پر کومه دروازه چي یې خوښه وي په جنت کي به داخل سي. (مسلم، حمیدي، جامع الاصول، نووي، او ترمذې دا الفاظ زیات لیکلي دي : اللهم اجعلني الخ) اې الله ما د توبو کونکو څخه وشمیرې او په پاکي کوونکو کي مي داخل کړې او هغه حدیث چي محي السنة په صحاح کي بیان کړی دی هغه دادی چي اودس یې وکړ او په ښه ډول یې اودس وکړ ... تر پایه پوري ، ترمذي په خپل جامع کي بعینه ذکر کړی دی خو د ان محمدا څخه مخکي یې اشهد لفظ نه دی ذکر کړی .

تشریح : د مرتبو او درجو په اعتبار د جنت اته برخي دي، په دې حدیث کي د اته سره دروازو چي ذکر سوی دی ددې څخه حقیقتا دروازې مراد نه دي بلکه هغه اته برخي اعتبار کړي دي او هره برخه یې په دروازه سره تعبیر کړې ده ، هري یوې برخي ته هم جنت وایي په دې شمیر سره اته جنتونه وایي .

(اللهم اجعلني ... الخ) یعني اې الله ! ما د توبه کونکو څخه وګرځوې، مطلب دا چي اې الله موږ ته ددې توفیق راکړې که زموږ څخه چیري د بشریت په غوښتنه یو ګناه او لړزیدل وسي نو موږ د هغه څخه سمدستي توبه وباسو او خپلو عیبونو ته رجوع وکړو .

د دې دعاء دا مطلب نه دی چي زموږ ګناه زیاته وسي بلکه دلته مراد دادی چي هر کله ګناه را څخه وسي نو زموږ په زړونو کي د توبه کولو داعیه پیدا کړې که هغه ګناه هر څومره وي، بلکه ددې آیت سره سم ستا د غوره او محبوب بندګانو په ډله کي شامل کړل سو .

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ : ژباړه : بیشکه الله تعالی توبه کونکي خوښوي .

یعني الله تعالی خپل هغه بندګان خوښوي چي د الله تعالی د دربار څخه مخ نه اړوي او پر هیڅ موقع د الله تعالی د رحمت څخه نه ناامیده کیږي ، د دعاء اخري جمله چي په پاکي کونکو کي مو شامل کړې، مطلب دادی چي موږ د باطني پاکۍ په دولت سره ونازوې او په موږ کي چي څومره خراب اخلاق او بد فضائل دي د ټولو څخه موږ پاک او صاف کړې نو دې طرف ته اشاره ده چي د بدن او اندامونو د ظاهري طهارت او پاکۍ زموږ په اختیار کي وو هغه موږ پوره کړ

اوس د باطني احوال طهارت او دننه پاكي ستا په لاس كي ده نو په خپل فضل او كرم سره باطني صفائي هم راكړه

اي درخم چوگان تو دل هم چو گوئي　　　　بيرون نه زفرمان تو جايک سرموئي

ژباړه : ستا په خم چوگان كي زموږ زړه د يو گيند په ډول دى موږ ستاد فرمان څخه د بدن يو وريښته هم د باندي نه يو .

ظاهر كه بدست ماست شستيم تمام　　　　باطن كه بدست تست ان را توبشوئي

ژباړه : ظاهر چي زموږ په واک كي وو هغه موږ پريولي دي باطن چي ستا په واک كي دي هغه ته پريولې .

په پاى كي د مشكوة شريف مؤلف پر صاحب مصابيح باندي يو اعتراض كوي ، اعتراض دادى چي صاحب مصابيح چي حديث (فاحسن الوضوء ثم قال اشهد ان لااله الاالله وحده لا شريک له واشهد ان محمدا عبده ورسوله اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين فتحت له ثمانية ابواب الجنة يدخل من ايها شاء) نو موړي دا حديث د صحاح ستة څخه نقل كړي دي حال دا چي ددې حديث په صحاح كي نقل كول مناسب نه دي ځكه چي دا روايت په بخاري او مسلم كي نسته بلكه بعينه دا روايت جامع ترمذي كړى دى ، نو دا روايت د صحاح پر ځاى په حسان كي نقل كول پكار وه ، بيا دوهمه خبره داده چي ترمذي هم په خپل روايت كي د ان محمدا څخه وروسته د اشهد لفظ ذكر نه دى كړى .

په دې خبره هم بايد پوه سو چي جزري رحمة الله عليه په حصن حصين كي د ابن ماجه او ابن ابي شيبه او ابن سني په حواله سره د شهادتين څخه وروسته د لفظ ثلاث مرات ذكر كړى دى يعني شهادتين درې واره ويل پكار دي او نسائي او حاكم په روايت كي اللهم اجلعني ...الخ څخه وروسته دا هم منقول دي : (سبحانک اللهم وبحمدک اشهد ان لااله الا انت استغفرک واتوب اليک) ، نو غوره خبره ده چي ځومره دعاوي منقول دي د اوداسه څخه وروسته په يو ځاى كولو سره وويل سي او د غسل كونكي لپاره هم دا دعاوي ويل مستحب دي .

﴿۲۶۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ غُرًّا مُحَجَّلِيْنَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوْءِ فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ اَنْ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما امت به د قيامت په ورځ د ځلانده تنديو او سپين اندامو والا په صفت و بلل سي او دا رڼا والى او سپين والى به د اوداسه له كبله وي نو په تاسو كي چي د چا

يُطِيْلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ (منفق عليه)

لپاره دا ممکنه وي چي د خپل تندي رڼا زياته کړي نو هغه ته پکار دي چي هغه همداسي وکړي .بخاري او مسلم .

تشريح : لفظ د (غُرّ) جمعه د اَغَرّ ده، او د هغه معنا ده سپين مخ، او محجيل هغه سړي ته وايي چي د هغه لاسونه او پښې سپين وي ، ددې مطلب دادی چي د قيامت په ورځ به د اوداسه د اثر څخه دا ټول اندامونه ځلانده وي او هر کله چي په محشر کي لمونځ کونکی جنت ته د تللو لپاره را وبلل سي نو هغوئ به د خلکو د مينځ څخه داسي راوځي چي د هغوئ اندامونه به ځلانده وي .

په پای کي فرمايل سوي دي چي د کوم سړي دا خواهش وي چي د قيامت په ورځ د هغه د مخ ځلا او د هغه د اندامونو سپين والي زيات وي نو هغه ته پکار ده چي هغه په دغه عمل کولو کي د پوره احتياط څخه کار واخلي کوم چي ددې سعادت سبب به وي يعني اودس دي په پوره رعايت سره وکړي ، مخ د تندي د سربيره څخه د زني تر لاندي پوري او د يوه غوږ د نرمۍ څخه تر بل غوږ د نرمۍ پوري په ښه ډول پريولئ .

د تحجيل زياتوب دادی چي پښې په ښه ډول او تر بجلکو پورته ټوري پريولي، دلته د تحجيل د زياتوب حکم نه دی فرمايل سوی ځکه چي دا دواړه يعني غر او محجل کي لازم او ملزوم دي هر کله چي د يوه زياتوب ذکر يې وکړ نو دوهم په خپله مفهوم کيږي .

﴿۲۷۰﴾ : وَعَنْه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبْلُغُ الْحِلْيَةُ مِنَ الْمُؤْمِنِ حَيْثُ يَبْلُغُ الْوَضُوءُ . (رواه مسلم)

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : (په جنت کي) به د مؤمن ښکلا يا جامې (تر هغه ځايه) رسيږي تر کوم ځايه پوري چي د هغه د اوداسه اوبه رسيږي. مسلم .

تشريح : مطلب دادی چي د اوداسه اوبه کومو کومو اندامونو ته ورسيږي يعني کوم اندامونه چي په اوداسه کي پريولل سي په جنت کي به د هغه اندامونو په زياتو زيوراتو سره چي زيب او زينت کيږي همدارنګه چي اودس څومره زيات غوره او مکمل يعني د سنت سره سم وي په جنت کي به د هغه اندامونو د اوداسه ښکلا هغومره په لوړه درجه وي .

الفصل الثاني

﴿۲۷۱﴾: عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِسْتَقِيْمُوْا وَلَنْ تُحْصُوْا وَاعْلَمُوْا أَنَّ خَيْرَ أَعْمَالِكُمُ الصَّلَاةُ وَلَا يُحَافِظُ عَلَى الْوُضُوْءِ إِلَّا مُؤْمِنٌ . رواه مالك وأحمد وابن ماجه والدارمي .

د حضرت ثوبان[1] ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پر سمه لار اوسئ او هيڅکله به پر سمه لار د اوسيدو توان ونه لرلای سئ او پوه سئ چي ستاسو په اعمالو کي غوره عمل لمونځ دی او د اوداسه ساتنه نه کوي مگر مؤمن. مالك، احمد ، ابن ماجه او دارمي.

تشريح : پر سمه لار د اوسيدو مطلب دادی چي پر اعمالو باندي مستقيم اوسي او هميشه پر سيده لار ځي ، آخوا دېخوا خرابو لارو ته ميلان مه کوئ او دا کار مشکل وو ځکه مخکي يې وفرمايل چي (لن تحصوا) يعني په پوره کمال او رسوخ سره تاسو استقامت نسئ لرلای او د اعمالو او افعالو د استقامت چي کوم حقوق وي هغه په پوره توګه سره ادا کيدای نسي نو مخته د يوې ډيري اساني لاري په لور رهنمائي وکړل سوه يعني د عباداتو بنياد او خلاصه پر لمانځه باندي ده که يوازي دا يو عمل او عبادت يعني په لمانځه کي استقامت اختيار کړي نو د ټولو غلطيو پرېښود به وسي نو پکار ده چي پر لمانځه باندي هميشتوب اختيار کړي ددې چي کوم شرطونه او آداب دي د هغو خيال وساتي او د هغه چي کوم حقوق دي هغه په پوره توګه سره ادا کوي .

وروسته د لمانځه مقدمه او شرط يعني اودس او طهارت ته اشاره سوې ده چي هغه ته نيم ايمان ويل سوي دي، نو وفرمايل سول چي د اوداسه ساتنه خو د مؤمن خاصه ده ځکه چي هغه مؤمن کامل چي د هغه زړه او دماغ د توجه الى الله په شغلو سره هر وخت منور وي هغه خپل زړه او بدن دواړو سره يعني ظاهرا هم او باطنا هم هر وخت د الله تعالى په دربار کي حاضر وي او په ظاهره چي په دربار الهي کي د حاضرۍ پرته د ظاهر او باطن د صفائي او پاکۍ او پرته د طهارت د آداب څخه خلاف شی دی او د شان عبوديت خلاف هم دی ځکه نو مؤمن د اوداسه حفاظت کوي او د اوداسه چي کوم آداب او شرطونه او مستحبات دي د هغه ټولو رعايت کوي .

[1] د نوموړي نوم ثوبان ابن مجدد دی کنيت يې ابوعبدالله دی ځيني حضراتو ابوعبدالرحمن هم ليکلي دي . په حمص نامي ځای کي په کال (۵۴هـ) کي وفات سوی دی.

﴿۲۷۲﴾ : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ عَلَى طُهْرٍ كُتِبَ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ . رواه الترمذي .	د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:څوك چې داوداسه سربیره اودس وکړي نو د هغه لپاره لس نیکۍ ولیکل سي . ترمذي.

تشریح : یو خو مطلقا د اوداسه کولو ثواب او اجرتاکلی دی هغه خو تر لاسه کیږي مګر کوم سړی چې پر اوداسه سربیره اودس وکړي نو هغه د هغه ټاکل سوي اجر او ثواب څخه پرته نوري لس نیکۍ لیکل کیږي ، په دې مسئله کي علماء وايي چې دا اجر او ثواب هغه وخت تر لاسه کیږي هر کله چې د لومړي اوداسه څخه وروسته فرض یا نفل لمونځ یې کړی وي او د هغه څخه وروسته بیا دوهم اودس وکړي .

په شرح السنة کي منقول دي چې اودس نوی کول هغه وخت مستحب دی هر کله چې په لومړي اودس یې لمونځ کړی وي او د ځیني علماؤ په نزد که په لومړي اودس یې لمونځ نه وي کړی نو اودس کول مکروه دي .

الفصل الثالث

﴿۲۷۳﴾ : عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ الصَّلَاةُ وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُوْرُ . رواه أحمد .	د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د جنت کیلي لمونځ دی او د لمانځه کیلي اودس دی . احمد

تشریح : څرنګه چې قلف سوي دروازه پرته د کیلي څخه نه خلاصیږي همدا رنګه پرته د اوداسه څخه لمونځ نه کیږي او پرته د لمانځه څخه په جنت کي داخله نسي کیدلای ، په دې حدیث کي دلمانځه د پابندۍ ارزښت په خاصه مبالغه سره بیان سوی دی لکه چې لمونځ د ایمان په حکم کي دی چې پرته ددې څخه جنت ته تلل نه حاصلیږي نو پکار ده چې لمونځ په ښه ډول ادا کړل سي او هیڅ لمونځ ترک او قضاء نه کړل سي چې د دخول جنت سبب همدا دی .

﴿۲۷۴﴾: وَعَنْ شَبِيْبِ بْنِ أَبِيْ رَوْحٍ عَنْ رَجُلٍ مِّنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى صَلَاةَ الصُّبْحِ فَقَرَأَ الرُّوْمَ فَالْتَبَسَ عَلَيْهِ فَلَمَّا صَلَّى قَالَ	حضرت شبیب بن ابو روح د رسول الله ﷺ د اصحابو څخه د یو صحابي څخه روایت کوي چې هغه وايي (یوځل) رسول الله ﷺ د سهار لمونځ ادا کړ او په هغه کي یې سورة روم ووایه ، رسول الله ﷺ لمونځ ادا کړ او وه یې فرمایل : د خلکو عجیبه حال دی زموږ سره

مَا بَالُ أَقْوَامٍ يُصَلُّوْنَ مَعَنَا لَا يُحْسِنُوْنَ الطُّهُوْرَ وَإِنَّمَا يُلَبِّسُ عَلَيْنَا الْقُرْآنَ أُوْلٰئِكَ . رواه النسائي

لمونځ كوي او په ښه ډول اودس نه كوي او په دې وجه دا خلك موږ ته په قرآن كي شك پيدا كوي .نسائي

تشريح : په دغه حديث كي دې ته اشاره ده چي د يو عمل او يو عبادت چي كوم سنتونه او آداب وي هغوئ واجب كامل كول د بركت سبب وي د دې بركت اثر نه يوازي دا چي د عامل په ذات پوري محدود وي بلكه هغه بركت په نورو كي هم سرايت كوي څرنګه چي د كوتاهۍ او قصور د عامل د ذات څخه پرته د نورو د ضرر هم باعث كيږي او ددې څخه دا معلومه سوه چي پر سنتو او آدابو باندي عمل نه كولو سره د فتوحات غيبيه دروازه بنديږي .

دا حديث په حقيقت كي د بې بصيرته خلكو لپاره عبرت دى چي د صحبت د تاثير څخه منكر او غافل دي ، نو د داسي خلكو لپاره د غور كولو ځاى دى چي رسول الله ﷺ د دې مرتبې سربيره او د قرآن ويلو په حالت چي د تقرب الى الله وخت دى د يو اولى امتي د صحبت اثر وكړ چي د هغه څخه د اوداسه آداب او سنت كي يو كوتاهي يا قصور سوى وو چي د هغه په وجه رسول الله ﷺ ته په قرآئت كي متشابه سو بيا د داسي خلكو به څه حشر وي چي شپه او ورځ يې د اهل فسق او اهل بدعت اختيار كړې وي .

نو معلومه سوه چي خير او بهتري په دې كي ده چي د اهل فسق او اهل بدعت صحبت او هم نشني بالكل پرېښودو سره د علماء حق ، صوفياني كرام او د الله تعالى د نيكو بنګانو صحبت اختيار كړل سي چي د هغوئ د ناستي او صحبت بركات او اثرات په خپل ځان كي پيدا كړي چي ددين او دنيا دواړو د خير لپاره ضامن دي .

د روايت په پيل كي راوي د هغه صحابي نوم نه ذكر كړى د چا څخه چي دا حديث تر لاسه سوى دى مګر حضرت ميرک شاه صاحب ليكلي دي چي هغه صحابي حضرت ابوذر غفاري ؓ دى .

﴿٢٧٥﴾ : وَعَنْ رَّجُلٍ مِّنْ بَنِيْ سُلَيْمٍ قَالَ عَدَّهُنَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ يَدِيْ أَوْ فِيْ يَدِهِ قَالَ اَلتَّسْبِيْحُ نِصْفُ الْمِيْزَانِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ يَمْلَؤُهُ وَالتَّكْبِيْرُ يَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَالصَّوْمُ نِصْفُ الصَّبْرِ وَالطُّهُوْرُ نِصْفُ الْإِيْمَانِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن .

د بني سليم د قبيلې يو سړي روايت وكړ چي رسول الله ﷺ هغه خبري چي مخكي ذكر دي زما په لاس يا په خپل لاس شمير كړې نو وه يې فرمايل : تسبيح (سبحان الله ويل) نيمه تله ډكوي او الحمدلله پوره تله ډكوي او تكبير د آسمان او مځكي منځ ډكوي او روژه نيم صبر دى او پاكي نيم ايمان دى . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن دى .

تشريح : د حديث بيانولو په وخت كي راوي ته شك سوى دى چي رسول الله ﷺ دا خبري زما پر لاس يا پر خپل لاس شميرلي دي په هر حال هغه يې داسي شمير كړې چي يا خو د هغه صحابي ګوته يې ونيول يا خپل ګوته يې ونيول او هغه يې په بندولو سره دا پنځه خبري شمير كړې.

په حديث كي روژې ته نيم صبر ويل سوى دى ځكه چي پوره صبر خو دادى چي نفس پر طاعت ايسار كړي يعني احكام پر ځاى كړي او د ګناهونو څخه منعه وكړي يعني منعه شيان نه كوي. او روژه نوم دى يوازي د نفس پر طاعت باندي، يعني د حكم الهي پر ځاى راوړلو نو په دې اعتبار سره روژه نيم صبر سو.

﴿۲۷۶﴾ :وَعَنْ عَبْدِ اللهِ الصُّنَابِحِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ فَمَضْمَضَ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ فِيْهِ وَإِذَا اسْتَنْثَرَ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ أَنْفِهِ فَإِذَا غَسَلَ وَجْهَهُ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ وَجْهِهِ حَتّٰى تَخْرُجُ مِنْ تَحْتِ أَشْفَارِ عَيْنَيْهِ فَإِذَا غَسَلَ يَدَيْهِ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ يَّدَيْهِ حَتّٰى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِ يَدَيْهِ فَإِذَا مسحه بِرَأْسِهِ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ رَأْسِهِ حَتّٰى تَخْرُجُ مِنْ أُذُنَيْهِ فَإِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ رِّجْلَيْهِ حَتّٰى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِ رِجْلَيْهِ ثُمَّ كَانَ مَشْيُهُ إِلَى الْمَسْجِدِ وَصَلَاتُهُ نَافِلَةً لَّهُ . رواه مالك والنسائي .

د حضرت عبدالله[1] الصنابحي ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي مؤمن بنده د اوداسه اراده وكړي نو هغه چي خوله پريولي نو د هغه د خولې څخه ګناه وزي او هر كله چي په پزه كي اوبه واچوي نو ووزي ګناهونونه د پزي دده څخه او كله چي مخ پريولي نو د مخ او سترګو څخه ګناه وزي تر دې چي د ورځو لاندي ګناه يې هم ووزي او كله چي لاسونه پريولي نو د دواړو لاسونو ګناه يې پريولل سي تر دې چي د لاسو د نوكانو د لاندي ګناه يې هم پريولل سي او كله چي د سرمسحه وكړي نو د سر ګناه يې ووزي تر دې چي د غوږونو ګناه يې توى سي او كله چي ښې پريولي نو د پښو ګناه يې وزي تر دې چي د پښو د نوكانو ګناه يې توى سي ، بيا مسجد ته د هغه تلل او د هغه لمونځ كول (د هغه په اعمالو كي) زياتوالى دى. مالك او نسائي.

تشريح : څرنګه چي په حديث كي يادونه سوې ده چي كله اودس كونكى د خپل سر مسحه كوي نو د هغه ګناه د هغه د سر څخه وځي ، بيا وروسته فرمايل سوي دي تر دې چي د هغه د دواړو

---

[1] د نوموړي په صحابي كېدو او نامه كي اختلاف دى . د يحيى بن معين قول دادى چي دده نوم عبدالله يا ابوعبدالله ويل كيږي.

غوږونو څخه هم ګناه وځي ، ددې جملې څخه دا خبره څرګندہ سوہ چي غوږونه په سر کي داخل دي په دې توګه کوم حکم چي د سر وي هغه به د غوږو هم وي ، حنفي مسلک دادی ځکه دا مسئله ده چي هر کله د سر مسحه لپاره اوبه واخيستل سي نو په هغه اوبو سره دي د غوږونو مسحه هم وکړي ، د غوږونو د مسحه لپاره د نوو او بيلو اوبو اخيستلو ضرورت نسته .

د حديث په پای کي وفرمايل سول چي د هغه لمونځ ځکه په اعمالو کي زياتوب دی يعني هر کله چي هغه د اوداسه څخه فارغ سي نو ګناهونه د اوداسه په وجه پاک او صاف سوي وه او اوس لمونځ زائد دی چي د درجو د لوړی سبب دی .

﴿۲۷۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتَى الْمَقْبَرَةَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ وَدِدْتُ أَنَّا قَدْ رَأَيْنَا إِخْوَانَنَا قَالُوا أَوَلَسْنَا إِخْوَانَكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ أَنْتُمْ أَصْحَابِي وَإِخْوَانُنَا الَّذِينَ لَمْ يَأْتُوا فَقَالُوا كَيْفَ تَعْرِفُ مَنْ لَمْ يَأْتِ بَعْدُ مِنْ أُمَّتِكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَالَ أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ رَجُلاً لَهُ خَيْلٌ غُرٌّ مُحَجَّلَةٌ بَيْنَ ظَهْرَيْ خَيْلٍ دُهْمٍ بُهْمٍ أَلَا يَعْرِفُ خَيْلَهُ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ فَإِنَّهُمْ يَأْتُونَ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنَ الْوُضُوءِ وَأَنَا فَرَطُهُمْ عَلَى الْحَوْضِ (رواه مسلم)

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ (جنت البقيع) هديرې ته تشريف راوړئ او وه يې فرمايل : اې د هديرې د مؤمنانو ډلي پر تاسو دي سلامتي وي او موږ هم انشاء الله تاسو ته راتلونکي يو او زما دا ارمان دی چي موږ خپل ورونه ووينو (د دې په اورېدو سره) صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! ايا موږ ستاسو ورونه نه يو ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل تاسو زما اصحاب (ملګري) ياست او زما ورونه هغه دي چي اوس لا (دنيا ته) نه دي راغلي ، صحابه کرامو عرض وکړ تاسو به په قيامت کي دغه خلك څنګه پيژنئ چي تر اوسه ستاسو په امت کي نه دي راغلي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ما ته دا ووایاست چي که د يو سړي سره سپين تندي والا او سپين لاس او پښو والا آسان وي او هغه په ډېرو تورو آسانو کي ګډ سوي وي نو ايا هغه به خپل آسونه پيژني؟ صحابه کرامو عرض وکړ هو ، اې دالله رسوله ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل هغوئ به (د قيامت په ورځ) د اوداسه د اثر په وجه سپين تندي او سپين لاس او پښو والا راځي او زه به پر حوض کوثر د هغوئ سردار يم . مسلم .

تشريح : په دې حديث کي رسول کريم ﷺ په صحابه کرامو او د هغو څخه وروسته پيدا کيدونکو مسلمانانو کي نه يوازي دا چي يو لوی او لطيف فرق بيان کړ بلکه صحابه کرامو ته يې امتيازي

شان هم ښخښلی دی ، رسول کریم ﷺ صحابه کرامو ته وفرمایل تاسو زما دوستان یاست او ورسته پیدا کېدونکي مسلمانان زما وروڼه دي نو ستاسو سره د تعلقات دوه ډولونه دي یو خو دا چي تاسو زما وروڼه یاست او ددې سره سره زما خاص دوستان هم یاست، او کوم چي وروسته راتلونکي دي یعني تابعین وغیره د هغوئ سره زما تعلق یوازي دادی چي هغوئ زما اسلامي وروڼه دي.

د سامان د امیر مطلب دادی چي زه به د هغه خلکو څخه مخکي الله تعالی ته په رسیدو سره د هغوئ د مغفرت او بخښني او ددرجو د لوړوالي اسباب سموم.

﴿۲۷۸﴾ :وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (أَنَا أَوَّلُ مَنْ يُؤْذَنُ لَهُ بِالسُّجُوْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يُؤْذَنُ لَهُ أَنْ يَّرْفَعَ رَأْسَهُ فَأَنْظُرُ إِلَى مَا بَيْنَ يَدَيَّ فَأَعْرِفُ أُمَّتِي مِنْ بَيْنِ الْأُمَمِ وَمِنْ خَلْفِيْ مِثْلَ ذٰلِكَ وَعَنْ يَّمِيْنِي مِثْلَ ذٰلِكَ وَعَنْ شِمَالِيْ مِثْلَ ذٰلِكَ . فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ تَعْرِفُ أُمَّتَكَ مِنْ بَيْنِ الْأُمَمِ فِيْمَا بَيْنَ نُوْحٍ إِلَى أُمَّتِكَ ؟ قَالَ هُمْ غُرٌّ مُّحَجَّلُوْنَ مِنْ أَثَرِ الْوُضُوْءِ لَيْسَ أَحَدٌ كَذٰلِكَ غَيْرُهُمْ وَأَعْرِفُهُمْ أَنَّهُمْ يُؤْتَوْنَ كُتُبَهُمْ بِأَيْمَانِهِمْ وَأَعْرِفُهُمْ تَسْعٰى بَيْنَ أَيْدِيْهِمْ ذُرِّيَّتُهُمْ .رواه احمد

د حضرت ابو درداء ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به تر ټولو لومړی سړی زه یم چي د سجدې اجازه به راکړل سي او بیا به په هغه خلکو کي لومړی سړی یم چي د سجدې څخه د سر پورته کولو حکم راکړل سي زه به خپل په وړاندي د خلکو ګڼه ګونه ووینم او په هغوئ کي به خپل امت و پیژنم بیا به د خپل ځان څخه وروسته دا ډول ګڼه ګونه ووینم په نورو امتونو کي به خپل امت و پیژنم بیا به خپل راسته او چپه لوري ته ګڼه ګونه ووینم او خپل امت به پکښې و پیژنم ،یوه سړي وویل اې دالله رسوله ! د هغه امتونو په منځ کي به تاسو خپل امت څنګه پیژنئ په مابین د حضرت نوح علیه السلام د امت څخه بیا ستا تر امت پوري ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : زما د امت خلک به د اوداسه د اثر په وجه ځلانده مخان او سپین لاسونه او پښې وي او ددې پرته به بل هیڅ یو نښه نه وي او زه به هغوئ داسي پیژنم چي د هغوئ عمل نامه به يې په راسته لاسونو کي وي او داسي به يې پیژنم چي د هغوئ (کم عمره) ماشومان به د هغو څخه وړاندي منډې وهي . احمد .

تشریح : په محشر کي به رسول کریم ﷺ د الله تعالی په دربار کي حاضر سي نو د شفاعت لپاره به پر سجده پریوځي او د یوې اونۍ په اندازه به پر سجده وي بیا به د الله تعالی د لوري حکم وسي چي اې محمد ﷺ ! خپل مبارک سر پورته کړ او اې زما محبوبه وغواړه څه چي غواړې، موږ به

ستاسو خواست ته قبولیت وبخښو ، ددې څخه وروسته به شافع محشر رسول کریم ﷺ د مخلوق خدا د شفاعت لپاره په خپل مبارکه ژبه سره د الله تعالی په دربار کي درخواست وړاندي کړي ، د حدیث په لومړنۍ برخه کي همدې ته اشاره سوې ده .

په دې حدیث کي په میدان حشر کي د امت محمدیه زیاتوب او کثرت او د هغوئ مرتبو ته اشاره فرمایل سوې ده : (فانظر الی مابین یدي) یعني زه به هغه شي ته ګورم چي زما مخته وي (عن شمالي مثل ذالک) او چپه خوا ته به همداسي ګورم ، ددې څخه دا مراد دی چي زما څلور خواوو ته به زما امت خپور وي او بیا په هغوئ کي به د مختلفو مرتبو او درجو خلک وي .

د صحابي د سوال مطلب دادی چي د نوح ﷺ د زمانې څخه تر نن وخت پوري ډیر اوږد وخت دی او یوه اوږده زمانه تیره سوې ده ، په دې دوران کي به یو او دوه نه بلکه ډیر زیات امتونه تیر سوي دي بیا د شمیر په لحاظ چي وکتل سي نو په دومره ګڼه ګوڼه او دومره امتونو کي به رسول الله ﷺ څرنګه خپل امت و پیژني ، ددې په جواب کي رسول کریم ﷺ د هغه امتیازي صفت ذکر وفرمایه چي په هغه سره امت محمدي متصف وي او په ټولو امتونو کي به ممتاز وي . په دې اړه د حضرت نوح ﷺ د نامه په خاصه توګه اخیستو وجه داده چي اول خو ددې څخه د زمانې اوږدوالی مراد دی ، دوهم دا چي دی په ټولو انبیاؤ کي زیات مشهور دی ځکه نو د هغه نوم یې واخیستی .

بَابُ مَا يُوْجِبُ الْوُضُوْءَ

(د اوداسه واجب كونكو شيانو بيان)

په دې باب كې د هغه شيانو ذكر كيږي كوم چې اودس ماتوي ، د امام اعظم رحمة الله عليه د مذهب سره سم په دغه شيانو سره اودس ماتيږي :

۱. د ډكو بولو او تشو بولو د لارو څخه په وتونكي هر شي اودس ماتيږي لكه ، لوى بولي، وړې بولي، هواء وغيره ، كومه هواء چې د نارينه يا ښځينه د مخ د خوا څخه ووځي نو په هغه سره اودس نه ماتيږي .

۲. په هغه شي سره اودس ماتيږي چې نجس وي لكه وينه، نو او داسي نور او د بدن څخه په وتلو سره چې هغه برخي ته ورسيږي چې د هغه په غسل يا اوداسه كي پريولل لازم وي يعني كه په پزه او ستر ګو كي دننه وي نو په هغه سره اودس نه ماتيږي ځكه چې د هغو پريولل لازم نه دي.

۳. په قى كولو سره اودس ماتيږي ، په ډكه خوله قى كولو كي كه خوراك راووځي يا ترخې اوبه راووځي او يا يخى سوې وينه وغيره راووځي نو په دې سره اودس ماتيږي ، كه چيري بلغم راووځي نو اودس نه ماتيږي ، كه د نرۍ ويني يا نو قى يې كړى وي نو په هغه كي د ډكي خولې شرط نسته بلكه د توكلو برابر يا پر ناوړ باندي غالب سي بيا هم اودس ماتيږي ، او كه كم وي نو بيا نه ماتيږي ، كه لږ لږ قى په دومره اندازه كي وكړي كه هغه جمع كړل سي نو خوله په ډكيږي نو په هغه سره هم اودس ماتيږي ، په كومو شيانو چې اودس نه ماتيږي نو هغه نجس هم نه وي مثلا لږ قى يې وكړ يا دبدن څخه يې دومره وينه ووتل چې هغه پر بدن باندي ونه بهېدل نو دا ناپاكه نه دي .

۴. په ليونتوب سره ، يعني په ليوني كېدو سره هم اودس ماتيږي .

۵. په نشه كېدو سره اودس ماتيږي .

۶. په بې هوشه كېدو سره اودس ماتيږي .

۷. د بالغ په قهقه خندا سره اودس ماتيږي په كومو لمنځو كي چې سجده او ركوع وي .

۸. په مباشرت فاحشه سره اودس ماتيږي، مباشرت فاحشه دې ته وايي چې په انتشار او جنسي هيجان سره د سړي ستر د ښځي د ستر سره او د ښځي ستر د سړي د ستر سره يو ځاى

سي يا د دوو ښځو يا خلکو ستر سره يو ځای سي .

۹. په پروته سره يا پر خپل بدن يا ديوال وغيره باندي په تکيه کولو سره په بېده کېدو اودس ماتيږي ، مګر دا بيده کېدل داسي وي چي پر کوم شي يې تکيه کړې وي که هغه ليري سي نو را لويږي .

۱۰. که داسي بيده سي چي مقعد (شرمګاه) د مځکي څخه پورته سي ، يعني پر اړخ يا تشو باندي لګولو سره کښېنته سوی بيده سي نو اودس ماتيږي او که په ولاړه بيده سي يا د رکوع او سجدې په حالت کي بيده سي نو اودس نه ماتيږي . مګر شرط دادی چي رکوع او سجده پر مسنونه طريقه باندي وي ، که د زخم څخه چينجی ووځي يا غوښه په پرې کېدو سره ولويږي نو په دې سره اودس نه ماتيږي .

۱۱. که چينجي په ماړه نس وينه وڅښي نو اودس ماتيږي او که داسي نه وي نو اودس نه ماتيږي .

۱۲. که د چا ستر ګي خوږيږي او اوښکي ځيني بهيږي نو اودس ماتيږي ، په دې اړه اکثره خلک غافله وي ، ددې خيال نه کوي ځکه ددې خيال ساتل پکار دی ، مګر که يو سړی داسي وي چي د هغه ستر ګي هميشه خوږيږي او اوښکي ځيني بهيږي نو هغه صاحب عذر دی .

۱۳. که غوږ خوږيږي او د هغه څخه نو يا وينه راوځي نو اودس ماتيږي او که پرته د درد څخه نو وغيره د غوږ څخه وځي نو په هغه سره اودس نه ماتيږي .

دا ټول شيان چي د هغه ذکر وسو ټول اودس ماتونکي دي ، په دې سره اودس ماتيږي، په دې کي دوه شيان چي د دواړو بولو د ځايو څخه وتونکو شيانو او خوب باندي د ټولو علماؤ اتفاق دی چي په دې سره اودس ماتيږي او پاته شيان مختلف فيه دي .

الفصل الاول

﴿۲۷۹﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ مَنْ أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ (متفق عليه) .	د حضرت ابوهريرة ﷺ څخهٔ روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د بې اودسه لمونځ نه قبليږي تر څو پوري چي هغه اودس ونه کړي .بخاري او مسلم

تشريح : د دې تړاو د هغه سړي سره دی چي اوبه لري او د هغه د استعمال قدرت هم په هغه کي

وي ، د كوم سړي سره چي اوبه او د هغه د استعمالولو شرعي عذر هم نه وي نو هغه ته د لمانځه كولو لپاره اودس كول ضروري دي كه هغه اودس ونه كړي نو د هغه لمونځ نه ادا كيږي .

كه يو سړى اوبه پيدا نه كړي او يا د هغه د استعمال قدرت نه لري نو هغه دي د اوداسه پر ځاى په پاكه خاوره باندي تيمم وكړي ، داسي سړى چي اوبه پيدا نه كړي او نه پاكه خاوره او نه د هغه پر استعمال قدرت لري نو داسي سړي ته د شريعت په اصطلاح كي (فاقد الطهورين) وايي د دې سړي په اړه دا حكم دى چي هغه دي لمونځ نه كوي، مګر كله چي هغه اوبه وغيره پيدا كړي نو د اودس كولو سره لمونځ دي وكړي .

په دې مسئله كي د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب بل دى هغه فرمايي چي داسي سړى يعني فاقد الطهورين ته پكار ده چي په دې صورت كي هم هغه بايد د لمانځه د وخت په احترام كي پرته د اوداسه او تيمم څخه لمونځ وكړي هر كله چي هغه اوبه يا خاوره پيدا كړي نو اودس يا تيمم كولو سره دي د لمانځه قضاء راوړي .

زموږ علماء فرمايي كه يو سړى په قصد سره پرته د طهارت څخه لمونځ وكړي او بيا دا چي د دې څخه د هغه مقصد د وخت احترام هم نه وي نو دا سړى كافر كيږي يا كه د خلكو د شرم په وجه يوازي د ښوونې لپاره هم پرته د طهارت څخه لمونځ وكړي نو هم كافر كيږي ځكه چي په دغه دواړو صورتونو كي هغه د شريعت تحقير (سپكاوى) كړى دى ځكه نو داسي سړى چي په خپل فعل يا قول سره د شريعت د حقارت سبب جوړيږي هغه د دې قابل نه دى چي د اسلام او ايمان په دائره كي پاته سي.

﴿۲۸۰﴾ : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لاَ تُقْبَلُ صَلاَةٌ بِغَيْرِ طُهُورٍ وَلاَ صَدَقَةٌ مِنْ غُلُولٍ (رواه مسلم)	د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بېله اوداسه لمونځ نه قبليږي او نه د حرام مال خيرات كيږي . مسلم .

تشريح : د حرام مال څخه صدقه او خيرات كول د صدقې او خيرات توهين او تحقير دى ځكه نو دا ډير زيات د نفرت وړ شمير سوي دي ، علماؤ خو دا هم ويلي دي چي كوم سړى د حرام مال څخه صدقه او خيرات كوي او بيا د دې اميد هم لري چي ثواب به ورته حاصل سي نو هغه كافر كيږي .

﴿۲۸۱﴾ : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كُنْتُ رَجُلاً مَذَّاءً وَكُنْتُ أَسْتَحْيِي أَنْ أَسْأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَكَانِ ابْنَتِهِ فَأَمَرْتُ الْمِقْدَادَ فَسَأَلَهُ فَقَالَ يَغْسِلُ ذَكَرَهُ وَيَتَوَضَّأُ (متفق عليه)

حضرت علي ﷺ فرمايي چي ما ته مذي زيات راتلل او زه په دې وجه چي د رسول الله ﷺ زوم وم د دې حكم پوښتلو څخه شرمېدم نو ما مقداد ته د پوښتني كولو لپاره وويل . مقداد د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د مذي په وتلو سره دي يوازي د تشو بولو ځاى پريولي او اودس دي وكړي . بخاري او مسلم .

تشريح : دا حديث په اخلاقي معامله كي يو ډېر نازک خبرداري وركوي چي زوم ته د خپل خسر سره د شهوت د خبرو يادونه كول يا د داسي شيانو تذكره كول چي د هغه تعلق د ښځي د مباشرت سره وي چي د هغه بيان د اخلاقو او تهذيب او شرم او حيا خلاف وي مناسب نه دي .

﴿۲۸۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْوُضُوْءُ مِمَّا مَسَّتْ النَّارُ (رواه مسلم) قَالَ اَلشَّيْخُ الإِمَامُ الاجل محي.السنة هذا منسوخ بحديث ابن عباس قال ان رسول الله صلى الله عليه وسلم اكل كتف شاة ثم صلى و لم يتوضا .متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ اوريدلي دي چي فرمايل يې : كوم شى چي پر اور پخ سوى وي د هغه د خوړلو وروسته اودس كوئ . شيخ امام محي السنة فرمايي دا حديث د ابن عباس په هغه حديث سره منسوخ دى چي رسول الله ﷺ د پسه اوږه (ولي) وخوړل بيا يې لمونځ وكړ او اودس يې ونه كړ . بخاري او مسلم .

تشريح : د اول حكم منسوخ كېدل خو د ابن عباس ﷺ په ذكر سوي حديث سره وسول مګر په دې مسئله كي يو بل تاويل دا كېداى سي چي د رسول الله ﷺ د دې حكم چي د اور پاخه سوي شي خوړلو څخه وروسته اودس كوئ، ددې څخه مراد دادي چي هر كله تاسو يو پوخ كړى شى وخورئ نو د غوړ والي وغيره ليري كولو لپاره لاس او خوله پريولئ ځكه چي نه يوازي د نظاقت او صفائي دا غوښتنه ده بلكه دا سنت هم دي ، دې ته د خوراک اودس ويل كيږي ، په دې صورت كي د حديث د منسوخ كېدو ضرورت هم نه پاته كيږي .

﴿۲۸۳﴾ :وَعَنْ جَابِرِ ابْنِ سَمُرَةَ أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَأَتَوَضَّأُ مِنْ

حضرت جابر[1] بن سمرة ﷺ وايي چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه ايا موږ د پسه د

[1] د نوموړي نوم جابر بن سمره او كنيت يې ابوعبدالله عامري دى . د نوموړي په وفات كي اختلاف دى ځينو په نزد په كال (۶۶هـ) كي او د ځينو د تحقيق سره سم په كال (۷۴هـ) كي وفات سوى دى .

لُحُومِ الْغَنَمِ قَالَ إِنْ شِئْتَ فَتَوَضَّأْ وَإِنْ شِئْتَ فَلاَ تَوَضَّأْ قَالَ أَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُومِ الإِبِلِ قَالَ نَعَمْ فَتَوَضَّأْ مِنْ لُحُومِ الإِبِلِ قَالَ أُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ قَالَ نَعَمْ قَالَ أُصَلِّي فِي مَبَارِكِ الإِبِلِ قَالَ لاَ . (رواه مسلم)

غوښو خوړلو وروسته اودس کوو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل که دې زړه غواړي نو وه يې کړه او کنې مه يې کوه ، بيا هغه پوښتنه وکړه ايا د اوښ د غوښو خوړلو وروسته اودس کوو؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هو، د اوښ د غوښو خوړلو وروسته اودس کوه بيا هغه پوښتنه وکړه ايا زه د پسو د اوسيدو په ځاى کې لمونځ کوم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :هو، بيا هغه پوښتنه وکړه ايا د اوښانو د تړلو په ځاى کې لمونځ کوم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :يا . مسلم .

تشريح : امام حنبل رحمة الله عليه د حديث پر ظاهر باندې عمل کوي ځکه هغه د حديث په ليدو سره حکم کوي چې د اوښ غوښه خوړلو څخه وروسته اودس کول پکار دي ځکه چې په دې حديث کې رسول الله ﷺ د اوښ غوښه خوړلو څخه وروسته د اوداسه کولو حکم وفرمايه .

مګر د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه ، امام شافعي او امام مالک رحمة الله عليهم ، په نزد د اوښ غوښه خوړلو سره اودس نه ماتيږي ځکه چې دا حضرات د دې حديث محمل د اودس لغوي معنا (لاس او خوله) پريولل ګرځوي ، يعني دا حضرات فرمايي چې د رسول کريم ﷺ د ارشاد مقصد دادی چې د اوښ په غوښه کې بوی او غوړوالی زيات وي ځکه د دې د خوراک څخه وروسته لاسونه او خوله پريولل پکار دي ، د پسه په غوښه کې بوی او غوړوالی کم وي ځکه په دې اړه فرمايل سوي دي که طبيعت مو وي او د نظاقت غوښتنه وي نو لاس او خوله پريولئ او که طبيعت مو نه وي نو څه ضروري نه ده .

د اوښانو د تړلو په ځاى کې د لمانځه کولو څخه منعه فرمايل د نهي تنزيهي په توګه دي او منعه يې ځکه وفرمايل چې هلته په لمانځه کولو کې سکون، اطمينان نه پاته کيږي، د اوښانو د تښتېدلو يا لغتي وهلو او تکليف رسولو بيره وي ، پر خلاف د پسو چې هغه خو عاجز، ساده او بې ضرره وي ځکه د هغه د اوسيدو په ځايو کې د لمانځه کولو اجازه يې ورکړه .

په دې خبره هم پوهېدل پکار دي چې د لمانځه کولو په اړه دا جواز او عدم جواز په دې صورت کې دی هر کله چې د پسو او او اوښانو د تړلو ځاى د نجاست او چټلۍ څخه پاک وي ، که هلته نجاست وي نو بيا د پسو په ځاى کې لمونځ کول به مکروه وي .

﴿۲۸۴﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ فِي بَطْنِهِ شَيْئًا فَأَشْكَلَ عَلَيْهِ أَخَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ أَمْ لاَ فَلاَ يَخْرُجَنَّ مِنَ الْمَسْجِدِ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا (رواه مسلم) .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي څوك په تاسو كي په خپل نس كي دننه څه (آواز) واوري او ورسره شك سي چي يو شی خارج سوی دی يا نه نو تر هغه وخته د اوداسه لپاره د مسجد څخه مه وځئ تر څو پوري چي د هغه آواز وا نه وری يا بوئ پيدا نه كړئ . مسلم .

تشريح : تر څو چي آواز يا بوی نه وي دا په غالب گمان سره دی كنه نو ددې حديث مطلب دا دی چي هر كله د هوا خارج كېدل په يقيني توگه سره معلوم سي كه څه هم آواز واوري يا نه او بوی معلوم سي يا معلوم نسي نو پوه سئ چي اودس مات سوی دی .

﴿۲۸۵﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَرِبَ لَبَنًا فَمَضْمَضَ وَقَالَ إِنَّ لَهُ دَسَمًا .(متفق عليه)

د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ شېدې وڅښلې او خوله يې پرېوله او وه يې فرمايل په شيدو كي غوړوالی وي .بخاري او مسلم

تشريح : د دې حديث څخه معلومه سوه چي د غوړ شي خوړلو څخه وروسته خوله پرېولل مستحب دي، ځكه كه خوله نه پرېولل سي نو كيدای سي چي كوم شی يې خوړلی وي د هغه غوړوالي يو څه برخه په خوله كي موښتې پاته سي كله چي لمونځ كيږي نو د لمانځه په حالت كي نس ته ورسيږي ، پر دې هر هغه شی قياس كيدای سي چي په خوله پوري موښتی وي او د لمانځه په حالت كي هغه نس ته ذ رسيدو بيره وي نو د هغه څخه خوله پريولل مستحب دي .

د دې حديث څخه علماؤ دا مسئله اخيستې ده چي د خوراك خوړلو څخه مخكي د صفائي لپاره لاسونه پريولل پكار دي ، مگر كه چيري لاس د مخه پاك وي او نجاست وغيره نه وي پوري موښتی نو بيا د لاسونو پريولل ضروري نه دي ، همدارنگه د خوراك كولو څخه وروسته هم لاسونه پريولل پكار دي ، كه خوراك د وچېدو په وجه يا په قاچوغه وغيره سره د خوړلو په وجه په لاس پوري نه موښلي نو بيا د لاسونو پريوللو ضرورت نسته .

په پای كي په دې خبره پوهېدل پكار دي چي په ظاهره خو د دې باب سره ددې حديث مناسبت نه معلوميږئ ځكه نو دا اعتراض پيدا كيدای سي چي مصنف مشكوة دا حديث په دې باب كي ولي ذكر كړ، ددې مختصر جواب دا دی چي په دې حديث كي د خولې پريوللو ذكر سوی دی او هغه د اوداسه د تعلوقاتو څخه دی ځكه نو دا حديث يې په دې باب كي ذكر كړی دی .

﴿۲۸۶﴾ :وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الصَّلَوَاتِ يَوْمَ الْفَتْحِ بِوُضُوءٍ وَاحِدٍ وَمسحه عَلَى خُفَّيْهِ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ لَقَدْ صَنَعْتَ الْيَوْمَ شَيْئًا لَمْ تَكُنْ تَصْنَعُهُ قَالَ عَمْدًا صَنَعْتُهُ يَا عُمَرُ (رواه مسلم) .

د حضرت بريدة[1] ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د فتح په ورځ په يوه اوداسه سره څو لمنځونه وکړل (پنځه لمنځونه) او پر موزو يې مسحه وکړه نو حضرت عمر ﷺ رسول الله ﷺ ته وويل نن تاسو هغه خبره وکړه چي تاسو هيڅکله نه وه کړې . رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : (اې) عمره! ما په قصد سره داسي کړي دي (چي خلکو ته د دې جواز څرګند سي) مسلم .

تشريح : د حضرت عمر ﷺ د وينا مقصد دا وو چي مخکي خو ستاسو معمول دا وو چي د هر لمانځه لپاره به مو تازه اودس کوی مګر نن تاسو د معمول خلاف يو وخت اودس وکړ او بيا په هغه اوداسه سره تاسو پنځه سره لمنځونه ادا کړل او بيا يو نوی شی دا چي پر موزو مو مسحه هم وکړل څرنګه چي تاسو داسي هيڅکله نه کول ؟ د دې په جواب کي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما دا عمل په بل هيڅ وجه نه وو بلکه ما داسي په قصد سره وکړل چي خلکو ته دا معلومه سي چي دا دواړه صورتونه جائز دي او نور خلک هم داسي کولای سي .

﴿۲۸۷﴾ :وَعَنْ سُوَيْدِ ابْنِ النُّعْمَانِ أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ خَيْبَرَ حَتّٰى إِذَا كَانُوْا بِالصَّهْبَاءِ وَهِيَ أَدْنٰى خَيْبَرَ صَلَّى الْعَصْرَ ثُمَّ دَعَا بِالْأَزْوَادِ فَلَمْ يُؤْتَ إِلاَّ بِالسَّوِيْقِ فَأَمَرَ بِهِ فَثُرِّيَ فَأَكَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَكَلْنَا ثُمَّ قَامَ إِلَى الْمَغْرِبِ فَمَضْمَضَ وَمَضْمَضْنَا ثُمَّ صَلّٰى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ . رواه البخاري .

د حضرت سويد[2] بن النعمان ﷺ څخه روايت دی چي هغه د رسول الله ﷺ سره د خيبر د فتح په کال په سفر ولاړی ، کوم وخت چي صهبا نامي ځای ته ورسيدل چي د خيبر سره نژدې دی نو د مازديګر لمونځ يې وکړ بيا يې توښه را وغوښتل، ستوان راوړل سول او د رسول الله ﷺ په حکم سره ميده کړل سول بيا رسول الله ﷺ او موږ هغه وخوړل بيا د ماښام د لمانځه لپاره و درېدو ، رسول الله ﷺ خوله پريولل او موږ هم خوله پريولل او لمونځ مو ادا کړ او اودس مو ونه کړ .

تشريح : دغه حديث د دې مسئلې تشريح وکړه چي په اور سره پخ کړي شيانو خوړلو سره اودس

[1] د نوموړي نوم بريدة بن حصيب دی او کنيت يې ابوعبدالله دی ، د مديني منورې اوسيدونکی وو . په مرو نامي ځای کي د يزيد بن معاويه په زمانه کي په کال (۶۳هـ) کي وفات سوی دی .
[2] د نوموړي نوم سويد بن نعمان دی او د اهل مديني څخه شميرل کيږي .

نه ماتيږي ځكه رسول الله ﷺ ستو وخوړل چي په اور سره تيار سوي وه او د هغه ځخه وروسته يوازي د خولې په پريوللو سره يې د مابنام لمونځ وكړ او اودس يې ونه كړ.

الفصل الثاني

﴿۲۸۸﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ وَضُوْءَ إِلاَّ مِنْ صَوْتٍ أَوْ رِيْحٍ . رواه أحمد والترمذي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اودس يوازي په آواز يا بوی سره واجب كيږي . احمد او ترمذي.

تشريح : مطلب دادی چي اودس په شک سره نه ماتيږي ترڅو پوري چي يقين ونسي اوس باقي پاته وي نو په دې شبهې سره چي شايد هواء خارج سوې وي اودس نه ماتيږي مګر كه چيري آواز يا بوی سره يقين وسي چي هواء خارج سوې ده نو اودس ماتيږي .

﴿۲۸۹﴾ : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَذِيِّ فَقَالَ مِنَ الْمَذِيِّ الْوُضُوْءُ وَمِنَ الْمَنِيِّ الْغُسْلُ . رواه الترمذي .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي ما د مذي په اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د مذي په وتلو سره اودس لازميږي او په مني وتلو سره غسل واجب كيږي .ترمذي .

﴿۲۹۰﴾ : وَعَنْهُ قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِفْتَاحُ الصَّلاَةِ الطُّهُوْرُ وَتَحْرِيْمُهَا التَّكْبِيْرُ وَتَحْلِيْلُهَا التَّسْلِيْمُ . رواه أبو داود والترمذي والدارمي . ورواه ابن ماجه عنه وعن أبي سعيد .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل د لمانځه كيلي اودس دی او د لمانځه تحريم تكبير دی او د لمانځه تحليل سلام ګرځول دي . ابوداؤد، ترمذي، دارمي او ابن ماجه.

تشريح : په تكبير يعني الله اكبر ويلو سره لمونځ پيل كيږي ، ددې مطلب دادی چي خوراک، څښناک او كوم كارونه چي د لمانځه خلاف وي اوس هغه ټول حرام سوي دي او په سلام ګرځولو سره لمونځ ختميږي ، ددې مطلب دادی چي په لمانځه پيل كولو سره چي څومره شيان حرام سوي وه اوس هغه ټول حلال سول ، ځكه فرمايل سوي دي چي د لمانځه تحريم تكبير او ددې تحليل سلام دي.

﴿۲۹۱﴾: وعن عليِّ بْنِ طَلْقٍ قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَسَا أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ وَلاَ تَأْتُو النِّسَاءَ فِيْ أَعْجَازِهِنَّ . رواه الترمذي وأبو داود .

د حضرت علي بن طلق ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي په تاسو كي د يو چا هوا پرته د آواز څخه ووزي نو هغه ته اودس كول پكار دي او تاسو د ښځو سره د ډكو بولو په ځاى كي كوروالي مه كوئ . ترمذي او ابوداؤد.

﴿۲۹۲﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِيْ سُفْيَانَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا الْعَيْنَانِ وِكَاءُ السَّهِ فَإِذَا نَامَتِ الْعَيْنُ اسْتَطْلَقَ الْوِكَاءُ . رواه الدرامي .

د حضرت معاويه[1] بن ابو سفيان ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سترگي د لوی اودس ماتي د ځای الغي دي هر كله چي سترگي بيدې سي نو دالغې خلاصي سي . دارمي.

تشريح : هر كله چي انسان وينښ وي نو لكه د هغه پر شرمگاه چي بند لگيدلی وي چي د هغه په وجه هواء نه وځي بلكه بند وي او كه خارخيږي نو د هغه احساس كيږي او هر كله چي بيده سي نو هغه بې اختياره سي بند و نه يې سست سي نو د هواء خارجېدو گمان وي چي د هغه ورته يقينا احساس نسي كيدای ځكه نو خوب ته اودس ماتونكی وويل سول .

﴿۲۹۳﴾ : وَعَنْ عَلِيٍّ قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وِكَاءُ السَّهِ الْعَيْنَانِ فَمَنْ نَامَ فَلْيَتَوَضَّأْ . رواه أبو داود ، وَقَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِ السُّنَّةِ هٰذَا فِيْ غَيْرِ الْقَاعِدِ لِمَا صَحَّ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْتَظِرُوْنَ الْعِشَاءَ حَتّٰى تَخْفِقَ رُؤُوْسَهُمْ ثُمَّ يُصَلُّوْنَ وَلاَ يَتَوَضَّؤُوْنَ . رواه أبو داود والترمذي إلا أنه ذكرفيه ينامون بدل ينتظرون العشاء حتى تخفق رؤوسهم

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د لوی اودس ماتي د ځای الغي سترگي دي څوك چي بيده سي هغه ته پكار دي چي اودس وكړي (ابوداؤد) امام محي السنة وايي دا حكم د هغه چا لپاره دی چي ناست نه وي بلكه په پروتي بيده وي ، د حضرت انس ﷺ څخه نقل دي چي د رسول الله ﷺ صحابه كرامو ماخستن لمانځه ته په ناسته انتظار كاوه تر دې چي د خوب له كبله به د هغو سرونو كښته ټالی وهلي هغوئ په دغه حالت كي پورته كېدل لمونځ به يې كاوه او اودس به يې نه كاوه .ابوداؤد او ترمذي

[1] د نوموړي نوم معاويه او كنيت يې ابوعبدالرحمن دی او د پلار نوم يې ابوسفيان دی ، نوموړي د وحي كاتب (ليكوال) دی . په كال (۶۰هـ) كي وفات سوی دی .

تشریح : د امام محي السنة رحمة الله علیه د قول مطلب دادی چي ددې حدیث حکم د عام بیده کېدونکو په اړه نه دی بلکه د داسي سړي په اړه دی چي په پروته سره بیده سي ځکه چي په پروته سره په بېده کېدو سره ټول اندامونه سست سي او پر خپل ځان پوره اختیار پاته نسي ځکه نو کیدای سي چي په دې حالت کي هوا خارج سي او هغه ته د هغه احساس هم نه وي.

مګر کوم سړی چي پروت نه وي بلکه په ناسته داسي بیده سو چي د هغه شرمګاه پر مځکه وي او بیا چي هغه ویښ سي نو مقعد (شرمګاه) هم هغسي پر مځکه وي نو اودس نه ماتیږي که څه هم هغه هر څومره بیده سي، د انس ﷺ د پورتني حدیث څخه هم دا ثابتیږي چي په ناسته خوب سره اودس نه ماتیږي، د ناستي ډولونه په فقه کي مذکور دي چي د قیاس او نورو حدیثونو څخه ثابت کړل سوي دي.

﴿۲۹۴﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْوُضُوْءَ عَلٰى مَنْ نَامَ مُضْطَجِعًا فَإِنَّهُ إِذَا اضْطَجَعَ اسْتَرْخَتْ مَفَاصِلُهُ. رواه الترمذي وأبو داود.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: اودس پر هغه چا لازم دی چي په پروتي بېده سي ځکه چي څه وخت یو څوك بېده سي نو دهغه بندونه سست سي.

تشریح : حضرت میرک شاه رحمة الله علیه فرمایلي دي چي دا حدیث منکر دی ځکه چي ددې په راویانو کي یو راوي یزید دالاني هم دی چي کثیر الخطاء او فاحش الوهم او د ثقافت مخالف دی.

﴿۲۹۵﴾ : وَعَنْ بُسْرَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَسَّ أَحَدُكُمْ ذَكَرَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ. رواه مالك وأحمد وأبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه والدارمي.

د حضرت بسرة (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي چي څوك خپل خاص اندام ته لاس وروړي نو هغه ته پکار ده چي اودس وکړي.

تشریح : د بولو ځای ته په لاس وروړلو سره د اوداسه په ماتېدو کي اختلاف دی بلکه په دې مسئله کي په خپله د صحابه کرامو په منځ کي هم اختلاف وو، د امام شافعي رحمة الله علیه مذهب دادی که یو سړی خپل ذکر (د بولو ځای) په لوڅ لاس سره مس کړي نو د هغه اودس ماتیږي د هغوئ دلیل همدغه مذکوره حدیث دی.

امام اعظم ابو حنیفة رحمة الله علیه فرمایي د ذکر په مس کولو سره اودس نه ماتیږي د هغوئ دلیل

راتلونكى حديث دى چې د قيس بن علي روايت سره چې هغه د خپل پلار څخه روايت كړى دى په مسند ابي حنيفه كي مذكور دى ، ددې څخه پرته د امام اعظم رحمة الله عليه په دليل كي نور ډير حديثونه راوړل سوي دي، په دې اړه د زياتي تشريح لپاره شرح ملاعلي قاري او د مشكوة ترجمه د شيخ عبدالحق دهلوي رحمه الله كتلاى سئ .

ابن همام رحمه الله فرمايي: حقيقت خو دادى چې دا دواړه حديثونه يعني د حضرت بسرى دا حديث چې د شوافع دليل دى او د طلق بن علي حديث چې مخكي راځي او د حنفيه دليل دى د درجه حسن څخه وتلي نه دي مګر د طلق ابن علي حديث ته به د بسرى پر حديث ترجيح وي ځكه چې بي بي بسره ښځه ده او طلق بن علي نارينه دى او څرګنده ده چې د ښځي په مقابله كي د نارينه حديث قوي وي ځكه چې هغوئ د ښځو په نسبت علم او حديث ښه په ياد لري او د هغوئ قوت حافظه هم تر ښځو زياته ټينګه وي ، همدا وجه ده چې د دوو ښځو شاهدي د يوه سړي د شاهدۍ سره برابر وي .

﴿۲۹۶﴾: وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ مَسِّ الرَّجُلِ ذَكَرَهُ بَعْدَمَا يَتَوَضَّأُ . قَالَ وَهَلْ هُوَ إِلاَّ بَضْعَةٌ مِّنْهُ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي وروى ابن ماجه نحوه . وَ قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللهُ هٰذَا مَنْسُوْخٌ لِأَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ أَسْلَمَ بَعْدَ قُدُوْمِ طَلْقٍ . وَقَدْ رَوَى أَبُوْ هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَفْضَى أَحَدُكُمْ بِيَدِهِ إِلَى ذَكَرِهِ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا شَيْءٌ فَلْيَتَوَضَّأْ . رواه الشافعي والدراقطني . وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ بُسْرَةَ إِلاَّ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا شَيْءٌ .

د حضرت طلق[1] بن علي رضي الله عنه څخه روايت دى چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول كه يو څوك د اودس كولو څخه وروسته خپل خاص اندام ته لاس ور وړي (نو د دې څه حكم دى) رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه خو هم د سړي د غوښو يوه ټوټه ده .(ابوداؤد ، ترمذي، نسائي) ابن ماجه هم دا ډول روايت كړى دى ، امام محي السنة وايي چې دا حكم منسوخ دى ځكه چې ابوهريرة د طلق د راتلو څخه وروسته اسلام راوړى دى او د ابوهريرة څخه روايت نقل دى (او هر كله چې په تاسو كي د يو چا لاس خپل خاص اندام ته ورسيږي او د لاس او دهغه په منځ كي يو شى نه وي نو اودس كول پكار دي)، شافعي، دارقطني او نسائي د بي بي بسرة څخه روايت كړى دى خو په هغه كي ليس بينه و بينها الفاظ نسته .

[1] د نوموړي نوم طلق بن علي او كنيت يې ابوعلي دى د هغه حديثونه د هغه د زوى قيس څخه روايت دى.

تشريح : د رسول كريم ﷺ د جواب مطلب دادى چي څرنګه د بدن د غوښو نوري ټوټې مثلا لاس، پښې، غوږ، پزه او داسي نور دي همداسي ذكر (د بولو ځاى) هم د غوښو يوه ټوټه ده او څرنګه چي په هغه نورو ټوټو او اندامو مس كولو سره اودس نه ماتيږي نو بيا د ذكر په مس كولو سره اودس ولي ماتيږي، ددې څخه معلومه سوه چي د ذكر په مس كولو (يعني د بولو ځاى ته لاس وروړلو) سره اودس نه ماتيږي.

د امام محي السنة رحمة الله عليه قول په اصل كي د شوافع حضراتو ترجماني ده، د هغوئ مطلب دادى چي ابوهريره ﷺ د طلق بن علي ﷺ څخه وروسته اسلام راوړى دى ځكه نو طلق د هجرت څخه وروسته سمدستي هر كله چي مسجد نبوي جوړيدى د رسول كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوى دى او ابوهريره ﷺ د هجرت پر اووم كال د غزوه خيبر پر موقع اسلام راوړى دى ځكه د طلق بن علي ﷺ د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدل تر مخه سول او د ابوهريره ﷺ څخه اوريدل به وروسته وي نو د طلق حديث منسوخ او د ابوهريره حديث ناسخ سو، حنفيه جواب وركوي چي د طلق ﷺ د اسلام راوړلو څخه وروسته د ابوهريره ﷺ اسلام راوړلو څخه دا كوم ځاى ثابت سوه چي ابوهريره ﷺ د ا حديث وروسته اوريدلى دى، د شوافع دا دعوا خو هلته صحيح كيداى سي چي دا هم ثابته سي چي ابوهريره ﷺ د اسلام راوړلو څخه مخكي طلق ﷺ وفات سوى وو، يا دا چي خپل وطن ته تللى وي بيا د هغه څخه وروسته د رسول الله ﷺ په خدمت كي هيڅكله حاضر سوى نه وي ځكه كه چيري طلق ﷺ د ابوهريره ﷺ د اسلام راوړلو څخه مخكي وفات سوى وي يا خپل وطن ته ستون سوى وي نو بيا د ابوهريره ﷺ د اسلام راوړلو څخه وروسته يې هيڅ نه سو اوريدلاى نو اوس خو دا ممكن ده چي طلق ﷺ دا حديث د ابوهريره ﷺ د اسلام راوړلو څخه وروسته اوريدلى وي نو د شوافع دا استدلال صحيح نه دى.

حضرت مظهر رحمة الله عليه يو ښه او فيصله كونكې خبره كړې ده هغه فرمايي: په دې دواړو حديثو كي ټكر سوى دى، د ابوهريره ﷺ د روايت سوي حديث څخه دا ثابتيږي چي د ذكر مس كول اودس ماتوي او د طلق ﷺ د حديث څخه ذكر مس كول اودس نه ماتوي، د دې د ټكر په صورت كي موږ ته پكار ده چي موږ د نورو صحابه كرامو اقولو ته رجوع وكړو، ډير صحابه كرام مثلا حضرت علي، حضرت ابن مسعود، حضرت ابودرداء، حذيفة، او د عمار (رضي الله عنهم) څخه دا اقوال ثابت دي چي په ذكر مس كولو سره اودس نه ماتيږي ځكه نو دا خبره ثابتيږي چي د حنفيه مذهب صحيح دى چي د ذكر په مس كولو سره اودس نه ماتيږي.

﴿۲۹۷﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُ بَعْضَ أَزْوَاجِهِ ثُمَّ يُصَلِّيْ وَلاَ يَتَوَضَّأُ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه . وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ لاَ يَصِحُّ عِنْدَ أَصْحَابِنَا بِحَالِ إِسْنَادُ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ وَأَيْضًا إِسْنَادُ إِبْرَاهِيْمَ التَّيْمِيْ عَنْهَا . وقال أبو داود هذا مرسل وإبراهيم التيمي لم يسمع من عائشة .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د خپلو ځينو بيبيانو څخه مچه اخيستل او پرته د اودس کولو سره به يې لمونځ کاوه (ابوداؤد ، ترمذي، نسائي، ابن ماجه) تر مذي ويلي دي چې زموږ د اصحابو په نزد د عروه يا د ابراهيم تيمي د بي بي عائشې څخه روايت کول په هيڅ حال کي صحيح نه دي ، ابوداؤد ويلي دي چې دا مرسل دی او ابراهيم تيمي د بي بي عائشې څخه نه دي اوريدلي .

تشريح : په دې مسئله کي د علماؤ اختلاف دی ، د امام شافعي او امام احمد په نزد د پردی ښځي په مس کولو سره اودس ماتيږي، امام مالک رح فرمايي چې پردی ښځه که په شهوت سره مس کړي نو اودس ماتيږي کنه نو نه ماتيږي، زموږ د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد اودس نه ماتيږي ، د هغوئ دليل دا حديث دی ، د بي بي عائشې رضي الله عنها يو دوهم حديث هم چې په بخاري او مسلم کي مذکور دی د امام اعظم رحمة الله عليه دليل دی، په هغه کي بي بي عائشه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د شپې د تهجد لپاره راکښينستی نو زه به بيده وم او زما دواړې پښې به د رسول الله ﷺ د سجدې پر ځای پرتې وې، رسول الله ﷺ به د سجدې په وخت کي زما پښې ښورولې او ما به خپل پښې راټولي کړې ، د دې حديث څخه معلومه سوه چې ښځي په مس کولو سره اودس نه ماتيږي، د امام ترمذي دا ويل چې دا اوريدل د بي بي عائشې څخه ثابت نه دي ، ددې څخه معلوميږي چې د ترمذي په دې حديث نقل کولو کي د مشکوٰة د مصنف څخه هيره سوې ده ځکه د ترمذي ددې قول دا مطلب نسي اخيستل کيدای کوم چې د مشکوٰة مصنف اخيستی دی.

د ابوداؤد دا ويل چې دا حديث يعني د مرسل يو ډول منقطع دی په اصل کي د حنفيه هغه دليل کمزوری کوي چې هر کله دا حديث مرسل دی نو د حنفيه دا خپل دليل کي وړاندي کول صحيح نه دي ، موږ ددې جواب ورکوو چې زموږ په نزد حديث مرسل هم حجت وي او نه يوازي زموږ په نزد بلکه د جمهورو علماؤ په نزد هم مرسل حديث حجت جوړيږي نو دې حديث ته په مرسل ويلو سره دا ناقابل استدلال نسي ګرځيدای .

﴿۲۹۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَكَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتِفًا ثُمَّ مسحه يَدَهُ بِمسحه كَانَ تَحْتَهُ ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰى . رواه أبو داود وابن ماجه

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د پسه د ولي غوښه وخوړل بيا يې خپل لاس مبارك په ټاټ سره وچ كړ او بيا د لمانځه لپاره ودرېدی او لمونځ يې وكړ .

تشريح : دغه حديث هم د حنفيه د هغه مذهب توثيق كړی دی چي په اور د پخ سوو شيانو په خوړلو سره اودس نه ماتيږي او ددې حديث څخه دا هم معلومه سوه چي د خوراک كولو څخه وروسته كه پرخوله او لاسو باندي غوړوالی وغيره نه وي نو دهغو پرېولل ضروري نه دي .

﴿۲۹۹﴾ : وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّهَا قَالَتْ قَرَّبْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَنْبًا مَّشْوِيًّا فَأَكَلَ مِنْهُ ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ . رواه أحمد .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دی چي زه د دې خبري شاهدي وركوم چي ما به د رسول الله ﷺ لپاره يو پوښتی بريان سوې وركړه نو وه يې خوړل او بيا به د لمانځه لپاره و درېدی او اودس به يې نه كاوه . احمد .

الفصل الثالث

﴿۳۰۰﴾: عَنْ أَبِيْ رَافِعٍ قَالَ أَشْهَدُ لَكُنْتُ أَشْوِي لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَطْنَ الشَّاةِ ثُمَّ صَلّٰى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ (رواه مسلم)

د حضرت ابو رافع ﷛ څخه روايت دی چي زه د دې خبري شاهدي وركوم چي ما به د رسول الله ﷺ لپاره د پسه د نس شيان بريان كول (رسول الله ﷺ به هغه خوړل) او بيا به د لمانځه لپاره و درېدی او اودس به يې نه كاوه. مسلم

﴿۳۰۱﴾ : وَعَنْهُ قَالَ أُهْدِيَتْ لَهُ شَاةٌ فَجَعَلَهَا فِي الْقِدْرِ فَدَخَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا هٰذَا يَا أَبَا رَافِعٍ؟ فَقَالَ شَاةٌ أُهْدِيَتْ لَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ فَطَبَخْتُهَا فِي الْقِدْرِ قَالَ نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ يَا أَبَا رَافِعٍ فَنَاوَلْتُهُ الذِّرَاعَ ثُمَّ قَالَ نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ الْآخَرَ فَنَاوَلْتُهُ الذِّرَاعَ الْآخَرَ ثُمَّ قَالَ نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ الْآخَرَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّمَا لِلشَّاةِ

د حضرت ابورافع ﷛ څخه روايت دی چي ما ته د تحفې لپاره د پسه غوښه راليږل سوې وه ، د پخولو لپاره ما هغه په دېگ كي واچول ، رسول الله ﷺ تشريف راوړ او وه يې فرمايل دا څه شي دي ؟ ابورافع وايي ما عرض وكړ اې د الله رسوله ! د پسه غوښه ده چي موږ ته د تحفې لپاره راوړل سوې ده ما په دېگ كي پخه كړل ، رسول الله ﷺ وفرمايل اې ابورافع! يو لاس (د پسه ورون) ما ته

ذِرَاعَانِ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا إِنَّكَ لَوْ سَكَتَّ لَنَاوَلْتَنِيْ ذِرَاعًا فَذِرَاعًا مَا سَكَتَّ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَتَمَضْمَضَ فَاهُ وَغَسَلَ أَطْرَافَ أَصَابِعِهِ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى ثُمَّ عَادَ إِلَيْهِمْ فَوَجَدَ عِنْدَهُمْ لَحْمًا بَارِدًا فَأَكَلَ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَصَلَّى وَلَمْ يَمَسَّ مَاءً . رواه أحمد . ورواه الدارمي عَنْ أَبِيْ عُبَيد إِلاَّ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ إِلَى أٰخِرِهِ .

هم راکړه نو ما هغه رسول الله ﷺ ته ورکړ بیا رسول الله ﷺ وفرمایل یو بل ورون هم راکړه نو ما دوهم ورون هم ورکړ بیا رسول الله ﷺ وفرمایل یو بل ورون هم راکړه ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! د پسه خو دوه ورنونه وي نو رسول الله ﷺ وفرمایل اې ابورافع ! که ته پټه خوله پاته سوی وای نو ما ته به دي د ورون پسې ورون راکولای تر څو چي پټه خوله وای ، بیا رسول الله ﷺ اوبه و غوښتلې او د گوتو سرونه یې پریولل بیا ودرېدی او لمونځ یې وکړ . بیا رسول الله ﷺ ابورافع ته راغلی او د هغه سره یې پخه غوښه ولیدل نو رسول الله ﷺ د هغه څخه هم څه وخوړل بیا مسجد ته ولاړی او لمونځ یې وکړ او اوبو ته یې لاس هم نه ور وړ .(احمد ، دارمي د ابوعبید څخه روایت کړی دی خو ثم دعاء بماء تر پایه پوري یې نه دی ذکر کړی).

تشریح : د رسول الله ﷺ د ورانه غوښه ډېره خوښه وه او هغه وجه دا وه چي د ورانه غوښه ډېره قوتناکه وي ځکه نو رسول الله ﷺ هغه خوښول چي په هغه سره بدني قوت او طاقت زیات حاصل وي چي د هغه په وجه د الله تعالی عبادت په ښه ډول وکړل سي .

دغه ارشاد مبارک چي که ته پټه خوله پاته سوی وای او ما ته دي ورون په ورون راکولای تر څو پوري چي ته پټه خوله وای ، ددې مطلب دادی که چیري ته پټه خوله وای او څرنگه چي ما غوښتلای او تا هغسي په پورته کولو سره راکولای نو تا به لیدلی وای چي الله تعالی به په خپل قدرت سره د معجزې په توگه بې شمیره ورنونه مهیا کول، مگر ستا نظر یو ازې پر ظاهر باندي وو او تا دا فکر وکړ چي د پسه خو دوه ورنونه وي اوس نو د کوم ځای څخه یې راوړم، خپل لاس دي را وایستی او هر کله چي تا خپل لاسونه را وایستل او جواب دي راکړ نو آخوا د غیبي مرسته ضرورت محسوس نه کړل سو د هغه نتیجه دا سول چي واقعي ټول ورنونه ختم سول ، دلته یو معمولي اندیښنه واقع کیدای سي چي هر کله د الله تعالی د لوري د رسول الله ﷺ د خواهش د پوره کېدو په خاطر په غیبي توگه سره د پسه ورنونه برابرېدل نو صرف د ابو رافع په جواب ورکولو سره هغه لړۍ ولي بنده سوه او بیا ورنونه ولي ظاهر نه کړل سول، جواب دادی چي د الله تعالی د لوري ټول کرامات او فضل او عنایت صرف د خالص نیت او توجه الی الله په

وجه وي نو كيداى سي چي د رسول الله ﷺ توجه الى او د الله تعالى د لوري د رسول الله ﷺ په زړه كي د ابورافع جواب سره فرق راغلى وي ځكه رسول الله ﷺ د هغه د جواب طرف ته متوجه سوى وي او د آخوا څخه هم لاس ونيول سو او ورنونه راتلل ختم سول.

﴿۳۰۲﴾ : وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنْتُ أَنَا وَأُبَيُّ وَأَبُوْ طَلْحَةَ جُلُوْسًا فَأَكَلْنَا لَحْمًا وَخُبْزًا ثُمَّ دَعَوْتُ بِوَضُوْءٍ فَقَالاَ لِمَ تَتَوَضَّأُ فَقُلْتُ لِهٰذَا الطَّعَامِ الَّذِيْ أَكَلْنَا فَقَالاَ أَتَتَوَضَّأُ مِنَ الطَّيِّبَاتِ لَمْ يَتَوَضَّأْ مِنْهُ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِّنْكَ . رواه أحمد .

د حضرت انس بن مالك ؓ څخه روايت دى چي زه، ابى بن كعب او ابوطلحه ټول ناست وو موږ غوښه او ډوډۍ وخوړل بيا مو د اوداسه لپاره اوبه را وغوښتلې، ابى او ابوطلحه وويل اودس د څه لپاره كوئ؟ ما وويل د دې خوراك په وجه چي اوس موږ كړى دى، هغوئ وويل ايا د پاكو شيانو خوړلو په وجه اودس كوئ؟ د دې شيانو په خوړولو سره هغه چا اودس نه دى كړى چي ستاسو څخه غوره وو (يعني نبي كريم ﷺ). احمد.

﴿۳۰۳﴾ : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ كَانَ يَقُوْلُ قُبْلَةُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ وَجَسُّهَا بِيَدِهِ مِنَ الْمُلاَمَسَةِ . وَمَنْ قَبَّلَ امْرَأَتَهُ أَوْ جَسَّهَا بِيَدِهِ فَعَلَيْهِ الْوُضُوْءُ . رواه مالك والشافعي .

حضرت ابن عمر ؓ به ويل د سړي د خپلي ښځي څخه مچه اخيستل او دهغې سره لاس منبلول دا هم ملامسه ده (چي د هغې ذكر په دې آيت : اَوْ لٰمَسْتُم .... كي راغلى دى او كوم سړى چي د خپلي ښځي څخه مچه واخيستل او هغه يې په خپل لاس سره مس كړل نو پر هغه اودس لازم دى. مالك او شافعي.

تشريح : په قرآن كريم كي چي كوم ځاى ددغه شيانو ذكر فرمايل سوى دى كوم چي اودس ماتونكي دي په هغو كي يو دا هم اودس ماتونكى ښودل سوى دى (او لامستم النساء) يعني او يا تاسو د ښځو سره ملامسه وكړئ.

د ملامسې حقيقي مفهوم څه دى او ددې محمل څه دى؟ په دې كي اختلاف دى، امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي چي د ملامسې معنا داده چي ښځه په لاس سره مس كول نو لكه چي داسي د امام شافعي په نزد ښځي ته په لاس ور وړلو څخه وروسته كه د يو سړي اودس وي نو هغه ماتيږي كه هغه لمونځ كول غواړي نو د هغه لپاره بيا اودس كول ضروري دي.

د ابن عمر ؓ د پورتني ذكر سوي ارشاد مفهوم هم دادى كوم چي د امام شافعي د مذهب تصديق كوي، ابن عمر ؓ دا فرمايي چي ښځي ته يوازي لاس ور وړل يا د ښځي څخه مچه اخيستل په دغه ملامسې كي داخل دي چي هغه ته په قرآن كي ناقض وضوء (د اوداسه

ماتونكى) ويل سوي دي.

زمونږ امام اعظم رحمة الله عليه د ملامسې معنا جماع او كوروالي كرځوي، يعني په قرآن كريم كي چي د ښځي د ملامسې ذكر فرمايل سوى دى او هغه ته اودس ماتونكى ويل سوي دي نو د هغه مراد جماع او كوروالي ده، امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه د خپل دغه مذهب په تصديق كي د دلائلو يوه ذخيره جمع كړې ده چي د فقهي په كتابونو كي په ډېر وضاحت سره مذكور دي.

﴿۳۰۴﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَانَ يَقُوْلُ مِنْ قُبْلَةِ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ الْوُضُوْءُ . رواه مالك .	حضرت ابن مسعود ﷺ څخه به ويل چي د سړي د خپلي ښځي ښځه مچه اخيستلو سره اودس

لازميږي. مالك.

﴿۳۰۵﴾ : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ إِنَّ الْقُبْلَةَ مِنَ اللَّمْسِ فَتَوَضَّؤُوْا مِنْهَا .	د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي عمر بن الخطاب ﷺ فرمايلي دي چي: مچه اخيستل، خپلي ښځي ته لاس وروړلو كي داخله ده نو د مچي اخيستو وروسته اودس كوئ.

تشريح : د ابن مسعود ﷺ او ابن عمر ﷺ د دې قول څخه معلوميږي چي د ښځي په مس كولو سره اودس ماتيږي څرنګه چي د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دى.

زمونږ د امام اعظم رحمة الله عليه په نزد د ښځي په مس كولو سره اودس نه ماتيږي ځكه هغه ددغه روايتونو په اړه دا فرمايي چي اول خو دا ټول روايتونه پر صحابه كرامو باندي موقوف دي يعني دا دصحابه كرامو اقوال دي ځكه ددې حكم حديث مرفوع د رسول الله ﷺ د ارشاد په ډول نسي كيدلاى، دوهم د هغوئ په نزد دا روايتونه د صحت درجې ته هم نه دي رسيدلي.

او بيا د رسول الله ﷺ دا حديث هم موجود دى چي مخكي ذكر سو او بي بي عائشې رضي الله عنها روايت كړى دى، ددې څخه په صراحت سره دا مفهوم اخيستل كيږي چي د ښځي په مس كولو سره اودس نه ماتيږي، ددې څخه پرته په مسند ابي حنيفه كي يو دوهم حديث مذكور دى چي ابن عباس ﷺ روايت كړى دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (ليس في القبلة وضوء) يعني په مچه اخيستلو سره اودس نه ماتيږي، كه څه هم دغه حديث هم ددې خبري تصديق كوي چي د ښځي په مس كولو يا مچه اخيستلو سره اودس نه ماتيږي نو كيداى سي چي دا حديث د هغه

تولو حديثونو لپاره ناسخ وي چي په هغه كي د ښځي د مس كولو يا د هغې څخه د مچه اخيستلو ته اودس ماتونكي ويل سوي دي . والله اعلم .

﴿۳۰۶﴾ : وَعَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ عَنْ تَمِيْمِ الدَّارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْوُضُوْءُ مِنْ كُلِّ دَمٍ سَائِلٍ . رَوَاهُمَا الدَّارَقُطْنِيُّ وَقَالَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيْزِ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ تَمِيْمِ الدَّارِيِّ وَلاَ رَآهُ وَيَزِيْدُ بْنُ خَالِدٍ وَيَزِيْدُ بْنُ مُحَمَّدٍ مَجْهُوْلاَنِ .

حضرت عمر بن عبدالعزيز[1] د تميم داري[2] څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په هره بهېدونكې وينه سره اودس ماتيږي ، دا دار قطني روايت كړى دى او ويلي يې دي چي عمر بن عبدالعزيز د تميم داري څخه نه دى اوريدلى او نه يې هغه ليدلى دى او يزيد بن خالد ويلي دي چي زيد بن محمد مجهول راويان دي .

تشريح : د امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه دا مذهب دى چي په هره بهېدونكي ويني سره اودس ماتيږي يعني كه د يو بدن د يو برخي څخه وينه ووتل او په تلو سره د هغه برخي څخه وبهېدل د كوم چي پريولل په اوداسه او غسل كي ضروري دي نو په هغه سره اودس ماتيږي ، دا حديث د امام صاحب د مذهب دليل دى ، د امام صاحب څخه پرته د نورو امامانو مذهب دادى كه چيري وينه د لويو بولو يو وړو بولو د ځاى څخه ووځي نو اودس ماتيږي ددې څخه پرته كه د بل ځاى څخه ووځي نو اودس نه ماتيږي .

حضرت دارقطني په دغه حديث كي كلام فرمايلى دى د هغه وينا داده چي عمر ابن عبدالعزيز د تميم داري څخه نه دى اوريدلى او نه يې هغه ليدلى دى ځكه نو دا حديث مرسل دى ، ددغه حديث دوه راويان يزيد بن خالد او يزيد بن محمد مجهول دي ، لكه چي د هغه مقصد ددې كلام څخه دادى چي په كوم حديث كي دا كلام وي هغه د امام صاحب د خپل مذهب دليل جوړول يو وزني خبره نه ده .

موږ ددې جواب دا وركوو چي حديث مرسل نه يوازي دا چي زموږ په نزد بلكه د جمهورو علماؤ په نزد هم دليل او حجت جوړيداى سي ، همداسي د يزيد ابن خالد او يزيد بن محمد د

---

[1] امير المؤمنين عمر ابن عبدالعزيز اموي يو مشهور خليفه دى ، نوموړى د رجب په مياشت كي په (۱۰۱هـ) كال كي وفات سوى دى .

[2] د نوموړي نوم تميم داري بن اوس الداري دى ، د هجرت په نهم كال په اسلام مشرف سو . د حضرت عثمان ؓ د شهادت څخه وروسته په شام كي وفات سو .

مجهول کېدو هم اختلاف دی ځینو حضراتو خو هغوئ مجهول ګرځولي دي لکه څرنګه چي دارقطني فرمايي مګر ځينو حضراتو هغوئ ته مجهول نه دي ويلي ، بيا ددې څخه قطع نظر د امام صاحب اصلي دليل خو دا حديث دی چي رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلی دی دی :

(من قاء او رعف او امذی في صلوته فلينصرف وليتوضا وليبن علی صلوته مالم يتکلم) .

ژباړه : که يو سړی په خپل لمانځه کي قی وکړي يا پر پزه يې وينه را ايله سوه يا مذي ځيني ووتل نو هغه ته پکار ده چي د لمانځه څخه ووځي او بيا اودس وکړي او تر څو پوري چي خبري ونه کړي پر هغه لمانځه دي بنا وکړي .

او په ابوداؤد کي هم ددغه مضمون حديث منقول دی ، نو ددې څخه معلومه سوه چي د لويو بولو او وړو بولو د ځايو څخه پرته د بدن د يو بلي برخي څخه هم کله چي وينه را ووځي نو اودس ماتيږي .

بَابُ اٰدَابِ الْخَلَاءِ

(د بيت الخلاء آداب)

ادب هغه شي ته وايي چي د هغه ذکر کول ښه او غوره دي ، که څه هم هغه شيان د عمل سره تعلق لري او که د قول سره، په دې باب کي هغه شيان ذکر کيږي د کوم تعلق چي د استنجاء د ادبونو سره دی يعني د هغه شيانو ذکر سوی دی چي د استنجاء په اړه ممنوع او مکروه دي او د هغه شيانو ذکر هم سوی دی چي په استنجاء کي مطلوب او مستحب دي .

﴿۳۰۷﴾ : وَعَنْ اَبِيْ اَيُّوْبَ الْاَنْصَارِيِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَتَيْتُمْ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلَا تَسْتَدْبِرُوهَا وَلَكِنْ شَرِّقُوا اَوْ غَرِّبُوا (متفق عليه) قَالَ الشَّيْخُ الاِمَام مُحْيِ السُّنَّةِ هٰذَا الْحَدِيْث فِي الصَّحْرَاءِ وَاَمَّا فِي الْبُنْيَانِ فَلَا بَاسَ لِمَا رُوِيَ عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ اَرْتَقَيْتُ فَوْقَ بَيْتِ حَفْصَةَ لِبَعْضِ

د حضرت ابوايوب[۱] الانصاري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي تاسو ډکو بولو ته ځئ نو مه د قبلې په لور مخ کوئ او مه شا کوئ بلکه لوېديځ يا ختيځ لوري ته مخ يا شا کوئ . (بخاري او مسلم) امام محي السنة فرمايي دا حکم د ځنګله دی او په ابادي کي ددې څه پروا نسته ځکه چي حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دی چي زه د يو ضرورت له کبله د بي بي حفصې د سرای بام

[۱] د نوموړي نوم خالد ابن زيد دی او کنيت يې ابو ايوب دی، په کال (۵۰هـ) يا (۵۱هـ) کي وفات سوی دی.

حَاجَتِيْ فَرَاَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْضِيْ حَاجَتَهُ مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ مُسْتَقْبِلَ الشَّامِ. متفق عليه.

ته ختلی وم ما رسول الله ﷺ پر قضاء حاجت ولیدی چي قبلې ته يې شا کړې وه او د شام په لوري يې مخ کړی وو. بخاري او مسلم.

تشریح: په حديث کي چي د طرف تاکنه سوې ده هغه د اهل مدينې په اعتبار دی يا د هغه خلکو لپاره دی چي په دغه طرف کي اوسيږي ځکه چي په مدينه کي قبله د جنوب خوا ته راځي نو هغوئ به د مشرق او مغرب طرف ته مخ او شا کوي ، زموږ هيوادونو او يا هغه هيوادونه چي په دې طرف کي واقع دي هغوئ ته د مشرق او مغرب طرف ته کيږي .

په هر حال په دې مسئله کي د علماؤ اختلاف دی زموږ امام صاحب خو فرمايي چي د لويو او وړو بولو په وخت کي قبلې ته مخ کول نه دي پکار كه څه هم ځنګل وي يا كور وي، او كه داسي وكړي نو د حرامو مرتكب به وي .

د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد قبلې ته مخ او شا کول په ځنګل کي حرام دي مګر په آبادۍ او کور کي حرام نه دي .

د امام اعظم رحمة الله عليه دليل دا لومړنی حديث دی چي د ابو ايوب ﷺ څخه منقول دی، په دې حديث کي قبلې ته د مخ او شا نه کولو حکم مطلقا دی په دې کي د ځنګل ،آباد او کور هيڅ قيد نسته نو کوم حکم چي د ځنګل وي هغه به د آبادۍ هم وي ، دا حديث نه يوازي دا چي د ابو ايوب ﷺ څخه منقول دي بلکه د صحابه کرامو يو لوی شمير د دې روايت کوي .

بيا د امام صاحب يو لوی دليل دا دی چي رسول الله ﷺ قبلې ته د مخ او شا نه کولو حکم د قبلې د تعظيم او احترام په خاطر کړی دی ځکه نو څرنګه چي په ځنګله کي د قبلې د تعظيم خيال ساتل پکار دي همداسي په کور کي هم د قبلې د احترام لحاظ کول به ضروري وي لکه څرنګه چي د قبلې په لور توکل او پښې غزول په هر ځای کي ممنوع دي .

امام محي السنة رحمة الله عليه چي د عبد الله ابن عمر ﷺ کوم حديث روايت کړی دی هغه د امام شافعي رحمة الله عليه دليل دی د حديث څخه معلومه سوه چي قبلې ته شا کول په کور کي جائز ده، موږ د دې په جواب کي دا وايو چي اول خو دا کيدای سي چي عبد الله ابن عمر ﷺ د رسول الله ﷺ په کور کي په بيت الخلاء کي د ننه قبلې ته شا او شام ته مخ کړی د دغه حکم د نفاذ څخه مخکي ليدلی وي نو دا حکم د لومړي لپاره ناسخ دی ، دوهم دا چي رسول الله ﷺ قبلې ته مخ کړی نه وي ناست بلکه رسول الله ﷺ په داسي انداز سره تاؤ سوی ناست وي چي په حقيقت

کي په قبلې ته يې شا نه وه او ظاهره ده چي د موقع د نزاکت په وجه عبدالله بن عمر ﷺ هلته په دربدو سره په غوره سره رسول الله ﷺ نه وي ليدلی بلکه کله چي هغه بام ته ختلی وي نو د هغه نظر ناڅاپه بيت الخلاء ته سوی وي ځکه نو په دې سرسري توګه سره عبدالله بن عمر ﷺ د رسول الله ﷺ د ناستي صحيح اندازه نه وي لګولې ، ددې حديث په اړه هر کله چي دا احتمال هم راوتلای سي نو بيا امام شافعي ته د خپل مذهب دليل لپاره د هغه مرسته اخيستل څه مناسب نه معلوميږي .

﴿۳۰۸﴾: وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ نَهَانَا يَعْنِيْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ لِغَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِالْيَمِينِ أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِأَقَلَّ مِنْ ثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِرَجِيعٍ أَوْ بِعَظْمٍ (رواه مسلم)

د حضرت سلمان[1] ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ منعه فرمايلې ده چي موږ د تشو يا ډکو بولو کولو په وخت مخ قبلې ته کړو او ددې څخه يې منعه فرمايلې ده چي موږ په راسته لاس استنجاء وکړو او د دې څخه يې منعه فرمايلې ده چي په درو لوټو کم استنجاء وکړو او ددې څخه يې منعه فرمايلې ده چي موږ په خوشايو او هډوکو سره استنجاء وکړو . مسلم .

تشريح : زموږ علماء فرمايي چي د لويو بولو يا وړو بولو کولو په وخت کي قبلې ته مخامخ ناسته مکروه تحريمي ده او په راسته لاس سره استنجاء کول مکروه تنزيهي ده لکه چي لومړنی نهي تحريمي او دوهمه نهي تنزيهي ده .

په دې خبره هم بايد پوه سو چي د استنجاء کولو په وخت کي د بولو د ځای سره د راسته لاس مبنلول پکار نه دي بلکه طريقه دا کېدل پکار دي چي لوټه په چپه لاس کي اخيستو سره په هغه د بولو ځای کښېږدي مګر په راسته نيولو سره دې يې نه ايږدي ځکه چي دا هم مکروه دي .

د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد په درو لوټو سره استنجاء کول واجب دي مګر زموږ امام صاحب فرمايي چي د استنجاء لپاره درې لوټي اخيستل شرط نه دي که د درو څخه په کم لوټو باندي پاکي تر لاسه سي نو دا هم کافي دي د هغوئ دليل د صحيح بخاري دا حديث دی چي عبدالله بن مسعود ﷺ وفرمايل رسول الله ﷺ بيت الخلاء ته تشريف يووړ او ما ته يې وفرمايل درې لوټي راوړه ، ما دوې لوټي پيدا کړې ځکه نو د هغو سره د پچو يوه ټوټه هم راوړل

[1] نوم يې سلمان فارسي او کنيت يې ابوعبدالله دی . په کال (۳۵هـ) کي د حضرت عثمان ﷺ د خلافت په آخري زمانه کي وفات سوی دی او ځينو ويلي دي چي د (۳۶هـ) کال په پيل کي وفات سوی دی .

نو رسول اللهﷺ هغه دواړي لوټي واخيستې او د پچو هغه ټوټه يې وغورځول.
د دې څخه معلومه سوه چي دوې لوټي هم د استنجاء لپاره كافي دي درې واجب نه دي مګر دومره خبره ضروري دي چي په دې اړه طاق عدد مستحب دى ځكه نو ددې خيال ساتل پكار دي.

﴿۳۰۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ يَقُوْلُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ. (متفق عليه)

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د ډكو (يا تشو) بولو ځاى ته داخلېدى نو دا دعاء به يې كوله (اللهم اني اعوذبك من الخبث والخبائث) اې الله زه د ناپاك نر او ښځو پيريانو څخه ستا پناه غواړم. بخاري او مسلم.

تشريح: د بيت الخلاء په آدابو كي دا هم دي چي هر كله يو سړى د ضرورت لپاره بيت الخلاء ته ځي نو د داخلېدو څخه مخكي هغه ته دغه دعاء ويل پكار ده، كه د ضرورت لپاره ځنګل يا صحراء ته ولاړ سي نو د عين ارادې وخت هر كله چي لمن وغيره را پورته كړي او كښېني نو هغه وخت دغه دعاوي ويل پكار دي.

﴿۳۱۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَرَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَبْرَيْنِ فَقَالَ إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ أَمَّا أَحَدُهُمَا فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ لَا يَسْتَنْزِهُ مِنَ الْبَوْلِ وَأَمَّا الْآخَرُ فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ ثُمَّ أَخَذَ جَرِيْدَةً رَطْبَةً فَشَقَّهَا بِنِصْفَيْنِ ثُمَّ غَرَزَ فِي كُلِّ قَبْرٍ وَاحِدَةً قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لِمَ صَنَعْتَ هٰذَا فَقَالَ لَعَلَّهُ أَنْ يُخَفَّفُ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا. (متفق عليه)

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د دوو قبرونو په خوا كي تيرېدى نو رسول الله ﷺ وفرمايل دغه دواړو قبرو والا ته عذاب وركول كيږي او په يو لويه خبره نه بلكه په دوئ كي به يوه د تشو بولو څخه احتياط نه كاوه او دوهم چغل خور وو، بيا رسول الله ﷺ د (خرما) يوه لنده لښته راواخيستل او په منځ كي يې پرې كړه او دوې برخي يې كړل او يوه يوه يې پر دواړو قبرونو ښخه كړل، صحابه كرامو پوښتنه وكړه اې دالله رسوله! دا مو د څه لپاره وكړل؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: كېداى سي په دې عمل سره تر څو چي دا لښتي وچي نه سي د هغوئ په عذاب كي كمي راسي. بخاري او مسلم

تشريح: د مسلم د الفاظو په مناسبت ددې مطلب به دا وي چي لومړى سړى چي پر هغه د قبر عذاب نازليدى هغه كس وو چي د بولو څخه يې ځان نه ساتى، يعني د بولو كولو په وخت به يې

ددې خبرې احتياط نه كوی چې څاڅكي پر هغه ونه لګيږي ، او په دوهم روايت كې د (لا يستبرى) الفاظ دي چې مطلب يې دادی چې هغه سړي به د بولو څخه پاكي نه تر لاسه كول، او په يوه روايت كې (لا يستنتر) الفاظ دي او د استنار معنا د خاص اندام (ذكر) په زور سره څنډل يا راكشول چې د بولو كوم څاڅكي د ننه پاته سوي وي هغه راووځي ، نو داسې معنا به وي چې هغه سړي د بولو د ځای په څنډلو سره د بولو څاڅكي نه ايستل ، په هر حال ددې ټولو الفاظو په مفهوم كې څه فرق نسته چې هغه د بولو څخه پاكي او صفائي نه تر لاسه كول او د بولو څخه پاكي نه حاصلول ګناه كبيره او د لمانځه د باطل كېدو سبب دی ځكه هغه د الله تعالى په عذاب كې ونيول سو .

په دې اړه يو خاص خبره ضروري ده چې د ځينو خلكو په ذهن كې دا غلط او ګمراه كونكى خيال پيدا سوی دی چې د رسول الله ﷺ په اړه دا ثابته نه ده چې په لوټه سره به يې وړې بولې وچولې ، ځكه نو هر سړي ته پكار ده چې د وړو بولو څخه وروسته د لوټې استعمال ونه كړي دا ډيره د ګمراهۍ او كم عقلۍ خبره ده كه د يو سړي مزاج دومره قوي او مضبوط وي او هغه ته ددې خبرې يقين وي چې د وړو بولو څخه د فارغه كېدو وروسته به څاڅكي نه راځي نو د هغه لپاره دا كافي ده چې هغه يوازې په اوبو سره استنجاء وكړي د لوټې استعمال به د هغه لپاره ضروري نه وي او د چا څاڅكي چې تر ډيره وخته پوري راځي څرنګه چې زيات وخت داسې كيږي نو بيا كه چيرې هغه د لوټې استعمال ونه كړي يوازې په اوبو سره پاكي كوي نو د هغه پرتوګ وغيره به ناپاک وي .

او كوم چې د رسول الله ﷺ د مبارک ذات سوال دی نو ددې په اړه دا عرض دې چې د رسول الله ﷺ مزاج مبارک مضبوط او قوي او انتهائي طاقتور وو ځكه نو رسول الله ﷺ به د لوټې استعمال نه كوی يوازې په اوبو سره به يې استنجاء كول .

دوهم دا چې هغه فعل چې د رسول الله ﷺ څخه په خپله ثابت نه وي مګر د هغه كول د يو وجهې څخه مطلوب او ضروري وي نو هغه په دې ويلو سره ناقابل اعتناء نسي ګرځيدلای چې دا فعل رسول الله ﷺ څخه ثابت نه دی ځكه نو موږ هم داسې نه كوو ، مثلا رسول الله ﷺ فصد (رګ وهل) نه دي كړي اوس كه بل چا ته د فصد حاجت وي نو هغه دا وواېي چې رسول الله ﷺ فصد نه دی كړی ځكه نو زه هم فصد نه كوم نو ظاهره ده چې دا خبره به د هغه لپاره تاواني وي .

په هر حال مقصد دادی چې نظر د شارع (شريعت ښودلو والا) پر غرض كېدل پكار دی او

دا كتل پكار دی چي د شارع اصل مقصد څه دی او هغه ښكاره ده چي پاكي ده چي د هغه موږ ته تاكيد سوی دی ځكه نو موږ ته پاكي حاصلول پكار دی كه هغه په هر ډول حاصله سي يا په اوبو سره او يا په لوټه سره، ددا ډول بې هوده احتمالاتو را ايستلو سره او غلطه حيله او بهانه كولو سره خپل جامې چټلول او په نجاست كي ځان ملوث كول ډيره غلطه او د ګمراهۍ خبره ده ، د بولو څخه د ځان ساتني او د هغه څخه د احتياط كولو څومره ارزښت دی ددې اندازه د رسول الله ﷺ ددې ارشاد څخه كيدای سي چي :

رسول الله ﷺ وفرمايل : د قبر عذاب اكثر د وړو بولو په وجه وي ځكه ددې څخه پاكي تر لاسه كوئ، يا داسي يې وفرمايل : د وړو بولو څخه پرهيز كوئ ځكه چي هغه د هغه شي اول دی چي د هغه پوجه بنده په قبر كي د حساب په سختۍ كي اخته وي . طبراني .

بيا ددې څخه پرته يو شی دا هم دی چي د حضرت عمر فاروق ﷺ په اړه ثابت دي چي هغه به د وړو بولو څخه وروسته لوټه استعمالول او ظاهره ده چي د صحابي فعل حجت دی ځكه رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلی دی چي زما سنت لازم ونيسئ او د خلفاء راشدينو سنت هم لازم ونيسئ .

د حضرت عمر ﷺ په اړه په مصنف ابن ابي شيبه كي منقول دي چي :

(عن ابوبكر عن يسار بن غير كان عمر اذا بال مسحه ذكره بحائط او حجر لم يمسه ماء)

ژباړه : حضرت عمر فاروق ﷺ چي به بولي وكړې نو خپل خاص اندام به يې پر ديوال يا ډبره باندي ګرځوی او پر هغه به يې اوبه هم نه اچولې .

حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمة الله عليه فرمايي په دې مسئله كي چي د بولو څخه وروسته لوټه استعمالول پكار دي د اهل سنت اتفاق او اجماع ده ، والله اعلم .

د نميمة معنا ده چغل خوري، يعني يو سړی د داسي دوو خلكو خبره چي د هغوئ په خپل مينځ كي دښمني وي يو بل ته د فساد خپرولو لپاره ورسوي يا يو سړی په خلكو كي دښمني پيدا كړي داسي چي د يوه خبره دوهم ته په قسم، ښكنځلو يا داسي نور انداز سره نقل كړي چي په هغه سره اشتعال پيدا سي . امام نووي رحمة الله عليه فرمايي چي د نميمة معنا داده چي د يو چا خبره دوهم سړي ته د تاوان لپاره نقل كړل سي ، په هر حال نن سبا په عرف كي چي هغه ته چغل خوري وايي دغه معنا د نميمة ده، چغل خوري چي انساني او اخلاقي نظر سره ډير بدترين او بد خصلت دی ځكه اسلام هم چغل خور ته ډير د نفرت په سترګه ګوري، او چغل خوري يو بده خرابي ګڼي ،

په صحيحين كي منقول دي چي چغل خور به جنت ته نه داخليږي .

د حضرت عمر فاروق ﷺ په اړه منقول دي چي هغه يو وار د كعب احبار څخه چي يو لوى يهودي عالم وو او وروسته يې اسلام راوړ پوښتنه وكړه چي تا په تورات كي تر ټولو لويه ګناه كومه ويلې ده ، هغه جواب وركړ چي چغل خوري، حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل : ايا دا ګناه د قتل څخه هم زياته هيبت ناكه ده ، هغه وويل قتل هم په چغل خوري سره كيږي او نوري خرابې هم ددې څخه پيدا كيږي.، د حديث په پاى كي دا فرمايل سوي دي چي رسول الله ﷺ د خرما دوه لانده ښاخونه اخيستلو سره هغه دوې ټوټې كړه او يوه يوه ټوټه يې پر هغه دواړو قبرونو ښخه كړل، بيا د صحابه كرامو پر پوښتنه رسول الله ﷺ د هغه وجه دا وفرمايل چي تر څو پوري دا ښانوخه لانده وي تر هغه وخته شايد د دوئ په عذاب كي څه تخفيف وسي ، د عذاب د تخفيف سبب علماء دا ليكي چي رسول الله ﷺ په خپل روحاني سترګو سره لېدل چي هغوئ د الله تعالى په عذاب كي اخته دي نو د رسول الله ﷺ شان رحمت هغه ونه زغمل ، د الله تعالى په دربار كي هغه د رحم او كرم درخواست وكړ ، او غفور الرحيم ذات هم د خپل حبيب خواست قبوليت سره وناوى او فيصله يې وكړه چي تر څو پوري پر هغوئ ښخ سوي ښاخونه وچ نسي تر هغه وخته پوري به د دواړو په عذاب كي كمي وي.

د دې وضاحت هم په يو روايت كي موجود دى چي مسلم نقل كړي دى او د هغه آخري الفاظ دادي چي الله تعالى زما شفاقت قبول فرمايلى دى چي تر څو پوري دا ښاخونه لانده وي هغوئ به په عذاب كي نه وي .

په هر حال په څرګنده خو ددې سبب دا معلوميږي چي د هغه تصديق هم د مسلم ددې حديث څخه كيږي ، علماء ددې څخه پرته هم ډير اسباب ليكلي دي چي په نورو كتابونو او شرحو كي په وضاحت سره منقول دي ، د كرماني رحمة الله عليه قول دى چي د عذاب د تخفيف سبب هغه لانده ښاخونه وه چي په هغه كي ددفع عذاب خاصيت وو، مګر دا خاصيت د هغه بنفسه نه وو بلكه دا خاصيت د رسول الله ﷺ د لاس مبارك د بركت په وجه حاصل سوى وو، ددې حديث څخه هم معلومه سوه چي علماء او صلحاء د الله تعالى نيك بندګانو ته پكار دي چي هغوئ قبرونو ته ځي چي د هغوئ په وجه د اهل قبر په عذاب كي تخفيف وي ځكه چي د صالحينو قبرو ته تلل د مړو په عذاب كي د تخفيف باعث كيږي .

﴿۳۱۱﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّقُوا اللَّعَّانَيْنِ قَالُوا وَمَا اللَّعَّانَانِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ الَّذِي يَتَخَلَّى فِي طَرِيقِ النَّاسِ أَوْ فِي ظِلِّهِمْ (رواه مسلم)

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د دوو شيانو څخه ځان ژغورئ چي د لعنت سبب دی ، صحابه كرامو پوښتنه وكړه اې دالله رسوله ! هغه څه شي دي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ۱: يو خو دا چي هيڅوك دي د خلكو په لاره كي د حاجت لپاره نه كښيني. ۲: او دوهم دا چي د خلكو د سايې په ځاى كي . مسلم .

تشريح : علماؤ ددې ارشاد دا وضاحت كړى دى چي د لاري څخه مراد عامه لار ده يعني داسي لار او داسي سړک وغيره چي پر هغه اكثر خلک ګرځي دلته هغه لار مراد نه ده چي ورانه وي يا كله كله پر هغه د خلكو تګ راتګ وي .

د سايې څخه مراد هغه سايه داره درخته ده يا سايوان دی چي د هغه لاندي خلک كښيني او ولاړيږي يا هغه د خلكو د ښېده كېدو ځاى وي ، په هر حال پر دغه دواړو ځايونو باندي په لوى بولو كولو سره د ګندګۍ او چټلۍ خپرېدو څخه منعه سوې ده ځكه چي په دې سره مخلوق خدا ته تكليف رسيږي او ظاهره ده چي د يو مؤمن او مسلمان د شان څخه دا ليري خبره ده چي هغه د يو چا د پريشانۍ او تكليف سبب جوړ سي .

﴿۳۱۲﴾ : وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا شَرِبَ احَدُكُمْ فَلاَ يَتَنَفَّسَ فِيْ الْإِنَاءِ وَإِذَا اَتَى الْخَلاَءِ فَلاَ يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ وَ لاَ يَتَمسحه بِيَمِيْنِهِ (متفق عليه)

د حضرت ابوقتادة[1] ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي په تاسو كي يو څوك اوبه څښي نو په هغه لوښي كي دي ساه نه كاږي ، او هر كله چي د حاجت ځاى ته ورزي نو خپل په راسته لاس سره دي خپل خاص اندام ته لاس نه ور وړي او نه دي په راسته لاس سره استنجاء كوي . بخاري او مسلم .

تشريح : په دې حديث كي دوه ادبونه ښودل كيږي ، لومړى شى خو دا ښودل كيږي چي هر كله سړى اوبه څښي نو هغه ته پكار ده چي د اوبو څښلو په دوران كي په هغه لوښي كي ساه ونه كاږي چي د هغه څخه اوبه څښي ، كله چي ساه كاږي نو د لوښي څخه دي خوله راوباسي چي د خولې يا پزي څخه د يو شي په وتلو سره په اوبو كي ونه لويږي .

[1] د نوموړي نوم حارث بن ربعي دی ، نوموړي انصاري او خزرجي دی او د ابوقتاده په كنيت سره مشهور دی .

دوهم شی دا ښودل سو ی دی چي کوم سړی بیت الخلاء ته ځي نو هغه ته پکار ده چي په خپل راسته لاس سره نه خو خپل خاص اندام مس کړي او نه په راسته لاس سره استنجاء کوي ځکه چي په راسته لاس سره خوراک کول وغیره کیږي او دا شی د صفائي او پاکۍ خلاف دی چي په کوم لاس سره خوراک وغیره خوري په هغه لاس سره دي داسي عضو مس کړي چي پر هغه ګندګي او مرداري موښلي.

﴿۳۱۳﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ وَمَنْ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ . (متفق عليه)	د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي اودس كوي نو پزه دي هم سوڼ كړي او څوك چي د حاجت څخه وروسته په لوټه سره استنجاء كوي نو هغه ته پكار ده چي په طاقو لوټو سره يې وكړي . بخاري او مسلم
﴿۳۱۴﴾ : وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْخَلَاءَ فَأَحْمِلُ أَنَا وَغُلَامٌ إِدَاوَةً مِنْ مَاءٍ وَعَنَزَةً فَيَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ (متفق عليه)	د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به كله بيت الخلاء ته تلی نو ما او يوهلك به د اوبو لوښي او يوه برچه ورسره وړل ، رسول الله ﷺ به په اوبو سره استنجاء كول (او برچه به د لوټو ماتولو لپاره وه) .بخاري او مسلم.

تشريح : د رسول الله ﷺ عادت مبارک دا وو چي کله به بيت الخلاء ته تلی نو يو خادم به د اوبو لوښی وړی او دوهم خادم به نيزه د ځان سره اخيستل ، نيزه ددې لپاره چي په هغه ځمکه د کښېنلو سره نرمه سي چي تشي بولي په هغه کي وکړي چي د هغه په وجه څاڅکي ونه غورځيږي يا پر ځمکه باندي په ښهېدلو سره پښو وغيره ته د غورځېدلو بيره پاته نسي . دوهم مقصد دا وو چي د ضرورت په وخت په نيزه سره لوټي راوکاږي او ماتي کړل سي يا دا چي هغه وخت که يو بل ضرورت پيدا سي چي د هغه ضرورت سي نو پکار يې واچوي .

الفصل الثاني

﴿۳۱۵﴾ :عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ نَزَعَ خَاتَمَهُ . رواه أبو داود والنسائي والترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح غريب . وقال أبو داود هذا حديث	د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به كله بيت الخلاء ته د تلو اراده وكړه نو خپله ګوتمۍ به يې وكښېښل (ځكه چي پر هغې د محمدرسول الله ﷺ نقش وو) .(ابوداؤد ، نسائي.

منكر . وفي روايته وَضَعَ بَدَلَ نَزَعَ .

ترمذي) او ترمذي ويلي دي چي دا حديث حسن صحيح غريب دی ، ابوداؤد ويلي دي دا حديث منكر دی په دې روايت كې د (نزع) پر ځای (وضع) دی .

تشريح : بيت الخلاء ته د داخلېدو پر وخت به رسول الله ﷺ گوتمۍ ځكه كښل چي په هغه كي محمدرسول الله ليكل سوي وه ، دا حديث ددې خبري دليل دی چي استنجاء كونكی باندي واجب دي چي كله د لويو يا تشو بولو ځای ته ځي نو د ځان سره دي داسي شيان نه وړي چي پر هغه د الله او د هغه د رسول نوم نقش وي او قرآن كريم دي هم نه وړي . طيبي .

بهري رحمة الله عليه تر دې پوري ويلي دي كه يوازي د نورو رسولانو نومونه ليكلي وي نو هغه دي هم د ځان سره بيت الخلاء ته نه وړي ، ابن حجر رحمة الله عليه فرمايي چي ددې حديث څخه دا معلومه سوه چي هر كله يو سړی د استنجاء اراده وكړي نو هغه لپاره مستحب دي چي هغه د خپل بدن څخه داسي شيان ليري كړي يا بيل كړي چي پر هغه يو د تعظيم وړ شي ليكلی وي كه هغه د الله تعالى نوم ليكلی وي يا نبي يا د ملائكو نوم ليكلی وي .

كه څه هم په دې حديث كي ابوداؤد كلام كړی دی ، مگر علماء ليكي چي دا حديث د وكيل په توگه وړاندي كېږي په دې اړه ملا علي قاري يو مفصل بحث كړی دی او دا حديث په جامع صغير كي هم د حاكم وغيره څخه منقول دی .

﴿۳۱۶﴾ : وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ الْبَرَازَ انْطَلَقَ حَتَّى لاَ يَرَاهُ أَحَدٌ . رواه أبو داود .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي كله به رسول الله ﷺ بيت الخلاء ته د تللو اراده وكړه نو داسي ځای ته به يې تشريف يووړ چي دی مبارك به چا نه ليدی . ابوداؤد .

﴿۳۱۷﴾ : وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَأَرَادَ أَنْ يَبُوْلَ فَأَتٰى دَمِثًا فِيْ أَصْلِ جِدَارٍ فَبَالَ ثُمَّ قَالَ إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَّبُوْلَ فَلْيَرْتَدْ لِبَوْلِهِ . رواه أبو داود .

د حضرت ابوموسى ﷺ څخه روايت دی چي زه يوه ورځ د نبي كريم ﷺ سره ملگری وم نو رسول الله ﷺ د تشو بولو كولو اراده وكړل ، رسول الله ﷺ نرمي مځكي ته ورغلی او د ديوال سره كښېنستی تشي بولي يې وكړې بيا يې وفرمايل هر كله چي په تاسو كي يو څوك د تشو بولو كولو اراده وكړي نو نرمه مځكه و لټوئ چي څاڅكي راپورته نه سي . ابوداؤد .

تشريح : خطابي رحمة الله عليه فرمائي چي رسول الله ﷺ د كوم ديوال په بيخ كي په ناسته سره

تشي بولي وکړي هغه به د چا په ملکیت کي نه وو ځکه چي د دیوال په بیخ کي تشي بولي کول د دیوال د تاوان سبب کیږي په هغه سره د دیوال خاورو ته لندبل لګیږي، ځکه نو دا مسئله ده چي د کوم دیوال د چا ملکیت وي د هغه لاندي په ناسته سره د مالک د اجازې څخه پرته تشي کول نه دي پکار، اوس په دې کي وسعت دی چي اجازه که څه حقیقتا وي او که حکما.

﴿۳۱۸﴾ :وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ الْحَاجَةَ لَمْ يَرْفَعْ ثَوْبَهُ حَتَّى يَدْنُوَ مِنَ الْأَرْضِ . (رواه الترمذي و ابوداؤد)

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ د تشو یا ډکو بولو کولو اراده وکړه نو تر څو پوري چي به مځکي ته نژدي نه وو رسیدلی نو جامې به یې نه پورته کولې. ترمذي او ابوداؤد.

تشریح : دا هم د استنجاء د ادب او د شرم او حیاء غوښتنه ده چي پرته د ضرورت څخه ستر ښکاره نه کړي او ظاهره ده چي ضرورت هلته وي چي د استنجاء لپاره د ناستي په وخت مځکي ته بالکل قریب سي ، د رسول الله ﷺ دا معمول وو چي تر څو پوري به د ناستي په وخت کي مځکي ته بالکل متصل نه سو جامه به یې نه پورته کول .

دا مسئله ده چي د ناستي څخه مخکي یعني په ولاړه ولاړه سره ستر خلاصول جائز نه دي که څه هم د کور په بیت الخلاء کي د دننه ضرورت کول وي یا په ځنګل وغیره کي .

﴿۳۱۹﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ مِثْلُ الْوَالِدِ لِوَلَدِهِ أُعَلِّمُكُمْ إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلاَ تَسْتَدْبِرُوْهَا وَأَمَرَ بِثَلاَثَةِ أَحْجَارٍ وَنَهٰى عَنِ الرَّوْثِ وَالرِّمَّةِ وَنَهٰى أَنْ يَّسْتَطِيْبَ الرَّجُلُ بِيَمِيْنِهِ . رواه ابن ماجه والدارمي .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زه ستاسو لپاره داسي یم لکه پلار چي د زوی لپاره وي نو زه تاسو ته ښیم هر کله چي تاسو ډکو بولو ته ولاړ سئ نو د قبلې په لور مخ مه کوئ او مه شا کوئ او رسول الله ﷺ حکم وکړ چي د ډکو بولو وروسته په درو لوټو سره پاکوئ او په خوشایو او هډوکو سره استنجاء کولو څخه یې منعه فرمایلې ده او په راسته لاس استنجاء کولو څخه یې هم منعه فرمایلې ده . ابن ماجه او دارمي .

تشریح : ددې حدیث څخه په ډاګه دا معلومیږي چي د دین په امورو او د تذکرې او نصیحت په اړه د خپل امت سره د رسول الله ﷺ څومره تعلق وو ، چي خپل ځان یې د پلار او امت یې د اولاد په ډول وګرځوی ، همداسي د حدیث څخه معلومیږي چي پر اولاد د پلار اطاعت کول لازم دي او پر پلار باندي دا واجب دي چي هغه خپل اولاد ته د هغه شیانو ادبونه وښیي کوم چي د دین د

ضروریاتو څخه دي.

﴿۳۲۰﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَتْ يَدُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيُمْنٰى لِطُهُوْرِهِ وَطَعَامِهِ وَكَانَتْ يَدُهُ الْيُسْرٰى لِخَلَائِهِ وَمَا كَانَ مِنْ أَذًى . رواه أبو داود .

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به په راسته لاس اودس کاوه او د ډوډۍ په خوړلو کي به یې استعمالوی او په چپه لاس به یې استنجاء کول او د مکروه شیانو د کار لپاره یې استعمالوی. ابوداؤد،

تشریح : رسول الله ﷺ په راسته لاس سره اودس کوی او په هغه سره یې خوراک هم کوی ،دغه پرته نور ثومره ښه کارونه چي دي ټول یې په راسته لاس سره کول ، مثلاً هدیه ، صدقه او خیرات کول یا نور شیان اخیستل او ورکول او داسي نور . او په چپه لاس به یې استنجاء کول یا داسي شیان به یې کول چي د هغو استعمال به مکروه وو یعني داشي شیان چي طبعاً مکروه دي لکه پزه سوڼ کول یا داسي نور شیان چي هغه نفس مکروه ګڼي .

د دې حدیث څخه په ښکاره دا مفهوم اخیستل کیږي چي د اواسه وغیره په وخت کي به رسول الله ﷺ پزه ته په راسته لاس سره اوبه اچولې او پزه به یې په چپه لاس سره صفا کول ، مګر افسوس ځرنګه چي په نن زمانه کي د عقل او دین څخه بېګانه خلکو نور اسلامي شیان پرېښودل او دیني آدب یې د فیشن پرستۍ نذر کړي دي ، همداسي په دې اړه کي هم اکثر خلک بالکل برعکس عمل اختیاروي مثلاً نن سبا دا یو لوی مرض په عامه توګه په خلکو کي زیات سرایت کړی دی چي کتاب خو خلک په چپه لاس کي ایږدي او خپل چمپل په راسته سره پورته کوي . او ددې څخه پرته نور څه ویل کیدای سي چي یا خو دا خلک د شریعت د آدابو څخه ناخبر دي یا د نفس په ګمراهۍ کي په لوېدو سره غفلت یې اختیار کړی دی .

﴿۳۲۱﴾ :وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ذَهَبَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْغَائِطِ فَلْيَذْهَبْ مَعَهُ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ يَسْتَطِيْبُ بِهِنَّ فَإِنَّهَا تُجْزِئُ عَنْهُ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي والدارمي .

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي : هر کله چي په تاسو کي یو څوک بیت الخلاء ته ځي نو د ځان سره دې درې ډبري یوسي چي په دې سره استنجاء وکړي دا بس دي (یعني د اوبو ضرورت نه پاته کیږي) احمد.ابوداؤد،نسائي او دارمي

اصل مقصد خو د نجاست څخه پاکي تر لاسه کول دی او هر کله چي په درو لوټو سره استنجاء وکړي او نجاست صاف کړي نو په اوبو سره د استنجاء ضرورت نه پاته کیږي ځکه چي اصل

طهارت په دې سره تر لاسه كيږي چې په هغه سره لمونځ كول هم جائز كيږي مگر په لوټو سره د استنجاء كولو څخه وروسته په اوبو سره دې هم استنجاء وكړي نو دا به ښه خبره وي ځكه چې په اوبو سره استنجاء كول مستحب ده.

﴿۳۲۲﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسْتَنْجُوا بِالرَّوْثِ وَلَا بِالْعِظَامِ فَإِنَّهُ زَادُ إِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِّ. رواه الترمذي والنسائي الا انه لم يذكر زاد اخوانكم من الجن.

د حضرت ابن مسعود ﷛ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په خوشايو او هډوكو سره استنجاء مه كوئ ځكه چې دا شيان ستاسو د پيريانو وروڼو خوراك دى. ترمذي.

تشريح: څرنگه چې د شريعت محمدي مخاطب انسان دى همداسې جنات (پيريان) هم دي، ځكه نو رسول الله ﷺ چې څرنگه د انسانانو دنيوي او ديني رهبري فرمايي همداسې د جناتو ديني او دنيوي امورو هم رعايت كوي، ددې حديث په ذريعه انسان خبروي چې په خوشائي او هډوكو سره دې استنجاء نه كيږي ځكه چې هډوكي د جناتو غذا ده او خوشائي د هغوئ د حيوانانو خوراک دي.

﴿۳۲۳﴾: وَعَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا رُوَيْفِعُ لَعَلَّ الْحَيَاةَ سَتَطُوْلُ بِكَ بَعْدِيْ فَأَخْبِرِ النَّاسَ أَنَّ مَنْ عَقَدَ لِحْيَتَهُ أَوْ تَقَلَّدَ وَتَرًا أَوِ اسْتَنْجٰى بِرَجِيْعِ دَابَّةٍ أَوْ عَظْمٍ فَإِنَّ مُحَمَّدًا بَرِيْءٌ مِّنْهُ. رواه أبو داود.

د حضرت رويفع[1] بن ثابت ﷛ څخه روايت دى چې ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل: اې رويفع! كيداى سي ستا ژوند زما وروسته اوږد وي نوخلكو ته ووايه كوم څوك چې ږيري ته غوټه وركړي يا يې په غاړه كي پړى واچوى يا يې د حيوان په نجاست يا هډوكو سره استنجاء وكړل نو محمد ﷺ د هغه څخه بيزاره دى. ابوداؤد.

تشريح: د نبي كريم ﷺ حضرت رويفع په دغه انداز سره مخاطب كولو معنا داده چې كيداى سي زما د وفات څخه وروسته ستا ژوند اوږد وي او ته نور خلک په معصيت او او د جاهليت په رسمونو كي اخته ويني نو ددغه خبرو څخه هغوئ خبرداره كړه.

ږيري ته د غوټې وركولو څه معنا ده؟ اكثر علماء دا ليكي چې ږيري ته غوټه وركول دا دي چې يو سړى په تدابير او تكليف اختيارولو سره مثلا غوټه وغيره لگولو سره د ږيري وريښتان ولول جوړ كړي نو د داسې كولو څخه منعه سوې ده ځكه چې په دې سره د سنت مخالفت

[1] رويفع بن ثابت بن سكن بن عدي بن حارثه بن مالك بن نجار څخه دى. او د اهل مصر څخه شميرل كيږي.

لازمیږي، د ږیري وربښتان سیده ساتل سنت دي .

ځینو علماؤ ددې معنا دا هم لیکلې ده چې د جاهلیت په زمانه کي د خلکو دا عادت وو چې د جنګ په وخت کي به یې د خپل ږیري وربښتان غوټه کول ځکه نو ددې څخه منعه وفرمایل سول، ځکه چې په دې سره د ښځو سره مشابهت پیدا کیږي، ځینو علماؤ دا معنا هم لیکلې ده چې دا عجمیانو عادت وو چې ږیره به یې غوټه کول ځکه نو ددې څخه منعه وکړل سول چې په داسي کولو سره په خلقت الهي کي تغیر لازمیږي . والله اعلم .

د تړلو د لفظ څو معناوي دي یا خو ددې معنا د ځرخولو ده چې د جاهلیت په زمانه کي خلکو به د نظر د دفع او آفات څخه د ساتني لپاره تعویذ او کوډو او نورو شیانو په تړلو سره به یې د ماشومانو او آسونو په غاړه کي اچول ، ددې څخه منعه فرمایل سوې ده ، ځیني علماؤ لیکلي دي چې ددې څخه ډوری مراد ده چې په هغه کي به کفارو ګینټي او پازیب تړلو سره زړول، یا ددې څخه د لیندۍ هغه ژۍ مراد دی چې د آسونو په غاړه کي اچول کیږي چې نظر نه سي، په هر حال د دې ټولو رواجونو څخه رسول الله ﷺ منعه وفرمایل ځکه چې په دې سره د کفارو مشابهت پیدا کیږي او رسول الله ﷺ د کفارو دمشابهت څخه بیزاره دی ، ددې حدیث څخه معلومه سوه چې هر کله د کفارو داسي کوچني کوچني رواجونه اختیارول په ګناه کبیره کي شامل نه دي بلکه د رسول الله ﷺ د بیزارۍ او نارضۍ سبب دی ، نو د کفر هغه لوی لوی رسمونه چې هغه په بدبختانه ډول سره نن سبا په مسلمانانو کي رواج دي او د هغو شمیر په ګناه کبیره کي کیږي د هغه سره به د رسول الله ﷺ څومره زیات نفرت وي او د هغه رسم کونکو به د الله تعالی په نزد څه پای وي .

﴿۳۲۴﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اكْتَحَلَ فَلْيُوْتِرْ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لاَّ فَلاَ حَرَجَ وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوْتِرْ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لاَّ فَلاَ حَرَجَ وَمَنْ أَكَلَ فَمَا تَخَلَّلَ فَلْيَلْفِظْ وَمَا لاَكَ بِلِسَانِهِ فَلْيَبْتَلِعْ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لاَّ فَلاَ حَرَجَ وَمَنْ أَتَى الْغَائِطَ فَلْيَسْتَتِرْ وَمَنْ لَّمْ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چې سترګي توروي نو په طاقو سلایانو دي یې توروي چا چې دا عمل وکړ نو ښه یې وکړه او که یې نه وکړل نو څه ګناه نسته او څوک چې د استنجاء لپاره لوټي استعمالوي نو طاقي لوټي دې واخلي چا چې دا عمل وکړ نو ښه یې وکړه او که یې نه وکړه نو څه ګناه نسته او څوک چې یو شی وخوري نو خلال دي وکړي او کوم شی چې په خلال کي

يَجِدْ إِلاَّ أَنْ يَّجْمَعَ كَثِيْبًا مِّنْ رَّمْلٍ فَلْيَسْتَدْبِرْهُ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَلْعَبُ بِمَقَاعِدِ بَنِيْ آدَمَ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لاَّ فَلاَ حَرَجَ . رواه أبو داود وابن ماجه والدارمي .

راووزي هغه دي وغورزوي او کوم شی چي په ژبه سره راوکاږي نو هغه دي تیر کړي چا چي دا عمل وکړ نو ښه یې وکړه او چا چي ونه کړل نو څه گناه نسته ، او هر څوک چي راسي ځای د ضرورت د اودس ماتي ته نو ځان دي پټ کړي که شی یې پیدا نکړی نو راټولي دي کړي کوټه د شگو نو شا دي کړي هغه ته ځکه چي شیطان لوبي کوي د شرمگاه د بني آدم سره هر چا چي وکړ دا کار نو ښه یې وکړه او هر چا چي ونه کړ نو گناه نسته . ابوداؤد ، ابن ماجه او دارمي .

تشریح : په طاق سلایانو باندي د رانجه لگولو مطلب دادی چي درې سلایان په یوه سترگه کي ولگوي نو ډیره غوره ده، ځکه چي د رسول الله ﷺ په اړه هم داسي منقول دي چي د رسول الله ﷺ سره یوه رنجه دانۍ وه او په هغه سره به ده مبارک داسي رانجه لگول چي درې سلایان په یوه سترگه کي او درې سلایان به یې په بله سترگه کي لگول .

ځینو دا طریقه هم بیان کړې ده چي درې سلایان په راسته سترگه کي ولگوي او دوه سلایان په چپه سترگه کي، ځینو حضرات دا هم ویلي دي چي اول دي دوه سلایان په راسته سترگه کي ولگوي او دوه سلایان دي په چپه سترگه کي ولگوي او ددې وروسته بیا یو سلائي په راسته سترگه کي ولگوي ددې لپاره چي پیل هم په راسته سترگه وسي او ختم هم پر راسته سترگه وسي ، کوم څوک چي درې سلایان لگوي نو د هغه لپاره دا غوره ده او کوم څوک چي طاق سلایان نه لگوي نو د هغه لپاره هیڅ پرواه او گناه نسته ځکه د طاقو سلایانو کېدل مستحب دي .

رسول الله ﷺ چي په درو لوټو سره د استنجاء کولو په اړه فرمایلي دي چي چا داسي وکړه نو ښه یې وکړه او چا چي ونه کړه نو څه گناه نسته ، د دې څخه د حنفیه د مذهب تائید کیږي چي درې یا طاق لوټي اخیستل واجب نه دي د دې څخه کم او زیات هم اخیستلای سي مگر طاق لوټي اخیستل مستحب دي ، د خوراک څخه وروسته په خوله کي د پاته سوي شي را ایستل او د هغه غورځول یې غوره گڼلي دي او په ژبه سره د را یستلو شیانو د پاره ویل سوي دي د دې لپاره چي د خلال په وخت کي اکثر ویني هم راوځي د دې لپاره احتیاطا د هغه غورځول غوره دي د ژبي څخه څرنگه چي د ویني وتلو احتمال نه وي ددې لپاره د هغه را کښلو کي هیڅ پرواه نسته .

دا خبره بايد په ياد وي چي په دې اړه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي چا داسي ونه کړل نو څه ګناه نسته ، نو دا به حکم په داسي صورت کي وي کله چي د ويني وتلو يقين نه وي بلکه احتمال وي که چيري د ويني وتلو يقين وي نو بيا په خلال کي د هر ډول وتلي شي تېرول حرام وي او د هغه غورځول به واجب وي .

د حديث په پاى کي فرمايل سوي دي چي کله يو څوک بيت الخلاء ته ولاړ سي نو د ضرورت حاجت په وخت کي هغه ته په پرده سره کښېنستل پکار دي يعني داسي ځاى بايد کښيني چيري چي خلک يې نه ويني که چيري د پردې لپاره يو شى پيدا نه کړي په داسي توګه چي نه يو داسي ځاى وي چي پټ وي او د خلکو د ليدو څخه خوندي وي او نه ورسره داسي جامه وغيره وي چي په کوم سره پرده وکړل سي نو په دغه وخت کي داسي کول پکار دي چي د ريګو يا خاورو غونډۍ جوړه کړي او د هغه خوا شا کړي او کښيني نو په داسي توګه به په لږ اندازه پرده وسي .

د دې حديث څخه دا معلومه سوه چي کوم څوک د قضاء حاجت په وخت کي د پردې لحاظ نه کوي نو شيطان د هغه په شرمګاه سره لوبي کوي ، د لوبو کولو مطلب دادى چي هغه د خلکو په زړه کي وسوسې اچوي او هغوئ په دې اماده کوي چي د هغه سړي ستر ته وګوري کوم چي بې پردې ناست دى او قضاء حاجت کوي ، همدارنګه که چيري پرده ونه کړل سي نو ددې بيره هم وي چي کله هواء چليږي نو د هغه په وجه سره ناپاک څاڅکي د هغه پر بدن او جامو باندي لويږي د دې لپاره د قضاء حاجت په وخت کي د پردې کول ډير ضروري دي .

په دې اړه دا هم فرمايل سوي دي که يو څوک د پردې لحاظ وکړي نو دا غوره ده او که داسي ونه کړي نو څه ګناه نسته د احتياط غوښتنه داده چي ددې خيال وساتل سي بلکه که چيري د دې خبري يقين وي چي د پردې نه کولو په صورت کي خلکو ورته ګوري نو په داسي صورت کي پرده کول لازم او ضروري ده او که پرده ونه کړي نو ګناه کار به وي .

که يو څوک د مجبورۍ په صورت کي د پردې څخه پرته پر قضاء حاجت کښېنستى نو بيا د هغه ستر ته په قصد سره کتونکو ته ګناه وي ، د مجبورۍ څخه مراد دادى چي داسي موقع راسي چي د پردې انتظام کول ممکن نه وي او هغه ته سخت ضرورت سي نو په دغه صورت کي هغه مجبور ويل کيږي ، د ريګو يا خاورو غونډۍ ته شا کول ځکه فرمايل سوي دي چي د مخ ستر خو په لمن وغيره سره هم پټېدلاى سي په خلاف د شا چي د هغه پټېدل مشکل دي .

﴿۳۲۵﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَبُوْلَنَّ أَحَدُكُمْ فِيْ مُسْتَحَمِّهِ ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ أَوْ يَتَوَضَّأُ فِيْهِ فَإِنَّ عَامَّةَ الْوَسْوَاسِ مِنْهُ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي إِلَّا أَنَّهُمَا لَمْ يَذْكُرَا ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ أَوْيَتَوَضَّأُ فِيْهِ .

د حضرت عبدالله[۱] بن مغفل ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅوك دي په خپل غسل خانه كي تشي بولي نه كوي (ځكه د بولو كولو وروسته په هغه كي) لمبېدل او اودس كول اكثر وسوسې پيداكوي . ابوداؤد، ترمذي او نسائي

تشريح : په غسل خانه كي بولي كول ځكه وسوسې پيدا كوي چي كله هلته بولي كيږي نو هغه ځای ناپاک كيږي او بيا د اوداسه او غسل په وخت كي چي كله پر هغه اوبه لويږي نو په زړه كي وسوسې پيدا كيږي چي ايا څاڅكي خو نه لګيږي او بيا دا شبه او شک په زړه كي كرار كرار ځای نيسي د كوم څخه چي يو ځانګړی فكر په منځ كي راځي .

كه چيري د غسل خانې مځكه داسي وي چي پر هغه باندي په اوبو توئيدلو سره څاڅكي نه كوي مثلاً د هغه ځای مځكه ريګنه وي يا پر هغه باندي فرش وي او يا د هغه نالۍ داسي وي چي د بولو يو څاڅكي هم نه پاتيږي بلكه وځي نو بيا هلته بولي كول مكروه نه دي .

په دا خبره هم پوهېدل پكار دي چي دلته په غسل كي د بولو كولو منعه تنزيهي ده تحريمي نه ده .

﴿۳۲۶﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَرْجَسَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَبُوْلَنَّ أَحَدُكُمْ فِيْ جُحْرٍ . رواه أبو داود والنسائي .

د خضرت عبدالله بن سرجس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي دي هيڅوك په غار كي بولي نه كوي . ابوداؤد او نسائي

تشريح : په غار كي د بولو كولو څخه ځكه منعه فرمايل سوې ده چي اكثر وخت دغه غارونه د حشراتو او نورو حيوانانو لكه مار ، لړم وغيره كورونه وي ، نو كيدای سي چي د بولو كولو په وخت كي د هغه څخه مار ، لړم يا بل ضرري حيوان راووځي او تكليف وركړي، او يا دا كه چيري په دغه غار كي يو ضعيف او بې ضرره حيوان وي نو بيا د بولو كولو په وجه هغه ته تكلف رسيږي .

ځينو علماؤ ليكلي دي چي د دې وجه داده چي په غارونو كي پيريان اوسيږي ، لكه څرنګه چي د

[۱] د حضرت عبدالله بن معفل كنيت ابوسعيد دی لومړی يې په مدينه كي هستوګنه اختيار كړه او بيا بصرې ته ولاړی، نوموړی حضرت عمر ﷺ بصرې ته د ديني مسائلو د تعليم وركولو لپاره استولی وو . د نوموړي وفات په بصره كي په كال (۵۹هـ) كي سوی دی .

يو صحابي سعد بن عباده خزرجي ﷺ په اړه منقول دي چي هغه د حوران نامي ځای په يو غار كي بولي كړي وې نو هغه پيريانو مړ كړ او دا شعر يې وايه :

نحن قتلنا الخزرج سعد بن عبادة ورميناه بسهمين فلم نخط فؤاده

ژباړه : موږ د خزرج قبيلي مشر سعد بن عباده قتل كړ موږ د هغه په لور دوې غشي وويشتلې او د هغه د زړه په نښه كولو كي مو خطا نه ده كړې .

او ځيني علماء وايي كه يو غار په خاصه توګه د بولو كولو لپاره وي نو په هغه كي بولي كول مكروه نه دي .

﴿۳۲۷﴾ : وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّقُوْا الْمَلَاعِنَ الثَّلَاثَةَ الْبَرَازَ فِيْ الْمَوَارِدِ وَقَارِعَةِ الطَّرِيْقِ وَالظِّلِ . رواه أبو داود وابن ماجه

د حضرت معاذ ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د دغه درو شيانو څخه ځان وژغورئ چي د لعنت سبب دي ۱: تشي يا ډكي بولي كول د خلكو د ناستي په ځای كي ۲: د لاري په منځ كي ۳: په سايه كي . ابوداؤد او ابن ماجه .

تشريح : دغه درې كارونه داسي دي چي د لعنت سبب دي ، يعني كه څيري يو سړی پر يو لاري باندي يا د خلكو د ناستي پر ځای يا د يو سايې پر ځای باندي ډكي بولي كوي نو كوم خلك چي پر هغه لاره باندي تيريږي يا سايه استعمالوي نو هغه پر دغه كس باندي لعنت وايي، يا ددې مطلب دادی چي دغه كس د دغه بد كار په وجه د خلكو د منفعت او آرام ځايونه خرابوي نو له دې كبله دی ظالم سو او ظالم كس لعنتي وي .

موارد : هغه ځايونو ته وايي څيري چي خلك يو ځای كيږي او هلته په كښينستلو سره د يو بل سره خبري كوي، ځينو علماؤ ويلي دي چي موارد جمع د مورد ده او مورد تړي (د خلكو دناستي او باندار ځای) ته ويل كيږي لكه څرنګه چي د ترجمې څخه ظاهر ده، سايه عامه ده كه د درختي سايه وي يا د يو بل شي سايه وي څيري چي خلك خوب او ناسته كوي او يا خپل حيوانان هلته تړي .

﴿۳۲۸﴾ : وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَخْرُجُ الرَّجُلَانِ يَضْرِبَانِ الْغَائِطَ كَاشِفَيْنِ عَنْ عَوْرَتِهِمَا يَتَحَدَّثَانِ فَإِنَّ اللهَ يَمْقُتُ عَلَى ذٰلِكَ . رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه .

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دی چي درسول الله ﷺ وفرمايل : دوه كسان دي د ډكو بولو لپاره يو ځای نه ځي چي خپل شرمګاوي لوڅي كړي او خبري كوي ځكه په دې سره الله

پاك په غضب كيږي . احمد ، ابوداؤد او ابن ماجه .

تشريح : د نارينه او ښځينه دواړو لپاره دا حرام دي چې هغوئ د قضاء حاجت لپاره داسي كښيني چې د يو بل ستر ووينې ، همدارنګه په داسي صورت كي د يو بل سره خبري كول هم مكروه دي ، دغه دواړه كارونه د الله تعالى د غضب باعث دي .

په دې ځاى كي د هغه تكليفي صورت وضاحت كول ضروري دى چې نن سبا په ښځو كي په خاصه توګه داسي بې احتياطي ليدل كيږي ، په عامه توګه داسي پيښيږي چې ښځي په خپل منځ كي د يو بل مخته د خپل ستر لوڅول هيڅ عيب نه بولي په خاصه توګه د غسل او قضاء حاجت په وخت كي داسي شرمناک كارونه كوي، داسي ښځو ته پكار ده چې هغه دغه حديث په فكر سره ووايي او بيا پوه سي چې هغوئ د داسي بد او د شرم او حيا خلاف شيانو په كولو سره د الله تعالى غضب را پاروي او د هغه د عذاب باعث ځان ګرځوي .

په شرح السنه كي ليكلي دي چې د قضاء حاجت په وخت كي او د كوروالي په وخت كي بايد د الله تعالى ذكر ونه كړل سي .

﴿۳۲۹﴾ : وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ هٰذِهِ الْحُشُوْشَ مُحْتَضَرَةٌ فَإِذَا أَتٰى أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ فَلْيَقُلْ أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ . رواه أبو داود وابن ماجه .

د حضرت زيد بن ارقم[1] ؓ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل : بيت الخلاوي د شيطانانو او پيريانانو د حاضرېدو ځايونه دي نو څوك چې په تاسو كي بيت الخلاء ته ځي هغه دي دا دعاء وايي (أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ) ژباړه : د ناپاكو پيريانو نر او ښځو څخه د الله پناه غواړم . ابوداؤد او ابن ماجه .

تشريح : پيريان او شيطانان بيت الخلا ته راځي او ددې انتظار كوي چې كوم سړى بيت الخلاء ته راسي نو هغه ته ضرر او تكليف ورسوي ځكه بيت الخلاء ته راتلونكى كس هلته د ستر په خلاصولو سره كښيني او د الله تعالى ذكر هم نسي كولاى ، نو د دې لپاره دا ښودل كيږي چې كوم څوک بيت الخلاء ته د تللو په وخت كي دغه دعاء وايي نو هغه به د پيريانو او شيطانانو د ضرر او تكليف څخه خوندي وي . په دغه باب كي چې كوم حديث تير سوى دى په هغه كي د دعاء الفاظ ډول دي : (اللهم اني اعوذبک من الخبث والخبائث) څرنګه چې په دواړو كي څه

[1] نوموړي انصاري دي او كنيت يې ابوعمرو دى . نوموړي د رسول الله ﷺ سره په اووه لس غزاوو كي ګډون كړى دى ، نوموړى په كوفه كي اوسيدى او هم هلته په كال (۶۸هـ) كي وفات سوى دى .

فرق نسته ددې لپاره اختیار دی چې کومه دعاء یې خوښه وي هغه دي وایي مګر غوره خبره داده چې کله دغه دعاء ووایي او کله هغه دعاء ووایي او یا دواړې یو ځای ووایي .

﴿۳۳۰﴾ : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتْرُ مَا بَيْنَ أَعْيُنِ الْجِنِّ وَعَوْرَاتِ بَنِي آدَمَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ أَنْ يَقُوْلَ بِسْمِ اللهِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب وإسناده ليس بقوي .

د حضرت علي ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چې په تاسو کي یو څوك بیت الخلاء ته داخل سي پرده په منځ د سترګو د پیریانو او د عورتونو د بني آدمو کي داده چې ووایي بسم الله . ترمذي ویلي دي چې دا حدیث غریب دی او اسناد یې قوي نه دي .

تشریح : د ارشاد مطلب دادی چې کله انسان بیت الخلا ته ځي نو هلته د ستر په لوڅولو سره کښیني نو په دې وجه شیطانان د هغه شرمګاه ته ګوري ، نو ددې لپاره کله چې یو څوک بیت الخلاء تلل وغواړي نو په بسم الله ویلو سره دي بیت الخلاء ته ځي ځکه د دې په ویلو سره شیطانان ستر نسي لیدلای ، علامه ابن حجز رحمة الله علیه لیکلي دي چې په دې اړه سنت دادي چې کله یو څوک بیت الخلاء ته ځي نو اول بسم الله او بیا هغه دعاء ووایي کوم چې د دې څخه په مخکي حدیث کي ذکر سول ، مګر که چیري په دغه دواړو یعني بسم الله او دعاء کي یو هم وویل سي نو سنت به پر ځای سي مګر غوره خبره داده چې دواړه وویل سي ، دا حدیث که څه هم ضعیف دی مګر د اعمالو په فضائلو کي پر ضعیف حدیث باندي هم عمل کول جائز دي .

﴿۳۳۱﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ قَالَ غُفْرَانَكَ (رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي)

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ د بیت الخلاء څخه راوتی نو فرمایل به یې : غُفْرَانَكَ، اې الله ستا د بخښني غوښتونکی یم . ترمذي، ابن ماجه او دارمي.

تشریح : علماء کرامو په دغه وخت کي د بخښني غوښتلو دوې وجهي لیکلي دي ، لومړی خو داده چې څرنګه رسول الله ﷺ په خپل مبارکه ژبه سره په هیڅ حالت کي د الله ﷻ ذکر نه دی پرې ایښی پرته ددې څخه چې د یو سخت حاجت او مجبوري په وخت کي مثلا تشي یا ډکي بولو وغیره وخت کي یې پرېښودی نو له دې کبله دی مبارک د الله ﷻ څخه د بخښني غوښتونکی وو .

دوهمه وجه داده چې کله انسان یو غذا خوري نو هغه غذا معدې ته په رسیدو سره په دوو برخو ویشل کیږي یوه برخه د ویني په جوړېدو سره قوت او طاقت پیدا کوي او دوهم برخه د

قضاء حاجت په شکل کي راوځي ، که د قدرت دغه نظام ته وکتل سي نو معلومه به سي چي پر بندګانو باندي دالله تعالی ډیر لوی انعام دی او د هغه لوی نعمت دی د کوم شکر چي بنده لکه څرنګه چي حق دی هغسي نسي ادا کولای نو له دې کبله رسول الله ﷺ بخښنه غوښتل چي اې الله ! زه ستا ددغه عظیم نعمت شکر نسم ادا کولای ددې لپاره ته ما پر دغه کوتاهۍ باندي و بخښې .

ځینو مشائخو لیکلي دي چي په داسي وخت کي دغه ذکر کول مناسب دي چي د خپل احتیاج او ددې خبري خیال وساتل سي چي د انسان د ذات حیثیت څه دی کوم چي د نجاست څخه ډک دی او ددې په مقابله د الله تعالی پاک ذات او د هغه تقدس تصور کړي ، غوره داده چي ذ غفرانک لفظ څخه وروسته دغه دعاء وویل سي :

(الحمدلله الذي اذهب عني الاذی وعافاني) .

﴿۳۳۲﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى الْخَلاَءَ أَتَيْتُهُ بِمَاءٍ فِيْ تَوْرٍ أَوْ رَكْوَةٍ فَاسْتَنْجٰى ثُمَّ مسحه يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ ثُمَّ أَتَيْتُهُ بِإِنَاءٍ آخَرَ فَتَوَضَّأَ . رواه أبو داود وروى الدارمي والنسائي معناه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ بیت الخلاء ته تلی نو ما به د رسول الله ﷺ لپاره په پیاله (د څرمني) یا پتك کي اوبه راوړې ، رسول الله ﷺ به په هغه سره استنجاء کول بیا به يې لاسونه په مځکه پوري و موښل ، ما بیا نوري اوبه راوړې او رسول الله ﷺ به په هغو سره اودس کاوه . ابوداؤد ، دارمي او نسائي .

تشریح : (تور) په عربي ژبه کي د مسو یا ډبري یو کوچنی لوښی د پیالې په ډول وي په هغه کي خوراک کوي او د ضرورت په وخت کي په هغه سره اودس هم کوي . (رکوة) د پوست څخه جوړ سوي ژي ته وايي چي د اوبو ساتلو کار کوي .

د تور او رکوة په مینځ کي لفظ د او یا خو راوي ته شک دی یعني د ابوهریره ﷺ څخه چي کوم راوي دغه حدیث نقل کړی دی هغه ته دا شک دی چي ابوهریره ﷺ لفظ د تور وفرمایه او که د رکوة، او یا خو دا د تنویع لپاره دی په دې ډول د حضرت ابوهریره ﷺ د ارشاد معنا به دا سي چي کله به په تور کي اوبه راوړلې او کله په رکوة (ژي) کي راوړلې .

د استنجاء څخه وروسته رسول الله ﷺ لاس پر مځکه باندي ځکه موږی چي د لاس څخه بدبويي ولاړه سي او لاس ښه پاک او صاف سي ، همدارنګه د بیت الخلاء څخه د راوتلو وروسته د لاس پریولل سنت دي .

حضرت ابوهريره ﷺ د اوداسه لپاره په بل لوښي كي اوبه ددې لپاره نه راوړلې چې د استنجاء په پاته اوبو سره يا د هغه په لوښي سره اودس كول صحيح نه دى بلكه په دغه لوښي كي څرنګه چي اوبه يوازې د استنجاء د ضرورت مطابق پاته كېدلې نو ځكه د اوداسه لپاره په بل لوښي كي اوبه راوړلو ضرورت كيدى، د دغه حديث څخه ځينو علماء دغه اخذ كړى دى چي كه چيرې د استنجاء او اوداسه لپاره بيل بيل لوښي وي نو دا مستحب كار دى.

﴿۳۳۳﴾ : وَعَنِ الْحَكَمِ بْنِ سُفْيَانَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بَالَ تَوَضَّأَ وَنَضَحَ فَرْجَهُ . رواه أبو داود والنسائي

د حضرت حكم [۱] بن سفيان ﷺ څخه روايت دى چي كله به رسول الله ﷺ تشي بولي وكړې نو بيا به يې اودس كاوه او پر خپل شرمګاه به يې اوبه و پاشلې (يعني لنګ به يې اغوستى وو). ابوداؤد او نسائي.

تشريح : رسول كريم ﷺ چي به كله د تشو بولو څخه وروسته اودس كوى نو د وسوسې د دفع كولو لپاره به يې لږ اوبه د ستر پر ځاى پر لونګ سربيره وپاشلې ددې لپاره چي د بولو د څاڅكو وهم پاته نه سي.

څرګنده ده چي د رسول كريم ﷺ ذات مبارك د وسوسې او خطراتو څخه پاك وو نو دا به وويل سي چي دده مبارك دغه عمل د امت د ښوونې لپاره وو چي د بولو كولو څخه وروسته كله چي اودس تازه كوي نو لږ اوبه د شرمګاه پر ځاى پر جامې سربيره وپاشل سي ددې لپاره كه چيرې اوبه ونه پاشل سي او د شرمګاه ځاى د جامې سربيره د لندوالي احساس وي نو د هغه څخه به د بولو د څاڅكو وهم پيداسي او كه چيرې اوبه وپاشل سي نو دهغه وروسته كه د لندوالي احساس وسي نو دا فكر به وي چي هغه د پاشل سوو اوبو لندوالى دى په دې وجه به وسوسه بنده سي او مقصد همدغه دى چي د وسوسو لار ونيول سي تر څو په اطمينان سره په عبادت كي بوخت سي.

ابن مالك رحمة الله عليه فرمايي چي د اوداسه وروسته پر شرمګاه سربيره د اوبو پاشلو يوه وجه داده چي د وسوسې دفع كيږي مګر يو بله وجه دا هم ده چي په دې سره د بولو وغيره څاڅكي ودريږي او دباندې را ونه ځي.

[۱] د نوموړي نوم حكم بن سفيان او كنيت يې ابوالحكم ثقفي دى.

﴿۳۳۴﴾ : وَعَنْ أُمَيْمَةَ بِنْتِ رُقَيْقَةَ قَالَتْ كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدَحٌ مِّنْ عِيْدَانٍ تَحْتَ سَرِيْرِهِ يَبُوْلُ فِيْهِ بِاللَّيْلِ . رواه أبو داود والنسائي .

د حضرت اميمة[1] بنت رقيقه (رض) څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ سره د لرګي يوه پياله وه چي د رسول الله ﷺ تر کټ لاندي به پرته وه ، د شپې به رسول الله ﷺ په هغه کي تشي بولي کولې . ابوداؤد او نسائي .

تشريح : څرنګه چي د شپې د يخ وغيره په وجه پورته کېدل د تکليف او پريشانۍ سبب وي دد ې کبله رسول الله ﷺ يوه پياله ددغه کار لپاره خاص کړې وه ، کله چي به رسول الله ﷺ ته د شپې د بولو کولو ضرورت سو نو په دغه پياله کي به يې بولي کولې ، که چيري پر حقيقت باندي نظر واچول سي نو دلته هم د امت لارښوونه مقصد ده ، ددې لپاره چي د امت لپاره په دغه کي آساني پيدا سي چي کله د شپې د بولو حاجت وي او د يخ وغيره د تکليف په وجه دباندي وتل مشکل وي نو په يو لوښي وغيره کي بولي کول او په سهار کي هغه وغورځول سي ددې لپاره چي د يوې خوا د تکليف او پريشانۍ څخه خوندي سي او بلې خوا ته د شپې بيت الخلاء ته د تللو څخه وساتل سي کوم چي د شيطانانو هستوګن ځايونه دي ، او شيطانان د ورځي په نسبت د شپې د زيات تاوان او تکليف رسولو سبب وي .

ښکاره ده چي دغه لارښوونه د رسول کريم ﷺ د شفقت او رحمت په جذبه ده کوم چي د اعمالو او افعالو په هره مرحله کي د آسانۍ په صورت کي تر سترګو کيږي .

ويل کيږي چي يو صحابي په ناخبرتيا سره د رسول الله ﷺ په دغه پياله کي څښل وکړل د کوم چي دا اثر سو تر څو چي هغه ژوندی وو د هغه د بدن څخه خوشبوئي راتلل او نه يوازي د هغه د بدن څخه بلکه تر څو نسلونو پوري د هغه په اولاد کي هم د بدن څخه هغه خوشبوئي وه .

﴿۳۳۵﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ رَآنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبُوْلُ قَائِمًا فَقَالَ يَا عُمَرَ لَا تَبُلْ قَائِمًا فَمَا بُلْتُ قَائِمًا بَعْدُ . رواه الترمذي وابن ماجه . قَالَ الشَّيْخُ الإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللّٰهُ قَدْ صَحَّ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبَاطَةَ قَوْمٍ فَبَالَ قَائِمًا. (متفق عليه) ، قِيْلَ كَانَ ذٰلِكَ لِعُذْرٍ .

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دی چي زه ودرېدم او تشي بولي مي کولې چي رسول الله ﷺ زه وليدم نو راته وه يې فرمايل : اې عمر ! په ولاړي بولي مه کوه او ددې وروسته بيا ما هيڅکله په ولاړه بولي نه دي کړي، ترمذي او ابن ماجه، امام محي السنة وايي چي د حذيفه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د يو قوم کنډوالې ته

[1] اميمه بنت رقيقه د حضرت خديجې رضي الله عنها د خور لور ده .

ورغلی او هلته يې په ولاړه بولي وکړې، (ويل سوي دي چي دا د يو عذر له کبله وو) بخاري او مسلم

تشريح : د ټولو علماؤ په اتفاق سره په ولاړه بولي کول مکروه دي، البته په دې کي اختلاف دی چي مکروه تنزيهي دي او که مکروه تحريمي، ځيني علماء وايي چي مکروه تحريمي دي او د ځينو په نزد مکروه تنزيهي دي.

او کوم چي د حضرت عمر ؓ خبره ده نو په دې اړه علماء وايي چي د جاهليت په زمانه کي چي کومه د بولو طريقه په ولاړه رواج وه او د هغه عادت وو نو په دې وجه هغه په ولاړې بولي وکړې، يا دا کيدای سي چي د يو په عذر په وجه يې په ولاړه بولي کړي وي.

همدارنګه د رسول الله ﷺ په اړه هم د حضرت حذيفه ؓ روايت دی چي رسول الله ﷺ په ولاړه بولي وکړې، په دې اړه هم دا ويل کيږئ چي دا د يو عذر په وجه داسي سوي دي، او علماء هغه عذر هم ليکلی دی، ځينو حضرات د هغه ځای د چټلې وجه ښيي چي هلته د کښينستلو ځای نه وو نو په دې خاطر يې په ولاړه بولي وکړې.

ځيني علماء وايي چي د رسول الله ﷺ په پښو مبارکو کي درد وو، او د ځينو حضراتو د تحقيق سره سم په نس کي درد وو او په دې وجه رسول الله ﷺ نه سو کښېنستلای او په ولاړه يې حاجت پوره کړ.

الفصل الثالث

﴿۳۳۶﴾ : عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَنْ حَدَّثَكُمْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَبُولُ قَائِمًا فَلَا تُصَدِّقُوهُ مَا كَانَ يَبُولُ إِلَّا قَاعِدًا. رواه احمد والترمذي والنسائي.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي څوك دا حديث بيان کړي چي رسول الله ﷺ به په ولاړه بولي کولې نو هغه رېښتونی مه ګڼئ ځکه رسول الله ﷺ به هميشه په ناسته تشي بولي کولې. احمد، ترمذي او نسائي.

تشريح : امام محي السنة چي د حضرت حذيفه ؓ کوم روايت نقل کړی دی د هغه څخه په ښکاره دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ په و لاړه بولي کړي دي مګر د حضرت عائشې رضي الله عنها دغه حديث د دې خبري بالکل نفي کوي نو اوس به په دغه دواړو حديثونو کي تطبيق په دا ډول کيږي چي حضرت عائشې د خپل علم سره خبر ورکوي يعني هغې رسول الله ﷺ په ولاړه بولو کولو سره په کور کي نه دی ليدلی له دې کبله هغې د دې څخه نفي وکړل او حضرت حذيفه ؓ چي کوم صورت بيانوي هغه د کور څخه د باندي متعلق ده او هغه هم د عذر په وجه نادر ده

او ظاهره ده چي نادر شی د معدوم په ډول وي او د عذر په وجه دا مستثنی کیدای هم سي ځکه نو په دواړو حديثونو كي هيڅ تعارض پاته نه سو .

﴿۳۳۷﴾ : وَعَنْ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ جِبْرَئِيْلَ أَتَاهُ فِيْ أَوَّلِ مَا أُوْحِيَ إِلَيْهِ فَعَلَّمَهُ الْوُضُوْءَ وَالصَّلَاةَ فَلَمَّا فَرَغَ مِنَ الْوُضُوْءِ أَخَذَ غُرْفَةً مِّنَ الْمَاءِ فَنَضَحَ بِهَا فَرْجَهُ . رواه أحمد والدارقطني .

حضرت زيد[1] بن حارثه د نبي كريم ﷺ څخه روايت كوي چي جبرائيل ؑ تر ټولو وړاندي په وحي كي رسول الله ﷺ ته راغلی رسول الله ﷺ ته لمونځ او اودس كول و ښودل كوم وخت چي رسول الله ﷺ د اوداسه څخه فارغ سو نو يو ه لپه اوبه يې راواخيستې او هغه يې پر خپل شرمگاه باندي وپاشلې . احمد او دار قطني .

تشريح : حضرت جبرائيل ؑ د رسول الله ﷺ و حضور ته د يو سړي په شكل كي راغلی او هغه د رسول الله ﷺ په مخكي اودس وكړ او لمونځ يې ادا كړ ددې لپاره چي رسول الله ﷺ هغه زده كړي همدارنگه هغه رسول الله ﷺ ته د الله تعالى د لوري ددغه دوو شيانو تعليم هم وركړ او بيا ددې سربيره حضرت جبرائيل ؑ د اوداسه وروسته پر شرمگاه يا د ستر پر ځای د اوداسه وروسته اوبه پاشل هم وښودل تر څو د وسوسې د دفع لپاره دغه طريقه غوره كړل سي .

﴿۳۳۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَنِي جِبْرِيْلُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِذَا تَوَضَّأْتَ فَانْتَضِحْ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب و سمعت محمدا يعني البخاري يقول الحسن ابن علي الهاشمي الراوي منكر الحديث .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته جبرائيل ؑ راغلی او ويل يې اې محمد ! هر كله چي ته اودس وكړې نو لږ اوبه پر خپل شرمگاه وپاشه (ترمذي ويلي دي د احديث غريب دی او ما د بخاري څخه اوريدلي دي چي حسن بن علي هاشمي راوي منكر د حديث دی)

﴿۳۳۹﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ بَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ عُمَرُ خَلْفَهُ بِكُوْزٍ مِّنْ مَّاءٍ فَقَالَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ تشي بولي وكړې نو حضرت عمر ؓ

[1] د نوموړي نوم زيد بن حارثه او كنيت يې ابواسامه دی، نوموړی يو عظيم صحابي دی كوم ته چي د رسول كريم ﷺ د متنبي جوړېدو شرف حاصل دی . په غزوه موته كي د شام پر مخكه باندي د هجرت پر اتم كال د شهادت درجه يې تر لاسه كړه او د شهادت په وخت كي د نوموړي عمر ۵۵ كاله وو.

مَا هٰذَا يَا عُمَرُ ؟ قَالَ مَاءٌ تَتَوَضَّأُ بِهِ . قَالَ مَا أُمِرْتُ كُلَّمَا بُلْتُ أَنْ أَتَوَضَّأَ وَلَوْ فَعَلْتُ لَكَانَ سُنَّةً . رواه أبو داود وابن ماجه .

كوزه په لاس كي د رسول الله ﷺ شاته و دريدى نو رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه اې عمره ! دا څه دي ؟ عمر ووېل ستاسو داوداسه لپاره اوبه دي ، رسول الله ﷺ وفرمايل ما ته دا حكم نه دى راكړل سوى چي كله زه تشي بولي وكړم نو اودس دي هم وكړم كه ما داسي كړى واى نو زما دا كار به سنت سوى واى . ابوداؤد او ابن ماجه .

تشريح : د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادى چي ما ته د فرض او واجب په ډول دا حكم نه دى راكړل سوى چي كله بولي وكړم نو د هغه وروسته اودس هم وكړم او كه چيري زه په خپله دا كار وكړم نو بيا به هر وار د بولو كولو څخه وروسته اودس كول سنت مؤكده سي ، په هر حال دلته د سنت څخه مراد سنت مؤكده دى هسي خو په اوبو سره استنجاء كول او هر وخت په اوداسه اوسيدل د ټولو علماؤ په نزد په اتفاق سره مستحب دي .

ددغه حديث څخه دا هم معلومه سوه چي رسول الله ﷺ به كله كله غوره شيان هم د امت د اسانتيا لپاره پرېښودل ددې لپاره چي هغه شيان د امت لپاره ضروري نه بلل سي .

﴿۳۴۰﴾ : وَعَنْ أَبِيْ أَيُّوْبَ وَجَابِرَ وَأَنَسٍ أَنَّ هٰذِهِ الْآيَةَ لَمَّا نَزَلَتْ (فِيْهِ رِجَالٌ يُحِبُّوْنَ أَنْ يَّتَطَهَّرُوْا وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ) قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ إِنَّ اللّٰهَ قَدْ أَثْنٰى عَلَيْكُمْ فِي الطُّهُوْرِ فَمَا طُهُوْرُكُمْ قَالُوْا نَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ وَنَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ وَنَسْتَنْجِيْ بِالْمَاءِ قَالَ فَهُوَ ذَاكَ فَعَلَيْكُمُوْهُ . رواه ابن ماجه .

د حضرت ابوايوب، جابر او انس څخه روايت دى چي كوم وخت دا آياتونه نازل سوه (فيه رجال ....) (يعني په مسجد قباء كي) داسي (انصاري) خلك دي چي پاكي خوښوي او الله پاك ښه پاكي كونكي خلك خوښوي ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل اې د انصارو ډلې بېشكه الله تعالى د پاكۍ په اړه ستاسو تعريف كړى دى تاسو څنګه پاكي كوئ ؟ هغوئ عرض وكړ موږ د لمانځه لپاره اودس كوو او د جنابت لپاره غسل كوو او په اوبو سره استنجاء كوو ، رسول الله ﷺ وفرمايل او دا خبره ده همدا جاري و ساتئ . ابن ماجه .

تشريح : د انصارو دا عادت وو چي هغو به د تشو او ډكو بولو څخه وروسته په لوټو سره د صفائي كولو څخه وروسته په اوبو سره هم استنجاء كول ددې كبله د هغوئ فضيلت په دغه آيت كريمه كي بيان سو ، كله چي دغه آيت نازل سو او د انصارو ددغه فضيلت څرګندونه وسول نو رسول كريم ﷺ د هغوئ څخه پوښتنه وكړه چي هغه كومه پاكي ده د كوم حاصلولو په وجه تاسو

ددغه سعادت حقداره سواست ، کله چي هغوئ د صفائي تفصيل بيان کړ نو رسول الله ﷺ د هغوئ تصديق وکړ چي همدا هغه شيان دکوم په وجه چي الله تعالى ستاسو صفت په قرآن کريم کي بيان کړی دی ، او وروسته يې دې ته اشاره وفرمايل غوره والی او بهتري په دې کي ده چي دغه سعادت هميشه تر لاسه کړئ يعني څرنګه چي تاسو پاکي تر لاسه کوئ همداسي هميشه کوئ.

﴿۳۴۱﴾ : وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ بَعْضُ الْمُشْرِكِيْنَ وَهُوَ يَسْتَهْزِئُ إِنِّيْ لَأَرٰى صَاحِبَكُمْ يُعَلِّمُكُمْ حَتّٰى الْخِرَاءَةَ قُلْتُ أَجَلْ أَمَرَنَا أَنْ لاَّ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ وَلاَ نَسْتَنْجِيْ بِأَيْمَانِنَا وَلاَ نَكْتَفِيَ بِدُوْنَ ثَلاَثَةِ أَحْجَارٍ لَيْسَ فِيْهَا رَجِيْعٌ وَلاَ عَظْمٌ . رواه مسلم وأحمد واللفظ له .

د حضرت سلمان ﷛ څخه روايت دی چي په مشرکانو کي يوه سړي د مسخرو په ډول وويل زه ستاسو نبي وينم چي تاسو ته هر شی ښيي تر دې چي په بيت الخلاء کي د کښېنستلو چم هم درته ښيي ما ورته وويل هو، رسول الله ﷺ حکم کړی دی چي په بيت الخلاء کي مخ پر قبله مه کښينئ او په راسته لاس استنجاء مه کوئ او په درو ډبرو (يالوټو) څخه کم استنجاء مه کوئ او په لوټو کي خوشائي او هډوکي نه وي . مسلم او احمد .

تشريح : که چيري د مذهب حقيقت ته وکتل سي نو دا خبره به معلومه سي چي مذهب او دين په اصل کي د يو پوره ضابطه حيات او کامل دستور نوم دی د ژوند د نظام په کوم کي چي انسان په دين او دنيا دواړو ځايو کي د پوره رهبرۍ لاربښود او هدايت کوي.

که څه هم پر خاصو اعتقاداتو باندي څو مخصوص عبادات او د يو څو اعمالو نوم مذهب او دين کښېښودل سي نو هغه نه يوازي دا چي پوره او مکمل مذهب دی بلکه د انساني دماغ اختراعات او نظرياتو ټولګه ده.

اسلام چي پر نورو مذهبونو باندي خپل امتيازي شان لري او پر نورو دينونو باندي لوړتيا او غوره والی لري او پر نورو شريعتونو د پوره والي درجه لري نو هغه د اسلام د همه ګيري (هر اړخيز) او د هغه د شان جامعيت (پوره والی) دی ، مسلمانان خو پرېږده هغوئ خو د هغه اسلام پيروان دي بلکه د دنيا هغه پوهان او عاقلان هم کوم چي د اسلام د اعتقاداتو او احکامو پابند خو نه دي مګر نن سبا پر دې خبره متفق دي چي د دنيا پر ټولو مذهبونو او ددينا په ټولو شريعتونو کي يوازي اسلام يو داسي مذهب او دين دی چي د انسانانو لپاره د ژوند پوره قوانين او نظام او د کائناتو پر شعبه باندي د هداياتو مجموعه ده چي د انساني ژوند د هر

کوچنۍ او غټې مسئلې رهبري کوي.

ځرنګه چې اسلام د يوې خوا د اعتقاداتو او نظرياتو په ډيره لوړه کچه د انسانانو او پيريانو رهنمايي کوي او د عباداتو او احکاماتو د لوړ نظام تفوق بخښونکی دی نو د بلې خوا د ژوند د هغه کوچنيو لارو معرفت هم وربخښي کوم چې د نړيوالو په نزد ادنی دي د کوم په لور چې نور مذهبونه سترګې هم نه پورته کوي.

وګورئ يو بې بصيرته او د عقل او پوهې دښمن مشرک پر مسلمانانو مخصرې کوي چې د شارع اسلام د شان او عظمت هم يوه غوښتنه ده چې هغه هر شي ښيي تر دې چې هغه د تشو او ډکو بولو کولو مسائل او د هغه طريقې ښيي، حضرت سلمان فارسي ﷺ ددې جواب ورکوي چې اې بې خبرو او اې بې عقلانو دا د خندا خبره نه ده د مخصرو ځای نه دی تاسو ته څه معلومه ده چې زمونږ سردار پر مونږ څومره شفيق دی، پر مونږ څومره مهربان دی دا د امت د ډير شفقت او محبت وجه ده چې هغه د ژوند په هره مرحله کې زمونږ راهنمائي فرمايي.

د يوې خوا رسول الله ﷺ د توحيد او رسالت عقائد او د لمانځه، روژې، زکوة او حج په ډول د ديني اصولو احکام او مسائل مونږ ته ښيي نو بلې خوا ته د تشو او ډکو بولو په ډول د کوچني کوچني شيانو ادبونه هم راښيي او د هدايت او راهنمائي خو دا هغه ځای دی چې د رسول الله ﷺ د ذات د هميه ګيري (هر اړخيزی) ته اشاره کوي.

همدارنګه رسول الله ﷺ حکم کړی دی چې د تشو او ډکو بولو په وخت کې مونږ د قبلې په لور مخ يا شا نه کړو په دې سره د قبلې د احترام بې احترامي راځي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې په راسته لاس سره استنجاء ونه کړل سي ځکه چې دغه کار د پاکۍ او نظافت خلاف دی چې په کوم لاس سره خوراک کيږي په هغه لاس سره د مردارۍ صفائي هم وسي، رسول الله ﷺ دغه ته غوره ويلي دي چې په درو لوټو يا ډبرو سره په کم دي استنجاء ونه کړل سي ځکه د صفائي او پاکۍ غوښته داده او رسول الله ﷺ دا هم فرمايلي دي چې د استنجاء په لوټو کې خوشائي وغيره نجاست نه وي چې د پاکۍ حاصلولو پر ځای نوره چټلي رامنځته کيږي او په هډوکي سره استنجاء ونه کړل ځکه چې هډوکي د پيريانو خوراک دي.

﴿۳۴۲﴾ : وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ حَسَنَةَ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِيْ يَدِهِ الدَّرَقَةُ فَوَضَعَهَا ثُمَّ جَلَسَ فَبَالَ إِلَيْهَا فَقَالَ بَعْضُهُمْ

د حضرت عبدالرحمن بن حسنة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ زمونږ په لور تشريف راوړ او (په دغه وخت کې) دده مبارک په لاس کې سپر وو

انْظُرُوْا إِلَيْهِ يَبُوْلُ كَمَا تَبُوْلُ الْمَرْأَةُ فَسَمِعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ وَيْحَكَ اَمَا عَلِمْتَ مَا أَصَابَ صَاحِبَ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ كَانُوْا إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَوْلُ قَرَضُوْهُ بِالْمَقَارِيْضِ فَنَهَاهُمْ فَعُذِّبَ فِيْ قَبْرِهِ . رواه أبو داود وابن ماجه . ورواه النسائي عنه عن أبي موسى

رسول الله ﷺ هغه سپر پر مخکه کښېنبود او بيا يې د هغه مخته تشي بولي وکړې نو د مشرکينو څخه يو کس وويل ده ته وګورئ داسي تشي بولي کوي لکه ښځه چي ښځي يې کوي ، دا خبره رسول الله ﷺ واورېدل او وه يې فرمايل : پر تاسو دي افسوس وي ايا تا ته دا نه ده معلومه چي د بني اسرائيلو يو سړي ته (عذاب) ورسيدى نو بني اسرائيلو چي به بولي وکړې او د هغوئ پر بدن يا جامو به بولي و لګېدلې نو هغه به يې په غچي سره پرې کوى، په بني اسرائيلو کي يوه سړي ددې حکم منلو څخه ډډه وکړه نو هغه د قبر په عذاب اخته سو .(ابوداؤد ، ابن ماجه، نسائي د هغه څخه هغه د ابو موسى څخه روايت کړ ى دى .

تشريح : د بني اسرائيلو په شريعت کي دا وه که چيري د يو چا پر بدن به نجاست ولګيدى نو د هغه برخي غوښه به يې پرې کول او که پر جامه به نجاست ولګيدى نو د جامې هغه برخه به يې پرې کول ، مګر په هغوئ کي يو سړي د خپل شريعت ددغه حکم منلو څخه انکار وکړ او نور خلک يې هم د داسي کولو څخه منعه کړل په دې وجه هغه د قبر په عذاب کي اخته کړل سو .

دې ته رسول الله ﷺ اشاره وفرمايل چي د بني اسرائيلو د شريعت هغه قاعده که څه هم په شرعي اعتبار سره غوره وه مګر په هغه کي د مال او ځان ضرر وو ځکه نو خلاف عقل او دانائي وه مګر د دې سربيره د شريعت هغه حکم نه منلو او نور خلک د هغه څخه پر منعه کولو باندي چي پر هغه سړي باندي د قبر عذاب نازل کړل سو نو شرم او حياء نه کول په طريقه اولى د عذاب سبب دى ځکه چي د بولو کولو پر وخت پرده کول او شرم کول نه يوازي دا چي د شريعت غوره شي دى بلکه د عقل او پوهي په اعتبار هم اولى او غوره دى .

﴿۳۴۳﴾: وَعَنْ مَرْوَانَ الْأَصْفَرَ قَالَ رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ أَنَاخَ رَاحِلَتَهُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ ثُمَّ جَلَسَ يَبُوْلُ إِلَيْهَا فَقُلْتُ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَلَيْسَ قَدْ نُهِيَ عَنْ هٰذَا قَالَ بَلْ إِنَّمَا نُهِيَ عَنْ ذٰلِكَ فِي الْفَضَاءِ فَإِذَا كَانَ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ شَيْءٌ يَسْتُرُكَ فَلاَ بَأْسَ . رواه أبو داود .

د حضرت مروان اصفر ﷺ څخه روايت دى چي ما حضرت ابن عمر ﷺ وليدى چي هغه خپل اوښ د قبلې په لور کښېنوى بيا کښېناست او د اوښ په لور يې تشي بولي وکړې ما ورته وويل اې ابوعبدالرحمن ! ايا رسول الله ﷺ ته ددې څخه نه يې منعه کړى هغه وويل په دې (حکم کي ، ځنګل منعه راغلى دى مګر هر کله چي ستا او د قبلې په منځ کي يو شى وي نو بيا پروا نسته .

تشریح : په دغه مسئله کي د عبدالله بن عمر ﷺ دا قول دلیل نسي جوړیدای ځکه چي دوئ د رسول الله ﷺ د هغه فعل دلیل ونیوی چي ددې باب په لومړي حدیث کي ذکر سوی دی چي هغه رسول الله ﷺ قبلې ته شا کړی پر قضا حاجت کولو باندي لیدلی وو او دا په هغه وخت کي ښودل سوی دی چي په دې فعل کي څو احتمالات (شکونه) پیدا کیږي نو شکوک فعل د دلیل په توګه وړاندي کول صحیح نه دي، بیا ددې هم وضاحت سوی دی چي د رسول الله ﷺ د ډیرو حدیثونو څخه دا ثابته سوې ده چي د تشو او لویو بولو په وخت کي د قبلې طرف ته د مخ یا شا نه کولو حکم عام دی، په دې کي د ځنګل تخصیص نسته ځکه دامام اعظم رحمة الله علیه مذهب هم دادی چي په دې حکم کي ځنګل او آبادي ټول برابر دي، د قبلې طرف ته مخ او شا کول هر ځای منعه دي که هغه ځنګل وي صحراء او میدان وي او که آبادي او کورونه وي.

﴿۳۴۴﴾ :وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ قَالَ الْحَمْدُ للهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنِّيَ الْأَذٰى وَعَافَانِي. رواه ابن ماجه

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به کله د بیت الخلاء څخه راوتی نو فرمایل به یې: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ أَذْهَبَ عَنِّيَ الْأَذٰى وَعَافَانِيْ، (ټول تعریفونه الله لره دي چي زما څخه یې د تکلیف شی لیري کړ او ما ته یې عافیت راکړ) ابن ماجه.

تشریح : هسي خو که چیري انسان دا غواړي چي هغه د الله تعالی نعمتونه د شمیر په دائره کي راولي کوم چي پر هغه د الله تعالی د لوري دي نو دا مشکل نه بلکه ناممکن ده، د زیږیدني څخه تر مرګ پوري د انسان ټول ژوند او د هغه د ژوند یوه یوه لحظه د الله تعالی رحیم او کریم ذات د بې شمیره نعمتونو شکر ګزاره ده او دا وجه ده چي هیڅ انسان د الله تعالی د دغه بې شمیره او لا محدود نعمتونو شکر کما حقه نسي ادا کولای.

اوس تاسو تشي او ډکي بولي واخلئ دا په ظاهره څومره معمولي شی دی او څومره غیر ضروري معلومیږي مګر د یو حکیم او ډاکټر څخه ددې په حقیقت معلومولو سره وګورئ، یو طبي ماهر به تاسو ته وښیي چي پر دغه معمولي شیانو باندي د انسان د ژوند څومره دار او مدار دی او د انسان د مرګ او ژوند سره ددې څومره اړه ده، که د یو سړي د یو لږ وخت لپاره بولي بندي سي نو هغه ژوند په خطره کي لویږي او خدای مه کړه که په دغه وخت کي لږ اوږدوالی پیدا سي نو بیا د هغه ژوند د مرګ په غیږ کي به ولیدل سي، نو ایا دا د الله تعالی عظیم انعام او د هغه لوی فضل او کرم نه دی چي هغه دا تکلیف ورکونکی شی د انسان د بدن څخه د لږ لږ وخت وروسته په څومره آساني سره باسي نو دا څنګه ممکن وه چي د الله د رسول

هغه ژبه چي د هغه پر کو چني کو چني نعمتونو باندي هر وخت شکر ادا کولو کي بوخت وه د هغه عظیم الشان نعمت باندي د شکر څخه قاصره وي

دا حدیث ښیي چي رسول الله ﷺ به کله د بیت الخلاء څخه وتی د الله تعالی شکر به یې ادا کوی چي اې رب العالمین ! د دنیا ټول تعریفونه تا لره ښایي د ټول حمد او ثناء وړ ته یې او ولي به نه یې هر کله چي ستا ذات د خپل بندګانو لپاره سراسر لطف او کرم او رحمت او شفقت دی چي د هغه یو ادنا اظهار دا هم دی چي تا دا وخت صرف په خپل فضل او کرم سره یو تکلیف ورکونکی شی زما د بدن څخه خارج کړ او همدارنګه ما ته دي سکون ، اطمینان او عافیت وبخښی .

په ځینو حدیثونو کي د رسول الله ﷺ څخه دا دعاء هم منقول ده چي کله به رسول الله ﷺ د بیت الخلاء څخه وتی نو (الحمد لله الذي اذهب عني ما یؤذیني وابقی علی ما ینفعني) ژباړه : ټول تعریفونه الله تعالی لره ښایي چي زما څخه تکلیف ورکونکی شی لیري کړ او هغه شی پاته وساتی چي زما لپاره ګټور دی .

غذا په هضم کېدو سره پر دوو برخو ویشل کیږي ، یوه لویه برخه هغه وي چي فضله مواد جوړیږي ، دوهمه برخه چي د غذا اصل جوهر دی هغه وینه وغیره کي تبدیل کیږئ پر دې د ژوند بقا منحصره وي، په دغه دعاء کي د غذا دغه دواړو اړخو ته اشاره فرمایل سوې ده که ددغه دواړو نعمتونو یو سړی خیال وکړي نو هغه ته به احساس وسي چي دا د څومره اهمیت وړ ده مګر افسوس چي نن به څومره بې حسه او بې پروا انسانان پیدا کیږي چي د هغوئ په دماغ او شعور کي به ددې تصور هم نه وي .

﴿۳۴۵﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ وَفْدُ الْجِنِّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنْهَ اُمَّتَكَ أَنْ يَسْتَنْجُوْا بِعَظْمٍ أَوْ رَوْثَةٍ أَوْ حُمَمَةٍ فَإِنَّ اللّٰهَ جَعَلَ لَنَا فِيْهَا رِزْقًا فَنَهَانَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ . رواه أبو داود .

د حضرت ابن مسعود ﷛ څخه روایت دی چي کله د پیریانو (یو ډله) د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول نو رسول الله ﷺ ته یې عرض وکړ اې دالله رسوله ! خپل امت منعه کړه چي هغوئ په خوشایو، هډوکو او سکارو سره استنجاء نه کوي ځکه په دې شیانو کي الله تعالی زموږ رزق ایښی دی نو رسول الله ﷺ د دغه شیانو د استعمال څخه منعه وفرمایل . ابوداؤد .

تشریح : هډوکي د پیریانو خوراک دی چي د هغه څخه هغوئ غذا تر لاسه کوي همدارنګه

خوشائي د هغوئ د حيوانانو خوراک دی ، د سکرو څخه هم پيريان کټه اخلي مثلا په سکارو سره خوراک وغيره پخوي يا په هغه سره رڼا کوي ځکه نو هغه هم په رزق کي شميرل سوي دي .

بَابُ السِّوَاكِ

(د مسواک وهلو بيان)

مسواک وهل د ټولو علماؤ په اتفاق سره سنت دی مګر د حنفيه په نزد په خاصه توګه د اوداسه لپاره او د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د اوداسه او لمانځه په وخت کي مسواک وهل سنت دی او د سهار او ماپښين دلمانځه څخه مخکي هم د مسواک وهلو ډير تاکيد سوی دی .

په مسواک وهلو کي ډير خير، برکت او فضيلت دی ، علماء ليکي چي د مسواک وهلو په فضيلت کي څلوېښت حديثونه راغلي دي ، بيا نه يوازي دا چي مسواک وهل د ثواب باعث دی بلکه د دې څخه په بدني توګه هم ډيري ګټي تر لاسه کيږي ، په مسواک وهلو سره خوله پاکه وي ، په خوله کي بدبوئي نه پيدا کيږي ، غاښونه سپين او ځلانده وي په وريو کي قوت پيدا کوي او غاښونه ټينګوي .

مسواک وهل په هر وخت کي مستحب او غوره دی مګر په ځينو حالتونو کي د دې ارزښت ډير زياتيږي مثلا د اوداسه په وخت کي، د قرآن کريم د ويلو په وخت کي ، پر غاښونو ژړولی او خيري ختلو په وخت کي ، د خوب په وخت او يا د بدبويه شي د خوړلو څخه وروسته مسواک وهل مستحب او غوره دی .

د مسواک وهلو څو ادبونه او طريقې دي ، علماء ليکي چي په يو مجلس او مجمع کي داسي مسواک وهل چي د خولې څخه ناړي بهيږي مکروه دی په خاصه توګه د علماؤ ، بزرګانو سره نژدې داسي مسواک وهل مناسب نه دی .

مسواک د ترخې درختي مثلا نيم وغيره څخه بايد وي، د پيلو درختي مسواک زيات غوره دی ، په حديثونو کي هم د پيلو د مسواک ذکر راغلی دی . امام نووي رحمة الله عليه فرمايي چي مستحب دادی چي د پيلو مسواک ووهل سي، د مسواک سر د خچني ګوتي په ډول پکار دی او د مسواک اوږدوالی يوه لويشت پکار دی ، مسواک د غاښونو په پلن والي باندي کول پکار دی په اوږدوالي يې کول نه دی پکار ځکه چي په داسي کولو سره وريٰ خرابيږي ، د

مسواک وهلو په اړه د اکثرو علماؤ رایه داده چي کله اودس پیل کړل سي نو د خولې پریوللو په وخت کي مسواک وهل پکار دی مگر د ځیني علماؤ رایه داده چي د اوداسه کولو څخه مخکي مسواک وهل پکار دی ، په مسواک وهلو کي مستحب دادی چي مسواک د راسته خوا څخه پیل کړل سي.

که د یو سړي سره مسواک نه وي یا غاښونه یې مات وي نو په داسي حالت کي د لاس په ګوتي سره غاښ یا وریـه پاکول پکار دي او یا داسي که د مسواک نرم کولو لپاره یو ډبره وغیره پیدا نه سي او په داسي صورت کي مسواک وهل ممکن نه وي نو غاښونه باید په داسي شي پاک کړل سي چي د خولې بدبویي لیري کړل سي یا یوازي په ګوته سره دي صفا کړي.

الفصل الاول

﴿۳۴۶﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى اُمَّتِيْ لَأَمَرْتُهُمْ بِتَأْخِيْرِالْعِشَاءِ وَ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ (متفق عليه)

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : که ما پر خپل امت دا خبره ګرانه نه ګڼلای نو حکم به مي کړی وای چي د ماخستن لمونځ ناوخته کوي او د هر لمانځه لپاره دي مسواك وهي . بخاري او مسلم .

تشریح : د ماخستن لمونځ ناوخته کول او دهر لمانځه دپاره مسواک وهل مستحب او ډیر فضیلت خبره ده ، دې خبري ته دا حدیث اشاره کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل که زما سره ددې بیره نه وای چي زما امت به په تکلیف کي اخته سي نو ما به دا فرض کړې وای چي ټول مسلمانان دي دماخستن لمونځ ناوخته کوي ، اوس د ناوخته کولو حد څه دی ؟ په دې اړه د امام شافعي رحمة الله عليه څخه پرته د جمهورو رایه داده چي دریمه برخه د شپې یا تر نیمي شپې پوري د ماخستن کول مستحب دی .

دوهمه خبره رسول الله ﷺ د مسواک په اړه فرمایلې ده که په دې اړه د تنګۍ او مشکل بیره نه وای نو ما به ددې خبري اعلان کړی وای چي د هر لمانځه پر وخت یعني د هر لمانځه د اوداسه پر وخت مسواک کول فرض دي .

مګر رسول الله ﷺ د امت په اړه سر تر پایه رحمت او شفقت دی ځکه نو دغه شیانو ته یې د فرض درجه ور نه کړل چي د فرض کېدو په مشکل کي به د تنګۍ او سستۍ په وجه پر دغه

فرضو باندي عمل ونه کړلای سي ، په نتيجه کي په ګناه ګار سي ځکه نو هغه يې مستحب وګرځول ، که يو سړی په دې عمل ونه کړي نو پر هغه به څه سزا نه وي، او که د الله تعالی يو بنده په دې عمل وکړي نو دا به د هغه په حق کي د سعادت او نيک بختۍ خبره وي .

﴿۳۴۷﴾: وَعَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ قُلْتُ بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يَبْدَأُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ قَالَتْ بِالسِّوَاكِ (رواه مسلم)	د حضرت شريح بن هاني ﷛ څخه روايت دی چي ما د بي بي عائشې (رض) څخه پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ کور ته د راتللو په وخت تر ټولو لومړی څه کار کاوه؟ هغې وويل د ټولو مخکي به يې مسواك واهه . مسلم

تشريح : د رسول کريم ﷺ عادت مبارک وو چي کله به يې کور ته تشريف راوړ نو تر ټولو مخکي به يې مسواک وهی او دا د رسول الله ﷺ د مزاج اقدس د ډير نظافت او پاکۍ دليل وو که چيري په مجلس کي په پټه خوله ناسته يا د خلکو سره د خبرو اترو کولو په وجه په خوله کي څه تغير راغلی وي نو هغه ليري سي .

که د رسول الله ﷺ پر دغه مبارک کار باندي نظر واچول سي نو دلته هم د امت تعليم مخته راځي چي خلکو ته پکار ده چي د خپل کورنۍ سره په ډيره پاکي او صفائي سره و اوسيږي تر دې چي په خپل منځ کي د خبرو اترو کولو او يو ځای کېدو لپاره مسواک ووهي چي څوک د خولې بدبويي د تغير په وجه تکليف محسوس نه کړي .

د مسواک د فضيلت د دې څخه اندازه لګيږي چي منقول دي د مسواک کولو اويا ګټي دي چي په هغو کي تر ټولو ادنی او د کمې درجې ګټه داده چي مسواک وهونکی سړی د مرک په وخت کي کلمه شهادت ياد ساتي چي د هغه په وجه د هغه خاتمه په خير وي ، بالکل همداسي د افيم (ترياکو، چرسو وغيره) خوړلو اويا تاوانونه دي چي په هغو کي تر ټولو ادنا او کم تاوان دادی چي افيم خوړونکی سړي څخه د مرګ په وخت کي کلمه شهادت هير سي . العياذ بالله .

علامه ابن حجر رحمة الله عليه فرمايي چي د هر سړي لپاره دا تاکيد دی چي کله په کور کي داخل سي نو هغه ته پکار ده چي تر ټولو مخکي مسواک ووهي ځکه چي په دې سره په خوله کي خوشبوئي پيدا کيږي چي په هغه سره د کورنۍ سره په ښه چلن کي زياتوب کيږي .

﴿۳۴۸﴾ :وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ لِلتَّهَجُّدِ مِنَ اللَّيْلِ يَشُوصُ فَاهُ	د حضرت حذيفة ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله به د شپې د تهجد دلمانځه لپاره راکښېنستی نو

بِالسِّوَاكِ (متفق عليه)

خوله مبارکه به يې په مسواك وهل او پريولل به يې .بخاري اومسلم.

﴿۳۴۹﴾:وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ قَصُّ الشَّارِبِ وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ وَالسِّوَاكُ وَاسْتِنْشَاقُ الْمَاءِ وَقَصُّ الْأَظْفَارِ وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ وَنَتْفُ الْإِبْطِ وَحَلْقُ الْعَانَةِ وَانْتِقَاصُ الْمَاءِ يَعْنِي الْإِسْتِنْجَاءَ قَالَ الرَّاوِيْ وَنَسِيتُ الْعَاشِرَةَ إِلاَّ أَنْ تَكُونَ الْمَضْمَضَةَ . (رواه مسلم) وفي رواية الختان بدل اعفاء اللحية لم اجد هذه الرواية في الصحيحين ولا في كتاب الحميدي ولكن ذكرها صاحب الجامع وكذا الخطابي في معالم السنن عن ابي داؤد برواية عمار بن ياسر.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : لس شيان د فطرت دی (يعني د دين لس خبري دي) ۱: د بريتو کوچني کول ۲: ږيره لويول ۳: مسواك وهل ۴: په پزه کي اوبه اچول ۵: نوکان پرې کول ۶: د گوتو بندونه پريولل ۷: د بغلو وربښتان کنبل ۸: تر نامه لاندي وربښتان خريل ۹: په استنجاء کي لږ اوبه تويول. ۱۰: راوي وايي لسمه خبره زما څخه هيره سوه کيدای سي هغه خوله پريولل وي. (مسلم) او په يوه روايت کي د ږيري لويولو پر ځای ختنه (سنتول) الفاظ دي ما دا روايت نه خو په صحيحين کي او نه د حميدي په کتاب کي ليدلی دی مگر دې لره صاحب د جامع او دا ډول خطابي په معالم السنن کي د ابوداؤد څخه په روايت د عمار بن ياسر ذکر کړی دی .

تشريح : په دغه حديث کي چي د کومو لسو شيانو ذکر سوی دی دا ټول شيان د مخکنيو ټولو انبياؤ عليهم السلام په شريعتونو کي سنت وه او د رسول الله ﷺ په راوړي شريعت يعني دين اسلام کي هم سنت دي د اکثرو علماؤ په نزد د فطرت همدغه معنا ده، په نورو شرحو کي د دې څخه پرته د علماؤ نور اقوال هم منقول دي مگر د اوږدوالي په وجه دلته ټول ذکر نه کړل سول.

۱. لومړنی شی د شونډو وربښتان يعني د بريتو کوچني کول ، په دې اړه مختار مذهب دادی چي بريتونه دي په غچي سره کوچني کړل سي په داسي توگه چي د شونډو غاړه معلومه سي، د امام اعظم رحمة الله عليه يو روايت دادی چي بريتونه د ورځو په اندازه ساتل پکار دي ، البته غازيانو او مجاهدينو ته اوږده بريتونه ساتل جائز دي ځکه چي اوږده بريتونه د دښمن په نظر کي د ډيري باعث وي او په دې سره په هغوئ کي رعب پيدا کيږي ، د بريتونو دومره زيات کوچني کول چي د هغو نښه هم پاته نسي يعني بالکل خريل دا مکروه دي بلکه د ځينو علماؤ په نزد دا حرام دي مگر ځينو علماؤ دې ته هم سنت ويلي دي .

۲. دوهم شی د ږیري اوږدول دي: په دې اړه د علماؤ فیصله داده چي د ږیري اوږدوالی د یوه موټ په اندازه کېدل ضروري دي ، ددې څخه کمېدل نه دي پکار که د موټ څخه زیاته هم وي نو جائز ده په دې شرط چي د اعتدال د حد څخه زیاته نسي . ږیره خریل یا کوچنی کول حرام دي ځکه چي دا د اکثر مشرکینو مثلا انګریزانو او هندوانو طریقه ده ، داسي خریلې یا کوچنی کړې ږیره د هغه خلکو طریقه ده چي د هغوئ ددین هیڅ برخه په نصیب نه ده چي د هغوئ شمیر په بې دینه ډله کي کیږي، د ږیري وریښتان د یوه موټ په اندازه پرېښودل واجب دي ، دې ته سنت ځکه ویل سوي دي چي ددې ثبوت د سنت څخه دی څرنګه چي د اختر لمانځه ته سنت وایي حال دا چي د اختر لمونځ واجب دی . که په اوږدالي یا پلن والي کي یو څه وریښتان په وړاندي کېدو سره بې ترتیبه سي نو د هغه په غوچي سره برابرول جائز دي مګر غوره داده چي هغه هم غوچي نه کړل سي ، که د یو ښځي ږیره راسي نو هغې ته د ږیري صفا کول مستحب دي .

۳. دریم شی مسواک دی، ددې په اړه مخکي ښودل سوي دي چي مسواک وهل په اتفاق سره د علماء سنت دی بلکه داؤد ځو-دې ته واجب ویلي دي ، شاه اسحاق صاحب تر دې هم زیاته خبره کړې ده چي که چیري یو سړی په قصد سره مسواک پرېږدي نو د هغه لمونځ باطل دي .

۴. ځلورم شی په پزه کي اوبه اچول دي، ددې مسئله داده چي د اوداسه لپاره اوبه اچول پکښې مستحب دي او د غسل لپاره په پزه کي اوبه اچول فرض دي ، همدا حکم د خولې پریوللو هم دی چي په اوداسه کي خوله پریولل سنت او په غسل کي فرض ده .

۵. پنځم شی نوکان پریکول دي، نوکان چي په هر ډول سره پریکړل سي نو سنت ادا کیږي ، مګر اولی او غوره داده چي د نوکانو پریکولو په وخت کي دا طریقه اختیار کړل سي چي تر ټولو مخکي د راسته لاس د شهادت د ګوتي نوک پریکړل سي د هغه څخه وروسته د منځنۍ ګوتي او د هغه څخه وروسته د پسې ګوتي او بیا د خچې ګوتي او بیا وروسته د بټي ګوتي نوک پریکړل سي، ددې څخه وروسته د چپه لاس د ګوتو نوکان همداسي پریکړل سي چي تر ټولو مخکي د خچې ګوتي د هغه څخه وروسته د پسې ګوتي او د هغه وروسته د منځنۍ ګوتي د هغه وروسته د شهادت د ګوتي او بیا د بټي ګوتي نوکان پریکړل سي ، ځینو علماؤ دا طریقه هم لیکلې ده چي تر ټولو مخکي دي د راسته لاس د

شهادت د ګوتي ځخه نوکان پريکول پيل کړي او پر خچې ګوته په رسيدو سره دي بس کړي ، بيا د چپه لاس د خچې ګوتي ځخه دي پيل کړل سي او د هغه بټې ګوتي په رسيدو سره دي د راسته لاس پر بټه ګوته دي ختم کړل سي . همدارنګه د پښنو نوکان هم دا ډول پريکول پکار دي چي لومړی دی د راسته پښې د خچې ګوتي ځخه پريکول پيل کړل او په آخر کي دي د چپه پښې پر خچې ګوته باندي ختم کړل سي . ځيني علماؤ دا هم ليکلي دي چي د جمعې په ورځ نوکان پريکول مستحب دي ، ځينو حضراتو د نوکانو په پريکولو سره هغه په مځکه کي ښخولو ته مستحب ويلي دي که نوکان وغورځول سي نو هم هيڅ پرواه نسته مګر هغه په بيت الخلاء يا د غسل په ځای کي غورځول مکروه دي .

۶. شپږم شی براجم يعني د بندونو ځايونه پريولل ، براجم د ګوتو بندونو ته وايي او پر دې سربيره پوست چي ګونجې وي په هغه کي اکثر خيري جمع وي په خاصه توګه کوم خلک چي په لاس سره کار زيات کوي د هغوئ ګوتي سختي وي او په هغه کي خيري جمع کيږي نو د هغه د پريوللو تاکيد کيږي همداسي د بدن هغه اندامونه چي په هغه کي د خيري جمع کېدو ګمان وي لکه غوږ، بغل، نو او داسي نور د هغو هم د پريوللو حکم دی .

۷. اووم شی د بغل وريښتان صفا کول ، په دې اړه لفظ د نتف استعمال سوی دی ، نتف د وريښتانو کښلو ته وايي ، ددې ځخه معلومه سوه چي د بغل وريښتان خريل سنت نه دي بلکه په لاس سره کښل يې سنت دي مګر ځينو علماؤ ليکلي دي چي د بغل وريښتان کښل هغه سړي ته غوره دي چي د هغه تکليف زغملای سي کنه د بغل وريښتان خريل يا په بل شي سره پاکول هم جائز دي .

۸. اتم شی د نامه لاندي وريښتان خريل ، دا هم سنت دي ، د نامه لاندي وريښتان که د خريلو پر ځای وکښل سي يا په پاوډر وغيره سره صاف کړل سي نو هغه هم په دې حکم کي شامل دي ، مګر په غځي کولو سره سنت نه ادا کيږي ، د مقعد (د شا شرمګاه) شاوخوا چي کوم وريښتان وي د هغه صاف کول هم مستحب دي . د ځينو روايتونو ځخه معلوميږئ چي رسول الله ﷺ به د نامه لاندي وريښتان په نوره[1] سره صفا کول، د ښځو لپاره د نامه لاندي وريښتان کښل غوره دي ځکه چي په دې سره خاوند ته شوق زياتيږي او په ښځه کي

---

[1] - نوره يو ډ،ل مرکب شي ته وايي چي د چونې وغيره په يو ځای کولو سره جوړيږي چي په هغه سره به وريښتان ليري کېدل

نفساني خواهش او شهوت ۹۹ برخي وي او په سړي کي يوه برخه وي او دا فيصله ده چي د نامه لاندي وريښتانو په کښلو سره شهوت کميږي او په خريلو سره قوي کيږي نو د ښځي لپاره مناسب دادي چي هغه وريښتان وکاږي او د سړي لپاره مناسب دادي چي هغه وريښتان وخريي ، د نامه لاندي وريښتانو خريلو، د بغل د وريښتانو کښلو، د بريتو د غچي کولو او د نوکانو د پرېکولو زيات وخت څلويښت ورځي کيدل پکار دي تر دې زيات وخت پوري پرېښودل يې مکروه دي .

۹. نهم شی اوبه کمول يعني په اوبو سره استنجاء کول، د (انتقاص الماء) دوه مطلبه دي يو خو دا چي کوم راوي بيان کړی دی يعني په اوبو سره استنجاء کول ، په استنجاء کي اوبه مصرفيږي او کميږي ځکه نو انتقاص الماء ورته ويل سوي دي ، دوهمه معنا يې داده چي د اوبو استعمال يعني د استنجاء کولو په وجه بولي کمول، مطلب دادی چي په اوبو سره د استنجاء په وجه د بولو څاڅکي بند سي نو په دا ډول په بولو کي کمي کيږي، په يو بل روايت کي د انتقاص پر ځای د انتقاض لفظ راغلی دی ، د هغه معنا ده د ستر سربيره اوبه پاشل ، لکه څرنګه چي په مخکي حديثونو کي تير سوي دي ، په هر حال دا دواړه شيان هم سنت دي ، ختنه (سنتول) د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد واجب دي ، د اکثرو علماؤ په نزد سړي او ښځي دواړو ته ختنه کول سنت دی ، او دامام اعظم رحمة الله تعالی عليه په نزد سړي ته ختنه کول سنت دي او ښځي ته مکرمة يعني غوره دي .

ختنه (سنت کول) د اسلام د نښنو څخه ده ، ځکه نو که چيرې د يو ښار ټول خلک ختنه کول پرېږدي نو د وخت امام ته د هغوئ سره جنګ کول پکار دي تر دې چي هغه خلک د اسلام دغه شعار اختيار کړي لکه څرنګه چي دآذان وغيره په باره کي دي، د ختنه کونکي په عمر او د وخت په ټاکنه کي د علماؤ اختلاف دی، د ځينو په نزد د زيږيدني په اوومه ورځ ختنه کول پکار دي لکه څرنګه چي عقيقه اوومه ورځ وي، د ځينو حضراتو په نزد تر اوو کالو پوري او د ځينو په نزد تر نهو کالو پوري وخت دی، ځيني علماء وايي چي په دې کي څه قيد نسته کله چي هم وخت او موقع وي نو ختنه کيدای سي ، د امام اعظم رحمة الله عليه په نزد په دې صورت کي د بلوغ څخه مخکي ختنه کول شرط خاص دی ځکه چي ختنه کول سنت دي او د بالغ کېدو څخه وروسته د ستر پټول واجب دي ځکه که يو سړی د بالغ کېدو څخه وروسته ختنه وکړي نو هغه د يو سنت ادا کولو لپاره واجب پرېښودل ، حال دا چي د سنت د ادا کولو لپاره د واجب پرېښودل جائز نه دي .

الفصل الثاني

﴿۳۵۰﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلسِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِّلْفَمِّ مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ . رواه الشافعي وأحمد والدارمي والنسائي ورواه البخاري في صحيحه بلا إسناد .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مسواك د خولې د پاكولو سبب او د پرودرګار د رضا باعث دی (شافعي، احمد، دارمي، نسائي) بخاري پرته د سند څخه په خپل صحيح كي روايت كړی دی.

﴿۳۵۱﴾: وَعَنْ اَيُّوْبَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعٌ مِنْ سُنَنِ الْمُرْسَلِيْنَ اَلْحَيَاءُ وَ يُرْوَي الْخِتَانُ وَالتَّعَطُّرُ وَالسِّوَاكُ وَالنِّكَاحُ. رواه الترمذي

د حضرت ايوب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څلور شيان د پيغمبرانو په طريقه كي دي: ۱: حياء كول (د حياء پر ځای په يو بل روايت كي د ختنې (سنتېدو) الفاظ دي). ۲:خوشبويي لګول ۳: مسواك وهل ۴: نكاح كول. ترمذي.

تشريح : د رسول كريم ﷺ دا ارشاد فرمايل چي څلور شيان د رسولانو د طريقو څخه دي ، دا د اكثر په اعتبار دی ځكه چي ځيني انبياء عليهم السلام داسي هم وه چي د هغوئ په نزد په دې كي هيڅ شی نه وو مثلا حضرت يحيى عليه السلام نكاح نه وه كړې .

دلته د حياء څخه مراد دادی چي بنده خپل نفس د بدی، څخه بيل وساتي او د خرابو خبرو څخه ځان وساتي ، د ځينو روايتونو څخه معلوميږي چي حضرت آدم عليه السلام، حضرت شيث عليه السلام، حضرت نوح عليه السلام، حضرت هود عليه السلام، حضرت صالح عليه السلام ، حضرت لوط عليه السلام، حضرت شعيب عليه السلام، حضرت يوسف عليه السلام، حضرت موسى عليه السلام، حضرت سليمان عليه السلام، حضرت زكريا عليه السلام ، حضرت عيسى عليه السلام، حنظله بن صفوان چي د اصحاب الرس نبي وو ، او رسول الله ﷺ مختون (سنت كړل سوي) دې دنيا ته تشريف راوړی وو يعني دا ټول انبياء او رسولان سنت سوي پيدا سوی وه .

د رسول الله ﷺ په اړه د ځينو علماؤ قول چي د پيدا كېدو څخه وروسته سنت سوی دی ، د رسول الله ﷺ د نظاقت او لطافت پر لوړ او اعلى مقام باندي دلالت كوي، د رسول الله ﷺ خوشبوئي ډيره خوښه وه ، منقول دي چي رسول الله ﷺ به د خوشبوئي لپاره مشک استعمالول.

په شريعت محمدي كي د نكاح ډير زيات ازربنت دی تر دې چي د نكاح د خپل سنت ګرځولو

سره ددې خبري اعلان يې هم کړی دی چي کوم سړی زما د سنت څخه مخ واړوي يعني نكاح ونه کړي نو هغه زما د امت څخه نه دی.

علامه ابن حجر رحمة الله عليه فرمايي چي ما د نكاح ذ فضائلو او مناقبو په اړه چي کوم منقول حديثونه راجمع کړي دي د هغو شمير تر سل زيات دی.

﴿۳۵۲﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَرْقُدُ مِنْ لَيْلٍ وَلاَ نَهَارٍ فَيَسْتَيْقِظُ إِلاَّ يَتَسَوَّكُ قَبْلَ أَنْ يَتَوَضَّأَ . رواه أحمد وأبو داود .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به نه بيديدئ په شپه او ورځ کي مگر چي د خوب څخه به کښبنستی نو د اودس کولو څخه مخکي به يې مسواك واهه . احمد ، ابوداؤد

تشريح : د دغه حديث څخه معلومه سوه چي نبي کريم ﷺ د ورځي هم د قيلولې (غرمې) پر وخت آرام کوي، په ورځ کي لږ بېده کېدل او د قيلولې (غرمې) بېده کېدل او د غرمې په وخت کي آرام کول سنت دي ځکه چي ددې په وجه د شپې د الله تعالى د عبادت لپاره را پورته کېدل آسان وي څرنگه چي د پيشلمي په خوړلو سره روژه آسانه کيږي ، ددې حديث څخه دا هم معلومه سوه چي د خوب څخه د پورته کېدو وروسته مسواک وهل سنت مؤكده دی ځکه چي د خوب په وجه په خوله کي تغير پيدا کيږي او په بوی کي فرق راځي ځکه نو په مسواک وهلو سره خوله صفا کيږي .

اوس په دې کي احتمال دی چي رسول الله ﷺ به د بيا اودس کولو لپاره دوهم وار مسواک وی که يا ، کېدای سي چي پر هغه مسواک باندې اکتفاء کول او د اوداسه په وخت کي يې دوهم وار مسواک نه وهي او دا هم ممکن ده چي د اوداسه دارادې په وخت کي يا په اوداسه کي د خولې پريوللو په وخت کي يې دوهم وار هم مسواک وهی . والله اعلم .

﴿۳۵۳﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَاكُ فَيُعْطِيْنِيْ اَلسِّوَاكَ لِأَغْسِلَهُ فَأَبْدَأُ بِهِ فَأَسْتَاكُ ثُمَّ أَغْسِلُهُ وَأَدْفَعُهُ إِلَيْهِ . رواه أبو داود .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به مسواك ووهه نو بيا به يې ماته راکړ چي زه هغه پرېولم نو اول به ما په هغه خپله مسواك وواهه او بيا به مي پرېولی رسول الله ﷺ ته به مي ورکړ. ابوداؤد .

تشريح : دا حديث ددې خبري دليل دی چي د مسواک وهلو څخه وروسته د مسواک پريولل مستحب دي، ابن همام فرمايي چي مستحب دادي چي درې واره مسواک ووهل سي او هر وار په اوبو سره پريولل سي چي خيره ځيني ليري سي او دا چي مسوک نرم کېدل هم پکار دي .

بي بي عائشې رضي الله عنها به د رسول الله ﷺ څخه د مسواک اخیستلو وروسته د هغه د پریوللو څخه مخکې په خپله خوله کې ځکه وهی چې د رسول الله ﷺ د ناړو مبارک برکت ورته تر لاسه سي ، او بیا د هغه په پریوللو سره به یې رسول الله ﷺ ته ورکوی که چیري مسواک به یې پوره نه وو وهلی نو پوره به یې کړی.

دا حدیث پر دې خبره هم دلالت کوي چې د یو چا مسواک د هغه په رضا سره استعمالول مکروه نه دي او ددې څخه دا هم معلومه سوه چې د صالحینو او بزرګانو د ناړو وغیره څخه برکت تر لاسه کول ښه خبره ده.

الفصل الثاني

﴿۳۵۴﴾ : عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرَانِي فِي الْمَنَامِ أَتَسَوَّكُ بِسِوَاكٍ فَجَاءَنِيْ رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ فَنَاوَلْتُ السِّوَاكَ الْأَصْغَرَ مِنْهُمَا فَقِيلَ لِي كَبِّرْ فَدَفَعْتُهُ إِلَى الْأَكْبَرِ مِنْهُمَا . متفق علیه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : ما په خوب کې ولیدل چې زه مسواک وهم ما لره دوه خلک راغلل په هغو کې یو د بل څخه لوی وو ما په هغوئ کې کوچني ته د مسواک ورکولو اراده وکړه چې ما ته وویل سول چې لوی ته یې ورکړه نو ما په هغوئ کې لوی ته مسواک ورکړ . بخاري او مسلم .

تشریح : د دې حدیث څخه د مسواک د فضیلت او غوره والي اظهار کیږي ځکه چې مشر ته د ورکولو حکم پر دې خبره دلالت کوي چې دا یو افضل او غوره شی دی ځکه نو مشر چې د کشر څخه افضل او اعلی وو هغه ته د ورکولو حکم وسو ، دا حدیث دې هم ته اشاره وکړ چې په خوراک وغیره ورکولو ، خوشبوئي لګولو یا داسي نورو شیانو کي پیل د مشر څخه کول پکار دی.

﴿۳۵۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا جَاءَنِيْ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامِ قَطُّ إِلَّا أَمَرَنِيْ بِالسِّوَاكِ لَقَدْ خَشِيْتُ أَنْ أُحْفِيَ مُقَدَّمَ فِيَّ . رواه أحمد .

د حضرت ابو امامة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چې ما ته جبرائیل ﷺ راتلی نو ما ته یې د مسواک حکم راکاوه او زه بیرېدم چې (د ډیر مسواک کولو له کبله) د خپلي خولې د مخ برخه وانه روم . احمد

تشریح : د مسواک د ارزښت او د هغه د فضیلت اندازه ددې څخه معلومیږي چې جبرائیل ﷺ

به كله رسول الله ﷺ ته تشريف راوړی نو رسول الله ﷺ ته به يې د مسواک وهلو حکم ورکوی ، ددې حکم په وجه رسول الله ﷺ به زيات مسواک وهی، رسول الله ﷺ دا فرمايي چې د جبرائيل ﷺ د څو څو واره حکم اود هغه د شدت د تاكيد په وجه زه مسواک دومره زيات وهم چې زما سره دا بيره ده چې د مسواک د زياتوالي په وجه زما خوله ونه وځي .

﴿۳۵۶﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم لَقَدْ أَكْثَرْتُ عَلَيْكُمْ فِي السِّوَاكِ رواه البخاري .	د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ما تاسو ته د مسواك په اړه ډير څه بيان كړل . بخاري

تشريح : د دې ارشاد مقصد د مسواک ارزښت او فضيلت ښودل دي او ددې يې تاكيد فرمايلی دی چې مسواک زيات وهل پكار دي ځكه يو شی په څو څو واره بيانول ددې خبري دليل دی چې هغه شی ډير ارزښت او فضيلت لري .

﴿۳۵۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَنُّ وَعِنْدَهُ رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ فَأُوْحِيَ إِلَيْهِ فِيْ فَضْلِ السِّوَاكِ أَنْ كَبِّرْ أَعْطِ السِّوَاكَ أَكْبَرَهُمَا . رواه أبو داود .	د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ مسواك واهه او دوه كسان ورسره وه په هغوئ كي يو د بل څخه لوی وو نو رسول الله ﷺ ته د مسواك په فضيلت كي وحي وسوې چې مسواك مشر ته وركړه . ابوداؤد .

﴿۳۵۸﴾ :وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَفْضُلُ الصَّلَاةُ الَّتِيْ يُسْتَاكُ لَهَا عَلَى الصَّلَاةِ الَّتِيْ لاَ يُسْتَاكُ لَهَا سَبْعِيْنَ ضِعْفًا . رواه البيهقي في شعب الإيمان .	د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه لمونځ چې د هغه لپاره مسواك وهل سوی وي پر هغه لمانځه چې د هغه لپاره مسواك نه وي وهل سوی اويا (۷۰) درجې

فضيلت لري . بيهقي شعب الايمان كي .

تشريح : د دغه حديث څخه د مسواک د فضيلت اظهار كيږي چې د مسواک په وجه د لمانځه په مرتبو او درجو كي كمي او زياتوب كيږي ، فرمايل سوي دي كه يو سړی يو لمونځ داسي وكړي چې د هغه لمانځه لپاره د اوداسه په وخت كي مسواک ووهي او يو لمونځ يې داسي وكړ چې د هغه لپاره د اوداسه په وخت كي يې مسواک ونه وهی نو لومړنی لمونځ چې د هغه لپاره مسواک وهل سوی دی د هغه لمانځه په مقابله كي چې د هغه لپاره مسواک وهل سوی نه دی د فضيلت

او ثواب په زياتوب كي به د اويا درجې زياتي وي ، يعني د دوهم لمانځه په مقابله كي د لومړني ثواب به هغه ته اويا برابر زيات تر لاسه كيږي .

﴿۳۵۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَلْمَةَ عَنْ زَيْدُ بْنُ خَالِدِ الْجُهَنِيْ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ وَلَأَخَّرْتُ صَلَاةَ الْعِشَاءِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ قَالَ فَكَانَ زَيْدُ ابْنُ خَالِدٍ يَشْهَدُ الصَّلَوَاتِ فِي الْمَسْجِدِ وَسِوَاكُهُ عَلَى أُذُنِهِ مَوْضِعَ الْقَلَمِ مِنْ أُذُنِ الْكَاتِبِ لَا يَقُومُ إِلَى الصَّلَاةِ إِلَّا اُسْتَنَّ ثُمَّ رَدَّهُ إِلَى مَوْضِعِهِ. رواه الترمذي وابوداؤد الا انه لم يذكر ولاخرت صلوة العشاء الى ثلث الليل وقال الترمذي هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ .

حضرت ابو سلمة[1] د حضرت زيد بن خالد[2] ﷺ څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي فرمايل يې : كه ما پر خپل امت ستونزه نه ګڼلاى نو هغوئ ته به مي حكم وركړى واى چي د هر لمانځه لپاره مسواك ووهي او د ماخستن لمونځ د شپې د دريمي برخي پوري و ځنډوي . راوي وايي د دې وروسته كله چي به زيد بن خالد لمانځه ته راتلى نو مسواك به د هغه په غوږ كي وو لكه څرنګه چي قلم اېښودل كيږي ، هغه چي به د لمانځه لپاره درېدى نو سمدستي به يې مسواك واهه او بيا به يې په غوږ كي كېښېښود ، دا ترمذي او ابوداؤد روايت كړى دى خو دا چي ابوداؤد : ولاخرت صلوة العشاء الى ثلث الليل ، نه دى ذكر كړى او ترمذي ويلي دي چي دا حديث حسن صحيح دى .



[1] ابوسلمه تابعي دي ، د (۷۲) كالو په عمر كي په كال (۹۴هـ) كي وفات سوى دى .

[2] نوموړى مشهور صحابي دى او كنيت يې ابوعبدالرحمن دى د (۸۵) كالو په عمر د عبدالمالك په زمانه كي په كال (۷۸هـ) كي او د ځينو په نزد د معاويه ﷺ د زمانې په پاى كي وفات سوى دى .

بَابُ سُنَنِ الْوُضُوْءَ

(د اوداسه د سنتو بيان)

دلته د اوداسه د سنتو څخه مراد د رسول الله ﷺ هغه افعال او اقوال دي چي د اوداسه په اړه د رسول الله ﷺ څخه منقول دي كه څه هم د هغه تعلق د اوداسه د فرضونو سره وي يا د سنت سره وي او يا د اوداسه د آدابو سره وي.

الفصل الاول

﴿۳۶۰﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلاَ يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلاَثًا فَإِنَّهُ لاَ يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي په تاسو كي يو څوك د خوب څخه كښيني نو خپل لاس دي د اوبو په لوښي كي نه دننه كوي تر څو پوري چي درې ځله يې پريولی نه وي ځكه چي هغه ته نه ده څرګنده چي د شپې د هغه لاس پر كوم ځای پروت وو. بخاري او مسلم.

تشريح: د دې حديث څخه ثابته سوه چي د اوداسه څخه مخكي لاسونه پريولل سنت دي، او كوم چي د خوب څخه د پورته كېدو وروسته قيد دی نو ددې وجه داده چي په عربو كي د اوبو لږوالی وي په خاصه توګه د نبي كريم ﷺ په زمانه كي خو اوبه ډېري لږ وې، ځكه نو اكثرو خلكو به په اوبو سره استنجاء نه كول بلكه په لوټو يا ډبرو سره به يې صفائي كول او دا څرګنده ده چي د ګرمي هواء په وجه په بېده كېدو كي د استنجاء پر ځای خوله راځي په دې صورت كي دا احتمال وي چي د شپې بېده كېدو په وخت كي لاس د استنجاء ځای ته ورسيږي چي په هغه سره لاس مردار سي، څرنګه چي رسول الله ﷺ وفرمايل چي بيده كېدونكي ته دا معلومه نه وي چي د هغه لاس د شپې كوم ځای وو ځكه نو رسول الله ﷺ حكم وكړ چي هر كله يو څوك د خوب څخه راكښيني نو هغه ته پكا رده چي اول خپل لاسونه په اوبو كي نه واچوي بلكه خپل لاسونه دي درې واره پريولي چي په هغه سره لاسونه پاك سي، ددې څخه وروسته دي د لوښي څخه د اوبو په را اخستلو اودس وكړي. په هر حال دلته د خوب قيد خو ددې لپاره دی چي په هغه كي لاسونو ته د نجاست لګېدو احتمال دی كنه هر يو اودس كونكي ته مخكي تر اوداسه كولو درې

واره لاس پريولل پكار دي ځكه چي علماء فرمايي چي دا ډول لاس پريولل د هغه سړي لپاره هم سنت دي چي په بېده كېدو سره نه وي را كښېنستي ځكه چي دلاس پريوللو سبب يعني لاس ته د نجاست او خير و لګېدو احتمال د ويښي په حالت كي هم موجود دى .

د لاس پريوللو دا حكم فرض يا واجب نه دى بلكه د سنت او مستحب په درجه كي ذى چي رسول الله ﷺ ددې حكم د احتياط په توګه وركړى دى ، كه يو سړى لاس نه پريولي نو هغه هم پاک دى چي پرته د پريوللو څخه لاس په اوبو كي واچوي نو په هغه سره اوبه ناپاک او چټلي كيږي نه ځكه چي په خوب كي د لاس ناپاک كېدل يقيني نه دي بلكه د احتمال د درجې شى دى ، مګر امام احمد رحمة الله عليه فرمايي چي په بېده كېدو سره د پورته كېدو څخه وروسته د لاس پريولل واجب دي كه يو سړى د خوب څخه وروسته د لاس پريوللو څخه پرته په اوبو كي لاس ووهي نو اوبه به ناپاكه سي .

﴿۳۶۱﴾: وَعَنْهُ قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَتَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ ثَلَاثًا فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَبِيتُ عَلَى خَيْشُوْمِهِ (متفق عليه).

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي په تاسو كي يو څوك د خوب څخه كښيني او د اوداسه كولو اراده وكړي نو درې ځله دي په پزه كي اوبه واچوي او سوڼ دي يې كړي ځكه چي دده د پزي په هډوكي كي شيطان شپه تيروي . بخاري او مسلم.

تشريح : د انسان د پزي پر نرمو ځايو د شيطان اوسيدل او په هغه كي د شپې تيرولو حقيقت څه دى ؟ د دې د حقيقت او كيفيت علم خو الله تعالى او د هغه رسول ته دى، ددې د رموزو او اسرارو د معرفت څخه زموږ عقلونه قاصر دي نو دداسي امورو په اړه چي د هغه خبر شارع ﷺ وركړى دى غوره او اولى طريقه داده چي يوازي د هغوئ د صداقت په تسليمولو سره پر هغه ايمان راوړل سي او د هغه د حقيقت او كيفيت په بيانولو كي سكوت اختيار كړل سي .

ځينو حضراتو ددې ډير په زړه پوري تاويل هم كړى دى ، مثلا دا قاعده ده كله چي انسان بيده سي نو بخارات، ګرد او غبار وغيره په پزه كي جمع كيږي چي د دماغ نژدې برخه ده په دې وجه دماغ چي د حواس او شعور ځاى دى مكرد (چټل) كيږي او دا شى د تلاوت قرآن آداب لكه څرنګه چي پكار ده نسي ادا كولاى او د هغه د معنى او مطلب په پوهېدو كي مانع كيږي او دا د عبادت په ادا كولو كي د سستى باعث هم دى او ظاهره ده چي دا ټول شيان د شيطان د خوښى عين مطابق او د هغه د خوشحاله كولو باعث دي ځكه نو په دې مشابهت سره ويل سوي دي چي

د بيده کېدونکي د پزي سربيره تهوله شپه شيطان ناست وي په هر حال دا احتمالات دي پر دې يو يقيني حکم نسي کيدلای ځکه غوره او اولی طريقه هغه ده چي مخکي ذکر سوې ده.

﴿۳۶۲﴾: وَقِيلَ لِعَبْدِاللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ كَيْفَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ فَدَعَا بِوَضُوْءٍ فَأَفْرَغَ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ مَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ ثَلٰثًا ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ غَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ ثُمَّ مسحه رَأْسَهُ بِيَدَيْهِ فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ بَدَاءَ بِمُقَدَّمِ رَأْسِهِ ثُمَّ ذَهَبَ بِهِمَا إِلَى قَفَاهُ ثُمَّ رَدَّهُمَا حَتّٰى رَجَعَ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِيْ بَدَءَ مِنْهُ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ (رواه مالك والنسائي) وَلِأَبِيْ دَاوُدَ نَحْوَهُ ذَكَرَهُ صَاحِبُ الْجَامِعِ وَفِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ قِيلَ لِعَبْدِاللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ تَوَضَّأْ لَنَا وُضُوءَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا بِإِنَاءٍ فَأَكْفَأَ مِنْهَا عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا ثَلَاثًا ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ فَفَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثًا ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَغَسَلَ يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَمسحه بِرَأْسِهِ فَأَقْبَلَ بِيَدَيْهِ وَأَدْبَرَ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا كَانَ وُضُوءُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَفِيْ رِوَايَةٍ فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ بَدَأَ بِمُقَدَّمِ

د حضرت عبدالله بن زيد بن عاصم[1] ﷺ څخه پوښتنه وسول چي رسول الله ﷺ به څنګه اودس کاوه، (د ذې په اورېدو سره) عبدالله د اوداسه لپاره اوبه را وغوښتلې او دواړه لاسونه يې پريولل او هغه يې دوه دوه ځله پريولل. بيا يې په خوله اوبه و لغړولې او په پزه کي يې اوبه درې درې ځله واچولې ، پزه يې سونړ کړه بيا يې درې ځله مخ پريولی او دواړه لاسونه تر څنګلو پوري دوه دوه ځله پريولل ، بيا يې دواړه لاسونو سره د سر مسحه وکړل، دا ډول چي دواړه لاسونه يې د تندي څخه د څټ طرف ته يووړل او بيا د څټ څخه د تندي طرف ته راوړل ، بيا يې دواړې پښې پريوللې . مالك ، نسائي او ابوداؤد هم داسي روايت کړی دی او د جامع الاصول د مصنف ذکر يې وکړ ، او بخاري او مسلم کي دا روايت داسي دی چي عبدالله بن زيد بن عاصم ته وويل سول چي ته زموږ په وړاندي د رسول الله ﷺ په ډول اودس وکړه ، نو هغه د اوبو لوښی را وغوښتی او د هغه لوښي څخه يې اوبه پر خپلو دواړو لاسونو واچولې او هغه يې درې ځله پريولل بيا يې د لوښي څخه د خولې پريوللو لپاره اوبه را واخيستې او په هغه اوبو سره يې خوله پريولل او په پزه کي يې اوبه واچولې او

[1] د نوموړي نوم عبدالله بن زيد بن عاصم دی او په ابن عماره نامه سره مشهور دی کنيت يې ابو محمد دی . د يزيد په زمانه کي په کال (۶۴هـ) کي شهيد سو .

رَأْسِهِ ثُمَّ ذَهَبَ بِهِمَا إِلَى قَفَاهُ ثُمَّ رَدَّهُمَا حَتّٰى رَجَعَ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِيْ بَدَأَ مِنْهُ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ، وَ فِيْ رِوَايَةٍ فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثًا بِثَلَاثِ غُرُفَاتٍ مِّنْ مَّاءٍ، وَفِيْ رِوَايَةٍ أُخْرٰى فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفَّةٍ وَّاحِدَةٍ فَفَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثًا، وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيْ فَمسحه رَأْسَهُ فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ مَرَّةً وَّاحِدَةً ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ، وَفِيْ أُخْرٰى لَهُ فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِنْ غُرْفَةٍ وَّاحِدَةٍ

سوڼ يې کړه او درې ځله يې داسي وکړل بيا يې د لوښي څخه اوبه واخيستې درې ځله يې مخ پريولی او بيا يې اوبه واخيستې دواړه لاسونه يې دوه دوه ځله تر څنگلو پوري پريولل بيا يې اوبه را واخيستلې د سر مسحه يې داسي وکړه چي دواړه لاسونه يې د تندي څخه د شا طرف ته بوتلل او بيا يې د شا د طرف څخه د مخ طرف ته راوستل بيا يې دواړي پښې تر بجلکو پوري پريولې او ددې وروسته يې وويل د رسول اللهﷺ اودس همدا ډول وو، په يو بل روايت کي د اسي دي چي د مسحه لپاره يې دواړه لاسونه د تندي څخه شاته بوتلل او بيا يې د شا څخه مخ ته راوستل يعني د سر د مخکي حصې څخه يې مسحه پيل کړه او د څټ طرف ته يې لاسونه بوتلل، بيا يې د څټ طرف څخه هلته راوستل د کوم ځای څخه چي يې مسحه پيل کړې وه بيا يې دواړي پښې پريوللې او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي خوله يې پريولل او په پزه کي يې اوبه واچولې او سوڼ يې کړه يعني درې ځله په درې ځله اوبه پاشلو سره ، او په يوه بل روايت کي دا الفاظ دی چي خوله يې پريولل او په پزه کي يې اوبه واچولې او په يوه وار اوبه پاشلو سره يې درې ځله داسي وکړل، او د بخاري په يوه روايت کي دا الفاظ دی چي هغه د سر مسحه وکړه او دواړه لاسونه يې د مخ څخه شا طرف ته بوتلل او د شا طرف څخه يې مخ ته راوستل يوازي يو ځل بيا يې دواړې پښې تر څنگلو پوري پريولې ، او په يوه بل روايت کي دا الفاظ دی چي هغه خوله پريولل او په پزه کي يې اوبه واچولې يوازي په يو وار اوبه پاشلو سره درې ځله .

تشريح : د دغه حديث شريف د لومړني جز څخه دا معلومه سوه چي عبد الله بن زيد بن عاصم ﷺ لاسونه دوه واره پريولل حال دا چي د رسول الله ﷺ په اړه په نورو روايتونو کي ثابته ده چي لاسونه به يې درې واره پريولل، په دې اړه علماؤ دا تاويل کړی دی چي سنت خو درې واره پريولل دي مگر دوه واره پريولل هم جائز دي ځکه نو عبد الله ﷺ د بيان جواز لپاره خپل لاسونه تر څنگلو پوري دوه واره پريولل چي دا معلومه سي چي دوه واره پريولل هم جائز دي، په دې اړه د مرتين لفظ دوه واره راغلی دی حال دا چي يو وار راوړل کافي وه ، ددې وجه دا ده که لفظ د مرتين يې يوازي يو وار ذکر کړی وای نو ددې څخه دا وهم پيدا کيدی چي دواړه لاسونه به يې

په متفرق ډول سره دوه واره پريولي وي يعني يو واريې يې يو لاس پريولی او بل واريې بل لاس پريولی نو د وهم څخه د ساتني لپاره يې د مرتين لفظ دوه واره ذکر کړ ددې لپاره چي دا خبره واضحه سي چي د دواړو لاسونو په يو ځای کولو سره يې دوه واره پريولل، د سر د مسحه مستحب طريقه داده چي د دواړو لاسونو لاسونو د درو درو ګوتو سرونه مختـه کښېښودل سي او د دواړو لاسونو بټي ګوتي او د شهادت ګوتي د تلي د سر څخه بيلي کړل سي ، همدارنګه دغه شپږ سره ګوتي شا ته د څټ په لور يوسي بيا دواړه ورغوي د سر وروستني برخه باندي ايښودلو سره وړاندي راوستل سي ، بيا پر دواړو غوږو پر سربيرنه برخه باندي په دواړو بټو ګوتو سره او د غوږونو په دواړو سوريانو کي د شهادت په ګوتو سره مسحه وکړل سي .

او د متفق عليه څخه وروسته چي کوم روايتونه نقل سوي دي هغه د صاحب مصابيح نقل سوي نه دي بلکه صاحب مشکوة د هغه زياتوب کړی دی ، ددې مطلب دادی چي د ماقبل روايت سربيره ددې چي په بخاري او مسلم کي منقول نه دي مګر صاحب مصابيح هغه په صحاح يعني اول فصل کي نقل کړي دي ځکه مصنف د مشکوة د هغه روايتونو چي په بخاري او مسلم کي منقول دي وړاندي زياتوب کړی دی چي ترتيب صحيح پاته سي .

د بخاري آخري روايت چي د هغه الفاظ دادي : نو خوله يې پريولل او په يوه لپه سره درې واره او به اچولو سره يې پزه سوڼ کړه ، ددې مطلب دا نه دی چي په يو لپه سره يې په پزه کي درې واره او به واچولې او هغه يې صفا کړه بلکه درې واره لپاره يې درې لپي هم استعمال کړې .

په دې مسئله کي په دا خبره پوهېدل پکار دي چي د خولې پريوللو او په پزه کي او به اچولو په باره کي مختلف حديثونه منقول دي ، په ځينو حديثونو کي خوله پريولل او بيا په درو لپو سره په پزه کي او به اچول او په ځينو روايتونو کي په يوه لپه سره فصل او وصل سره منقول دي يعني په درو لپو سره خوله پريولل بيا په درو لپو سره په پزه کي او به اچول هم د حديث څخه ثابت دي، او دا دواړه په يوه لپه سره هم ثابت دي ، همدارنګه ددې څو صورتونه دي د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب د صحيح قول سره سم دادی چي دا دواړه په درو لپو سره وکړي په ډاسي توګه چي مخکي يوه لپه او به واخيستل سي او د هغه څخه په لږ او بو سره خوله پريولل سي او پاته او به په پزه کي واچول سي بيا په دوهمه لپه او دريمه لپه اخيستو سره همداسي وکړي .

د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه مذهب دادی چي هر يو په درو درو لپو سره وکړل سي يعني د خولې پريوللو لپاره درې لپي استعمال کړل سي او بيا په پزه کي د او بو اچولو لپاره هم

درې لپې بيلې بيلې استعمال کړل سي .

امام اعظم رحمة الله عليه دغه طريقې ته ځکه ترجيح ورکړې ده چې دا د قياس سره سم ده ځکه چې خوله او پزه دواړه بيل بيل اندامونه دي نو څرنګه چې نور اندامونه په اوداسه کي جمع کيدلای نسي همدارنګه دا دواړه اندامونه به هم نسي جمع کېدلای ، او د اصول فقه دا قاعده ده چي کوم حديث د قياس سره سم وي هغه ته ترجيح ورکول کيږي .

او کوم د شوافع او حنفيه په مذهب کي د تطبيق تعلق دی نو په دې اړه نو شمني د فتاوی ظهريه څخه دا قول نقل کړی ديچي د امام اعظم رحمة الله عليه په نزد دلته وصل هم جائز دی يعني د امام شافعي رحمة الله عليه چي کوم مذهب دی هغه د امام اعظم رحمة الله عليه په نزد هم صحيح دی، همداسي د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد دلته فصل هم جائز دي يعني کوم مذهب چي د امام اعظم رحمة الله عليه دی هغه د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد هم صحيح او جائز دي . او ترمذي د امام شافعي رحمة الله عليه دا قول نقل کړی دی چي د خولې پريوللو او په پزه کي د اوبو اچولو لپاره يوه لپه جمع کول جائز دي مګر زه دا زيات خوښوم چي په دغه دواړو لپاره د بيلو بيلو لپو استعمال وکړل سي ، د دې قول څخه په صراحت سره دا خبره ثابته سوه چي د حنفيه او شوافع مذهب کي څه خاص اختلاف نسته .

﴿۳۶۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ تَوَضَّأَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً مَرَّةً لَمْ يَزِدْ عَلَى هٰذَا . رواه البخاري .	د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يو ځل يعني ټول اندامونه يې يو يو ځل پريولل او ددې څخه يې زيات ونه کړل. بخاري
﴿۳۶۴﴾ :وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ . رواه البخاري .	د حضرت عبدالله بن زيد[1] ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ دوه دوه ځله اودس وکړ (يعني ټول اندامونه يې دوه دوه ځله پريولل). بخاري
﴿۳۶۵﴾ : وَعَنْ عُثْمَانَ اَنَّهُ تَوَضَّأَ بِالْمَقَاعِدِ فَقَالَ أَلاَ أُرِيكُمْ وُضُوءَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ تَوَضَّأَ ثَلاَثًا ثَلاَثًا . رواه مسلم .	د حضرت عثمان ﷺ څخه روايت دی چي هغوئ د مقاعد په ځای کي اودس وکړ او خلکو ته يې وويل ايا زه تاسو ته د رسول الله ﷺ اودس ونه ښيم

[1] د نوموړي نوم عبدالله بن زيد بن عبدربه دی او کنيت يې ابومحمد دی . نوموړي انصاري او صحابي دی. د (۶۴) کالو په عمر په کال (۳۲هـ) کي وفات سوی دی .

نو هغه درې درې ځله اودس وکړي (يعني هر اندام يې درې درې ځله پريولل.) مسلم.

تشريح: د دغه حديث څخه معلومه سوه چي رسول الله ﷺ به د اوداسه اندامونه کله يو يو وار، کله دوه دوه واره او کله درې درې واره پريولل او دا خبره هم ثابته ده چي اکثره وخت به يې درې درې واره پريولل.

په دې کي به تطبيق داسي وي چي د رسول الله ﷺ د اندامونو کله يو يو وار پريولل د جواز لپاره وه، يعني ددې څخه دا ښودل مقصد وه چي يو يو وار پريولل هم جائز دي او داسي هم اودس کيږي ځکه چي دا ادنا درجه ده او فرض هم يو يو وار دي، همداسي دوه دوه پريولل هم د بيان جواز لپاره وه چي په داسي توګه هم اودس کيږي او اکثر به يې درې درې واره پريولل چي دا د طهارت انتهائي درجه ده، نو د اوداسه اندامونه درې درې واره پريولل او ځيني وخت يو يو وار پريولل هم ثابت دي نو دا ټولي طريقې د بيان جواز لپاره دي.

د ځينو علماؤ په نزد د اوداسه اندامونه يو يو وار پريولل ګناه ده ځکه چي په داسي کولو سره سنت مشهوره پرېښودل کيږي مګر دا صحيح نه دي ځکه چي هر کله د حديث څخه يو يو وار پريولل ثابت دي نو دې ته ګناه ويل مناسب نه دي.

د حديث د آخر دا الفاظ چي درې درې واره يې اودس وکړ يعني د اوداسه اندامونه يې درې درې واره پريولل ددې څخه په ظاهره خو دا مفهوم کيږي چي د سر مسحه به يې هم درې واره کړې وي مګر په کومو روايتونو کي چي د اوداسه د اندامونود پريوللو تفصيل او وضاحت سوی دی لکه څرنګه چي په د صحيحين د روايتونو څخه تير سوي دي هغه پر دې خبره دلالت کوي چي د سر مسحه يې يوازي يو وار کړې ده.

﴿۳۶۶﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ رَجَعْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِينَةِ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِمَاءٍ بِالطَّرِيقِ تَعَجَّلَ قَوْمٌ عِنْدَ الْعَصْرِ فَتَوَضَّئُوا وَهُمْ عِجَالٌ فَانْتَهَيْنَا إِلَيْهِمْ وَأَعْقَابُهُمْ تَلُوحُ لَمْ يَمَسَّهَا الْمَاءُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ أَسْبِغُوا الْوُضُوءَ. رواه مسلم.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷛ څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره د مکې څخه مدينې ته ستانه سو تر دې چي موږ اوبو ته ورسيدلو چي په لاره کي وې خلکو د مازديګر د لمانځه لپاره په اوداسه کي تلوار وکړ کوم وخت چي موږ خلکو ته را ورسيدو نو ګورو چي د هغوئ پوندي وچې وې چي اوبه ورته نه وې رسېدلې نو رسول الله ﷺ وفرمايل: د پوندو لپاره د اور

(ویل) دی اودس پوره کوئ (ویل د دوږخ یوه کنده ده). مسلم.

تشریح : رسول کریم ﷺ د صحابه کرامو د ډلي سره د مکې معظمې څخه مدینې منورې ته روان وو ، د سفر په مینځ کي د مازدیگر دلمانځه وخت راغلی، په لاره کي یو ځای اوبو ته نژدې دغه قافله تودرېدل ، ځینو خلکو دا فکر کولو سره چي د مازدیگر وخت کیږئ د اودس کولو لپاره اوبو ته ور مخکي سول ، هغه خلک په تیز تیز تللو سره د هغه ډلي څخه چي په هغه کي خپله رسول الله ﷺ او عبدالله بن عمر ﷺ وغیره هم وه مخته ولاړل ، اوبو ته په رسیدو سره د وخت د تنگۍ په وجه په تلواره یې اودس وکړ ، کله چي رسول الله ﷺ هغوئ ته نژدې سو نو وه یې لیدل چي د تلوار په وجه د هغوئ پښې په پوره توگه نه دي پریولل سوي چي د هغه په وجه باندي وچوالی پاته سوی دی ، په دې وجه رسول الله ﷺ وفرمایل ، چي د پوندو لپاره د اور ویل دی .

ځینو علماؤ د ویل معنی د سخت عذاب لیکلې ده .

د ځینو علماؤ تحقیق دی چي ویل په دوږخ کي د نو او د ویني د یو غره نوم دی ، ځیني محققینو ویلي دي چي ویل یوه داسي کلمه ده چي غمجن سړی یې وایي او په اصل کي ددې معنا دهلاکت او عذاب ده .

په هر حال دا ټولي معناوي په نظر کي ساتلو سره مناسب او صحیح دادي چي ددې لفظ محمل اصل قرار وگرځول سي یعني د پوندو لپاره لوی هلاکت او دردناک عذاب دی، په خاصه توگه سره د پوندو لپاره دا سزا ځکه ده چي په اوداسه کي هغه نه دي پریولل سوي چي د هغه په وجه هغه وچي پاته سوي دي .

ځینو علماؤ دا هم لیکلي دي چي دلته د پوندو څخه مراد پوندو والا دي یعني دا عذاب د هغه خلکو لپاره دی چي د هغوئ پوندي په اوداسه کي وچي پاته سوي دي .

په آخر کي رسول الله ﷺ حکم وکړ چي اودس پوره کړئ یعني د اوداسه چي کوم فرضونه، سنتونه ، مستحبات او ادبونه دي هغه ټول پوره کړئ او د ټولو دا کولو خیال وساتئ ، په یو بل حدیث کي راغلي دي چي د اوداسه د اندامونو یو برخه که د نوک په اندازه هم وچه پاته سي نو اودس به صحیح نه وي، دا حدیث پر دې خبره دلیل دی چي په اوداسه کي د پښو پریولل فرض دي که د پښو پریولل فرض نه وي نو د پوندو د وچو پاته کېدو په سبب به دومره لویه سزا نه فرمایل کیدل، د هرې زمانې د ټولو علماؤ او فقهاؤ دا عقیده او مذهب راغلی دی چي په اوداسه کي د پښو پریولل فرض دي ، یوازې مسحه کول کافي نه دي په دې مسئله کي د هیڅ یو

داسي عالم اختلاف چي د اعتبار وړ او قابل استناد وي ثابت نه دی ، صحابه کرام چي د رسول الله ﷺ د اوداسه كيفيت او تفصيل بيانوي لكه حضرت علي ، حضرت عثمان او عبدالله بن زيد چي هغوئ ته حاكي يعني د رسول الله ﷺ د اوداسه بيانونكي ويل كيږئ يا دا ډول جابر ، ابو هريره ، عبدالله بن عمر (رضي الله عنهم) او د دوئ ځخه پرته نور صحابه كرام رضي الله عنهم ټول پر دې خبره متفق دي چي د رسول الله ﷺ په اوداسه كي كه چيري موزې به يې نه وې په پښو نو پښې مباركي به يې پريوللې.

او بيا دومره بې شميره حديثونه چي د تواتر مرتبې ته رسيدلي دي منقول دي چي د هغو ځخه په اوداسه كي د پښو پريولل ثابت دي او د هغه پر پرېښودو باندي د سزا بې شميره حديثونه مذكور دي، حضرت عبدالله بن عمر فرمايي چي صحابه كرامو پر پښو مسحه كول تر دې چي رسول الله ﷺ (په پښو پريوللو سره) د اوداسه د پوره كولو حكم وفرمايه او د هغه پر پرېښودو يې سزا وفرمايه نو صحابه كرامو مسحه پرېښودل او هغه منسوخ سوه .

امام طحاوي رحمة الله عليه د عبدالملك بن سليمان رحمة الله عليه قول نقل كوي چي ما د عطاء خراساني رحمة الله عليه چي يو جليل القدر تابعي دي ځخه پوښتنه وكړه ايا تاسو ته يو داسي روايت هم حاصل سوی دی چي د هغه ځخه دا معلوميږي چي د رسول الله ﷺ يو صحابي په اوداسه كي پر خپلو پښو باندي مسحه كول ، هغه وفرمايل : قسم په خدای يا .

په هر حال په دې اړه د خبري خلاصه داده چي په اوداسه كي د پښو په اړه چي كوم حكم په قرآن كريم كي مذكور دي هغه محمل او مشتبه دی، د رسول الله ﷺ د سنت ځخه كه هغه قولي وي يا فعلي چي حد شهرت او تواتر ته رسيږي د هغه شرح او وضاحت كړی دی چي په قرآن كريم كي د دې ځخه د الله تعالى مراد دادی چي په اوداسه كي پښې پريولل پكار دي، نو د پښو پريولل فرض دي .

او كوم چي د شيعه ډلي د مذهب او معمول تعلق دی چي هغه خلك په اوداسه كي پر پښو مسحه كوي په دې باره كي د دې ځخه پرته نور څه نه ويل كيږي چي هغوئ په ډيره گمراهي كي اخته دي او د رسول الله ﷺ د دومره زيات تفصيل او تشريح او د دومره واضح حكم سربيره د هغوئ د پښو نه پريولل ډير غلط او غير شرعي كار دی . والله اعلم .

﴿۳۶۷﴾: وَعَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ اِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ فَمسحه بِنَاصِيَتِهِ وَعَلَى الْعِمَامَةِ وَعَلَى الْخُفَّيْنِ . رواه مسلم

د حضرت مغيرة [1] بن شعبة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ اودس وكړ د خپل مخ مسحه يې وكړل او لنگوټه او موزو باندي يې مسحه وكړه .

تشريح : د سر د مسحي په اندازه كي د علماؤ اختلاف دى، د امام مالک رحمة الله عليه په نزد د ټول سر مسحه كول فرض ده، د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د سر د يو څه برخي مسحه كول كافي ده كه څه هم دوه درې ويښتان وي، د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په نزد د څلورمي برخي سر مسحه فرض ده، د امام اعظم رحمة الله عليه دليل دا حديث ناصيه دى (ناصيه د سر د مخكني خوا څلورمي برخي ته وايي) په دې وجه حنفيه وايي چي د دې څخه پرته دوه صورتونه كيداى سي اول خو دا چي د امام مالک د مذهب سره سم د پوره سرمسحه فرض وي مګر دا ظاهره ده كه د پوره سر مسحه فرض واى نو رسول الله ﷺ به يوازي پر ناصيه باندي د مسحه اكتفاء نه كولاى بلكه د فرض د ادا كولو لپاره به يې پر ټول سر مسحه كولاى نو معلومه سوه چي د پوره سر مسحه خو فرض نه ده، دوهم صورت دادى كه د څلورمي برخي سر څخه هم كمه برخه باندي مسحه فرض واى لكه څرنګه چي د شافعي رحمة الله عليه مذهب دى ، په دې اړه هم هغه خبره ده. كه د څلورمي برخي د سر څخه پر كم باندي هم مسحه فرض واى نو رسول الله ﷺ به د بيان جواز لپاره دا هم اختيار كړې واى مګر دا ثابته ده چي رسول الله ﷺ د سر د څلورمي برخي څخه پر كم باندي هم مسحه نه ده كړې نو د دې څخه هم دا خبره ثابته سوه چي مسحه د څلورمي برخي د سر فرض ده .

پر لنګوټه باندي د مسحه كولو معنى شرحه ليكونكو دا ليكلي كه رسول الله ﷺ د څلورمي برخي د سر مسحه چي فرض ده وكړل نو د اوداسه پوره كولو او د اداء سنت لپاره چي د ټول سر مسحه كول سنت ده پر ځاى ددې چي د سر پر پاته برخه يې مسحه كړې وي پر سر سربيره تړلې لنګوټه باندي مسحه وكړل ، ځينو حضراتو دا ليكلي دي چي دا احتمال دى چي رسول الله ﷺ پر لنګوټه باندي مسحه نه دى كړې بلكه پر څلورمي برخي د سر باندي يې مسحه كولو څخه وروسته رسول الله ﷺ خپل لنګوټه سمه كړې وي، او راوي ددې څخه ګمان وكړ چي رسول الله ﷺ

[1] حضرت مغيره د شعبه زوى دى او كنيت يې ابوعبدالله او ابوعيسى دى. د (۷۰) كالو په عمر په كال (۵۰هـ) كي وفات سوى دى .

پر لنګوټه هم مسحه کړې ده . والله اعلم

په دې اړه تحقيق دادی چي پرته د سر د مسحه کولو يوازې پر لنګوټه باندي مسحه کول د امام اعظم، امام شافعي او امام مالک درې سره په نزد مطلقا صحيح نه ده مګر د امام احمد په نزد په دې شرط صحيح ده چي لنګوټه يې د طهارت څخه وروسته پر سر کړې وي او لنګوټې ټول سر پټ کړی وي لکه څرنګه چي پر موزو باندي د مسحه کولو مسئله ده .

﴿۳۶۸﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ فِيْ طُهُوْرِهِ وَتَرَجُّلِهِ وَتَنَعُّلِه . متفق عليه.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي تر څو به ممکنه وه رسول الله ﷺ به خپل ټول کارونه د راسته لوري څخه پيل کول په پاکی کي په ږمنځ کولو کي او څپلی په پښو کولو کي .بخاري او مسلم .

تشريح : په دې حديث کي ښه کارونه په راسته لاس سره د پيل کولو اهميت معلوميږي چي رسول الله ﷺ به په خپل اړه داسي خوښول چي تر څو پوري وس رسيږي ټول کارونه په راسته لاس سره سرته ورسوي ، د لفظ (ما استطاع) څخه د پابندۍ او تاکيد طرف ته اشاره ده .

په هر حال په دې حديث کي درې شيان ذکر سوي دي چي د مثال په توګه دي، کنه نو هر هغه شی چي د بزرګي وړ به وو رسول الله ﷺ به هغه د راسته خوا څخه پيل کوی لکه جامې اغوستل، پرتوګ اغوستل، موزه په پښو کول، په مسجد کي داخلېدل، مسواک وهل، د بيت الخلاء څخه وتل، رانجه لګول، نوکان پرې کول، د بغل وريښتانې صفا کول، بريتونه غچي کول، سر خريل، د نامه لاندي وريښتان صاف کول، مصافحه کول، خوړل او څښل او د يو شي اخيستل او ورکول او داسي نور .....

همدارنګه کوم چي شيان چي د بزرګۍ څخه نه دي هغه د چپه خوا څخه پيل کول مستحب دي، مثلا بيت الخلاء ته ورتلل، په بيت الخلاء کي اول چپه پښه ايښودل، بازار ته تلل، نا مناسب ځای ته تلل، د مسجد څخه وتل، پزه سونې کول، توکل، استنجاء کول، جامې او پرتوګ کښل، او داسي نور کارونه، دا کارونه د چپه خوا څخه په پيل کولو کي يو حقيقي نکته هم ده هغه دا چي د داسي شيانو په چپه خوا پيل کولو په وجه د راسته خوا د تکريم او احترام مظاهره کيږي ، مثلا هر کله چي يو سړی د مسجد څخه د وتلو په وخت کي اول چپه قدم دباندي کښيږدي نو د راسته قدم تکريم وسو ، په دې توګه چي راسته قدم په يو محترم ځای کي پاته سو او پر دې باندي نور شيان هم قياس کيدای سي ، دا وجه چي د انسان سره دوې ملائکي ملګري

وي په هغو کي د راسته لاس ملائکه د راسته خوا د فضيلت او احترام په وجه پر چپه خوا ملائکي باندي فضيلت لري او ددې په وجه ويل کيداى سي چي د راسته خوا همسايه پر چپه همسايه مقدم دى.

الفصل الثاني

﴿۳۶۹﴾ : عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا لَبِسْتُمْ وَإِذَا تَوَضَّأْ تُمَّ فَابْدَؤُوْا بِأَيَامِنِكُمْ. رواه أحمد وأبو داود.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي تاسو جامې اغوندئ يا اودس کوئ نو د راسته لوري څخه پيل کوئ.

﴿۳۷۰﴾ : وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ زَيْدٍ قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ وَضُوْءَ لِمَنْ لَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ. رواه الترمذي وابن ماجه، ورواه أحمد وأبو داود عن أبي هريرة، والدارمي عن أبي سعيد الخدري عن أبيه وزادوا في أوله لا صلوة لمن لا وضوء له.

د حضرت سعيد[۱] بن زيد ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د الله نوم ونه ياد نکړ نو د هغه اودس نه کيږي (ترمذي، ابن ماجه، احمد او ابوداؤد چي د ابوهريرة څخه او دارمي د ابوسعيد خدري څخه کوم روايت کړى دى د هغه په پيل کي دا الفاظ دى چي د هغه چا لمونځ نه کيږي چي اودس يې ونه کړ.

تشريح: د دې حديث څخه د اوداسه په پيل کي د بسم الله ويلو فضيلت او ارزښت معلوميږي، د حديث د الفاظو مطلب دادى چي کوم سړى د اوداسه په پيل کي د الله تعالى نوم نه واخلي يعني بسم الله يې ونه ويل نو د هغه اودس د تکميل درجې ته ونه رسيدى چي د هغه په وجه هغه ته ثواب حاصل نه سو، د دې مسئلې تحقيق دادى چي د امام احمد په نزد د اوداسه په پيل کي بسم الله ويل واجب ده او د جمهورو علماؤ په نزد سنت يا مستحب ده.

د اوداسه په پيل کي د پخوانيو علماؤ څخه دا الفاظ ويل نقل دي: (سبحان الله العظيم وبحمده)، ځينو علماؤ ويلي دي چي د اعوذبالله ويلو څخه وروسته بسم الله الرحمن الرحيم

[۱] د نوموړي نوم سعيد بن زيد او کنيت يې ابوالاعور دى، نوموړي قريشي او عدوي دى، د عشره مبشره څخه دى، نوموړى د اويا (۷۰) کالو په عمر په عتيق نامي ځاى کي په کال (۵۰هـ) يا (۵۱هـ) کي وفات سوى دى.

ویل افضل دي او مشهور دا الفاظ دي : بسم الله والحمد لله على دين الاسلام.
د روایت په پای کي یوه لفظي غلطي ده، کیدای سي چي د کاتب وغیره څخه هیره سوې وي یعني په آخر کي د االفاظ ذکر کړي دي والدارمي عن ابي سعید الخدري عن ابیه ، دا غلط دي بلکه صحیح دادي عن ابي سعید الخدري عن النبي صلى الله علیه وسلم . یعني دارمي دا حدیث د ابوسعید خدري څخه روایت کړی دی او ابو سعید خدري د رسول الله ﷺ څخه اوریدلی دی.

﴿۳۷۱﴾ : وَعَنْ لَقِيطِ بْنِ صَبْرَةَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَخْبِرْنِيْ عَنِ الْوُضُوْءِ . قَالَ أَسْبِغِ الْوُضُوْءَ وَخَلِّلْ بَيْنَ اَلْأَصَابِعِ وَبَالِغْ فِي الْإِسْتِنْشَاقِ إِلاَّ أَنْ تَكُوْنَ صَائِمًا . رواه أبو داود والترمذي والنسائي وروى ابن ماجه والدارمي إلى قوله بين الأصابع .

د حضرت لقیط بن صبرة ﷺ څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! ما ته د اوداسه په اړه څه وښیه، رسول الله ﷺ وفرمایل : ته پوره اودس کوه او په ګوتو کي خلال کوه او په ښه ډول په پزه کي اوبه اچوه مګر نه که ته روژه دار یې .

تشریح : د سوال مقصد دا وو چي تاسو ما ته د کمال اودس طریقه وښیاست چي د هغه په اختیارولو سره د ثواب ور سم، ددې جواب رسول الله ﷺ دا ورکړ چي اودس پوره کوه یعني د اوداسه چي کوم فرضونه، سنتونه او مستحبات دي هغه پوره ادا کوه .
په اوداسه کي د ګوتو خلالول د امام اعظم او امام شافعي رحمة الله علیهما په نزد سنت دي مګر دا حکم په داسي صورت کي دی کله چي ګوتي په خلقي اعتبار سره د یو بل څخه بیلي او خلاصي وي مګر که چیري هغه په خپل منځ کي داسي یو ځای وي چي په آسانۍ سره اوبه مینځ ته نه رسیږي نو بیا د ګوتو خلالول واجب کیږي ، د حنفیه په نزد د ګوتو خلالولو طریقه داده چي د راسته لاس ورغوی د چپه لاس پر شا ایښودلو ﷺ د راسته لاس ګوتي د چپه لاس په ګوتو کي اچولو سره خلال وکړل سي او دا طریقه غوره ده .
د پښو د ګوتو خلال د چپه لاس په خچۍ ګوته سره کول پکار دی داسي چي هغه د راسته لاس د خچۍ ګوتي څخه لاندي داخلولو سره خلال کول پیل کړي تر دې چي د چپه پښې پر بتې ګوتي یې ختم کړي ،
په پزه کي د اوبو اچولو حد دادی چي اوبه د پزي نرمۍ ته ورسول سي او په هغه کي مبالغه چي د حدیث منشاء ده داده چي اوبه د هغه څخه وړاندي تیري سي مګر دلته په خپله حدیث

وضاحت کړې دی چي دا مبالغه يعني د پزي د نرمۍ ښخه هم اوبه وړاندي رسول هغه وخت دي هر كله چي اودس كونكی روژه دار نه وي ، او كه چيري اودس كونكی روژاتي وي نو بيا د هغه لپاره دا مبالغه مكروه ده . پر دې ځای په دې باندي هم پوه سئ چي خوله پریولل او په پزه کي اوبه اچول د امام اعظم رحمة الله عليه په نزد په اوداسه کي سنت دي او په غسل کي فرض دي مګر د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد په غسل او اوداسه دواړو کي سنت دي .

﴿۳۷۲﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأْتَ فَخَلِّلْ بَيْنَ أَصَابِعَ يَدَيْكَ وَرِجْلَيْكَ . رواه الترمذي . وروى ابن ماجه نحوه وقال الترمذي هذا حديث غريب

د حضرت ابن عباس ﷛ ښخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي ته اودس وكړې نو د خپل لاس او پښو ګوتي خلال كړه (ترمذي) ابن ماجه هم دا ډول روايت كړی دی او ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تشريح : د لاس د ګوتو خلالول د لاسونو پریوللو ښخه وروسته كول پكار دي او د پښو د ګوتو خلالول د پښو پریوللو ښخه وروسته كول پكار دي دغه طريقه غوره ده .

﴿۳۷۳﴾: وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ يَدْلُكُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ بِخِنْصَرِهِ . رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه .

د حضرت مستورد بن شداد[1] ﷛ ښخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ وليدی چي كوم وخت به يې اودس كاوه نو د خپلو پښو ګوتي به يې د خپل لاس په خچې ګوته سره موښلي (يعني په هغې سره به يې خلالولې) .ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه .

تشريح : د (يدلک) لفظ مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به د چپه لاس په خچې ګوتي سره د پښو د ګوتو خلال كوی ، ددې تصديق ددې روايت ښخه كيږي كوم چي امام احمد رحمة الله عليه روايت كړی دی چي په هغه كي لفظ د يدلک په صراحت سره راغلی دی ، په دې صورت كي دا ددې خبري دليل دی چي د چپه لاس په خچې ګوته سره د پښو د ګوتو خلالول مستحب دي يا د يدلک معنی به دا وي چي رسول الله ﷺ به د خپل چپه لاس خچې ګوته د پښو په ګوتو كي ګرځول . په دې صورت كي به دا ددې خبري دليل وي چي د ټول اندام موږل مستحب دي .

﴿۳۷۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ أَخَذَ كَفًّا مِّنْ

د حضرت انس ﷛ ښخه روايت دی چي رسول الله ﷺ اودس كاوه نو يوه لپه اوبه به يې راواخيستلې او د زني

[1] مستورد ذ شداد زوی او فهري قريشي دی نوموړی صحابي دی .

مَّاء فَأَدْخَلَهُ تَحْتَ حَنَكِهِ فَخَلَّلَ بِهِ لِحْيَتَهُ وَقَالَ هٰكَذَا أَمَرَنِيْ رَبِّيْ . رواه أبو داود .

لاندي به يې ورسولې او په هغه سره به يې خپله ږيره مبارکه خلال کړل بيا به يې فرمايل : ما ته داسي د خپل رب حکم سوی دی . ابوداؤد ،

تشريح : په اوداسه کي د ږيري خلالول مستحب دي، او دا خلال د مخ پريوللو څخه وروسته کول پکار دی ، ددې طريقه داده چي ګوتي د ږيري د لاندي څخه په داخلولو سره پورته خوا ته د باندي راوباسل سي .

﴿۳۷۵﴾ :وَعَنْ عُثْمَانَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُخَلِّلُ لِحْيَتَهُ . رواه الترمذي والدارمي .

د حضرت عثمان ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به خپل ږيره مبارکه خلالول . ترمذي او دارمي.

﴿۳۷۶﴾ :وَعَنْ أَبِيْ حَيَّةَ قَالَ رَأَيْتُ عَلِيًّا تَوَضَّأَ فَغَسَلَ كَفَّيْهِ حَتّٰى أَنْقَاهُمَا ثُمَّ مَضْمَضَ ثَلَاثًا وَاسْتَنْشَقَ ثَلَاثًا وَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا وَذِرَاعَيْهِ ثَلَاثًا وَمسحه برأسِهِ مَرَّةً ثُمَّ غَسَلَ قَدَمَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ثُمَّ قَامَ فَأَخَذَ فَضْلَ طُهُوْرِهِ فَشَرِبَهُ وَهُوَ قَائِمٌ ثُمَّ قَالَ أَحْبَبْتُ أَنْ أُرِيَكُمْ كَيْفَ كَانَ طُهُوْرُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه الترمذي والنسائي .

د حضرت ابو حية[1] ﷺ څخه روايت دی چي ما حضرت علي ﷺ په اودس کولو وليدی هغه خپل لاسونه پريولل تر دې چي هغه يې پاك کړل بيا يې درې ځله خوله پريولل او درې ځله يې په پزه کي اوبه واچولې او درې ځله يې مخ پريولی او درې ځله يې تر څنګلو پوري (لاسونه) پرېولل او يو ځل يې د سر مسحه وکړل او بيا يې دواړې پښې تر بجلکو پوري پريولې او بيا و درېدی د اوداسه څخه پاته اوبه يې په ولاړه وڅښلې ، بيا يې وفرمايل : ما غوښتل چي تا ته وښيم چي د رسول الله ﷺ اودس څنګه وو . ترمذي او نسائي .

تشريح : د اوداسه څخه په پاته سوو اوبو كي بركت وي ځکه نو حضرت علي ﷺ د اوداسه پاته اوبه وڅښلې ، د برکت تر لاسه کولو لپاره د اوداسه پاته اوبه څښل پکار دي او دا اوبه په ولاړه څښل هم جائز دي .

﴿۳۷۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ خَيْرٍ قَالَ نَحْنُ جُلُوْسٌ نَنْظُرُ إِلَى عَلِيٍّ حِيْنَ تَوَضَّأَ فَأَدْخَلَ يَدَهُ الْيُمْنٰى فَمَلَأَ فَمَهُ

د حضرت عبد خير[2] څخه روايت دی چي موږ ناست وو حضرت علي ﷺ ته مو کتل ، کوم

[1] د نوموړي نوم عمرو بن نصر انحاري المهداني او كنيت يې په ابو عيسى سره مشهور دی ، نوموړي تابعی دی
[2] د نوموړي نوم عبد خير يزيد او کنيت يې ابو عماره همداني دی ، نوموړي تابعي دی او په کوفه کي اوسيدی .

فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَنَثَرَ بِيَدِهِ الْيُسْرٰى فَعَلَ هٰذَا ثَلاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ قَالَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلٰى طُهُوْرِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهٰذَا طُهُوْرُهُ . رواه الدارمي

وخت چي هغه اودس كاوه، هغه په راسته لاس سره د لوښي څخه اوبه واخيستې خوله يې پرېولل په پزه كي يې اوبه واچولې او په چپه لاس يې پزه سونړ كړه درې ځله يې داسې وكړل بيا يې وويل څوك چي د رسول الله ﷺ په اودس لېدلو خوشحاله كېدل غواړي نو د رسول الله ﷺ اودس داسې وو . دارمي.

تشريح : دلته د راوي مقصد دا وو چي هغه د خولې پريوللو او په پزه كي د اوبو اچولو كيفيت بيان كړي ، په دې كي هغه يوازې دومره بيان وكړاو پاته اودس خو معلوم وو ځكه هغه يې بيان نه كړ.

﴿۳۷۸﴾ :وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَّاحِدَةٍ فَعَلَ ذٰلِكَ ثَلاثًا . رواه أبو داود والترمذي .

د حضرت عبدالله بن زيد ﷺ څخه روايت دى چي ما رسول الله ﷺ وليدى چي خوله يې پرېولل او په پزه كي يې اوبه واچولې په يوه لپه سره او درې ځله يې داسې وكړل. ابوداؤد او ترمذي.

تشريح : د حديث په آخري جمله كي دوه احتماله دي ، يعني د دې معنا يا خو داده چي رسول الله ﷺ په يوه لپه سره خوله پريولل او په پزه كي يې اوبه واچولې او همداسې يې درې واره وكړل ، يا دا چي په درو لپو سره يې درې واره خوله پريولل او بيا په درو لپو سره يې درې واره په پزه كي اوبه واچولې ، ، دا دوهمه معنى زيات مناسب او د اكثرو روايتونو سره سمه ده .

د دې څخه پرته يو دريم احتمال بل هم كېداى سي هغه دا چي رسول الله ﷺ په يوه لپه سره درې واره خوله پريولل او په پزه كي يې هم اوبه واچولې ، دوهمه لپه يې وا نه خيستل، دا ټول احتمالات په مخكي تير سوي حديث كي هم پيدا كېداى سي .

﴿۳۷۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مسحه بِرَأْسِهِ وَأُذُنَيْهِ بَاطِنِهِمَا بِالسَّبَّابَتَيْنِ وَظَاهِرُهُمَا بِإِبْهَامَيْهِ . رواه النسائي

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د خپل سر مبارك او غوږو مسحه وكړل د ننه د شهادت په گوتو او سربېره په بټو گوتو سره يې مسحه وكړه. نسائي

﴿۳۸۰﴾: وَعَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ أَنَّهَا رَأَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ قَالَتْ فَمسحه رَأْسَهُ مَا أَقْبَلَ مِنْهُ وَمَا أَدْبَرَ وَصُدْغَيْهِ وَأُذُنَيْهِ مَرَّةً وَّاحِدَةً . وَفِيْ رِوَايَةٍ أَنَّهُ تَوَضَّأَ فَأَدْخَلَ أِصْبَعَيْهِ فِيْ جُحْرَيْ أُذُنَيْهِ . رواه أبو داود . وروى الترمذي الرواية الأولى وأحمد وابن ماجه الثانية .

د بي بي ربيع[1] (رض) بنت معوذ څخه روايت دى چي هغې نبي كريم ﷺ پر اودس كولو وليدى چي ده مبارك د خپل سر مبارك پر مخكي برخي او وروستى برخي او په مينځ د سنړو او غوږونو او پر دواړو غوږونو يې يو ځل مسحه وكړل او په يوه روايت كي دي چي رسول الله ﷺ اودس وكړ او خپلي گوتي يې د غوږو په سريو كي دننه كړې (ابوداؤد) ترمذي اول روايت او احمد ابن ماجه دوهم روايت بيان كړى دى .

تشريح : د صدغيه او اذنيه الفاظ پر راسه لفظ باندي عطف دي، دې ته عطف خاص على العام وايي ، يعني د سر په اوبو سره يې مسحه وكړه، ددې مطلب دادى چي كله رسول الله ﷺ په لاس كي اوبو اخيستلو سره د سر مسحه وكړه نو په هغه اوبو سره يې پر سونړو او غوږو باندي مسحه وكړه ، د دې دواړو د مسحه لپاره يې نوري اوبه وانخستلې ، او د امام اعظم صاحب مذهب دادى .

صدغ : د غوږو او سترگو درميانه برخي ته وايي او كوم وريښتان چي پر دغه ځاى رازړېدلې وي هغه ته صدغ وايي (قاموس). او ابن مالك رحمة الله عليه ويلي دي چي صدغ هغه وريښتانو ته وايي چي د سر دواړو خواوو ته د غوږ او تندي په منيځ كي وي او دا معنا د حنفي مذهب سره سم او مناسب ده .

په شرح السنة كي منقول دي چي د علماؤ په دې مسئله كي اختلاف دى چي ددې درې واره مسحه كول سنت دي يا نه، اكثر علماء دا وايي چي مسحه يو وار كول پكار دي، او دا مذهب دامام اعظم رحمة الله عليه او امام احمد او امام مالك رحمة الله عليهم هم دى، د امام شافعي رحمة الله عليه په مذهب كي دا مشهور دي چي درې واره مسحه داسي كول چي هر وار نوي اوبه واخيستل سي سنت دي، د اكثرو علماؤ دا خيال دى مگر په خپله امام شافعي رحمة الله عليه درې واره مسحه كولو ته مستحب وايي، امام ابوداؤد رحمة الله عليه وايي چي په دې اړه د حضرت عثمان ﷺ څخه چي كوم حديثونه روايت دي او ټول صحيح دي هغه پر دې خبره دلالت كوي چي مسحه يو وار كول پكار ده.

[1] نوم يې ربيع دى د معوذ لور ده ، يو جليل القدر صحابيه او انصاريه ده ، په بيعت رضوان كي يې هم گډون كړى دى.

شمني رحمة الله عليه وايي چي هر وار په نوو اوبو سره درې واره مسحه کول بدعت دی مګر په هدايه کي ليکلي دي چي يو وار په اوبو سره درې واره مسحه کول مشروع دي او دا د امام اعظم رحمة الله عليه څخه منقول دي. والله اعلم.

﴿۳۸۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ وَأَنَّهُ مسحه رَأْسَهُ بِمَاءٍ غَيْرِ فَضْلِ يَدَيْهِ. رواه الترمذي ورواه مسلم مع زوائد.	د حضرت عبدالله بن زيد ﷺ څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ پر اودس کولو وليدی چي رسول الله ﷺ د سر مسحه په تازه اوبو وکړل

(ترمذي) مسلم په يو څه زياتو الفاظ سره دا روايت کړی دی.

تشريح: د فقه حنفي په کتابو کي ليکلي دي چي د مثال په توګه يو سړی د اودسه په وخت کي د لاس پريوللو څخه وروسته چي کوم لوندوالی د هغه په لاسونو کي پاته سوی وي په هغه سره يې د سر مسحه وکړه نو مسحه به وسي او که پر يو اندام باندي يې مسحه وکړه او د مسحه کولو څخه وروسته د هغه په لاسونو کي لندوالی پاته سوی وي نو په هغه سره يې د سر مسحه وکړه نو دا به صحيح نه وي، په دې اړه د ابن مسعود ﷺ يو حديث هم نقل کيږي او دا مذکوره حديث هم ابن لهيعه د روايت څخه نقل سوی دی چي هغه بماء غير فضل يديه پر ځای دا الفاظ دي بماء غبر من فضل يديه، يعني لفظ د غبر په با سره دی چي د هغه معنا دا کيږي چي په هغه اوبو سره يې مسحه وکړه کوم چي دلاسو پريوللو څخه وروسته په لاس کي پاته سوې وې يعني د مسحي لپاره يې نوي اوبه وانخستلې بلکه د پوره لاس پريوللو څخه وروسته چي کوم لوندوالی په لاسونو کي پاته سوی وو په هغه سره يې مسحه وکړه، همداسي د حديث معنا بالکل برعکس سوې ځکه چي د هغه حديث د الفاظو څخه چي دلته نقل سوی دی دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ د سر مسحه د لاسونو څخه په پاته سوو اوبو سره ونه کړل بلکه په نوو اوبو را خيستلو سره يې وکړه، مګر په پورتني صورت کي ينوازي د يوې ټکي په تغير سره معنا بالکل برعکس سول مګر کوم چي د سوال تحقيق دی نو خبره داده چي دا حديث کوم چي دلته نقل سوی دی صحيح دی، نو غوره دا سوه چي د مسحه لپاره نوي اوبه را واخيستل سي او دا هم جائز سول چي په لاس کي په پاته سوو اوبو سره مسحه کيدای سي.

﴿۳۸۲﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ ذَكَرَ وُضُوْءَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَكَانَ يَمسحه	حضرت ابو امامة ﷺ د رسول الله ﷺ د اوداسه يادونه وکړه چي هغه مبارک به د سترګو کونجان هم

الْمَاقَيْنِ وَقَالَ الْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَأَبُوْ دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَذَكَرَا قَالَ حَمَّاد لَا أَدْرِيْ الْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ مِنْ قَوْلِ أَبِيْ أُمَامَةَ أَمْ مِنْ قَوْلِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

موږل او ويل يې چي دواړه غوږونه په سر كي داخل دي (ابن ماجه ، ابوداوُد ، ترمذي) درو سرو بيان كړي دي خو دا آخرني دواړه وايي چي حماد ويلي دي ما ته ددې علم نسته چي دواړه غوږونه په سر كي داخل دي دا وينا د ابوامامه ده كه د رسول الله ﷺ ده .

تشريح : ماق: د پزي څخه د سترګو كونجانو ته وايي ، او جوهري ليكلي دي چي ماق د سترګو دواړو كونجانو ته وايي ، نو غوره داده چي د سترګو دواړه كونجان د مخ پريوللو په وخت كي موږل مستحب دي چي په سترګو كي دننه خيري وغيره د سترګو په كونجانو كي يو ځاى كيږئ او په موږلو سره ژاوځي او سترګي پاكي سي .

د روايت ددغه برخي (الاذنان من الراس) يعني دواړه غوږونه په سر كي داخل دي، ددې څخه دوه حكم ثابتيږي يو خو دا چي د غوږونو مسحه هم د سر د مسحي سره كول پكار دي ، دوهم دا چي د سر د مسحه لپاره چي كومي اوبه واخيستل سي په هغه دي د غوږو او سر مسحه وكړل سي ، د غوږونو د مسحه لپاره د نورو اوبو اخيستلو ضرورت نسته .

پر مخكني حكم باندي ځلور سره امامان متفق دي ، په دوهم حكم كي يو څه اختلاف دى، د امام اعظم، امام مالک او امام احمد رحمة الله عليهم مذهب دادى چي د غوږونو مسحه د سر د مسحه څخه په پاته سوو اوبو سره كول پكار دي ددې لپاره د نورو اوبو اخيستلو ضرورت نسته ، ددې مذهب تائيد هم د اكثرو حديثو څخه كيږي .

د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادى چي د غوږو مسحه په نوو اوبو سره كول پكار ده يعني د سر د مسحه څخه په پاته سوو اوبو سره د غوږونو مسحه كول كافي نه ده ، يو حديث په دې اړه منقول دى چي د امام شافعي د مذهب تائيد كوي .

په هر حال دا كيداى سي چي رسول الله ﷺ اكثر د سر او غوږونو مسحه په يو وار اوبو را اخيستلو سره كړې وي مګر په داسي صورت كي هر كله چي په لاس كي لوندوالى پاته نه وي نو كله يې د غوږونو د مسحه لپاره نوري اوبه اخيستي وي . والله اعلم .

﴿۳۸۳﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُهُ عَنِ الْوُضُوْءِ فَأَرَاهُ ثَلَاثًا

حضرت عمروبن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت كړى دى چي يو صحرائي د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او د اوداسه پوښتنه يې

ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا الْوُضُوْءُ فَمَنْ زَادَ عَلٰى هٰذَا فَقَدْ أَسَاءَ وَتَعَدّٰى وَظَلَمَ . رواه النسائي وابن ماجه وروى أبو داود معناه .

وكړه ، رسول الله ﷺ هغه ته هر اندام درې درې ځله پرېولل وښودل او ورته وه يې فرمايل : اودس داسي دی چا چي په دې کي زياتوب وکړ نو بد يې وکړل ، د حد څخه تېرېدل او ظلم يې وکړ . نسائي او ابن ماجه.

تشريح : رسول الله ﷺ د پوښتنه کونکي په جواب کي د اوداسه اندامونه درې درې واره پرېوللو سره وښودل او هغه ته يې وفرمايل : که ته کامل اودس غواړې او پر هغه د ثواب اميد لرې نو بيا اودس داسي کوه تر دې زياتوب کول يعني د اوداسه اندامونه تر درې واره زيات پرېولل کټوره خبره نه ده بلکه تاواني ده ، رسول الله ﷺ د داسي سړي په اړه درې الفاظ استعمال کړل : (۱): بد يې وکړل ځکه چي هغه سنت پرېښودل (۲) په زياتوب کولو سره د سنت د حدودو څخه يې تجاوز وکړ (۳) ظلم يې وکړ يعني د رسول الله ﷺ د طريقې او سنت خلاف عمل کولو سره پر ځان يې ظلم وکړ .

﴿۳۸۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْمُغَفَّلِ أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَهُ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْقَصْرَ الْأَبْيَضَ عَنْ يَمِيْنِ الْجَنَّةِ قَالَ أَيْ بُنَيَّ سَلِ اللّٰهَ الْجَنَّةَ وَتَعَوَّذْ بِهِ مِنَ النَّارِ فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّهُ سَيَكُوْنُ فِيْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ يَعْتَدُوْنَ فِي الطُّهُوْرِ وَالدُّعَاءِ . رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه .

حضرت عبدالله بن مغفل ﷺ وايي چي هغه د خپل زوی څخه دا دعاء واوريدل : اې الله زه ستا څخه د جنت راسته لوري ته سپين محل غواړم، حضرت عبدالله ورته وويل :اې زويه ! د الله ﷻ څخه جنت غواړه او دوږخ څخه پناه هم غواړه ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي چي ډېر ژر به په دې امت کي داسي خلك وي چي په پاکۍ کي به مبالغه کوي او په دعاء کي به هم د مبالغې څخه کار اخلي .احمد ، ابوداؤد او ابن ماجه.

تشريح : د عبدالله ابن مغفل ﷺ زوی ته د تنبيه مقصد دا وو چي ته څرنګه او په کوم قيد سره دعا غواړې دا د بنده د شان سره خلاف ده ځکه چي په دې کي يوې خوا ته که د تحکم اړخ دی نو بلي خوا ته په جنت کي د يو خاص صفت طلب يا د يو مخصوص ځای تعين يو لايعني او نامناسب شی دی، مګر د دعاء طريقه داده چي ته د الله تعالى څخه جنت وغواړې او د دوږخ د اور څخه پناه غواړه ، اوس نو د الله تعالى کار دی چي هغه په جنت کي په خپل فضل او کرم سره ستا د مرتبو او درجو کومه بلندي غواړي هغه ته دي ورسوي.

د حد څخه تجاوز او په غير مطلوب هر شي كي ناخوښه او غير مناسب دى كه څه هم هغه شى د شريعت مطلوب وي په دې حديث كي دې ته اشاره كيږي او د نبي كريم ﷺ په ژبه سره وړاند وينه كيږي چي په دې امت كي به داسي خلک پيدا سي چي د الله تعالى او د هغه د رسول د ښودل سوي لار څخه په بيل كېدو سره او د شريعت د حدودو څخه په تجاوز كولو سره به په طهارت او دعاء كي زياتوب كوي.

په طهارت كي زياتوب دادى چي د اوداسه اندامونه د مسنون طريقې څخه پرته تر درې واري زيات پريوللو كي دومره مبالغه وي چي هغه د وهم او وسوسې حد ته ورسيږي.

په دعاء كي زياتوب داد چي دعاء په داسي انداز او طريقې سره و غوښتل سي چي په هغه كي د بې ادبى اظهار كيږي او د شان عبوديت خلاف وي يا په دعاء كي ضروري او نامناسب قيدونه ولګول سي يا د داسي شيانو په اړه پوښتنه وكړي چي په انساني اعتبار سره د احاطې څخه وتلي او دعادتا محال (ناممكن) وي.

﴿۳۸۵﴾ :وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ لِلْوُضُوْءِ شَيْطَانًا يُقَالُ لَهُ الْوَلَهَانُ فَاتَّقُوْا وَسْوَاسَ الْمَاءِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيْثِ لِأَنَّا لَا نَعْلَمُ أَحَدًا أَسْنَدَهُ غَيْرَ خَارِجَةَ وَهُوَ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَصْحَابِنَا .

حضرت ابي بن كعب ﷺ د نبي كريم ﷺ څخه روايت كوى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د اوداسه يو شيطان دى هغه ته (ولهان) ويل كيږي نو د اوبو د وسوسې څخه ځان وژغورئ (ترمذي، ابن ماجه) ترمذي ويلي دي چي دا حديث غريب دى ، د دې اسناد د محدثينو په نزد قوي نه دي ځكه چي موږ ته نه دى معلوم چي د خارجه څخه پرته چا ددې سند بيان كړى وي او هغه د اصحاب حديث په نزد قوي نه دى.

تشريح : د الهان معنى ده د عقل له منځه تلل او متحير كېدل ، دا نوم ددې شيطان ځكه دى چي هغه د خلكو په زړونو كي په وسوسو پيدا كولو سره هغوئ متحير او بې عقله كوي ، د هغه نتيجه دا وي چي اودس كونكى د هغه په وجه په وهم كي اخته كيږي ، كله چي هغه اودس كوي نو دى په زړه كي وسوسې پيدا كوي چي نه ده معلومه فلانى اندام ته په صحيح توګه اوبه رسيدلي دي كه يا، فلانى اندام يو ځل پريولل سوى دى او كه دوه واره، نو رسول الله ﷺ فرمايل چي د اوبو د وسوسې څخه ځان وساتئ يعني د اوداسه په وخت كي د اوبو په استعمال ـي هر كله چي دا ډول وسوسې او هم پيدا سي نو هغه مه پريږدئ بلكه هغه د خپل زړه په ايستلو

سره وغورځوئ چي د سنت د حدودو څخه تجاوز ونه کړل سي ځکه چي ددې شيطان مقصد خو دا وي چي اودس کونکی په دغه وسوسو او وهمو کي په اخته کېدو سره د اوداسه اندامونه تر درې واره زيات پرېولي يا د ضرورت څخه زياتي اوبه استعمال کړي چي د هغه په وجه د مسنون طريقې څخه ليري سي .

﴿۳۸۶﴾ :وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ مسحه وَجْهَهُ بِطَرَفِ ثَوْبِهِ . رواه الترمذي .	حضرت معاذ بن جبل ﷺ وايي ما وليدل چي رسول الله ﷺ به کله اودس وکړ نو د خپل جامې په پلو به يې خپل مخ وچ وکړ . ترمذي .

تشريح : رسول الله ﷺ چي به کله د اوداسه څخه فارغ سو نو د اوبو وچولو لپاره به يې خپله جامه يعني په څادر وغيره سره خپل مخ وچوی ، زيلعي رحمة الله عليه د کنز په شرح کي ليکلي دي چي د اوداسه څخه وروسته په دستمال سره اوبه وچول جائز دي څرنګه چي د حضرت عثمان، حضرت انس، او حسن ابن علي رضي الله عنهم په اړه منقول دي او راتلونکی حديث هم ددې پر جواز دلالت کوي ، صاحب د منيه د اوداسه څخه وروسته د اوداسه اندامونه وچول مستحب ليکلي دي، د حنفي مذهب په ځينو کتابونو کي ليکلي دي چي د اوداسه څخه وروسته اوبه وچولو لپاره د اوداسه اندامونه وچول که دتکبر او غرور په وجه وي نو مکروه دي او که د غرور او تکبر په وجه نه وي نو بيا مکروه نه دي .

د امام شافعي رحمة الله عليه په مذهب کي نه خو د اودس کونکي لپاره او نه د غسل کونکي لپاره په جامې سره اوبه وچول سنت دي ، ددې دليل هغهٔ حديث دی چي په هغه کي روايت دي چي رسول الله ﷺ اودس وکړ نو ام المؤمنين بي بي ميمونې رضي الله عنه يو دستمال د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر کړ چي رسول الله ﷺ په هغه سره لانده اندامونه وچ کړي مګر رسول الله ﷺ هغه رد کړ او د اوداسه پر اندامونو باندي يې د لاس په ذريعه اوبه وڅڅولې .

د دې جواب د حنيفه علماؤ له خوا دا ورکول کيږي چي رسول الله ﷺ د اوداسه اندامونه په دستمال سره د وچولو څخه په دې وجه انکار نه دی کړی چي دا شی مناسب نه وو بلکه کيدای سي چي د يو خاص عذر په وجه رسول الله ﷺ دستمال رد کړی وي .

﴿۳۸۷﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَتْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خِرْقَةٌ يُنَشِّفُ بِهَا	د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ سره يوه جامه وه چي د اوداسه وروسته به يې

أَعْضَاءَهُ بَعْدَ الْوُضُوْءِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ لَيْسَ بِالْقَائِمِ وَأَبُوْ مُعَاذٍ الرَّاوِيْ ضَعِيْفٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيْثِ .

په هغې سره خپل اندامونه وچول (ترمذي) امام ترمذي ويلي دي دا حديث ضعيف دی او ابو معاذ راوي د محدثينو په نزد ضعيف دی .

تشريح : دا چي امام ترمذي رحمة الله عليه دا حديث ضعيف گرځولی دی او دا يې هم ويلي دي چي د اوداسه څخه وروسته د اندامونو په جامې وغيره سره د وچولو په اړه د رسول الله ﷺ يو صحيح حديث منقول نه دی بلکه د رسول الله ﷺ څخه وروسته د صحابه کرامو يو ډلي او تابعينو د اوداسه څخه وروسته د اندامونو وچولو اجازه ورکړې ده او د هغوئ دا اجازه د رسول الله ﷺ د يو قول او فعل څخه مستنبط نه ده بلکه دا خپله د دغه خلکو رايه ده نو سيد جمال الدين شافعي رحمة الله عليه دا مضمون نقل کړی دی .

د دې جواب علماء حنفيه دا ورکوي چي ستاسو دا وينا چي دا جواز صحابه کرامو وغيره په خپله رايه غلط دی بلکه د دې برعکس ستاسو دا قول خپله ستاسو د ذهن پيداوار دی چي د هغه د حقيقت سره هيڅ تعلق نسته . ځکه چي يو صحابي د مثال په توګه حضرت عثمان، حضرت انس او حسن بن علي رضي الله عنهم د جلالت شان او اتباع نبوي د جذبې صادقان د دې وهم هم نسي کيدای چي د نبي کريم ﷺ په معامله کي يو شی هم د هغوئ د ذهن پيداوار کېدای سي نو د هغوئ فعل پر دې خبره دلالت کوي چي د دې حديث خامخا سته .

د دې څخه پرته دا کليه هم په ذهن کي ساتل پکار ده چي پر حديث باندي عمل کول که څه هم هغه حديث ضعيف وي زيات غوره او اولی ده په نسبت د دې چي د چا پر رايه باندي عمل وکړل سي که څه هم هغه هر څومره مضبوط او قوي وي .

الفصل الثالث

﴿۳۸۸﴾ :عَنْ ثَابِتِ ابْنِ اَبِيْ صَفِيَّةَ قَالَتْ قُلْتُ لِاَبِيْ جَعْفَرٍ هُوَ مُحَمَّدُ الْبَاقِرُ حَدَّثَكَ جَابِرٌ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مَرَّةً مَرَّةً وَمَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ

د حضرت ثابت[1] بن ابوصفية ﷺ څخه روايت دی چي ما ابو جعفر ته چي نوم يې محمد باقر[2] دی وويل : ايا تا ته جابر دا حديث بيان کړی دی چي

[1] حضرت ثابت بن ابي صفيه تابعي دی او کنيت يې ابو حمزه دی په (۱۴۸هـ) کال کي وفات سوی دی .

[2] حضرت امام محمد باقر د حضرت امام زين العابدين زوی دی. په کال (۵۶هـ) کي پيدا سوی دی او په مدينه منوره کي په کال (۱۱۷) يا (۱۱۸هـ) کي وفات سوی دی او په جنت البقيع کي دفن سوی دی .

وَثَلَاثًا ثَلَاثًا قَالَ نَعَمْ. رواه الترمذي وابن ماجة.

چي رسول الله ﷺ یو یو ځل دوه دوه ځله او درې درې ځله اودس کړی دی؟ هغه وویل هو. ترمذي او ابن ماجه.

تشریح: د محدثینو عادت دی چي کله شاګرد د خپل شیخ څخه حدیث اوري نو هغه پوښتنه کوي چي (حدثک فلان عن فلان) همداسي شاګرد د سند لړۍ رسول الله ﷺ ته رسوي او استاذ په پټه خوله سره هغه د سند لړۍ اوري، یعني آیا ستاسو څخه دا حدیث فلاني او فلاني څخه فلاني (تر دې چي رسول الله ﷺ څخه فلاني) اوریدلی دی، ددې په جواب کي شیخ وایي چي نعم یعني هو، لکه چي د حدیث د روایت دا یوه طریقه ده او هغه داسي څرنګه چي یو استاذ د خپل شاګرد په مخکي هر کله چي وایي چي حدثني فلان الخ یعني ما ته دا حدیث بیان کړ فلاني او فلاني ته فلاني تر دې چي رسول الله ﷺ څخه فلاني اوریدلی دی نو شاګرد پټه خوله ناست اوري یې.

په هر حال همدارنګه ثابت بن ابي صفیه رحمة الله علیه د خپل استاذ امام محمد باقر رحمة الله علیه څخه ددې حدیث په اړه پوښتنه وکړه چي حدثک جابر الخ، یعني ایا دا حدیث تا ته حضرت جابر ﷺ بیان کړی دی، ددې په جواب کي محمد باقر رحمة الله علیه اقرار وکړ چي هو ما ته جابر ﷺ دا حدیث بیان کړی دی.

﴿۳۸۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ وَقَالَ هُوَ نُوْرٌ عَلَى نُوْرٍ.

د حضرت عبدالله بن زید څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ دوه ځله اودس وکړ او وه یې فرمایل د نور سربیره نور دی

تشریح: د دې مطلب دادی چي هر کله یو وار د او داسه اندامونه یې پریولل نو په هغه سره فرض ادا سول او هغه یو نور سو بیا د هغه څخه وروسته چي په دوهم وار یې پریولل نو سنت ادا سو او دا هم نور دی ځکه نو د نور سربیره نور سو.

﴿۳۹۰﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ ثَلَاثًا ثَلَاثًا وَقَالَ هٰذَا وَضُوْئِيْ وَوُضُوْءُ الْأَنْبِيَاءِ قَبْلِيْ وَوَضُوْءُ إِبْرَاهِيْمَ. رواهما رزين والنووي ضعف الثاني في شرح مسلم.

د حضرت عثمان ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ درې درې ځله اودس وکړ او وه یې فرمایل: دا زما او زما څخه مخکي د انبیاؤ اودس دی، او د حضرت ابراهیم ﷺ اودس دی.

دواړه حدیثونه رزین نقل کړي دي. او امام نووي په شرح مسلم کي دوهم حدیث ته ضعیف ویلي دي.

تشريح : رسول الله ﷺ د ټولو انبياؤ ذکر کولو څخه وروسته چي د حضرت ابراهيم ؈ ذکر کړی دی دې ته تخصيص بعد تعميم وايي يعني د انبياؤ په عامه توګه سره ذکر کولو څخه وروسته يې بيا په خاصه توګه د حضرت ابراهيم ؈ نوم مبارک ذکر کړ، ددې وجه داده چي حضرت ابراهيم ؈ به د طهارت او نظافت ډير خيال ساتی .

﴿۳۹۱﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلَاةٍ وَكَانَ أَحَدُنَا يَكْفِيْهِ الْوُضُوْءَ مَا لَمْ يُحْدِثْ . رواه الدرامي .

د حضرت انس ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د هر لمانځه لپاره اودس کاوه او زموږ لپاره يو اودس تر هغه وخته بس وو تر څو چي به مات سوی نه وو. دارمي .

تشريح : پر رسول الله ﷺ د هر لمانځه لپاره د تازه اودس کول مخکي واجب وه او وروسته د وجوب دا حکم منسوخ سو ، هر کله چي د دې څخه وروسته راتلونکي حديث څخه معلوميږي ځيني علماء وايي چي رسول الله ﷺ بهتر او عزيمت ګڼلو سره د هر لمانځه لپاره تازه اودس کوی.

﴿۳۹۲﴾ : وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ قَالَ قُلْتُ لَهُ أَرَأَيْتَ وُضُوْءَ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ لِكُلِّ صَلَاةٍ طَاهِرًا كَانَ أَوْ غَيْرَ طَاهِرٍ عَمَّنْ أَخَذَهُ ؟ فَقَالَ حَدَّثَتْهُ أَسْمَاءُ بِنْتُ زَيْدِ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ حَنْظَلَةَ بْنِ أَبِي عَامِرٍ الْغَسِيْلِ حَدَّثَهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أُمِرَ بِالْوُضُوْءِ لِكُلِّ صَلَاةٍ طَاهِرًا كَانَ أَوْ غَيْرَ طَاهِرٍ فَلَمَّا شَقَّ ذٰلِكَ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ وَوُضِعَ عَنْهُ الْوُضُوْءُ إِلاَّ مِنْ حَدَثٍ قَالَ فَكَانَ عَبْدُ اللهِ يَرٰى أَنَّ بِهِ قُوَّةً عَلَى ذٰلِكَ فَفَعَلَهُ حَتَّى مَاتَ . رواه أحمد .

د حضرت محمد بن يحيى بن حيان ؓ څخه روايت دی چي ما حضرت عبيدالله بن عبدالله بن عمر ؓ ته وويل : ما ته وښيه چي عبدالله بن عمر به د هر لمانځه لپاره اودس کاوه که به يې (اودس) وو که به نه وو، او دا عمل يې د چا څخه تر لاسه کړی وو، عبيدالله وويل چي عبدالله بن عمر ته بي بي اسماء بنت زيد بن خطاب حديث بيان کړی وو عبدالله بن حنظله بن عامر الغسيل بي بي اسماء ته دا حديث بيان کړی وو چي رسول الله ﷺ ته د هر لمانځه لپاره د اوداسه حکم ورکړل سوی وو که څه هم دده مبارك اودس وو يا نه وو، دا عمل چي رسول الله ﷺ ته ستونزمن سو نو د هر لمانځه پر وخت ورته د مسواك وهلو حکم ورکړل سو او (د هر لمانځه لپاره) اودس موقوف کړل سو پر ته د هغه څخه چي اودس مات سي ، عبيدالله وويل د عبدالله بن عمر دا خيال وو چي په ما کي د هر لمانځه لپاره د تازه اودس کولو توان سته له دې کبله هغه تر مرګه پوري په دې عمل وکړ. احمد .

تشریح : د لفظ غسیل معنی ده لمبول سوی ، دا د حضرت حنظله صفت دی، حنظله ته غسیل ځکه ویل سوي دي چي دوفات څخه وروسته هغه ته ملائکو غسل ورکړی وو ، عروه ﷺ روایت کوي چي رسول الله ﷺ د حنظله د کوروالا څخه پوښتنه وکړه چي د هغه څه حال وو (یعني هغه چي د کور څخه ووتی نو څه یې کول) هغې جواب ورکړ هغه د ناپاکۍ په حالت کي وو او د خپل بدن یوه برخه یې پریولې وه چي په دې وخت کي هغه آواز واوریدی چي (چي د جهاد لپاره بلنه کیږي) نو هغه په دغه حالت کي د کور څخه ووتی او په غزوه احد کي د شهادت جام یې نوش کړ، رسول الله ﷺ وفرمایل : ما ولیدل چي ملائکو هغه ته غسل ورکوی . (طیبي) .

په هر حال طیبي رحمة الله علیه فرمایي په دې حدیث کي دې ته اشاره ده چي مسواک ډیر فضیلت او بزرګي لري ځکه هغه د واجب اوډس قائم مقام ګرځول سوی دی ، حضرت عبدالله بن عمر ﷺ به د هر لمانځه لپاره تازه اودس ځکه کوی هغه دا اجتهاد وکړ چي که څه هم د هغه وجوب منسوخ سوی دی مګر د هغه سړي لپاره چي پر دې د عمل توان او قوت لري ددې فضیلت پاته دی ځکه هغه چي دا ولیدل چي په ما کي دومره قوت او همت سته چي زه دا عمل په ښه ډول کولای سم نو هیڅ وجه نسته چي ددې فضیلت او سعادت څخه دي محروم پاته سم .نو هغه دا خپل معمول وګرځوی چي هر لمانځه لپاره به یې تازه اودس کوی او تر وفات پوري پر دې عمل قائم او دائم وو .

﴿۳۹۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم مَرَّ بِسَعْدٍ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ فَقَالَ مَا هٰذَا السَّرَفُ يَا سَعْدُ . قَالَ أَفِي الْوُضُوْءِ سَرَفٌ ؟ قَالَ نَعَمْ وَإِنْ كُنْتَ عَلٰى نَهْرٍ جَارٍ . رواه أحمد وابن ماجه .	د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د سعد سره تیرېدی کوم وخت چي هغه اودس کاوه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : اې سعده! دا څه اسراف دی ! سعد عرض وکړ ایا په اوداسه کي هم اسرف وي ، رسول الله ﷺ وفرمایل هو .که څه هم ته په

روانه ویاله اودس کوې . احمد او ابن ماجه .

تشریح : دا حدیث د دې خبرتیا ده چي په اوداسه او غسل کي د ضرورت څخه زیاتي او به مصرف نه کړل سي ځکه چي دا اسراف دی او اسراف د شریعت په نظر کي یو خوښ شی نه دی .

رسول الله ﷺ ته چي حضرت سعد ﷺ په تعجب کي سو چي او به خو یو نه پیدا کېدونکي شی نه دی نو بیا په دې کي د اسراف څه معنی ده ، په دې وجه هغه پوښتنه هم وکړه چي ایا په اوداسه کي هم اسراف کېدای سي ، ددې په جواب کي رسول الله ﷺ وفرمایل : اسراف خو به دې

ته هم وايو چي ته پر روانه ويالـه ناست يې اودس كوې او هلته زياتي اوبه مصرفوې ،خال داچي د ويالې ، درياب وغيره څخه هر څومره زياتي اوبه چي مصرف كړې نو په هغه كي څه كمي نسي واقع كيداى .

د دې جملې تشريح علماء داسي كوي چي پر روانه ويالـه باندي اسراف ځكه كيږي چي هر كله يو سړى د شريعت د حدودو څخه تجاوز كولو سره د شرعي ضرورت څخه زياتي اوبه مصرف كوي نو په دې كي عمر او وخت هسي ضائع كيږي او ظاهره ده چي دا اسراف دى .

علامه طيبي رحمة الله عليه ددې معنا دا بيان كړې ده چي ددې څخه په دغه خبره كي مبالغه كول مقصد ده چي كوم شى اسراف متصور نه دى هر كله چي په هغه كي هم اسراف كيداى سي نو بيا د هغه شيانو به څه حال وي چي په هغه كي اسراف واقعتا كيږي نو معلومه سوه چي په اوداسه، غسل وغيره كي د شرعي ضرورت څخه زياتي اوبه مصرف كول په اسراف كي شامل دي او دا كار مناسب نه دى . .

﴿۳۹۴﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ وَابْنِ مَسْعُوْدٍ وَابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَوَضَّأَ وَذَكَرَ اسْمَ اللّٰهِ فَإِنَّهُ يُطَهِّرُ جَسَدَهُ كُلَّهُ وَمَنْ تَوَضَّأَ وَلَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللّٰهِ لَمْ يُطَهِّرْ إِلاَّ مَوْضِعَ الْوُضُوْءِ .

د حضرت ابوهريرة ، ابن مسعود او ابن عمر رضي الله عنهم څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي د اوداسه كولو په وخت كي د الله نوم واخيست نو هغه خپل ټول بدن پاك كړ او چا چي په اوداسه كي د الله نوم ونه خيست نو هغه يوازي د اوداسه اندامونه پاك كړل .

تشريح : د دې حديث څخه په اوداسه كي د بسم الله ويلو فضيلت معلوميږي چي كوم سړى په بسم الله ويلو سره اودس پيل كړي د هغه ټول بدن د كوچني ګناهونو د ناپاكيو څخه پاكيږي او چا چي پرته د بسم الله ويلو اودس وكړ نو د هغه اندامونو څخه ګناه صغيره ليري كيږي كوم چي په اوداسه كي پريولل سوي دي، او ددې حديث څخه دا هم معلومه سوه چي په اوداسه كي بسم الله ويل سنت يا مستحب ده او واجب نه ده .

﴿۳۹۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ رَافِعٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ وُضُوْءَ الصَّلَاةِ حَرَّكَ خَاتَمَهُ فِيْ إِصْبَعِهِ . رواهما الدارقطني . وروى ابن ماجه الأخير .

د حضرت ابو رافع ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د لمانځه لپاره اودس كاوه نو خپله ګوتمۍ به يې په ګوتو كي و ښورول . دغه دواړه حديثونه دار قطني روايت كړي دي .

تشريح : د دې مسئله داده که چيرې ګوتمې سسته وي او ددې خبرې يقين وي چې د اوا سه په وخت کې اوبه د ګوتمې لاندې ته رسيږي نو په دې صورت کې ګوتمې ښورول سنت دي مګر که چيرې ګوتمې تنګه وي او دا يقين وي چې د ګوتې ښورولو څخه پرته د هغه لاندې اوبه نه رسيږي نو بيا ګوتمې ښورول واجب دي چې اوبه د هغه لاندې ګوتې ته ورسيږي.

بَـــابُ الْغُسْـــلِ

(د غسل کولو بيان)

الفصل الاول

﴿۳۹۶﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ اَحَدُكُمْ بَيْنَ شُعَبِهَا الْأَرْبَعِ ثُمَّ جَهَدَهَا فَقَدْ وَجَبَ الْغُسْلُ وَاِنْ لَّمْ يُنْزِلْ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چې په تاسو کې يو څوك (د ښځې) د څلورو ښاخونو په منځ کې (يعني دواړو لاسو او پښو په منځ کې) کښيني بيا هڅه وکړي (يعني کوروالي وکړي) نو پر هغه غسل واجب سو که څه هم مني ووزي يا نه ووزي. بخاري او مسلم.

تشريح : د ښځې د څلورو ښاخونو څخه مراد د هغې دواړه لاسونه او دواړې پښې دي، يا ددې څخه مراد د ښځې دواړې پښې او د فرج (شرمګاه) خواوې، دا جمله ښځې ته د جماع لپاره د وترلو او صحبت کولو کې بليغ تعبير دی، رسول الله ﷺ د شرم او حياء په انتهائي لوړ مقام باندې وو، ځکه نو رسول الله ﷺ د مسئلې د صورت د وضاحت لپاره د کنايې الفاظ ذکر کړل او په څرګنده توګه يې ددې تشريح نه ده فرمايلې.

په هر حال د حديث مطلب دادی که يو سړی ښځې ته د جماع لپاره ورغلی او هغه جماع وکړه نو صرف جشفه (د سړي د مخکني اندام سر) داخلولو سره پر هغه غسل واجب کيږي که څه هم انزال وي يا نه وي، د خلفاء راشدينو او اکثرو صحابه کرامو او د څلورو امامانو دا مذهب دی.

غسل واجب كيږي كه يا؟

﴿۳۹۷﴾ : وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ . رواه مسلم . قال الشيخ الإمام محيي السنة رحمه الله هذا منسوخ .وقال ابن عباس إنما الماء من الماء في الاحتلام . رواه الترمذي و لم أجده في الصحيحين

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اوبه د اوبو څخه دي (يعني په مني وتلو سره غسل واجبيږي) .(مسلم) امام محي السنة وايي چي دا حكم منسوخ دی او ابن عباس ويلي دي چي اوبه د اوبو څخه دي ددې حكم د احتلام لپاره دی . (ترمذي) په بخاري او مسلم كي دا حديث نسته .

تشريح : كه ددې ارشاد پر طريقې فكر وكړل سي نو معلومه به سي چي د رسول الله ﷺ په وړاندي يوې خوا ته د شريعت د احكامو د تعليم ذمه واري ده او بلې خوا ته د شرم او حياء انتهائي لوړ مقام باندي فائز دی، ځكه نو رسول الله ﷺ داسي طريقه اختيار روي چي د مسئلې وضاحت هم وسي او د شرم او حياء لمن هم دلاس څخه ونه وځي ، رسول الله ﷺ داسي الفاظ فرمايلي دي چي كنايةً د مسئلې وضاحت كوي .

په هر حال د دې حديث څخه دا معلوميږي چي تر څو پوري انزال نه وي يعني مني ونه وځي نو غسل نه واجب كيږي ، مگر ددې څخه مخكي چي كوم حديث تير سوی دی د هغه څخه دا خبره معلومه سوه چي غسل په يوازي دخول حشفه سره واجب كيږي كه انزال وي او كه نه وي، په دې ډول د دواړو حديثونو ټكر پيدا سو .

د دې ټكر د دفع كولو لپاره امام محي السنة رحمة الله عليه دا قول د مصنف مشكوة نقل كوي چي دا حكم منسوخ دی يعني دا حكم د حضرت ابی بن كعب ﷺ په هغه روايت سره منسوخ گرځول سوی دی چي په هغه كي منقول دي چي دا آساني د اسلام په پيل كي وه چي تر څو پوري انزال نه وي غسل نه واجب كيدی بيا وروسته دا حكم منسوخ كړل سو .

امام ترمذي رحمة الله عليه هم فرمايلي دي چي دا ډول د ډيرو صحابه كرامو اقول منقول دي چي دا حكم د اسلام په پيل كي وو او بيا وروسته هغه منسوخ گرځولو سره دا حكم نافذ كړل سو چي هر كله د سړي ذكر د ښځي په شرمگاه كي داخل سي او ختنين يو ځای سي نو غسل واجب كيږي كه انزال وسي او كه ونه سي .

مگر ابن عباس ﷺ ددې حديث بله توجيه بيانوي هغه فرمايي چي دا حكم د احتلام په باره كي دی يعني د رسول الله ﷺ ددې ارشاد مقصد دادی چي صرف په خوب ليدو سره غسل نه

واجب کیږي بلکه د خوب شخه د راکښېنستو وروسته که پر جامه وغیره باندي د مني لوند والی ولیدل سي نو غسل واجب کیږي ، لکه چي د ابن عباس ﷺ ددغه توجیه په اړه ددې حدیث د منسوخ منلو ضرورت نه پاته کیږي مګر تحقیقي خبره داده چي دا حدیث مطلق دی یعني ددې حکم تعلق د احتلام سره هم وو او د غیر احتلام سره هم مګر دا حکم د اسلام په پیل کي وو بیا منسوخ سو .

﴿۳۹۸﴾ : وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ لاَ يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ فَهَلْ عَلَى الْمَرْأَةِ مِنْ غُسْلٍ إِذَا احْتَلَمَتْ فَقَالَ نَعَمْ إِذَا رَأَتْ الْمَاءَ فَغَطَّتْ أُمُّ سَلَمَةَ وَجْهَهَا وَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَوَتَحْتَلِمُ الْمَرْأَةُ قَالَ تَرِبَتْ عَيْنُكِ فَبِمَ يُشْبِهُهَا وَلَدُهَا . متفق عليه و زاد مسلم برواية ام سليم ان ماء الرجل غليظ ابيض و ماء المراة رقيق اصفر فمن ايهما علا او سبق يكون منه الشبة .

د حضرت بي بي آم سلمه[۱] (رض) شخه روایت دی چي بي بي ام سلیم رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! الله تعالی په حقه خبره بیانولو شرم نه کوي (نو زه هم د یوې خبري پوښتنه کوم) ایا پر ښځه غسل واجب دی هر کله چي غسل پر واوړي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل او هر کله چي هغه (مني) ووینې ، د دې په اورېدو سره بي بي ام سلیم د شرم شخه مخ پټ کړ او عرض یې وکړ اې دالله رسوله ! ایا پر ښځه هم غسل اوړي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : هو ، ستا راسته لاس دي په خاورو ولړل سي د هغې ماشومان څنګه دهغې سره همشکل وي (بخاري او مسلم) په دې حدیث کي چي د بي بي ام سلیم شخه روایت دی مسلم دا الفاظ زیات لیکلي دي چي رسول الله ﷺ دا هم وفرمایل : د سړي مني ټینګ او سپین وي او د ښځي مني ژړ او نرم وي نو په دې کي چي د هر یوه مني غالب سي یا مخکي ووزي نو کوچنی هغه ته ورته وي .

تشریح : دا مسئله لږ نازکه ده او عرفا د شرم او حیاء خلاف ده ، ځکه بي بي ام سلیم مخکي د تمهید په توګه وویل چي الله تعالی د حق په اړه حیاء نه کوي یعني الله تعالی ددې شخه منعه فرمایلې ده چي د حق خبرې په پوښتنه کولو کي شرم او حیاء وکړل سي او بیا ددې شخه وروسته هغې اصل مسئله و پوښتل .

د رسول الله ﷺ د جواب مطلب دادی چي صرف د جماع په خوب لیدو سره غسل نه واجب کیږي تر څو پوري چي انزال نه وي یا سهار د پورته کېدو وروسته د هغه یو ښېه ونه لیدل سي

[۱] د نوموړي په نامه کي ډېر اختلاف دی ځینو علماؤ اسلمه ، ځینو رمله او ځینو ملیکه لیکلې دی . په هر حال د حضرت انس ﷺ والده محترمه ده .

يعني يو ځوک د خوب ښځه د راکښېنستو وروسته پر بدن یا جامه باندي مني لګېدلي ويني نو غسل واجب کيږي، زموږ په نزد دا حکم د مذي هم دی يعني که د خوب ښځه د پورته کېدو وروسته پر جامه یا بدن باندي مذي ويني نو غسل واجب کيږي.

ستا راسته لاس دي په خاورو سي : دا د شدت فقر کنايه ده لکه دا چي يو ډول ښېرا ده مګر دلته ددې استعمال په حقيقي معنی کي نه دی بلکه دا يوه داسي جمله ده چي د اهل عربو په نزد د تعجب پر وخت ويل کيږي ، همدارنګه ددې جملې معنا به دا وي چي اې ام سلمه ! د لوی تعجب خبره ده چي ته داسي خبره کوې ايا ته دومره هم نه پوهيږې که د ښځي مني نه وي نو بيا اکثر ماشومان د خپل مور مشابه وي هغوئ به څرنګه وه، د سړي د مني په ډول د ښځۍ هم مني وي او يا د دواړو د منيو څخه د ماشوم تخليق کيږي.

رسول الله ﷺ چي د مني کوم رنګ بيان کړی دی هغه د اکثر په اعتبار دي يعني د اکثرو او روغو خلکو او ښځو د مني رنګ داسي وي ځکه چي د ځينو خلکو مني د يو مرض په وجه نري يا د کثرت مباشرت په وجه سره وي، داسي د ځينو ښځو مني د قوت او طاقت د زياتوب په وجه سپين هم وي ، د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي د مباشرت په وخت که د سړي او ښځې دواړو مني په غورځېدو سره د مور رحم ته ورسيږي نو په دواړو کي چي د کوم مني غالب وي يا په هغه دواړو کي چي د کوم مني سبقت (مخته والی) وکړي يعني د يو بل څخه مخکي غورځېدو سره رحم ته ورسيږي نو ماشوم د هغه مشابه وي.

﴿۳۹۹﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ بَدَأَ فَغَسَلَ يَدَيْهِ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ كَمَا يَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ يُدْخِلُ أَصَابِعَهُ فِي الْمَاءِ فَيُخَلِّلُ بِهَا أُصُوْلَ شَعْرِهِ ثُمَّ يَصُبُّ عَلَى رَأْسِهِ ثَلَاثَ غُرُفَاتٍ بِيَدِهِ ثُمَّ يُفِيْضُ الْمَاءَ عَلَى جِلْدِهِ كُلِّهِ. متفق عليه، و في رواية لمسلم يبدا فيغسل يديه قبل ان يدخلهما الاناء ثم يفرغ بيمينه على شماله فيغسل فرجه ثم يتوضا.

د بي بي عائشي (رض) څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د ناپاکۍ (جنابت) څخه د غسل اراده کول نو داسي به يې پيل کاوه چي لومړی به يې دواړه لاسونه پريولل بيا به يې اودس کاوه لکه څرنګه چي د لمانځه لپاره اودس کول کيږي بيا به يې خپلي ګوتي په اوبو کي لندې کړې او په وربښتانو کي به يې خلال وکړ يعني د وربښتانو بيخو ته به يې اوبه ورسولې بيا به يې په دواړو لاسو په لپه کي اوبه راواخستې پر سر به يې واچولې او داسي به يې درې ځله کول بيا به يې پر ټول بدن ﴿به توی کړې (بخاري) د مسلم په روايت کي دا الفاظ هم دي کوم وخت چي به

رسول الله ﷺ غسل پیل کاوه نو په لومبي کي د لاس د ننه کولو څخه وړاندي به يې خپل دواړه لاسونه پريولل بيا به يې د راسته څخه پر چپه لاس اوبه اچولې بيا به يې خپل شرمگاه پريوله او ددې وروسته به يې اودس کاوه .

تشريح : بي بي عائشه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ د غسل طريقه ښيي چي کله به رسول الله ﷺ غسل کوی نو تر ټولو مخکي به يې لاسونه تر مړوندو پوري پريولل ، د هغه څخه وروسته به يې داسي کوی لکه څرنګه چي د لمانځه لپاره اودس کول کيږي يعني که چيري په داسي ځای کي به يې غسل کوی چيري چي د پښو اېښودو ځای کي به اوبه نه يو ځای کېدې مثلا پر يو تخته ، ډبره وغيره درېدو سره به يې غسل کوی نو پوره اودس به يې کوی، او که چيري په داسي ځای کي به يې غسل کوی چي هلته به اوبه وغيره وې چي د هغه په وجه به د پښو لاندي اوبه جمع کېدی نو په دې صورت کي به رسول الله ﷺ د اودسه په وخت کي پښې نه پريوللې بلکه د غسل څخه د فراغت وروسته به د هغه ځای څخه ليري سو او پښې به يې پريولې، لکه څرنګه چي ددې څخه په وروسته حديث کي وضاحت کيږي ، په هدايه کي هم ليکلي دي چي داسي کول پکار دي که د غسل په وخت کي د پښو د اېښودو پر ځای اوبه جمع کيږي نو بيا هغه وخت دي پښې نه پريولي بلکه د غسل څخه د فارغه کېدو وروسته د هغه ځای څخه په آخوا کېدو سره دي په دوهم ځای کي پښې پريولل سي . دلته دا هم واورئ چي د طبراني روايت دی چي رسول الله ﷺ ته هيڅکله احتلام نه دی سوی او نه نورو انبياء عليهم السلام ته احتلام سوی وو .

﴿۴۰۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَتْ مَيْمُونَةُ وَضَعْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُسْلاً فَسَتَرْتُهُ بِثَوْبٍ وَصَبَّ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا ثُمَّ صَبَّ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا ثُمَّ صَبَّ بِيَمِيْنِهِ عَلَى شِمَالِهِ فَغَسَلَ فَرْجَهُ فَضَرَبَ بِيَدِهِ الْأَرْضَ فَمَسَحَهَا ثُمَّ غَسَلَهَا فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ ثُمَّ صَبَّ عَلَى رَأْسِهِ وَأَفَاضَ عَلَى جَسَدِهِ ثُمَّ تَنَحّٰى

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي بي بي ميمونة[1] (رض) وفرمايل ما د رسول الله ﷺ د غسل لپاره اوبه کښېښودلې او په جامې سره مي پرده وکړل ، رسول الله ﷺ په خپلو دواړو لاسونو اوبه واچولې او هغه يې دوهم ځل داسي په خپلو لاسونو سره پريولل بيا يې د راسته لاس څخه پر چپه لاس اوبه واچولې بيا يې شرمگاه پريولل بيا يې چپه لاس چي په هغه سره يې شرمگاه پريولې

[1] ام المؤمنين حضرت بي بي ميمونه د حارث هماليه عامريه لور او د نبي کريم ﷺ محترمه مېرمن ده ، په صرف نامي ځای کي په (۶۱ هـ) کال او يا د دوهم قول سره سم په کال (۵۱ هـ) کي وفات سوې ده .

فَغَسَلَ قَدَمَيْهِ فَنَاوَلْتُهُ ثَوْبًا فَلَمْ يَأْخُذْهُ فَانْطَلَقَ وَهُوَ يَنْفُضُ يَدَيْهِ .متفق عليه ولفظه للبخاري.

وه پر مخکه ومورږی، بیا یې هغه پریولی بیا یې خوله پریولل او په پزه کي یې اوبه واچولې مخ یې پریولی او تر څنګلو پوري یې لاسونه پریولل بیا یې پر سر او ټول بدن باندي اوبه واچولې او پښې یې پریولې ، د درې وروسته یې د بدن پاکولو لپاره ما جامه ورکړه مګر جامه یې وانه خیستل بیا یې لاسونه و څنډل او د هغه ځای څخه ولاړی . بخاري او مسلم .

تشریح : د دې حدیث څخه دد خبري وضاحت وسو که چیري غسل په داسي ځای کي وکړل سي چي د پښنو اېښودو په ځای کي اوبه جمع کیږي نو د اواسه کولو په وخت کي دي پښې نه پریولي بلکه د غسل څخه وروسته د هغه ځای څخه په آخوا کېدو سره دي په بل ځای کي پښې پریولي، رسول الله ﷺ د غسل څخه وروسته د هغه ځای څخه په آخوا کېدو سره پهدوهم ځای کي پښې ځکه پریولې چي د غسل په وخت کي د اوداسه کولو په وخت کي یې پښې نه وې پریولې ځکه چي رسول الله ﷺ غسل پر یو ډبره، تختی یا یو لوړ ځای باندي نه وو کړی چي د هغه په وجه په پښنو کي اوبه جمع سوې وای .

د غسل څخه وروسته بې بي میمونې رضي الله عنها د بدن وچولو لپاره رسول الله ﷺ ته جامه وړاندي کړه مګر رسول الله ﷺ د هغه څخه انکار وکړ ، ددې څو احتمالات علماؤ لیکلي دي ، کیدای سي چي رسول الله ﷺ د جامې اخیستو څخه په دې وجه انکار کړی وي چي د غسل وغیره څخه وروسته بدن نه وچول افضل وه، یا رسول الله ﷺ په تلوار کي وو ځکه په دې سوچ سره چي په جامې سره په بدن وچولو کي زنډ وسي نو جامه یې وانه خیستل ، یا دا کیدای سي چي هغه وخت د ګرمی موسم وو ځکه چي د لمبېدو څخه وروسته د اوبو لوندوالی به ورته ښه معلومیدی، ځکه نو رسول الله ﷺ به د بدن څخه اوبه وچول نه وي خوښ کړي، او یا دا هم کیدای سي چي په هغه جامه کي د چټلی وغیره شبه سوې وي ځکه هغه جامه یې رد کړل نو ددې حدیث څخه دا مسئله نسې مستنبط کیدای چي د غسل وغیره څخه وروسته پر بدن باندي لګیدلي اوبه نه وچول سنت دي یا دا چي وچول یې مکروه دي .

د لاسونو ښورولو مطلب دادی چي په عامه توګه سره طاقتو او روغ او توانا خلک د تللو په وخت کي لاسونه ښورولو سره ځي همداسي رسول الله ﷺ هم د لاسونو په ښورولو سره تشریف یوور .

﴿۴۰۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اِنَّ امْرَأَةً مِّنَ الْاَنْصَارِ سَأَلَتْ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ غُسْلِهَا مِنَ الْمَحِيْضِ فَاَمَرَهَا كَيْفَ تَغْتَسِلُ ثُمَّ قَالَ خُذِيْ فِرْصَةً مِنْ مِسْكٍ فَتَطَهَّرِيْ بِهَا قَالَتْ كَيْفَ أَتَطَهَّرُ بِهَا فَقَالَ تَطَهَّرِي بِهَا قَالَتْ كَيْفَ أَتَطَهَّرُ بِهَا قَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ تَطَهَّرِي بِهَا فَاجْتَذَبْتُهَا إِلَيَّ فَقُلْتُ تَتَبَّعِي بِهَا أَثَرَ الدَّمِ. متفق عليه

د حضرت بي بي عائشة (رض) څخه روايت دی چي يوې انصاري ښځي د نبي كريم ﷺ څخه د خپل حيض د غسل په اړه پوښتنه وكړه، رسول الله ﷺ ورته د غسل كيفيت بيان كړ او د غسل حكم يې وركړ او وه يې فرمايل: د مشكو يوه ټوټه واخله په هغه سره پاكي وكړه. انصاري ښځي وويل په دې سره څنګه پاكي وكړم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل په دغه جامې سره پاكي وكړه، انصاري ښځي بيا پوښتنه وكړه څنګه پاكي وكړم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: سبحان الله ته په هغه سره پاكي تر لاسه كړه. بي بي عائشة وايي د رسول الله ﷺ د وار وار ويلو سره ما هغه انصاري ښځه ځان ته راوسنل بيا مي ورته وويل دا جامه د ويني پر ځای كښيږده (او په دې سره وينه پاكه كړه) بخاري او مسلم

تشريح: دا ډول مسئلې چي كله راسي نو هلته تاسو د حديث طريقه ويني چي رسول الله ﷺ داسي مسئلې په كوم انداز سره بيانوي، خبره هغه ده چي يوې خوا ته خو شرعي مسائل په پوره وضاحت سره د بيانولو ذمه داري د رسول الله ﷺ پر اوږو مباركو ده چي په هغه كي د شرم او حياء په وجه د څه اخفاء ځای نسته، بلې خوا ته د رسول الله ﷺ د شرم او حياء هغه فطري تقاضا ده چي د خلاف ادب او تهذيب جمله ادا كولو كي حائل كيږي، ځكه نو رسول الله ﷺ د داسي مسائلو په بيان كي داسي لار اختياروي چي د شرم او حياء د دائرې څخه نه متجاوز كيږي او د مسائلو وضاحت هم حتى الامكان كيږي.

اوس تاسو وګورئ چي يوه پوښتنه كونكې د ښځو د مسئلو وضاحت غواړي، رسول الله ﷺ هغې ته جواب وركوي او بيا په دې اړه د نطاقت او لطافت يو خاص طريقې ته د هغې رهنمائي كول غواړي نو رسول الله ﷺ په اشارو كي دهغې پوهېدل غواړي، بيا رسول الله ﷺ په ډير تعجب سره فرمايي، سبحان الله ته په دې سره پاكي تر لاسه كړه مسئله د زياتي پوهي ثبوت نه وركوي رسول الله ﷺ بيا خپل هغه جملې دوهم وار وايي چي هغه پوهه سي مګر هغه نور وضاحت غواړي، رسول الله ﷺ بيا په ډير تعجب سره فرمايي سبحان الله ته په دې سره پاكي تر لاسه كړه يعني د تعجب خبره ده چي ته په دومره ساده او ظاهره مسئله هم نه پوهيږې دا خو يو باريكه

مسئله نه ده او يو خاص نکته نه ده چي د هغه په پوهېدو كي د زيات غور او فكر ضرورت وي ، بې بي عائشه رضي الله عنها هغه وخت د ذكاوت او ذهانت غوره ثبوت وركوي هغه پوه سوه چي يوې خوا ته ښځه د رسول الله ﷺ مقصد ته نه رسيږي او بلي خوا ته د رسول الله ﷺ شرم او حياء د زيات وضاحت اجازه نه وركوي نو هغه ښځه ځان ته رابولي او بيا د رسول الله ﷺ په مقصد يې په وضاحت سره پوهوي .

د حديث په الفاظو كي (فرصة من مسک فتطهري) كي لفظ د مسک د ميم په زير سره دى چي د هغه معنى د مشک ده ، ددې مطلب به دا وي چي د مشک يوه ټوټه يا په مشک كي لنده كړې يا د رنگ سوي جامې يوه ټوټه واخله په هغه سره پاكي تر لاسه كړه ، په يوه روايت كي مسک د ميم په زور سره هم راغلى دى چي د هغه معنى د پوست ده مگر د روايت سره سم او د موقع په مناسبت سره د ميم زير يعني د مشک معنى زياته غوره ده .

په دغه مسئله كي فقهاء ليكي چي د ښځي لپاره (د حيض په ورځو كي) دا مستحب ده چي هغه د مشک يوه ټوټه يا په مشک كي رنگ سوې معطر جامې يوه ټوټه اخيستو سره پر شرمگاه كښيږدي چي د ويني بدبويي ولاړه سي .

﴿۴۰۲﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي امْرَأَةٌ أَشُدُّ ضَفْرَ رَأْسِي فَأَنْقُضُهُ لِغُسْلِ الْجَنَابَةِ قَالَ لاَ إِنَّمَا يَكْفِيكِ أَنْ تَحْثِيَ عَلَى رَأْسِكِ ثَلاَثَ حَثَيَاتٍ ثُمَّ تُفِيضِينَ عَلَيْكِ الْمَاءَ فَتَطْهُرِينَ. رواه مسلم .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دى چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وكړ اې دالله رسوله ! زه يوه داسي ښځه يم چي د خپل سر وربښتان ټينگ ترم ايا د ناپاكى په حالت كي دا خلاص كړم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : نه، ستا لپاره دا بس ده چي ته پر خپل سر درې لپي اوبه واچوې او پر خپل بدن يې و بيوې نو پاكه به سې .مسلم.

تشريح : د دغه حديث په اړه صحيح قول دا دى چي د پورتني حديث حكم يوازي د غسل په وخت كي كه وربښتان تړل سوي وي او پر سر اوبه داسي واچول سي چي د وربښتانو بيخونه لانده سي نو دا كافي دي ، د وربښتانو د خلاصولو ضرورت نسته او كه په دې پوه سي چي د وربښتانو خلاصولو څخه پرته بيخونه نه لنديږي نو بيا په دې صورت كي د وربښتانو خلاصول ضروري دي، نارينو ته په هر صورت كي وربښتان خلاصول پكار دي .

﴿۴۰۳﴾:وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ وَيَغْتَسِلُ بِالصَّاعِ إِلَى خَمْسَةِ أَمْدَادٍ . متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په يوه مد (تقريبا يو سير) اوبو سره اودس کاوه او په يوه صاع (ځلور سيره) اوبو سره او غسل به يې کوی په يوه صاع تر پنځو مدو پوري. بخاري او مسلم.

تشريح : (مُد) د يو پيمانې نوم دی چي په هغه کي تقريبا يو سير غله راځي او صاع هم يو پيمانه ده چي په هغه کي تقريبا ځلور مده يعني ځلور سيره غله راځي، دلته د صاع او مد څخه پيمانه مراد نه ده بلکه وزن مراد دی يعني رسول الله ﷺ به تقريبا په يو سير اوبو سره اودس کوی او په ځلور سيره يا پنځه سيره اوبو سره به يې غسل کوی ، نو مناسب دا ده چي تقريبا په يو سير اوبو سره اودس وکړل سي او په ځلور يا پنځه سيره اوبو سره غسل وکړل سي ، مګر په دې خبره پوهېدل پکار دي چي د اوداسه او غسل لپاره د اوبو دغه اندازه د واجب په درجه کي نه ده بلکه دا سنت ده چي د اوداسه او غسل لپاره اوبه او به تر دې اندازې کمي نه وي.

د رسول الله ﷺ د اوداسه د اوبو اندازه په ځينو روايتونو کي دريمه برخه د مد او په ځينو روايتونو کي نيم مد هم منقول دي ، نو د دې حديث متفق عليه محل به دا وګرځول سي چي رسول الله ﷺ به اکثر په يوه مد سره اودس کوی مګر کله کله به يې تر دې په کمو اوبو هم اودس کوی لکه څرنګه چي په ځينو روايتونو کي منقول دي.

﴿۴۰۴﴾ :وَ عَنْ مُعَاذَةَ قَالَتْ قَالَتْ عَائِشَةُ كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ بَيْنِي وَبَيْنَهُ فَيُبَادِرُنِي حَتَّى أَقُوْلَ دَعْ لِي دَعْ لِي قَالَتْ وَهُمَا جُنُبَانِ . متفق عليه.

د بي بي معاذة (رض) څخه روايت دی چي بي بي عائشې (رض) وفرمايل : ما او رسول الله ﷺ به د يوه لوښي څخه غسل کاوه چي زموږ د واړو په منځ کي به پروت وو ، رسول الله ﷺ به په اوبو اخيستو کي د تادي (تلوار) څخه کار اخيست تر دې چي ما به ويل زما لپاره هم اوبه پرېږده زما لپاره هم اوبه پرېږده ، بي بي معاذه وايي دا غسل به د دواړو د جنابت غسل وو. بخاري او مسلم

تشريح : په کوم لوښي کي چي به رسول الله ﷺ او بي بي عائشې رضي الله عنها په ګډه غسل کوی هغه د يو د ښانک په ډول وو چي په هغه کي به درې صاع تقريبا دوولس سيره اوبه راتلې د غسل لپاره به دواړو په هغه لوښي کي اوبه را اخيستلې او په هغه سره به يې غسل کوی.

د حديث دا الفاظ چي رسول الله ﷺ به (د اوبو په را اخيستلو کي) تلوار کوی ، د دې مطلب دا نه دی چي رسول الله ﷺ به د بي بي عائشې رضي الله عنها د لمبېدو څخه مخکي په لږ اوبو

سره لمبيدی او پاته اوبه به يې پرېښودلې چي په هغه سره به بي بي عائشې رضي الله عنها لمبېدل ، بلکه ددې مطلب دادی چي د اوبو لوښی به د دواړو په مينځ کي پروت وو او دواړو به په يو ځای د هغه غسل کوی ، د حديث آخري جمله چي دواړه به د ناپاکۍ په حالت کي وه په دې اړه ابن مالک رحمة الله عليه ويلي دي چي دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي په کومو اوبو کي جنب سړی لاس غوټه کړي نو هغه اوبه طاهر او مطهر دي ، جنب که سړی وي او که ښځه وي .

امام ابن همام رحمة الله عليه فرمايي چي زموږ د ټولو علماؤ دا قول دی که چيري د محدث (بې اودسه) ، جنب (چي پر هغه غسل واجب وي) او حائضې لاس پاک وي او هغه د اوبو په لوښي کي د اوبو را اخيستلو لپاره په اوبو کي لاس غوټه کړي نو اوبه به مستعمل (يعني د استعمال نا قابل) به نه وي ، ځکه چي د اوبو را اخيستلو لپاره هغوئ ددې طريقې محتاج دي، نو موږي امام ددې قول په دليل کي دا حديث وړاندي کوي ، ددې ځخه وروسته هغه فرمايي چي ددې پر خلاف که چيري جنب د اوبو په لوښي کي خپله پښه يا سر واچوي نو بيا اوبه ناپاکه کيږي ځکه چي په دې صورت کي هغه مجبور نه دی او نه ددې طريقې ضرورت وي .

الفصل الثاني

﴿۴۰۵﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الرَّجُلِ يَجِدُ الْبَلَلَ وَلَا يَذْكُرُ احْتِلَامًا قَالَ يَغْتَسِلُ وَعَنْ الرَّجُلِ يَرَى أَنَّهُ قَدْ احْتَلَمَ وَلَا يَجِدْ بَلَلًا قَالَ لَا غُسْلَ عَلَيْهِ قَالَتْ أُمُّ سَلِيم يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَلْ عَلَى الْمَرْأَةِ تَرَى ذٰلِكَ غُسْلٌ قَالَ نَعَمْ إِنَّ النِّسَاءَ شَقَائِقُ الرِّجَالِ. رواه الترمذي وابوداؤد و روي الدارمي وابن ماجه الى قوله لا غسل عليه

د حضرت عائشې (رض) ځخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ ځخه د هغه سړي په اړه پوښتنه وسول چي پر جامو لونډوالی ويني او احتلام يې ياد نه وي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغه ته غسل کول پکار دي ، بيا پوښتنه وسول که احتلام يې ياد وي مگر لونډوالی نه ويني، رسول الله ﷺ وفرمايل : پر هغه غسل واجب نه دی، بي بي ام سليم چي دا واوريدل نو پوښتنه يې وکړل که ښځه هم لونډوالی ويني نو ايا پر هغې هم غسل واجب دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هو، ښځي هم د سړو په شان دي . ترمذي ، ابوداؤد ، دارمي او ابن ماجه .

تشريح : پوښتنه دا وه چي د مثال په توگه يو سړی د خوب ځخه راکښېنستی او وه يې ليدل چي

پر جامو يا بدن باندي يې مني يا مذي لګيدلي دي مګر د هغه يو داسي خوب په ياد نه دي چي په هغه خوب کي يې د چا سره کوروالي کړې وي چي د هغه په وجه دا احتلام واقع سوی دی، نو ايا پر داسي سړي باندي به غسل واجب که يا؟ رسول الله ﷺ جواب ورکړ چي هغه ته غسل کول پکار دي، لکه د جواب مطلب چي دا سو چي د غسل د وجوب دار او مدار د مني يا مذي پر لوندوالي باندي دی د خوب پر يادېدو يا نه يادېدو باندي نه دی.

د حديث د آخري برخي مطلب دادی چي د پيدائش او طبائع په اعتبار ښځي هم د خلکو په ډول دي ځکه نو د سړي په ډول که ښځه هم د خوب څخه په راوېښېدو باندي پر خپل جامه يا بدن باندي لوناد والی محسوس کړي نو پر هغې هم غسل واجب کيږي.

د دې حديث څخه دا معلوميږي چي صرف پر لوندوالي ليدو باندي غسل واجب کيږي که څه هم ددې خبري يقين نه وي چي مني په ټوپ وهلو سره وتلي دي، د تابعينو د يو ډلي او امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه څخه هم داسي منقول دي.

مګر اکثر علماء دا فرمايي چي غسل تر هغه وخته پوري نه واجب کيږي تر څو پوري چي په دې پوه نسي چي مني په ټوپ وهلو سره وتلي دي که په دې پوه سي چي مني په ټوپ وهلو سره وتلي دي نو غسل واجب کيږي کنه نو غسل نه واجب کيږي او احتياطي غسل کول به مستحب وي. پر دې ځای يو سوال پيدا کيږي چي سړی او ښځه په يوه بستره کي بيده سوه، د خوب څخه چي راکښېنستل نو دهغوئ پر بستره باندي د مني لوندوالی محسوس کړ مګر په دواړو کي يوه ته معلومه نه ده چي دا د چا مني دي نو په دې صورت کي به پر غسل واجب وي؟ ددې جواب دادی چي په دغه صورت کي به دا وکتل سي چي د مني رنګ څه ډول دی که هغه سپين وي نو دا به ددې دليل وي چي دا دسړي مني دي نو پر سړي به غسل واجب کيږي او که د هغه رنګ ژړ وي نو بيا غسل پر ښځي باندي واجب کيږي، مګر احتياط به دا وي چي ښځه او سړی دواړه غسل وکړي.

﴿۴۰۶﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَاوَزَ الْخِتَانُ الْخِتَانَ وَجَبَ الْغُسْلُ فَعَلْتُهُ أَنَا وَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاغْتَسَلْنَا.

رواه الترمذي وابن ماجة

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي د نارينه د سنت ځای د ښځي په سنت ځای کي غائب سي نو غسل واجب سي. بي بي عائشة فرمايي ما او رسول الله ﷺ دا عمل وکړ نو موږ دواړو غسل وکړ. ترمذي او ابن ماجه.

تشريح : (ختان) هغه ځای ته وايي چې هغه د ختنې (سنت کېدو) په وخت كې پرې کیږي چې د سړي د خاص اندام په سر كې يو پوست وي او د ښځې د شرمګا د چرګ د د کلغې په ډول پورته سوې يوه برخه وي ، نو فرمایل کیږي چې هر کله ختنین يو ځای سي او حشفه د ښځې په شرمګاه كې داخل سي نو غسل واجب کيږي كه انزال وسي او كه ونه سي .

﴿۴۰۷﴾ : وَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ كُلِّ شَعْرَةٍ جَنَابَةٌ فَاغْسِلُوا الشَّعْرَ وَأَنْقُوا الْبَشَرَةَ. رواه ابوداؤد والترمذي وابن ماجة وقال الترمذي وابن ماجة هذا حديث غريب والحارث ابن وجيه الراوي وهو شيخ ليس بذالك .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د هر وربښته لاندې ناپاكي ده له دې كبله وربښتان پريولئ او بدن پاكوئ ، ابوداؤد ، ترمذي، ابن ماجه، ترمذي ليكلي دي دا حديث غريب دی او يو راوي حارث بن وجية معتبر نه سي ګڼل کيدلای په سبب د زوړوالي .

تشريح : د دې حديث مقصد دادی چې د جنابت په غسل كې د سر وربښتان په ښه ډول پريولل پكار دي چې اوبه د وربښتانو بيخونو ته ورسيږي ځكه كه چيري اوبه بيخونو ته ونه رسيږي نو پاكي نه حاصليږي ، كتابونو ليكلي دي كه چيري د يوه وربښته لاندې ځای هم وچ پاته سي نو غسل نه ادا کيږي ، د وربښتانو سره بدن هم په ښه ډول پريوللو حكم وركړل سوی دی ، د دې مطلب هم دادی چې د غسل په وخت كې د بدن په ښه ډول موږلو سره غسل خيره وغيره پاكول پكار دي او پر تهول بدن باندې اوبه داسې بيول پكار دي چې د بدن هيڅ برخه هم وچه پاته نسي ځكه كه چيري پر بدن باندې وچه خاوروه، اوړه، موم او داسې بل شی لګيدلی وي او د هغه لاندې اوبه ونه رسيږي نو ناپاكي نه ليرې كيږي .

﴿۴۰۸﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَرَكَ مَوْضِعَ شَعْرَةٍ مِّنْ جَنَابَةٍ لَّمْ يَغْسِلْهَا فُعِلَ بِهَا كَذَا وَكَذَا مِنَ النَّارِ . قَالَ عَلِيٌّ فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِيْ فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِيْ فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِيْ ثَلَاثًا . (رواه أبو داود وأحمد والدارمي إلا أنهما لم يكررا فمن ثم عاديت رأسي)

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :چا چې د جنابت په غسل كې د يو وبښته په اندازه ځای هم پرېښودی او هغه يې نه پريولی نو د هغه له كبله به د هغه سره په اور كې داسې او داسې وكړل سي. علی ﷺ وايي چې د رسول الله ﷺ (د دې حكم په اورېدو سره) ما د خپل سر سره دښمني وكړه درې ځله يې دا جمله وويل يعني د دې وروسته ما د خپل سر وربښتان وخريل . ابوداؤد، احمد او دارمي .

تشریح : دا حدیث په زیات وضاحت سره د پورتني حدیث تائید کوي او د جنابت په غسل کي د وربښتانو په اړه غفلت کونکي خبروي ، داسي داسي د تعدد څخه کنایه ده یعني داسي سړي ته چي هغه غسل په احتیاط سره ونه کړ او د وربښتانو بیخونو ته یې په ښه ډول اوبه ونه رسولې نو هغه ته څو ډوله او ډېر زیات عذاب ورکول کیږي .

د حضرت علي ﷺ دا ارشاد مطلب دادی چي ما د رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه دا تهدید او سزا واورېدل نو ددې بیري څخه که چیري وربښتان وای نو د جنابت د غسل په وخت کي کیدای سي د هغه بیخونه وچ پاته سي نو د وربښتانو سره مي بالکل د ښمنانو په ډول چلن وکړ ځرنګه چي یو سړی خپل دښمن د ځان لپاره د خطري سبب او باعث ګڼلو سره هغه وژني همداسي د رسول الله ﷺ د تهدید او سزا په وجه ما هغه وربښتان د خپل عاقبت خرابۍ ګڼلو په وجه د هغه صفائي مي وکړه (یعني وه مي خریل) .

د دغه حدیث او د حضرت علي ﷺ د عمل څخه دا معلومه سوه چي د سر وربښتان همیشه خریل جائز دي ، مګر غوره او سنت د وربښتان پرېښودل دي ځکه چي رسول الله ﷺ او خلفاء راشدینو پر خپلو سرونو وربښتان ساتل او یوازي د حج په وخت کي یې خریل .

او کوم چي د حضرت علي ﷺ ددې ارشاد تعلق دی نو د هغه په اړه ویل کیدای سي چي ددې څخه د حضرت علي ﷺ مراد دادی چي ما د سر وربښتان و خریل نو د هغه څخه بل مقصد نه دی او هغه مي د ښکلا او زینت یا د یو راحت او آرام په وجه نه دي خریلي بلکه اصلي مقصد هغه دی چي بیان سوی دی، لکه حضرت علي ﷺ چي د یو داسي کار په ترک کول وباندي خپل عذر بیان کړ کوم چي د رسول الله ﷺ څخه په همېشتوب سره ثابت دی .

﴿۴۰۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَتَوَضَّأُ بَعْدَ الْغُسْلِ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه .	د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د غسل څخه وروسته اودس نه کاوه . ابوداؤد، ترمذي، نسائي او ابن ماجه .

تشریح : مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به د غسل څخه مخکي اودس د غسل لپاره کوی، د غسل څخه وروسته یې بیا اودس نه کوی او مسئله هم داده چي د غسل لپاره کوم اودس وکړل سي هغه کافي دی ، د غسل څخه وروسته د لمانځه وغیره لپاره د دوهم اودس کولو ضرورت نسته د غسل په اوداسه سره لمونځ هم کیدای سي .

﴿۴۱۰﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْسِلُ رَأْسَهُ بِالْخِطْمِيِّ وَهُوَ جُنُبٌ يَجْتَزِئُ بِذٰلِكَ وَلاَ يَصُبُّ عَلَيْهِ الْمَاءَ. رواه أبو داود.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به د ناپاکۍ په حالت کې يوازې په خطمي سره سره پريولی او پر دې به يې بس والی کاوه او دوهم وار به يې پر سر اوبه نه اچولې. ابوداؤد.

تشريح: څرنګه چې دلته په شامپو وغيره سره د سر پريوللو رواج دی همداسې په عربو کې په خطمي سره سر پريولل کيدی، بي بي عائشة رضي الله عنها په دې اړه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله د جنابت غسل کوی نو د خپل سر وريښتان به يې په خطمي سره پريولل او هغه به دا طريقه وه چې رسول الله ﷺ به پر سر باندې په خطمي موږلو سره د هغه د پريوللو لپاره پر سر باندې د خطمي يو ځای سوې اوبه اچولې نو بيا دوهم وار د اوبو بيولو په وخت کې به يې پر سر باندې اوبه نه اچولې بلکه هغه لومړنی پريولل به يې کافي ګڼل لکه څرنګه چې په عامه توګه سره پريوللو والا همداسې کوي چې اول سر پريولي د هغه وروسته غسل کوي بيا دوهم وار پر سر اوبه اچوي، رسول الله ﷺ به داسې نه کول.

داسې معلوميږي چې رسول الله ﷺ به په کومو اوبو سره سر پريولی په هغه کې به د خطمي اجزا کم وه چې په هغه سره به د اوبو په حقيقت کې يو ډول تغير نه وو يعني سيلان (بهيدل) به يې پاته وو.

﴿۴۱۱﴾: وَعَنْ يَعْلٰى قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأٰى رَجُلاً يَغْتَسِلُ بِالْبَرَازِ فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ حَيِيٌّ سِتِّيْرٌ يُحِبُّ الْحَيَاءَ وَالتَّسَتُّرَ فَإِذَا اغْتَسَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَتِرْ. رواه أبو داود والنسائي وفي روايته قال إن الله ستير فإذا أراد أحدكم أن يغتسل فليتوار بشيء.

د حضرت يعلي[1] ﷛ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يو سړی وليدی چې په ميدان کې يې لوڅ غسل کاوه، رسول الله ﷺ منبر ته وختی د الله حمد او ثناء يې بيان کړه بيا يې وفرمايل: په تحقيق سره الله حياداره دی پرده پوش دی او حيا او پرده کول خوښوي په تاسو کې چې څوک (په ميدان کې) غسل کوي نو هغه ته پکار ده چې پرده وکړي. ابوداؤد، نسائي، په يوه روايت کې دي چې وه يې فرمايل: بېشکه الله پرده پوش دی کله چې په تاسو کې يو څوك د غسل اراده وکړي نو هغه ته پکار دي چې په يو شي سره پرده وکړي.

---

[1] دلته د تحقيق څخه دا خبره ثابته سوې نه ده چې دا يعلي بن اميه ثقفي دی يا يعلي بن مره ثقفي دی، په هر حال دا دواړه جليل القدر صحابيان دي.

تشریح : د رسول الله ﷺ عادت مبارک دا وو چي کله به يې يو مهمه او عظيم الشانه مسئله بيانول غوښتل يا د يو خاص شي په اړه به يې خبر ورکول غوښتل نو منبر ته به يې تشريف وړی ، اول به يې د الله تعالی حمد او ثناء بيانول د هغه وروسته به يې مسئله بيانول، رسول الله ﷺ يو وار يو سړی وليدی چي هغه په پردې نه کولو سره په يو خلاص ميدان کي لوڅ غسل کوي او د رسول الله ﷺ د شرم او حياء پر تندي ګونجي راغلې ، سمدستي يې په مسجد نبوي کي منبر ته تشريف يووړ د خلکو په مخکي يې د شرم او حياء د اهميت او عظمت په اړه يې په بليغ او فصيح انداز کي بيان وکړ، د رسول الله ﷺ د ارشاد خلاصه داده چي د الله تعالی مبارک ذات د ټولو محاسنو او اوصافو جامع دی ، شرم او حياء او پرده کول چي ډير لوی صفتونه دي دا هم د الله تعالی د صفتو څخه دي، الله تعالی دا غواړي چي د هغه بندګان د دغه صفتونو د نوراني شعلو څخه خپل زړه او دماغ روښانه کړي د هغه چي کوم صفات دي هغه حتي الامکان په ځان کي پيدا کړي ځکه هغه دا خوښوي چي بندګان د شرم او حياء پر اصولو کاربند وي ، د دغه عظيم الشان صفتونو څخه خپل لمني ډکي کړي او پرده کول په هيڅ حال کي پرې نږدي نو ټولو مسلمانانو ته پکار ده چي د شرم او پردې په اړه غفلت او بې پرواهي ونه کړي .

الفصل الثالث

﴿۴۱۲﴾: عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ إِنَّمَا كَانَ الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ رُخْصَةً فِيْ أَوَّلِ الْإِسْلَامِ ثُمَّ نُهِيَ عَنْهَا .رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي .

د حضرت ابي بن كعب ﷺ څخه روايت دی چي د اسلام په پيل کي د مني په وتلو سره د غسل واجب کيدو اجازت وو بيا ددې څخه منعه وکړل سوه (يعني د اسلام په پيل کي يوازي په مني وتلو سره غسل واجب کېدی که يې جماع کړې وای او مني نه وای وتلي نو بيا غسل واجب نه وو، بيا دا منسوخ سو). ترمذي، ابوداؤد او دارمي.

تشریح : د دې باب په دوهم حديث کي د ابي بن کعب ﷺ د دې روايت ذکر راغلی دی او هلته دا ښودل سوي دي چي د اسلام په پيل کي دا حکم وو چي غسل په هغه صورت کي واجب وي هر کله چي د جماع په وخت کي انزال هم وي يعني هغه وخت پرته د انزال څخه په يوازي ادخال غسل نه واجب کيدی، نو ابي بن کعب ﷺ فرمايي چي دا حکم مخکي وو اوس منسوخ سوی دی اوس دا حکم سوی دی چي صرف په جماع يعني ادخال سره غسل واجب کيږي که انزال وي يا نه وي.

﴿۴۱۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي اغْتَسَلْتُ مِنَ الْجَنَابَةِ وَصَلَّيْتُ الْفَجْرَ فَرَأَيْتُ قَدْرَ مَوْضِعِ الظُّفْرِ لَمْ يُصِبْهُ الْمَاءَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كُنْتَ مَسَحْتَ عَلَيْهِ بِيَدِكَ أَجْزَأَكَ . رواه ابن ماجه .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي يو سړی د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ چي ما د جنابت څخه غسل وكړ بيا مي د سهار لمونځ وكړ او وروسته راته څرګنده سوه چي د نوك په اندازه ځای په غسل كي وچ پاته سوی دی ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : كه تا پر هغه باندي په لاس سره مسحه كړې وای نو بس وه . ابن ماجه .

تشريح : د رسول الله ﷺ د جواب مطلب دادی كه تا د غسل په وخت كي كله چي يو ځای وچ پاته سوی وو لوند لاس هم تير كړی وای نو دا به كافي وای او ستا غسل به پوره سوی وای .
او كه تا ته دغه وچ ځای د وچ والي احساس وروسته سوی وو نو تا ته پكار وه چي دا ځای دي پريولی وای كه څه هم معمولي وای او كوم لمونځ چي دي كړی دی د هغه قضاء وكړه .

﴿۴۱۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَتِ الصَّلَاةُ خَمْسِيْنَ وَالْغُسْلُ مِنَ الْجَنَابَةِ سَبْعَ مَرَّاتٍ وَغَسْلُ الْبَوْلِ مِنَ الثَّوْبِ سَبْعَ مَرَّاتٍ فَلَمْ يَزَلْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُ حَتّٰى جُعِلَتِ الصَّلَاةُ خَمْسًا وَالْغُسْلُ مِنَ الْجَنَابَةِ مَرَّةً وَغَسْلُ الثَّوْبِ مِنَ الْبَوْلِ مَرَّةً . رواه أبو داود .

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دی چي (په پيل كي) پنځوس لمنځونه (فرض) وه او د جنابت وروسته اووه واره غسل وو ، او كه بولې پر جامه لګېدلي وای نو هغه به اووه ځله پريولل كېده ، رسول الله ﷺ به تل د الله څخه د كمۍ خواست كاوه تر دې چي پنځه لمنځونه فرض سوه او د ناپاكۍ څخه يو ځل غسل او د بولو څخه جامه يو ځل پريولل پاته سول . ابوداؤد .

تشريح : رسول الله ﷺ چي د روحاني او جسماني لوړتياوو ټول منازل وهلو سره د معراج په شپه كي د ذات حق جل مجده د قربت حقيقي شرف تر لاسه كړ نو ددې مقدس او انساني ژوند تر ټولو د لوی سعادت او رفعت د يادګار په توګه دربار حق جل مجده څخه د رسول الله ﷺ په توسط سره د بندګانو لپاره د لمانځه تحفه عنايت وفرمايل سول ، چي هغه ته د معراج رسول خدا ددې عظيم سعادت په مناسبت سره معراج مؤمنين ويل كيږئ ، لمونځ په ټولو عباداتو كي د خپل اجر او ثواب او د خپل عظمت او اهميت په اعتبار د بندګانو لپاره د سعادت او نيک بختۍ او د الله تعالی د رضا د حصول تر ټولو لويه ذريعه ده ځكه چي ددې په وجه ددې عظيم او مقدس فريضې په ذريعه د الله تعالی نيک او فرمانبردار بندګان زيات د سعادت او نيک بختۍ په

دولت سره خپل لمني ډکولای سي، نو په ورځ او شپه کي پنځوس لمنځونه فرض سول.

څرګنده ده چي د پنځوسو لمنځونو د فریضې دا تحفه د بندګانو د سعادت او نیک بختۍ په اعتبار که هر څومره د اهمیت او عظمت حامل وي مګر سوال دا وو چي ایا د انسان قوت او ذهن او فکر ددې عظیمي فریضې دادا کولو بار به وزغمي.

قربان سم د رسول الله ﷺ د ذات اقدس او شان رحمت څخه چي د انساني فطرت او مزاج د ټولو څخه لوی راز پوهېدونکی او د انسانیت دا عظیم محسن او عظیم شفیق رهبر ﷺ پوهیدی چي د انسان فکر او عمل دا عظیم بار هیڅکله نسي زغملای او د الله تعالی بندګان د لمانځه د دومره لوی شمیر ادا کولو باندي قادر کیدای نسي نو رسول الله ﷺ فکر وکړ که نن پنځوس لمنځونه سول نو سبا به ټول مخلوق په سخت اخروي تاوان او روحاني اذیت کي اخته سي ځکه چي پنځوس لمنځونه به نسي ادا کولای، د هغه نتیجه به د حکم خداوندي د نافرمانۍ په وجه د عذاب څخه پرته نور څه کیدای سي، نو رسول الله ﷺ پر خپل امت باندي د ډیر شفقت او محبت معامله فرمایي او د الله تعالی په دربار کي د لمنځو په دغه شمیر کي تخفیف غواړي، او بیا د هغه خوا څخه هم د خپل حبیب ﷺ پر خواست د قبولیت شرف حاصلیږي او په هغه کي کمي کیږي، مګر رسول الله ﷺ په هغه سره هم نه مطمئن کیږي نو د زیات تخفیف لپاره درخواست وړاندي کوي، هر کله چي نور تخفیف کیږي نو رسول الله ﷺ هغه هم زیات او د امت په حق کي تکلیف ګڼلو سره نوره کمي غواړي تر دې چي د خواست او قبولیت دا لړۍ پر پنځو لمنځو ختمیږي او پنځه لمنځونه فرض ګرځول کیږي.

په دې حدیث کي دې ته اشاره ده چي په شب معراج کي خو لمنځونه پنځوس فرض سوي دي مګر رسول الله ﷺ د امت په حق کي د زیات شفقت او رحمت په نظر په دې ګڼلو سره چي امت به دومره لمنځونه ادا نه کړلای سي په دې شمیر کي تخفیف وکړ بیا هم رسول الله ﷺ د نور تخفیف درخواست وړاندي کولو سره پنځه لمنځونه به یې کمول تر دې چي په آخر کي پنځه لمنځونه پاته سول، همدارنګه د ناپاکۍ لیري کولو لپاره اووه واره د غسل کولو حکم وو مګر وروسته دا هم منسوخ کړل سو او یوازي یو وار غسل واجب کړل سو، یعني پر ټول بدن باندي یو وار او به بیولو سره فرض خو ادا کیږي مګر سنت طریقه داده چي دري واره پر بدن باندي او به وبیول سي، په بخاري او مسلم کي په دې اړه چي کوم حدیث منقول دی په هغه کي یوازي د لمانځه ذکر دی، د غسل او جامو څخه د بولو پریولو ذکر نسته مګر دلته د ابوداؤد روایت چي

نقل سوی دی چي په هغه کي دغه دواړو شیانو ذکر هم دی، مګر ددې روایت په اړه ویل کیږئ چي دا ضعیف دی.

په هر حال د حدیث څخه په څرګنده خو دا معلومیږي چي که چیري جامو ته بولي، مرداري وغیره ورسیږي نو د هغه یوازي یو وار پریولل کافي دي، د امام شافعي رحمة الله علیه مذهب دادی چي جامه په یو وار پریوللو سره پاکیږي مګر حنفیه علماء وایي که پر جامې باندي بولي، مرداري وغیره ولګیږي نو هغه دومره پریولل پکار دي چي د هغه د پاکۍ غالب ګمان حاصل سي او د هغه حد یې دا ټاکلی دی چي درې واره دي پریولل سي او هر وار دي جامه ونستیړل سي ځکه چي په درې واره پریوللو سره د پاکۍ غالب ګمان حاصلیږي.

دلته په تفصیل سره ښودل پکار دي چي غسل په کوم وخت کي فرض، واجب او مستحب کیږي:

۱. غسل په دې صورت کي فرض کیږئ چي مني په ټوپ وهلو سره ووځي او د ملا دتیر څخه په د بیلېدو په وخت کي شهوت هم وي که څه په دباندي وتلو سره شهوت پاته نسي.

۲. که یو سړی د خوب څخه راکښیني او پر خپله بستره باندي د مني لوندوالي ووینې که څه هم هغه مذي وي نو غسل واجبیږي که څه هم خوب یې یاد نه وي چي د هغه په وجه منلي وتلي دي.

۳. که د ژوندی ښځي په مخکي یا په شا ستر کي ذکر داخل کړل سي یا لواطت وکړل سي نو پر دواړو فاعل او مفعول باندي غسل فرض دی که څه هم انزال ونسي.

۴. د حیض او نفاس د ختمېدو څخه وروسته غسل فرض کیږي.

۵. که د حیوان یا د مړي په مخ یا شا کي ذکر داخل کړل سي او انزال وسو نو غسل واجب دی او که انزال ونه سي نو بیا واجب نه دی.

۶. په مذي او ودي وتلو سره غسل نه واجب کیږي همداسي که صرف خوب یاد وي او پر بستره وغیره باندي د مني لوندوالی یا د هغه یو نښه موجود نه وي نو غسل نه واجبیږي.

۷. که یو غیر مسلم په داسي حال کي مسلمان سي چي هغه د ناپاکۍ په حالت کي وو نو پر هغه غسل واجب کیږي او که د ناپاکۍ په حالت کي نه وو نو واجب کیږي خو نه مګر مستحب دی.

۸. پر ژوند کسانو باندي مړي ته غسل ورکول واجب کفایه دی یعني که ځیني خلک یې ولمبوي نو ټول بري الذمة کیږي او کنه نو ټول ګناه کار کیږي.

۹. د جمعې، اخترونو، احرام او عرفات لپاره غسل کول سنت دی.

۱۰. بې اودسه ته قرآن کریم مس کول جائز نه دي مګر که چیري قرآن کریم په یو بسته، پوښ یا په یو جامه کې نغښتی وي نو بیا جائز دی او که پر قرآن کریم جلد وي نو مس کول یې صحیح نه دي.

۱۱. که یو سړی بې اودسه وي نو هغه ته د قمیص په لستوڼي یا په یو داسي جامې سره چې د هغه پر بدن وي د مثال په توګه څادر وغیره نو په هغه سره قرآن کریم نیول مکروه دي، او که چیري جامه یا ټوکر د بدن څخه بیل وي نو بیا په هغه سره قرآن کریم نیول او مس کول جائز دي.

۱۲. بې اودسه ته د تفسیر، حدیث او فقه کتابونه مس کول مکروه دي مګر په لستوڼي سره مس کول په اتفاق سره جائز دي.

۱۳. پر کوم درهم (سکه) باندي چې د قرآن کریم یو سورت لیکلی وي نو د بې اوداسه لپاره د هغه مسحه کول جائز نه دي مګر که چیري هغه په کڅوړه وغیره کې وي نو بیا جائز دي،

۱۴. جنب ته په مسجد کې داخلېدل جائز نه دي او که یو خاص ضرورت یې وي نو بیا داخلیدلای سي همدا رنګه د هغه لپاره قرآن کریم ویل که څه هم یو آیت وي او یا د یو آیت څخه کم وي جائز نه دي البته د دعاء او ثناء په توګه یې ویلای سي، همداسي د جنب لپاره ذکر کول، تسبیح ویل او دعاء کول جائز دي، په دغه مسائلو کې د حیض او نفاس والا ښځو هم هغه حکم دی کوم چې د جنب دی.

بَابُ مُخَالَطَةِ ا لْجُنُبِ وَمَا يُبَاحُ لَهُ

د جنب سړي سره د يو ځای کېدو او د جنب لپاره د جائز کارو بيان

په دې باب کې د دوو شيانو په اړه حديثونه ذکر کيږي: لومړنی شی خو دادی چې د جنب سړي (يعني پر چا چې غسل واجب وي) سره ناسته ولاړه، خبرې کول، مصافحه کول او همداسې د هغه سره نور معاملات کول جائز دي، دوهم شی دادی چې د جنب سړي لپاره کوم شيان جائز دي چې هغه يې د ناپاکۍ په حالت کې هم کولای سي.

الفصل الاول

﴿۴۱۵﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَقِيَنِيْ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَنَا جُنُبٌ فَاَخَذَ بِيَدِيْ فَمَشَيْتُ مَعَهُ حَتَّىٰ قَعَدَ فَانْسَلَلْتُ فَاَتَيْتُ الرَّحْلَ فَاغْتَسَلْتُ ثُمَّ جِئْتُ وَهُوَ قَاعِدٌ فَقَالَ أَيْنَ كُنْتَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ لَهُ فَقَالَ سُبْحَانَ اللَّهِ إِنَّ الْمُؤْمِنَ لاَ يَنْجُسُ. هذا لفظ البخاري و لمسلم معناه و زاد بعد قوله فقلت له لقد لقيتني و انا جنب فكرهت ان اجالسك حتى أغتسل وكذا البخاري في رواية اخرى

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې زما سره د رسول الله ﷺ ملاقات سو او زه ناپاکه وم رسول الله ﷺ زما لاس و نيوی او زه د رسول الله ﷺ سره روان سوم تر دې چې رسول الله ﷺ کښېنستی نو زه په کراره ځيني ولاړ سوم د باندې راووتم او خپل ځای ته راغلم او غسل مې وکړ بيا ورغلم نو وينم چې رسول الله ﷺ هملته تشريف فرما دی رسول الله ﷺ چې زه وليدم نو راته يې وفرمايل: اې ابوهريرة! ته چيرې وې ما ورته ټول حال عرض کړ نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل: سبحان الله مسلمان ناپاکه نه دی، دا الفاظ د بخاري دي او په مسلم کې دا الفاظ داسې دي چې رسول الله ﷺ زما سره ملاقات وکړ او زه ناپاک وم ما ته بده ښرگنده سوه چې تر څو پورې غسل ونه کړم او ستاسو سره کښېنم همداسې د بخاري په يو روايت کې هم دي.

تشريح: د حديث مطلب دادی چې جنابت نجاست حکمي دی، شريعت د دې حکم کړی دی او پر ده يې غسل واجب گرځولی دی نو د جنابت په حالت کې سړی حقيقتا نجس نه وي همدا وجه ده چې جنب نه خو ناپاکه وي او نه د هغه خوله ناپاکه ده، ځکه نو د جنب سره ناسته ولاړه، يو ځای کېدل، مصافحه کول، خبرې کول همداسې د هغه سره نور معاملات کول جائز دي په دې کې څه بدوالی نسته.

﴿۴۱۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ ذَكَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ تُصِيبُهُ جَنَابَةٌ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأْ وَاغْسِلْ ذَكَرَكَ ثُمَّ نَمْ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روایت دی چي حضرت عمر بن الخطاب ﷛ یو ځل رسول الله ﷺ ته ذکر وکړ چي که هغه د شپې ناپاکه سي نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: اودس کوه او خپل خاص اندام پریوله بیا بیده کیږه. بخاري او مسلم

تشریح: اودس کول د جنب د بیده کېدو لپاره طهارت دی یعني جنب چي په اودس کولو سره بیده سي نو لکه هغه چي پاک بیده سو، ددې حدیث څخه معلومه سوه چي کله د شپې احتلام وسي یا د کوروالي څخه فراغت وسي او د هغه وروسته د بیده کېدو اراده وي او یا په یو وجه د یو ضرورت یا بې ضرورته په جنابت کي د زنډ خیال وي نو په داسي صورت کي جنب ته اودس کول سنت دي.

په دې خبره هم باید پوه سو چي د حدیث څخه خو دا معلومیږي چي په پورتني صورت کي دي مخکي اودس وکړل سي د هغه څخه وروسته دي خاص اندام (ذکر) پریولل پکار دي، په دې صورت کي د حدیث په پورتني ترتیب کي به وویل سي چي دلته اودس کول ځکه په اول کولو سره ذکر سوی دی چي د اوداسه احترام او د هغه تعظیم په مخکي وو.

﴿۴۱۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ جُنُبًا فَأَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ أَوْ يَنَامَ تَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ جنب وو او د یو شي د خوړلو یا خوب اراده به یې کول نو اودس به یې کاوه لکه څرنګه چي د لمانځه لپاره اودس کول کیږي. بخاري او مسلم.

﴿۴۱۸﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى أَحَدُكُمْ أَهْلَهُ ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يَعُودَ فَلْيَتَوَضَّأْ بَيْنَهُمَا وُضُوءًا. رواه مسلم.

د حضرت ابوسعید الخدري ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي په تاسو کي یو څوک خپل کوروالا ته ورسي او فارغ سي او بیا دوهم ځل د ورتلو اراده وکړي نو د دواړو په منځ کي دي اودس وکړي. مسلم

تشریح: ابن مالک رحمة الله علیه فرمایي که یو سړی د خپل بي بي سره دوه واره کوروالی وکړي او د دواړو په مینځ کي اودس وکړي نو دوې ګټي دي: (۱) اول خو دا چي په دې سره

پاكي او طهارت تر لاسه كيږي. (۲) دوهم دا چي نشاط او لذت زياتيږي.

په هر حال د دې حديث څخه او ددې څخه مخكې حديث څخه هم معلومه سوه چي د جنب لپاره دا مستحب دي چي په ناپاكي كي كه د بېده كېدو، خوراك او څښاك او د بيا كوروالي كولو اراده وكړي نو هغه دي خپل خاص اندام پرېوللو سره اودس وكړي.

ځيني علماء دا فرمايي چي د جنب لپاره د خوراك او څښاك په اړه په دې حديث كي چي اودس مذكور دى ددې څخه مراد حقيقتا او دس نه دى بلكه ددې مقصد دادى چي په داسي وخت كي دي لاسونه پرېولي او دا رايه د جمهورو علماؤ ده ځكه چي د نسائي په روايت كي ددې مراد صراحت هم موجود دى. مګر د پورتني دوو روايتونو څخه په صراحت دا معلومېږئ چي په حقيقت كي د لمانځه د اوداسه په ډول اودس وكړي، نو اوس په دغه روايتونو كي تطبيق پيدا كولو لپاره به دا وويل سي چي رسول الله ﷺ به پر داسي موقع كله كله د اختصار په توګه صرف لاس پرېولل كافي ګڼل خو اكثر به رسول الله ﷺ اودس كوى.

﴿۴۱۹﴾: وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ بِغُسْلٍ وَاحِدٍ. رواه مسلم.	د حضرت انس ﷜ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به په يوه شپه كي خو ازواجو ته ورتلى (يعني د هغوئ سره به يې كوروالي كول) او يوازي يو ځل به يې غسل كاوه. مسلم

تشريح: د حديث مطلب دادى چي نبي كريم ﷺ به يوه شپه كي د خپلو ټولو بيبيانو سره صحبت كوى او غسل به يې يو وار په پاى كي كوى داسي نه وه چي د يوې بي بي سره د صحبت كولو وروسته به يې غسل كوى او بيا وروسته به دوهمي بي بي ته ورتلى، مګر دا احتمال كيداى سي چي رسول الله ﷺ به په مينځ كي اودس كوى او دا هم كيداى سي چي د بيان جواز لپاره رسول الله ﷺ اودس هم ترک كړى وي، دلته يو معمولي اعتراض هم كيداى سي چي د شريعت د قاعدې سره سم د خپلو بيبيانو په مينځ كي د ويش كم تر كمه درجه يوه شپه ده يعني كه د يو سړي څو بيبياني وي نو د هغوئ په مينځ كي د وار ټاكلو قاعده داده چي د هري يوې سره به كم تر كم پوره يوه شپه قيام كوي نو رسول الله ﷺ په يوه شپه كي ټولو بيبيانو مباركو ته څنګه ورتلاى سو، ددې جواب دادى چي د رسول الله ﷺ د ذات لپاره د وار ټاكلو دا وجوب مختلف فيه د، ابوسعيد خدري ﷜ فرمايي چي پر رسول الله ﷺ باندي وار ټاكل واجب نه وه بلكه رسول الله ﷺ د احسان په وجه وار ټاكلى وو، مګر د اكثرو علماؤ قول دادى چي پر رسول الله ﷺ باندي هم وار ټاكل واجب وه مګر رسول الله ﷺ به خپلو ټولو بيبيانو مباركو ته په يوه شپه كي خپله د هغوئ په رضا او

خوښيي سره ورتلى نو په دې كي څه شک نسي پيدا كيداى.

﴿۴۲۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ اللّٰهَ عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ. رواه مسلم . و حديث ابن عباس سنذكره في كتاب الاطعمة ان شاء الله تعالى .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به هر وخت د الله ذكر كاوه (يعني د ناپاكۍ په حالت كي هم)، مسلم، او د ابن عباس حديث به موږ انشاء الله په كتاب الاطعمة كي بيان كړو.

تشريح : د بي بي عائشې رضي الله عنها د ارشاد مطلب دادى چي رسول الله ﷺ به په هيڅ حالت كي د الله تعالى ذكر او ياد څخه غافل نه وو، رسول الله ﷺ كه به د ناپاكۍ په حالت كي وو يا په اوداسه كي به وو يا ددې څخه پرته په يو بل حالت كي به وو د الله تعالى په ياد كي به هميشه بوخت وو، مګر د ناپاكۍ په حالت كي به يې د قرآن كريم تلاوت نه كوى او همدارنګه په بيت الخلاء او غسل خانه كي به يې د الله تعالى ذكر نه كوى.

الفصل الثاني

﴿۴۲۱﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اغْتَسَلَ بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَفْنَةٍ فَأَرَادَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَوَضَّأَ مِنْهُ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي كُنْتُ جُنُبًا فَقَالَ إِنَّ الْمَاءَ لَا يُجْنِبُ . (رواه الترمذي) و ابوداؤد وابن ماجة و روي الدارمي نحوه وفي شرح السنة عنه عن ميمونة بلفظ المصابيح .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ ځيني بيبيانو به په تالۍ (لګن) كي غسل وكړ (يعني د تالۍ څخه يې اوبه را اخيستلي او غسل يې كاوه) رسول الله ﷺ په تالۍ په پاته سوو اوبو سره د اودس كولو اراده وكړه نو يوې بي بي ورته وويل اې دالله رسوله! زه ناپاكه وم (او په دې اوبو سره ما غسل كړى دى) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اوبه نه ناپاكه كيږي (ترمذي، ابوداؤد ، ابن ماجه) دارمي هم داسي روايت كړى دى په شرح السنة كي د ابن عباس څخه هغه د بي بي ميمونې څخه د مصابيح په الفاظو سره ذكر كړى دى.

تشريح : د د غه حديث څخه په ظاهره خو دا ښكنده سوه چي د ښځي د غسل په پاته اوبو سره سړي ته اودس كول جائز دي مګر د دې باب په دريم فصل كي يو حديث راځي چي په هغه كي منقول دي چي رسول الله ﷺ د ښځي د غسل څخه په پاته اوبو سره د سړي اودس كول منعه كړي دي.

نو په دغه دواړو روايتونو كي د مطابقت لپاره به دا وويل سي چي دا حديث خو پر جواز باندي دلالت كوي او هغه دوهم حديث د ترک پر غوره والي باندي دلالت كوي يعني كه يو ځوک د ښځي دغسل په پاته اوبو سره اودس كول غواړي نو ددې حديث سره سم د هغه اودس خو جائز دي مگر د دوهم حديث په اعتبار په هغه اوبو سره اودس نه كول غوره دي.

﴿۴۲۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ ثُمَّ يَسْتَدْفِئُ بِيْ قَبْلَ أَنْ أَغْتَسِلَ. رواه ابن ماجه وروى الترمذي نحوه ..و في شرح السنة بلفظ المصابيح.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د ناپاكۍ څخه غسل كاوه بيا د هغه څخه وراندي چي زه غسل وكړم ما ته به راغلی يعني ځان به يې راسره جوخت كړ چي گرمي تر لاسه كړئ. ابن ماجه .او ترمذي.

تشريح : د بي بي عائشې رضي الله عنها د ارشاد مطلب دادی چي كله به رسول الله ﷺ د كوروالۍ څخه فارغ سو نو زما څخه مخكي به يې غسل كوی او بيا د يخ په موسم كي د غسل په وجه به يې يخ محسوسوی ځكه نو ما ته به يې تشريف راوړ او خپل اندامونه مبارک به يې زما د بدن سره په يو ځای كولو سره پريوتی چي گرمي تر لاسه كړي ، ددې څخه معلومه سوه چي د جنب بدن پاک وي نو د هغه په پرته كې هيڅ پرواه نسته بلكه جائز ده.

﴿۴۲۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ مِنَ الْخَلَاءِ فَيُقْرِئُنَا الْقُرْآنَ وَيَأْكُلُ مَعَنَا اللَّحْمَ وَلَمْ يَكُنْ يَحْجُبُهُ أَوْ يَحْجُزُهُ عَنِ الْقُرْآنِ شَيْءٌ لَيْسَ الْجَنَابَةَ. رواه أبو داود والنسائي وروى ابن ماجه نحوه.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د بيت الخلاء څخه تشريف راوړ نو موږ ته به يې قرآن وايه او زموږ سره به يې غوښې خوړلې او د دې خبرو څخه يې رسول الله ﷺ نه منعه كاوه او نه به يې د قرآن كريم د ويلو څخه د جنابت څخه پرته. ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه.

تشريح : د دې حديث څخه د دوو مسئلو وضاحت كيږي اول خو دا چي د اوداسه څخه پرته قرآن كريم ويل او ښودل جائز دي مگر په دې شرط سره چي په خپل لاسونو قرآن كريم مس نه كړي ځكه چي پرته د اوداسه څخه قرآن كريم مس كول ناجائز دي.

﴿۴۲۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقْرَأُ الْحَائِضُ وَلَا الْجُنُبُ شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ. رواه الترمذي

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : حائضه ښځه او جنب سړی دي قرآن كريم نه وايي. ترمذي،

تشريح : مطلب دادی چي کومه ښځه د حيض په ورځو کي وي يا کوم سړی د ناپاکۍ په حالت کي وي هغه دي قرآن کريم بالکل نه وايي تر دې چي د آيت څخه کم تلاوت دي هم نه کوي ، د امام اعظم او امام شافعي مذهب دادی چي حائضې او جنب ته د قرآن کريم تلاوت کول نه دي پکار که څه هم د يوه آيت څخه کم وي .

مګر د ځينو علماؤ په نزد حائضې او جنب ته د يوه آيت يا زياته برخي ويل خو حرام دي البته د يوه آيت څخه کم تلاوت حرام نه دی، که حائضې او جنب د قرآن کريم يو برخه د تلاوت په مقصد نه بلکه د شکر په ارادې سره وويل نو جائز ده، مثلا يو حائضه يا جنب پر داسي موقع باندي هر کله چي د الله تعالی شکر ادا کول وي او داسي ووايي الحمد لله رب العالمين، نو په دې کي پروا نسته .

﴿۴۲۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجِّهُوْا هٰذِهِ الْبُيُوْتَ عَنِ الْمَسْجِدِ فَإِنِّيْ لاَ أُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلاَ جُنُبٍ . رواه أبو داود .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د خپلو کورونو دروازې د مسجد د لوري څخه واړوئ (يعني په مسجد کي دننه خپل لار مه جوړوئ) ځکه چي زه د حيض والا ښځو او د جنبو کسانو مسجد ته دننه تلل جائز نه ګڼم . ابوداؤد .

تشريح : مسجد د الله تعالی د کور کېدو په وجه يو مقدس او محترم ځای دی ددغه پاک ځای عظمت او احترام او ددې د تقدس غوښتنه ده چي يو داسي سړی داخل نسي چي د ناپاکۍ په حالت کي وي ځکه نو رسول الله ﷺ حکم وکړ چي د مسجد په لور په کورونو کي داسي دروازې چي په هغه کي د تيرېدو لپاره په مسجد کي تيريدل وي نو په دې صورت کي دي په مسجد کي نه تيريږي ، د امام شافعي او امام مالک رحمة الله عليهما مذهب دادی چي هيڅ جنب او حايضې ته په مسجد کي دننه تم کېدل جائز نه دي همداسي هغوئ ته په مسجد کي دننه تيريدل هم حرام دي ، دا حديث د امام اعظم رحمة الله عليه د مذهب تائيد کوي ځکه چي رسول الله ﷺ د جنب او حائضې په مسجد کي د داخلېدو څخه مطلقا منعه فرمايلې ده په هغه کي د تيرېدو يا تم کېدو يو قيد نسته نو ددغه عاموالي تقاضا داده چي جنب او حائضه په مسجد کي د داخلېدو څخه منعه کړل سي که څه هم د تيرېدو لپاره مسجد کي داخل سي او که د تم کېدو لپاره .

﴿۴۲۶﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَدْخُلُ الْمَلاَئِكَةُ بَيْتًا فِيْهِ

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ملائکي هغه کور ته نه ځي په کوم کور کي

صُوْرَةٌ وَلاَ كَلْبٌ وَلاَ جُنُبٌ . رواه أبو داود والنسائي .

چي عکس وي او نه هغه کور ته ځي چي په هغه کي سپی او یا یو څوك جُنب وي . ابوداؤد او نسائي .

تشريح : دلته د ملائکو څخه مراد د رحمت ملائکي دي يعني په کوم سراى کي چي دغه دري شيان وي نو هلته هغه ملائکي نه داخليږي کوم چي رحمت او برکت راوړي او د الله تعالى د ذکر اوريدو لپاره د آسمان څخه راکښته کيږي .

د تصوير مسئله داده : که تصوير د ساه لرونکي شي وي او پر لوړ ځای باندي وي د مثال په توګه پر ديوال باندي زړيدلي وي يا پر بام باندي لګيدلی وي يا پر پردو باندي عکسونه جوړ سوي وي نو په هغه سره د رحمت ملائکي په کور کي نه داخليږي ،.مګر که عکس پر تلتک باندي وي يا د پښو اېښودو پر ځاى باندي وي نو په هغه کي پرواه نسته .

او که عکس د ساه نه لرونکي شيانو وي د مثال په توګه غر، درخته يا مانۍ وغيره وي نو د هغه ساتل جائز دي او يا عکس د ساه لرونکي وي مګر د هغه سر پرې کړل سوى وي نو دا هم جائز دي، همدارنګه کوم عکس چي په داسي ځاى کي وي چيري په پښو کي لاندي کيږي مثلا پر فرش باندي وي يا پر بالښت وغيره باندي وي نو هغه ځاى هم د ملائکو ددخول مانع نه دی همداسي نابالغو انجونو ته په کور کي ناوکياني ساتل هم جائز دي .

داسي نوټونه يا سکې چي پر هغو عکسونه جوړ وي لکه څرنګه چي نن سبا دي د هغه په اړه دا ويل کيږي چي ددې حديث د الفاظو څخه دا ثابتيږي که چيري دا په کور کي وي نو هلته د رحمت ملائکي نه داخليږئ مګر منسٔله داده چي په سراى کي د هغه ساتل جائز دي تر دې پوري چي هغه د ځان سره ساتل هم جائز دي ځکه چي مخکنيو او وروستنيو ټولو علماؤ داسي سکې د ځان سره ساتلي دي او په هغو يې راکړه ورکړه کول او هيڅ عالم د هغه د اېښيدو څخه منعه نه ده کړې .

د سپيانو مسئله داده که چيري په يو سراى کي سپی د شوق او فيشن لپاره وي نو دا جائز نه دي مګر که چيري د ضرورت او حاجت لپاره وي مثلا د ښکار لپاره يا د فصلونو او حيوانانو د ساتني لپاره نو دا جائز دي او د هغه ساتل صحيح دي .

د جنب څخه مراد دلته هر جنب نه بلکه هغه جنب دی چي په غسل جنابت کي د سستۍ په وجه د زنډ کولو عادت يې وي يعني هغه په غسل کولو کي دومره زنډ کوي چي د لمانځه وخت هم ځيني تير سي يا هغه جنب مراد دی چي اودس نه کوي . (د باب دوهم نمبر حديث وګورئ) .

﴿۴۲۷﴾: وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلاَثَةٌ لاَ تَقْرَبُهُمُ الْمَلاَئِكَةُ جِيْفَةُ الْكَافِرِ وَالْمُتَضَمِّخُ بِالْخَلُوْقِ وَالْجُنُبُ إِلاَّ أَنْ يَّتَوَضَّأَ . رواه أبو داود .

د حضرت عمار[1] بن یاسر ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: درې کسه دي چي هغو ته ملائکي نه راځي ۱: د کافر بدن ته (که ژوندی وي یا مړ) ۲: د خلوق خوشبويي لګولو والا ته (د خلوق بوی او رنګ د زعفران څخه دي او سوروالي پر غالب وو د ښځو د مشابهت له وجي ملائکي نه ورځي د ښځو لپاره صحیح ده) ۳: جنب کس ته تر څو پوري چي هغه اودس ونه کړي . ابوداؤد.

تشريح: د جیفه څخه مراد د کافر بدن دی که هغه ژوندی وي یا مړ، هسي خو په اصل کي جیفه مردار ته وایي او څرګنده ده چي کافر هم د مردار په درجه کي دی ، ځکه چي هغه د شرابو او خنزیر څخه د پرهیز نه کولو په وجه نجس او ناپاک وي .

خلوق د یو ډول خوشبوئي نوم دی چي د زعفران وغیره څخه جوړیږي او رنګ لرونکي وي، ځکه د ښځو د مشابهت په وجه خلکو ته د هغه لګول ممنوع دي یوازي ښځي هغه استعمالولای سي، ځکه یو سړی هغه ولګوي نو د رحمت ملائکي هغه ته نژدې هم نه ورځي په هغه کي کبر او غرور پیدا کیږي او د ښځو سره مشابهت لري ، په دې کي اصل دې ته اشاره ده چي کوم سړی د سنت خلاف کار کوي که څه هم هغه په څرګنده په زیب او زینت او خوشبوئي سره معطر وي او په خلکو کي صاحب د عزت او احترام وي مګر د سنت خلاف عمل په وجه په

[1] د نوموړي نوم عمار بن یاسر او کنیت یې ابوالیقظان دی، نوموړی د هغه کسانو څخه دی چي تر ټولو مخکي یې د اسلام په لور سبقت کړی وو، د هغه مور بي بي سمیه وه هغه لومړنۍ ښځه وه چي د الله تعالی په لار کي شهید کړل سوه، دده مور او پلار په تر ټولو مخکي ایمان راوړونکو کي دي ، د عمار ﷛ شمیر د صحابه کرامو په هغه ډله کي کیږي چي د اسلام راوړلو په وجه د ظلم او ستم په هر ډول بتۍ کي واچول سول ، حضرت عمار ﷛ هغه وخت اسلام راوړی وو کوم وخت چي رسول الله ﷺ د حضرت ارقم ﷛ په کور کي پټ وو ، ده او صهیب بن سنان دواړو یو ځای اسلام راوړی وو ، عمار بن یاسر ﷛ ته د اسلام په لار کي ډیر تکلیفونه ورکړل سول تر دې چي مشرکینو دده په وهلو وهلو ستړي سول او دی د خپل ایمان څخه یو قدم هم تر شا نه سو ، نو هغه یې په اور کي وسوځی په دغه دوران کي رسول الله ﷺ پر هغه تیر سو د هغه په اور کي لیدلو سره خپل لاس مبارك یې پر هغه راتیر کړ او وه یې فرمایل اې اوره ته پر عمار ﷛ باندي داسي یخ او سلامتي والا سه لکه څرنګه چي پر حضرت ابراهیم ﷺ باندي سوې وې ، کله چي هغه زخمي سو نو وصیت یې وکړ چي ما په خپلو جامو کي دفن کړئ ځکه چي زه په دغه جامو سره د الله تعالی په مخ کي وړاندي سم ، حضرت علي ﷛ هغه په خپلو جامو کي دفن کړ ، نوموړی د (۹۴) کالو په عمر په ربیع الاول (۳۷هـ) کال کي د صفین په غزا کي شهادت تر لاسه کړ. اسدالغابة.

حقيقت کي هغه نجس او د سپي څخه هم زيات خسيس دی .

د جنب په اړه د رسول الله ﷺ ارشاد د تهديد او زجر لپاره دی چي جنب دي د جنابت په غسل کي زنډ نه کوي ځکه چي په دې سره د جنب پاته کېدو عادت کېږي .

﴿۴۲۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِيْ بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ أَنَّ فِي الْكِتَابِ الَّذِيْ كَتَبَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَمْرِو بْنِ حَزْمٍ أَنْ لاَّ يَمَسَّ الْقُرْآنَ إِلاَّ طَاهِرٌ . رواه مالك والدارقطني .

د حضرت عبدالله بن ابي بكر بن محمد بن عمرو بن حزم څخه روايت دی کوم ليک چي رسول الله ﷺ ابن حزم ته ليکلی وو په هغه کي دا الفاظ هم وه چي قرآن کريم ته دي يوازي پاك كسان لاس وروړي . مالك او دار قطني .

تشریح : رسول الله ﷺ حضرت عمروبن حزم ﷺ د يمن د يو ښار عامل جوړ کړی وو او يو ليکلې هدايت نامه يې هغه ته ورکړې وه چي په هغه کي د فرائضو، صدقاتو او دياتو وغيره د احکامو او مسائلو په تفصيل سره تحرير کړی وو په دغه ليک کي دا هم وه چي راوي يې دلته بيانوي .

﴿۴۲۹﴾: وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ انْطَلَقْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ فِيْ حَاجَةٍ فَقَضَى ابْنُ عُمَرَ حَاجَتَهُ وَكَانَ مِنْ حَدِيْثِهِ يَوْمَئِذٍ أَنْ قَالَ مَرَّ رَجُلٌ فِيْ سِكَّةٍ مِّنَ السِّكَكِ فَلَقِيَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ خَرَجَ مِنْ غَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ حَتّٰى كَادَ الرَّجُلُ أَنْ يَتَوَارٰى فِي السِّكَّةِ ضَرَبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيْهِ عَلَى الْحَائِطِ وَمسحه بِهِمَا وَجْهَهُ ثُمَّ ضَرَبَ ضَرْبَةً أُخْرٰى فَمسحه ذِرَاعَيْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَى الرَّجُلِ السَّلَامَ وَقَالَ إِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِيْ أَنْ أَرُدَّ عَلَيْكَ السَّلَامَ إِلاَّ أَنِّيْ لَمْ أَكُنْ عَلٰى طُهْرٍ . رواه أبو داود .

د حضرت نافع ﷺ څخه روايت دی چي زه د ابن عمر سره د قضاء حاجت لپاره ولاړم ، ابن عمر چي فراغت تر لاسه کړ په هغه ورځ چي هغه کوم حديث بيان کړ په هغه کي دا وه چي يو سړی په يوه کوڅه کي تيريدی نو د رسول الله ﷺ سره د هغه ملاقات وسو او رسول الله ﷺ د تشو يا ډکو بولو څخه راستنېدی هغه سړي رسول الله ﷺ ته سلام وکړ مگر رسول الله ﷺ هغه ته جواب ور نه کړ کوم وخت چي هغه کوڅې ته ورسيدی (د سترگو څخه) پناه کېدی ، نو رسول الله ﷺ سمدستي پر ديوال خپل دواړه لاسونه ووهل او هغه يې پر مخ تير کړل بيا يې دوهم ځل لاسونه ووهل او پر دواړو لاسو يې و موږل (يعني تيمم يې وکړ) بيا يې د هغه سړي د سلام جواب ورکړ او وه يې فرمايل نه وم منعه کړی زه چي رد کړی مي وای پر تا باندي سلام مگر دا چي زه نه وم په اوداسه کي . ابوداؤد .

تشريح : رسول الله ﷺ د هغه سړي د سلام جواب ځکه نه ورکړ چي په اصل کي سلام د الله تعالى نوم دی که څه هم په عامه توګه سره پر داسي موقع د سلام حقيقي معنا مراد نسي اخيستل کيدای بلکه د هغه څخه د سلامتی مراد اخيستل کيدای سي مګر بيا هم رسول الله ﷺ د هغه د اصل معنی احترام کولو سره پرته د اوداسه څخه د الله تعالى نوم اخيستل مناسب ونه ګڼل.

پ ه دې باب کي مخکي څو حديثونه تير سوي دي د هغو څخه دا معلوميږي چي د بيت الخلاء څخه په راتلو سره بې اودسه قرآن کريم ويل وښودل او دا چي رسول الله ﷺ به بې اودسه ذکر کوی په ظاهره هغه حديث او دا حديث په خپل مينځ کي مخالف معلوميږي.

د دغه اختلاف دفع په دې ويلو سره کيږي چي د رسول الله ﷺ قرآن کريم ويل يا ذکر الله کول څرنګه چي مخکي په حديثونو کي تير سول پر آساني باندي عمل وو او دلته رسول الله ﷺ د امت د تعليم لپاره پر عزيمت (غوره) باندي عمل فرمايلی دی يعني دلته د رسول الله ﷺ دا ښودل مقصد دي چي بې اودسه د الله تعالى نوم اخيستل جائز خو دي مګر افضل او غوره داده چي په اوداسه سره د الله تعالى ذکر وکړل سي.

د دغه حديث څخه دوه شيان معلوم سول يو خو دا چي د سلام جواب ورکول واجب ذي، دوهم دا که چيري يو سړی د يو عذر په وجه د سلام جواب ور نه کړای سي نو د هغه لپاره مستحب ده چي د هغه څخه وروسته خپل عذر د کوم په وجه چي هغه د سلام جواب نه و ورکړی د سلام کونکي په وړاندي بيان کړي چي هغه ته د غرور او تکبير نسبت ونه کړل سي يعني سلام کونکی دا فکر ونه کړي چي هغه د غرور او تکبر په وجه زما د سلام جواب نه دی راکړی.

﴿۴۳۰﴾: وَعَنِ الْمُهَاجِرِ بْنِ قُنْفُذٍ أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبُوْلُ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ حَتَّى تَوَضَّأَ ثُمَّ اعْتَذَرَ إِلَيْهِ فَقَالَ إِنِّيْ كَرِهْتُ أَنْ أَذْكُرَ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ إِلاَّ عَلَى طُهْرٍ. رواه ابوداؤد و روي النسائي الى قوله حتى توضا و قال فلما توضا رد عليه.

د حضرت مهاجر[۱] بن قنفذ ﷺ څخه روايت دی چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او رسول الله ﷺ په دغه وخت کي تشي بولي کولې، ما رسول الله ﷺ ته سلام ادا کړ، رسول الله ﷺ تر څو پوري چي اودس نه وو کړی تر هغه وخته پوري يې د سلام جواب رانه کړ. بيا رسول الله ﷺ عذر وکړ

[۱] نوموړی قريشي تيمي دی، ويل کيږي چي مهاجر او قنفذ دواړه دده لقبونه دي. په اصل کي دده نوم عمرو بن خلف دی د مکي د فتح په ورځ يې اسلام راوړ او د هجرت څخه وروسته يې په بصره کي هستوګنه اختيار کړه او هم هلته وفات سوی دی.

او وه یې فرمایل ما ته بده ځرګنده سوه چې په ناپاکۍ سره د الله نوم واخلم . (ابوداؤد) نسائي تر حتي توضا پوري روایت کړی دی چې اودس یې وکړ او د سلام جواب یې ورکړ .

تشریح : د مکروه مطلب دا نه دی چې بې اودسه د الله تعالی نوم اخستل حرام دی بلکه ددې ارشاد مطلب دادی چې افضل او غوره داده چې د الله تعالی مقدس او مبارک نوم په اوداسه سره واخیستل سي او که چا بې اودسه د الله تعالی واخیست نو پر هغه څه ګناه نسته .

الفصل الثالث

﴿۴۳۱﴾: عَنْ أُمِّ سَلْمَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْنِبُ ثُمَّ يَنَامُ ثُمَّ يَنْتَبِهُ ثُمَّ يَنَامُ . رواه أحمد .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د ناپاکۍ (جنابت) په حالت کي وو او بیده به سو بیا به راویښ سو او بیا به بیده سو .احمد

تشریح : ددې باب په دریم نمبر حدیث کي تیر سوي دي چې رسول الله ﷺ به کله د جنابت په حالت کي د بیده کېدو اراده وکړه نو اول به یې اودس وکړ او بیا به بیده کیدی، په دې حدیث کي که څه هم ددې صراحت نسته چې رسول الله ﷺ به د جنابت په حالت کي مخکي اودس کوی مګر دلته هم مراد دادی چې رسول الله ﷺ به د اوداسه کولو څخه وروسته بیده کیدی .

﴿۴۳۲﴾: وَعَنْ شُعْبَةَ قَالَ إِنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ كَانَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ يُفْرِغُ بِيَدِهِ الْيُمْنٰى عَلٰى يَدِهِ الْيُسْرٰى سَبْعَ مِرَارٍ ثُمَّ يَغْسِلُ فَرْجَهُ فَنَسِيَ مَرَّةً كَمْ أَفْرَغَ فَسَأَلَنِيْ .فَقُلْتُ لاَ أَدْرِيْ فَقَالَ لاَ أُمَّ لَكَ وَمَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَدْرِيْ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وُضُوْءَهُ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ يُفِيْضُ عَلٰى جِلْدِهِ الْمَاءَ ثُمَّ يَقُوْلُ هٰكَذَا كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَطَهَّرُ . رواه أبو داود

د حضرت شعبة څخه روایت دی چې ابن عباس ﷺ به د ناپاکۍ څخه غسل کاوه نو لومړی به یې د راسته لاس څخه پر چپه لاس اووه ځله اوبه واچولې بیا به یې اووه ځله شرمګاه پریولل بیا ځیني هیر سو یو ځل یې څو ځله اوبه واچولې او زما څخه یې پوښتنه وکړه نو ما ورته وویل ما ته نه ده معلومه هغه وویل ستا مور دي نه وي څه شي ته منعه کړې ولي در ته نه ده معلومه بیا به ابن عباس اودس کاوه په شان د اوداسه دلمانځه او پر بدن به یې اوبه وبیولې بیا به یې ویل همداسي به رسول الله ﷺ پاکي کول . ابوداؤد .

تشریح : د جنابت دغسل په اړه د رسول الله ﷺ سره اړوند د ستر پریوللو څخه مخکي د لاسونو پریوللو په باره کي ددې څخه مخکي چې کوم حدیثونه تیر سوي دي هغه یا خو مطلق دي یعني

په هغو كي دا شمير نه دى ذكر سوى چي رسول الله ﷺ څو واره لاسونه پريولي وه يا په هغو كي شمير ذكر سوى دى ، هغه نه ثابتيږي چي رسول الله ﷺ څو واره لاسونه پريوللى وه يا په هغو كي شمير ذكر سوى دى هغه نه ثابتيږي چي رسول الله ﷺ لاس مبارک دوه واره پريولى دى كه دري واره، د باب الغسل په اول فصل كي خپله د ابن عباس ﷺ يو روايت تير سوى دى چي په هغه كي دا منقول دي چي رسول الله ﷺ خپل لاسونه پريولل مگر د هغه شمير نه دى ذكر سوى چي څو واره يې پريولل ، مگر دلته شعبه د حضرت ابن عباس ﷺ دا قول نقل كوي چي هغه د جنابت د غسل په وخت كي اووه واره په اوبه اچولو سره لاسونه پريولل .

نو په دې اړه ويل كيږي چي د ابن عباس ﷺ دا عمل به په يو خاص صورت كي وو يعني هغه ته به يو داسي صورت پيش سوى وي چي د هغه په وجه د زيات طهارت او پاكي حاصلولو لپاره هغه اووه واره پريولل ضروري ګڼلي وي يا د هغه تاويل به دا وي چي اووه واره د پريوللو حكم منسوح كيدو خبر به ابن عباس ﷺ ته نه وي رسيدلى ځكه هغه به د هغه لومړني حكم سره سم اووه واره پريولي وي، په دې حديث كي دې ته هم اشاره ده چي شاګرد ته د خپل شيخ په وړاندي په ډير هوښيارتوب سره اوسيدل پكار دي چي د شيخ هر قول او هر عمل د هغه په ذهن كي راسي او شيخ ته دا حق حاصل دى چي هغه د شاګرد پر غفلت او بې پرواهي باندي هغه ته خبرتيا وركړي .

﴿۴۳۳﴾: وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ اِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ ذَاتَ يَوْمٍ عَلٰى نِسَائِهِ يَغْتَسِلُ عِنْدَ هٰذِهِ وَعِنْدَ هٰذِهِ قَالَ فَقُلْتُ لَهُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَلاَ تَجْعَلُهُ غُسْلاً وَاحِدًا آخِرًا قَالَ هٰذَا أَزْكٰى وَأَطْيَبُ وَأَطْهَرُ . رواه أحمد وأبو داود .	د حضرت ابورافع ﷺ څخه روايت دى چي يوه ورځ رسول الله ﷺ خپلو ټولو بيبيانو ته ورغلى (يعني د ټولو سره يې كوروالي وكړل) د دې بي بي سره يې غسل وكړ او د هغه بي بي سره يې غسل وكړ غسل يې وكړ د هري يوې وروسته

(يعني د هري بي بي سره يې د جماع وروسته غسل وكړ) ما وويل اې دالله رسوله ! تاسو د ټولو په پاى كي يو غسل ولي ونه كړ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : (د هر ځل جماع كولو وروسته غسل كول) ښه پاكي راولي او ډير ښه دى او د بدن پاكي راولي . احمد او ابوداؤد .

تشريح : د دې څخه مخكي د دې باب په پنځم نمبر حديث كي دا معلومه سوې ده چي رسول الله ﷺ يوه شپه د ټولو بيبيانو سره كوروالي وكړه او په پاى كي يو وار غسل يې وكړ، او دلته دا بيان كيږئ چي رسول الله ﷺ يوه ورځ د ټولو بيبيانو سره كوروالي وكړه او د غسل طريقه يې دا اختيار

کړه چي د هري بي بي سره د جماع څخه د فراغت وروسته يې بيل بيل غسل وکړ، نو په دې دواړو روايتونو کي به دا تطبيق وي چي د رسول الله ﷺ هغه لومړنی حکم به د جواز بيان او د امت د اسانۍ لپاره وو يعني ددې خبري ښرګندول مقصد وه چي د ټولو بيبيانو سره د کوروالۍ څخه د فراغت وروسته رسول الله ﷺ د هر وار جماع څخه وروسته بيل بيل غسل وکړ،

رسول الله ﷺ د ابورافع ﷺ په جواب کي هر وار د غسل کولو چي کومه وجه بيان کړې ده په هغه کي يې دري الفاظ استعمال کړي دي: (۱) ازکی، (۲) اطيب (۳) اطهر، د دري سره الفاظو په فرق واضح کولو سره علامه طيبي فرمايي چي د تطهير استعمال په ظاهري مناسبت سره دی او د تزکيې او تطيب د باطني مناسبت سره دی، يعني تطهير به د بد اخلاق ازاله لپاره وي او تزکيه او طيب به د ښو خصلتونو د تر لاسه کولو لپاره وي، لکه ددې مطلب چي دا سو چي د غسل کولو سره خراب اخلاق مثلا غصه وغيره ليري کيږي او ښه اخلاق يعني علم، تقوا وغيره تر لاسه کيږي.

﴿۴۳۴﴾: وَعَنِ الْحَكَمِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَّتَوَضَّأَ الرَّجُلُ بِفَضْلِ طَهُوْرِ الْمَرْأَةِ. رواه أبو داود وابن ماجه والترمذي وزاد أو قال بسؤرها. وقال هذا حديث حسن صحيح

د حضرت حکم[۱] بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د دې څخه منعه فرمايلې ده چي سړی دي د ښځي د اوداسه يا غسل څخه په پاته سوو اوبو سره اودس وکړي. (ابوداؤد، ابن ماجه، ترمذي) ويلي دي دا حديث حسن صحيح دی.

تشريح: د (سؤر) لفظ دلته د غسل يا اوداسه د پاته اوبو په معنا دی، ددې لغوي معنا پسخورده مراد نه ده، ددې مطلب به دا وي چي راوي ته فقط په لفظ کي شک واقع سوی دی چي رسول الله ﷺ يا خو فضل ويلي دي او يا سور يې فرمايلي دي.

ددغه فصل په اووم نمبر حديث کي ددې حديث تذکره راغلې ده په دغه دواړو حديثونو کي ټکر واقع کيږي، ددې وضاحت هلته سوی دی، علامه سيد جمال الدين رحمة الله عليه فرمايي چي دا حديث او ددې څخه وروسته راتلونکی حديث څخه د ښځي د غسل يا اوداسه څخه پاته سوي اوبو سره د سړي د اودس کولو چي منعه ثابتيږي هغه دي پر نهي تنزيهي باندي

[۱] د نوموړي نو حکم ابن عمر دی د قبيله غفار په نسبت سره مشهور دی، نوموړی صحابي دی، د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته بصرې ته ولاړ، د هغه ميريزی ورور زياد د خراسان حاکم جوړ کړی وو، د هغه وفات هم د خراسان په مرو نامي ځای کي په کال (۵۰ هـ) کي سوی دی.

محمول كړل سي چي په دې كي حديث او په اووم نمبر حديث كي چي د هغه څخه دا ثابته سوې ده چي رسول الله ﷺ د خپل بي بي مباركي د غسل څخه په پاته سوو اوبو سره غسل كړى وو تعارض پيدا نسي او دواړه حديثونه پر خپل خپل ځاى قابل عمل دي .

﴿۴۳۵﴾: وَعَنْ حُمَيْدِ الْحِمْيَرِيِّ قَالَ لَقِيْتُ رَجُلاً صَحِبَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَ سِنِيْنَ كَمَا صَحِبَهُ أَبُوْهُرَيْرَةَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَغْتَسِلَ الْمَرْأَةُ بِفَضْلِ الرَّجُلِ أَوْ يَغْتَسِلُ الرَّجُلُ بِفَضْلِ الْمَرْأَةِ . زَادَ مُسَدَّدٌ وَلْيَغْتَرِفَا جَمِيْعًا رواه أبو داود والنسائي وزاد أحمد فِيْ أَوَّلِهِ نَهٰى أَنْ يَّمْتَشِطَ أَحَدُنَا كُلَّ يَوْمٍ أَوْ يَبُوْلَ فِيْ مُغْتَسَلِهِ . ورواه ابن ماجه عن عبد اللّٰهِ بْنِ سَرْجَسٍ .

د حضرت حميد[1] الحميري څخه روايت دى چي ما يو سړى وليدى چي هغه د ابوهريرة په ډول څلور كاله د رسول الله ﷺ په صحبت كي تير كړى وه ، هغه سړي وويل رسول الله ﷺ د دې څخه منعه فرمايلې ده چي ښځه دي په پاته سوو اوبو سره غسل وكړي او يا سړى دي د ښځو په پاته سوو اوبو سره غسل وكړي . او ددې حديث په آخر كي مسدد دا الفاظ بيان كړي دي چي سړي او ښځي ته پكار دي چي دواړه د يوه لوښي څخه لپه په يو ځل اخلي او غسل سره وكړي، ابوداؤد ، نسائي او احمد ددې خبري څخه منعه كړې ده چي په موږ كي دي يو څوك هره ورځ ږمنځ كوي يا په غسل خانه كي تشي بولي كوي . ابن ماجه دا د عبدالله بن سرجس څخه روايت كړى دى .

تشريح : د هره ورځ ږمنځ كولو څخه يې ځكه منعه فرمايلې ده چي دا د هغه خلكو طريقه ده چي د هغوئ مقصد يوازي ښكلا او زينت وي نو مسنون طريقه داده چي ږمنځ كول په دريمه ورځ وكړل سي يعني په مينځ كي د يوې ورځي ناغه كول پكار دي ، د غسل كولو پر ځاى د بولو كولو منعه ځكه سوې ده چي په دې سره وسوسې پيدا كيږي چي په عبادت كي د حضور قلب لپاره سدراه (د زړه د توجه مانع) جوړيږي .

[1] د نوموړي نوم حميد بن عبدالرحمن دى د قبيله حمير سره د تعلق په وجه د حميري په نسبت سره مشهور دى . نوموړى يو جليل القدر تابعي دى د خپل علم او فضل په وجه د اهل بصره امام گڼل كيدى ، د ابوهريره او ابن عباس رضي الله عنهما څخه د سماعت (اوريدو) شرف ورته تر لاسه دى .

بَابُ اَحْكَامِ الْمِيَاهِ

(د اوبو د احکامو بیان)

الفصل الاول

﴿۴۳۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاَيَبُوْلَنَّ اَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ الَّذِيْ لَاَيَجْرِيْ ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ. متفق عليه وَ فِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ لَا يَغْتَسِلُ اَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ وَهُوَ جُنُبٌ قَالُوْا كَيْفَ يَفْعَلُ يَا اَبَاهُرَيْرَةَ قَالَ يَتَنَاوَلُهٗ تَنَاوُلًا.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو كي دي هيڅوك په هغه ولاړو اوبو كي چي جاري نه وي تشي بولي نه كوي چي بيا غسل هم په كوي. (بخاري او مسلم) او په مسلم كي دا الفاظ دي چي په تاسو كي دي هيڅوك د ناپاكى په حالت كي په ولاړو اوبو كي غسل نه كوي ، خلكو د ابوهريرة څخه پوښتنه وكړه چي نو څنګه وكړو؟ ابوهريرة ورته وويل د هغه څخه دي اوبه را واخلي يعني په لپه يا يو لوښي سره دي غسل وكړي.

تشريح: دلته چي په كومو كي د بولو كولو او بيا په هغه كي د غسل كولو څخه منعه كيږي نو د هغه څخه ماء قليل يعني لږ اوبه مراد دي ځكه چي زياتي اوبه ماء جاري دي يعني د بهيدونكو اوبو حكم لري او هغه په بولو وغيره سره نه ناپاكيږي او بيا په هغه كي غسل كول هم جائز دي.

ځينو علماؤ ويلي دي چي په ماء كثير (ډيرو اوبو) كي هم بولي كول منعه دي كه څه هم هغه اوبه په بولو وغيره سره ناپاكه كيږي نه، ځكه كه يو شوک په هغه كي بولي وكړي نو د هغه په ليدو سره نور خلك هم په هغه كي بولي كول پيل كوي د هغه نتيجه به دا وي چي په عامه توګه سره ټول خلك به په هغه كي د بولو كولو په عادت اخته سي چي د هغه په وجه به اوبه كرار كرار متغير كيږي هر كله چي په هغه كي ډيري بولي كيږي نو د اوبو رنګ، بوی او خوند به بدل سي او اوبه به د خپل اصلي حيثيت په ضائع كولو سره ناپاكه سي.

اوس په دغه حديث كي د پورتني حكم په باره كي ويل سوي دي چي لومړنی شكل يعني د اوبو د كمېدو په صورت كي خو دا نهي د حرمت لپاره ده ځكه چي په لږ اوبو كي بولو كولو سره اوبه ناپاكيږي، په دوهم شكل يعني د اوبو د زياتوب په صورت كي دا نهي د كراهت لپاره ده.

اوس پاته سو دا سوال چي د شریعت په اصطلاح کي د کمو او بو او د زیاتو اوبو مقدار او د هغه حد څه دی؟ نو په دې اړه به انشاء الله تعالی په راتلونکو مخونو کي پوره وضاحت وکړل سي. په دې هم پوه سئ چي په حدیث کي د اوبو سره د جاري یعني بهیدونکي قید ولي لګول سوی دی، د دې قید وجه داده که اوبه جاري یعني بهیدونکي وي نو که څه هم هغه کمي وي یا زیاتي په هغه کي د نجاست مثلاً د بولو وغیره لوېدلو سره اوبه نه ناپاکه کیږي.

او علماؤ لیکلي دي چي دا ټول تفصیل د ورځي لپاره دی په شپه کي د جنات د بیري په وجه مطلقاً په اوبو کي قضاء حاجت مکروه او منعه دی ځکه چي جنات د شپې هلته اوسیږي چیري چي اوبه وي، اکثر ویالې، تالابونه، وغیره د شپې د جناتو مسکن وي.

د حدیث د آخري برخي څخه معلومه سوه که یو یو جنب په اوبو کي لاس ووهي نو اوبه به مستعمل یعني ناقابل استعمال نه وي او که په هغه اوبو کي لاس د دې لپاره ووهي چي د خپلو لاسونو ناپاکي لیري کولو لپاره په هغه کي لاس پریولي نو په دې صورت کي به اوبه مستعمل یعني ناقابل استعمال سي.

﴿۴۳۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُبَالَ فِي الْمَاءِ الرَّاكِدِ. (رواه مسلم)

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ په ولاړو اوبو کي د تشو بولو کولو څخه منعه فرمایلې ده. مسلم.

﴿۴۳۸﴾: وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ ذَهَبَتْ بِي خَالَتِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ ابْنَ أُخْتِي وَجِعٌ فَمسحه رَأْسِي وَدَعَا لِي بِالْبَرَكَةِ ثُمَّ تَوَضَّأَ فَشَرِبْتُ مِنْ وَضُوئِهِ ثُمَّ قُمْتُ خَلْفَ ظَهْرِهِ فَنَظَرْتُ إِلَى خَاتَمِ النُّبُوَّةِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ مِثْلَ زِرِّ الْحَجَلَةِ. (متفق عليه)

د حضرت سائب بن یزید څخه روایت دی چي زما خاله زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر کړم او هغې وویل اې دالله رسوله! زما دا خوریی ناروغ دی نو رسول الله ﷺ زما پر سر لاس را تیر کړ او زما لپاره یې د برکت دعاء وکړل. بیا رسول الله ﷺ اودس وکړ او ما د رسول الله ﷺ د اودس څخه پاته سوي اوبه و څېښلې بیا زه د رسول الله ﷺ شا ته و درېدم او ما مُهرنبوت ولیدی چي د رسول الله ﷺ د اوږو په منځ کي وو او د چیرکټ د غوټۍ په شان ځلیدی. بخاري او مسلم.

تشریح: د اوداسه د اوبو څخه یا خو مراد دادی چي د رسول الله ﷺ د اودس کولو څخه وروسته

كومي اوبه چي په لوښي كي پاته سوي وي سائب ﷺ هغه وڅښلې، يا مراد دادی چي كله رسول الله ﷺ اودس كوی نو كومي اوبه چي د رسول الله ﷺ د اوداسه د اندامونو څخه توی سوي وې سائب ﷺ د بركت تر لاسه كولو او د سعادت په خاطر هغه وڅښلې.

الله تعالى چي رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت په منصب مشرف كولو سره دنيا ته راوليږی نو د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت د حقانيت او صداقت د دليل په توګه چيري چي نوري ډيري نښي او معجزې وركړل سوي دي نو هلته يوه لويه نښه د رسول الله ﷺ د اوږو په مينځ كي (مهر نبوت) يې هم ثبت كړ، سائب ﷺ د دغه مهر نبوت اندازه او د هغه هيبت بيان فرمايي چي هغه د چيركټ د غوټۍ په ډول وو، دغه نښي ته مهر نبوت ويل كيږي چي د رسول الله ﷺ د بعثت څخه مخكي پر انبياء عليهم السلام باندي به د الله تعالى د لوري كوم كتابونه نازليدل په هغه كي به رسول الله ﷺ د راتلو او بعثت خبر وركولو سره د رسول الله ﷺ دا نښه هم ښودل سوې وه چي د رسول الله ﷺ د اوږو په مينځ كي به مهرنبوت وي؛ كله چي رسول الله ﷺ مبعوث سو نو په دغه مهر نبوت سره وپيژندل سو چي رسول الله ﷺ هغه نبي آخر زمان دی چي د هغه د بعثت خبر په مخكنيو كتابونو كي وركړل سوی دی، دا مهرنبوت د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت نښه وګرځول سول، ددې څخه پرته علماء كرام ددې وجه تسميه نوري هم ليكلي دي خو دلته د اوږدوالي په وجه د ټولو ذكر نسي كيدای.

د مهر نبوت په اړه علماؤ ليكلي دي چي ددې په دباندي برخه كي د وحده لاشريک الفاظ مرقوم وه او په دننه برخه كي دا عبارت ليكلى وو (توجه حيث ما كنت فاتک منصور) يعني كوم لوري ته چي ته متوجه يې زموږ مرسته به ستا سره وي.

د مهرنبوت د وخت په اړه د علماؤ اختلاف دی ځينو حضراتو ويلي دي چي كله چي د رسول الله ﷺ سينه مباركه سق (څيرلو) سره وګنډل سوه نو د هغه څخه وروسته دا ظاهر سو، د ځينو علماؤ تحقيق دادی چي د رسول الله ﷺ د زيږېدني سره سم دا مهر ظاهر سو او ځينو حضراتو ويلي دي چي رسول الله ﷺ د دغه مهر سره پيدا سوی دی. والله اعلم.

الفصل الثاني

﴿۴۳۹﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَاءِ يَكُونُ فِي الْفَلَاةِ	د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه د هغه اوبو د حكم پوښتنه

مِنْ الْأَرْضِ وَمَا يَنُوبُهُ مِنَ الدَّوَابِّ وَالسِّبَاعِ فَقَالَ إِذَا كَانَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ لَمْ يَحْمِلْ الْخَبَثَ. رواه احمد و ابوداؤد والترمذي والنسائي والدارمي وابن ماجة وفي اخرى لابي داؤد فانه لاينجس.

وسول چي په ځنګل کي دننه په مځکه کي يو ځای وي او حيوانان او نور ځنګلي ځناور پر هغه راځي او د هغه ځخه اوبه چښي او هلته بولي هم کوي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: که هغه اوبه د دووغټو منګيانو په اندازه وي نو هغه ناپاکي نه قبلوي. (احمد، ابوداؤد، ترمذي، نسائي، دارمي ابن ماجه) خو د ابوداؤد په دوهم حديث کي دا منقول دي چي هغه اوبه ناپاکي نه دي.

تشريح: (قلة) لوی منګي ته وايي چي په هغه کي دوه نيم ژيان اوبه ځائيږي، په قلتين يعني دوو منګيانو کي پنځه ژيان اوبه راځي، د دوو منګيانو د اوبو وزن علماؤ پاو بالا شپږ منه ليکلی دی، ددې حديث سره سم د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادی که اوبه د دوو منګيانو په اندازه وي او په هغه کي نجاست ولويږي نو تر څو پوري چي د اوبو رنګ، بوی او خوند متغير نسي نو اوبه نه ناپاکه کيږي.

مګر تر څو پوري چي ددې حديث د حيثيت تعلق دی په دې باره کي د علماؤ ډير اختلاف دی چي ايا دا حديث صحيح دی که يا، د سفر السعادت مصنف چي يو جليل القدر محدث دی ليکي چي د علماؤ د يو ډلي قول خو دادی چي حديث صحيح دی مګر د يو بلي ډلي وينا داده چي دا حديث صحيح نه دی.

علي بن مديني رحمة الله تعالی عليه چي د جليل القدر علماؤ او امام حديث او د امام بخاري استاد دی ليکلي دي چي دا حديث د رسول الله ﷺ ځخه ثابت نه دی.

او علماء ليکي چي دا حديث د اجماع صحابه پر خلاف دی ځکه چي يو وار د زمزم په څاه کي يو حبشي ولويدی نو حضرت ابن عباس او حضرت بن زبير رضي الله عنهما دا حکم وکړ چي د څاه ټولي اوبه راوکښل سي او دا واقعه د اکثرو صحابه کرامو په مخکي وسوه مګر هيچا يې مخالفت ونه کړ، ددې ځخه پرته علماؤ دا هم ليکلي دي چي په دې مسئله کي د ناپاکی حد او مقدار ټاکلو په اړه نه خو حنفيه او نه شوافع ته داسي يو صحيح حديث لاس ته راغلی دی چي د هغه ځخه معلومه سي چي په نجاست لوېدو سره د څومره مقدار اوبه ناپاکه کيږي او د څومره مقدار اوبه نه ناپاکه کيږي.

امام طحاوي رحمة الله عليه چي د فن حديث يو جليل القدر امام او حنفي مذهب دی

فرمايي چي حديث قلتين يعني دا حديث كه څه هم صحيح دى مګر پر دې زموږ د عمل نه كولو وجه داده چي په حديث كي د اوبو اندازه دوه قله (منګيان) ښودل سوي دي او د قلة څو معناوي دي غټ منګي ته هم وايي او ژي ته هم او غره څوكي ته هم وايي ، هر كله چي په يقين سره دا نسي ويل كيداى چي دلته په حديث كي د قلة څخه څه مراد دى نو په دې عمل څرنګه ممكن كيداى سي .

په هر حال ددې مسئلې تفصيل دادى چي علماء يوازي د حديث په ظاهري الفاظو عمل كوي د هغوئ مسلک دادى چي د نجاست وغيره په لوېدو سره اوبه ناپاكه كيږي كه اوبه كمي وي او كه زياتي رواني وي او كه ولاړي وي او كه څه هم د نجاست په لوېدو سره د اوبو رنګ ، خوندي او بوى متغير سي يا نه سي، دا حضرات په دليل كي ددې څخه وروسته د حديث دا الفاظ وړاندي كوي (ان الماء طهور لاينجسه شيئ) يعني اوبه پاكي دي او هيڅ شى يې نه ناپاكه كوي، حال دا چي مطلقا اوبه نه دي بلكه زياتي اوبه دي، ددې څخه پرته د علماؤ او محدثينو مسلک دادى كه اوبه زياتي وي نو د نجاست په لوېدو سره نه ناپاكه كيږي او كه اوبه كمي وي نو د نجاست په لوېدو سره ناپاكه كيږي .

اوس ددې څخه وروسته د څلورو امامانو په نزد د زياتو او كمو اوبو په مقدار كي اختلاف دى، امام مالک رحمة الله عليه فرمايي چي د نجاست په لوېدو سره د كومو اوبو رنګ، خوند او بوى چي متغير نسي نو هغه ته به ماء كثير يعني زياتي اوبه ويل كيږي او كومي اوبه چي متغير سي هغه ته به ماء قليل يعني لږ اوبه ويل كيږي، د امام شافعي او امام محمد رحمة الله عليهما مذهب ددې حديث سره سم دادى چي كومي اوبه د دوو قلو په اندازه وي هغه ته به ماء كثير وايو او كومي اوبه چي د دوو قلو برابر نه وي هغه ته به ماء قليل ويل كيږي .

امام اعظم رحمة الله عليه او د هغوئ منونكي دا وايي كه د اوبو دومره مقدار وي چي د هغه يوه غاړه ښورولو سره دوهمه غاړه يو ځاى نسي نو هغه ماء كثير دي او كه دوهمه غاړه ورسره وښوري نو هغه ماء قليل دى .

وروسته ځينو حنفي علماؤ لس په لس كي اوبو ته ماء كثير ويلي دي يعني دومره لوى حوض چي لس لاسه اوږد او لس لاسه پلن وي، او دومره ژور وي كه په لپه سره اوبه ځيني پورته كړل سي نو مځكه څرګنده نسي ، داسي حوص ته لس په لس كي وايي، د داسي حوض په اوبو كي چي لس په لس كي وي داسي نجاست ولوېږي چي د لوېدو څخه وروسته نه معلوميږي لكه

بولي، وينه، شراب وغيره نو ثلورو خواوو ته يې اودس كول جائز دي چيري چي غواړي اودس كولاى سي، البته په دومره لوى حوض كي كه دومره نجاست ولويږي چي د اوبو رنگ، بوى او خوند بدل سي نو اوبه به ناپاكه سي او كه د حوض شكل داوي چي اوږد خو شل لاسه او پلن پنځه لاسه وي يا داسي اوږد پنځه ويشت لاسه او پلن ثلور لاسه وي نو دې ته به هم لس په لس كي ويل كيږي.

﴿۴۴۰﴾: وَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَنَتَوَضَّأُ مِنْ بِئْرِ بُضَاعَةَ وَهِيَ بِئْرٌ يُلْقَى فِيهَا الْحِيَضُ وَلُحُومُ الْكِلَابِ وَالنَّتْنُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمَاءَ طَهُورٌ لَا يُنَجِّسُهُ شَيْءٌ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد والنسائي.

د حضرت ابوسعيد الخدري ﷺ څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول اې دالله رسوله! موږ د بضاعه د ثاه څخه اودس كوو دا په مدينه كي يو ثاه وو چي په هغه كي به د حيض جامې د سپو غوښه او مرداري غورزول كېدل، رسول الله ﷺ وفرمايل اوبه پاكي دي هغه هيڅ يو شى ناپاكه كولاى نه سي. احمد، ترمذي، ابوداؤد او نسائي.

تشريح: بير بضاعه د مدينې منورې د يو ثاه نوم دى، هغه په يو داسي ځاى كي واقع دى چي هلته به د نالۍ اوبه راتلې، هغه نالۍ چي نجاست او غلاظت به پكښې وو هغه به په هغه ثاه كي لويدى مگر ويونكي په يو داسي انداز سره بيان كړى دى چي د هغه څخه دا وهم كيږي چي خلكو به خپله په هغه كي نجاست غورځوئ، حال دا چي دا غلطه ده ځكه چي دا ډول نجاست او د غلط شيانو كول خو عام مسلمان هم نسي كولاى، نو چيري به هغه خلك چي د داسي غير شرعي او غير اخلاقي شى كوى چي افضل المؤمنين وو.

په هر حال په هغه ثاه كي زياتي اوبه وې او چينه داره وو ځكه نو كومه مرداري چي به په هغه كي لوېدل په بهېدلو سره به بيرته ځيني وتل بلكه د علماؤ تحقيق خو دادى چي هغه وخت هغه ثاه جاري وو او د جاري نهر په ډول په يو باغ كي بهيدى د كوم چي د رسول الله ﷺ په اړه پوښتنه وسول نو رسول الله ﷺ د ثاه د دې صفت په وجه د هغه د اوبو په باره كي وې.

د حديث د ظاهري الفاظو څخه دا ګڼل نه دي پكار چي په نجاست لوېدو سره اوبه نه ناپاكه كيږي كه هغه لږ وي او يا ډيري، بلكه دا حكم د ماء كثير يعني ډيرو اوبو دى، د ماء قليل يعني د كمو اوبو دا حكم نه دى. د حنفيه د ځينو علماؤ دا خيال دى چي چينه لرونكى ثاه هم د جاري اوبو په حكم كي دى، يعني كوم حكم چي د بهيدونو اوبو دى دا حكم د چينه لرونكي ثاه هم دى.

﴿۴۴۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا نَرْكَبُ الْبَحْرَ وَنَحْمِلُ مَعَنَا الْقَلِيلَ مِنَ الْمَاءِ فَإِنْ تَوَضَّأْنَا بِهِ عَطِشْنَا أَفَنَتَوَضَّأُ مِنْ مَاءِ الْبَحْرِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ الطَّهُورُ مَاؤُهُ الْحِلُّ مَيْتَتُهُ. رواه مالك والترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! موږ په درياب کي ځو (يعني په کښتيو کي يو) او د ځان سره لږ اوبه وړو که موږ په دې اوبو اودس وکړو نو تږي به پاته سو ايا موږ د درياب په اوبو اودس وکړو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د درياب اوبه پاکونکي دي د دې مردار (يعني مړ ماهی) حلال دی. مالك، ترمذي، ابوداؤد ، نسائي ، ابن ماجه او دارمي .

تشريح : (ميتة) هغه مردار حيوان ته وايي چي د حلالېدو څخه پرته مړ سي ، په دې حديث کي د ميتة څخه مراد ماهی دی ځکه چي هغه نه ذبح کوي د هغه ښکار کول او هغه د اوبو څخه راکښل د هغه د ذبح کولو برابر دی البته کوم ماهی چي په اوبو کي مړ سي هغه د حنفيه په نزد حلال نه دی. د اوبو په حيوانانو کي ماهی د ټولو علماؤ په اتفاق سره حلال دی ، د نورو حيوانانو په اړه اختلاف دی چي د هغه تفصيل د فقه په کتابو کي موجود دی .

﴿۴۴۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ زَيْدٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ لَيْلَةَ الْجِنِّ مَا فِي إِدَاوَتِكَ قَالَ قُلْتُ نَبِيذٌ قَالَ تَمْرَةٌ طَيِّبَةٌ وَمَاءٌ طَهُورٌ. رواه ابوداؤد و زاد احمد والترمذي فَتَوَضَّأَ مِنْهُ، و قال الترمذي ابو زيد مجهول و صح عن علقمة عن عبدالله بن مسعود قال لم اكن ليلة الجن مع رسول الله صلى الله عليه وسلم . رواه مسلم .

حضرت ابو زيد د عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ ده ته د پيريانو په شپه (په کومه شپه چي رسول الله ﷺ ته د پيريانو ډله راغلې وه) وفرمايل : ستا په پتك کي څه شي دي ؟ ما عرض وکړ د (خرما) شيره ده ، رسول الله ﷺ وفرمايل خرماوي پاکي دي او اوبه يې پاکونکي دي (ابوداؤد) احمد او ترمذي دا الفاظ هم ليکلي دي چي رسول الله ﷺ په نبيذ (د خرما شيره) باندي اودس وکړ ، ترمذي ويلي دي چي ابو زيد مجهول دی او د عقلمه څخه ثابته ده چي هغه د عبدالله بن مسعود څخه نقل کړي دي چي زه د پيريانو په شپه د رسول الله ﷺ سره نه وم .مسلم

تشريح : (ليلة الجن) هغه شپې ته وايي چي په هغه کي د پيريانو يو ډله د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوې وه، او رسول الله ﷺ هغوئ ته د اسلام دعوت ورکړ ، د هغوئ په مخکي يې قرآن کريم و وايه د هغه وروسته هغه ډله خپل قوم ته راغلل او د اسلام د دعوت او د قرآن کريم د

تعليماتو ځخه يې هغوئ خبر کړل ، ددې پېښې ذکر د قرآن کريم په سورة جن کي هم سوی دی .

د (نبيذ تمر) شکل دادی چي خرماوي په اوبو کي واچول سي او هغه تر څو ورځو پوري همداسي په اوبو کي پرتې وي د هغه ځخه وروسته شربت ډول شيان ځيني جوړ سي او يو ډول تيزي هم پکښې راسي، دا شربت ډير تيز او تند نه وي حلال وي، منقول دی چي رسول الله ﷺ لپاره به دا نبيذ تمر جوړيدی ، په نبيذ تمر سره اودس کول مختلف فيه دی، د امام اعظم رحمة الله عليه مذهب دادی که د اوداسه لپاره خالص اوبه پيدا نسي نو په نبيذ تمر سره اودس کيدای سي ددې په شتون کي تيمم کول جائز نه دی .

امام شافعي رحمة الله عليه ددې مذهب سره اختلاف کوي ، د امام اعظم رحمة الله عليه دليل پورتنی حديث دی ، دا حديث د امام شافعي رحمة الله عليه د مذهب خلاف دی ځکه شوافع دا حديث ضعيف ثابتوي ، امام ترمذي هم دا خبره کوي چي د حديث راوي ابو زيد غير معروف دی ځکه د هغه روايت سوی حديث باندي د يو مذهب بنياد نسي اېښودل کيدای ، امام ترمذي دوهم شی دا ثابتول غواړي چي د عبدالله بن مسعود ﷺ ځخه روايت دی د هغه مقصد دا هم دی چي هر کله د عبدالله ابن مسعود ﷺ د رسول الله ﷺ سره په هغه شپه کي ملګرتيا ثابته نه ده نو د ابوزيد دا روايت يقينا صحيح کيدای نه سي .

مګر تر څو پوري چي د حقيقت تعلق دی نو په دې کي هيڅ وجه نسته چي د امام اعظم رحمة الله عليه مذهب بر حق دی ځکه چي د امام ترمذي دا ويل چي ابو زيد مجهول راوي دی د حديث پر حقيقت باندي هيڅ اثر نه کيږئ ځکه چي د حديث د راويانو د غير معروف کېدو دعوا په نورو طريقو سره غلطه ثابتيږي .

دوهم اعتراض دا چي حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ په دې روايت کي د رسول الله ﷺ ملګري نه وو بالکل غلطه ده ځکه چي د ابن مسعود ﷺ شتون د نورو روايتونو ځخه هم په تحقيق سره ثابته وه، په يوه روايت کي دا هم دي چي رسول الله ﷺ په دغه شپه کي جنات (پيريانو) ته د اسلام دعوت او د قرآن کريم تعليمات ښودلو کي بوخت سو نو رسول الله ﷺ عبدالله بن مسعود ﷺ يو ځای کښېنوی او پر هغه شاخوا يې ليکه کښلو سره دايره جوړه کړه او هغه ته يې دا هدايت وکړ چي د هغه دايرې ځخه دباندي ونه وځي .

د حضرت عقلمه رحمة الله عليه د روايت په صحت کي کلام نسته مګر د هغه مطلب دابن مسعود ﷺ د د شتون ځخه انکار نه دی بلکه د هغه مطلب دادی چي کله رسول الله ﷺ د پيريانو

سره په خبرو وو هغه وخت ابن مسعود ﷺ ورسره حاضر نه وو ، يا دا چي رسول الله ﷺ پيريانو ته تشريف يووړ نو ابن مسعود ﷺ هغه وخت ورسره نه وو بلکه د شپې په آخره کي په ورتلو سره د رسول الله ﷺ سره يې ملاقات وکړ . والله تعالى اعلم .

﴿۴۴۳﴾: وَ عَنْ كَبْشَةَ بِنْتِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَكَانَتْ عِنْدَ ابْنِ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ أَبَا قَتَادَةَ دَخَلَ عَلَيْهَا فَسَكَبَتْ لَهُ وَضُوءًا فَجَاءَتْ هِرَّةٌ تَشْرَبُ مِنْهُ فَأَصْغَى لَهَا الْإِنَاءَ حَتَّى شَرِبَتْ قَالَتْ كَبْشَةُ فَرَآنِي أَنْظُرُ إِلَيْهِ فَقَالَ أَتَعْجَبِينَ يَا بِنْتَ أَخِي فَقُلْتُ نَعَمْ قَالَتْ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ إِنَّمَا هِيَ مِنَ الطَّوَّافِينَ عَلَيْكُمْ أَوِ الطَّوَّافَاتِ . رواه مالك و احمد و الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي

د بي بي كبشة بنت كعب بن مالك څخه روايت دی او وه دا د ابوقتاده د زوی لاندي چي ابوقتاده هغې ته راغلی ما د هغه د اوداسه لپاره د اوبو لوښي ډك كړ پشي راغلل او د هغه لوښي څخه يې اوبه چښنل پيل كړل او ابو قتاده هغه لوښي كوږ كړ چي پشي په ښه ډول اوبه و چښلې ، بي بي كبشة وايي ابو قتاده زه وليدم چي زه هغه ته گورم نو وه يې ويل زما وريرې ! ايا ته په دې تعجب کوې ؟ ما ورته وويل هو، نو هغه وويل : رسول الله ﷺ وفرمايل چي دا ناپاكه نه ده هغه ستاسو په منځ كي گرځېدونكې ده

تشريح : حضرت ابو قتاده ﷺ كبشه ته وريره ويلي دي حال دا چي هغه يې وريره نه وه ، ددې وجه داده چي په عربو كي په عامه توگه سره سړی مخاطب ته كه كوچنی وي وراره يا د اكا زوی او ښځي ته وريره ويلو سره مخاطب كوي كه څه هم هغه په حقيت كي د هغه قريب نه وي ځكه چي يو مسلمان د بل مسلمان ديني ورور دی ځكه هغه د اسلامي قرابت په وجه د هغه اولاد ته وراره يا وريره وايي .

په روايت كي طوافين او طوافات دواړه الفاظ استعمال سوي دي ، ددې مطلب دادی كه چيري پيشي نر وي نو د هغه لپاره طوافين لفظ به وي او كه پيشي ښځه وي نو د هغې لپاره به د طوافات لفظ وي . دا دواړه الفاظ دلته د خادم په معنا كي استمال كړل سوي دي ، ددې مطلب دادی چي پيشياني ستاسو خادم دي، هغوئ ته د خادم ويلو وجه داده چي دوئ هم د انسانانو په مختلفو طريقو سره خدمت كوي او د هغوئ د آرام او راحت په ځينو شيانو كي لوی معاون ثابتيږي مثلا تاواني حيوانان لكه مږه وغيره وژني ، يا دوئ ته خادم په دې وجه ويل سوي دي چي څرنگه د خادمانو په خبر اخيستو كي ثواب دی او څرنگه چي خادمان په كورونو كي گرځي

راګرځي همداسي پيشياني هم په کورونو کي ګرځي راګرځي.

په هر حال د حديث مطلب دادی چي پيشاني هر وخت ستاسو سره د خادمانو په ډول اوسيږي او د کور په هره برخه کي ګرځي که د دوئ پسخورده ناپاکه وګرځول سي نو تاسو به په ډيره پريشاني کي اخته سئ ځکه نو دا حکم کيږي چي د پيشانو پسخورده پاکه ده، لکه دا حديث چي پر دې دلالت کوي چي د پيشي پسخورده پاکه ده، د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادی چي د پيشي پسخورده ناپاکه نه ده بلکه پاکه ده.

د امام اعظم رحمة الله عليه مذهب دادی چي د پيشي پسخورده مکروه تنزيهي ده يعني که چيري د پيشي د پسخوردې اوبو وغيره څخه پرته نور نوري اوبه پيدا نسي نو په هغه اودس کول جائز دی، د هغه په شتون کي د تيمم کولو ضرورت نسته که د پيشي د پسخوردې اوبو څخه پرته نوري اوبه وي او د هغه سربيره په هغه اودس وکړل سي نو اودس به وسي مګر مکروه به وي.

امام صاحب په دې صورت کي دې ته مکروه هم ځکه وايي چي په يو بل حديث کي پيشي ته درنده ويل سوي دي مګر دا حديث د هغه بالکل برعکس دی او د درنده په اړه ښودل سوي دي چي هغه ناپاک وي مګر دا حديث د هغه بالکل برعکس دی ځکه په دغه دواړو حديثونو باندي نظر ساتلو سره يو داسي حکم نافذ کول پکار دي چي د دواړو حديثونو د مفهوم سره سم وي نو اوس به داسي ويل کيږي چي په کوم حديث کي پيشي ته درنده ويلو سره د هغه نجاست ته اشاره سوې ده هغه پر خپل ځای صحيح دي مګر په دې حديث کي د پيشي د نجاست حکم په کراهت کي بدل کړی دی نو د هغه پسخورده ته ناپاکه خو نه سو ويلای البته په مکروه ويلو کي څه پرواه نسته.

﴿۴۴۴﴾: وَعَنْ دَاوُدَ بْنِ صَالِحِ بْنِ دِيْنَارٍ عَنْ أُمِّهِ أَنَّ مَوْلَاتَهَا أَرْسَلَتْهَا بِهَرِيْسَةٍ إِلَى عَائِشَةَ قَالَتْ فَوَجَدْتُهَا تُصَلِّيْ فَأَشَارَتْ إِلَيَّ أَنْ ضَعِيْهَا فَجَاءَتْ هِرَّةٌ فَأَكَلَتْ مِنْهَا فَلَمَّا انْصَرَفَتْ عَائِشَةُ مِنْ صَلَاتِهَا أَكَلَتْ مِنْ حَيْثُ أَكَلَتِ الْهِرَّةُ فَقَالَتْ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجِسٍ إِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِيْنَ عَلَيْكُمْ وَإِنِّيْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى

حضرت داؤد بن صالح بن دينار د خپل مور څخه روايت کوي چي د هغې آزادونکي د هغې په لاس بي بي عائشې ته تحفه وليږل نو هغې بي بي عائشة پر لمانځه وليدل، بي بي عائشې زما په لور اشاره وکړه چي ته دا کښيږده نو تحفه کښېښودل سول چي پيشي راغله او د تحفې څخه يې وخوړل. کوم وخت چي بي بي عائشة د لمانځه څخه فارغه سوه نو د تحفې د هغه ځای

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ بِفَضْلِهَا . رواه أبو داود .

څخه يې خوراك پيل كړ د كوم ځاى څخه چي پيشي خوراك كړى وو ، بيا يې وفرمايل : رسول الله ﷺ فرمايلي دي د پيشي خوړلی شی ناپاك نه دی . پيشي په تاسو كي گرځېدونكې ده بيا يې وويل ما رسول الله ﷺ د پيشي په پسخورده سره اودس كونكی ليدلی دی . ابوداؤد .

تشريح : د داؤد مور چي بي بي عائشې صديقې رضي الله عنها ته حريره يووړل نو هغه په لمانځه كي بوخته وه ځكه په لاس يا سر سره يې اشاره وكړه ، د هغې مطلب دا وو چي دا لوښی كښېږده ، ددې څخه معلومه سوه چي په لمانځه داسي معمولي اشاره جائز ده ځكه چي دا عمل كثير نه دی لمونځ فاسد كونكی او ختمونكی شی خو يا خبري كول او يا عمل كثير دی .

د دغه حديث څخه دا هم معلومه سوه چي رسول الله ﷺ خپله د پيشي د پسخوردې په اوبو سره اودس كړی دی ، د كومو علماؤ مذهب چي دا دی چي د پيشي په پسخورده سره اودس كول مكروه تنزيهي دی مثلا امام ابوحنيفة رحمة الله عليه نو هغوئ ددې تاويل دا كوي چي د رسول الله ﷺ دا عمل د آساني او پر رخصت باندي د عمل كولو مترادف دی او دلته د جواز لپاره دی البته د كومو علماؤ په نزد چي د پيشي پسخورده پاكه ده هغوئ ته ددې حديث د تاويل كولو ضرورت نسته ځكه چي په دې سره خو د هغوئ د مذهب تائيد كيږي ، علماؤ ليكلي دي چي د حديثونو څخه معلوميږي چي د پيشانو په ساتلو كي څه پرواه نسته بلكه مستحب دي .

﴿۴۴۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَتَوَضَّأُ بِمَا أَفْضَلَتِ الْحُمُرُ ؟ قَالَ نَعَمْ وَبِمَا أَفْضَلَتِ السِّبَاعُ كُلُّهَا . رواه في شرح السنة .

د حضرت جابر ﷺ څخه روهايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول : ايا موږ په هغه اوبو اودس وكړو چي د خرو پسخورده وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :هو ، او د ټولو حيوانانو په پسخورده هم . شرح السنة.

تشريح : په دې مسئله كي د خرونو يا د غاترو پسخورده پاكه ده كه يا ، هيڅ يقيني خبره نسي ويل كيداى ځكه چي په دې مسئله كي چي كوم حديثونه منقول دي په هغو كي تعارض دی د ځينو حديثونو څخه معلوميږئ چي د هغوئ پسخورده حرامه ده او د ځينو حديثونو څخه د هغو د مباح كېدو خبره معلوميږي لكه څرنگه چي په مرقاة كي دواړه ډوله حديثونه جمع كړل سوي دي نو د هغو په ظاهري تعارض ليدو سره د هغه په اړه يو حتمي فيصله نسي كيداى او بيا ددغه حديثو څخه پرته د صحابه كرامو په مينځ كي هم ددې مسئلې په اړه اختلاف منقول دی ، ابن عمر ﷺ خو به د خرونو او غاترو پسخورده ناپاكه گڼل مگر ابن عباس ﷺ د هغه د پاكېدو قائل وو .

د دغه حديث څخه په ظاهره دا معلوميږي چي د درندګانو پسخورده پاکه ده لکه څرنګه چي د امام شافعي رحمة الله عليه دا مذهب دی، مګر د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه په نزد د درندګانو پسخورده ناپاکه ده او ددې وجه دا بيانوي چي هر کله يو درنده اوبه وغيره پسخورده کړي نو په هغه کي د هغه لعاب (ناوړي) يقينا لويږي او لعاب د غوښو څخه پيدا کيږي او ظاهره ده چي د درندګانو غوښه ناپاکه ده ځکه چي د هغوئ پسخوردې ته به هم ناپاک ويل کيږي.

او کوم چي ددغه حديثونو تعلق دی چي د هغه څخه د درندګانو پسخورده پاکه معلوميږي په دې باره کي علماء وايي چي ددې حديثونو په اړه يو يقيني خبره نسي ويل کيدای ځکه چي ددغه حديثونو په صحت کي کلام کيږي چي ايا دا حديثونه صحيح دي که يا، او که دا حديثونه صحيح هم ومنل سي نو دا به ويل کيږي چي ددې حديثونو څخه د درندګانو په کومو پسخورده اوبو د پاک کېدو ثبوت حاصليږي ددې څخه هغه اوبه مراد دي چي په ځنګل کي په لوی لوی تالابونو کي جمع کيږي، ددې وضاحت په راتلونکو حديثونو کي هم چي يحيی د ابوسعيد څخه روايت کړي دي کيږي چي د هغه څخه په وضاحت سره ثابتيږي که درنده داسي اوبه پسخورده کړي چي ډيري زياتي وي مثلا يو لوی تالاب وغيره کي اوبه وي نو هغه به پاکي وي او که اوبه لږ وي نو هغه به دد درندګانو په پسخورده سره ناپاکه کيږي.

دا خبره هم بايد په ذهن کي وي چي که چيري دا خبره ومنل سي چي په دغه حديثونو کي درنده او اوبه په عامه توګه مراد دي چي اوبه که څه هم لږ وي يا زياتي د درندګانو په پسخورده کولو سره ناپاکه کيږي، نو ايا په دې شکل کي دا نه لازميږي چي د سپيانو پسخوردې ته به هم پاک وويل سي حال دا چي هيڅوک د سپيانو پسخوردې ته پاک نه وايي، د کومو حديثونو څخه چي د درندګانو پسخورده اوبو پاک کېدل معلوميږي د هغو څخه هغه اوبه مراد دي چي په ځنګل کي په لوی لوی تالابونو کي جمع کيږي او ډيري زياتي وي.

دلته يوه بله مسئله هم واورئ چي په دې خو تاسو ټول پوهيږئ چي د سپي لعاب وغيره ناپاک وي دا وجه که د سپو لعاب وغيره پر جامې يا بدن باندي ولګيږي نو هغه په پريوللو سره پاکول ضروري کيږي، مګر دلته دا خبره ياد ساتل پکار دي که يو سپی د سړي د بدن يو برخه په خوله سره ونيول يا يو جامه يې په خوله کې ونيول نو ددې مسئله داده که سپي د غصې په حالت کي نيولې وي نو هغه به ناپاکه نه وي او که د غصې په حالت کي نه بلکه د لوبو په ووجه يې هغه

ونيول نو هغه به ناپاکه سي ،ځکه نو د بدن يا جامې هغه برخه پريولل ضروري دي ، ددې فرق وجه علماء دا ليکي چي هر کله سپی يو شی د غصې په حالت کي نيسي نو هغه په غاښونو سره نيسي او د هغه په غاښونو کي لوند والی نه وي ځکه نو پر هغه شي باندي د ناپاکۍ اثر نه کيږي او هر کله چي يو شی د لوبو په توګه نيسي نو هغه په غاښونو سره نه نيسي بلکه په شونډانو سره يې نيسي او شونډي په لعاب وغيره سره لندې وي ځکه نو د هغه ناپاکي هغه شی هم ناپاکه کوي .

﴿۴۴۶﴾: وَعَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ اِغْتَسَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ وَمَيْمُوْنَةَ فِيْ قَصْعَةٍ فِيْهَا أَثَرُ الْعَجِيْنِ . رواه النسائي وابن ماجه .

د حضرت ام هانئ[1] (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ او بي بي ميمونې د لرګي د لوښي څخه غسل وکړ چي په هغه کي د اوړو اثر وو. نسائي او ابن ماجه

تشريح : د شوافع حضراتو په نزد په اوبو کي په تغير راتلو سره که څه هم تغير په پاک او جائز شي سره راسي يا په ناپاک او ناجائز شي سره وي هغه اوبه د اوداسه او غسل د استعمال قابل نه پاته کيږي ځکه هغه حضرات ددې حديث تاويل دا کوي چي په کاشين کي دومره اوړه نه وه لګيدلي چي په هغه سره اوبه متغير سوي وای ځکه رسول الله ﷺ او بي بي ميمونې په هغه کي غسل وکړ.

مګر د حنفيه په نزد مسئله داده که اوبه په يو پاک او جائز شي سره متغير سي هر کله چي اوبه ټينګي نسي نو په هغه سره اودس او غسل کول صحيح دی ځکه هغوئ ته ددې حديث د تاويل کولو ضرورت نسته .

الفصل الثالث

﴿۴۴۷﴾: عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَ إِنَّ عُمَرَ خَرَجَ فِيْ رَكْبٍ فِيْهِمْ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ حَتّٰى وَرَدُوْا حَوْضًا فَقَالَ عَمْرُو يَا صَاحِبَ الْحَوْضِ هَلْ تَرِدُ حَوْضَكَ السِّبَاعُ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَا

د حضرت يحيى بن عبدالرحمن څخه روايت دی چي حضرت عمر ؓ د يوې قافلې سره ولاړی چي په هغې کي عمرو بن العاص هم وو. تر دې چي يو حوض ته ورسېدل ، عمروبن العاص د حوض د خاوند څخه پوښتنه وکړل ايا ستا دا حوض ته

[1] د نوموړي نوم فاخته د مګر د ام هانئ په کنيت سره مشهوره ده د ابوطالب لور او د حضرت علي ؓ سکه خور ده.

صَاحِبَ الْحَوْضِ لا تُخْبِرْنَا فَإِنَّا نَرِدُ عَلَى السِّبَاعِ وَتَرِدُ عَلَيْنَا . رواه مالك . وزاد رزين قَالَ زَادَ بَعْضُ الرُّوَاةِ فِيْ قَوْلِ عُمَرَ وَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَهَا مَا أَخَذَتْ فِيْ بُطُوْنِهَا وَمَا بَقِيَ فَهُوَ لَنَا طُهُوْرٌ وَشَرَابٌ .

درندگان هم راځي ، د دې په اوربدو سره حضرت عمر وفرمايل : اې د حوض خاونده د دې ښودلو ضرورت نسته ځکه چې کله موږ پر درندگانو راځو (يعني کله چې اوبو ته راځو) او کله درندگان پر موږ راځي (يعني درندگان زموږ څخه وړاندې راځي) مالك او رزين ويلي دي ځيني راويانو په دې حديث کې د حضرت عمر په قول کې دا زياتوب کړی دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه داسې اوريدلي دي چې درندگان د يو شي څخه خپل نس ډك کړي نو هغه د هغوئ دي او څه چې پاته سي هغه زموږ دي پاکونکي او د چښلو وړ دي .

﴿۴۴۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْحِيَاضِ الَّتِيْ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِيْنَةِ تَرِدُهَا السِّبَاعُ وَالْكِلَابُ وَالْحُمُرُ عَنِ الطُّهْرِ مِنْهَا فَقَالَ لَهَا مَا حَمَلَتْ فِيْ بُطُوْنِهَا وَلَنَا مَا غَبَرَ طُهُوْرٌ . رواه ابن ماجه .

د حضرت ابوسعيد الخدري ﷺ څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ څخه د هغو حوضو څخه د پاکي حاصلولو په اړه پوښتنه وسول چې د مکې او مدينې په منځ کې دي او هغو ته درندگان، خرونه او سپي تړول راځي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د کوم شي څخه چې درندگان خپل نسونه ډك کړي هغه د هغوئ دي او زموږ لپاره هغه څه دي چې د هغوئ څخه پاته سي او هغه پاکونکي دي . ابن ماجه .

تشريح : په دغه دواړو حديثونو کې د درندگانو د پسخورده اوبو د پاکېدو چې کوم حکم بيانيږي هغه مطلقا د اوبو په باره کې نه دی بلکه دا حکم د هغه اوبو په اړه دی چې په تالابونو او حوضونو کې جمع کيږي .

﴿۴۴۹﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ لَا تَغْتَسِلُوْا بِالْمَاءِ الْمُشَمَّسِ فَإِنَّهُ يُوْرِثُ الْبَرَصَ . رواه الدارقطني .

د حضرت عمر بن الخطاب ﷺ څخه روايت دی چې په لمر تودو سوو اوبو سره غسل مه کوئ ځکه چې دا برص (د پيس ناروغي) پيدا کوي . دار قطني .

تشريح : په لمر د گرم سوو اوبو مطلب ځينو علماؤ دا اخذ کړی دی چې په دې سره غسل کول نه دی پکار چې په قصد سره لمر ته په ايښودو سره گرمي سوي وي مگر په ظاهره دا معلوميږي چې په دې کې تخصيص نسته يعني که هغه اوبه په قصد ايښودو سره گرمي سوي وي او او يا اوبه په يو ځای کې د مخکي څخه ايښودل سوي دي او په لمر راتلو سره هغه گرمي سوي وي .

حضرت میرک شاه رحمة الله علیه فرمایي چي دا حدیث یعني د حضرت عمر ﷺ قول ضعیف دی او د رسول الله ﷺ هیڅ حدیث په دې اړه منقول نه دی.
مګر امام شافعي رحمة الله علیه د حضرت عمر ﷺ د دې قول دوهم سند هم روایت کړی دی چي د هغه راوي ثقه او معتمد دی نو د دې په صحت کي هیڅ کلام به صحیح نه وي.
او کوم چي د حضرت عمر ﷺ د دې ارشاد مراد تعلق دی په دې اړه دا ویل کېږي چي د حضرت عمر ﷺ د ویلو مقصد دادی چي په داسي اوبو سره دې مطلقا غسل نه کېږي او نه دې سړی په داسي اوبو سره د غسل کولو عادت جوړوي ځکه چي د برص په ډول ضررناک مرض کي د اخته کېدو بیره پاته نسي، د مسئلې خبره داده چي په لمر سره ګرمي سوي اوبو سره غسل کولو کي څه پرواه نسته، د امام اعظم او امام مالک او امام احمد رحمة الله علیهم حضراتو په نزد په دې کي څه کراهیت نسته البته د امام شافعي رحمة الله علیه مذهب کي څه اختلاف دی مګر د هغوئ صحیح قول دادی چي په دې اوبو سره غسل کول مکروه دی مګر د هغوئ علماء متاخرین هم د دې درې سره امامانو سره دا مذهب اختیار کړی دی چي په دې کي کراهت نسته.

بَابُ تَطْهِيْرِ النَّجَاسَاتِ

(د نجاستونو د پاکولو بیان)

الفصل الاول

﴿۴۵۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا شَرِبَ الْكَلْبُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْسِلْهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ . متفق علیه و في روایة لمسلم قال طهور اناء احدکم اذا ولغ فیه الکلب ان یغسله سبع مرات اولهن بالتراب .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي ستاسو په لوښي کي سپی اوبه و چېښي نو هغه دي اووه ځله پریولي. بخاري او مسلم، او د مسلم په یوه روایت کي دا الفاظ دي ستاسو د کوم لوښي څخه چي سپی اوبه و چېښي د هغه د پاکولو صورت دادی چي هغه اووه ځله پریولئ او لومړی ځل یې په خاورو سره پریولئ.

تشریح: زیات محدثین او د دغه درو سره امامانو مذهب دادی که د یو چا په لوښي کي سپی

خوله ووهي نو هغه لوښی اووه واره پريولل پكار دي ، مګر د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه دا حكم د نورو نجاستونو په حكم كي شميرلو سره دا فرمايي چي هغه لوښی دی يوازي درې واره پرته د خاورو څخه پريولل كافي دي ، هغه وايي چي په حديث كي د اووه واره حكم چي ورکول كيږئ هغه د وجوب پر طريقه نه دی بلكه د اختيار په توګه دی يا دا چي اووه واره د پريوللو حكم د اسلام په پيل كي وو چي وروسته منسوخ سو ، والله اعلم .

﴿۴۵۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَامَ أَعْرَابِيٌّ فَبَالَ فِي الْمَسْجِدِ فَتَنَاوَلَهُ النَّاسُ فَقَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعُوْهُ وَهَرِيْقُوْا عَلَى بَوْلِهِ سَجْلاً مِّنْ مَّاءٍ أَوْ ذُنُوْبًا مِّنْ مَّاءٍ فَإِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِيْنَ وَلَمْ تُبْعَثُوْا مُعَسِّرِيْنَ . رواه البخاري .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي صحرائي سړي په مسجد كي په ولاړي تشي بولي وكړې خلكو هغه ونيوی ، رسول الله ﷺ خلكو ته وفرمايل : دی پريږدئ او يو ستل اوبه پر بولو و بيوی تاسو پر خلكو د آسانۍ كولو لپاره راليږل سوی ياست د سختۍ لپاره يې نه ياست راليږل سوي . بخاري

تشريح : راوي ته شک دی چي رسول الله ﷺ سجلا من ماء وفرمايل او كه ذنوبا من ماء يې فرمايلي دي، ځكه هغوئ دواړه نقل كړي دي ، د سجل او ذنوب دواړو معنی د ستل ده مګر ددې په استعمال كي لږ فرق دی هغه دا چي سجل خو هغه ستل ته وايي چي په هغه كي اوبه وي كه څه هم لږ وي يا زياتي او ذنوب د اوبو څخه ډک ستل ته وايي ، ددې حديث څخه د رسول الله ﷺ د زيات شفقت او رحمت او حلم اندازه لګول كيږي چي پر خپل امت باندي څومره مهربان او شفيق وو ، نه يوازي دا چي رسول الله ﷺ د هغه صحرائي غلطي معاف كړه او هغه ته يې هيڅ ونه ويل بلكه صحابه كرامو چي هغه ته بدرد وويل نو هغوئ ته يې ددې خبري احساس وركړ چي تاسو د كوم پيغمبر ملګري ياست او د كوم امت كسان ياست د هغه ځانګړتيا داده چي نور خلک په سختۍ او پريشانۍ كي اخته نه كړل سي او نه پر يو غلطي باندي چي د ناپوهۍ په وجه وسي ورته بدرد وويل سي، د رسول الله ﷺ ددې ارشاد څخه د امت لپاره دا تعليم مقصد دی چي خلک په سختۍ او تكليف كي وانه چول سي او نه ورسره داسي معامله وكړل سي چي په هغه سره دوهم سړی بدګمانه سي او خپل ځان په تنګۍ او سختۍ كي محسوس كړي .

دا حديث ددې خبري دليل دی چي كه چيري نجاست د پريولل شي متغير نه وي نو پاک دی كه هغه پر بله جامه ، بدن او مځكه باندي ولويږي نو هغه شيان به ناپاک نه وي كه څه هم په دې مسئله كي د علماؤ اختلاف دی مګر مختار او معتمد قول دادی چي كه چيږي پريولل سوی شی

د نجاست د ځای څخه هغه وخت ولویږي کله چي هغه د نجاست د لیري کېدو په وجه پاک سوی وي نو په دې صورت کي به هغه پاک وي او هغه پرېوتلی سوی شی چي د نجاست د ځای څخه د پاکېدو مخکي بیل سوی وي ناپاک به وي او که پرېوتلی سوی شی متغیر سي په داسي توګه چي د اوبو رنګ، خوند او په بوی کي یې تبدیلي راسي نو هغه په اتفاق سره ناپاک دی.

علامه طیبي شافعي رحمة الله علیه فرمایي چي دا حدیث د دې خبري وضاحت کوي که چیري مځکه د نجاست په وجه ناپاکه سي نو هغه په وچېدو سره نه پاکیږي یعني هغه ځای په اوبو بیولو سره د نجاست په لیري کولو سره پاکیږي او هغه ځای ګرول یا د هغه څخه خاوره کښل او پورته کول ضروري نه دي.

مګر د امام اعظم رحمة الله علیه په نزد په وچېدو سره مځکه پاکیږي او که څوک غواړي چي د وچ کېدو څخه مخکي پاکه سي نو د هغه ځای څخه په خاورو ګروولو سره دي پورته کړل سي چي هغه برخه پاکه سي.

علماء حنفیه د دې حدیث تاویل دا کوي چي د دې حدیث څخه دا څرګندیږي چي خلکو د مسجد د مځکي د هغه برخي چي د وچېدو څخه مخکي هلته صحرائي بولي کړي وې خلکو لمونځ کړی وي چي د هغه په وجه دا حکم ولګول سو چي ناپاکه مځکه پرته د اوبو بیولو څخه نه پاکیږي او کوم چي سوال د اوبو اچولو دی د دې وجه دا کېدی سي چي رسول الله ﷺ هغه وخت د نجاست پر ځای د اوبو بیولو حکم ځکه ورکړی وي چي د بولو په نجاست کي څه کمي وسي او د بولو رنګ او د هغه بوی د اوبو بیولو په وجه ختم سي مګر د مځکي هغه برخه وچېدو څخه وروسته پاکه سوې وي، په دې اړه ملا علي قاري رحمة الله علیه د مشکوة په شرح مرقاة کي نور ډیر دلیلونه لیکلي دي چي هلته کتل کیدای سي.

﴿۴۵۲﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَقَامَ يَبُولُ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَهْ مَهْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُزْرِمُوهُ دَعُوهُ فَتَرَكُوهُ حَتَّى بَالَ ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَاهُ فَقَالَ لَهُ إِنَّ هَذِهِ الْمَسَاجِدَ لَا

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره په مسجد کي ناست وو چي یو صحرائی سړی راغلی او ودرېدی په مسجد کي یې تشي بولي کول پیل کړل، د رسول الله ﷺ صحابوو هغه ته وویل مه کوه (مه کوه) رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دی د تشو بولو کولو څخه مه منعه کوئ پر خپل حال یې پرېږدئ چي بولي

تَصْلُحُ لِشَيْءٍ مِنْ هٰذَا الْبَوْلِ وَلاَ الْقَذَرِ إِنَّمَا هِيَ لِذِكْرِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالصَّلاَةِ وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ أَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَأَمَرَ رَجُلاً مِنَ الْقَوْمِ فَجَاءَ بِدَلْوٍ مِنْ مَاءٍ فَشَنَّهُ عَلَيْهِ. متفق عليه.

وكړي نو هغه پر خپل حال پرېښودل سو تر دې چي هغه تشي بولي وكړې. رسول الله ﷺ هغه را وغوښتی او هغه ته يې وويل: دا مسجدونه د بولو او مردارېو لپاره نه دي بلكه دا د ذكر الهي، لمونځ او قرآن كريم ويلو لپاره دي او يا لكه چي فرمايلي دي رسول الله ﷺ. حضرت انس وايي د دې وروسته رسول الله ﷺ د مسجد څخه يو سړي ته د اوبو راوړلو حكم وكړ نو هغه يو ستل اوبه راوړئ او هغه يې پر هغه بولو و بيولې. بخاري او مسلم.

﴿۴۵۳﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِيْ بَكْرٍ قَالَتْ سَأَلَتِ امْرَأَةٌ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِحْدَانَا إِذَا أَصَابَ ثَوْبَهَا الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ كَيْفَ تَصْنَعُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَصَابَ ثَوْبَ إِحْدَاكُنَّ الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ فَلْتَقْرُصْهُ ثُمَّ لِتَنْضَحْهُ بِمَاءٍ ثُمَّ لِتُصَلِّ فِيْهِ. متفق عليه

د حضرت اسماء بنت ابوبكر (رض) څخه روايت دی چي يوې ښځي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه اې دالله رسوله! هر كله چي په موږ كي د يو چا پر جامو د حيض وينه توی سي نو هغه څه وكړي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هر كله چي په تاسو كي د يو چا پر جامو د حيض وينه توی سي نو د هغه په وچېدو اول هغه په گوتو و موږ او بيا يې په اوبو پريولی بيا دې لمونځ ورسره وكړي. بخاري او مسلم.

﴿۴۵۴﴾: وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنِ الْمَنِيِّ يُصِيْبُ الثَّوْبَ فَقَالَتْ كُنْتُ أَغْسِلُهُ مِنْ ثَوْبِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَخْرُجُ إِلَى الصَّلاَةِ وَأَثَرُ الْغَسْلِ فِيْ ثَوْبِهِ. متفق عليه

د حضرت سليمان[1] بن يسار ﷺ څخه روايت دی چي ما د بي بي عائشې څخه د مني په اړه پوښتنه وكړه چي پر جامو و لگيږي، بي بي عائشې وويل: (د رسول الله ﷺ پر جامه به چي مني ولگېدل) نو ما به هغه پريولل او هغه به لانده وه چي رسول الله ﷺ به د لمانځه لپاره تشريف يووړ. بخاري او مسلم.

تشريح: دا حديث پر دې خبره دلالت كوي چي مني ناپاكه دي، كه مني پر يو جامې وغيره باندي ولگيږي نو هغه په پريوللو سره پاكول پكار دي، د امام اعظم او امام مالک رحمة الله

---

[1] د نوموړي نوم سليمان بن يسار او كنيت يې ابوايوب دی، نوموړی تابعي دی، د (۵۳) كالو په عمر په كال (۱۰۷هـ) كي وفات سوی دی.

علیهما مذهب دادی ، مگر امام شافعي رحمة الله علیه فرمایي لکه څرنګه چي ګړنګ (د پزي څخه وتونکي مواد) پاک دي همداسي مني هم پاک دي .

﴿۴۵۵﴾: وَعَنِ الْأَسْوَدِ وَهَمَّامٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَفْرُكُ الْمَنِيَّ مِنْ ثَوْبِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه مسلم.وَبِرِوَايَةِ عَلْقَمَةَ وَالْأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ نَحْوَهُ وَفِيْهِ ثُمَّ يُصَلِّيْ فِيْهِ .

حضرت اسود[1] او همام[2] د حضرت عائشي (رض) څخه روایت کوي چي ما به د رسول الله ﷺ د جامو څخه و چ مني ګروول (مسلم) او د عقلمه او اسود د بي بي عائشي په یوه روایت کي دا الفاظ هم دي چي رسول الله ﷺ به په هغه جامو سره لمونځ کاوه .

تشریح : دا حدیث هم د امام اعظم ابو حنیفة رحمة الله علیه د قول سره سم د مني ناپاک کېدل په وضاحت سره ثابتوي څرنګه چي ددې حدیث څخه معلومه سوه، د امام اعظم رحمة الله علیه مذهب هم دادی چي لانده مني پریولل پکار دي او ټینګ مني چي په جامه کي دننه سرایت نه کوي د وچېدو څخه وروسته په ګروولو او موږلو سره پاکول پکار دي .

﴿۴۵۶﴾: وَعَنْ أُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ أَنَّهَا أَتَتْ بِابْنٍ لَهَا صَغِيْرٍ لَمْ يَأْكُلِ الطَّعَامَ إِلَى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَجْلَسَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجْرِهِ فَبَالَ عَلَى ثَوْبِهِ فَدَعَا بِمَاءٍ فَنَضَحَهُ وَلَمْ يَغْسِلْهُ . متفق علیه

د حضرت ام قیس[3] بنت محصن څخه روایت دی چي هغې خپل زوی چي دودی یې لا نه وه خوړلې (یعني تی یې رودی) رسول الله ﷺ ته بوتی رسول الله ﷺ هغه په غېږ کي کښېنوی نو هغه د رسول الله ﷺ پر جامو تشي بولي وکړې رسول الله ﷺ اوبه را وغوښتلې او پر جامو یې و پاشلې او جامه یې نه پریولل . بخاري او مسلم .

تشریح : د امام شافعي رحمة الله علیه مذهب دادی چي شیر خور (تی خوړونکی) ماشوم چي خوراک یې نه وي خوړلې که چیري پر یو جامه وغیره باندي بولي وکړي نو د هغه د پریوللو ضرورت نسته بلکه پر هغه اوبه پاشل کیږي ، دا حدیث هم په ظاهره د امام شافعي رحمة الله علیه د مذهب تائید کوي مګر د امام ابو حنیفة رحمة الله علیه او امام مالک رحمة الله علیه مذهب دادی چي د ماشوم بولي په هر حال کي پریولل ضروري دي ، په دې حدیث کي د نفح لفظ

---

[1] اسود بن بلال محاربي تابعي دی په کال (۸۴هـ) کي وفات سوی دی .

[2] همام بن حارث نخعي تابعي دی او د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت کوي .

[3] ام قیس د محصن لور او د عکاشفه خور ده ، په پیل کي په مکه مکرمه کي د اسلام په دولت سره مشرف سوې ده .

چي راغلی دی او معنا یې د پاشلو ده ددې معنا دا دواړه حضرات پریولل وايي ، او بیا د حدیث په پای کې الفاظ (لایغسله) یعني رسول الله ﷺ بولي نه پریولې، ددې تاویل دا کوي چي رسول الله ﷺ په ښه موړلو موړلو سره نه پریولل بلکه د ماشوم بولي په معمولي توګه سره پر هغه او به بیولو سره پریولل یې کافي وګڼل، دا دواړه حضرات ددې حدیث مذکوره تاویل ځکه کوي چي نور حدیثونه مثلا (استنزهوا من البول) یعني د بولو څخه پاکي تر لاسه کړئ، څخه دا خبره په صراحت سره ثابتیږي چي د هر یوه بولي پریولل پکار دي .

امام طحطاوي رحمة الله علیه فرمایي چي په دې حدیث کې د نفح څخه مراد پرته د موړلو او نبنتېږلو څخه د اوبو بیول دي .

د دغه حدیث څخه دا معلومه سوه چي د ماشومانو ددعاء او برکت تر لاسه کولو لپاره بزرګانو او اولیاء الله ته بیول مستحب دي او د ماشومانو سره نرمي، تواضع، مینه او د شفقت معامله کول هم مستحب دي .

﴿۴۵۷﴾:وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِذَا دُبِغَ الْإِهَابُ فَقَدْ طَهُرَ . رواه مسلم .

د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چي فرمایل یې : هر کله چي پوست (څرمن) پوخ کړل سي یا په لمر کي وچ کړل سي نو هغه پاك سي . مسلم .

تشریح : پوست د ناپاکۍ او غیره څخه پاکولو ته دباغت (رنګ کړل سوی) وايي، د پوست دباغت پر څو ډوله کیږي یا خو پوست په پوستکو وغیره کي اچولو سره پخیږي ، یا په لمر کي د اېښودو سره هغه وچیږي او که پوست پرته د لمر څخه وچ کړل سي نو هغه ته به دباغت نه وایو ، په هر حال د دباغت په ذریعه پوست د څلورو امامانو په نزد پاکیږي ، اوس فرق یوازې دا دی چي د امام اعظم رحمة الله علیه په نزد د خنزیر او سړي د پوست څخه پرته هر ډول پوست پاکیږي ، مګر د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد د سپي پوست هم نه پاکیږي، البته د سړي او خنیز پوست مستثني دی، ځکه چي د سړي پوست د انسان دعظمت او بزرګي په وجه نه پاکیږي او د خنیز پوست ځکه نه پاکیږي چي هغه نجس عین دی .

﴿۴۵۸﴾: وَ عَنْهُ قَالَ تُصُدِّقَ عَلَى مَوْلَاةٍ لِمَيْمُوْنَةَ بِشَاةٍ فَمَاتَتْ فَمَرَّ بِهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَلاَّ أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا فَدَبَغْتُمُوْهُ فَانْتَفَعْتُمْ

د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه روایت دی چي د بي بي میمونې یوې آزادي سوې مینځي ته یو پسه په صدقه کي ورکړل سو هغه پسه مړ

بِهِ فَقَالُوا إِنَّهَا مَيْتَةٌ فَقَالَ إِنَّمَا حَرُمَ أَكْلُهَا. متفق عليه

سو . رسول الله ﷺ پر هغه خوا تیریدی نو وه یې فرمایل : تاسو به دغه څخه پوست کښلی وای او هغه به مو رنګ کړی وای او ګټه به موځيني اخيستې وای ، خلکو عرض وکړ دا خو مردار دی ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : د دې خوراك حرام دی. بخاري او مسلم .

تشریح : ددغه حدیث څخه معلومه سوه چې مردار (یعني کوم حیوان چې پرته د حلالېدو څخه مړسي) د هغه خوراک حرام دی، او کوم اندامونه چې د ذبح کولو په صورت کې خوړل کېږئ مثلا غوښه وغیره هغه د مړ کېدو وروسته حرامیږي مګر ددې څخه پرته نور شیان مثلا د دباغت (رنګولو)کولو سره پوست، غابن، او ښکر وغیره څخه ګټه اخیستل یعني د هغو رانیول او پلورل، او د هغه په نورو صورتو کې استعمالول جائز دي .

﴿۴۵۹﴾: وَعَنْ سَوْدَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ مَاتَتْ لَنَا شَاةٌ فَدَبَغْنَا مَسْكَهَا ثُمَّ مَا زِلْنَا نَنْبِذُ فِيْهِ حَتّٰى صَارَ شَنًّا . رواه البخاري

د رسول الله ﷺ د زوجې حضرت سودة[1] (رض) څخه روایت دی چې زموږ یو پسه مړ سو موږ د هغه پوست رنګ کړ بیا به مو تل په هغه کې نبیذ (د خرما شیره جوړول تر دې چې هغه پوست زوړ سو . بخاري .

الفصل الثاني

﴿۴۶۰﴾: عَنْ لُبَابَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ قَالَتْ كَانَ الْحُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ فِيْ حِجْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَالَ عَلٰى ثَوْبِهٖ فَقُلْتُ اَلْبَسْ ثَوْبًا وَأَعْطِنِيْ إِزَارَكَ حَتّٰى أَغْسِلَهُ قَالَ إِنَّمَا يُغْسَلُ مِنْ بَوْلِ الْأُنْثٰى وَيُنْضَحُ مِنْ بَوْلِ الذَّكَرِ . رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه . وفي رواية لأبي داود

د حضرت بي بي لبابة[2] بنت حارث څخه روایت دی چې حضرت حسین بن علي د رسول الله ﷺ په غیږ کې وو چې هغه د رسول الله ﷺ پر جامه تشې بولي وکړې ، ما عرض وکړ تاسو بله جامه واغوندئ او لنګ ما ته راکړئ چې زه یې پریولم، رسول الله ﷺ وفرمایل : د انجلۍ د تشو بولو څخه جامه پریولئ او د هلك په تشو بولو یوازي اوبه پاشئ ، احمد ،

[1] ام المؤمنین حضرت بي بي سوده ﷞ د زمعه لور وه ، د اسلام په پیل کي په اسلام مشرفه سوې وه ، په کال (۵۴هـ) په مدینه کي وفات سوه .

[2] د نوموړي نوم لبابه او د حارث لور ده ، کنیت یې ام فضل دی ، د حضرت عباس بن عبد المطلب ښځه ده او د ام المؤمنین بي بي میمونې رضي الله عنها خور ده .

والنسائي عن أبي السمح قال يغسل من بول الجارية ويرش من بول الغلام .

ابوداؤد، ابن ماجه، او د ابوداؤد او نسائي په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د انجلۍ تشي بولي پريولل كيږي او د هلك پر تشو بولو اوبه پاشئ .

تشريح : امام طحاوي رحمة الله عليه فرمايي چي دلته د پاشلو څخه مراد د بولو پر ځاى پرته د موړلو او نښتيړلو څخه د اوبو بيول دي، او د پريوللو څخه مراد په مبالغې سره پريولل دي، د بي بي عائشې رضي الله عنها روايت دی چي يو ماشوم د رسول الله ﷺ په خدمت كي راوستل سو او هغه د رسول الله ﷺ پر جامو تشي بولي وكړې، رسول الله ﷺ وفرمايل : پر دې اوبه ونبوئ، نو د دې څخه معلومه سوه چي د هلک د بولو هم د پريوللو حكم دی ، فرق يوازي دومره دی چي د هلك پر بولو يوازي اوبه پاشل كافي دي يعني د هغه د موړلو او نستيړلو ضرورت نسته، ځكه د هلكانو بولي د سوري د تنګوالي په وجه زياتي نه خپريږي او د انجونو بولي د سوري په وجه زياتي خپريږي ځكه نو د انجونو بولي په ښه ډول پريولل پكار دي .

﴿۴۶۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَطِئَ أَحَدُكُمْ بِنَعْلِهِ الْأَذٰى فَإِنَّ التُّرَابَ لَهُ طُهُوْرٌ . رواه أبو داود . ولابن ماجه معناه .

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي په تاسو كي د يو چا څپلۍ په مرداري ولړل سي نو بيا به پر مځكه ولاړ سي او خاوره هغه مرداري پاكوي . ابوداؤد او ابن ماجه

تشريح : د مسئلې صورت دادی چي د مثال په توګه يو سړي څپلۍ په پښو كړي پر لار روان دی چي ناڅاپه پر يو ځاى باندي نجاست پروت وو هغه يې پر څپليو ولګيدی ، نو اوس به هغه پر پاكه مځكه ګرځي نو د مځكي په خاورو سره په موړلو سره د هغه څپلۍ پاكيږي، په دې مسئله كي د علما، اختلاف دی ، امام ابوحنيفة رحمة الله عليه او د هغوئ شاګرد امام محمد رحمة الله عليه قول دادی چي په دې حديث كي د نجاست څخه مراد هغه نجاست دی چي وچ وي نو هغه پر پاكه مځكه په موړلو سره هغه څپلۍ يا موزه پاكيږي او كه نجاست وچ نه وي نو بيا په موړلو سره نجاست نه ايسته كيږي .

د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه يو بل شاګرد امام ابويوسف او امام شافعي رحمة الله عليهما فرمايي چي دلته د حديث مراد عام دی ، يعني نجاست كه وچ وي او كه لوند وي هغه په موړلو سره پاكيږي مګر دا د امام شافعي رحمة الله عليه لومړی قول دی ، د هغه نوی مذهب

دادی چي هغه نجاست په هر حال کي په اوبو سره پريولل پکار دي يوازي پر مځکه موږلو سره نه پاکيږي.

په فقه حنفي کي فتوا د امام ابويوسف رحمة الله عليه پر قول ده ، که چيري څپلۍ يا موزې باناندي نجاست ولګيږي که هغه لوند وي او که وچ نو پر مځکه باندي په ښه ډول موږلو سره پاکيږي.

په دې هم پوه سئ چي پر دې مسئله د علماؤ دا اختلاف پر کلک نجاست لکه سوټي وغيره په باره کي دی ځکه چي نری نجاست لکه بولي ، شراب وغيره په باره کي د ټولو په اتفاق سره مذهب دادی چي د هغه پريولل واجب دي.

﴿۴۶۲﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ لَهَا امْرَأَةٌ إِنِّي أُطِيْلُ ذَيْلِيْ وَأَمْشِيْ فِي الْمَكَانِ الْقَذِرِ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطَهِّرُهُ مَا بَعْدَهُ . رواه مالك وأحمد والترمذي وأبو داود والدارمي وقالا المرأة أم ولد لإبراهيم ابن عبد الرحمن بن عوف .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دی چي هغې ته يوې ښځي وويل زما لمن اوږده ده او زه پر ناپاك ځای تيريږم، بي بي ام سلمه ورته وويل رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي ددې پسي شی هغه پاکوئ (يعني خاوره يا مځکه) . مالك، احمد، ترمذي، ابوداؤد او دارمي.

تشريح : د پوښتنه کونکي مطلب دا وو چي زما لمن ډيره اوږده ده کله چي زه ګرځم نو هغه پر مځکه کشيږي او کله چي زه پر يو ناپاک ځای تيريږم نو دا خيال مي پيداسي چي شايد لمن ته مي نجاست رسيدلی وي ، نو په دې باره کي څه حکم دی؟ د دې په جواب کي ام سلمة رضي الله عنها د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کړ چي د هغه مطلب دادی چي پر ناپاک ځای باندي په تيريدو سره هر کله چي لمن ته نجاست ورسيږي نو وروسته پر پاک ځای باندي په تلو سره هغه نجاست پر مځکه لګيدو سره ايسته کيږي چي په هغه سره جامه پاکيږي . دا حکم د وچ نجاست په اړه د خاص کولو وجه داده چي علماء پر دې اجماع او اتفاق دي چي که چيري جامه ناپاکه سي نو هغه د پريوللو څخه پرته نه پاکيږي ، پر خلاف د څپليو ، د تابعينو د يو ډلي دا قول دی که پر څپلۍ وغيره په نجاست لګيدو سره ناپاکه سي نو د هغه پاکي پر پاکه مځکه باندي موږلو سره پاکيدای سي که څه هم هغه نجاست لوند وي، څرنګه چي اوس ددې څخه مخکي د حديث په شرح کي د امام شافعي او امام ابويوسف رحمة الله عليهما مذهب بيان سوی دی. والله اعلم.

﴿۴۶۳﴾: وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيْ كَرِبَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لُبْسِ جُلُوْدِ السِّبَاعِ وَالرُّكُوْبِ عَلَيْهَا . رواه أبو داود والنسائي .

د حضرت مقدام بن معدي كرب څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ منعه فرمايلي د درندګانو د پوست اغوستلو څخه او پر هغو د سپرېدو څخه يې هم منعه فرمايلي ده . ابوداؤد او نسائي .

تشريح : د دې ارشاد مطلب دادى چي د درندګانو مثلاً زمرى، پړانګ وغيره د پوست څخه جامه جوړول او اغوستل نه دى پكار، او د درندګانو پوست هواررولو سره پر هغه ناسته يا د آس پر ځين اچولو سره پر هغه سپرېدل مناسب نه دي، ددې د استعمال څخه ځكه منعه فرمايل سوې دي چي دا د متكبرينو خلكو او د خاص شتمنو خلكو عادت دى، نو نيكو خلكو ته د هغوئ څخه پرهيز كول پكار دى، په دې صورت كي به دا ويل كيږي چي دا نهي تنزيهي ده مګر د كومو حضراتو په نزد چي د مردار حيوان ويښته نجس وي چي هغه په دباغت (رنګولو) سره هم نه پاكيږي د هغوئ په نزد دا نهي تحريمي ده .

﴿۴۶۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ الْمَلِيْحِ بْنِ أُسَامَةَ عَنْ أَبِيْهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ جُلُوْدِ السِّبَاعِ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي وزاد الترمذي والدارمي أن تفترش .

حضرت ابو مليح بن اسامه د خپل پلار څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د پوست د استعمال څخه منعه فرمايلي ده . احمد، ابوداؤد، نسائي، ترمذي، دارمي، دارمي او ترمذي دا هم ليكلي دي چي رسول الله ﷺ د درندګانو د پوست آوارولو څخه هم منعه فرمايلي ده.

﴿۴۶۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ الْمَلِيْحِ أَنَّهُ كَرِهَ ثَمَنَ جُلُوْدِ السِّبَاعِ . رواه الترمذي في اللباس من جامعه وسنده جيد.

د حضرت ابوملیح څخه روايت دى چي هغه به د درندګانو د پوست قيمت بد ګڼى . ترمذي.

تشريح : د دغه حديث مطلب دادى چي د درندګانو د پوست رانيول او پلورل هم مناسب نه دي ، دابن مالک رحمة الله عليه قول هم دادى او دا مذهب د ابوالمليح هم دى ، په فتاوى قاضي خان كي ليكلي دي چي د ددرندګانو د پوست د دباغت كولو څخه مخكي پلورل باطل دي، د مشكوة په اصله نسخه كي د لفظ رواة څخه وروسته خالى ځاى وو ، مذكوره عبارت وروسته زيات كړل سوى دي .

﴿۴۶۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُكَيْمٍ قَالَ أَتَانَا كِتَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لاَّ تَنْتَفِعُوْا مِنَ الْمَيْتَةِ بِإِهَابٍ وَّلاَ عَصَبٍ . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي وابن ماجه .

د حضرت عبدالله بن عكيم[1] ﷺ څخه روايت دى چي مونږ ته د رسول الله ﷺ ليك راغلى (په هغه كي ليكلي وه) تاسو د مردار د پوست څخه ګټه مه اخلئ او نه د هغه د پلو څخه. ترمذي، ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه.

تشريح : د دې حكم تعلق د هغه پوست او پلو سره دى چي دباغت كړل سوى نه وي ، يعني د دباغت څخه مخكي پوست او پلې په استعمال كي راوستل جائز نه دي، بلكه د پوست او پلو د دباغت كولو څخه وروسته استعمالول او د هغه ګټه تر لاسه كول جائز دي، د اكثرو حديثونو څخه دا ثابته ده او د اكثرو علماؤ مذهب هم دا دى .

﴿۴۶۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ أَنْ يَسْتَمْتَعَ بِجُلُوْدِ الْمَيْتَةِ إِذَا دُبِغَتْ . رواه مالك وأبو داود .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مردار حيوان د پوست څخه هغه وخت ګټه اخيستل كيداى سي چي هغه پوخ كړل سي.

تشريح : تر دې مخكي ددې باب په حديث (۴۵۸) كي په تشريح سره دا ښودل سوې ده چي د دباغت څخه وروسته د مردار حيوان د پوست څخه ګټه اخيستل كيداى سي يعني هغه په استعمال كي راوستل كيداى سي او د هغه رانيول او پلورل هم كيداى سي ، البته په دې مسئله كي د امام مالك رحمة الله عليه دوه روايتونه دي مكر د هغه ظاهري قول دادى چي د مردار پوست د دباغت څخه وروسته پاكيږي خو مكر هغه د وچو شيانو او اوبو اېښودو لپاره استعمالېداى سي ، د اوبو څخه پرته نور نري او بهيدونكي شيانو لپاره نسي استعماليداى .

﴿۴۶۸﴾: وَعَنْ مَيْمُوْنَةَ قَالَتْ مَرَّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِجَالٌ مِّنْ قُرَيْشٍ يَجُرُّوْنَ شَاةً لَّهُمْ مِثْلَ الْحِمَارِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا قَالُوْا إِنَّهَا مَيْتَةٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت ميمونه څخه روايت دى چي د قريشو يو ډلي خپل يو (مړ) پسه دا ډول را كشوئ لكه خر چي را كشول كيږي ، رسول الله ﷺ هغو ته وفرمايل : كاش تاسو ددې څخه پوست وكاږئ ، خلكو ورته وويل : دا خو مردار دى، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اوبه او د

[1] حضرت عبدالله بن عكيم جهني د رسول الله ﷺ زمانه تر لاسه كړې ده، مګر دا خبره د تحقيق څخه ثابته نه ده چي هغه د رسول الله ﷺ د ملاقات شرف تر لاسه كړى دى كه يا.

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطَهِّرُهَا الْمَاءُ وَالْقَرَظُ . رواه أحمد وأبو داود .

كيكر(بانړ) پاڼي دا پاكوي . (يعني په ايشولو سره د مردار شي پوست پاكيږي) . احمد او ابوداؤد .

تشريح : د دباغت كولو څو طريقې دي مګر د كيكر په پاڼو او اوبو سره د دباغت څخه وروسته پوست په ښه ډول پاكيږي، ځكه چي رسول الله ﷺ په خاصه توګه ددې دواړو شيانو ذكر وفرمايه ، نو معلومه سوه چي د پوست د دباغت او طهارت يوازي پر دغه موقوف نه دى بلكه په نورو طريقو سره مثلاً په لمر وغيره سره هم دباغت او طهارت كيږي البته دا به ويل كيږي چي ددې حديث سره سم د كيكر په پاڼو او اوبو سره دباغت كول مستحب دى .

﴿۴۶۹﴾: وَعَنْ سَلَمَةَ ابْنِ الْمُحَبَّقِ قَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ عَلَى بَيْتٍ فَإِذَا قِرْبَةٌ مُعَلَّقَةٌ فَسَأَلَ الْمَاءَ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّهَا مَيْتَةٌ فَقَالَ دِبَاغُهَا طُهُوْرُهَا . رواه أحمد وأبو داود .

د حضرت سلمه بن محبق څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د تبوك په غزا كي يو كور ته تشريف يووړ ناڅاپه رسول الله ﷺ هلته يو زړېدلى ژى وليدى رسول الله ﷺ هغه وغوښتى ، خلكو عرض وكړ اې د الله رسوله ! دا خو د مړه حيوان پوست دى، رسول الله ﷺ وفرمايل : ايشول ددې پاكونكى دى.احمد او ابوداؤد .

الفصل الثالث

﴿۴۷۰﴾: وَعَنِ امْرَأَةٍ مِّنْ بَنِيْ عَبْدِ الْأَشْهَلِ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ لَنَا طَرِيْقًا إِلَى الْمَسْجِدِ مُنْتِنَةً فَكَيْفَ نَفْعَلُ إِذَا مُطِرْنَا فقَالَ أَلَيْسَ بَعْدَهَا طَرِيْقٌ هِيَ أَطْيَبُ مِنْهَا قَالَتْ بَلَى قَالَ فَهٰذِهِ بِهٰذِهِ . رواه أبو داود

د بنو عبدالاشهل د يوې ښځي څخه روايت دى چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وكړ اې دالله رسوله ! د مسجد په لور چي كومه لار ده هغه مرداره ده هر كله چي پر موږ باران اوريږي نو موږ څه وكړو ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا ددې څخه پرته بله پاكه لار نسته ؟ ما عرض وكړ چي هو، سته، رسول الله ﷺ وفرمايل نو دا پاكه لار د مرداري لاري په بدل كي ده . ابوداؤد .

تشريح : د دې باب په حديث نمبر (۴۶۲) په تشريح كي ددې مسئلې وضاحت سوى دى ، دلته هم ددې ارشاد مطلب دادى چي په چټلي او ناپاكي لاره سره چي كوم نجاست لګيږي هغه پر پاكه لاره باندي په تلو سره د ځمكي سره پر موږلو باندي پاكيږي او دلته هم دا مقصد دى چي د رسول الله ﷺ د دغه ارشاد تعلق د ټينګ او كلك نجاست سره دى كه دخوشايي وغيره په ډول يو

نجاست څپلیو او موزې سره ولګیږي نو هغه په دغه طریقه سره پاکیږي ، او که د بولو وغیره په ډول نجاست څپلیو، موزې، جامې یا د بدن یو برخي سره ولګیږي نو هغه په هر حال کي په پریوللو سره پاکیږي ، همداسي د موزو او څپلیو څخه پرته که پر جامه باندي کلک نجاست ولګیږي نو پرته د پریوللو څخه جامه نه پاکیږي .

﴿۴۷۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كُنَّا نُصَلِّيْ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلاَ نَتَوَضَّأُ مِنَ الْمَوْطِئِ . رواه الترمذي .

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره لمونځ کاوه او د لوڅو پښو ګرځېدو وروسته به مو اودس نه کاوه. ترمذي.

تشریح : مطلب دادی چي موږ د لمانځه کولو لپاره د سرای څخه د اودس کولو لپاره تلو او مسجد ته په راتلو کي د لوڅي پښې په وجه پر پښو باندي یا څپلیو او موزو باندي چي نجاست لګیدلی وو هغه به پریولی .

ددې ارشاد په اړه به دا وویل سي چي ددې تعلق د وچ نجاست سره دی ، که وچ نجاست مثلا خوشایي وغیره پر پښو باندي یا څپلیو او موزو باندي ولګیږي نو د هغه د پریوللو ضرورت به نه وو ځکه چي پر پاکه مځکه باندي په تلو سره چي کوم ګرد او غبار پر پښو لګیدی نو هغه به نجاست پریولی ، لوند نجاست مثلا بولي وغیره په اړه دا مخکي هم ښودل سوي دي که دا ډول نجاست پر پښو غیره باندي ولګیږي نو د ټولو علماؤ په نزد دا متفق علیه مسئله ده چي هغه دي پریولل سي.

﴿۴۷۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَتِ الْكِلاَبُ تُقْبِلُ وَتُدْبِرُ فِي الْمَسْجِدِ فِيْ زَمَانِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَكُوْنُوْا يَرُشُّوْنَ شَيْئًا مِّنْ ذٰلِكَ . رواه البخاري

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي به سپیان مسجد ته دننه تلل او راتلل، او د هغوئ د تګ راتګ له کبله صحابه کرامو مسجد نه پریولی. بخاري.

تشریح : د اسلام په پیل کي په مسجدونو کي دروازې نه وې چي د هغه په وجه به سپیان مسجد ته دننه تلل او راتلل د هغوئ پښې به وچي وې ځکه د هغه شی د پریوللو ضرورت نه وو هر کله چي په مسجد کي دروازې لګیدل پیل سول نو ددې احتیاط هم پیل سو .

﴿۴۷۳﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ بَأْسَ بِبَوْلِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ .

د حضرت براء ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د کوم حیوان غوښه چي خوړل

وفي رواية جابر قَالَ مَا أُكِلَ لَحْمُهُ فَلاَ بَأْسَ بِبَوْلِهِ . رواه أحمد والدارقطني .

کيږي د هغه د بولو هيڅ پروا نسته او د جابر په يوه روايت کي دا الفاظ دي هغه حيوان چي د هغه غوښه خوړل کيږي د هغه د بولو څخه هيڅ پروا نسته . احمد او دار قطني.

تشريح : د دغه حديث د ظاهري الفاظو څخه د اما مالک، اما م احمد ، امام محمد او ځينو شوافع حضراتو (رحمة الله عليهم) دا مسئله اخستې ده چي د کومو حيوانانو غوښه خوړل کيږي د هغوئ بولي پاکي دي مګر د امام اعظم رحمة الله عليه ، امام ابويوسف رحمة الله عليه او د ټولو علماؤ په نزد هغه نجس دي، دا حضرات وايي چي ددې حديث په مقابله کي يو عام حديث وارد دی چي (استنزهوا من البول فانه عامة عذاب القبر منه) يعني د بولو څخه پاکي تر لاسه کړئ ځکه چي د قبر عذاب اکثر په دې سره کيږي ، نو ددې حديث د عام والي په وجه ناپاکې او نجس ثابتيږي ځکه د احتياط غوښتنه داده چي د کومو حيوانانو غوښه خوړل کيږي نو د هغه بولو ته دي هم ناپاک وويل سي .

بَابُ الْمسح عَلَى الْخُفَّيْن

(پر موزو باندي د مسحي کولو بيان)

پر موزو باندي د مسحي کولو جواز د سنت او آثار مشهوره څخه ثابت دی بلکه د حديث د حافظانو يو ډلي ددې صراحت کړی دی چي پر موزو باندې د مسحه کولو په اړه منقول حديث تواتر دي او ځيني محدثين ددې حديث د راوي صحابه کرامو شمير هم جمع کړی دی چي تر اتيا زيات صحابه کرامو دا حديث روايت کوي چي په هغو کي عشره مبشره هم شامل دي .

علامه ابن عبدالبر رحمة الله عليه وايي ما ته نه ده معلومه چي په علماء سلف کي چا ددې څخه انکار کړی وي ، او حسن بصري رحمة الله عليه فرمايي ما اويا صحابه کرام پر دې مسئله باندي عقيده لرونکي ليدلي دي، امام کرخي رحمة الله عليه فرمايي کوم سړی چي پر موزو باندي مسحه نه کوي يعني دا جائز نه ګڼي نو ما ته د هغه د کافر کېدو بيره ده ځکه چي ددې په جواز کي چي کوم حديثونه منقول دي هغه حد تواتر ته رسيدلي دي .

د امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه ارشاد دی چي زه پر موزو د مسحه کولو تر هغه وخته پوري قائل نه سوم تر څو پوري چي ددې پر جواز مشتمل حديثونه د لمر د رڼا په ډول ما ته را ونه رسيدل ، د هغه اقوالو او ارشاداتو څخه دا خبره واضحه سوه چي پر موزو باندي مسحه کول

جائز دي ددې په جواز کي هيڅ شک او هيڅ خبره نسته.

اوس تر دې وروسته په دې هم پوه سئ چي پر موزو باندي مسحه کول رخصت يعني آساني ده او پښې پريولل عظيمت يعني غوره دي، په هدايه کي ليکلي دي چي کوم سړی پر موزو باندي د مسحه کولو عقيده نه لري هغه بدعتي دی مګر کوم سړی چي په دې اړه عقيده خو لري مګر پر عظيمت يعني غوره باندي د عمل کولو په وجه پر موزو باندي مسحه نه کوي نو هغه په ثواب نازول کيږي، په مواهب لدينه کي منقول دي چي د علماء په نزد په دې کي اختلاف دی چي ايا پر موزو باندي مسحه کول افضل دي يا د هغه په کښلو سره د پښو پريولل افضل دي، د ځينو حضراتو رايه داده چي پر موزو باندي مسحه کول افضل دي ځکه چي په دې سره داهل بدعت يعني روافض او خوارج رد کيږي چي په دې مسئله کي طعن او تشنيع کوي، د امام احمد رحمة الله عليه مختار مذهب دادی او امام نووي رحمة الله عليه ويلي دي چي زموږ د علماؤ يعني د شوافع مذهب دادی چي پښې پريولل غوره دي، ځکه چي اصل دادی چي پر موزو باندي مسحه کول بالکل پرېښودل سي، صاحب د سفر السعادة فرمايي چي رسول الله ﷺ ته په دواړو کي څه تکليف نه وو يعني که موزې به يې په پښو کړي وي نو د پريوللو لپاره به يې هغه نه کښلې او که موزه به يې نه وه په پښه نو د مسحه کولو لپاره به يې هغه نه په پښو کولې.

په دې باره کي د علماؤ اختلاف دی مګر غوره او صحيح طريقه داده چي هر سړي ته پکار ده چي هغه په دې مسئله د سنت سره سم او موافق عمل وکړي. يعني د رسول الله ﷺ چي کوم تعامل ذکر سوی دی هغسي ټول مسلمانان په بې تکلفۍ سره پر هغه عمل وکړي.

---

[1] د شريعت پر اسلامي مسائلو او جزياتو باندي نظر لرونکي پوهيږي چي اسلام د خپل منونکو لپاره څومره آسانتياوي پيدا کړي دي دا حقيقت دی چي اسلام او د پيغمبر اسلام ﷺ دا بې پايه شفقت او محبت دی چي عالمګير او تر ټولو ريښتوني مذهب د انسان د عين فطرت مزاج جوړول دي، قدم پر قدم باندي داسي مسائلو سره واسطه لويږي چي په هغه کي اسلام او شارع اسلام امت ته ډيري آسانتياوي ورکړي دي چي د هغه پرته يقينا مسلمان په مشکلاتو او تکليفونو کي اخته کيږي ځکه چي پر سخت موقعو باندي مثلا د يخ په موسم کي د اودس کولو په وخت کي تر ټولو زيات تکليف په پښو پريوللو کي وي مګر شريعت ددې سختۍ او تکليف په وجه پر موزو باندي مسحه کول جائز ګرځولو سره پر امت باندي عظيم احسان کړی دی.

الفصل الاول

﴿۴۷۴﴾: عَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ قَالَ سَأَلْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ عَنِ الْمسحه عَلَى الْخُفَّيْنِ فَقَالَ جَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ لِلْمُسَافِرِ وَيَوْمًا وَلَيْلَةً لِلْمُقِيمِ . رواه مسلم

د حضرت شریح بن هانئ ﷛ څخه روایت دی چي ما د حضرت علي ﷛ څخه پر موزو د مسحه په اړه پوښتنه وکړه ، حضرت علي ﷛ وویل رسول الله ﷺ (پر موزو د مسحه) وخت ټاکلی دی ، د مسافر لپاره درې ورځي او درې شپې او د مقیم لپاره یوه ورځ او شپه . مسلم

تشریح : د مسافر لپاره پر موزو د مسحه کولو وخت درې ورځي او درې شپې دی، یعني هغه تر درو ورځو او شپو پورې د اوداسه پر وخت پر خپلو موزو باندې مسحه کولای سي او د مقیم لپاره د مسحه کولو وخت یوه ورځ او یوه شپه ده یعني هغه تر یوې ورځي او یوې شپې پورې پر خپلو موزو باندې مسحه کولای سي، ددغه موزو پیل به د جمهور علماؤ په نزد د هغه وخت څخه وي کله چي اودس مات سي ، د مثال په توګه یو مقیم سړي په غرمه کي د اودس کولو څخه وروسته موزې په پښو کړې او ماښام ته د هغه اودس مات سو نو د مسحه د وخت پیل به د هغه د ماښام څخه وي یعني هغه د راتلونکي ورځي تر ماښام پورې پر خپلو موزو باندې مسحه کولای سي .

﴿۴۷۵﴾: وَعَنِ الْمُغِيرَةَ ابْنِ شُعْبَةَ أَنَّهُ غَزَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ تَبُوكَ قَالَ الْمُغِيرَةُ فَتَبَرَّزَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ الْغَائِطِ فَحَمَلْتُ مَعَهُ إِدَاوَةً قَبْلَ الْفَجْرِ فَلَمَّا رَجَعَ اَخَذْتُ أُهَرِيقُ عَلَى يَدَيْهِ مِنَ الْإِدَاوَةِ فَغَسَلَ يَدَيْهِ وَ وَجْهَهُ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ مِنْ صُوفٍ ذَهَبَ يَحْسِرُ عَنْ ذِرَاعَيْهِ فَضَاقَ كُمُّ الْجُبَّةِ فَأَخْرَجَ يَدَيْهِ مِنْ تَحْتِ الْجُبَّةِ وَأَلْقَى الْجُبَّةَ عَلَى مَنْكِبَيْهِ وَغَسَلَ ذِرَاعَيْهِ ثُمَّ مسحه بِنَاصِيَتِهِ وَعَلَى الْعِمَامَةِ ثُمَّ اَهْوَيْتُ لِأَنْزِعَ خُفَّيْهِ فَقَالَ دَعْهُمَا فَإِنِّي اَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ فَمسحه

د حضرت مغیرة بن شعبة ﷛ څخه روایت دی چي دی د رسول الله ﷺ سره د تبوک په غزا کي ملګری وو، د سهار څخه مخکي رسول الله ﷺ د حاجت لپاره ولاړی ما د رسول الله ﷺ لپاره د اوبو پتک یووړ کوم وخت چي رسول الله ﷺ راستون سو نو ما د رسول الله ﷺ په لاسو کي د پتک څخه اوبه اچول پیل کړل. رسول الله ﷺ دواړه لاسونه او مخ پریولل دا وخت رسول الله ﷺ د وړې چپنه اغوستې وه رسول الله ﷺ د چپني لستوني را ونغښتل او لاسونه یې را ایستل غوښتل مګر لستوني تنګ وه پورته نه سول، رسول الله ﷺ د

عَلَيْهِمَا ثُمَّ رَكِبَ وَرَكِبْتُ فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَوْمِ وَقَدْ قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ وَ يُصَلِّي بِهِمْ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ وَقَدْ رَكَعَ بِهِمْ رَكْعَةً فَلَمَّا أَحَسَّ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَهَبَ يَتَأَخَّرُ فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ فَأَدْرَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِحْدَى الرَّكْعَتَيْنِ مَعَهُ فَلَمَّا سَلَّمَ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقُمْتُ مَعَهُ فَرَكَعْنَا الرَّكْعَةَ الَّتِي سَبَقَتْنَا. رواه مسلم.

چیني څخه لاسونه را وایستل ا و چپنه یې پر اوږو واچول او لاسونه یې تر څنګلو پورې پریولل بیا رسول الله ﷺ پر تندي او لنګوټې مسحه وکړل ما و غوښتل چې د رسول الله ﷺ د پښو مبارکو موزې وکاږم چې رسول الله ﷺ پښې پریولي، رسول الله ﷺ وفرمایل : موزې پریږده ځکه چې ما د اودس کولو څخه وروسته دا په پښو کړې دي ، رسول الله ﷺ پر دواړو موزو مسحه وکړه بیا سپور سو او زه هم سپور سوم او موږ یو مسجد ته ورسیدلو هغه خلکو دا وخت لمانځ کاوه او عبدالرحمن بن عوف هغو ته لمونځ ورکاوه هغو یو رکعت کړی وو هر کله چې هغه ته محسوسه سوه چې رسول الله ﷺ تشریف راوړ نو اراده یې وکړه چې را شا ته سي مګر رسول الله ﷺ پر ځای د قائم پاته کېدو اشاره ورته وکړه او رسول الله ﷺ په هغه پسي یو رکعت لمونځ وکړ بیا چې هغه سلام وګرزوی نو نبي کریم ﷺ ودرېدی او زه هم د رسول الله ﷺ سره ولاړ سوم او کوم رکعتونه چې تیر سوي وه هغه مو پوره کړل . مسلم.

تشریح : راوي د رسول الله ﷺ د اوداسه ذکر کړی دی مګر د خولې پریوللو او په پزه کي د اوبو اچولو ذکر یې نه دی کړی ، ددې وجه داده چې دا خو د راوي له خوا اختصار وو ځکه هغه ددغه دواړو شیانو ذکر کول ضروري ونه ګڼل یا دا چې د راوي څخه ددې ذکر کول هیر سوي دي یا په دې وجه یې ذکر ونه کړ چې دا دواړه شیان هم د مخ په حد کي راځي یوازې د مخ پریوللو ذکر یې کافي وګڼی .

پر لنګوټې د مسحې کولو معنی داده چې رسول الله ﷺ د سر پر څلورمه برخه باندې د مسحې کولو څخه وروسته پر ټول سر باندې د مسحې کولو پر ځای پر لنګوټې باندې مسحه وکړه چې پر ټول سر باندې د مسحې کولو سنت ادا سي ، ددې وضاحت په باب الوضوء کي هم سوی دی . (وګورئ حدیث نمبر ۳۶۷) . په هر حال ددغه حدیث څخه پنځه شیان ثابتیږي :

۱. رسول الله ﷺ د سهار څخه مخکي د قضاء حاجت لپاره تشریف یووړ ، ددې څخه دا ثابته سوه چې د عبادت مثلا د لمانځه وغیره د وخت پیل کېدو څخه مخکي د هغه عبادت لپاره تیاري کول مستحب دي .

۲. مغیره بن شعبة ﷺ د اوداسه پر وخت د رسول الله ﷺ د اوداسه پر اندامونو اوبه واچولې، ددې څخه معلومه سوه که دوهم سړی اودس ور وکړي نو جائز ده.

۳. کله چي رسول الله ﷺ د قضاء حاجت او اودس کولو څخه د فارغېدو سره تشریف راوړ نو عبدالرحمن بن عوف ﷺ خلکو ته لمونځ ورکوی، هر کله چي هغه د آدب په وجه تر شا کېدل وغوښتل چي رسول الله ﷺ امامت وکړي نو رسول الله ﷺ هغه منعه کړ او خپله یې هم آخري رکعت د هغه په اقتداء کي وکړ، ددې څخه معلومه سوه که یو افضل سړی په لمانځه کي د ځان څخه په کم درجې والا سړي پسي اقتدا وکړي نو جائز ده او دا هم ثابته سوه چي د لمانځه لپاره د امام لپاره معصوم (د ګناه څخه پاک) کېدل شرط نه دي، په دې سره د امامیه ډلي رد کیږي چي هغوئ وایي چي د امام معصوم کېدل شرط دي.

۴. د حدیث د آخري الفاظو څخه دا ثابته سوه چي د کوم سړي یو رکعت د امام سره پاته سي نو د هغه د ادا کولو لپاره هغه وخت درېدل پکار دي کله چي امام سلام وګرځوي، د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد د تللي رکعت رکعت ادا کولو لپاره د امام سلام ګرځولو څخه مخکي ولاړېدل جائز نه دي او د حنفیه علماؤ په نزد د سلام ګرځولو څخه مخکي ولاړېدل مکروه تحریمي دي مګر په دې صورت کي هر کله چي دا بیره وي که د امام د سلام انتظار وکړل سي نو لمونځ به فاسد سي نو مخکي هم ولاړېدل جائز دي، مثلا د سهار په لمانځه کي امام یو رکعت مخکي کړی وو یو سړی په دوهم رکعت کي راغلی او ګډون یې وکړ اوس هغه ته یو رکعت وروسته ادا کول پکار دي مګر صورت حال دادی که د امام سره د سلام ګرځولو انتظار کوي نو هغه ته بیره وي چي لمر به راوخیږي چي د هغه په نتیجه کي به لمونځ فاسد سي نو د هغه لپاره به دا جائز وي چي هغه د امام د سلام ګرځولو څخه مخکي ولاړ سي او لمونځ پوره کړي، ددې وضاحت د فقه په کتابونو کي په ښه ډول سره سوی دی ددې تفصیل هلته وګورئ.

۵. د دې حدیث څخه معلومه سوه چي د جماعت پر وخت که امام موجود نه وي او د هغه په راتلو کي زنډ کیږي او دا هم معلومه نه وي چي هغه کله راځي نو دا مستحب ده چي د امام انتظار ونه کړل سي بلکه یو دوهم سړی دي لمونځ ورکول پیل کړي او که د امام ځای مسجد ته نژدې وي نو هغه د جماعت پر وخت کېدو خبرول مستحب دي.

الفصل الثاني

﴿۴۷۶﴾: عَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ رَخَّصَ لِلْمُسَافِرِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ وَلِلْمُقِيْمِ يَوْمًا وَّلَيْلَةً إِذَا تَطَهَّرَ فَلَبِسَ خُفَّيْهِ أَنْ يَّمسحهِ عَلَيْهِمَا. رواه الأثرم في سننه وابن خزيمة والدارقطني وقال الخطابي هو صحيح الإسناد هكذا في المنتقى

حضرت ابوبكرة د رسول الله ﷺ څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ درې ورځي او درې شپې مسافر او يوه ورځ او شپه مقيم ته اجازه وركړې ده چي اودس وكړي او موزې يې په پښه كړي وي نو پر دواړو موزو دي مسحه وكړل سي.

﴿۴۷۷﴾: وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا إِذَا كُنَّا سَفَرًا أَنْ لَّا نَنْزِعَ خِفَافَنَا ثَلٰثَةَ أَيَّامٍ وَّلَيَالِيَهُنَّ إِلَّا مِنْ جَنَابَةٍ وَّلٰكِنْ مِّنْ غَائِطٍ وَّ بَوْلٍ وَّ نَوْمٍ . رواه الترمذي والنسائي .

د حضرت صفوان بن عسال ﷜ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په سفر كي موږ ته حكم كاوه چي تردرو ورځو او درو شپو پوري خپلي موزې د پښو څخه مه كاږئ پرته د دې څخه چي ناپاكه سئ او غسل در باندي واجب سي مگر د تشو بولو، ډكو بولو او خوب څخه وروسته د موزو كښلو ضرورت نسته. ترمذي او نسائي.

تشريح : مطلب دادی چي د خوب څخه د را پورته كېدو يا د تشو او ډكو بولو كولو څخه وروسته د اوداسه كولو په صورت كي تر هغه وخته پوري چي د مسافر يا مقيم لپاره دی د پښو پريوللو لپاره موزې كښل نه دي پكار بلكه پر موزو باندي مسحه كول پكار دي او د جنابت په حالت كي يعني هر كله چي غسل واجب سي نو د غسل كولو لپاره موزې كښل ضروري دي ځكه چي په دغه حالت كي پر موزو باندي مسحه كول صحيح نه ده.

﴿۴۷۸﴾: وَعَنِ الْمُغِيْرَةَ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ وَضَّأْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ فَسحه أَعْلَى الْخُفِّ وَأَسْفَلَهُ . رواه أبو داود والترمذي وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث معلول وسألت أبا زرعة ومحمدا يعني البخاري عن هذا الحديث فقالا ليس بصحيح . وكذا ضعفه أبو داود .

د حضرت مغيرة بن شعبة څخه روايت دی چي د تبوك د غزا په ورځ ما رسول الله ﷺ ته د اوداسه لپاره اوبه وراچولې رسول الله ﷺ د موزو سربيره او لاندي مسحه وكړل، ابوداؤد ،ترمذي، ابن ماجه، ترمذي ويلي دي دا حديث معلول دی او ما د ابوذرعه او محمد يعني بخاري څخه ددې حديث حال معلوم كړ نو هغه وويل صحيح نه دی او داسي ابوداؤد هم دې ته ضعيف ويلي دي.

تشریح : د امام مالک رحمة الله عليه او امام شافعي رحمة الله عليه په نزد پر پشت قدم (سربېره برخه) یعني د موزو سربيره مسحه کول واجب ده او د موزو پر لاندي برخه (تلیان) باندي مسحه کول سنت ده ، مګر د امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله عليه مذهب دادی چي مسحه دي یوازي پر پشت قدم یعني د موزو پر سربیره برخه وکړل سي ، دا دواړه حضرات وايي چي دا حدیث چي د هغه څخه د موزو دواړو خواوو ته د مسحه کولو اثبات کیږي خپله د صحت معیار ته نه دی رسیدلی ځکه چي علماء ددې په صحت کي کلام کړی دی ، داسي حدیثونه ډیر زیات منقول دي چي ددې حدیث بالکل برعکس دي او د هغه څخه دا معلومیږي چي مسحه دي یوازي پر پشت قدم باندي وکړل سي نو عمل به پر هغه حدیث کیږي ، د محدثینو په اصطلاح کي حدیث معلول هغه حدیث ته وایي چي په هغه کي داسي سبب پټ وي چي ددې خبري تقاضا کوي چي ددې حدیث سره سم دي عمل ونه کړل سي .

د دغه حدیث د ضعیف کېدو دوې وجهي دي: لومړی خو دا چي مغیره رضي الله عنه پوري ددې حدیث رسول ثابت نه دي بلکه د هغه سند تر بولاو پوري چي د مغیره مولی او کاتب وو رسیږي ، دوهمه خبره داده چي دا حدیث ثور ابن یزید د رجاء ابن حیوة څخه روایت کړی دی او رجاء ابن حیوة د حضرت مغیره د کاتب څخه روایت کړی دی حال دا چي د رجاء څخه د ثور اوریدل ثابت نه دي بلکه تر ټولو لویه وجه داده چي ددې مضمون کوم حدیث (۴۷۵) چي د حضرت مغیره څخه په مختلفو سندونو سره منقول دی او معیار صحت ته رسیدلی دی په هغه کي مطلقا ددې خبري ذکر سوی دی چي رسول الله ﷺ پر موزو باندي مسحه کړې وه ، سربیره او لاندي د مسحه کولو وضاحت منقول نه دی ، بیا د مغیره رضي الله عنه یو بل روایت هم دی چي ددې وروسته راځي په هغه کي هم په وضاحت سره منقول دي چي رسول الله ﷺ پر موزو سربیره مسحه وکړه ، نو معلومه سوه چي په دې حدیث کي اضطراب دی او دا هغه اسباب دي چي د هغه په وجه دغه حدیث ته ضعیف ویل کیږي .

﴿۴۷۹﴾: وَعَنْهُ اَنَّهُ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمسحه عَلَى الْخُفَّيْنِ عَلَى ظَاهِرِهِمَا . رواه الترمذي وأبو داود .	د حضرت مغیره بن شعبه رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ولیدی چي د موزو سربیره یې مسحه وکړل . ترمذي او ابوداؤد .

تشریح : پر موزو د مسحه کولو طریقه داده چي د راسته لاس ګوتي د راسته لاس پر پنجه ، د چپه لاس ګوتي د چپه پښې پر پنجه کښېښودل سي بیا هغه په راکشولو سره د بجلکو تر سربیره

برخي پوري راوستل سي ، دلته دا خيال بايد وي چي ګوتي خلاصي کښېښودل سي او يو ځای نه کړل سي ، پر موزو باندي د مسحه کولو سنت طريقه خو داده او که يو چا په يوې ګوتي سره داسي مسحه وکړه چي هر وار تازه اوبه اخلي او هر وار يې پر نوري ځای راکشوي نو مسحه به جائز وي او که داسي نه وي نو بيا جائز نه ده، ددې څخه پرته نوري ډيري طريقې د فقه په کتابونو کي ليکل سوي دي ، د تفصيل لپاره هلته مراجعه کيدای سي .

﴿۴۸۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ تَوَضَّأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمسحه عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ وَالنَّعْلَيْنِ . رواه أحمد والترمذي وأبو داود وابن ماجه .

د حضرت مغيره بن شعبه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ اودس وکړ او پر جورابو او څپليو باندي يې مسحه وکړه . احمد ، ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه .

تشريح : په قاموس کي ليکلي دي چي (جورب) د پښې لفافې ته وايي لکه څرنګه چي زموږ په نزد جوراب يا موزه ته ويل کيږي ، ددې څو ډولونه دي ، ددې تفصيل په چلپي کي په ډير وضاحت سره مذکور دی دلته د هغه ځيني احکام او مسائل ليکل کيږي .

په حنفي مذهب کي پر جوربين يعني موزو باندي مسحه هغه وخت صحيح کيږي هر کله چي هغه مجلد وي يعني پر هغه سربيره پوست لګيدلی وي يا منعل وي يعني يوازي لاندي يې پوست وي او ثخنين وي ، ثخنين هغه موزو ته وايي چي د هغه په پښو کولو سره يو فرسخ[1] تللای سي)، او هغه پرته د تړلو څخه پر پنډۍ باندي لګيدلي وي او نه د هغه دننه برخه معلوميږي او نه د هغه دننه اوبه تللای سي، د چلپي د عبارت څخه دا هم معلوميږي که چيري جوربين منعلين بغير ثخنين وي نو پر هغه به مسحه جائز نه وي نو پر منعلين باندي به هغه وخت مسحه جائز وي هر کله چي ثخنين (ټينګي) هم وي، د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد پر جورابو باندي مسحه صحيح نه ده که څه هم هغه منعل وي، ځکه دا حديث د حنفيه د لوري پر هغوئ حجت دی چي د هغه څخه دا ثابتيږي چي رسول الله ﷺ پر جورابو باندي مسحه فرمايلې ده او حضرت علي ؓ ، ابن مسعود ؓ انس بن مالک ؓ او د حضرت عمر ابن خطاب ؓ په اړه هم منقول دي چي هغو پر هغه مسحه کړې ده ، د حديث په پای کي دا فرمايل سوي دي چي رسول الله ﷺ د نعلين سره پر جوربين باندي هم مسحه وکړه نو دلته د نعلين د مفهوم په تعين کي احتمال دی اول خو دا چي ددې څخه څپلۍ مراد دي يعني رسول الله ﷺ پر جورابو باندي د

[1] - فرسخ تقريبا پاو کم څلور ميله فاصلې ته وايي

څپلیو سره مسحه وکړه، په عربو کي هغه وخت داسي څپلۍ استعمالیدې چي بالکل د چمپل په ډول به وې او پر هغو به داسي تسمه لګیدلې وه چي د هغه په پښو کولو څخه وروسته د پښې پورته برخه به خلاصه وه چي د هغه په وجه پر موزو باندي په مسحه کولو کي څه خنډ نه کیدی، او یا ددې څخه مراد دادی چي رسول الله ﷺ پر هغه جوربین باندي مسحه وکړه چي د هغه لاندي پوست لګیدلی وو.

الفصل الثالث

﴿۴۸۱﴾: عَنِ الْمُغِيْرَةَ قَالَ مسحه رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْخُفَّيْنِ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ نَسِيْتَ ؟ قَالَ بَلْ أَنْتَ نَسِيْتَ بِهٰذَا أَمَرَنِيْ رَبِّيْ عَزَّ وَجَلَّ. رواه أحمد وأبو داود.

د حضرت مغیرة ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ پر موزو مسحه وکړل، ما عرض وکړ اې دالله رسوله! ایا ستاسو هیر سول! رسول الله ﷺ وفرمایل: نه، بلکه ستا څخه هیر سول زما رب ما ته ددې حکم راکړی دی. احمد او ابوداؤد.

﴿۴۸۲﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ قَالَ لَوْ كَانَ الدِّيْنُ بِالرَّأْيِ لَكَانَ أَسْفَلُ الْخُفِّ أَوْلَى بِالْمسحه مِنْ أَعْلاَهُ وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمسحه عَلَى ظَاهِرِ خُفَّيْهِ. رواه أبو داود للدارمي مغناه.

د حضرت علي ؓ څخه روایت دی که چیري دین پر رایه باندي وای نو د موزو د سربیره مسحه کولو څخه به د موزو لاندي مسحه کول غوره وای، حال دا چي ما خپله ولیدل چي رسول الله ﷺ به د موزو سربیره مسحه کول. ابوداؤد او دارمي.

تشریح: د حضرت علي ؓ د ارشاد مطلب دادی چي ناپاکي او نجاست د موزو لاندي خوا ته لګیږي ځکه نو د عقل غوښتنه داده چي کومي خوا ته د نجاست او ناپاکۍ لګیدو شبه وي هغه خوا ته د پاکۍ لپاره مسحه هم کول پکار دي مګر په شریعت کي صراحتا دا راغلي دي چي مسحه سربیره خوا ته کول پکار ده ځکه نو اوس عقل ته د دخل ورکولو هیڅ ځای نه دی پاته سوی.

ددې څخه معلومه سوه چي د شریعت په مسائلو او احکامو کي عقل ته دخل ورکول نه دي پکار ځکه چي عقل کامل د شریعت تابع وي چي د الله حکمتونو او د هغه مراد او مفهوم په معلوملو کي عقل مطلقا عاجز دی، نو عاقل ته پکار ده چي هغه هر ډول د شریعت تابع او پابند اوسي، د عقل تابع نه جوړیږي ځکه چي کفار او اکثر فلاسفه او حکماء او اهل هواء او

هوس پر خپل عقل باندي د باور کولو په وجه او د عقل د تابع کېدو په وجه د ګمراهۍ او ضلالت په کنده کي لويدلي دي ، ددې باب دا آخري حديث دی ځکه نو مناسب ده چي ددې په ضمن کي د مسحه سره متعلق مسائل ذکر کړل سي :

١. که چيري موزې په يو ځای کي د درو ګوتو په اندازه څيري سي نو پر هغه مسحه نه صحيح کيږي ، همداسي که موزه لږ لږ څو ځايه په دومره اندازه څيري وي که هغه ټول يو ځای کړل سي نو هغه ددرو ګوتو په اندازه وي نو پر هغه هم مسحه نه صحيح کيږي ، او که دواړي موزې لږ لږ په دومره اندازه څيري وي که هغه جمع کړل سي نو ددرو ګوتو په اندازه وي نو ددې اعتبار نه وي بلکه پر هغه به مسحه صحيح وي .

٢. په کومو شيانو سره چي اودس ماتيږي په هغه سره د موزو مسحه هم ماتيږي .

٣. د بې اودسه کېدو څخه وروسته د موزو په کښلو سره مسحه ماتيږي .

۴. د مسحه د وخت ختمېدو څخه وروسته مسحه ماتيږي په دې شرط چي د يخ په وجه د پښو د ضائع کېدو بيره نه وي مګر که د يخ سختوالی او يا يو ناروغی په وجه دا بيره وي او په کښلو سره به پښه ضائع سي نو د مسحه د وخت ختمېدو څخه وروسته مسحه نه ماتيږي تر څو پوري چي بيره پاته وي مسحه به هم باقي وي .

۵. که د موزو کښلو يا د وخت ختمېدو په وجه مسحه ماته سي او اودس پاته وي نو په داسي صورت کي د نوي اودس کولو ضرورت نسته بلکه يوازي د پښو په پرېوللو سره د موزو په پښو کول به کافي وي .

٦. که د نيمي څخه زياته پښه د موزې څخه دباندي راووځي نو مسحه ماتيږي .

٧. که مقيم مسحه وکړه او د يوې شپې او ورځي تيريدو څخه مخکي مسافر سو نو هغه دي د مسحه لپاره دسفر وخت پوره کړي يعني درې ورځي او درې شپې دي مسحه کوي ، همداسي که مسافر مسحه وکړه او بيا مقيم سو نو هغه ته پکار ده چي د يوې ورځي او يوې شپې څخه وروسته موزې وکاږي ځکه چي د هغه وخت پوره سوی دی .

٨. که يو معذور مثلاً د ماپښين په وخت کي په اودس کولو سره موزې په پښو کړې نو د کوم عذر په وجه چي هغه معذور دی د هغه څخه پرته که په يو دوهم شي سره د هغه اودس مات سي نو د هغه لپاره د مسحه د وخت لپاره پر موزو باندي مسحه کول جائز ده او بيا د مسحه د وخت ختمېدو څخه وروسته به مسحه ماته سي .

بَابُ التَّيَمُّمِ

(د تيمم بيان)

تيمم د اوداسه او غسل قائم مقام (پر ځای) دی ، د تيمم معنى په لغت کي د قصد ده، او دشريعت په اصطلاح کي د تيمم څخه مراد پر پاکه مځکه قصد کول يا د هغه شي قصد کول چي د خاورو قائم مقام وي لکه ډبره، چونه وغيره او د طهارت په نيت سره هغه پر لاس او مخ باندي راتيرول.

په دغه مسئله کي د علماؤ اختلاف دی چي د تيمم لپاره دوه ضربونه (واري وهل) دي او که يو ضرب دی، د امام اعظم، امام ابويوسف، امام محمد، او امام مالک (رحمة الله عليهم) مذهب دادی چي د تيمم لپاره دوه ضربونه دي يعني پر پاکه خاوره يا د هغه قائم مقام مثلا پاکه چونه، ډبره او داسي نورو باندي دوه واره لاس وهل پکار دي، يو ضرب خو د مخ لپاره او دوهم ضرب تر څنګلو پوري د دواړو لاسونو لپاره دی، د امام شافعي رحمة الله عليه هم مختار مذهب دادی او د ځينو حنفيانو هم دا مذهب دی. مګر د امام احمد ابن حنبل رحمة الله عليه مذهب او د امام شافعي رحمة الله عليه پخوانی قول دادی چي د تيمم لپاره يو ضرب دی يعني تيمم کونکي ته پکار ده چي يو وار پر پاکه خاوره وغيره باندي لاس وهلو سره هغه دي پر مخ او لاسونو تر څنګلو پوري راتير کړي، د امام اوزاعي ، عطاء او مکحول رحمة الله عليهم څخه هم دا منقول دي، د دواړو ډلو د مذهب او مسلک په تائيد کي حديثونه منقول دي چي مخته به انشاء الله راسي، او د هغه حسب موقع شرح او وضاحت به هم وسي، دلته مناسب ده چي د تميم په اړه يو څو احکام او هغه صورتونه ذکر کړل سي چي په هغه کي تيمم جائز دی ، تيمم په لاندينيو صورتونو کي جائز کيږي :

۱. دومره اوبه چي د اوداسه او غسل لپاره کافي وي د ځان سره موجود نه وي بلکه يو ميل يا د ميل څخه زياتي ليري وي.

---

[1] تيمم په پنځم هجري کال کي پيل سو ، په قرآن کريم کي ارشاد دی : فَلَمْ تَجِدُواْ مَاء فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُواْ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ .... ، ژباړه : که تاسو اوبه پيدا نه کړئ نو پر پاکه مځکه باندي تيمم وکړي يعني پر خپل مخونو او لاسونو باندي لاس د مځکي په جنس وهلو سره راتير کړئ.

۲. اوبه موجود وي مګر د يو چا امانت وي او يا د چا څخه غصب کړل سوي وي.
۳. د اوبو تر خپل بيه زيات ګرانېدل.
۴. د اوبو د بيي نه موجود کېدل، که څه هم اوبه پور تر لاسه کېدای سي يا نه، د پور اخيستو په صورت کي پر دې قادر وي يا نه وي، مګر که په خپل ملکيت کي مال وي او د يو ټاکلي وخت پر وعده باندي پور تر لاسه کيدای سي نو پوره اخيستل پکار دي.
۵. د اوبو په استعمال سره د يو مرض پيدا کېدو يا زياتېدو بيره وي يا دا بيره وي که اوبه استعمال کړل سي نو په روغتيا کي به زنډ وسي.
۶. يخ دومره سخت وي چي د اوبو په استعمال سره د يو اندام د ضائع کېدو يا د يو ناروغۍ پيدا کېدو بيره وي او ګرمي اوبه پيدا کېدل ممکن نه وي.
۷. د دښمن يا درنده بيره وي مثلا اوبه په داسي ځای کي وي چي هلته درنده وغيره راځي يا موجود وي، يا په لاره کي د غلو بيره وي، يا د يو چا پور پر باندي وي او يا د يو چا سره يې دښمني وي او دا خيال يې وي که د اوبو اخيستلو لپاره ورسم نو پوروړی يا دښمن به يې ونيسي او تکليف به ورکړي، يا اوبه د يو بدمعاش او فاسق سره وي او ښځي ته د هغه په تر لاسه کولو کي د بې حرمتۍ بيره وي.
۸. اوبه يې د خوراک او څښاک د ضرورت لپاره اېښي وي که هغه په اودس يا غسل کي مصرف کړي نو په هغه ضرورت کي به نقصان راسي مثلا د اوړو اغښلو لپاره يا د غوښو وغيره پخولو لپاره يې اېښي وي، يا اوبه دومره وي که چيري په اوداسه يا غسل کي مصرف کړل سي نو د تندي بيره به وي که څه هم د خپل تندي يا د بل د تندي يا د يو حيوان د تندي بيره وي، په دې شرط چي يو داسي تدبيره نسي کيدای چي مستعملي اوبه د حيوانانو په کار راسي.
۹. د څاه څخه د اوبو راکښلو شی نه وي او نه يو جامه وي چي هغه په څاه کي اچولو سره لنده کړي او بيا د هغې په نښتيړلو سره طهارت تر لاسه کړي يا اوبه په يو منګي وغيره کي موجود وي او يو شي د اوبو راکښلو لپاره نه وي او نه د منګي په راکښته کولو سره اوبه اخيستل کيدای سي او لاس مردار وي او يو دوهم داسي سړی نه وي چي اوبه راوکاږي يا د هغه لاس پرېولي.
۱۰. د اوبو هيرېدل، مثلا د يو چا سره اوبه سته مګر هغه ځيني هيري سوي دي او د هغه دا خيال

دی چي زما سره او به نسته .

د تیمم کولو سنت او مستحب طریقه داده :

اول دي په بسم الله ویلو سره د تیمم نیت وکړي ، بیا خپل دواړه لاسونه پر داسي خاورو باندي چي هغه ته نجاست نه وي رسیدلی یا د هغه نجاست په پریوللو سره زائل (ایسته) سوی وي د ورغوي د خوا څخه په خلاصولو سره دي ووهي د هغه څخه وروسته د لاسونو په پورته کولو سره دي د هغه خاوره وڅنډي بیا پوره دواړه لاسونه دي پر خپل مخ راتیر کړي چي هیڅ ځای داسي پاته نسي چیري چي لاس ونه رسیږي، بیا دي همداسي دواړه لاسونه دي پر خاورو ووهي او د هغه خاوره دي وڅنډي او د چپه لاس دري ګوتي پرته د کلمې د ګوتي څخه او بتې ګوتي څخه د راسته لاس د ګوتو پر شا اېښودو سره تر څنګلو پوري راتیر کړي داسي چي د راسته لاس ورغوی هم ولګیږي او د څنګلو مسحه هم وسي بیا پاته ګوتي او د لاس ورغوی دوهم جوا ته په اېښودو سره تر ګوتو پوري راتیر کړي همداسي دي د چپه لاس مسحه هم وکړي، د اوداسه او غسل دواړو د تیمم طریقه داده او یو تیمم د دواړو لپاره کافي دی که د دواړو نیت وکړل سي .

د تیمم یو څو احکام۱ او مسائل دادي :

۱. د تیمم پر وخت نیت کول فرض او د نیت صورت دادی چي د کومي بې اودسۍ په وجه تیمم کیږئ د هغه څخهٔ د طهارت نیت دي وکړل سي ، یا د کوم شي لپاره چي تیمم کیږي د هغه نیت دي وکړل سي مثلا د جنازې د لمانځه لپاره تیمم وکړي یا د قرآن کریم د تلاوت لپاره تیمم کوي نو د هغه نیت دي وکړي یا د یو داسي عبادت مقصوده نیّت وکړل سي چي پرته د طهارت څخه نسي کیدای .

۲. د تیمم کولو په وخت کي د تیمم د اندامونو څخه داسي شیان لیري کول فرض دي چي د هغه په وجه خاوره بدن ته نه رسیږي لکه تیل، وازګه او داسي نور ...

۳. د تنګي ګوتمۍ ، غوږوالي او بنګړیانو کښل واجب دي .

۴. که چیري د یو نښي څخه د اوبو نژدې کېدل معلوم سي نو د هغه په لټه پسي سل قدمه خپله یا بل استول واجب دي .

---

۱ دا ټول احکام او مسائل د عبدالشکور لکهنوي د کتاب څخه را اخیستل سوي دي .

۵. كه د يو بل ځا سره اوبه وي او د هغه ځخه اميد لري چي اوبه به ورکړي نو د هغه ځخه
۶. غوښتل واجب دي.
۷. په ترتيب سره تيمم کول سنت دی په کوم ترتيب چي رسول الله ﷺ تيمم کړی دی، يعني اول د مخ مسحه او بيا د دواړو لاسونو مسحه.
۸. د مخ د مسحه کولو وروسته د ږيري خلالول سنت دي.
۹. د ځا چي تر آخري وخته پوري د اوبو پيدا کېدو غالب ګمان وي نو هغه ته د لمانځه تر آخر وخته پوري د اوبو انتظار کول مستحب دي، مثلا د ځاه ځخه د اوبو راکښلو يو شی نه وي او دا غالب ګمان يې وي چي تر آخري وخته پوري به رسی. او سلوا غه پيدا سي، يا يو سړی په ريل ګاډی کي سپور وي او دديې خبري په يقين سره معلوم وي چي تر اخري وخته پوري ريل ګاډی هغه ځای ته رسيږي چيري چي اوبه وي.
۱۰. تيمم د لمانځه د وخت د تنګوالي په وجه واجب کيږي د وخت په شروع کي واجب نه دی.
۱۱. که د لمانځه دومره وخت وي چي د تيمم او لمانځه کولو وخت وي نو تيمم واجب کيږئ او که وخت نه وي نو تيمم واجب نه دی.
۱۲. د کومو شيانو لپاره چي اودس فرض دی د هغو لپاره د اوداسه تيمم هم فرض دی او د کومو شيانو لپاره چي اودس واجب دی د هغه لپاره د اوداسه تيمم واجب دی او د کومو شيانو لپاره چي اودس سنت يا مستحب دی د هغو لپاره د اوداسه تيمم هم سنت او مستحب دی، او همدا حال د غسل هم دی.
۱۳. که يو سړی د جنابت په حالت کي وي او مسجد ته د هغه د تللو سخت ضرورت وي نو د هغه لپاره تيمم کول واجب دي.
۱۴. د کومو عباداتو لپاره چي د حدث اکبر (يعني جنابت) او حدث اصغر (يعني په کوم چي اودس ماتيږي) ځخه طهارت شرط نه وي لکه سلام او د سلام جواب او داسي نور نو د هغو لپاره د غسل او اوداسه دواړو تيمم بيله عذره کيدای سي او په کومو عباداتو کي چي يوازي په حديث اصغر سره طهارت شرط نه وي لکه د قرآن کريم تلاوت، اذان او داسي نور نو د هغو لپاره هم تيمم بيله عذر کيدای سي.
۱۵. که د ځا سره مشکوک اوبه وي لکه د خره د پسخوردې اوبه نو په داسي حالت کي که چيري د اوداسه ضرورت وي نو اول اودس او که د غسل ضرورت وي نو غسل کول پکار دي او د

هغه وروسته تيمم كول پكار دي.

۱۶. كه چيري هغه عذر د كوم په وجه چي تيمم سوى دى د د خلكو د لوري وي نو كله چي هغه عذر ختم سي نو څومره لمنځونه چي هغه په تيمم سره كړي دي د ټولو بيا كول پكار دي، مثلاً يو سړى په بنديخانه كي وي او بنديخانې چوكيدار هغه ته اوبه نه وركوي او يا هغه ته يو څوك ووايي كه تا اودس وكړ نو تا به مړ كړم.

۱۷. پر يوه ځاى يا يوه ډېره وغيره باندي د ډيرو خلكو يو په بل پسې تيمم كول صحيح دى.

۱۸. كوم څوك چي پر اوبو او خاورو دواړو باندي قادر نه وي هغه عذر كه د اوبو او خاورو نه موجودوالى وي يا د يو ناروغۍ په وجه وي نو هغه ته پكار ده چي لمونځ بيله طهارته وكړي او بيا هغه لمنځونه په طهارت سره راوگرځوي، مثلاً يو سړى په ريل گاډۍ كي سپور دى او د لمانځه وخت سو او نه اوبه وي چي اودس په وكړي او نه خاوره يا بل داسي شى چي پر هغه تيمم وكړي او هلته دلمانځه وخت هم ختميږي نو هغه ته پكار ده چي په داسي حالت كي بيله طهارت لمونځ وكړي، همدارنگه يو سړى په بنديخانه كي وي او هغه پر پاكو اوبو يا خاورو قادر نه وي نو هغه دي بې اودسه او بې تيممه لمونځ وكړي مگر د هغه په دواړو صورتونو كي د لمانځه راگرځول ضروري دي.

الفصل الاول

﴿۴۸۳﴾: عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فُضِّلْنَا عَلَى النَّاسِ بِثَلَاثٍ جُعِلَتْ صُفُوفُنَا كَصُفُوفِ الْمَلَائِكَةِ وَجُعِلَتْ لَنَا الْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدًا وَجُعِلَتْ تُرْبَتُهَا لَنَا طَهُورًا إِذَا لَمْ نَجِدْ الْمَاءَ. رواه مسلم.

د حضرت حذيفة ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: موږ ته تر نورو امتونو په درو شيانو كي فضيلت راكړل سوى دى ۱: يو خو دا چي ز موږ صفونه د ملائكو د صفو په ډول جوړ سوي دي ۲: دوهم ټوله مځكه زموږ لپاره مسجد گرزول سوې ده ۳: دريم د مځكي خاوره زموږ لپاره پاكونكې گرزول سوې ده كوم وخت چي اوبه پيدا نه كړو. مسلم.

تشريح: د رسول الله ﷺ ددغه امت څخه مخكي په دنيا كي چي څومره امتونه پيدا سوي دي، هسي خو د هغو ټولو په مقابله كي دغه امت د خپل خصوصياتو او امتيازاتو په وجه تر ټولو

غوره او افضل دی، په عظمت او فضیلت کي هیڅ یو امت د دغه امت مماثل نه دی، مګر دلته د رسول الله ﷺ د دغه امت ځیني امتیازي ځانګړتیاوو ته چي د الله تعالی د لوري پر دغه امت باندي د بې پایه انعاماتو او احسانونو په نتیجه کي دي اشاره فرمایي چي د دغه شیانو په وجه زما امت ته پر نورو امتونو باندي فضیلت او فوقیت ورکړل سوی دی.

همدارنګه اول شی چي رسول الله ﷺ یې فرمایي چي (په لمانځه یا جهاد کي) د دغه امت صفونه د ملائکو د صفونو په ډول دي، یعني کوم ملائکي چي په صف بندي سره د الله تعالی عبادت کوي د کوم په وجه چي هغوئ ته مقام قرب میر دی او بې پایه بزرګي او سعادت وي همدارنګه دغه امت ته هم په جهاد یا لمانځه کي د صف بندۍ او د جماعت په وجه د الله تعالی قرب حاصلیږي او ددې په وجه دغه امت ته پر پخوانیو امتونو باندي فضیلت دی ځکه چي په پخواني امتونو کي صف بندي او جماعت نه وو، هغه خلکو چي څرنګه غوښتل لمونځ کوي مګر الله تعالی دغه امت د جماعت حکم وکړ یعني د سعادت او نیک بختۍ پر دغه عظیمه لاره یې روان کړل چي د جماعت او صف بندۍ چي څومره زیاته پابندي وکړل سي نو د سعادت او نیک بختۍ او د قرب الهي دروازې به خلاصیږي.

دوهم شی رسول الله ﷺ دا وفرمایه چي الله تعالی پر نورو امتونو باندي پر دغه امت دا هم لوی احسان فرمایلی دی چي د دغه امت ټولو خلکو لپاره ټوله مځکه د سجدې ځای ګرځولې ده چي بنده د مځکي پر کومه پاکه برخه باندي د الله تعالی مخ کي کښته سي او لمونځ وکړي د هغه لمونځ به قبول سي ددې پر خلاف د نورو امتونو لپاره دا سهولت او فضیلت نه وو د هغه خلکو لمنځونه په کنائس او بیع (چي د مخکنیو امتونو د عبادت خانو نومونه دي) ددې څخه پرته بل یو ځای د دوئ عبادت جائز نه وو.

دریم شی رسول الله ﷺ دا وفرمایه چي د دغه امت لپاره الله تعالی د تیمم د جائز کېدو په وجه پر نورو امتونو باندي عظیم فضیلت ورکړی دی یعني که چیري اوبه نه وي یا د اوبو پر استعمال قدرت نه وي یا د اوبو د استعمال څخه معذور وي نو په پاکو خاورو باندي په تیمم کولو سره لمونځ دي وکړي نو لمونځ به یې صحیح سي.

په هر حال ددې حدیث مطلب دا دی چي په دغه درو شیانو کي موږ ته پر نورو امتونو باندي فضیلت او بزرګي راکړل سوې چي موږ د جماعت د لمانځه حکم سوی دی او پر دې باندي د بې شمیره اجر او انعام وعده ورکړل سوې ده، ټوله مځکه زموږ لپاره مسجد ګرځول سوې ده چي

چیري مو زړه وي هلته لمونځ وکړو نو لمونځ به جائز وي، او چیري چي اوبه نه وي یا د اوبو پر استعمال باندي قدرت نه وي نو په پاکه خاوره سره تیمم دي وکړي او لمونځ دي وکړي.

ددې حدیث څخه په څرګنده خو دا معلومیږي چي تیمم یوازي په خاوره سره کول پکار دی او په بل شي سره تیمم کول صحیح نه دي لکه د حضرت امام شافعي رحمة الله علیه او داسي نورو مذهب چي دی، مګر حضرت امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله علیه، حضرت امام مالک رحمة الله علیه او حضرت امام محمد رحمة الله علیه په نزد تیمم په هر هغه شي باندي صحیح دی کوم چي د مځکي د جنس څخه وي، د مځکي د جنس اطلاق پر هغه شیانو باندي کیږي کوم چي په اور کي په سوځلو سره نه پخیږي او نه نرم کیږي او نه ایرې کیږي، لکه خاوره، ډبره، چونه او داسي نور شیان، ددغه حضراتو دلیل د رسول الله ﷺ دغه ارشاد دی کوم چي د حضرت جابر ؓ څخه په بخاري کي منقول دی چي: (جلعت لي الارض مسجدا وطهوار) یعني مځکه زما لپاره مسجد او پاکونکې ګرځول سوې ده.

په دغه ارشاد کي لفظ د ارض استعمال کړل سوی دی چي د هر هغه شي مفهوم ورکوي کوم چي د مځکي د جنس څخه وي،

﴿۴۸۴﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ قَالَ كُنَّا فِيْ سَفَرٍ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِالنَّاسِ فَلَمَّا انْفَتَلَ مِنْ صَلٰوتِهِ اِذَا هُوَ بِرَجُلٍ مُعْتَزِلٍ لَمْ يُصَلِّ مَعَ الْقَوْمِ فَقَالَ مَا مَنَعَكَ يَا فُلَانُ أَنْ تُصَلِّيَ مَعَ الْقَوْمِ قَالَ اَصَابَتْنِيْ جَنَابَةٌ وَ لَامَاءَ قَالَ عَلَيْكَ بِالصَّعِيْدِ فَإِنَّهُ يَكْفِيْكَ. متفق علیه

د حضرت عمران ؓ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کي وو رسول الله ﷺ خلکو ته لمونځ ورکړ کله چي د لمانځه څخه فارغ سو نو نا څاپه یې یو سړی ولیدی چي یوازي ناست وو او هغه د خلکو سره لمونځ نه وو کړی رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل: اې فلانه! تا د خلکو سره لمونځ ولي نه وکړ؟ هغه وویل زه ناپاک وم او د غسل لپاره اوبه نه وې، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: نو ستا لپاره خاوره بس وه (یعني تیمم پکار وو). بخاري او مسلم

﴿۴۸۵﴾: وَعَنْ عَمَّارٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلٰى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَقَالَ إِنِّيْ أَجْنَبْتُ فَلَمْ أُصِبِ الْمَاءَ فَقَالَ عَمَّارٌ لِعُمَرَ أَمَا تَذْكُرُ أَنَّا كُنَّا فِيْ سَفَرٍ أَنَا وَأَنْتَ فَأَمَّا أَنْتَ فَلَمْ تُصَلِّ وَأَمَّا أَنَا فَتَمَعَّكْتُ فَصَلَّيْتُ فَذَكَرْتُ

د حضرت عمار ؓ څخه روایت دی چي یو سړی حضرت عمر ؓ ته راغلی او عرض یې وکړ چي زه ناپاکه سوی یم او اوبه نسته، عمار وایي ما حضرت عمر ته وویل ایا ستاسو هغه پیښه په یاد ده کوم وخت چي موږ په سفر کي وو یعني زه

لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيْكَ هٰكَذَا فَضَرَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَفَّيْهِ الْأَرْضَ وَنَفَخَ فِيْهِمَا ثُمَّ مسحه بِهِمَا وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ. رواه البخاري ولمسلم نحوه وفيه قال إنما يكفيك أن تضرب بيديك الأرض ثم تنفخ ثم تمسحه بهما وجهك وكفيك.

او ته دواړه جنب سوي وو تاسو خو لمونځ نه وکړ خو زه پر خاوره و لغړېدم او لمونځ مي وکړ بيا ما رسول الله ﷺ ته د دې يادونه وکړه رسول الله ﷺ وفرمايل تا ته دا بس وه او نبي كريم ﷺ پر مځکه دواړه لاسونه ووهل او لاسونه يې پوه کړل بيا يې دواړه لاسونه پر مخ او لاسونو را تير کړل. (بخاري) او د مسلم په يوه روايت کي آخري الفاظ دادی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ستا لپاره دا بس وه چي دواړه لاسونه دي پر مځکه وهلي وای بيا دي پوه کړي وای او بيا دي هغه پر خپل مخ او لاسو را تير کړي وای.

تشريح: په دغه حديث کي د حضرت عمر ﷺ جواب نه دی ذکر سوی مګر د حديث د ځينو نورو نسخو څخه منقول دي چي حضرت عمر ﷺ د هغه سرې په جواب کي وفرمايل: (لاتصل) يعني تر څو چي اوبه پيدا نه سي لمونځ مه کوه، همدارنګه د حضرت عمر ﷺ مذهب همدا وو چي د جنب لپاره تيمم جائز نه وو، يا کيدای سي چي حضرت عمر ﷺ د مسئلې پوښتونکي پر سوال باندي سکوت اختيار کړی وي، ددې وجه دا وه چي د جنب لپاره د تيمم حکم د هغه په ذهن کي نه وو، همدارنګه حضرت عمار ﷺ ټوله واقعه بيان کړه ددې لپاره چي د حضرت عمر ﷺ په ذهن کي دا خبره راسي چي د جنب لپاره هم تيمم جائز دی، حضرت عمار ﷺ چي کومه واقعه بيان کړه په هغه کي د حضرت عمر ﷺ په اړه چي يې دا وويل چي هغه د غسل لپاره د اوبو د نه شتون په وجه د جنابت په حالت کي لمونځ وکړي، ددې وجه دا وه چي حضرت عمر ﷺ به فکر کړی وي چي کيدای سي د لمانځه په آخر وخت پوري اوبه پيدا سي ددې لپاره هغه دا مناسب وګڼل چي د اوبو پيدا کېدو وروسته به غسل وکړم او لمونځ به اداسي او يا ددې وجه دا وه چي کيدای سي دده په ذهن کي دا خبره وه چي تيمم خو يوازي د اوداسه قائم مقام دی د غسل قائم مقام نه دی.

په څرګنده خو دا وجه قياس ته نږدې ده چي د هغه ددې عقيدې سبب دا وو چي هغه ته د پوري مسئلې حقيقت معلوم نه وو او بيا دا چي هغه ته پر دغه مسئله باندي د رسول الله ﷺ څخه د سوال کولو اتفاق نه وو سوی ددې لپاره هغه دا فکر وکړ چي تيمم يوازي د اوداسه قائم مقام دی د غسل نه دی حال دا چي په اتفاق سره د ټولو په نزد تيمم څرنګه چي د اوداسه قائم مقام دی همدارنګه د غسل قائم مقام هم دی.

حضرت عمار ﷺ د خپل ځان په اړه فرمايي چي پر دغه موقع باندي ما بله طريقه اختيار کړه

هغه دا چي زه په خاورو كي ولغړېدم او د هغه وروسته مي لمونځ وكړ ددې وجه دا وه چي د هغه په ذهن كي هم دغه مسئله په پوره وضاحت سره نه وه ددې لپاره هغه دا قياس وكړ چي څه ډول په غسل كي پر ټولو اندامونو باندي اوبه بيول كيږي همدارنګه خاوره هم د بدن ټولو اندامونو ته رسول پكار ده نو ځكه په خاورو كي ولغړېدي.

رسول الله ﷺ حضرت عمار ﷺ ته د تيمم د طريقې ښودلو لپاره خپل دواړه لاسونه پر مځكه ووهل بيا يې پر لاسونو پوه كړل او خاوره يې وشنډل ددې لپاره چي خاوره پر مخ ونه لويږي د كوم په وجه چي د مخ حالت خراب سي كوم چي د مثله په حكم دي چي ممنوع كار دي، مثله دې ته وايي چي د بدن يو اندام پرې كړل سي يا يو داسي طريقه اختيار كړل سي په كوم كي چي په خلقي توګه په اندامونو كي فرق راسي او د الله تعالى تخليق خراب كړل سي ، ددې څخه معلومه سوه چي كوم خلك خپل مخونه بدلوي يا بل څه په كوي نو هغه په سختي ګمراهۍ كي اخته دي.

دا حديث پر دې خبره دلالت كوي چي د تيمم لپاره پر مځكه باندي يو وار لاس وهل كافي دي لكه د نورو حضراتو چي هم دا مذهب دى ، مګر د امام اعظم ، حضرت امام شافعي او حضرت امام مالك مذهب دادى چي د تيمم لپاره پر خاوره باندي دوه واره لاس وهل پكار دي يو وار پر مخ باندي راتير كړل سي او دوهم وار پر لاسو باندي تر څنګلو پوري راتير كړل سي ،له دې كبله حضرت شيخ محي السنة رحمة الله عليه ددې حديث توجيه دا فرمايي چي :

د رسول الله ﷺ مقصد يوازي دا وو چي حضرت عمار ﷺ ته پر خاورو باندي د لاس وهلو كيفيت وښيي چي د جنابت لپاره تيمم داسي كوه ، په خاوره كي د لغړېدو ضرورت نسته، ددې لپاره چي د رسول الله ﷺ مقصد د پوره تيمم د كيفيت بيانول نه وه ددې لپاره حضرت عمار ﷺ هم د حديث د روايت په وخت كي يو وار پر مځكه لاس وهل د ښوونې په توګه ذكر كړل ، همدا وجه چي ددغه حديث څخه پرته د حضرت عمار ﷺ څخه چي كوم حديثونه د تيمم په اړه منقول دي په هغو كي په صراحت سره د دوه واره لاس وهلو ذكر سوى دى.

دا خبره هم بايد په ذهن كي وي چي په حديث كي د كفين څخه تر ذرعين ، يعني تر څنګلو پوري لاس مراد دى د كوم چي مطلب داسو چي رسول الله ﷺ خپل لاس تر څنګلو پوري مسحه كړ.

﴿۴۸۶﴾: وَعَنْ أَبِي الْجُهَيْمِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ قَالَ مَرَرْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبُوْلُ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ حَتّٰى قَامَ إِلَى جِدَارٍ فَحَتَّهُ بِعَصًى كَانَتْ مَعَهُ ثُمَّ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى الْجِدَارِ فَمسحه وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَيَّ . ولم أجد هذه الرواية في الصحيحين ولا في كتاب الحميدي ولكن ذكره في شرح السنة وقال هذا حديث حسن

د حضرت ابو الجهيم بن الحارث بن الصمة ﷺ څخه روايت دى چي زه د رسول الله ﷺ سره نژدې تير سوم چي هغه تشي بولي كولې ما ورته سلام ادا كړ خو هغه جواب رانه كړ تر دې چي رسول الله ﷺ ودرېدى او په لكړه سره يې ديوال و گروه او خپل دواړه لاسونه يې پر ديوال كښېښودل او پر مخ او لاسونو يې دواړه لاسونه تير كړل بيا يې زما د سلام جواب راكړ ، (په بخاري او مسلم كي دا روايت ما پيدا نه كړ او نه مي په كتاب حميدي كي وليدى البته په شرح السنة كي ذكر دى او ويلي يې دي چي دا حديث حسن دى).

تشريح : رسول الله ﷺ په خپل لكړه سره د ديوال خاوره ځكه وتوږل چي د هغه په وجه غبار پورته سي چي په هغه سره تيمم كول افضل او غوره دى او د ثواب د زياتوب باعث دى، دا حديث پر دې دلالت كوي چي د الله تعالى ذكر په طهارت سره كول مستحب دى او همدارنگه هر وخت پاك او صاف اوسيدل هم مستحب دى .

الفصل الثاني

﴿۴۸۷﴾: عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الصَّعِيْدَ الطَّيِّبَ وَضُوْءُ الْمُسْلِمِ وَإِنْ لَّمْ يَجِدِ الْمَاءَ عَشْرَ سِنِيْنَ فَإِذَا وَجَدَ الْمَاءَ فَلْيَمَسَّهُ بَشَرَهُ فَإِنَّ ذٰلِكَ خَيْرٌ . رواه أحمد والترمذي وأبو داود . وروى النسائي نحوه إلى قوله عشر سنين .

دحضرت ابو ذر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كه مسلمان لس كاله اوبه تر لاسه نه كړي نو خاوره ذده لپاره پاكونكې ده هر كله چي اوبه پيدا كړي نو په هغه سره دي بدن پريولي او دا غوره ده .

تشريح : د لسو كالو عمر د تحديد (حد معلومولو) لپاره نه ذى بلكه د كثرت لپاره دى يعني كه چيري دومره اوږد وخت هم اوبه پيدا نسي نو د غسل يا اوداسه لپاره تيمم كولاى سي او بيا وروسته كله چي دومره اوبه پيداسي چي د غسل يا اوداسه لپاره كافي وي او د ځښنلو د ضرورت څخه زياتي وي او د هغه پر استعمال قادر هم وي نو غسل يا اودس كول پكار دى ځكه په دغه صورت كي به غسل او اودس كول واجب دي او تيمم كول به جائز نه وي .

دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي د لمانځه د وخت په ختمېدو سره تيمم نه ماتيږي بلکه ددې حکم د اوداسه په ډول دی چي تر څو پوري اودس مات نه سي په يوه اوداسه سره څومره فرض يا نفل چي غواړي کولای سي همدارنګه په يوه تيمم سره هم د څو وختو لمونځ کولای سي ، د حضرت امام ابوحنيفة رحمة الله عليه هم دا مذهب دی ، مګر د حضرت امام شافعي رحمة الله عليه په نزد تيمم د معذور د اوداسه په ډول دی لکه څرنګه چي د لمانځه د وخت په تېرېدو سره د معذور اودس ماتيږي همدارنګه د لمانځه د وخت په ختمېدو سره تيمم هم ماتيږي .

﴿۴۸۸﴾:وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ خَرَجْنَا فِيْ سَفَرٍ فَأَصَابَ رَجُلاً مِّنَّا حَجَرٌ فَشَجَّهُ فِيْ رَأْسِهِ فَاحْتَلَمَ فَسَأَلَ أَصْحَابَهُ هَلْ تَجِدُوْنَ لِيْ رُخْصَةً فِي التَّيَمُّمِ قَالُوْا مَا نَجِدُ لَكَ رُخْصَةً وَأَنْتَ تَقْدِرُ عَلَى الْمَاءِ فَاغْتَسَلَ فَمَاتَ فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُخْبِرَ بِذٰلِكَ فَقَالَ قَتَلُوْهُ قَتَلَهُمُ اللهُ أَلاَّ سَأَلُوْا إِذْ لَمْ يَعْلَمُوْا فَإِنَّمَا شِفَاءُ الْعَيِّ السُّؤَالُ إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيْهِ أَنْ يَّتَيَمَّمَ وَيُعَصِّبَ عَلَى جُرْحِهِ خِرْقَةً ثُمَّ يَمسحه عَلَيْهَا وَيَغْسِلُ سَائِرَ جَسَدِهِ . رواه أبو داود . ورواه ابن ماجه عن عطاء بن أبي رباح عن ابن عباس .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي موږ په سفر ووتلو او په موږ کي يو سړی پر ډبري ولګېدی او د هغه سر زخمي سو بيا احتلام ورته پېښ سو هغه د خپلو ملګرو څخه پوښتنه وکړه چي په داسي حالت کي تيمم جائز دی؟ هغوئ ورته وويل په داسي حالت کي چي ته اوبه استعمالولای سې موږ ستا لپاره د تيمم کوم جواز نه وينو ، هغه غسل وکړ او مړ سو ، کله چي موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او ددې پېښي خبر مو ورکړی نو رسول الله ﷺ وفرمايل :خلکو هغه مړ کړی الله دي هغوئ ووژني کومه خبره چي هغوئ ته څرګنده نه وه نوهغوئ ولي معلومه نه کړه د ناپوهۍ د ناروغۍ علاج پوښتنه کول دي ، يقينا د هغه لپاره تيمم جائز وو او د غسل کولو په صورت کي هغه ته پکار وه چي هغه د خپل زخم پر پټۍ مسحه کړې وای او ټول بدن يې پريولی وای . ابوداؤد او ابن ماجه د عطاء بن ابي رباح او هغه د ابن عباس ﷺ څخه روايت کړی دی .

تشريح : ځيني وختونه بې علمي او په يو مسئله کي ناخبري د يوې ډيري غټې واقعي سبب جوړيږي ، همدارنګه دلته هم داسي سوي دي چي کله هغه ژوبل سوي سړي د خپل عذر په اړه د خپل ملګرو څخه مشوره واخيستل چي ايا په داسي حالت کي چي زما پر سر باندي زخم دی او

[1] په کومو شيانو چي اودس ماتيږي په هغه شيانو تيمم هم ماتيږي او په کومو شيانو سره چي غسل واجبيږي په هغه سره د غسل تيمم هم ماتيږي د زيات معلومات لپاره د علم فقه کتابونه وګورئ .

اوبه دده زخم لپاره تاواني دي نو ايا د ناپاکۍ ليري کولو لپاره د غسل پر ځای تيمم کولای سم ؟ نو ملګرو يې د مسئلې څخه د ناخبرۍ په وجه او د علم کم علمۍ په وجه ددغه آيت (فلم تجدوا ماء فتيمموا) مطلب دا واخيستی چې تيمم يوازې په هغه صورت کې جائز دی چې کله اوبه موجود نه وي او که چيري اوبه موجود وي نو تيمم به جائز نه وي ، هغه کس ته يې وويل ستا لپاره د تيمم جائز کېدو هيڅ سوال هم نه پاته کيږي،حال دا چې هغوئ دا فکر ونه کړ چې د تيمم نه صحيح کېدو دا صورت دی چې کله اوبه موجود وي او د هغه سربيره پر هغه د استعمال قدرت هم وي او د استعمال په وجه د يو تاوان او ضرر بيره هم نه وي ، هغه بېچاره ددغه خلکو پر علم او فهم باندي باور وکړ او په دغه حالت کې يې غسل وکړ او د هغه نتيجه دا سول چې اوبو په زخم کې زياتوب راويستی او ددغه زخم په وجه هغه کس وفات سو .

په هر حال دا حديث پر دې دلالت کوي چې پر داسي موقع باندې هم تيمم کول پکار دي او ددې سره سره د ټول بدن پريولل هم پکار دي لکه نبي کريم ﷺ چې وفرمايل، د حضرت امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادی ، مګر د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه په نزد د دواړو څخه يو شی کافي دی، حنفيه د شوافعو جواب داسي ورکوي چې دا حديث ضعيف دی او بيا د قياس خلاف هم دی ځکه چې ددې څخه د بدل او مبدل منه جمع لازمه سوې ده .

او که يو چا ته دا بيره وي چې د اوبو په استعمال سره مرض زياتيږي يا په روغتيا کې زنده کيږي نو په داسي صورت کې د حضرت امام اعظم او حضرت امام مالک رحمة الله عليهما په نزد هغه ته تيمم او لمونځ کول پکار دي او وروسته د لمانځه قضا راوړل ضروري نه ده ، د شوافع هم تقريبا هم دغه مذهب دی.

که د يو چا پر يو اندام باندې زخم وي يا دانه وي او پر هغه باندې پټۍ لګېدلې وي نو په دغه صورت کې د حضرت امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادی که چيري د پټۍ په خلاصولو سره د ځان د هلاکېدو بيره وي نو هغه ته پکار ده چې پر پټۍ باندې مسحه وکړي او تيمم وکړي ، مګر د حضرت امام اعظم رحمة الله عليه او حضرت امام مالک رحمة الله عليه فرمايي چې کله د يو چا د بدن يو برخه زخمي وي او يو برخه روغه وي نو دا دي وکتل سي چې زخمي برخه څومره ده او روغه برخه څومره ده که چيري زياته برخه روغه وي نو هغه به پريولي او پر زخم باندې به مسحه کوي او که زياته برخه زخمي وي تو تيمم به کوي او پريولل به ساقط سي ، د امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه مسئله داده چې کومه برخه روغه وي هغه دې پريولل

سي او د زخم دي لپاره تيمم وکړل سي.

﴿۴۸۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجَ رَجُلَانِ فِيْ سَفَرٍ فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ وَلَيْسَ مَعَهُمَا مَاءٌ فَتَيَمَّمَا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَصَلَّيَا ثُمَّ وَجَدَا الْمَاءَ فِي الْوَقْتِ فَأَعَادَ أَحَدُهُمَا الصَّلَاةَ بِوُضُوْءٍ وَلَمْ يُعِدِ الْآخَرَ ثُمَّ أَتَيَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ فَقَالَ لِلَّذِيْ لَمْ يُعِدْ أَصَبْتَ السُّنَّةَ وَأَجْزَأَتْكَ صَلَاتُكَ وَقَالَ لِلَّذِيْ تَوَضَّأَ وَأَعَادَ لَكَ الْأَجْرُ مَرَّتَيْنِ. رواه أبو داود والدارمي وروى النسائي نحوه. وقد روى هو وأبو داود أيضا عن عطاء بن يسار مرسلا

د حضرت ابوسعيد الخدري ﷺ څخه روايت دی چي دوه کسان په سفر روان سول د لمانځه وخت سو او د هغوئ سره اوبه نه وې دواړو په پاکه خاوره تيمم وکړ او لمونځ يې ادا کړ بيا يې په همدغه وخت کي دننه اوبه پيداکړې په هغوئ کي يوه اودس وکړ او لمونځ يې دوهم ځل وکړ او دوهم کس ونه کړ، بيا هغوئ دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او پښتنه يې بيان کړل، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: چا چي لمونځ دوهم ځل نه وو کړی هغه ته يې وفرمايل تا په سنت عمل وکړ او ستا لمونځ صحيح سو او چا چي اودس او لمونځ دوهم ځل وکړ هغه ته يې وفرمايل: تا ته به دوچنده ثواب درکړل سي. (ابوداؤد)

تشريح: څرنګه چي د اوبو نه پيدا کېدو په صورت کي که چيري اوبه پيدا سي او د لمانځه وخت هم پاته وي نو د هغه لمانځه راګرځول ضروري دي ددې لپاره چي رسول الله ﷺ هغه کس ته چا چي لمونځ نه وو راګرځولی وفرمايل تا پر سنت عمل وکړ يعني د شريعت حکم خو همدغه دی ددې لپاره تا د شريعت د حکم پابندي وکړه چي په تيمم سره د لمانځه کولو سربيره لمونځ دي نه راوګرځوئ، دوهم کس ته رسول الله ﷺ وفرمايل چي ته د دوه برابر ثواب وړ يې چي يو ثواب د فرض د ادا کولو او دوهم ثواب د نفل ادا کولو.

په دې مسئله کي د علماء په اتفاق سره فيصله ده چي تيمم کونکی د لمانځه د فارغه کېدو څخه وروسته که چيري اوبه ووينې او هغه ته اوبه تر لاسه سي نو د هغه لپاره د لمانځه راګرځول ضروري نه دي که څه هم د لمانځه وخت پاته وي.

مګر که چيري داسي صورت وي چي يو کس د تيمم کولو وروسته لمونځ پيل کړی او د لمانځه په مېنځ کي اوبه پيدا سوې نو اوس به هغه څه کوي؟ ايا لمونځ ختم کړي او بيا په اوداسه کولو سره لمونځ وکړي او که په خپل تيمم سره لمونځ پوره کړي؟ په دې مسئله کي د علماؤ اختلاف دی، د جمهورو علماؤ مذهب دا دی چي هغه کس ته د لمانځه ختم کول نه دي

پکار بلکه هغه دي لمونځ پوره کړي او لمونځ به يې صحيح سي.

مګر د حضرت امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه او حضرت امام احمد رحمة الله عليه يو قول دادی چي په دغه صورت کي به د هغه کس تيمم باطل سي نو هغه ته د لمانځه ماتول او په اوبو سره د اودس کولو او بيا دوهم وار لمونځ کول پکار دي.

الفصل الثالث

﴿۴۹۰﴾: عَنْ اَبِي الْجُهَيْمِ ابْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ قَالَ أَقْبَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نَحْوِ بِئْرِ جَمَلٍ فَلَقِيَهُ رَجُلٌ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِ حَتَّى أَقْبَلَ عَلَى الْجِدَارِ فَمسحه وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ. متفق عليه.

د حضرت ابوالجهيم بن الحارث بن الصمة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د جمل د څاه په لور تشريف راوړ او دده مبارك سره يو سړی مخامخ سو او سلام يې وکړ مګر رسول الله ﷺ د هغه د سلام جواب ور نه کړ تر دې چي رسول الله ﷺ يو ديوال ته ورغلی او پر خپل مخ او لاسو يې مسحه (تيمم) وکړل او بيا يې د سلام جواب ورکړ. بخاري او مسلم.

﴿۴۹۱﴾: وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ أَنَّهُمْ تَمَسَّحُوْا وَهُمْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالصَّعِيْدِ لِصَلَاةِ الْفَجْرِ فَضَرَبُوْا بِأَكُفِّهِمُ الصَّعِيْدَ ثُمَّ مَسَحُوْا بِوُجُوْهِهِمْ مَسْحَةً وَاحِدَةً ثُمَّ عَادُوْا فَضَرَبُوْا بِأَكُفِّهِمُ الصَّعِيْدَ مَرَّةً أُخْرٰى فَمَسَحُوْا بِأَيْدِيْهِمْ كُلِّهَا إِلَى الْمَنَاكِبِ وَالآباط مِنْ بُطُوْنِ أَيْدِيْهِمْ. رواه أبو داود.

د حضرت عمار بن ياسر ﷺ څخه روايت دی چي صحابه کرام سره يو ځای وه هغوئ د سهار د لمانځه لپاره پر پاکه خاوره تيمم وکړ هغوئ خپل دواړه لاسونه په خاوره ووهل او پر خپل مخو يې يو ځل مسحه وکړه بيا يې دوهم ځل پر خاوره لاس ووهی او د لاسونو مسحه يې وکړه يعني د دواړو لاسونو تر اوږو پوري او په بغلو کي يې خپل لاسونه ور دننه کړل. ابوداؤد.

تشريح: د حديث په آخري جملې کي (من بطون ايديهم) کي د من لفظ د ابتداء لپاره دی يعني هغه اول د لاسو پر دننه خوا لاس راتير کړ نه د لاسو پر سربيره خوا، لکه فقهاء چي ليکلي دي چي اول د لاسو پر سربيره خوا مسحه کول مستحب ده او يا ددې معنا داده چي هغه د ورغوو څخه تيمم کول پيل کړل، دغه معني زياته مناسبه ده.

صحابه کرامو لاسونه تر بغلو او اوږو پوري مسحه کړل ددې وجه دا وه چي هغوئ دا خيال

وکړ چي د تیمم په آیت کي د ید یعني لاس لفظ ذکر دی کوم چي مطلق دی ، د دغه آیت څخه دا په صراحت سره نه معلومیږي چي لاسونه تر کوم ځای پوري مسحه کړل سي ، د دې کبله د دغه اطلاق غوښتنه داده چي ید یعني لاس چي د ګوتو څخه تر اوږې پوري برخي ته وایي نو پر دغه ټوله برخه دي مسحه وکړل سي د دې وجي څخه صحابه کرامو پر ټوله لاس مسحه وکړه ، او کوم چي د مسئلې تعلق دی نو دا به وویل سي چي دا د صحابه کرامو خپل اجتهاد وو ځکه جمهورو علماؤ چي د لاسو پر څنګلو پوري د مسحه کولو کوم حکم کړی دی د دې وجه داده چي تیمم د اوداسه قائم مقام دی او د اوداسه په اړه په قرآن کریم کي په صراحت سره دا ښودل سوي دي چي لاسونو تر څنګلو پوري پریولل فرض دي له دې کبله په اصل یعني اوداسه کي لاسونه تر څنګلو پوري پریولل کیږي نو د اوداسه په قائم مقام یعني تیمم کي هم لاسونه تر څنګلو پوري مسحه کول پکار دي .

او بیا د دې څخه مخکي چي د تیمم په اړه کوم احکام نقل سوي وه پر دغه حدیث باندي ځرنګه چي باب ختم کیږي د دې لپاره دا مناسب ده چي د تیمم یو څو نور احکام او مسائل کوم چي مخکي ذکر سوي نه دي دلته ذکر کړل سي . مخکي ویل سوي دي چي تیمم په هغه شیانو کول پکار دي کوم چي د مځکي د جنس څخه وي لکه خاوره، ریګ، چونه، رانجه، ډبره او داسي نورو سره تیمم کیدای سي ، همدارنګه د غمیانو څخه پرته په نورو ټولو جواهراتو سره هم تیمم کیدای سي .

په دې هم پوه سئ چي د تیمم کولو لپاره پر دغه شیانو باندي کوم چي د مځکي د جنس څخه وي پر هغو باندي ګرد او غبار کېدل ضروري نه دي یعني پر دغه پورتنیو شیانو باندي د غبار او ګرد نه کېدو په صورت کي پر هغو تیمم کول جائز دی ، مګر که چیري پر یو داسي شي باندي تیمم وکړل سي چي د مځکي د جنس څخه نه وي نو پر هغه باندي ګرد کېدل ضروري دي ، د ګرد نه کېدو په صورت کي به تیمم جائز نه وي مثلاً پر لرګي، جامې او یا داسي بل شي باندي که چیري ګرد وي نو پر هغو باندي تیمم کول جائز دی .

د تیمم د جواز لپاره څلور شرطونه دي :

۱. د اوبو د استعمال څخه حقیقتا یا حکما عاجز وي .

۲. پر کوم شي چي تیمم کوي د هغه پاکېدل .

۳. استیعاب یعني د تیمم پر هر اندام باندي په داسي ډول لاس را تیرول چي هیڅ یو ځای د

مسحه څخه پاته نسي.

۴. نيت، په دې اړه مخکي ويل سوي دي چي لمونځ په هغه تيمم سره صحيح کيږئ په کوم کي چي د طهارت نيت وکړل سي، په دې اړه د حدث يا جنابت تاکل شرط نه دي، يا د هغه مقصوده عبادت نيت سوی وي کوم چي بيله طهارت نه صحيح کيږي، که چيري کافر د اسلام قبلولو لپاره تيمم وکړي يا يو څوک مسجد ته د داخليدو لپاره تيمم وکړي او بيا دا وغواړي چي په هغه تيمم سره لمونځ هم وکړي نو لمونځ به په هغه تيمم سره جائز نه وي.

د جنب، بې اودسه، حائضې او نفاسي والا ښځو ټولو لپاره د تيمم يوه طريقه ده کوم چي مخکي ذکر سوې ده.

بَابُ الْغُسلِ الْمَسْنُوْنِ

(د سنت غسل بيان)

الفصل الاول

﴿۴۹۲﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ. متفق عليه.	د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي په تاسو کي يو څوک د جمعې د لمانځه لپاره راځي نو هغه ته پکار دي چي اول غسل وکړي. بخاري او مسلم.

تشريح: مختار مذهب دادی چي غسل د جمعې د لمانځه لپاره دی په دغه طهارت سره د جمعې لمونځ ادا کول پکار دي، مګر ځيني حضرات وايي چي غسل د جمعې د ورځي د تعظيم او احترام لپاره دی، په هر حال د ټولو علماؤ په نزد د جمعې د لمانځه لپاره غسل کول مستحب مؤکد دی، مګر د حضرت امام مالک رحمة الله عليه يو روايت دادی چي د جمعې دلمانځه لپاره غسل کول واجب دی.

﴿۴۹۳﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغُسْلُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ. متفق عليه.	د حضرت ابوسعيد الخدري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د جمعې په ورځ غسل پر هر بالغ سړي واجب دی. بخاري او مسلم

تشريح: د واجب مطلب دا نه دی که چيري يو څوک د جمعې په ورځ غسل ونه کړي نو هغه به

گناه کار وي بلکه ددې مفهوم دادی چي دا ثابته سوې ده چي د جمعې په ورځ غسل پرېښود ل مناسب نه دی، دا بالکل داسي ده لکه زموږ چي د يو حقدار د رعايت په اړه وايو چي د فلاني کس رعايت پر موږ باندي واجب دی.

علماء ليکي چي دلته او په ځينو نورو ځايونو کي د واجب لفظ استعمالول د مستحب مؤکد لپاره راځي او ددې وجه په خاصه توګه داده چي د اسلام په پيل کي مسجدونه ډير تنګ او کوچني وه او مسلمانانو د وړيو استعمال کوی او محنت او سخت کارونه يې هم ډير کول او د هغه په وجه پر هغوئ خوله ډيره راتلل نو د هغه د بوی په وجه شاوخوا خلکو تکليف محسوس کوی ددې لپاره رسول الله ﷺ په دغه حکم کي د واجب لفظ استعمال کړی ددې لپاره چي خلک د جمعې د ورځي غسل ژر قبول کړي او په دې سره په پابندي سره عمل وکړي.

﴿۴۹۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقٌّ لِلّٰهِ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ أَنْ يَغْتَسِلَ فِي كُلِّ سَبْعَةِ أَيَّامٍ يَغْسِلُ فِيْهِ رَأْسَهُ وَجَسَدَهُ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر مسلمان لپاره ضروري ده چي هغه په هره اوومه ورځ غسل وکړي چي په هغه کي سر او بدن پريولي .بخاري او مسلم.

الفصل الثاني

﴿۴۹۵﴾: عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَبِهَا وَنِعِمَتْ وَمَنِ اغْتَسَلَ فَالْغُسْلُ أَفْضَلُ . رواه أحمد وأبو داود والترمذي والنسائي والدارمي .

د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم چا چي د جمعې په ورځ اودس وکړ هغه فرض ادا کړل او دا ډير ښه فرض دی او چا چي غسل وکړ نو غسل غوره دی. احمد ،ابوداؤد ،ترمذي،نسائي او دارمي.

تشريح: د (فبها و نعمت) مطلب دادی چي (فبها بفريضة اخذوا نعمت الفريضة) يعني چا چي د لمانځه لپاره غسل وکړ هغه نو فرض ادا کړل او ډير ښه فرض يې ادا کړ.

ددې څخه مخکي چي د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ روايت تير سوی دی د هغه څخه دا معلومه سوه چي د جمعې په ورځ غسل کول واجب دی مګر دا حديث په صراحت سره پر دې خبره دلالت کوي چي د جمعې په ورځ غسل کول واجب نه دی بلکه سنت دی.

﴿۴۹۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَسَّلَ مَيِّتًا فَلْيَغْتَسِلْ . رواه ابن ماجه، وزاد أحمد والترمذي وأبو داود وَمَنْ حَمَلَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ .

د حضرت ابوهريرة ﷺ، څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي مړي ته غسل ورکړ نو هغه ته پکار دي چي هغه خپله هم غسل وکړي .(ابن ماجه) احمد ، ترمذي او ابوداؤد دا الفاظ زيات ليکلي دي او څوك چي مړی پورته کړي هغه دي اودس وکړي. ابن ماجه .

تشريح : ددغه حديث څخه دوه شيان معلوم سول : اول خو دا چي کوم څوک مړي ته غسل ورکړي نو د مړي د غسل څخه د فارغ کېدو وروسته خپله هم غسل وکړي ځکه کيدای سي چي مړي د غسل ورکولو په وخت کي څاڅکي وغيره لګيدلي وي له دې کبله د پاکۍ او صفائي لپاره غسل کول پکار دی، د اکثرو علماؤ په نزد مړي ته د غسل ورکولو څخه وروسته غسل کول د استحباب په درجه کي دی ځکه په يوه حديث کي دي چي : که تاسو مړي ته غسل ورکړئ نو پر تاسو باندي غسل لازم نه دی .

د دغه حديث څخه دوهم شی دا معلوميږي چي کله يو څوک د جنازې پورته کولو اراده وکړي نو هغه ته اودس کول پکار دی ددې وجه داده چي کله يو څوک په اوداسه سره جنازه پورته کوي نو کله چي د لمانځه ورکولو پر ځای جنازه ايږدي او د جنازې لمونځ پيل کيږي نو هغه به سمدستي د جنازې په لمانځه کي ګډون وکړي ، دا به نه وي چي هغه جنازه کښيږدي او د اوداسه کولو لپاره ولاړ سي او هلته لمونځ ځيني تير سي ، ددغه حکم په اړه هم په اتفاق سره د ټولو رايه داده چي دغه حکم د استحباب په درجه کي دی يعني د جنازې پورته کولو څخه مخکي اودس کول مستحب دی ، ضروري او واجب نه دی .

﴿۴۹۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَغْتَسِلُ مِنْ أَرْبَعٍ مِّنَ الْجَنَابَةِ وَ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَمِنَ الْحَجَامَةِ وَمِنْ غُسْلِ الْمَيِّتِ . رواه أبو داود .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د څلورو وجو څخه غسل فرمايه ۱: د جنابت څخه ۲:د جمعې په ورځ ۳: د ښکر لګولو په وجه ۴: مړي ته د غسل ورکولو له کبله . ابوداؤد.

تشريح : که چيري د يغتسل لفظي ترجمه وکړل سي نو د هغه معنی به دا وي چي رسول الله ﷺ به ددغه څلورو شيانو په وجه غسل کوی مګر د نبي کريم ﷺ په اړه دا ثابت نه دي چي مړي ته يې غسل ورکړی دی، ځکه نو د يغتسل ترجمه دا کيږي چي رسول الله ﷺ به ددغه څلورو شيانو په

وجه د غسل كولو حكم وركوی.

په هر حال د دغه ټولو شیانو څخه د جنابت غسل خو فرض دی او نور ټول مستحب دي، د ښکر لګولو يعني ويني کښلو د غسل کولو حکم د صفائي لپاره دی لکه د ويني کښلو وروسته چي غسل کول پکار دي چي د دې په وجه وينه وغيره پر بدن لګيدلې وي او د هغه څخه پاکي تر لاسه کړل سي.

﴿۴۹۸﴾: وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عَاصِمٍ أَنَّهُ أَسْلَمَ فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَّغْتَسِلَ بِمَاءٍ وَّسِدْرٍ. رواه الترمذي وأبو داود والنسائي.

د حضرت قيس[1] بن عاصم ﷺ څخه روايت دی چي هغه مسلمان سو نو رسول الله ﷺ هغه ته دا حکم ورکړ چي هغه دي د بيرو په پاڼو او اوبو سره غسل وکړي. ترمذي، ابوداؤد او نسائي

تشريح: که يو کافر په داسي حالت کي مسلمان سي چي هغه د جنابت په حالت کي وي نو په دغه صورت کي پر هغه غسل کول واجب دی، او که د جنابت په حالت کي نه وي نو بيا د اسلام راوړلو څخه وروسته د هغه لپاره غسل کول مستحب دی، او په دې اړه صحيح او اولی قول دادی که يو کافر مسلمان کېدل غواړي نو د هغه دي اول کلمه شهادت ووايي د هغه څخه وروسته دي غسل وکړي، همدارنګه د هغه لپاره دا سنت دي چي د لمبېدو څخه مخکي سر وخريي، رسول الله ﷺ حضرت قيس ﷺ ته په اوبو او د بيري په پاڼو سره د غسل کولو حکم ورکړ چي پاکي او صفائي په پوره توګه تر لاسه سي.

الفصل الثالث

﴿۴۹۹﴾: عَنْ عِكْرَمَةَ أَنَّ نَاسًا مِّنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ جَاءُوْا فَقَالُوْا يَا ابْنَ عَبَّاسٍ أَتَرَى الْغُسْلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاجِبًا قَالَ لاَ وَلٰكِنَّهُ أَطْهَرُ وَخَيْرٌ لِّمَنِ اغْتَسَلَ وَمَنْ لَّمْ يَغْتَسِلْ فَلَيْسَ عَلَيْهِ بِوَاجِبٍ. وَسَأُخْبِرُكُمْ كَيْفَ بَدْءُ الْغُسْلِ كَانَ النَّاسُ مَجْهُوْدِيْنَ يَلْبَسُوْنَ الصُّوْفَ وَيَعْمَلُوْنَ عَلٰى ظُهُوْرِهِمْ وَكَانَ مَسْجِدُهُمْ ضَيِّقًا

د حضرت عکرمه ﷺ څخه روايت دی چي د عراق خلك راغلل او ابن عباس ته يې وويل چي ستاسو په نزد د جمعې په ورځ غسل کول واجب دي؟ ابن عباس ورته وويل :يا، مګر ډېر پاکونکی دی او کوم څوك چي غسل وکړي د هغه لپاره غوره ده او څوك چي غسل ونه کړي نو پر هغه واجب نه دی او زه ذا درته ښيم چي د (جمعې)

[1] - د حضرت قيس بن عاصم کنيت ابو علي بن عبد البر دی.

مُقَارِبَ السَّقْفِ إِنَّمَا هُوَ عَرِيْشٌ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ يَوْمٍ حَارٍ وَعَرِقَ النَّاسُ فِيْ ذٰلِكَ الصُّوْفِ حَتّٰى ثَارَتْ مِنْهُمْ رِيَاحٌ اٰذٰى بِذٰلِكَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا . فَلَمَّا وَجَدَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الرِّيْحُ قَالَ يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِذَا كَانَ هٰذَا الْيَوْمُ فَاغْتَسِلُوْا وَلْيَمَسَّ أَحَدُكُمْ أَفْضَلَ مَا يَجِدُ مِنْ دُهْنِهِ وَطِيْبِهِ . قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ثُمَّ جَاءَ اللهُ بِالْخَيْرِ وَلَبِسُوْا غَيْرَ الصُّوْفِ وَكُفُوا الْعَمَلَ وَوُسِّعَ مَسْجِدُهُمْ وَذَهَبَ بَعْضُ الَّذِيْ كَانَ يُؤْذِيْ بَعْضُهُمْ بَعْضًا مِنَ الْعَرَقِ . رواه أبو داود .

د غسل پيل څنګه وسو ځيني غريبو خلکو به په هغه زمانه کي د وړيه جامې اغوستلې او پر شا به يې شيان وړل د هغوئ مسجد تنګ وو او د مسجد بامونه کښته وه يعني ديوالونه يې جګ نه وه بامونه يې د خرماوو د څانګو وو ، يوه ورځ د جمعې په ورځ چي سخته ګرمي وه نبي کريم ﷺ تشريف راوړ خلك د هغه وړيه له کبله په خولو کي لانده وه د هغو څخه بوی خپور سو چي ځيني خلکو ته تکليف ورسيدی هر کله چي رسول الله ﷺ ته بوی راغلی نو رسول الله ﷺ خلکو ته وفرمايل : هر کله چي د جمعې ورځ سي نو تاسو غسل کوئ او پکار ده چي په تاسو کي هر يو د غسل کولو څخه وروسته ښه تيل او خوشبويي استعمال کړي ، ابن عباس وايي د دې وروسته الله تعالى خلکو ته شتمني ورکړه او دخلکو د وړيه پر ځای ښه جامې واغوستلې د سختو کارونو څخه خلاص سول او مسجدونه پراخ سول او د خولو له کبله چي کوم تکليف خلکو ته رسيدی د هغو څخه ډير امن تر لاسه سو . ابوداؤد .

تشريح : د اسلام په پيل کي د مسلمانانو ژوند د محنت، مشقت او تنګی څخه ډک وو، داسي صحابه کرام ډير کم وه چي شتمن او خوشحاله وه، زيات هغه خلک وه چي ټوله ورځ به يې محنت او مشقت کوی ، په ځنګلو او ښارو کي به يې مزدوري کول همداسي هغه حضرات په مشکلاتو او پريشانيو کي لوېدو سره د خپل دين او ايمان اوبېدل يې کول، مګر د تنګی او پريشانی دغه زمانه تر ډيره وخته پوري نه وه هر کله چي د اسلام د حقيقت آواز د مکې او مدينې څخه په وتلو سره د نړی نورو برخو ته ورسيدی او د مسلمانانو لښکر د الله تعالى او د هغه د رسول د نامه لوړولو لپاره دا ټولي سختی او پريشانی د لاري تو ښه جوړولو سره د قيصر او کسری په ډول د واليانو حشمت او سطوت او شان او شوکت سره وجنګېدل چي د هغه په نتيجه کي هغوئ د دنيا پر اکثرو برخو باندي د خپل فتح او نصرت بيرغ ودروی نو د تنګی او پريشانی هغه دور الله تعالى په پراخی او وسعت سره بدل کړ اوس مسلمانان نادار او پريشانه نه وه پاته سوي بلکه شتمن او خوشحاله سول او د محنت او مشقت ځای د دنيا نعمتو او

هوسايي واخيست.

په دغه حديث کي حضرت ابن عباس ﷺ د جمعې په ورځ د غسل د حکم وجه بيانولو سره د مسلمانانو د هغه زمانې يوه خاکه وړاندي کړې ده چي مخکي مسلمانان دومره نادار او لاس تنګي وه چي نه خو د هغوئ سره د اغوستلو مناسب جامې وي او نه نوري آساني وې، بلکه هغه خلکو ټوله ورځ محنت او مزدوري کولو سربيره وچه ډوډۍ خوړل او وړۍ به يې اغوستلې چي د هغه په وجه به په سخته ګرمي کي خولې پر راتللې نو په مسجد کي نژدې ناست خلکو ته به د خولو د بوی په وجه تکليف کيدی، بيا چي وروسته الله تعالی پر هغوئ د مال دروازې خلاصي کړې نو هغوئ پرته د کوښښ او محنت څخه شتمن او خوشحاله سول او د الله تعالی پر هغوئ د ژوند بې پايه پراخي راوستل.

د حديث په پای کي لفظ د بعضا من العرق کي لفظ د من د بعض لفظ د بيان لپاره دی او دلته د بعض څخه مراد اکثر دي، همداسي ددې جملې معنی به دا وي چي د اکثرو خلکو خولې چي په خپلو کي خلکو ته تکليف رسوی د خوشحالۍ او د ژوند د اسبابو د پراخۍ په وجه ختم سو.

په هر حال د ابن عباس ﷺ ددې ارشاد مطلب دادی چي د خولو د بدبويي د کثرت په وجه د اسلام په پيل کي د جمعې په ورځ غسل واجب وو، مګر هر کله چي د ژوند اسباب زيات او د مسلمانانو د خوشحالۍ په وجه دا شی کم سو نو د غسل د وجوب حکم منسوخ سو او د هغه پر ځای غسل سنت سو، همداسي اوس د جمعې په ورځ غسل کول واجب نه بلکه سنت دی.



بَابُ الْحَيْضِ

(د حيض بيان)

حيض په لغت کي جاري کېدو ته وايي او د شريعت په اصطلاح کي حيض هغهويني ته وايي چي د ښځي د رحم څخه د يو ناروغۍ او ولادت پرته جاري کېږي چي په اصطلاح کي ورته مياشتنۍ وينه هم وايي، همداسي د رحم څخه چي کومه وينه د يو ناروغۍ په وجه راوځي هغه ته استحاضه او کومه وينه چي د ولادت څخه وروسته جاري وي هغه ته نفاس وايي.

د حيض وخت کم تر کمه درې ورځي او زيات لس ورځي دی، په دغه وخت چي وينه د خالص سپين والي څخه پرته په کوم رنګ کي راسي هغه به د حيض وينه شمېرل کېږي يعني د حيض د ويني رنګ سور هم وي او تور يا شين هم او ژړ او د خاورو په رنګ هم وي، د حيض په ورځو کي لمونځ او روژه نيول نه دي پکار، البته د حيض تېرېدو څخه وروسته روژې خو به قضاء راوړي مګر د لمانځه قضا به نه وي، مناسب ده چي دلته د حيض يو څو مسائل او احکام (د علم الفقه څخه اخيستل سوي) ذکر کړل سي:

١. که يوه ښځه د خوب څخه په راکښېنستو سره وينه ووينې نو د هغې حيض به د هغه وخت څخه شمېرل کېږي کله چي راکښېنستلې وي او د هغه څخه مخکي نه شمېرل کېږي، او که يوه ښځه د خوب څخه د راکښېنستو وروسته خپل ځان پاک ووينې نو کله چي بيده سوې وي د هغه وخت څخه به پاکه ګڼل کېږي.

٢. د حيض او نفاس په حالت کي د ښځي د نامه او زنګون په مېنځ کي بدن ته کتل يا د هغې سره خپل بدن يو ځای کول په دې شرط چي جامه په مېنځ کي نه وي مکروه تحريمي دی او جماع کول حرام دي.

٣. د حيض والا ښځه که چا ته قرآن کريم ښيي نو هغې ته د يوه يوه لفظ په اوړېدو جائز دي مګر د يوه پوره آيت ويل هغې ته ناجائز دي.

٤. د حيض او نفاس په حالت کي د ښځي څخه مچه اخيستل د هغې پسخورده وغيره څښل او د هغې سره غاړه په غاړه پرېوتل او د هغې د نامه سربېره او تر زنګون لاندي بدن سره خپل بدن يو ځای کول (که چيري يو جامه په مېنځ کي نه وي او د نامه او زنګون په مېنځ کي د جامې سره يو ځای کېدل جائز دي بلکه د حيض په وجه د ښځي څخه بېل بيده کېدل يا د

هغې د اختلاط څخه ځان ساتل مکروه دي .

۵. د کومې ښځې حیض چې د لس ورځو او شپو څخه په کم راتلو سره بند سوی وي نو د هغې سره پرته د غسل کولو څخه د وینې د بندېدو سره جماع کول جائز دي او د کومې ښځې وینه چې د لس ورځو او شپو څخه په کم راتلو سره بنده سوې وي نو که چیري دا د هغې د عادت څخه په کم راتلو سره بنده سوې وي نو د هغې سره جماع جائز نه دي تر څو پوري چې د هغې عادت پوره نسي که څه هم چې غسل یې کړی وي او د عادت سره سم په راتلو سره وینه بنده سوې وي ، نو تر څو چې غسل ونه کړي یا د یو لمانځه وخت تیر نسي جماع جائز نه ده، د لمانځه د وخت تیرېدو څخه وروسته پرته د غسل څخه هم جائز ده، د لمانځه د وخت تیرېدو څخه مقصد دادی چې چیري د وخت په پیل کي وینه بنده سوه نو پاته وخت ټول تیر سي او که چیري په آخر وخت کي وینه بنده سوه نو دومره وخت کېدل ضروري دي چې په هغه کي په غسل کولو سره د لمانځه د نیت کولو وخت وي او که تر دې هم کم وخت پاته وي نو بیا ددې اعتبار نسته او د دوهم لمانځه پوره وخت تیرېدل ضروري دي او همدا حکم د نفاس هم دی ، که د څلوېښت ورځو په راتلو سره پیدا سوې وي نو د وینې د بندېدو سره پرته د غسل څخه او که تر څلوېښت ورځو څخه په کم راتلو سره بنده سوې وي او دا د عادت څخه هم کم وي نو د عادت تیرېدو څخه وروسته او که د عادت سره سم بنده سوې وي نو د غسل څخه وروسته یا د لمانځه د وخت تیرېدو څخه وروسته جماع وغیره جائز ده، مګر په دغه ټولو صورتو کي مستحب دادي چې پرته د غسل څخه جماع ونه کړل سي .

۶. د کومې ښځې وینه چې د لسو ورځو او شپو څخه کم بنده سوې وي او د عادت ټاکل کېدو په صورت کي د عادت څخه هم کم وي نو پر هغې باندي د لمانځه د آخر مستحب وخت پوري په غسل کي زنډ کول واجب دي ، په دې خیال سره چې کیدای سي بیا وینه راسي ، د مثال په توګه د لمانځه د پیل په وخت کي وینه بنده سوه نو د ماخستن اخر مستحب وخت یعني تر نیمې شپې پوري هغې ته په غسل کي زنډ کول پکا ردی او د کومې ښځې حیض چې لس ورځې یا د عادت د ټاکل کېدو په صورت کي د عادت سره سم بند سوی وي نو د هغې لپاره د لمانځه تر آخر مستحب وخت پوري په غسل کي زنډ کول مستحب دی .

۷. که یوه ښځه د حیض د زمانې څخه پرته یو داسي دواء استعمال کړي چې په هغه سره وینه راسي نو هغه حیض نه دی ، د مثال په توګه یوې ښځې ته په یوه میاشت کي پنځه ورځې

حيض راځي نو د هغې د حيض د پنځلسو ورځو څخه وروسته د يو دواء په استعمالولو سره وينه راسي نو هغه به حيض نه وي.

۸. که چيري د يو عادت والا ښځي وينه جاري سي او برابر جاري وي او هغې ته دا ياد نه وي چي ما ته څو ورځي حيض راتلی يا دا چي په ياد يې نه وي چي د مياشتي په کومه نېټه حيض پيل کيدی او کله ختميدی، يا دواړې خبري يې ياد نه وي نو هغې ته پکار ده چي پر غالب ګمان باندي عمل وکړي يعني کومه زمانه چي هغه د حيض زمانه خيال کړي په هغه زمانه کي د حيض پر احکامو باندي عمل وکړي او کومه زمانه چي د طهارت زمانه خيال کړي په هغه زمانه کي د طهارت پر احکامو عمل کوي، او که د هغې ګمان يوې خوا ته نه وي نو هغې ته د هر لمانځه پر وخت په تازه اودس کولو سره لمونځ کول پکار دی او روژې دي هم نيسي، مګر کله چي د هغې مرض دفع سي نو د روژو قضا به راوړي او که هغې ته د شک کيفيت وي نو په دې کي دوه صورتونه دي: لومړی صورت دا دی چي هغې ته د يو زمانې په نسبت دا شک وي چي د حيض زمانه ده که د طهر، نو په دې صورت کي د هر لمانځه پر وخت دي نوی اودس کولو سره لمونځ کوي، دوهم صورت دا دی چي هغې ته د يو زمانې په نسبت شک وي چي دا زمانه د حيض ده او که د طهر يا د حيض څخه د خارج کېدو نو په دې صورت کي دي هغه د هر لمانځه پر وخت په غسل کولو سره لمونځ کوي.

الفصل الاول

﴿۵۰۰﴾: وَعَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَنَّ الْيَهُودَ كَانُوا إِذَا حَاضَتْ الْمَرْأَةُ فِيهِمْ لَمْ يُؤَاكِلُوهَا وَلَمْ يُجَامِعُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ فَسَأَلَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّبِيَّ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى: وَيَسْأَلُونَكَ عَنْ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصْنَعُوا كُلَّ شَيْءٍ إِلاَّ النِّكَاحَ فَبَلَغَ ذٰلِكَ الْيَهُودَ فَقَالُوا مَا يُرِيدُ هٰذَا

د حضرت انس ابن مالك ﷺ څخه روايت دی چي په يهودو کي به کله يوه ښځه حائضه سوه نو هغو خلکو به خوراك او څښاك نه ورسره کاوه او نه به يې په خپلو کورو کي يوځای کولې، د رسول الله ﷺ صحابه کرامو د رسول الله ﷺ څخه د حائضې ښځي حکم و پوښتی نو الله تعالی دا آيت نازل کړ: وَيَسْأَلُونَكَ عَنْ الْمَحِيضِ الخ. (اې پيغمبره خلك ستاسو څخه د حيض د حکم پوښتنه کوي ...) (د دې آيت په نازلېدو سره)

الرَّجُلُ أَنْ يَدَعَ مِنْ أَمْرِنَا شَيْئًا إِلاَّ خَالَفَنَا فِيهِ فَجَاءَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ وَعَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ فَقَالاَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ الْيَهُودَ يَقُولُ كَذَا وَكَذَا أَفَلاَ نُجَامِعُهُنَّ فَتَغَيَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ حَتَّى ظَنَنَّا أَنْ قَدْ وَجَدَ عَلَيْهِمَا فَخَرَجَا فَاسْتَقْبَلَهُمَا هَدِيَّةٌ مِنْ لَبَنٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَرْسَلَ فِي آثَارِهِمَا فَسَقَاهُمَا فَعَرَفَا أَنْ لَمْ يَجِدْ عَلَيْهِمَا . رواه مسلم

رسول الله ﷺ وفرمایل : د حائضې ښځي سره تاسو هر څه کوئ خو جماع (کوروالي) مه ورسره کوئ، ټولو يهودو ته دا خرگنده سوه نو هغوئ وويل دا سړی چي زموږ کوم ديني امر ته متوجه سي نو په هغه کي ضرور زموږ مخالفت کوي، نو اسيد بن حضير او عباد بن بشر دواړه راغلل او عرض يې وکړ اې د الله رسوله ! يهود داسي داسي وايي ايا اوس موږ د هغوئ سره نه کښينو ، د دې په اورېدو سره د رسول الله ﷺ د مخ مبارك رنگ بدل سو تر دې چي موږ دا خيال وکړ چي رسول الله ﷺ ددغه دوو کسانو څخه خفه سو نو هغه دواړه کسان د باندي ووتل نو هغوئ دواړو وليدل چي نبي كريم ﷺ ته په يوه لوښي کي د شېدو تحفه راوړل سوې ده رسول الله ﷺ هغوئ د راغوښتلو لپاره يو بل سړی ولېږه کوم وخت چي هغوئ راغلل نو د واړو ته يې شېدې ورکړې بيا هغه خلك پوه سول چي رسول الله ﷺ نا راض نه وو . مسلم .

تشريح : پوره آيت کريمه دا دی :

وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُواْ النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ وَلاَ تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىَ يَطْهُرْنَ
سورة البقرة آية ۲۲۲

ژباړه : او (اې محمد ﷺ صحابه کرام) ستا څخه د حيض په اړه پوښتنه کوي نو ته ورته ووايه چي هغه خو نجاست دی نو د حيض په ورځو کي د ښځو څخه منعه وکړئ تر څو چي هغوئ پاکي نسي د هغوئ سره کوروالي مه کوئ .

نو رسول الله ﷺ د دې آيت په تفسير کي وفرمايل چي الله تعالی د حيض په ورځو کي د ښځو څخه منعه اختيارولو او د هغوئ سره د کوروالي نه کولو چي کوم حکم کړی دی د هغه مطلب دا دی چي د خپلو بيبيانو سره د حيض په ورځو کي جماع مه کوئ او د دې پر ته ټول شيان جائز دي يعني د هغوئ سره خوراك ، څښاك ، په کورونو کي اوسيدل، پريوتل، ناسته او تر دې چي د هغه ښځي د نامه سربيره برخي سره خپل بدن يو ځای کول يا لاس وروړل دا ټول شيان جائز دي .

د دغه آيت کريمه څخه معلومه سوه چي د حيض په ورځو کي که يو سړی جماع وکړي نو سخت گناه کار دی ولي چي دا حرام دی، که يو سړی د خپلي ښځي سره د حيض په ورځو کي په

دا کنځلو سره جماع وکړي چي دا حلال او جائز کار دي نو هغه کافر کيږي، ځکه چي د هغه حرام کېدل په قرآن کريم ثابت دی.

دواړو صحابه کرامو چي د يهودو په خبرو اورېدو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي چي کومه عرضه وړاندي کړې وه د هغه څخه دا نتيجه مه اخلئ چي خدای مه کړه د هغوئ په ذهن کي د هغه حکم څه ارزښت نه وو يا دا چي د يو اسلامي حکم په مقابله کي د يهوديانو د خبري هغوئ ته زيات خيال وو بلکه د هغوئ مطلب خو يوازي دا وو چي که چيري تاسو اجازه راکوئ نو موږ به د خپلو ښيبيانو سره د حيض په ورځو کي ناسته او ولاړه پريږدو او د هغوئ سره به خوراک او څښاک پريږدو، يهود چي کوم طعن (پيغور) راکوي نو هغه به بيا نه وي او موږ به په خپل مينځ کي په الفت او يو والي سره اوسو.

﴿۵۰۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَّاحِدٍ وَكِلَانَا جُنُبٌ وَكَانَ يَأْمُرُنِيْ فَأَتَّزِرُ فَيُبَاشِرُنِيْ وَأَنَا حَائِضٌ وكَانَ يُخْرِجُ رَأْسَهُ إِلَيَّ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ فَأَغْسِلُهُ وَأَنَا حَائِضٌ .متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي ما او رسول الله ﷺ به د يوه لوښي څخه غسل کاوه او موږ دواړه به جنب وو او رسول الله ﷺ به ما ته حکم راکاوه ما به د ده مبارک لنګ تړی رسول الله ﷺ به خپل بدن زما د بدن سره لګوی (يعني د لنګ سربيره) او زه به د حيض په حالت کي وم او رسول الله ﷺ به د اعتکاف په حالت کي خپل سر مبارک د مسجد څخه د باندي را وايستی او ما به د حيض په حالت کي دده مبارک سر پريولی. بخاري او مسلم.

تشريح: د عربو د قاعدې او معمول سره سم يو لوي لوښی چي د طشت (تالی) په ډول وو د اوبو څخه ډک د رسول الله ﷺ او بي بي عائشې رضي الله عنها په مينځ کي ايښودل کيدی او دواړو د هغه څخه په لپه اوبو اخيستلو سره غسل کوئ.

د دغه حديث څخه معلومه سوه چي د حائضې ښځي د بدن د هغه برخي څخه ګټه اخيستل چي د نامه لاندي او د زنګون سربيره وي حرام دي يعني هلته لاس وروړل او جماع کول منعه دي، ددي وضاحت په نورو حديثونو کي هم سوی دی او دا مذهب د امام ابو حنيفة، امام ابويوسف، امام شافعي او امام مالک رحمة الله عليهم دی.

امام محمد رحمة الله عليه، امام احمد رحمة الله عليه او د ځينو شوافع مذهب دادی چي د حائضه ښځي سره يوازي په شرمګاه کي دخول کول حرام دی.

د بي بي عائشې رضي الله عنها حجره (خونه) د مسجد سره بالکل يو ځای وه تر دې چې د هغې دروازه هم د مسجد پر لور خلاصه وه، رسول الله ﷺ چي به په اعتکاف کي وو نو سر مبارک به يې د هغه دروازې څخه د حجرې په لور را وايستی او هلته به بي بي عائشه رضي الله عنها کښېنستل او د رسول الله ﷺ مبارک سر به يې پرېولی، نو ددې څخه معلومه سوه که چيري يو سړی په اعتکاف کي ناست وي او د خپل بدن يو برخه د مسجد څخه راوباسي نو په دې سره اعتکاف نه باطليږي.

﴿۵۰۲﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ أَشْرَبُ وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ أُنَاوِلُهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعُ فَاهُ عَلَى مَوْضِعِ فِيَّ فَيَشْرَبُ وَأَتَعَرَّقُ الْعَرْقَ وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ أُنَاوِلُهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعُ فَاهُ عَلَى مَوْضِعِ فِيَّ. رواه مسلم.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي ما به د حيض په حالت کي اوبه چښېلې بيا به مي رسول الله ﷺ ته (په هغه لوښي کي) پاته اوبه يا تازه اوبه ورکړې او رسول الله ﷺ به پر هغه ځای خوله اېښودل پر کوم ځای چي به ما اوبه چښېلې وې او د حيض په حالت کي به ما د غوښو هډوکي چورله بيا به مي هغه هډوکي رسول الله ﷺ ته ورکړل او رسول الله ﷺ به د هم هغه ځای څخه چورل د کوم ځای څخه چي به ما چورلي وه. مسلم.

تشريح: د رسول الله ﷺ دا عمل کول په دوو وجهو وو: لومړی خو دا چي د رسول الله ﷺ د بي بي عائشې رضي الله عنها سره زياته مينه وه، او دوهم دا چي د يهودو مخالفت يې مقصد وو، يهوديانو خو به د حائضې ښځي سره په کور کي او سيدل او هغې ته لاس ور وړل هم نه خوښول، او دېخوا ته دا معمول وو چي بي بي عائشې رضي الله عنها به د حيض په حالت کي په لوښي کي پر کوم ځای خوله لګولو سره اوبه څښېلې نو رسول الله ﷺ به هم پر هغه ځای خوله لګولو سره اوبه څښېلې، او بي بي عائشې رضي الله عنها چي به پر کوم ځای لګولو سره د هډوکي څخه غوښه خوړل نو رسول الله ﷺ به هم د هغه ځای څخه په خوله لګولو سره د هډوکي څخه غوښه شکول.

دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي د حائضې ښځي سره خوراک، څښاک، ناسته او ولاړه جائز دي او ددې حديث څخه دا هم معلومه سوه چي د حائضې ښځي د بدن اندامونه نجس او ناپاک نه دي.

﴿۵۰۳﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَّكِئُ فِي حَجْرِيْ وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ. متفق عليه.

د حضرت عايشي (رض) څخه روايت دی چي کله به زه د حيض په حالت کي وم نو رسول الله ﷺ به زما په غيږ کي تکيه لګول او کښېنستی به او بيا به يې قرآن کريم وايه. بخاري او مسلم

تشريح : دغه حديث شريف هم ددې خبري وضاحت وکړ چي حائضه ښځه په ظاهري توګه پاکه وي ، د هغې ناپاکي يوازي حکما وي ، که حائضه ښځه ظاهرا پاکه نه وي او د هغې د بدن اندامونه نجس واي نو رسول الله ﷺ به د بي بي عائشې صديقې رضي الله عنها په غيږ کي په تکيه لګولو سره کله چي هغه د حيض په حالت کي وه نه کښېنستی او نه به يې په داسي ناسته سره قرآن کريم وايه.

﴿۵۰۴﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. نَاوِلِينِي الْخُمْرَةَ مِنَ الْمَسْجِدِ قَالَتْ فَقُلْتُ إِنِّي حَائِضٌ فَقَالَ إِنَّ حَيْضَتَكِ لَيْسَتْ فِي يَدِكِ. رواه مسلم

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي ما ته رسول الله ﷺ د مسجد څخه حکم راکړ : چي مصله پورته کړه او ما ته يې راکړه ما عرض وکړ چي زه په حيض کي يم رسول الله ﷺ وفرمايل ستا حيض ستا په لاس کي نه دی. مسلم.

تشريح : د دغه حديث څخه معلومه سوه چي حائضه ښځه د مسجد څخه د باندي درېدو سره د مسجد څخه دننه يو شی را پورته کړي نو جائز ده ځکه چي حائضې ښځي ته يوازي په مسجد کي دننه ورتلل منعه دي نه په مسجد کي لاس داخلول.

﴿۵۰۵﴾: وَعَنْ مَيْمُونَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ فِيْ مِرْطٍ بَعْضُهُ عَلَيَّ وَبَعْضُهُ عَلَيْهِ وَأَنَا حَائِضٌ. متفق عليه

د حضرت ميمونې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به پر څادر لمونځ کاوه چي د هغه ځيني برخه به پر ما او ځيني به پر رسول الله ﷺ پرته وه او زه به د حيض په حالت کي وم. بخاري او مسلم

تشريح : دغه حديث شريف ددې خبري وضاحت وکړ چي د حائضې ښځي ټول بدن ناپاک نه وي بلکه د هغې د شرمګاه څخه پرته چي د هغې د شرمګاه څخه پرته ټول بدن پاک دی ، ځکه که چيري د حائضې ښځي ټول بدن ناپاک وای نو په داسي څادر کي به لمونځ نه صحيح کيدای چي د هغه ځيني برخه دي پر لمونځ کونکي وي او ځيني برخه دي پر ناپاکي او نجاست باندي وي.
سيد جمال الدين رحمة الله عليه فرمايي چي صاحب تخريج ليکلي دي چي ما دغه حديث

په صحیحین یعني بخاري او مسلم کې په دغه الفاظو سره نه دی لیدلی ، البته په هغو کې او په ابوداؤد کې د دغه ډول مضمون حدیثونه مذکور دي .

الفصل الثاني

﴿۵۰۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَتٰى حَائِضًا أَوِ امْرَأَةً فِيْ دُبُرِهَا أَوْ كَاهِنًا فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ . رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي وفي روايتهما فصدقه بما يقول فقد كفر . وقال الترمذي لا نعرف هذا الحديث إلا من حديث حكيم الأثرم عن أبي تيمية عن أبي هريرة

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم څوك چې د حائضه ښځې سره جماع وکړي یا د ښځې د ډکو بولو په ځای کې جماع وکړي یا جادوګر ته ولاړ سي نو هغه د هغه شي څخه انکار کوي کوم چې پر محمد ﷺ نازل سوی دی (ترمذي، ابن ماجه ، دارمي) د ابن ماجه او دارمي په روایت کې دا الفاظ هم دي چې کوډګر څه ووایي او دی د هغه تصدیق وکړي نو هغه کافر سو . ترمذي، ابن ماجه او دارمي .

تشریح : د دې ارشاد مطلب دادی که یو سړی په حلال او جائز ګڼلو سره د یوې حائضې ښځې سره کوروالي وکړي یا د ښځې سره د شا په خوا کې بدفعلي وکړي یا کاهن ته ورسي او هغه ورته د غیبو شیانو په اړه یو څه ووایي او هغه یې ریښتوي وګڼي نو هغه کافر کیږي .

او که دا صورت وي چې یو سړی د حائضې ښځې سره جماع یا لواطت وکړي مګر په دې پوهیږي چې دا حلال او جائز نه دي بلکه حرام او ناجائز دي نو کافر کیږي خو نه مګر فاسق کیږي ، همداسي که یو سړی کاهن ته ورسي او هغه چې ورته کوم شیان ښودلي وي هغه ریښتیا ونه ګڼي نو په دې سره به هم فاسق وي ، په دې صورت کې د حدیث معنی به دا وي چې کوم سړي داسي وکړل نو لکه هغه چې کفران نعمت (یعني د نعمت څخه انکار) وکړ .

کاهن هغه سړي ته وایي چې د راتلونکو پېښنو په اړه خبر ورکوي ، او نجومي هغه ته وایي چې د ستورو په مرسته خبر ورکوي ، د کاهن او نجومي یو حکم دی څرنګه چې کاهن ته د غیب د خبرو معلومولو لپاره ورتلل منعه دي او د هغه پر خبرو یقین کول کفر دی همداسي نجومي ته تلل هم فسق او د هغه ښوول سوي خبري ریښتیا ګڼل کفر دی .

په دې حدیث کې د شا د خوا د بدفعلي په اړه چې یو ازې د ښځې کومه قید لګول سوی دی نو

هغه پر دې خبره دلالت کوي چې د سړي (هلک) سره بد فعلي کول تر دې هم زيات بد کار دی.

﴿۵۰۷﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا يَحِلُّ لِيْ مِنِ امْرَأَتِيْ وَهِيَ حَائِضٌ ؟ قَالَ مَا فَوْقَ الْإِزَارِ وَالتَّعَفُّفُ عَنْ ذٰلِكَ أَفْضَلُ . رواه رزين وقال محيي السنة إسناده ليس بقوي .

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دی چې ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې د الله رسوله ! زما د ښځې څخه هر کله چې هغه حائضه وي ما ته څه شي حلال دي ؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل : د لنګ (جامو) سربيره چې هر شی وي هغه درته حلال دی او ددې څخه ځان ساتل هم غوره دي . رزين. محي السنة فرمايي چې ددې حديث سند قوی نه دی.

تشريح : د حديث مطلب دادی چې د ښځې د حيض په حالت کې د هغې د لونګ سربيره لاس وغيره لګول يا د لونګ سره اختلاط کول يا مچه اخيستل او تر غاړه کېدل دا ټول جائز دي ، مګر ددغه شيانو څخه هم پرهيز کولو ته افضل او غوره ځکه ويل سوي دي چې کيدای سي ددغه کارونو په وجه نفساني خواهش را پورته سي او د جذبات څخه په مغلوب کېدو سره جماع وکړي ځکه نو د حرام کار څخه د ځان ساتنې لپاره مناسب دي چې ددغه کارونو څخه هم پرهيز وکړل سي کوم چې ددې لپاره سبب جوړيږي .

او کوم چې د رسول الله ﷺ د ذات اقدس سوال دی په دې اړه منقول دي چې رسول الله ﷺ به د بي بي عائشې رضي الله عنها د لونګ سربيره لاس وغيره وهی او اختلاط به يې کوی ، ددې وجه دا وه چې رسول الله ﷺ پر خپل نفس او جذباتو باندې قادر وو ، ددې پر خلاف د نورو خلکو څخه ددې توقع نسي کيدای چې هغوئ د رسول الله ﷺ په ډول پر خپل جذباتو او نفس باندې واک ولري . په هر حال د مذهب په اعتبار دا حديث هم د حنفيه تائيد کوي .

﴿۵۰۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَقَعَ الرَّجُلُ بِأَهْلِهِ وَهِيَ حَائِضٌ فَلْيَتَصَدَّقَ بِنِصْفِ دِيْنَارٍ . رواه الترمذي وأبو داود النسائي والدارمي وابن ماجه .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چې يو سړی د خپلې حائضې ښځې سره جماع وکړي نو هغه ته پکار دي چې هغه نيم دينار خيرات کړي . ترمذي، ابوداؤد، نسائي، دارمي او ابن ماجه.

تشريح : يو دينار څلور نيمي ماشې سره زر وي ، که سره زر په سل روپۍ توله وي نو يو دينار د شپږو روپو سو، او نيم دينا ددرو روپو سو، خطابي ويلي دي چې د اکثرو علماؤ پر دې اتفاق دی که يو سړي د خپل حائضې ښځې سره جماع وکړي نو د هغې کفاره يوازې استغفار دی،

امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله علیه او د امام شافعي رحمة الله علیه دا مذهب دی، مګر امام شافعي رحمة الله علیه دا هم فرمایي که یو سړی د خپل ښځي سره هغه وخت جماع وکړي چي د هغې وینه جاري وي نو هغه ته یو دینار صدقه کول مستحب دي همداسي که د چاویني د قطع کېدو څخه وروسته صحبت وکړل سي نو هغه ته نیم دینار صدقه کول مستحب دي.

ابن همام حنفي رحمة الله علیه هم دا فرمایي که یو سړی د خپل ښځي سره په دې ګڼلو سره کوروالي وکړي چي دا حلال کار دی نو هغه کافر کیږي او کوم سړی چي د حرام ګڼلو سره دا کار وکړي نو هغه ګناه کبیره وکړه، نو د هغه لپاره ضروري ده چي د الله تعالی په دربار کي پر دغه حرام کار صادرېدو باندي په شرمناک کېدو سره د توبې او استغفار غوښتونکی سي او یو دینار یا نیم دینار د استحباب په وجه صدقه کړي، محدثین فرمایي چي دا حدیث پر ابن عباس ﷺ باندي مرسل یا موقوف دی ځکه چي ددې حدیث تر رسول الله ﷺ پوري مرفوع متصل کېدل ثابت نه دي.

﴿۵۰۹﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ دَمًا أَحْمَرَ فَدِينَارٌ وَإِذَا كَانَ دَمًا أَصْفَرَ فَنِصْفُ دِينَارٍ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د حیض په حالت کي د جماع کولو له کبله چي کومه کفاره ورکول کیږي د هغې صورت دادی که چیري وینه سره وي نو یو دینار او که وینه ژړه وي نو نیم دینار (صدقه به ورکوي) ترمذي.

تشریح: مطلب دادی چي د حیض په حالت کي په جماع کولو سره چي کومه صدقه ورکول کیږي د هغې صورت دادی چي د جماع پر وخت که د حیض د ویني رنګ سور وي نو یو دینار صدقه کول ضروري دی او که د حیض د ویني رنګ ژړ وي نو نیم دینار صدقه کول پکار دی، کوم علماء چي دا وایي چي د حیض په پیل کي د صحبت کولو په وجه یو دینار او د قطع کېدو په حالت کي نیم دینار صدقه کول مستحب دی نو هغوئ ددغه حدیث څخه استدلال کوي ځکه چي په پیل کي د حیض د ویني رنګ سور وي او په آخر کي ژړ وي.

الفصل الثالث

﴿۵۱۰﴾: عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ قَالَ إِنَّ رَجُلاً سَأَلَ رَسُوْلَ اللهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا يَحِلُّ لِيْ مِنِ امْرَأَتِيْ وَهِيَ حَائِضٌ ؟ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَشُدُّ عَلَيْهَا إِزَارَهَا ثُمَّ شَأْنُكَ بِأَعْلَاهَا . رواه مالك والدارمي مرسلا .

د حضرت زيد بن اسلم ﷺ څخه روايت دی چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي زما لپاره زما د ښځي څخه هر کله چي هغه په حيض کي وي څه شي حلال دی ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ته د هغې لونګ د هغې د بدن سره ښه وتړه او بيا د لونګ سربيره ستا کار دی (يعني د نامه سربيره اختلاط مباح دی) مالك او دارمي.

﴿۵۱۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ إِذَا حِضْتُ نَزَلْتُ عَنِ الْمِثَالِ عَلَى الْحَصِيْرِ فَلَمْ تَقْرُبْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ تَدْنُ مِنْهُ حَتّٰى تَطْهُرَ . رواه أبو داود .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي کله به زه په حيض کي وم نو د بستري څخه به بوريا ته راتلم نه به رسول الله ﷺ هغه ته نژدې ورتلی او نه به نژدې کېدل دا رسول الله ﷺ ته تر څو پوري چي به پاکه نه وه. ابوداؤد

تشريح : په ښکاره دا حديث د هغه حديثونو بالکل برعکس دی چي د هغو څخه دا ثابتيږي چي سول الله ﷺ به د خپلو بيبيانو مبارکو سره د هغوئ د حيض په حالت کي هم نشيني اختيارول ، خپله د بي بي عائشې رضي الله عنها داسي حديثونه روايت دي چي په هغو کي هم هغه ښودل سوي دي چي رسول الله ﷺ د هغې سره د حيض په ورځو کي اختلاط کوی .

ددغه ټکر ختمولو لپاره به دا وويل سي چي دا حديث د هغه حديثونو لپاره منسوخ دی ، لکه چي د قرآن کريم آيت دی چي (ولا تقربوهن حتى يطهرن) يعني هغوئ ته مه نژدې کيږئ تر څو چي پاکي نسي، ددې مطلب دا بيانيږي چي د هغوئ سره جماع مه کوئ تر څو پوري چي پاکي نسي ، دلته د حديث الفاظ (فلم يقرب) کي د (ي) په زور سره او راء په پيښ سره ده، همداسي (لم تدن حتى تطهر) دواړه حرف په ت سره دي، د مشکوة په صحيح نسخو کي همداسي الفاظ مذکور دي مګر په سخه د سيد جمال الدين په حاشيه کي ليکلي دي چي صحيح داسي فلم نقرب، د نون او راء په زير سره دي او د رسول الله ﷺ لام ته زير دی، همداسي لم تدن مخکي د نون په زور او د دوهم نون په پيښ سره وي او په لفظ نطهر کي هم نون دی ، او ميرک شاه ليکلي دي چي په اصل ابوداؤد کي دا الفاظ هم داسي دي .

بَابُ الْمُسْتَحَاضَةِ

(د مستحاضې بيان)

الفصل الاول

﴿۵۱۲﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَتْ فَاطِمَةُ بِنْتُ أَبِي حُبَيْشٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي امْرَأَةٌ أُسْتَحَاضُ فَلاَ أَطْهُرُ أَفَأَدَعُ الصَّلاَةَ فَقَالَ لاَ إِنَّمَا ذَلِكِ عِرْقٌ وَلَيْسَ بِالْحَيْضَةِ فَإِذَا أَقْبَلَتْ الْحَيْضَةُ فَدَعِي الصَّلاَةَ وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّمَ ثُمَّ صَلِّي. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چي فاطمة بنت ابو جبيش د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سول او عرض يې وکړ -اې دالله رسوله! زه يوه داسي ښځه يم چي وينه مي راځي او نه پاکيږم ، نو ايا په داسي حالت کي لمونځ پريږدم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:نه، دا وينه خو د يو رګ وينه ده د حيض وينه نه ده کله چي ستا حيض راسي نو لمونځ پريږده او کله چي ولاړ سي نو خپل وينه پريوله (يعني غسل وکړه او لمونځ کوه) . بخاري او مسلم .

تشريح : په دې مسئله کي که يو ښځه مستحاضه سي او هغه هر وخت د استحاضې په وينه سره ناپاکه وي نو د هغې لپاره څه حکم دى ؟ امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه فرمايي که چيري هغه داسي ښځه وي چي معتاده وي يعني د هغې د حيض ورځي ټاکلي وي ، مثلا هغې ته په هره مياشت کي پنځه يا شپږ ورځي وينه راتلل نو هر کله چي هغه مستحاضه سي نو هغې ته پکار ده چي هغه ورځي په کوم کي چي حيض ورته راتلى د حيض ورځي وګرځوي او په هغه ورځو کي دي لمونځ وغيره پريږدي او هر کله چي هغه ورځي پوره سي نو د ويني پريوللو سره دي غسل وکړي او لمونځ وغيره دي پيل کړي . او که هغه مبتديه وي يعني داسي ښځه وي چي د لومړني حيض راتلو څخه وروسته هغه مستحاضه سوه چي د هغې په نتيجه کي د استحاضې وينه جاري وي نو هغې ته پکار ده چي هغه د حيض انتهائي وخت يعني لس ورځي د ايام حيض ګرځولو سره په هغه ورځو کي لمونځ وغيره پريږدي او وروسته په غسل کولو او وينه پريوللو سره لمونځ وغيره پيل کړي، په دې صورت کي به د نورو امامانو په نزد عميل پر تميز باندي وي يعني که وينه د تور رنګ وي نو هغه به د حيض وينه وګرځول سي او که د ويني رنګ تور نه وي نو هغې

ته د استحاضې وينه ويل کيږي لکه څرنګه چې په راتلونکي حديث کي دا خبره معلوميږي. مګر امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه ددې حديث په باره کي کوم چې وړاندي راغي او د حضرت عروه ؓ روايت کي فرمايي چې دا حديث په دوو طريقو سره روايت کړل سوی دی يو خو د هغه څخه مرسل او دوهم مضطرب او دا عجيبه خبره ده چې د ويني په رنګ کي د امتياز خبره يوازي د عروه په روايت کي مذکوره ده کوم چې حال يې معلوم سو چې يو په يوه طريقه خو مرسل دی او په دوهمه طريقه سره مضطر، نو پر دغه حديث باندي د يو مذهب بنياد ايښودل لکه د هغه مذهب کمزوری کول دي او دغه حديث چې پورته تير سو چې په هغه کي د دواړو اعتبار دی او زموږ دليل صحيح دی، نو په دغه حديث باندي عمل کول غوره دي او په ظاهره معلوميږي چې فاطمه بنت حبيش رضي الله عنها چې هغې د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضريدو سره حکم پوښتلی وو معتاده وه. امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي چې مستحاضې ته پکار ده چې د هر فرض لمانځه لپاره خپل شرمګاه پريولي، او امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه فرمايي هر کله چې د لمانځه وخت سي نو خپل شرمګاه دې پريولي او بيا تر دې د يو شي په ټوټو سره ژر ژر دې اودس وکړي ددې څخه وروسته چې کومه وينه جاري وي په هغه کي به هغه معذوره وي نو تر آخر وخت پوري چې هغه څه غواړي وه دي يې وايي.

الفصل الثاني

﴿۵۱۳﴾: عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ أَبِيْ حُبَيْشٍ أَنَّهَا كَانَتْ تُسْتَحَاضُ فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ دَمُ الْحَيْضِ فَإِنَّهُ دَمٌ أَسْوَدُ يُعْرَفُ فَإِذَا كَانَ ذٰلِكَ فَأَمْسِكِيْ عَنِ الصَّلَاةِ فَإِذَا كَانَ الْآخَرُ فَتَوَضَّئِيْ وَصَلِّيْ فَإِنَّمَا هُوَ عِرْقٌ. رواه أبو داود والنسائي

حضرت عروة[۱] بن زبير د بي بي فاطمې بنت ابي حبيش څخه روايت کوي چې فاطمې ووېل هغه به مستحاضه کيدل نو نبي کريم ﷺ هغې ته وفرمايل: هر کله چې د حيض وينه وي نو هغه توره وينه وي چې پيژندل کيږي که دا وي نو لمونځ مه کوه او که دا بله وي يعني (د تور رنګ نه وي) نو اودس وکړه او لمونځ کوه ځکه چې هغه د رګ وينه ده. ابوداؤد او نسائي.

تشريح: د دې حديث په اړه ددې څخه د مخکي حديث په تشريح کي ښودل سوې ده چې دا حديث د هغه امامانو دليل دی چې دا وايي چې مستحاضه دې د حيض د ورځو په لړه کي پر

[۱] حضرت عروه ؓ د زبير بن العوام زوی او عظيم المرتبت تابعي دی. نوموړی په (۲۲هـ) کي زيږيدلی دی. ۱۲

تميز باندي عمل كوي ، كه د ويني رنګ ټينګ تور وي نو هغه د حيض وينه ګرځولو سره په هغه ورځو كي دي لمونځ وغيره پريږدي او كه رنګ يې ټينګ تور نه وي نو بيا دي د استحاضه وينه وګڼي او لمونځ او روژه دي ادا كوي ، دلته دا هم ښودل سوي دي چي دا حديث د صحيح درجې ته نه رسيږي ځكه دا د يو مذهب بنياد ګرځول د هغه مذهب د كمزورۍ ظاهرولو برابر دی .

په هر حال دلته د ويني چي كوم رنګونه ښودل سوي دي هغه دائمي او په كلي توګه سره نه دي بلكه رسول الله ﷺ د ويني رنګ د اكثرو په اعتبار فرمايلي دی ځكه چي كله د حيض وينه د سور رنګ ښځه پرته بل رنګ هم وي . حنفيه حضرات ددې حديث وضاحت دا كوي چي كه چيري دا حديث صحيح هم ومنل سي نو ددې محمول به دا وي چي دا تميز د هغې عادت وي كه د هغې د حيض وينه د تور رنګ وه نو د استحاضه په حالت كي د حيض په ورځو كي چي د ويني رنګ تور وي نو هغه به د حيض وينه وګرځول سي ، هر كله چي د هغې د عادت ورځي تيري سي او په هغه ورځو كي د ويني رنګ تور مائل سرخي وغيره وي نو د هغه ښځه وروسته به د حيض وينه نسي شميرل كېدای ځكه چي د هغې عادت سره سم د ويني رنګ اوس تور پاته نه سو .

﴿۵۱۴﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ إِنَّ امْرَأَةً كَانَتْ تُهْرَاقُ الدَّمَ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَفْتَتْ لَهَا أُمُّ سَلَمَةَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِتَنْظُرْ عَدَدَ اللَّيَالِيْ وَالْأَيَّامِ الَّتِيْ كَانَتْ تَحِيْضُهُنَّ مِنَ الشَّهْرِ قَبْلَ أَنْ يُصِيْبَهَا الَّذِيْ أَصَابَهَا فَلْتَتْرُكِ الصَّلَاةَ قَدْرَ ذٰلِكَ مِنَ الشَّهْرِ فَإِذَا خَلَّفَتْ ذٰلِكَ فَلْتَغْتَسِلْ ثُمَّ لْتَسْتَثْفِرْ بِثَوْبٍ ثُمَّ لْتُصَلِّ .

رواه مالك وأبو داود والدارمي وروى النسائي معناه .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه كي يوې ښځي ته تل وينه ورتلل نو بي بي ام سلمې د هغې ښځي لپاره د رسول الله ﷺ څخه د فتوا پوښتنه وكړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغې ته پكار دي چي د دې ناروغي څخه وړاندي (دخپل حيض) ورځي او شپې شمير كړي په كومو كي چي د هغې د هري مياشتي وينه راتله ، هغه دي د هري مياشني د هغو ورځو برابر لمونځ پريږدي او هر كله چي هغه ورځي تيري سي نو هغې ته پكار دي چي غسل وكړي او د جامو لنګ دي ووهي په منځ كي د دوو ورنو او بيا دي لمونځ كوي .مالك ، ابوداؤد ، دارمي او نسائي .

تشريح : مستحاضې ښځي ته پكار ده چي تر څو پوري كېدای سي هغه دي كپړه وغيره داسي وتړي چي وينه تر خپل وس پوري ودريږي ، كه د كپړې وغيره په تړلو سره او احتياط كولو سربيره هم وينه راځي نو په هغه سره په لمانځه كي څه اثر نه لويږي لمونځ به صحيح سي او قضاء

راوړل ضروري نه دي دا حکم د سلس البول د ناروغ هم دی.

﴿۵۱۵﴾: وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ يَحْيَى ابْنُ مَعِيْنٍ جَدُّ عَدِيٍّ اِسْمُهُ دِيْنَارٌ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ فِي الْمُسْتَحَاضَةِ تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا الَّتِي كَانَتْ تَحِيضُ فِيهَا ثُمَّ تَغْتَسِلُ وَتَتَوَضَّأُ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ وَتَصُومُ وَتُصَلِّي. رواه الترمذي و ابوداؤد.

حضرت عدي بن ثابت د خپل پلار څخه او هغه د عدي د نيکه څخه روايت کوي چي يحيى بن معين چي د عدي نيکه دی د هغه نوم دينار دی وويل چي رسول الله ﷺ د مستحاضې په اړه فرمايل: چي هغه دي د حيض په هغو ورځو کي چي د هغې عادت دی لمونځ پرېږدي بيا دي غسل وکړي او د لمانځه لپاره دي نوی اودس وکړي او روژې دي هم نيسي او لمونځ دي هم کوي. ترمذي او ابوداؤد.

تشريح: دا حديث ضعيف دی او د يو بل روايت الفاظ دادی: (فتوضا بوقت کل صلوة) يعني مستحاضه ښځه دي د هر لمانځه لپاره اودس کوي.

﴿۵۱۶﴾: وَعَنْ حَمْنَةَ بِنْتِ جَحْشٍ قَالَتْ كُنْتُ أُسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيرَةً شَدِيدَةً فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْتَفْتِيهِ وَأُخْبِرُهُ فَوَجَدْتُهُ فِي بَيْتِ أُخْتِي زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أُسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيرَةً شَدِيدَةً فَمَا تَأْمُرُنِي فِيهَا قَدْ مَنَعَتْنِي الصَّلَاةَ وَ الصِّيَامَ قَالَ أَنْعَتُ لَكِ الْكُرْسُفَ فَإِنَّهُ يَذْهِبُ الدَّمَ قَالَتْ هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ قَالَ فَتَلَجَّمِي قَالَتْ هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ قَالَ فَاتَّخِذِي ثَوْبًا قَالَتْ هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ إِنَّمَا أَثُجُّ ثَجًّا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَآمُرُكِ بِأَمْرَيْنِ أَيَّهُمَا صَنَعْتِ أَجْزَأَ عَنْكِ من الاخر وَإِنْ قَوِيتِ عَلَيْهِمَا فَأَنْتِ أَعْلَمُ قَالَ لها إِنَّمَا هذه رَكْضَةٌ مِنْ ركضات الشَّيْطَانِ فَتَحَيَّضِي سِتَّةَ أَيَّامٍ أَوْ

د حضرت حمنة بنت جحش (رض) څخه روايت دی چي زه په ډېر سخت او زيات حيض کي اخته سوم نو د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوم چي دی مبارك په خبر کړم او دده حکم ځيني و غواړم نو ما رسول الله ﷺ د خپل خور زينب بنت جحش په کور کي پيدا کړ ما عرض وکړ اې دالله رسوله! زه په سخت حيض کي اخته يم په دې باره کي تاسو ما ته څه حکم راکړئ؟ دې خو زه د روژې او لمانځه څخه محرومه کړې يم، رسول الله ﷺ راته وفرمايل: زه ستا لپاره د پمبوو استعمال تجويز کوم چي هغه وينه ليري کوي، ما عرض وکړ هغه ددې څخه هم زياته ده رسول الله ﷺ وفرمايل د واګي په ډول زړوکی ونغاړه هغې وويل ددې څخه هم زياته ده، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل (په لونګ کي دننه) زړوکی ورته

سَبْعَةَ أَيَّامٍ فِي عِلْمِ اللّٰهِ ثُمَّ اغْتَسِلِي حتى إِذَا رَأَيْتِ أَنَّكِ قَدْ طَهُرْتِ وَاسْتَنْقَأْتِ فَصَلِّي ثَلٰثًا وَّعِشْرِيْنَ لَيْلَةً اَوْ أَرْبَعًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً وَصُومِي فَإِنَّ ذٰلِكَ يُجْزِئُكِ وَكَذٰلِكِ فَافْعَلِي كل شهر كَمَا تَحِيضُ النِّسَاءُ وَكَمَا يَطْهُرْنَ مِيقَاتِ حَيْضِهِنَّ وَطُهْرِهِنَّ وَإِنْ قَوِيتِ عَلَى أَنْ تُؤَخِّرِينَ الظُّهْرَ وَتُعَجِّلِينَ الْعَصْرَ فَتَغْتَسِلِينَ وَتَجْمَعِيْنَ بَيْنَ الصَّلٰوتَيْنِ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَ تُؤَخِّرِينَ الْمَغْرِبَ وَتُعَجِّلِينَ الْعِشَاءَ تَغْتَسِلِينَ وَتَجْمَعِينَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ فَافْعَلِي وَتَغْتَسِلِينَ مَعَ الْفَجْرِ فَافْعَلِي وَصُومِي إِنْ قَدَرْتِ عَلَى ذٰلِكَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهٰذَا أَعْجَبُ الْأَمْرَيْنِ إِلَيَّ. رواه احمد و ابوداؤد والترمذي

كنبېږده هغې وويل هغه ددې څخه هم زياته ده ، يعني د باران په ډول وينه را څخه ځي. نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : زه تا ته د دوو خبرو حكم دركوم په كوم چي ته عمل وكړې ستا لپاره بس ده كه چيري توان لرې نو په دواړو عمل وكړه د خپل حال څخه ته زياته خبرداره يې د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل چي دا (ستا حيض) د شيطان لته ده په دې وينه كي شپږ يا اووه ورځي خو د الله په علم كي (يعني د راوي څخه هيره ده چي شپږ ورځي دي كه اووه ورځي دي) حيض شمير كړه او بيا غسل وكړه تر دې چي ته ووينې چي پاكه سوې نو تر درويشتو يا خليرويشتو ورځو او شپو پوري لمونځ كوه او روژه نيسه دا ستا لپاره بس دي او داسي په هره مياشت كي كوه څنگه چي د نورو ښځو حيض كيږي او بيا د حيض څخه پاكيږي او كه ستا دا په وس كي وي چي د ماپښين په لمانځه كي ځنډ كوې او د مازديگر په لمانځه كي تلوار كوه نو په يوه غسل يې كوه او د ماپښين او مازديگر لمنځونه يوځاى كوه همداسي د ماښام په لمانځه كي ځنډ كوه او د ماخستن په لمانځه كي تلوار كوه او په يوه غسل دا دواړه لمنځونه يو ځاى كوه او د سهار د لمانځه لپاره هم غسل كوه كه دي په توان كي وي داسي ته كوه او روژې نيسه كه طاقت دې وي پر دغه كار، د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل او دا حكم (يعني آخري حكم) ما ته د دواړو حكمونو څخه غوره معلوميږي . احمد. ابوداؤد او ترمذي.

تشريح : هسي خو د استحاضې راتلل د ناروغۍ په وجه وي، مگر رسول الله ﷺ ددې نسبت د شيطان طرف ته فرمايلى دى چي دا د شيطان د چل څخه يو چل دى، ددې وجه داده چي په دې صورت خطا ايستلو او په عبادت كي د خلل اچولو لپاره شيطان ته موقع په لاس ورسي ، هغه ددې موقع څخه په كټه پورته كولو سره په پاكۍ او لمانځه وغيره كي فساد اچوي، دا وجه ده چي رسول الله ﷺ د استحاضې حقيقت بيانولو سره پوښتنه كونكي ته دوه حكم وركړل چي په

هغه عمل كولو سره شيطان په خپل مقصد كي كامياب كيدای نسي، په هغو كي رسول الله ﷺ يو حكم دا وركړ چي (فتحيضي ستة ايام او سبعة ايام) يعني شپږ ورځي يا اووه ورځي د حيض ورځي وګرځوه، ددې مطلب دادی چي په داسي صورت كي هره مياشت د عادت سره سم شپږ ورځي يا اووه ورځي د حيض احكام جاري وساته، ددې ځخه په څرګنده دا معلوميږي چي پوښتنه كونكې معتاده (په ناروغۍ اخته) ده، او د هغې ځخه د حيض د ورځو معمول او عادت هير سوی وو، يعني هغې ته ياد نه وه چي د حيض وينه ورته په هره مياشت كي شپږ ورځي راتلل او كه اووه ورځي راتلل، ځكه رسول الله ﷺ هغې ته وفرمايل چي ته پر خپل يقين او ګمان باندي عمل كوه كه ستا يقين دا وايي چي عادت د شپږو ورځو وو نو په دې صورت كي شپږ ورځي د حيض وګرځوه او كه ددې خبري ګمان غالب وي چي عادت د اوو ورځو وو نو بيا اووه ورځي د حيض ورځي وګرځوه، بيا د هغه ځخه وروسته رسول الله ﷺ (في علم الله) فرمايلو سره دې خبري ته اشاره وفرمايل چي ته په هر حال پر خپل يقين او ګمان باندي عمل كوه مګر ددې خبري علم پر هر صورت الله تعالى ته دی چي ستا عادت څه وو، ځكه چي د غيب خبري خو هغه پيژني ، او يا په ستة ايام او سبعة ايام كي كه چيري لفظ د او د شك لپاره وي نو (في علم الله) به د راوي قول وي چي د والله اعلم په معنا به وي، په دې صورت كي به ددې معنى دا وي چي رسول الله ﷺ يا خو ستة ايام فرمايلي دي او يا سبعة ايام يې فرمايلي دي. او الله تعالى ښه پوهيږي .رسول الله ﷺ چي پوښتنه كونكي ته دا وفرمايل چي څرنګه ښځي پر خپل خپل وخت باندي د حيض په ورځو كي وي او بيا پر وخت باندي پاكيږي ته هم هره مياشت هم هغسي كوه ، نو ددې مطلب دادی ي څرنګه ستا په ډول هغه ښځي چي د خپل عادت ورځي هيري كړي او بيا هغوئ خپل ايام ګرځوي ته هم خپل هم هغسي ايام (ورځي) وګرځوه، يعني كه د هغوئ د حيض وخت اوله مياشت وه نو ته هم اوله مياشت ايام حيض ګرځوه او كه د هغوئ د حيض وخت د مياشتي په مينځ كي وي نو ته د حيض ورځي د مياشت مينځ ګرځوه همداسي كه د هغوئ د حيض وخت د مياشتي آخري برخه وي نو ته هم د مياشتي آخري برخه د حيض ورځي وګرځوه .

په هر حال د لومړني حكم خلاصه داده چي ته د خپل حيض وخت كه هغه اووه ورځي وي يا شپږ ورځي پوره كړه او د هغه وروسته غسل وكړه او بيا د هر لمانځه لپاره غسل كوه .

دوهم حكم رسول الله ﷺ دا وفرمايه چي د دوو لمنځونو په مينځ كي داسي وخت غسل كوه چي د يوه لمانځه آخري وخت وي او د دوهم لمانځه ابتدائي وخت وي، بيا ددې ځخه وروسته

دواړه لمنځونه يو ځای کوه ، همداسي د ماپښين او ماښام لمونځ په زنډ سره کولو لپاره چي ويل سوي دي . په دې کي دوه احتماله دي اول خو ددې زنډ مطلب دا کيدای سي چي د وخت ختمېدو څخه وروسته دي لمونځ وکړل سي ، مثلا د ماپښين او مازديګر په وخت کي ادا کړل سي همداسي د ماښام او ماخستن لمونځ د ماخستن په وخت کي وکړل سي لکه څرنګه چي د امام شافعي رحمة الله عليه د مذهب سره سم مسافر دوه لمنځونه په داسي جمع کولو سره کولای سي .

دوهم احتمال دادی چي د ماپښين لمونځ بالکل په آخر وخت کي وکړل سي او د مازديګر لمونځ بالکل په ابتداء کي وکړل سي ، همداسي د ماښام لمونځ بالکل په آخر وخت کي وکړل سي او د ماخستن لمونځ په پيل کي وکړل سي لکه څرنګه چي په حنفي مذهب کي د مسافر لپاره د جمع بين الصلوتين دا تاويل کيږي او دې ته جمع صوري وايي ، ددې څخه وروسته راتلونکی حديث هم ددې وضاحت کوي ، نو ددغه دوهم حکم حاصل دادی چي هره ورځ يو غسل د ماپښين او مازديګر د لمنځو لپاره وکړل سي او يو غسل د ماښام او ماخستن د لمانځه لپاره همداسي يو غسل د سهار لپاره وکړل سي .

په دې خبره هم پوه سئ چي د لومړني حکم خلاصه کولو سره چي دا ښودل سوي دي چي د هر لمانځه لپاره دي غسل کول کيږي ددې صراحت په حديث کي خو نسته مګر په دغه ارشاد (ان قويت علی ان توخرين ... الخ) کي دې ته اشاره سوې ده ځکه چي د هغه عبارت څخه د پوښتنه کونکي د لمانځه لپاره د غسل څخه عاجز کېدل مفهوم کيږي او دا مذهب د امير المؤمنين حضرت علي ﷺ، عبدالله ابن مسعود ﷺ ، ابن زبير ﷺ او نورو دی ، او د ابن عباس ﷺ مذهب دادی چي دوه لمنځونه دي په يوه غسل سره يو ځای وکړل سي او دا مذهب حديث ته زيات نژدې او مطابق دی، ځکه چي په دې کي زياته اساني ده په نسبت ددې چي د هر لمانځه لپاره غسل وکړل سي ، رسول الله ﷺ هم ددې په ويلو سره اشاره کړې ده چي (هذا اعجب الامرين الي) يعني د دوو لمنځو لپاره غسل کول ما ته د دوهم امر يعني د هر لمانځه لپاره غسل کولو څخه زيات خوښ دی، او ددغه دوهم حکم خوښولو وجه دا وه چي د رسول الله ﷺ عادت شريف دا وو چي د امت لپاره به يې هغه شی خوښوی کوم چي به آسان وو . او کوم چي د حنفيه تعلق دی د هغوئ په نزد دا حکم منسوخ دی چي په دواړو صورتو کي د غسل حکم پر معالجه باندې محمول دی يعني رسول الله ﷺ د غسل حکم ځکه ورکړی دی چي په دې سره د ويني زياتوب او د

هغه زور ختم سي.

الفصل الثالث

﴿۵۱۷﴾: عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ أَبِيْ حُبَيْشٍ اُسْتُحِيْضَتْ مُنْذُ كَذَا وَكَذَا فَلَمْ تُصَلِّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبْحَانَ اللهِ إِنَّ هٰذَا مِنَ الشَّيْطَانِ لِتَجْلِسْ فِيْ مِرْكَنٍ فَإِذَا رَأَتْ صُفَارَةً فَوْقَ الْمَاءِ فَلْتَغْتَسِلْ لِلظُّهْرِ وَالْعَصْرِ غُسْلاً وَّاحِدًا وَتَغْتَسِلْ لِلْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ غُسْلاً وَّاحِدًا وَتَغْتَسِلِ لِلْفَجْرِ غُسْلاً وَّاحِدًا وَتَوَضَّأْ فِيْمَا بَيْنَ ذٰلِكَ. رواه أبو داود وقال رَوٰى مُجَاهِدُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ لَمَّا اشْتَدَّ عَلَيْهَا الْغُسْلُ أَمَرَهَا أَنْ تَجْمَعَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ.

د حضرت اسماء بنت عميس (رض) څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي فاطمة بنت حبيش د دومره دومره وخت څخه په حيض کي سوې ده هغه لمونځ نه کوي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : سبحان الله په تحقيق سره دا (لمونځ پرېښودل ددې بې له پوښتني د مسئلې) د شيطان له لوري دی هغه ته پکار دي چي په هغه تښت کي کښيني هر کله چي د تښت د اوبو سربېره ژړوالی ووينې نو د ماپښين او مازديګر لپاره دي يو غسل وکړي او د ماښام او ماخستن لپاره دي يو غسل وکړي او بيا د سهار لپاره دي يو غسل وکړي او ددې په منځ کي دي اودس وکړي (يعني د دواړو لمنځو په منځ کي) ابوداؤد ، مجاهد د ابن عباس څخه روايت وکړ هر کله چي هغې ته د هر لمانځه لپاره غسل کول ستونزمن سول نو هغې ته يې دوه لمنځونه په يوه غسل کولو حکم ورکړ.

تشريح : هر کله چي د ماپښين وخت بالکل آخر سي نو پر لمر باندي لږ ژړوالی راځي بلکه د زوال څخه وروسته تغير کېدل پيل کيږي ، نو رسول الله ﷺ په تښت کي د لېدو لپاره ځکه وفرمايل چي هغه ژړوالی په اوبو کي په آسانۍ سره معلوميږي ، هغه ژړوالی په زياتېدو زياتېدو سره ماښام نژدې پوره کيږي نو هغه وخت لمونځ کول مکروه دي ، مګر رسول الله ﷺ چي د کوم ژړوالي په اړه فرمايلي دي دا د هغه ژړوالي څخه پرته دی کوم چي د مازديګر څخه وروسته وي او هغه د لمانځه لپاره د کراهت وخت وي.